انوار الهلالین

لفواید قیوداتِ الجلالین

پښتو ترجمه

جمالین شرح جلالین

شارح محمد جمال [illegible]

[illegible]

پښتو ترجمه [illegible]

[illegible]

فیصل [illegible]

أنوار الهلالين

لفواید قیودات الجلالین

پښتو ترجمه — جلد اول

جمالین شرح جلالین

شارح: محمد جمال بلندشهری
مدرس د دارالعلوم دیوبند
پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل
فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده، امداد العلوم پیښور، وفاق المدارس

خصوصیات

① لغوی تحقیق، چې ددې لفظ په لغت کښې څه معنی ده.
② صرفی تحقیق مثلاً دا کلمه د څه صیغه ده وغیره
③ نحوی تحقیق مثلاً دا کلمه په ترکیب کښې څه واقع شوې ده.
④ بلاغی تحقیق چې په دې اضافي قید کښې کومه بلاغی نکته ده.
⑤ فقهي تحقیق چې په دې اضافي قید سره کومې مسئلې ته اشاره ده.
⑥ د قراءت تحقیق چې په دې مقام کښې دا قراءت څنګه دي.
⑦ تقدیرات راویستل چې دلته کوم لفظ مقدر پروت دې.
⑧ د تقدیری عبارا تو وجه او سبب بیانول.

خورونکی
فیصل کتب خانه مدینه مارکیټ
محله جنګی پیښور موبائل نمبر: ۰۳۱۵۹۵۹۵۷۱۷

فهرس د سورتونو او آیاتونو

پاره نمبر ۱۵ [سبحٰن الذی]

[۱۸] سورة الكهف

سُوْرَةُ الْكَهْفِ مَكِّيَّةٌ اِلَّا (وَاصْبِرْ نَفْسَكَ) الْآيَةَ وَهِيَ مِائَةٌ وَعَشْرُ آيَاتٍ اَوْ خَمْسَ عَشْرَةَ آيَةً نَزَلَتْ بَعْدَ سُوْرَةِ الْغَاشِيَةِ

سوره کهف مکی سورت دی سوا د "واصبر نفسك" آیت نه، په دې کښې (۱۱۰) یا (۱۱۵) آیاتونه دی. د سورة الغاشیه نه پس نازل شوې دې.

[ایاتونه: ۱]

(اَلْحَمْدُ) وَهُوَ الْوَصْفُ بِالْجَمِيْلِ ثَابِتٌ (لِلّٰهِ) تَعَالٰى وَهَلِ الْمُرَادُ الْاِعْلَامُ بِذٰلِكَ لِلْاِيْمَانِ بِهٖ اَوِ الثَّنَاءُ بِهٖ اَوْ هُمَا احْتِمَالَاتٌ اَفْيَدُهَا الثَّالِثُ (الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ) مُحَمَّدٍ (الْكِتٰبَ) الْقُرْاٰنَ (وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ) اَيْ فِيْهِ (عِوَجًا) اخْتِلَافًا اَوْ تَنَاقُضًا وَالْجُمْلَةُ حَالٌ مِنَ الْكِتٰبِ

ترجمه: زه شروع کوم په نوم د الله تعالی ډیر مهربان او نهایت رحم والا دې حمد، دصفات کمالیه بیان کولو ته وائي، هرقسمه حمد د الله تعالی دپاره ثابت دې، آیا دجملې خبرئ په استعمال سره دثبوت حمد باندې دایمان خبر ورکول مقصود دی که (انشاء) دثنا مقصود دی یا دواړه مقصود دی داتول درې صورتونه شول، خوپه کښې دریم احتمال ډیرمفید دې چاچې په خپل بنده محمد ﷺ باندې کتاب قرآن نازل کړو اوپه دې کښې هیڅ قسمه کوګوالې یعنی لفظی اختلاف اومعنوی تناقص نه دې ایخودې، اوجمله لم يجعل له د کتاب نه حال دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

عوج بالکسر فساد فی المعانی او بالفتح فساد فی الاجسام یعنی عوج داسې کوګوالی ته وائي کوم چې په جوارح محسوس کیږی، او عوج په کسرې سره داسې کوګوالی ته وائي کوم چې په عقل سره محسوس کیږی، خو دا قاعده اکثریه ده کلیه نه ده۔

قوله: وهل المراد الاعلام بذلك د دې سوالیئ جملې نه دشارح دعلام دامقصد ښودل دی چې دجملې خبریئ په ذریعې سره چې دحمد دثبوت چې کوم خبر ورکړې شوې دې ددې درې مراده کېدې شي [۴۰] (۱) یا خو ددې خبرې خبر ورکول دی چې دالله تعالی اوصاف کمالیه ازلی او ابدی دی، په دې صورت کښې به جمله لفظا او معنا خبریه وی، اود خبر ورکولو دپاره به ثابت محذوف راوښکو سره جمله اسمیه اختیار کولونه مقصد دې خبرې طرف ته اشاره ده چې بنده ګانولره ضروری دی چې د الله تعالی دپاره دکمالاتو ازلی او ابدی کېدلو اعتقاد اوساتی، (۲) یا خو مقصد انشاء حمد دې دې لره مفسر اعلام اولنثاء به سره تعبیر کړې دې، په دې صورت کښې به جمله لفظا خبریه او معنا انشائیه وی، ګویا چې الله تعالی اوفرمائیل اَحمدُ واُثنی حمدًا لِنفسِی لِعجزِ خَلقِی عن کُنهِ حَمدِیْ (۳۳۳۳) یا خو دواړه مقصود دی دې طرف ته په خپل قول اوهما سره اشاره کړې ده، یعنی اخبار حمد او انشاء

حمد دواړه په مقصودوی، په دې صورت کښې به دجملې استعمال خبر او انشاء دواړو کښې وی، او دابه دحقیقت اومجازدواړو داجتمعاع په طورباندې وی، او مقصد به دثبوت حمدباندې د ایمان خبرورکول او انشاء دحمد وی۔

قوله: الذی ها الثالث شارح رحمه الله فرمائي چې په مذکوره درې صورتونوکښې دریم صورت دير مفيداو بهتردې، دې وجې نه چې په دې صورت کښې انشاء اواخبار دواړه مقصود بذات کيږی، پخلاف درومبنی دواوصورتونوچې په هغې کښې يومقصودبذات اودويم مقصود بالتبع کيږی، که چرې ته اعتراض اوکړې چې انشاء ثناء اخبار بالثناء لره مستلزم دې په دې طورچې انشاء حمدکولووالا هم حمدکولووالا وی، نوددې جواب به داوی چې په مقصودبذات اوپه مقصود بالتبع کښې فرق وی، مثلا که چرته جمله لره فقط خبريه اوګرزولې شی نوپه دې صورت کښې به اخبار بالحمدقصدا وی خوانشاء ثنابه تبعاوی او که چرته جملې لره فقط انشائيه اوګرزولې شی نوپه دې صورت کښې به انشاء حمدقصداوی خو اخبار بالحمد به ضمنا او تبعا وی،اوکه چرته دواړه يعنی جمله خبريه او انشائيه اوګرزولې شی نواخبار اوانشاء دواړه به قصدا وی۔

قوله: الذی انزل (الايه) دثبوت حمددپاره دعلت قائم مقام دې ځکه چې موصول او صله کله صفت واقع شی او صله مشتق وی نوداسې صفت دموصوف دپاره دثبوتِ حکم علت وی، ددې قاعدې مطابق به الذی انزل د الحمد ثابت لله دپاره علت وی، يعنی د الله تعالی دپاره حمددې ځکه چې هغه قرآن نازل کړې دې۔

قوله: الحمد نه پس دهوالوصف بالجميل داضافه کولومقصددحمدمعنی بيانول دی او ثابت مقدر منلو سره دابنودل دی چې الحمدمبتدأ ده اولله دثابت مقدرمتعلق کيدوسره د مبتدأ خبر دې۔

سوال: دثبت په ځې ثابت داسم فاعل صيغه محذوف منلوکښې څه فائده ده ؟

جواب: ثابت اسم فاعل په استمراراو دوام باندې دلالت کوی په دې سره ئې اشاره اوکړه چې دباری تعالی دپاره ثبوت حمد دائمی او ازلی دې، په خلاف دثبت چې داپه تجدد او حدوث باندې دلالت کوی۔

قوله: لتناقضا دحذفِ مضاف سره داختلافا صفت دې تقديری دادې اختلافا ذاتناقض، د له تفسير په فيه سره کولوکښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې لام په معنی دفيه دې۔

....

[ایاتونه: ۲ - ۵]

{قَيِّمًا} مُسْتَقِيمًا حَال ثَانِيَة مُؤَكِّدَة {لِيُنْذِرَ} يُخَوِّف بِالْكِتَابِ الْكَافِرِينَ {بَأْسًا} عَذَابًا {شَدِيدًا مِنْ لَدُنْهُ} من قبل الله {ويبشر المؤمنين الذين يعملون الصالحات أن لهم أجرا حسنا} {مَاكِثِينَ فِيهِ أَبَدًا} هُوَ الْجَنَّة {وينذر} من جملة الكافرين {الذين قالوا اتخذ الله ولدا} {مَا لَهُمْ بِهِ} بهذا القول {مِنْ عِلْمٍ وَلَا لِآبَائِهِمْ} مِنْ قَبْلِهِمْ الْقَائِلِينَ لَهُ {كَبُرَتْ} عَظُمَتْ {كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ} كَلِمَة تَمْيِيز مُفَسِّر لِلضَّمِيرِ الْمُبْهَم وَالْمَخْصُوص بِالذَّمِّ مَحْذُوف أَيْ مَقَالَتهمْ الْمَذْكُورَة {إِنْ} ما {يقولون} في ذلك {إلا} مقولا {كذبا}

ترجمه: او حال دا دې چې هغه بالکل نيغ مستقيم دي قيما د کتاب نه حال ثانيه دې او د جملې حاليه تاکيد دې، دې د پاره چې ويروی (الله) د کتاب په ذريعه کافرانو له ډېر سخت عذاب نه، کوم چې د هغه د طرف نه دې او دې د پاره چې هغه مؤمنانو ته خوشخبری ورکړی کوم چې نيک عمل کوی دا چې هغوی د پاره اجر حسن دې او حال دا چې هغوی به په دې اجر حسن کښې چې هغه جنت دې هميشه وی، او منجمله د کافرانو نه هغه کافرانو له ويروی کوم چې وائی چې الله له اولاد شته دې د دې وينه نه دوی سره څه سند شته او نه د دوی پلارانو سره کوم چې د دوی نه مخکښې تيرشوی دی او هغوی هم د دې خبرې قائل وو دا خبره چې د دوی د خلې نه اوځي ډيره درنه ده، کلمة تميز دې کوم چې دکبرت د هی ضمير مبهم تفسير کوی او مخصوص بالذم محذوف دې او هغه د دوی مذکوره قول (اتخذ الله ولدا) دې او هغوی په دې باره کښې د دروغونه علاوه نور هيڅ هم نه وائی۔

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: قيما صيغه د صفت ده، د دې دوه معنې دی ①درست، مستقيم، لکه ذلك دين القيمة هم دا طريقه درسته ده ②درست کولو والا يعنی دا سې کتاب کوم چې د انسانانو دنيوی او آخروی ټول تمام معاملات درست کونکې دې، په دې صورت کښې به قيما ملوم په معنی کښې وی قيما د الكتاب نه حال ثانی دی په دې صورت کښې به حال مترادفه وی، رومبې حال جمله ولم يجعل له عوجا دې به د له د ضمير نه حال وی په دې صررت کښې به حال متداخله وی، او دا حال مؤکده بللې شی ځکه چې دويم حال د رومبې حال د مفهوم تاکيد کوی، او د فعل محذوف مفعول ثانی هم کيدې شی، تقديری عبارت به دا وی جعله قيما.

قوله: لينذر کښې لام د تعليل يا د عاقبت دې او د انزل سره متعلق دې او د لينذر مفعول اول يعنی الكافرين محذوف دې او باسا شديدا مفعول ثانی دې، او من لدنه د كائنا محذوف سره متعلق جمله د باسا صفت ثانی دې، ای باسا شديدا كائنا منه. د يبشر عطف په ينذر باندې دې او دلام لاندې دې، المؤمنين، د يبشر مفعول ثانی دې، او الذين يعملون الخ د المؤمنين صفت

دي د ان لم يومنوا مخکښې ب حرف جار محذوف دي ـ

قوله: ماكثين، د لهم د ضمير نه حال دي او دفيه ضمير مرجع اجر دي د دويم ينذر عطف په لينذر باندې دي او عطف خاص على العام دقبيلې نه دي ـ او ددې مفعول ثانى محذوف دي، اى بأسا شديدا ـ مالهم جمله مستانفه ده او لهم خبرمقدم دي من علم مبتدأ مؤخره ده او من زائده دي او ولا لآبائهم په خبر باندې عطف دي او دبه ضمير مرجع قول دي كبرت د كلمة صفت دي او مقالتهم المذكورة مخصوص بالذم دي ـ

[ايات قوله: ٦ ـ ٨]

﴿فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ﴾ مُهْلِكٌ ﴿نَّفْسَكَ عَلَىٰ آثَارِهِمْ﴾ بَعْدَهُمْ أَيْ بَعْدَ تَوَلِّيهِمْ عَنْكَ ﴿إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا بِهَٰذَا الْحَدِيثِ﴾ الْقُرْآنِ ﴿أَسَفًا﴾ غَيْظًا وَحُزْنًا مِنْكَ لِحِرْصِكَ عَلَى إِيمَانِهِمْ وَنَصْبُهُ عَلَى الْمَفْعُولِ لَهُ ﴿إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ﴾ مِنَ الْحَيَوَانِ وَالنَّبَاتِ وَالشَّجَرِ وَالْأَنْهَارِ وَغَيْرِ ذَلِكَ ﴿زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ﴾ لِنَخْتَبِرَ النَّاسَ نَاظِرِينَ إِلَى ذَلِكَ ﴿أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ فِيهِ أَيْ أَزْهَدُ لَهُ ﴿وَإِنَّا لَجَاعِلُونَ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا﴾ فُتَاتًا ﴿جُرُزًا﴾ يَابِسًا لَا يُنْبِتُ

ترجمه: شايد ته ددې نه ورستوكه داخلق ايمان نه راوړي نو ته خپل ځان دافسوس دوجې نه په غم او غصه كښې هلاک كړې يعنى چې د دوى ستا نه د اعراض كولو نه پس ته ددوى دايمان د راوړو د حرص د وجې نه، او اسفا مفعول له كېدو دوجې نه منصوب دي

بې شكه مونږ په زمكه چې څه دى حيوانات اونباتات او اشجار او انهار وغيره لره دزمكې دپاره زينت جوړ كړيدې دې دپاره چې مونږ د دې خلقو ازمېښت اوكړو يعنى هغوى باندې ازمېښت اوكړو كوم چې دې طرف ته مائل دى، چې په دوى څوک د ماعلى الارض باره كښې دعمل په اعتبار سره ډيرښه دې، يعنى په دې كښې څوک ددنيانه ډيرې رخې كونكې دې او مونږ به دزمكې تول څيزونه صفا داګ ميدان كړو يعنى اوچ صفا ميدان به ئ كړو كوم چې به دګياه او د كروندې لائق نه وى

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: مهلك د دې اضافه دبيان معنى دپاره ده ـ

قوله: بعدهم: دا د آثار تفسيردې او بعد توليهم د تفسيرتفسيردې، مطلب دادې چې ته ددې كافرانو دايمان نه راوړ دومره فكرمه كوه چې خپل خان هلاک كړې لعل دترجى او داشفاق دپاره راغى، خودلته دنهى دپاره استعمال شوې دې يعنى دنبى ﷺ دمنع كولو دپاره چې ته دومره غم مه كوه. آثار دا ترجمع ده، دوى پسې يعنى ددوى په فكر كښې ته خپل خان مه هلاک كوه.

قوله: ان لم يؤمنوا دې دوه تركيبونه كيدې شى ① ان لم يؤمنوا شرط دې او په ماقبل باندې اعتماد كولو سره جزاء محذوف ده يعنى فلا تهلك نفسك ② ان لم يؤمنوا شرط مؤخر او فلعلك

باسم جزاء مقدم۔

قوله: اسفا: دباخع مفعول له دې يا دباخع دضميرنه حال دې۔

قوله: لحرصك دعلة العلة دې يعنې ته لره دومره زيات غم ولې كوي ځكه چې ته ددوى په ايمان باندې حريص يې۔

قوله: انا جعلنا دا جمله مستانفه ده اگرچې دجعل صيرپه معنى وى نو زينة به ددې مفعول ثانى وى، دلها لام دزينة سره متعلق دې اوداهم كېدې شي چې د كائنة سره متعلق وى اود زينةصفت وى، ماعلى الارض مفعول اول دې اوكه چرته جعل په معنى دخلق وى نو زينة به يا حال وى يابه مفعول له۔

قوله: ناظرين الى ذلك دا د من الناس نه حال دې۔

قوله: جرزا دصعيدا صفت دې په دې كښې اسنادمجازى دې ځكه چې دجرزاصلى معنى د داسې زمكې ده چې دهغې گياه كټ كړې شوې وى دادماعلى الارض وصف گرزولې شوى دې حالانكه داارض وصف دې لهذادعلاقه مجاورت دوجې نه به اسنادمجازى وى

قوله: ايهم په تركيب اضافى سره مبتدأ ده اواحسن ددې خبراوعملا تميزدې بيا جمله دنبلوا د دوؤمفعولو قائم مقام ده، دفيه دضميرمرجع ماعلى الارض ده اومرادترې دنيا اومافيهادې۔

قوله: ازهدله دا د احسن عملا تفسيردې۔

قوله: اسفا ددې تفسير په غيظاوحزنا سره كولو د مقصد تعيين دمعنې دې ځكه چه اسف دمتعدد معنو دپاره راځي۔

قوله: من الحيوان والنبات دادماعلى الارض بيان دې۔

قوله: ناظرين الى ذلك سره اشاره ده چې هم ذوالحال دې اوناظرين ددې نه حال دې۔

[ايات قوله: ۹- ۱۲]

{أَمْ حَسِبْتَ} اَيْ ظَنَنْتَ {أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ} الْغَار فِي الْجَبَل {وَالرَّقِيمِ} اللَّوْح الْمَكْتُوب فِيهِ أَسْمَاؤُهُمْ وَأَنْسَابهمْ وَقَدْ سُئِلَ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قِصَّتهمْ {كَانُوا} فِي قِصَّتهمْ {مِنْ} جُمْلَة {آيَاتِنَا عَجَبًا} خَبَر كَانَ وَمَا قَبْله حَال أَيْ كَانُوا عَجَبًا دُون بَاقِي الْآيَات او اعجبها ليس الأمر كذلك اذكر {إِذْ أَوَى الْفِتْيَةُ إِلَى الْكَهْفِ} جَمْع فَتًى وَهُوَ الشَّابّ الْكَامِل خَائِفِينَ عَلَى إِيمَانهمْ مِنْ قَوْمهمْ الْكُفَّار {فَقَالُوا رَبَّنَا آتِنَا مِنْ لَدُنْكَ} مِنْ قِبَلك {رَحْمَةً وَهَيِّئْ} أَصْلِحْ {لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا} هِدَايَة {فَضَرَبْنَا عَلَى آذَانِهِمْ} أَيْ أَنَمْنَاهُمْ {فِي الْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا} مَعْدُودَة {ثُمَّ بَعَثْنَاهُمْ} أَيْقَظْنَاهُمْ {لِنَعْلَمَ} عِلْم مُشَاهَدَة {أَيُّ الْحِزْبَيْنِ} الْفَرِيقَيْنِ الْمُخْتَلِفَيْنِ فِي مُدَّة لُبْثهمْ {أَحْصَى} أَفْعَل بِمَعْنَى أَضْبَط {لِمَا لَبِثُوا} لِلُبْثِهِمْ مُتَعَلِّق بِمَا بَعْده {أَمَدًا} غَايَة

ترجمه: آيا ته خيال کوې يعني ګمان کوې چې غاروالا اورقيم والا. کهف دغرسورې يعني غارته وائي او "رقيم" هغه تخته وه چې په کښې داصحاب کهف نومونه نقش شوې وو او درسول الله صلى الله عليه وسلم نه دهغوی د قصې تپوس کړې شوې وو، چې هغوی دخپلې قصې په اعتبارسره زمونږ (د قدرت په) اياتونو کښې څه ډيرعجيبه وو عجبا، دکان خبر دې اوددې ماقبل (يعني من اٰيٰتنا) دکانوا دضمير نه حال دې يعني هغوی په آيات قدرت کښې عجيبه وونه چې باقي ايات، يا په عجائباتو کښې ډير عجيبه وو۔ حقيقت حال داسې نه وو. هغه وخت يادکړه چې کله يوڅوځوانانو په يوغار کښې پناه اغستلې وه فتية د فتى جمع ده يعني کامل ځوانان کله چې هغوی ته دخپل ايمان باره کښې ويره شوه او دخپل کافرقوم دخوانه اوتل نوپه هغه وخت کښې هغوی دا دعااوکړه اې زمونږ پروردګاره ته مونږ ته دخپل طرف نه يعني د خپل خصوصي عنايت نه رحمت عطاکړې او زمونږ معاملې لره درست اوفرمائې نومونږ په غارکښې دهغوی په غوږونوباندې دکلونو دپاره پرده واچوله يعني هغوی موبه ډوب (زور) خوب باندې اوده کړه بيامونږهغوی پاڅول يعني بيدار مو کړل چې مونږدعلم مشاهده په طورباندې معلومه کړوچې دهغوی په مدت قيام کښې د اختلاف کونکو دواړو ډلوکښې کومې يوې ډلې دهغوی دقيام موده ياده ساتلې ده احصى فعل ماضي دې د ضبط په معنى کښې لما لبثوا دخپل مابعد سره متعلق دې او امدا په معنى دغايت دې۔

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: امر حسبت کښې ام منقطعه په معنى داستفهام انکارى دې، يعني اې محمد ﷺ تا لره دخيال نه دی کول پکار۔

قوله: ان اصحاب الکهف جمله دحسبت مفعول به دې، او کانوا من اٰيٰتنا عجبا جمله دان خبردې او عجبا د(آية) محذوف صفت کيدوسره دان خبر دې او اصحاب الکهف دان اسم دې کهف مفرد دې اوجمع ئې کهوف واکهف ده په معنى دغار. دکهف اوددغار په مينځ کښې فرق دادې چې غار تنګ او وړوکې وی اوکهف کهولاو فراخه اوغټ وی رقيم په معنى دمرقوم. ليکلې شوې، نوشته، درقيم باره کښې دمفسرينو شپږ اقوال دی ① دا دهغه کلى نوم وودکوم نه چې اصحاب کهف راوتلی وو② دادهغه غرنوم دې په کوم کښې چې هغه غاردې ③ دا داصحاب کهف دسپى نوم دې ④ دادهغه ميدان نوم دې کوم چې دغارپه لمن کښې واقع دې ⑤ هغه تخته ده په کوم کښې چې داصحاب کهف نومونه نسبونه اوحالات ليکلی شوی وو اودغار سرته نصب شوې وه ⑥ دسيسې (تانبا) هغه تخته په کومې باندې چې داصحاب کهف نومونه نقش (ليکلې) شوی وواوپه شاهي خزانه کښې محفوظ کړې شوې وه، امام بخاری رحمه الله دا قول په خپل صحيح کښې تعليقا ذکرکړې دې، حافظ ابن

حجردې سند دامام بخاری په شرط باندې صحیح گرزولې دې هيئ _هيئ د هيئة نه فعل امر، اصلاح کول، درست کول، مهيا کول احصى دباب افعال ماضی ده نه چې اسم تفضيل ځکه چې دثلاثی مزيدنه اسم تفضيل دافعل په وزن نه راځی اي الحزبين بترکيب اضافی مبتدا احصى جمله خبر، داحصى د ضمير مرجع کل واحد من الحزبين ده لما لبثوا په واسطې دحرف جرسره داحصى مفعول به دې او امداً تميزدې۔

قوله: ضربنا على آذانهم د ضربنا مفعول حجابا محذوف دې، په کلام کښې مجازدې ځکه چې القاءنوملره ئې د ضرب حجاب سره تشبيه ورکړې ده او ضربنا په معنى دانمنادې۔

قوله: عددا بمعنى معدودا دسنين صفت دې۔

[اياتونه: ۱۲ - ۱۷]

(نَحْنُ نَقُصُّ) نُخْبِرُ (عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ) بِالصِّدْقِ (إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى) (وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ) قَوَّيْنَاهَا عَلَى قَوْلِ الْحَقِّ (إِذْ قَامُوا) بَيْنَ يَدَيْ مَلِكِهِمْ وَقَدْ أَمَرَهُمْ بِالسُّجُودِ لِلْأَصْنَامِ (فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ) أَيْ غَيْرِهِ (إِلَهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا) أَيْ قَوْلًا ذَا شَطَطٍ أَيْ إِفْرَاطٍ فِي الْكُفْرِ إِنْ دَعَوْنَا إِلَهًا غَيْرَ اللهِ فَرْضًا (هَؤُلَاءِ) مُبْتَدَأٌ (قَوْمُنَا) عَطْفُ بَيَانٍ (اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ آلِهَةً لَوْلَا) هَلَّا (يَأْتُونَ عَلَيْهِمْ) عَلَى عِبَادَتِهِمْ (بِسُلْطَانٍ بَيِّنٍ) بِحُجَّةٍ ظَاهِرَةٍ (فَمَنْ أَظْلَمُ) أَيْ لَا أَحَدَ أَظْلَمُ (مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللهِ كَذِبًا) بِنِسْبَةِ الشَّرِيكِ إِلَيْهِ تَعَالَى قَالَ بَعْضُ الْفِتْيَةِ لِبَعْضٍ (وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا اللهَ فَأْوُوا إِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِنْ أَمْرِكُمْ مِرْفَقًا) بِكَسْرِ الْمِيمِ وَفَتْحِ الْفَاءِ وَبِالْعَكْسِ مَا تَرْتَفِقُونَ بِهِ مِنْ غَدَاءٍ وَعَشَاءٍ (وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَتْ تَزَاوَرُ) بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ تَمِيلُ (عَنْ كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِينِ) نَاحِيَتَهُ (وَإِذَا غَرَبَتْ تَقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ) تَتْرُكُهُمْ وَتَتَجَاوَزُ عَنْهُمْ فَلَا تُصِيبُهُمْ الْبَتَّةَ (وَهُمْ فِي فَجْوَةٍ مِنْهُ) مُتَّسَعٍ مِنَ الْكَهْفِ يَنَالُهُمْ بَرْدُ الرِّيحِ وَنَسِيمُهَا (ذَلِكَ) الْمَذْكُورُ (مِنْ آيَاتِ اللهِ) دَلَائِلِ قُدْرَتِهِ (من يهد الله فهو المهتد ومن يضلل فلن تجد له وليا مرشدا)

ترجمه: مونږ تاته دهغوی قصه صحیح بیانوو هغوی یو څو ځوانان وو چې په خپل پروردګار ئې ایمان راوړې وو او مونږ دهغوی په هدایت کښې ترقی ورکړې وه او مونږ دهغوی زړونه قوی کړی وو یعنی دحق خبرې وئیلو دپاره موقوی کړی ووکله چې هغوی دخپل بادشاه په وړاندې اوردېدل او هغه بادشاه دوی ته دبتانو مخې ته دسجدې کولو حکم اوکړو، نو هغوی اوئیل زمونږ پروردګار هم هغه دې چه د اسمانونو او د زمکو پروردګار دې مونږ به هغه لره پريښودو سره د بل چا بندګی هرګز اونه کړوکه چرته مونږ داسې اوکړو نومونږ به ډیره غلطه خبره اوکړه یعنی دحدنه تېر شوې حرکت یعنی بالفرض که چرې مونږ دالله تعالی نه علاوه دبل چابندګی اوکړه نومونږبه په کفرکښې دحدنه تجاوز کونکی يو دا زمونږ قوم دې چې معبود حقیقی پريښودو سره ئې نور معبودان جوړ کړی دی هؤلاء مبتدا ده او قومنا عطف بیان دې هغوی په دوی

باندې يعنې ددوى په معبودوالى باندې څه واضحه دليل ولې نه راوړى؟ يعنې يوښكاره دليل، دهغه چا نه به بل كوم يو غټ ظالم وى يعنې د هغه نه بل غټ ظالم نشته، څوک چې دهغه طرف ته دشريک نسبت كولوسره په الله تعالى باندې بهتان اوتړى، ځوانانو په خپل مينځ كښې يو بل ته اوئيل چې كله تاسودې عابدينولره او دالله نه علاوه ددى معبودانولره پريښودلو اوس په يو غار كښې پناه واخلئ، ستاسورب به په تاسوباندې خپل رحمت خور كړى او تاسو لره به ستاسو په كار كښې سهولت (اسانتيا) پيداكړي. مرفقا دميم په كسرې اودفاء په فتحې سره اوددې په عكس هم،دا د سباا وبېگاه خوراک دې چې تاسوترې فائده اوچتوئ اوچې كله نمر راخيجى نوته به(اې مخاطبه) اوگورې چې هغوى دغار ښئې طرف ته ووه كونكې روڅى تزاور په تشديد اوبغيرد تشديدنه په دواړه شان (درست دې) اوچې كله دريږى نو دهغوى نه گس اړخ ته ووه كونكې اوځې، يعنې دوى لره پريږدى ووه كونكې اوځى، چې دهغې دوجې نه يقيناپه هغوى باندې تاؤ (دنمر) نه لگى،حال دادې چې هغوى دغارپه كهلاوځاې كښې دى چې هلته هغوى ته يخه هوااوبادنسيم رسيږى دايعنې مذكوره حالات دهغه نخښې يعنې دهغه دقدرت نخښې دى الله چې چاته چه هدايت اوكړى هغه په سمه لاردې اوچې هغه څوک گمراه كړى نوناممكنه ده چې ته هغه لره څوک كارساز او رهنما پيا مومې۔

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: فتية،دفتى جمع ده لكه چې صبية دصبى جمع ۔ ځوان ۔

قوله: بالحق_ دمتلبسا سره متعلق دې يا دنقص دفاعل نه حال دې ياد نبا مفعول نه حال دې انهم فتية جمله مستانفه ده يعنې دماهوالخبرالصادق جواب دې آمنوابربهم جمله دفتية صفت دې.

قوله: ربطنا (ن) ربطا تړل، قوى كول، لن ندعوا فعل مضارع منصوب بلن جمع متكلم په آخر كښې واؤ دجمع نه دې بلكه لام كلمه ده د واؤ جمع دمشابهت د وجې نه د رسم قرآنى مطابق ددې په آخر كښې الف ليكلې كيږى خو وئيلې كيږى نه او د نه لوستلو د علامت په طور ددې دپاسه يوه گول دائره جوړولې شى (يعنې) هرگزبه نه بلو۔

قوله: شططا (ن،ض) شطا دحدنه تجاوزكول دحق نه لرې كېدل اذقاموا، دربطنا ظرف دې فأووا كښې فاء جزائيه ده او اذاعتزلتموهم الخ شرط دې واؤ داشباع دې ۔

قوله: قولاذاشطط د دې اضافه كولو كښې دې خبر ته اشاره ده چې شططا حذف دمضاف سره دمصدريت دوجې نه منصوب دې اوددې موصوف قولا محذوف دې اوكه چرته ذا محذوف اونه منونو دمصدر حمل به مبالغة وى د زيد عدل پشان۔

قوله: فرضا، د فرضا اضافه كولو كښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې دغيرالله دبندگۍ كولو هيڅ قسمه امكان نشته نه عقلى اونه شرعى اونه اخلاقى كه چرته بفرض المحال

واسې او شی نو دا به ډیره بې خایه خبره وی ـ

قوله: هؤلاء مبتدأ ده او اتخذوامن دون الله ددې خبردې د لولاتفسیرپه هلاسره کولو کښې ئ اشاره اوکره چې لولاتحضیضیه دې لومسا، دهؤلاء عطف بیان دې اوبدل هم کیدې شی ـ

قوله: تزاورپه اصل کښې تتزاوروو یوه تاحذف کړې شوه (فعل مضارع واحدمونث غائبه دقوم په مینځ کښې زیارت کول اوکه چرته ددې صله عن وی نوانحراف کول اوکه چرته په اصل کښې تزاور وی نویوه تاء ثې زا کړه او زاءئې په زاء کښې مدغم کړه تقرضهم مضارع واحده مونثه غائبه، قرضا کتکول، ده کول په ارخ کولوسره وتلـ ذات د ذومونث دې، په ایت کښې ذات زائد دې دزینتِ کلام دپاره دې ـ

قوله: ذات الیمین وذات الشمـال _ د تزاورظرف مکان دې ـ

قوله: ناحیته ددې داضافې مقصد دې خبرې ته اشاره کول دی چې ذات الیمن اوذات الشمال ظرف مکان دی، ای جهت الیمین وجهت الشمـال وهم فی فجوة جمله حالیه ده ـ

قوله: من یهد الله فهو المهتد دا جمله په درمیان دقصه کښې معترضه ده، مقصد نبی ﷺ ته تسلی ورکول دی ـ

[ایاتونه: ۱۸ - ۲۰]

(وَتَحْسَبُهُمْ) لَوْ رَأَيْتَهُمْ (أَيْقَاظًا) أَيْ مُنْتَبِهِينَ لِأَنَّ أَعْيُنَهُمْ مُنْفَتِحَةٌ جَمْعُ يَقِظٍ بِكَسْرِ الْقَافِ (وَهُمْ رُقُودٌ) نِيَامٌ جَمْعُ رَاقِدٍ (وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَذَاتَ الشِّمَالِ) لِئَلَّا تَأْكُلَ الْأَرْضُ لُحُومَهُمْ (وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ) يَدَيْهِ (بِالْوَصِيدِ) بِفِنَاءِ الْكَهْفِ وَكَانُوا إِذَا انْقَلَبُوا انْقَلَبَ هُوَ مِثْلَهُمْ فِي النَّوْمِ وَالْيَقَظَةِ (لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ) بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ (مِنْهُمْ رُعْبًا) بِسُكُونِ الْعَيْنِ وَضَمِّهَا مَنَعَهُمُ اللهُ بِالرُّعْبِ مِنْ دُخُولِ أَحَدٍ عَلَيْهِمْ (وَكَذَٰلِكَ) كَمَا فَعَلْنَا بِهِمْ مَا ذَكَرْنَا (بَعَثْنَاهُمْ) أَيْقَظْنَاهُمْ (لِيَتَسَاءَلُوا بَيْنَهُمْ) عَنْ حَالِهِمْ وَمُدَّةِ لُبْثِهِمْ (قَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ) لِأَنَّهُمْ دَخَلُوا الْكَهْفَ عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَبُعِثُوا عِنْدَ غُرُوبِهَا فَظَنُّوا أَنَّهُ غُرُوبُ يَوْمِ الدُّخُولِ ثُمَّ (قَالُوا) مُتَوَقِّفِينَ فِي ذَٰلِكَ (رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ فَابْعَثُوا أَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ) بِسُكُونِ الرَّاءِ وَكَسْرِهَا بِفِضَّتِكُمْ (هَٰذِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ) يُقَالُ إِنَّهَا الْمُسَمَّاةُ الْآنَ طَرَسُوسُ بِفَتْحِ الرَّاءِ (فَلْيَنْظُرْ أَيُّهَا أَزْكَىٰ طَعَامًا) أَيْ أَيُّ أَطْعِمَةِ الْمَدِينَةِ أَحَلُّ (فَلْيَأْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا) (إِنَّهُمْ إِنْ يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ) يَقْتُلُوكُمْ بِالرَّجْمِ (أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِي مِلَّتِهِمْ وَلَنْ تُفْلِحُوا إِذًا) أَيْ إِنْ عُدْتُمْ فِي مِلَّتِهِمْ (أَبَدًا)

ترجمه: که ته چرته هغوی اوګورې نوبیدار به محسوس کړې یعنی بیدار او ویخ به ئ اوګڼړې ځکه چې دهغوی سترګې غړېدلې دی (ایقاظ) دیقظ (په کسرې دقاف) جمع ده حالانکه هغوی اوده دی رقود دراقدجمع ده اومونږ دهغوی ارخ بښئ اوګس طرف ته بدلوو رابدلوو دې

دپاره چې زمکه دهغوی غوښه اونه خوری اودهغوی سپې دغارپه خله کښې لاسونه خواره کړې ناست دې یعنی دغار په صحن (غولي) کښې چې کله اصحاب کهف اړخ بدلوی نوهغه هم اړخ بدلوی، یعنی دخوب او بېدارۍ کښې هغه سپې هم دهغوی پشان دې اوکۀته سر وړینکاره کړې نودهغه ځاې نه به په شاشی اوپه تا باندې به ویره غالبه شی (لملئت) دلام په تشدید اوتخفیف سره دې (رعبا) دعین په سکون اوضمې سره دې الله تعالی درعب په ذریعه دهغوی حفاظت فرمائیلې دې چې هیڅوک هلته د هغوی خوا له ورنشی او دغه شان یعنی چې څنګه مونږه هغوی سره مذکوره معاملې اوکړې دغه شان مونږهغوی بیدار کړل چې هغوی دخپل احوالو باره کښې اوپه غارکښې د قیام د مدت باره کښې خپل مینځ کښې تپوس پختنه اوکړی په هغوی کښې یو تپوس کونکی تپوس اوکړو چې تاسو (په غارکښې) څومره موده پاتې شوی ئ؟ نو وئې وئیل چې مونږه یوه ورځه یاددې نه هم کم ایسارشوی یو څکه چې هغوی په غارکښې دنمر راختو وخت کښې داخل شوی وو، اودنمر پریوتو وخت کښې بیدارشول نوهغوی دا اوګڼړل چې داهم دداخلېدودورځې غروب دې، بیائې غورکولونه پس اووئیل چې ستاسو پروردګار ښه خبر دې، چه تاسو څومره وخت تیر کړې دې اوس چاتادادچاندې روپۍ (سکه) ورکړۍ اوښارته ئې اولیږې (بورقکم) دراء سکون او کسره دواړه درست دی، وئیلې کیږی چې اوس دې ښارته طرسوس وئیلې کیږی دراء په فتحې سره اوهغه دې ددې خبرې خیال اوساتی چې کوم خوارک ډیرپاک دې یعنی دښار کوم یوځیزحلال دې بیا دې د هغې نه تاسو لره څه روټۍ (خوراک) راوړی اوده لره پکار دی چه ښه دحاضر دماغې نه کار واخلی اوهیڅ کله په تاسوڅوک خبر نه کړی که چرې هغوی دستاسونه خبر شول نوبیا خوبه تاسو سنګسارکړی اویابه موخپل دین ته واپس کړی اوپه دې صورت کښې به تاسوهرګزکامیاب نشئ، یعنی که تاسو دهغوی دین ته واپس لاړئ نوتاسوبه هیڅ کله کامیاب نه شئ۔

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: الوصید چوکهټ، دورشل، آکنړ، شارح دکهلاؤ ځاې یادصحن معنی مراد اغستې ده. باسط ذراعیه، حکایت حال ماضیه دې څکه چې اسم فاعل کله دماضی په معنی وی نوعمل نه کوی، بالوصید_ دباسط سره متعلق دې اوذراعیه _دباسط مفعول به دې _فرارا_ دولیت مفعول بغیرلفظه دې اودولیت نه حال اومفعول له هم کیدشی رعبا ای خوفا دتمیزدوجې نه منصوب دې یا د ولیت مفعول ثانی دې دکمافعلنا داضافې مقصد دکذالك مرجع ظاهرول دی۔

قوله: بعثناد دې تفسیربه ایقظنا سره کول دتعین دمعنی دپاره دی څکه چې بعثنا د ډیرو معنو دپاره استعمالیږی دلته ترې دبېدارولو معنی مراده ده لیتساءلوا کښې لام دعاقبت

یا د سببیت د پاره دې کم د ظرفیت د وجې نه منصوب دې او ددې ممیز محذوف دې تقدیری عبارت دا دې کم مدة لبثتم قال قائل منهم، د لبثنا او لبیان دې ـ

قوله: ایها ازکی، ایها مرکب اضافی مبتدأ ده ازکی ددې خبر دې طعاما تمیز دې د مضاف الیه نه منقول دې ای ازکی الطعام بیا د جمله د ینظر مفعول به دې او د ایها د ضمیر مرجع الاطعمه دې کوم چې د خپل مینځ کښې د گفتگو په وخت کښې معهود فی الذهن دې (دویم ترکیب) په ایها کښې د ها ضمیر مرجع مدینه او گرزولې شی نو په دې صورت کښې به تقدیری عبارت داوی ای ینظر ای اهلها اطیب طعاما د ښار په باشندگانو کښې کوم یو د خوراک په معامله کښې پاکیزه دې (فتح القدیر شوکانی)

قوله: اذا نه پس ان عثر او ښکوسره ئ اشاره اوکړه چې اذا متضمن دې معنی د شرط لره او لن تفلحوا دې جواب دې ـ

[ایاتونه: ۲۱ - ۲۶]

{وَكَذٰلِكَ} كَمَا بَعَثْنَاهُمْ {أَعْثَرْنَا} اَطْلَعْنَا {عَلَيْهِمْ} قَوْمَهُمْ وَالْمُؤْمِنِيْنَ {لِيَعْلَمُوْا} اَيْ قَوْمُهُمْ {أَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ} بِالْبَعْثِ {حَقٌّ} بِطَرِيْقِ اَنَّ الْقَادِرَ عَلٰى اِنَامَتِهِمُ الْمُدَّةَ الطَّوِيْلَةَ وَاِبْقَائِهِمْ عَلٰى حَالِهِمْ بِلَا غِذَاءٍ قَادِرٌ عَلٰى اِحْيَاءِ الْمَوْتٰى {وَأَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ} لَا شَكَّ {فِيْهَا إِذْ} مَعْمُوْلٌ لِاَعْثَرْنَا {يَتَنَازَعُوْنَ} اَيِ الْمُؤْمِنُوْنَ وَالْكُفَّارُ {بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ} اَمْرَ الْفِتْيَةِ فِي الْبِنَاءِ حَوْلَهُمْ {فَقَالُوْا} اَيِ الْكُفَّارُ {ابْنُوْا عَلَيْهِمْ} اَيْ حَوْلَهُمْ {بُنْيَانًا} يَسْتُرُهُمْ {رَبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ قَالَ الَّذِيْنَ غَلَبُوْا عَلٰى أَمْرِهِمْ} اَمْرِ الْفِتْيَةِ وَهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ {لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِمْ} حَوْلَهُمْ {مَسْجِدًا} يُصَلّٰى فِيْهِ وَفُعِلَ ذٰلِكَ عَلٰى بَابِ الْكَهْفِ {سَيَقُوْلُوْنَ} اَيِ الْمُتَنَازِعُوْنَ فِيْ عَدَدِ الْفِتْيَةِ فِيْ زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيْ يَقُوْلُ بَعْضُهُمْ هُمْ {ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ} اَيْ بَعْضُهُمْ {خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ} وَالْقَوْلَانِ لِنَصَارٰى نَجْرَانَ {رَجْمًا بِالْغَيْبِ} اَيْ ظَنًّا فِي الْغَيْبَةِ عَنْهُمْ وَهُوَ رَاجِعٌ اِلَى الْقَوْلَيْنِ مَعًا وَنَصْبُهُ عَلَى الْمَفْعُوْلِ لَهُ اَيْ لِظَنِّهِمْ ذٰلِكَ {وَيَقُوْلُوْنَ} اَيِ الْمُؤْمِنُوْنَ {سَبْعَةٌ وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ} الْجُمْلَةُ مِنَ الْمُبْتَدَا وَخَبَرِهِ صِفَةُ سَبْعَةٍ بِزِيَادَةِ الْوَاوِ وَقِيْلَ تَاْكِيْدٌ اَوْ دَلَالَةٌ عَلٰى لُصُوْقِ الصِّفَةِ بِالْمَوْصُوْفِ وَوَصْفُ الْاَوَّلَيْنِ بِالرَّجْمِ دُوْنَ الثَّالِثِ دَلِيْلٌ عَلٰى اَنَّهُ مَرْضِيٌّ وَصَحِيْحٌ {قُلْ رَّبِّيْ أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيْلٌ} قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَنَا مِنَ الْقَلِيْلِ وَذَكَرَهُمْ سَبْعَةً {فَلَا تُمَارِ} تُجَادِلْ {فِيْهِمْ إِلَّا مِرَاءً ظَاهِرًا} بِمَا اُنْزِلَ عَلَيْكَ {وَلَا تَسْتَفْتِ فِيْهِمْ} تَطْلُبِ الْفُتْيَا {مِّنْهُمْ} مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ الْيَهُوْدِ {أَحَدًا} وَسَاَلَهُ اَهْلُ مَكَّةَ عَنْ خَبَرِ اَهْلِ الْكَهْفِ فَقَالَ اُخْبِرُكُمْ بِهِ غَدًا وَلَمْ يَقُلْ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ فَنَزَلَ {وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَيْءٍ} اَيْ لِاَجْلِ شَيْءٍ {إِنِّيْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا} اَيْ فِيْمَا يُسْتَقْبَلُ مِنَ الزَّمَانِ {إِلَّا أَنْ يَّشَاءَ اللّٰهُ} اَيْ اِلَّا مُلْتَبِسًا بِمَشِيْئَةِ اللّٰهِ تَعَالٰى بِاَنْ تَقُوْلَ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ {وَاذْكُرْ رَّبَّكَ} اَيْ مَشِيْئَتَهُ مُعَلِّقًا بِهَا {إِذَا نَسِيْتَ} وَيَكُوْنُ ذِكْرُهَا بَعْدَ النِّسْيَانِ كَذِكْرِهَا مَعَ الْقَوْلِ قَالَ الْحَسَنُ وَغَيْرُهُ مَا دَامَ فِي الْمَجْلِسِ {وَقُلْ عَسٰى أَنْ يَّهْدِيَنِ رَبِّيْ لِأَقْرَبَ مِنْ هٰذَا} مِنْ خَبَرِ اَهْلِ الْكَهْفِ فِي الدَّلَالَةِ عَلٰى نُبُوَّتِيْ {رَشَدًا} هِدَايَةً وَقَدْ فَعَلَ

اللّٰه ذَلِكَ ﴿وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ثَلَاثَ مِائَةٍ﴾ بِالتَّنوِينِ ﴿سِنِينَ﴾ عَطف بَيَان لِثَلَاثِمِائَةٍ وَهَذِهِ السُّنُونَ الثَّلَاثِمِائَةِ عِند أَهلِ الْكَهْفِ شَمْسِيَّة وَتَزِيد الْقَمَرِيَّة عَلَيْهَا عِند الْعَرَب بِتِسعِ سِنِينَ وَقَدْ ذُكِرَت فِي قَوْله ﴿وَازْدَادُوا تِسْعًا﴾ أَيْ تِسع سِنِينَ فَالثَّلَاثِمِائَةِ الشَّمْسِيَّة ثَلَاثِمِائَةٍ وَتِسع قَمَرِيَّة ﴿قُلِ اللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا﴾ مِمَّنْ اخْتَلَفُوا فِيهِ وَهُوَ مَا تَقَدَّمَ ذِكره ﴿لَهُ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ أَيْ عِلمه ﴿أَبْصِرْ بِهِ﴾ أَيْ بِاللّٰهِ هِيَ صِيغَة تَعَجُّب ﴿وَأَسْمِعْ﴾ بِهِ كَذَلِكَ بِمَعْنَى مَا أَبْصَرَهُ وَمَا أَسْمَعَهُ وَهُمَا عَلَى جِهَة الْمَجَاز وَالْمُرَاد أَنَّهُ تَعَالَى لَا يَغِيب عَنْ بَصَره وَسَمعه شَيْء ﴿مَا لَهُمْ﴾ لِأَهلِ السَّمَاوَات وَالْأَرْض ﴿مِنْ دُونِهِ مِنْ وَلِيٍّ﴾ نَاصِر ﴿وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا﴾ لِأَنَّهُ غَنِيّ عَن الشَّرِيك

ترجمه: اومونږهم داسې څنګه چې مودوی لره بیدار کړل، ددوی په حالاتو باندې موددوی قوم او مؤمنانو لره خبرکړل چې ددوی قوم ته معلومه شي چې دالله تعالی دبعث بعدالموت وعده حقه ده، په دې طریقه چې کوم ذات اصحاب کهف لره د اوږدې زمانې پورې اوده کولو اودوی لره بغیرد غذانه په پخپل حال باندې باقی ساتلو باندې قادر دې هغه ذات مړولره په ژوندی کولو باندې هم قادر دې اوداچې په قیامت کښې هیڅ شک نشته اذدا عترنا معمول دې اوچې کله مومنانو اوکافرانو په خپل مینځ کښې ددغه ځوانانو دپاره (دیادګار په طورباندې) دعمارت جوړولو کښې اختلاف کولو، نو کفارو اووئیل چې ددی نه چار چاپیره یو یادګاری عمارت جوړکړئ کوم چې دوی لره مستورکړی ددوی رب ددوی د احوالونه ښه واقف دې (په اخېره کښې) هغه خلقوکوم چې د هغه ځوانانو په معامله غالب وو او هغه مؤمنان وو اووئیل مونږبه دوی سره نزدې یوجماعت تعمیرکړو چې په کښې مونځونه کیږی، نوبس دغارپه خوا کښې جماعت جوړ کړې شو، دځوانانو د شمېرباره کښې د اختلاف کونکو قصه چې ستا (دنبی ﷺ) په زمانه (خلقوته) واورولې شی نو په هغوی کښې به بعض خلق وائي چې دغه خلق درې وو او څلورم ددوی سپې وو اوبعض به وائي چې پنځه وو او شپږم دهغوی سپې وو دادواړه اقوال دنجران نصاری دی اوداخلق په اټکل باندې لګیادی (یعنی) ددوی په باره کښې په اندازې ویناکوی او درجماً بالغیب تعلق مذکوره دواړو اقولو سره دې، اود رجماً نصب دمفعول له دوجې نه دې ای لظنهم ذلك اومؤمنان به وائي چې اوو (۷) وو او اتم دهغوی سپې وو جمله مبتدأ اوخبر دواو زیاتوالی سره دسبعة (بغیرلحاظ دتاکیدنه) صفت دې اوداهم وئیلې شوی دی چې داواؤ زند دې دتاکیدی معنې سره، دصفت دموصوف سره دلاحق کیدوباندې دلالت کوی اوداول دواړو اقولو د رجماً بالغیب سره متصف کیدل، او د دریم نه متصف کیدل په دې خبره دلالت کوی چې دریم قول مختار (خوښ کړې شوې) اوصحیح دې۔ (په تاکید اودلالة کښې اوپه معنی دمع دې) ته اووایه چې زمارب ددوی تعدادلره دیر ښه پیژنې اوددی صحیح تعدادلره دیرکم خلق پیژنی، ابن عباس رضی الله تعالی عنهما او وئ فرمائیل چې څه هم دهغوی خلقونه یم اوافرمائیل چې هغوی اووۀ دی

لهذا ته دې معامله کښې سوا د سرسري بحث نه زيات بحث مه کوه کوم چې په تا نازل شوی دی اوته د اصحاب کهف په معامله کښې په دوی کښې د چاسره هم يعني د اهل کتاب نه څه مه معلوموه او اهل مکه د اصحاب کهف باره کښې د نبي ﷺ نه سوال کړې وو ،نو نبي ﷺ فرمائيلي وو د دې باره کښې به څه تاسو ته صبا جواب درکړم خو نبي ﷺ انشاء الله نه وو وئيلې نو په دې باره راتلونکې اياتونه نازل شول او ته د څه کار باره هرګز داسې مه وايه چې زه به صبا له دا اکومه يعني په راتلونکې زمانې کښې د څه کار په باره کښې (مه وايه چې څه به دا صبا کومه) خو دا چې ته انشاء الله اووائې يعني انشاء الله وئيلو سره د الله تعالى مشيت شامل او که چرې ته انشاء الله هير کړې نو ته خپل رب لره يعني د هغه مشيت لره ياد ساته په دې طريقه چې وعدې لره مشيت سره معلق کوه او د نسيان نه پس دا انشاء الله وئيل به د هغه انشاء الله د وينه پشان شي کوم چې ښه په وخت اوئيلې شي، حضرت حسن وغيره فرمائي چې دا به په هغه وخت کښې صحيح وی چې (قائل) هم په دغه مجلس کښې موجود وی (يعني مجلس ئې نه وی بدل کړې او ته اوايه چې ماته اميد دې چې زما پروردگار دې نه هم زيات (په نبوت باندې دلالت کونکې) دليلونو طرف ته زما رهنمائي اوفرمائي يعني د اصحاب کهف د خبر نه هم زيات زما په نبوت باندې دلالت کونکې او الله تعالى داسې اوکړل او هغه خلق په غار کښې درې سوه کالا ايسار شول، مائة د تنوين سره دې سنين، د ثلاث مائة بيان دې او درې سوه کالا د اهل کتابو په نيز شمسي حساب سره دې او د عربو په نيز قمري حساب سره په درې سوه باندې نور مزيد نهه کاله دی کوم چې الله تعالى په قول وازدادوا تسعا کښې ذکر شوې دې لهذا درې سوه کالا په شمسي حساب سره دی او درې سوه او نهه کالا په قمري حساب سره دی ته ورته اوفرمايا چې الله تعالى د دوی د قيام مدت ښه پيژني يعني د هغه خلقو نه کوم چې د دوی په تعداد کښې اختلاف کوی، د دې ذکر مخکښې شوې دې

هم هغه ته د اسمانونو او د زمکو پټ رازونه معلوم دی هغه د دغې مغيباتو علم لره څه ښه ليدونکې دې او څه ښه پوهه دې ابصربه اى بالله (به کښې باء په فاعل باندې داخله ده) صيغه د تعجب ده اسمع به هم صيغه د تعجب ده او په معنى کښې د ما ابصره او ما اسمعه دې او ددې دواړو صيغو استعمال د الله تعالى د پاره په طور د مجازدې او مراد دا دې چې د الله تعالى د سمع او بصر (يعني د علم ازلي) نه هيڅ يو خبره پټه نه ده او د خلقو د پاره يعني د اهل الارض والسماء د پاره د هغه نه سوا هيڅوک مددګار نشته او نه هغه په خپل حکم کښې چا لره شريکوی ځکه چه نه هغه د شريک نه مستغني دې ـ

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: اعثرنا اعثارا (افعال) واقف کول، مطلع کول، خبرول ـ

قوله: قولهم والمؤمنون دا د اعثرنا مفعول به محذوف دي ـ

قوله: ليعلموا د اعثرنا سره متعلق دي وان الساعة عطف په ان وعدالله باندي دي ـ

قوله: يسترهم جمله د بنيانا صفت دي لله د هم مبتدا محذوف خبر دي، كما اشار اليه الشارح.

قوله: رابعهم كلبهم مبتدا سره د خبر د ثلثة صفت دي هم داسې تركيب به په راتونكي دوؤ جملو كښې وي ـ

قوله: رجما بالغيب، د يرمون مفعول مطلق دي اى يرمون رميا او حال هم كيدې شى اى راجمين بالغيب

قوله: رابعهم كلبهم د حال د وجې نه محلا منصوب دي اى حال كون كلبهم جاعلهم اربعة بانضمامه اليهم وثامنهم واؤ زائده دي د تاكيدى معنې د لحاظ ساتلونه بغير، يا د تاكيدى معنى د لحاظ ساتلو سره، يعنى د اتصاف موصوف بالصفت د تاكيد د پاره يعنى د دلالت د پاره ځكه چې كله موصوف د صفت سره متصف وى نو د موصوف وجود به لازمي وى ځكه چې صفت بغير د موصوف نه نشى موجوديدې، مطلب دا شو چې اصحاب كهف د سپې سره تول اته شو يعنى هغوى اوه وو او اتم سپې شو ـ

قوله: او دلالة كښې او عاطفه تفسيريه (په معنى د) اى دي، يعنى تاكيد په معنى د دلالة دي تاكيد يعنى دلالة على لصوق الصفة بالموصوف باندي د دلالت كولو د پاره (لهذا دا دوه اقوال شو) ـ

قوله: ربي اعلم دا په درميان كښې جمله معترضه ده ـ

قوله: في الدلالة، دا اقرب سره متعلق دي رشدا د لاهدين مفعول مطلق بغير لفظه دي او د اقرب نه تميز واقع كيدل هم صحيح دى اى لاقرب هداية من هذا. مائة د ثلث تميز دي او سنين د مائة عطف بيان يا بدل دي ځكه چې د مائة تميز په عام طور باندي مفرد مجرور وى په يو قرا ت كښې مائة سنين د اضافت سره دي په دې صورت كښې، به سنين د مائة تميز وى او جمع به په محل د مفرد كښې وى ځكه چې د الله تعالى په قول بالاخسرين اعمالا كښې دي ـ

[ايات قوله: ۲۷ - ۲۹]

{وَاتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنْ كِتَابِ رَبِّكَ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُونِهِ مُلْتَحَدًا} ملجا {وَاصْبِرْ نَفْسَكَ} احبسها {مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ} بعبادتهم {وَجْهَهُ} تعالى لا شيئا من اعراض الدنيا وهم الفقراء {وَلَا تَعْدُ} تنصرف {عَيْنَاكَ عَنْهُمْ} عبر بهما عن صاحبهما {تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا} اي القرآن هو عيينة بن حصن واصحابه {وَاتَّبَعَ هَوَاهُ} في الشرك {وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا} اسرافا {وَقُلِ} له ولاصحابه هذا القرآن {الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ} تهديد لهم {إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ} اي الكافرين {نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا} ما احاط بها {وَإِنْ يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا

بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ﴾ كَعَكَرِ الزَّيْتِ ﴿يَشْوِي الْوُجُوهَ﴾ مِنْ حَرِّهِ إِذَا قُرِّبَ إِلَيْهَا ﴿بِئْسَ الشَّرَابُ﴾ هُوَ ﴿وَسَاءَتْ﴾ أَيِ النَّارُ ﴿مُرْتَفَقًا﴾ تَمْيِيزٌ مَنْقُولٌ عَنِ الْفَاعِلِ أَيْ قَبُحَ مُرْتَفَقُهَا وَهُوَ مُقَابِلٌ لِقَوْلِهِ الْآتِي فِي الْجَنَّةِ ﴿وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا﴾

ترجمه: اوتاته چې کوم کتاب ستادرب طرف نه دوحی په ذریعه راغلې دې ته دهغې تلاوت کوه، دهغه خبرولره هیڅوک نه شی بدلولې، اوته به د الله تعالی نه سوا هیڅ ځای دپناه بیانه مومې، اوته خپل ځان دهغه خلقوسره پابند مقید اوساته، کوم چې سحر اومابنام (هروخت) دخپل رب عبادت کوی اودهغوی دعبادت مقصدصرف دخپل رب رضامندی ده دهوی څه دونیاوی غرض نشته، اوهغه فقراء دی، اودنیوی ژوند دروئقونو په خیال کښې دې ستا سترګې (توجه) ددوی نه واوړی ذکر د عین په مراد ترې صاحب عین دې او د داسې کس وینا مه مانه دچا زړه چې مونږه دخپل یادنه غافله کړی دی یعنی دقرآن نه، اوهغه عیینه بن حصن اودهغه ملګری دی اوهغه په شرک کښې دخپلو خواهشاتوپیروی کوی اود هغه حال دحدنه تیرشوې دې یعنی دحدنه اوړېدلې دې اوته هغه ته او دهغه ملګروته بنبهصفا صفا) اوایه چې داقرآن ستاسودرب دطرف نه حق دې بس دچازړه چې غواړې نوایمان دې راوړی اودچازړه چې غواړی کفردې اوکړی، بېشکه مونږه دظالمانو کافرانودپاره اور تیارکړې دې چې ددغې اورپردې به ترې راچپېره شوې وی، اوداهغه پردی دی چې هغې نه به احاطه کړې وی اوکه هغوی (ددیرې تندې دلاسه فریادکوی په داسې اوبو سره به ورته فریادرسی اوشی کومې چې به د تیلو د ویخ د خیری پشان وی هغه اوبهٔ چې کله ددوی مخونوته نزدې کړې شی نودخپل ګرموالی دلاسه به مخونه وراته کړی اوڅه دیرې خرابې اوبهٔ دی هغه اوهغه اورهم څه دیربد دآرام ځای دې مرتفقا تمیزدې کوم چې دفاعل نه منقول دې، ای قبح مرتفقها یعنی ددې آرام دیرزیات خراب دې اوداقول دجنت باره کښې دراتلونکې قول حسنت مرتفقا په مقابل کښې راوړلې شوې دې ګنې په اور کښې کوم آرام دې ؟ بیشکه هغه خلق چا چې ایمان راوړو اونیک عمل ئې اوکړو نودداسې نیک عمل کونکواجریه مونږ نه ضائع کوو جمله (انالا نضیع الخ) دان لذین آمنوا خبر دې اوپه جمله خبریه کښې دضمیر په ځای اسم ظاهر راوړلې شوې دې اواصل عبارت اجرهم دې یعنی مونږبه دوی لره اجرورکړو داسې اجرچې هغه به مذکوره آرامونولره شامل وی داسې خلقو د پاره دهمیشه اوسیدوقیام کولوباغونه دی چې دهغې دلاندې به نهرونه جاری وی، اوهغوی ته به هلته دسروزروکنګن (باهوګان) واچولې شی وئیلې شوی دی چې من زائده دې اوبعضې مفسرینومن ته تبعیضیه وئیلې دی، اساور د اسورة جمع ده او اسورة د سوار جمع ده، یعنی اساورد سوارجمع الجمع ده، اودرېښمونرې دشین رنګ لباس اود پیړو رېښمو لباس (جامې) به اغوندی اود سورهٔ رحمن په ایت کښې بطائنها من استبرق دې یعنی دهغې استریه د پیړو (غټو) رېښموری اوهلته به په تختونوتکیه لګونکې ناست وی ارائك د اریکة جمع ده تخت ته

اړيکه هغه وخت ته وئيلې کيږي کله چې هغه په (حجله) دوله کښې وی او دولې (حجله) هغه خای ته وائي کوم چې دناوې دپاره په کپړو او پردو سره خائسته کړې شوې وی جنت څه خائسته بدله ده او څه ښه د آرام ځای دې ـ

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: واتل ته تلاوت که (ن) تلاوةً تلاوت کول، او دا هم احتمال شته چې د تلو نه مشتق وی او ددې معنی ده اتباع کول ورستو ورستو تلل من الكتاب کښې من بيانيه دې دما موصوله بيان دې ملتحدا (اسم ظرف، مصدر ميمی دې) (افتعال) پناه گاه (دپناه ځای) ياپناه اغستل.

قوله: من كتاب ربك، دما اوحى اليك بيان دې ـ

قوله: لاتعدو واحد مؤنث غائب دنهی دوجې نه په آخر کښې حرف علت واؤ ساقط شو (ن) عدوا دځه خيزنه تجاوز کول، منده وهل، عيناك، دلاتعد فاعل دې او جمله تريد الغ دعيناك د کاف (مضاف اليه) نه حال دې که چرې مضاف اليه دمضاف جزوی نوبيا خو د مضاف اليه نه حال واقع کيدل درست دی، ياددې وجې نه چې دعين نه صاحب عين مراد دې. لهذا د فعل اسناداګرکه په ظاهره دمضاف اليه طرف ته دې خوپه حقيقت کښې هم دمضاف طرف ته دې فرطا (ن) دحدنه تجاوز کول فرط فى الامر کوتاهی کول ـ

قوله: الحق دادمبتدأ محذوف (هذالقرآن) خبردې څنګه چې مفسرعلام ظاهرکړې دې اوالحق دفعل محذوف فاعل هم کيدې شی ای جاء الحق من ربكم ياخود الحق نه حال دې ای كائنا من ربكم ياد هذا القرآن مبتدأ محذوف خبرثانی دې ای كائن من ربكم انااعتدنا دا لف و نشرغيرمرتب دې يعنی داانااعتدنا تعلق دومن شاء فليكفرسره دې او دان الذين آمنوا تعلق د فمن شاء فليؤمن سره دې احاط بهم سرادقها، دنارا صفت دې، د سرادق جمع سرادقات ده سرادق هرهغه خيزته وائي کوم چې د يو خيزاحاطه کړی وی، که هغه چارديواری وی او که شاميانې او پردې وی ـ

قوله: يستغيثوا مصدر اغاثة مد دطلب کول يستغيثوا په اصل کښې يستغوثوا و ، د واؤ کسره ماقبل ته ورکړې شوه او واؤ په ياباندې بدل کړې شونو يستغيثواشو ـ

قوله: المهل (اسم) د تيلو د ويخ خيرې، وينې زوئې، پيپ جمله يشوى، دماء صفت هم کيدې شی او د المهل نه حال هم، عکر: خيرې، تيلچټ،

الشراب دبئس فاعل دې او مخصوص بالذم محذوف دې او هغه هودې چې مرجع ئ مستغاث به دې، مرتفقا دنسبت نه تميزدې کوم چې دفاعل نه منقول دې ای قبح مرتفقها المرتفق ظرف مكان دې، دآرام ځای، دجهنميانو دپاره ددې استعمال استهزاء شوې دې يا

دمشاکلت په طورهم کیدې شي څکه چې دجنتیانو دپاره حسنت مرتفقا فرمائیلې شوی دی.

قوله: اناان حرف مشبه بالفعل په دې کښې دننه ضمیردې اسم لانضیع اجرمن احسن عملا

قوله جمله دان خبر،ان دخپل اسم اوخبرسره خبرشودان اول دپاره،ان اول دخپل اسم اوخبر سره جمله اسمیه خبریه شوه اولئك لهم جنت عدن،لهم خبر مقدم دې اوجنت عدن مبتدأ مؤخره ده بیا جمله د اولئك مبتدأ خبرشو.

قوله: من اساورمن ابتدائیه دې یا په مفعول به باندې زائد دې اومن ذهب کښې من بیانیه دې او کائنة یامصنوعة سره متعلق کیدوسره داساورصفت دې لساوردسوارجمع ده په معنی د ګنګن (باهوګان) متکئین دفعل محذوف یحلون دضمیرنه حال دې فی الجملة دکائناسره متعلق دې دالسرېرنه حال دې۔

[ایاتونه: ۳۰-۳۸]

(وَاضْرِبْ) اجْعَلْ (لَهُمْ) لِلْكُفَّارِ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ (مَثَلًا رَجُلَيْنِ) بَدَل وَهُوَ وَمَا بَعْده تَفْسِير لِلْمَثَلِ (جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا) الْكَافِر (جَنَّتَيْنِ) بُسْتَانَيْنِ (مِنْ أَعْنَابٍ وَحَفَفْنَاهُمَا بِنَخْلٍ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًا) يُقْتَات بِهِ (كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ) كِلْتَا مُفْرَد يَدُلّ عَلَى التَّثْنِيَة مُبْتَدَأ (آتَتْ) خَبَره (أُكُلَهَا) ثَمَرهَا (وَلَمْ تَظْلِمْ) تنقص (مِنْهُ شَيْئًا وَفَجَّرْنَا) أَيْ شَقَقْنَا (خِلَالَهُمَا نَهَرًا) يَجْرِي بَيْنهمَا (وَكَانَ لَهُ) مَعَ الْجَنَّتَيْنِ (ثَمَر) بِفَتْحِ الثَّاء وَالْمِيم وَبِضَمِّهِمَا وَبِضَمِّ الْأَوَّل وَسُكُون الثَّانِي وَهُوَ جَمْع ثَمَرَة كَشَجَرَةٍ وَشَجَر وَخَشَبَة وَخُشُب وَبَدَنَة وَبُدْن (فَقَالَ لِصَاحِبِهِ) الْمُؤْمِن (وَهُوَ يُحَاوِرُهُ) يُفَاخِرهُ (أَنَا أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا) عَشِيرَة (وَدَخَلَ جَنَّتَهُ) بِصَاحِبِهِ يَطُوف بِهِ فِيهَا وَيُرِيهِ أَثْمَارهَا وَلَمْ يَقُلْ جَنَّتَيْهِ إِرَادَة لِلرَّوْضَةِ وَقِيلَ اكْتِفَاء بِالْوَاحِدِ (وَهُوَ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ) بِالْكُفْرِ (قَالَ مَا أَظُنُّ أَنْ تَبِيدَ) تنعدم (هَذِهِ أَبَدًا) (وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِنْ رُدِدْتُ إِلَى رَبِّي) فِي الْآخِرَة عَلَى زَعْمك (لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِنْهَا مُنْقَلَبًا) مَرْجِعًا (قَالَ لَهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ) يُجَاوِبهُ (أَكَفَرْتَ بِالَّذِي خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ) لِأَنَّ آدَم خُلِقَ مِنْهُ (ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ) مَنِيّ (ثُمَّ سَوَّاكَ) عدلك وصيرك (رَجُلًا) (لَكِنَّا) أَصْله لَكِنْ أَنَا نُقِلَتْ حَرَكَة الْهَمْزَة إِلَى النُّون أَوْ حُذِفَتْ الْهَمْزَة ثُمَّ أُدْغِمَتْ النون في مثلها (هو) ضمير الشان تفسيره الجملة بعده والمعنى انا اقول (الله ربي ولا أشرك بربي أحدا)

ترجمه: اوحال بیان کړه دې کافرانواومؤمنانودپاره دهغه دوؤکسانو رجلین دمثلا نه بدل دې اورجلین اوددې مابعددمثلا تفسیر دې په ددې دواړوکښې یوته کوم چې کافروو مونږ د انګورو دوه باغونه ورکړی ووا ومونږددې دواړوباغونونه دکهجوروپه اونوسره احاطه کړې وه اوددې په مینځ مینځ کښې موفصل هم زرغون کړې وو چې ددې په ذریعه به غذا حاصلې ده دواړوباغونوبه خپلې میوې پوره پوره ورکولې اوپه دې کښې به ئې بلکل کمې نه کولو کلتا دلفظ په اعتبارسره مفرددې (خو د معنې په اعتبارسره) په تثنیه دلالت کوی اوکلتا مبتدأ ده

اوآتت ددې خبر دې اومونږ د دواړو باغونو په مینځ کښې نهرونه جاری کړی وو او ددې سره دپاره ددوؤ باغونونه علاوه نور مال حال هم وو اوثمردنا اودمیم د دواړوپه فتحې سره اوددواړوپه ضمې سره ثمر اوداول په ضمې اودثانی په سکون سره ثمراوثمر دثمرة جمع ده لکه شجرد چه شجرة جمع ده اوخشب دخشبة جمع ده اوبدن دبدنة جمع ده (ددې درېواړو مفردپه یو وزن راځې خو جمع ئې مختلف ده) (یوورځ) دغه کافرخپل مؤمن ملګری ته په فخریه اندازسره خبروکولوکښې اوئیل چې زه ستانه په مال کښې هم زیات یم اوپه افراد خاندان کښې هم اوخپل ملګری لره چکرورکونکې اومیوولره ښودنکې دخپل ځان سره باغ ته داخل کړواوحال داووچې دې خپل ځان سره ظلم کونکې وو دکفرپه ذریعه. اوپه دې موقع باندې ئ جنتهٔ اونه وئیلویاخودې وجې نه چې دجنت نه مراد روضه ده (کوم چې په دواړو باغونو باندې مشتمل ده) اوداهم وئیلې شوی دی چه ده دیوباغ په ښودلو اکتفاء کړې وه ـ اووئې وئیل چې زه خونه ګنړم چې داباغ به کله بربادشی اونه داګنړم چې قیامت به راشی اوکه ستا په خیال (قیامت راشی هم) او زه خپل رب ته واپس کړې شم نو ضرور به ددې باغ نه بهترځای ماته ملاؤشی دهغه (مؤمن) ملګری دده دکفریه خبروپه جواب کښې اوئیل چې آیاته دهغه ذات سره کفرکوې کوم چې ته دخاورې نه پیداکړې ئ؟ ځکه چې حضرت آدم ﷺ دخاورې نه پیداکړې شوی ووبیائ ته دنطفې منی نه پیداکړې بیا ئ ته صحیح سالم یعنی (ته ئ معتدل الاعضاء) سړې جوړکړې دلکنا اصل لکن انا وودهمزې حرکت ئې نون ته ورکړو او همزه حذف کړې شوه بیا نون په نون کښې ادغام کړې شو هوضمیرشان دې ددې مابعدجمله ددې تفسیرکوی اومعنی ئ داده چې زه وایم (یعنی عقیده ساتم) چې زمارب خوالله دې اوزه دخپل رب سره څوک نه شریکوم ـ

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ضرب استعمال چې کله دمثل سره وی نوددې دوه مفعوله وی، دلته یومفعول مثلا دې اودویم رجلین دواړه مفعولونه په حقیقت کښې هم یودی اورجلین په حذف دمضاف سره دمثلا نه بدل هم کېدې شی ای مثلامثل الرجلین،

قوله: من اعناب کښې من بیانیه دې، مااې الجنتین مبین دې من اعناب بیان دې ـ

قوله: حففنا دحف نه ماضی جمع متکلم (ن) حف ګهیرول چاپیره کول کلتا چونکه دلفظ په اعتبارسره مفرددې هم ددې اعتبارکولوسره آتت ئ مفرد راؤړوا وعلاهما خبردې دمعنې په اعتبار سره تثنیه راؤړلې شوې دې کلتا الجنتین مرکب مبتدا ده اوجمله آتت خبردې ـ

قوله: ثمرنه دباغاتونه علاوه نور اموال مراد دی که هغه دنقدوپه شکل وی اوکه هغه دخاروو په شکل وی ـ

قوله: يحاور (مفاعله) محاورة وحوار اخبره اترې کول، جواب ورکول، د يحاور تفسير په يفاخر سره کول د قرينه مقام د وجې نه دې ـ

قوله: مالاونفرا دادنسبت نه تميز دې ـ

قوله: الثمار هاپه بعضې نسخو کښې د الثمار ها په ځاې آثارها دې په معنى د رونق او شادابې ـ

قوله: ان تبيد په تاويل د مصدر د اظن مفعول دې ـ

قوله: سواك تسوية برابر کول، متناسب الاعضاء جوړول، دلته سوى د جعل او د صير په معنى کښې دې، د جعل ك مفعول اول او رجلا مفعول ثانى دې، لکنا په اصل کښې لکن انا وو، د انا همزه خلاف القياس حذف کړې شوه د نون په نون کښې ادغام کړې شوې دى ـ

قوله: لكنا کښې لکن غير عامل دې، دې کښې کښې کنته ضمير مبتدأ اول ده او هومبتدأ ثانى ده او الله مبتدأ ثالث ده ربى ئې خبر دې ـ

[ایاتونه: ۳۹ - ٤٤]

(وَلَوْلَا) هَلَّا (إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ) عِنْدَ إِعْجَابِكَ بِهَا هَذَا (مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ) وَفِي الْحَدِيثِ مَنْ أُعْطِيَ خَيْرًا مِنْ أَهْلٍ أَوْ مَالٍ فَيَقُولُ عِنْدَ ذَلِكَ مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ لَمْ يَرَ فِيهِ مَكْرُوهًا (إِنْ تَرَنِ أَنَا) ضمير فصل بين المفعولين (أقل منك مالا وولدا) (فعسى ربي أن يؤتين خَيْرًا مِنْ جَنَّتِكَ) جواب الشرط (وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا) جَمْعُ حُسْبَانَةٍ أَيْ صَوَاعِقَ (مِنَ السَّمَاءِ فَتُصْبِحَ صَعِيدًا زَلَقًا) أَرْضًا مَلْسَاءَ لَا يَثْبُتُ عليها قدم (أَوْ يُصْبِحَ مَاؤُهَا غَوْرًا) بِمَعْنَى غَائِرًا عَطْفٌ عَلَى يُرْسِلَ دُونَ تُصْبِحَ لِأَنَّ غَوْرَ الْمَاءِ لَا يَتَسَبَّبُ عَنِ الصَّوَاعِقِ (فَلَنْ تَسْتَطِيعَ لَهُ طَلَبًا) حِيلَةً تُدْرِكُهُ بِهَا (وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِ) بِأَوْجُهِ الضَّبْطِ السَّابِقَةِ مَعَ جَنَّتِهِ بِالْهَلَاكِ فَهَلَكَتْ (فَأَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ) نَدَمًا وَتَحَسُّرًا (عَلَى مَا أَنْفَقَ فِيهَا) فِي عِمَارَةِ جَنَّتِهِ (وَهِيَ خَاوِيَةٌ) سَاقِطَةٌ (عَلَى عُرُوشِهَا) دَعَائِمِهَا لِلْكَرْمِ بِأَنْ سَقَطَتْ ثُمَّ سَقَطَ الْكَرْمُ (وَيَقُولُ يَا) للتنبيه (ليتني لم أشرك بربي أحدا) (وَلَمْ تَكُنْ) بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ (لَهُ فِئَةٌ) جَمَاعَةٌ (يَنْصُرُونَهُ مِنْ دُونِ اللَّهِ) عِنْدَ هَلَاكِهَا (وَمَا كَانَ مُنْتَصِرًا) عِنْدَ هَلَاكِهَا بِنَفْسِهِ (هُنَالِكَ) أَيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (الْوَلَايَةُ) بِفَتْحِ الْوَاوِ النُّصْرَةُ وَبِكَسْرِهَا الْمُلْكُ (لِلَّهِ الْحَقِّ) بِالرَّفْعِ صِفَةُ الْوَلَايَةِ وَبِالْجَرِّ صِفَةُ الْجَلَالَةِ (هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا) مِنْ ثَوَابِ غَيْرِهِ لَوْ كَانَ يُثِيبُ (وَخَيْرٌ عُقْبًا) بِضَمِّ الْقَافِ وَسُكُونِهَا عَاقِبَةً لِلْمُؤْمِنِينَ وَنَصْبُهُمَا عَلَى التَّمْيِيزِ

ترجمه: او کله چې ته باغ ته داخل شوې وې نو تا په دې باغ باندې د تعجب (خوښې) په وخت کښې ولې اونه وئيل چې داهم هغه دى کوم چې الله او غوښتل د الله د مدد نه بغير هيڅ قوت نشته او په حديث شريف کښې دى چې کوم کس ته بنه مال يا اولاد عطا کړې شوې وى او هغه ماشاء الله لاقوة الا بالله او وئيل نو په دې مال کښې به ده ته ناخوښه حالت نه راپيښيږى او که ته دا گنړې چې زه ستا نه په مال او په اولاد کښې کم يم نو څه لرې نه ده چې زما رب ما لره ستا د باغ نه

بنه باغ راکړی (انا) دوؤ مفعولونو په مینځ کښې ضمیر فصل دې او فعسی جواب شرط دې اوپه دې (ستا په باغ) باندې څه اسمانی آفت راولیږی حسبان د حسبانة جمع ده (یعنی بجلیانی نو هغه باغ به یو صفا هوار میدان پاتې شی، یعنی داسې هوار میدان به ئې کړی چې قدم به پرې نه تینګیږی یا به ئې اوبه اوچې شی غورا (مصدر) په معنی دغائردې اوپه یرسل باندې عاطف دې نه چې په تصبح باندې ځکه چې د اوبو د اوچېدو سبب صواعق (بجلیانې) نه وی بیا به ته ددې د حاصلولو کوشش هم نه شی کولې یعنی ستا په وس کښې به څه داسې تدبیرهم پاتې نه شی چې دهغې په ذریعه ته (اوبه) دوباره حاصلې کړې اودهغه سړی مال لره آفت راګیرکړو سره دهغه باغ هلاک شول په ګرکښې تیرشوی دریواړه قراءتونه دی، نو دحسرت اوندامت نه ئې لاسونه مروړل (مګل) په هغه څه چې هغه په باغ باندې (یعنی دهغې په شجرکارئ باندې څه خرچ کړی وو او هغه باغ په خپلو چتونو باندې راپریوتې وو یعنی چې په هغه چوپالونو باندې کوم ئې چې د انګور د پاره جوړکړې ووپه دې طورچې هغه چتونه پریوتل نو دهغې دپاسه هغه د انګورو زنیلې راپریوتلې اووینا ئې شروع کړه چې څه بنه به وه چې ما دخپل رب سره څوک شریک کړې نه وې، یأدتنبیه دپاره ده اولم یکن کښې یأءاوتاء دواړه قراءتونه دی اونه وودده دپاره څه جماعت چې دهلاکت په وخت کښې ئې دده مدد کړې وې سوا دالله نه او هغه په خپله هم دهلاکت په وخت کښې خپل مدداونه کړې شو، اوهلته یعنی دقیامت په ورځ به حکومت دالله برحق دپاره وی ولایة دواؤپه فتحې سره په معنی دنصرت اودواؤ په کسرې سره په معنی دحکومت الحق که په رفع سره وی نو دولایة صفت به وی اوکه په جرسره وی نو دلفظ الله صفت به وی هم هغه دثواب ورکولوپه اعتبارسره بهتردې دنور چا د اجرنه، بالفرض که نور اجر ورکونکی وی (اودمؤمنانو دپاره) دانجام په اعتبار سره بهتردې عقبا دقاف په ضمې سره او د قاف سکون سره دواړه درست دی اوددې نصب د تمیز دوجې دې ـ

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: لولاتحضیضیه دې دآماده کولو اودرغبت پیدا کولو دپاره دې اذ، دخلت ظرف مقدم دې ماشاءالله موصول او صله مبتدأ محذوف خبردې تقدیری عبارت دادې الامر ماشاءالله یا ماشاءالله مبتدأ ده اوددې خبرکائن محذوف دې ـ اوداهم جائزدی چې ما شرطیه وی اوجواب شرط محذوف وی ای ای شی ءماشاءالله کان بالله دمحذوف سره متعلق دې اود لا نې نفی جنس خبردې ـ

قوله: ان ترن ان حرف شرط ترن مضارع مجزوم واحد مذکرحاضر، نون نه رومیې ی لام کلمه محذوف ده نون وقایه ی ضمیر متکلم مفعول اول محذوف دې دنون کسره ددې

علامت دې اودرویت نه رویت قلبی مراد دې اناد دوؤ مفعولونو په مینځ کښې ضمیر فصل د تاکید دپاره دې اقل مفعول ثانی دې مالا اوولدا تمیزدې، فعسی جواب شرط دې اوکه چرې د ترن نه رؤیت بصری مرادوی نو اقل به دحال دوجې نه منصوب وی۔

قوله: یؤتین ددې په اخیره کښې ی ضمیر دمتکلم محذوف ده آئ یؤتی ایتاءنه فعل مضارع واحدمذکرغائب په معنی د ورکول۔

قوله: حسبان گرم کرې شوې بگوله، عذاب حسبان (ن) نه بروزن غفران مصدردې په معنی دحساب ای مقدارقدره الله تعالی علیهاددې واحد حسبانةدې۔

قوله: تصبح فعل ناقص هی په دې کښې ضمیرددې اسم صعیدازلقاموصوف سره دصفت خبر۔

قوله: اویصبح عطف په سابقه یرسل باندې دې نه چې په تصبح صعیدا زلقا باندې، که چرې دحسبان تفسیرپه مطلق عذاب سره اوکړې شی نوپه دې صورت کښې به دیصبح عطف په فتصبح باندې هم درست وی، ځکه چې عذاب الهی باغ لره صفا او هوارمیدان کولو او اوبو لره د ښکته بوتلوسبب کیدې شی غورا په معنی دغائردې چې حمل درست شی،گنی حمل به مبالغه زیدعدل پشان وی۔

قوله: علی ماأ یقلب متعلق دې۔

قوله: بأوجه الضبط السابقة مطلب دادې چې په ماقبل مذکورثمرکښې چې کوم درې قراءتونه دی نوهغه دلته هم دی۔

قوله: ندماً وتحسرادې داضافه کول مقصد دا ښودل دی چې دیقلب صله علی ځکه درست ده چې یقلب د ندماً وتحسرا په معنی کښې دې گنی دیقلب صله علی نه دهٔ مستعمل، تحسرا دیقلب دضمیر نه حال دې اوخاویة اسم فاعل په معنی داسم مفعول پریوتې خیزعروش دعرش جمع ده دالان دخانکوچهت، دعائم ددعامة جمع ده، ستنه، آدانه۔

قوله: ینصرونه جمله دفئة صفت اول دې او من دون الله د کائنة سره متعلق صفت ثانی دې۔

قوله: هنالك خبر مقدم او الولایة مبتدأ مؤخر، اولله خبرثانی الحق، د الولایة صفت دوجې نه مرفوع دې اوکه الحق باندې کسره اوئیلې شی نود الله صفت به وی، عقبا تمیز دې عقب په دمعنی دبدلې، اوثواب۔

[ایاتوله: ۴۵-۴۶]

(وَاضْرِبْ) صَيِّرْ (لَهُمْ) لِقَوْمِكَ (مَثَلَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا) مَفْعُول أَوَّل (كَمَاءٍ) مَفْعُول ثَانٍ (أَنْزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ فَاخْتَلَطَ بِهِ) تَكَاثَفَ بِسَبَبِ نُزُولِ الْمَاءِ (نَبَاتُ الْأَرْضِ) أَوْ امْتَزَجَ الْمَاءُ بِالنَّبَاتِ فَرَوِيَ وَحَسُنَ (فَأَصْبَحَ) صَارَ النَّبَاتُ (هَشِيمًا) يَابِسًا مُتَفَرِّقَةً أَجْزَاؤُهُ (تَذْرُوهُ) تَنْثُرُهُ وَتُفَرِّقُهُ (الرِّيَاحُ) فَتَذْهَبُ بِهِ الْمَعْنَى شَبَّهَ الدُّنْيَا

بنبات حسن فهو من لنكسر فطرته الرياح وفي قراءة الريح (وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا) قادرا (اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا) يتجمل بهما فيها (وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ) هي سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر زاد بعضهم ولا حول ولا قوة الا بالله (خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ اَمَلًا) اي ما يأمله الانسان ويرجوه عند الله تعالى

ترجمه: تاسو خپل قوم دپاره ددنيوي ژوند مثال بيان كړئ، مثل د (اضرب په معنى د صير) مفعول اول دي كماء مفعول ثاني دي (ددنياوي ژوند مثال داسې دې) لكه چې مونږ دوريځونه اوبه اوروليي دي (اوبو) دوجې دزمكې شينكې په خپل مينځ كښې داوبو دوريد و دوجې نه گورشو اوشينكې داوبو دوجې نه بنه په خپل مينځ كښې گډ و ډ شو بنه بارونقه خانسته شو بيا دغه شينكې اوچ شو او داسې چوره چوره شو چې ددې ذرې خورې شوې كومولره چې هوا الوزوى راوالوزوى يعنى ريزه ريزه كولو سره هوا ئ د ځان سره والوزوى تردې چې نوم اونښان ئ هم باقي پاتې نه شو، مطلب دادې چې ته ددنيا تشبيه دداسې خانسته شينكى سره وركړه چې هغه په اخيره كښې اوچيدوسره چوره چوره شى اوبيا ئې هوا والوزوى او خواره واره ئې كړى په يوقراءت كښې دالرياح په ځاى الريح دې اوالله تعالى دهميشه نه په هرڅيز باندې قدرت لرونكې دې مال اواولاد ددنيوى ژوندروتق دې په دنيا كښې ددې دوارونه زينت اوښكله حاصليږى اوباقى پاتې كيدونكې اعمال صالحه دى هغه سبحان الله والحمدلله ولااله الا الله والله اكبردى اوبعضې حضراتو ورسره دلا حول ولا قوة الا بالله اضافه كړې ده دا اعمال ستا درب په وړاندې دثواب په اعتبارسره هم بهتردى اودااميد په اعتبارسره هم يعنى دكوم څيزچې انسان طمع اواميد ساتى هغه دالله تعالى سره دى ـ

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: كماء كښې كاف په معنى دمثل دې اود اضرب مفعول ثاني دې اومثل الحيوة الدنيا مفعول اول دې او اضرب په معنى د صيردې اوداهم كيدې شى چې كماء دهي مبتدأ محذوف خبروى، اوانزلناه جمله دماء صفت ـ

قوله: الهشيم (ض) هشماً ريزه ريزه كول هشم په معنى دمهشوم روې (س) رواترو تازه كيدل ښخكلې نظاره (خانسته منظر والا كيدل) وتفرقه كښې عطف تفسيرى دى شه فعل امر دې اودې فاعل نبى ﷺ دې زينة مصدر په معنى داسم مفعول دې، چې په كښې واحد جمع تثنيه ټول برابر دى ددې وجې نه زينة دالمال او د البنون ددوارو خبرواقع شوې دې دا ضرب تفسير په صيرسره كولوكښې دې طرف ته اشاره ده چې د اضرب استعمال كله دمثل سره وى نومتعدى به دوزمفعولوته وى، په دې مثال كښې ددنيوى ژوند د ابتداء او د انتهاء

په باران کښې دراختونکې گیاه دابتداء اوانتهاء سره تشبیه ورکړې شوې ده ـ

قوله: المال والبنون داسې قیاس دې چې کبری اونتیجه ئې محذوف دی دقیاس ترتیب دادې: المال والبنون زینة الحیوٰة الدنیا، وکل ماهو زینتها فهو هالك فالمال والبنون هالكان بیا به اونیلې شی، کل ماهو هالك لایفتخر به، فالمال والبنون لایفتخر بهما.

قوله: الباقیات صفت دې اوددې موصوف محذوف دې اوهغه الکلمات یاالاعمال دې خیراسم تفضیل دې خوپه خپله حقیقی معنی کښې نه دې مستعمل شوې. شارح بسبب النزول وئیلو سره ئې اشاره اوکړه چې په کښې باسببیه ده ـ

قوله: امتزج الماء سره ئې د اختلط دویم تفسیر ته اشاره اوکړه اوامتزاج چونکې دجانبینو نه وی لهذا د امتزاج نسبت داوبوپه ځای د ‹نبات› ته طرف درست دې، اگرچې عرف اواستعمال ددې برعکس دې په عرف اولغت کښې باءپه کثیرغیرطاری باندې داخلیږی لکه چې امتزج الماء باللبن اوبهٔ په پیئوکښې گډې شوې، نه چې پئې په اوبوکښې گډشول، اودلته په کثیرطاری باندې باداخله ده،داداوبوپه کثرت کښې دمبالغې دپاره دې که چرته پئې لږوی اواوبهٔ زیاتې وی نوواېوبه امتزج اللبن بالماء پئې په اوبوکښې گډ شول،هم داسې په مذکوره مثال کښې دا ښودل دی مقصودچې اوبهٔ دومره زیاتې دی گویاچې هم هغه اصل دی ـ

قوله: املا، د املا تفسیرئې په ماياملهٔ سره کولوکښې دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چې املا مصدر په معنی داسم مفعول دمال په معنی کښې دې ـ

[اياتونه:٤٧-٤٩]

(وَ) اذکر (یومَ نُسیّرُ الجبالَ) یُذهب بها عَنْ وَجْه الأرْض فتصیر هَبَاء مُنْبَثًّا وَفِي قِرَاءَة بِالنُّونِ وَكَسْرِ الْيَاء وَنَصْب الجبَال (وَتَرَى الأرْضَ بَارِزَةً) ظَاهِرَة لَيْسَ عَلَيْهَا شَيْء مِنْ جَبَل وَلَا غَيْره (وَحَشَرْنَاهُمْ) المؤمنين والكافرين (فَلَمْ نُغَادِرْ) نترك (مِنْهُمْ أَحَدًا) (وَعُرِضُوا عَلَى رَبِّكَ صَفًّا) حَال أَيْ مُصْطَفِّينَ كُلّ أُمَّة صَفّ وَيُقَال لَهُمْ (لَقَدْ جِئْتُمُونَا كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ) أَيْ فُرَادَى حُفَاة عُرَاة غُرْلًا وَيُقَال لِمُنْكِرِي الْبَعْث (بَلْ زَعَمْتُمْ) أَنْ مُخَفَّفَة مِنَ الثَّقِيلَة أَيْ أَنَّهُ (أَلَّنْ نَجْعَلَ لَكُمْ مَوْعِدًا) لِلْبَعْثِ (وَوُضِعَ الْكِتَابُ) كِتَاب كُلّ امْرِئٍ فِي يَمِينه مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَفِي شِمَاله مِنَ الْكَافِرِينَ (فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ) الْكَافِرِينَ (مُشْفِقِينَ) خَائِفِينَ (مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ) عِنْد مُعَايَنَتهمْ مَا فِيهِ مِنَ السَّيِّئَات (يَا) لِلتَّنْبِيهِ (وَيْلَتَنَا) هَلَكَتنَا وَهُوَ مَصْدَر لَا فِعْل لَهُ من لفظه (مَالِ هَذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً) مِنْ ذُنُوبنَا (إِلَّا أَحْصَاهَا) عَدَّهَا وَأَثْبَتَهَا تَعَجَّبُوا مِنْهُ فِي ذَلِكَ (وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا) مُثْبَتًا فِي كِتَابهمْ (وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا) لَا يُعَاقِبهُ بِغَيْرِ جُرْم وَلَا يَنْقُص مِنْ ثَوَاب مُؤْمِن

ترجمه: او یاده کړئې هغه ورځ چې هغه الله به روان کړی غرونولره یعنی الله تعالی به غرونولره

دمخ دزمکې نه رااوباسی اوغرونه به دوره شی اوپه یوقراءت کښې نـیردنون اوی په کسرې سره دې اودجبال په نصب سره اوای مخاطب ته به زمکې لره اوګورې چې یوهوارمیدان دې چې په دې به غرونه وغیره هیڅ هم نه وی اومونږبه ټولوانسانانولره که هغه مؤمنان وی اوکه کافران راجمع کړوپه دوی کښې به یو هم باقی پرې نږدو اوټول په تول به ستادرب په وړاندې صف بسته حاضرکړې شی صفاحال دې اومعنی کښې دمصطفین دې دهرامت به یوصف وی او دوی ته به اوئیلې شی چې اوګورئ اخرهم مونږته راغلئ څنګه چې مونږ رومبی ځل تاسوپیداکړي وئ یعنی تن تنها یاخپې ابله خپې برینډلغړ،ناسنته،اومنکرین بعثت ته به اوئیلې شی تاسوبه داګنړل چې مونږ به ستاسو بعثت دپاره څه وقت موعود نه مقرروو ان مخففه عن المثقله دې یعنی انه اوعمل نامه به مخامخ کیخودلې شی یعنی د هرکس عمل نامه که مومن وی نوپه ښی لاس کښې اوکه کافروی نوپه ګس لاس کښې به ورکړې شی اوته به ای مخاطب اوګورئ مجرمانو کافرانو لره چې د هغه تحریرنه کوم چې به په هغې کښې وی ویرېږی به اوپه دې اعمال نامه کښې لیکلې شوی بداعمالو لره کتلوسره به وائي هائې زمونږ بدقسمتي ویلتنا د هلکتنا په معنی کښې دې اوویل داسې مصدردې چې ددې فعل ددې د مادې نه نه دې مستعمل شوې دا (عمل نامه) څنګه عجیبه کتاب دې چې ده نه څه وړه ګناه پریخې ده اونه څه غټه ؟یعنی هره ګناه ئ شمیرولو سره قلمبندکړې ده اومجرمان به دعمل نامه دې کیفیت نه تعجب کوی اوچې څه هغوی کړی وی هغه به موجوداوموی یعنی په خپله عمل نامه کښې به ئې لیکلې شوی اوموی اوستا رب به په چاباندې ظلم نه کوی یعنی د نه کړې ګناه سزابه چاته نه ورکوی اونه به دچا مومن اجرکم کړی۔

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: قوله تعالی حشرنا هم وعرضوا ووضع مذکوره درې واړه افعال دماضی صیغې دی خوپه معنی داستقبال دی،د یقینی وقوع طرف ته اشاره کولودپاره ماضی راوړلې شوې ده د لم نغادر عطف په حشرنا باندې دې ځکه چې لم نغادرد لم دوجې نه دماضی منفی په معنی کښې دې۔

قوله: صفا،د عرضوا دضمیرنه حال دې دمصدردوجې نه په معنی دجمع دې د یسیر تفسیرپه بذهب بها سره کولو کښې اشاره ده چې یسیرمتعدی بالباء دې اوالجبال ددې مفعول اول دې۔

قوله: نغادرددې تفسیرپه نترك سره کولوکښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې نغادرباب مفاعله اګرچې دطرفین نه دفعل تقاضه کوی خودلته دطرفین نه فعل مرادنه دې بلکه غادرپه معنی دغدردې، ای نترك او عاقبت اللص دقبیلې نه دې۔

قوله: مصطفین سره ئې اشاره اوکړه چې صفاً اگرچې مفردډې خو دمصدر دوجې نه په معنیٰ دجمع دې۔
قوله: کماء یاخومفعول مطلق دې یادضمیرنه حال دې، په ړومبی صورت کښې به کماء د مصدر محذوف صفت وی ای لجئنا کائنا کماء الخ.
قوله: ان لن دادوه حروف دی اول ان مخففه عن المثقله دې ددې اسم ضمیرشان محذوف دې ای انه اوجمله لن نجعل ددې خبردې دویمه کلمه لن حرف ناصب دې د ان نون په لن کښې مدغم کړې شواوپه قرآنی رسم الخط کښې نون حذف کړې شولکم دنجعل مفعول ثانی دې اوموعدامفعول اول دې۔
قوله: کتاب کل امرءمفسرعلام دالکتاب تفسیرپه کتاب کل امرءسره کولوکښې اشاره اوکړه چې د الکتاب الف لام دمضاف الیه په عوض کښې دی۔
قوله مشفقین د دې فسیرپه خائفین سره د کولو مقصدتعین دمعنی دپاره دې ځکه چې مشفقین دمختلفو معنودپاره استعمالیږی دلته دخوف معنی مراده ده، حسن اوابن کثیر او ابوعمروتسیرمجهول لوستلې دې اوالجبال ئې نائب فاعل گرزولې دې اوابن محیص ؒ تسیرالجبال لوستلې دې اوالجبال ئ فاعل گرزولې دې،اوباقی حضراتو نسیرالجبال لوستلې دې اوجبال ئ مفعول گرزولې دې، اوالله تعالی ئ فاعل گرزولې دې یادساتئ چې نسیر، دفعل محذوف اذکرظرف دې۔
قوله: مال هذا الکتاب کښې مااستفهامیه مبتدأ ده دااستفهام توبیخی دې اولام جاره دې هذا اسم اشاره اوالکتاب مشارالیه دلهذالام دلته قرآني د رسم الخط مطابق دهذانه جدالیکلې کیږی په مصحف عثمانی کښې هم داسې لیکلې شوی دی۔
قوله: صغیرة ولاکبیرة موصوف هنة یافعلة محذوف دې معصیة هم مقدرمنلې شو۔

[ایاتونه: ۵۰-۵۲]

(وَ) اذْكُرْ (إِذْ) مَنْصُوب بِاذْكُرْ (قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ) سُجُود انْحِنَاء لَا وَضْع جَبْهَة تَحِيَّة لَهُ (فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ الْجِنِّ) قِيلَ هُوَ نَوْع مِنَ الْمَلَائِكَة فَالِاسْتِثْنَاء مُتَّصِل وَقِيلَ هُوَ مُنْقَطِع وَإِبْلِيس هُوَ أَبُو الْجِنّ فَلَهُ ذُرِّيَّة ذُكِرَتْ مَعَهُ بَعْد وَالْمَلَائِكَة لَا ذُرِّيَّة لَهُمْ (فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِ) أَيْ خَرَجَ عَنْ طَاعَته بِتَرْكِ السُّجُود (أَفَتَتَّخِذُونَهُ وَذُرِّيَّتَهُ) الْخِطَاب لِآدَم وَذُرِّيَّته وَالْهَاء فِي الْمَوْضِعَيْنِ لِإِبْلِيس (أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِي) تُطِيعُونَهُمْ (وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ) أَيْ أَعْدَاء حَال (بِئْسَ لِلظَّالِمِينَ بَدَلًا) إِبْلِيس وَذُرِّيَّته فِي إِطَاعَتهمْ بَدَل إِطَاعَة اللَّه (مَا أَشْهَدْتُهُمْ) أَيْ إِبْلِيس وَذُرِّيَّته (خَلْقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَا خَلْقَ أَنْفُسِهِمْ) أَيْ لَمْ أُحْضِر بَعْضهمْ خَلْق بَعْض (وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّينَ) الشَّيَاطِين (عَضُدًا) أَعْوَانًا فِي الْخَلْق فَكَيْفَ تُطِيعُونَهُمْ (وَيَوْمَ) مَنْصُوب بِاذْكُرْ

(بِالْقَوْلِ) بِالْيَاءِ وَالنُّوْنِ (نَادُوْا شُرَكَائِيَ) الْأَوْثَانَ (الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ) لِيَشْفَعُوْا لَكُمْ بِزَعْمِكُمْ (فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ) لَمْ يُجِيْبُوْهُمْ (وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ) بَيْنَ الْأَوْثَانِ وَعَابِدِيْهَا (مَوْبِقًا) وَادِيًا مِنْ أَوْدِيَةِ جَهَنَّمَ يَهْلِكُوْنَ فِيْهِ جَمِيْعًا وَهُوَ مِنْ وَبِقَ بِالْفَتْحِ هَلَكَ (وَرَأَى الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ فَظَنُّوْا) أَيْ أَيْقَنُوْا (أَنَّهُمْ مُوَاقِعُوْهَا) أَيْ وَاقِعُوْنَ فِيْهَا (وَلَمْ يَجِدُوْا عَنْهَا مَصْرِفًا) مَعْدِلًا

ترجمه: واذ قلنا دا داذکر فعل محذوف دوجې نه محلا منصوب دې اوچې کله مونږ فرښتو ته حکم اوکړو چې تاسو آدم ته سجده اوکړئ یعنی دآدم ﷺ دتعظیم دپاره دهغه د وړاندې ښکته شئ نه چې په زمکه باندې تندی کیږدئ چنانچه دابلیس نه علاوه ټولو سجده اوکړه هغه (ابلیس) دجناتو (پیریانو) نه وو، ونیلې شوی دی چې جنات د ملائکو د قسمونو نه یو قسم دې، نو په دې صورت کښې به مستثنی متصل وی او داهم ونیلې شوی دی چې الا ابلیس مستثنی منقطع ده اوابلیس دجناتو جدا علی دی دده ذریت هم شته چې دهغې ذکر په روستوراتلونکو آیاتونو کښې رروان دې، او دملائکو ذریت نشته هم دې سبب یعنی دجنی کیدلو دسبب نه ده دخپل رب دحکم نافرمانی اوکړه یعنی په ترک کولو دسجدې دې دخپل رب داطاعت نه خارج شو آیا بیا هم تاسو ده لره اودده ذریت لره داخطاب آدم ﷺ اودده ذریت ته دې زما نه سوا دوستان جوړوئ یعنی ددوی اطاعت کوئ حالانکه دوی ستاسو دښمنان دی عدو په معنی داعداء دې او حال دادې چې دا د ظالمانو دپاره ډیر بد بدل دې یعنی دالله تعالی داطاعت په ځای دابلیس اودده دذریت اطاعت کول نهایت بد بدل دې، اوما دوی لره یعنی ابلیس اودده ذریت لره د اسمانو او د زمکې دتخلیق په وخت او خپله ددوی دتخلیق په وخت حاضر کړی نه دی یعنی په خپله په دوی کښې د بعضو دتخلیق په وخت کښې په دوی چالره حاضر کړی نه دی اومونږه گمراه کونکو لره خپل مددگار جوړونکی نه یو یعنی په تخلیق کښې خپل معاون جوړونکی نه یو نو بیا تاسو ددوی اطاعت ولې کوئ؟ اویوم د اذکر محذوف دوجې نه منصوب دې یقول په ی اون سره دې او په کومه ورځ به چه هغه اوائې چې ستاسو په خیال کښې چې کوم زما شریکان وو یعنی بوتان هغوی راوبلئ دې دپاره چې ستاسو په خیال کښې ستاسو شفاعت اوکړی نو دوی به هغوی راوبلی خو په هغوی کښې به څوک هم جواب ورنه کړی او ددوی یعنی دبتانو او دهغوی د عابدینو په مینځ کښې به د دزخ د کندو یوه کنده متعینه کړونو هغوی ټول به په دې کښې هلاک شی موبقا د وبق بالفتح نه مشتق دې په معنی د هلك او مجرمان به جهنم لره په کتلو سره پوهه شی یقین به اوکړی چې دوی په دې کښې تو تونکی دی یعنی په دې کښې به داخلیږی او ددې نه دبچ کیدو ځای به نه مومی ـ

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: تمیة له دا داسهدوامعمول دې، بعضې حضراتو ونیلې دی چې کان په معنی د صاردې

ای صار من الجن، کان من الجن جمله مستانفه ده او دلم سجد علت دي

قوله: ففسق عن امر ربه فا تعليليه او سببيه دواړه کيدي شي فسق په معنی دخروج دي عرب وائي فسقت الرطبة عن قشرها چې کله کهجوره دخپل پوستکي نه راوځي دغه رنګ داهم وائي فسقت الفأرة من جحرها مګه دخپل سوړي نه بهرراوتله (ض ن ک) ددې اصطلاحی معنی دحق او صلاح د لارې نه وتل، نافرمانه کيدل، دحدود شريعت نه وتل ـ

قوله: هو نوع من الملائكة دا دمستثنی متصل توجيه ده اوابليس ابو الجن دا دمستثنی منقطع توجيه ده افتتخذونه کښې همزه دانکار او داظهار حيرت دپاره ده او فاء دتعقيب دپاره ده د ذريته عطف دتتخذونه په ضمير باندې دې مجاهد وئيلي دی چې دابليس په ذريت کښې لاقس او ولهان دی ددې دواړو کار په طهارت کښې وسوسې اچول دی ـ

قوله: ذرية دا په ابو الجن باندې تفريع ده د فسق تفسير په خرج سره کولو کښې ئې د لغوی معنی طرف ته اشاره کړې ده او دعن طاعته بترك السجود اضافه کولو کښې اصطلاحی معنی طرف ته اشاره کړې ده ـ

قوله: افتتخذونه همزه په محذوف باندې داخل دي فا عاطفه ده معطوف عليه فعل محذوف دې، استفهام توبيخی دې تقديری عبارت دا دې ابعدما حصل منه ما حصل من الاباء والفسق يليق منكم اتخاذه وذريته اولياء ـ

قوله: من دونی دمحذوف سره متعلق کيدو سره داولياء صفت دې د من دونی تعلق د تتخذوا سره هم کيدې شي وهم لكم عدو دمفعول يافاعل نه حال دې عدو دمصدر کيدو دوجې نه په معنی اعداء دې للظالمين دبدلا سره متعلق دې او بدلا دبئس دفاعل د ضمير مستتر هونه تميز واقع دې اوابليس و ذريته دمخصوص بالذم محذوف بيان دې تقديری عبارت دا دې بئس البدل بدلا هو ابليس وذريته،

قوله: شركائي شركاء په قرينه د زعمتو دواړه مفعوله محذوف دی ای زعمتموهم شركائي ـ

قوله: رءی کوفيان د رءی په آخره کښې ياليکی او بصريان نه ليکی، درأی اصل رأی دې ياء متحرک ماقبل مفتوح دوجې نه په الف باندې بدله شوه نورآشو په عربئ ژبه کښې دکوفيانو رسم الخط رائج دې لهذا درآ په اخره کښې ياء او ليکلې شوه ـ

قوله: مواقعوا اسم فاعل جمع مذکر په اصل کښې مواقعون وو، داضافت دوجې نه په اخره کښې نون او غورزولې شو. ديو بل سره نزدې مصدر مواقعة دې، مصرف ظرف مکان دې دواپس کيدو ځای ـ

[اياتونه: ۵۴ - ۵۹]

﴿وَلَقَدْ صَرَّفْنَا﴾ بَيَّنَّا ﴿فِي هَذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٍ﴾ صِفَةٌ لِمَحْذُوفٍ أَيْ مَثَلًا مِنْ جِنْسِ كُلِّ مَثَلٍ لِيَتَّعِظُوا ﴿وَكَانَ الْإِنسَانُ﴾ أَيِ الْكَافِرُ ﴿أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا﴾ خُصُومَةً فِي الْبَاطِلِ وَهُوَ تَمْيِيزٌ مَنْقُولٌ مِنِ اسْمِ كَانَ الْمَعْنَى وَكَانَ جَدَلُ الْإِنْسَانِ أَكْثَرَ شَيْءٍ فِيهِ ﴿وَمَا مَنَعَ النَّاسَ﴾ أَيْ كُفَّارَ مَكَّةَ ﴿أَن يُؤْمِنُوا﴾ مَفْعُولٌ ثَانٍ ﴿إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَىٰ﴾ الْقُرْآنُ ﴿وَيَسْتَغْفِرُوا رَبَّهُمْ إِلَّا أَن تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ﴾ فَاعِلٌ أَيْ سُنَّتُنَا فِيهِمْ وَهِيَ الْإِهْلَاكُ الْمُقَدَّرُ عَلَيْهِمْ ﴿أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا﴾ مُقَابَلَةً وَعِيَانًا وَهُوَ الْقَتْلُ يَوْمَ بَدْرٍ وَفِي قِرَاءَةٍ بِضَمَّتَيْنِ جَمْعُ قَبِيلٍ أَيْ أَنْوَاعًا ﴿وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ﴾ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿وَمُنذِرِينَ﴾ مُخَوِّفِينَ لِلْكَافِرِينَ ﴿وَيُجَادِلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالْبَاطِلِ﴾ بِقَوْلِهِمْ أَبَعَثَ اللَّهُ بَشَرًا رَسُولًا وَنَحْوِهِ ﴿لِيُدْحِضُوا بِهِ﴾ لِيُبْطِلُوا بِجِدَالِهِمْ ﴿الْحَقَّ﴾ الْقُرْآنَ ﴿وَاتَّخَذُوا آيَاتِي﴾ أَيِ الْقُرْآنَ ﴿وَمَا أُنذِرُوا﴾ بِهِ مِنَ النَّارِ ﴿هُزُوًا﴾ سُخْرِيَةً ﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ﴾ مَا عَمِلَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْمَعَاصِي ﴿إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً﴾ أَغْطِيَةً ﴿أَن يَفْقَهُوهُ﴾ أَيْ مِنْ أَنْ يَفْهَمُوا الْقُرْآنَ أَيْ فَلَا يَفْهَمُونَهُ ﴿وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا﴾ ثقلا فلا يسمعونه ﴿وَإِن تَدْعُهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ فَلَن يَهْتَدُوا إِذًا﴾ اي بالجعل المذكور ﴿أَبَدًا﴾ ﴿وَرَبُّكَ الْغَفُورُ ذُو الرَّحْمَةِ لَوْ يُؤَاخِذُهُم﴾ فِي الدُّنْيَا ﴿بِمَا كَسَبُوا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ﴾ فِيهَا ﴿بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ﴾ وَهُوَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ ﴿لَّن يَجِدُوا مِن دُونِهِ مَوْئِلًا﴾ مَلْجَأً ﴿وَتِلْكَ الْقُرَىٰ﴾ أَيْ أَهْلُهَا كَعَادٍ وَثَمُودَ وَغَيْرِهِمَا ﴿أَهْلَكْنَاهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا﴾ كَفَرُوا ﴿وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم﴾ لِإِهْلَاكِهِمْ وفي قراءة بفتح الميم اي لهلاكهم ﴿مَّوْعِدًا﴾

ترجمه: او واقعه داده چې مونږ په دې قرآن کښې هر قسمه عمده مضامين په مختلف اندازسره بيان کړي دي من کل مثل د موصوف محذوف مثلا صفت دې يعنى د هر قسمه مثالو دې د پاره نه چې دوى نصيحت حاصل کړى، او کافر انسان ډير جهګړالودې يعنى خصومت کښې باطل طريقه اختياروى جدلا د کان داسم نه منقوليدلوسره تميزدې، تقديرى عبارت دادې وکان جدل الانسان اکثرشئ فيه او خلقولره يعنى کفار مکه لره دايمان راوړونه او دخپل پروردګارنه معافى طلب کولونه چې هغوى ته د هدايت قرآن رسېدلو نه پس صرف دې انتظار منع کړى دى چې دوى سره هم د مخکښې خلقوېشان معامله پيښه شى يا دا چه عذاب ددوى وړاندې اودرېږى، سنة الاولين د تاتيهم فاعل دې يعنى چې کوم قانون دقدرت زمونږ د دوى باره کښې دې، او هغه هلاکت دې کوم چې د دوى باره مقدر شوې دې ان يؤمنوا (دمنع) مفعول ثانى دې قبلا په معنى روبرو د نظر مخې ته او هغه عذاب په ورځ دبدر دقتل په شکل کښې پيښ شو، او په يو قراءت کښې قبلا دقاف او د باء په ضمې سره کوم چې دقبيل جمع ده، دانواع په معنى کښې او مونږ رسولانو لره مؤمينو ته بشارت ورکونکې او کافرانو لره ويرونکى راليږلو، او کافران داسې خبرې کوى چې آيا الله تعالى بشرلره رسول جوړ کړو او

راوي لېږلو؟ ناحقه جهګړې کوي چې هغوی په باطله طريقې سره حق قرآن لره ښکته کړي او هغوی زمونږ آياتونو قرآن پوري او هغه عذاب نار د کوم نه چې وېرولې شو توقې او کړې او د هغه چا نه غټ ظالم بل څوک دې چاته چې د ده درب په آياتونو سره نصيحت اوکړې شو بيا هغه دهغې نه مخ واوړي؟ او ده هغه کارونو لره کوم چې ده په خپل لاسونو باندې مخکښې لېږلي دي هير کړل يعنې هغه د کفر او دمعصيت اعمال کومولره چې ده کړي دي بيشکه چې مونږ ددوی په زړونو باندې پردې اچولي دي، دې خبرې نه چې دوی په قرآن باندې پوهه شي دې وجې نه دوی په قرآن نه پوهيږي او ددوی غوګونو لره موکاڼړه کړي دي چې ددې وجې نه دوی قرآن لره نه اوري او که چرې ته دوی لره هدايت طرف ته راوبلې نو دوی به هيڅکله په راه راست رانه شي يعنې دجعل مذکوردوجې نه او هغه په قلوب باندې پردې دي او په غوګونو کښې ثقل (کوڼروالي) دې او ستا پروردګار دير معاف کونکې او رحم کولو والا دې که چرې هغه په دنيا کښې ددوی دکړو په سبب مؤاخذه او کړه نو فورا به دوی باندې په دنيا کښې عذاب نازل کړي بلکه دوی لره يوه وعده ده او هغه دقيامت ورځ ده او دوی به ددې نه علاوه هيڅ ځائ دپناه تهکانه او نه مومي او مونږ هغه کلو لره يعنې دهغې باشندګانو لره مثلا عاد او ثمود وغيره لره په هغه وخت هلاک کړل کله چې هغوی ناانصافي اوکړ کفرئ اوکړو او مونږ دهغوی هلاکت لره يو وخت مقرر کړې وو يعنې د هغوی دهلاکولو دپاره او په يو قراءت دميم په فتحې سره دې يعنې دهغوی دهلاکت دپاره

د قيوداتو فوائد او تسهيل

.**قوله:** لقد صرفنا صرف تصريفاً په مختلف طريقوسره بيانول او په مختلف اندازسره پوهه کول، من کل مثل کښې من زائده دې، من کل مثل دمثلا محذوف صفت دې او د صرفنا مفعول به دې تقديري عبارت دادې صرفنا في هذا القرآن مثلا کائنا من کل مثل،

قوله: جدلا د اکثر شئ دنسبت نه تميز دې، د کان داسم نه منقول دې، ای کان جدال الانسان اکثر شئ فيه ای جداله اکثر من کل مجادل منه فعل ماضي (ف) الناس مفعول اول او ان يؤمنوا جمله په تاويل دمصدر سره مفعول ثاني ددې نه مخکښې من محذوف دې۔

قوله: اذجاءهم د يؤمنوا ظرف دې يستغفروا عطف په يؤمنوا باندې دې۔

قوله: ان تأتيهم په تاويل دمصدر سره دمنع فاعل دې انتظار مضاف محذوف دې او ان تأتيهم مضاف اليه دې کوم چې دمضاف قائم مقام دې او د يأتيهم عطف په تأتيهم باندې دې ۔

قوله: قبلا، دالعذاب نه حال دې په معنی دمخامخ او په يو قراءت کښې قبلا دې کوم چې دقبيل جمع ده په معنی دانواع او داقسام څنګه چې سبل دسبيل جمع ده په معنی دانواع

قوله: مبشرين و منذرين، دمرسلين نه حال دې د يجادل مفعول المرسلين محذوف دې ليدحضوا د يجادل سره متعلق دې ادحاض (افعال) خويول ديکه کول ۔

قوله: ما انذروا كښې ما موصوله ده او انذروا جمله صله به عائد محذوف دې يا ما مصدريه ده.
د انذارهم په معنى كښې دانذروا عطف په آياتى باندې دې هزوا، د اتخذوا مفعول ثانى دې
او ايتى وما انذروا جمله عاطفه د اتخذوا مفعول اول دې۔

قوله: من لفظامفرددې او معنا جمع دې لهذا ددې طرف ته دواحد او دجمع دواړه قسمه
ضميرونه راجع كيدې شى څنګه چې وړاندې پينځه ضميرونه دمفرد او پينځه دجمع دمن
طرف ته راجع كيږى۔

قوله: اكنة دادكنان جمع ده په معنى دپردې دا جمله داعراض او دنسيان علت دې۔

قوله: بالجعل المذكور ددې جملې اضافه داذا دمفهوم دتعيين دپاره ده۔

قوله: ربك مبتدأ الغفور خبر اول ذوالرحمة خبر ثانى۔

قوله: موئل ظرف دې په معنى دځاې دپناه (ض) وال يئل وألاوال اليه، پناه ئې واغستله۔

قوله: تلك القرى مبتدأ اهلكناهم خبر او تلك القرى دفعل محذوف دوجې نه منصوب هم
كيدې شى په دې صورت كښې به دباب اشتغال نه وى تقديرى عبارت به داوى اهلكنا تلك
القرى اهلكناهم.

قوله: مهلك مصدر ميمى دې، هلاكول يا ظرف زمان دې دهلاكت وخت مهالك ئې جمع ده
مهلك كښې درې قراءتونه دى ① دميم ضمه او دلام فتحه مُهلَك ② دميم او د لام دواړو
فتحه مَهلَك (۳) د ميم فتحه او لام مكسور مَهلِك.

[اياتونه: ۶۰-۶۵]

(و) اذكر (إذ قال موسى) هو بن عِمرَان (لِفَتَاهُ) يُوشع بن نُون كَانَ يَتبَعهُ وَيَخدمُهُ وَيَأخذ عنهُ العِلم (لَا أَبرَحُ) لَا أَزالُ أَسِير (حَتّٰى أَبلُغَ مَجمَعَ البَحرَينِ) مُلتَقى بَحر الرُّوم وَبَحر فَارِس مِمَّا يَلِي المَشرِق أي المَكَان الجَامِع لِذلِكَ (أَو أَمضِيَ حُقُبًا) دَهرًا طَوِيلًا فِي بُلُوغه إن بَعُدَ (فلما بلغا مجمع بينهما) بين البحرين (نسيا حوتهما) نَسِيَ يُوشع حَملَه عِند الرَّحِيل وَنَسِيَ مُوسَى تَذكِيره (فَاتَّخَذَ) الحُوت (سَبِيلَه فِي البَحرِ) أي جَعَلَه بِجَعلِ اللّٰه (سَرَبًا) أي مِثل السَّرَب وَهُوَ الشَّقّ الطَّوِيل لا نَفَاذ لَهُ وَذلِك أَنَّ اللّٰه تَعَالى أَمسَكَ عَن الحُوت جَرْيَ المَاء فَانجَابَ عَنهُ فَبَقِيَ كَالكُوَّة لَم يَلتَئِم وَجَمَدَ مَا تَحته مِنهُ (فَلَمَّا جَاوَزَا) ذلِك المَكَان بِالسَّير إلَى وَقت الغَدَاء مِن ثَانِي يَوم (قَالَ) مُوسَى (لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا) هُوَ مَا يُؤكَل أوَّل النَّهَار (لَقَد لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا) تعبًا وَحُصُوله بَعد المُجَاوَزَة (قَالَ أَرَأَيتَ) أي تَنَبَّهْ (إِذ أَوَينَا إِلَى الصَّخرَةِ) بِذلِكَ المَكَان (فَإِنِّي نَسِيتُ الحُوتَ وَمَا أَنسَانِيهُ إِلَّا الشَّيطَانُ) يُبدَل مِن الهَاء (أَن أَذكُرَهُ) بدل اشتمال أي أنساني ذِكره (وَاتَّخَذَ) الحُوت (سَبِيلَه فِي البَحرِ عَجَبًا) مَفعُول ثَانٍ أي يَتَعَجَّب مِنهُ مُوسَى وَفَتَاهُ لِمَا تَقَدَّمَ فِي بَيَانه (قَالَ) موسى (ذٰلِكَ) أي فقدنا الحُوت (مَا) اي الذي (كنا نبغي) نَطلُبُهُ فَإِنَّهُ عَلامَة لَنَا عَلَى وُجُود مَن نَطلُبُهُ

﴿فَارْتَدَّا﴾ رجعا ﴿عَلَىٰ آثَارِهِمَا﴾ يقصانها ﴿قَصَصًا﴾ فأتيا الصخرة ﴿فَوَجَدَا عَبْدًا مِنْ عِبَادِنَا﴾ هو الخضر ﴿آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا﴾ نبوة في قول وولاية في آخر وعليه أكثر العلماء ﴿وَعَلَّمْنَاهُ مِنْ لَدُنَّا﴾ من قبلنا ﴿عِلْمًا﴾ مفعول ثان أي معلومًا من المغيبات روى البخاري حديث إن موسى قام خطيبًا في بني إسرائيل فسئل أي الناس أعلم فقال أنا فعتب الله عليه إذ لم يرد العلم إليه فأوحى الله إليه إن لي عبدًا بمجمع البحرين هو أعلم منك قال موسى يا رب كيف لي به قال تأخذ معك حوتًا فتجعله في مكتل فحيثما فقدت الحوت فهو ثم فأخذ حوتًا فجعله في مكتل ثم انطلق وانطلق معه فتاه يوشع بن نون حتى أتيا الصخرة ووضعا رأسيهما فناما واضطرب الحوت في المكتل فخرج منه فسقط في البحر ﴿فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا﴾ وأمسك الله عن الحوت جرية الماء فصار عليه مثل الطاق فلما استيقظ نسي صاحبه أن يخبره بالحوت فانطلقا بقية يومهما وليلتهما حتى إذا كانا من الغداة قال موسى لفتاه ﴿آتِنَا غَدَاءَنَا﴾ إلى قوله ﴿وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا﴾ قال وكان للحوت سربًا ولموسى ولفتاه عجبا الخ

ترجمه: او هغه وخت يادكړه چې كله موسى عليه السلام كوم چې دعمران خوى دى خپل خادم يوشع بن نون ته كوم چې دموسى عليه السلام سره وو او دموسى عليه السلام دخدمت كولو سره سره دموسى عليه السلام نه علم هم حاصلولو اوئيل چې زه به روان يم سفر دې موقوف كوم به نه تردې چې زه ددواړو دريابونو د يوځاى كيدو ځاى ته اورسيږم يعنى د مشرقى جانب نه دبحرروم او د بحرفارس دملاويد ځې ته اوكه چرې منزل مقصودمې اونه موندلونو د يو وخت يعنى اوږدې زمانې پورې به زم چنانچه چې كله دا دواړه د دريابونو ديو ځاى كيدو ځې ته اورسيدل نودى دواړو خپل كب هيركړو يوشع دروانيدوپه وخت كب اوچتول هيركړل اوموسى عليه السلام يوشع ته يادول هيركړل نوكب په درياب كښې دسرنګ پشان لاره جوړه كړه يعنى كب درب په قدرت داسې اوكړل اودسرنګ پشان لاره داسې اوږد سورې ووچې پورې راپورې نه وواودادې وجې نه اوشول چې الله تعالى دكب دتللودلارې نه د اوبو بهيدل بند كړل چه د هغې د وجې اوبه د كب دلارې نه بندې شوې نوپه دې طريقه هغه سورې لكه دطاق پشان شو اودحضرت موسى عليه السلام تروا پسې پورې بندنه شواوكب (مهې) به چې دكوم ځاى نه تريدلونو هغه ځاى به اوچېدلو (چې دهغې دوجې نه به لارې دسورې شكل اختيارولو) چې كله دادواړه حضرات دهغه مقام موعود نه مخكښې لاړل اوددويمې ورځې دروتې وخته پورې ئې سفر اوكړو نوموسى خپل خادم ته اوئيل چې زمونږ خوراك راوړه غدا هغه خوراك ته وئيلې كيږي كوم چې دسحرپه وخت كښې خوړلې شى دنن په سفر كښې مونږ ستړى شو نصب په معنى دتعب دې اوسترې والې ورته دمنزل مقصودنه داوړيدلونه پس محسوس شو نويوشع اوئيل چې اوګورئ واورئ زه تاسوته ددغه كب (مهى) قصه اوروم چې كله مونږ دهغه ګټې سره ايسار شو نو ما نه هغه كب هيرشو اودهغې يادول ماناشيطان هيركړى

وو ان اذکره د انسانه دضمیر مفعول ء نه بدل اشتمال دې یعنی زما نه ئ ددې یادول
هیرکړل او هغه کب په دریاب کښې په څه عجیبه طریقې سره لارجوړه کړه عجباً داتخذ مفعول ثانی
دې ددې واقعې نه موسی ﷺ او دهغه خادم په تعجب کښې پرېوتل لکه څنګه چې په
روميې واقعه کښې بیان شوی دی موسی ﷺ اوفرمائيل دکب دورکېدو هم هغه ځاې دې
دکوم چې مونږ تلاش کولو اوزمونږ دمطلوب دموندلو علامه ده نو دواړه حضرات دخپل قدمونو
نخښو لټولو سره واپس شول تردې چې هغه ګټې ته اورسيدل بس دواړو زمونږ دبندګانونه
یوبنده خضر اوموندلو چې هغه لره مونږ دخپل خصوصی رحمتونو نه ورکړه کړې وه یعنی د یو قول
مطابق د نبوت اودبل قول مطابق د ولایت نه ددې دويم قول اکثرعلماء قائل دی او مونږ
هغه ته دخپل جانب نه خاص علم ورکړې وو علماً، دعلمناه مفعول ثانی دې یعنی د مغيباتو د
معلوماتو علم موورکړې وو، امام بخاری یو حدیث روایت کړې دې چې دهغې خلاصه
داده چې یوه ورځ موسی ﷺ خپل قوم بني اسراء ئيل ته خطبه ورکړه نو دهغوی نه سوال
اوکړې شو چې په انسانانو کښې دټولونه زیات علم والا څوک دې؟ موسی علیه الصلاة و
السلام جواب ورکړو چې زه يم نوالله تعالى ددوی د دې جواب دوجې نه په دوی باندې
عتاب اوفرمائیلو څکه چې موسی علیه الصلاة والسلام دې مسئلې لره په والله اعلم
وئیلو سره الله حواله نکړه نوالله تعالی دوحی په ذريعه سره موسى ﷺ ته اطلاع ورکړه
چې زما یو بنده دې کوم چې دمجمع البحرین په خوا کښې دې هغه سره دستا نه زیات علم
دې، موسی عرض اوکړویا اله العالمین دغې بنده ته درسیدو زما د پاره څه صورت
کیدې شی، نوالله تعالى ارشاد اوفرمائیلو چې دخپل ځان سره یو کب واخله او هغه په
تهیلئ کښې کیږده اوچې په کوم ځاې کښې دغه کب ورک شونو پوهه شه چې دغه بنده
هلته دې، نوموسی علیه الصلاة و السلام دځان سره یو کب واغستلو او هغه ئ په تهیلئ
(خلته) کښې کیښودلو او په سفرروان شو او ددوی سره ددوی یو خادم یوشع بن نون هم
روان شو تردې چې دادواړه حضرات یوې ګټې ته اورسیدل او هلته ددې لګولونه پس
اوده شول او کب په خلته کښې حرکت اوکړلو او دخلتې نه بهر وتلو سره په دریاب کښې
پریوتو او هغه په دریاب کښې دسرنګ پشان لاره جوړه کړه او الله تعالی ددغې کب دلارې
نه داوبو بهیدل بند کړل بس هغه لاره پشان دیو طاق شوه کله چې د موسی ﷺ خادم
بیدار شونو دهغه نه دکب واقعه حضرت موسی ته بیانول هیرشول او باقی شپه او ورځ ئ
منزل اوکړو تردې پورې چې ددويمې ورځې دخوراک وخت راغلو نو حضرت موسی علیه
الصلاة والسلام خپل خادم ته اوفرمائیل زمونږ خوراک راوړه الی قوله واتخذ سبيله في البحر عجباً
نبی علیه الصلاة والسلام ددې آیت په تفسیر کښې فرمائيلې دی کان للحوت سرباً ولموسی

ولقنا مجمعا الخ (یعنی د کب په اوبو کښې دغه شان تلل خو د کب د پاره سرنګ وو او د حضرت موسی علیه السلام او د یوشع علیه السلام د پاره د تعجب نه ډکه خبره وه۔

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: فتی خوان، خادم، غلام (ج) فتیة، مفسرینو په عام طور باندې دلته ترې خادم مراد اغستلې دې لاابرح فعل ناقص په معنی دلاازال د دې اسم انا په دې کښې وجوبا مستتر دې د دې خبر د حتی ابلغ د قرینې د وجې نه محذوف دې ای اسیر او که چرې دې لره فعل تام او منلې شی نو دې لره د خبر ضرورت نه شته مفسر علام د موسی تفسیر په ابن عمران سره کولو کښې د بعضې خلقو د دې قول تردید او کړو کوم چې وائي چې موسی نه مراد د موسی ابن عمران نه دې بلکه موسی بن میشا بن یوسف بن یعقوب دې۔

قوله: لاابرح تفسیر په لاازال اسیر سره کولو کښې دې خبرې ته اشاره او کړه چې لا ابرح فعل ناقص دې او د دې خبر اسیر محذوف دې او په حذف باندې قرینه حتی ابلغ ده ای لا ابرح سائرا حقبا حقب اوږدې زمانې ته وئیلې شی او یو مقرر وخت ته هم وائي. بعضې حضراتو اویا کالا او بعضې حضراتو اتیا کالا او یو قول د درېشو کالو هم دې دلته مجازا مدت دراز مراد دې سرب سرنګ، نالئ، سورې سربا د اتخذ مفعول ثانی دې او سبیله مفعول اول دې نصبا اسم دې په معنی دستړېتوب (ستومانتیا) تکلیف. نصبا د لقینا مفعول به دې ارایت کښې همزه استفهامیه تعجبیه ده یعنی موسی علیه الصلاة والسلام ته داونیل مقصود دی چې داسې واقعه کومه چې دعجیبه کیدو د وجې نه ناقابل فراموش وه خوما هغه هیره کړه، د ارایت مفعول محذوف دې ای ارایت ما نابنی فی ذلك الوقت په محاوره کښې د اخبرنی په معنی کښې مستعمل دې څنګه چې داردو ژبې په محاوره کښې وئیلې کیږي (بهلا بتلاﺋے) دلته چونکه څه قابل طلب خبره نشته دې وجې نه صرف د اظهار تعجب د پاره دې اوینا ماضی جمع متکلم اوی یاوی (ض) اویا او اواء ځای نیول، کوزېدل د دې لفظ پوره تحقیق په سورة کهف، آیت ۱۲ کښې تېر شوې دې انسانیه انسانیه انسا یُنسی انساء هیرول نون دوقایه ي ضمیر واحد متکلم مفعول اول ه ضمیر واحد مذکر غائب مفعول ثانی په ه کښې اصل داده چې دا مضموم وی خو کله چې د دې ماقبل ی ساکنه یا کسره راشی نو ه ته هم کسره ورکوی لکه څنګه علیه فیه به خو په دوؤ ځاینو کښې امام حفص د اصل مطابق لوستلې دې یو دلته او دویم په سورة الفتح آیت ۱۰ کښې علیه الله کوم چې ملاعلی قاری په شرح د شاطبیه کښې په تفصیل سره لیکلې دی ص ۳۲۰، ان اذکره کښې ان مصدریه دې جمله اذکره په تاویل د مصدر سره د انسانیه د مفعول ثانی نه بدل اشتمال دې ای

ما انسانی ذکره الا الشیطان، ذکره په زړه کښې یادول او دچاپه وړاندې د ذکر کولو دپاره اذکر له استعمالیږی عجبا د اتخذ مفعول ثانی هم کیدې شی او مفعول مطلق هم په دې صورت کښې به موصوف محذوف وی ای اتخاذا عجبا او فی البحر دحال په بنا منصوب دې ای کائنا فی البحر او د اتخذ سره متعلق هم کیدې شی نغ په اصل کښې نبغی ووې په قرآنی رسم الخط کښې دلته حذف کړې شوې ده او د سورة یوسف په آیت ۲۵ کښې لیکلې شوې ده. دې حذف خوبه اسماء کښې شائع او ذائع دې څنګه چې په قاضی کښې خوپه افعالو کښې شاذ او خلاف قیاس دی قصصا یا مصدر دې (ن) قصصا پیروی کول ای نقص قصصا یا دحال دوجې نه منصوب دې ای قاصین قصصا من عندنا د محذوف سره متعلق دې د رحمة نه حال دې او من لدنا هم د محذوف سره متعلق دې د علما نه حال دې، رعایت فواصل دوجې نه مقدم کړې شوې دې۔

[ایاتونه: ٦٦ - ٧٤]

{قَالَ لَهُ مُوسَى هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا} أَيْ صَوَابًا أُرْشَدُ بِهِ وَفِي قِرَاءَةٍ بِضَمِّ الرَّاءِ وَسُكُونِ الشِّينِ وَسَأَلَهُ ذَلِكَ لِأَنَّ الزِّيَادَةَ فِي الْعِلْمِ مَطْلُوبَةٌ {قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا} {وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَى مَا لَمْ تُحِطْ بِهِ خُبْرًا} فِي الْحَدِيثِ السَّابِقِ عَقِبَ هَذِهِ الْآيَةِ يَا مُوسَى إِنِّي عَلَى عِلْمٍ مِنَ اللَّهِ عَلَّمَنِيهِ لَا تَعْلَمُهُ وَأَنْتَ عَلَى عِلْمٍ مِنَ اللَّهِ عَلَّمَكَهُ اللَّهُ لَا أَعْلَمُهُ وَقَوْلُهُ خُبْرًا مَصْدَرٌ بِمَعْنَى لَمْ تُحِطْ أَيْ لَمْ تُخْبَرْ حَقِيقَتَهُ {قَالَ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ صَابِرًا وَلَا أَعْصِي} أَيْ وَغَيْرَ عَاصٍ {لَكَ أَمْرًا} تَأْمُرُنِي بِهِ وَقَيَّدَ بِالْمَشِيئَةِ لِأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ عَلَى ثِقَةٍ مِنْ نَفْسِهِ فِيمَا الْتَزَمَ وَهَذِهِ عَادَةُ الْأَنْبِيَاءِ وَالْأَوْلِيَاءِ أَنْ لَا يَثِقُوا إِلَى أَنْفُسِهِمْ طَرْفَةَ عَيْنٍ {قَالَ فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْأَلْنِي} وَفِي قِرَاءَةٍ بِفَتْحِ اللَّامِ وَتَشْدِيدِ النُّونِ {عَنْ شَيْءٍ} تُنْكِرُهُ مِنِّي فِي عِلْمِكَ وَاصْبِرْ {حَتَّى أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا} أَيْ أَذْكُرَهُ لَكَ بِعِلَّتِهِ فَقَبِلَ مُوسَى شَرْطَهُ رِعَايَةً لِأَدَبِ الْمُتَعَلِّمِ مَعَ الْعَالِمِ {فَانْطَلَقَا} يَمْشِيَانِ عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ {حَتَّى إِذَا رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ} الَّتِي مَرَّتْ بِهِمَا {خَرَقَهَا} الْخَضِرُ بِأَنِ اقْتَلَعَ لَوْحًا أَوْ لَوْحَيْنِ مِنْهَا مِنْ جِهَةِ الْبَحْرِ بِفَأْسٍ لَمَّا بَلَغَتِ اللُّجَجَ {قَالَ} لَهُ مُوسَى {أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا} وَفِي قِرَاءَةٍ بِفَتْحِ التَّحْتَانِيَّةِ وَالرَّاءِ وَرَفْعِ أَهْلِهَا {لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا} أَيْ عَظِيمًا مُنْكَرًا رُوِيَ أَنَّ الْمَاءَ لَمْ يَدْخُلْهَا

ترجمه: موسی خضرته اوئیل چې آیا زه ستاسره په دې شرط باندې پاتې کیدې شم چې ته ماته د هغه علم مفید نه ښودنه اوکړې د کوم علم مفید چې تاته تعلیم درکړې شوې دې؟ رشدا ای صوابا چې د کوم دوجې نه زه درستګی حاصل کړم، اوپه یوقراءت کښې د راء په ضمې سره دې، حضرت موسی علیه الصلاة والسلام د خضرنه د علم سوال څکه اوکړو چې په علم کښې زیات مطلوب دې هغه بنده جواب ورکړوچې ته زماسره هیڅ کله صبر نشې کولې اوبه د اسې خبروبه څنګه صبر اوکړې د کوم دحقیقت نه چې ته پوره طریقې سره واقف نه یې؟ په سابق کښې

مذکور حدیث کښې ددې آیت نه پس داهم دی چې اې موسی الله ماته یوداسې علم راکړې دې دکوم چې تاته پته نشته اوالله تعالی تا لره یوداسې علم درکړې دې دکوم نه چې زه واقف نه یم اودالله تعالی قول خبرامصدردې اولم تحط دلم تخبرد حقیقته په معنی کښې دې،موسی علیه الصلاة والسلام ورته جواب ورکړوانشاءالله ته به ماصابراومومې، اوزه به ستا دهیڅ یوحکم نافرمانی نه کوم یعنی چې ته کوم حکم کوې نوزه به دهغې نه نافرمانی نه کوم،موسی علیه الصلاة والسلام خپلې وعدې لره دالله تعالی دمشیت سره مقیده کړه خکه چه موسی علیه الصلاة والسلام په خپل ځان باندې لازمه کړې وعدې د پابندې باره کښې اعتمادنه وواودانبیاء اوداولیاء عادت وی چې هغوی په خپل نفس باندې دیو لحظې دپاره هم اعتمادنه کوی هغه بنده خضرورته اوئیل صیح ده که ته زماسره تلل غواړې نوته به زمانه دیوې خبرې باړې کښې هم کومه چې ته دخپل علم په اعتبارسره منکرګڼې تپوس نه کوې اوصبربه کوې تردې چې زه ستا په وړاندې خپله بیان اوکړم یعنی ستا په وړاندې د هغې علت پخپله بیان نه کړم، په یو قراءت کښې دلام په فتحې سره اودنون په تشدیدسره (تسالنی)دې نوموسی علیه الصلاة والسلام دیومتعلم پشان دمعلم سره دپوره ادب رعایت کولو سره دهغه شرط قبول کړو پس ددې نه دادواړه حضرات دریاب په ساحل باندې روان شول تردې چې کله دواړه حضرات په کشتې کښې سوارهٔ شول کومه چې ددوی خوا ته تیره شوه نودغې کشتې لره خضر ماته کړه په دې طریقې چې کله کشتې ګودرته اورسېده نوخضر د دریاب د ظرف نه دتبرپه ذریعې سره یوه یا دوه تختې اویستلې نوموسی علیه الصلاة والسلام ورته اوئیل چې آیا تاکشتې ماته کړه چې کشتې والاغرق کړې تایقینادیرنامناسب حرکت اوکړو یعنی ډیرناخوښه حرکت دې اوکړو، روایت شوې دې چې اوبهٔ په دغه کشتئ کښې داخلې نه شوې ـ

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: على ان تعلمن الخ داتبعك دكاف نه حال دې اى حال كونك معلما لى، رشدادتعلمن مفعول ثانی دې اى تعلمن علماذارشد،ان تعلمن کښې ان مصدریه اوپه اخره کښې نون وقایه دې او یاء دمتکلم محذوف ده دنون کسره دحذف یاعلامه ده، رَشدا و رُشدا(ن) هدایت موندل ـ

قوله: لم تحط : احاط په ګېرول، احاط به علما په پوره طریقه پوهېدل خبرایا دفاعل نه منقول کېدو سره دنسبت نه دتمیز په وجه منصوب دې، یامفعول مطلق دپاره دتاکیددې خکه چې لم تحط په معنی دلم تخبردې اوخبرپه معنی دعلم دې اى لم تحط علما.

قوله: لااعصی لك ددې عطف په صابرا باندې دې اولاپه معنی دغیردې ـ

قوله: وغيرعاصٍ سره مفسرعلام دې خبرې طرف ته اشاره اوكړه چې لا په معنى دغير اوددې عطف په صابراباندې دې۔

قوله: تأمرنى سره دې خبرې طرف ته اشاره ده چې امرا، دتامرفعل محذوف مفعول مطلق دې امرا عجيبه خبره، هغه خبره كومه چې خلاف دشرع اوخلاف دعقل سليم وى فاس تبركې (ج) فؤوس۔

قوله: اصبر، اصبرمحذوف منلو سره ئ دې خبرې طرف ته اشاره اوكړه چې حتى احدث لک دمغيا محذوف جزء دې اومغيا اصبردې۔

پاره نمبر ۱۶ [قَالَ أَلَمْ أَقُل]

[اياتونه: ۷۵-۷۸]

{قَالَ أَلَمْ أَقُل إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا} {قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ} أَيْ غَفَلْتُ عَنِ التَّسْلِيمِ لَكَ وَتَرْكِ الْإِنْكَارِ عَلَيْكَ {وَلَا تُرْهِقْنِي} تُكَلِّفْنِي {مِنْ أَمْرِي عُسْرًا} مَشَقَّةً فِي صُحْبَتِي إِيَّاكَ أَيْ عَامِلْنِي فِيهَا بِالْعَفْوِ وَالْيُسْرِ {فَانطَلَقَا} بَعْدَ خُرُوجِهِمَا مِنَ السَّفِينَةِ يَمْشِيَانِ {حَتَّىٰ إِذَا لَقِيَا غُلَامًا} لَمْ يَبْلُغِ الْحِنْثَ يَلْعَبُ مَعَ الصِّبْيَانِ أَحْسَنَهُمْ وَجْهًا {فَقَتَلَهُ} الْخَضِرُ بِأَنْ ذَبَحَهُ بِالسِّكِّينِ مُضْطَجِعًا أَوِ اقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ أَوْ ضَرَبَ رَأْسَهُ بِالْجِدَارِ أَقْوَالٌ وَأَتَى هُنَا بِالْفَاءِ الْعَاطِفَةِ لِأَنَّ الْقَتْلَ عَقِبَ اللِّقَاءِ وَجَوَابُ إِذَا {قَالَ} لَهُ مُوسَىٰ {أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَاكِيَةً} أَيْ طَاهِرَةً لَمْ تَبْلُغْ حَدَّ التَّكْلِيفِ وَفِي قِرَاءَةٍ زَكِيَّةً بِتَشْدِيدِ الْيَاءِ بِلَا أَلِفٍ {بِغَيْرِ نَفْسٍ} أَيْ لَمْ تَقْتُلْ نَفْسًا {لَّقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُّكْرًا} بِسُكُونِ الْكَافِ وَضَمِّهَا أَيْ مُنْكَرًا {قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا} زَادَ لَكَ عَلَى مَا قَبْلَهُ لِعَدَمِ الْعُذْرِ هُنَا وَلِهَذَا {قَالَ إِن سَأَلْتُكَ عَن شَيْءٍ بَعْدَهَا} أَيْ بَعْدَ هَذِهِ الْمَرَّةِ {فَلَا تُصَاحِبْنِي} لَا تَتْرُكْنِي أَتْبَعُكَ {قَدْ بَلَغْتَ مِن لَّدُنِّي} بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ مِنْ قِبَلِي {عُذْرًا} فِي مُفَارَقَتِكَ لِي {فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ} هِيَ أَنْطَاكِيَةُ {اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا} طَلَبَا مِنْهُمُ الطَّعَامَ بِضِيَافَةٍ {فَأَبَوْا أَن يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا} ارْتِفَاعُهُ مِائَةُ ذِرَاعٍ {يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ} أَيْ يَقْرُبُ أَنْ يَسْقُطَ لِمَيَلَانِهِ {فَأَقَامَهُ} الْخَضِرُ بِيَدِهِ {قَالَ} لَهُ مُوسَىٰ {لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ} وَفِي قِرَاءَةٍ لَتَخِذْتَ {عَلَيْهِ أَجْرًا} جُعْلًا حَيْثُ لَمْ يُضَيِّفُونَا مع حاجتنا إلى الطعام {قَالَ} له الخضر {هَٰذَا فِرَاقُ} أَيْ وَقْتُ فِرَاقِ {بَيْنِي وَبَيْنِكَ} فِيهِ إِضَافَةُ بَيْنَ إِلَى غَيْرِ مُتَعَدِّدٍ سَوَّغَهَا تَكْرِيرُهُ بِالْعَطْفِ بِالْوَاوِ {سَأُنَبِّئُكَ} قَبْلَ فِرَاقِي لَكَ {بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا}

ترجمه: حضرت خضرورته اوئيل آيا ماتاته نه وو وئيلې چې ته ماسره هرګزصبرنه شې كولې نو موسى ورته اوئيل چې زماپه هيره باندې زمانا مواخذه مه كوه يعنى زمانا ستاپه فرمانبردارې كښې اوپه تاباندې داعتراض ترک كولوكښې غفلت اوشواوتاسوپه ماباندې زماپه معامله كښې تنګى مه كوئ يعنى په سختۍ كښې مې مه مبتلاكوه اوته دخپل خان سره زماد مصاحبت په معامله كښې سختيا مه پيداكوه يعنى زماسره د درګذراودسهولت او

اسانتیا معامله او کړه بیادواړه د کشتۍ نه د کوزېدو نه پس خپې ابله خپې روان شول تردې چې
دواړو یوهلک سره ملاقات اوشو کوم چې تراوسه لاعمرد بلوغت ته نه وورسېدلې
د ماشومانو سره ئ لوبې کولې په دې تولو کښې دې ډیر زیات خانسته وو نو خضر دا هلک
مړکړو، یاخوئ په زمکه باندې څملولو او په چاړه باندې ئ ذبح کړویائ په لاسونو سره
اونیولو اوسرئ ترې جداکړواویائ د هغه په دېوال سره اوهلو، دادرې اقواله دی فقتله
کښې فاء تعقیبیه عاطفه استعمال دې دپاره شوې دې چه قتل د ملاقات نه پس شوې وو
او د اذ جواب قال له موسی اقتلت نفسا زکیة دې یعنی موسی علیه السلام خضرته اوئیل
تایوبې گناه کس قتل کړو یعنی داسې معصوم نفس کوم چې لاتراوسه پورې حد د تکلیف
یعنی عمردبلوغت ته نه وو رسیدلې اوپه یوقراءت کښې زکیة د یاء په تشدید اودالف نه
بغیردې کوم چې خون نه دې کړې یعنی هغه دکوم نفس قاتل نه دې (چې قصاصاقتل کړې
شی) بیشکه چې تادیرېدکاراوکړو نکرا په سکون دکاف سره اوپه ضمې دکاف سره دواړه
قراءتونه شته دې یعنی ډیرناخوښه حرکت خضرورته اوئیل چې آیا ماتاته نه وو وئیلې چې ته
زماسره هرگزصبرنه شی کولې دلته ئې د لکَ اضافه اوکړه په خلاف دسابق څکه چې هلته
موسی علیه السلام ورته دسهوې اودنسیان عذرنه وو پېش کړې موسی علیه الصلاة والسلام
ورته اوئیل ددې نه پس که مادستا نه دڅه پوښتنه اوکړه (اعتراض اوکړم) نوته مادځان سره مه
پرېږده یعنی دځان سره دپاتې کیدو اجازت مه راکوه یقینا تا مادپاره څه عذرباقی پرې نه
خودلو لدن دنون په تشدیداوتخفیف دواړه قراءتونه شته دمن لدنی معنی من قبلی ده
یعنی ته مالره دځان نه دجداکولوپه معامله کښې معذورئ بیا دادواړه حضرات روان شول
تردې چې کله دواړه یوکلی والوته اورسیدل هغه علاقه انطاکیه وه دکلی والونه دې
حضراتوروتئ اوغښتله یعنی دمېلمستیا په طورباندې دهغوی نه ئ روټې طلب کړه خوکلی
والو د دوی دمېلمستیا نه انکار اوکړوبیادې دواړو حضراتوپه دغه کلی کښې یودېوال اولیدلو
کوم چې غورځېدل غوښتل اودهغې لوړوالې سل گزه وویعنی په ترس کیدو دوجې نه
غورځېدوته نزدې وونوخضرهغه دیوال ته لاس لګولو سره درست کړوموسی ورته اوئیل که
ستاخوښه وه نوددې کاربه دې ترې اجرت یعنی مزدوری اغستې وه په یوقراءت کښې لاتخذت
دې څکه چه سره ددې نه چې مونږه دروټئ حاجت مندهم وواودې خلقو زمونږ مېلمستیا
اونکړه خضراوئیل بس دا اعتراض زمااوستاپه مینځ کښې جدائ راوستونکې دې یعنی دجدائ
سبب دې فراق مصدرپه معنی داسم فاعل تفریق دې په دې کښې دبین اضافت
غیرمتعدد طرف ته دې دکوم گنجائش چې دواؤپه ذریعه دبین د تکرار دوجې نه دې، زه
دهغه خبروحقیقت ستادجداکولو نه رومبې تاته وایم، په کومو چې تاصبراونکړې شو۔

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله لن تستطيع استطاعت نه مضارع واحد مذكر حاضر ،ته به هرگز اونكړې شې ـ

قوله بمانسيت كښې ماموصوله ده اوجارمجرودلاتؤاخذني سره متعلق دې اوعائد محذوف دي اى لاتأخذوني بامرالذى نسيته بعضې حضراتو وئيلى دى چې نسيت په معنى دترکت دې كوم چې نسيت لازم معنى ده اوداهم احتمال دې چې مامصدريه وى اى لاتاخذني بنسياني،دنسيت تفسيرئ په غفلت سره كولوكښې اشاره اوكړه چې دلته دنسيت لغوى معنى مرادنه ده بلكه لازمي معنى دا ده كومه چې ترک اوغفلت دې ځكه چې دنسيان دپاره ترک لازم دې۔

قوله: لاترهقنى من امري عسرا،عسرا، دلاترهقني مفعول ثانى دې اوترهقني كښې يامفعول اول دې يقال ارهقه عسراهغه ئ په تكليف كښې واچولو . هغه سره ئ دتنگئ معامله اوكړه۔

قوله: زاكية هغه نفس كوم چې تراوسه پورې گناه نه ده كړې اوزكية هغه نفس كوم چې دگناه نه پس توبه كړې وى، كسائ وئيلې دى چې دواړه هم معنى دى ـ

قوله بغيرنفس په دې كښې درې وجوه داعراب دى ① دقتلت سره متعلق دې ② دمحذوف سره متعلق دې اودفاعل يادمفعول نه حال دې اى قتلته ظالمااومظلوما بغير نفس ③ د مصدر محذوف صفت وى اى قتلت قتلامتلبسابغيرنفس.

قوله لم يبلغ الحنث كښې مضاف محذوف دې،اى وقت الحنث۔ دغلام تفسير په لم يبلغ الحنث سره كولوكښې مقصدتعيين دمعنى دې ځكه چې دغلام مختلفې معنې راځې خو دلته ترې نابالغ هلک مراددې ـ

قوله هذافراق يعنى په ترک اجرت باندې اعتراض فراق دې يعنى وقت د فراق دې .

قوله بيني وبينك كښې دبين اضافت غيرمتعددطرف ته دې حالانكه دبين اضافت د متعدد طرف ته ضرورى وى،لكه بيننا وبينكم كښې اضافت دمتعددطرف ته دې ـ

قوله واتى هنابالفاء العاطفه ددې عبارت داضافې مقصدد دې خبرې جواب دې چې دلته يعنى فقتله باندې فاء داخله ده خوبه سابق خرقها باندې فاء داخله نه ده ددې څه وجه ده ؟

دجواب خلاصه داده چې دغلام قتل دكشتې نه دكوځېدونه پس واقع شوې وو ځكه ئې د دې مناسب فاء تعقيبيه راوړه په خلاف دخرقهاچې هلته په كشتې كښې د سورلې په دوران كښې خرق واقع شوې وو ځكه ئ هلته خرقها اونيل نه چې فخرقها

قوله لم تعمل نفسا د دې اضافې مقصددې خبرې طرف ته اشاره كولودى چې په غيرنفس كښې مضاف محذوف دې اى بغيرقتل نفس

قوله: منكراد دي اضافي مقصد دابنو دل چې نكرامصدردې دمنكرامفعول په معنى كښې دى به سابق كښې دموسى عليه الصلاة والسلام غلطي كمه وه نو هلته ئ لك اونه ونيل اودلته چونكه غلطي زياته ده خكه ئ دلك په ذريعه خطاب اوكړو۔

قوله: يريد دې تفسيرئ په يقرب سره كولو كښې دې خبرې ته اشاره اوكړه چې ديريد نسبت جدارطرف ته اسنادمجازى دې خكه چې جدارد ذواراده څيزنونه دې لم تستطع په اصل كښې تسطيع وو د لم د داخليدو د وجې نه په آخره كښې عين ساكن شو. التقاء ساكنين راغله په ياء او په عين كښې نو ياء ساقط شوه نو تستطع شو۔

[اياتونه: ۷۹-۸۲]

{أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ} عَشَرَة {يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ} بِهَا مُؤَاجَرَة لَهَا طَلَبًا لِلْكَسْبِ {فَأَرَدْتُ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَاءَهُمْ} إِذَا رَجَعُوا أَوْ أَمَامَهُمْ الْآن {مَلِكٌ} كَافِر {يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ} صَالِحَة {غَصْبًا} نَصْبه عَلَى الْمَصْدَر الْمُبَيِّن لِنَوْعِ الْأَخْذ {وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَا أَنْ يُرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَكُفْرًا} فَإِنَّهُ كَمَا فِي حَدِيث مُسْلِم طُبِعَ كَافِرًا وَلَوْ عَاشَ لَأَرْهَقَهُمَا ذَلِكَ لِمَحَبَّتِهِمَا لَهُ يَتْبَعَانِهِ فِي ذَلِكَ {فَأَرَدْنَا أَنْ يُبْدِلَهُمَا} بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيف {رَبُّهُمَا خَيْرًا مِنْهُ زَكَاةً} أَيْ صَلَاحًا وَتُقًى {وَأَقْرَبَ} مِنْهُ {رُحْمًا} بِسُكُونِ الْحَاء وَضَمّهَا رَحْمَة وَهِيَ الْبِرّ بِوَالِدَيْهِ فَأَبْدَلَهُمَا تَعَالَى جَارِيَة تَزَوَّجَتْ نَبِيًّا فَوَلَدَتْ نَبِيًّا فَهَدَى اللّٰه تَعَالَى بِهِ أُمَّة {وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُ كَنْزٌ} مَال مَدْفُون مِنْ ذَهَب وَفِضَّة {لَهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا} فَحُفِظَا بِصَلَاحِهِ فِي أَنْفُسهمَا وَمَالهمَا {فَأَرَادَ رَبُّكَ أَنْ يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا} أَيْ إِينَاس رُشْدهمَا {وَيَسْتَخْرِجَا كَنْزَهُمَا رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ} مَفْعُول لَهُ عَامِله أَرَادَ {وَمَا فَعَلْتُهُ} أَيْ مَا ذُكِرَ مِنْ خَرْق السَّفِينَة وَقَتْل الْغُلَام وَإِقَامَة الْجِدَار {عَنْ أَمْرِي} أَيْ اخْتِيَارِي بَلْ بِأَمْرِ إِلْهَام مِنَ اللّٰه {ذَلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا} يُقَال اسْطَاعَ وَاسْتَطَاعَ بِمَعْنَى أَطَاقَ فَفِي هَذَا وَمَا قَبْله جَمْع بَيْن اللُّغَتَيْنِ وَنُوِّعَتْ الْعِبَارَة فِي فَأَرَدْتُ فَأَرَدْنَا فَأَرَادَ رَبُّكَ

ترجمه: پس هغه كشتي ديو څو يعنى دلسو غريبانانو كسانووه كوموچې په درياب كښ كښې لره په كرايه باندې چلولو سره رزق كټلو ما اوغوښتل چې دې لره عيب جنه كړم او ددې مخې ته يو كافر باچا ووچې هغه به هره صحيح سالمې كشتې لره غصب كوله دغصبانصب دان مصدريه دوجې نه دې كوم چې دبيان نوعيت دپاره دې بهرحال هلك چې وونو دهغه مورپلار مومنان وو پس مونږ سره ويره وشوه چې دا هلك به په هغوى باندې په سركشۍ او كفر سره غالب شي دمسلم شريف په يو حديث كښې دى چې هغه هلك په فطرت كفر باندې پيدا شوې ووكه هغه ژوندې پاتې شوې وونو يقيناهغه به په خپلو والدينو باندې غالب شوې وې او هغوى به دده سره دمينې محبت دوجې په كفر كښې دده اتباع كړې وې ددې وجې نه مونږ اوغوښتل چې ددوى پروردگار دده په بدله كښې دپاكيزګې اود اصلاح او تقوى په اعتبار سره دده نه بهتر اوپه محبت او شفقت كښې دده نه زيات عطا كړى يبدلهما ددال په تشديد او

تخفیف دواړوسره دې رحما کښې د ,,ح،، په سکون اوضمې دواړوسره دې په معنی دوالدینو سره رحمت، اطاعت او فرمانبرداری، الله تعالی دهغه هلک په بدله کښې یوه جینۍ عطاء کړه چې هغې دیونبی سره نکاح اوکړه نو دهغې نه یونبی پیداشو چې دهغه په ذریعه الله تعالی یو امت ته هدایت نصیب کړو۔

اوس پاتې شودیوال نوهغه د دوؤ یتیمانانو هلکانوو کوم چې په دې ښارکښې اوسیدل اوددې دیوال دلاندې یوه خزانه دسرواودسپینوزرو مال مدفون وو. اودهغوی پلار یونیک سړې وونو چه دهغه دتقوی اودصلاح په وجه دهغه مال حال محفوظ پاتې شي ځکه ستاپروردګار اوغښتل چه دواړه ماشومان ځوانان شي یعنی کمال قوت ته ورسی اوخپله خزانه راوباسی ستاد رب په مهربانۍ سره رحمة مفعول له دې ددې عامل أراد دې اوما داکار کوم چه په ماقبل کښې ذکرشویعنی کشتۍ لره ماتول، غلام لره وژل او دیوال سمول په خپل اختیارسره نه دی کړی بلکه دالله تعالی دجانب نه دالهام په ذریعه مې کړی وو دا دې حقیقت دهغه کارونو په کوموچه تا صبر اونه کړې شو (اسطاع) او(استطاع) د (اطاق) په معنی کښې مستعمل دی په دې کښې اوپه ماقبل کښې د دواړو لغتونو اجتماع ده او اردت او اراد ربك او اردنا په عبارت کښې تنوع اختیار کړې شوې ده .

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: السفينة:(ج)سفين وسفائن.

قوله: وراء هم دا د اضدادو نه دې ددې معنی مخکښې او روستوده دا په اصل کښې مصدر دې ددې معنی حائل، حد فاصل، دقد په اضمار سره جمله حالیه ده ـ

قوله: غصباً دیاخذ مفعول مطلق دبیان نوع دپاره، یاخذ چونکه دغصب معنی لره متضمن دې لهذا تقدیری عبارت به داسې وی غصب غصبا ـ

قوله: وراءهم د دې تفسیرئ په رجعوا او امامهم سره کولوکښې اشاره اوکړه چه وراءهم داضدادو نه دې دا په دواړو معنو کښې استعمالیږی ـ

قوله: سفينة ددې صفت صالحة محذوف دې ای كل سفينة صالحة دحضرت ابی او د حضرت ابن عباس ﷺ قرامت کښې صالحة لفظ موجود دې ـ

قوله: فخشينا ان يرهقهما ای يرهق الغلام ابويه يقال رهقة ای غشية ـ طغيانا، د يرهقهما مفعول دې، او دکفرا عطف په طغيانا باندې دې رحما مصدر دې په معنی دشفقت او مهربانۍ (س) رحمة ورحما مهربانه کیدل زکوة او رحما د خيرانه تميز واقع دی، خيرا دلته د اسم تفضیل په معنی کښې نه دې ـ

قوله: رحمة یاخو دیبلغا او د يستخرجا مفعول له دې اویا دفعل محذوف فعلته مفعول به دې ـ

قوله: اسطاع يسطيع د تاء په حذف سره استطاع يستطيع کښې دویم لغت دې ـ

[ایاتونه: ۸۲ - ۹۱]

(وَيَسْأَلُونَكَ) أَيِ الْيَهُود (عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ) اسْمه الْإِسْكَنْدَر وَلَمْ يَكُنْ نَبِيًّا (قُلْ سَأَتْلُو) سَأَقُصُّ (عَلَيْكُمْ مِنْهُ) مِنْ حَاله (ذِكْرًا) خَبَرًا (إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ فِي الْأَرْضِ) بِتَسْهِيلِ السَّيْر فِيهَا (وَآتَيْنَاهُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ) يَحْتَاج إِلَيْهِ (سَبَبًا) طَرِيقًا يُوصِلهُ إِلَى مُرَاده (فَأَتْبَعَ سَبَبًا) سَلَكَ طَرِيقًا نَحْو الْغَرْب (حَتَّى إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ) مَوْضِع غُرُوبهَا (وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ) ذَات حَمْأَة وَهِيَ الطِّين الْأَسْوَد وَغُرُوبهَا فِي الْعَيْن فِي رَأْي الْعَيْن وَإِلَّا فَهِيَ أَعْظَم مِنَ الدُّنْيَا (وَوَجَدَ عِنْدَهَا) أَيِ الْعَيْن (قَوْمًا) كَافِرِينَ (قُلْنَا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ) بِإِلْهَام (إِمَّا أَنْ تُعَذِّبَ) الْقَوْم بِالْقَتْلِ (وَإِمَّا أَنْ تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا) بِالْأَسْرِ (قَالَ أَمَّا مَنْ ظَلَمَ) بِالشِّرْكِ (فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُ) نَقْتُلهُ (ثُمَّ يُرَدُّ إِلَى رَبِّهِ فَيُعَذِّبُهُ عَذَابًا نُكْرًا) بِسُكُونِ الْكَاف وَضَمّهَا شَدِيدًا فِي النَّار (وَأَمَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُ جَزَاءً الْحُسْنَى) أَيِ الْجَنَّة وَالْإِضَافَة لِلْبَيَانِ وَفِي قِرَاءَة بِنَصْبِ جَزَاء وَتَنْوِينه قَالَ الْفَرَّاء وَنَصْبه عَلَى التَّفْسِير أَيْ لِجِهَةِ النِّسْبَة (وَسَنَقُولُ لَهُ مِنْ أَمْرِنَا يُسْرًا) أَيْ نَأْمُرهُ بِمَا يَسْهُل عَلَيْهِ (ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا) نَحْو الْمَشْرِق (حَتَّى إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ) مَوْضِع طُلُوعهَا (وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَى قَوْمٍ) هُمُ الزَّنْج (لَمْ نَجْعَلْ لَهُمْ مِنْ دُونِهَا) أَيِ الشَّمْس (سِتْرًا) مِنْ لِبَاس وَلَا سَقْف لِأَنَّ أَرْضهمْ لَا تَحْمِل بِنَاء وَلَهُمْ سُرُوب يَغِيبُونَ فِيهَا عِنْد طُلُوع الشَّمْس وَيَظْهَرُونَ عِنْد ارْتِفَاعهَا (كَذَلِكَ) أَيِ الْأَمْر كَمَا قُلْنَا (وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ) أَيْ عِنْد ذِي الْقَرْنَيْنِ مِنَ الْآلَات وَالْجُند وَغَيْرهمَا (خُبْرًا) عِلْمًا

ترجمة: يهوديان ستاسو نه دذوالقرنين دواقعې تپوس کوی دده نوم اسکندر دې او دې نبی نه وو نو تاسو ورته اووائې چه زه تاسو ته دده څه حالت اوروم بيانوم په زمکه کښې سفر اسانولو سره مونږ دده ته په زمکه کښې قدرت ورکړې وو او مونږ دده ته دهر قسمه وسائل دڅه چه باچاهانو ته ضرورت وی ورکړی وو داسې وسائل چه د هغې په زريعه ده ته دخپل مقصد پورې رسيدل حاصل شی بس هغه دمغرب طرف ته په يوه لاره روان شو تر دې پورې چه دمغرب انتهاء ته ورسيدو، نو هغه ته نمر د تورې ختې يوې چينې کښې ډوبيدونکې په نظر راغلو، دتورې خاورې والا چينه کښې، حمأة، توره خاوره اودنمر په چينه کښې دوبيدل دا دکتونکې په نظر کښې محسوسېدله گنې نمر خود دنيا نه ډير لوئ دې او ده ته هلته د چينې سره يو کافر قوم ملاؤ شو مونږ دالهام په ذريعه هغه ته اوئيل چه ته دهغه قوم ته دقتل په ذريعه سزا ورکړه يائې قيد کولو سره دوی سره دنرمی سلوک اوکړه نو وئيل کوم کس چه شرک کولو سره ظلم اوکړی نو هغه ته به دقتل سزا ورکړو بيا به هغه دخپل رب طرف ته واپس کيږی نو هغه به ورته ددې نه هم سخته سزا ورکړی نکرا دکاف په سکون او ضمې دواړوسره دې يعنی داور سخت عذاب او چه څوک ايمان راوړی او نيک عمل اوکړی نو د هغه د پاره به په بدله کښې خيگړه وی يعنی جنت او اضافت بيانيه دې او په يو قراءت کښې جزاء په نصب او تنوين سره دې، او فراء وئيلی دی چه ددې نصب د جهت دنسبت د تفسير په وجه نه دې او مونږ به ده ته په خپل کار کښې هم

دآسمانیتا حکم ورکړو یعنی د داسې خبرو کومې به چه هغه دپاره اساني وی یاهغه مشرق طرف ته (دویمه) لاربانديې روان شوتردې پورې چه هغه مطلع الشمس یعنی دنمر راختوځائ (انتهاء مشرق) ته اورسیدونوهغه نمرپه داسې قوم باندې راختونکې اولیدو اوهغه زنجي قوم وو چه مونږ د هغوی دپاره دنمر نه دبچ کیدوڅه پرده لکه لباس وغیره نه ووساتلی خکه چه دهغوی زمکه دآبادې اوعمارت جوګه نه وه اودهغوی دپاره بهتونه غارونه وو چه دنمر راختوپه وخت کښې به په هغې کښې پټیدل اودنمر غورزیدو په وخت به رواتل خبره هم داسې ده څنګه چه مونږ اوئیل اومونږدهغه یعنی دذوالقرنین دټولوڅیزونو علمی احاطه کړې وه که هغه دجنګ سازاوسامان وو یا دلښکر وغیره دقبیلې نه۔

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: سأتلو اسین محض دتاکیددپاره دې استقبال دپاره نه دې خکه چه پوره کلام مسلسل نازل شوې دې۔

قوله: منه کښې دوه احتمالات دی ① اول داچه من تبعیضیه دې اوضمیر دذولقرنین طرف ته راجع دې اومضاف محذوف دې اې من اخباره جارمجرور په حقیقت کښې د ذکراصفت دې خو دمقدم کیدو په وجه حال واقع شوې دې، ② دویم احتمال دا دې چه دمنه ضمیرد الله تعالی طرف ته راجع وی اومن ابتدائیه وی یعنی زه دالله د طرف نه دا احوال وایم اوبیانوم ئې، خودا احتمال ضعیف دې، ذکراد سأتلومفعول به دې اوکه اتلواد اذکرپه معنی کښې وی نو ذکرابه مفعول مطلق وی، اې ساذکر ذکرا، ذکرابه په رومبی صورت کښې دنبأپه معنی کښې وی اوپه دویم صورت کښې به دقرآن په معنی کښې وی دمنه تفسیر په من حاله سره د کولو کښې مقصد د محذوف مضاف طرف ته اشاره کول دی خکه چه تپوس داحوالو باره کښې نه وی د ذات باره کښې نه۔

قوله: مکنا د تمکین نه قدرت ورکول، قدمونه مظبوطول۔

قوله: سبب رسئ، ذریعه، وسیله، (ج) اسباب۔

قوله: وجد په معنی دراءاوئ لیدل. محسوس ئې کړل. حمئة حمی (س) نه دصفت مشبه حمئا حماالماءاوبه خړې شوې الحمئة توره ختیه۔

قوله: اما دا دان او دما نه مرکب دې او دا حرف تفصیل دې او ان تعذب کښې ان مصدریه دې اوجمله په تاویل دمصدر سره مبتدأ ده اوخبرئې محذوف دې اې تعذیبك واقع یا دا خبردې اومبتدأ محذوف ده اې اماامر تعذیبك یا د فعل محذوف مفعول دې اې اماتوقع تعذیبك او اوامان تتخذکښې هم دا احتمالات دی۔

قوله: فی رأی العین د دې اضافې مقصد دانبودل دی چه وجه په خپله حقیقی معنی کښې نه دې بلکه په نظر راتلو یا دمحسوسیدو په معنی کښې دې څکه چې دا ممکنه نه ده چې نمر دزمکې په یوه چینه کښې پریوزی څکه چې نمر د دیارلس لاکهوزمکو برابر دې او ددې قطرشپږ آتیه لاکهه پنځه شپیته زره (۸۲۲۵۰۰۰) میله دې، (فلکیات جدیده) نمر په چینه پریوتل په نظر راتلل داسې دې لکه چې کتونکی ته اسمان خلورواړه طرفو نه افق سره لګیدلې (متصل) ښکاری حالانکه په حقیقت کښې داسې نه ده، دغه شان که چرته ته د ریل په لائن کښې اوریدیږې اولائن ته لرې یورې ګورې نو تاته به دواړه لا ئنونه په خپل مینځ کښې یوبل سره پیوست اوجخت ښکاری ترې دې چه په آخرې که به درته ملاو شی محسوس شی حالانکه داسې نه وی۔

قوله: حسنا ددې مضاف محذوف دې ای ذاحسن یا دمصدر حمل مبالغة دې۔

قوله: اما من ظلم اما حرف تفصیل دې خوپه دې کښې دشرط معنی هم ده څکه ددې په جواب کښې د فاءراؤ رل ضروری دی۔

قوله: فله جزاء له خبر مقدم دې او الحسنی مبتدأ مؤخرده، جزاء حال دې یا تمیزدې ای له الحسنی جزاء کما یقال لك هذا الثوب هبة۔

قوله: یسرا دې مضاف محذوف دې ای ذایسر یا دمصدر حمل مبالغة دې۔

قوله: کذلك دمبتدأ محذوف صفت دې ای الامر کذلك.

قوله: احطنا دې دپاره دسورة کهف آیت ۸۲ اوګورئ احطنا جمله مستانفه ده خبر مصدر دې (ک ف) خبرالشئ وبه دحقیقت حال نه واقف کیدل۔

قوله: بالهامرسره دې خبرې ته اشاره ده چه ذوالقرنین نبی نه وو بلکه یو صالح بادشاه وو۔

قوله: سنقول تفسیر په نامره سره د کولو مقصد تعیین دمعنی دې څکه چه قول په مختلف معنو کښې مستعمل دې۔

[ایاتوله: ۹۲-۹۸]

(ثمر اتبع سببا) (حَتّٰى اِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ) بِفَتْحِ السِّين وَضَمِّهَا هُنَا وَبَعْدهمَا جَبَلَانِ بِمُنْقَطَعِ بِلَاد التُّرْك سَدّ الْإِسْكَنْدَر مَا بَيْنهمَا كَمَا سَيَأْتِي (وَجَدَ مِنْ دُونِهِمَا) أَيْ أَمَامهمَا (قَوْمًا لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا) أَيْ لَا يَفْهَمُونَهُ إِلَّا بَعْد بُطْء وَفِي قِرَاءَة بِضَمِّ الْيَاء وَكَسْر الْقَاف (قَالُوا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ) بِالْهَمْزِ وَتَرْكه هُمَا اسمان أَعْجَمِيَّانِ لِقَبِيلَتَيْنِ فَلَمْ يَنْصَرِفَا (مُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ) بِالنَّهْبِ وَالْبَغْي عِنْد خُرُوجهمْ إِلَيْنَا (فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا) جُعْلًا مِنْ الْمَال وَفِي قِرَاءَة خَرَاجًا (عَلَىٰ أَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا) حَاجِزًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْنَا (قَالَ مَا مَكَّنِّي) وَفِي قِرَاءَة بِنُونَيْنِ مِنْ غَيْر إِدْغَام (فِيهِ رَبِّي) مِنْ الْمَال وَغَيْره (خَيْرٌ) مِنْ خَرْجكُمْ

الَّذِي تَجْعَلُونَهُ لِي فَلا حَاجَةَ بِي إِلَيْهِ وأجعل لَكُمُ السَّدَّ تَبَرُّعًا ﴿فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ﴾ لما اطلبه منكم ﴿أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا﴾ حَاجِزًا حصينا ﴿آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ﴾ قِطعه عَلَى قدر الْحِجَارَةِ الَّتِي يبني بها فبنى بِهَا وَجَعَلَ بَيْنَهَا الْحطب وَالْفحم ﴿حَتَّىٰ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ﴾ بِضَمِّ الحرفين وَفَتحهما وَضَمِّ الْأَوَّل وَسُكُون الثَّانِي أَي جَانِبَيِ الْجَبَلَيْنِ بِالْبِنَاءِ وَوَضعِ الْمَنَافِخ وَالنَّار حَوْل ذَلِكَ ﴿قَالَ انفُخُوا﴾ فَنَفَخُوا ﴿حَتَّىٰ إِذَا جَعَلَهُ﴾ أي الْحَدِيد ﴿نَارًا﴾ أي كَالنَّار ﴿قَالَ آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا﴾ هُوَ النُّحَاس الْمُذَاب تَنَازَعَ فِيهِ الْفِعْلَانِ وَحُذِفَ مِنَ الْأَوَّل لِإِعْمَالِ الثَّانِي النُّحَاس الْمُذَاب عَلَى الْحَدِيد الْمُحْمَى فَدَخَلَ بَيْن زُبَره فَصَارَا شَيْئًا واحدا ﴿فَمَا اسْطَاعُوا﴾ أَي يَأْجُوج وَمَأْجُوج ﴿أَن يَظْهَرُوهُ﴾ يَعْلُوا ظَهره لِارْتِفَاعِهِ وَمَلَاسَته ﴿وَمَا اسْتَطَاعُوا لَهُ نَقْبًا﴾ لِصَلَابَتِهِ وسمكه ﴿قَالَ﴾ ذُو الْقَرْنَيْنِ ﴿هَٰذَا﴾ أَي السَّدّ أَي الْإِقْدَار عَلَيْهِ ﴿رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّي﴾ نِعْمَة لِأَنَّهُ مَانِع مِنْ خُرُوجهمْ ﴿فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ رَبِّي﴾ بخروجهم القريب من البعث ﴿جعله دكا﴾ مَدْكُوكًا مَبْسُوطًا ﴿وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي﴾ بِخُرُوجِهِمْ وَغَيْره ﴿حقا﴾ كائنا

ترجمه: بیا هغه دیوبل سفر تیاري شروع کړوترديې پورې چه هغه داسې مقام ته اورسیدو چه هغه د دواړو غرونو په مینځ کښې وو دسین فتحه اوضمه دواړه دی، دلته هم او روستوهم، دترک دښآرونو په اختتام کښې دواه غرونه دی سکندر ددغه دواړو غرونو مینځ کښې دره بنده کړه خنګه چه به ډیر زر (ددې) ذکر رروان دې، نو دغه دواړو غرونو هغه طرف ته یعنی هغوی ته مخامخ یوداسې قوم ئې اموندلو چې هغوی په مشکله په څه خبره پوهیدل یعنی دډیروخت نه پس (اشارې وغیره سره) په یو قراءت کښې دي په ضمه اود قاف په کسره سره دې نو هغوی اوئیل اې ذوالقرنین یاجوج اوماجوج په همزه اوبغیر دهمزه دواړه قراءتونه دی دا دواړه دعجمی قبیلونومونه دی دې وجې نه (یعنی دعجمه اوعلم کیدودوجې نه) غیرمنصرف دی، زمونږ په دې زمکه کښې راځی اوقتلونه اوژوبلتیه کوی فسا د خوری آیا مونږ ستاد پاره دڅه خرچې انتظام اوکړو یعنی دچندې په طورباندې جمع کړواوپه یو قراءت کښې خراجادې په دې شرط باندې چه ته زمونږ اودهغوی په مینځ کښې یو دیوال جوړ کړې یعنی یو پرده چې دهغې په وجه دوی مونږ ته نه رارسی ذوالقرنین جواب ورکړو زما (قدرت) اوختیار کښې چې، زما پروردګار چه څه مال وغیره راکړې دې دهغې نه چه تاسو ماد پاره خومره هم جمع کوی ډیر بهتر (ډیر زیات) دې نو لهذا زما دپاره ستاسو دمال ضرورت نشته دې زه به هم داسې (بغیر د معاوضه نه) ستاسو دپاره دیوال جوړ کړم مکفی کښې یو قراءت ددواړو سره بغیرد ادغام نه یعنی مکنی هم دې البته تاسو طاقت (محنت مزدوری) سره زما مدد اوکړئ کله چه زه ستاسونه مطالبه اوکړم نوستاسو اودهغوی په مینځ کښې به یو دیوال جوړ کړم یعنی مظبوط بند اوردوم (ښه نو) نوتاسو ماته داوسپنې لوئ لوئ تکړې راوړئ دچې دهغې نه دیوال جوړشی، نو (ذوالقرنین) داوسپنو دتکړو په مینځ کښې لرګئ اوکوئله کښخوده تردې پورې چه کله

ودغه دیوال ردې د دواړو غرونو پورې برابرشو (صدفين کښې ډير قراء تونه دي (۱) دصاد اوفاء د دواړو په ضمه سره (۲) د دواړو په فتحه سره (۳) دصاد په ضمه او دفاء په سکون سره یعنی ددواړو غرونو په پینځ کښې خلاء لره تعمیر کولو سره ډکه کړه او ددې خوشا ددم کشو (پوهک وهونکو) او داور نظم اوکړو، نو حکم ئې اوکړو چې اوپوهکئ نوهغوی پوهکی ورکړه تردې چه هغه اوسپنې ته اور اولګیدو یعنی داور پشان سورکړو نوحکم ئې اوکړو چې اوس مالره ویلې شوې تانبا راوړئ چه زه ئې په (ګرمه اوسپنه باندې واچوم قطر ویلې شوې تانبا قطرا کښې دوه فعلونو تنازع کړې ده فعل ثانی لره عمل اورکولودوجې نه داول فعل (مفعول قطرا) حذف کړې شو، ویلې شوې تانبائی په اوسپنه واچوله نوهغه د اوسپنوپه تختوکښې ننوتوسره یوځیز شو، نو یاجوج اوماجوج په دې دیوال باندې د اوچتوالی اودغور والی دوجې نه نه راختې شول اونه په دې کښې ئې سورې کولوشو ددې دسختوالی دوجې نه اوددې دمظبوطوالی دوجې نه ذوالقرنين اوئيل دا د دوی ديوال یعنی ددې په جوړلوباندې قدرت ورکول زما درب رحمت یعنی نعمت دې ځکه چه دا به دخروج دپاره مانع وی نوکله چه زما درب وعده یعنی قیامت ته نزدې ددوی دخروج وخت راشی نو زما رب به دا دیوال ریزه ریزه کړی اوزما دپروردګار وعده ددوی دخروج وغیره حقه ده چې هغه به خامخه کیږی ـ

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: سد مصدر (ن) بندول ـ

قوله: بين السدين دبلغ مفعول دې بين کوم چې دبأن مصدر دې ځکه دظروف متصرفه نه دې یاجوج اوماجوج دا دواړه عجمی لفظونه دی او دوو قبیلوداجدادونومونه دی دا دواړه قومونه دحضرت نوح ﷺ دخوې یافث دنسل نه دی دعجمه او علم د وجې نه غیر منصرف دی خرج محصول بعضې حضراتو خرج او خراج په دواړو کښې دافرق بیان کړې دې چه خرج زر فدیه ته وائی اوخراج عام دې چې په کښې زر فدیه، ټیکس، محصول وغیره ټول شامل دی ـ

قوله: مكني دا په اصل کښې مكننيوو، ماضی واحد مذکر غائب مصدر تمکین بااختیار او بااقتدار جوړول ئې کښې نون وقایه اوې ضمیر متکلم مفعول به بیا لام کلمه نون ساکن کولوسره په نون وقایه کښې ادغام کړې شو ردم پیر اومضبوط دیوال ردم (ض) مصدر دې سورې بندول خودلته مصدر په معنی داسم مفعول دې صدف دغرسوکه ـ

قوله: اسطاعوا په اصل کښې استطاعوا وو تاء او طاء قريب المخرج کیدو دوجې نه

د تخفيف د پاره تا حذف کړې شوه ـ

قوله: الوعد وخت يا مصدر په معنى د موعود اى القيامة ـ

قوله: آتونى تاسو ما له راوړئ زبراد زبرة جمع ده ځنګه چه غرف د غرفة جمع ده د اوسپنې پليټ

قوله: آتونى افرغ د تنازع فعلان د قبيلې نه دي قطرا د افرغ مفعول اول دې د آتونى مفعول ثاني محذوف دې ـ

قوله: يظهروه په تاويل د مصدر سره د ما اسطاعوا مفعول دې ـ

قوله: اي السد اى الاقدر عليه سره ئى اول د هذا مشار اليه متعين کړو بيانى دا اوښودل چې د ديوال نه د ديوال د جوړولو توفيق مراد دې کوم چې په حقيقت کښې رحمت خداوندى دې، مطلب دا دې چې ديوال خود دغه قوم په حقله رحمتِ خداوندى دې او د دې ديوال د جوړولو توفيق د ذوالقرنين د پاره رحمت خداوندى دې ـ

قوله: بخروجهم مفسر علام د بخروجهم اضافه کولو سره د وعدې مصداق متعين کړو چې وعده قرب قيامت کښې د دوى خروج دې، بعضې حضراتو د وعدې نه د دې ديوال ماتيدل او روست کيدل مراد اخستې دى.

قوله: يموج د ترکنا مفعول ثانى دې او بعضهم مفعول اول دې او ترکنا په معنى د جعلنا دې يومئذ د يموج سره متعلق دې ـ

[اياتونه: ۹۹-۱۱۰]

قال تعالى (وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ) يَوْم خُرُوجهمْ (يَمُوجُ فِي بَعْضٍ) يَخْتَلِط بِهِ لِكَثْرَتِهِمْ (وَنُفِخَ فِي الصُّورِ) أَيْ الْقَرْن لِلْبَعْثِ (فَجَمَعْنَاهُمْ) أَيْ الْخَلَائِق فِي مكان واحد يوم القيامة (جَمْعًا) (وَعَرَضْنَا) قربنا (جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِلْكَافِرِينَ عَرْضًا) (الَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ) بَدَل مِنَ الْكَافِرِينَ (فِي غِطَاءٍ عَنْ ذِكْرِي) أَيْ القرآن فَهُمْ عُمْي لَا يَهْتَدُونَ بِهِ (وَكَانُوا لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا) أَيْ لَا يَقْدِرُونَ أَنْ يَسْمَعُوا مِنَ النَّبِيّ مَا يَتْلُوهُ عَلَيْهِمْ بُغْضًا لَهُ فَلَا يُؤْمِنُونَ بِهِ (أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنْ يَتَّخِذُوا عِبَادِي) أَيْ مَلَائِكَتِي وَعِيسَى وَعُزَيْرًا (مِنْ دُونِي أَوْلِيَاءَ) أَرْبَابًا مَفْعُول ثَانٍ لِيَتَّخِذُوا وَالْمَفْعُول الثَّانِي لِحَسِبَ مَحْذُوف الْمَعْنَى أَظَنُّوا أَنَّ الِاتِّخَاذ الْمَذْكُور لَا يُغْضِبنِي وَلَا أُعَاقِبهُمْ عَلَيْهِ كَلَّا (إِنَّا أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ) هَؤُلَاءِ وَغَيْرهمْ (نُزُلًا) أَيْ هِيَ مُعَدَّة لَهُمْ كَالْمَنْزِلِ الْمُعَدّ لِلضَّيْفِ (قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا) تَمْيِيز طَابَقَ الْمُمَيَّز وَبَيَّنَهُمْ بِقَوْلِهِ (الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا) بَطَلَ عَمَلهمْ (وَهُمْ يَحْسَبُونَ) يَظُنُّونَ (أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا) عَمَلًا يُجَازَوْنَ عَلَيْهِ (أُولَئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ) بِدَلَائِل تَوْحِيده مِنَ الْقُرْآن وَغَيْره (وَلِقَائِهِ) أَيْ وَبِالْبَعْثِ وَالْحِسَاب وَالثَّوَاب وَالْعِقَاب (فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ) بَطَلَتْ (فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا) أَيْ لَا نَجْعَل لَهُمْ قدرا (ذَلِكَ) أَيْ الْأَمْر الَّذِي ذُكِرَتْ مِنْ حُبُوط أَعْمَالهمْ وَغَيْره مُبْتَدَأ خَبَره (جَزَاؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوا وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَرُسُلِي هُزُوًا) أَيْ مَهْزُوءًا

بهما ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ﴾ فِي عِلْمِ اللّٰهِ ﴿جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ﴾ هُوَ وَسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَاهَا
وَالْإِضَافَةُ إِلَيْهِ لِلْبَيَانِ ﴿نُزُلًا﴾ مَنْزِلًا ﴿خَالِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ﴾ يَطْلُبُونَ ﴿عَنْهَا حِوَلًا﴾ تَحَوُّلًا إِلَى غَيْرِهَا ﴿قُلْ لَوْ كَانَ
الْبَحْرُ﴾ أَيْ مَاؤُهُ ﴿مِدَادًا﴾ هُوَ مَا يُكْتَبُ بِهِ ﴿لِكَلِمَاتِ رَبِّي﴾ الدَّالَّةِ عَلَى حِكَمِهِ وَعَجَائِبِهِ بِأَنْ تُكْتَبَ بِهِ ﴿لَنَفِدَ
الْبَحْرُ﴾ فِي كِتَابَتِهَا ﴿قَبْلَ أَنْ تَنْفَدَ﴾ بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ تَفْرُغَ ﴿كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ﴾ أَيِ الْبَحْرِ ﴿مَدَدًا﴾ زِيَادَةً
فِيهِ لَنَفِدَ وَلَمْ تَفْرُغْ هِيَ وَنَصْبُهُ عَلَى التَّمْيِيزِ ﴿قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ﴾ آدَمِيٌّ ﴿مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلٰهُكُمْ إِلٰهٌ وَاحِدٌ﴾ أَنْ
الْمَكْفُوفَةُ بِمَا بَاقِيَةٌ عَلَى مَصْدَرِيَّتِهَا وَالْمَعْنَى يُوحَى إِلَيَّ وَحْدَانِيَّةُ الْإِلٰهِ ﴿فَمَنْ كَانَ يَرْجُو﴾ يَأْمُلُ ﴿لِقَاءَ رَبِّهِ﴾
بِالْبَعْثِ وَالْجَزَاءِ ﴿فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ﴾ أَيْ فِيهَا بِأَنْ يُرَائِيَ ﴿أَحَدًا﴾

ترجمه: الله تعالی اوفرمائیل اومونږ به دوی د دوی راوتلو په ورځ په خپل مینځ کښې چیپې وهونکې گډوډ پریږدو ددوی دکثرت دوجې نه اوصور یعنی په ښکرکښې به پوهکې اوهلې شی دبعث دپاره اومونږیه ټولولره یعنی ټول مخلوق به دقیامت په ورځ رایوځای کولوسره جمع کړواوپه دغه ورځ به مونږ جهنم دکافرانوورانډې پیش کړودچاپه سترګوباندې دا دالکافرین نه بدل واقع دې چه زمونږ دیاد نه پرده پرته وه یعنی دقرآن نه غافل وو، داخلق ړانده دی دقرآن نه هدایت نه شی حاصلولې هغوی اوریدلې هم نشو یعنی رسول الله ﷺ سره د بغض او دعداوت دوجې نه دهغوی خبرې اوریدل ئې هم نه خوښول .نوبیا دایمان راوړو به څه سوال پیدا شی ؟ توایادې کافرانوداخیال کړې دې چې دوی به ما نه سوا زما بندګانولره (یعنی زما ملائکو، عیسیٰ، او عزیر لره به کارساز یعنی رب به ئې جوړ کړی، اولیاءد یتخذوامفعول ثانی دې اوحسب مفعول ثانی محذوف دې اومعنی دآیت داده آیا دا کافران داتخاذ مذکور په باره کښې داګڼړی (دا خیال کوی) چې داخبره به مونږ غضبناک نه کړی ؟ اودا چې زه به په دې خبره باندې دوی ته سزا ورنه کړم ؟ هرګزبه داسې نه وی، مونږ ددې کافرانو اوددې پشان دنوروکافرانو دضیافت دپاره جهنم تیار کړې دې، څنګه چې په دنیاکښې دمیلمنو دپاره مهمان خانې تیارېږی تاسودوی ته اووائې چې آیا مونږ تاسوته داسې خلق اوښایو کوم چې داعمالو په اعتبار سره بالکل په نقصان کښې دی ؟ اعمالا تمیزدې دممیزمطابق دې، اونقصان اوچتونکو لره ئې په خپل قول الذین ضل سعیهم فی الحیوة الدنیا سره بیان کړل، داهغه خلق دی چې ددوی کړې شوې محنت په دنیاکښې بیکاره شو اوضل سعیهم نه مراد بطل عملهم دې حال دادې چې هغوی ګڼړی (دا خیال کوی) چې هغوی ښه کار کوی داسې اعمال کوی دکوم چې به هغوی ته اجرملاویږی، داهغه خلق دی کوموچې دخپل پروردګار دآیتونو یعنی قرآن وغیره دلائل دتوحید اودهغه په وړاندې دپیښې یعنی دبعث او دحساب او ثواب وعقاب انکار اوکړو نو د هغوی ټول اعمال حبط (باطل) شو پس دقیامت په ورځ به مونږ دهغوی دپاره لږ هم وزن قائم نه کړو یعنی مونږ به دهغوی د اعمالو ذرابرابرهم

قدراو قمیت اونه کړودا یعنی هغه امور دکوموچې ذکراوکړې شو بطلانِ عمل وغیره ذلک یعنی حبط اعمال وغیره دکوم چې ذکر اوشو. او جزاءهم جمله مستانفه ده دهغوی دکفردوجې نه دهغوی جزاء جهنم دې اوزما آیتونو او زما رسولانو پورې ئې توقې اوکړې یعنی دهغې توقې ئې جوړې کړې پیشکه هغه کسان چې ایمان ئې راوړو اونیک اعمال ئې اوکړل دهغوی دپاره دالله په علم کښې دجنت الفردوس ضیافت میلمستیا ده اوجنت الفردوس دجنت په مینځ کښې دټولونه اعلی درجه ده اوپه جنات الفردوس کښې اضافت بیانیه دې په دغه جنت کښې به هغوی همیشه وی دهلته نه به بل یو ځائې دپاره دانتقال مکانی خواهش نه کوی تاسو اوفرمائې که چرې سمندر یعنی دهغې اوبه سیاهی جوړه شی چې په هغې لیکل کیږی زما درب دکلماتو د ختمیدونه رومبې به هغه خمت شی اگر که مونږ دهغې پشان سمندر دهغې په مددې کښې راوړو نوبیابه هم ختم شی اوزما درب کلمات به ختم نشی او مدادا دتمیزپه وجه منصوب دې تاسواوفرمائې چې څه خو هم ستاسوپشان انسان یم سرې یم البته زما طرف ته وحی کیږی داچې ستاسوټولو معبودصرف یومعبود دې ان په کوم چې ما کافه داخله شوې ده هغه په خپل مصدریت باندې باقی دې د آیت معنی داده چې زما طرف ته دوحدانیتِ إله وحی کیږی لهذا څوک چې دخپل رب دملاقات آرزومند وی امیدواروی دبعث او دجزاء په ذریعه نوهغه له پکاردی چې نیک عمل اوکړی اودخپل رب په عبادت کښې څوک شریک نه کړی په دې توګه باندې چې په عبادت کښې ریاکاری اونه کړی ـ

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: قَالَ تعالیٰ په ددې جمله سره مفسرعلام اشاره اوکړه چې دذوالقرنین کلام پوره شواو اوس د وترکنانه دالله تبارک وتعالی کلام شروع کیږی ـ

قوله: یومئذ تفسیر ئې په یوم خروجهم سره کولو کښې دمراد د تعیین طرف ته اشاره اوکړه، څکه چې بعضې مفسرینود یومئذ نه هغه ورځ مراداغستلې ده په کومه ورځ چې ئې د هغوی لاره بنده کړې وه دکومې په وجه چې هغوی په خپل مینځ کښې په جهګړوشو، او بعضې مفسرینو وئیلې دی چې د یومئذ نه قرب قیامت کښې دقتلِ دجال نه پس خروج مراد دې، دمفسرعلام په نیزچونکه دویمه معنی راجح ده څکه ئې د یومئذ تفسیر په یوم خروجهم سره کولو کښې خپل مختار مذهب طرف ته اشاره اوکړه اگر چې دمحققیو په نیزاولنې معنی راجح ده ـ

قوله: یموج (ن) موجاچپې وهل، دموجونو اوچتیدل د نفخ فی الصور تفسیر ئې په ای القرن للبعث سره کولو کښې دې خبرې طرف ته ارشاه اوکړه چې دلته نفخه ثانیه مراد ده څکه چې نفخه اولی خوبه دکائناتو د فناکولو دپاره وی په لجمعنا کښې فاتعقیبیه هم په دې باندې دلالت کوی۔

قوله: غطـاء ددې معنى اگرچه سر پوش (پرده) دى خودلته مرادى معنى غفلت ده د عرضنا تفسير په قرنا سره د كولو مقصد د عرضنا په صله كښې لام صحيح گرځول دى گنى دعرضنا صله خوعلى راځى د كانوا عطف په كانت باندې دې بياجمله د الكافرين صفت دې الذين كفروا د حسب فاعل دې په الحسب باندې همزه په محذوف باندې داخل دې اوفاء عاطفه ده تقديرى عبارت دادې اكفروا فحسبوا اودا استفهام توبيخى دې ـ

قوله: ان يتخذوا د حسب مفعول به قائم مقام ددوؤ مفعولونو دې عبادى د يتخذوا مفعول اول دې او اولياء مفعول ثانى دې او من دونى د عبادى نه حال دې د حسب مفعول ثانى محذوف هم كيدې شى لكه څنگه چې دشارح خيال دې ـ

قوله: اعمـالا تميزدې، جمع يا خودمشاكلت په توگه باندې ده يا داعمالو دانواعو دخيال كولودوچې نه جمع راؤ رلې شوې ده حالانكه په تميزكښې اصل افراد دې ـ

قوله: الذين مع صله دمبتدأ محذوف خبر دې اى هم الذين داجمله مستانفه ده اود من هم؟ په جواب كښې واقع شوې ده الذين د الاخسرين صفت، بدل، اوعطف بيان هم كيدې شى وهم يحسبون جمله د ضل دفاعل نه حال دې ـ

قوله: ذلك د ذلك نه پس اى الامر الذى ذكرت الخ داضافه كولو يومقصدخودادې چې ذلك الامرد مبتدأ محذوف خبردې، اودويم مقصد د ذلك مشار اليه متعين كول دى ـ

قوله: ذلك جزاء هم كښې دتركيب په اعتبار سره څلور احتمالات دى ①ذلك دمبتدأ محذوف الامر خبر دې اى الامر ذلك او جزاءهم مستقله جمله ده ②ذلك مبتدأ اول او جزاءهم مبتدأ ثانى او جهنم ددې خبر، مبتدأ ثانى دخپل خبرسره جمله خبر دمبتدأ اول اوعائد محذوف دې اى جزاءهم به ③ذلك مبتدأ مبدل منه او جزاءهم ددې نه بدل ياعطف بيان، بدل مبدل منه يا مبين دبيان سره مبتدأ او جهنم ددې خبر ④ذلك مبتدأ او جزاهم مبدل منه او جهنم ددې بدل يا بيان، جمله دمبتدأ خبر ـ

قوله: نزلاد كانت خبردې اوكه چرې لهم خبر مقدم وى نو نزلا به حال وى اوخالدين حال مقدره دې لايبغون دويم حال دې حولاد حول نه اسم مصدر ديوځاې نه بل ځاې ته منتقل كيدل ـ

قوله: لكلمـات ربى په دې كښې مضاف محذوف دې اى لكتابة كلمات ربى.

قوله: ان تنفد په تاويل د مصدر سره د قبل مضاف اليه دې مدادتميزدې په معنى دزياتى، اضافه، انما كښې ماكافه ده كومې چې د ان عمل په لفظ كښې، منع كړې دې دواړه يوځاې كلمه دحصرشوه، ددواړو معنوى عمل باقى دې د ان عمل دجمله تاكيد دې

اوان دجملې دتاکیدسره مابعدلره په تاویل دمصدر کوی، ابن هشام نحوی (متوفی ۷۶۱هـ) مغنی اللبیب ص ۵۹ کښې تحریرفرمائی چې اصل دادې چې أن د إن فرع دی اوددې وجې نه دزمخشری دا دادعوىٰ صحیح ده چې انما دانما په شان مفید دحصردې او مذکوره دواړه کلمات حصرمذکوره آیت کښې جمع شوې دی رومبې کلمه صفت لره په موصوف باندې دحصرکولودپاره ده اودویمه ددې برعکس ده انما انا بشرمثلکم کښې د مخاطبینوپشان بشریت (صفت) مقصور دې اوانا موصوف مقصورعلیه دې او انما الهکم اله واحد کښې معبود برحق (موصوف) مقصور دې اووحدانیت (صفت) مقصورعلیه دې. بس اوس دجملې مطلب دادې چې زه خوبس هم ستاسوپشان یوسړې یم دالله تعالی تولې خبرې نه پیژنم ځنگه چې ئې تاسو نه پیژنئ، صرف هغه خبرې پیژنم کومې چې زما طرف ته دوحی په ذریعه رالیږلې کیږی، اود دویمې جملې مطلب دا دې چې په معبود برحق کښې صرف دوحدانیت صفت دې دتعدد صفت نشته لکه ځنگه چې دمشرکینوخیال دې مثلکم دبشر صفت دې او انما الهکم په تاویل دمفرد سره دیوحیٰ نائب فاعل دې لعمل دامرغائب صیغه ده۔

قوله: ولقاءه ای بالبعث والحساب والثواب مفسرعلام دلقاءه تفسیر په مذکوره کلماتوسره کولو کښې ددې سوال جواب ورکړو چې دلقاء معنی دوصول اواتصال ده اودا معنی دالله دپاره محال ده ځکه چې وصول اواتصال دجسمانیاتوصفت دې اوالله تعالی دجسم نه پاک دې لهذا مفسرعلام دلقاء تفسیرپه والحساب وغیره کلماتوسره اوکړو۔

قوله: لانجعل لهم قدرا سره ئې د فلا نقیم لهم وزنا تفسیراوکړو دې سره ئې ددې اعتراض جواب ورکړو چې په بل آیت کښې دټولو اعمالودوزن ذکردې اوددې آیت نه معلومیږی چې دکافرانوداعمالووزن به نه کیږی؟ دجواب خلاصه داده چې دلته دوزن نه کولونه مراد دهغوی داعمالوقدروقمیت نه کول دې،هم ددې اعتراض دِدفع کولودپاره بعضې حضراتودوزنا نه پس نافعا صفت محذوف منلې دې یعنی وزن خوبه وی مگر نافع به نه وی۔

قوله: وابتداوه دې اضافه کولوسره مفسرعلام اشاره اوکړه چې داجمله مستانفه ده یعنی جزاؤهم مبتدا او جهنم ددې خبراوددې عکس هم صحیح دې۔

قوله: مهزوا، دهزوا تفسیر په مهزوا سره کولوکښې ئې اشاره اوکړه چې مصدر داسم مفعول په معنی دې۔

قوله: فی علم الله په دې اضافې سره ددې سوال جواب مقصود دې چې جنت کښې به دخول په زمانه مستقبل کښې وی، دلته کانت دماضی صیغه استعمال شوې ده دکومې نه چې معلومیږی چې دخول جنت ته شوې دې۔

جواب دا دې حقیقی او واقعی دخول خو به هم په زمانه مستقبل کښې وی خو د علم ازلی په اعتبار سره دخول شوې دې۔

قوله: مادة سره اشاره ده چې مضاف محذوف دې۔

قوله: لنفد محذوف منلو سره ئې اشاره اوکړه چې لو شرطیه دې او ددې جواب لنفد دې۔

قوله: لم تفرغ اضافې سره هم دیو سوال مقدر جواب مقصود دې سوال دا دې چې د مذکوره آیت د الفاظو نه معلومیږی چې کلمات درب به هم ختم شی اګرچه هغه به د سمندرونو د ختمیدو نه پس ختم شی؟ د جواب خلاصه داده چې قمل په معنی دغیر دې۔

[۱۹] سورة مريم

سُورَةُ مَرْيَم مَكِّيَّة إِلَّا سَجْدَتَهَا فَمَدَنِيَّة أَوْ إِلَّا ﴿فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ﴾ الْآيَتَيْنِ فَمَدَنِيَّتَانِ وَهِيَ ثَمَانٍ أَوْ تِسْع وَتِسْعُونَ آيَة نَزَلَتْ بعد فاطر

سورة مریم مکی دې خو آیت د سجدې مدنی دې، یا "فخلف من بعدهم خلف" دوه آیتونه مدنی دی او دا ټول ۹۸ یا ۹۹ آیتونه دی.

وضاحت: د سوره مریم په مکی یا مدنی کیدو کښې درې اقوال دی: (۱) پوره سورة مکی دې. (۲) دوه آیتونه په کوم کښې چه سجده ده مدنی دی. (۳) "فخلف من بعدهم" دوه آیتونه مدنی دی.

[ایاتونه: ۱-۶]

بسم الله الرحمن الرحيم ﴿كهيعص﴾ الله اعلم بمراده بذلك هذا ﴿ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُ﴾ مَفْعُول رَحْمَة ﴿زَكَرِيَّا﴾ بَيَان لَهُ ﴿إِذْ﴾ مُتَعَلِّق بِرَحْمَةِ ﴿نَادَى رَبَّهُ نِدَاءً﴾ مُشْتَمِلًا عَلَى دُعَاء ﴿خَفِيًّا﴾ سِرًّا جَوْف اللَّيْل لِأَنَّهُ أسرع للإجابة ﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ﴾ ضَعُفَ ﴿الْعَظْمُ﴾ جميعه ﴿مِنِّي وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ﴾ مِنِّي ﴿شَيْبًا﴾ تَمْيِيز مُحَوَّل عَنْ الْفَاعِل أَيْ انْتَشَرَ الشَّيْب فِي شَعْره كَمَا يَنْتَشِر شُعَاع النَّار فِي الْحَطَب وَإِنِّي أُرِيد أَنْ أَدْعُوك ﴿وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَائِكَ﴾ أَيْ بِدُعَائِي إِيَّاكَ ﴿رَبِّ شَقِيًّا﴾ أي خائبا فِيمَا مَضَى فَلَا تُخَيِّبنِي فِيمَا يَأْتِي ﴿وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ﴾ أَيْ الَّذِينَ يَلُونِي فِي النَّسَب كَبَنِي الْعَمّ ﴿مِنْ وَرَائِي﴾ أَيْ بَعْد مَوْتِي عَلَى الدِّين أَنْ يُضَيِّعُوهُ كَمَا شَاهَدْته فِي بَنِي إِسْرَائِيل مِنْ تَبْدِيل الدِّين ﴿وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا﴾ لَا تَلِد ﴿فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ﴾ مِنْ عِنْدك ﴿وَلِيًّا﴾ ابْنًا ﴿يَرِثُنِي﴾ بِالْجَزْمِ جَوَاب الْأَمْر وَبِالرَّفْعِ صِفَة وَلِيًّا ﴿وَيَرِثُ﴾ بِالْوَجْهَيْنِ ﴿مِنْ آلِ يَعْقُوبَ﴾ جَدِّي الْعِلْم وَالنُّبُوَّة ﴿وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا﴾ أَيْ مَرْضِيًّا عِنْدك

ترجمه: شروع کوم په نامه دالله تعالى چې بې حده مهربان او ډیر رحم والا دې کهیعص د دې نه دالله تعالى څه مراد دې هغه پرې ښه پوهیږی دا (معلو) خپل بنده زکریا باندې ستا درب د رحمت تذکره ده عبده د رحمت مفعول دې زکریا د عبده بیان دې کله چې هغه خپل رب په مخفی توګه باندې اوبللو

اذ د رحمة سره متعلق دي، يعني داسې بلل كوم چې په رازداري باندې مشتمل وو دشپې په درميانه حصه كښې خكه چې دا (طريقه) سريع القبول ده عرض ئې اوكړواې پروردېګاره زما ترول هدوكي كمزوري شوي دي اوزما په سركښې دويختو سپينوالې خور شوې دې شيباً دفاعل نه منقول كيدوسره تميزدې يعني خنګه چې په لرګوكښې اور خورېږي دغه شان سپينوالي زماپه ويختوكښې خورشو (ددې باوجود) زه ستا نه يودرخواست كول غواړم (اوددې نه مخكښې هم) زه ستا نه اې زما ربه په درخواست كولوسره كله هم محرومه شوې نه يم يعني زه ستا نه په خپله دعا كښې په زمانه تيره شوې كښې هم (ناكامه شوې نه يم) لهذا آئنده هم مامحرومه نه كړې ماته زماد نيزدې رشته درانونه انديښنه ده چې زما نه پس يعني زماد مرګ نه پس به دين لره ضائع كړي خنګه چې ما په بنى اسرائيلوكښې مشاهده كړې ده اوزماښځه هم شنډه ده دكومې نه چې هيڅ اولادنه وو شوې نو (په دې صورت كښې) ته ماله د خپل طرف نه يعني دخپل خصوصي رحمت نه (داسباب عاديه دمفقود كيدوباوجود) يو وارث يعني داسې ځوئې كوم چې زما اوزماد داداېعقوب دخاندان دعلم اونبوت وارث جوړشي برائې كښې دجواب امردوجې نه جزم او (جمله كيدوسره) د ولياً صفت كيدو دوجې نه رفع ده اوپه يرث كښې هم مذكوره دواړه صورتونه جائزدي اواې زماپروردګاره ده لره خوښ يعني ستاپه وړاندې مقبول جوړ كړې نوالله تعالى دحضرت زكريا عليه السلام داجابت دعاء په وجه باندې په توګه درحمت دحاصليدونكي ځوئې د درخواست په جواب كښې اوفرمائيل يازكريا الخ.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: كهيعص دادمتشابهاتوڅخه دي دكوم واقعي علم چه الله اودهغه رسول ته دې دبندګانودپاره ددې تفشيش اوجستجوهم صحيح نه ده بعضې اسلافوددې مرادبيان كړې دې، خوهغه تخميني (اندازتا) دې تحقيقي نه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائيلي دي چې داد اسماء الهيه يونوم دې اوقتاده رحمه الله فرمائيلي دي چې دادقرآن پاک دنومونونه يونوم دې اوبعضوداهم وئيلي دي چې دا اسم اعظم دې وغيره وغيره ـ

قوله: ذكررحمت ربك عبده، عبده د رحمت مفعول به دې اوبعضې حضراتو د ذكرمفعول به وئيلې دي زكريا د عبده نه بدل ياعطف بيان دې په ذكررحمة كښې ذكرمصدر دخپل مفعول طرف ته مضاف دې اود مصدر فاعل محذوف دې أى ذكرالله رحمته اود رحمة مصدر اضافت د رب طرف ته دمصدر اضافت دفاعل طرف ته دې اوجمله د هذامبتدأ محذوف خبردې خنګه چې مفسرعلام هذا محذوف منلوسره اشاره اوكړه اى هذا المتلوذكر رحمة ربك اويوتركيب داهم كيدې شي چې ذكررحمة ربك الخ مبتدأ ده اوددې خبرمقدم محذوف دې اى فيما يتلى عليك

ذکر رحمة ربك او د ذکر رحمت مطلب درحمت معامله کول دی نه هغه ذکر کوم چې دنسیان په مقابله کښې دې اذنادی د رحمة ظرف دې اوبعضې حضراتو ذکرظرف گرځولې دې مفسر علام داذنه پس متعلق برحمة اضافه کولوسره دااوښودل چې اذنادی اگرچه دذکرظرف هم کیدې شی خودمفسرپه نیزد رحمة ظرف جوړول بهتردی ای رحمة الله اياه وقت اذناداه.

قوله: وهن (س ض) وهنا کمزوري کیدل،

سوال: حضرت زکریا ﷺ وهن العظم منی اوفرمائیل حالانکه وهن عظمی زیات مختصردې ددې څه وجه ده ؟

جواب: وهن العظم منی کښې تفصیل بعد الاجمال دې ځکه چې العظم منی په جنسیة مقصوده باندې واضح الدلالة دې، ځکه چه وهن العظم مطلق دې چې په کښې دحضرت زکریا ﷺ دغیرهډوکی شامل دی منی ونیلو سره ئې خپل ځان دوباره شامل کړودغه شان د منی العظم تاکید اوشو۔ (ودح)

قوله: قال ربی: داجمله دنادی ربه تفسیردې، العظم کښې الف لام استغراق جنسی دپاره دې مراد ټول هډوکی۔ العظم مفرد راوړلې شوې دې نه چې جمع ځکه چې دجمع اطلاق په دې صورت کښې هم صحیح دې کله چې بعضې هډوکی کمزوری شوی وی۔

قوله: اشتعال په اصل کښې انتشار شعاع النار فی الحطب ته وائی، شیبا دتمیزدوجې نه منصوب دې اودفاعل نه منقول دې تقدیری عبارت دادې انتشر الشيب فی شعرة شاب (ض) شيبا بوډها کیدل دويختوسپينيدل، بعضې حضراتو شيبا د مصدريت دوجې نه منصوب ونيلې دې، په دې توګه چې اشتعل الراس دشاب په معنى دې لهذا اوس به عبارت وى شاب شيبا اوبعضې حضراتو دحال دوجې نه منصوب ونيلې دې او شيباء په معنى دشائبا ونيلې دې «روح» خودا دواړه اقوال مرجوح دی د راس نه پس ئې منی په ماقبل باندې داعتماد کولوسره ترک کړو۔

قوله: الموالي جمع د مولی، نیزدې خپلوان، بنی عم وغیره عاقرا شنډه دعاقر دآخر نه ة حذف کړې شوې ده دحائض پشان، دحضرت زکريا ﷺ دښځې نوم اشاع بنت فاقوذ دې اواشاع دخور نوم حنه دې داشاع نه يحيى ﷺ او د حنه نه مريم اودمريم نه عيسى ﷺ پيدا شوې دې دغه شان عيسى ﷺ ديحيى دترور ځوې دې۔

قوله: رضيا مصدر په معنى دمفعول خوښ۔

قوله: بدعائك د دې تفسيرپه بدعائی سره کولوکښې ئې اشاره اوکړه چې دعاء مصدر دې اودخپل مفعول طرف مضاف دې اوددې عامل ی ضمير دمتکلم محذوف دې۔

قوله: العلم والنبوة سره ئې اشاره اوکړه چه دانبياؤ ميراث علم دې نه چې مال او دولت۔

[ايات توله: ۷-۱۵]

(يَازَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ) يَرِثُ كَمَا سَأَلْتَ (اسْمُهُ يَحْيَى لَمْ نَجْعَلْ لَهُ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا) اي مسمى بيحيى (قَالَ رَبِّ أَنَّى) كَيْفَ (يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا) مِنْ عَتَا يَبِسَ اَيْ نِهَايَةَ السِّنِّ مِائَةً وَعِشْرِيْنَ سَنَةً وَبَلَغَتْ امْرَأَته ثَمَانِيَةً وَتِسْعِيْنَ سَنَةً وَاَصْلُ عِتِيّ عِتُوٌّ كُسِرَتْ التَّاء تَخْفِيْفًا وَقُلِبَتْ الْوَاو الأولى ياء لمناسبة الكسرة والثانية ياء لتدغم فيها الياء (قَالَ) الأمر (كَذَلِكَ) مِنْ خَلْقِ غُلَامٍ مِنْكُمَا (قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ) اَيْ بِاَنْ اَرُدَّ عَلَيْكَ قُوَّةَ الْجِمَاعِ وَاَفْتِقَ رَحِمَ امْرَأَتِكَ لِلْعُلُوقِ (وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْئًا) قَبْلَ خَلْقِكَ وَلِإِظْهَارِ اللهِ هٰذِهِ الْقُدْرَةَ الْعَظِيْمَةَ اَلْهَمَهُ السُّؤَالَ لِيُجَابَ بِمَا يَدُلُّ عَلَيْهَا وَلَمَّا تَاقَتْ نَفْسُهُ اِلٰى سُرْعَةِ الْمُبَشَّرِ بِهِ (قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِي آيَةً) اَيْ عَلَامَةً عَلٰى حَمْلِ امْرَأَتِي (قَالَ آيَتُكَ) عَلَيْهِ (أَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ) اَيْ تَمْتَنِعَ مِنْ كَلَامِهِمْ بِخِلَافِ ذِكْرِ اللهِ (ثَلَاثَ لَيَالٍ) اَيْ بِاَيَّامِهَا كَمَا فِي آلِ عِمْرَانَ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ (سَوِيًّا) حَالٌ مِنْ فَاعِلِ تُكَلِّمَ اَيْ بِلَا عِلَّةٍ (فَخَرَجَ عَلَى قَوْمِهِ مِنَ الْمِحْرَابِ) اَيِ الْمَسْجِدِ وَكَانُوْا يَنْتَظِرُوْنَ فَتْحَهُ لِيُصَلُّوْا فِيْهِ بِاَمْرِهِ عَلَى الْعَادَةِ (فَأَوْحَى) اَشَارَ (إِلَيْهِمْ أَنْ سَبِّحُوا) صَلُّوْا (بُكْرَةً وَعَشِيًّا) اَوَائِلَ النَّهَارِ وَاَوَاخِرَهُ عَلَى الْعَادَةِ فَعَلِمَ بِمَنْعِهِ مِنْ كَلَامِهِمْ حَمْلَهَا بِيَحْيٰى وَبَعْدَ وِلَادَتِهِ بِسَنَتَيْنِ قَالَ اللهُ تَعَالٰى لَهُ (يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ) اَيِ التَّوْرَاةَ (بِقُوَّةٍ) بِجِدٍّ (وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ) النبوة (صَبِيًّا) ابن ثلاث سنين (وَحَنَانًا) رَحْمَةً لِلنَّاسِ (مِنْ لَدُنَّا) مِنْ عِنْدِنَا (وَزَكَاةً) صَدَقَةً عَلَيْهِمْ (وَكَانَ تَقِيًّا) رُوِيَ اَنَّهُ لَمْ يَعْمَلْ خَطِيْئَةً وَلَمْ يَهُمَّ بِهَا (وَبَرًّا بِوَالِدَيْهِ) اَيْ مُحْسِنًا اِلَيْهِمَا (وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا) مُتَكَبِّرًا (عَصِيًّا) عَاصِيًا لِرَبِّهِ (وَسَلَامٌ) مِنَّا (عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا) اَيْ فِي هٰذِهِ الْاَيَّامِ الْمَخُوْفَةِ الَّتِي يَرٰى مَا لَمْ يَرَهُ قَبْلَهَا فَهُوَ آمِنٌ فِيْهَا

ترجمه: اې زكريا مونږ تاته ديو فرزند خوشخبري دركوو كوم چې به ستا د درخواست مطابق وارث وي دده نوم به يحيى وي مخكښې مونږ څوک دده همنام نه دي كړي يعني د يحيى همنام نو زكريا عليه السلام عرض اوكړو اې زما پروردګاره زما هلک به څنګه كيږي حالانكه زما ښځه شنډه ده او زه بوډا تو ب انتهائي درجې ته رسيدلې يم عتيا دعتا نه ماخوذ دې په معنى د يبس يعني دعمر آخرى مرحلې ته رسيدلې يم كوم چې يو سل اوشل كاله دې او زما ښځه د ۹۸ كالو شوې دې عتى په اصل كښې عتوو په وزن دقعود د تخفيف د پاره تاء لره ئې كسره وركړه اول واؤ لره دكسرې دمناسبت د وجې نه په ى سره بدل كړو او بيا دويم واو لره هم په ى سره بدل كړو ياء په ياء كښې ادغام كړه بيا دعين كلمې ضمه هم دتاء دموافقت دپاره په كسرې سره بدله كړې شوه او عتيا شو الله تعالى اوفرمائيل ستاسو دواړو نه دهلک د پيدائش معامله به هم په دې (موجوده) حالت كښې كيږي ستا درب فرمان دې چې دا (امر) زما دپاره آسان دې يعني دا چې زه به په تا كښې دجماع قوت واپس كړم او د استقرار حمل دپاره به ستا دبي بي رحم كهولاؤ كړم او ماته پيدا كړې حالانكه ستا دخپل پيدائش نه

وراندې وجود هم نه وو الله تعالى هم ددې خپل قدرت عظيمه داظهار دپاره (د بچي) د سوال خيال د زكريا عليه السلام په زړه كښې واچولو چې ددې په جواب كښې داسې معامله اوكړى كومه چې دهغه په قدرت باندې دلالت كوى، اوچې كله دزكريا عليه السلام د په عجلت سره د مبشر به (فرزند) دپاره مشتاق شو نو زكريا عليه السلام عرض اوكړواې زما پروردګاره زما دپاره څه علامت مقرر اوفرمائې يعنى زما دښځې دحامله كيدوڅه علامه (نخښه) اوښايه الله تعالى اوفرمائيل دحامله كيدوعلامت دادې چې ته به دخلقو سره كلام نه شې كولې ته به درې ورځې اودرې شپو پورې دخلقوسره بغيرذكرالله نه سره دصحيح سالم كيدو باوجود په كلام كولوباندې به قادر كيږې نه، څنګه چې په آل عمران د ثلثة ايام (صراحت) موجود دې سويًا تكلم دفاعل نه حال دې يعنى بغير دڅه مرض نه به (كلام نه شې كولې) بس د حجرې خپل قوم راوتلو يعنى دجمات نه اوخلق دجمات دكهلاويدو منتظروو چې دمعمول مطابق دهغه په اجازت سره په دې كښې عبادت اوكړې شى اوخلقو ته ئې په اشاره سره اوئيل چه تاسو خلق صبا اوماښام دخپل خداې پاكى بيانوئ مونځ كوئ، يعنى دمعمول مطابق د ورځ په شروع كښې اوپه آخرى حصه كښې په دې كښې بندګى كوئ نودخلقوسره د كلام نه كولوپه وجه زكريا عليه السلام دخپلې ښځې دحامله كيدو علم اوشو ديحيى عليه السلام دولادت نه دوه كاله پس الله تعالى يحيى ته اوفرمائيل اې يحيى كتاب يعنى تورات لره په مضبوطې سره اونيسه اومونږ ده لره هم په وړكوالى كښې حكمت نبوت عطاء كړو يعنى د درېو كالوپه عمركښې اوخاص دخپل طرف نه دخلقودپاره رحم دلى عطاكړه اوهغه مو دخلقودپاره وقف كړو اوهغه (فطرى توګه باندې) پرهيزګاره وو، اوروايت كړې شوې دې چه هغوى كله هم دجرم ارتكاب نه دې كړې اونه ئې كله دجرم قصد كړې دې اودخپل مورپلار خدمت ګذاره وو يعنى دهغوى سره حسن سلوک كونكې ووسركشه متكبره او نافرمانه نه وو يعنى دخپل رب د احكاماتو خلاف ورزى كونكې نه وواوپه ده باندې دې زمونږ دطرف نه سلام وى كله چې دې پيداشواوپه كومه ورځ به چې هغه وفات كيږى اوپه كومه ورځ چې هغه ژوندې كولو سره پورته كيږى يعنى دغه درې خطرناكو ورځو كښې په كومو كښې چه (انسان) هغه څيزونه ګورى كوم ئې چې ددې نه مخكښې نه وى ليدلى (يعنى په دغه درې ورځو كښې داسې څيزونو سره واسطه راځى چې ددې نه مخكښې ئې ورسره واسطه نه وى راغلې)۔

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: يحيى (س) صيغه مضارع مثبت واحد مذكرغائب په معنى دژوندې دې وى يحيىٰ دحضرت زكريا عليه السلام دصاحبزاده نوم دې چونكه دحضرت يحيىٰ دولادت دوجې نه دهغوى دمور رحم ژوندې شو (يعنى شندتوب ئې ختم شو) څكه دهغه نوم يحيى كيخودلې شو،

يحيیٰ دعلميت اودعجمه دوجې نه غيرمنصرف دې ـ

قوله: اسمه يحيى دغلام صفت دې لم نجعل له الخ ياخو دغلام صفت ثانی دې يا دغلام نه حال دې.

قوله: عتيا دا دعتا يعتو مصدر دې، ددې معنی ده ډير بوډها كيدل، په جوړونو او هډوكو كښې خشكی پيدا كيدل ① عتيا د بلغت مفعول به دې ② د بلغت دمعنې دپاره مصدر موكد وی څكه چې بلوغ الكبر د عتيا په معنی كښې دې ③ عتيا د مصدر په موقع كښې دبلغت د فاعل نه حال واقع دې، ای بلغت عاتيا ④ د تميز كيدو دوجې نه منصوب كيدې شی ـ

قوله: هين د هون نه صفت مشبه په معنی دآسان انّٰی په معنی د كيف دا دحصول ولد د كفيت باره كښې سوال دې نه چې دبعيد اودمحال ګڼړلو وجې نه، او استفهام تعجبی هم كيدې شی ـ

قوله: عتيا د دې تفسير په نهاية السن سره تفسير للازم دې ـ

قوله: ثلث ليال نه پس ايامها اضافه كولو مقصد په دې آيت اود سورت آل عمران په آيت كښې تطبيق كول دی څكه چې هلته د ايام ذكر دې اودلته دليال ذكر دې ـ

قوله: تاقت (ن) توقا توقا وتوقانا مشتاق كيدل ـ

قوله: وقد خلقتك: دعلیّ د ضميرنه حال دې ولم تك دخلقتك دكاف نه حال دې سويا دلاتكلم دضميرنه حال دې ـ

قوله: المحراب جمات، دشيطان سره دجهګړې ځائې ـ

قوله: حنانا ددی عطف په الحكم باندې دې حنان په معنی د رحمت، رقتِ قلب.

قوله: بعد ولادته الخ د دې مقدر منلو مقصد دې خبرې ته اشاره كول دی چې يحيی په محذوف باندې مرتب دې څكه چې ديحيی دعلوق دخوشخبرې وركولو نه فورا پس يحيی ته په مضبوطيا سره دنيولو حكم وركړې شوې دې حالانكه هغه لا تراوسه پورې پيدا شوې هم نه وو نومعلومه شوه چې په كلام كښې حذف دې كوم چې مفسر علام دبعد ولادته سره ظاهر كړو ـ

[ايات تو له: ۱۶ - ۲۵]

﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ﴾ القرآن ﴿مَرْيَمَ﴾ أي خبرها ﴿إِذْ﴾ حين ﴿انْتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا﴾ أي اعتزلت في مكان نحو الشرق من الدار ﴿فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُونِهِمْ حِجَابًا﴾ أرسلت سترا تستتر به لتفلي رأسها أو ثيابها أو تغتسل من حيضها ﴿فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا﴾ جبريل ﴿فَتَمَثَّلَ لَهَا﴾ بعد لبسها ثيابها ﴿بَشَرًا سَوِيًّا﴾ تام الخلق ﴿قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَٰنِ مِنْكَ إِنْ كُنْتَ تَقِيًّا﴾ فتنتهي عني بتعوذي ﴿قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا﴾ بالنبوة ﴿قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ﴾ بتزوج ﴿وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا﴾ زانية ﴿قَالَ﴾ الأمر

{كَذٰلِكَ} مِنْ خَلْقِ غُلَامٍ مِنْكِ مِنْ غَيْرِ أَبٍ {قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ} أَيْ بِأَنْ يَنْفُخَ بِأَمْرِي جِبْرِيلُ فِيكِ فَتَحْمِلِي بِهِ وَلِكَوْنِ مَا ذُكِرَ فِي مَعْنَى الْعِلَّةِ عَطَفَ عَلَيْهِ {وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِلنَّاسِ} عَلَى قُدْرَتِنَا {وَرَحْمَةً مِنَّا} لِمَنْ آمَنَ بِهِ {وَكَانَ} خَلْقُهُ {أَمْرًا مَقْضِيًّا} بِهِ فِي عِلْمِي فَنَفَخَ جِبْرِيلُ فِي جَيْبِ دِرْعِهَا فَأَحَسَّتْ بِالْحَمْلِ فِي بَطْنِهَا مُصَوَّرًا {فَحَمَلَتْهُ فَانْتَبَذَتْ} تَنَحَّتْ {بِهِ مَكَانًا قَصِيًّا} بَعِيدًا مِنْ أَهْلِهَا {فَأَجَاءَهَا} جَاءَ بِهَا {الْمَخَاضُ} وَجَعُ الْوِلَادَةِ {إِلَىٰ جِذْعِ النَّخْلَةِ} لِتَعْتَمِدَ عَلَيْهِ فَوَلَدَتْ وَالْحَمْلُ وَالتَّصْوِيرُ وَالْوِلَادَةُ فِي سَاعَةٍ {قَالَتْ يَا} لِلتَّنْبِيهِ {لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هٰذَا} الْأَمْرِ {وَكُنْتُ نَسْيًا مَنْسِيًّا} شَيْئًا مَتْرُوكًا لَا يُعْرَفُ وَلَا يُذْكَرُ {فَنَادَاهَا مِنْ تَحْتِهَا} أَيْ جِبْرِيلُ وَكَانَ أَسْفَلَ مِنْهَا {أَلَّا تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا} نَهْرَ مَاءٍ كَانَ قَدِ انْقَطَعَ {وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ} كَانَتْ يَابِسَةً وَالْبَاءُ زَائِدَةٌ {تُسَاقِطْ} أَصْلُهُ بِتَاءَيْنِ قُلِبَتِ الثَّانِيَةُ سِينًا وَأُدْغِمَتْ فِي السِّينِ وَفِي قِرَاءَةٍ تَرْكُهَا {عَلَيْكِ رُطَبًا} تَمْيِيزٌ {جَنِيًّا} صِفَتُهُ

ترجمه: او اې محمد ﷺ په دې کتاب يعنى په قرآن کښې د مريم يعنى د هغې د قصې ذکر او کړه کله چې هغه د خپلې اهل خانې نه جدا شوه يو داسې مکان کښې کوم چې د مشرق طرف وو لاړه يعنى د دار (بيت المقدس) د مشرق طرف ته تنهائې ځاې ته لاړه او د اهل خانه طرف ته ئې پرده واچوله يعنى پرده ئې زوړنده کړه چې يو بند (حائل) شى (او) خپل سر يا خپلو جامو کښې سپږې اوګورى يا د حيض نه د طهارت د پاره غسل اوکړې شى نو مونږ هغې ته خپل روح جبرئيل عليه الصلاة والسلام لره اوليږلو نو هغه د هغې مخکښې د جامو اچولو نه پس د مکمل سړى په شکل کښې ظاهر شو حضرت مريم اوئيل چې زه د خپل خدائې پناه طلب کوم که چرې تا ته لګه هم د خدائې ويره وى نو ته به د دې ځائې نه زما د پناه طلب کولو د وجې لرې شې حضرت جبرائيل عليه الصلاة والسلام ورته جواب ورکړو چې زه ستا د رب قاصد يم تا لره يو پاکيزه هلک درکولو د پاره راغلې يم او د هغه پاکيزګى د نبوت د وجې نه ده نو حضرت مريم اوئيل زما څنګه بچې کيديشى حالانکه ما ته کوم بشر لاس هم نه دې لګولې نکاح کولو سره او نه زه بدکاره زانيه يم فرښتې اوئيل امر خو هم داسې دې چې ستا نه بغير د پلاره هلک پيداشى ستا د پروردګار ارشاد دې چې دا زما د پاره ډيره آسانه ده په داسې طريقه چې جبرائيل په تا کښې زما په حکم پوک اوهى بيا به د هغې د وجې نه ته حامله شې، مذکور (يعنى هو على هين) چونکه د علت په معنى کښې دې لهذا په دې باندې ولنجعله عطف کړې شوې دې او د دې د پاره چې څه دې په خپل قدرت باندې خلقو د پاره نخښه جوړه کړم او رحمت زمونږ د طرف نه د هغه کس د پاره کوم چې زمونږ په قدرت باندې پوره يقين لرى او د دغه (ولد) تخليق فيصله شوې خبره ده زما په علم کښې، نو حضرت جبرائيل د حضرت مريم د قميص په ګريوان کښې پوک اوهلو نو حضرت مريم په خپله خيټه کښې (حمل) متشکل محسوس کړو نو حضرت مريم په فرزند سره حامله شوه او د دې وجې نه يو ګوټى د خپل اهل خانه نه لرې يو مقام ته لاړه بيا دردزه هغې لره

ديوې كهجورې تنې لره راوستله دې دپاره چې هغې ته دده اولګوی بیاهغې (ماشوم اوزیګولو او دا حمل او تشکل اوولادت (ټول هرڅه) په یوساعت کښې اوشول وئیل ئې کاش چې زه ددې واقعې نه وړاندې مړه شوې وې اوزه داسې نیست نابود متروک څیزشوې وې نه چازه پیژندم اونه زما تذکره کیدله هم په دغه وخت کښې دې ته دلاندې جانب نه جبرائیل کوم چې دمریم کس طرف ته وو آواز ورکړوچه ته غمژنه کیږه مه ستارب ستادلاندې یوه چینه جاری کړې ده یعنی داسې نهر (جاری کړی) دکوم نهراوبه چې اوچې شوې وې اودکهجورې ته خپل طرف ته خوزوه حالانکه هغه اونه اوچه وه بجذع کښې باء زائده ده ستاپه وړاندې به تروتازه پخې کهجورې راوغورزوی رطبا تمیزدې اوجنیا ددې صفت دې تساقط ددې اصل په دوه تاګانوسره دې دویمه تا په سین سره بدله شوه اوسین په سین کښې مدغم کړې شواوپه یوقراءت کښې ترک ِ تاء سره هم دې ای تساقط.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: واذکرفی الکتاب مریم ددې عطف د کلام سابق په مضمون باندې دې تقدیرد عبارت دا دې اعلم ذکررحمة ربك عبده زکریا واذکرفی الکتاب مریم قصتها.

قوله: اذکر فی الکتاب مریم:أی قصة مریم مضاف محذوف دې مریم په معنی د عبادت ګذاره،زاهده اودخادمة الرب ده، په الکتاب کښې الف لام دعهد دې مراد قرآن کریم دې.

قوله: اذانتبذت دمضاف محذوف ظرف دې کوم چې مفسرعلام خبرها وئیلوسره ظاهرکړو دمریم نه بدل الکل یا بدل اشتمال هم کیدیشی ـ (مظهری)

قوله: مکانا شرقیا موصوف د صفت سره یا خود انتبذت ظرف دې یاذدې مفعول به دې څکه چې انتبذت د اتت معنې ته مشتمل دې ای اتت مکانا انتبذت ای ابتعدت وتنحت یو طرف ته کیدل ـ لرې کیدل.

قوله: لتغلی مضارع واحد مؤنث غائب دې دپاره چې سپکې اوګوری.

قوله: روحنا ای جبرائیل

قوله: بعدلبسها ثیابادا د دې شبهې جواب دې چې په حدیث کښې راغلی دی چې په کوم کورکښې ښځه سرتورسروی نو هغه کور ته درحمت فرښتې نه راځی نومریم خوبې لباسه وه، څنګه فرښته داخل شوه؟ جواب دا دې چې دغل بعدلبسها.

قوله: فتنتهی محذوف منلوسره ئې اشاره اوکړه چې دان کنت تقیا جواب شرط فتنتهی محذوف دې.

قوله: بالزوج مفسرعلام دبالزوج اضافه کولوسره دیوسوال جواب ورکړو، سوال دادې چې لم

بمعنی دا دعدم جماع نه کنایه ده لهذا داجماع حلال اوحرام دواړو ته شامل دې په دې صورت کښې به د لمراك بغيا دوینا ضروت نه وو؟

جواب: خلاصه داده چې په عرف کښې مس وطی حلال ته شامل دې وطی حرام عرفا د دې نه خارج دې وطی حرام اووطی حلال ددواړو نفی دپاره ئې د لمراك بغيا اضافه اوفرمائیله۔

قوله: لمراك بغيا بغيئي اونه فرمائیلو حالانکه موقع دبغيئه وه ځکه چې داصفت په عام توګه باندې په ښځوکښې زیات وی نوددې دحائض اودعاقر دقبیلې نه دکیدو په وجه باندې دتا ضرورت نشته۔

قوله: قال ربك هوعلیّ هين دقال کذلك د علت قائم مقام دې، یعنی داسې به کیږی ځکه چې دازمونږ دپاره آسان دې، په اصل کښې دادیو اعتراض جواب دې، اعتراض دادې چې دلته دجمله تعلیلیه عطف په غیرتعلیلیه باندې کیږی کوم چې جائزنه دې؟ جواب دادې چې معطوف علیه هم جمله تعلیلیه ده لهذا د لنجعله آیة للناس عطف به په دې باندې درست وی۔

قوله: رحمة عطف په آیة باندې دې۔

قوله: فاجاءها دې تفسیر په جاءبها سره کولو کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې جاء او اجاء دواړه په یو معنی کښې دی یعنی دواړه متعدی بیک مفعول دی په ظاهره داشبه وه چې کله د جاء په شروع کښې دهمزې اضافه اوکړه نو شاید دابه متعدی بدومفعول شوی وی دا شبه مفسر علام د اجاءها تفسیر په جاءبها سره کولو کښې دفع کړو، دویم جواب داهم کیدیشی چې اجاء د جاء په معنی کښې دې اوچې کله استعمال بدل شونو متعدی بیک مفعول شو۔ (جمل)

قوله: المخاض درد زه (س)۔

[ایاتونه: ۳٦-٤٠]

(فَكُلِي) مِنَ الرُّطَبِ (وَاشْرَبِي) مِنَ السَّرِيِّ (وَقَرِّي عَيْنًا) بِالْوَلَدِ تَمْيِيزٌ مُحَوَّلٌ مِنَ الْفَاعِلِ أَيْ لِتَقَرَّ عَيْنُكِ بِهِ أَيْ تَسْكُنْ فَلَا تَطْمَحْ إِلَى غَيْرِهِ (فَإِمَّا) فِيهِ إِدْغَامُ نُونِ إِنْ الشَّرْطِيَّةِ فِي مَا الزَّائِدَةِ (تَرَيِنَّ) حُذِفَتْ مِنْهُ لَامُ الْفِعْلِ وَعَيْنُهُ وَأُلْقِيَتْ حَرَكَتُهَا عَلَى الرَّاءِ وَكُسِرَتْ يَاءُ الضَّمِيرِ لِالْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ (مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا) فَيَسْأَلُكِ عَنْ وَلَدِكِ (فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا) أَيْ إِمْسَاكًا عَنِ الْكَلَامِ فِي شَأْنِهِ وَغَيْرِهِ مِنَ الْأَنَاسِيِّ بِدَلِيلِ (فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا) أَيْ بَعْدَ ذَلِكَ (فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ) حَالٌ فَرَأَوْهُ (قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا) عَظِيمًا حَيْثُ أَتَيْتِ بِوَلَدٍ مِنْ غَيْرِ أَبٍ (يَا أُخْتَ هَارُونَ) هُوَ رَجُلٌ صَالِحٌ أَيْ يَا شَبِيهَتَهُ فِي الْعِفَّةِ (مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ) أَيْ زَانِيًا (وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا) أَيْ زَانِيَةً فَمِنْ أَيْنَ لَكِ هَذَا الْوَلَدُ (فَأَشَارَتْ) لَهُمْ (إِلَيْهِ) أَنْ كَلِّمُوهُ

{قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ} اي وجد {فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا} {قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ} أي الإنجيل {وَجَعَلَنِي نَبِيًّا} {وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ} أي نفاعا للناس إخبار بما كتب له {وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ} امرني بهما {مَا دُمْتُ حَيًّا} {وَبَرًّا بِوَالِدَتِي} منصوب بجعلني مقدرا {وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا} متعاظما {شَقِيًّا} عاصيا لربه {وَالسَّلَامُ} من الله {عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا} يقال فيه ما تقدم في السيد يحيى قال تعالى {ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَوْلَ الْحَقِّ} بالرفع خبر مبتدأ مقدر أي قول ابن مريم وبالنصب بتقدير قلت والمعنى القول الحق {الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ} من المرية أي يشكون وهم النصارى قالوا إن عيسى ابن الله كذبوا {مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ سُبْحَانَهُ} تنزيها له عن ذلك {إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا} أي أراد أن يحدثه {فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ} بالرفع بتقدير هو وبالنصب بتقدير أن ومن ذلك خلق عيسى من غير اب {وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ} بفتح أن بتقدير اذكر وبكسرها بتقدير قل بدليل {مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ} {هَٰذَا} المذكور {صِرَاطٌ} طريق {مُّسْتَقِيمٌ} مؤد إلى الجنة {فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِن بَيْنِهِمْ} أي النصارى في عيسى اهو ابن الله أو إله معه أو ثالث ثلاثة {فَوَيْلٌ} فشدة عذاب {لِّلَّذِينَ كَفَرُوا} بما ذكر وغيره {مِن مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ} أي حضور يوم القيامة وأهواله {أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ} بهم صيغتا تعجب بمعنى ما أسمعهم وما أبصرهم {يَوْمَ يَأْتُونَنَا} في الآخرة {لَٰكِنِ الظَّالِمُونَ} من إقامة الظاهر مقام المضمر {الْيَوْمَ} أي في الدنيا {فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ} أي بين به صموا عن سماع الحق وعموا عن إبصاره أي اعجب منهم يا مخاطب في سمعهم وإبصارهم في الآخرة بعد أن كانوا في الدنيا صما عميا {وَأَنذِرْهُمْ} خوف يا محمد كفار مكة {يَوْمَ الْحَسْرَةِ} هو يوم القيامة يتحسر فيه المسيء على ترك الإحسان في الدنيا {إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ} لهم فيه بالعذاب {وَهُمْ} في الدنيا {فِي غَفْلَةٍ} عنه {وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ} به {إِنَّا نَحْنُ} تأكيد {نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا} من العقلاء وغيرهم بإهلاكهم {وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ} فيه للجزاء

ترجمه: بيا پخې اوتازه كهجورې خوره اودچينې اوبه څكه او په خوږ سترګې يخوه عيناً تميزدې دفاعل نه منقول دې يعنى بچى لره كتلوسره سترګې يخوه اوسكون حاصلوه نوره ماشومانو طرف ته التفات مه كوه فإما كښې دان شرطيه نون په مازائده كښې مدغم كړې شوې دې ترين ددې لام كلمه اوعين كلمه حذف كړې شوى دى عين كلمې حركت نقل كړې شو او راء ته وركړې شو او ياء ضميرته دالتقاء ساكنين دوجې نه كسره وركړې شوه كه ته څوک بشر او وينې اوهغه ستادبچى متعلق تپوس اوكړى نوورته اوايه چې ما ددې بچى وغيره باره خلقو سره كلام د كولونه د رحمن دپاره دسكوت روژه نيولې ده اودسكوت روژې دالله تعالى قول فلن اكلم اليوم انسياً دې يعنى زه به د دې خبروركولونه پس هيڅ انسان سره كلام نه كومه دغه ماشوم ئې دځان سره نيولې خپل قوم ته راغله تحمله دانت ضميرنه حال دې كله چې قوم ماشوم اوليدلو وې وئيل اې مريم تاخوغټ غضب اوكړو چې بغيردپلارنه دې

ماشوم اوزیکولو اې دهارون خورې هغه خویوصالح سړې وواوته په عفت کښې دهغه
پشان ئې ستاپلارخویدکاره زانی سړې نه وواونه ستامورېدکاره زانیه وه نوبیا ستادأماشوم
څنګه پیداشو، نوحضرت مریم دهغوی دپاره دماشوم طرف ته اشاره اوکړه چې دده نه
معلومات اوکړئ، نووې وئیل مونږ د غېږې ماشوم سره څنګه خبرې اوکړو نوهغه ماشوم اوئیل
چې زه دالله بنده یم هغه ماته کتاب انجیل راکړې دې اوزه ئې نبی جوړکړې یم اوهغه زه بابرکت
یعنی دخلقودفائدې رسونکې جوړکړې یم زه چرته چې هم یم حضرت عیسٰی علیه
الصلاةوالسلام په حق کښې چې څه مقدرووادهغې خبردې اوماته ئې دمونځ اودزکوٰة
تاکیدی حکم فرمائیلې دې اوصانی په معنی د امرنی دې ترڅوچې زه ژوندې یم اوزه ئې دخپلې
مورخدمت ګذارجوړکړې یم برا د جعلنی مقدردوجې نه منصوب دې اوزه ئې سرکش متکبر
اوبدبخته دخپل رب نافرمان نه یم جوړکړې دالله دې په مابانديې سلام وی کله چې زه پیداشوم
اوپه کومه ورځ چې به زه مړکیږم اوپه کومه ورځ چې به زه ژوندې کیږمه اوړپورته کیږمه به ددې
دریواړو مقاماتوپه تفسیرکښې به هم هغه خبره وئیلې کیږی کومه چې دحضرت
سیدنایحیٰی ﷺ په باره کښې وئیلې شوې وه دا دې عیسی ابن مریم قول ابن مریم قول حق
دې دکوم په باره کښې چې خلق شک کوی قول که چرې په رفع سره وی نودمبتدأ محذوف
خبربه وی ای قول ابن مریم قول الحق اوکه چرې قول باندې نصب وی نو په دې صورت
کښې به قلت فعل مقدر وی دمفعول کیدودوجې نه به منصوب وی، او(د قول الحق معنی
به وی) القول الحق وی (یعنی داضافت موصوف الی الصفت دقبیل نه به وی) یمترون دمریة
نه مشتق دې اویمترون په معنی کښې دیشکون دې (اودا شک کونکی) نصاری دې
کوموچې وئیل عیسی علیه الصلاة والسلام دالله تعالی خوئې دې کوم چې بلکل دروغ
دی دالله تعالی داشان نه دې چې هغه چالره اولادجوړکړی هغه داولاد ساتلونه بالکل پاک ذات
دې دهغه پاکی بیانوم اوچې کله دڅه د کولو پیداکولو اراده کوی نوهغې ته وائی چه شه
نوهغه اوشی د یکون که چرې رفع اولولې نورفع به دهوتقدیردوجې نه وی اوکه چرې نصب
لولې نود ان تقدیر دوجې نه به وی اوددې (کن فیکون) دقبیل نه بغیردپلاره دعیسی
علیه الصلاة والسلام پیدائش هم دې، بیشکه زما او ستاسو پروردګار صرف الله دې نوبس هم
دهغه عبادت اوکړئ که ان فتح سره وی نود ان نه مخکې به اذکر مقدروی اوکه ان کسری
سره وی نود ان نه مخکې به قل مقدر منل پکاروی اودقل مقدرمنلودلیل په خپله
دحضرت عیسی علیه الصلاة والسلام دا قول دې ماقلت لهم الاماامرتنی به دا مذکور صراط
مستقیم دې کومه چې جنت ته رسونکې ده بیا دافرقې په خپل مینځ کښې اختلاف کولووالا
شوې یعنی دنصاری (یوفریق) دعیسی علیه الصلاة والسلام په باره کښې اوئیل چې هغه

ابن الله دي او (دويم فريق) اوئيل چې هغه دخدائې سره دويم خدائې دي «او دريمې» اوئيل چې هغه په دريو كښې دريم دي بس كافرانو دپاره مذكوره وغيره (عقائد) دوجې نه دلوئې ورځې دحاضرې سخت عذاب دې يعنى دقيامت په ورځ حاضرى اوددغه ورځې سختئ.
اسمع بهم وابصربهم دواړه دتعجب صيغې دى معنى ئې ده څه ښه اوريدونكى اوڅه ښه كتونكى به وى په كومه ورځ چې به په آخرت كښې زمونږ مخې ته حاضرشى خونن په دنياكښې داظالمان په ښكاره گمراهئ كښې دى دضميرپه ځائې باندې اسم ظاهر كيخودلو. مبين په معنى د بين دې، ددې گمراهئ دوجې (په دنياكښې) دحق خبره اوريدو نه كاڼړۀ دى اودحق كتلونه ړانده دى يعنى اې مخاطبه ته به په آخرت كښې ددوى دكتلو اواوريدلو تيزئ نه تعجب اوكړې حالانكه داخلق په دنياكښې كاڼړه او ړانده وو اواې محمد ﷺ ته دمكې كافرانولره دحسرت دورځې نه اويروه او هغه به دقيامت ورځ وى په كومه ورځ چې به بدكار په دنيا كښې د نيكئ په نه كولو باندې حسرت كوى اوآخرى فيصله به اوكړې شى يعنى دغه خلقودپاره به دعذاب فيصله اوكړې شى حالانكه داخلق ددغه ورځې نه غافله دى اودوى په دغه ورځ باندې ايمان نه لرى اوهم مونږ به دزمكې اوڅه چې ددې دپاسه ذوى العقول اوغيرذوى العقول دى وارثان يو دوى لره هلاک كولوسره اور په دغه ورځ به دجزاء دپاره زمونږ طرف ته واپس كړې شى

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: قري بروزن فرى واحدمؤنث حاضرته يخې كړه داد قر نه مشتق دې ددې معنى ده يخوالې عينا تميزدې دفاعل نه محول دې اى لتقرعينك به رؤية اراءة نه واحد مؤنث حاضربانون تاكيد ثقيله ته اوگورې فريا فرى فعيل په معنى دمفعول دې دروغ جوړول، تراشل، خرمن كټ كول وقيل معناه عظيم عجيب من كان كښې كان تامه دې صبيا دكان دضميرنه حال دې اوكه كان ناقصه وى نوصبيا به ددې خبروى ـ

قوله: ذلك عيسى ابن مريم قول الحق د ذلك مشاراليه مذكوره داقرارِ عبديت وغيره اوصافو حامل شخصيت عيسىٰ عليه السلام دې ذلك مبتدأ عيسىٰ موصوف ابن مريم بتركيب اضافى صفت موصوف د خپل صفت سره دذلک مبتدأ خبر قول الحق په تركيب اضافى سره دمبتدأ محذوف خبر اى قوله قول الحق، قول الحق كښې اضافت د موصوف الى الصفت دې يعنى قول الحق په معنى د القول الحق دې، اوكه قول الحق منصوب اوئيلې شى نو دا القول فعل محذوف مفعول به وى د دواړو قراءتونو په صورت كښې به قول الحق اضافت موصوف الى الصفت وى۔

فی المهد د مهد نه مراد زانګو هم کیدي شی او ددې نه د مور غیره هم مراد کیدیشی ۔

قوله: یمترون د امتراء نه ددې مجرد مریة دې (افتعال) جمع مذکر غائب هغوی شک کوی الذی هو فیه یمترون د مبتدأ محذوف خبر دې، ای عیسی ابن مریم الذی فیه یمترون ای یترددون ویمترون ان یتخذ په تاویل د مصدر د کان اسم ای ماکان اتخاذ الولد من صفته بل هو محال عن ذلك ای عن اتخاذ الولد من ولد کښې من زائد د تاکید د پاره دې۔

قوله: من ذلك خلق عیسی او د کن فیکون د قبیل نه بغیر د پلار نه د عیسی علیه السلام تخلیق هم دې سبحانه مصدر دې فعل حذف کولو سره د هغې قائم مقام شو ای اسبحه سبحانا داجمله معترضه ده قل مقدر منلو په صورت کښې به ان الله ربی وربکم د حضرت عیسی علیه الصلاة والسلام مقوله وی او دلیل ددې دادې چې حضرت عیسی فرمائیلې دی ماقلت لهم الا ما امرتنی به الخ تقدیر د عبارت دادې هذا من کلام عیسی علیه الصلاة والسلام بدلیل ماقلت لهم الغ بغیر حال ددوارو قراءتونو په صورت کښې ان الله ربی وربکم فاعبدوه د حضرت عیسی علیه الصلاة والسلام قول دې ۔

قوله: ترین په اصل کښې ترایین وو په دې کښې راء فاء کلمه ده او همزه عین کلمه ده او یاء مکسوره لام کلمه ده او دویمه یاء ساکنه یاء ضمیر ده او په آخره کښې نون اعرابی دې یائ اولی متحرکه خپل ماقبل همزه مفتوح کیدو دوجې نه الف شو، اوس د الف او د یاءِ ضمیر ساکنه په مینځ کښې التقاء ساکنینو راغله نو همزه ساقطه شوه نون اعرابی د جازم ساقط کیدو دوجې نه نون اعرابی هم ساقط شو، او دنون تاکید ثقیله داخلیدو نه پس التقاء د ساکنینو راغله یاءِ ضمیر او د نون تاکید ثقیله نون اولی سره لهذا یاءِ ضمیر له کسره ورکړې شوه ۔

خلاصه: خلاصه داشوه چې په ترایین کښې شپږ عملونه شوي دی ① یاء په الف سره بدله کړې شوه ② الف حذف کړې شو ③ د همزې حرکت راء له ورکړې شو ④ همزه حذف کړې شوه ⑤ دان شرطیه دوجې نه نون اعرابی ساقط شو ⑥ یاءِ ضمیر ته کسره ورکړې شوه۔

قوله: الانسی یا خو د انسی جمع ده یا د انسان، اناسی په اصل کښې اناسین وو نون یاء کړې شوه او یاء په یاء کښې مدغم کړې شوه نو اناسی شو۔

قوله: تحمله انت د ضمیر نه حال دې، د به د ضمیر نه هم حال کیدیشی ۔

قوله: من مشهد یوم عظیم دا د ویل سره متعلق دې ای من شهود یوم عظیم په دې صورت کښې به مشهد د مصدر په معنی وی یا به د وقت شهود او د مکان شهود په معنی وی په دې صورت کښې به مشهد د ظرف زمان او د مکان دوارو معنی به وی ۔

قوله: لكن الظلمون دمشركينو دقباحت اوشناعت بيانولو دپاره داسم ضمير لكنهم په ځائې باندې اسم ظاهر ظالمون اوفرمائيلو دې دپاره چې ددوی په اعمال قبيحه او شنيعه باندې دلالت اوشي۔

قوله: اي بعد ذلك ددې عبارت داضافې مقصد ددې اعتراض جواب ورکول دی چې په کلام کښې تناقض دې ځکه چې پورته وئيلې شوی دی انی نذرت للرحمن صوما ددې جمله نه دکلام نه کولو منخته (نذر) معلوم شو ددې نه پس حضرت مريم اونيل فلن اوکلم اليوم انسيا حالانکه دا کلام دې؟ جواب دادې چې زه به ددې نه پس هيڅاسره کلام نه کوم، د کان تفسيرپه وجدسره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې کان تامه دې اوکان زائده هم کيدې شي، اوصبيا دحال دوجې نه منصوب دې اى كيف نكلم من فی المهد حال صباه۔

اخبارعما كتب له په دې سره د جعلنى تفسيرکولو کښې مقصد دا ښودل دی چې جعلنى اگرچه د ماضى صيغه دې خو مراد ترې نه استقبال دې۔

[اياتونه: ۴۱-۵۰]

(وَاذْكُرْ) لَهُمْ (فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ) أَيْ خَبَرَهُ (إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا) مُبَالِغًا فِي الصِّدْقِ (نَبِيًّا) وَيُبْدَلُ مِنْ خَبَرِهِ (إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ) آزَر (يَا أَبَتِ) التَّاء عِوَض عَنْ يَاء الْإِضَافَة وَلَا يُجْمَع بَيْنهمَا وَكَانَ يَعْبُد الْأَصْنَام (لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنْكَ) لَا يَكْفِيك (شَيْئًا) مِنْ نَفْع أَوْ ضُرّ (يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا) طَرِيقًا (سَوِيًّا) مُسْتَقِيمًا (يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ) بِطَاعَتِك إِيَّاهُ فِي عِبَادَة الْأَصْنَام (إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا) كَثِير الْعِصْيَان (يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِنَ الرَّحْمَٰنِ) إِنْ لَمْ تَتُبْ (فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا) نَاصِرًا وَقَرِينًا فِي النَّار (قَالَ أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ) فَتَعِيبهَا (لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ) عَنْ التَّعَرُّض لَهَا (لَأَرْجُمَنَّكَ) بِالْحِجَارَةِ أَوْ بِالْكَلَامِ الْقَبِيح فَاحْذَرْنِي (وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا) دَهْرًا طَوِيلًا (قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ) مِنِّي أَيْ لَا أُصِيبك بِمَكْرُوهٍ (سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا) مِنْ حَفِيَ أَيْ بَارًّا فَيُجِيب دُعَائِي وَقَدْ أَوْفَى بِوَعْدِهِ الْمَذْكُور فِي الشُّعَرَاء وَاغْفِرْ لِأَبِي وَهَذَا قَبْل أَنْ يَتَبَيَّن لَهُ أَنَّهُ عَدُوّ اللَّه كَمَا ذَكَرَهُ فِي بَرَاءَة (وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ) تَعْبُدُونَ (مِنْ دُونِ اللَّهِ وَأَدْعُو) أَعْبُد (رَبِّي عَسَى) أَنْ (لَا أَكُونَ بِدُعَاءِ رَبِّي) بِعِبَادَتِهِ (شَقِيًّا) كَمَا شَقِيتُمْ بِعِبَادَةِ الْأَصْنَام (فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ) بِأَنْ ذَهَبَ إِلَى الْأَرْض الْمُقَدَّسَة (وَهَبْنَا لَهُ) ابْنَيْنِ يَأْنَس بِهِمَا (إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَكُلًّا) مِنْهُمَا (جَعَلْنَا نَبِيًّا) (وَوَهَبْنَا لَهُمْ) الثَّلَاثَة (مِنْ رَحْمَتِنَا) الْمَال وَالْوَلَد (وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا) رَفِيعًا هُوَ الثَّنَاء الْحَسَن فِي جَمِيع أَهْل الْأَدْيَان.

ترجمه: او ته کفارمکه ته په کتاب کښې مذکوره دابرهيم عليه الصلاة والسلام واقعه واوروه يعنې دهغې خبرورته بيان کړه بيشکه چې هغه ډيرلوې راستې والانبى وو يعنى ډيررشتونې نبى وو او اذقال لابيه د خبره نه بدل دې (يعنى دهغه وخت قصه بيان کړه) کله چې هغوى خپل

پلار آزر ته عرض اوکړو یا ابت اې اباجان، تا دیاې اضافت په عوض کښې ده (عوض اومعوض) دواړولره جمع کول جائز نه دی او آزر بت پرستی کوله تاسوددې بتانوعبادت ولې کوئ ؟ کوم چې نه اوری اونه ګوری اونه ستاسوپه څه کارراتلې شی یعنی نه کفایت کولې شی، اونه نفع رسولې شی اونه نقصان دفع کولوشی اې زما مهربانه پلاره ماته هغه علم راغلې دې کوم چې تاته نه دې راغلې لهذا تاسوزماخبره اومنئ زه به تاته صراط مستقیم یعنی سیدها لار اوښایم اې اباجانا ته دشیطان عبادت مه کوه په بت پرستئ کښې دده اطاعت کولوسره بیشکه شیطان خود رحمان لوئې نافرمانه دې یعنی په کثرت سره نافرمانی کونکې دې اې اباجاناماته ویره ده چې چرته په تاباندې عذاب الهی رانشی که چرته توبه اونه باسې او ته ته دشیطان ملګرې نه شې یعنی معاون اودجهنم ملګرې جوړنه شې (دا اوریدلوسره) پلارجواب ورکړو اې ابراهیم آیا ته زمونږ دمعبودانونه روګردانی کوې ؟ دکوم په وجه چې ته په هغوی باندې نکته چینی کوې (ښه په کهلاؤغوږونو واؤره) که چرې ته دهغوی دچیرچهاړ نه منه نشوې نوزه به تاپه کانړو باندې چخړی کړمه یابه تاته کنځل اوردې بدې اووایمه څه د یوې لوې مودې پورې مانه لرې اوسه نوحضرت ابراهیم علیه الصلاة والسلام اوفرمائیل نوښه ده ته زماسلام واخله یعنی زه تاته تکلیف رسول نه غوارم زه به خپل رب نه ستادپاره دمغفرت درخواست اوکړمه، بیشکه چې هغه په ماباندې ډیرمهربانه دې حفیاً، د حفی نه مشتق دې ددې معنی ده احسان کونکې، لهذاهغه به زما درخواست لره دقبولیت شرف ورکړی اوحضرت ابراهیم علیه الصلاة والسلام خپله وعده په دې قول سره پوره کړه کوم چې په سورة شعراء کښې مذکور دې واغفرلابی اودا دعاء کول دهغه وخت خبره ده کله چې داواضحه کړې شوې نه وه چې هغه دالله تعالی دشمن دې، څنګه چې په سورة براءة کښې مذکوردی اوزه ستاسو اودهغه بتانونه څانله والې اختیاروم دکوموچې تاسودالله پریخودلوسره عبادت کوئ زه خوبه دخپل رب بندګی کومه زماامیددې چې زه به دخپل رب بندګې کولوسره محرومه نه شم لکه څنګه چې تاسودبتانوبندګی کولوسره محروم پاتې ئې نوچې کله ابراهیم علیه الصلاة والسلام هغوی لره اودالله نه علاوه هغه ټولومعبودانولره پریخودلوسره څانله شونومونږ هغه لره دوه څامن چې دوی سره هغه انس حاصل کړی اسحاق اویعقوب عطا کړل اوهغوی مونږیان جوړکړل اومونږه دغه درېواړو ته دخپل رحمت نه مال او اولاد عطاکړل اومونږهغوی لره داعلی درجې ذکرجمیل عطاکړو او هغه په ټولواهل ادیانوکښې د هغوی ښه تعریف دې ـ

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: واذکر فی الکتاب ابراهیم عطف په واذکر فی الکتاب مریم باندې دې اودا احتمال هم شته چې ددې عطف په وانذرهم یوم الحسرة باندې وی ـ

قوله: خبره ددې اضافې مقصددا ښودل دی چې دابراهیم نه مخکې مضاف محذوف دې څکه چې خبرداحوالو وی نه چې د ذات۔

قوله: صديقاً دمبالغې صیغه ده ډیرراست ګو. دنبی اوصدیق په مینځ کښې دعموم خصوص مطلق نسبت دې، هرنبی صدیق وی خوهرصدیق نبی کیدل ضروری نه دی اوداشان ولی اوصدیق په مینځ کښې دعموم خصوص مطلق نسبت دې هرصدیق ولی وی خودهرولی صدیق کیدل ضروری نه دی مقام صدیقیت دمقام په اعتبارسره دمقام نبوت نه ښکته دې۔

قوله: اذقال لابیه دخبره نه بدل اشتمال دې۔

قوله: انه کان صدیقاً نبیاً دماقبل علت دې او د بدل او د مبدل منه په درمیان کښې جمله معترضه ده صدیقاً دکان خبراول دې اونبیاً ئې خبرثانی دې بعضې حضراتو وئیلی دی چې آزردحضرت ابراهیم علیه الصلاة والسلام حقیقی والد وودقرآن طرز بیان نه هم دا راجح معلومیږی او بعضې حضراتو وئیلی دی چې آزر دهغوی تره وو دعرف په اعتبار سره مجازا اب وئیلې شوې دې، دهغوی دپلار نوم تارخ دې۔

قوله: اراغب مبتدأ ده او انت قائم مقام دفاعل خبردې، استفهام تعجبی دې، چونکه اراغب استفهام باندې اعتماد کړې دې، لهذا دنکره مبتدأ جوړول صحیح دی، اودا هم کیدې شی چې اراغب خبرمقدم او انت مبتدأ مؤخر وی۔

قوله: لئن په دې کښې لام دقسم دې ای والله لئن لم تنته.

قوله: العصی والعاصی دواړه په یوه معنی دی عصی په اصل کښې عصوی وو، واؤ یاء کړې شوه اویاء په یاء کښې مدغم کړې شوه بیادیا دمناسبت دوجې نه صاد لره کسره ورکړې شوه، نو عصی شو۔

قوله: واهجرنی ملیاً عطف په واحذرنی محذوف باندې دې په کوم باندې چې لارجمنك دلالت کوی دې دپاره چې دواړه جملې انشائیه شی، د معطوف اودمعطوف علیه په مینځ کښې موافقت دسیبویه په نیزباندې ضروری دې ملیاً اوږده زمانه، یوه معنی ددې دصحیح سالم هم ده، مطلب دا چې دزمانه دراز دپاره ته زما دنظرومخې نه لرې شه، ددویمې معنی په اعتبارسره به ترجمه داشی چې ته ما په خپل حالت باندې پرېږده ماسره چهیرچهاړ مه کوه ګنی چرته په ماباندې خپل خپې لاسونه مات نه کړې، ملیاً دظرف کیدو دوجې نه منصوب دې څنګه چې مفسرعلام دهراطویلامقدر منلوسره اشاره اوکړه، دواهجرنی دضمیر فاعل نه حال هم کیدیشی۔

قوله: نامرا او قرینا مناسبه وه چې مفسرعلام قرینا باندې اکتفاء کړې وه ځکه چې د دخول نار نه پس به څوک د چا معاون نه وی ـ

قوله: لتکون للشیطان ولیا د آیت ظاهر مفهوم نه دا معلومیږی چې د شیطان سره ولایت په مس عذاب باندې مرتب دې یعنی د مس عذاب دوجې نه به د شیطان سره ولایت وی حالانکه حقیقت دا دې چې د شیطان سره دولایت دوجې نه مس عذاب وی؟ د دې شبهې جواب مفسرعلام د قریناً فی النار اضافه کولو سره ورکړو ـ

قوله: حفی صفت مشبه، ډیر مهربانه، په اکرام کښې مبالغه کونکې ـ

قوله: کلا د جعلنا مفعول اول دې تخصیص د پاره په فعل باندې مقدم کړې شوې دې ـ

[ایاتونه: ۵۱ - ۵۹]

{وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوسَىٰ إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا} بِكَسْرِ اللَّامِ وَفَتْحِهَا مِنْ أَخْلَصَ فِي عِبَادَتِهِ وخلصه الله من الدنس {وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا} {وَنَادَيْنَاهُ} بِقَوْلِ يَا مُوسَىٰ إِنِّي أَنَا اللَّهُ {مِن جَانِبِ الطُّورِ} اسْمُ جَبَلٍ {الْأَيْمَنِ} أَيِ الَّذِي يَلِي يَمِينَ مُوسَىٰ حِينَ أَقْبَلَ مِنْ مَدْيَنَ {وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا} مُنَاجِيًا بِأَنْ أَسْمَعَهُ اللَّهُ تعالى كلامه {وَوَهَبْنَا لَهُ مِن رَّحْمَتِنَا} نِعْمَتِنَا {أَخَاهُ هَارُونَ} بَدَلٌ أَوْ عَطْفُ بَيَانٍ {نَبِيًّا} حَالٌ هِيَ الْمَقْصُودَةُ بِالْهِبَةِ إِجَابَةً لِسُؤَالِهِ أَنْ يُرْسِلَ أَخَاهُ مَعَهُ وَكَانَ أَسَنَّ مِنْهُ {وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ} لَمْ يَعِدْ شَيْئًا إِلَّا وَفَّى بِهِ وَانْتَظَرَ مَنْ وَعَدَهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ أَوْ حَوْلًا حَتَّىٰ رَجَعَ إِلَيْهِ فِي مَكَانِهِ {وَكَانَ رَسُولًا} إِلَىٰ جُرْهُمَ {نَّبِيًّا} {وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ} أَيْ قَوْمَهُ {بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا} أَصْلُهُ مَرْضُوُوٌ قُلِبَتِ الْوَاوَانِ يَاءَيْنِ وَالضَّمَّةُ كَسْرَةً {وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ} هُوَ جَدُّ أَبِي نُوحٍ {إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا} {وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا} هُوَ حَيٌّ فِي السَّمَاءِ الرَّابِعَةِ أَوِ السَّادِسَةِ أَوِ السَّابِعَةِ أَوْ فِي الْجَنَّةِ أُدْخِلَهَا بَعْدَ أَنْ أُذِيقَ الْمَوْتَ وَأُحْيِيَ وَلَمْ يَخْرُجْ مِنْهَا {أُولَٰئِكَ} مُبْتَدَأٌ {الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم} صِفَةٌ لَهُ {مِّنَ النَّبِيِّينَ} بَيَانٌ لَهُ وَهُوَ فِي مَعْنَى الصِّفَةِ وَمَا بَعْدَهُ إِلَىٰ جُمْلَةِ الشَّرْطِ صِفَةٌ لِلنَّبِيِّينَ فَقَوْلُهُ {مِن ذُرِّيَّةِ آدَمَ} أَيْ إِدْرِيسَ {وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ} فِي السَّفِينَةِ أَيْ إِبْرَاهِيمَ ابْنِ ابْنِهِ سَامٍ {وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ} أَيْ إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ {وَ} مِنْ ذُرِّيَّةِ {إِسْرَائِيلَ} هُوَ يَعْقُوبُ أَيْ مُوسَىٰ وَهَارُونَ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ {وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا} أي من جملتهم وخبر أولئك {إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا} جَمْعُ سَاجِدٍ وَبَاكٍ أَيْ فَكُونُوا مِثْلَهُمْ وَأَصْلُ بُكِيٍّ بُكُويٌ قُلِبَتِ الْوَاوُ يَاءً وَالضَّمَّةُ كَسْرَةً {فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ} بِتَرْكِهَا كَالْيَهُودِ وَالنَّصَارَىٰ {وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ} مِنَ الْمَعَاصِي {فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا} هُوَ وَادٍ فِي جَهَنَّمَ أَيْ يَقَعُونَ فِيهِ

ترجمه: او په کتاب کښې مذکور د موسی علیه الصلاة والسلام ذکر اوکړئ هغه بیشکه لوی مخلص چونړ کړې شوې بنده وو په کسرې د لام اوپه فتحې د لام سره مخلص من اخلص فی عبادته ته وائی او مخلص من اخلصه الله من الدنس ته وائی (یعنی الله تعالی هغوی

د هر قسمه خامیانو نه پاک کړی وو) هغه نبی مرسل وو او مونږ موسی ته د کوه طور بنی طرف نه
یاموسی انی انا الله وئیلو سره اواز اوکړو طور دغرنوم دې یعنی د موسی علیه الصلاة والسلام
د هغه جانب نه (اوبللو) کوم چې د مدین نه دراتللو په وخت کښې بنی طرف ته راغی
او مونږ هغه لره دخپلې راز دارانه گفتگو د پاره خپل مقرب جوړ کړو په داسې طریقه باندې چې
الله تعالی هغه ته خپل کلام واورولو او مونږه هغه لره دخپل رحمت نعمت په سبب د هغه
رور هارون نبی جوړ کړو (هارون اخاه) نه بدل یا عطف بیان دې نماد (هارون) نه حال دی
اود وهبنا نه هم عطاء نبوت مراددې د موسی علیه الصلاة والسلام دغه درخواست
قبلولو سره هغه رور (هارون) لره نبی جوړ کړو او هارون علیه الصلاة والسلام د موسی علیه
الصلاة والسلام نه مشرو۔ او په کتاب کښې مذکور د اسماعیل علیه الصلاة والسلام هم
ذکر اوکړئ بیشکه هغه دوعدې ډیر رښتونې وو هغوی کومه وعده داسې نه ده کړې چې د هغې
پوراوالې ئې نه وی کړې او کوم سړی سره ئې چې (دانتظار) وعده کړې وه د هغه دری
ورځو یا تریو کاله پورې (هم هغه ځائې کښې) انتظار کړې وو تر دې پورې چې هغه سړی
کوم سره چې د انتظار وعده کړې وه د هغوی دانتظار ځائې ته واپس راغلو او هغه د جرهم
طرف ته نبی لیږلې شوې وو او هغه خپل اهل یعنی خپل قوم لره (برابر) د مونځ او دزکوٰة حکم
ورکولو او هغه دخپل پروردگار په نزد خوښ شوې وو د مرضی اصل مرضوو و، دواړه واوونه په ی
سره بدل کړې شو او ضمه کسرې سره بدله کړې شوه و او په دې کتاب کښې د ادریس هم
ذکر اوکړه هغه دنوح علیه الصلاة والسلام دپلار نیکه وو بیشکه هغه ډیر راستې والا نبی وو
او مونږه هغه اوچت مقام ته اورسولو، هغه څلورم یا شپږم یا اوم اسمان یا جنت کښې ژوندی
دې او هغه دمرگ مزه څکلو نه پس جنت کښې داخل کړې شو اوژوندې کړې شو او هغه
دجنت نه دې وتلې اولئک مبتدأ ده هم دادی هغه خلق په کوم چې الله تعالی (خاص انعام)
فرمائیلې دې الذین انعم الله علیهم من النبیین نه واخله ترجمله شرطیه پورې دنبیین صفت
دې (او دا منعم علیهم) د آدم علیه الصلاة والسلام دنسل نه دی یعنی د ادریس علیه الصلاة
والسلام او په دوی کښې بعضې د هغه خلقو دنسل نه دی کوم لره چې مونږه دنوح علیه الصلاة
والسلام سره په کشتې کښې سواره کړی وو یعنی ابراهیم علیه الصلاة والسلام دحضرت
نوح علیه الصلاة والسلام دځوې سام دنسل نه دې او بعضې په دوی کښې دابراهیم علیه
الصلاة والسلام دنسل نه دی یعنی اسماعیل او اسحاق او یعقوب علیهم السلام بعضې
د اسرائیل دنسل نه دی او هغه یعقوب دې موسی او هارون او زکریا او یحیی او عیسی دی
او داټول (حضرات) د هغه خلقو نه وو کوم ته چې مونږه هدایت فرمائیلې وو او مقبول کړی مونږ
یعنی منجمله هدایت یافته مقبول خلقو نه دی اود اولئک خبر اذاتتلی علیهم الخ دې مبتدا د ساجد

اوبکیاد باك جمعه ده (ددغه حضراتو دا کفیت ووچې) کله به دهغوی په وړاندې د رحمن آیاتونه لوستلې شو نوهغوی سجده کونکی ژړیدونکی (په زمکه) باندې غورزیدل لهذا اې (اهل مکه) تاسوهم دهغوی پشان شی او د بکی اصل بکوی وو واؤ په ی سره اوضمه په کسرې سره بدله شوه پیادهغوی نه پس داسې ناخلف پیداشول چې هغوی مونځ پریخودلو سره ضائع کړو څنګه چې یهودو اونصاری په معصیت کښې دخواهشاتو اتباع اوکړو داخلق به عنقریب خرابی اوګوری (غیا) په جهنم کښې دیوې وادې نوم دې یعنی په هغې کښې به غورزیږی۔

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: واذکر فی الکتاب د موسی عطف په واذکر فی الکتاب مریم باندې عطف قصه علی القصه دې، سورة مریم کښې دلسو انبیاؤ علیهم السلام اسماء مذکور دی او الله تعالی دهریوځه اوصاف اومناقب بیان فرمائیلی دی په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې دانبیاء علیهم السلام توقیراوتعظیم لازم دې، آسماء مذکوره دا دی ① زکریا ② یحیٰی ③ ابراهیم ④ عیسیٰ⑤ اسحٰق ⑥ یعقوب ⑦اسماعیل ⑧ موسیٰ ⑨ هارون ⑩ادریس علیهم السلام۔

مخلصا ای موحدا اخلص عبادته عن الشرك (دافعال) نه اسم فاعل یا داسم مفعول صیغه ده ای اخلصه الله تعالی واختاره وجعله مختارا.

قوله: الدنس ګندګی (ج) ادناس.

قوله: وکان رسولا نبیا رسولا د کان خبر اول دې اونبیا خبر ثانی دې، درسول لغوی معنی مراد ده اودنبی اصطلاحی، په رسولا نبیا کښې مناسب داووچې عام لره ئې مقدم اوخاص لره ئې مؤخر ذکرکړې وې خو دفواصلو درعایت دوجې نه ئې عکس اوکړو، څنګه چې په سورة طٰهٰ کښې رب هارون وموسیٰ دې، اوبعضې حضراتو درسول نه اصطلاحی معنی اودنبی نه لغوی معنی مراد اخستې ده یعنی عالی مرتبه رسول، په دې وخت کښې به نبی دنبوة نه مشتق وی چې معنی ئې رفعت او اوچتوالې دې۔

قوله: الطور د مدین او دمصر په مینځ کښې مشهور غردې دکوم نوم چې جبل زبیر هم دې۔

قوله: ایمن که د یمین نه مشتق وی نو ددې معنی ده ښی۔

قوله: نجیا د قربنا دمفعول یادفاعل دضمیرنه حال دې اوالایمن دجانب صفت دې ددې وجې نه په اعراب کښې ددې تابع دې بعضې حضراتو وئیلی دی چې الایمن د یمن نه مشتق دې نوپه دې صورت کښې دطور صفت واقع کیدې شی یعنی د مبارک غر د طرف نه موسیٰ ته ندا اوکړه وهبنا (ف) عطا کړو۔

قوله: من رحمتنا کښې من تعليليه دې ای من اجل رحمتنا اخاه به په دې صورت کښې د وهبنا مفعول به وی، او هارون، به د اخاه نه بدل وی یا به عطف بیان وی یا به د اعنی محذوف دوجې نه منصوب وی نبیا دهارون نه حال دې جرهم دیمن یوه قبیله وه کومه چې داوبو سهولت لیدلو دوجې نه په وادی مکه کښې د حضرت هاجره خوا مقیم شوی وه، او حضرت اسماعیل علیه الصلاة والسلاة چې ځوان شونو دغه قبیله کښې ئې واده اوکړو، د ادریس علیه الصلاة والسلاة نوم اخنوخ دې او دې دنوح علیه الصلاة والسلاة جدامجد دې۔

قوله: رفعنا بعضې مفسرینو وئیلی دی چې د رفع نه مراد شرف نبوت دوجې نه مرتبه ده او بعضې حضراتو وئیلی دی چې رفع اسمانی مراد ده څنګه چې د مفسر علام هم دا خیال دې.

قوله: خلف په سکون د لام سره ناخلف (نالائق) د پاره او په فتحې د لام سره د لائق اخلاف د پاره استعمالیږی۔

قوله: یلقون مضارع جمع مذکر غائب (س) غورزیږی به، ملاقات به کوی۔

قوله: غیا اسم فعل، ګمراهی، عذاب۔

[ایاتونه: ۶۰-۶۵]

(إِلَّا) لَكِنْ (مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ) يَنْقُصُونَ (شَيْئًا) مِن ثوابهم (جَنَّاتِ عَدْنٍ) إقَامَة بَدَل مِنَ الْجَنَّة (الَّتِي وَعَدَ الرَّحْمَنُ عِبَادَهُ بِالْغَيْبِ) حال أَيْ غَائِبِينَ عَنْهَا (إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ) أَيْ مَوْعُوده (مَأْتِيًّا) بِمَعْنَى آتِيًا وَأَصْله مَأْتُوي أَوْ مَوْعُوده هُنَا الْجَنَّة يَأْتِيه أَهْله (لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا) مِنَ الْكَلَام (إِلَّا) لَكِنْ يَسْمَعُونَ (سَلَامًا) مِنَ الْمَلَائِكَة عَلَيْهِمْ أَوْ مِنْ بَعْضهمْ عَلَى بَعْض (وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا) أَيْ عَلَى قَدْرهمَا فِي الدُّنْيَا وَلَيْسَ فِي الْجَنَّة نَهَار وَلَا لَيْل بَلْ ضَوْء وَنُور أَبَدًا (تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ) نُعْطِي وَنُنْزِل (مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا) بِطَاعَتِهِ وَنَزَلَ لَمَّا تَأَخَّرَ الْوَحْي أَيَّامًا وَقَالَ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِجِبْرِيل مَا يَمْنَعك أَنْ تَزُورنَا أَكْثَر مِمَّا تَزُورنَا (وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا) أَيْ أَمَامنَا مِنْ أُمُور الْآخِرَة (وَمَا خَلْفَنَا) مِنْ أُمُور الدُّنْيَا (وَمَا بَيْنَ ذَلِكَ) أَيْ مَا يَكُون فِي هَذَا الْوَقْت إِلَى قِيَام السَّاعَة أَيْ لَهُ عِلْم ذَلِكَ جَمِيعه (وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا) بِمَعْنَى نَاسِيًا أَيْ تَارِكًا لَك بِتَأْخِيرِ الْوَحْي عَنْك هُوَ (رَبُّ) مَالِك (السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ) أَيْ اصْبِرْ عَلَيْهَا (هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا) مُسَمًّى بِذَلِكَ

ترجمه: (عنقریب خرابی به اوګوری) اَو خو چا چې توبه اوویستله او ایمان ئې راوړو او نیک عمل ئې اوکړې نو دا خلق به جنت ته ځی او ددوی به ذره هم نقصان نه کیږی یعنی د دوی اجر او ثواب کښې به (د ذره برابر) کمې نه کیږی جنت عدن د همیشه د قیام جنت جنت عدن، الجنة نه بدل دې هغه جنت د کوم چې رحمن د خپلو بندګانو سره وعده کړې ده بالغیب حال دې یعنی حال دا دې

چې هغه بندګانو دغه جنت لیدلې هم نه دې اودهغې موعود (وعده کړې شوې ځیز) ته به دغه خلق ضرورپه جنت کښې ورورسیږی ماتیا په معنی دآتیا دې ددې اصل ماتوی ورياددې موعود بها، جنت دې یعنی دجنت مستحق په دې کښې داخليږی اودغه خلق به جنت کښې فضول خبرې نه اوری البته ځان دپاسه به دفرښتوپه خپل مینځ کښې کلام اوری دوی ته به په جنت کښې سحراو مابنام خوراک ملاوېږی یعنی ددنیا دعادت مطابق به په جنت کښې لیل اونهار نه وی بلکه همیشه به رڼړه اونوروی دا داسې جنت دې چې مونږ به خپلو بندګانو کښې ددې داسې کس مالک جوړ کړو یعنی عطا به ئې کړو او(په دې کښې) به ئې نازل لړه کوم چې متقی وی دده داطاعت په ذریعه باندې اوچې کله وحی لږه متآخره شوه اوحضور ﷺ حضرت جبرائیل علیه الصلاة والسلاۃ ته اوفرمائیل چې څه ځیزمانع دې ددې خبرې چې ته زمونږ ددې نه زیات ملاقات اوکړې ځومره چې ته کوې (نو اوفرمائیل ئې) مونږ ستادرب دحکم نه بغیرنه شو راکوزیدې زمونږ مخکې امور د آخرت اوروستو امور د دنیا اوددې په مینځ کښې یعنی هغه امورکوم چې به هغه وخت په قیامت کښې کیږی هم دهغه په ملک کښې دی یعنی ددغه ټولو امورو هم هغه ته علم دې اوستاپروردګارهیرونکې نه دې نسیا په معنی د ناسیا یعنی دوحی دتاخیردوجې نه تاله پریخودونکې نه دې هغه رب مالک دې داسمانونو اودزمکو اوڅه چې ددې په مینځ کښې دی لهذا ته هم دهغه بندګی کوه اوهم دهغه په عبادت باندې کلک اوسیږه آیاستاپه علم کښې دهغه بل څوک هم نامې شته دې ـ (همسر)؟ نشته ـ

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: لکن دالا تفسیرپه لکن سره کولوکښې ئې اشاره اوکړه چې دامستثنی منقطع ده ځکه چې مستثنی، دمستثنی منه دجنس نه نه ده ځکه چې مستثنی منه کافرین دی اومستثنی منه مؤمنین دی کان وعده ای موعوده اوهغه موعودجنت دې ماتیا ای یاتیه ویدخله منه وعدله بها لامحالة په دې صورت کښې به ماتیا داتیان نه اسم مفعول وی یا ماتیا په معنی داسم فاعل ای آتیا البته وعد اسم مصدرهم دې په معنی دوعدې اومصدرهم دې یعنی وعده کول مفسرعلام د اوموعوده اضافه کولوسره دویم تفسیرطرف ته اشاره کړې ده د موعوده نه به ماوعد به یعنی جنت مرادوی په دې صورت کښې به ماتیا په خپل حالت باندې وی اوکه وعدپه خپلې مصدری معنی کښې نو وی ماتیا به په معنی دآتیا وی، په اول صورت کښې به ترجمه داوی دجنت مستحقین چاسره چې رحمن وعده کړې ده هغوی به جنت ته خامخا داخليږی اوپه دویم صورت کښې به معنی داوی الله تعالی چه د خپلوبندګانو سره کومه وعده کړې ده هغه به خامخا راځی ـ

[ایاتونه: ۶۶-۷۵]

لا (ويقول الإنسان) المنكر للبعث ابي بن خلف أو الوليد بن المغيرة النازل فيه الآية (أإذا) بتحقيق الهمزة الثانية وتسهيلها وإدخال ألف بينها بوجهيها وبين الأخرى (مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا) من القبر كما يقول محمد فالاستفهام بمعنى النفي اي لا أحيا بعد الموت وما زائدة للتأكيد وكذا اللام ورد عليه بقوله تعالى (أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنسَانُ) اصله يتذكر أبدلت التاء ذالا وأدغمت في الذال وفي قراءة تركها وسكون الذال وضم الكاف (أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْئًا) فيستدل بالابتداء على الإعادة (فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ) اي المنكرين للبعث (وَالشَّيَاطِينَ) اي نجمع كلا منهم وشيطانه في سلسلة (ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ) من خارجها (جِثِيًّا) على الركب جمع جاثٍ وأصله جثوو أو جثوي من جثا يجثو او يجثي لغتان (ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ) فرقة منهم (أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا) جراءة (ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِالَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا) احق بجهنم الأشد وغيره منهم (صِلِيًّا) دخولا واحتراقا فنبدأ بهم وأصله صلوي من صلي بكسر اللام وفتحها (وَإِن) اي ما (مِّنكُمْ) احد (إِلَّا وَارِدُهَا) اي داخل جهنم (كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا) حتمه وقضى به لا يتركه (ثُمَّ نُنَجِّي) مشددا ومخففا (الَّذِينَ اتَّقَوا) الشرك والكفر منها (وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ) بالشرك والكفر (فِيهَا جِثِيًّا) على الركب (وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ) اي المؤمنين والكافرين (آيَاتُنَا) من القرآن (بَيِّنَاتٍ) واضحات حال (قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ) نحن وأنتم (خَيْرٌ مَّقَامًا) منزلا ومسكنا بالفتح من قام وبالضم من أقام (وَأَحْسَنُ نَدِيًّا) بمعنى النادي وهو مجتمع القوم يتحدثون فيه يعنون نحن فنكون خيرا منكم قال تعالى (وَكَمْ) اي كثيرا (أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ) اي أمة من الأمم الماضية (هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا) مالا ومتاعا (ورءيا) منظرا من الرؤية فكما أهلكناهم لكفرهم نهلك هؤلاء (قُلْ مَن كَانَ فِي الضَّلَالَةِ) شرط جوابه (فَلْيَمْدُدْ) بمعنى الخبر اي يمد (لَهُ الرَّحْمَٰنُ مَدًّا) في الدنيا يستدرجه (حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ إِمَّا الْعَذَابَ) كالقتل والأسر (وَإِمَّا السَّاعَةَ) المشتملة على جهنم فيدخلونها (فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا) أعوانا أهم أم المؤمنون وجندهم الشياطين وجند المؤمنين عليهم الملائكة

ترجمه: او انسان وائی کوم چې دبعث بعد الموت منکردی یعنی ابی بن خلف یا ولیدبن مغیره دچاپه باره کښې چې داآیت نازل شوې دې چې آیاکله چې دهمزه ثانی تحقیق اوتسهیل سره او د همزه ثانی او د اول همزه په مینځ کښې الف داخلولو سره په دواړوصورتونوکښې (یعنی دتسهیل اودتحقیق په صورت کښې) زه مړشمه نوبیابه ژوندې کیدوسره دقبرنه راوباسلې کیږم څنګه چې محمد ﷺ وائی استفهام دنفی په معنی کښې دې (یعنی ءَاذاکښې استفهام انکاری دې) یعنی دمرګ نه پس به ژوندې نشم ما او لام دتاکیددپاره زائد دی (ددغه انسان کافردقول جواب) دالله تعالی قول اولایذکر(الایة) سره ورکړې شوې دې آیا دا انسان دومره هم یادنه ساتی یذکرپه اصل کښې یتذکروو تاء په ذال سره

بدله کړې شوه اوذال په ذال کښې ادغام کړې شواوپه يوقرا ت کښې په ترک د تاء اوپه سکون دذال اودکاف په ضمې سره هم دې چې مونږه دې ددې نه مخکې پيدا کړې دې حالانکه هغه څه هم نه وو چې دابتداء نه په اعادې باندې استدلال اوکړى ستادپروردګار قسم چې مونږه به دغه يعنى منکرين دبعث لره اوشياطينولره به خامخا راجمع کړو يعنى په دوى کښې به هريولره د هغه شيطان به په يوزنځيرکښې راجمع کړو بيا به دوى لره په دوزخ کښې دبهرنه په زنګونانو باندې پريوتلى حاضرکړو بيابه دکافرانو د هرې ډلې نه هغه خلق جدا کړو کوم چې درحمن په مقابله کښې دټولونه زيات سخت دى په سرکشۍ يعنى دجرات په اعتبار سره بيامونږ داسې خلق ښه پيژنو کوم چې دجهنم مستحق دى ددخول په اعتبارسره او د سوزيدو په اعتبارسره يعنى دجهنم زيات مستحق دى، په سرکشې کښې اشدا وغيراشدښه پيژنو، لهذامونږ به هم د دې (اشد) خلقونه ابتداء اوکړو او صليا په اصل کښې صلوى وو داصلى بکسراللام يا صلى بفتح اللام نه ماخوذدې اوپه تاسوکښې داسې څوک نشته چې دهغه په دې باندې تيريدل نه وى يعنى داخل جهنم نه وى داستادپروردګارپه ذمه قطعى فيصله شوې امردې کوم لره چې هغه لازم کړې دې اودهغې فيصله ئې کړې ده هغه به ترک کوى نه نغى دجيم په تشديد اوتخفيف دواړوسره بيابه مونږ دکفراوشرک نه ځان ساتونکولره بچ کړو او ظالمانو لره يعنى شرک اوکفرکونکولره به په جهنم کښې په زنګونا و باندې غورزيدلى پريږدواوچې کله هغوى ته يعنى مؤمنين اوکافرين ته زمونږه قرآنى روښانه آياتونه لوستلوسره واؤرولې شى نوکافران مؤمنانوته وائى په دواړوډلوکښې کومه ډله د مرتبې يعنى د منزل اومسکن په اعتبار سره بهتره ده زمونږه که ستاسو که مقاما دميم په فتح سره وى نو د قام نه به مشتق وى اوکه په ضمې دميم سره وى نود اقام نه به مشتق وى اودچامجلس شانداردې ندى دنادى په معنى کښې دې نادى چوپال (دارالمشوره) ته وائى چرته چې خلق جمع کيږى اوخبرې اترې کوى (احسن نديا) نه مرادخپل ځان اخلى لهذا مونږ ستاسو نه بهتريو (الله تعالى) ددې جواب ورکولو سره فرمائى اومونږ ددوى نه وړاندې تيرشوى قومونو نه ډيرقومونه هلاک کړى دى کوم چې د ساز او سامان اود نام نمود (شان اوشوکت) په اعتبار سره (ددوى نه) بهتروو کله چې مونږه هغوى لره دهغوى دکفرپه وجه باندې هلاک کړل نودوى به هم هلاک کړو تاسوورته اووائې چې کوم خلق په ګمراهۍ کښې پراته دى (من کان) شرط دې اوددې جواب فليمدد (صيغه دامرده) کوم چې په معنى خبر دې يعنى د يمد له معنى دې يعنى رحمٰن ددوى رسۍ سسته کوى يعنى په دنياکښې دوى ته ښه ډهيل (مهلت) ورکوى، تردې پورې چې کله هغوى هغه څيزاوګورى دکوم چې دوى سره وعده کړې شوې ده ياخوعذاب، لکه قتل اوقيد، ياقيامت کوم به چې په دوزخ باندې مشتمل وى نوپه هغې کښې به داخليږى،

نودوی ته به دیر زرمعلومه شی چې دچاتهکانه بده ده، او د چا مددګاران کمزوری دي، دوی یا مومنان، د دوی لښکرشیطان دي، او د دوی په مقابله کښې د مؤمنانو لښکر فرښتې دي.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ویقول الانسان د دې تفسیر په المنکرللبعث سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې دانسان نه مخصوص کس مراددې اوهغه ابی ابن خلف یا ولید بن مغیره دې۔

قوله: ءَإِذا مامِتُّ مازائده ده مت واحدمتکلم ماضی معروف ده مصدر موت دې د حرف شرط دوجې نه دمستقبل په معنی کښې دې۔

قوله: لسوف کښې لام زائده دې الانسان کښې الف لام دعهددې، څنګه چې مفسرعلام اشاره کړې ده۔

قوله: ءَإِذا، دا أخرج ظرف مقدم کیدودوجې نه منصوب دې۔

سوال: دلام تاکید مابعدپه ماقبل کښې عمل نه کوی نودلته به أخرج څنګه عمل اوکړی۔

جواب: داقاعده د لام ابتداء دپاره ده اودالام زائده دې۔

سوال: کوم لام چې په مضارع باندې داخلیږی هغه مضارع لره دحال معنی ته اوړی اوسوف مضارع لره داستقبال معنی سره خاص کوی، ددواړوپه مقتضی کښې تعارض دې؟

جواب: دا لام محض دتاکیددپاره دې تخصیص مضارع للحال د معنی نه مجرد دې لهذا اوس څه اعتراض نشته۔ (روح البیان)

بعضې مفسرینو حضراتوونیلی دی چې ءَإِذا کښې ابعث فعل محذوف عامل دې په کوم باندې چې أخرج دلالت کوی څکه چې د أخرج ظرف جوړول صحیح نه دی۔

قوله: لم یک په اصل کښې لم یکن وونون دکثرت استعمال دوجې نه حذف کړې شو۔

قوله: شیعة ډله، جماعت، حمایتی، طرفدار (ج) شیع په دې کښې واحد تثنیه جمع ټول برابردی۔

قوله: جثیا دا د جاثٍ جمع ده دویرې دوجې نه په زنګونانو باندې غورزیدونکې اوابن عباس رضی الله عنه فرمائیلی دی چې جثیا د جثوة جمع ده، مفسرعلام د واردها تفسیرپه داخل جهنم سره کولوکښې اشاره اوکړه چې وارد په مختلفومعنوکښې استعمالیږی بعضودې معنی حضور اوبعضوعبور اوبعضو دخول اوبعضومرور مراد اخستې ده مفسرعلام ددخول معنی ته ترجیح ورکړې ده، لهذا داتفسیر دتعیینِ معنی دپاره دې۔

قوله: ایهم اسم موصول، ددې صدرصله محذوف ده ای هواشد ایهم اسم موصول په معنی د الذی داضافت دوجې نه مبنی برضمه دې ددې صدر صله محذوف ده ای هواشد هو مبتدأ

اشد خبر مبتدأ سره دخبرنه صله دموصول، موصول سره دصلې نه مفعول دننزعن، عتيا تميز منقول دې دمبتدأ محذوفه نه اى عتوه اشد.

قوله: عتيا سركشي كول، دعتيا عتوا مصدر دې داپه اصل كښې عتووضمه په كسره سره بدله كړې شوه نو واؤ شو عتيا شو بيا دعين ضمه هم په كسره سره بدله شوه دې دپاره چې دتبديلې بنه تاكيد اوشى دغه شان عتيا شو. (لغات القرآن)

اوبعضې حضراتو عتيا دعات جمع گرځولې ده يعنى سركشي كونكې.

قوله: صليا داپه اصل كښې دصلى يصلى مصدر سماعى دې، داخليدل.

قوله: وارد: رسيدو والا، مراد ترې نه په پل صراط باندې تيريدل دې شارح مسلم علامه نووى هم دې ته ترجيح وركړې ده.

قوله: نذر اى نترك.

[اياتونه: ۷۶-۸۲]

(وَيَزِيدُ اللّٰهُ الَّذِينَ اهْتَدَوْا) بِالْإِيمَانِ (هُدًى) بِمَا يُنْزِلُ عَلَيْهِمْ مِنَ الْآيَاتِ (وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ) هِيَ الطَّاعَةُ تَبْقَى لِصَاحِبِهَا (خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ مَرَدًّا) أَيْ مَا يُرَدُّ إِلَيْهِ وَيَرْجِعُ بِخِلَافِ أَعْمَالِ الْكُفَّارِ وَالْخَيْرِيَّةُ هُنَا فِي مُقَابَلَةِ قَوْلِهِمْ أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَقَامًا (أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا) الْعَاصِي بْنِ وَائِلٍ (وَقَالَ) لِخَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ الْقَائِلِ لَهُ تُبْعَثُ بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْمُطَالِبِ لَهُ بِمَالٍ (لَأُوتَيَنَّ) عَلَى تَقْدِيرِ الْبَعْثِ (مَالًا وَوَلَدًا) فَاقْضِيكَ قَالَ تَعَالَى (أَطَّلَعَ الْغَيْبَ) أَيْ أَعَلِمَهُ وَأَنْ يُؤْتَى مَا قَالَهُ وَاسْتُغْنِيَ بِهَمْزَةِ الْاِسْتِفْهَامِ عَنْ هَمْزَةِ الْوَصْلِ فَحُذِفَتْ (أَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا) بِأَنْ يُؤْتَى مَا قَالَهُ (كَلَّا) أَيْ لَا يُؤْتَى ذٰلِكَ (سَنَكْتُبُ) نَأْمُرُ بِكَتْبِ (مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا) نَزِيدُهُ بِذٰلِكَ عَذَابًا فَوْقَ عَذَابِ كُفْرِهِ (وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ) مِنَ الْمَالِ وَالْوَلَدِ (وَيَأْتِينَا) يَوْمَ الْقِيَامَةِ (فَرْدًا) لَا مَالَ لَهُ وَلَا وَلَدَ (وَاتَّخَذُوا) أَيْ كُفَّارُ مَكَّةَ (مِنْ دُونِ اللّٰهِ) الْأَوْثَانَ (آلِهَةً) يَعْبُدُونَهُمْ (لِيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا) شُفَعَاءَ عِنْدَ اللّٰهِ بِأَنْ لَا يُعَذَّبُوا (كَلَّا) أَيْ لَا مَانِعَ مِنْ عَذَابِهِمْ (سَيَكْفُرُونَ) أَيِ الْآلِهَةُ (بِعِبَادَتِهِمْ) أَيْ يَنْفُونَهَا كَمَا فِي آيَةٍ أُخْرَى (مَا كَانُوا إِيَّانَا يَعْبُدُونَ) (وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا) أَعْوَانًا وَأَعْدَاءً

ترجمه: او د هدايت والا خلقو په هدايت كښې الله پاك زياتوالې كوى د هغه آياتونو په ذريعه كوم چه په دوى باندې نازلوى، اوباقى پاتې كيدونكې نيكئ نو هغه خو طاعات دى چه د طاعت كونكو دپاره باقى پاتې كيږى ستا درب په نزد دثواب په لحاظ سره دټولو نه بهتر دى يعنى هغه ثواب او اجر چه كوم دوى ته حاصليږى هغه بهتر دې په خلاف دكافرانو داعمالو او دلته د اسم تفضيل (دخير) استعمال ددوى د قول اى الفريقين خير مقاما په مقابله كښې شوې دې آيا تا هغه سړې هم ليدلې دې؟ چه هغه زمونږ دآيتونو نه كفر كړې دې اوهغه عاص بن وائل دې چا ته چه (حضرت) خباب بن ارت وئيلى وو چه ته دمرگ نه پس

(ژوندي کړي شي) پورته کولې به شي او دخباب بن ارت دعاص بن وائل په ذمه (څه) مالي مطالبه وه نو عاص بن وائل د (تقاضي) په جواب کښي اوئيل چه دبعث بعدالموت په صورت کښي به ماته مال او اولاد ضرور راکولې شي نو په هغه وخت به زه ستا مطالبه اداکړم، الله پاک په جواب کښي اوفرمائيل آيا دا (سړې) په غيبو باندې خبرشوې دې؟ يا ده ته ښودل شوی دی چه څه ده اوئيل ده ته به ورکولې شي اودهمزهٔ استفهام دوجې نه دهمزه وصل ضروت پاتې نشو نو حذف کړې شوه، يا ده دالله پاک نه څه وعده اخستې ده داچه څه ده اوئيل هغه به ده ته ورکولې شي داسې هر گز نه ده يعنی دا به ده ته نه شي ورکولې دا چه څه هم وائي مونږ دا ضرور ليکو يعنی (ملائکو) ته ددې دليکلو حکم ورکوو اود ده دپاره عذاب زياتوو يعنی مونږ به د ده دکفر په عذاب باندې دده (د دې) خبرو دعذاب زياتوالې اوکړو اودکومو څيزونو يعنی د مال او اولاد په باره کښي چه څه وائي هغه مونږ دده (دمرگ) نه پس واخلو اودقيامت په ورځ به مونږ ته يواځې راځی نه به دده سره مال وی او نه اولاد او دغه دمکې کافرانو الله پاک پريښودې دې او بتان ئې معبودان جوړکړی دی چه دهغوی دوی بندگی کوی دې دپاره چه هغوی دوی ته دعزت باعث وی يعنی هغه (بتان الله پاک ته سفارش اوکړی چه دوی ته عذاب ورنه کړې شي خو هرگز داسې نه شي کيدې يعنی دوی ته دعذاب ورکولو نه هيڅ څيز مانع نه شي کيدې هغه معبودان (باطله) د دوی دعبادت نه به هم منکر شي يعنی دهغوی دعبادت نه به انکار اوکړی لکه چه په يو بل آيت کښي اوفرمائيل ماکانو ايانا يعبدون دې خلقو زمونږ عبادت هډو کړې نه دې او (اولټه به) ددوی مخالف او دشمنان شي.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: ويزيد ددې عطف په فليمد د باندې دې دمعنی په اعتبار سره اى يمد ويزيد الله الذين الخ جمله مستانفه هم کيدې شی په افرأيت کښي استفهام تعجبی دې.

قوله: العاص بن وائل عاص بن وائل د فاتح دمصر دحضرت عمرو پلار دې اود عمرو د عبدالله پلار دې کوم چه دڅلورو عبادلهٔ نه دې ترتيب دا رنگې دې، عبد الله بن عمرو بن عاص بن وائل .خباب بن ارت بدری دې او په غريبانو صحابو کښي دې اوتين دايتاء نه دفعل مضارع واحد متکلم مجهول بانون تاکيد ثقيله دې،ماته به ضرور ملاويږی لام قسميه دې اى والله لاوتين اطلع الغيب په اصل کښي أأطلع وو په دې کښي اول همزه استفهام او دويمه همزه وصل ده همزه وصل تحفيفا حذف کړې شوه .

قوله: كلا دنحويانو په دې کښي شپږ اقوال دی خو راجح دادې چه دا حرف زجر او ردع دې په قرآن کښي ددې کلمې استعمال په درې ديرشو ځايونو کښيې شوې دې او داټول په

دويم نيمانی (نصف ثاني) کښې دې سلکتب کښې سين دتاکيد دپاره دې.
قوله: ونرثه ما يقول أي نسلبه وناخذه منه يعني په کوم مال او اولاد باندې چه فخر کوی مونږ به دا سلب کړو اود دنيا نه به هغه خالی لاسونه لاړشی واتخذوا الاوثان د اتخذوا مفعول اول دې او الهة مفعول ثانی دې ضدا په معنی د أضدادادې يا مصدر په معنی د جمع دې

[اياتوله: ۸۲-۹۸]

(ألم تر أنا أرسلنا الشياطين) سلطانهم (على الكافرين تؤزهم) تهيجهم الى المعاصي (أزا) (فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ) بِطَلَبِ الْعَذَابِ (إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ) الأَيَّامَ وَاللَّيَالِيَ أَوْ الأَنْفَاسَ (عَدًّا) إِلَى وَقْتِ عَذَابِهِم اذكر (يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ) بِإِيمَانِهِمْ (إِلَى الرَّحْمَنِ وَفْدًا) جَمْعُ وَافِدٍ بِمَعْنَى رَاكِبٍ (وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ) بِكُفْرِهِمْ (إِلَى جَهَنَّمَ وِرْدًا) جَمْعُ وَارِدٍ بِمَعْنَى مَاشٍ عَطْشَانَ (لَا يَمْلِكُونَ) أَيْ النَّاسُ (الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَنِ عَهْدًا) أَيْ شَهَادَةَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ (وَقَالُوا) أَيْ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى وَمَنْ زَعَمَ أَنَّ الْمَلَائِكَةَ بَنَاتُ اللَّهِ (اتخذ الرحمن ولدا) قال تعالى لهم (لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا) أَيْ مُنْكَرًا عَظِيمًا (تكاد) بالتاء والياء (السماوات يَتَفَطَّرْنَ) بِالتَّاءِ وَتَشْدِيدِ الطَّاءِ بِالِانْشِقَاقِ وَفِي قِرَاءَةٍ بِالنُّونِ (مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا) أَيْ تَنْطَبِقُ عَلَيْهِمْ مِنْ أَجْلِ (أن دعوا للرحمن ولدا) قال تعالى (وَمَا يَنْبَغِي لِلرَّحْمَنِ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا) أَيْ مَا يَلِيقُ بِهِ ذَلِكَ (إن) اي ما (كل من في السماوات وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمَنِ عَبْدًا) ذَلِيلًا خَاضِعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْهُمْ عُزَيْرٌ وَعِيسَى (لَقَدْ أَحْصَاهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا) فَلَا يَخْفَى عَلَيْهِ مَبْلَغُ جَمِيعِهِمْ وَلَا وَاحِدٌ مِنْهُمْ (وَكُلُّهُمْ آتِيهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَرْدًا) بِلَا مَالٍ وَلَا نَصِيرٍ يمنعه (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَنُ وُدًّا) فِيمَا بَيْنَهُمْ يَتَوَادُّونَ وَيَتَحَابُّونَ وَيُحِبُّهُمْ اللَّهُ تَعَالَى (فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ) أَيْ الْقُرْآنَ (بِلِسَانِكَ) الْعَرَبِيِّ (لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ) الْفَائِزِينَ بِالْإِيمَانِ (وَتُنْذِرَ) تُخَوِّفَ (بِهِ قَوْمًا لُدًّا) جَمْعُ أَلَدَّ أَيْ جَدِلٍ بِالْبَاطِلِ وَهُمْ كُفَّارُ مَكَّةَ (وَكَمْ) أَيْ كَثِيرًا (أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْنٍ) أَيْ أُمَّةٍ مِنَ الْأُمَمِ الْمَاضِيَةِ بِتَكْذِيبِهِمْ الرُّسُلَ (هَلْ تُحِسُّ) تَجِدُ (مِنْهُمْ مِنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا) صَوْتًا خَفِيًّا لَا فَكَمَا أَهْلَكْنَا أُولَئِكَ نُهْلِكُ هَؤُلَاءِ

ترجمه: آيا تاته معلوم نه دی چه مونږ شيطانان په کافرانو باندې مسلط کړی دی څوک چه هغوی په معصيت باندې ښه تيزوی نو ته په دوی باندې په عذاب طلب کولو کښې جلتی مه کوه مونږ خو پخپله ددوی شپه اوورځ يا ساه دعذاب تر وخت پورې (مرګ پورې) شمار اوکړو، دهغې ورځې هم ياد ګيرنه اوکړه په کومه ورځ به چه مونږ متقيان ددوی دايمان په دولت (طور د) مليمانو سواره کړو او جمع به کړو وفد دوافد جمع ده په معنی دراکب (سور) ده او مجرمان د دوی دکفر په سبب دسختې تندې په حالت کښې ددوزخ په طرف اوشړو ورد دوارد جمع ده تږی پياده يو کس ته به دسفارش اختيار نه وی سواد هغه کس نه چا چه درحمن ذات نه اجازت اخستې وی (اود اجازت نه مراد) د شهادة ان لا اله الا الله ولا حول ولا قوة الا بالله اقرار دې او

يهودو او نصارې او هغه خلقو چه عقيده يې داده چه ملائکې دالله پاک لونړې دی اوئيل چه الله پاک اولاد لري الله پاک اوفرمائيل تاسو يقينا ډيره درنه يعنی ډيره ناخوښه خبره کړې ده تکاد په تاء اوياء سره دې، نزدې ده چه ددې خبرې (د نحوست) دوجې نه اسمان اوشليږی او زمکه ټکرې شی اوچوی او غرونه ريزه ريزه شی او پريوزی يعنی ددوی دپاسه پريوزی ددې وجې نه چه ددوی رحمن ذات لره اولاد ګرځولې دې ينفطرن په نون سره دې اوپه يو قراءت کښې يتفطرن تاء اوياء او طاء مشدده سره دې، الله پاک اوفرمائيل درحمن ذات دشان سره لائق نه دی چه اولاد اونيسی يعنی دا د هغه شان لائق نه دې په زمکو او اسمانو کښې چه څه هم دی ټول په ټوله به دالله پاک په حضور کښې بندګان جوړ شی اوحاضريدو والا دی يعنی ذليل اوخوار به شی دقيامت په ورځ او ددوی نه عزير اوعيسی هم دی ددې ټولو هغه احاطه کړې ده اوټول يې په پوره طريقه شمار کړی دی نونه خو دهغه نه د دوی مجموعی تعداد پټ دې او د دوی يو فرد اودا ټول په ټول به دهغه په حضور کښې دقيامت په ورځ يواځې حاضريږی دمال او مددګار نه بغير چه ددوی حفاظت اوکړې شی بيشک چاچه ايمان راوړو او نيک عملونه يې اوکړل الله پاک به ددوی په مينځ کښې محبت پيدا کړی دوی به په خپل مينځ کښې مينه اومحبت ساتی او الله پاک به هم ددوی سره محبت ساتی مونږ دغه قرآن ستا په عربئ ژبه کښې آسان کړې دې دې دپاره چه ته ددې په بدولت دجهنم نه ويريدونکو ته خوشخبری واوروې په يوه نسخه کښې لتبشر به المتقين الجنة الفائزين بالايمان، دې دپاره چه ته ددې قرآن په دولت دايمان په ذريعه کاميابيدونکو ته خوشخبری واوروې، اود جهګړې کونکې قوم ددې په ذريعه اوويروې لُد د الد جمع ده يعنی دباطل په ذريعه ډير زيات جهګړه کونکو لره، او هغه دمکې کافران دی او مونږ ددې نه مخکښې ډير امتونه هلاک کړی دی يعنی دتيرو شوو امتونو نه (ډير امتونه) درسولانو دتکذيب دوجې نه آيا ته په هغوی کښې ديو دخپو کشار اورې يا ددوی آواز بهنګار ستا په غوږلګی يعنی پټ آوازونه، نو مونږ چه څنګه هغوی هلاک کړل دوی به هم هلاک کړو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: تؤز مضارع واحد مؤنث غائب (ن) ازاتزول ازاء دتؤز مفعول مطلق دې الازفی الاصل الحركة مع صوت متصل مأخوذ من ازيز القدر ای غليانه والمراد تعجيب الرسول صلى الله عليه وسلم من اقاويل الكفرة. (روح البيان)

قوله: اوالانفاس دا دنعدلهم دويم تفسير دې انما نعد لهم دفلا تعجل علت دې عداء دنعد مفعول مطلق دې يوم نحشر، د اذكر فعل محذوف ظرف دې د يوم نحشر عامل لايملكون دې، او نعدهم كيدې شی وردا د وارد اسم جمع ده، ترې په ګودر باندې راتلونکې لايملكون، دالمجرمين نه جمله حال دې الامن اتخذ دلا يملكون د ضمير نه مستثنى متصل ده يتفطرن

دتفطر نه دمضارع جمع مؤنث غائب، هغه اوشیلږی، هدا، دتخر مفعول مطلق بغیر دلفظ نه دې تخر په معنی دتهد دې ای تهد هدا او هدا د الجبال نه حال هم کیدې شي مفسر علام من اجل مقدر منلو سره دې خبرې ته اشاره اوکړه چه ان دعوا للرحمن ولدا تنشق او د تخر مفعول له دې اوپه محل دنصب کښې دې دان نه مخکښې لام محذوف منلو سره جمله محلا مجرور هم کیدې شي محلا مرفوع هم کیدې شي په دې صورت کښې به ان مصدریه شي، اوتقدیر دعبارت به داشي الموجب لذلک دعاء هم للرحمن ولدا ان کل من في السموات والارض کښې من نکره موصوفه ده في السموات ددې صفت دې، موصوف سره دصفت نه متبداء الاآتي ددې خبر، آتي دکل لفظ درعایت د وجې نه واحد راوړلې شوې دې ودامحبت، دوستی (س) لداد الد جمع ده جهګړا کونکې، مراد کافران او مشرکین دی.

قوله: العربی د دې په اضافې سره مقصد دا ښودل دی چه دلته دلسان نه مراد لغت عربی دې نه چه ژبه (یعنی آله) رکزا اسم دې کشار، (دخپو آوان

[۲۰] سورة طه

سورة طه مکیة، مائة وخمس وثلثون آیة، او اربعون وثنتان،،

سورة طٰه مکی دې، (۱۳۵) یا (۱۴۲) آیتونه دی.

[ایاتونه:۱-۱۴]

بسم الله الرحمن الرحيم

(طٰه) اللّٰه أعلم بِمُرَادِهِ بِذٰلِكَ (مَاۤ أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرآن) يَا مُحَمَّد (لِتَشْقٰى) لِتَتْعَب بِمَا فَعَلْت بَعْد نُزُوله مِنْ طُول قِيَامك بِصَلَاةِ اللَّيْل أَيْ خَفِّفْ عَنْ نَفْسك (إِلَّا) لٰكِنْ أَنْزَلْنَاهُ (تَذْكِرَةً) بِهِ (لِّمَنْ يَّخْشٰى) يَخَاف اللّٰه (تَنْزِيلًا) بَدَل مِنَ اللَّفْظ بِفِعْلِهِ النَّاصِب لَهُ (مِمَّن خلق الأرض والسماوات الْعُلٰى) جَمْع عُلْيَا كَكُبْرَى وَكُبَر (الرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ) وَهُوَ فِي اللُّغَة سَرِير الْمَلِك (اسْتَوٰى) اسْتِوَاء يَلِيق بِهِ (لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا) مِنَ الْمَخْلُوقَات (وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى) هُوَ التُّرَاب النَّدِيّ وَالْمُرَاد الْأَرَضُونَ السَّبْع لِأَنَّهَا تَحْته (وَإِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ) فِي ذِكْر أَوْ دُعَاء فَاللّٰه غَنِيّ عَنِ الْجَهْر بِهِ (فَإِنَّهٗ يَعْلَمُ السِّرَّ وَأَخْفٰى) مِنْهُ أَيْ مَا حَدَّثْت بِهِ النَّفْس وَمَا خَطَرَ وَلَمْ تُحَدِّث بِهِ فَلَا تُجْهِد نَفْسك بِالْجَهْرِ (اللّٰهُ لَاۤ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ لَهُ الْأَسْمَاۤءُ الْحُسْنٰى) التِّسْعَة وَالتِّسْعُونَ الْوَارِد بِهَا الْحَدِيث وَالْحُسْنَى مُؤَنَّث الأحسن (وهل) قد (أتاك حديث موسى (إِذْ رَأٰى نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ) لِامْرَأَتِهِ (امْكُثُوۤا) هُنَا وَذٰلِكَ فِي مَسِيره مِنْ مَدْيَنَ طَالِبًا مِصْر (إِنِّيۤ آنَسْتُ) أَبْصَرْت (نَارًا لَّعَلِّيۤ آتِيكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ) بِشُعْلَةٍ فِي رَأْس فَتِيلَة أَوْ عُود (أَوْ أَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى) أَيْ هَادِيًا يَدُلّنِي عَلَى الطَّرِيق وَكَانَ أَخْطَأَهَا لِظُلْمَةِ اللَّيْل وَقَالَ لَعَلَّ لِعَدَمِ الْجَزْم بِوَفَاء الْوَعْد (فَلَمَّاۤ أَتٰهَا) وَهِيَ شَجَرَة عَوْسَج (نُوْدِيَ يٰمُوسٰى) (إِنِّيۤ) بِكَسْرِ الْهَمْزَة بِتَأْوِيلِ نُودِيَ بِقِيلَ وَبِفَتْحِهَا بِتَقْدِيرِ الْبَاء (أَنَا) تَأْكِيد لِيَاءِ الْمُتَكَلِّم (رَبُّكَ فَاخْلَعْ

تعليك إنك بالواد المُقَدَّس﴾ المُطهر أو المُبارك ﴿طُوًى﴾ بَدل أو عَطف بَيان بالتنوين وتركه مَصرُوف باعتبَار المَكان وغير مَصرُوف للتأنيث باعتبار البُقعَة مع العِلمِيَّة ﴿وَأَنَا اخْتَرْتُكَ﴾ مِن قَومك ﴿فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحَىٰ﴾ إليك مني ﴿إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ فيها

ترجمه: شروع کوم زه په نوم دالله پاک چه ډير مهربان اورحم والا دي طه دالله پاک ددې نه څه مراد دي هغه پرې ښه پوهيږي اې محمد مونږ داقرآن په تا باندې دې دپاره نه دې نازل کړې چه ته په مشقت کښې پريوځې يعنى په ستړې والى کښې پريوځې په هغه طرز عمل سره کوم چه تا دقرآن دنزول نه پس اختيار کړو دشپې مونخ په (تهجدو) کښې داوږد قيام په ذريعه، مطلب دا چه (آسانى کوه) په ځان باندې کم بوج اچوه بلکه مونږ قرآن دهغه کس دنصيحت دپاره نازل کړې دې چه دخداىٔ پاک نه يريږي دادهغه ذات دطرف نه نازل کړې شوې دې چه هغه زمکه او اوچت اسمانونه پيدا کړى دى تنزيلا دخپل فعل ناصب (نزلناه) په عوض کښې دې عُلى دعليا جمع ده لکه کُبر دکبرى جمع ده هغه رحمن دې په عرش باندې قائم دې په داسې قيام چه دهغه دشان سره مناسب دې او عرش په لغت کښې شاهى تخت ته وايې هم دهغه ملک دې څه مخلوق چه په اسمانونو او زمکه اودې په مينځ کښې دې اوکوم څيزونه چه په تخت الثرى کښې دى ثرى نمژنه خاوره ده اومراد اومه زمکه ده ځکه چه دنمژنې خاورې لاندې ده اوکه ته ذکر اودعا په زوره کوې نو الله پاک دجهر نه مستغنى دې ځکه چه هغه خو ډير پټ څيز ښه پيژنى يعنى په مزه وئيلې خبره اوهغه خيالات (کوم چه صرف) په زړه کښې راشى او په ژبه نه وى راغلى هغه هم پيژنى نو دجهر په ذريعه ځان په مشقت کښې مه اچوه هغه الله دې چه دهغه نه سوا هيڅوک دعبادت لائق نشته نهه نوى دهغه بهترين نومونه دى چه دهغې په باره کښې حديث وارد شوې دې او حسنى داحسن مؤنث دې اوآيا رسيدلې دې تاته دموسى ﷺ خبر کله چه ده اور اوليدو خپلې اهليې بى بى ته ئې اوئيل ته دلته ايساره شه او دا دمدين نه دمصر ته دتلو د وخت قصه ده ما اور ليدلو ډير ممکن دى چه زه داور تاته ديو لرګى يا رسى په سر کښې شعلې (اولګوم) راوړم يا داور سره څوک دلارې ښودلو والا مونده کړم يعنى څوک داسې دلارې ښودونکې چه لار ښودنه اوکړه او (موسى ﷺ) دشپې دتيارې دوجې نه لار ورکه کړې وه اوموسى ﷺ دممکن يا شايد لفظ ځکه استعمال کړو چه هغه ته دوعدې پوره کولو پوره يقين نه وو پس کله چه موسى ﷺ دې اور ته اورسيدو اوهغه دبيرې اونه وه نو آواز ورکړې شو اې موسى ﷺ انى دهمزې په کسرې سره نودى دقيل په تاويل کښې راواخسته او د همزې په فتحې سره هم دې په دې صورت کښې به انى نه مخکښې باء مقدر وى (يعنى بانى) انا د ياء متکلم تاکيد دې په يقين سره ستارب يم ته خپلې څپلې اوباسه ځکه چه ته په مقدس پاکه يا مبارک وادى طوى کښې يې طوى بدل دې يا عطف بيان دې تنوين اوبغير دتنوين دواړو (جائز دي) طوى که دمکان په معنى کښې دى

نو منصرف به وی او غیر منصرف به وی کله چه طوی دبقعة په معنی کښې واخستې شی اومؤنث اومنلې شی سره دعلمیت نه اوما ته ستا په قوم کښې منتخب کړې یې نو زما د طرف نه چه تا ته کومه وحی کیږی دا په غور سره واوره بیشک هم زه الله یم زما نه سوا هیڅوک معبود نشته نو ته زما عبادت کوه او مونځ قائم کړه په مونځ کښې زما یادولو دپاره.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: طه مفسر علام الله اعلم بمراده بذلك وئیلو سره او دې خبرې ته اشاره کړې ده چه دا دحروف مقطعاتو نه دی او ددې حقیقی علم دالله پاک سره خاص دې.

قوله: لتشقی ای لتتعب معنی داده چه مونږ قرآن دې دپاره نه دې نازل کړې چه ته خپل ځان په مشقت کښې واچوې دزیات غم دوجې نه قبس داور شعله، بخرې طوی دیو وادی نوم دې، مفسر علام د الاتفسیر په لکن سره کولو کښې اشاره کړې ده چه دا مستثنی منقطع ده ای لکن انزلناه تذکره ځکه چه تذکره تشقی مستثنی منه دجنس نه نه دې تنزیلا د نزلناه فعلِ مقدر مصدر دې کوم چه ددې ناصب دې فعل ئې حذف کړو مصدر ددې په بدله کښې ددې په ځای باندې ایخودې شوې دې او داحذف واجب دې دې ځکه چه مصدر په معنی او عمل کښې دفعل نیابت کوی دلته دبدل نه اصطلاحی بدل مراد نه دې بلکه بدل لغوی مراد دې یعنی عوض، بدل من اللفظ مطلب دادې چه تنزیلا په تلفظ او نطق کښې دخپل فعل ناصب نزلنا محذوف قائم مقام دې، ممن خلق د تنزیلا متعلق دې.

قوله: خلق الارض والسموات العلی کښې عطفِ جنس علی الجنس دې نه چه دجمع عطف مفرد په باندې اوس خلافِ اولی اعتراض نه شی کیدې هواضافه کولو سره ئې اشاره اوکړه چه الرحمن دهو مبتدأ محذوف خبر کیدو دوجې نه هم مرفوع دې.

قوله: وهل اتاك جمله مستانفه ده خطاب حضور ﷺ ته دې او استفهام د یشویق او دپاره د تقریر په ذهن دسامع کښې دې او هل په معنی دقد دې اذرأی دحدیث موسی ظرف دې.

قوله: امکثوا دجمع او مذکر صیغه راوړلې شوې ده حالانکه مخاطب صرف دده بی بی ده؟ ددې جواب دادې چه لفظ داهل درعایت د وجې دجمع مذکر صیغه راوړې شوې ده یا صرف تعظیما دجمع صیغه استعمال کړې شوې ده یا خادم او اولاد چه ورسره وو د هغوی رعایت سره دجمع صیغه راوړې شوې ده د آنست تفسیر په ابصرت سره کولو کښې اشاره اوکړه چه دایناس معنی په څه طریقې سره هم محسوسول دی خودلته په بصر سره محسوسول معنی مراد دی قبس بخری، داور شعله فتیله بتې، رسی وغیره هدی ای هاد مصدر په معنی داسم فاعل دې عوسجداغزو والا اونه، ځنګلی بیری، ځنې حضراتو عناب

او خنې امر بيل مراد اخستې دې، چه ورته په هندي آكاش بيل هم وئيلی شي، په فارسي كښې ورته عشق پيچاں وئيلې شي، په طب كښې ددې نوم افتيمون دې، ددې په زمكې كښې جرړې نه وی دا خپل خوراك داونې نه حاصلوی اوپه كومه اونه چه خور شي هغه اوچه كړي.

قوله: طوى د واد نه بدل ياعطف بيان دې دا منصرف اوغير منصرف دواړه وئيل صحيح دی كه دمكان په معنى كښې وی نو منصرف به وی اوكه دبقعة په معنى كښې وی نو دعلميت اوتانيث د وجې نه غيرمنصرف دې انی انا الله د مما يوحى نه بدل دې فهما ای فی الصلوة، الله دمبتدأ محذوف خبردې ای المنعوت بما ذكر من النعوت الجليلة الله (يعنى هغه ذات چه په دې ذكر شوو صفاتو كماليو باندې موصوف دې هغه الله دې لفظ د جلالة (الله) مبتدأ اولااله الاهو ددې خبرهم كيدې شي.

[اياتونه:۱۵-۲۴]

{إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا} عَنْ النَّاس وَيَظْهَر لَهُمْ قُرْبهَا بِعَلَامَاتِهَا {لِتُجْزَى} فِيهَا {كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعَى} بِهِ مِنْ خَيْر أَوْ شَرّ {فَلَا يَصُدَّنَّكَ} يَصْرِفَنَّكَ {عَنْهَا} أَيْ عَنْ الْإِيمَان بِهَا {مَنْ لَا يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ} فِي إِنْكَارهَا {فَتَرْدَى} أَيْ فَتَهْلِك إِنْ صَدَدْت عَنْهَا {وَمَا تِلْكَ} كَائِنَة {بِيَمِينِكَ يَا مُوسَى} الِاسْتِفْهَام لِلتَّقْرِيرِ لِيُرَتِّب عَلَيْهِ الْمُعْجِزَة فِيهَا {قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّأُ} أَعْتَمِد {عَلَيْهَا} عِنْد الْوُثُوب وَالْمَشْي {وَأَهُشُّ} أَخْبِط وَرَق الشَّجَر {بِهَا} لِيَسْقُط {عَلَى غَنَمِي} فَتَأْكُلهُ {وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ} جَمْع مَأْرَبَة مُثَلَّث الرَّاء أَيْ حَوَائِج {أُخْرَى} كَحَمْلِ الزَّاد وَالسِّقَاء وَطَرْد الْهَوَامّ زَادَ فِي الْجَوَاب بَيَان حَاجَاته بِهَا {قَالَ أَلْقِهَا يَا مُوسَى} {فَأَلْقَاهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ} ثُعْبَان عَظِيم {تَسْعَى} تَمْشِي عَلَى بَطْنهَا سَرِيعًا كَسُرْعَةِ الثُّعْبَان الصَّغِير الْمُسَمَّى بِالْجَانّ الْمُعَبَّر بِهِ فِيهَا فِي آيَة أُخْرَى {قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ} مِنْهَا {سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا} مَنْصُوب بِنَزْعِ الْخَافِض أَيْ إِلَى حَالَتهَا {الْأُولَى} فَأَدْخَلَ يَده فِي فَمهَا فَعَادَتْ عَصًا فَتَبَيَّنَ أَنَّ مَوْضِع الْإِدْخَال مَوْضِع مَسْكهَا بَيْن شُعْبَتَيْهَا وَأُرِيَ ذَلِكَ السَّيِّد مُوسَى لِئَلَّا يَجْزَع إِذَا انْقَلَبَتْ حَيَّة لَدَى فِرْعَوْن {وَاضْمُمْ يَدَكَ} الْيُمْنَى بِمَعْنَى الْكَفّ {إِلَى جَنَاحِكَ} أَيْ جَنْبك الْأَيْسَر تَحْت الْعَضُد إِلَى الْإِبْط وَأَخْرِجْهَا {تَخْرُجْ} خِلَاف مَا كَانَتْ عَلَيْهِ مِنْ الْأُدْمَة {بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ} أَيْ بَرَص تُضِيء كَشُعَاعِ الشَّمْس تُغْشِي الْبَصَر {آيَةً أُخْرَى} وَهِيَ بَيْضَاء حَالَانِ مِنْ ضَمِير تَخْرُج {لِنُرِيَكَ} بِهَا إِذَا فَعَلْت ذَلِكَ لِإِظْهَارِهَا {مِنْ آيَاتِنَا} الْآيَة {الْكُبْرَى} أَيْ الْعُظْمَى عَلَى رِسَالَتك وَإِذَا أَرَادَ عَوْدهَا إِلَى حَالَتهَا الْأُولَى ضَمَّهَا إِلَى جَنَاحه كَمَا تَقَدَّمَ وَأَخْرَجَهَا {اذْهَبْ} رَسُولًا {إِلَى فِرْعَوْنَ} وَمَنْ مَعَهُ {إِنَّهُ طَغَى} جَاوَزَ الْحَدّ فِي كُفْره إِلَى ادِّعَاء الْإِلَهِيَّة

ترجمه: قيامت يقينا راتلو والا دې ځه دادخلقو نه پټ ساتل غوارم اوددې نزدې والې به دعلاماتو نه ظاهريږی دې دپاره چه هر كس ته په دې ورځ كښې دده داعمالو نيكو اوبدو بدله

ورکړې شي نو تا دې په دې دیقین کولو نه داسې کس منع نه کړې شي، بند نه کړې شي چه هغه په دې باندې ایمان نه لري او ددې په انکار کښې په خپل خواهش پسې لګیدلې دې کنی ته به هلاک شې یعنی که ته په دې باندې دیقین کولو نه منع شوې نو هلاک به شې اواې موسی ستاپه ښې لاس کښې دا څه دی استفهام دتقریر دپاره دې دې دپاره چه په دې باندې دمعجزې ترتب اوکړې شي، اوئ وئیل دازما همسا ده (توږ) وهلو په وخت اودتللوپه وخت په دې باندې سهارا کوم او خپلو چیلو دپاره پرې پاڼړې راڅنډوم یعنی ددې په ذریعه داونو پاڼړې را غورزوم چه هغه دا اوخوری اوددې نه زه نورکارونه هم اخلم مآرب دماربة جمع ده په په ر باندې درې واړه اعراب جائز دی مآرب په معنی دحوائج دې مثلا روتئ اوبهٔ رازړوندول او ضرری ښناور دفع کول (وغیره) (په اندازه د) جواب کښې ئې دبیان حاجت زیاتوالې اوکړو ارشاد اوشو اې موسې دا همسا په زمکه باندې اوغورزوه پس وې غورزوله نو یو دم هغه مندې وهونکې مار جوړ شو غټه اژدها هغې په خپله خیته د ورکوتې مارپه شان مندې وهلې چه هغې ته په بل آیت کښې جان وئیلې شوی دی ارشاداوشو دا اونیسه او یرېږه مه مونږ به دا په نیولو سره ددې اول صورت باندې واپس کړو سیرتها دحرف جار دحذف کولو دوجې نه منصوب دې ای الي حالتها الاولی پس حضرت موسی ﷺ خپل لاس دهغې په خله کښې دننه کړونو هغه همسا جوړه شوه او داخبره ښکاره شوه چه د (لاس) دننه کولو ځای د دواړو شاخونو په مینځ کښې دنیولو ځاۍ وو اوحضرت موسی ﷺ ته دا هر څه څکه اوښودلې شو چه کله دفرعون په مخکښې (داهمسا) دمار (په شکل) کښې بدله شي نو چه (موسی) اونه یرېږی اوته خپل ښې لاس یعنی تلې دخپلې څنګلې سره ملا وکړه یعنی د کس ترخ دلاس لاندې ئې داخل کړه او (بیا ئې) رااوباسه، دخپل غنم رنګی حالت نه خلاف به بغیر د څه مرض مثلا د برص نه دنمر په شان چمکدار رااوځی، چه سترګې به حیرانې کړی دادویمه نخښه شوه آیة آخری او بیضاء دا دواړه دتخرج دضمیر نه حال دې، دې دپاره چه مونږ تا ته کله ته د نخښې او (معجزې) داظهار دپاره د هر څه اوکړلی دخپلو نخښو نه یوه لویه نخښه اوښایو یعنی ستا درسالت لویه نخښه اوکله چه ته دا (لاس) په مخکښنی حالت باندې رااوپس کول غواړې نو د مخکښې په شان داد خپل طرف سره ملاووه او رااوباسه (اوس) ته رسول جوړ شوی فرعون او هغه خلقو ته لاړ شه کوم چه ده سره دی ییشک هغه لوی سرکش شوې دې په خپل کفر کښې ئې دالوهیت دعوی کړې ده او د حد نه تیر شوې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اکاد اخفیها ای ارید اخفاء وقتها دا دعربو دهغه محاورې مطابق ده چه عرب کله دیوې خبرې په پټولو کښې مبالغه کول غواړی نو وائی (کتمه حتی من نفسی) ای لم اطلع علیه

احدا لتجزى يا داخفيها سره متعلق دى يا دآتية سره متعلق دې په دويم صورت كښې د متعلِق او متعلَق په مينځ كښې به اكاد اخفيها جمله معترضه شى به دمقدر منلو وجه دا ده چه صله كله جمله وى نودعائد كيدل ضرورى وى په دې وجه مفسر به محذوف منلې دى من غيروشركښې من دمابيان دې بصدنك واحد مذكر غائب نهى بانون ثقيله، ماده ضن ك ضمير مفعول دې تا لره منع نه كړى، فتردى، اصل كښې فأن تردى وو فتردى جواب دنهى دې.

قوله: وما تلك ما اسم استفهام مبتدأ تلك اسم اشاره خبر او بيمينك د كائنة مقدر سره متعلق حال دې د اسم اشاره په معنى داشير نه ماتلك كښې ما استفهاميه دطلبِ فهم دپاره نه ده ځكه چه دا دذات بارى دپاره محال دې بلكه د تقريرِ شئ دپاره دې يعنى په ښه طريقه اوګوره داخه دى دې دپاره چه مغالطه نه وى ځكه چه زر ددې همسا د مار په شكل كښې معجزه ظاهريدلو والا دې حية وروا وغتو هر قسم مارانو ته وائى، او جان په خاص طور باندې وركوټى مار ته وائى او ثعبان لوئ مار او اژدها ته وائى، چرته جان وئيلې شوې دې او چرته ثعبان ددې وجه خو يا داده چه دجسم اوجثې په اعتبار سره خو ثعبان وو اودحركت او تيزوالى په اعتبار سره جان وو يا په اول كښې به جان وو او بيا به ثعبان شو فاذاهى تسعى اذا مفاجاتيه ده هى مبتدأ ده حية خبر اول دې او تسعى خبر ثانى دې، تسعى جمله دحية نه حال هم كيدې شى، او صفت هم سيرتها په اصل كښې الى سيرتها الاولى وو دحذف الى دوجې نه منصوب شو سيرتها الاولى دا دسنعيدها د ضمير مفعول نه بدل الاشتمال هم كيدې شى اى هيئتها الاولى بيضاء دتخرج دضمير نه حال دې من غيرسوء دتخرج متعلق دى په معنى الكف د دې اضافه ئې ددې شبهې دازالې دپاره كړې ده چه يد عربى كښې د ګوتو نه تر اوګې پورې ته وائى، ددې په ترخ كښې دننه كول ممكن نه دى؟ جواب ئې وركړو چه كل ئى اوئيل اوجز مراد دې يعنى صرف تلى الاية محذوف منلو سره ئې اشاره اوكړه چه الكبرى، دموصوف محذوف صفت دې.

[ايا تو له:۲۵-۴۲]

{قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي} وَسِّعْهُ لِتَحَمُّلِ الرسالة {وَيَسِّرْ} سَهِّلْ {لِي أَمْرِي} لِأُبَلِّغَهَا {وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِي} حَدَثَتْ مِنْ احتِرَاقه بِجَمْرَةٍ وَضَعَهَا بِفِيهِ وَهُوَ صَغِير {يَفْقَهُوا} يَفْهَمُوا {قَوْلِي} عِند تَبْلِيغ الرِّسَالَة {وَاجْعَل لِي وَزِيرًا} معينا عليها {مِن أَهْلِي} {هَارُونَ} مفعول ثاني {أَخِي} عطف بيان {اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي} ظهري {وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي} أي الرِّسَالَة وَالفِعْلَانِ بِصِيغَتِي الأَمْر وَالمُضَارِع المَجْزُوم وَهُوَ جَوَاب الطَّلَب {كَي نُسَبِّحَكَ} تسبيحا {كَثِيرًا} {وَنَذْكُرَكَ} ذكرا {كَثِيرًا} {إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا} عَالِمًا فَأَنْعَمْتَ بِالرِّسَالَةِ {قَالَ قَدْ

أوتيت سُؤْلَكَ يَا مُوسَىٰ﴾ مِنًّا عليك ﴿ولقد مننا عليك مرة أخرى﴾ ﴿إِذْ﴾ لِلتَّعْلِيلِ ﴿أَوْحَيْنَا إِلَىٰ أُمِّكَ﴾ مَنَامًا أو إِلْهَامًا لَمَّا وَلَدَتْكَ وَخَافَتْ أَنْ يَقْتُلَكَ فِرْعَوْنُ فِي جُمْلَةِ مَنْ يُولَدُ ﴿مَا يُوحَىٰ﴾ فِي أَمْرِكَ وَيُبْدَلُ مِنْهُ ﴿أَنِ اقْذِفِيهِ﴾ أَلْقِيهِ ﴿فِي التَّابُوتِ فَاقْذِفِيهِ﴾ بِالتَّابُوتِ ﴿فِي الْيَمِّ﴾ بَحْرِ النِّيلِ ﴿فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ﴾ أَيْ شَاطِئِهِ وَالْأَمْرُ بِمَعْنَى الْخَبَرِ ﴿يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِي وَعَدُوٌّ لَهُ﴾ وَهُوَ فِرْعَوْنُ ﴿وَأَلْقَيْتُ﴾ بَعْدَ أَنْ أَخَذَكَ ﴿عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِنِّي﴾ لِتُحَبَّ فِي النَّاسِ فَأَحَبَّكَ فِرْعَوْنُ وَكُلُّ مَنْ رَآكَ ﴿وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِي﴾ تُرَبَّى عَلَى رِعَايَتِي وَحِفْظِي لَكَ ﴿إِذْ﴾ لِلتَّعْلِيلِ ﴿تَمْشِي أُخْتُكَ﴾ مَرْيَمُ لِتَتَعَرَّفَ مِنْ خَبَرِكَ وَقَدْ أَحْضَرُوا مَرَاضِعَ وَأَنْتَ لَا تَقْبَلُ ثَدْيَ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ ﴿فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَنْ يَكْفُلُهُ﴾ فَأُجِيبَتْ فَجَاءَتْ بِأُمِّهِ فَقَبِلَ ثَدْيَهَا ﴿فَرَجَعْنَاكَ إِلَىٰ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا﴾ بِلِقَائِكَ ﴿وَلَا تَحْزَنَ﴾ حِينَئِذٍ ﴿وَقَتَلْتَ نَفْسًا﴾ هُوَ الْقِبْطِيُّ بِمِصْرَ فَاغْتَمَمْتَ لِقَتْلِهِ مِنْ جِهَةِ فِرْعَوْنَ ﴿فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا﴾ اخْتَبَرْنَاكَ بِالْإِيقَاعِ فِي غَيْرِ ذَٰلِكَ وَخَلَّصْنَاكَ مِنْهُ ﴿فَلَبِثْتَ سِنِينَ﴾ عَشْرًا ﴿فِي أَهْلِ مَدْيَنَ﴾ بَعْدَ مَجِيئِكَ إِلَيْهَا مِنْ مِصْرَ عِنْدَ شُعَيْبٍ النَّبِيِّ وَتَزَوُّجِكَ بِابْنَتِهِ ﴿ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ﴾ فِي عِلْمِي بِالرِّسَالَةِ وَهُوَ أَرْبَعُونَ سَنَةً مِنْ عُمُرِكَ ﴿يَا مُوسَىٰ﴾ ﴿وَاصْطَنَعْتُكَ﴾ اخْتَرْتُكَ ﴿لِنَفْسِي﴾ بِالرِّسَالَةِ ﴿اذْهَبْ أَنْتَ وَأَخُوكَ﴾ إِلَى النَّاسِ ﴿بِآيَاتِي﴾ التِّسْعِ ﴿وَلَا تَنِيَا﴾ تَفْتُرَا ﴿فِي ذِكْرِي﴾ بِتَسْبِيحٍ وَغَيْرِهِ

ترجمه: موسی علیه السلام اوئیل اې زما ربه زما سینه کهلاو کړې (حوصله م زیاته کړې) یعني زما سینه وسیعه کړې دې دپاره چه (بار) درسالت متحمل شي، او زما دپاره زما دا (دتبلیغ) کار آسان کړی او زما دژبې غوټه کهلاو کړې کومه چه په هغه سکروټې سوزیدو سره لګیدلې وه چه ورکوټوالی کښې ئې په خله کښې ایخې وه دې دپاره چه خلق دپیغام رسولو په وخت زما په خبره پوهه شي، او زما څوک وزیر په رسالت کښې معاون زما په خاندان کښې مقرر کړه هارون مفعول ثاني دې او اخی دهارون عطف بیان دې یعني هارون چه زما رور دې په هغه سره زما ملا مضبوطه کړه اوهغه زما په معامله یعني درسالت په کار کښې زما شریک کړه او دواړه فعلو نه (یعني اشدد او اشرکه) دامر صیغې هم کیدې شي، او دمضارع مجزوم هم اومضارع دجواب امر (کیدو په وجې سره مجزوم دی) دې دپاره چه مونږ دواړه په کثرت سره ستا تسبیح بیان کړو او ستا په کثرت سره ذکر اوکړو بیشک ته زمونږ د حالاتو نه ښه خبریې هم دا وجه ده چه تا په ما رسول جوړولو سره انعام اوکړو ارشاد ئې اوفرمائیلو اې موسیٰ په تا باندې د احسان په طور مونږ ستا درخواست قبول کړو او اې موسیٰ ددې نه علاوه هم مونږ په تا باندې احسان کړې دې اذ تعلیله دې کله چه مونږ ستا مور ته په خوب کښې یا الهام په ذریعه ستا په باره کښې هغه خبره اوښودله چه په الهام د ښودلو لائقه وه کله چه ستا مور ته اوزیږولې اوهغې ته دا ویره وه چه فرعون به دتولو (دنورو ماشومانو) په شان تا قتل کړی او ان اقذ فیه فی التابوت، د مایوحی نه بدل دې هغه دا چه دې په صندوق کښې بند کړه او په دریائې نیل کښې ئې واچوه، بیا به دریاب دې په غاړه کښې اوغورزوی یعني په خپله غاړه باندې او

(فليلقيه) امر په معنى دخبر دې، آخر كار به هغه داسې سړې اونيسى كوم چه زما هم دشمن دې او دده هم او هغه فرعون دې، اوددې نه پس دې خلقو ته اونيولې ماپه تا دخپل طرف نه محبت واچولو دې دپاره چه ته په خلقو كښې محبوب شې او بيا فرعون اوهر هغه سړې چه تاوينى تا سره محبت اوكړى او دې دپاره چه ته زما په نگرانۍ رعايت اوحفاظت كښې پرورش اوموم‌ې اذ تعليليه دې (دا دهغه وخت خبره ده) كله چه ستا خور مريم ستا دخبراخستلو دپاره روانه وه او هغه خلقو ډيرې دپيو وركولووالا راغوښتې وې او تاپه دوى كښې ديوې سينې قبولې نه كړې نو مريم اوئيل آيا زه تاسو ته داسې كس اوښايم چه هغه دده كفالت اوكړى؟ پس دهغې خبره منظوره كړې شوه پس ددې نه هغې دده مور راوستله اوهغه دهغې سينې قبولې كړې، بيا مونږ ته خپلې مور ته واپس راوستلې دې دپاره چه دهغې سترگې ستا په ملاقات سره يخې شى اوهغې ته په دغه وخت هيڅ غم پاتې نه شى (يوه ترجمه دا هم كيدې شى يعنى تا دخپلې مور پئ قبول كړل نواوس تاته هيڅ غم كول نه دى پكار، او تا يو قبطى سړې په مصر كښې قتل كړې وو او دهغه دقتل په وجه ته دفرعون د طرف نه په غم كښې وې بيا مونږ تاته دهغه غم نه نجات دركړو بيا مونږ ته په مختلف قسمه ازمائشونو كښې واچولې (يعنى) ددې نه علاوه هم مونږ ته په ازمائشونو كښې مبتلا كړې او بيا مو ددې نه تاته خلاصې دركړو بيا په اهل مدين كښې ته څو (لس) كاله اوسيدې دمصر نه مدين ته دراتلو نه پس د شعيب ﷺ سره اوتاده دلور سره نكاح اوكړه بيا ته يو خاص عمر ته اورسيدې كوم چه زما په علم كښې درسالت دپاره مقدر وو اوهغه ستا دعمر څلويښت كاله وو اې موسى ماته د خپل رسالت دپاره منتخب كړې نو اوس ته او ستا رورزما د نهه نخښو سره خلقو ته لاړ شئ او زما په ياد كښې د كوتاهۍ سستى نه كار مه اخلئ يعنى په تسبيح وغيره كښې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: يفقهوا جوابِ دعا دوجې نه مجزوم دې، وزيرا وزر نه صيغه دصفت ده، مددگار، ناصر، معين، په قول دمفسر علام وزيرا داجعل مفعول اول دې او هارون مفعول ثانى دې، ددې عكس اولى دې ځكه چه قاعده داده چه كله دوه مفعوله جمع شى په دې كښې يو معرفه وى اودويم نكره نو معرفه مفعول اول جوړوى ځكه چه مفعول اول مبتدأ وى چه د هغې معرفه كيدل پكاردى او مفعول ثانى خبر وى چه دهغې دپاره نكره كيدل مناسب دى او دلته هارون معرفه دې او وزيرا نكره دې مقصود بالعنايت او اهم كيدو په وجه سره مفعول ثانى مقدم كړې شوې دې.

دويم تركيب: وزيرا مفعول اول وى او لى مفعول ثانى او هارون بدل يا عطف بيان وى اهدد اشرك دا دا دواړه صيغې كله چه مضارع واحد متكلم وى نو اشدد كښې به دهمزې فتح

وی او اشرکه کښې به د همزې ضمه وی اودجواب دعا کېدو دوجې نه دال ثانی او کاف ساکن وی په دې صورت کښې به د دوارو فعلونو نسبت دموسی په طرف وی مطلب به داشی دې دپاره چه دده په ذریعه خپله ملا مضبوطه کړم او دې دخپل کار شریک جوړم کړم اوکه دواړه صیغې د امروی نو اشدد به دهمزې په ضمې سره وی (ن. ض) او اشرک به دهمزې په فتحې سره وی په دې صورت کښې به ددواړو فعلونو نسبت داتْ پاک په طرف وی یعنی اې الله ته زما درور په ذریعه زما ملا مضبوطه کړې او دې زمادکار شریک جوړکړې د اشدد چه کله داخی سره وصل کوې نو همزه به غورزېږی ازری الازر قوت، پشت، سؤلك سؤل په وزن دفعل لکه چه خبز په معنی مخبوز فعل په معنی د مفعول دی دکاف په طرف مضاف دې په معنی د درخواست، تمنا ،خواهش اذ اوحینا د مننا ظرف دې او اذلوحنادٰ مرة نه بدل هم کیدې شی او اذ تعلیله هم کیدې شی لکه چه مفسر ﷺ صراحت کړې دې دمفسر رح مناما او الهاما اضافه کول دې خبرې ته اشاره ده چه داوحی د رسالت نه وه بلکه وحی لغوی وه اقذفی قذف (ض) واحد مؤنث حاضر ددې په آخر کښې ه ضمیر واحد مذکر غائب مفعول دې (نو اوغورزوه، کیږده) یلقه د القاءنه امر واحد مذکر غائب په معنی د خبر دې ضمیر مفعولی دی، دا اوغورزوه، واچوه الیم الیحر مراد دریائی نیل دې یاخذه جواب امر دې مِنّی د القیت سره متعلق دې او دکائنة محذوف سره متعلق دمحبة صفت هم کیدې شی.

قوله: لتحب اد القیت علت دې دا ئی محذوف دې دپاره اومنلو چه ولتصنع عطف صحیح شی ای لتحب وتصنع لذ تمشی تعلق په ذکر شوو دوارو فعلو کښې د یو سره کیدې شی او داهم صحیح دې چه اذ اولی نه بدل شی، ځکه چه دخور ورسره ورسره تلل هم احسان وو او اذکر محذوف منلو سره تقدیر دعبارت دا هم کیدې شی اذکر اذ تمشی

قوله: مراضع د مرضعة جمع ده د پیو ورکولو والا ته وائی فتونا مفعول مطلق دې ای ابتلیناک ابتلاء او د فتنة جمع هم کیدې شی لکه چه د بدرة جمع د بدور ای فتناک بفتون کثیرة مفسر علام فاحببت محذوف منلې دې دپاره چه دفرجعناک عطف صحیح شی اصطنعتك (افتعال) اصطناع په صحیح کیدو کښې مبالغه کول. منتخب کول تنیاونی ینی ونیا سستی کول (ض) تثنیه مذکر حاضر لاتنیا سستی مه کوئ الی الناس دلته فرعون په آئینده باندې د وجې قیاس کړې حذف کړې شوې دې لکه څنګه هلته آیاتی په دې باندې قیاس کړې حذف کړې شوې دې دې ته صنعت احتباک ونیلې شی یعنی نظیر په نظیر باندې قیاس کولو سره حذف کول

قوله: التمم مفسر علام التمم په ځای العصا والید فرمائیلې وه نو مناسب به وې، ځکه چه

ابتداء صرف دا دوه معجزې ورکړې شوې وې باقي معجزات دبل وخت په دوران کښې ورکړې شوې اوس پاتې شو داسوال چه په دوو معجزو باندې دجمع اطلاق ولې صحيح دې؟
جواب: دا دواړه معجزې چونکه په ډيرو معجزوباندې مشتملې وې ځکه ئې په جمع سره تعبير کول صحيح دی.

[ايالتونه: ۴۲-۵۴]

﴿اذْهَبَا إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى﴾ بِادِّعَائِهِ الرُّبُوبِيَّةَ ﴿فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا﴾ فِي رُجُوعِهِ عَنْ ذَلِكَ ﴿لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ﴾ يَتَّعِظُ ﴿أَوْ يَخْشَى﴾ اللهَ فَيَرْجِعَ وَالتَّرَجِّي بِالنِّسْبَةِ إِلَيْهِمَا لِعِلْمِهِ تَعَالَى بِأَنَّهُ لَا يَرْجِعُ ﴿قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَنْ يَفْرُطَ عَلَيْنَا﴾ أَيْ يَعْجَلَ بِالْعُقُوبَةِ ﴿أَوْ أَنْ يَطْغَى عَلَيْنَا﴾ أَيْ يَتَكَبَّرَ ﴿قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا﴾ بِعَوْنِي ﴿أَسْمَعُ﴾ مَا يَقُولُ ﴿وَأَرَى﴾ مَا يَفْعَلُ ﴿فَأْتِيَاهُ فَقُولَا إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ﴾ إِلَى الشَّامِ ﴿وَلَا تُعَذِّبْهُمْ﴾ أَيْ خَلِّ عَنْهُمْ مِنِ اسْتِعْمَالِكَ إِيَّاهُمْ فِي أَشْغَالِكَ الشَّاقَّةِ كَالْحَفْرِ وَالْبِنَاءِ وَحَمْلِ الثَّقِيلِ ﴿قَدْ جِئْنَاكَ بِآيَةٍ﴾ بِحُجَّةٍ ﴿مِنْ رَبِّكَ﴾ عَلَى صِدْقِنَا بِالرِّسَالَةِ ﴿وَالسَّلَامُ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى﴾ أَيِ السَّلَامَةُ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ ﴿إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا أَنَّ الْعَذَابَ عَلَى مَنْ كَذَّبَ﴾ مَا جِئْنَا بِهِ ﴿وَتَوَلَّى﴾ أَعْرَضَ عَنْهُ فَأَتَيَاهُ وَقَالَا جَمِيعَ مَا ذُكِرَ ﴿قَالَ فَمَنْ رَبُّكُمَا يَا مُوسَى﴾ اقْتَصَرَ عَلَيْهِ لِأَنَّهُ الْأَصْلُ وَلِإِدْلَالِهِ عَلَيْهِ بِالتَّرْبِيَةِ ﴿قَالَ رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ﴾ مِنَ الْخَلْقِ ﴿خَلْقَهُ﴾ الَّذِي هُوَ عَلَيْهِ مُتَمَيِّزٌ بِهِ عَنْ غَيْرِهِ ﴿ثُمَّ هَدَى﴾ الْحَيَوَانَ مِنْهُ إِلَى مَطْعَمِهِ وَمَشْرَبِهِ وَمَنْكَحِهِ وَغَيْرِ ذَلِكَ ﴿قَالَ﴾ فِرْعَوْنُ ﴿فَمَا بَالُ﴾ حَالُ ﴿الْقُرُونِ﴾ الْأُمَمِ ﴿الْأُولَى﴾ كَقَوْمِ نُوحٍ وَهُودٍ وَلُوطٍ وَصَالِحٍ فِي عِبَادَتِهِمُ الْأَوْثَانَ ﴿قَالَ﴾ مُوسَى ﴿عِلْمُهَا﴾ أَيْ عِلْمُ حَالِهِمْ مَحْفُوظٌ ﴿عِنْدَ رَبِّي فِي كِتَابٍ﴾ هُوَ اللَّوْحُ الْمَحْفُوظُ يُجَازِيهِمْ عَلَيْهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴿لَا يَضِلُّ﴾ يَغِيبُ ﴿رَبِّي﴾ عَنْ شَيْءٍ ﴿وَلَا يَنْسَى﴾ رَبِّي شَيْئًا هُوَ ﴿الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ﴾ فِي جُمْلَةِ الْخَلْقِ ﴿الْأَرْضَ مِهَادًا﴾ فِرَاشًا ﴿وَسَلَكَ﴾ سَهَّلَ ﴿لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا﴾ طُرُقًا ﴿وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً﴾ مَطَرًا قَالَ تَعَالَى تَتْمِيمًا لِمَا وَصَفَهُ بِهِ مُوسَى وَخِطَابًا لِأَهْلِ مَكَّةَ ﴿فَأَخْرَجْنَا بِهِ أَزْوَاجًا﴾ أَصْنَافًا ﴿مِنْ نَبَاتٍ شَتَّى﴾ صِفَةُ أَزْوَاجًا أَيْ مُخْتَلِفَةِ الْأَلْوَانِ وَالطُّعُومِ وَغَيْرِهِمَا وَشَتَّى جَمْعُ شَتِيتٍ كَمَرِيضٍ وَمَرْضَى مِنْ شَتَّ الْأَمْرُ تَفَرَّقَ ﴿كُلُوا﴾ مِنْهَا ﴿وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ﴾ فِيهَا جَمْعُ نَعَمٍ وَهِيَ الْإِبِلُ وَالْبَقَرُ وَالْغَنَمُ يُقَالُ رَعَتِ الْأَنْعَامُ وَرَعَيْتُهَا وَالْأَمْرُ لِلْإِبَاحَةِ وَتَذْكِيرِ النِّعْمَةِ وَالْجُمْلَةُ حَالٌ مِنْ ضَمِيرِ أَخْرَجْنَا أَيْ مُبِيحِينَ لَكُمُ الْأَكْلَ وَرَعْيَ الْأَنْعَامِ ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ﴾ الْمَذْكُورِ هُنَا ﴿لَآيَاتٍ﴾ لَعِبَرًا ﴿لِأُولِي النُّهَى﴾ لِأَصْحَابِ الْعُقُولِ جَمْعُ نُهْيَةٍ كَغُرْفَةٍ وَغُرَفٍ سُمِّيَ بِهِ الْعَقْلُ لِأَنَّهُ يَنْهَى صَاحِبَهُ عَنِ ارْتِكَابِ الْقَبَائِحِ

ترجمه: تاسو دواړه فرعون ته لاړ شئ هغه دعوی د ربوبيت کولو سره لويه سرکشي کړې ده دربوبيت ددعوی نه درجوع کولو په باره کښې دې په نرمئ سره پوهه کړئ کيدې شي چه هغه پوهه شي يا دالله پاک نه اوېرېږي منع شي او دترجي صيغه د حضرت موسی او دده دوروړه اعتبار سره ده، ځکه چه الله پاک ته معلومه وه چه هغه نه منع کيږي (بيا دترجي دصيغې داستعمال څه مطلب نه پاتې کيږي) نو دواړو عرض اوکړو اې زمونږ پروردګار زمونږ يره ده چه

هغه به په مونږ باندې زیاتي اوکړي یعنی په سزا کښې جلتي اوکړي یا په مونږ باندې شرارت اوکړي یعنی په تکبر سره مخ شي، نو ارشاد اوشو يره مه کوئ ځکه چه زه په مدد سره تاسو دواړو سره یم څه چه هغه وائي هغه زه اوورم او څه چه هغه کوي زه هغه وینم اوس هغه ته لاړ شئ او اوایئ مونږ ستا درب دطرف نه رسولان یو نو بنی اسرائیل مونږ سره دشام په طرف اولیږه اودوی ته تکلیف مه رسوه یعنی دمشقت په کارونو کښې ددوی استعمال بند کړه، لکه دکهدائی کار او د معمارۍ (ګلکارۍ) کار او د بار اوچتولو کار مونږ تاته ستا درب دطرف نه نخښه یعنی درسالت په صداقت باندې دلیل راوړې دې او داسې کس دپاره سلامتی ده چا چه دهدایت تابعداری اوکړه یعنی داسې کس دپاره دعذاب نه سلامتی ده مونږ ته وحې لیږلې شوې ده چه عذاب به په هغه کس باندې وی چاچه زمونږ راوړی شوی څيز تکذیب اوکړو او د هغې نه ئې اعراض اوکړو پس دواړه رونړه هغه ته لاړل اوکوم څه چه ذکر شو هغه ټول ئې ورته اوئیل نو هغه اوئیل اې موسی ستاسو دواړو رب څوک دې (په خطاب کښې ئې) موسی ﷺ باندې اکتفاء اوکړه ځکه چه موسی په (رسالت) کښې اصل وواو فرعون په موسی ﷺ باندې دتربیت احسان ضباتل غوښتل موسی ﷺ جواب ورکړو زمونږ رب هغه دې چه هغه هر شی ته په مخلوق کښې دهغې مناسب صورت ورکړو چه دهغې په وجه هغه دنورو نه ممتاز دې بیا ئې په هر شی کښې حیوان ته دهغې دخوراک سکاک او د نکاح کولو وغیره پوهه ورکړه فرعون اوئیل چه ښه دمخکینو امتونو څه حال شو لکه قوم نوح، قوم هود او قوم صالح ددوی دبتانو دعبادت کولو د وجې نه، موسی ﷺ جواب ورکړو د هغوی یعنی هغوی د دحال علم زما درب سره په کتاب په لوح محفوظ کښې محفوظ دی دقیامت په ورځ به هغوی ته د هغوی داعمالو بدله ورکړي، نه خو زما رب دڅه شي په باره کښې غلطي کوي او نه کوم شې هیروي هغه داسې دې چاچه ستاسو دپاره دټول مخلوق نه زمکه فرش جوړه کړې ده او په زمکه کښې ئې ستاسو دپاره لارې جوړې کړې دی او داسمان نه اوبهٔ باران ورری الله پاک دموسی ﷺ کلام پوره کولو دپاره د اهل مکه سره خطاب کولو سره فرمائي بیا مونږ د دې اوبو په ذریعه سره د مختلف زرغونو مختلف قسمونه پیدا کړل (من نبات شتی) د ازواجا صفت دې یعنی د مختلف رنګونو او ذائقو وغیره، او شتی دشتیت جمع ده لکه چه مرضی د مریض جمع ده او دشتی الامر نه په معنی دتفرق نه (ماخوذ دې) ددې نه په خپله هم خورئ او په خپلو څناورو باندې هم اوخوروئ (انعام) دنعم جمع ده او هغه اوښ او غوا اوچیلې دې وئیلې شي څاوری اوڅریدل اوما اوڅرول، صفیه دامر د اباحت او د تذکیرِ نعمت دپاره ده او جمله آخرجنا دضمیر نه حال دې یعنی حال داچه مونږ ستاسو دپاره خوراک، او دځناورو څرول مباح کونکی یو، دلته ذکر شوی په ټول څیزونو کښې دعبرت نه ډکې نښې دې دعقلمندو دپاره نهی دنهیة جمع ده لکه غرف دغرفة جمع ده څنې حضراتو نهی مفرد

ونیلې دې دعقل نوم نهی ځکه کیخودلې شوې دې چه عقل، عقلمند لره د قبائحو دکولو نه بندوی، نُهَیٰ په اصل کښې نهی وو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

سوال: اذهبا الی فرعون دواړه په یو صیغه کښې په جمع کولو کښې څه مصلحت دې؟ سره ددې چه خطاب حضرت موسی ﷺ ته دې او حضرت هارون ﷺ خوپه هغه وخت هلته موجود هم نه وو بلکه په مصر کښې وو؟

جواب: حاضر ته په غائب باندې دترجیح کورلو دوجې نه داسې کړې شوی دی.

دویم تفسیر: الله پاک حجاب منکشف کړې وو چه دهغې دوجې نه حضرت هارون ﷺ هغه کلام الهی واوریدوکوم چه حضرت موسی ﷺ اوریدلې وو.خو موسی ﷺ کلام ربانی بغیر دواسطې نه اوریدلې وو اوحضرت هارون ﷺ دحضرت جبرئیل ﷺ په واسطې سره اوریدلې وو.

قوله: وَالترجی بالنسبة الیهما دادیو سوال مقدر جواب دې، سوال دادې چه الله پاک کلمه د ترجی «دشک کلمه» ولی استعمال کړه؟ سره ددې چه دالله پاک په علم ازلی کښې دفرعون ایمان نه راوړل متعین وو.

جواب: کلمه د ترجی د موسی او هارون علیهما السلام په عتبار سره ده نه چه دخپل ذات «الله» په اعتبار سره.

قوله: یفرط «ن» فَرْطاً فُرطا جلتی کول، پوره خبره اوریدو نه بغیر په سزا کښې جلتی کول «روح» فاتیاه ددې عطف په لاتخافا باندې دې اسمهواری دانئی معکما تاکید دې .

قوله: بعونی د دې اضافه کولو سره ئې معیت جسمانی باطل کړې دې، دلته دمعیت نه مراد اعانت او نصرت دې فاتیاه تاسو په خپله ده ته لاړشئ، نه دا چه دچاپه ذریعه پیغام اورسوئ.

قوله: فاتیاه وقالا له جمیع ما ذکرئی مقدر منلو سره دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه دفرعون قول قال من ربکما یاموسی په محذوف باندې مرتب دې .

قوله: اقتصر علیه دا دیو سوال مقدر جواب دې، سوال دادې فمن ربکما کښې هارون او موسی دواړو سره خطاب دې او یاموسی کښې نداء صرف موسی ﷺ ته دهٔ؟ مفسر علام ددې دوه جوابه ورکړی دی، اول جواب دادې چه په دې دواړو حضراتو کښې اصل حضرت موسی ﷺ دې حضرت هارون ﷺ معاون اوتابع دې نو اصل ئې دنداء دپاره منتحب کړو.دویم جواب ئې لادلاله سره ورکړې دې ددې خلاصه داده چه اې موسی په

ماشوم والی کښې ستا پرورش ماکړې دې نو ستارب څوک دی زه یم نو ته زما رب څوک ګرځوې؟ لکه چه داحسان ضباتلو او د پیغور ورکولو دپاره ئې خاص طور باندې موسی ﷺ ته نداء ورکړه چه ستا دپاره دا ښه نه دی چه ته زما رب بل څوک ګرځوې حالانکه پخپله ستا رب زه یم په خلاف دهارون ﷺ چه په هغوی باندې دفرعون هیڅ احسان نه وو.

قوله: ادلال احسان وراړول، ناز اونخرې کول ربنا الذی اعطی الخ ربنا مبتدأ او الذی الخ ددې خبردې اودا هم کیدې شی چه هو مبتدأ محذوف شی او ربنا ددې خبر، مبتدأ سره دخبر نه موصوف او الذی الخ ددې صفت، موصوف سره دصفت نه مقوله اعطی کل شئ خلقه کل شئ د اعطی مفعول اول دې او خلقه مفعول ثانی اوداهم کیدې شی چه خلقه مفعول اول شی او کل شئ مفعول ثانی، داهتمام دپاره مفعول ثانی مقدم کړې شوې دې ای اعطی خلقه کل شئ قال فرعون فما بال الخ کله چه په فرعون باندې دموسی ﷺ په حق کیدل اوخپله په باطل کیدل ښکاره شول نو داسې خبرې ئې شروع اوکړې چه درسالت سره ئې هیڅ تعلق نه وو اس دخبرې رخ بدلو کوشش ئې اوکړو دې دپاره چه دده ریاست په خطره کښې پرې نه وځی،موسی ﷺ دده په چالبازئ باندې پوهه شو او ډیر لنډ جواب ئې ورکړو او په اصل موضوع باندې کلک پاتې شواو فرعون ئې هم دموضوع نه بهر وتلو ته پرې نخودو څکه چه دیو مناظر خوبی داده چه مخالف دموضوع نه بهر پرینږدی څکه چه دمخالف سره کله څه دلیل پاتې نه شی نو هغه دموضوع نه د وتلو کوشش کوی او غیر متعلق خبرې شروع کوی.

قوله: الذی جعل لکم الارض دا دفرعون داول سوال د جواب سره متعلق دې.

قوله: لایضل ای لایخطئ ابتداء یعنی هیڅ یو شئ دده نه نه خطاکیږی نه پاتې کیږی.

قوله: ولاینسی یعنی دعلم نه پس ذهول اونسیان نه راځی الذی جعل لکم الارض مهدا اود ثم هدی په مینځ کښې مابال القرون الاولی الخ جمله معترضه ده علمها عند ربی فی کتاب.

قوله: ای علم حالهم محفوظ دې خبرې ته اشاره ده چه د هاضمیر دمضاف الیه نه مخکښې حال مضاف محذوف دې څکه دچا دعلم نه مراد ددې شی دحالاتو علم وی نه دذات دشی،او دمحفوظ اضافه کولو سره ئې اشاره اوکړه چه علمها مبتدأ خبر محذوف دې علمها په ترکیب اضافی سره مبتدأ ده او عند ربی خبر اول او فی کتاب خبر ثانی او داهم جائز دی چه هذا حلو حامض په شان دواړه یو خبر وی اوداهم کیدې شی چه عند ربی خبر وی او فی کتاب د ظرف دضمیر مستتر نه حال وی.

قال تعالی تتمیما لما وصفه الخ دا دې خبرې ته اشاره ده چه فاخرجنا به الخ دا دحکایت په طور باندې دې، دموسی ﷺ کلام نه دې بلکه دادالله پاک کلام دې چه په دې سره ئې

دموسی عليه السلام كلام وانزل من السماء ماء مكمل كولو سره الله پاک دمكې دمشركانو سره خطاب كړې دې اوپه دوی باندې خپل احسانونه ذكر كوی انعامات شماری او داكلام په تارة اخرى باندې ختم شوې دې.

قوله: شتى دا فعل دې ددې الف د تانيث علامت دې شتى دشتيت جمع ده لكه دمريض جمع مرضى ده اودازواجا صفت دې دنبات صفت هم كيدې شی كلوا وارعوا انعامكم دا په تقدير دمبيحين سره د اخرجنا دضمير نه حال دې اى اخرجنا اصناف النبات مبيحين لكم الاكل ورعى الانعام دمبيحين په ځاى قائلين هم مقدر منلې شي.

قوله: رعت الانعام ورعيتها : ددې اضافې مقصد دا ښودل دی چه رعى لازم او متعدى دواړه شان مستعمل دی.

[اياتونه:۵۵-۷۰]

(مِنْهَا) أَيْ مِنَ الْأَرْض (خَلَقْنَاكُمْ) بِخَلْقِ أَبِيكُمْ آدَم مِنْهَا (وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ) مَقْبُورِينَ بَعْد الْمَوْت (وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ) عِنْد الْبَعْث (تَارَةً) مَرَّة (أُخْرَى) كَمَا أَخْرَجْنَاكُمْ عِنْد ابْتِدَاء خَلْقكُمْ (وَلَقَدْ أَرَيْنَاهُ) أَيْ أَبْصَرْنَا فِرْعَوْن (آيَاتِنَا كُلَّهَا) التِّسْع (فَكَذَّبَ) بِهَا وَزَعَمَ أَنَّهَا سِحْر (وَأَبَى) أَنْ يُوَحِّد اللّٰه تَعَالَى (قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا) مِصْر وَيَكُون لَك الْمُلْك فِيهَا (بِسِحْرِكَ يَا مُوسَى) (فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِثْلِهِ) يُعَارِضهُ (فَاجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَك مَوْعِدًا) لِذَلِكَ (لَا نُخْلِفُهُ نَحْنُ وَلَا أَنْتَ مَكَانًا) مَنْصُوب بِنَزْعِ الْخَافِض فِي (سُوًى) بِكَسْرِ أَوَّله وَضَمِّه أَيْ وَسَطًا تَسْتَوِي إِلَيْهِ مَسَافَة الْجَائِي مِنَ الطَّرَفَيْنِ (قَالَ) مُوسَى (مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ) يَوْم عِيد لَهُمْ يَتَزَيَّنُونَ فِيهِ وَيَجْتَمِعُونَ (وَأَنْ يُحْشَرَ النَّاسُ) يُجْمَع أَهْل مِصْر (ضُحًى) وَقْته لِلنَّظَرِ فِيمَا يَقَع (فَتَوَلَّى فِرْعَوْنُ) أَدْبَرَ (فَجَمَعَ كَيْدَهُ) أَيْ ذَوِي كَيْده مِنَ السَّحَرَة (ثُمَّ أَتَى) بِهِمْ الْمَوْعِد (قَالَ لَهُمْ مُوسَى) وَهُمْ اثْنَانِ وَسَبْعُونَ مَعَ كُلّ وَاحِد حَبْل وَعَصًا (وَيْلَكُمْ) أَيْ أَلْزَمَكُمْ اللّٰه الْوَيْل (لَا تَفْتَرُوا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا) بِإِشْرَاكِ أَحَد مَعَهُ (فَيُسْحِتَكُمْ) بِضَمِّ الْيَاء وَكَسْر الْحَاء وَبِفَتْحِهِمَا أَيْ يُهْلِككُمْ (بِعَذَابٍ) مِنْ عِنْده (وَقَدْ خَابَ) خَسِرَ (مَنِ افْتَرَى) كَذَبَ عَلَى اللّٰه (فَتَنَازَعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ) فِي مُوسَى وَأَخِيهِ (وَأَسَرُّوا النَّجْوَى) أَيْ الْكَلَام بَيْنَهُمْ فِيهِمَا (قَالُوا) لِأَنْفُسِهِمْ (إِنْ هَذَانِ) وَهُوَ مُوَافِق لِلُغَةِ مَنْ يَأْتِي فِي الْمُثَنَّى بِالْأَلِفِ فِي أَحْوَاله الثَّلَاثَة وَلِأَبِي عَمْرو هَذَيْنِ (لَسَاحِرَانِ يُرِيدَانِ أَنْ يُخْرِجَاكُمْ مِنْ أَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ الْمُثْلَى) مُؤَنَّث أَمْثَل بِمَعْنَى أَشْرَف أَيْ بِأَشْرَافِكُمْ بِمَيْلِهِمْ إِلَيْهِمَا لِغَلَبَتِهِمَا (فَأَجْمِعُوا كَيْدَكُمْ) مِنَ السِّحْر بِهَمْزَةِ وَصْل وَفَتْح الْمِيم مِنْ جَمَعَ أَيْ لَمَّ وَبِهَمْزَةِ قَطْع وَكَسْر الْمِيم مِنْ أَجْمَعَ أَحْكَمَ (ثُمَّ ائْتُوا صَفًّا) حَال أَيْ مُصْطَفِّينَ (وَقَدْ أَفْلَحَ) فَازَ (الْيَوْمَ مَنِ اسْتَعْلَى) غَلَبَ (قَالُوا يَا مُوسَى) اخْتَرْ (إِمَّا أَنْ تُلْقِيَ) عَصَاك أَوَّلًا (وَإِمَّا أَنْ نَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَى) عَصَاهُ (قَالَ بَلْ أَلْقُوا) فَأَلْقَوْا (فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ) أَصْله عُصُوو قُلِبَتْ الْوَاوَانِ يَاءَيْنِ وَكُسِرَتْ الْعَيْن وَالصَّاد (يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ أَنَّهَا) حَيَّات (تَسْعَى) عَلَى بُطُونهَا (فَأَوْجَسَ) أَحَسَّ (فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُوسَى) أَيْ خَافَ مِنْ

جِهَةِ اَنْ يَسْحَرهمْ مِنْ جِنْسِ مُعْجِزَته اَنْ يَلْتَبِس اَمْره عَلَى النَّاس فَلَا يؤمنوا بِهٖ (قُلْنَا) لَهُ (لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنْتَ الْأَعْلَى) عليهم بالغلبة (وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ) وَهِيَ عَصَاهُ (تَلْقَفْ) تَبْتَلِع (مَا صَنَعُوا إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ) اَيْ جِنْسه (وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى) بِسِحْرِهٖ فَالْقَى مُوسَى عَصَاهُ فَتَلَقَّفَتْ كُلّ مَا صنعوه (فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا) خَرُّوْا سَاجِدِيْنَ لِلّٰهِ تَعَالٰى (قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَى)

ترجمه: اومونږ ددې نه یعنی دزمکې نه تاسو پیدا کړئ ستاسو پلار آدم ﷺ نې ددې نه پیدا کړې او هم په دې کښې به تاسو دمرګ نه پس واپس کړو حال داچه تاسو به دفن کړې شئ اوددې (زمکې نه به) تاسو دبعث په وخت په دویم ځل رااوباسو لکه څنګه مونږ تاسو دابتداء تخلیق په وخت راوخکلی وو اومونږ ده ته یعنی فرعون ته خپلې پوره نهه نخښې اوښودلې نو هغه دا دروغ اوګڼړلې اوپه دې خبره قائم وو چه دا جادودې اودالله پاک دتوحید نه ئې انکار کولو او وې وئیل اې موسی آیا ته مونږ ته دې دپاره راغلې ئې چه زمونږ دملک مصر نه دجادو په ذریعه مونږ اوباسې او په دې کښې ستا ملکیت (حکومت) شی؟ ښه نو اوس به مونږ هم ستا په مقابله کښې داسې جادو راوړو چه هغه به ددې مقابله اوکړی، پس زمونږ اوستا په مینځ کښې دې دپاره وخت مقرر کړه چه دهغې خلاورزی نه مونږ اوکړو اونه ته په یو هوار میدان کښې مکانا منصوب دې دحرف جار فی د حذف کولو دوجې نه سوی دسین په کسرې او ضمې سره دې یعنی په مینځ کښې چه دطرفینو نه د راتلو والا مسافت برابر وی نو موسی ﷺ اوفرمائیل وعده ستاسو دجشن ورځ ده کومه چه ددوی د اختر ورځ ده په دې ورځ هغوی زینت کوی او راټولیږی اوداچه خلق یعنی دښار والا چه ورځ اوخیژی را جمع شئ یعنی دچاشت په وخت، چه څه په هغه وخت وی د هغې د کتلو دپاره پس فرعون (په خپل ځای ته) واپس لاړو او هغه خپل چالونه (مکر) یعنی مکار جادوګران راجمع کړل بیا ئې هغه راوستل او په مقرر وخت راغلو په هغه وخت موسٰی ﷺ دې (جادوګرو) ته اوئیل او هغوی دوه اویا زره (۷۲۰۰۰) وو او د هریو سره رسئ اولرګی وو اې کمبختو هلاک شئ یعنی الله پاک ستاسو دپاره پلاکت لازم کړې دې په الله پاک باندې بهتان مه لګوئ دهغه سره څوک شریک کولو سره چه هغه به تاسو په خپل مخصوص عذاب نیست او نابود کړی فیسحتکم دیاء ضمې او دحاء کسرې او د دواړو فتحې سره دی، یعنی تاسو به هلاک کړی او یادساتئ هغه کس ناکام شو په خساره کښې شو چا چه په الله پاک باندې په دروغه بهتان اوتړلو پس هغه خلق دموسی ﷺ اودده درور په باره کښې په خپلو مشورو کښې مختلف الرائې شول او ددې دواړو په باره کښې ئې په پټه خبرې اوکړې، په خپل مینځ کښې ئې اوئیل دادواړه یقینا جادوګران دی هذین دابوعمرو په نزد دی او دنورو په نیز هذان دې او دا د هغه چا دلغت مطابق دی چه دتثنیې په دریواړو حالتونو کښې الف راوړی ددوی مقصد دادې چه تاسو

دخپل جادو په زور سره ستاسو د ملک نه بهر کړي، او ستاسو بهترین مذهب برباد کړي.

بله ترجمه: (ستاسو شریفان خپل ځان ته مائل کړي) مثلی دامثل مؤنث دې ددې معنی داشرافو ده، یعنی ستاسو شریفان په خپل فیور کښې کړي، دهغوی ددې دوارو طرف ته دمائل کیدو دوجې نه ددې دوارو دغلبې په وجه نو تاسو هم خپل تدبیرونه یعنی جادو راجمع کړئ فاجمعوا دهمزهٔ وصل اوپه فتحې دمیم سره د جمع نه ماخوذ دی په معنی دلمْ (ای جمع) اودهمزه قطعی او د میم په کسرې سره هم دې (په دې صورت کښې به) اجمع نه ماخوذ وی او په معنی داحکم به شی (یعنی خپل تدبیرونه مضبوط کړئ) او بیا تاسو صف جوړ کړئ (په مقابله کښې) راشئ صفًا حال دې دمصطفین په معنی کښې دې نن به هغه وړ وی څوک چه غالب راغلو استعلی په معنی د غلب دې خلقو اوئیل اې موسی تاته اختیار دې که غواړې نو ته خپله همسا اول اوغورزوه یا مونږ خپلې همساګانې اول غورزونکی شو (حضرت موسیٰ) اوفرمائیل نه بلکه تاسو اول اوغورزوئ پس هغوی اوغورزولې بیا یودم دهغوی رسی او همساګانې ددوی دجادو په وجه دده په خیال کښې داسې محسوسې شوې چه هغه همساګانې په خپلو خیټو منډې وهونکی ماران دی عصی په اصل کښې عصوو وو، دواړه واؤنه، په دوؤ یاګانوسره بدل شو او عین اوصادته کسره ورکړې شوه (عصی شو) بس موسی په خپل زړه کښې څه ویره محسوسه کړه یعنی په دې وجه ئې ویره محسوسه کړه چه ددوی سحر دده دمعجزې دجنس دې (داسې نه وی) چه دده معامله په خلقو باندې ګډه وده شی او بیا هغه په ده (موسیٰ) باندې ایمان رانوړی مونږ ده ته اوئیل یرېږه مه هم ته به په دوی باندې دغلبې په ذریعه یقینا سربلند کیږې، او څه چه ستا په ښی لاس کښې دی اوهغه دده همساوه اوغورزوه څه چه دې جادوګرو کاری ګری کړې ده هغه به دا تیر کړی او څه چه دې جادوګرو جوړ کړی دی بلاشبه دا دجادوګرو کرتب (دلاس صفائی) ده کومه چه دنورو جادوګرو دجنس نه دې جادوګر چه دکوم ځای نه هم راشی (اوڅه هم چه اوکړی) نه کامیابیږی پس موسی خپله همسا اوغورزوله نو دهغوی تولې دهنده ئې تیره کړه اوس ټول جادوګران په سجده پریوتل یعنی الله ته سجده کولو د پاره په زمکه پریوتل او چغې کړې چه مونږ دموسی اوهارون په رب باندې ایمان راوړو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ولقد اريناه :الخ په دې سره ددې شبهې ازاله اوشوه چه موسی ته ابتداء صرف دوې معجزې عصا او ید بیضاء ورکړې شوې وې نو نهه معجزې ئې څنګه اوښودلې؟ ذکر شوې جملې سره ددې جواب اوشو چه په ټول مودت ددعوت کښې ئې نهه معجزې اوښودلې څکه چه لقد اريناه آياتنا كلها دا جمله خبریه ده ددې مقصد دادې چه ددعوت په مدت کښې مونږ فرعون ته ټولې معجزې اوښودلې، نو شبه ختمه شوه

قوله: اریناٰ : د دې تفسیر ئې په ابصرنا سره اوکړو اشاره ئې اوکړه چه درؤیت نه رؤیت بصری مراد دې

قوله: فلنأتینك : کښې لام په جواب قسم داخل دې او قسم محذوف دې تقدیر دعبارت دادې وکبریائی فلنأتینك بسحر مثله، بسحر دفلنأتینك متعلق دې فاء ترتیب دمابعد علی ماقبل دپاره ده.

قوله: موعدا: ظرف زمان دې داجعل مفعول اول مؤخر دې او بیننا وبینکم: مفعول ثانی مقدم دې یوې دواړه قراتونه دی موعدکم، مبتدأ اویوم الزینة ددې خبر دې .

قوله: ای ذوی کیده: دې سره ئې اشاره کړې ده چه کلام په حذف دمضاف سره دې او ساحر مراد دې .

قوله: وان یحشر الناس :دا جمله دمحل په اعتبار سره مجروراو مرفوع دواړه کیدې شی که په الزینة باندې عطف وی نو مجرور ده او که په یوم الزینة باندې عطف وی نو مرفوع به وی، اوتقدیر دعبارت به دارنګې شی موعدکم یوم الزینة وموعدکم ان یحشر الناس ای حشرهم.

قوله: ویلکم :ددې تفسیر په الزمکم الله الویل سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چه ویلکم دعامل محذوف دوجې نه منصوب دې .

قوله: باشرافکم، دطریقتکم: تفسیر دې، دطریقة ډیرې معنې راغلې دی یو دقوم داشرافوهم ده.

قوله: ان هذین لسحران: دجادوګرو داقول د اسروا النجوی نتیجه ده یعنی د کافی بحث او مباحثې نه پس دا فیصله اوشوه چه یقینا دا دواړه جادوګران دی هذین دان اسم او لسحران ددې خبر دې اوپه یو قراءت کښې هذانْ دی د بلحارث بن کعب په ژبه کښې هذان دان اسم دې دا خلق تثنیه په دریواړو حالتونو کښې په الف سره وائی او اعراب تقدیری منی او څنو حضراتو وئیلی دی چې دان اسم ضمیر شان محذوف دې ای انه او هذان لسحران دان خبر دی، فاجمعوا همزة وصل او دمیم په فتحې سره وی نو مطلب به داشی چه تاسو خپل تدبیرونه راجمع کړئ، او که فاجمعوا د همزه قطعی او دمیم په کسرې وی نو مطلب به دا شی تاسو خپل تدبیرونه مضبوط اومستحکم کړئ.

قوله: صفاً : دا دایتوا د ضمیر نه حال دې صفا چونکه مصدر دې نو ضمیر دجمع نه حال واقع کیدل صحیح دی اوپه معنی دمصطفین دې .

قوله: اختر : محذوف منلو سره مفسر علام اشاره کړې ده چه ان دخپل مابعد سره په تاویل دمفرد سره اختر (فعل مقدر) دوجې نه منصوب دې .

قوله: فالقوا فاذا حبالهم وعصیهم: دلته په کلام کښې حذف دې، تقدیر دعبارت دادې فالقوا فاذ حبالهم فا فصیحه او اذا مفجاتیه ده یخیل په یو قراءت کښې تخیل هم دې څکه چه عصا او

حبال مؤنث دې يخيل مبنى للفاعل هم وئيلې شوې دې مخيل كيد گرځولې شوې دې، عصى په اصل كښې عصوو په وزن د فلوس اول دويم واو ياء سره بدل كړې شو واؤ او ياء جمع شول اول واو ئې هم په ى سره بدل كړو بيا ئې ياء په ياء كښې مدغم كړه اودې نه پس د صاد او عين ضمه ئې په كسرې سره بدله كړه حبالهم وعصيهم مبتدأ ده او بخيل اليه ددې خبر دې فاذامفاجاتيه خبر مقدم او حبالهم وعصيهم مبتدأ مؤخر، په دې صورت كښې به بخيل حال شي يخيل د ياء سره ددې اسناد به دتسعى طرف وى، او داهم جائز دى چه دحبال دضمير طرف ته مسند وى حبال مؤنث غير حقيقى دې دې وجې نه دفعل مذكر راوړل صحيح دى يا بخيل الملقى په تاويل كښې اسناد شي انها تسعى دا ديخيل نه بدل الاشتمال دې.

قوله: اى خاف من جهة الخ داددې اعتراض جواب دې چه دمناجات په وخت الله تبارك او تعالى عصا اويد بيضاء پشان معجزات باهر ښودلى وو او په هره طريقه د حفاظت او مدد وعده ئې فرمائيلې وه نو بيا دموسى ﷺ د مقابلې په وخت ولې ويريدلو ؟ دجواب خلاصه داده چه يره او انديښنه دمارانو نه نه وه بلكه انديښنه ددې خبرې وه چه دجادوگرو جادو دحضرت موسى ﷺ دمعجزې دجنس وو حادوگرانو هم خپلې رسى او لرگى په ښكاره ماران جوړكړى وو اودموسى ﷺ همسا هم دمار شكل اختيارولو په داسې صورت كښې انديښنه شوه چه چرته حاضرين دحضرت موسى ﷺ معجزه هم جادو اونه گنړى او ايمان را نه ورى انما صنعوا كيد ساحر په عام قراءت كښې كيد په رفع سره دې په دې بنا چه دان خبر دې او ما موصوله ده او صنعوا ددې صله ده او عائد محذوف دې تقديردعبارت دادې ان الذى صنعوا كيد ساحر او كه ان مصدريه دا اومنلې شى نو دعائد ضرورت به نه وى او اعراب به على حاله باقى پاتې شى.

قوله: ولا يفلح الساحر : (سوال) الله پاک لايفلح السحرة دجمع په صيغه سره ولې اونه فرمائيل حالانكه په مقابله كښې راتلونكى ډير ساحران وو يو نه وو؟ مفسر علام دساحر تفسير په جنسه سره كړې اوددې اعتراض د دفع كولو طرف ته ئې اشاره كړې ده، مراد دادې چه دساحر نه يو ساحر مراد نه دې بلكه جنس ساحر مراد دې كه دجمع صيغه راوړې وې نو داشبه راتله چه عدد مراد دې جنس دساحر نه فالقى د القاء نه دماضى مجهول واحد مذكر غائب دې هغه اوغورزولې شو فاء فصيحية يعنى د طرفينو نه د همساگانو او رسې وغيره غورزولو عمل اوشو او څه چه اوشول حاضرينو اوكتل دې نه پس جادوگر په سجده كښې پريوتل سجدا په معنى دساجدين، آمنا برب هارون وموسى دهارون تقديم دفواصلو درعايت د وجې نه دې.

[ایاتونه: ۷۱ - ۷۶]

(قَالَ) فرعون (آمنتم) بتحقیق الهمزتین وابدال الثانیة الفا (لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ) انا (لَكُمْ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمْ) معلمکم (الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِنْ خِلَافٍ) حال بمعنی مختلفة ای الایدی الیمنی والارجل الیسری (وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ) ای علیها (وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا) یعنی نفسه ورب موسی (أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَى) ادوم علی مخالفته (قَالُوا لَنْ نُؤْثِرَكَ) نختارك (عَلَى مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ) الدالة علی صدق موسی (وَالَّذِي فَطَرَنَا) خلقنا قسم او عطف علی ما (فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ) ای اصنع ما قلته (إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا) النصب علی الاتساع ای فیها وتجزی علیه فی الآخرة (إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا) من الاشراك وغیره (وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ) تعلما وعملا لمعارضة موسی (وَاللَّهُ خَيْرٌ) منك ثوابا اذا اطیع (وَأَبْقَى) منك عذابا اذا عصی قال تعالی (إِنَّهُ مَنْ يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا) کافرا کفرعون (فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا) فیستریح (ولا یحیی) حیاة تنفعه (وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ) الفرائض والنوافل (فَأُولَئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ الْعُلَى) جمع علیا مؤنث اعلی (جنات عدن) ای اقامة بیان له (تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ جَزَاءُ مَنْ تَزَكَّى) تطهر من الذنوب

ترجمه: فرعون اوئیل تاسو زما د اجازت نه بغیر په ده باندې ایمان راوړو ء امنتم د دواړو همزو د تحقیق سره او دویمه په الف سره بدلولو سره بلا شبه هغه ستاسو لوی استاذ دی چه تاسو ته ئې سحر ښودلې دی زه ستاسو د ټولو لاسونه خپې ادل بدل کټ کوم خلاف حال دې په معنی د مختلفة د یعنی ښی لاسونه او کسې خپې او تاسو ټول به د کهجورو په ونو پورې زوړند کړم فی جذوع النحل ای علیها او تاسو ته به پته اولګی چه مونږ دواړه یعنی زه او د موسی رب په دواړو کښې د چا عذاب زیات سخت او مضبوط (باقی پاتیکیدنکې) دې، یعنی د چا مخالفت سخت دې او مضبوط دې دې خلقو صفا جواب ورکړو چه مونږ به تا ته کله هم ترجیح درنکړو غوره نکړو په مقابله د هغه دلائیلو کښې کوم چه د موسی ﷺ په صداقت باندې دلالت کونکی مونږ ته ملاو شوی دی او په مقابله د هغه ذات چا چه مونږ پیدا کړی یو واؤ قسمیه دې یا په ما جاءنا باندې عطف دې بس ستا چه څه زړه غواړی اوکړه یعنی څه چه تا وئیلی دی هغه اوکړه او ته چه څه کولې شی هغه په دې دنیا کښې کولې شې (او د الحیوة) نصب د توسیع په طور باندې دې ای فیها او (الله پاک) به په دې باندې په آخرت کښې بدله ورکړی مونږ په خپل پروردګار باندې ایمان راوړې دې دې دپاره چه زمونږ د شرک وغیره خطاګانې معاف کړی او هغه سحر هم معاف کړی د کوم په زده کولو او او په عملی طور باندې د موسی مقابله کولو دپاره چه تا مونږ مجبور کړی یو او الله پاک بهتر دې ستا نه د اجر په اعتبار سره کله چه د ده اطاعت اوکړې شی او زیات باقی پاتې کیدونکې دې تا نه د عذاب په اعتبار سره کله چه د ده نافرمانی اوکړې شی، الله پاک او فرمائیل خبره داده چه کوم کس د خپل رب په مخکښې مجرم

يعنى كافر راشى لكه فرعون نو بيشك دده دپاره جهنم دې نه به په دې كښې مركيږى چه راحت اومومى او نه به ژوندى پاتې كيږى داسې ژوند چه دهغې نه ده ته فائده وى اوكوم كس چه دده مخې ته مؤمن حاضر شى او ده نيک اعمال يعنى فرض او نفلونه كړى وى نودادى هغه خلق چه دوئ دپاره اوچتې درجې دى علی دعليا جمع ده اود اعلى مؤنث دې يعنى د هميشه اوسيدو يعنى داقامت قابل باغونه دى جنت عدن، د درجت العلى بيان دې چه د هغې نه لاندې به نهرونه جارى وى هغوى به په دې كښې هميشه هميشه اوسيږى دا انعام دې دهغه كس كوم چه دگناهونو نه پاک شو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: أآمنتم له همزه داستفهام انكارى توبيخ دپاره ده، او دحفص په نزد آمنتم دجمله خبريه په طور باندې استعمال شوې دې دآمنتم صله ئى لام راوړې دې، ځكه چه آمنتم د اتبعتم معنى لره متضمن دې، دد وارو همزو دتحقيق سره اول استفهاميه دې اوثانى فا كلمه ده په اصل كښې جمع مذكر حاضر دې، ءامنتم په وزن د اكرمتم دويمه همزه دقاعدې مطابق په الف سره بدله شوه بيا په دې باندې همزه د استفهام داخله كړې شوه، اوس په كلمه كښې دوه همزې غير منقلبه شوې، اوس كه تحقيق د دوؤ همزو سره لولې يا ئې دهمزې استفهام دحذف سره لولئ دمفسر علام وابدال الثانية الفاً وتيل غير ظاهر دى ځكه چه ثانى خو په قراءت كښې بغير د ابدال نه باقى ده، البته ابدال الثالثة صحيح دې.

قوله: من خلاف، من ابتدائيه دې او خلاف د مختلفه په معنى كښې حال دې اى اقطعها مختلفات.

قوله: فى جذوع النخل: اى عليها په دې كښې اشاره ده چه فى په معنى دعلى دې ولتعلمن كښې لام قسميه دې اينا مبتدأ اشد وابقى معطوف معطوف عليه خبر، مبتدأ سره دخبر نه دلتعلمن مفعول قائم مقام ددوو مفعولو على مخالفته ددې تعلق داشد او ابقى دوارو سره دې والذى فطرنا كه واو قسميه وى نو موصول سره دصله نه قسم او لانؤثرك على الحق جواب قسم محذوف اى وحق الذى فطرنا لانؤثرك على الحق او كه واوعاطفه وى نو معطوف عليه به ما جاءنا وى اى لن نؤثرك على الذى جاءنا ولا الذى فطرنا فاقض ما انت قاض داجوابِ تهديد دې، هذه الحيوة الدنيا هذه مبدل منه الحيوة بدل داحذف دحرف جر دوجې نه اتساعا منصوب دې تقدير عبارت دادې انما تقضى فى هذه الحيوة الدنيا فى ئى حذف كړو په دې وجه منصوب شو.

قوله: انما: ما كښې دوه وجې جائز دى ① اول دا چه ما په فعل باندې دان دخول جائز كولو دپاره ده او الحيوة الدنيا د تقضى ظرف دې او دتقضى مفعول محذوف دې اى تقضى غرضک دونمه وجه دا چه مامصدريه اسم دان وى او ظرف خبر وى، تقدير د عبارت دا

شو ان تقضائك فی هذه الحیوة الدنیا دریمه وجه دا هم کیدي شی چه ما په معنی دالذی موصول اسم دان تقضیه ددې صله عائد محذوف ای الذی ان تقضیه کائن فی الحیوة الدنیا (جمل) وما اکرهتنا عطف په خطایانا باندې دې، دې د پاره چه زمونږ خطاګانې او دا دسحر عمل معاف کړی په کوم باندې چه تا مونږ مجبور کړو من السحر علیه دضمیر نه یا د ما موصوله نه حال کیدې شی، من بیان د جنس دپاره هم کیدې شی.

قوله: قال تعالی سره ئي اشاره اوکړه چه انه من یات ربه جمله مستانفه ده ددې نه ماقبل دساحرانو کلام وو اوداد الله سبحانه کلام دې خالدین دمن دمعنی درعایت د وجې نه جمع راوړلې شوې دې.

[ایاتونه: ۷۷-۸۶]

(وَلَقَدْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي) بِهَمْزَةِ قَطْعٍ مِنْ أَسْرَى وَبِهَمْزَةِ وَصْلٍ وَكَسْرِ النُّونِ مِنْ سَرَى لُغَتَانِ أَيْ سِرْ بِهِمْ لَيْلًا مِنْ أَرْضِ مِصْرَ (فَاضْرِبْ لَهُمْ) اجْعَلْ لَهُمْ بِالضَّرْبِ بِعَصَاكَ (طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا) أَيْ يَابِسًا فَامْتَثَلَ مَا أُمِرَ بِهِ وَأَيْبَسَ اللهُ الْأَرْضَ فَمَرُّوا فِيهَا (لَا تَخَافُ دَرَكًا) أَيْ أَنْ يُدْرِكَكَ فِرْعَوْنُ (وَلَا تَخْشَىٰ) غَرَقًا (فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ) وَهُوَ مَعَهُمْ (فَغَشِيَهُمْ مِنَ الْيَمِّ) اي البحر (مَا غَشِيَهُمْ) اغرقهم (وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُ) بِدُعَائِهِمْ إِلَى عِبَادَتِهِ (وَمَا هَدَىٰ) بَلْ أَوْقَعَهُمْ فِي الْهَلَاكِ خِلَافَ قَوْلِهِ (وَمَا أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ الرَّشَادِ) (يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ قَدْ أَنْجَيْنَاكُمْ مِنْ عَدُوِّكُمْ) فِرْعَوْنَ بِإِغْرَاقِهِ (وَوَاعَدْنَاكُمْ جَانِبَ الطُّورِ الْأَيْمَنَ) فَنُؤْتِي مُوسَى التَّوْرَاةَ لِلْعَمَلِ بِهَا (وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ) هُمَا التَّرَنْجَبِين وَالطَّيْرُ السُّمَانَى بِتَخْفِيفِ الْمِيمِ وَالْقَصْرِ وَالْمُنَادَى مَنْ وُجِدَ مِنَ الْيَهُودِ زَمَنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَخُوطِبُوا بِمَا أَنْعَمَ اللهُ بِهِ عَلَى أَجْدَادِهِمْ زَمَنَ النَّبِيِّ مُوسَى تَوْطِئَةً لِقَوْلِهِ تَعَالَى لَهُمْ (كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ) أَيِ الْمُنْعَمِ بِهِ عَلَيْكُمْ (وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ) بِأَنْ تَكْفُرُوا النِّعْمَةَ بِهِ (فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِي) بِكَسْرِ الْحَاءِ أَيْ يَجِبُ وَبِضَمِّهَا أَيْ يَنْزِلُ (وَمَنْ يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي) بِكَسْرِ اللَّامِ وَضَمِّهَا (فَقَدْ هَوَىٰ) سَقَطَ فِي النَّارِ (وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِمَنْ تَابَ) مِنَ الشِّرْكِ (وَآمَنَ) وَحَّدَ اللهَ (وَعَمِلَ صَالِحًا) يَصْدُقُ بِالْفَرْضِ وَالنَّفْلِ (ثُمَّ اهْتَدَىٰ) بِاسْتِمْرَارِهِ عَلَى مَا ذُكِرَ إِلَى مَوْتِهِ (وَمَا أَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ) لِمَجِيءِ مِيعَادِ أَخْذِ التَّوْرَاةِ (يَا مُوسَىٰ) (قَالَ هُمْ أُولَاءِ) أَيْ بِالْقُرْبِ مِنِّي يَأْتُونَ (عَلَىٰ أَثَرِي وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ) عَنِّي أَيْ زِيَادَةً فِي رِضَاكَ وَقَبْلَ الْجَوَابِ أَتَى بِالْاعْتِذَارِ حَسَبَ ظَنِّهِ وَتَخَلَّفَ الْمَظْنُونُ لَمَّا (قَالَ) تَعَالَى (فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْ بَعْدِكَ) أَيْ بَعْدَ فِرَاقِكَ لَهُمْ (وَأَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ) فَعَبَدُوا الْعِجْلَ (فَرَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ) مِنْ جِهَتِهِمْ (أَسِفًا) شَدِيدَ الْحُزْنِ

ترجمه: او مونږ موسی ته وحی اولیږله چه زما بندګان د شپې بوځه اسر د همزه قطعی سره دې د أسری نه ماخوذ دې، یا همزه وصل اودنون په کسرې سره دې اودسری نه ماخوذ دې دا دوه لغت دی، مطلب دا چه بنی اسرئیل دشپې دمصر نه اوباسه بیا ددوی دپاره همسا اووهه

په درياب كښې اوچه لار جوړه كړه ييسا په معنى دياباسا، پس موسى ﷺ د امر امتثال اوكړو او الله پاک زمكه اوچه كړه نو ټول خلق دهغه ځائ نه اوتل. نه خو به تا ته د درېسې كيدلو انديښنه وى چه فرعون به تاسو اونيسى اونه به تاسو ته دغرقيدو يره وى پس فرعون دخپل لښكر سره ددوى تعاقب اوكړو حال داچه هغه پخپله هم دوى سره وو، پس درياب په دوى باندې راخور شو څنګه چه دخوريدلو والا وو بيا ئې دوى غرق كړل. اوفرعون خپل قوم ګمراه كړو دوى ته دخپل عبادت دعوت وركولو سره اودوى ته ئې سيدهه لار اونه ښودله بلكې دوى ئې په هلاكت كښې واچول دخپل قول وما اهديكم الا سبيل الرشاد په خلاف اې بنى اسرائيلو مونږ تاسوته ستاسو د دښمن فرعون نه د هغه غرق كولو سره نجات دركړو او مونږ تاسو سره دطور ښى طرف ته دراتلو وعده اوكړه چه موسى ته به تورات وركړو په دې باندې دعمل كولو دپاره اومونږ ستاسو دپاره من اوسلوى راوليږل اوهغه ترنجبين اومړزان دى، سمانى دميم په تخفيف او قصر سره دې او (يا بنى اسرائيل) كښې منادى هغه يهود دى كوم چه دحضور ﷺ په زمانه كښې وو اوهغوى د هغه نعمتونو مخاطب ووكوم چه په هغه يهودو باندې شوى وو، چه دسيدنا موسى ﷺ په زمانه كښې وو د الله پاک قول كلوا من طيبت الخ دتمهيد دپاره مونږ چه كوم پاكيزه څيزونه تاسو ته دركړى دى د هغې نه خورئ يعنى هغه څيزونه كوم چه تاسو ته دانعام په طور دركړى شوى دى اوپه دې كښې حد (شرعى) نه تجاوز مه كوئ په داسې طريقې سره چه دمنعم ناشكرى اوكړئ چرته داسې نه وى چه زما غضب په تاسو باندې واقع شى دحا په كسرې سره يعنى لازم شى اود حا په ضمې سره يعنى نازل شى اوپه چا باندې چه زما غضب نازل شى يحلل د لام په كسرې او ضمې سره دې نو بلا شبه هغه په اور كښې پريوتلو او بيشک زه دداسې خلقو دپاره ډير بخښونكې يم چا چه دشرک نه توبه اوكړه او د الله پاک په وحدانيت باندې ئې ايمان راوړو او نيک عمل ئې اوكړو عمل صالح په فرض اونفلو دواړو باندې صادق راځى (يا) (فرض او نفل په ذريعه (دايمان تصديق كوى په دې وخت به يُصَدِّقُ ونيلې شى) اوبيا مذكور څيزونو باندې تر مرګ پورې قائم هم پاتې شى (الله پاک اونيل) اې موسىٰ دخپل قوم پريښودلو اود زر راتلو څه سبب شو؟ د تورات د اخستلو په وخت د راتلو په وجه حضرت موسى عليه السلام جواب وركړو هغوى دا دى ما پسې يعنى نزدې راروان دى او اې زما پروردګاره زه تاته زر راغلم چه ته زما نه زيات خوشحال شې يعنى ستا زياته رضامندى حاصلولو دپاره اودجواب نه مخكښې ئې دخپل ګمان په اعتبار سره عذر بيان كړو او ګمان دواقعې خلاف ثابت شو څكه چه الله پاک اوفرمائيل چه ستا قوم مونږ ستا دوى لره پريښودلو او راتللونه پس يو فتنه كښې مبتلا كړو او دوى سامرى ګمراه كړل چه دهغې وجې نه دوى دغوا په عبادت كښې مبتلا شول غرض موسى ددوى دوجې نه په غصه او اوسخت غم نه وک واپس راغلو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: ولقد اوحينا: الخ دا د عطف القصه على القصه دقبيلې نه دې ځکه چه اول الله پاک موسى عليه السلام فرعون ته رسول په طور د ليږلو قصه سره دمعجزاتو بيان کړه او بيا ئې د فرعون اودده دلښکر دعبرت ناک انجام قصه بيان کړه نودا عطف القصه على القصه دې.

قوله: طريقا: داضرب مفعول دې ځکه چه اضرب داجعل معنى ته متضمن دې لکه څنګه چه مفسر رح اشاره کړې ده او دا هم کيدې شي چه داضرب مفعول به محذوف وى تقدير به داشي اضرب موضع طريق په دې صورت کښې داضرب نسبت دطريق طرف ته مجازا وى موضع ئې حذف کړو او طريق ئې ددې قائم مقام کړو اضرب لهم طريقا شودطريق نه مراد جنس طريق دې ځکه چه د بنى اسرائيل دقبيلو دتعدادپه اعتبار سره دولس لارې جوړې کړې وې يبسا مصدر دې دمصدر حمل په طريق باندې مبالغة دې يا مصدر دې مخکښې ترې لفظ ذات محذوف دې اى ذات يَبَسٍ او که دباء په سکون سره يَبْسًا وى نو صيغه د صفت به وى اى يابسًا. لاتخاف په رفع سره دحمزه رح نه علاوه دټول قراؤ دا قرات دې په دې صورت کښې به دا جمله مستانفه وى په دې وخت کښې به ددې محل داعراب نه وى، يا داضرب دضمير نه حال دې، اى اضرب لهم طريقا حال كونك غير خائف او حمزه رح په جزم سره لوستلې دې په دې وجه چه لا ناهيه ده تخف ددې دوجې نه مجزوم دې.

قوله: ولاتخشى: داد قراؤ په اتفاق په الف سره دې درفع په صورت کښې به لا تخاف باندې عطف ښکاره دې او دجزم په صورت کښې به د لا تخشى عطف په لا تخف باندې وى او علامت دجزم به په لاتخشى کښې دالف حذف وى او موجوده الف به داشباع وى چه دفواصلو درعايت نه راوړلې شوې دې.

قوله: بجنوده: دا په موضع د حال کښې دې اومفعول ثانى محذوف دې اى فاتبعهم فرعون عقابه ومعه جنوده او داهم وئيلې شي چه أَتبَعَ په معنى اتَّبَعَ دې په دې صورت کښې به د بجنوده باء د تعديه دپاره وى.

قوله: وهومعهم: داضافې مقصد داښودګل دې چه جار دانبعهم صله نه ده بلکه په موضع دحال کښې دې او دانبعهم مفعول ثانى محذوف دې اومعنى داده اتبعهم فرعون نفسه مع جنوده اوپه بيضاوى کښې دى والمعنى فاتبعهم فرعون نفسه ومعه جنوده فحذف المفعول الثانى او داهم وئيلې شوى دى چه په بجنوده کښې باء زائده ده اى اتبعهم جنوده وهومعهم فغشيهم من اليم ما غشيهم اى غرقهم من اليم ماغرقهم دسمندر دچپو سختى ښکاره کولو دپاره ئې ابهام کړې دې يعنى هغه چپې په سختئ کښې داسې وې چه دهغې دسختئ حقيقت دالله پاک نه

علاوه څوک نه پيژني.

قوله: فنزلت موسى التورة للعمل بها: ددې داضافې مقصد ددې سوال جواب دې چه وعده خو دموسى ﷺ سره وه نه چه دقوم سره نو بيا وواعدناكم كښې د وعدې نسبت دقوم طرف ولې شوې دې ؟ دجواب خلاصه داده چه چونكه موسى ﷺ ته دتورات وركولو وعده دقوم دعمل دپاره اود دوى دترقۍ دپاره وه لهذا دادنى ملابست د وجې نه نسبت صحيح دې، دويم جواب دادې چه موسى ﷺ ته داحكم هم ووچه دخپل قوم اوويا (۷۰) سردران هم كوه طور ته ځان سره راوله په دې طريقه هم دقوم طرف ته د وعدې نسبت صحيح دې.

قوله: المن: اسم دې شبنمى چيز دې (حميره) چه دحلوه په شكل وو چه په وادى تيه كښې دسرګردان اسرائيليانو دخوراک دپاره روزانه داونو په پانړو الله پاک لګولو سلوى يو قسم مارغه دې چه بټير ورته وئيلې شى په قاموس كښې د دې واحد سلوة ليكلې شوې دې داخفش نه منقول دى چه ددې واحد نه دې اوريدلې شوې هَوَى ماضى واحد مذكر غائب (ض) مصدر هَوِىٌ راځي.

قوله: ومن يحلل: دلته هم كسره دحاء او ضمه دحاء دواړه صورتونه دى ثم اهتدى د دې تفسير په باستمراره على ماذكر الى موته سره كولو كښې ددې سوال جواب وركول مقصود دى چه اهتدى دذكر كولو څه فائده ده حالانكه دآمن په عموم كښې اهتدى هم داخل دې؟ دجواب خلاصه داده چه دلته په ايمان باندې استمرار او دوام مراد دې ځكه چه نجات تامه په هغه ايمان او اعمال صالحه باندې موقوف دې چه تر مرګ پورې باقى وى.

قوله: ما اعجلك عن قومك: ما استفهاميه مبتدأ ده او اعجل ددې خبردې دلته استفهام د استفاده علم دپاره نه دې ځكه چه خدائ پاک ته ددې ضرورت نشته بلكه ددې خبرې ښودلو دپاره دې چه تاسو جلتى اوكړه خپل قوم دې پريښودو اودلته راغلې مونږ ستا قوم په يوه فتنه كښې مبتلا كړو.

قوله: هم اولاء: هم مبتدأ ده اولاء په معنى دالذى دې او على اثرى ددې صله ده.

قوله: زيادة على رضاك: ددې اضافې مقصد دادې چه دموسىٰ عليه السلام دمخكښې تلو وجه د رضا زياتوالې وو نه چه صرف رضا، ځكه چه صرف رضا خو نبى ته حاصل وى البته زياتوالې مطلوب وى.

قوله: وقيل الجواب اتى بالاعتذار الخ ددې خلاصه داده چه د ما اعجلك جواب عجلت اليك رب لترضى دې، موسى ﷺ داصل جواب وركولو نه مخكښې هم اولاء على اثرى سره دا عذر بيان كړ چه ما دوى پريښى نه دى بلكه هغوى نزدې زما سره دى او دا عذر ئې په دې خيال بيان كړو چه موسى ﷺ دا ګنړل چه واقعى هغوئ زما روستو روستو راروان دى حالانكه

هغوئ هلته پاتې شوې وو چه دهغې وجې نه د حضرت موسی عليه السلام گمان دواقعې خلاف وو او دگمان دواقعو، خلاف كيدل هغه وخت معلوم شو كله چه الله فانا قد فتنا قومك من بعدك اوفرمائيل لما كښې لام تعليليه دې لكه چه دا د خلاف مظنون كيدو علت دې.

قوله: السامري: دبنی اسرائيلو قبيلې سامره طرف ته منسوب دې څنو وئيلی دی چه سامره په يهودو كښې يوه فرقه ده چه په څنو خبرو كښې دنورو يهودونه مختلف دی، څنووئيلی دی چه دكرمان يو دهقانی كافر ووده‌غه نوم موسی بن ظفر دې،دا منافق وودده قوم به دغوا عبادت كولو دموسی سامری پرورش جبرائيل عليه السلام كړې وو څكه چې دې هم مور دذبح ديرې نه په يو غاركښې پټ كړې وو،حضرت جبرائيل عليه السلام ده ته خپلې گوتې رودلې ديوې نه پئ دبلې نه شات او ددريمې نه غوړی راوتل: قال الشاعر

موسی الذی رباه فرعون مرسل.............موسی الذی رباه جبريل كافر

دقرطبی په حاشيه ئی ليكلی دی چه سامری دهندوستان اوسيدونكې وو چه دغوا عبادت به ئی كولو «دزيات تفصيل دپاره لغات القرآن دريم جلد تاليف مولانا عبدالرشيد نعمانی ته رجوع اوكړئ».

قوله: موسی: علم معرفه ده دبنی اسرائيلو مشهور پيغمبردې، دده دمورنوم يوحانث وو، او دپلار نوم عمران وو،وئيل شی چه په عبرانی ژبه كښې مو اوبو ته وائی او شی اونې ته وائی په عربی كښې شين په سين سره بدل شوې دې، حضرت موسی عليه السلام دپيدائش نه پس د لرگی په يو صندوق كښې بند كړې شو او په سمندر كښې واچولې شو، دې وجې نه موسی نوم شوو.

[اياتونه:۸۶-۸۹]

﴿قَالَ يَا قَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا﴾ اَيْ صِدْقًا اَنَّهُ يُعْطِيكُمُ التَّوْرَاةَ ﴿أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ﴾ مُدَّةُ مُفَارَقَتِي اِيَّاكُم ﴿أَمْ أَرَدْتُمْ أَن يَحِلَّ﴾ يَجِبَ ﴿عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ﴾ بِعِبَادَتِكُمُ الْعِجْلَ ﴿فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِي﴾ وَتَرْكُتُمُ الْمَجِيءَ بَعْدِي ﴿قَالُوا مَا أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا﴾ مُثَلَّثُ الْمِيمِ اَيْ بِقُدْرَتِنَا اَوْ اَمْرِنَا ﴿وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَا﴾ بِفَتْحِ الْحَاءِ مُخَفَّفًا وَبِضَمِّهَا وَكَسْرِ الْمِيمِ مُشَدَّدًا ﴿أَوْزَارًا﴾ اَثْقَالًا ﴿مِّن زِينَةِ الْقَوْمِ﴾ اَيْ حُلِيِّ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اسْتَعَارُوهَا مِنْهُمْ بَنُو اِسْرَائِيلَ بِعِلَّةِ عُرْسٍ فَبَقِيَتْ عِنْدَهُمْ ﴿فَقَذَفْنَاهَا﴾ طَرَحْنَاهَا فِي النَّارِ بِاَمْرِ السَّامِرِيِّ ﴿فَكَذَٰلِكَ﴾ كَمَا اَلْقَيْنَا ﴿أَلْقَى السَّامِرِيُّ﴾ مَا مَعَهُ مِنْ حُلِيِّهِمْ وَمِنَ التُّرَابِ الَّذِي اَخَذَهُ مِنْ اَثَرِ حَافِرِ فَرَسِ جِبْرِيلَ عَلَى الْوَجْهِ الْاٰتِي ﴿فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا﴾ صَاغَهُ مِنَ الْحُلِيِّ ﴿جَسَدًا﴾ لَحْمًا وَدَمًا ﴿لَّهُ خُوَارٌ﴾ اَيْ صَوْتٌ يُسْمَعُ اَيْ انْقَلَبَ كَذٰلِكَ بِسَبَبِ التُّرَابِ الَّذِي اَثَرُهُ الْحَيَاةُ فِيمَا يُوضَعُ فِيهِ وَوَضَعَهُ بَعْدَ صَوْغِهِ فِي فَمِهِ ﴿فَقَالُوا﴾ اَيِ السَّامِرِيُّ وَاَتْبَاعُهُ ﴿هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ﴾ مُوسٰى رَبَّهُ هُنَا وَذَهَبَ يَطْلُبُهُ قَالَ تَعَالٰى ﴿أَفَلَا يَرَوْنَ أَ﴾ اَنْ مُخَفَّفَةٌ مِنَ الثَّقِيلَةِ وَاسْمُهَا مَحْذُوفٌ اَيْ اَنَّهُ ﴿لَا يَرْجِعُ﴾ الْعِجْلُ ﴿إِلَيْهِمْ قَوْلًا﴾ اَيْ لَا يَرُدُّ لَهُمْ جَوَابًا ﴿وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا﴾

أيْ دَامه ﴿وَلَانَفْعًا﴾ أيْ جَلْبه أيْ فَكَيْفَ يَتَّخِذ إلَهًا

ترجمه: موسى ﷺ اوئيل اې زما قوم آيا تاسو سره زما رب ښه وعده نه وه كړې؟ يعنى رښتونى وعده، دا چه هغه به تاسو ته تورات دركړى، آيا تاسو باندې زما د جدائى زمانه ډيره اوږده شوې وه؟ يا تاسو ته دامنظوره شوه چه په تاسو باندې ستاسو د رب غضب واجب شى، ستاسو دسخى دعبادت كولو دوجې نه چه تاسو زما دوعدې خلاف ورزى اوكړه چه تاسو زما روستو روستو راتلل پرښودل نو هغوئ اوئيل چه مونږ ستا دوعدې خلاف ورزى په خپل اختيار سره نه ده كړې دملكنا په ميم كښې درې واړه حركتونه صحيح دى، يعنى په خپل قدرت او خپل اختيار سره (خلاف ورزى نه ده كړې) خودقوم د زيوراتو (كالو) بوج كوم چه په مونږ باندې بار كړې شوې وو مونږ هغه په اور كښې واچول حملنا په فتحې دحاء او په فتحې دميم مخفف سره او دحاء په ضمې اوپه كسرې او د ميم مشدد سره يعنى حُمِّلنَا يعنى دفرعون قوم د(قبط) زيوراتو بوج كوم چه بنى اسرائيلو د قبطيانو نه د اختر په موقع عاريتًا اخستى وو بيا هغه ددوى سره پاتې شو، اومونږ دا زيوارت دسامرى په وينا په اور كښې واچول بس دارنگې يعنى څنگه چه مونږ واچول سامرى هم كوم چه دده سره د هغوى زيورات وو اوهغه خاوره كومه چه هغه دحضرت جبرائيل ﷺ داس دنوكې لاندې نه راخستې وه د (اتينده) ذكر شوې طريقې مطابق واچول بيا هغه ددې خلقو دپاره يو سخې جوړ كړو يعنى دزيوراتو قالب (ډهانچه) ئې جوړه كړه چه دهغې غوښه او وينه هم وه اودهغې د غوائ په شان آواز وو يعنى اوريدووالا آواز اودا انقلاب ددې خاورې دوجې نه اوشو چه د هغې تاثير ژوند وو په څه كښې چه په دې كښې واچولې شى او داخاوره سامرى په قالب كښې اچولو نه پس ددې په خلهٔ كښې واچوله پس سامرى اوده متبعينو اوئيل دا دې ستاسو اودموسى خدائ موسى خپل خدائ دلته هير كړې دې او دهغې تلاش كولو دپاره تلې دې آيا هغه خلق دومره نه پوهيدل چه هغه سخى ددوى كومه خبره نه شوه واپس كولې يعنى ددوى دكومې خبرې جواب ئې نه شو وركولې الا (دا د ان او لا نه مركب دې) ان مخففه عن الثقيله دې اوددې اسم محذوف دې يعنى انه او نه د دوى دڅه ضرر مالک دې چه دفع ئې كړى اونه دنفع چه هغه حاصل كړى بيا څنگه دا معبود جوړولې شى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: انه يعطيكم التوراة: دا جمله ديعدكم مفعول ثانى دې او كم مفعول اول دې او وعدا حسنا مفعول مطلق دې.

قوله: افطال عليكم العهد: دغوا په عبادت اوزما په مخالفت كوم څيز آماده كړئ؟ يا څو اوږدې زمانې پورې زما جدائې حالانكه داسې نه دى شوى يا دې خبرې چه ستاسو

مقصد غضب الهی ته دعوت ورکول دی ؟ دا هم نامناسب دی څکه چه دیو عاقل دپاره دامناسب نه دی چه هغه غضب الهی ته دعوت ورکړی فاخلفتم موعدی حضرت موسی ﷺ دخپل قوم نه وعده اخستې وه چه تاسو زمانه روستو روستوکوه طورته راشئ خو قوم دوعدې خلاف اوکړو او دغوا په عبادت کښې مبتلاشول

قوله: علی الوجه الآتی: ددې جملې تعلق دومن التراب سره دې ای القی التراب علی الوجه الآتی او وجه آتی داده والقی فیها ان اخذ قبضة من تراب فاخرج ددې عطف په واضلهم السامری باندې دې دا دخدائ پاک کلام دې.

قوله: جسدا: دا العجل نه حال دې ای آخرج لهم صورة عجل حال کونها جسدا.

قوله: لحماً ودماً، ددې اضافه ددې خبرې ښودلو دپاره ده چه جسد هغه څيز ته وائی چه دغوښې او چرې نه جوړ وی خوار دغوائی آواز ته وائی یعنی داد ماهیت انقلاب ددې خاورې چولو دوجې نه اوشو، بسبب التراب ای بسبب وضع التراب مضاف محذوف دې دمفسر علام د ووضعه داضافې مقصد دې خبرې ته اشاره کول دی چه دتولو نه اول دوضع مضاف محذوف دې.

قوله: فنسی: ددې فاعل موسی ﷺ هم کیدې شی لکه څنګه چه مفسر علام رحصراحت کړې دې نو دا به دسامری کلام شو په دې صورت کښې به مطلب داوی چه موسی ﷺ خپل خدائ دلته هیر کړې دې او کوه طور ته د هغې د تلاش کولو دپاره تلې دې، او داهم کیدې شی چه دنِیَ فاعل سامری شی په دې صورت کښې به دادخدائ پاک کلام شی او مطلب به داشی چه سامری خپل رب هیر کړو چه ددې په وجه هغه داحرکت اوکړو، او دامطلب هم کیدې شی چه سامری په دې خبره استدلال کول هیر کړل چه سخې معبود نه شی کیدې او ددې دلیل په راتلونکی قول افلا یرون الا یرجع الیهم قولا دی الا په اصل کښې انه لا وو، انّ ئی مخفف آن کړواو ه ضمیر اسم ئی حذف کړواو نون ئی په لام کښې مدغم کړو آلا شوځنو حضراتو یرجعَ په نصب سره وئیلې دې خو په دې کښې ضعف دې څکه چه ان ناصبه د افعال یقینی نه پس نه واقع کیږی او رؤیت په اول صورت کښې علمیه دې او په دویم صورت کښې بصریه دې دفعه محذوف منلو سره ئې اشاره اوکړه چه مضاف محذوف دې

قوله: جلبه: په دې سره هم دمضاف محذوف طرف ته اشاره اوکول دی.

قوله: لایملك لهم ضرا ولانفعا: ددې عطف په لایرجع باندې دې.

[اياتونه: ٩٠-١٠٤]

﴿وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَارُونُ مِنْ قَبْلُ﴾ اي قبل ان يرجع موسى ﴿يَا قَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِ وَإِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَٰنُ فَاتَّبِعُونِي﴾
في عِبَادَته ﴿وَأَطِيعُوا أَمْرِي﴾ فِيهَا ﴿قَالُوا لَن نَّبْرَحَ﴾ نزال ﴿عَلَيْهِ عَاكِفِينَ﴾ على عبادته مقيمين ﴿حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا
مُوسَىٰ﴾ ﴿قَالَ﴾ مُوسَى بَعْد رُجُوعه ﴿يَا هَارُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوا﴾ بعبادته ﴿أَ﴾ ن ﴿لَا تَتَّبِعَنِ﴾ لا زائدة
﴿أَفَعَصَيْتَ أَمْرِي﴾ بإقامَتِك بَيْنَ مَنْ يعبد غير الله تعالى ﴿قَالَ﴾ هارون ﴿يَا ابْنَ أُمَّ﴾ بِكَسْرِ الميم وفتحها أراد
أمي وَذِكْرهَا اعطف لِقَلْبِهِ ﴿لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي﴾ وَكَانَ اخذهَا بِشِمَالِهِ ﴿وَلَا بِرَأْسِي﴾ وَكَانَ اخذ شعره بيمينه غضبا
﴿إِنِّي خَشِيتُ﴾ لَوْ اتَّبَعْتُك وَلَا بُدّ أَنْ يَتْبَعنِي جمع مِمَّنْ لَمْ يَعْبُدُوا العجل ﴿أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِي إِسْرَائِيلَ﴾
وَتَغضب عَلَيَّ ﴿وَلَمْ تَرْقُبْ﴾ تَنتَظِر ﴿قَوْلِي﴾ فِيمَا رَأَيْته فِي ذلك ﴿قَالَ فَمَا خَطْبُكَ﴾ شأنك الداعي إلى ما
صنعت ﴿يَا سَامِرِيُّ﴾ ﴿قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا بِهِ﴾ بالياء وَالتاء اي عَلِمْت مَا لَمْ يَعلَمُوه ﴿فَقَبَضْتُ قَبْضَةً
مِّنْ﴾ تُرَاب ﴿أَثَرِ﴾ حَافِر فَرَس ﴿الرَّسُولِ﴾ جبريل ﴿فَنَبَذْتُهَا﴾ أَلقيتها فِي صُورَة العِجل المُصَاغ ﴿وَكَذَٰلِكَ
سَوَّلَتْ﴾ زَيَّنَتْ ﴿لِي نَفْسِي﴾ وَأُلْقِيَ فِيهَا أَنْ آخِذ قَبْضَة مِنْ تُرَاب مَا ذُكِرَ وَأُلْقِيهَا عَلَى مَا لَا رُوحَ لَهُ يصير له
رُوح وَرَأَيْت قَومك طَلَبُوا مِنك أنْ تَجْعَل لَهُمْ إِلَهًا فَحَدَّثَتْنِي نَفْسِي اَنْ يَكُون ذَلِكَ العِجل إلههم ﴿قَالَ﴾ له
مُوسَى ﴿فَاذْهَبْ﴾ مِن بَيْنِنَا ﴿فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَاةِ﴾ اي مُدَّة حَيَاتك ﴿أَن تَقُولَ﴾ لِمَنْ رَأَيته ﴿لَا مِسَاسَ﴾ اي لا
تقربني فَكَانَ يَهِيم فِي البَرِيَّة وَإِذَا مَسَّ أحَدًا أَوْ مَسَّهُ أحد حُمَّا جَمِيعًا ﴿وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا﴾ لِعَذابك ﴿لَّن
تُخْلَفَهُ﴾ بِكَسْرِ اللام اي لَن تَغِيب عَنْهُ وبِفَتحِهَا اي بَلْ تُبْعَث إِلَيْهِ ﴿وَانظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ الَّذِي ظَلْتَ﴾ اصله
ظَلِلت بِلامَيْنِ أولاهُمَا مَكْسُورَة حُذِفَتْ تَخفِيفًا اي دُمْت ﴿عَلَيْهِ عَاكِفًا﴾ اي مُقِيمًا تَعْبُدُهُ ﴿لَّنُحَرِّقَنَّهُ﴾ بالنار
﴿ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ نَسْفًا﴾ نُذَرِيَنَّهُ فِي هَوَاءِ البَحر وَفَعَلَ مُوسَى بَعْد ذَبْحه مَا ذَكَرَهُ ﴿إِنَّمَا إِلَٰهُكُمُ اللَّهُ الَّذِي لَا
إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا﴾ تَمييز مُحَوَّل عَنِ الفَاعِل أي وَسِعَ عِلمه كُلَّ شَيْءٍ ﴿كَذَٰلِكَ﴾ اي كما قصصنا
عَلَيْك يَا مُحَمَّد هَذِهِ القِصَّة ﴿نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ﴾ اخبار ﴿مَا قَدْ سَبَقَ﴾ مِنَ الأمَم ﴿وَقَدْ آتَيْنَاكَ﴾ اعطيناك
﴿مِن لَّدُنَّا﴾ مِنْ عِندنَا ﴿ذِكْرًا﴾ قرآنا ﴿مَّنْ أَعْرَضَ عَنْهُ﴾ فَلَمْ يُؤمِن بِهِ ﴿فَإِنَّهُ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وِزْرًا﴾ حِملا ثقيلا
مِنَ الإثم ﴿خَالِدِينَ فِيهِ﴾ أي فِي عَذَاب الوِزر ﴿وَسَاءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حِمْلًا﴾ تَمييز مُفسِّر لِلضَّمِير فِي ساء
وَالمَخصُوص بِالذَّمِّ مَحذُوف تَقدِيره وِزرهُمْ وَاللام لِلبَيَانِ وَيُبْدَل مِنْ يَوْم القِيَامَة ﴿يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ﴾ القرن
النَّفخَة الثَّانِيَة ﴿وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِينَ﴾ الكَافِرِينَ ﴿يَوْمَئِذٍ زُرْقًا﴾ عُيُونهمْ مَعَ سَوَاد وُجُوههمْ ﴿يَتَخَافَتُونَ بَيْنَهُمْ﴾
يَتَسَارُّونَ ﴿إِن﴾ مَا ﴿لَّبِثْتُمْ﴾ فِي الدُّنْيَا ﴿إِلَّا عَشْرًا﴾ مِنَ اللَّيَالِي بِأيَّامِهَا
﴿نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ﴾ فِي ذَلِكَ اي لَيْسَ كَمَا قَالُوا ﴿إِذْ يَقُولُ أَمْثَلُهُمْ﴾ اعدلهمْ ﴿طَرِيقَةً﴾ فِيهِ ﴿إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا
يَوْمًا﴾ يَستَقِلُّونَ لُبثهمْ فِي الدُّنْيَا جِدًّا لِمَا يُعَايِنُونَهُ فِي الآخِرَة مِنْ أَهْوَالِهَا

ترجمه: او هارون ؑ ددې نه مخکښې يعنی موسی ؑ دواپس کيدو نه مخکښې ونيلي دو
اې زما قوم تاسو ددې سخی دوجې نه په آزمائش کښې مبتلا شوی يئ او بلا شبه ستاسو رب رحمن

دي نو تاسو د هغه په عبادت کولو کښې زما تابعداري اوکړئ او د عبادت په معامله کښې زما خبره اومنئ هغه خلقو جواب ورکړو چه مونږ به په دې باندې اوسوو يعني د دې په عبادت به قائم يو د موسى مونږ ته د واپس راتلو پورې موسى عليه السلام واپس کيدلو نه پس اوفرمائيل اې هارون کله چه تا دوی اوليدل چه دا گمراه شوی دی د سخی د عبادت د وجې نه نو ستا ما پسې دراتلو نه کوم څيز مانع شو ؟ الا تتبعن کښې لا زائد دې نو تا زما دوينا خلاف اوکړو؟ د غير الله عبادت کونکو کښې پاتې شوې هارون عليه السلام اوئيل اې زما د مور ځويه زما گيره مه نيسه په يا ابن ام د ميم په کسرې او فتحې سره دې او د ام نه مقصد امیٔ دې ی حذف کړې شوه يعني منادى مرخم ده، او د ام ذکر کول د حضرت موسى عليه السلام زړه زيات مهربان کونکې دې، نه داچه حضرت هارون عليه السلام د حضرت موسى عليه السلام مور شريک (اخيافي) روړ وو او (موسى عليه السلام) په خپل گس لاس سره گيره نيولې وه او نه د سر ويښته نيسه او موسى عليه السلام په غصه کښې په ښی لاس سره د دهٔ د سر ويښته نيولی وو ما ته دا انديښنه وه چه که زه په تاپسې راشم نو ضروری خبره وه چه يو جماعت چه د غوا عبادت ئې نه دې کړې زما سره راتلو نو تا به وئيلې چه تا د بنی اسرائيلو په مينځ کښې تفرقه واچوله او ته به په ما غصه کيدلې او تا به زما د خبرې لحاظ نه کولو په دې معامله کښې چه څه تا اوکتل (يعني ما د اصلاح د پاره وئيلې وو او تا په قوم کښې تفرقه واچوله) (بيا موسى عليه السلام اصل مجرم) ته متوجه شو او وې فرمائيل اې سامری ستا څه معامله ده نو سامری جواب ورکړو ما ته هغه څيز په نظر راغلو کوم چه نورو ته په نظر نه راتلو تبصروا په ياء او تاء سره دې يعني کومه خبره چه زما په علم کښې راغله د نورو په علم کښې رانغله بيا ما د دې فرشتې (يعني جبرائيل عليه السلام د اس) د خپو نه يو موټې د خاورې ډک کړو بيا ما هغه خاوره د دې جوړ شوی سخی په قالب کښې واچوله او زما زړه ته دا خبره خوښه شو او زما په زړه کښې دا خبره واچولې شوه او ما ستا قوم اوليدو چه دوی ستا نه مطالبه کړې وه چه ته دوی د پاره يو معبود جوړ کړې نو زما زړه زه پوهه کړم چه دا سخی د دوی معبود کيدې شی موسى اوفرمائيل ته زمونږ د مينځ نه ځه په دنيوی ژوند کښې ستا سزا داده چه ته به ټول عمر هغه کس ته کوم چه تا وينی وائې چه ما ته لاس مه راوړه يعني ما ته نزدې مه راځه پس هغه به په ځنګلونو کښې گرځيدو او کله به چه هغه چا ته لاس وروړو يا به هغه ته چا لاس وروړو نو هغه به په تبه (بخار) کيدو، او يو وعده ستا د پاره د عذاب بله ده ته به هرگز بچ نه شې تخلفه د لام په کسرې سره يعني ته به د دې نه بچ نه شې، او په فتحې د لام سره يعني ته به دې عذاب ته ضرور رسولې شی او ته خپل دې معبود ته اوگوره چه د کوم په عبادت باندې ته کلک وې ظلت د دې اصل ظللت د دوؤ لامونو سره وو او اول په دې کښې مکسور چه تخفيفا حذف کړې شو او معنی ئې دُمت ده يعني ته د دې په عبادت کښې هميشه لګيدلې وې مونږ به دا په اور کښې اوسوزوو او بيا به

مونږ دا ریزه ریزه کړو او دریاب کښې به ئې والوزو یعنی دې به مونږ ددریاب په فضا کښې والوزوو او حضرت موسی علیه السلام هغې لره د ذبح کولو نه پس هم داسې اوکړل بس ستا معبود (حقیقی) خو الله دې چه دهغه نه سوا هیڅ څوک معبود نشته، د هغه علم په هر شی حاوی دې علمًا تمیز دې دفاعل نه منقول شوې دې (او تقدیر د عبارت دادې) ای وَسِعَ علمه کل شئ یعنی لکه څنګه چه مونږ دا قصه تاته واوروله مونږ دارنګې تا ته د تیرشوو امتونو خبرونه اوروو او مونږ تاته دخپل طرف نه یو نصیحت نامه قرآن درکړې دې اوکوم کس چه ددې نه اعراض اوکړی په دې باندې ایمان رانوړی نو هغه به دقیامت په ورځ دګناهونو درون بوج اوچتوی اوهغه به دګناهونو په عذاب کښې همیشه اوسیږی او دا بوج به دهغه دپاره دقیامت په ورځ بد وی حملا تمیز دې چه دساء دضمیر تفسیرکوی او مخصوص بالذم محذوف دې ددی تقدیر وزرهم دې او (لهم) کښې لام بیانیه دې او یوم ینفخ فی الصور د یوم القیامة نه بدل دې او دصور نه مراد) ښکر دې او دنفخ نه مراد نفخهٔ ثانیه ده او مونږ به په دې ورځ مجرمان کافران جمع کړو په داسې حال کښې چه شین سترګی به وی یعنی د دوی مخونه توریدو سره به ددوی سترګې هم (شنې) وی په خپلو کښې به خفیه پټې پټې خبرې کوی چه تاسو په دنیا کښې صرف لس شپې ورځې تیرې کړی دی مونږ ښه پوهیږو دقیام هغه (مودې) لره دکوم قیام دمدت په باره کښې د لسو ورځو خبره کوی یعنی خبره داسې نه ده کومه چه دوی وائی کله چه په دوی کښې به دې معاملې کښې دټولو نه زیات دښې رائې والا دا اوائی چه تاسو صرف یو ورځ (په قبر کښې) پاتې شوی ئې داخلق به په دنیا کښې خپل دقیام وخت ډیر لږ اوګڼری کله چه په آخرت کښې ددې سختو مشاهده اوکړی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ولقد قال لهم هارون: ولقد کښې لام قسمیه دې ای والله لقد نصح هارون ونبه علی حقیقة الامر من قبل رجوع موسی الیهم.

قوله: انما فتنتم به: یعنی تاسو دسخی په وجه په فتنه کښې مبتلا کړی شوئ انما کلمه دحصر نه چه کوم حصر مستفاد کیږی ددې مطلب دادې چه داسخې ستاسو دفتنې سبب جوړ شوې دې، نه چه دهدایت، دامطلب نه دې چه تاسو دسخی په وجه په فتنه کښې مبتلا شوئ یو نه په څه بله وجه.

قوله: ربکم الرحمن: دلته په خاص طور سره رحمن لفظ دې خبرې ته اشاره کولو دپاره راوړې شوې دې چه معلومه شی چه که په رښتیا زړه سره توبه اوکړې شی نوهغه توبه قبلوی ځکه چه هغه رحمن دې.

قوله: ان لا تتبعن: لا زائده دې لکه چه ان لا تسجد کښې لا زائده دې دتاکید دپاره دې

ان لا تتبعن، د منع مفعول ثانی کیدو په وجه محلا منصوب دې او په منع کښې کاف مفعول اول دې اذرایتهم دمنع ظرف دې ای أیّ شيء منعك حین رؤیتك لضلالهم من اتباعي.

قوله: افعصیت: کښې همزه داستفهام انکاری توبیخ دپاره ده او فاء عاطفه په مقدر باندې د عطف دپاره ده.

قوله: وکان اخذ شعرة ای شعر رأسه.

قوله: ولم ترقب: عطف په ان تقول باندې دې یعنی ددې ویرې نه چه ته به وائې چه ما په قوم کښې تفریق کړې دې او ددې ویرې نه چه ته به وائې چه تا زما دخبرې لحاظ او نه کړو.

قوله: بالیاء: ای لم یبصروا ای بنو اسرائیل وبالتاء ای انت وقومك.

قوله: المصاغ الاصح المصوغ کما فی بعض النسخ.

قوله: فقبضت قبضا: معنی موټې ډکول، او په څنو نسخوکښې دی فقبضت قبصا په صاد مهمله سره دې یعنی په ګوتو سره اخستل.

قوله: من اثر رسول: ای من محل اثر حافر فرس الرسول یعنی دحضرت جبرائیل ﷺ اس دقدم دځای نه.

قوله: والقی فیها: ددې عطف په سولت لی نفسی باندې عطف تفسیری دې یعنی زما نفس ماته داخبره اوښودله او زما په زړه کښې دا خبره واچولې شوه چه زه ددې خاورې نه یو موټې په دې کښې واچوم نوپه دې کښې به ساه واچولې شی.

قوله: لامساس: دا دباب مفاعله مصدر منصوب دې یعنی نه به ته چاته لاس وروړې او نه به تاته څوک لاس دروړی.

قوله: وان لك موعدا: موعدا مصدر دې او په معنی د وعدا دې.

قوله: لننسفنه: جمع متکلم مضارع بانون تاکید ثقیله مونږ به داپه هوا کښې ضرور الوزوو(ض).

قوله: انما الهکم الله: الخ دا جمله مستانفه ده او د موسی ﷺ دقصې اختتام دې.

قوله: کذالك نقص علیك: الخ داهم جمله مستانفه ده دادحضور ﷺ د تسلی او ډیرو معجزاتو دپاره دې کذالك نقص دا د مصدر محذوف صفت دې ای نقص قصصا کذالك.

قوله: من اعرض عنه: ددې تفسیر ئې په فلم یؤمن به سره کولو کښې اشاره اوکړه چه دلته داعراض نه مراد انکار دې.

قوله: فیه: ای فی عذاب الوزر په دې کښې حذف د مضاف ته اشاره ده.

قوله: خالدين: ديحمل دضميرنه حال دي كوم چه دمن په طرف راگرځي په يحمل كښې د لفظ او خالدين كښې د من دمعنى درعايت د وجې نه دجمع صيغه راورل شوې ده.

قوله. زرقا: دا د المجرمين نه حال دې دازرق جمع ده صفت مشبه ده د دې معنى ده گربه چشم: چه شين سترگې ورته وائي، يتخافتون د زرقا دضمير نه حال دې.

قوله: اعدلهم: اعدل دټولو نه زيات صحيح رائې لرلو والا،دا صحيح رائې اقرب الى الصواب په اعتبار سره نه دى وئيلي، بلكه اقرب الى الهول په اعتبار سره اعدل وئيلي دى يعنى دده په قول كښې دهغې ورځې د سختو زيات اظهار دې.

[اياتونه:۱۰۵-۱۱۵]

{وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ} كَيْفَ تَكُون يَوْم الْقِيَامَة {فَقُلْ} لَهُمْ {يَنْسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا} بِأَنْ يُفَتِّتهَا كَالرَّمْلِ السَّائِل لَمْ يُطَيِّرهَا بِالرِّيَاحِ {فَيَذَرُهَا قَاعًا} مُنْبَسِطًا {صَفْصَفًا} مُسْتَوِيًا {لَا تَرَى فِيهَا عِوَجًا} انْخِفَاضًا {وَلَا أَمْتًا} إرْتِفَاعًا {يَوْمَئِذٍ} أَيْ يَوْم إذْ نُسِفَتْ الْجِبَال {يَتَّبِعُونَ} أَيْ النَّاس بَعْد الْقِيَام مِنْ الْقُبُور {الدَّاعِيَ} إلَى الْمَحْشَر بِصَوْتِهِ وَهُوَ إسْرَافِيل يَقُول هَلُمُّوا إلَى عَرْض الرَّحْمَن {لَا عِوَجَ لَهُ} أَيْ لِاتِّبَاعِهِمْ أَيْ لَا يَقْدِرُونَ أنْ لا يَتَّبِعُوا {وَخَشَعَتْ} سَكَنَتْ {الْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا} صَوْت وَطْء الْأَقْدَام فِي نَقْلهَا إلَى الْمَحْشَر كَصَوْتِ أَخْفَاف الْإِبِل فِي مَشْيهَا {يَوْمَئِذٍ لَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ} أحَدًا {إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ} أنْ يَشْفَع لَهُ {وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا} بِأَنْ يَقُول لَا إلَه إلَّا اللَّه {يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ} مِنْ أُمُور الْآخِرَة {وَمَا خَلْفَهُمْ} مِنْ أُمُور الدُّنْيَا {وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا} لَا يَعْلَمُونَ ذَلِكَ {وَعَنَتِ الْوُجُوهُ} خَضَعَتْ {لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ} أَيْ اللَّه {وَقَدْ خَابَ} خَسِرَ {مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا} أَيْ شِرْكًا {وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ} الطَّاعَات {وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا} بِزِيَادَةٍ فِي سَيِّئَاته {وَلَا هَضْمًا} بِنَقْصٍ مِنْ حَسَنَاته {وَكَذَٰلِكَ} مَعْطُوف عَلَى كَذَلِكَ نَقُصّ أَيْ مِثْل إنْزَال مَا ذُكِرَ {أَنْزَلْنَاهُ} أَيْ الْقُرْآن {قُرْآنًا عَرَبِيًّا وَصَرَّفْنَا} كَرَّرْنَا {فِيهِ مِنَ الْوَعِيدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ} الشِّرْك {أَوْ يُحْدِثُ} الْقُرْآن {لَهُمْ ذِكْرًا} بِهَلَاكِ مَنْ تَقَدَّمَهُمْ مِنْ الْأُمَم فَيَعْتَبِرُونَ {فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ} عَمَّا يَقُول الْمُشْرِكُونَ {وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ} أَيْ بِقِرَاءَتِهِ {مِنْ قَبْلِ أَنْ يُقْضَىٰ إِلَيْكَ وَحْيُهُ} أَيْ يَفْرُغ جِبْرِيل مِنْ إبْلَاغه {وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا} أَيْ بِالْقُرْآنِ فَكُلَّمَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ شَيْء مِنْهُ زَادَ بِهِ عِلْمه {وَلَقَدْ عَهِدْنَا إِلَىٰ آدَمَ} وَصَّيْنَاهُ أنْ لَا يَأْكُل مِنْ الشَّجَرَة {مِنْ قَبْلُ} أَيْ قَبْل أَكْله مِنْهَا {فَنَسِيَ} تَرَكَ عَهْدنَا {وَلَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْمًا} حَزْمًا وَصَبْرًا عَمَّا نَهَيْنَاهُ عَنْهُ

ترجمه: او خلق ستا دغرونو متعلق تپوس كوى چه دقيامت په ورځ به د دې څه حال وى؟ ته اوفرمايا زما رب به دا ريزه ريزه كړى (او) په هوا كښې به ئې خواره كړى په دې طريقه چه (اول) به دا دريګ په شان ريزه ريزه كړى بيابه ئې دهوا په ذريعه والوزوى، بيا به زمكه هوار ميدان پرېږدى اې مخاطبه ته به په دې كښې اوچتوالى او ټيټوالې نه وينې په دغه ورځ به يعنى په كومه ورځ چه غرونه ريزه ريزه كړې شى نو خلق به د قبرونو نه دراوتلو نه پس دمحشر په

طرف د رابلونکی په آواز پسې شی او هغه (داعی) اسرافیل ﷺ دې، وائی به درحمن په مخکښې پیش کیدو دپاره راشئ په دې کښې به هیڅ کوږ والې نه وی یعنی د دوی په په اتباع کښې، مطلب دا چه د چا به د اتباع نه کولو قدرت نه وی او ټول آوازونه به درحمن په مخکښې ټیټ شی نو ته دخپو دآواز نه سوا به بل څه نه شی اوریدلې یعنی) دمحشر په طرف دتلو دکشار نه علاوه لکه څنګه دتلو په وخت داوښانو دخپو آواز وی په دې ورځ چاته سفارش فائده ورنه کړی، سوا دهغه کس چه چادپاره (دسفارش) رحمن اجازت ورکړی وی او دده خبره ئې خوښه کړې وی په داسې شان چه هغه لااله الله اووائی هغه پیژنی د راتلونکی آخرت ټول امور او ددنیا تیر شوی ټول امور او ددې د معلوماتو د دوی علم احاطه نشی کولې یعنی دذات خداوندی هیڅ څوک علمی احاطه نشی کولې او (په دې ورځ) الحی القیوم یعنی د الله پاک په مخکښې ټول مخونه ټیټ شی، او داسې کس خو به (په هر شان) ناکام وی چه ظلم شرک ئې راوړې وی او چا چه نیک اعمال کړی وی او هغه مؤمن هم وی نو هغه ته به دظلم هیڅ اندیښنه نه وی په دې شان چه دده په ګناهونو کښې زیاتوالې اوکړې شی او نه دنقصان په دې شان چه دده په نیکو کښې کمې اوکړې شی او دغه شان ددې عطف په کذالک نقص علیک باندې دې، یعنی په ماسبق کښې مذکور نازلولو په شان مونږ دغه قرآن د عربی قرآن نازل کړو او په دې کښې مونږ قسما قسم وعیدونه بیان کړل دې دپاره چه دوی د شرک نه اوبریږی یا دا قرآن ددوی دپاره د تیر شوو قومونو دهلاکت نه دنصیحت (سامان) پیدا کړی چه دهغې نه دا خلق عبرت حاصل کړی بس الله پاک چه بادشاه حقیقی دې د هغه خبرو نه پاک دې کومې چه دا مشرکان کوی او ته قرآن وئیلو کښې ددې په تا باندې د مکمل کیدو نه مخکښې جلتی مه کوه یعنی دجبرائیل ﷺ دنازلیدو دفراغت نه مخکښې اودا دعا کوه چه اې زما پروردګار زما په علم کښې اضافه اوکړه یعنی دقرآن په ذریعه چنانچه کله به هم چه په نبی علیه السلام باندې دقرآن څه حصه نازلیده نو په دې سره به ئې په علم کښې اضافه کیدله اومونږ اول یعنی دخوراک نه مخکښې آدم ته تاکیدی حکم ورکړې وو چه ددې اونې نه مه خوره نوآدم هیر کړل او زمونږ د عهد نه غفلت راغې اومونږ دې دپخې ارادې والا اونه موندو یعنی دکوم څیز نه چه مونږ منع کړې وو (په هغې کښې مو) کلک اوصابر اونه موندو .

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: لسفا : مصدر (ض) خواره واره کول او الوزول صفصفا کهلاو میدان، هواره زمکه (اسم) اَمتًا غونډئ، اوچتوالې ټیټوالې.

قوله: ویسئلونك عن الجبال : ای حال الجبال مضاف ئې محذوف دې، مفسر علام دکیف تکون دحذف مضاف په طرف اشاره کړې ده څکه چه سوال دشئ نه نه بلکه ددې داحوالونه کیږی . څنو حضراتو په طور داستهزاء دحضور ﷺ نه دقیامت په ورځ دغرونو

په باره کښې سوال کړې وو لکه چه ابن منذر او ابن جريج وئيلې دی چه څنو قريشو دحضورﷺ نه تپوس اوکړو چه دقيامت په ورځ به ددې غرونو څه حال وی؟ نو ددې په جواب کښې ذکر شوې آيت نازل شو.

قوله: فقل :کښې فا دشرط مقدر په جواب کښې ده ای ان سألوك فقل په دې صورت کښې به د سائل دسوال جواب نه وی.

قوله: فيذرها: ددې په ضمير کښې دوه احتمالات دی ①دا چه دجبال په طرف راجع وی په دې صورت کښې به مضاف محذوف وی ای يذر مراکز الجبال ②داچه ها ضمير دارض په طرف راجع وی کوم چه صراحتا په ماقبل کښې مذکورنه دې خو ددلالت حال دوجې نه مقدر منل شوې دې، لکه چه دالله پاک په قول ما ترک علی ظهرها منَ دابة، قاعا د يذرها دمفعول ثانی کيدو دوجې نه منصوب دې او يذر دتصير معنی ته متضمن کيدو دوجې نه متعدی په دوؤ مفعولو وی ها ضمير مفعول اول دې، قاعا دحال کيدو په وجه هم منصوب کيدې شی په دې صورت کښې به صفصفا دقاعا صفت اول شی او لاترى فيها عوجا به دقاعا صفت ثانی کيدو دوجې نه محلا منصوب دې.

قوله: الداعي: دځنې رواياتو نه معلوميږی چه د داعی نه مراد حضرت اسرافيل ﷺ دی څنګه چه دمفسر علام رائ ده، او دځنو نه معلوميږی چه داعی به حضرت جبرئيل ﷺ وی داقول راجح دې البته نافخ به حضرت اسرافيل ﷺ وی.

قوله: لا عوج له: دله ضمير کښې درې احتمالات دی ①مرجع اتباع مصدر محذوف دې کوم چه ديتبعون نه مفهوم دې ②ضمير دداعی په طرف راجع دې يعنی دداعی په دعوت کښې به هيڅ کمی نه وی بلکه ټول مخلوق به ئې په آسانئ سره اوری. ③ په کلام کښې قلب دې او تقدير دعبارت دادې لاعوج لهم عنه.

قوله: همسا: همس ټيټ آواز.

قوله: الامن اذن له الرحمن، په دې کښې درې صورتونه دې ①من منصوب دې دتنفع دمفعول به کيدو دوجې نه ②په محل درفع کښې دې او دشفاعة نه بدل دې په دې صورت کښې به حذف دمضاف ضروری وی، تقدير دعبارت به داشی لا تنفع الشفاعة الا شفاعة من اذن له الرحمن ③د شفاعة نه استثناء په وجه منصوب وی په دې صورت کښې مستثنی متصل او منقطع دواړه کيدې شی.

قوله: لايعلمون :مفسر علام په دې کلمې سره اشاره کړې ده چه علما مفعول مطلق دې او يحيطون ديعلمون په معنی دې ای لايعلمون علما او که يحيطون په خپله معنی وی نو عِلْمًا

د نسبت نه تميز هم كيدې شي.

قوله: وعنت : (ن) عَنوًا ذليل كيدل، تيټيدل.

قوله: وقد خاب: حال هم كيدې شي او جمله مستانفه هم.

قوله: هضما : (ض) هَضمًا ماتول، كمول،

قوله: كذلك انزلناه : كاف د مصدرِ محذوف صفت دې اى انزلناه انزالا مثل ذلك.

قوله: عزمًا: اى حزما پخه اراده عزمًا د نجد په معنى د نعلم مفعول دې.

قوله: له : يا خو د عزمًا نه حال دې يا د نجد سره متعلق دې، او ځنې حضراتو وئيلى دى چه د آيت معنى لم نجد له قصدا ده، يعنى قصداً ئى اونه خوړه بلكه په هيره ئى اوخوړه.

[اياتونه: ۱۱٦ - ۱۲۸]

(وَ) اُذْكُرْ (إِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ) وَهُوَ أَبُو الْجِنِّ كَانَ يَصْحَبُ الْمَلَائِكَةَ وَيَعْبُدُ اللّٰهَ مَعَهُمْ (أَبَى) عَنِ السُّجُودِ لِآدَمَ (قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ) (فَقُلْنَا يَا آدَمُ إِنَّ هَذَا عَدُوٌّ لَكَ وَلِزَوْجِكَ) حَوَّاءَ بِالْمَدِّ (فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَى) تَتْعَبُ بِالْحَرْثِ وَالزَّرْعِ وَالْحَصْدِ وَالطَّحْنِ وَالْخَبْزِ وَغَيْرِ ذَلِكَ وَاقْتَصَرَ عَلَى شَقَائِهِ لِأَنَّ الرَّجُلَ يَسْعَى عَلَى زَوْجَتِهِ (أن لك أ) ن (لا تجوع فيها ولا تعرى) (وَأَنَّكَ) بِفَتْحِ الْهَمْزَةِ وَكَسْرِهَا عَطْفٌ عَلَى اسْمِ إِنَّ وَجُمْلَتِهَا (لَا تَظْمَأُ فِيهَا) تَعْطَشُ (وَلَا تَضْحَى) لَا يَحْصُلُ لَكَ حَرُّ شَمْسِ الضُّحَى لِانْتِفَاءِ الشَّمْسِ فِي الْجَنَّةِ (فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ يَا آدَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَى شَجَرَةِ الْخُلْدِ) أَيِ الَّتِي يَخْلُدُ مَنْ يَأْكُلُ مِنْهَا (وَمُلْكٍ لَا يَبْلَى) لَا يَفْنَى وَهُوَ لَازِمُ الْخُلْدِ (فَأَكَلَا) أَيْ آدَمُ وَحَوَّاءُ (مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا) أَيْ ظَهَرَ لِكُلٍّ مِنْهُمَا قُبُلُهُ وَقُبُلُ الْآخَرِ وَدُبُرُهُ وَسُمِّيَ كُلٌّ مِنْهُمَا سَوْأَةً لِأَنَّ انْكِشَافَهُ يَسُوءُ صَاحِبَهُ (وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ) أَخَذَا يَلْزَقَانِ (عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ) لِيَسْتَتِرَا بِهِ (وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى) بِالْأَكْلِ مِنَ الشَّجَرَةِ (ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ) قَرَّبَهُ (فَتَابَ عَلَيْهِ) قَبِلَ تَوْبَتَهُ (وَهَدَى) أَيْ هَدَاهُ إِلَى الْمُدَاوَمَةِ عَلَى التَّوْبَةِ (قَالَ اهْبِطَا) أَيْ آدَمُ وَحَوَّاءُ بِمَا اشْتَمَلْتُمَا عَلَيْهِ مِنْ ذُرِّيَّتِكُمَا (مِنْهَا) مِنَ الْجَنَّةِ (جَمِيعًا بَعْضُكُمْ) بَعْضُ الذُّرِّيَّةِ (لِبَعْضٍ عَدُوٌّ) مِنْ ظُلْمِ بَعْضِهِمْ بَعْضًا (فَإِمَّا) فِيهِ إِدْغَامُ نُونِ إِنِ الشَّرْطِيَّةِ فِي مَا الْمَزِيدَةِ (يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ) الْقُرْآنَ (فَلَا يَضِلُّ) فِي الدُّنْيَا (وَلَا يَشْقَى) فِي الْآخِرَةِ (وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي) الْقُرْآنِ فَلَمْ يُؤْمِنْ بِهِ (فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا) بِالتَّنْوِينِ مَصْدَرٌ بِمَعْنَى ضَيِّقَةٍ وَفُسِّرَتْ فِي حَدِيثٍ بِعَذَابِ الْكَافِرِ فِي قَبْرِهِ (وَنَحْشُرُهُ) أَيِ الْمُعْرِضَ عَنِ الْقُرْآنِ (يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى) أَعْمَى الْبَصَرِ (قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيرًا) فِي الدُّنْيَا وَعِنْدَ الْبَعْثِ (قَالَ) الْأَمْرُ (كَذَلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا) تَرَكْتَهَا وَلَمْ تُؤْمِنْ بِهَا (وَكَذَلِكَ) مِثْلَ نِسْيَانِكَ آيَاتِنَا (الْيَوْمَ تُنْسَى) تُتْرَكُ فِي النَّارِ (وَكَذَلِكَ) وَمِثْلَ جَزَائِنَا مَنْ أَعْرَضَ عَنِ الْقُرْآنِ (نَجْزِي مَنْ أَسْرَفَ) أَشْرَكَ (وَلَمْ يُؤْمِنْ بِآيَاتِ رَبِّهِ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَدُّ) مِنْ عَذَابِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ (وَأَبْقَى) أَدْوَمُ (أَفَلَمْ يَهْدِ) يَتَبَيَّنْ (لَهُمْ) لِكُفَّارِ مَكَّةَ (كَمْ) خَبَرِيَّةٌ مَفْعُولٌ (أَهْلَكْنَا) أَيْ كَثِيرًا إِهْلَاكُنَا (قَبْلَهُمْ مِنَ الْقُرُونِ)

اي الأمم الماضية بتكذيب الرسل (يَمْشُونَ) حال من ضمير لهم (فِي مَسَاكِنِهِمْ) في سفرهم إلى الشام وغيرها فيعتبروا وما ذكر من أخذ إهلاك من فعله الخالي عن حرف مصدري لرعاية المعنى لا مانع منه (إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ) لعبرا (لِأُولِي النُّهَىٰ) لذوي العقول

ترجمه: او هغه وخت یاد کړه کله چه مونږ فرشتو ته حکم ورکړو چه آدم ته سجده اوکړئ فرشتو سجده اوکړه مګر ابلیس هغه د پیریانو پلار وو د فرشتو سره به اوسیدو او د هغوئ سره به ئی د الله پاک عبادت کولو آدم عليه السلام ته د سجدې کولو نه ئی انکار اوکړو او وې وئیل زه د دهٔ نه افضل یم بیا مونږ آدم عليه السلام ته اوئیل بیشکه دا ستا او ستا د بی بی دښمن دې حوا په مد سره چرته داسې نه وی چه تاسو د جنت نه اوباسی بیا ته په مصیبت کښې یعنی ایوه کولو، کرلو او ریبلو او میده کولو او پخولو وغیره په مشقت کښې اوغورزیږې (دلته) نې د آدم عليه السلام د مصیبت په بیان باندې اکتفاء کړې ده (بی بی ئې شریکه نه کړه) ځکه چه د ښځې د پاره د ژوند د کسب ذمه داری په خاوند باندې وی دلته ستا د پاره دا آرام دې چه دلته ئې ته نه اوږې کیږې او نه به بربنډیږې او نه به دلته تږې کیږې، انک د همزې په فتحې سره او د دې په کسرې سره دان په اسم او ددې په جمله باندې عطف کولو سره اونه به دې ګرمی کیږې یعنی نه به غرمه کښې ګرمی لګی ځکه چه په جنت کښې نمر نشته بیا شیطان آدم عليه السلام د هوکه کړو او وې وئیل اې آدم! زه تا ته د همیشه اونه ونه ښایم یعنی داسې اونه چه څوک دا اوخوری نو هغه به همیشه په جنت کښې اوسیږی او داسی بادشاهی چه کله په هغې کښې کمزوری نه راځی یعنی نه فنا کیږی او دا د خلود لازم (معنی) ده پس آدم او حواء د دې اونې نه څه اوخوړل نو د دې دواړو ستر دیو بل په مخکښې ښکاره شو یعنی دواړو کښې د هر یو مخکښې او روستو بدن دیو بل په مخکښې ظاهر شو، شرم ګاه نه ئی په سوأة سره تعبیر اوکړو ځکه چه د شرم ګاه کهلاویدل صاحب د شرم ګاه د پاره (تکلیف ورکونکې او) بد ه خبره وی او دواړو په خپل ځان د پاسه د جنت د اونو پاڼړی لګول شروع کړل د دې د پاره چه دواړه د دې په ذریعه خپل ستر پټ کړی او آدم نه د خپل رب خطا اوشوه د اونې نه په لړ څه خوړلو سره د هوکه شو بیا دده رب دې غوره کړو یعنی مقرب ئی جوړ کړو نو دده په طرف متوجه شو یعنی دده توبه ئی قبوله کړه، او هدایت ئی اوفرمائیلو یعنی په توبه باندې ئې همیشه قائم اوساتلو (الله پاک) ارشاد اوفرمائیلو تاسو دواړه یعنی آدم او حواء ستاسو د هغه اولاد سره چه په کوم تاسو مشتمل یئی د جنت نه اوځئ ستاسو اولاد ځنې به د ځنو دښمانان وی د ځنې په ځنو د ظلم کولو د وجې نه. فاما په دې کښې دان شرطیه نون په مازائده کښې ادغام کړې شوې دې بیا که زما د طرف نه تاسو ته هدایت راشی نو کوم کس چه زما د دې هدایت یعنی د قرآن اتباع اوکړه نو هغه به نه په دنیا کښې ګمراه شی او نه به په آخرت کښې بدبخته شی او کوم کس چه زما د دې نصیحت

نه اعراض اوکړو يعنې دقرآن نه چه په دې باندې ايمان نه راوړی نودهغه ژوند به په تنګۍ کښې وی ضنکاً په تنوين سره دضيقة په معنی کښې مصدر دې ددې تفسير په حديث شريف کښې په عذاب قبر سره کړې شوې دې اودقيامت په ورځ به مونږ دا دقرآن نه انکار کونکی ړوند اوچت کړو يعنې دسترګو يا دزړه ړوند نو هغه به وائی اې زما ربه تا زه ړوند ولې پاڅولم؟ زه خو دسترګو والا وم په دنيا کښې هم اودبعث په وخت هم ارشاد به اوشی معامله هم داسې وه زمونږ آياتونه تاته رسيدلی وو خو تا هغه هير کړل پريدې خودل او په دې باندې دې ايمان رانه وړو اودارنګې يعنې چه څنګه تا زمونږ آياتونه هير کړل نن به ته هيرولې شې يعنې په جهنم کښې به پريښودلې شې اودارنګې يعنې ددې کس دسزا په شان کوم چه دقرآن نه اعراض اوکړو مونږ به (هر) هغه کس ته سزا ورکړو چا چه (دحد) نه تجاوز اوکړو شرک ئی اوکړو او چا چه دخپل رب په آيتونو ايمان رانه وړو او واقعی دآخرت عذاب ددنيا او عذاب قبر نه ډير سخت او ډير باقی پاتې کيدونکې دې دائمی دې آيا دې مکې کافرانو ته په دې سره هم هدايت نه کيږی چه مونږ ددوی نه مخکښې ډير تيرشوی امتونه درسولانو د تکذيب په وجه هلاک کړل کم خبری دی، داهلکنامفعول دې يعنې زمونږ هلاک کول ډير واقع شوی دی حال دادې چه ددوی داوسيدو ځايونو کښې دا خلق هم دشام وغيره د سفر په دوران کښې ځی راځی چه ددې نه عبرت واخلی داهلکنا مذکور نه بغير ديو حرف مصدری نه داهلاک مصدر مراد اخستل دمعنی د رعايت په وجه ممنوع نه دی په دې (امر مذکور) کښې د عقلمندو دپاره دعبرت ډير دلائل دی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: واذقلنا للملئكة اسجدوا : دا قصه دقرآن کريم په اوو (۷) سورتونو کښې ذکر شوې ده، ددې قصې عطف په ماقبل باندې د عطفِ سبب علی المسبب دقبيلې نه دې څکه چه دا قصه د عداوت ابليس سبب شوې وو.

قوله: الا ابليس : دمفسر علام داعادت دې چه چرته مستثنی منقطع وی هلته دالا تفسير په لکن سره کوی خو دلته د دواړو احتمال وو څکه ئې دالا تفسير په لکن سره اونه کړو او د کان يصحب الملائکة اضافې سره ئې اشاره اوکړه چه دامستثنی متصل هم کيدې شی نو اوس دامطلب شو چه حاضرينو سجده اوکړه خو په حاضرينو کښې ابليس اونکړه او وهو ابو الجن وثيلو سره دې خبرې ته اشاره اوکړه چه دامستثنی منقطع ده څکه چه جن په ملائکو کښې داخل نه دې.

قوله: ابی عن السجود دا دماسبق دتاکيد دپاره دې څکه چه دابليس انکار داستثناء نه په پوهه کښې راځی او داهم کيدې شی چه دا جمله داستثناء علت وی يعنې دسجدې نه

کولو وجه د ابلیس استکبار اواستنکاف وو په دې صورت کښې به دابی مفعول محذوف منل جائز نه وی گنی تعلیل الشئ بنفسه لازمیږی بلکه په دې صورت کښې به ابی فعل لازم وی او معنی به اظهر الاباء عن المطاوعة وی.

قوله: فقلنا: ددې جملې عطف په جمله مقدره دې ای ادخلنا آدم الجنة فقلنا له یا آدم.

قوله: حوّاء: داداحوی صیغه صفت مؤنث ده شینوالی یا سوروالی ته مائل.

قوله: فتشقی: داجواب دنهی دې (س) شقاوة مصدر دې چه معنی ئې بدبختې ده دا دمضارع واحد مذکر حاضر صیغه ده شقاوت دسعادت ضد دې څنگه چه د سعادت دوه قسمونه دی دنیوی اوآخروی دارنگې دشقاوت هم دوه قسمونه دی شقاوت دنیوی او آخروی، بیا ددنیوی څو قسمونه دی ددې نه دلته په مشقت اوتعب کښې پریوتل مراد دی لکه وئیلې شی شقیت فی کذا ماته په دې کښې ډیر مشقت پورته کړو.

قوله: اقتصر علی شقاه: دادیوسوال جواب دې، سوال دادې چه اوني ته دنزدې ورتلونه ئې دواړه منع کړل فلا تقربا هذه الشجرة نو دشقاوت او محنت دواړو تعلق هم د دواړو سره کیدل پکار دی حالانکه فتشقی کښې ئې دشقاوت نسبت آدم ؑ ته کړې دې؟ یو جواب خو دادې چه دنان نفقه ذمه داری په خاوند باندې وی نه په بی بی باندې، محنت مشقت سره کتل اوراوړل دخاوند ذمه داری وی نه د بی بی ددې وجې نه ئې دشقاوت نسبت دآدم ؑ په طرف اوشو، دویم جواب دادې چه د فواصل درعایت دوجې ئې داسې کړی دی مراد دواړه دی خو تغلیبًا ئې ښځه دسړی تابع کړې ده. (روح البیان)

قوله: ضنکا: تنگ (ک) ضنکًا تنگیدل ضنکًا دمعیشة صفت دې مبالغةً مصدر صفت راوړلې شوې دې.

سوال: په موصوف صفت کښې مطابقت نشته دې ؟

جواب: ضنکًا چونکه مصدر دې او په مصدر کښې تذکیر اوتانیث برابر وی نو دضنکة وئیلو ضرورت نشته دې.

قوله: عن القرآن: مفسر علام دعن القرآن په ځائ عن الهدایة فرمائیلې وې نو ډیر به مناسب وې.

قوله: ونحشره: جمله مستانفه ده او که درا په سکون سره وی نو د جواب شرط قائم مقام کیدو په وجه به مجزوم وی دتوالی حرکات دوجې نه هم را مجزوم کیدې شی اعمی حال دې دنحشره دضمیر نه.

قوله: افلم یهد لهم: همزه په محذوف باندې داخل ده فا عاطفه ده چه دهغې په ذریعه په محذوف باندې عطف شوې دې تقدیر دعبارت دارنگې دې اعموا فلم یهد لهم علامه محلی

دیهد تفسیر په بشپړ سره کولو کښې اشاره کړې ده چه یهد فعل لازم دې او معنی داده اعموالله یظهر لهم اهلاکنا کثیرا من قبلهم من القرون او داهلکنا مفعول به کم مقدم دې اوددې کم تمیز محذوف دې او من القرون د تمیز صفت کیدو په وجه په محل د نصب کښې دې ای کم اهلکنا کاثنا من القرون.

قوله: یمشون: علامه محلی یمشون د قبلهم د ضمیر نه حال گرځولې دې او څنو مفسرینو داهلکنا د هم ضمیر نه حال گرځولې دې، مطلب دادې چه مونږ دوی هلاک کړل، حال دادې چه هغوی په خپلو کورونو کښې گرځیدل راگرځیدل.

قوله: وما ذکر: مبتدأ ده او من الاخذ ددې بیان دې او لرعایة المعنی داخذ مذکور علت دې او لا مانع منه د مبتدأ خبر دې، مطلب دادې چه فعل مذکور (اهلکنا) نه بغیر د حرف مصدری نه د معنی درعایت د وجې نه د مصدر داخذ کولو نه څه شئ مانع نشته.

داخبره د سوال او جواب په صورت کښې داسې هم وئیلې شي (سوال) اهلکنا نه اهلاک مصدر مراد اخستل څنگه صحیح دی، حالانکه چه په فعل باندې څه داسې حرف داخل نه دې چه داد مصدر په معنی کښې کړې شي؟ (جواب) د معنی درعایت د پاره بغیر د حرف مصدری نه هم مصدر مراد اخستلې شي.

قوله: فی ذلک ای فی الاهلاک.

قوله: نهی جمع نهیة په معنی د عقل.

[ایاتونه: ۱۲۹-۱۳۵]

﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ﴾ بِتَأْخِيرِ الْعَذَابِ عَنْهُمْ إِلَى الْآخِرَةِ ﴿لَكَانَ﴾ الْإِهْلَاكُ ﴿لِزَامًا﴾ لَازِمًا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا ﴿وَأَجَلٌ مُسَمًّى﴾ مَضْرُوبٌ لَهُمْ مَعْطُوفٌ عَلَى الضَّمِيرِ الْمُسْتَتِرِ فِي كَانَ وَقَامَ الْفَصْلُ بِخَبَرِهَا مَكَانَ التَّأْكِيدِ ﴿فَاصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ﴾ مَنْسُوخٌ بِآيَةِ الْقِتَالِ ﴿وَسَبِّحْ﴾ صَلِّ ﴿بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾ حَالٌ أَيْ مُلْتَبِسًا بِهِ ﴿قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ﴾ صَلَاةَ الصُّبْحِ ﴿وَقَبْلَ غُرُوبِهَا﴾ صَلَاةَ الْعَصْرِ ﴿وَمِنْ آنَاءِ اللَّيْلِ﴾ سَاعَاتِهِ ﴿فَسَبِّحْ﴾ صَلِّ الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ ﴿وَأَطْرَافَ النَّهَارِ﴾ عَطْفٌ عَلَى مَحَلِّ مِنْ آنَاءِ الْمَنْصُوبِ أَيْ صَلِّ الظُّهْرَ لِأَنَّ وَقْتَهَا يَدْخُلُ بِزَوَالِ الشَّمْسِ فَهُوَ طَرَفُ النِّصْفِ الْأَوَّلِ وَطَرَفُ النِّصْفِ الثَّانِي ﴿لَعَلَّكَ تَرْضَى﴾ بِمَا تُعْطَى مِنَ الثَّوَابِ ﴿وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَى مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا﴾ أَصْنَافًا ﴿مِنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ زِينَتَهَا وَبَهْجَتَهَا ﴿لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ﴾ بِأَنْ يَطْغَوْا ﴿وَرِزْقُ رَبِّكَ﴾ فِي الْجَنَّةِ ﴿خَيْرٌ﴾ مِمَّا أُوتُوهُ فِي الدُّنْيَا ﴿وَأَبْقَى﴾ أَدْوَمُ ﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ﴾ اصْبِرْ ﴿عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ﴾ نُكَلِّفُكَ ﴿رِزْقًا﴾ لِنَفْسِكَ وَلَا لِغَيْرِكَ ﴿نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ﴾ الْجَنَّةُ ﴿لِلتَّقْوَى﴾ لِأَهْلِهَا ﴿وَقَالُوا﴾ الْمُشْرِكُونَ ﴿لَوْلَا﴾ هَلَّا ﴿يَأْتِينَا﴾ مُحَمَّدٌ ﴿بِآيَةٍ مِنْ رَبِّهِ﴾ مِمَّا يَقْتَرِحُونَهُ ﴿أَوَلَمْ تَأْتِهِمْ﴾ بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ ﴿بَيِّنَةُ﴾ بَيَانُ ﴿مَا فِي الصُّحُفِ الْأُولَى﴾ الْمُشْتَمِلُ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ مِنْ أَنْبَاءِ الْأُمَمِ الْمَاضِيَةِ وَإِهْلَاكِهِمْ

بتكذيب الرسل (وَلَوْ اَنَّا اَهْلَكْنٰهُمْ بِعَذَابٍ مِّنْ قَبْلِهٖ) قبل محمد الرسول (لَقَالُوْا) يوم القيامة (رَبَّنَا لَوْلَا) هلا (اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ) المرسل بها (مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ) في القيامة (وَنَخْزٰى) في جهنم (قُلْ) لهم (كُلٌّ) منا ومنكم (مُّتَرَبِّصٌ) منتظر ما يؤول اليه الامر (فَتَرَبَّصُوْا فَسَتَعْلَمُوْنَ) في القيامة (مَنْ اَصْحٰبُ الصِّرَاطِ) الطريق (السَّوِيِّ) المستقيم (وَمَنِ اهْتَدٰى) من الضلالة انحن ام انتم

ترجمه: اوكه ستا درب خبره (حكم ازلي) يعني ددوى نه عذاب تر قيامت پورې دروستو كولو خبره داول نه فيصله شوې او وخت معين نه وې نو هلاكت به په دنيا كښې (په فوري طور باندې لازم شوې وې مسمى د مضروب له په معنى كښې دې (يعنى مقرر شوې) او د اجل مسمى عطف د كان په ضمير مستتر باندې دې او دكان دخبر فصل دتاكيد قائم مقام دې، پس ته په دې خبرو باندې صبراوكړه داحكم په آيت قتال سره منسوخ دې. او دخپل رب دحمد سره پاكى بيانوه او مونځ كوه يعنى داسې تسبيح كوه چه په حمد باندې مشتمله وى دنمر راختلونه مخكښې دسحر مونځ او دنمر پريوتلو نه مخكښې دمازديگر مونځ اودشپې په وختونو كښې تسبيح بيانوه يعنى دماښام اوماسخوتن مونځونه كوه اود ورځې په اطرافو كښې او اطراف النهار عطف دمن آناء اليل په محل باندې دې چه منصوب دې يعنى دماسپخين مونځ كوه ددې وخت دزوال الشمس نه داخليږى او هغه د(ورځې) تر نصف اول (آخرى) او دنصف ثانى (ابتدائى) كناره ده دې دپاره چه ته دركړى شوى ثواب سره خوشحال شې او ته هر گز دهغه څيزونو په طرف نظر مه اوچتوه او مه گوره چئيه هغې سره مونږ د كافرانو مختلف گرپونه ددوى دازمائش دپاره متمتع كړى دى په دې طور چه هغوى سركشى اوكړى دا (صرف) د دنيوى ژوند خائست او رونق دى، او په جنت كښې ستا درب عطيه د هغه نه چه دوى ته په دنياكښې وركړې شوې ده په څو درجو بهتره او پائيداره ده او خپلو متعلقينو ته دمونځ حكم كوه او خپله هم ددې پابند اوسه او مونږ ستا نه دمعاش سوال نه كوو يعنى مونږ تا دخپل ځان او نورو دپاره دمعاش مكلف نه جوړو رزق خو مونږ تا ته دركوواو انجام يعنى جنت خو داهل تقوى دپاره دې او مشركان وائى چه محمد مونږ ته دخپل رب دطرف نه هغه نخښه ولې نه راوړى دكومې چه هغوى مطالبه كوى اولم تاتهم په تاء او ياء سره آيا دوى ته مخكينو كتابونو بيان نه دې رسيدلې هغه (بيان) چه قرآن پاک په هغې باندې مشتمل دې او هغه بيان دتير شوو امتونو خبرونه اود رسولانو دتكذيب دوجې نه د هغوى دهلاكولو خبرونه دى اوكه مونږ دوى دمحمد ﷺ دراتلو نه مخكښې د څه عذاب په ذريعه هلاک كړى وې نو دې خلقو به دقيامت په ورځ دا وئيل اې زمونږ ربه تا مونږ ته يو رسول ولې نه وراليږلې ؟ چه مونږ دهغه په راوړل شوو ستا د احكاماتو تابعدارى كړې وى مخكښې ددې نه چه مونږ په قيامت كښې په جهنم كښې ذليل او رسوا كيدلو نو ته دوى ته او وايه چه مونږ اوتاسو ټول

منتظر یو چه انجام به څه وی؟ او انتظار کوئ عنقریب دقیامت په ورځ به تاسو ته معلومه شی چه د نیغې لارې والا څوک دی؟ او څوک د ضلامت نه بچ شول او هدایت ته اورسیدل ؟ مونږ یا تاسو (یعنی هر یو د انجام منتظر دې نو تاسو هم په انتظار کښې اوسئ).

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ولولا كلمة سبقت: الخ که د الله پاک په علم ازلی کښې دحضور ﷺ په اکرام کښې دوی دامت نه دعام عذاب روستو کول مقدر شوې نه وی نو دتیرشوو امتونو په شان به په دې امت باندې هم عام عذاب نازل شوې وې، نو دا تاخیر امهال دې نه اهمال، دې دپاره چه کافران په بقیه عمر کښې دتیرو کوتاهیانو تلافی اوکړې شی

قوله: معطوف على الضمير المستتر في كان: مطلب دادې چه و اجل مسمی عطف دکان په ضمیر مستتر باندې دې، تقدیر دعبارت دادې مکان الاهلاک والاجل المعین له لزاما او لزاما مصدر په معنی دلازما دې.

سوال: اهلاک او اجل مسمی دواړه دکان اسم دی لهذا ددې خبر هم تثنیه پکار دې لهذا دلزاما په ځائ لازمَین پکار دې.

جواب: لزاما اګر چه دلازما په معنی کښې دې خو په اصل کښې مصدر دې نو ددې دتثنیه په معنی کښې استعمال صحیح دې.

قوله: قـام الفصل: دا هم دیو سوال مقدر جواب دې، سوال دادې چه کله ضمیر مرفوع متصل باندې عطف کیږی نو دضمیر مرفوع تاکید د ضمیر مرفوع منفصل په ذریعه ضروری وی، دلته دکان په ضمیر مستتر اهلاک باندې داجل مسمی عطف کیږی حالانکه دلته دضمیر مستتر تاکید د ضمیر مرفوع منفصل په ذریعه نه دې شوې؟، دجواب خلاصه داده چه دعطف دجواز یو صورت بل هم دې اوهغه دادې چه دضمیر منفصل نه علاوه که دبل څیز فصل واقع شی بیا هم عطف صحیح کیږی، دلته دکان د خبر (لزاما) د فصل راتلو دوجې نه عطف صحیح شوې دې.

قوله: اجل مسمى: داجل دمرفوع کیدو دوه وجې کیدې شی یو خو داچه د اجل عطف دکان په ضمیر مستتر وی، مفسر علام دا اختیار کړې دې، دویمه وجه داده چه داجل عطف په کلمة باندې وی او د لولا لاندې وی، تقدیر د عبارت به داشی، لولا كلمة واجل مسمى لكان العذاب لازما لهم.

قوله: فاصبر على ما يقولون: په فاصبر کښې فا جزائیه ده شرط محذوف دې تقدیر دعبارت دادې ای اذا كان الامر على ما ذكر من ان تاخير عذابهم ليس باهمال بل هو امهال وهو لازم لهم البتة فاصبر على ما يقولون من الكفر۔ من آناء الليل آناء جمع د آنا په معنی دوخت او من په معنی

د فی ای فی آناء اللیل.

قوله: واطراف النهار: ای صل اطراف النهار د من آناء اللیل په محل باندې د عطف دوجې نه منصوب دې او من آناء اللیل د فسبح دوجې نه منصوب دې ولا تمدن هینیک عطف په فاصبر باندې دې.

قوله: ازواجا: د متعنا مفعول به کیدو دوجې نه منصوب دې او دبه ضمیر مجرور چه دما په طرف راجع دې د هغې نه حال واقع کیدو په وجه هم ازواجا منصوب کیدې شی

قوله: زهرة الحیوة الدنیا: دزهرة دمنصوب کیدو څو وجې کیدې شی ① دمتعنا دمفعول ثانی کیدو دوجې نه، مفعول اول ازواجا دې او متعنا چونکه داعطینا معنی ته متضمن دې څکه متعدی دوؤ مفعولو ته شو ② دازواجا نه بدل کیدو په وجه یا خو په حذف دمضاف سره ای ذوی زهرة یا ③ مبالغة دفعل محذوف دوجې نه منصوب دې چه پرې متعنا دلالت کوی ای جعلنا زهرة ④ منصوب علی الذم ای اذم زهرة الحیوة الدنیا ددې نه علاوه پنځه وجې د نصب نورې هم کیدې شی چه هغه د اختصار دوجې نه پریخودې شوې.

قوله: بأن یطغوا: با سببیه ده ای نفتنهم بسبب طغیانهم.

قوله: بهجة: رونق، خوبصورتی (س، ف، ک).

قوله: یقترحونه: اقتراح خواهش کول، تجویز پیش کول، مطالبه کول.

قوله: اولم یأتهم: همزه په محذوف باندې داخله ده او واو عاطفه دې ای اعموا ولم تأتهم

قوله: ولوانا اهلکنهم: دا جمله مستانفه ده دماقبل دتاکید دپاره راوړلې شوې ده.

قوله: فنتبع: د لولا استفهامیه جواب دې دان مقدر دوجې نه منصوب دې ای فان نتبع

قوله: من اصحب الصراط: مبتدأ اوخبر دی، علامه محلی د من اهتدی تفسیر من الضلالة سره کړې دې او اصحب الصراط السوی او من اهتدی کښې ئې فرق ته اشاره کړې ده. اصحاب الصراط هغه خلق دی کوم چه دشروع نه په هدایت باندې وی لکه حضور ﷺ او هغه خلق کوم چه داسلام په حالت کښې بالغ شوی و لکه حضرت علی ؓ وغیره او ومن اهتدی هغه خلق په چا باندې چه دکفر زمانه تیره شوې وه او روستو ئې اسلام راوړو ومَن اهتدی کښې من استفهامیه دې او په محل د خبر کښې هم کیدې شی په الصراط باندې عطف کولو سره ای اصحاب من اهتدی.

پاره نمبر ۱۷ [اقْتَرَبَ لِلنَّاس]

[۲۱] سورة الأنبياء

سُورَةُ الأَنْبِيَاء مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَاحدى او اثنتا عَشْرَة آيَة نَزَلَتْ بعد سورة إبراهيم

سوره انبياء مكى دي، يوسل يوولس يا يوسل دولس آيتونه دى.

[اياتونه: ۱-۱۰]

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿اقْتَرَبَ﴾ قَرُبَ ﴿لِلنَّاس﴾ أَهْل مَكَّة مُنْكِرِي الْبَعْث ﴿حِسَابُهُمْ﴾ يَوْم الْقِيَامَة ﴿وَهُمْ فِي غَفْلَة﴾ عَنْهُ ﴿مُعْرِضُونَ﴾ عَنْ التَّأَهُّب لَهُ بِالْإِيمَانِ ﴿مَا يَأْتِيهِمْ مِنْ ذِكْرٍ مِنْ رَبِّهِمْ مُحْدَث﴾ شَيْئًا فَشَيْئًا أَيْ لَفْظ قُرْآن ﴿إِلَّا اسْتَمَعُوهُ وَهُمْ يَلْعَبُونَ﴾ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿لَاهِيَة﴾ غَافِلَة ﴿قُلُوبهمْ﴾ عَنْ مَعْنَاهُ ﴿وَأَسَرُّوا النَّجْوَى﴾ الْكَلَام ﴿الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ بَدَل مِنْ وَاو ﴿وَأَسَرُّوا النَّجْوَى﴾ ﴿هَلْ هَذَا﴾ أَيْ مُحَمَّد ﴿إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ﴾ فَمَا يَأْتِي بِهِ سِحْر ﴿أَفَتَأْتُونَ السِّحْر﴾ تَتَّبِعُونَهُ ﴿وَأَنْتُمْ تُبْصِرُونَ﴾ تَعْلَمُونَ أَنَّهُ سِحْر ﴿قَالَ﴾ لَهُمْ ﴿رَبِّي يَعْلَم الْقَوْل﴾ كَائِنًا ﴿فِي السَّمَاء وَالْأَرْض وَهُوَ السَّمِيع﴾ لِمَا أَسَرُّوهُ ﴿الْعَلِيم﴾ بِهِ ﴿بَلْ﴾ لِلِانْتِقَالِ مِنْ غَرَض إِلَى آخَر فِي الْمَوَاضِع الثَّلَاثَة ﴿قَالُوا﴾ فِيمَا أَتَى بِهِ مِنْ الْقُرْآن هُوَ ﴿أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ﴾ أَخْلَاط رَآهَا فِي النَّوْم ﴿بَلْ افْتَرَاهُ﴾ اخْتَلَقَهُ ﴿بَلْ هُوَ شَاعِر﴾ فَمَا أَتَى بِهِ شِعْر ﴿فَلْيَأْتِنَا بِآيَةٍ كَمَا أُرْسِلَ الْأَوَّلُونَ﴾ كَالنَّاقَةِ وَالْعَصَا وَالْيَد قَالَ تَعَالَى ﴿مَا آمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْيَة﴾ أَيْ أَهْلهَا ﴿أَهْلَكْنَاهَا﴾ بِتَكْذِيبِهَا مَا أَتَاهَا مِنْ الْآيَات ﴿أَفَهُمْ يُؤْمِنُونَ﴾ لَا ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَك إِلَّا رِجَالًا نُوحِي﴾ وَفِي قِرَاءَة بِالْيَاءِ وَفَتْح الْحَاء ﴿إِلَيْهِمْ﴾ لَا مَلَائِكَة ﴿فَاسْأَلُوا أَهْل الذِّكْر﴾ الْعُلَمَاء بِالتَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيل ﴿إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ ذَلِكَ فَإِنَّهُمْ يَعْلَمُونَهُ وَأَنْتُمْ إِلَى تَصْدِيقهمْ أَقْرَب مِنْ تَصْدِيق الْمُؤْمِنِينَ بِمُحَمَّدٍ ﴿وَمَا جَعَلْنَاهُمْ﴾ أَيْ الرُّسُل ﴿جَسَدًا﴾ بِمَعْنَى أَجْسَادًا ﴿لَا يَأْكُلُونَ الطَّعَام﴾ بَلْ يَأْكُلُونَهُ ﴿وَمَا كَانُوا خَالِدِينَ﴾ فِي الدُّنْيَا ﴿ثُمَّ صَدَقْنَاهُمْ الْوَعْد﴾ بِإِنْجَائِهِمْ ﴿فَأَنْجَيْنَاهُمْ وَمَنْ نَشَاء﴾ الْمُصَدِّقِينَ لَهُمْ ﴿وَأَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِينَ﴾ الْمُكَذِّبِينَ لَهُمْ ﴿لَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ﴾ يَا مَعْشَر قُرَيْش ﴿كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ﴾ لِأَنَّهُ بِلُغَتِكُمْ ﴿أَفَلَا تَعْقِلُونَ﴾ فَتُؤْمِنُونَ بِهِ

ترجمه: خلقو (يعنى) دبعث منكرينو اهل مكه دپاره ددوى دحساب (يعنى) دقيامت ورځ نزدې راغله بيا هم هغوى ددې نه په غفلت كښې پراته دى په دې باندې دايمان په ذريعه دتيارۍ نه اعراض كړې دې ددوى درب دطرف نه دوى ته څه نوې نصيحت په تدريج نه راځى (يعنى قرآنى الفاظ) خو داچه داخلق دا په لوبو كښې د استهزاء په طور باندې اورى حال دادې چه ددوى زړونه ددې دمعانيو نه غافل وى او دې ظالمانو پټې مشورې اوكړې الذين ظلموا داسروا دواؤ نه بدل دې چه دا يعنى محمد ﷺ ستاسو په شان انسان دې نو پس څه چه دې پيش كوى هغه سحر دې بيا هم تاسو دجادو دخبرې اوريدو دپاره ده ته ورځئ؟ حالانكه تاسو پوهيږئ چه دا سحر دې پيغمبر ﷺ اوفرمائيل چه زما رب هره خبره (كه) هغه په اسمان كښې وى (او كه) په زمكه كښې

پیژنی او کومه خبره چه دوی پټوی دهغې بنه اوریدونکې او پیژندونکې دې بَل د یو غرض نه بل غرض ته د انتقال دپاره دې په درهواړو ځایونو کښې (یعنی په جادو وئیلو باندې ئې اکتفاء او نه کړه)

بلکه نبی علیه السلام چه کوم قرآن راوړو دهغې په باره کښې ئې اوئیل دا پریشان خیالات دی یعنی په خوب کښې لیدلې شوی د ګډو وډو خیالونو مجموعه ده بلکه دا ئې دځان نه جوړ کړی دی (یعنی) دروغ ئې جوړ کړی دی بلکه داشاعر دې نو کوم څیز چې دا پیش کوی هغه شعر دې نو (ده ته پکار دی) چه مونږ ته څه غټ نښه راوړی لکه څنګه چه مخکښې پیغمبرانو ته (نښې ورکړی شوې) راولیږلې شوی وو مثلا ناقه (اوښه) عصا (همسا) ید بیضا (پړقیدونکې لاس) الله پاک اوفرمائیل ددوی نه مخکښې چه کوم کلی یعنی کلی والو ایمان رانه وړو مونږ دوی ددې نښو ددروغژن کولو په وجه هلاک کړل نو آیا دا خلق ایمان راوړی؟ نه.

مونږ ستا نه مخکښې صرف سړی رسولان لیږلی دی چه هغوی ته وحی لیږل کیده او په یو قراءت کښې د نون او حاء په کسرې سره دې (یعنی مونږ وحی لیږله) نه فرشتو ته که تاسو ته داخبره معلومه نه وی نو داهل ذکر یعنی د انجیل او د تورات دعالمانو نه معلومات اوکړئ، ځکه چه هغوی دا خبره پیژنی او تاسو دهغوی تصدیق ته ډیر نزدې یئ په نسبت د محمد ﷺ باندې دایمان راوړونکو او مونږ ددې رسولانو داسې بدنونه نه جوړ کړی چه خوراک نه کوی بلکه خوراک کوی جسد په معنی داجساد دې اودا حضرات په دنیاکښې همیشه نه دې پاتې شوی بیا مونږ چه ددوی سره کومه وعده کړې وه هغه مو رښتیا کړه یعنی پوره مو کړه یعنی مونږ دوی ته او ددوی تصدیق کونکو کښې مو چاته غوښتل نجات ورکړو او دحد نه تیریدونکی یعنی ددوی تکذیب کونکی مو هلاک کړل اې قریشو! مونږ تاسو ته داسې کتاب لیږلې دې چه په هغې کښې ستاسو دپاره نصیحت دې ځکه چه هغه ستاسو په ژبه کښې دې بیا هم تاسو نه پوهیږئ چه په دې باندې ایمان راوړئ.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اقترب. قرِبَ (س، ک) نزدې راتلل داقترب تفسیر ئې په قرب سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چه اقترب او قرب دواړه په یو معنی دی.

قوله: للناس : ددې تفسیر ئې په اهل مکه سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چه دا داطلاق الجنس علی البعض دقبیلې نه دې، دلیل ددې دادې چه آئینده کوم صفات بیانولې شی هغه دمکې په مشرکانو باندې صادقیږی، ګنی حساب خو دهر یو کس نزدې راغلې دې.

قوله: حسابهم : ای وقت حسابهم مضاف محذوف دې.

قوله: وهم فی غفلة معرضون : داجمله حالیه ده ای قرب وقت حسابهم والحال انهم غافلون معرضون هم مبتدأ معرضون ئې خبر.

قوله: في غفلة: دمعرضون دضمير نه حال هم كيدې شي اى اعرضوا غافلين او دمبتدأ خبر ثاني هم كيدې شي.

قوله: تأهب: اهب وتاهب په معنى دتياريدو، اماده كيدو.

قوله: ما يأتيهم من ذكر: دادماقبل علت دې من ذكر كښې من په فاعل باندې زائد دې.

قوله: لفظ القرآن: مفسر علام دلفظ القرآن اضافه كولو سره داشبه زائله كړه چه دلته دذكر نه مراد قرآن دې او قرآن دالله پاک كلام او دهغه خاص صفت دې اودالله پاک دذات په شان دهغه صفات هم قديم دی نو بيا هغه ته محدث ولې اونيلې شو؟

جواب: دجواب خلاصه داده چه قرآن پاک دالفاظ منزله په اعتبار سره حادث دې او دخپل مدلول او د معنى په اعتبار سره قديم دې.

قوله: واسروا النجوى: الذين ظلموا داسروادواو نه بدل دې اوپه محل درفع كښې دې او الذين ظلموا، د هم مبتدأ محذوف خبر هم كيدې شي اى هم الذين ظلموا او كه اعنى فعل مقدر اومنلې شي نو الذين ظلموا به محلا منصوب شي، اى اعني الذين ظلموا.

قوله: هل هذا: الخ دا النجوى نه بدل دې يعنى ددې ظالمانو پټې خبرې داوې چه دازمونږ په شان بشر دې هل هذا الا بشر مثلكم وانتم تبصرون دتأتون دضمير نه حال دې علامه محلى د كائنا اضافه كولو سره اشاره اوكړه چه في السماء والارض دالقول نه حال دې.

قوله: اضغاث احلام: دادهذا يا هو مبتدأ محذوف خبر دې ځنكه چه علامه محلى هو مقدر منلو سره اشاره كړې ده او بيا جمله د قالوا مفعول به كيدو دوجې نه محلا منصوب ده اضغاث په معنى داخلاط جمع ضغث هغه ګډ وډ خيالونه كوم چه انسان په خوب كښې وينى.

قوله: فليأتنا بآية: دادشرط محذوف جزاء ده كومه چه دسياق اوسباق نه فهميږى اى كانه قيل وان لم يكن كما قلنا بل كان رسولا من عند الله فليأتنا بآية.

قوله: كما ارسل الاولون: داد آية صفت دې اى ائتنا بآية كائنة مثل الآية التي ارسل بها الاولون.

قوله: اهلكنها، دقرية صفت دې افهم يؤمنون نه پس ئى لا مقدر منلو سره اشاره اوكړه چه په افهم كښې همزه داستفهام انكارى ده.

قوله: يوحى: بالياء مبني للمفعول الملهم نائب فاعل وفي قراءة نوحي بالنون وكسر الحاء په دې صورت كښې به مفعول محذوف وى اى نوحي اليهم الامر والنهي ان كنتم لا تعلمون دا جمله شرطيه ده ددې جزاء فاسئلوهم محذوف ده سابقه جمله دجزاء په حذف باندې دلالت كوى يعنى تاسو به د اهل كتابو دخبرې تصديق ته غوره والې وركړئ په خلاف دهغه خلقو دخبرې دتصديق كوم چه په محمد ﷺ باندې ايما لرى ځكه چه اهل كتاب داسلام په دشمنې

کښې ستاسو سره شریک دی.

قوله: اقرب من تصدیق المؤمنین اصل کښې من تصدیقکم المؤمنین محمد ﷺ دی جسدا په معنی داجسادا دا اشاره ده چه جسدا مفرد په معنی داجسادا دی یا ددې نه مخکښې مضاف محذوف دی ای ذوی جسد یا خو ددې وجې نه منصوب دی چه دجعلنا مفعول ثانی دی که جعل په معنی دصیر وی او که جعل په معنی دخلق وی نو دجعلناهم د هم ضمیر نه حال واقع کیدو دوجې نه به منصوب وی.

قوله: لا یاکلون الطعام: ظاهره داده چه داجمله دجسدا صفت دی په اصل کښې داجمله دمشرکینو دهغه قول رد دی چه هغوی به وئیل مال هذا الرسول یاکل الطعام.

قوله: لقد انزلنا: لقد کښې لام قسمیه دی ای والله لقد.

[ایاتونه: ۱۱-۲۲]

(وَكَمْ قَصَمْنَا) اَهْلَكْنَا (مِنْ قَرْيَةٍ) اي اَهْلِهَا (كَانَتْ ظَالِمَةً) كافرة (وَأَنْشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا آخَرِينَ) (فَلَمَّا أَحَسُّوا بَأْسَنَا) شَعَرَ اَهْلُ الْقَرْيَةِ بِالْإِهْلَاكِ (إِذَا هُمْ مِنْهَا يَرْكُضُونَ) يَهْرُبُوْنَ مُسْرِعِيْنَ فَقَالَتْ لَهُمُ الْمَلَائِكَةُ اسْتِهْزَاءً (لَا تَرْكُضُوا وَارْجِعُوا إِلَى مَا أُتْرِفْتُمْ) نُعِّمْتُمْ (فِيهِ وَمَسَاكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ) شَيْئًا مِنْ دُنْيَاكُمْ عَلَى الْعَادَةِ (قَالُوا) يَا لِلتَّنْبِيْهِ (وَيْلَنَا) هَلَاكَنَا (إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ) بالكفر (فَمَا زَالَتْ تِلْكَ) الْكَلِمَاتُ (دَعْوَاهُمْ) يَدْعُوْنَ بِهَا وَيُرَدِّدُوْنَهَا (حَتَّى جَعَلْنَاهُمْ حَصِيدًا) كَالزَّرْعِ الْمَحْصُوْدِ بِالْمَنَاجِلِ بِاَنْ قُتِلُوْا بِالسَّيْفِ (خَامِدِينَ) مَيِّتِيْنَ كَخُمُوْدِ النَّارِ اِذَا طفئت (وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَاعِبِينَ) عَابِثِيْنَ بَلْ دَالِّيْنَ عَلَى قُدْرَتِنَا وَنَافِعِيْنَ عِبَادَنَا (لَوْ أَرَدْنَا أَنْ نَتَّخِذَ لَهْوًا) مَا يُلْهٰى بِهٖ مِنْ زَوْجَةٍ اَوْ وَلَدٍ (لَاتَّخَذْنَاهُ مِنْ لَدُنَّا) مِنْ عِنْدِنَا مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ وَالْمَلَائِكَةِ (إِنْ كُنَّا فَاعِلِينَ) ذٰلِكَ لٰكِنَّا لَمْ نَفْعَلْهُ فلم نرده (بَلْ نَقْذِفُ) نَرْمِيْ (بِالْحَقِّ) الْاِيْمَانِ (عَلَى الْبَاطِلِ) الْكُفْرِ (فَيَدْمَغُهُ) يُذْهِبُهٗ (فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ) ذَاهِبٌ وَدَمَغَهٗ فِي الْاَصْلِ اَصَابَ دِمَاغَهٗ بِالضَّرْبِ وَهُوَ مَقْتَلٌ (وَلَكُمُ) يَا كُفَّارَ مَكَّةَ (الْوَيْلُ) الْعَذَابُ الشَّدِيْدُ (مِمَّا تَصِفُونَ) اللّٰهَ بِهٖ مِنَ الزَّوْجَةِ او الولد (وَلَهُ) تَعَالٰى (مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ) مُلْكًا (وَمَنْ عِنْدَهُ) اَيِ الْمَلَائِكَةُ مُبْتَدَأٌ خَبَرُهٗ (لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ) لَا يَعْيَوْنَ (يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ) عَنْهُ فَهُوَ كَالنَّفَسِ مِنَّا لَا يَشْغَلُنَا عَنْهُ شَاغِلٌ (أَمِ) بِمَعْنٰى بَلْ لِلْاِنْتِقَالِ وَالْهَمْزَةُ لِلْاِنْكَارِ (اتَّخَذُوا آلِهَةً) كَائِنَةً (مِنَ الْأَرْضِ) كَحَجَرٍ وَذَهَبٍ وَفِضَّةٍ (هُمْ) اَيِ الْآلِهَةُ (يُنْشِرُونَ) اَيْ يُحْيُوْنَ الْمَوْتٰى لَا وَلَا يَكُوْنُ اِلٰهًا اِلَّا مَنْ يُحْيِي الموتى (لَوْ كَانَ فِيهِمَا) اَيِ السَّمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ (آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ) اَيْ غَيْرُهٗ (لَفَسَدَتَا) اَيْ خَرَجَتَا عَنْ نِظَامِهِمَا الْمُشَاهَدِ لِوُجُوْدِ التَّمَانُعِ بَيْنَهُمْ عَلٰى وَفْقِ الْعَادَةِ عِنْدَ تَعَدُّدِ الْحَاكِمِ مِنَ التَّمَانُعِ فِي الشَّيْءِ وَعَدَمِ الْاِتِّفَاقِ عَلَيْهِ (فَسُبْحَانَ) تَنْزِيْهٌ (اللَّهِ رَبِّ) خَالِقِ (الْعَرْشِ) الْكُرْسِيِّ (عَمَّا يَصِفُونَ) الْكُفَّارُ اللّٰهَ بِهٖ مِنَ الشَّرِيْكِ لَهٗ وَغَيْرِهٖ (لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ) عَنْ افعالهم

ترجمه: اودیر کلي یعنی د کلووالا چه ظالمان یعنی کافران وو مونږ تباه یعنی هلاک کړل او ددوی نه پس مو بل قوم پیدا کړو نو دې ظالمانو چه کله زمونږ عذاب راتلونکې اولیدو یعنی د کلو والا چه کله هلاکت محسوس کړو نو ددې کلی نه په تیزئ سره تښتیدل نو فرشتو دوی ته داستهزاء په طور سره اوئیل تښتئ مه او خپلو سامانونو په طرف کومو کښې چه تاسو ته خوشحالي (آسودگی) درکړې شوې وه او دخپلو کورونو په طرف راواپس شئ دې دپاره چه ددنیا ددستور مطابق ستاسو نه څه تپوسونه اوکړې شي نو هغوی اوئیل هائ زمونږ بدبختي (یادتنبیه دپاره ده) یعنی زمونږ هلاکت یېشک مونږ دکفر په ذریعه ظالمان وو بیا ئې هم ددغې کلماتو رټ لګولو اودغه کلمات ئې بیا بیا وئیل تردې چه مونږ دوی حصید کړل یعنی په لور باندې کټ کړې شوی پټی پشان مو کړل څکه چه هغوی تول په توره سره وهلې شوی وو اود مړ کړی شوی اور پشان مو مړه کړل لکه څنګه چه اور مړ کیږی کله چه هغه مړ کړې شي اومونږ اسمان اوزمکه اوهغه څه چه ددې په مینځ کښې دی لوبې کونکې نه دې پیدا کړی یعنی دبې فائدې کار کونکې په شان مونه دی جوړ کړی دی بلکه په دې انداز مو جوړ کړی چه زمونږ په قدرت باندې دلالت اوکړی او زمونږ دبندګانو دپاره نافع شي او که زمونږ د لوبې تماشې په طور جوړول مقصود وې یعنی (کهلونا) چه په هغې سره دطبیعت تفریح مقصود وې مثلا بی بی اوبچی نودابه مو دخپل طرف نه جوړ کړی وې یعنی (ددې مقصد دپاره) به مو دخپل طرف نه دحورو او ملائکو انتخاب کړې وې، که مونږ ته داسې کول وې خو مونږ داسې اونه کړل نو ددې مو اراده هم اونه کړه بلکه مونږ حق ایمان په باطل یعنی په کفرباندې غورزوو نوهغه ددې سر ماتوی یعنی نیست اونابود کوی یئ نو هغه په یو دم ختم شي زاهق په معنی دذاهب دې او ددمغه معنی په اصل کښې په دماغو باندې ضرب لګولو ده (یعنی دسر ماتولو) حال دادې چه هغه ضرب مهلک وی اوستاسو دپاره اې دمکې کافرانو هلاکت یعنی سخت عذاب دې د هغه خبرو دوجې نه چه په هغې سره تاسو الله متصف کوئ یعنی بی بی یا بچې او په زمکه او اسمان کښې چه څه دی هم دهغه ملک دې او کومې فرشتې چه دهغه سره دی هغوی د هغه دعبادت نه سرکشی نه کوی من عنده مبتدأ ده او لایستکبرون ددې خبردې اونه هغوی ستړې کیږی بلکه شپه اوورځ دالله پاک تسبیح کوی اود تسبیح نه (لږ هم) سستی نه کوی پس هغه تسبیح هغوی دپاره زمونږ دپاره دساه په شان ده چه مونږ ددې ساه نه یو عمل هم نه بندوی آیا دې خلقو دزمکې مخلوق مثلا کانړو، سرۀ زرو، چاندئ نه معبودان جوړ کړی دی آیا هغه یعنی باطل معبودان مړی ژوندی کولې شي ؟ نه، او معبود هغه کیدې شي کوم چه مړی ژوندې کولې شي که په دې دواړو یعنی زمکه اواسمان کښې دالله نه سوا بل معبود وې نو دا دواړه به فاسد شوی وې یعنی خپل نظام مشاهد نه به وتلې وې (یعنی درهم برهم شوی به وې) ددوی په مینځ کښې د تکراؤ دوجې نه

دعادت مطابق د ډیرو حاکمانو په وخت په یوشی کښې تکراؤ او د عدم اتفاق دوجې نه (یعنی په دنیوی بادشاهانو کښې هم دا عادت او دستوردې چه کله دبرابر حیثیت والا څو حاکمان یوځائ شی نو ددوی په مینځ کښې په یونه یوخبره کښې ضرور اختلاف وی کوم چه دتکراؤ شکل اختیاروی او چونکه یو دبل نه کم نه وی نو هغه شئ درهم برهم شی) بس الله دعرش کرسئ رب خالق دې دهر هغه څيز نه پاک دې کوم چه دا کافران بیانوی، یعنی کافران، د شرک وغیره صفاتو نه کوم سره چه هغه متصف کوی (پاک دې هغه دخپلو کارونو دپاره جواب ده نه دې اوهغوی دخپلو افعالو په باره کښې جواب ده دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: کم: خبریه دې اوقصمنا مفعول مقدم دې من قریة دکم خبریه تمیز دې قصمنا (ض) ماضی جمع متکلم معروف قصما ماتول، ریزه ریزه کول، مات ګډ کول، هلاکول قریه نه دیمن یو قریه مراد ده دکوم نوم "چه حضوراء" وو الله پاک دې کلی والو ته حضرت موسی بن میشا بن یوسف بن یعقوب نبی لیږلې وو او څنې حضراتو امم سابقه مثلا قوم نوح او لوط او صالح وغیره هم مراد اخستی دی خواول قول راجح دې

قوله: کانت ظالمة ، دادقریة صفت دې .

قوله: احسوا: ای ادرکوا بالحواس.

قوله: اذا هم یرکضون : اذا مفاجاتیه دې هم مبتدا یرکضون ددې خبردې الرکض ضرب الدابة بالرجل (پونده ورکول) دلته مراد په تیزئ سره تښتیدل دی اذا دیرکضون ظرف دې

قوله: استهزاء: په دې لفظ سره ئې دیو سوال مقدر جواب ورکړې دې .

سوال: سوال دادې چه ملائکه دکذب وغیره نه معصوم دی نوهغوی بیا دواقعې نه خلاف خبره ولې اوکړه ؟چه تاسو دخپلو سامان د خوشحالئ او کورونوته واپس راشئ حالانکه ملائکو ته معلومه وه چه په دوی کښې یو هم دبچ کیدو والا نشته؟

جواب: دجواب خلاصه داده چه هغوی دا استهزاء اوئیل لکه په بل ځائ کښې فرمائیلې شوی دی ذق انك انت العزیز الکریم .

قوله: مساکنکم : ددې عطف په ما باندې دې تلک الکلمات نه ددوی قول مراد دې یاویلنا اناکنا ظالمین

قوله: لاعبین: دا دخلقنا دضمیر فاعل نه حال دې .

قوله: دعواهم : ای دعاءهم وندائهم، مناجل جمع دمنجل د فصل د ریبلو آله (لور) حصیدا مصدر په معنی دمحصود کټ کړې شوې فصل، مصدر چونکه په واحد تثنیه اوجمع ټولو د پاره استعمالیږی په دې وجه ئې حصیدا جمع رانه وړولو.

قوله: خامدين: دجعلناهم دضمير هم نه حال دې حصيدا خامدين ددوارو مجموعه په منزله د مفعول واحد ده نو دااعتراض ختم شو چه جعل دريو مفعولو ته نه متعدی کیږی او دلته دريو مفعولوته شوې دې خامدين دخمدت النار نه مشتق دې کله چه داور شغلې مرې شی ددې نه خمدت الحمی مشتق دې کله چه دتبې تيزوالې کم شی او همدت النار په هغه وخت وئيلې شی کله چه اور بالکل مړشی اوايره شی.

قوله: لاعبين: په ماخلقنا کښې مقصد نفی دلاعبين ده ځکه چه نفی کله په مقيد داخله شی نودقيد نفی مراد وی نو په ماخلقنا کښې دتخليق نفی مقصود نه ده بلکه دلاعبين نفی مقصودده.

قوله: لو اردنا ان نتخذ لهوا: دلاتخذناه من لدنا جواب دې، دتالی دنقيض استثناء دمقدم دنقيض نتيجه ورکوی نو عبارت به دارنګه شی لوتعلقت ارادتنا باتخاذ اللهو لاتخذناه من عندنا لکنا لم نتخذه فلم تتعلق به ارادتنا.

قوله: ان کنا فاعلين: ان شرطيه دې او جواب دشرط محذوف دې تقدير دعبارت دادې ان کنا فاعلين اردناه مفسر علام دخپل قول لکنا لم نفعله سره دنقيضِ تالی ته اشاره کړې ده، او فلم نرده اضافې سره ئې دې خبرې ته اشاره اوکړه چه ان شرطيه دې، په ان کنا فاعلين کښې ان نافيه هم کيدې شی، ای ماکنا فاعلين.

قوله: مما تصفون: مفسر علام دبه اضافه کولو سره اشاره کړې ده چه په مما کښې ما موصوله ده او تصفون جمله ددې صله ده او عائد به محذوف دې، ما مصدريه هم کيدې شی تقدير دعبارت به داشی ولکم الويل من اجل وصفکم اياه عما لا يليق مما تصفون داستقر متعلق دې ای استقر لکم الويل من اجل ماتصفون الله به مما لا يليق بعزته.

قوله: مَن عنده: ای مکرم عنده.

قوله: لايستحسرون: (استفعال) جمع مذکر غائب منفی هغوی نه ستړې کيږی.

قوله: لايفترون: (ن) جمع مذکر غائب منفی سستی نه کوی.

قوله: اتخذوا آلهة: کائنة من الارض مفسر علام کائنة مقدر منلو سره اشاره اوکړه چه من الارض دکائنة متعلق شو دآلهة صفت دې او داتخذوا مفعول ثانی هم کيدې شی او من الارض د اتخذوا فعل متعلق هم کيدې شی.

قوله: لو کان فيهما آلهة الا الله لفسدتا: لو حرف شرط دې او کان تامه شرط دې آلهة ددې فاعل دې او فيهما دکان متعلق دې او الا په معنی د غير دآلهة صفت دې ددې اعراب په مابعد کښې ظاهر شوې دې.

قوله لفسدتا جواب دشرط دي

فعلِ شرط نه مقدم او جوابِ شرط ته تالي وائی دتالي دنقیض استثناء دمقدم دنقیض نتیجه ورکوی مطلب داشو لکنهما لم تفسدا فلم یکن فیهما آلهة غیر الله.

[ایاتونه: ۲٤-۲۹]

{أم اتخذوا من دونه} تعالی أي سواه {آلهة} فِيهِ اسْتِفْهَام تَوْبِيخ {قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ} عَلَى ذلك ولا سبيل إِلَيْهِ {هَذَا ذِكْرُ مَنْ مَعِيَ} أُمَّتِي وَهُوَ القرآن {وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِي} مِنَ الأُمَم وَهُوَ التَّوْرَاة وَالإِنْجِيل وَغَيْرهمَا مِن كُتُب الله لَيْسَ فِي وَاحِد مِنْهَا أَنَّ مَعَ الله إِلَهًا مِمَّا قَالُوا تَعَالَى عَنْ ذَلِكَ {بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ الْحَقَّ} تَوْحِيد الله {فَهُمْ مُعْرِضُونَ} عَنْ النَّظَر الْمُوصِل إِلَيْهِ {وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي} وَفِي قِرَاءَة بِالْيَاءِ وَفَتْح الْحَاء {إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ} أي وحدوني {وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا} مِنَ الْمَلَائِكَة {سُبْحَانَهُ بَلْ} هُمْ {عِبَادٌ مُكْرَمُونَ} عِنْده وَالْعُبُودِيَّة تُنَافِي الولادة {لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ} لَا يَأْتُونَ بِقَوْلِهِمْ إِلَّا بَعْد قَوْله {وَهُمْ بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ} أَيْ بَعْده {يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ} مَا عَمِلُوا وَمَا هُمْ عَامِلُونَ {وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَى} تَعَالَى أَنْ يَشْفَع لَهُ {وَهُمْ مِنْ خَشْيَتِهِ} تَعَالَى {مُشْفِقُونَ} خَائِفُونَ {وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَهٌ مِنْ دُونِهِ} أَيْ الله أَيْ غَيْره وَهُوَ إِبْلِيس دَعَا إِلَى عِبَادَة نَفْسه وَأَمَرَ بِطَاعَتِهَا {فَذَلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ كَذَلِكَ} كَمَا نَجْزِيه {نَجْزِي الظَّالِمِينَ} الْمُشْرِكِينَ

ترجمه: آیا دې خلقو دالله پاک نه سوا نور معبودان جوړکړی دی؟ په دې کښې استفهام توبیخي دې دوی ته اوایه چه راوړئ په دې خبره (یعنی په اتخاذ اله باندې) خپل دلیل پیش کړئ ددوی سره هیڅ دلیل نشته دې (نه عقلي او نه نقلي) دازما دملګرو کتاب موجود دې یعنی زما دامت او هغه قرآن دې او زما نه دمخکینو امتونو (کتابونه) موجود دی او هغه تورات او انجیل وغیره دی دالله پاک دکتابونونه، په هغې کښې په یو کښې هم دانشته چه دالله پاک نه سوا بل معبود شته څنګه چه دا خلق وائی، الله پاک خو د دې نه وراء الوراء (پاک) دې خبره داده چه په دوی کښې اکثر خلق حق نه پیژنی یعنی دالله پاک توحید هم په دې وجه حق ته درسونکی دلیل نه اعراض کوی ستا نه مخکښې چه مونږ کوم رسولان لیږلی وو هغوی ته هم مونږ داوحی لیږلې وه چه زما نه سوا هیڅ یو معبود نشته نو زما بندګی کوئ یعنی زما دتوحید اقرار کوئ په یو قراءت کښې دیوحی په خای نوحی دې په نون اودحاء په کسرې سره دامشرکان وائی چه رحمن دفرشتو نه اولاد نیولي دې دهغه ذات پاک دې بلکه هغوی خو دهغه عزتمند بندګان دی او عبودیت د ولادت منافی دې هغوی د هغه نه په خبره کښې نه مخکښې کیږی یعنی هغوی پخپله څه خبره نه کوی خو داجازت نه پس او هغوی دهغه دحکم نه پس دهغه دحکم مطابق عمل کوی هغه د هغوی دمخکښې اوروستو ټولو امورو نه خبردې یعنی چه څه ئې کړی دی او څه به چه په آئنده کښې کوی اوهغوی دچا سفارش نه کوی سوا دهغه چا نه چه

الله پاک دهغه دپاره راضی وی چه دده دي سفارش اوکړي شی اوهغوی دخدایٔ پاک دهیبت نه لړزيږی يعنی ويريږی که په هغوی کښې کوم يو اووائی چه زه دالله پاک نه سوا معبود يم هغه ابليس دي چه هغه دخپلې بندګئ دعوت ورکړو او دخپل طاعت دعوت ئی ورکړو نوموږ به هغه ته دجهنم سزا ورکړو موږ داسې لکه څنګه به چه ده ته سزا ورکړو ظالمانو يعنی مشرکانو ته به هم سزا ورکړو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: امراتخذوا من دونه: امر استفهام توبيخی په معنی دبل دي او ديو مضمون نه دبل مضمون په طرف دانتقال کولو دپاره دي، يعنی دتعدد اله دبطلان ثابتولو نه پس د اتخاذ اله متعدده بطلان ظاهروی.

قوله: هذاذکرمن معی وذکرمن قبلی: هذا اسم اشاره مبتدأ ده مشار اليه کتب سماويه دی، دهذا مبتدأ دوه خبر دی، خبرونه اول نه قرآن مراد دي اود خبر ثانی نه دقرآن نه علاوه نور اسمانی کتابونه مراد دی، لکه چه مفسر علام اشاره کړي ده.

قوله: ومآارسلناك من قبلك: داد ماقبل دمضمون تاکيد دي.

قوله: قالوا: ضمير فاعلی دعربو دڅنو قبيلو په طرف راجع دي کوم چه دملائکو په باره کښې دالله پاک دلونړو کيدو قائل وو. په دوی کښې مشهور دادی، (۱) خذاعه (۲) جهينه (۳) بنو سلمه (۴) بنو مليح.

قوله: يعلم مابين ايديهم: الخ دا جمله مستانفه ده دماقبل علت اودمابعد تمهيد دي.

قوله: ومن يقل منهم: دملائکو دا قول بالفرض والتقدير دي ګنی په فرشتو کښې دمعصيت صلاحيت نشته دي. اوکه ديقل فاعل ابليس اوګرځولې شی نو دآخرابی به لازمه شی چه هغه په حقيقت کښې دملائکو نه نه دي اودويمه خرابی به دالازمه شی چه ابليس کله دالوهيت دعوی نه ده کړي بلکه هغه خو اعبد الملائکه وو خو د رحمت خداوندی نه مايوس شوي دي وامر بطاعتها مطلب دادي چه هغه دخلقو په زړونو کښې وسوسه واچوله چه هغه دده خبره اومنئ او توحيد پريږدی او بت پرستی اختيار کړی هم دا دخپلې بندګئ او اطاعت په طرف رابلل دی.

قوله: فذالك نجزيه: ذالک د مبتدأ کيدو په وجه مرفوع محلا ده او نجزيه ددي خبر دي او پوره جمله دجواب شرط کيدو په وجه محلا مجزوم دي.

....

[آیاتونه: ۳۰ - ۴۱]

(أولم) بواو وتركها (ير) يعلم (الذين كفروا أن السماوات والأرض كانتا رتقا) سدا بمعنى مسدودة (ففتقناهما) جعلنا السماء سبعا والأرض سبعا أو فتق السماء أن كانت لا تمطر فأمطرت وفتق الأرض أن كانت لا تنبت فأنبتت (وجعلنا من الماء) النازل من السماء والنابع من الأرض (كل شيء حي) من نبات وغيره أي فالماء سبب لحياته (أفلا يؤمنون) بتوحيدي (وجعلنا في الأرض رواسي) جبالا ثوابت ل (أن) لا (تميد) تتحرك (بهم وجعلنا فيها) الرواسي (فجاجا) مسالك (سبلا) بدل طرقا نافذة واسعة (لعلهم يهتدون) إلى مقاصدهم في الأسفار (وجعلنا السماء سقفا) للأرض كالسقف للبيت (محفوظا) عن الوقوع (وهم عن آياتها) من الشمس والقمر والنجوم (معرضون) لا يتفكرون فيها فيعلمون أن خالقها لا شريك له (وهو الذي خلق الليل والنهار والشمس والقمر كل) تنوينه عوض عن المضاف إليه من الشمس والقمر وتابعه وهو النجوم (في فلك) مستدير كالطاحونة في السماء (يسبحون) يسيرون بسرعة كالسابح في الماء وللتشبيه به أتى بضمير جمع من يعقل ونزل لما قال الكفار إن محمدا سيموت (وما جعلنا لبشر من قبلك الخلد) البقاء في الدنيا (أفإن مت فهم الخالدون) فيها لا فالجملة الأخيرة محل الاستفهام الإنكاري (كل نفس ذائقة الموت) في الدنيا (ونبلوكم) نختبركم (بالشر والخير) كفقر وغنى وسقم وصحة (فتنة) مفعول له أي لننظر أتصبرون وتشكرون أم لا (وإلينا ترجعون) فنجازيكم (وإذا رآك الذين كفروا إن) ما (يتخذونك إلا هزوا) أي مهزوءا به يقولون (هذا الذي يذكر آلهتكم) أي يعيبها (وهم بذكر الرحمن) لهم (هم) تأكيد (كافرون) به إذ قالوا ما نعرفه ونزل في استعجالهم العذاب (خلق الإنسان من عجل) أي أنه لكثرة عجله في أحواله كأنه خلق منه (سأريكم آياتي) مواعيدي بالعذاب (فلا تستعجلون) فيه فأراهم القتل ببدر (ويقولون متى هذا الوعد) بالقيامة (إن كنتم صادقين) فيها قال تعالى (لو يعلم الذين كفروا حين لا يكفون) يدفعون (عن وجوههم النار ولا عن ظهورهم ولا هم ينصرون) يمنعون منها في القيامة وجواب لو ما قالوا ذلك (بل تأتيهم) القيامة (بغتة فتبهتهم) تحيرهم (فلا يستطيعون ردها ولا هم ينظرون) يمهلون لتوبة أو معذرة (ولقد استهزئ برسل من قبلك) فيه تسلية للنبي صلى الله عليه وسلم (فحاق) نزل (بالذين سخروا منهم ما كانوا به يستهزءون) وهو العذاب فكذا يحيق بمن استهزأ بك

ترجمه: آیا کافران دانه پیژني چه اسمانونه او زمکه (خله) بند وو؟ په اولم واؤ او ترک واؤ دواړه دي رتقًا په معنی د سدًا دي او سدًا په معنی دمسدودا دي بیا مونږ هغه کهلاء کړل یعنی اووه اسمانونه او اووه زمکې جوړې کړې یاد فتق سماء مطلب دادې چه داسمان نه باران نه وریدو، بیا باران وریدل شروع شو. اود فتق ارض مطلب دادې چه زمکې زرغونه نه کوله بیا ئې زرغونه شروع کړه اومونږ د اسمان نه وریدونکی باران او دزمکې دچینو نه دراوتونکی اوبو نه هر قسم جاندار جوړ کړل وابنه وغیره نو اوبهٔ دهر جاندار دپاره سبب

دزوند دي يا هم زما په توحيد باندې ايمان نه راوړي او په زمکه باندې ثابت پاتې کيدونکي غرونه جوړ کړل دي دپاره چه په خلقو باندې اضطرابي حرکت اونه کړي اومونږ په دې کښې يعنې په غرونو کښې کهلاو لارې جوړې کړې سبلا . دفجاجا نه بدل دي يعنې په دوارو طرفونو کهلاو لارې دي دپاره چه خلق دسفر په دوران خپل منزل مقصود ته رسيدل حاصل کړې شي او مونږ اسمان دزمکې دپاره دغورزيدو نه محفوظ چهت جوړ کړو خنکه چه دکور چهت وي او دې خلقو په اسمان کښې موجود، دنمر اوسپوږمې دنښو نه اعراض کړې دي يعنې داسمان په نښو کښې غور او فکر نه کوي دې دپاره چه دوی ته ددې خبرې علم اوشي چه ددې خالق هغه دې چه دهغه څوک شريک نشته اوهغه هغه ذات دې چه هغه شپه اوورځ او نمر سپوږمې جوړ کړي دي دکل تنوين د مضاف اليه يعنې شمس اوقمر په عوض کښې دې او دمضاف اليه د تابع په عوض کښې دې او هغه نجوم دي په دې هر يو فلک کښې يعنې د پل په شان په خپل اسماني مدار کښې لامبو وهي يعنې په تيزئ سره ځي لکه لامبو وهونکې په اوبو کښې په تيزئ سره ځي اود لامبو وهونکي سره تشبيه ورکولو دوجې نه ئې يسبحون په واؤ اونون سره جمع راوړې دې کوم چه دذوی العقول دپاره دې او کله چه کافرانو داوئيل چه محمد زر مړ شي نو وماجعلنا لبشر من قبلک الخلد نازل شو يعنې مونږ ستا نه مخکښې هم هيڅ يو بشر ته هميشه والي يعنې په دنيا کښې دائمي بقا نه ده ورکړې، پس که ستا انتقال اوشي نو آيا داخلق په دنيا کښې هميشه هميشه اوسيږي ؟ نه . جمله اخيره (يعنې فان مت) د همزهٔ استفهام انکاري په محل کښې ده هر ساه لرونکې ته په دنيا کښې دمرگ مزه څکل دي اومونږ به تاسو امتحان دپاره بد اوښه حالت مثلا فقر او غنا مرض اوصحت سره ازمايو فتنة مفعول له دې يعنې دې دپاره چه مونږ اوگورو چه تاسو صبر او شکر کوئ يا نه کوئ، او تاسو زمونږ نه راواپس کولې شې نو مونږ به تاسو ته بدله درکړو اوداکافران چه کله تا وينې نو بس په تاپورې توقې کوي يعنې په تاپورې خندا کوي اوپه خپل مينځ کښې وائي چه آيا داصاحب دې هغه چه ستاسو دمعبودانو ذکر په بدئ سره کوي ؟ اوداخلق درحمان دذکر نه منکر دي کله چه دې خلقو اوئيل چه مونږ رحمان نه پيژنو او ددوی دعذاب په زر غوښتلو باره کښې آيت وخلق الانسان من عجل نازل شو يعنې انسان دخپلو احوالو په باره کښې جلتی خوښولو دوجې نه لکه چه دجلتی (د مادې) نه جوړ شوې دې څه به دير زر تاسو ته خپلې نښې يعنې زما دعذاب وعدې او ښايم نو زمانه ددې په باره کښې جلتی مه کوئ پس دوی ته په ئې بدر کښې دقتل عذاب اوښودو اوداخلق دا وائي چه هغه دقيامت وعده به کله راځي، که تاسو دعذاب په وعده کښې رښتوني يئ، کاش چه کافرانو ته دهغه وخت خبر وې چه کله به دا کافران اور نه دخپل مخکښې نه بندولې شي دفع کولې شي اونه دشاه نه اونه به ددوی مدد کولې شي يعنې دوی به دقيامت په ورځ دعذاب نه نشي بچ کولې او دلو

جواب ماقالوا ذلک دي بلکه قيامت به دوی ته ناڅاپه راشي پس دوی به بدحواس حيران کړی
يبا به ئې نه ددې دلرې کولو قدرت وی او نه به دوی ته مهلت ورکولې شي يعنی د توبې يا د عذر
کولو مهلت به نه شي ورکولې سېټا نه مخکښې چه کوم پيغمبران تير شوی دی په هغوی پورې هم
توقې کړې شوې وې په دې کښې دحضورﷺ دپاره تسلی ده، نو خندا کونکی هغه څيز
ګهيرکړل (نازل شو) چه هغوی ورپورې خندا کوله او هغه عذاب دې نو په دې طريقه به (عذاب)
داخلق هم راګهير کړی کوم چه په تاپورې خندا کوی .

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اولم ير : همزه په فعل محذوف باندې داخله ده او واو عاطفه په ذريعه دير په
محذوف باندې عطف دې، تقدير دعبارت دادې اولم يتفكروا ولم يعلموا ان السموات والارض
كانتا رتقا، كانتا د تثنيه صيغه ده حالانکه ددې ضمير دسموات او ارض په طرف راجع دې
کوم چه جمع دې نو په مرجع او ضمير کښې مطابقت نشته؟

جواب: دوه نوعې يا دوه جنسونه مراد دی، څکه چه اسمان يو نوع ده او زمکه بله نوعه ده
او دروٴيت نه روٴيت قلبی مراددې، په واؤ سره اوپه ترک دواؤ سره دواړه قراء تونه دی .

قوله: رتقا : دکانتاخبر دې دمصدر کيدو په وجه سره مفرد استعمال شوې دې، مبالغة
حمل ئی هم صحيح دې او مضاف محذوف سره حمل هم صحيح دې ای ذو رتق ای كانتا
شيئا واحدا مفسر علام بمعنی د مسدودة مقدر منلو سره اشاره اوکړه چه مصدر په
معنی داسم مفعول دې رتقًا (ن) مصدر دې . خله بند، ملاو شوې، نختی، دلته مصدر د
اسم مفعول يا د اسم فاعل په معنی دې فتقا (ن، ض) شلول، کهلاول، بيلول .

قوله: وجعلنا من الماء كل شيء حي : که جعل په معنی دصير وی نو متعدی دوؤ مفعولوته
به وی، او جار مجرور دخپل متعلق محذوف ناشيا يا متسببا سره متعلق مفعول مقدم
شو او کل شئ مفعول اول مؤخرشو تقدير دعبارت داشو وجعلنا ناشيا من الماء كل شيء حي او
که جعل په معنی دخلق وی نو متعدی په يو مفعول به وی اوهغه کل شئ حی دې او من
الماء جار مجرور سره يوځائ کيدو سره دجعلنا متعلق دې.

قوله: رواسی : رواسی جمع دراسية او راسی په معنی دراسخ او ثابت او مختار کښې دی
چه مضبوطوغرونوته هم راسية وائی، درساالشئ نه ماخوذ دې کله چه شئ ثابت او
مستقر شی، مفسر علام لا مقدر منلې دې دپاره چه دان تميدبهم علت جوړيدل صحيح
شی، څکه چه دغرونو قيام دعدم تحرک دپاره دې نه چه دتحرک دپاره. فجاجا د دوؤ
غرونو په مينځ کښې کهلاو لاره دفجاج واحد فج دې لکه چه دسهام واحد سهم دې.

قوله: وللتشبيه به الی بضمير جمع من يعقل : ددې قول عبارت داضافه کولو مقصد ديو سوال

مقدر جواب دې.

سوال: دیسبحون فاعل شمس وقمر اونجوم دی چه غیر ذوالعقول دی ددوی دپاره دجمع مؤنث غائب صیغه پکار وه نه دجمع مذکر غائب او په واو اونون سره جمع خود ذوی العقول د پاره راوړلې شی نه دغیر ذوی العقول دپاره.

جواب: دجواب خلاصه داده چه شمس او قمر ته دیسبحون نسبت شوې دې او سبح یعنی لامبو وهل دذوی العقول فعل دې نوپه دې مناسبت سره یسبحون په واو اونون سره راوړې شوې دې، عدم الخلود ئې دبشر سره خاص کړې دې حالانکه نور ذی روح بلکه د کائناتو د هیڅ یوشی دپاره خلود فی الدنیا نشته دې؟ جواب دادې چه ددوی سوال هم دحضور ﷺ دپاره دمرګ توقع د بشر حیثیت په وجه سره وو.

قوله: فالجملة الاخیرة محل الاستفهام الانکاری: ددې عبارت مقصد هم دیو شبهې ازاله ده، شبه داده چه همزه داستفهام انکاری فان مت باندې داخله ده چه مطلب ئې دادې چه ستا دمرګ هم انکار دې او ددوی دخلود هم، حالانکه مقصد ددوی دخلود انکار دې؟ دجواب حاصل دادې چه همزه په اصل کښې په جمله اخیره باندې داخله ده خو چونکه همزه صدارت دکلام غواړی ددې وجې نه ئې دا دجملې په سر کښې راوړې ده ګنی اصل تقدیر دعبارت دارنګې دې افهم الخلدون ان مت. کل نفس ذائقة الموت دنفس نه مراد نفس ناطقه دې او دموت نه مراد د قوت حیوانیه زوال او دروح دجسد نه انفصال دې او د ذائقه نه مراد دلته ادراک بالقوة الذائقة نه دې ځکه چه مرګ د مطعوماتو دقبیلې نه نه دې بلکه مطلقاً ادراک مراد دې، او ادراک نه هم دمرګ د مبادیاتو مثلا آلام وغیره ادراک مراد دې ځکه چه دمرګ ادراک دخول فی الجسد نه مخکښې ممکن نه دې او دخول نه پس انسان مړې (لاش) شی په هغه وخت کښې ادراک ممکن نه وی.

قوله: فتنة: ددې دمنصوب کیدو درې وجې کیدې شی ① دنبلوکم دمفعول له کیدو دوجې نه ②مصدریه موضع دحال کښې واقع کیدو دوجې نه ای نبلوکم فاتنین ③دنبلوکم دمفعول مطلق بغیر دلفظه کیدو دوجې نه دې دپاره چه نبلو او فتنة دواړه متحدالمعنی دی واذاراك الذین کفروا ددې جملې عطف په ماسبق کښې واسروا النجوی باندې دې، او شرط دې، اهذا الذی یذکر آلهتکم ددې جزاء ده دجزاء نه مخکښې یقولون مقدر دې او ان یتخذونک الا هزوا شرط او د جزاء په مینځ کښې جمله معترضه ده او هزوا مصدر د مفعول په معنی کښې دې. وهم بذکر الرحمن هم کافرون اول هم مبتدا ده دویم هم ددې تاکید دې کافرون ددې خبردې او بذکر الرحمن د کافرون سره متعلق دې تقدیر دعبارت دادې هم کافرون بذکر الرحمن او وهم بذکر الرحمن الخ جمله حالیه کیدو دوجې نه محلا منصوب ده،

مفسر ﷫ دلهم اضافه کولو سره دې طرف ته اشاره اوکړه چه دذکر مصدر اضافت درحمن په طرف دا اضافت دمصدر الی الفاعل دې، او ځنو حضراتو اضافت دمصدر الی المفعول هم وئیلې دې په دې وخت تقدیر دعبارت وذکرهم الرحمن بالتوحید وی.

قوله: خلق الانسان من عجل داسې ده لکه او چه وئیلی شی خلق من طین هرانسان چونکه فطرة په هره معامله کښې جلد باز واقع شوې دې لکه چه دده پیدائش دجلتی دخمیر نه شوې دې په دې وجه مبالغة خلق من عجل وئیلې شوی دی.

قوله: لویعلم الذین کفرواحین لایکفون: الآیة لو شرطیه دې او جواب محذوف دې څنګه چه مفسر علام ظاهر کړی دی ای لو یعلم ماقالوا ذلک (ای متی هذا الوعد) او حین دیعلم مفعول به دې نه ظرف،ترجمه به داشی که داکافران هغه وخت اوپیژنی کله چه به دوی اعذاب نه شی دفع کولې.

قوله: ماکانوابه: دحاق فاعل دې او هو العذاب کښې دهو مرجع ما دې.

[ایاتونه:۴۲-۵۰]

(قُلْ) لَهُمْ (مَنْ يَكْلَؤُكُمْ) يَحْفَظُكُمْ (بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمَٰنِ) مِنْ عَذَابِهِ إِنْ نَزَلَ بِكُمْ أَيْ لَا أَحَدَ يَفْعَلُ ذَلِكَ وَالْمُخَاطَبُونَ لَا يَخَافُونَ عَذَابَ اللهِ لِإِنْكَارِهِمْ لَهُ (بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ) أَيِ الْقُرْآنِ (مُعْرِضُونَ) لَا يتفكرون فيه (أَمْ) فيها معنى الهمزة للإنكار اي أ (لَهُمْ آلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ) مما يسوؤهم (مِنْ دُونِنَا) أَيْ أَلَهُمْ مَنْ يَمْنَعُهُمْ مِنْهُ غَيْرُنَا لَا (لَا يَسْتَطِيعُونَ) أَيِ الْآلِهَةُ (نَصْرَ أَنْفُسِهِمْ) فَلَا يَنْصُرُونَهُمْ (وَلَا هُمْ) أَيِ الْكُفَّارُ (مِنَّا) مِنْ عَذَابِنَا (يُصْحَبُونَ) يُجَارُونَ يُقَالُ صَحِبَكَ اللهُ أَيْ حَفِظَكَ وَأَجَارَكَ (بَلْ مَتَّعْنَا هَؤُلَاءِ وَآبَاءَهُمْ) بِمَا أَنْعَمْنَا عَلَيْهِمْ (حَتَّىٰ طَالَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ) فَاغْتَرُّوا بِذَلِكَ (أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ) نَقْصِدُ أَرْضَهُمْ (نَنْقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا) بِالْفَتْحِ عَلَى النَّبِيِّ (أَفَهُمُ الْغَالِبُونَ) لَا بَلِ النَّبِيُّ وَأَصْحَابُهُ (قُلْ) لَهُمْ (إِنَّمَا أُنْذِرُكُمْ بِالْوَحْيِ) مِنَ اللهِ لَا مِنْ قِبَلِ نَفْسِي (وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَاءَ إِذَا) بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَتَسْهِيلِ الثَّانِيَةِ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْيَاءِ (مَا يُنْذَرُونَ) هُمْ لِتَرْكِهِمُ الْعَمَلَ بِمَا سَمِعُوهُ مِنَ الْإِنْذَارِ كَالصُّمِّ (وَلَئِنْ مَسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ) وَقْعَةٌ خَفِيفَةٌ (مِنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ يَا) لِلتَّنْبِيهِ (وَيْلَنَا) هَلَاكَنَا (إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ) بِالْإِشْرَاكِ وَتَكْذِيبِ مُحَمَّدٍ (وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ) ذَوَاتِ الْعَدْلِ (لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ) أَيْ فِيهِ (فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا) مِنْ نَقْصِ حَسَنَةٍ أَوْ زِيَادَةِ سَيِّئَةٍ (وَإِنْ كَانَ) الْعَمَلُ (مِثْقَالَ) زِنَةَ (حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا) بِمَوْزُونِهَا (وَكَفَىٰ بِنَا حَاسِبِينَ) مُحْصِينَ كُلَّ شَيْءٍ (وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَارُونَ الْفُرْقَانَ) أَيِ التَّوْرَاةَ الْفَارِقَةَ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ وَالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ (وَضِيَاءً) بِهَا (وَذِكْرًا) عِظَةً بِهَا (لِلْمُتَّقِينَ) (الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ) عَنِ النَّاسِ أَيْ فِي الْخَلَاءِ عَنْهُمْ (وَهُمْ مِنَ السَّاعَةِ) أَيْ أَهْوَالِهَا (مُشْفِقُونَ) خَائِفُونَ (وَهَٰذَا) أَيِ الْقُرْآنُ (ذِكْرٌ مُبَارَكٌ أَنْزَلْنَاهُ أَفَأَنْتُمْ لَهُ مُنْكِرُونَ) الِاسْتِفْهَامُ فِيهِ لِلتَّوْبِيخِ

ترجمه: اې محمد ﷺ دې مسخرې کونکو ته اوایه درحمان دعذاب نه دشپې او ورځې څوک دې چه ستاسو نګرانی حفاظت کوی که په تاسو باندې عذاب نازل شو «دالله نه سوا» داسې څوک نشته، اودامخاطبین دالله پاک دعذاب نه نه ویرېږی ددې عذاب نه دمنکرکیدو په وجه بلکه داخلق دخپل رب دذکر یعنی قرآن نه اعراض کوی یعنی په دې کښې غور اوفکر نه کوی ام په دې کښې همزه دمعنی انکاری دپاره ده آیا ددوی سره زمونږ نه علاوه داسې معبودان دی کوم چه دوی «ددوی د تکلیف» عذاب نه بچ کولې شی ؟ یعنی آیاددوی سره زمونږ نه علاوه داسې ذات دې کوم چه دوی دعذاب نه بچ کولې شی هیڅوک نشته هغه معبودان «باطله» خپل حفاظت نه شی کولې نو هغوی به ددوی څه حفاظت اوکړی او نه هغوی کافران زمونږ دعذاب نه بچ کولې شی صحبک الله وئیلې شی یعنی الله پاک دې ستاحفاظت اوکړی او تا دې د«آفاتو» نه بچ کړی مونږ دوی ته او ددوی پلار نیکه ته په دوی دخپلو نعمتونو په ذریعه ډیر ساز اوسامان ورکړه تردې چه «په دې حالت» کښې په دوی باندې اوږده زمانه تیره شوه پس ددې وجې نه هغوی په دهوکه کښې پریوتل آیا داخلق نه ګوری چه مونږ ددوی دزمکې قصد کوؤ یعنی «ددوی» زمکه دڅلورو طرفونو نه کموؤ حضور ﷺ ته غلبه ورکولو سره نو آیا داخلق به غالب راشی نه بلکه حضور ﷺ اودده ملګری «به غالب راځی» ته دوی ته اوایه زه خو تاسو دالله پاک دطرف نه نه چه دخپل طرف نه دوحی په ذریعه خبروم او داکانړه خبره نه اوری کله چه دوی خبرولې شی دواړه همزې محقق کولو سره اودثانی همزې دتسهیل سره د همزه او د ی په مینځ کښې یعنی د کنړو په شان په اوریدلې شوې تنبیه باندې د عمل نه کولو په وجه «لکه چه په حقیقت کښې دا کانړه دی» که دوی ته ستا درب دعذاب یوه سپکه شان جټکه اولګی نو چغې به وهی هائی زمونږ کمبختی یعنی زمونږ هلاکت واقعی مونږ دشرک او د محمد ﷺ دتکذیب په وجه خطاکار وو او مونږ به دقیامت په ورځ صحیح تله دعدل قائم کړو نو په چاباندې به بالکل ظلم نه شی کولې په نیکو کښې کمې یا په ګناهونو کښې زیاتوالې کولو سره او که عمل د خشخش (اوری) د دانې برابر هم وی نو هم مونږ به هغه یعنی وزن ته حاضر کړو او مونږ دهر څیز حساب اخستونکی کافی یو اوداخبره بالکل رښتیا ده چه مونږ موسی اوهارون ته فرقان یعنی تورات دحق اوباطل او د حلال او حرام په مینځ کښې فرق کونکې او هغه پرهیز ګارو دپاره دنصیحت کتاب ورکړې وو چه دخپل رب نه ویرېږی اوهغه خلق دقیامت یعنی دهغې دسختو نه هم یرېږی او داقرآن هم دډیرې فائدې نصیحت دې کوم چه مونږ نازل کړې دې بیا هم تاسو دهغې منکر یئ ؟ په دې کښې استفهام دتوبیخ دپاره دې.

....

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: يكلئكم: (ف، س) مضارع واحد مذكر غائب مصدر كَلأ كلأ كلانة حفاظت كول.

قوله: آلهة تمنعهم من دوننا: من دوننا، دآلهة صفت دي په كلام كښې تقديم اوتاخير دي، تقدير دعبارت دادي آلهة من دوننا تمنعهم.

قوله: مما يسوءهم: دهغه څيزونونه كوم چه دوى ته تكليف رسوى لايصحبون (س) جمع مذكر غائب منفى مجهول، ددوى ملګرتيا به نه شى كولې، هغوى به بچ نه كړې شى.

قوله: الموازين القسط: موازين ئى جمع، دبيان عظمت دپاره راوړې ده ګنى ميزان به يووى يا د مايوزون په اعتبار سره ئې جمع راوړې ده يعنى چونكه ډيراعمال اوداعمالو انواع كثيره به تللې شى ددې وجې نه ئې جمع راوړې ده قسط ئى مفرد راوړې دي حالانكه دموازين صفت دي ددې وجه داده چه القسط مصدردي او دمصدر اطلاق په واحد اوجمع يو شان كيږى، مفسر علام د ليوم القيامة تفسير په فيه سره كولو كښې اشاره اوكړه چه لام په معنى دفيه دي.

قوله: شيئاً: يا مفعول ثانى دې يا دتظلم دمفعول مطلق صفت دي اى لا تظلم ظلما شيئا.

قوله: وان كان: نه پس العمل مقدر منلو سره ئې اشاره اوكړه چه كان ناقصه دې په دې كښې ضمير دې چه دكان اسم دې او هغه عمل دې او مثقال دهغې خبر دې او نافع مثقال په رفع سره وئيلې دى په دې صورت كښې به كان تامه وى.

قوله: بالغيب: ديخشون دضمير نه حال دې اى يخشون ربهم غائبين عن الناس يعنى چه كله هغوى په تنهائى كښې وى نوپه هغه وخت هم دالله پاک نه ويريږى من الساعة نه پس اهوالها مقدر منلو سره ئې اشاره اوكړه چه مضاف محذوف دې اوقيامت نه دويريدو مطلب دهغې دسختو نه ويريدل دى.

[ايا تو له: ۵۱-۶۷]

{وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِنْ قَبْلُ} أي هُدَاهُ قَبْل بُلُوغِه {وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ} بِأَنَّهُ اهل لذلك {إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا هَٰذِهِ التَّمَاثِيلُ} الأصنام {الَّتِي أَنْتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ} أي عَلَى عِبادتها مقيمون {قَالُوا وَجَدْنَا آبَاءَنَا لَهَا عَابِدِينَ} فَاقْتَدَيْنَا بِهِمْ {قَالَ} لَهُمْ {لَقَدْ كُنْتُمْ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ} بِعِبَادَتِهَا {فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ} بَيّن {قَالُوا أَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ} فِي قَوْلِكَ هَذَا {أَمْ أَنْتَ مِنَ اللَّاعِبِينَ} فِيهِ {قَالَ بَلْ رَبُّكُمْ} المُسْتَحِقّ لِلعِبَادَةِ {رَبُّ} مَالِك {السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الَّذِي فَطَرَهُنَّ} خَلَقَهُنَّ عَلَى غَيْر مِثَالٍ سَبَقَ {وَأَنَا عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ} الذي قلته {مِنَ الشَّاهِدِينَ} بِهِ {وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ بَعْدَ أَنْ تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ} {فَجَعَلَهُمْ} بَعْد ذَهَابِهِم إلى مُجْتَمَعِهِمْ في يَوْم عِيدٍ لَهُمْ {جُذَاذًا} بِضَمّ الجيم وكسرها فُتاتًا بِفَأسٍ {إِلَّا كَبِيرًا لَهُمْ} عَلَّقَ الفَأس في عُنُقه {لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ}

اي إلى الكبير (يَرْجِعُونَ) فيرون ما فعل بغيره (قَالُوا) بعد رجوعهم ورؤيتهم ما فعل (مَنْ فَعَلَ هَذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظَّالِمِينَ) فيه (قَالُوا) اي بعضهم لبعض (سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ) اي يعيبهم (يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ) (قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَى أَعْيُنِ النَّاسِ) اي ظاهرا (لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ) عليه انه الفاعل (قَالُوا) له بعد إتيانه (أَأَنْتَ) بتحقيق الهمزتين وإبدال الثانية الفا وتسهيلها وإدخال الف بين المسهلة والاخرى وتركه (فَعَلْتَ هَذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ) (قَالَ) ساكتا عن فعله (بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا فَاسْأَلُوهُمْ) عن فاعله (إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ) فيه تقديم جواب الشرط وفيما قبله تعريض لهم بان الصنم المعلوم عجزه عن الفعل لا يكون إلها (فَرَجَعُوا إِلَى أَنْفُسِهِمْ) بالتفكر (فَقَالُوا) لأنفسهم (إِنَّكُمْ أَنْتُمُ الظَّالِمُونَ) بعبادتكم من لا ينطق (ثُمَّ نُكِسُوا) من الله (عَلَى رُءُوسِهِمْ) اي ردوا إلى كفرهم وقالوا والله (لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَؤُلَاءِ يَنْطِقُونَ) اي فكيف تأمرنا بسؤالهم (قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ) اي بدله (مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْئًا) من رزق وغيره (وَلَا يَضُرُّكُمْ) شيئا إذا لم تعبدوه (أُفٍّ) بكسر الفاء وفتحها بمعنى مصدر اي نتنا وقبحا (لَكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ) اي غيره (أَفَلَا تَعْقِلُونَ) ان هذه الاصنام لا تستحق العبادة ولا تصلح لها وإنما يستحقها الله تعالى

ترجمه: او مونږ مخکښې ابراهيم ته يعني بلوغ ته درسيدو نه مخکښې پوهه ورکړې وه او مونږ ددې خبرې نه ښه خبر وو چه هغه ددې لائق دې کله چه ده خپل پلار او خپل قوم ته اوئيل دا بتان دکومو چه تاسو منجوران جوړ شوی يئ څه دی؟ يعني ددې په بندګئ کښې لګيدلی يئ نو تولو جواب ورکړو مونږ خپل پلار نيکه د دې په عبادت کولو موندلی دی نو مونږ دهغوی اقتداء اختيار کړې ده نو ابراهيم عليه السلام هغوی ته اوئيل بيا خو تاسو او ستاسو پلاران ددې دبندګئ کولو په وجه په ښکاره ګمراهۍ کښې يئ،نو وې وئيل آيا تاسو په دې خپل قول کښې مونږ ته رښتيا خبره کوئ ؟يا په دې خبره کښې (هسې) مذاق کوئ ؟ ابراهيم عليه السلام اوفرمائيل نه ، بلکه ستاسو رب چه مستحق دعبادت دې هغه رب دې چه مالک دزمکې او اسمانونو چه هغه دا بغير دمخکښې نمونې نه پيدا کړل او زه په هغه خبره باندې کومه چه ما وئيلې ده ګواه يم (قائل يم) او په خدائ قسم زه به ستاسو د بتانو سره ستاسو دتلو نه پس ضرور يو چال چلوم نو ددوی دخپل اختر په ورځ خپلې ميلې ته دتلو نه پس دغه بتان ئې ټکړې ټکړې کړل جذاذا دجيم په ضمې او کسرې سره، په تبر سره ئې ټکړې ټکړې کړل خو په دوی کښې غټ ئې (پريخودو) او تبر ئې ده په څټ کښې زوړند کړو دې دپاره چه هغوی ده په طرف رجوع اوکړی ددوی دميلې نه راواپس کيدو اودوی سره چه کوم حرکت شوې وو هغه ليدو نه پس ئې اوئيل زمونږ دمعبودانو سره داحرکت چا کړې دې په دې کښې هيڅ شک نشته چه هغه په دې معامله کښې دظالمانو نه دې نو دې خلقو په خپل مينځ کښې اوئيل مونږ يو ځوان چه ابراهيم ورته وائی ددې بتانو په تنقيص (بدئ) کولو اوريدلی دی نو هغه خلقو اوئيل نو ښه هغه دټولو خلقو په مخکښې ښکاره حاضر کړئ دې دپاره چه خلق ده په خلاف ددې خبرې ګواهي ورکړی چه هم

دا دي «دغه حرکت» کونکي نو دده دراتلو نه پس خلقو دده نه تپوس اوکړه چه آیا تا زمونږ دمعبودانو سره داحرکت کړې دې اې ابراهیمه؟ دخپل فعل نه سکوت اختیارولو سره ئې اونیل نه. بلکه ددوی دې غټ «ګرو» کړې دې ددې حرکت کونکی په باره کښې هم د دوی نه معلومات اوکړئ که دوی خبرې کولې شی؟ په دې کښې جواب دشرط مقدم دې او په ماقبل کښې دمشرکینو دپاره ددې خبرې په طرف اشاره ده چه بت دکوم چه عاجز عن الفعل کیدل معلوم اومتعین دی هغه معبود نه شی کیدې، پس داخلق «دحضرت ابراهیم ﷺ تقریر اوریدو سره» په سوچ کښې پریوتل او په خپلو زړونو کښې ئې اوئیل تاسو په حقیقت کښې ظالمان يئ دداسې خیز بندګی کوئ چه هغه خبرې هم نه شی کولې بیا ددوی کهوپړئ اولټه شوې «یعنی خپل جهل اوعناد په طرف واوختل» یعنی دخپل کفر په طرف واوختل او وې وئیل والله «اې ابراهیم» ته خو پوهیږې چه داپه خبرو کولو قادر نه دی یعنی ته بیا مونږ ددوی نه دسوال کولو دپاره ولې وایئ؟ نو حضرت ابراهیم ﷺ جواب ورکړو چه آیا تاسو خدائ پریخو سره یعنی د هغه په عوض دداسې خیز عبادت کوئ چه کوم تاسو ته رزق وغیره هیڅ فائده نه شی رسولې او که تاسو د هغې عبادت اونه کړئ نو تاسو ته هیڅ نقصان نه شی رسولې هلاکت دې په تاسو باندې، دفا په فتحه اوکسره سره دمصدر په معنی کښې یعنی دتبا و قبحا «په معنی» او په هغوی باندې هم د چا چه تاسو دالله پاک نه بغیر عبادت کوئ آیا په تاسو کښې دومره عقل هم نشته؟ یعنی دابتان دعبادت مستحق نه دی او نه دمعبود جوړیدو په دوی کښې صلاحیت شته دعبادت مستحق خو الله پاک دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ولقد اٰتینآ ابراهیم: واؤ قسمیه دې ای وعزتنا وجلالنا اٰتینا ابراهیم رشده رشد صلاحیت، پوهه، هدایت، حسن تدبیر، من قبل مضاف الیه محذوف دې ای قبل بلوغه، د قبله ضمیر حضرت موسی ﷺ عیسی ﷺ، اوحضرت محمد ﷺ په طرف هم راجع کیدې شی، التماثیل جمع دتمثال دکانړی وغیره نه جوړ شوې بت عاکفون جمع دعاکف ملازم، معتکف، منجور.

قوله: لها عاکفون: دعاکف صله علی راځی خو دلته لام استعمال شوې دې مفسر علام اشاره کړې ده چه لام په معنی دعلی دې او که عاکف متضمن په معنی دعابد واغستلې شی نو په هغه وخت به لام صله راوړل صحیح وی او که لام دتعدیه په ځائ داختصاص دپاره واخستلې شی نو دعاکف صله لام راوړل به هم صحیح وی لکه چه قالوا وجدنا اٰبآءنا لها عابدین کښې دعابدین صله لام استعمال شوې ده.

قوله: لعلهم: کښې هم ضمیر دذوی العقول دپاره دمشرکانو دګمان په اعتبار سره استعمال شوې دې.

قوله: جذاذا: دمصدر کیدو په وجه ئې جمع رانه وړو او ځنې حضراتو جذاذ دجذاذة جمع ونیلې ده لکه زجاج چه دزجاجة جمع ده او ځنې حضراتو جذاذ مصدر په معنی دمجذوذ اخستې دې.

قوله: من فعل هذا: من مبتدأ ده او فَعَلَ هذا ددې خبردې او انه لمن الظلمين جمله مستانفه ده او داهم کیدې شی چه من موصوله دخپلې صلې سره مبتدأ او انه لمن الظلمين ددې خبر.

قوله: سمعنا فتى يذكر: سمعنا، چونکه په داسې شئ داخل دې کوم چه اوریدې نه شی (مسموع نه دې) او هغه فتًى دې ځکه چه فتًى دلیدو ځیز دې نه داوریدو په داسې صورت کښې سمع متعدی دوو مفعولو ته وی، نو دلته سمعنا متعدی دوو مفعولو ته دې مفعول اول فتًى دې او یذکرهم جمله مفعول ثانی دې، او که سمع په شئ مسموع باندې داخل وی نو متعدی یو مفعول ته وی لکه چه ته اوئې سمعت کلام زید.

قوله: يقال له ابراهيم: دا دفتًى صفت ثانی دې دابرهیم دمرفوع کیدو څو وجې کیدې شی اول، دیقال دنائب فاعل کیدو دوجې نه یقال له ابراهیم ای یسمی له ابراهیم په دې صورت کښې به د ابراهیم نه مراد لفظ ابراهیم وی نه مسمی ابراهیم، دویمه وجه داده چه ابراهیم دمبتدأ محذوف خبر وی ای یقال له هذا ابراهیم، یا ابراهیم مبتدأ وی اوددې خبر محذوف وی ای یقال له ابراهیم فاعل ذالك.

قوله: كبيرهم هذا: هذا د کبیرهم نه بدل دې یا صفت دې.

قوله: نكسوا على رؤسهم: دجمهورو په قراءت کښې نکسوا مبنی للمفعول دې یعنی ددوی کهوپړئ اولټه کړې شوې او داولټه کولو والا الله پاک دې، مطلب دادې چه دحضرت ابراهیم علیه السلام په تقریر سره دبتانو عاجز او بې بس کیدل په پوهه کښې راغلی وو او نزدې وه چه دحق ته رجوع اوکړی خوددوی کهوپړې تاؤ شوې چه دهغې په وجه دکفر په طرف واوختل، مفسر علام د من الله اضافه کولو سره دې قراءت ته ئې اشاره اوکړه اوپه شاذ قراءت کښې نکسوا دنون په فتحې اودکاف په تشدید سره مبنی للفاعل هم دې په دې صورت کښې به نکسوا فاعل به خپله مشرکین شی او مطلب به داشی چه مشرکانو دحضرت ابراهیم علیه السلام مدلل تقریر وریدو سره دشرمندګئ او د ندامت دوجې نه سرونه ټیټ کړل خو دځه وخت تیریدو نه پس دکفر طرف ته واپس شول.

قوله: قالوا والله: دا اشاره ده دې خبرې ته چه لقد علمت دقسم محذوف جواب دې.

قوله: افلا تعقلون: فا عاطفه ده معطوف علیه فعل محذوف دې په کوم باندې چه همزه داخله ده تقدیر دعبارت دادې جهلتم فلا تعقلون.

[ایاتونه: ۶۸-۷۵]

{قَالُوا حَرِّقُوهُ} أي إبْرَاهِيم {وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ} أي بتحريقه {إن كنتم فاعلين} نصرتها فجمعوا له الحطب الكثير وَأضرَمُوا النَّار فِي جَمِيعه وَأوْثَقُوا إبْرَاهِيم وَجَعَلُوهُ فِي مَنْجَنِيق وَرَمَوْهُ فِي النار قال تعالى {قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ} فَلَمْ تُحْرِق مِنْهُ غَيْر وَثَاقه وَذَهَبَتْ حَرَارَتهَا وَبَقِيَتْ إضَاءَتهَا وَبِقَوْلِهِ {وَسَلَامًا} سَلِمَ مِنْ الموت ببردها {وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا} وَهُوَ التَّحْرِيق {فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ} في مرادهم {ونجيناه ولوطا} بن أخِيهِ هَارَان مِنْ الْعِرَاق {إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا لِلْعَالَمِينَ} بِكَثْرَةِ الْأَنْهَار وَالْأَشْجَار وَهِيَ الشَّام نَزَلَ إبْرَاهِيم بِفِلَسْطِين وَلُوط بِالْمُؤْتَفِكَةِ وَبَيْنهمَا يوم {وَوَهَبْنَا لَهُ} أَيْ لِإِبْرَاهِيم وَكَانَ سَأَلَ وَلَدًا كَمَا ذُكِرَ فِي الصَّافَّات {إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً} اي زيادة على المسؤول أَوْ هُوَ وَلَد الْوَلَد {وَكُلًّا} أَيْ هُوَ وَوَلَدَاهُ {جَعَلْنَا صَالِحِينَ} أنْبِيَاء {وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً} بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَإِبْدَال الثَّانِيَة يَاء يُقْتَدَى بِهِمْ فِي الْخَيْر {يَهْدُونَ} النَّاس {بِأَمْرِنَا} إلى ديننا {وأوحينا إليهم فعل الخيرات وإقام الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ} أَيْ أَنْ تُفْعَل وَتُقَام وَتُؤْتَى مِنْهُمْ وَمِنْ أَتْبَاعهمْ وَحَذْفُ هَاء إقَامَة تخفيف {وكانوا لنا عابدين} {وَلُوطًا آتَيْنَاهُ حُكْمًا} فَصْلًا بَيْن الْخُصُوم {وَعِلْمًا وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ تَعْمَلُ} أَيْ أَهْلهَا الْأَعْمَال {الْخَبَائِث} مِنْ اللِّوَاط وَالرَّمْي بِالْبُنْدُقِ وَاللَّعِب بِالطُّيُورِ وَغَيْر ذَلِكَ {إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ} مصدر ساءه نقيض سره {فاسقين} {وَأَدْخَلْنَاهُ فِي رَحْمَتِنَا} بِأَنْ أَنْجَيْنَاهُ مِنْ قَوْمه {إنه من الصالحين}

ترجمه: وې وئيل دې يعنى ابراهيم اوسوزوئ او دې سوزولو سره د خپلو معبودانو مدداوكړئ كه تاسو ددوى مدد كويئ پس هغه خلقو دابرهيم عليه السلام دسوزولو دپاره ډير لرګى راجمع كړل اوپه دې ټولو لركو ئى اور بل كړو او ابراهيم عليه السلام ئى په رسو باندې مضبوط اوتړلو او هغه ئى په يو تال يا مجونغره كښې كنيولو اوپه اوركښې ئى اوغورزولو مونږ اورته حكم اوكړو اې اوره يخ شه اودابراهيم دپاره دسلامتئ والاشيز جوړشه پس اور دبراهيم عليه السلام د رسو نه علاوه هيڅ څيزاونه سوزولو او داور ګرم والې ختم شو صرف دهغې رڼرا پاتې شوه، اودالله پاک دسلامًا ونيلودوجې نه حضرت ابراهيم عليه السلام ديخنئ د وجې نه دمركيدو نه محفوظ شو اوهغه خلقود ابراهيم عليه السلام سره دبدخواهئ اراده كړې وه اوهغه سوزول وو پس مونږ هغوى په خپل مقصد كښې ناكام كړل اومونږ ابراهيم اولوط كوم چه دده درور هاران خوې وودعراق دزمكې نه داسې زمكې (ملک) په طرف اوخكل بچ كړل چه په هغې كښې مونږ د دنيا والو د پاره بركتونه ايخى دى داونو اونهرونو ددير والې په ذريعه او هغه زمكه دشام ده، حضرت ابراهيم عليه السلام په فلسطين كښې استوګن (ديره) شو او لوط عليه السلام په مؤتفكه كښې اوددې دوارو ځايونو په مينځ كښې ديوې ورځې مسافت وو اومونږ ده ته يعنى ابراهيم عليه السلام ته حال دادې چه هغه ديو هلک دعا كړې وه، لكه چه په سورت صافات كښې ذكر شوى دى، اسحق وركړو اويعقوب زياتى په هغه باندې يعنى دمطلوب نه زياتى يا د نافلة نه

مراد ولد الولد (نمسى) دى اومونږ دې تولو (لره يعنى) ابراهيم ؟ او دده خوى او نمسى په صالحينو يعنى په انبياؤ كښې شامل كړل اومونږ دا ټول پيشوايان جوړ كړل ائمة ددوار وهمزو دتحقيق سره او دويمه همزه په يا سره بدلولو سره ، چۀ ددوى په خير كښې اقتداء اوكړې شى . دې دپاره چه زمونږ په حكم سره دخلقو زمونږ ددين په طرف رهنمائى اوكړى اومونږ ددوى په طرف دنيكو كارونو د كولو او دمونځ قائم ساتلو او زكوٰة د ادا كولو وحى اوليږله يعنى دا درې واړه اعمال عمل دخير، عمل دصلوٰة، عمل دزكوٰة دا حضرات هم سر ته اورسوى او ددوى متبعين ئى هم سر ته اورسوى اوداقامة هاء تخفيفًا حذف كړې شوې ده اوهغه ټول زمونږ عبادت كونكى بندګان ووا او مونږ لوط ته (هم) د جهګړه كونكو په مينځ كښې دفيصلې كولو دپاره حكم وركړو او علم مو وركړو ، اومونږ هغه د هغه كلى يعنى د هغه كلى والو نه ئې چه ګنده كارونه به ئې كولو يعنى لواطت او (مسافر) په كاڼړو ويشتل او چرګان جنګول وغيره وغيره اووهغه بد فاسق خلق سوء مصدر دې دساء د سره نقيض دې اومونږ لوط په خپل رحمت كښې داخل كړو په دې طريقې سره چه مونږ ده ته دده د قوم نه نجات وركړو يشكه هغه دنيكانو خلقو نه وو.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: ان كنتم غافلين : دنصرتها اضافه كولو سره ئې اشاره اوكړه چه دغافلين مفعول محذوف دې، ان كنتم داشرط دې كوم چه دجزا نه مستغنى دې په ماقبل باندې اعتماد كولو د وجې كونى بردا اى ذات برد سلاما دفعل مقدرمفعول مطلق دې اى سلمنا سلاما او سلاما نه مخكښې هم مضاف محذوف كيدې شى اى ذات سلام، بردا وسلاما كښې ئې مضاف حذف كړو او مضاف اليه ئى ددې قائم مقام كړو.

قوله: من العراق : آخرج د فعل محذوف سره متعلق دې نافلة په وزن د عافية مصدر دې دا ديعقوب نه حال دې او د وهبنا دفعل مفعول مطلق بغير دلفظه هم كيدې شى دائمة په دويمه همزه كښې دجمهورو په نزد تسهيل دې اګرچه ابدال هم جائزدې، مفسر علام دفعل الخيرات تفسير په ان تفعل وغيره سره كولو كښې اشاره اوكړه چه اصل تركيب ان تفعل الخيرات وان تقام الصلوٰة وان تؤتى الزكوٰة دې څكه چه موحى (ما امربه) صيغه دامر په ذريعه وى نه دمصدر په ذريعه اقام الصلوٰة د اقامة الصلوٰة په ځاى ئې اقام الصلوٰة اوفرمائيلو تاء مدوره ئى تخفيفًا حذف كړه.

قوله: لوطا : دفعل محذوف دوجې نه منصوب دې او دمااضمره عامله على شريطة التفسير دقبيلې نه دې تقدير د عبارت دادې آتينا لوطا آتيناه، من القرية ددې ښار نوم سدوم وو كوم چه په موتفكه كښې لويه آبادى وه .

[ایاتونه: ۷۶-۸۲]

(وَ) اذْكُرْ (نُوحًا) وَمَا بَعْده بَدَل مِنْهُ (إِذْ نَادَى) دَعَا عَلَى قَوْمه بِقَوْلِهِ (رَبِّ لَا تَذَرْ) إلَخْ (مِنْ قَبْلُ) أَيْ قَبْل إبْرَاهِيم وَلُوط (فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ) الَّذِينَ فِي سَفِينَته (مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ) أَيْ الْغَرَق وَتَكْذِيب قَوْمه لَهُ (وَنَصَرْنَاهُ) مَنَعْنَاهُ (مِنَ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا) الدَّالَّة عَلَى رِسَالَته أَنْ لَا يَصِلُوا إلَيْهِ بِسُوء (إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ) (وَ) اذْكُرْ (دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ) أَيْ قِصَّتهمَا وَيُبْدَل مِنْهُمَا (إِذْ يَحْكُمَانِ فِي الْحَرْثِ) هُوَ زَرْع أَوْ كَرْم (إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ) أَيْ رَعَتْهُ لَيْلًا بِلَا رَاعٍ بِأَنْ انْفَلَتَتْ (وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَاهِدِينَ) فِيهِ اسْتِعْمَال ضَمِير الْجَمْع لِاثْنَيْنِ قَالَ دَاوُد لِصَاحِبِ الْحَرْث رِقَاب الْغَنَم وَقَالَ سُلَيْمَان يَنْتَفِع بِدَرِّهَا وَنَسْلهَا وَصُوفهَا إلَى أَنْ يَعُود الْحَرْث كَمَا كَانَ بِإِصْلَاحِ صَاحِبهَا فَيَرُدّهَا إلَيْهِ (فَفَهَّمْنَاهَا) أَيْ الْحُكُومَة (سُلَيْمَانَ) وَحُكْمهمَا بِاجْتِهَادٍ وَرَجَعَ دَاوُد إلَى سُلَيْمَان وَقِيلَ بِوَحْيٍ وَالثَّانِي نَاسِخ لِلْأَوَّلِ (وَكُلًّا) مِنْهُمَا (آتَيْنَا) هـ (حُكْمًا) نُبُوَّة (وَعِلْمًا) بِأُمُورِ الدِّين (وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُودَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ) كَذَلِكَ سُخِّرَا لِلتَّسْبِيحِ مَعَهُ لِأَمْرِهِ بِهِ إذَا وَجَدَ فَتْرَة لِيَنْشَط لَهُ (وَكُنَّا فَاعِلِينَ) تَسْخِير تَسْبِيحهمَا مَعَهُ وَإِنْ كَانَ عَجَبًا عِنْدكُمْ أَيْ مُجَاوَبَته لِلسَّيِّدِ دَاوُد (وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ) وَهِيَ الدِّرْع لِأَنَّهَا تُلْبَس وَهُوَ أَوَّل مَنْ صَنَعَهَا وَكَانَ قَبْلهَا صَفَائِح (لَكُمْ) فِي جُمْلَة النَّاس (لِتُحْصِنَكُمْ) بِالنُّونِ لِلَّهِ وَبِالتَّحْتَانِيَّةِ لِدَاوُد وَبِالْفَوْقَانِيَّةِ لِلَّبُوسِ (مِنْ بَأْسِكُمْ) حَرْبكُمْ مَعَ أَعْدَائِكُمْ (فَهَلْ أَنْتُمْ) يَا أَهْل مَكَّة (شَاكِرُونَ) نِعَمِي بِتَصْدِيقِ الرَّسُول أَيْ اُشْكُرُونِي بِذَلِكَ (وَ) سَخَّرْنَا (لِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ عَاصِفَةً) وَفِي آيَة أُخْرَى رُخَاء أَيْ شَدِيدَة الْهُبُوب وَخَفِيفَته حَسَب إرَادَته (تَجْرِي بِأَمْرِهِ إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا) وَهِيَ الشَّام (وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عَالِمِينَ) مِنْ ذَلِكَ عَلِمَ اللَّه تَعَالَى بِأَنَّ مَا يُعْطِيه سُلَيْمَان يَدْعُوهُ إلَى الْخُضُوع لِرَبِّهِ فَفَعَلَهُ تَعَالَى عَلَى مُقْتَضَى عِلْمه (وَ) سَخَّرْنَا (مِنَ الشَّيَاطِينِ مَنْ يَغُوصُونَ لَهُ) يَدْخُلُونَ فِي الْبَحْر فَيُخْرِجُونَ مِنْهُ الْجَوَاهِر لِسُلَيْمَان (وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ ذَلِكَ) أَيْ سِوَى الْغَوْص مِنْ الْبِنَاء وَغَيْره (وَكُنَّا لَهُمْ حَافِظِينَ) مِنْ أَنْ يُفْسِدُوا مَا عَمِلُوا لِأَنَّهُمْ كَانُوا إذَا فَرَغُوا مِنْ عَمَل قَبْل اللَّيْل أَفْسَدُوهُ إنْ لَمْ يَشْتَغِلُوا بِغَيْرِهِ

ترجمه: او یاد کړه د نوح؟ هغه وخت کله چه هغه خپل قوم ته دابراهیم ؟ او لوط؟ نه مخکښې د خپل قول رب لاتذر الخ په ذریعه بد دعا اوکړه نو مونږ دهغه دعا قبوله کړه نو مونږ هغه اودهغه اهل کوم چه د هغه سره په کشتئ کښې (سواره) شول دکرب عظیم یعنی دغرقیدلو نه اودهغه دقوم د هغه دتکذیب کولو نه نجات ورکړو اومونږ دهغه مدد اوکړو یعنی دهغه حفاظت مو اوکړو دهغه قوم نه چه زمونږ دآیتونو تکذیب ئې اوکړو کومو چه دهغه په رسالت باندې دلالت کولو دې دپاره چه هغه ته تکلیف اونه رسوی یقینا هغه بد خلق وو بس مونږ هغه ټول غرق کړل اود داؤد اوسلیمان یعنی دهغوی دقصې ذکر اوکړه او وذاکر داؤد وسلیمان نه اذ یحکمان فی الحرث بدل دې کله چه هغه دپټی په باره کښې فیصله کوله هغه پټې خو یا

دغلي وو اويا دانگورو كله چه ديو قوم چيلي په هغې كښې گډې شوې يعنى د شپونكى نه بغير دشپې خريدلې وې په داسې طريقه چه په دې كښې خورې شوې اومونږ دهغه فيصله كتله په دې كښې ددوو دپاره دجمعې ضمير استعمال شوې دې داؤد ؟ دپتې والا دپاره دنقصان په عوض دچيلو فيصله اوكړه، اوحضرت سليمان ؟ اوفرمائيل چه دپتې والا دې دچيلو پئ اوددې نسل او ددې وړئ نه فائده اخلى ترهغې چه پتى دچيلووالا په اصلاح سره خپل مخكينې حالت ته واپس شى نو دپتې مالک دې چيلې دچيلو مالک ته واپس كړى، نومونږ سليمان ؟ ته دفيصلې پوهه وركړه او ددوارو فيصله په اجتهاد سره وه او حضرت داؤد ؟ دحضرت سليمان ؟ دفيصلې په طرف رجوع اوفرمائيله او وئيلې شوى دى چه ددوارو فيصلې دوحى په ذريعه وې خو دويمه فيصله داولې دپاره ناسخه ده، اومونږ دواړو ته حكم يعنى نبوت او دامورو ددين علم وركړې وواو مونږ غرونه د داؤد؟ تابع كړى وو چه هغې به تسبيح كوله او دارنگې مارغان هم د داؤد ؟ تابع كړى وو يعنى دهغه دحكم تابع كړى مو وو چه كله به هغوى سستى محسوس كړه نو هغوى ته به ئې دتسبيح حكم كولوداؤد ؟ سره د دواړه دتسبيح كولو مسخر كونكى مونږ وو اگر كه د داؤد ؟ په حكم باندې (ددې دواړو) ليبک وئيل ستاسو په نزد عجيبه وواو مونږ ستاسو دنفع دپاره په نورو خلقو كښې داؤد ؟ ته دمخصوص لباس جوړولو هنر اوخودو اوهغه زغره وه (هغې ته لبوس وئيل كيږى) څكه چه هغه اغوستلې كيږى، حضرت داؤد ؟ اول سړې دې چه چازغره جوړه كړې ده اوددې نه مخكښې داوسپينى دپليټونو رواج وو دې دپاره چه مونږ تاسو ددشمن سره په جنگ كښې ديوبل د زد نه بچ كړو لنحصنكم كه په نون سره وى نو د لنحصنكم ضمير دالله پاک په طرف راجع دې او كه په ياې تختانيه سره وى نو ضمير دحضرت داؤد ؟ په طرف راجع دې او كه په تاې فوقانيه سره وى نو ضمير دلبوس په طرف راجع دې،نو اې اهل مكه آيا تاسو زما دنعمتونو ،رسولانو تصديق كوئ شكر گذار جوړيږئ يعنى درسولانو تصديق اوكړئ اوزما شكر ادا كړئ او مونږ تابع كړه د سليمان ؟ تيزه هوا او په بل آيت كښې رخاء دې يعنى نرمه هوا يعنى تيز رفتاره او په مزه تلووالا (دواړه قسمه تابع كړې) دده دارادې مطابق هغه دده مونږ حكم سره دهغې زمكې په طرف تله چه په هغې كښې مونږ بركت ايخې وو اوهغه شام دې اودهر څيز نه خبريو اوای اهل مكه ! په دې تولو څيزونو كښې دالله پاک دا هم علم دې چه هغه سليمان ؟ ته كوم څه وركوى هغه به سليمان ؟ ته دخپل رب په حضور كښې دخشوع اوحضوع دعوت وركوى نو الله پاک دخپل علم مقتضا مطابق عمل اوكړو او مونږ څنې داسې شيطانان تابع كړى ووچه سليمان دپاره به ئې په درياب كښې غوپې وهلې اوددرياب نه به ئې حضرت سليمان ؟ د پاره جواهرات راوخكل اوددې يعنى غوطه خورې نه علاوه دتعمير وغيره كار ئې هم كولو او

ددې نګرانی کونکی مونږ وو ددې خبزې نه چه کوم څه هغوی تیار کړی هغه خراب نه کړی، څکه چه دهغوی دامعمول ووچه کله به هغوی دشپې دکار کولو نه فارغ شول نو که به نورو کارونو کښې به مشغول نه کړې شو نو چه کوم به کړې شوې کار وو هغه به ئې خرابولو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: نوحا: ددې د منصوب کیدو دوه وجې کیدې شی ① ددې عطف په لوطا باندې وی په دې صورت کښې به ددې عامل ناصب هم هغه وی کوم چه دلوطا دې اوهغه آتینا محذوف دې چه دهغه تفسیر آتیناه مذکور کوی اودارنګې به داؤدوسلمان کښې هم وی او تقدیر دعبارت به داشی ونوحا آتیناه حکما وداؤدوسلمان آتیناهما حکما په دې صورت کښې اذ نادی نوحا نه بدل الاشتما ل وی ② اذکر فعل محذوف ددې ناصب وی، لکه چه صاحب دجلالین اشاره کړې ده نوحا نه مخکښې مضاف محذوف دې ای اذکر قصته په دې صورت کښې به اذنادی د مضاف محذوف دوجې نه منصوب وی ای خبرهم الواقع فی وقت کان کیت وکیت.

قوله: من قبل: ای من قبل هؤلاء المذکورین، حضرت نوح ؟ دڅلویښتو کالو په عمر کښې مبعوث شوې وواو تر نهه نیم سوو کالو پورې ئې قوم ته تبلیغ اوکړو او دطوفان نه پس شپیته (۶۰) کالوپورې ژوندې وو، په دې حساب سره د هغوی عمر مبارک یو زر پنځوس کاله (۱۰۵۰) شو اذنادی د نوحا نه بدل الاشتمال دې دنادی تفسیرئی په دعاعلی قوم سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چه نادی په معنیٰ د دعاعلیه دې چه دبدعا دپاره مستعمل دې.

قوله: ونصرناه: د دې تفسیرئی په منعناه سره کولو کښې اشاره اوکړه چه نصر، دمنع معنی ته متضمن دې چه دهغې دوجې نه ددې په صله کښې من راوړل صحیح دی ګنی دنصر صله علی راځی.

قوله: ان لا یصل الیه: ای لئلا یصل الیه بسوء دا دمنعناه علت دې و اذکر داؤد وسلیمان حضرت داؤد ؟ سل ۱۰۰ کاله ژوندې وو، دحضرت داؤد اوموسی ؟ په مینځ کښې پنځه سوه یو کم اویا (۵۶۹) کاله وقفه وه، اوحضرت سلیمان ؟ پنځه سوه یو کم شپیته (۵۵۹) ژوندې وواو دحضرت سلیمان اوحضرت محمد ؟ په مینځ کښې یو زر اووه سوه (۱۷۰۰) کاله فاصله ده. (جمل)

قوله: زرع: دغلې پټې کرم دانګور پټې.

قوله: نفشت: النفش الرعی باللیل بلا راع بغیر دشپونکی نه دچیلو په پټی کښې په خریدو فصل خرابول بابه (ض، ن، س) او همل وتیلې شی دورځې بغیر دشپونکی په پټی کښې خریدل او فصل خرابول، لحکمهم کښې دتثینې په ځای دجمعې ضمیر یا خو مجازا

استعمال شوې دې يا اقل د جمعې په طور باندې رقاب الغنم اى عوضا عما فات من حرنه

قوله: يسبحن. دالجبال نه حال دې اى مسبحة او ځنې حضراتو جمله مستانفه هم وئيلې ده لکه چه يو سائل سوال اوکړو کيف سخرهن؟ فقال يسبحن.

قوله: والطير. الجبال باندې دعطف کيدو دوجې نه هم منصوب کيدې شي او دمفعول معه دوجې نه هم، ځنې قرآء تونو کښې والطير مرفوع هم دې، په دې صورت کښې به يا خو دا مبتدا وى اوددې خبر به محذوف وى اى والطير مسخرات ايضايا به ديسبحن په ضمير باندې عطف وى خو په دې صورت کښې به دضمير منفصل په ذريعه تاکيد يا فصل ضرورى وى خود ادبصرينو په نزد دى دکوفينو په نزد باندې ضرورى نه دى

قوله: لامره به: مصدر دخپل فاعل په طرف مضاف دې او مفعول محذوف دې اى لامرداؤد لهما به اى بالتسبيح اذا وجد داؤد فترة يعنى داؤد به چه کله په ذکر اوتسبيح کښې سستى محسوس کړه نو غرونو اومارغانو ته به ئې دتسبيح کولو حکم فرمايلو دې دپاره چه دذکر او تسبيح فضا قائمه شي چستى پيدا شي او سستى ختمه شي صفائح جمع دصفيحة هر پلن څيز د کانړى وى ياداوسپينې لکم دعلمنا متعلق دې اود کائن محذوف سره متعلق دلبوس صفت هم کيدې شي اى لبوس کائن لکم په اول صورت کښې به لام دتعليل دپاره شي اى علمناه لاجلکم او لتحصنکم به په اعاده دجار سره بدل وى اى لکم لاحصانکم او په دويم صورت کښې به دعلمنا سره متعلق وى.

قوله: فى جملة الناس أى مع جملة الناس : په من جملة الناس سره ددې شبهې جواب دې چه د لکم مخاطب اهل مکه دى حالانکه اهل مکه دحضرت داؤد عليه السلام په زمانه کښې موجود هم نه وو؟ ددې جواب دادې چه دا داسې نعمت دې چه دا د نورو خلقو سره سره دهغوى نه روسته اهل مکه ته هم اورسيدلو.

قوله: بحسب ارادته : ددې عبارت داضافې مقصد ديو سوال جواب دې سوال دادې چه دلته دريح صفت عاصفة راوړلې شوې دې چه معنى ئې ده تيزه هوااوپه بل آيت کښې درخاء لفظ دې، چه معنى ئې ده نرمه هوا، په دواړو کښې تنافى اوتضاد معلوميږى؟ دجواب خلاصه داده چه دهوا سختوالې اونرموالې به دحضرت سليمان د ارادې مطابق ووځنګه به چه هغوى حکم کولو هغسې به چليده.

قوله: من ذالک علمه تعالى: دا خبر مقدم دې او علمه بان مايعطيه الخ مبتدا مؤخر ده.

قوله: من يغوصون له: من موصوله اوموصوفه دواړه کيدې شي او الريح باندې دعطف دوجې نه به جمله محلا منصوب وى اى سخرناله الريح عاصفة ومن يغوصون له اويغوصون جمع راوړل دمن دمعنى درعايت دوجې نه دى.

[اياتوله:۸۲-۹۳]

(و) اذكر (أيوب) ويبدل منه (إذ نادى ربه) لما ابتلي بفقد جميع ماله وولده وتمزيق جسده وهجر جميع الناس له إلا زوجته سنين ثلاثا أو سبعا أو ثماني عشرة وضيق عيشه (أني) بفتح الهمزة بتقدير الياء (مسني الضر) أي الشدة (وأنت أرحم الراحمين) (فاستجبنا له) نداءه (فكشفنا ما به من ضر وآتيناه أهله) أولاده الذكور والإناث بأن أحيوا له وكل من الصنفين ثلاث أو سبع (ومثلهم معهم) من زوجته وزيد في شبابها وكان له أندر للقمح وأندر للشعير فبعث الله سحابتين أفرغت إحداهما على أندر القمح الذهب وأفرغت الأخرى على أندر الشعير الورق حتى فاض (رحمة) مفعول له (من عندنا) صفة (وذكرى للعابدين) ليصبروا فيثابوا (و) اذكر (إسماعيل وإدريس وذا الكفل كل من الصابرين) على طاعة الله وعن معاصيه (وأدخلناهم في رحمتنا) من النبوة (إنهم من الصالحين) لها وسمي ذا الكفل لأنه تكفل بصيام جميع نهاره وقيام جميع ليله وأن يقضي بين الناس ولا يغضب فوفى بذلك وقيل لم يكن نبيا (و) اذكر (ذا النون) صاحب الحوت وهو يونس بن متى ويبدل منه (إذ ذهب مغاضبا) لقومه أي غضبان عليهم مما قاسى منهم ولم يؤذن له في ذلك (فظن أن لن نقدر عليه) أي نقضي عليه بما قضيناه من حبسه في بطن الحوت أو نضيق عليه بذلك (فنادى في الظلمات) ظلمة الليل وظلمة البحر وظلمة بطن الحوت (أن) أي بأن (لا إله إلا أنت سبحانك إني كنت من الظالمين) في ذهابي من بين قومي بلا إذن (فاستجبنا له ونجيناه من الغم) بتلك الكلمات (وكذلك) كما نجيناه (ننجي المؤمنين) من كربهم إذا استغاثوا بنا داعين (و) اذكر (زكريا) ويبدل منه (إذ نادى ربه) بقوله (رب لا تذرني فردا) أي بلا ولد يرثني (وأنت خير الوارثين) الباقي بعد فناء خلقك (فاستجبنا له) نداءه (ووهبنا له يحيى) ولدا (وأصلحنا له زوجه) فأتت بالولد بعد عقمها (إنهم) أي من ذكر من الأنبياء (كانوا يسارعون) يبادرون (في الخيرات) الطاعات (ويدعوننا رغبا) في رحمتنا (ورهبا) من عذابنا (وكانوا لنا خاشعين) متواضعين في عبادتهم (و) اذكر مريم (التي أحصنت فرجها) حفظته من أن ينال (فنفخنا فيها من روحنا) أي جبريل حيث نفخ في جيب درعها فحملت بعيسى (وجعلناها وابنها آية للعالمين) الإنس والجن والملائكة حيث ولدته من غير فحل (إن هذه) أي ملة الإسلام (أمتكم) دينكم أيها المخاطبون أي يجب أن تكونوا عليها (أمة واحدة) حال لازمة (وأنا ربكم فاعبدون) وحدون (وتقطعوا) أي بعض المخاطبين (أمرهم بينهم) أي تفرقوا أمر دينهم متخالفين فيه وهم طوائف اليهود والنصارى قال تعالى (كل إلينا راجعون) أي فنجازيه بعمله

ترجمه: او یاد کره دایوب؟ حالت اذ نادی ربه، دایوب نه بدل دي. کله چه هغه د هغه ټول مال او اولاد هلاک کړلو او د هغه بدن چور چور کولو او د بي بي نه علاوه ټول خلقو هغه درې يا اووه يا اتلس کاله پورې پرېښودلو او د تنګئ زندګئ په ذريعه ازمولې شو اني دهمزې په فتحې او د يا په تقدير سره دي، يعنې هغه وخت ياد کړه کله چه ايوب؟ خپل پروردګار ته

آواز اوکړو چه ما ته تکليف رسيدلې دې او ته د ټولو مهربانو نه زيات مهربان ئې مونږ د هغه دعا قبوله کړه او هغه ته چه کوم تکليف وو هغه مو لرې کړو او مونږ هغه ته د هغه داهل يعنی اولاد مذکر او مؤنث (نارينه او زنانه) ورکړل په داسې طريقه چه هغوی راژوندی کړې شو (مذکر او مؤنث) درې درې وو يا اووه اووه، او هغوی سره هغو مره نور هم، د هغه د بی بی نه او دهغه په بی بی باندې مو خوانی راواپس کړه، او دهغه يو درمن (کندو) دغنمو وو او يو د وربشو، نو الله پاک دوه وريځې اوليږلې يو وريځې دغنمو په کندو باندې سره زر او ورول او بلې وريځې د وربشو په کندو باندې چاندې اوورولې، تردې پورې چه اوبهيدل، دخپل خصوصی رحمت په وجه رحمة دآتينه مفعول له دې او من عندنا (کائنة) سره متعلق د رحمة صفت دې او دبندگی کونکو دنصيحت دپاره دې دپاره چه صبر اوکړی نو هغوی ته به ثواب ورکړې شی، او د اسماعيل او د ادريس او د ذوالکفل عليهم السلام تذکره اوکړه دا ټول د صابرينو نه وو د الله پاک په اطاعت باندې او دهغه دمعصيت نه په منع کيدو باندې او مونږ دې ټولو حضراتو لره په خپل رحمت يعنی نبوت کښې داخل کړی وو او په دوی کښې (دنبوت) صلاحيت وو او د ذوالکفل، ذوالکفل ددې وجې نه نوم کيخودې شو چه هغه د ورځې روژه نيول او ټوله شپه مونځ کول او چه دخلقو په مينځ کښې فيصلې کول او غصه نه کول په ځان لازم کړې وو پس هغه خپله ذمه داری په ښه طريقه پوره کړه، وئيل شوی دی چه ذوالکفل نبی نه وو او د ذوالنون يعنی دمهی والا تذکره اوکړه او هغه يونس بن متی دې او اذ ذهب مغاضبا دذاالنون نه بدل دې يعنی هغه وخت ياد کړه چه دکله دمهی والا دخپل قوم نه ددوی دطرف نه دتکليف اوچتولو په وجه ناراض شو اولاړو حالانکه ده ته دتلو اجازت نه وو ورکړې شوی نو هغه دا اوگڼل چه مونږ به په بغير د اجازت تلو باندې څه گرفتاری اونه کړو يعنی دمهی په خيټه کښې دقيد کولو چه مونږ کومه فيصله کړې وه هغه به اونه کړو، يادې په وجه به مونږ په ده باندې تنگی اونه کړو آخر کار هغه په تيارو کښې آواز اوکړو يعنی دشپې تيارۀ د اوبو تيارۀ او دمهی د خيټې تيارۀ چې اې الهی ستا نه سوا څوک معبود نشته ته پاک ئې بيشکه زه دظالمانو نه شوم بغير داجازت دقوم دمينځ نه دتلو په وجه نو مونږ دهغه دعا واوريده او دذکر شوو کلماتو ددعا په وجه مونږ ده ته دغم نه نجات ورکړو او څنگه مو چه دې بچ کړو دارنگې مونږ دايمان والا ددوی دغم نه بچ کوو کله چه هغوی مونږ ته په دعا کولو سره فرياد کوی او دزکريا تذکره اوکړه اذنادی دزکريا نه بدل واقع دې، کله چه هغه خپل رب ته په ربّ لاتذرنی فردا الفاظو سره فرياد اوکړو يعنی اې زما پروردگار ته ما يوائځې يعنی بلا ولده کوم چه زما وارث وی مه پريږده او ته د ټولو نه ښه وارث ئې يعنی ستا د ټول مخلوق دفنا کيدو نه پس ته باقی پاتې کيدونکې ئې نو مونږ دهغه دعا قبوله کړه او مونږ هغه ته يحيی هلک ورکړو او مونږ دهغه دپاره دهغه بی بی صحيح کړه

نودننه کیږو نه بس هغې بچې اوزیږولو اوپیشک دغه خلقو به یعنی هغه انبیاؤ چه ذکرمو ذکر وشو په نیک کارونو یعنی په طاعتونو کښې جلتی سبقت کولو اومونږ به ئې دامید اوویرې یعنې زمونږ درحمت د امید او دعذاب نه یرې سره رابللو او زمونږ په مخکښې عاجزي کونکی وو یعنی په خپل عبادت کښې خشوع اوخضوع کونکی وو او دبی بی مریم هم ذکره اوکره چه هغې دخپل ناموس حفاظت کړې وویعنی هغې ته د چا د رسیدو نه ئې دهغې حفاظت اوکړو اومونږ دهغې دتنه خپل روح پوک کړو یعنی جبرئیل؟ په داسې طریقې سره چه دهغې په گریوان کښې ئې پوکې اوکړو پس بی بی مریم دعیسی ؟ سره حامله شوه اومونږ پخپله هغې لره اودهغې ځوئ لره دعالم والو یعنی دانسانانو اوپیریانو او ملائکو دپاره نښه جوړه کړه ځکه چه هغې بغیر دسړی نه بچې اوزیږولو بیشکه دا یعنی ملت اسلامیه اې مخاطبو! ستاسو یو ملت دې تاسو دپاره ضروری دی چه په دې باندې قائم پاتې شئ امة واحدة حال لازمه دې اوزه ستاسو د ټولو رب یم نو خاص زما عبادت کوئ یعنی زما دتوحید قائل شئ خو ځنې مخاطبینو په خپل دین کښې فرقه بندئ اوکړې یعنی په خپل دینی معامله کښې د اختلاف کولو دوجې نه متفرق شول اوهغه دیهودواو نصاری دلې وې، الله پاک اوفرمائیل ټول په ټول زمونږ په طرف راواپس کیدونکی دی یعنی مونږ به په دوی کښې دهر یو دعمل بدله ورکړو

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: واذكر ايوب: ويبدل منه اذنادى ربه اذنادى ربه ایوب یعنی ددې دمضاف محذوف نه بدل دې ای خبرایوب نه

قوله: لما ابتلى: د نادى سره متعلق دې.

قوله: وضيق عيشه: ضيق مبنى للمفعول اوئیلې شی نو ابتلى باندې به عطف وی، او ضيق مصدراوئیلې شی نوبه فقد باندې به عطف وی اودباء لاندې به وی ای ابتلى بضيق عيشه

قوله: سنين ثلاثاً: دا دابتلى ظرف دې

قوله: اندر: په وزن د بندر کندو (درمن)(ج) اناور داهل شام په ژبه کښې ورته بیدر په وزن د خيبر وئیلې شی موضع الذى يداس فيه الطعام

قوله: رحمة: داداتيناه مفعول له دې، اودفعل مقدر مفعول مطلق هم کیدې شی ای رحمناه رحمة (والاول اظهر).

قوله: من عندنا: درحمة صفت دې ای رحمة كائنة من عندنا او ذكرى للعابدين کښې دعابدین تخصیص ددې دپاره دې چه داسې قسم واقعاتو نه عابدین منتفع کیږی.

قوله: ليصبروا : اى كما صبرايوب فاثيب.

قوله: وادخلنهم : ددې عطف په فعل مقدر باندې دې اى فاعطيناهم ثواب الصابرين وادخلنهم في رحمتنا.

قوله: وذاالكفل: د دوى نوم بشر بن ايوب ؟ دې اوذوالكفل ددوى لقب دې

قوله: ذالنون: دا لقب دې اصل نوم يونس بن متى په وزن دشتى دې چونكه يونس خو ورخې دمهى په خيټه كښې پاتې شوې ووددې وجې نه دده نوم ذوالنون شو

قوله: مغاضبا : دادذهب دضمير نه حال او دباب معاعله نه دې چه اكثر دمشاركت دپاره راځى خو دلته دمشاركت دپاره نه دې بلكه عاقبت اللص دقبيلې نه دې يعنى هغه دقوم نه ناراضه شو او لاړو مفسر علام داى عضبان اضافې سره دې طرف ته اشاره كړې ده او داهم ممكن دې چه دمشاركت دپاره وى يعنى هغوى د خپل قوم نه ناراض شو او قوم د هغوى نه ناراض وو ځكه چه په ابتداء دامر كښې قوم ايمان نه وو راوړې

قوله: نقضى عليه: الخ ددې داضافې مقصد دا ښودل دى چه لن نقدرعليه دقدر نه مشتق دې نه دقدرة نه دقدر معنى فيصله كولو يا تنګى كولو ده، نو لن نقدر عليه په معنى يا خو لن نقضى عليه كښې ده يعنى كومه فيصله چه مونږ كړې دۀ ددې نفاذ به اونه كړو، يا معنى داشوه چه په ده باندې تنګى اونه كړو، اوكه دقدرة نه مشتق اومنلې شى نو مطلب به داوى چه مونږ په ده باندې قدرت نه لرلو دا كفريه عقيده ده يو عام مسلمان هم داسې عقيده نه لرى بيا لا نبى به څنګه دا عقيده اولرى.

قوله: ان لااله الاانت: ددې دوه تركيبونه كيدې شى ① أن مخففه عن المثقله وى اودده اسم محذوف وى اى أنّه او دې نه پس واقع كيدونكې جمله منفيه ددې خبر وى ②ان تفسريه وى ځكه چه ان تفسريه قول يا دقول هم معنى نه پس واقع وى اوددې نه اول نادى واقع دې كوم چه دقول هم معنى دې نو دان تفسريه كيدل صحيح دى

قوله: يرثنى: اى ارث نبوة وعلم وحكمة.

قوله: وانت خيرالوارثين: دا په مقدر باندې معطوف دې تقدير دعبارت دادې فارزقنى وارثا وانت خيرالوارثين.

قوله: عقيم: اى انسداد الرحم عن الولادة بالظلمة والفاسد، عقيم شنډ چه په كښې داولاد پيدا كيدو صلاحيت نه وى.

قوله: انهم كانوا يسارعون في الخيرات : دادمحذوف علت دې اى نالوامانالوا لانهم كانوا يسارعون فى الخيرات يعنى دغه حضراتو ته چه كوم فضائل اومراتب حاصل شو ددې علت تولو وجوه دنيكو په طرف سبقت كول ووپه اصل خيرات كښې ثبات او استقرار

سره سره، ديسارعون صله الى په ځاىٔ دفى راوړلو كښې ددې په طرف اشاره ده.

قوله: رغبا ورهبا: ديدعون دمفعول له كيدو دوجې نه منصوب كيدې شى اودمصدر په موقع دحال كښې دواقع كيدو دوجې نه هم منصوب كيدې شى اى يدعون راغبين وراهبين.

قوله: احصنت فرجها: دا د موصوف محذوف صفت دې چه دفعل محذف (اذكر) د معمول دې لكه چې مفسر علام وضاحت كړې دې اى اذكر مريم التى الخ.

قوله: آية: په ظاهره معلوميږى چه آيتين وئيل پكار وو خو والده او ولد دواړه يوځاې آيت وو په دې وجه اية واحد راوړلې شوې دې او داهم ممكن دى چه په يو باندې قياس كولو سره دويم حذف كړې شوې وى په اصل كښې وجعلنا آية وابنها آية وو. اول آية په دويم باندې قياس كولو سره حذف كړو.

قوله: امتكم: كه په رفع سره وى نود ان خبردې اوكه په نصب سره وى نو بدل يا عطف بيان

قوله: امة واحدة: دادامتكم نه حال لازمه دوجې نه منصوب دې ځكه چه په امت كښې خپله وحدت اودجمعيت معنى موجوده ده اودامة واحدة نه هم داپه پوهه كښې راځى لكه چه امة واحدة، د امتكم دپاره دمعنى په اعتبارسره لازم دې.

قوله: وهم طوائف اليهود والنصارى: ددې دتخصيص ضرورت نشته دې ځكه چه په مسلمانانو كښې به هم درې اويا فرقې جوړيږى.

قوله: وتقطعوا امرهم: تقطعوا دقطعوا په معنى دې او امرهم ددې مفعول به دې او امرهم په معنى دفى امرهم دې.

[ايا تونه: ٩٤-١١٢]

(فَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ) اىْ لَا جُحُود (لِسَعْيِهِ وَإِنَّا لَهُ كَاتِبُونَ) بِاَنْ نَأمُر الْحَفَظَة بِكَتْبِهِ فَنُجَازِيهِ عَلَيْهِ (وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا) اُرِيدَ اَهْلُهَا (أَنَّهُمْ لَا) زَائِدَة (يَرْجِعُونَ) اىْ مُمْتَنِع رُجُوعهمْ إلَى الدنيا (حَتَّىٰ) غَايَة لِامْتِنَاعِ رُجُوعهمْ (إِذَا فُتِحَتْ) بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد (يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ) بِالْهَمْزِ وَتَرْكِهِ اسمان أَعْجَمِيَّانِ لِقَبِيلَتَيْنِ وَيُقَدَّر قَبْله مُضَاف اَىْ سَدّهمَا وَذٰلِكَ قُرْب الْقِيَامَة (وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ) مُرْتَفَع مِنَ الْأَرْض (يَنْسِلُونَ) يُسْرِعُونَ (وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ) اىْ يَوْم الْقِيَامَة (فَإِذَا هِيَ) اىْ الْقِصَّة (شَاخِصَةٌ أَبْصَارُ الَّذِينَ كَفَرُوا) فِي ذٰلِكَ الْيَوْم لِشِدَّتِهِ يَقُولُونَ (يَا) لِلتَّنْبِيهِ (وَيْلَنَا) هَلَاكنَا (قَدْ كُنَّا) فِي الدُّنْيَا (فِي غَفْلَةٍ مِنْ هَٰذَا) الْيَوْم (بَلْ كُنَّا ظَالِمِينَ) اَنْفُسنَا بِتَكْذِيبِنَا لِلرُّسُلِ (إِنَّكُمْ) يَا اَهْل مَكَّة (وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ) اىْ غَيْره مِنَ الْأَوْثَان (حَصَبُ جَهَنَّمَ) وَقُودهَا (أَنْتُمْ لَهَا وَارِدُونَ) دَاخِلُونَ فِيهَا (لَوْ كَانَ هَٰؤُلَاءِ) الْأَوْثَان (آلِهَةً) كَمَا زَعَمْتُمْ (مَا وَرَدُوهَا) دَخَلُوهَا (وَكُلٌّ) مِنَ الْعَابِدِينَ وَالْمَعْبُودِينَ (فِيهَا خَالِدُونَ) (لَهُمْ) لِلْعَابِدِينَ (فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ) شَيْئًا لِشِدَّة غَلَيَانهَا وَنَزَلَ لَمَّا قَالَ ابْن الزِّبَعْرَى عَبَدَ عُزَيْر وَالْمَسِيح وَالْمَلَائِكَة فَهُمْ

في النار على المعنى ما تقدم (إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِنَّا) المنزلة (الْحُسْنَى) ومنهم من ذكر (أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ) (لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا) صوتها (وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنْفُسُهُمْ) من النعيم (خَالِدُونَ) (لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ) وهو ان يؤمر بالعبد الى النار (وَتَتَلَقَّاهُمُ) تستقبلهم (الْمَلَائِكَةُ) عند خروجهم من القبور يقولون لهم (هَٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ) في الدنيا (يوم) منصوب باذكر مقدرًا قبله (نَطْوِي السَّمَاءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ) اسم ملك (لِلْكِتَابِ) صحيفة بن آدم عند موته واللام زائدة او السجل الصحيفة والكتاب بمعنى المكتوب واللام بمعنى على وفي قراءة لِلكُتُبِ جمعًا (كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ) عن عدم (نُعِيدُهُ) بعد إعدامه فالكاف متعلقة بنعيد وضميره عائد الى اول وما مصدرية (وَعْدًا عَلَيْنَا) منصوب بوعدنا مقدرًا قبله وهو مؤكد لمضمون ما قبله (إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ) ما وعدناه (وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ) بمعنى الكتاب اي كتب الله المنزلة (مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ) بمعنى أم الكتاب الذي عند الله (أَنَّ الْأَرْضَ) ارض الجنة (يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ) عام في كل صالح (إِنَّ فِي هَٰذَا) القرآن (لَبَلَاغًا) كفاية في دخول الجنة (لِقَوْمٍ عَابِدِينَ) عاملين به (وَمَا أَرْسَلْنَاكَ) يا محمد (إِلَّا رَحْمَةً) اي للرحمة (لِلْعَالَمِينَ) الإنس والجن بك (قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ) اي ما يوحى اليّ في امر الإله إلا وحدانيته (فَهَلْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ) منقادون لما يوحى اليّ من وحدانية الإله والاستفهام بمعنى الامر (فَإِنْ تَوَلَّوْا) عن ذلك (فَقُلْ آذَنْتُكُمْ) اعلمتكم بالحرب (عَلَىٰ سَوَاءٍ) حال من الفاعل والمفعول اي مستوين في علمه لا استبد به دونكم لتتأهبوا (وَإِنْ) ما (أَدْرِي أَقَرِيبٌ أَمْ بَعِيدٌ مَا تُوعَدُونَ) من العذاب او القيامة المشتملة عليه وإنما يعلمه الله (إِنَّهُ) تعالى (يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ) والفعل منكم ومن غيركم (وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ) انتم وغيركم من السر (وَإِنْ) ما (أَدْرِي لَعَلَّهُ) اي ما اعلمتكم به ولم يعلم وقته (فِتْنَةٌ) اختبار (لَكُمْ) ليرى كيف صنعكم (وَمَتَاعٌ) تمتع (إِلَىٰ حِينٍ) اي انقضاء آجالكم وهذا مقابل للأول المترجى بلعل وليس الثاني محلًا للترجي (قُلْ) وفي قراءة قال (رَبِّ احْكُمْ) بيني وبين مكذبيّ (بِالْحَقِّ) بالعذاب لهم او النصر عليهم فعذبوا ببدر واحد وحنين والأحزاب والخندق ونصر عليهم (وَرَبُّنَا الرَّحْمَٰنُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ) من كذبكم على الله في قولكم اتخذ ولدًا وعليّ في قولكم ساحر وعلى القرآن في قولكم شعر

ترجمه: لو کوم کس چه نیک عمل اوکړی او مؤمن هم وی نو دهغه دکوشش ناقدري به نشی کولې
یعنی انکار به نشی کولې او مونږ دهغه سعی لیکو یعنی مونږ فرشتو ته دهغې لیکلو حکم
ورکوونو مونږ به دهغه ته دهغه دسعی بدله ورکړو اوحرام دې په هغه کلی باندې یعنی په
کلی والو و باندې کوم چه مونږ هلاک کړی دی دا چه هغه واپس راشی یعنی ددوی ددنیا په
طرف راتلل ممتنع دی اوپه لایرجعون کښې لا زائد دې، تردې چه دا د امتناع رجوع
غایت دې کهلاو به کړې شی یاجوج او ماجوج فتحت په تشدید او تخفیف سره دې، یاجوج
ماجوج په همزې سره او په ترک دهمزې سره ددوؤ قبیلو دوه عجمی نومونه دی اوددې نه

مخکښې مضاف محذوف دې اې سدهما او دا به قیامت ته نزدې وی اوهغوی به دهغې
بلندئ يعني دلورځائ نه به په تيزئ سره په منډه راځي او رښتيا وعده يعني دقيامت ورځ
نزدې راغلې ده شان دادې چې دغه وخت به د کافرانو سترګې کهلاؤ وازې پاتې شی او په
سخته ورخ کښې به وائی هائې افساس (زمونږ هلاکته) مونږ خو په دنيا کښې ددې ورځې نه
په غفلت کښې وو بلکه د رسولانو په تکذيب کولو سره مونږ ظالمان وو اې دمکې خلقو تاسو
اود خدائې نه علاوه بتان وغيره دچا چه تاسو عبادت کوئ د جهنم خشاک به جوړيږئ او تاسو
ټول به په دې جهنم کښې داخليږئ که دا بتان (حقيقی) معبودان وې لکه څرنګه چه ستاسو
دعوی ده نوپه دې کښې به نه داخليدئ او معبودان او چاچه ددوی عبادت کړې دې ټول به په
جهنم کښې هميشه اوسيږی او ددې عبادت کونکو دپاره به په جهنم کښې چغې سورې وی
اودوی به په جهنم کښې ددې د سخت والی د جوش په وجه هيڅ نه شی اوريدلې او نازل شو
(وريسې) آيت کله چه ابن زبعرئ وئيلی وو چه عزير اومسيح اود ملائکو عليهم السلام
(هم) عبادت کړې شوې دې لهذا د تيرشوی بيان مطابق به هغوی هم په جهنم کښې
اوسيږی البته هغه خلق دچا دپاره، چه زمونږ دطرفه اوچتې مرتبې مقرر شوی دی اودهغوی
څخه هغه خلق هم دی دچا ذکر چه اوکړې شو هغوی به دجهنم نه لرې اوساتلې شی هغوی خو به
د جهنم آواز (شور) هم نه شی اوريدلې اوهغوی به هميشه په خپل دخوښې په نعمتونو کښې
اوسيږی اوهغوی لره به لويه ويره هم په غم کښې نه شی اچولې اودا به هغه وخت وی کله چه د
بنده ګان جهنم ته دتلو حکم اوشی او فرشتې به دهغوی سره ملاقات کوی يعنی د قبرونو نه د
وتلو په وخت به دهغوی استقبال کوی اوهغوی ته به وائی هم دا ده ستاسو هغه ورځ دکومې
چه تاسو سره په دنيا کښې وعده کړې شوې وه د يَوم نه مخکښې د اذکر مقدر په وجه يوم
منصوب دې، اوهغه ورځ هم د يادولو قابله ده چه په کومه ورځ مونږ آسمان داسې راؤنغاړو
څرنګه چه سجل نومې فرشته د انسان د مرګ نه پس دهغه اعمال نامه راونغاړی په للکتاب
کښې لام زائده دې يا د سجل نه مراد صحيفه ده اوکتاب د مکتوب به په معنی کښې دې
اولام په معنی د علی دې يعنی څرنګه چه کاغذ د مکتوب د طرفه رانغختلې کيږی اوپه
يو قرأت کښې الكتب دې په جمع سره، لکه څرنګه چه مونږ په اول ځل د عدم نه وجود کښې
راوستلو ددې دعدم کولو نه پس به ددې اعاده کوو کاف د نعبد سره متعلق دې او ددې
ضمير اول طرف ته راجع دې او ما مصدريه ده (دا) زمونږ په ذمه وعده ده مونږ به خپله وعده
ضرور (پوره) کوو وعدًا دخپل ماقبل وعدنا محذوف په وجه منصوب دې اودا دخپل ماقبل
د مضمون تاکيد کونکې دې او موږ په زبور (يعنی) مطلق په آسمانی کتابونو کښې ذکر
يعنی په لوح محفوظ کښې د ليکلو نه پس چه د الله تعالی سره دې ليکلی دی چه په دې

زمکه دجنت وارثان به زما نیک بندگان وی اودا خوشخبری دهر نیک بنده په باره کښې ېې شکه په دې قرآن کښې جنت ته د داخلیدو دپاره کافي نصیحت دې عبادت کونکو یعنی په دې باندې دعمل کونکو دپاره او اې محمد (ص) مونږ ته دټولو جهانونو والو دپاره یعنی دجن اوانس دپاره رحمت جوړکړې یعنی درحمت دپاره مو لیږلې ئې تاسو اووایئ ماته خو دا وحی کولې شی چه ستاسو معبود صرف یومعبود دې یعنی د الوهیت په معامله کښې خو ماته دالله تعالی د وحدانیت وحی رالیږلې شی نوآیا تاسو منونکی یئ یعنی ددې وحدانیت د وحی کومه چه ما طرف ته کولې شی آیا تاسو ددې تابعداری کوئ؟ استفهام په معنی د امردې یا هم که داخلق ددې نه مخ اوګرځوی نو تاسو اوفرمایئ چه ما تاسوپه واضحه طریقه سره د عذاب نه خبر کړی یئ علی.. اود فاعل او مفعول دواړو نه حال دې یعنی ددې دعلم په باره کښې دواړه برابر دی نه داچه یواځې زه خبر یم اوتاسو نه یئ، دې دپاره چه تاسو تیاری اوکړئ او زه خبر نه یم چه د کوم عذاب یا قیامت کوم چه به عذاب باندې مشتمل وی تاسو سره ئې وعده کړې شوې ده هغه نزدې راغلې دې یا اوس لا لرې دې په دې خبره خو الله ښه پوهیږی او الله تعالی خو ستاسو او دنورو د ښکاره اود قول اوفعل نه خبردې او دهغه رازونو نه هم خبردې کوم چه تاسو او نورخلق پټوی او ماته ددې خبرې هم علم نشته یعنی دکومې خبرې چه ما تاسو ته خبر درکړې دې اودهغې وخت مې درته نه دې خودلې ممکن ده چه ستاسو دپاره ازمیښت وی چه هغه اوګوری چه ستاسو عملونه څنګه دی او یو محدود یعنی تر مرګه پورې فائده درسول وی اودا (یعنی متاع الی حین) اول یعنی دکوم چه لعلّ سره ترجی کړې شوې ده (اوهغه د لعله فتنة) بالمقابل ده او دویم د ترجی محل نه دې قُل اوپه یو قرأت کښې قَالَ دې اووایه اې زما پروردګاره! زما او مالره د دروغ ګڼرونکو په مینځ کښې حق یعنی هغوی دهغوی دعذاب یا په هغوی باندې د غلبې فیصله اوکړې نوپه بدر او أحد او احزاب او حنین اوخندق کښې په عذاب کښې مبتلا کړې شو اوپه هغوی باندې ورته غلبه ورکړې شوه او زمونږ رب ډیر مهربان دې چه دهغه نه مدد غوښتلې کیږی اودهغه خبرو په مقابله کښې کومې چه تاسو جوړوئ اوهغه په الله باندې ستاسو بهتان دې ستاسو په قول اتخذ ولدًا کښې، اوپه ما باندې (بهتان) دې ستاسو په قول ساحرٌ کښې، اوپه قرآن باندې بهتان دې ستاسو په قول شعرٌ کښې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: فمن یعمل من الصّٰلحٰت: من زائده یا تبعیضیه کیدې شی، کفران مصدردې په معنی د کفرٌ.

قوله: لهٗ أی للسعی: د ه ضمیر مرجع سعی ده، اوبعضې خلقو وئیلی دی چه د له ضمیر مَن

طرف ته راجع دي.

قوله: حرام: خبر مقدم دي او انهم لا يرجعون مبتداء مؤخردي، مطلب دادي چه كوم كلي والا مونږ هلاک کړي دي دهغوی دپاره دوباره په دنيا کښې واپس راتلل منع دی او بعضې حضراتو دا مطلب هم بيان کړې دې چه دهغوی ايمان طرف ته رجوع کول ممتنع دی ځکه چه دهغوی دپاره دشقاوت فيصله کړې شوې ده لا زائده دې اوکه چرې حرام په معنی د واجبٌ واخستلې شی نومطلب به داشي چه دهغوی دنيا ته واپس نه راتلل واجب دې اوبعضې حضراتو وئيلی دی چه معنی د آيت داده مونږ طرف ته د جزاء دپاره عدم رجوع ممتنع ده.

قوله: حتّٰی: دا عدم رجوع يعنی د لايرجعون غايت يعنی ترقيامته پورې به دهغوی رجوع ممتنع وی او حتّٰی ابتدائيه هم کيدې شی په دې صورت کښې به جمله مستانفه وی فإذا هي، إذا د فُتحتْ جزاء ده، په فتحت کښې اسناد مجازی دې ځکه چه حقيقةً مفتوح سد ياجوج ماجوج دې نه چه ياجوج ماجوج.

قوله: ياجوج وماجوج: دا جدا دوه ډلې دی دا دواړه عجمی لفظونه دی دضحاک دقول مطابق دترکو دنسل ځخه دی ټول تاريخ دانان دوی لره د يافث بن نوح دنسل ځخه منی، دبعضې خلقو خيال دې چه دا تاتاری ترک دی تورات کتاب پيدائش باب ۱۰: ۲ کښې د يافث د يوځوی نوم ماغوغ راغلې دې په عبری ژبه کښې د غين تلفظ گاف سره کوی په دې وجه د ماغوغ نه ماگوگ شو او په عربئ کښې گاف په جيم سره بدلوی لهذا دماگوگ نه ماجوج شو. (لغات القرآن)

د ياجوج ماجوج د کهلاويدلو نه مراد سد سکندری کهلاويدل دی.

قوله: حدبٌ: په معنی د غونډئ (وړوکی غر) ددې جمع احداب ده.

قوله: واقترب الوعد: ددې عطف په فتحت باندې دې د ياويلنا نه مخکښې يقولون محذوف منلوسره اشاره کړې شوې ده. حصب ما يحصب به أى يرمى به: خشاک.

قوله: انتم لها واردون: جمله مستانفه هم کيدې شی او حصب د جهنم نه بدل هم.

قوله: في الزبور: په في الزبور کښې الف لام جنسی دې أى کتب الله ليکلوسره همدې طرف ته اشاره کړې ده چه د زبور نه مراد مطلقًا آسمانی کتاب دې نه چه هغه کتاب کوم چه په حضرت داؤد عليه السلام باندې نازل شوې وو، د زبور جمع زُبر. للكتب دا يا د السجل نه حال دې أى السجل كائنًا للكتب يا صفت دې أى السجل الكائن للكتب.

قوله: كما بدأنا: تقدير د کلام دادې چه كما بدأنا كل شيء في أول خلقه كذلك نعيد كل شيء، د كل شيء بدأنا مفعول مقدردې او أول خلق ظرف دې اود نعيد ضمير كل شيء طرف ته راجع دي.

قوله: للرحمة ددې مقصد دې خبرې طرف ته اشاره كول دى چه رحمةً مفعول له دې او رحمةً مبالغة دحال كيدو په وجه منصوب هم كيدې شي.

قوله: والخندق خندق سهواً ليكلې شوې دې ځكه چه احزاب او خندق يو دې.

[٢٢] سورة الحج

سُورَةُ الْحَجِّ مَكِّيَّةٌ إِلَّا (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ) الْآيَتَيْنِ أَوْ إِلَّا (هَٰذَانِ خَصْمَانِ) السِّتَّ آيَاتٍ فَمَدَنِيَّاتٌ وهي اربع او خمس او ست او سبع او ثمان وسبعون آية.

سوره حج مكى دې خو (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ) دوه آيتونه، يا (هَٰذَانِ خَصْمَانِ) شپږ آيتونه دا مدنى دى، اوټول آيتونه ٧۴ يا ٧۵ يا ٧۶ يا ٧٧ يا ٧٨ دى.

[اياتونه: ١-١٠]

بسم الله الرحمن الرحيم (يَاأَيُّهَا النَّاسُ) أَيْ أَهْلَ مَكَّةَ وَغَيْرَهُمْ (اتَّقُوا رَبَّكُمْ) أَيْ عِقَابَهُ بِأَنْ تُطِيعُوهُ (إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ) أَيْ الْحَرَكَةَ الشَّدِيدَةَ لِلْأَرْضِ الَّتِي يَكُون بَعْدهَا طُلُوع الشَّمْس مِنْ مَغْرِبهَا الَّذِي هُوَ قُرْب السَّاعَة (شَيْءٌ عَظِيمٌ) فِي إِزْعَاج النَّاس الَّذِي هُوَ نَوْع مِنَ الْعِقَاب (يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ) بِسَبَبِهَا (كُلُّ مُرْضِعَةٍ) بِالْفِعْلِ (عَمَّا أَرْضَعَتْ) أَيْ تَنْسَاهُ (وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ) اي حبلى (حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَىٰ) مِنْ شِدَّة الْخَوْف (وَمَا هُمْ بِسُكَارَىٰ) مِنَ الشَّرَاب (وَلَٰكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ) فَهُمْ يَخَافُونَهُ وَنَزَلَ فِي النَّضْر بْن الْحَارِث وَجَمَاعَته (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ) قَالُوا الْمَلَائِكَة بَنَات اللَّه وَالْقُرْآن أَسَاطِير الْأَوَّلِينَ وَأَنْكَرُوا الْبَعْث وَإِحْيَاء مَنْ صَارَ تُرَابًا (وَيَتَّبِعُ) فِي جِدَاله (كُلَّ شَيْطَانٍ مَرِيدٍ) أَيْ مُتَمَرِّد (كُتِبَ عَلَيْهِ) قُضِيَ عَلَى الشَّيْطَان (أَنَّهُ مَنْ تَوَلَّاهُ) أَيْ اتَّبَعَهُ (فَأَنَّهُ يُضِلُّهُ وَيَهْدِيهِ) يَدْعُوهُ (إِلَىٰ عَذَابِ السَّعِيرِ) اي النار (يَاأَيُّهَا النَّاسُ) أَيْ أَهْل مَكَّة (إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ) شَكّ (مِنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ) أَيْ أَصْلكُمْ آدَم (مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ) خَلَقْنَا ذُرِّيَّته (مِنْ نُطْفَةٍ) مَنِيّ (ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ) وَهِيَ الدَّم الْجَامِد (ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ) وَهِيَ لَحْمَة قَدْر مَا يُمْضَغ (مُخَلَّقَةٍ) مُصَوَّرَة تَامَّة الْخَلْق (وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ) أَيْ غَيْر تَامَّة الْخَلْق (لِنُبَيِّنَ لَكُمْ) كَمَال قُدْرَتنَا لِتَسْتَدِلُّوا بِهَا فِي ابْتِدَاء الْخَلْق عَلَى إِعَادَته (وَنُقِرُّ) مُسْتَأْنَف (فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى) وَقْت خُرُوجه (ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ) مِنْ بُطُون أُمَّهَاتكُمْ (طِفْلًا) بِمَعْنَى أَطْفَالًا (ثُمَّ) نُعَمِّرُكُمْ (لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ) أَيْ الْكَمَال وَالْقُوَّة وَهُوَ مَا بَيْن الثَّلَاثِينَ إِلَى الْأَرْبَعِينَ سَنَة (وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّىٰ) يَمُوت قَبْل بُلُوغ الْأَشُدّ (وَمِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ) أَخَسّه مِنَ الْهَرَم وَالْخَرَف (لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنْ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا) قَالَ عِكْرِمَة مَنْ قَرَأَ الْقُرْآن لَمْ يَصِرْ بِهَذِهِ الْحَالَة (وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً) يَابِسَة (فَإِذَا أَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ) تَحَرَّكَتْ (وَرَبَتْ) ارْتَفَعَتْ وَزَادَتْ (وَأَنْبَتَتْ مِنْ) زَائِدَة (كُلِّ زَوْجٍ) صِنْف (بَهِيجٍ) حَسَن (ذَٰلِكَ) الْمَذْكُور مِنْ بَدْء خَلْق الْإِنْسَان إِلَى آخِر إِحْيَاء الْأَرْض (بِأَنَّ) بِسَبَبِ أَنَّ (اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ) الثابت الدائم (وأنه يحيي الموتى وأنه على كل شيء قدير) (وَأَنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ لَا رَيْبَ) شَكّ (فِيهَا وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُورِ) وَنَزَلَ فِي أَبِي جَهْل (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ

فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى﴾ مَعَهُ ﴿وَّلَا كِتَابٍ مُّنِيْرٍ﴾ لَهُ نُور مَعَهُ ﴿ثَانِيَ عِطْفِهٖ﴾ حَال أَيْ لَاوِيَ عُنُقِه تَكَبُّرًا عَنِ الإِيمَان وَالعِطف الجَانِب عَنْ يَمِين أَوْ شِمَال ﴿لِيُضِلَّ﴾ بِفَتْحِ الْيَاء وَضَمِّهَا ﴿عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ أَيْ دِينه ﴿لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ﴾ عَذَاب فَقُتِلَ يَوْم بَدر ﴿وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ الْحَرِيْقِ﴾ أَيْ الإِحْرَاق بِالنَّارِ وَيُقَال لَهُ ﴿ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ﴾ أَيْ قَدَّمْته عَبَّرَ عَنْهُ بِهِمَا دُون غَيْرهمَا لِأَنَّ أَكْثَر الأَفْعَال تُزَاوَل بِهِمَا ﴿وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ﴾ أَيْ بِذِي ظُلْم ﴿لِّلْعَبِيْدِ﴾ فَيُعَذِّبهُمْ بِغَيْرِ ذَنب

ترجمه: دټولو نه زيات ډير رحم کونکي د الله په نوم سره شروع کوم، اې دمکې وغيره خلقو دخپل رب يعنی دهغه دعذاب نه اويرېږئ په دې طريقه چه دهغه اطاعت اوکړئ بې شکه دقيامت زلزله يعنی د زمکې سخت حرکت کوم چه دمغرب دطرفه د نمر د راختلو نه مخکښې وی اودا به قيامت ته نزدې وی، دخلقو د بې قراره کيدو (ويرولو) کښې به ډير درونډ څيز وی دا عذاب به يوقسم وی په کومه ورځ چه تاسو هغه اوګورئ ددې (زلزلې) په وجه به بالفعل هره پئ ورکونکې ښځه پئ څکونکې بچی نه بې پرواه شی يعنی هير به ئې کړی او هرحمل والا يعنی حامله ښځه به خپل حمل ساقط کړی (اوبه ئې غورځوی) او (اې مخاطبه) ته به خلق د سختې ويرې په وجه دنشې په شان حالت کښې وينې حالانکه هغوی به دشراب په وجه په نشه کښې نه وی ليکن د الله عذاب به ډير سخت وی چه دهغې په وجه به خلق په ويره کښې وی اود نضربن حارث اود يو جماعت په باره کښې ورپسې آيت نازل شو اوبعضې خلق داسې دی چه هغوی دالله په باره کښې بې علمئ سره جهګړه کوی (او) وائی چه فرښتې دالله لونړه دی اوقرآن دپخوانو خلقو دخانه جوړې شوې قصې دی اودوی د بعث منکردی اود خاورې کيدو نه پس د ژوندی کيدلو منکردی اوپه دې جهګړه کښې دهر سرکش شيطان پسې روانيږی او دشيطان باره کښې دا خبره ليکلې شوې ده يعنی په دې باره کښې فيصله کړې شوې ده چه څوک هم دده ملګرتيا کوی يعنی دده تابعداری کوی نو هغه به ګمراه کوی اوهغه به د اور دعذاب طرف ته بوځی اې د مکې خلقو که چرې تاسو ددوباره ژوندی کيدو باره کښې په شک کښې يئ (نو لږ غور اوکړئ) مونږ تاسو يعنی ستاسو اصل آدم د خاورې نه پيدا کړو بيا د آدم اولاد نطفه مَنی او بيا د علقه نه او دا چکه وينه ده اوبيا د د بوټئ (ټکړې) اودا د شخوند وهلو (دچيچلو) په مقدار د غوښې ټکړه ده (بوټئ) چه دخلقت په اعتبار سره بوره هم وی او نيمګړې هم وی چه مونږ په تاسو باندې خپل کمال قدرت ظاهر کړو چه تاسو د ابتدائی تخليق د قدرت نه په اعاده د تخليق باندې استدلال اوکړئ **ولقر** جمله مستانفه ده او مونږ دمورد رحم نه چالره چه غواړو د يو معلومې مودې يعنی د پيدائش تر وخته پورې ايسار ساتو بيا مونږ تاسو لره ستاسو د مياندو د خيټو نه ماشوم جوړولو سره بهر راوباسو او **طفلا** اطفالا په معنی کښې دې بيا تاسوته عمر درکوو چه تاسو پوره ځوانئ ته يعنی کمال او قوت ته

اورسيږئ او دا د ديرش نه تر څلويښت کالو په مينځ کښې ده اوبعضې په تاسو کښې هغه خلق هم دی چه د بالغ کيدو نه مخکښې وفات شی اوبعضې په تاسو کښې هغه دی چه د رذالت عمر ته رسولې شی يعنی د بوداتوپ په وجه دعمر ښکته مرحله اود فساد عقل منزل ته رسيږئ (چه دهغې اثر داوی) چه ديوڅيز نه دخبريدو نه پس ناخبره کيږی (حضرت) عکرمه فرمائيلی دی چه کوم کس د قرآن لوستلو شوق لری هغه دغه عمر ته نه رسيږئ او اې مخاطبه ته گورې زمکې ته چه اوچه ده اوکله چه مونږ په هغې باندې اوبه او ورؤو، نوهغه اوخوزيږی يعنی حرکت کوی او راپرسيږی مرتفع نوره زياته شی او هرقسم ښائسته بوټی راخيجوی، دا څه چه ذکرشو د انسان د ابتدائی پيدائش نه واخله تر د زمکې ژوندی کولو پورې په دې وجه دی چه خاص الله ثابت او دائم دې اوخاص هغه مړی ژوندی کوی اوپه هر څيز باندې قادر دې او قيامت يقينا راتلونکې دې په دې کښې ذره برابرهم شک نشته او الله تعالی به قبرونو والا دوباره پيدا کوی او دا آيت د ابوجهل باره کښې نازل شوې دې او بعضې خلق داسې وی چه هغوی دالله په باره کښې بغير دعلم نه او بغير د دليل نه چه کوم دهغه سره وی اوبغير دڅه روښانه کتاب نه کوم چه دهغه دپاره وی اودهغه کتاب سره نور (وحی) وی ده کولو سره (دا د يجادل د ضميرنه) حال دې يعنی دايمان نه دتکبر په انداز کښې څټ اړوی او عطف بنی يا گس طرف ته وائی، ليضل د يا په فتحې اوضمې سره چه دالله د لارې يعنی دهغه ددين نه ئې واړوی دداسې سړی دپاره په دنيا کښې د رسوايئ عذاب دې لکه څرنگه چه په د بدر په ورځ قتل کړې شو اود قيامت په ورځ به هم وريانديې د سوزيدو يعنی په اور کښې د سوزيدو عذاب اوڅکوی، او دا ستاسو د لاسونو د کړې شوو کارونو بدله ده يعنی دهغې عملونو کوم چه تاسو کړی دی سړې (ذات) په يدٌ سره تعبير کړې دې نه چه په نورو اندامونوسره څکه چه د اکثرو عملونو کيدل په لاسونو سره کيږی او دا خبره يقينی ده چه الله تعالی په بندگانو باندې ظلم کونکې نه دې چه هغوی ته بغير دڅه جرم نه سزا ورکړی.

قوله: زلزلة الساعة: دقيامت د ورځې زلزله په دې کښې اضافت الی الظرف طرف ته اشاره ده لکه چه په بل سارق الليل کښې، او دا اتساعًا دې.

قوله: التی يکون بعدها طلوع الشمس: د مفسرعلام مقصد ددې عبارت په اضافې سره دې خبرې طرف ته اشاره کول دی چه دا زلزله به په دنيا کښې وی او د مغرب د طرفه به د نمر د راختلو نه مخکښې وی اوهم ددې قول تائيد دالله تعالی د قول تذهل کل مرضعة عما ارضعت سره هم کيږی.

قوله: بالفعل: ددې مطلب دادې چه چه د پئ ورکولو حالت کښې مور بچی طرف ته پوره متوجه وی په داسې حالت کښې هم دا سخته زلزله چه اوگوری نو دخپل بچی نه به غافله

شي، په عما أرضعت کښې ما مصدريه هم کيدې شي أى عن إرضاعها او موصوله هم کيدې شي أى عن الذى أرضعته.

قوله: يوم ترونها: د يوم په نصب کښې يو څو وجوه دي: ① د تذهل په وجه منصوب دې ② أذكر د فعل محذوف په وجه منصوب دې. ③ د الساعة نه بدل دې ④ د عظيم په وجه منصوب دې.

قوله: تذهل: د ترونها د ضميرنه حال دې او رؤيت بصرى مراد دې.

قوله: ولكن عذاب الله شديد: دا دمحذوف نه استدراک دې فهذه الأحوال المذكورة ليست بشديدة ولكن عذاب الله شديد د لكن مابعد د ماقبل مخالف وي.

قوله: وجماعة: د جماعت نه مراد ابوجهل او ابى بن خلف وغيره دي.

قوله: كمال قدرتنا: ددې عبارت دمقدر منلو مقصد دې خبرې طرف ته اشاره کول دي چه دا د لنبين لكم مفعول محذوف دې.

قوله: طفلا: دا د نخرجكم د كم ضميرنه حال دې او طفلا چونکه مصدر دې چه ددې په وجه په معنى د جمع کښې دې لکه څرنګه چه مفسر علام اشاره کړې ده.

قوله: ارذل العمر: د کمزورئ بې كاره عمر عُمُرٌ د دوارو په فتحې سره د زيات عمر (بوډاتوب) په وجه دعقل فساد يعنى چه عقل ئې د ير زيات کمزورې شي.

قوله: لكيلايعلم: ددې تعلق د يرد سره دې.

قوله: هامدة: د همدت النار نه مشتق دې، ددې معنى ده اور مړ کيدل.

قوله: ذلك بأن الله: په دې کښې درې قسمه اعراب کيدې شي: ① ذلك مبتداء او ورپسې ددې خبر او مشار اليه په ماقبل کښې تخليق دبنى آدم وغيره دې. ② ذلك د مبتداء محذوف خبر دې، أى الأمر ذلك. ③ ذلك دفعل مقدر په وجه منصوب دې، أى فعلنا ذلك بسبب أن الله هو الحق.

قوله: يجادل فى الله.. الخ: يعنى دا سړې د الله په ذات اوصفات کښې مجادله كوى حالانکه نه دهغه سره علم شته اونه دليل، اونه دهغه سره څه روښانه کتاب دې، چه دهغې د وحى تائيد ورته حاصل وى، يعنى د دليل عقلى اونقلى نه بغير دالله تعالى دذات او صفاتو باره کښې جهګړه کوی، وأن الساعة آتية وأنه يحى الموتى دپاره تاكيد دي

قوله: ونزول فى أبى جهل: دده نوم عمرو بن هشام دې او ابوجهل كنيت دې، دده يو كنيت ابوالحكم هم دې، د ومن يجادل فى الله عطف په مخکښې من يجادل فى الله بغير علم باندې دې

قوله نورمعه ددې تعلق د کتاب سره دی أي ملاوې [illegible] معه.

قوله حال ثاني عطفه د يجادل د ضمير نه حال دی او د ليضل تعلق د يجادل سره دی

قوله عذاب الحريق دا اضافت د موصوف الى الصفت د قبيل نه دی أي العذاب المحرق.

قوله أي بذي ظلم دا اشاره ده چه ظلام کومه چه د مبالغې صيغې ده. ذي ظلم دا اسم فاعل په معنی کښې دی

[ایاتونه: ۱۱ - ۲۲]

(وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللّٰهَ عَلَى حَرْفٍ) أي شك في عبادته شبه بالحال على حرف جبل في عدم ثباته (فَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ) صحة وسلامة في نفسه وماله (اطْمَأَنَّ بِهِ وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ) محنة وسقم في نفسه وماله (انْقَلَبَ عَلَى وَجْهِهِ) أي رجع إلى الكفر (خَسِرَ الدُّنْيَا) بفوات ما أمله منها (وَالْآخِرَةَ) بالكفر (ذَلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ) البين (يَدْعُو) يعبد (مِنْ دُونِ اللّٰهِ) من الصنم (مَا لَا يَضُرُّهُ) إن لم يعبده (وَمَا لَا يَنْفَعُهُ) إن عبده (ذَلِكَ) الدعاء (هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ) عن الحق (يَدْعُو لَمَنْ) اللام زائدة (ضَرُّهُ) بعبادته (أَقْرَبُ مِنْ نَفْعِهِ) إن نفع بتخيله (لَبِئْسَ الْمَوْلَى) هو أي الناصر (وَلَبِئْسَ الْعَشِيرُ) الصاحب هو وعقب ذكر الشاك بالخسران بذكر المؤمنين بالثواب في (إِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ) من الفروض والنوافل (جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ إِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ) من إكرام من يطيعه وإهانة من يعصيه (مَنْ كَانَ يَظُنُّ أَنْ لَنْ يَنْصُرَهُ اللّٰهُ) أي محمدا نبيه (فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ) بحبل (إِلَى السَّمَاءِ) أي سقف بيته يشده فيه وفي عنقه (ثُمَّ لْيَقْطَعْ) أي ليختنق به بأن يقطع نفسه من الأرض كما في الصحاح (فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُ) في عدم نصرة النبي (مَا يَغِيظُ) منها المعنى فليختنق غيظا منها فلا بد منها (وَكَذَلِكَ) أي مثل إنزالنا الآية السابقة (أَنْزَلْنَاهُ) أي القرآن الباقي (آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ) ظاهرات حال (وَأَنَّ اللّٰهَ يَهْدِي مَنْ يُرِيدُ) هداه معطوف على هاء أنزلناه (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا) هم اليهود (وَالصَّابِئِينَ) طائفة منهم (وَالنَّصَارَى وَالْمَجُوسَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا إِنَّ اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ) بإدخال المؤمنين الجنة وإدخال غيرهم النار (إِنَّ اللّٰهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ) من عملهم (شَهِيدٌ) عالم به علم مشاهدة (أَلَمْ تَرَ) تعلم (أَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ) أي يخضع له بما يراد منه (وَكَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ) وهم المؤمنون بزيادة على الخضوع في سجود الصلاة (وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ) وهم الكافرون لأنهم أبوا السجود المتوقف على الإيمان (وَمَنْ يُهِنِ اللّٰهُ) يشقه (فَمَا لَهُ مِنْ مُكْرِمٍ) مسعد (إِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ) من الإهانة والإكرام (هَذَانِ خَصْمَانِ) أي المؤمنون خصم والكفار الخمسة خصم وهو يطلق على الواحد والجماعة (اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ) أي في دينه (فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِنْ نَارٍ) يلبسونها يعني أحيطت بهم النار (يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوسِهِمُ الْحَمِيمُ) الماء البالغ نهاية الحرارة (يُصْهَرُ) يذاب (بِهِ مَا فِي بُطُونِهِمْ) من شحوم وغيرها (وَ) تشوى به (الْجُلُودُ) (وَلَهُمْ مَقَامِعُ مِنْ

حدید، لضرب رؤوسهم ﴿كُلَّمَا أَرَادُوا أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا﴾ أي النار ﴿مِنْ غَمٍّ﴾ يلحقهم بها ﴿أُعِيدُوا فِيهَا﴾ ردوا إليها بالمقامع ﴿وَ﴾ قيل لهم ﴿ذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ﴾ أي البالغ نهاية الإحراق

ترجمه: او بعضې خلق داسې هم وی چه د الله بندګی په یوه غاړه باندې کیدو سره کوی یعنی دهغه عبادت به تذبذب (شک) سره کوی په شک سره دعبادت کونکی حالت لره په نه مضبوط کیدو کښې دهغه سړی دحالت سره تشبیه ورکړې شوې ده خوک چه د غر په غاړه ولاړ وی لهذا که هغه ته څه خبر اورسیدلو یعنی دهغه په ځان اومال کښې صحت او سلامتیا نو په دغه دین باندې مطمئن کیږی او که چرې څه آفت یعنی دهغه په ځان اومال کښې محنت او مرض اورسیدو نوهغه په مخه پاسیږی اوځی یعنی کفرطرف ته واپس کیږی، د کومې دنیا د ملاویدو چه امید وو د هغې د نه ملاویدو د وجې نه د دنیا نقصان اوشو، او د کفر په وجه نې د آخرت نقصان اوشو، او هم دا ښکاره نقصان دې، الله پاک لره پریخودلو سره د بتانو بندګی کوی، که د هغه بندګی اونکړې شی نو هغه ورته نقصان نه شی رسولې او که د هغه بندګی کوی نو هغه ته نفع نه شی رسولې دا بندګی انتهاء درجې د حق نه ګمراهی ده د داسې څیز بندګی کوی چه د هغې د عبادت نقصان د دې د نفع نه زیات قریب دې بالفرض که ددې د خیال مطابق نفع وی، په ﴿لمن﴾ کښې لام زائده دې، یقینا داسې مولی یعنی مددګار بد دې او هغه بد ملګرې دې، د شک کونکی د نقصان د ذکر کولو نه پس د مومنان د ثواب ذکر فرمائی بیشکه الله پاک به ایمان والو لره او هغه خلقو لره چا چه اعمال صالحه د فرائض او نوافل د قبیلې نه کړې وی په داسې باغونو کښې داخل کړی چه په هغې کښې به نهرونه جاری وی او الله پاک چه څه غواړی هغه کوی برابره خبره ده که د هغه د اطاعت کونکی اکرام وی یا د هغه د نافرمان اهانت وی او کوم سړې چه دا خیال کوی چه الله پاک به د خپل نبی محمد ﷺ په دنیا او آخرت کښې مدد اونه کړی نو داسې کس له پکار دی چه په لوړه باندې یوه رسۍ اوتړی، یعنی د خپل کور په چهت کښې دې د رسۍ یو سر اوتړی او دویم طرف دې په خپل سټ کښې واچوی، بیا دې په هغې سره خپل ځان پهانسی کولو سره خودکشی اوکړی په دې طریقه چه خپله ساه د دنیا نه منقطع کړی (په صحاح کښې هم داسې دی) بیا دې غور اوکړی چه ایا د هغه دا تدبیر خودکشی د رسول الله ﷺ د عدم نصرت په باره کښې هغه څیز ختمولې شی کوم چه هغه په غصه کښې اچولې دې، د آیت کریمه معنی دا ده چه د غصې په وجه دې خودکشی اوکړی، او د محمد ﷺ نصرت ضروری دې او هم دغه شان یعنی څنګه چه آیات سابقه مونږ نازل کړی دی باقی قرآن کریم هم مونږ نازل کړې دې حال دا دې چه واضح آیتونه دی ﴿آیات﴾ د ﴿انزلناه﴾ د ضمیر نه حال دې او بیشکه الله پاک چه د چا د هدایت اراده اوکړی نو هغه ته هدایت نصیب کوی او د ﴿ان الله یهدی الخ﴾ عطف د ﴿انزلناه﴾ په ﴿ه﴾ ضمیر باندې دې (تقدیر د عبارت

دا دې ﴿ انزلنا القرآن وانزلنا ان الله يهدى من يريد ﴾ په دې کښې هيڅ شک نشته چه مومنان او هغه خلق چا چه يهوديت اختيار کړو او دا يهود دی او صابئين کوم چه د يهودو يو جماعت دې او نصاری او مجوسيان او مشرکين الله پاک به د دې ټولو ترمينځه د قيامت په ورځ مومنانو لره جنت ته داخلولو او غير مومنين لره جهنم ته داخلولو سره فيصله اوکړی بيشکه الله پاک د هغوی په اعمالو کښې د هر څيز نه خبردار دې يعنی هغه ته علم مشاهده حاصل دې اې مخاطب آيا تاته دا خبره معلومه نه ده چه د الله پاک په وړاندې ټول عاجزی کوی کوم چه په اسمانونو کښې دی او په زمکو کښې دې او شمس او قمر او ستوری او غرونه او ونې او څاروی هم يعنی هر يو د هغه د حکم تابع دې په هغه خبره کښې کومه چه د هغه نه مطلوب ده او ډير انسانان هم (عاجزی کوی) او هغوی مومنان دی، په سجدهٔ صلاة کښې (عام) خضوع باندې زيادت سره او ډير داسې دی چه په هغوی باندې د عذاب استحقاق ثابت شوې دې او هغه کافر دی ځکه چه هغوی د هغه سجدې نه انکار کړې دې کومه چه په ايمان باندې موقوف ده، او څوک چه الله پاک ذليل کړی بدبخته ئې کړی هغه ته څوک عزت ورکونکې نشته يعنی هغه لره سعيد کونکې نشته، الله پاک د سپکاوی او اکرام نه چه څه غواړی ئې کوی دا دوه فريق دی مومنان يو فريق دې او کفار خمسه دويم فريق او د خصم اطلاق په واحد او جمع دواړو باندې کيږی، هغوی د خپل رب يعنی د هغه د دين په باره کښې جهګړه کړې ده نو د کفارو دپاره به د د اور جامې پرې کولې شی هغه به اغوندی يعنی اور به په هغوی باندې احاطه اوکړی او د هغوی په سرونو باندې به ماء حميم يعنی انتهائی سختې ګرمې اوبه پرې بهيولې شی چه په هغې سره به د هغوی د خيټې ټول څيزونه ويلی کړې شی وازګه غيره او څرمنې به د هغه ګرمو اوبو د وجې نه ورتې کړې شی، او د هغوی د سزا دپاره د اوسپنې ستکونه دی يعنی د هغوی په سرونو باندې د وهلو دپاره او چه کله هم په هغه اور سره هغوی ته د غم رسيدلو د وجې نه د تختيدلو اراده کوی د ستکونو په ذريعه به هغې ته بيرته واپس کولې شی او هغوی ته به وئيلې شی د سوزيدو عذاب اوڅکئ يعنی کوم به چه د سيزلو انتهائی حد ته رسيدلې وی

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: عَلَىٰ حَرْفٍ: دا د ﴿ يعبد ﴾ د ضمير فاعل نه حال دې ای يعبد متزلزلا.

قوله: شُبِّهَ بِالْحَالِ عَلَىٰ حَرْفِ جَبَلٍ فِي عَدَمِ ثَبَاتِهِ: په دې کښې دې طرف ته اشاره ده چه په آيت کريمه کښې استعاره تمثيليه دې او هغه دا ده چه په آيت کريمه کښې د هغه چا حالت لره کوم چه بغير د يقين او اعتقاد نه په اسلام کښې داخل شوې وی په تزلزل او عدم ثبات کښې د هغه سړی د حال سره تشبيه ورکړې شوې ده کوم چه د يو څيز په کناره باندې ولاړ وی هر وخت هغه د بې اطمينانئ په کيفيت کښې وی.

قوله: مَا أَمَلَهُ: (ما امله)دا د ماضي صيغه هم كيدې شي او (امل) په معنى د اميد هم كيدې شي.

قوله: اللَّامُ زَائِدَةٌ لمن باندې لام زائده دې اود (من يدعوا) مفعول دې (ضره)مبتدا ده او (اقرب)د خپل متعلق سره خبر دې او بيا جمله د (من)موصوله صله ده او موصول صله د (يدعوا)مفعول به دې.

قوله: بِعِبَادَتِهِ : اى بسبب عبادته.

قوله: لَبِئْسَ الْمَوْلَى ....هو..... مخصوص بالذم دې، (الناصر)د مولى تفسير دې، هم دغه شان (الصاحب) د (العشير)تفسير دې، او (هو)مخصوص بالذم دې قول المفسر بالخران متلبسا ... محذوف سره متعلق كيدو سره د (شاك)نه حال دې وكذا يقال ما بعده قول المفسر بذكر المؤمنين : عقب سره متعلق دې قوله تعالى ان الله يدخل الذين الخ د ذكر ثاني صفت دې اى الذكر الكائن فى هذه الاية، قول المفسر من اكرام من يطيعه الخ په دې كښې لف نشر غير مرتب دې ينصره كښې ضمير محمد ﷺ طرف ته راجع دې د معهود فى الذهن كيدو د وجې نه، (السماء)چه د سر دپاسه كوم څيز وى هغې ته سماء وئيلې شى، مقوله ده چه ما هو على راسه فهو سماء.

قوله: فَلْيَمْدُدْ: كښې (من)كه شرطيه وى نو (فليمدد)به د هغې جزا وى او كه (من) موصوله وى نو فاء به (فليمدد)كښې به د جزاء مشابه كيدو د وجې نه وى.

قوله: بِأَنْ يَقْطَعَ نَفْسَهُ: بان يقطع نفسه د (نفسه)اضافه كولو سره اشاره ئې اوكړه چه د (ليقطع)مفعول محذوف دې (من الارض)نه مراد حيات دنيوى دې چه كله (نفسه)د فا په فتحې سره اولوستلې شى او كه نفسه د فاء په سكون سره وى نو په دې صورت كښې به دنفس نه مراد خپله د هغې ذات وى، او د ارض نه مراد به زمكه وى، مطلب به دا وى چه په چهت وغيره كښې دې د رسۍ يو سر اوتړى او بل سر دې په خپل سټ كښې واچوى او په يو څيز باندې د اودريدلو سره دې د زمكې سره خپل تعلق ختم كړى چه په رسۍ سره ئې ساه بنده شى او د هغه مرګ واقع شى، (ما يغيظ منها)منها، د (ما)بيان دې او د دې نه مراد نصرت دې، (ما يغيظ)كښې ما موصوله په معنى د (الذى)ده، (يغيظ)ددې صله ده عائد په دې كښې محذوف دې، او موصول او صله د (يذهبن)مفعول دې تقدير د عبارت داسې دې (هل يذهبن كيده الشئ الذى يغيظه وهو نصرة النبى صلى الله عليه وسلم) (يغيظه)كښې ضمير فاعل (الذى)د اسم موصول طرف ته راجع دې، او ضمير د مفعول د (من كان يظن)طرف ته راجع دې.

قوله: غَيْظًا مِنْهَا... اى من اجلها

قوله: فَلَابُدَّ مِنْهَا اى من النصرة... تقدير د عبارت داسې دې فلايختنق لانه لابد من النصرة.

قوله: حـال: يعنى لفظ آيات د (انزلناه) د ضميرنه حال دې، او (بينات) د (آيات) صفت دې.

قوله: هُدَاهُ... د دې اضافه كولو اشاره ده د يريد مفعول محذوف طرف ته.

قوله: وَأَنَّ اللَّهَ يَهْدِي: د دې عطف د انزلناه په ضمير باندې دې، اى انزلناه وانزلنا ان الله يهدى من يريد.

قوله: وَكَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، د دې عطف د (يسجد) په فاعل يعنى (من فى السموات) باندې دې، يعنى د تكوينى او اضطرارى خضوع نه علاوه بعض انسانان اختيارى يعنى دسجدې وغيره په ذريعه هم خضوع كوى.

قوله: هَذَانِ خَصْمَانِ: د شپږو ډلو ذكر شوې دې په هغې كښې يو فريق مومن دې او باقى پنځه كافر دى، په دې طريقې سره ټول دوه نوع شوې، يو فريق مومن او دويم كافر، هم په دې وجه خصمان په صيغه د تثنيه سره ذكر كړې شوې دې، د فريق مومن په مقابل كښې پنځو فريقو لره د خصم واحد په صيغې سره تعبير كړې شوې دې ځكه چه خصم مصدر دې او د مصدر اطلاق په واحد او جماعت دواړو باندې كيږى.

قوله: اخْتَصَمُوا: دلته د جمع صيغه استعمال كړې شوې ده ځكه چه فريق په خو افرادو باندې مشتمل وى، لهذا فريق د لفظ په اعتبار سره واحد او د معنى په اعتبار سره جمع دې، لكه (قوم ورهط)

قوله: فِي دِينِهِ: دا اشاره ده چه مضاف محذوف دې.

قوله: تُشْوَى بِهِ الْجُلُودُ: په دې كښې اشاره ده چه جلود د فعل محذوف د وجې نه مرفوع دې، ځكه چه په (ما فى بطونهم) باندې ئې عطف درست نه دې ځكه چه څرمن د ويلې كيدو څيز نه دې.

قوله: ولهم مقامع... د لهم په ضمير كښې دوه احتمالات دى اول دا چه الذين كفروا طرف ته راجع وى په دې صورت كښې به لام د استحقاق دپاره وى او دويم احتمال دا چه (هم) ضمير به د زبانيه (د دوزخ څوكيداړانو) طرف ته راجع وى اودا دسياق اوسباق نه معلوميږى.

قوله: المقامع: جمع د مقمعة ده ... يعنى ستک

[آيت نمبر: ۲۳ - ۲۵]

وَقَالَ فِي الْمُؤْمِنِينَ إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا بِالْجَرِّ أَيْ مِنْهُمَا بِأَنْ يُرَصَّعَ اللُّؤْلُؤُ بِالذَّهَبِ وَبِالنَّصْبِ عَطْفًا عَلَى مَحَلِّ مِنْ أَسَاوِرَ

{وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ} هُوَ الْمُحَرَّم لُبْسه عَلَى الرِّجَال فِي الدُّنْيَا {وَهُدُوا} فِي الدُّنْيَا {إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ} وَهُوَ لَا إِلَه إِلَّا اللّٰه {وَهُدُوا إِلَى صِرَاطِ الْحَمِيدِ} أَيْ طَرِيق اللّٰه الْمَحْمُودَة وَدِينه {إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ} طاعته {وعن} الْمَسْجِد الْحَرَام الَّذِي جَعَلْنَاهُ مَنْسَكًا وَمُتَعَبَّدًا {لِلنَّاسِ سَوَاءً الْعَاكِفُ} المقيم {فِيهِ وَالْبَادِ} الطارى {وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ} الْبَاء زَائِدَة {بِظُلْمٍ} أَيْ بِسَبَبِهِ بِأَنْ ارْتَكَبَ مَنْهِيًّا وَلَوْ شَتْمَ الْخَادِمِ {نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ} مُؤْلِم أَيْ بَعْضه وَمِنْ هَذَا يُؤْخَذ خَبَر إِنَّ أَيْ نُذِيقهُمْ مِنْ عَذَاب أَلِيم

ترجمه: الله پاک به هغه خلقو لره چه ایمان ئې راوړې دي او نیک اعمال ئې کړه دي داسې باغونو ته داخل کړی چه په هغې کښې به نهرونه جاری وی، هغوی ته به هلته د سرو زرو کړئ او ملغلرې واچولې شی، او په جنت کښې به د هغوی جامې د ریښمو وی چه د هغې اچول د سړو دپاره په دنیا کښې حرام دی، ﴿لؤلؤ﴾ په جر سره، یعنی کړئ به د سرو زرو او ملغلرو نه جوړې وی، په دې طریقې سره چه ملغلرې به سرو زرو لګیدلې وی او لؤلؤا په نصب سره هم دې د ﴿اساور﴾ په محل باندې د عطف کیدو د وجې نه او هغوی ته په دنیا کښې د کلمه طیبه طرف ته هدایت کړې شوې وو او هغه لا اله الا الله ده او هغوی ته د هغه ذات د لارې طرف ته هدایت کړې شوې کوم چه د تعریف لائق دې یعنی د الله پاک خوښه لاره او د هغه دین دې بیشکه کوم خلقو چه کفر اختیار کړو او د الله پاک د لارې نه یعنی د هغه د اطاعت نه او د مسجد حرام نه ئې خلق منع کړی کوم چه مونږ د قربانئ ځائې او عبادت ګاه جوړ کړې دې د ټولو خلقو دپاره په هغې کښې مقیم او مسافر ټول برابر دی، څوک هم چه هلته په ظلم سره کږه لاره اختیاروی نو مونږ به هغه کس ته دردونکې عذاب یعنی د هغې بعض حصه اوڅکوو، بالحاد... کښې باء زائده ده، بظلم ای بسبب ظلم.... په داسې طریقه چه د یو غیر مشروع کار ارتکاب اوکړی اګر چه خادم ته بدې ردې ولې نه وی، او هم د دې ﴿نذقه﴾ د لفظ نه به د ﴿ ان ﴾ خبر اخذ کولې شی ای نذقهم من عذاب الیم.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: مِنْ أَسَاوِرَ کښې من تبعیضیه دې ای بعض الاساور... من بیانیه هم کیدې شی او زائده هم. او من په من ذهب کښې د بیان دپاره دې.

قوله: الاساور د اسورة جمع ده، او اسورة د سوار جمع ده، په معنی د کړئ، سوار کښې ضمه او فتحه دواړه لغتونه دی، لؤلؤا په جر سره په اساور باندې عطف دې او لؤلؤا په نصب سره د اساور په محل باندې عطف دې ای یحلون لؤلؤا چونکه لؤلؤا په الف سره لیکلې شوې دې، لهذا نصب به د رسم الخط د مقتضی مطابق وی.

قوله: يَصُدُّونَ: د یصدون په اعراب کښې درې وجوه کیدې شی. ① د یصدون عطف په

﴿کفروا﴾ باندې وی، په دې صورت کښې به دا اعتراض وی چه د مضارع عطف په ماضی باندې صحیح نه دې؟ د دې درې جوابونه دی ①اول جواب د مضارع نه بعض وخت د حال یا استقبال معنی مراد نه وی بلکه ددې نه استمرار مراد وی، چه په هغې کښې ماضی هم شامل دہ، ②دویم جواب، مضارع د ماضی په تاویل کښې دہ، ③دریم جواب: مضارع په خپل حال دہ، البته ماضی په معنی د مستقبل دہ، ④دیصدون د اعراب دویمه وجه یصدون دکفروا د ضمیرِ فاعل نه حال دې، خو دا ظاهر البطلان دې، ځکه چه مضارع مثبت که حال واقع شی نو په هغې باندې واو نه داخلیږی، حال دا چه دلته واو موجود دې، ③ د ﴿یصدون﴾ په اعراب کښې دریمه وجه، په ویصدون کښې د ﴿ان﴾ په خبر باندې واو زائده دې، تقدیر د عبارت داسې دې ﴿ان الذین کفروا ویصدون﴾ او د واؤ زیادت د کوفیانو مذهب دې.

قوله: منسکا: دا د جعلناه د مفعول زمانی طرف ته اشاره دہ.

قوله: سواء: د جعلناه د مفعول ثانی کیدو د وجې نه منصوب دې او سواءبه په معنی د مستویا وی، او العاکف د دې په ذریعه مرفوع دې، او سواءد حال کیدو د وجې نه هم منصوب کیدې شی، جمهورو سواءلره د مبتدا کیدو د وجې نه مرفوع لوستلې دې، د دې خبر عاکف دې یا د دې عکس دې.

قوله: وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ: د یرد مفعول د تعمیم په غرض سره محذوف دې، تقدیر د عبارت داسې دې : ومن یرد فیه مرادا. الحاد په لغت کښې عدول او میلان عن الحق ته وئیلې شی.

قوله: من هذا ای نذقه: یعنی نذقه لفظ نه د ان خبر محذوف فهمیږی شی، او هغه نذقهم من عذاب الیم دې.

[ایاتوله: ۲٦-۳۲]

﴿و﴾ اذکر ﴿إذ بوأنا﴾ بینا ﴿لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ﴾ لِيَبْنِيَهُ وَكَانَ قَدْ رُفِعَ زَمَنَ الطُّوفَانِ وَأَمَرْنَاهُ ﴿أَنْ لَا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ﴾ مِنَ الْأَوْثَانِ ﴿لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ﴾ الْمُقِيمِينَ بِهِ ﴿وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ﴾ جَمْعُ رَاكِعٍ وَسَاجِدٍ المصلین ﴿وَأَذِّنْ﴾ نَادِ ﴿فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ﴾ فَنَادَى عَلَى جبل ابی قبیس یایها النّاس إِنَّ رَبَّكُمْ بَنَى بَيْتًا وَأَوْجَبَ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ إِلَيْهِ فَأَجِيبُوا رَبَّكُمْ وَالْتَفَتَ بِوَجْهِهِ يَمِينًا وَشِمَالًا وَشَرْقًا وَغَرْبًا فَأَجَابَهُ كُلُّ مَنْ كُتِبَ لَهُ أَنْ يَحُجَّ مِنْ أَصْلَابِ الرِّجَالِ وَأَرْحَامِ الْأُمَّهَاتِ لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ وَجَوَابُ الْأَمْرِ ﴿يَأْتُوكَ رِجَالًا﴾ مشاة جمع راجل کقائم وقیام ﴿و﴾ رکبانا ﴿علی کل ضامر﴾ أَيْ بَعِيرٍ مَهْزُولٍ وَهُوَ يُطْلَقُ عَلَى الذَّكَرِ وَالْأُنْثَى ﴿يَأْتِينَ﴾ أَيِ الضَّوَامِرُ حَمْلًا عَلَى الْمَعْنَى ﴿مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ﴾ طریق بعید ﴿لِيَشْهَدُوا﴾ أَيْ يَحْضُرُوا ﴿مَنَافِعَ لَهُمْ﴾ فِي الدُّنْيَا

بالحجارة او في الآخرة فيهما اقوال ﴿وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ﴾ اي عشر ذي الحجة او يوم عرفة او يوم النحر الى آخر ايام التشريق اقوال ﴿عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ﴾ الإبل والبقر والغنم التي تنحر في يوم العيد وما بعده من الهدايا والضحايا ﴿فَكُلُوا مِنْهَا﴾ اذا كانت مستحبة ﴿وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ﴾ اي الشديد الفقر ﴿ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ﴾ اي يزيلوا اوساخهم وشعثهم كطول الظفر ﴿وَلْيُوفُوا﴾ بالتخفيف والتشديد ﴿نُذُورَهُمْ﴾ من الهدايا والضحايا ﴿وَلْيَطَّوَّفُوا﴾ طواف الإفاضة ﴿بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ﴾ اي القديم لانه اول بيت وضع للناس ﴿ذَٰلِكَ﴾ خبر مبتدا مقدر اي الأمر او الشان ذلك المذكور ﴿وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ﴾ هي ما لا يحل انتهاكه ﴿فَهُوَ﴾ اي تعظيمها ﴿خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ﴾ في الآخرة ﴿وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعَامُ﴾ اكلا بعد الذبح ﴿إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ﴾ تحريمه في ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ﴾ الآية فالاستثناء منقطع ويجوز ان يكون متصلا والتحريم لما عرض من الموت ونحوه ﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ﴾ من للبيان اي الذي هو الأوثان ﴿وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ﴾ اي الشرك بالله في تلبيتكم او شهادة الزور ﴿حُنَفَاءَ لِلَّهِ﴾ مسلمين عادلين عن كل دين سوى دينه ﴿غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ﴾ تاكيد لما قبله وهما حالان من الواو ﴿وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ﴾ سقط ﴿مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ﴾ اي تاخذه بسرعة ﴿أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ﴾ اي تسقطه ﴿فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ﴾ بعيد فهو لا يرجى خلاصه ﴿ذَٰلِكَ﴾ يقدر قبله الأمر مبتدا ﴿وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا﴾ اي فان تعظيمها وهي البدن التي تهدى للحرم بان تستحسن وتستسمن ﴿مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ﴾ منهم وسميت شعائر لإشعارها بما تعرف به انها هدي كطعن حديد بسنامها ﴿لَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ﴾ كركوبها والحمل عليها ما لا يضرها ﴿إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ وقت نحرها ﴿ثُمَّ مَحِلُّهَا﴾ اي مكان حل نحرها ﴿إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ﴾ اي عنده والمراد الحرم جميعه

ترجمه: او د هغه واقعې ذکر اوکړه چه کله مونږ ابراهيم ته د خانه کعبې د ځائې ښودنه اوکړه چه د هغې تعمير اوکړی او بيت الله د طوفان (نوح) په زمانه کښې اوچت کړې شوې وو، او مونږ هغه ته دا حکم ورکړې وو چه ما سره يو څيز هم مه شريکوه او زما کور د بتانو نه د طواف کونکو دپاره او د قيام او رکوع او سجده کونکو دپاره پاک ساته، ﴿ رکع ﴾ جمع د ﴿ راکع ﴾ ده او ﴿ سجود ﴾ جمع د ﴿ ساجد ﴾ ده او مراد ترې مونځ کونکی دی، او خلقو کښې د حج اعلان اوکړه پس سيدنا ابراهيم عليه السلام په جبل ابی قبيس باندې ختلو سره اعلان اوفرمائيلو "اې خلقو ستاسو رب يو کور جوړ کړې دې او په تاسو باندې ئې د دې حج واجب کړې دې لهذا تاسو د خپل رب په اواز باندې لبيک اووائی او سيدنا ابراهيم عليه السلام خپل مخ مبارک ښی او گس طرف ته شرقا او غربا تاو کړو، پس د سيدنا ابراهيم عليه السلام په اواز باندې د سړو د شا نه او د زنانو د رحمونو نه هر هغه کس لبيک اووئيلو چه د هغه په قسمت کښې حج ليکلې شوې وو ﴿ لبيك اللهم لبيك ﴾ او جواب امر "يأتوك رجالا" دې د رجالا معنی ده پياده راتلونکی او ﴿ رجال ﴾ جمع د ﴿ راجل ﴾ ده لکه د ﴿ قائم ﴾ جمع چه ﴿ قيام ﴾ ده، خلق به تاته

راغلي پیدل او سواره په کمزورو اوښانو باندې، ضامر مانده اوښ ته وئیلې شي د دې اطلاق په نر او ښځه دواړو باندې کیږي هغه اوښې به راځي د لرې لرې لارو نه ﴿یاتین﴾ په صیغه د جمع سره د ضامر د معنی د رعایت د وجې نه راوړلې شوې دې د دې دپاره چه د تجارت په ذریعه د خپلو دنیوی فوائدو دپاره یا د آخروی فوائدو یا دواړو فوائدو دپاره د خپل منافع ځائې ته حاضر شي دا درې اقوال دی او (او د دې دپاره راشي) چه په ایام مقرره یعنی عشره ذی الحجه یا یوم عرفه یا یوم نحر کښې د ایام تشریق تر آخری ورځو پورې. دا درې اقوال دی، په هغه څارو باندې د الله پاک نوم واخلي کوم چه الله پاک هغوی ته ورکړې دی او هغه اوښان، غواګانې او بیزې دی کومې چه په یوم نحر کښې او د هغې نه روستو په هدایا او ضحایا کښې ذبح کولې شي پس تاسو ترې خپله هم خورئ که هغه مستحب وی او فقیر یعنی سخت حاجتمند باندې ترې هم خورئ بیا هغوی ته پکار دی چه خپل خیری د ځان نه لرې کړی یعنی خیری او ګندګی لکه غټ شوی نوکونه (وغیره) دې لرې کړی او هدی او د قربانۍ څاروی ذبح کولو سره دې نذر پوره کړی ﴿ولیوفوا﴾ د فاء په تخفیف او تشدید سره دې، او د بیت عتیق طواف افاضه (زیارت) دې اوکړی یعنی د پخوانی کور، ځکه چه هغه اولنې کور دې چه جوړ کړې شوې دې ﴿ ذلك ﴾ د مبتدا محذوف خبر دې (د عبارت تقدیر داسې دې) الامر ذلك المذكوريا الشان ذلك المذكوريعنی ذکر شوې خبره خو پوره شوه او څوک چه د الله پاک د محترم څیزونو تعظیم اوکړی او دا هم هغه څیزونه دی د کومو چه بې حرمتی جائز نه ده نو د هغې تعظیم د هغه په حق کښې د هغه د رب په نزد په آخرت کښې غوره دې او ستاسو دپاره څاروی د ذبح کولو نه پس حلال کړې شوی دی د هغه څارو په استثناء سره چه د هغې حرمت تاسو ته په ﴿حرمت علیكم المیتة﴾ (الآیة) کښې بیان کړې شوې دې نو دا مستثنی منقطع ده او د دې مستثنی متصل کیدل هم جائز دی او د حرمت د مرګ وغیره د لاحق کیدو د وجې نه دې پس تاسو د ګندګۍ نه چه بتان دی ځان ساتئ من بیانیه دې یعنی رجس چه بتان دی او د دروغ خبرو نه ځان ساتئ یعنی د شرک فی التلبیه نه او د دروغو ګواهۍ نه ځان ساتئ په داسې طریقه چه د الله پاک طرف ته ښکته شئ تابع فرمان اوسیږئ، د هغه د دین نه علاوه د هر یو څیز نه اعراض کوئ د هغه سره څوک مه شریکوئ دا د ماقبل تاکید دې او دا دواړه (حنفاء او غیر مشرکین) د ﴿ اجتنبوا ﴾ د واؤ نه حال دې او کوم کس چه د الله پاک سره شرک اوکړو نو ګویا چه هغه د اسمان نه راپریوتلو بیا یا خو مارغان هغه اوتختوی یعنی زر ئې هغه اونیسی یا ئې هوا لرې ځائې ته اوغورځوی او مکان بعید هغه دې چه د هغې د خلاصی توقع نه شی کیدې، دا مو واوریده د ﴿ ذلك ﴾ نه مخکښې ﴿ الامر ﴾ مبتدأ محذوف ده او واورئ کوم سړې چه د شعائر الله عزت او حرمت اوکړی بیشکه د هغې تعظیم د هغوی د پرهیزګارئ د وجې نه دې او

هغه، هغه اوښان دی کوم چه د حرم طرف ته په طور د هدی لیږلې شی، او د شعائر الله د تعظیم صورت دا دې چه د هغې ښه خیال اوساتی او هغې ته خوراک څښاک ورکړی او هغه خورب کړی، او دې د قربانئ خاروو ته شعائر په دې وجه وئیلې شی چه په هغې باندې یو داسې علامت لګولې شی چه د هغې په وجه هغه پیژندلې شی لکه د هغې په قب کښې په نیزې سره زخم لګول او ستاسو دپاره په هغې کښې د مقرر وخت یعنی د ذبح کیدو پورې څه منافع دی، مثلا په هغې باندې سوریدل او په هغې باندې د یو داسې څیز اوړل کوم چه هغې ته ضرر نه رسوی بیا د هغې مقام یعنی د هغې د قربانئ ځائې بیت الله ته نزدې دې او مراد ترې پوره حرم دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: بوأنا : بوأتبوئة نه د ماضی جمع متکلم دې، مونږ ځائې ورکړې دې، زجاج فرمائی د بوأنا معنی ده (بینا له مکان البیت لیبنیه ویکون مباءة له) مفسر علام د (بوانا) تفسیر په (بینا) سره کولو کښې او دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه (لابراهیم) کښې لام زائده نه دې بلکه په طور د صله د تعدیه دپاره دې او که (بوانا) د (انزلنا) په معنی کښې شی نو لام به زائده منل وی ځکه چه (بوانا) په دې وخت کښې متعدی بنفسه دې.

قوله: أَمَرْنَاهُ : په دې تقدیر سره ئې اشاره کړې ده چه (ان لاتشرك به) د محذوف معمول دې او د دې محذوف عطف په (بوانا) باندې دې، (وطهر بیتی) د دې نه مخکښې (امرنا) یا (قلنا) محذوف دې.

قوله: (یأتوك) : د خطاب صیغه یا خو په دې وجه استعمال کړې شوه چه د حاجیانو بیت الله ته حاضری د سیدنا ابراهیم علیه السلام د اعلان په نتیجه کښې کیږی، یا مضاف محذوف دې ای یأتوا بیتك... او د بیت اضافت د کاف خطاب طرف ته د تعمیر د وجې نه دې.

قوله: (ضامر) : نرې چه ملا ئې نرئ وی، دا د (ضمور) نه مشتق دې (تضمیر) وئیلې شی اس لره د خورب کولو نه پس زغلولو سره نرې کول چه هغه تیز رفتار شی.

قوله: (یَأْتِینَ) دا د جمع صیغه ده د ضامر صفت دې حال دا چه ضامر مفرد دې، (کل ضامر) د جمع په معنی کښې دې د معنی د رعایت د وجې نه (یاتین) د جمع په صیغه راوړلې شو ګنې (یاتی) د واحد مذکر غائب صیغه راوړل پکار وو.

قوله: لِيَشْهَدُوا د دې تعلق (اذن) او (یاتوك) دواړو سره کیدې شی دویم ظاهر دې.

قوله: (إِذَا كَانَتْ مُسْتَحَبَّةً) د امام شافعی رحمه الله په نزد دلته چونکه ضمانا واجبه نه د مالدار دپاره خوراک صحیح نه دې، په دې وجه مفسر علام د (اذا کانت مستحبة) اضافه

اوفرمائیله، د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د دم جنایت نه سوا د مالدارو دپاره خوړل جائز دی، لکه دم تمتع او دم قرآن.

قوله: طَوَافُ الْإِفَاضَةِ: دا طواف رکن دې، هم دې ته طواف زیارت هم وئیلې شی دې ته افاضه په دې وجه وئیلې شی چه د دې وخت د عرفات نه د فارغیدو نه پس وی.

قوله: الْبَيْتِ الْعَتِيقِ: عتیق په دوؤ معنو کښ مستعمل دې اول په معنی د قدیم چونکه د عبادت خانې په طور بیت الله د ټولو نه اول جوړ کړې شوې دې، په دې وجه دې ته عتیق یعنی قدیم وئیل صحیح دی، او دویمه معنی، د ازاد ده یعنی عتیق په معنی د معتق، سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه الله پاک چونکه دا د جبابره د تسلط نه ازاد کړې دې، په دې وجه ورته عتیق وئیلې شی، اوس پاتې شو د حجاج بن یوسف تسلط نو هغه سیدنا عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما لره د بیت الله نه ویستلو دپاره وو نه چه بیت الله لره د منهدم کولو په ارادې سره، او د مقصد پوره کیدو نه پس حجاج د بیت الله دوباره تعمیر کړې وو، او بعض حضرات د عتیق معنی د کریم هم بیان کړې ده، ای البیت الکریم.(جمل)

قوله: تحریمه ...د تحریمه د اضافه کولو مقصد دې خبرې ته اشاره کول دی چه د ﴿ یتلی﴾ نائب فاعل محذوف دې، مفسر علام که د تحریمه محذوف منلو په ځائې آیت التحریم محذوف منلې وې نو ډیره به بهتره وه ځکه چه متلو آیت تحریم دې نه چه تحریم.

قوله: فَالْإِسْتِثْنَاءُ مُنْقَطِعٌ: الا ما یتلی علیکم دا مستثنی منقطع ده او مستثنی متصل هم کیدې شی په دې طریقه چه ﴿ الا ما یتلی علیکم﴾ کښ ﴿ ما﴾ نه مراد هغه مردار دې کوم چه د عارضِ موت د وجې نه مړ شوې وی یا غیر الله په نوم باندې ذبح کړې شوې وی، په دې صورت کښ چونکه مستثنی د مستثنی منه د جنس نه دې لهذا مستثنی به متصل وی.

قوله: حُنَفَاءَ:دا د ﴿ اجتنبوا﴾ د ضمیر واؤ نه حال دې.

قوله: شَعَائِرَ اللَّهِ:شعائر اعلام اعمال حج ته وئیلې شی، د دې واحد ﴿ شعیرة﴾ یا ﴿ شعارة﴾ دې او مشاعر د ﴿ مواضع المناسك﴾ په معنی دې.

قوله: ﴿ هی البدن ﴾ په سیاق باندې حمل کولو سره د شعائر تفسیر ئې په﴿ بدن ﴾ سره کړې دې، بهتره دا ده چه دا ئې عام ساتلې دې چه نورو شعائرو ته هم شامل شوې وې.

قوله: ﴿ مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ منهم﴾ : د ﴿ منهم﴾ اضافه کولو سره ئې اشاره اوکړه چه ﴿ من یعظم﴾ کښ ﴿ من ﴾ موصوله دې او ﴿ من تقوی القلوب ﴾ جمله صله ده چه په هغې کښ د عائد کیدل ضروری دی او هغه ﴿ منهم﴾ دې.

قوله: ﴿ طَعْنٍ ﴾ په نیزې سره زخم لګول ﴿ سنام﴾ د اوښ قب ته وئیلې شی.

قوله: ﴿ كَرُكُوبِهَا ﴾ دا د امام شافعي رحمه الله په نزد دی د احنافو په نزد بغير د حالتِ اضطراري نه سوريدل صحيح نه دی.

قوله: ﴿ وَالْمُرَادُ الْحَرَمُ ﴾: قرب شئ ته د عين شئ حكم وركړې شوې دې، ځكه چه هدی په بيت الله كښې نه شی ذبح كولې بلكه په حدود حرم كښې ذبح كول ضروري دی نه چه په بيت الله يا په مسجد حرام كښې، د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په حدود حرم كښې د هدی ذبح كول ضروري دی.

قوله: ﴿ ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴾ يعنى د هدايا او ضحايا د ذبح كولو ځائې بيت الله ته نزدې دې يعنى په حدود حرم كښې كه په مكه كښې وی او كه په منى كښې وی.

[اياتونه: ۳٤-۳۸]

﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ﴾ أيْ جَمَاعَة مُؤْمِنَة سَلَفَتْ قَبْلَكُمْ ﴿جَعَلْنَا مَنسَكًا﴾ بِفَتْحِ السِّين مَصْدَر وَبِكَسْرِهَا اسْم مَكَان أيْ ذَبْحًا قُرْبَانًا أوْ مَكَانه ﴿لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ﴾ عِنْد ذَبْحهَا ﴿فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا﴾ انْقَادُوا ﴿وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ﴾ الْمُطِيعِينَ الْمُتَوَاضِعِينَ ﴿الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ﴾ خَافَتْ ﴿قُلُوبُهُمْ وَالصَّابِرِينَ عَلَىٰ مَا أَصَابَهُمْ﴾ مِنَ الْبَلَايَا ﴿وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ﴾ فِي أوْقَاتهَا ﴿وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ﴾ يَتَصَدَّقُونَ ﴿وَالْبُدْنَ﴾ جَمْع بَدَنَة وَهِيَ الْإِبِل ﴿جَعَلْنَاهَا لَكُم مِّن شَعَائِرِ اللَّهِ﴾ أعْلَام دِينه ﴿لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ﴾ نَفْع فِي الدُّنْيَا كَمَا تَقَدَّمَ وَأجْر فِي الْعُقْبَى ﴿فَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا﴾ عِنْد نَحْرهَا ﴿صَوَافَّ﴾ قَائِمَة عَلَى ثَلَاث مَعْقُولَة الْيَد الْيُسْرَى ﴿فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا﴾ سَقَطَتْ إلَى الْأرْض بَعْد النَّحْر وَهُوَ وَقْت الْأكْل مِنْهَا ﴿فَكُلُوا مِنْهَا﴾ إنْ شِئْتُمْ ﴿وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ﴾ الَّذِي يَقْنَع بِمَا يُعْطَى وَلَا يَسْأَل وَلَا يَتَعَرَّض ﴿وَالْمُعْتَرَّ﴾ والسائل او المعترض ﴿كَذَٰلِكَ﴾ أيْ مِثْل ذَلِكَ التَّسْخِير ﴿سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ﴾ بان تنحر وتركب والا فلم تُطِق ﴿لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ إنْعَامِي عَلَيْكُمْ ﴿لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا﴾ أيْ لَا يُرْفَعَانِ إلَيْهِ ﴿وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ﴾ أيْ يُرْفَع إلَيْهِ مِنْكُمْ الْعَمَل الصَّالِح الْخَالِص لَهُ مَعَ الْإِيمَان ﴿كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ﴾ أرْشَدَكُمْ لِمَعَالِمِ دِينِهِ وَمَنَاسِك حَجّه ﴿وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ﴾ أيْ الْمُوَحِّدِينَ ﴿إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا﴾ غَوَائِل الْمُشْرِكِينَ ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ﴾ فِي أمَانَته ﴿كَفُورٍ﴾ لِنِعْمَتِهِ وَهُمْ الْمُشْرِكُونَ الْمَعْنَى انه يعاقبهم.

ترجمه: او مونږ د هر امت د پاره يعنى د مومن جماعت د پاره كوم چه ستاسو نه مخكښې تير شوې دې قرباني كول په دې وجه مقرر كړې وو چه هغوی په دې مخصوص څارو باندې د ذبح په وخت د الله پاک نوم واخلی كوم چه ئې هغوی ته وركړې وو ﴿ منسكا ﴾ د سين په فتحې سره مصدر دې او د سين په كسرې سره اسم مكان دې، يعنى په طور د قربانئ ذبح كول، يا مقام د ذبح، نو ستا معبود يو دې پس هم د دې تابع فرمان اوسيږئ، او ته اطاعت كونكو يعنى تواضع اختيارونكو ته زيرې وركړه كوم چه داسې دی چه كله د الله پاک ذكر كولې شی نو د هغوی

زړونه یرېږي او کوم چه په هغه مصیبتونو باندې چه په هغوی باندې راځي صبر کوي، او څوک چه په خپل وخت کښې د مونځونو پابندي کوي او څه چه مونږ هغوی ته ورکړي دي د هغې نه خرچ خیرات کوي او (بدن) د (بدنة) جمع ده او هغه اوښ دي او (بدنة) مونږ ستاسو دپاره د الله پاک شعائر یعنی د هغه د دین علامت جوړ کړي دي او په دې څاروو کښې ستاسو دپاره خیر یعنی دنیوی نفع ده لکه چه مخکښې تیر شو او د آخرت اجر هم دې پس تاسو په دې باندې د نحر په وخت د الله پاک نوم اخلئ، حال دا چه هغه په دریو خپو باندې ولاړ وي او ګس لاس ,خپه، نې تړلې شوې وي پس کله چه هغه په یو اړخ باندې پریوځي یعنی کله چه هغه د نحر نه پس په زمکه باندې پریوځي (او د هغې ساه اوځي) نو هغه وخت د هغې نه د خوراک کولو دې د هغې نه خورئ او که خوښه مو وي نو داسې قانع ته هم ورکوئ چه که هغه ته څه ورکړې شي نو په هغې باندې صبر کوي او نه هغه سوال کوي او نه سوال ته تعرض کوي او معتر باندې م یعنی چه سوال کوي یا تعرض کوي او هم دغه شان د دې مذکوره تسخیر په شان مونږ ستاسو دپاره دغه څاروي مسخر کړي دي په داسې طریقه چه (اې مخاطبه) ته هغه ذبح کړې او په هغې باندې سورلی اوکړې ګنې دا خو ستا د وس خبره نه وه د دې دپاره چه تاسو په خپل خان زما د انعام شکریه ادا کړئ، الله پاک ته نه خو د دې څاروو غوښه رسیږي او نه وینه رسیږي یعنی دا دواړه ځیزونه الله پاک ته نه رسولې کیږي آو البته ستاسو تقوی ورته رسیږي یعنی ایمان سره ستاسو نیک او د الله پاک دپاره خالص عمل هغه ته رسیږي او هم دغه شان ئې دغه څاروي ستاسو د حکم لاندې کړل دې دپاره چه تاسو د الله پاک لوئي بیان کړئ، په دې خبره چه تاسو ته ئې توفیق درکړو یعنی تاسو ته ئې د خپل دین د شعائرو د ادا کولو او د خپل حج مناسب ادا کولو توفیق درکړو او اې محمد ﷺ محسنینو یعنی موحدینو ته د دې خبرې زیرې ورکړه چه الله پاک به د ایمان والو دفاع کوي، د مشرکانو د مصیبت نه الله پاک هیڅ یو په امانت کښې خیانت کونکې او د هغه د نعمت ناشکری کونکې نه خوښوي او هغه مشرکان دي معنی دا ده چه هغوی ته به سزا ورکړي.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: (مَنْسَكًا) د سین په فتحې سره مصدر دې، قرباني کول، او د سین په کسرې سره اسم مکان دې یعنی د قربانئ ځائې، (مَنْسَكًا) منسک په او نسک عربی ژبه کښې په څو استعمالیږي. ① د څاروی قرباني، ② ټول د حج افعال، ③ عبادت، دلته درې واړه معانی مراد کیدې شي. مجاهد وغیره دې ځائې کښې منسک د قربانئ په معنی اخستلې دې، په دې صورت کښې به معنی دا وي د قربانئ حکم کوم چه دې امت ته ورکړې شوې دې څه نوې حکم نه دې، اولنو امتونو ته هم دا حکم ورکړې شوې وو. قتاده دویمه معنی اخستلې ده په دې صورت کښې به د آیت کریمه مراد دا وي چه افعال حج چه څنګه په دې

امت باندې عائد کړې شوې دی په مخکښې امت باندې هم حج فرض وو، ابن عرفه درے معنی مراد کړې ده نو په دې صورت کښې به د ایت کریمه نه مراد دا وی چه مونږ د الله پاک عبادت په مخکښې ټولو امتونو باندې فرض کړې وو.

قوله: ﴿ ذَبْحًا قُرْبَانًا ﴾: دا د معنی مصدری وضاحت دې او ﴿قربانا﴾ د ﴿ذبحا﴾ دپاره مفعول به دې او ﴿مکانه﴾ دا د دویمې معنی یعنی د اسم مکان وضاحت دې

قوله: ﴿ الْمُطِيعِينَ الْمُتَوَاضِعِينَ ﴾ مطیعین د مخبتین د لازم معنی بیان دې او متواضعین د اصل معنی بیان دې، ځکه چه اخبات ښکته (ژورې) زمکه کښې کوزیدو ته وائی.

قوله: ﴿ وَهِيَ الْإِبِلُ ﴾ دا د امام شافعی رحمه الله قول دې، د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد په ابل او بقر دواړو باندې د بدنه اطلاق صحیح دې او هم دا قول د لغت او شرع موافق دې، په قاموس کښې دی ﴿ البدنة من الابل والبقر ﴾ په سنن ابی داؤد کښې د سیدنا جابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه کله مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د حج احرام اوتړلو او اوتلو نو هغه مونږ ته په ابل او بقر نه په هر یو بدنه کښې د اوؤ تنو د شرکت کولو حکم اوفرمائیلو او صحیح مسلم کښې د سیدنا جابر رضی الله عنه نه روایت دې چه مونږ به بدنه د اوؤ کسانو د طرف نه ذبح کوله، تپوس اوکړې شو او بقر (غوا) کښې؟ نو وې فرمائیل هغه هم بدنه ده. (حاشیه جلالین اختصارا)

قوله: ﴿ صَوَافَّ ﴾ جمع د ﴿ صاف ﴾ ده په معنی د قائمات، وجبت بمعنی سقطت، وجب الحائط نه مشتق دې، دیوال راپریوتلو مراد یخیدل دی.

قوله: ﴿ فَكُلُوا مِنْهَا إِنْ شِئْتُمْ ﴾ د ﴿ ان شئتم ﴾ اضافه دې خبرې ته اشاره کوی چه د ﴿ کلوا ﴾ امر د وجوب دپاره نه دې بلکه د اباحت او بیانِ جواز دپاره دې.

قوله: ﴿ غَوَائِلَ ﴾ ... غوائل محذوف منلو سره نې اشاره اوکړه چه د ﴿ یدافع ﴾ مفعول محذوف دې

قوله: ﴿ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ ﴾ کښې ما مصدریه هم کیدې شی ای علی هدایته ایاکم او موصوله هم کیدې شی، ای علی ما هداکم الیه ... د علی تعلق لتکبروا الله سره دې او تکبروا د تشکروا معنی لره متضمن دې چه د دې صله د ﴿ علی ﴾ سره صحیح شی

[ایاتونه: ۳۹ - ۴۸]

﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ﴾ اي المؤمنين أن يُقاتِلوا وَهٰذِهِ اوّل آية نَزَلَتْ في الجهاد ﴿بِأَنَّهُمْ﴾ أي بسبب أنّهم ﴿ظُلِمُوا﴾ لِظُلْمِ الكافرين إياهم ﴿وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ﴾ هُم ﴿الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ﴾ في الآخراج وما آخرجوا ﴿إِلَّا أَن يَقُولُوا﴾ اي بقولهم ﴿رَبُّنَا اللَّهُ﴾ وَحده وَهٰذا القول حَقّ فالآخراج به آخراج بغير

حق {وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ} بدل بعض من الناس {بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ} بالتشديد للتكثير وبالتخفيف {صَوَامِعُ} للرهبان {وَبِيَعٌ} كنائس للنصارى {وَصَلَوَاتٌ} كنائس لليهود بالعبرانية {وَمَسَاجِدُ} للمسلمين {يُذْكَرُ فِيهَا} اي المواضع المذكورة {اسْمُ اللّٰهِ كَثِيرًا} وتنقطع العبادات بخرابها {وَلَيَنصُرَنَّ اللّٰهُ مَن يَنصُرُهُ} اي ينصر دينه {إِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ} على خلقه {عَزِيزٌ} منيع في سلطانه وقدرته {الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ} بنصرهم على عدوهم {أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ} جواب الشرط وهو وجوابه صلة الموصول ويقدر قبله هم مبتدأ {وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ} اي مرجعها اليه في الآخرة {وَإِن يُكَذِّبُوكَ} الى آخره فيه تسلية للنبي صلى الله عليه وسلم {فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ} تانيث قوم باعتبار المعنى {وَعَادٌ} قوم هود {وَثَمُودُ} قوم صالح {وَقَوْمُ إِبْرَاهِيمَ وَقَوْمُ لُوطٍ} {وَأَصْحَابُ مَدْيَنَ} قوم شعيب {وَكُذِّبَ مُوسَىٰ} كذبه القبط لا قومه بنو اسرائيل اي كذب هؤلاء رسلهم فلك اسوة بهم {فَأَمْلَيْتُ لِلْكَافِرِينَ} امهلتهم بتاخير العقاب لهم {ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ} بالعذاب {فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ} اي انكاري عليهم بتكذيبهم باهلاكهم والاستفهام للتقرير اي هو واقع موقعه {فَكَأَيِّن} اي كم {مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْتُهَا} وفي قراءة اهلكناها {وَهِيَ ظَالِمَةٌ} اي اهلها بكفرهم {فَهِيَ خَاوِيَةٌ} ساقطة {عَلَىٰ عُرُوشِهَا} سقوفها {وَ} كم من {بِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ} متروكة بموت اهلها {وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ} رفيع خال بموت اهله {أَفَلَمْ يَسِيرُوا} اي كفار مكة {فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا} ما نزل بالمكذبين قبلهم {أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا} اخبارهم بالاهلاك وخراب الديار فيعتبروا {فَإِنَّهَا} اي القصة {لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ} تاكيد {وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَن يُخْلِفَ اللّٰهُ وَعْدَهُ} بانزال العذاب فانزله يوم بدر {وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ} من ايام الآخرة بسبب العذاب {كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ} بالتاء والياء في الدنيا {وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا} المراد اهلها {وَإِلَيَّ الْمَصِيرُ} المرجع

ترجمه: اجازت ورکړې شو هغه خلقو ته د چا سره چه جنګ کولې شي یعنی مومنانو ته، دا چه هغوی قتال اوکړی او دا اولني آیت کریمه دې کوم چه (د قتال د اجازت) په باره کښې نازل شوې دې، په دې سبب سره چه هغوی مظلوم شو د کفارو په هغوی باندې د ظلم کولو د وجې نه بیشکه الله پاک د هغوی په مدد کولو باندې پوره قدرت لرې کوم چه د خپلو کورنو نه بې قصوره ویستلې شو یعنی د هغوی د ویستلو څه وجه نه وه صرف په دومره خبره ویستلې شو چه د هغوی وینا وه چه زمونږ رب الله وحده لا شریك دې او دا قول حق دې او د دې په وجه باندې د هغوی ویستل ناحق دی، او که الله پاک بعض خلقو لره د بعض په ذریعه نه دفع کولې (بعضهم) د (الناس) نه بدل البعض دې نو د راهبانو خلوت خانې (لهدمت) په تشدید سره دې د کثرت د بیانولو دپاره او په تخفیف سره هم دې او د نصاراؤ عبادت خانې او د یهودو عبادت خانې په عبرانئ کښې صلوة عبادت خانې ته وئیلې شي او د مسلمانانو مسجدونه به وران کړې شوې

وي چه په هغې کښې يعنی ذکر شوي ځايونو کښې د الله پاک په کثرت سره نوم اخستلې شی او د دې مقاماتو د ورانيدو په وجه باندې به عبادات منقطع شوی وې. او بيشکه الله پاک به د هغه چا مدد کوی څوک چه د هغه يعنی د هغه د دين مدد کوی بيشکه الله پاک په خپل مخلوق باندې قوی دې په خپل سلطنت او قدرت کښې غالب دې دا داسې خلق دی چه که مونږ هغوی ته په دنيا کښې حکومت ورکړو د هغوی دشمن ته په هغوی باندې غلبه ورکولو سره نو هغوی به پخپله هم د مونځ پابندی کوی او زکاة به ادا کوی او د نيکئ حکم به کوی او د بدئ نه به منع کوی او د ﴿ اقاموا الصلاة ﴾ نه تر آخره پورې جواب شرط دې او شرط سره د جواب شرط نه صله ده د ﴿ الذين ﴾ دپاره، او ﴿ الذين ﴾ موصول د خپلې صلې سره د ﴿ هم ﴾ مبتدأ محذوف خبر دې او د ټولو کارونو انجام خو د الله پاک په لاس کښې دې يعنی په آخرت کښې هغه د ټولو کارونو مرجع دې او که دا خلق ستا تکذيب کوی دا رسول الله ﷺ ته تسلی ورکول دی نو د دې خلقو نه مخکښې قوم نوح قوم د معنی په اعتبار سره مونث دې او عاد حه د هود ﷺ قوم وو او ثمود چه د صالح ﷺ قوم وو او قوم ابراهيم او قوم لوط او اصحاب مدين کوم چه قوم شعيب ﷺ وو (د خپلو خپلو پيغمبرانو) تکذيب کړې وو او موسی ﷺ ته هم دروغژن وئيلې شوی وو د موسی ﷺ تکذيب قبطيانو کړې وو نه چه د هغه قوم بنی اسرائيلو، يعنی دې خلقو د خپلو رسولانو تکذيب اوکړو، لهذا ستاسو دپاره د دې انبياؤ ﷺ په طريقه کښې نمونه ده نو ما دې کفارو ته مهلت ورکړو يعنی د هغوی عذاب موخر کولو سره مې هغوی ته مهلت ورکړو بيا ما هغوی په عذاب کښې اونيول نو زما عذاب په هغوی باندې څنګه شو د هغوی د تکذيب د وجې نه هغوی هلاکولو سره او استفهام د تقرير دپاره دې يعنی زما عذاب بالکل په ځائې باندې واقع شو، غرض دا چه څومره کلی دی کوم چه ما هلاک کړل او په يو قراءت کښې مونږ هغوی هلاک کړل (يعنی په يو قراءت کښې اهلکتها دې او په يو قراءت کښې اهلکناها دې، او حال دا دې چه هغه کلی ظالمان وو يعنی د هغه کلو اوسيدونکی د خپل کفر د وجې نه ظالمان وو، او اوس هغه کلی په خپلو چهتونو باندې پريوتلې دی او څومره بې کاره کوهيان دی يعنی د هغه کلو د خلقو د هلاکت د وجې نه متروک (شاړ) پراته دی او څومره عاليشان محلونه خالی پراته دی د هغه کلو د خلقو د هلاکت د وجې نه، ايا دا خلق يعنی د مکې کافر په ملک کښې ګرځی نه چه د هغوی زړونه داسې شی چه د هغې په ذريعه په هغه عذاب کوم چه د هغوی نه مخکښې تکذيب کونکو باندې نازل شوې دې پوهه شی يا د هغوی غوږونه داسې شی چه د هغې په ذريعه د هغوی هلاکت او د هغوی د کورونو د بربادئ خبرونو لره واوری د دې نه روستو عبرت حاصل کړی خبره دا ده چه زړونه نه ړنديږی بلکه هغه زړونه ړنديږی کوم چه په سينو کښې دی فی الصدور، د قلوب تاکيد دې، دا خلق ستا نه د عذاب په باره

کښې تندي کوي حال دا چه الله پاک د عذاب نازلولو د خپلې وعدې خلاف نه کوي، پس په یوم بدر کښې الله پاک خپله وعده پوره اوفرمائیله او ستا رب سره یوه ورځ د آخرت د ورځو نه د عذاب په وجه د زرو کالو برابر ده ستاسو د شمار په اعتبار سره په دنیا کښې ﴿ یعدون ﴾ په یاء او تاء سره دې او ډیر کلي دي چاته ما مهلت ورکړې وو حال دا دې چه چه هغه ظالمان وو بیا ما هغه کلي راونیول او مراد د کلو نه کلو والا دي او خاص زما طرف ته واپس کیدل دي.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ﴿ أذن للذین یقاتلون ﴾ ﴿ اذن ﴾ ﴿ ماذون فیه ﴾ محذوف وو مفسر علام ﴿ ان یقاتلوا ﴾ وئیلو سره هغه ظاهر کړو او په حذف باندې ﴿ یقاتلون ﴾ دلالت کوي، رسول الله ﷺ لره د اویاؤ نه زیاتو آیتونو کښې د جهاد نه د منع کولو نه پس د هجرت نه پس دا اولنې آیت دې چه په هغې کښې د جهاد اجازت ورکړې شوې دې، دا ورځ گویا چه د صحابه کرامو ﷺ دپاره د اختر ورځ ده، په یو قراءت کښې ﴿ یقاتلون ﴾ مبنی للفاعل هم دې مومنانو ته قبل القتال، مقاتل یا خو د مایؤل په اعتبار سره وئیلې شوي دي یا په دې وجه چه د مومنانو د قتال اراده وه.

قوله: ﴿ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ﴾ کښې باء سببیه ده گویا په دې کښې دا بیانول مقصود دي چه مومنانو ته د قتال د اجازت وجه، په هغوی باندې ظلم کیدل دي، امام رازي رحمه الله فرمائي د ﴿ ان یقاتلوا ﴾ مطلب ﴿ ان یقاتلوا فی المستقبل ﴾ دې په دې صورت کښې به دا اعتراض ختم شي چه دا سورت مکي دې او د جهاد اجازت په مدینه منوره کښې کښې نازل شوې دې، ﴿ وإن الله علی نصرهم لقدیر ﴾ دا جمله مستانفه ده او په دې آیت کریمه د اشارې په طور د نصرت وعده ده.

قوله: ﴿ هم الذین آخرجوا ﴾ مفسر علام ﴿ هم ﴾ مقدر منلو سره دې خبرې ته اشاره اوکړه چه اسم موصول د مبتدأ محذوف صفت دې، د دې نه علاوه هم څو نور وجوه د اعراب کیدې شي. ① د موصول اول صفت یا بیان یا بدل کیدو د وجې نه محلا مجرور کیدې شي. ② اعنی یا امدح وغیره محذوف د وجې نه جمله کیدو سره منصوب کیدې شي.

قوله: ﴿ الا ان یقولوا الایة ﴾ مفسر علام ﴿ ما آخرجوا ﴾ محذوف منلو سره دې خبرې ته اشاره کړې ده چه دا مستثنی متصل ده، ﴿ ای ما آخرجوا بشیء من الاشیاء الا بقولهم ربنا الله ﴾ یعنی د مکې نه د مومنانو د ویستلو بل څه سبب نه وو کوم د هغوی د ویستلو سبب شي سوا د دې نه چه هغوی ﴿ ربنا الله ﴾ اووئیلو، او دا سبب موجب آخراج نه دې بلکه دا خو سبب د استقرار او تمکین دې دا په اصل کښې د ﴿ مدح بما یشبه الذم ﴾ د قبیل نه دې یعنی کوم څیز چه سبب د مدح دې هغه د هغوی په نزد سبب د ذم دې، لکه چه د نابغه په قول کښې دي.

لاعیب فیهم غیر ان سیوفهم :: بهن فلول من قراع الکتائب

مجھ میں ایک عیب ہے بڑا کہ وفادار ہوں میں

په ما کښې یو عیب دې هغه دا چه زه ډیر وفادار یم

﴿ الاان یقولوا﴾دا مستثنی منقطع هم کیدې شی ځکه چه مستثنی چه کومه ﴿ الا﴾ان یقولوا ده، د مستثنی منه کومه چه ﴿ بغیرحق ﴾ده د جنس نه نه ده، خو مستثنی منقطع منل صحیح نه دی ځکه چه که داسې اوئیلې شی ﴿ الذین آخرجوا من دیارهم الا ان یقولوا ربنا الله ﴾نو دا صحیح نه ده هم په دې وجه مفسر علام عامل محذوف منلو سره مستثنی متصل جوړه کړې ده ﴿ ای ما آخرجوا بشیئ من الاشیاء الابقولهم ربنا الله﴾او مضارع په معنی د ماضی ده مفسر علام د ﴿ ان یقولوا﴾تفسیر په ﴿ بقولهم﴾سره کولو کښې اشاره کړې ده چه ﴿ ان ﴾مصدریه دې او ﴿ ان یقولوا﴾د قول په معنی کښې دې او په ﴿ بقولهم﴾کښې ﴿ با﴾سببیه ده.

قوله: ﴿ وَلَوۡلَا دَفۡعُ اللّٰهِ النَّاسَ ﴾کښې ﴿ لولا ﴾امتناعیه ده او ﴿ لهدمت ﴾جواب د ﴿ لولا﴾ دې، ﴿دفع الله الناس بعضهم ببعض ﴾مبتدأ ده، ﴿ موجود﴾محذوف ئې خبر دې، او په ﴿ دفع الله﴾ کښې اضافت الی الفاعل دې د عبارت تقدیر داسې دې ﴿ لولا دفع الله الناس بعضهم ببعض موجود لهدمت صوامع الایة ﴾، ﴿ صوامع﴾ د ﴿ صومعة ﴾جمع ده، هغه خلوت خانې ته وائی چه په هغې کښې به راهبانو د خلقو نه ځانله ریاضت او عبادت کولو، ﴿ وبیع﴾جمع د ﴿ بیعة ﴾ده د نصاری جماعت خانې ته وائی چه په هغې کښې اجتماعی طور سره عبادت کولې شی، ﴿صلوات﴾جمع د ﴿صلوة﴾ده په عبرانئ ژبه کښې د یهودو عبادت خانو ته ﴿ صلوتا﴾وئیلې شی.

قوله: ﴿ وَتَنۡقَطِعُ الۡعِبَادَاتُ﴾د دې عطف په ﴿ لهدمت﴾باندې دې.

قوله: ﴿ اَلَّذِيۡنَ اِنۡ مَّكَّنّٰهُمۡ فِى الۡاَرۡضِ ﴾په دې کښې هم هغه ټول صورتونه ممکن دی کوم چه په سابق موصول کښې بیان کړې شوې دی د ذکر شوې صورتونو نه علاوه په دې کښې دا صورت هم صحیح دې چه د ﴿ من ینصره﴾نه بدل وی ﴿ ان مکناهم فی الارض ﴾شرط دې او ﴿ اقاموا الصلاة﴾سره د خپلو معطوفاتو نه جزا ده، شرط د خپلې جزا سره د ﴿ الذین﴾ صله ده، موصول سره د خپلې صلې نه د ﴿ هم﴾مبتدأ محذوف خبر دې او ﴿ هم﴾نه مراد ﴿ماذون لهم فی القتال ﴾دی او هغه مهاجرین دی او دا آیت کریمه د اخبار الغیب د قبیلې نه دې، ځکه چه په دې آیت کریمه کښې د مهاجرینو د هغه صفتونو خبر ورکړې شوې دې چه په هغې باندې به هغوی په زمکه باندې د قدرت او حکومت نه پس متصف کیږی.

قوله: ﴿ وَكُذِّبَ مُوۡسٰى ﴾دلته د ما سبق په خلاف د بیان طرز بدل کړې شوې دې په داسې طریقه چه د معروف د صیغې په ځائې ئې د مجهول صیغه اختیار اوفرمائیله ځکه چه د

سيدنا موسى عليه السلام تكذيب د هغه قوم نه وو كړې بلكه د فرعون قوم قبطيانو كړې وو. په خلاف د نورو انبياء مذكورين د تكذيب چه د هغوى خپلو قومونو كړې وو.

قوله: ﴿ فَأَمْلَيْتُ لِلْكَافِرِينَ ﴾ په دې كښې ئې د ضمير په ځاى اسم ظاهر اختيار فرمائيلې دې چه د هغوى په صفت كفر باندې صراحت اوشى ګنې ﴿ فاملهم ﴾ هم وئيلې كيدې شو.

﴿ نكير ﴾ په معنى د عذاب مصدر په معنى د انكار دې لكه ﴿ نذير ﴾ چه په معنى د انذار دې

قوله: ﴿ بِتَكْذِيبِهِمْ ﴾ دا د ﴿ انكارى ﴾ مفعول دې او ﴿ باهلاكهم ﴾ د انكارى سره متعلق دې، او د استفهام تقريرى كيدو مطلب دا دې چه مخاطبينو لره زما د عذاب د برمحل كيدو اقرار كول پكار دى.

قوله: ﴿ فكأين ﴾ ﴿ اين ﴾ په معنى د كم خبريه مبتدأ ده او ﴿ من قرية ﴾ تميز دې او ﴿ اهلكنها ﴾ د دې خبر دې، ﴿ كاين ﴾ په اصل كښې ﴿ كاى ﴾ وو په قرآنى رسم الخط كښې تنوين د نون په صورت كښې ليكلې شوې دې، ﴿ كاين ﴾ هميشه په خبرى صورت كښې استعماليږى دا لفظ په مبهم طور په كثرت باندې دلالت كولو دپاره راځى، د ابهام لرې كولو دپاره د دې نه پس د تميز په طور يو لفظ ضرور مذكور وى عموما د دې تميز په من سره راځى، لكه ﴿ كاين من قرية ﴾ ... ﴿ كاين ﴾ هميشه د كلام په شروع كښې راځى د دې خبر هميشه مركب وى، بعض وخت ﴿ كاين ﴾ د استفهام دپاره هم راځى، او په يو قراءت كښې ﴿ اهلكنا ﴾ دې او ﴿ كاين ﴾ په محل د نصب كښې هم كيدې شى د ﴿ اهلكنا ﴾ د دلالت د وجې نه، او ﴿ وهى ظالمة ﴾ جمله حاليه ده ﴿ اى اهلها ﴾ محذوف منلو سره ئې اشاره اوكړه چه مضاف محذوف دې.

قوله: ﴿ وَكَمْ مِنْ بِئْرٍ مُعَطَّلَةٍ ﴾ مفسر علام ﴿ كم ﴾ محذوف منلو سره اشاره اوكړه چه د ﴿ بئر ﴾ عطف په ﴿ قرية ﴾ باندې دې.

قوله: ﴿ افَلَمْ يَسِيرُوا ﴾ همزه په محذوف باندې داخله ده او فاء عاطفه ده، د عبارت تقدير داسې دې ﴿ اغفلوا فلم يسيروا وكاين ﴾ دلته ئې د واؤ سره راوړې دې او ما قبل كښې ﴿ فكاين ﴾ فاء سره راوړې دې، ځكه چه په ماقبل كښې ﴿ فاء ﴾ راوړل مناسب دى ځكه چه ددې په ماقبل فكيف كان كښې فا ده، او دلته واؤ مناسب ده، ځكه چه د دې نه مخكښې واو دې ﴿ ولن يخلف الله وعده ﴾

[ايا تونه: ۴۹ - ۵۷]

﴿ قُلْ يَاأَيُّهَا النَّاسُ ﴾ اي أهل مكة ﴿ إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴾ بين الإنذار وأنا بشير للمؤمنين ﴿ فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ ﴾ من الذنوب ﴿ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴾ هو الجنة ﴿ والذين سعوا في آياتنا ﴾ القرآن بإبطالها

﴿معجزين﴾ مَنْ اتَّبَعَ النَّبِيَّ أَيْ يَنْسُبُونَهُمْ إِلَى الْعَجْزِ وَيُثَبِّطُونَهُمْ عَنِ الْإِيمَانِ أَوْ مُقَدِّرِينَ عَجْزَنَا عَنْهُمْ وَفِي قِرَاءَة مُعَاجِزِينَ مُسَابِقِينَ لَنَا أَيْ يَظُنُّونَ أَنْ يَفُوتُونَا بِإِنْكَارِهِمْ الْبَعْث وَالْعِقَاب ﴿أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ﴾ النَّار ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ﴾ هُوَ نَبِيّ أُمِرَ بِالتَّبْلِيغِ ﴿وَلَا نَبِيٍّ﴾ أَيْ لَمْ يُؤْمَر بِالتَّبْلِيغِ ﴿إِلَّا إِذَا تَمَنَّىٰ﴾ قَرَأَ ﴿أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي أُمْنِيَّتِهِ﴾ قِرَاءَته مَا لَيْسَ مِنَ الْقُرْآن مِمَّا يَرْضَاهُ الْمُرْسَل إِلَيْهِمْ وَقَدْ قَرَأَ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سُورَة النَّجْم بِمَجْلِسٍ مِنْ قُرَيْش بَعْد ﴿أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّىٰ وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ﴾ بِإِلْقَاءِ الشَّيْطَان عَلَى لِسَانه مِنْ غَيْر عِلْمه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وسلم به تلك الغرانيق الْعُلَا وَإِنَّ شَفَاعَتهنَّ لَتُرْتَجَى فَفَرِحُوا بِذٰلِكَ ثُمَّ أَخْبَرَهُ جِبْرِيل بِمَا أَلْقَاهُ الشَّيْطَان عَلَى لِسَانه مِنْ ذٰلِكَ فَحَزِنَ فَسُلِّيَ بِهٰذِهِ الْآيَة لِيَطْمَئِنّ ﴿فَيَنْسَخُ اللَّهُ﴾ يُبْطِل ﴿مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللَّهُ آيَاتِهِ﴾ يُثْبِتهَا ﴿وَاللَّهُ عَلِيمٌ﴾ بِإِلْقَاءِ الشَّيْطَان مَا ذُكِرَ ﴿حَكِيمٌ﴾ فِي تَمْكِينه مِنْهُ يَفْعَل مَا يَشَاء ﴿لِيَجْعَلَ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ فِتْنَةً﴾ مِحْنَة ﴿لِلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ﴾ شِقَاق وَنِفَاق ﴿وَالْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ﴾ أَيْ الْمُشْرِكِينَ عَنْ قَبُول الْحَقّ ﴿وَإِنَّ الظَّالِمِينَ﴾ الْكَافِرِينَ ﴿لَفِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ﴾ خِلَاف طَوِيل مَعَ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُؤْمِنِينَ حَيْثُ جَرَى عَلَى لِسَانه ذِكْر آلِهَتهمْ بِمَا يُرْضِيهِمْ ثُمَّ أُبْطِلَ ذٰلِكَ ﴿وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ﴾ التَّوْحِيد وَالْقُرْآن ﴿أَنَّهُ﴾ أَيْ الْقُرْآن ﴿الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ فَيُؤْمِنُوا بِهِ فَتُخْبِتَ﴾ تَطْمَئِنّ ﴿لَهُ قُلُوبُهُمْ وَإِنَّ اللَّهَ لَهَادِ الَّذِينَ آمَنُوا إِلَىٰ صِرَاطٍ﴾ طَرِيق ﴿مُسْتَقِيمٍ﴾ أَيْ دِين الْإِسْلَام ﴿وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي مِرْيَةٍ﴾ شَكّ ﴿مِنْهُ﴾ أَيْ الْقُرْآن بِمَا أَلْقَاهُ الشَّيْطَان عَلَى لِسَان النَّبِيّ ثُمَّ أُبْطِلَ ﴿حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً﴾ أَيْ سَاعَة مَوْتهمْ أَوْ الْقِيَامَة فَجْأَة ﴿أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ﴾ هُوَ يَوْم بَدْر لَا خَيْر فِيهِ لِلْكُفَّارِ كَالرِّيحِ الْعَقِيم الَّتِي لَا تَأْتِي بِخَيْرٍ أَوْ هُوَ يَوْم الْقِيَامَة لَا لَيْل بَعْده ﴿الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ﴾ أَيْ يَوْم الْقِيَامَة ﴿لِلَّهِ﴾ وَحْده وَمَا تَضَمَّنَهُ مِنَ الْاسْتِقْرَار نَاصِب لِلظَّرْفِ ﴿يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ﴾ بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْكَافِرِينَ بِمَا بَيَّنَ بَعْده ﴿فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ﴾ فَضْلًا مِنَ اللّٰه ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ﴾ شَدِيد بِسَبَب كُفْرهمْ

ترجمه: ته اعلان اوکړه چه اې خلقوا يعنی مکې والو زه تاسو لره واضح ويرونکې يم يعنی بنکاره مو خبرداروم او زه مومنانو ته زيرې ورکونکې يم، پس کومو خلقو چه ايمان راوړې دې او نيک اعمال ئې کړې دی د هغوی دپاره د (سابقه) گناهونو بخښنه ده او د عزت روزی ده چه هغه جنت دې، او هغه خلق کوم چه زمونږ د آيتونو يعنی قرآنی آيتونو په ابطال پسې لگيدلې دی د عاجز کولو دپاره هغه خلقو لره چا چه اتباع کړې ده د رسول الله ﷺ يعنی د هغوی طرف ته د عاجز کيدو د نسبت کولو دپاره، او منع کوی هغوی لره د ايمان نه يا مونږ لره عاجز گمان کولو سره د هغوی د نيولو نه، او په يو قراءت کښ معاجزين په معنی د مسابقين دې يعنی زمونږ په باره کښ دا گمان کولو سره چه هغوی به (زمونږ د نيولو نه) د بعث او د عقاب نه انکار کولو سره اوتختی (بچ به شي)، هم دا دوزخيان دی او مونږ ستا نه مخکښ يو

رسول رسول هغه نبی وی چه هغه ته د تبلیغ حکم وی او هیڅ یو نبی یعنی چاته چه د تبلیغ حکم نه وی کړې شوې داسې نه دې لیږلې چه چاته دا قصه نه وی پیښه شوې چه کله هم هغه څه لوستلی وی او شیطان د هغې په لوستلو کښې داسې څیز (شبه) نه وی اچولې چه کوم قرآن کریم نه دې او هغه داسې شبه وی چه د هغې نه مرسل الیهم خوشحالیږی، او رسول الله ﷺ په سورة نجم کښې د قریشو په مجلس کښې ﴿ افرأیتم اللات والعزی ومنات الثالثة الأخری ﴾ د لوستلو نه پس په لا علمئ کښې د هغه په ژبه باندې القاء شیطانی د وجې نه ﴿ تلك الغرانیق العلی وان شفاعتهن لترتجی ﴾ اولوستلو (ترجمه) دا د اوچتې درجې بتان دی، د هغوی د شفاعت یقینا امید کولې شی (مشرکین مکه) ډیر خوشحاله شو، بیا سیدنا جبرائیل ﷺ نبی ﷺ ته د دې واقعې خبر ورکړو کومه چه شیطان د هغه په ژبه باندې القاء کړې وه، نو هغه خفه شو نو هغه ته د راتلونکی آیت کریمه په ذریعه تسلی ورکړې شوه د دې دپاره چه نبی ﷺ مطمئن شې الله پاک د شیطان اچولې شوې شبهاتو لره نیست نابود کوی بیا خپل آیتونو لره زیات مضبوطوی الله پاک د القاء شیطانی نه ښه واقف دې چه د هغې په ما سبق کښې ذکر شوې دې، او الله حکیم دې، د خپل طرف نه شیطان ته قدرت ورکولو کښې هغه چه څه غواړی کوی، د دې دپاره چه الله پاک القاء شیطانی لره د هغه خلقو دپاره د ازمیښت ذریعه جوړه کړی چه د هغوی په زړونو کښې د شک او نفاق مرض او د هغوی زړونه سخت دی یعنی د مشرکینو قلوب د قبولِ حق په باره کښې سخت دی او واقعی دا ظالمان کافر خلق په لویه ګمراهئ کښې دی یعنی د نبی او مومنانو سره په اوږده ګمراهئ کښې دی ځکه چه ستا په ژبه مبارکه باندې د هغوی د معبودانو داسې ذکر جاری شو کوم چه هغوی خوشحاله کړل، بیا ئې هغه ذکر باطل اوګرځولو، او د دې دپاره چه هغه خلق چاته چه د توحید او د قرآن کریم علم ورکړې شوې دې پوهه شی چه هغه یعنی قرآن کریم ستا د رب د طرف نه حق دې نو په هغې باندې ایمان راوړی بیا د هغوی قلوب په هغې باندې مطمئن شی او واقعی ایمان والو ته الله پاک نیغې لارې طرف ته رهنمائی کوی یعنی د دین اسلام طرف ته او کافر خلق به د قرآن کریم په باره کښې همیشه په شک کښې اخته وی د هغه شبهې د وجې نه چه شیطان د رسول الله ﷺ په ژبه باندې القاء اوکړه بیا هغه الله پاک باطل کړه، تردې چه په هغوی باندې ناڅاپه قیامت راشی یعنی د مرګ ساعت یا (واقعی) قیامت ناڅاپه راشی، یا په هغوی باندې د یوې سپیره ورځې عذاب راشی او هغه د بدر ورځ وه چه په هغې کښې د کفارو دپاره خیر نه وو، لکه چه ریح عقیم هیڅ خیر نه راوړی یا د یوم عقیم نه مراد د قیامت ورځ ده چه د هغې دپاره به شپه نه وی او بادشاهی به په هغه ورځ یعنی د قیامت په ورځ صرف د الله پاک دپاره وی او کوم لفظ چه د ﴿ استقر ﴾ معنی لره متضمن دې هم هغه به د ظرف (یومئذ) ناصب وی او هغه به د دوی

يعنى د مومنانو او د كافرانو ترمينځه د دې په ذريعه فيصله اوكړى كوم چه روستو بيان كړې شوې دې، پس كومو خلقو چه ايمان راوړې دې او نيک عمل ئې كړې دې نو هغوى به د الله پاک په فضل سره د نعمتونو په جنت كښې وى او كومو خلقو چه كفر كړې وى او زمونږ د آيتونو تكذيب ئې كړې وى نو د هغه خلقو دپاره به د هغوى د كفر په سبب د سخت ذلت عذاب وى.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: ﴿ قل يأيها النّاس ﴾ اې محمد ﷺ تاسو دې خلقو ته چه د عذاب په طلب كښې تندى كوى او اوايئ چه زه خو صفا صفا ويرونكې يم او زيرې وركونكې يم په تعجيل يا په تاخير د عذاب كښې زما هيڅ دخل نشته.

قوله: ﴿ يإبطالها ﴾ د دې اضافې مقصد حذف د مضاف طرف ته اشاره ده ﴿ اى سعوا فى ابطال اٰياتنا ﴾ بابطالها ﴾ كښې با په معنى د فى ده، معجزين دا د سعواد ضمير نه حال دې او ﴿من اتبع النبى ﴾ د معجزين مفعول دې، يا د معجزين مفعول لفظ ﴿ الله ﴾ دې اى معجزين الله ... مطلب دا دې چه زمونږ د آيتونو په ابطال كښې كوشش كوى مونږ لره د هغوى د نيولو نه عاجز ګڼړلو سره، او په يو قراءت كښې ﴿ معاجزين ﴾ دې په معنى د ﴿ سابقين ﴾ (مفاعله) دا ګمان كولو سره چه هغوى به زمونږ د نيولو نه اوتختى (بچ به شى)، او د مسابقت مطلب دا دې چه كافر د الله پاک د عذاب نه د تيختې كوشش كوى او الله پاک په هغوى باندې عذاب نازلولو، او تيختې ته نه پريخودلو كښې مسابقت كوى.

قوله: ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ (الاية) ﴾ (وان يكذبوك) نه پس دا رسول الله ﷺ ته دويمه تسلى ده ﴿من قبلك ﴾ كښې ﴿ من ﴾ ابتداء غايت دپاره دې او ﴿ من رسول ﴾ كښې ﴿ من ﴾ زائده دې.

قوله: ﴿ اذا تمنى القى الشيطان ﴾ ﴿ اذا تمنى ﴾ شرط دې او ﴿ القى الشيطان فى امنيته ﴾ د دې جزاء ده او جمله شرطيه د نبى نه حال دې د عبارت تقدير دا سې دې ﴿ وما ارسلنا نبيا الا حاله هذه ﴾ او د مستثنى منقطع كيدو د وجې نه هم منصوب كيدې شى.

قوله: ﴿ الغرانيق ﴾ د دې واحد ﴿ غرنوق ﴾ په وزن د ﴿ فردوس ﴾ دې، او بعض ﴿ غرنوق ﴾ په وزن د ﴿ عصفور ﴾ وئيلې دې، ډينګانو ته وئيلې شى.

قوله: ﴿ فينسخ الله ﴾ د نسخ نه نسخ لغوى مراد ده نه اصطلاحى، د نسخ معنى د زائل كولو او ختمولو ده.

قوله: ﴿ ليجعل ﴾ په لام كښې ظاهره دا ده چه دا د ﴿ يحكم ﴾ سره متعلق دې اى ثم يحكم الله اياته ليجعل او والله عليم حكيم ... جمله معترضه ده، دا هم احتمال دې چه ﴿ ليجعل ﴾ د ﴿ينسخ﴾ سره متعلق وى.

قوله: ﴿ وَالْقَاسِيَةِ ﴾ په معنی د القسوة سخت زړه، القاسية کښې الف لام موصولی دې، او د دې عطف په ﴿ الذین فی قلوبهم ﴾ باندې دې.

قوله: ﴿ وان الظالمین ﴾ اسم ظاهر دلته د قباحت د زیادت بیانولو دپاره د اسم ضمیر په ځائې کیخودلې شوې دې په اصل کښې د ﴿ انهم ﴾ وو د ﴿ یومئذ ﴾ عامل ناصب ﴿ استقر ﴾ یا د هغې د معنی والا فعل محذوف دې.

قوله: ﴿ یَحْکُمُ بَیْنَهُمْ ﴾ جمله مستانفه ده او د یو سوال مقدر جواب دې، سوال دا دې ﴿ ماذا یصنع بهم؟ فقیل یحکم بینهم ﴾ او جمله حالیه هم کیدې شی.

قوله: ﴿ بِمَا بَیَّنَ بَعْدَهٗ ﴾ ای فالذین امنوا وعملوا الصالحات... مبتدأ ده فی ﴿ جنات النعیم ﴾ د دې خبر دې ای مستقرون فیها هم دغه شان والذین کفروا وکذبوا بآیاتنا مبتدأ دې او ﴿ فاولئك لهم عذاب مهین ﴾ جمله د دې خبر دې، په اول خبر باندې فاء نه داخلول او په ثانی خبر باندې ﴿ فاء ﴾ داخلول د دې بیانولو دپاره دی چه په جنت کښې داخله د اعمالو د وجې نه نه ده بلکه د الله پاک د فضل او کرم د وجې نه به وی، هم دې خبرې ته اشاره کولو دپاره مفسر علام فضلا من الله اضافه کړې ده، په خلاف د جهنم د عذاب د هغې ترتب به په اعمالو باندې وی هم په دې وجه ﴿ فاولئك ﴾ باندې به فا جزائیه داخل کړې شوې ده. (جمل)

[ایاتونه: ۵۸-۶٤]

﴿ وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ أيْ طَاعَتِه مِنْ مَكَّة إِلَى الْمَدِينَة ﴿ ثُمَّ قُتِلُوا أَوْ مَاتُوا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللَّهُ رِزْقًا حَسَنًا ﴾ هُوَ رِزْق الْجَنَّة ﴿ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴾ أفضل المعطين ﴿ لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُدْخَلًا ﴾ بِضَمِّ الْمِيمِ وَفَتْحِهَا أيْ إِدْخَالًا أَوْ مَوْضِعًا ﴿ يَرْضَوْنَهُ ﴾ وَهُوَ الْجَنَّة ﴿ وَإِنَّ اللَّهَ لَعَلِيمٌ ﴾ بِنِيَّاتِهِمْ ﴿ حَلِيمٌ ﴾ عَنْ عِقَابِهِمْ الْأَمْر ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ الَّذِي قَصَصْنَاهُ عَلَيْك ﴿ وَمَنْ عَاقَبَ ﴾ جَازَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿ بِمِثْلِ مَا عُوقِبَ بِهِ ﴾ ظُلْمًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ أيْ قَاتَلَهُمْ كَمَا قَاتَلُوهُ فِي الشَّهْر الْحَرَام ﴿ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ ﴾ مِنْهُمْ أيْ ظُلِمَ بِإِخْرَاجِهِ مِنْ مَنْزِله ﴿ لَيَنْصُرَنَّهُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ ﴾ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿ غَفُورٌ ﴾ لَهُمْ عَنْ قِتَالهمْ فِي الشَّهْر الْحَرَام ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ النَّصْر ﴿ بِأَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ ﴾ أيْ يُدْخِل كُلًّا مِنْهُمَا فِي الْآخَر بِأَنْ يَزِيد بِهِ وَذَلِكَ مِنْ أَثَر قُدْرَته تَعَالَى الَّتِي بِهَا النَّصْر ﴿ وَأَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ ﴾ دعاء للمؤمنين ﴿ بَصِيرٌ ﴾ بِهِمْ حَيْثُ جَعَلَ فِيهِمْ الْإِيمَان فَأَجَابَ دعاءهم ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ النَّصْر أَيْضًا ﴿ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ ﴾ الثَّابِت ﴿ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ ﴾ بِالْيَاءِ وَالتَّاء يَعْبُدُونَ ﴿ مِنْ دُونِهِ ﴾ وَهُوَ الْأَصْنَام ﴿ هُوَ الْبَاطِلُ ﴾ الزَّائِل ﴿ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْعَلِيُّ ﴾ أيْ الْعَالِي عَلَى كُلّ شَيْء بِقُدْرَتِهِ ﴿ الْكَبِيرُ ﴾ الَّذِي يَصْغُر كُلّ شَيْء سِوَاهُ ﴿ أَلَمْ تَرَ ﴾ تَعْلَم ﴿ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ﴾ مَطَرًا ﴿ فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ مُخْضَرَّةً ﴾ بِالنَّبَاتِ وَهَذَا مِنْ أَثَر قُدْرَته ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ ﴾ بِعِبَادِهِ فِي إِخْرَاج النَّبَات بِالْمَاءِ ﴿ خَبِيرٌ ﴾ بِمَا فِي قُلُوبهمْ عِنْد تَأْخِير الْمَطَر ﴿ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ﴾ عَلَى جِهَة الْمِلْك ﴿ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْغَنِيُّ ﴾ عَنْ عِبَاده ﴿ الْحَمِيدُ ﴾ لِأَوْلِيَائِهِ

ترجمه: او کومو خلقو چه د الله پاک په لاره کښې خپل وطن پريخودلې دې يعنې د هغه په طاعت کښې ئې د مکې نه مدينې ته هجرت کړې دې بيا هغوی شهيدان کړې شو يا په خپل مرګ وفات شو الله پاک به هغوی ته بهترين رزق ورکړی هغه د جنت رزق دې بيشکه الله پاک د ټولو ورکړه کونکو نه غوره ورکونکې دې يعنې په ورکړه کونکو کښې غوره ورکونکې دې الله پاک به هغوی داسې ځائې ته داخل کړی چه هغوی به هغې لره خوښوی او هغه جنت دې (مدخلا) د ميم په ضمې سره او د هغې په فتحې سره، داخلول يا د داخلولو ځائې او بيشکه الله پاک د هغوی د نيتونو نه خبر دې هغوی ته د سزا ورکولو په معامله کښې حليم دې، خبره داسې ده څنګه چه مونږ تاسو ته واوروله، او کوم مومن چه بدله واخستله (د ظالم نه) هم د هغې برابر چه (کوم ظلم د مشرکانو د طرف نه) د ده سره کړې شوې وو، يعنې د هغوی سره ئې هم دغه شان قتال اوکړو څنګه چه هغوی د محرم په مياشت کښې د مومنانو سره قتال کړې وو، بيا د هغه سره زياتې اوکړې شي د مشرکانو د طرف نه يعنې هغه لره د هغه د کور نه ويستلو سره په هغه باندې ظلم اوکړې شو نو يقينا الله پاک به د هغه مدد فرمائي، بيشکه الله پاک مومنانو لره ډير معاف کونکې دې او بخښنه کونکې دې په شهر حرام کښې د هغوی قتال کونکو لره او دا مدد به د دې وجې نه وی چه بيشکه الله پاک شپې لره په ورځ کښې او ورځې لره په شپه کښې داخلوی يعنې يو لره په بل کښې داخلوی په داسې طريقه چه په هر يو کښې اضافه کوی او دا ايلاج د هغه قدرت دليل دې چه د هغې په ذريعه نصرت کيږی او بيشکه الله پاک د مومنانو د دعا اوريدونکې دې او د هغوی احوالو لره ليدونکې دې په دې طريقه باندې چه هغوی ئې مومنان جوړ کړل بيا ئې د هغوی دعا ته شرف د قبوليت ورکړو او دا نصرت هم په دې سبب دې چه الله پاک معبود برحق دې او بيشکه چاته چه دا خلق يا تاسو خلق هغه لره پريخودلو سره اواز کوی او هغه بتان دې هغه باطل دې زائل کيدونکې دې او بيشکه الله پاک په هر يو څيز باندې عالی دې د خپل قدرت په اعتبار سره او داسې عظمت والا دې چه د هغه نه سوا د هغه د عظمت مخې ته هر يو څيز ذليل دې ايا تاته پته نه لګی چه الله پاک د اسمان نه باران واورولو چه هغې سره زمکه د نباتاتو په ذريعه شنه شوه او دا د هغه د قدرت اثر دې بيشکه الله پاک د اوبو په ذريعه نباتات پيدا کولو کښې په خپلو بندګانو باندې ډير مهربان دې او د باران د تاخير په صورت کښې چه کوم خيالات د بندګانو په زړونو کښې راځی د هغې نه باخبر دې په اسمانونو او زمکه کښې چه څه دی هم د هغه ملک دی او بيشکه الله پاک دې کوم چه د خپلو بندګانو محتاج نه دې او د خپلو اولياؤ د تعريف سزاوار (لائق) دې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: ﴿ وَالَّذِينَ هَاجَرُوا ﴾ مبتدأ ده ﴿ ليرزقنهم الله ﴾ د دې خبر دې ﴿ والذين هاجروا ﴾ اګر چه ﴿ الذين امنوا ﴾ کښې داخل دی، خو د هغوی د عظمت شان د وجې نه خاص طور باندې د

هغوی ذکر کړې شوې دي ګويا دا د تخصيص بعد التعميم د قبيل نه دې، ﴿ ليرزقنهم ﴾ د قسم محذوف جواب دې، اى والله ليرزقنهم قسم او جواب قسم يوځائې کيدو سره جمله د ﴿ والذين هاجروا ﴾ خبر دې، د دې نه معلوميږي چه جمله قسميه د مبتدأ خبر واقع کيدې شي ﴿ رزقا حسنا ﴾ د ليرزقنهم مفعول ثاني دې او د ﴿ ليرزقنهم ﴾ مفعول مطلق دپاره د تاکيد هم کيدې شي.

قوله: ﴿ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴾ نه پس افضل المعطين اضافه کولو مقصد دې خبرې ته اشاره کول دی چه ﴿خير﴾ اسم تفضيل، د اسم تفضيل په معنی کښې دې په قرآن کريم کښې عام طور باندې اسم تفضيل د اسم فاعل په معنی کښې وی خو دلته داسې نه ده، اول خو په دې وجه چه الله پاک سره داسې رزق مخصوص دې چه په هغې باندې بل څوک قادر نه دې، او په رزق کښې هم دا اصل دې، دويمه خبره دا ده چه په ظاهره کښې غير الله چه کوم رزق ورکوی هغه د الله پاک د ورکړې شوی رزق نه ورکوی، دريمه خبره دا ده چه غير الله چه کوم رزق ورکوی د هغې مقصد طلب عوض وی کم از کم اجر د آخرت سهی، او د الله پاک چه کوم رزق وی هغه به په طور د احسان وی.

قوله: ﴿ لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُدْخَلًا ﴾ دا ﴿ ليرزقنهم ﴾ نه بدل هم کيدې شی او جمله مستانفه هم.

قوله: ﴿ مُدْخَلًا ﴾ دا د باب افعال مصدر دې ﴿ اى ادخالا ومدخلا ﴾ په دې صورت کښې به دا د ﴿ليدخلنهم﴾ مفعول مطلق وی او د دې مفعول به به محذوف وی ﴿ اى ليدخلنهم الجنة ادخالا يرضونه ﴾ او د ميم په فتحې سره به ظرف مکان وی اى موضع دخول په دې صورت کښې به ﴿مدخلا﴾ به د ﴿ ليدخلنهم ﴾ مفعول فيه وی اى ليدخلنهم مكانا يرضونه.

قوله: ﴿ ذلك ﴾ دا د مبتدأ محذوف خبر دې ﴿ اى الامر ذلك ﴾ يعنی د مومنانو او کافرانو سره چه کومې وعدې شوې دی هغه په خپل ځائې صحيح او حقې دی، چه کله د يو کلام نه بل کلام ته انتقال مطلوب وی نو هغه وخت ﴿ الامر ذلك ﴾ وئيلې شی.

قوله: ﴿ ومن عاقب ﴾ دا د تعاقب نه اخستلې شوې دې چه د هغې معنی ده ﴿ مجی الشئ بعد الشئ اى جاز ﴾

قوله: ﴿ أَيْ قَاتَلَهُمْ كَمَا قَاتَلُوهُ فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ ﴾ د مفسر په دې قول کښې د آيت کريمه د شان نزول طرف ته اشاره ده، مقاتل رحمه الله فرمائی چه ذکر شوې آيت کريمه په مشرکين مکه کښې د هغه خلقو په باره کښې نازل شوې دې چه د هغوی مقابله د مسلمانانو د يو جماعت سره شوې وه، حال دا چه لا د محرم د مياشتې په ختيمدو کښې دوه ورځې باقی دې، مشرکانو په دې خيال چه اصحاب محمد ﷺ د محرم په مياشت کښې قتال نه خوښوی حمله اوکړه، مسلمانانو په شهر حرام کښې د جنګ نه کولو دپاره مشرکانو ته قسم ورکړو

خو هغوی یوه خبره هم نه اوریدله، مجبورا مسلمانان هم د هغوی مقابلې ته اودریدل، الله پاک مسلمانانو ته په مشرکانو باندې غلبه ورکړه، په شهر حرام کښې د قتال کولو د وجې نه د مسلمانانو په زړه کښې یو قسم خفګان او وسوسه باقي وه، اګر چه مسلمانانو د مجبورئ په درجه په باندې په شهر حرام کښې قتال کړې وو، هم د دې وسوسې د ختمولو دپاره ذکر شوې آیت کریمه نازل شو، د ظلم د بدلې اخستلو نه په ﴿ عاقب ﴾لفظ سره تعبیر اوکړې شو، دا مجازا د مشاکلت په طور استعمال کړې شوې دې، لکه ﴿ جزاء سيئة سيئة ﴾کښې وئیلې شوې دی، یا دا د تسمية السبب باسم المسبب د قبیل نه دې، یعنی د مشرکانو ظلم د هغوی نه د انتقام اخستلو سبب جوړ شو.

قوله: ﴿ وَمَنْ عَاقَبَ ﴾مبتدأ ده ﴿ لينصرنه ﴾د دې خبر دې او دا په دې صورت کښې دې چه کله من موصوله وی او دا هم صحیح ده چه من شرطیه وی او لینصرنه‌د دې جزاء وی.

قوله: ﴿ ذَٰلِكَ النَّصْرُ ﴾مبتدأ ده او ﴿ بأن الله يولج الليل الاية ﴾ددې خبر دې.

قوله: ﴿ وَذَٰلِكَ مِنْ أَثَرِ قُدْرَته ﴾یعنی ورځې لره په شپه کښې او شپې لره په ورځ کښې داخلول دا د هغه د قدرت اثر دې، ځکه چه نصرت د قدرت نه بغیر نه شی کیدې.

قوله: ﴿ فَتُصْبِحُ ﴾په رفع سره د دې عطف په ﴿ انزل ﴾دې، په دې صورت کښې به ﴿ به ﴾عائد محذوف وی ای فتصبح به... او دا هم کیدې شی چه فاء سببیه وی نه عاطفه په دې صورت کښې به د تقدیر عائد ضرورت نه وی.

سوال: ﴿ فَتُصْبِحُ ﴾جواب امر واقع دې لهذا دا منصوب کیدل پکار دی حال دا چه ﴿ فتصبح ﴾ مرفوع دې؟

جواب: دا استفهام تقریری په معنی د خبر دې یعنی ﴿ الم تر ﴾ د قد رایت په معنی دې او استفهام په معنی د خبر د امر جواب نه وی.

اوس دا سوال پیدا شو چه د ماضی د صیغې په ځائې د مضارع صیغه استعمالولو څه وجه ده؟ یعنی د ﴿ فتصبح ﴾په ځائې ئې ﴿ فاصبحت ﴾ولې نه دی وئیلې؟

جواب: دا دې چه د مضارع صیغه په بقاء اثرِ مطر باندې دلالت کوی کوم چه مطلوب او محمود دې په خلاف د ماضی د صیغې.

[ایاتونه: ۶۵ - ۷۲]

(أَلَمْ تَرَ) تعلم (أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ) من البهائم (وَالْفُلْكَ) السفن (تَجْرِي فِي الْبَحْرِ) للركوب والحمل (بِأَمْرِهِ) باذنه (وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ) من (أَن) او لئلا (تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ) فتهلكوا (إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ) في التسخير والإمساك (وَهُوَ الَّذِي أَحْيَاكُمْ) بالإنشاء (ثُمَّ يُمِيتُكُمْ) عند انتهاء آجالكم (ثُمَّ يُحْيِيكُمْ) عند البعث (إِنَّ الْإِنسَانَ) اي المشرك (لَكَفُورٌ) لنعم الله بتركه توحيده

لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا) بِفَتْحِ السِّيْنِ وَكَسْرِهَا شَرِيعَةً (هُمْ نَاسِكُوهُ) عَامِلُونَ بِهِ (فَلَا يُنَازِعُنَّكَ) يُرَادُ بِهِ لا تُنَازِعُهُمْ (فِي الْأَمْرِ) أَيْ أَمْرِ الذَّبِيحَةِ إِذْ قَالُوا مَا قَتَلَ اللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَأْكُلُوهُ مِمَّا قَتَلْتُمْ (وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ) إِلَى دِينِهِ (إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى) دِينٍ مُسْتَقِيمٍ (وَإِن جَادَلُوكَ) فِي أَمْرِ الدِّيْنِ (فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ) فَيُجَازِيكُمْ عَلَيْهِ وَهَذَا قَبْلَ الْأَمْرِ بِالْقِتَالِ (اللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ) أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ وَالْكَافِرُونَ (يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ) بِأَنْ يَقُولَ كُلٌّ مِنَ الْفَرِيقَيْنِ خِلَافَ قَوْلِ الْآخَرِ (أَلَمْ تَعْلَمْ) الْإِسْتِفْهَامُ فِيهِ لِلتَّقْرِيرِ (أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّ ذَٰلِكَ) أَيْ مَا ذُكِرَ (فِي كِتَابٍ) هُوَ اللَّوْحُ الْمَحْفُوظُ (إِنَّ ذَٰلِكَ) أَيْ عِلْمَ مَا ذُكِرَ (عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ) سَهْلٌ (وَيَعْبُدُونَ) أَيِ الْمُشْرِكُونَ (مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ) هُوَ الْأَصْنَامُ (سُلْطَانًا) حُجَّةً (وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِ عِلْمٌ) أَنَّهَا آلِهَةٌ (وَمَا لِلظَّالِمِينَ) بِالْإِشْرَاكِ (مِن نَّصِيرٍ) يَمْنَعُ عَنْهُمْ عَذَابَ اللهِ (وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا) مِنَ الْقُرْآنِ (بَيِّنَاتٍ) ظَاهِرَاتٍ حَالٌ (تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ كَفَرُوا الْمُنكَرَ) أَيِ الْإِنْكَارَ لَهَا أَيْ أَثَرَهُ مِنَ الْكَرَاهَةِ وَالْعُبُوسِ (يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِالَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا) أَيْ يَقَعُونَ فِيهِمْ بِالْبَطْشِ (قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكُمُ) بِأَكْرَهَ إِلَيْكُمْ مِنَ الْقُرْآنِ الْمَتْلُوِّ عَلَيْكُمْ هُوَ (النَّارُ وَعَدَهَا اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا) بِأَنْ مَصِيرَهُمْ إِلَيْهَا (وَبِئْسَ الْمَصِيرُ) هِيَ

ترجمه: (اې مخاطبه) ایا تا ته معلومه نه ده چه الله پاک ستاسو په کارونو کښې لګولي دي د زمکې څیزونو لره د حیواناتو نه او کشتو لره چه هغه په دریاب کښې د بار او سورلو اوړلو د پاره د هغه په حکم باندې رواني وي، او هم هغه اسمانونو لره په زمکه باندې د راغورځیدلو نه ټینګ (منع) کړي دي (د دې دپاره چه په هغوی ور پرې نه اوځي او تول هلاک نه شي) مګر دا چه د غورځیدلو حکم اوشي بیشکه الله پاک په خلقو باندې په تسخیر او امساک کښې ډیر شفقت کونکې او رحمت کونکې دې او هغه هم هغه الله دې چا چه تاسو ته ژوند درکړو پیدا کولو سره بیا به تاسو ته مرګ درکړي ستاسو عمر د مودې پوره کیدو نه پس بیا به تاسو لره ژوندی کړي د بعثت په وخت واقعي مشرک انسان د الله پاک د نعمتونو او د هغه توحید ترک کولو سره ډیر ناشکره دې او مونږ د هر امت دپاره د بندګۍ یوه طریقه یعني شریعت مقرر کړې دې هغه هم هغه (طریقه) شریعت باندې عمل کونکې وو منسکا د سین په فتحې او کسرې سره دې نو خلقو لره پکار دي چه د ذبح په معامله کښې تاسره نزاع اونکړي او فلا ینازعنك نه لا تنازعهم مراد دې (یعني د مضارع منفي نه نهي) ځکه چه هغوی وئیلي وو چه کوم ځاروې الله پاک قتل کړي وي هغه د خوراک کولو زیات لائق دې د هغې نه کوم چه تا پخپله قتل کړې دې او ته خپل رب یعني د هغه د دین طرف ته دعوت ورکوه، یقینا ته په صحیح دین باندې ئې او که دا خلق د دین په معامله کښې تاسره جهګړه کوي نو ته ورته اوایه چه الله پاک ستاسو د اعمالو نه بنه خبردار دې هغه به تاسو ته د دې سزا ضرور درکړي، (د عدم قتال) دا هدایت نبي علیه السلام ته د جهاد د حکم ورکولو نه مخکښې دې، اې مومنانو او کافرو؛ د قیامت په ورځ

باندي به الله پاک ستاسو ترمینځه د هغه خبرې فیصله اوکړي په کومه کښې چه تاسو اختلاف کوئ په دي طریقه چه په دواړو ډلو کښې هره یوه ډله د بلې ډلې خلاف وائی (اې مخاطبه) ایا تاته پته نشته دا استفهام تقریری دې چه الله پاک په اسمان او زمکه کښې چه څه دی هغه هر څه پیژنی یقینا دا څه چه مذکور شو په لوح محفوظ کښې محفوظ دی بیشکه دا یعنی د مذکور علم د الله پاک دپاره اسان دې او مشرکان د الله پاک نه علاوه د داسې څیزونو بندګی کوی چه د هغې په باره کښې هغه څه حجت نه دې نازل کړې هغه بتان دی او نه د هغوی سره د دې څه دلیل شته چه دا معبود دې او د شرک په ذریعه د ظلم کونکو به څوک مددګار نه وی چه د هغوی نه عذاب منع کړی او کله چه هغوی ته زمونږ واضح قرآنی آیتونه اوروليې شی بینات د معنی ظاهرات حال دې نو ته د هغه کفارو په مخ باندې د ناخوښئ اثار ګورې یعنی د دې آیتونو د انکار (اثر لره) کوم چه کراهت او تر شروئی ده داسې معلومیږی چه په هغه خلقو باندې به حمله اوکړی کوم چه هغوی ته زمونږ آیتونه لوستلو سره اوروی یعنی نزدې ده چه په سختئ سره ئې اونیسی، ته اوایه ایا زه تاسو ته ددې نه هم زیات ناخوښه څیز اوښائم؟ یعنی تاسو ته د قرآن اورولو نه هم زیات ناخوښه څیز هغه دوزخ دې چه د هغې الله پاک د کفارو سره وعده کړې ده دا د هغوی ټهکانه ده او هغه بده ټهکانه ده.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ﴿ أَلَمْ تَرَ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ ﴾ ﴿ تر ﴾ په اصل کښې ﴿ تری ﴾ وو، دا د رویت نه مشتق دې، د ﴿ لم ﴾ داخلیدو د وجې نه د آخر نه ﴿ ی ﴾ حرف علت ساقط شو د ﴿ تر ﴾ تفسیر په ﴿ تعلم ﴾ سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چه د رؤیت نه مراد رؤیت قلبی دې، ﴿ سخر ﴾ دا د تسخیر نه د ماضی صیغه ده په معنی د ﴿ ذلل ﴾ مسخر کول، په کار کښې لګول، قابو کول، زبردستئ سره په یو خاص کار کښې لګول.

قوله: ﴿ وَالْفُلْكَ ﴾ ما فی الارض...باندې د عطف کیدو د وجې نه منصوب دې.

قوله: ﴿ من ﴾ (ان) ﴿ اولئلا تقع ﴾ په دې عبارت سره د مفسر علام مقصد د ﴿ ان تقع ﴾ اعراب ته اشاره کول مقصود دی، ﴿ ان تقع ﴾ یا په محل د جر کښې دې او حرف جر محذوف دې ای من ان تقع او تقع د ان مصدریه د وجې نه د وقوع په معنی کښې دې یا په محل د نصب کښې دې یا خو په دې وجه چه د السماء نه بدل دې بدل الاشتمال ای یمنع وقوعها او بعض حضراتو وئیلی دی چه د مفعول له کیدو د وجې نه منصوب دې، د بصریانو په نزد تقدیر د عبارت داسې دې یمسك السماء کراهة ان تقع او د کوفیانو په نزد تقدیر د عبارت دا دې یمسك السماء لئلا تقع مفسر علام احتمال اول او ثالث لره ذکر کړې دې.

قوله: ﴿إِلَّا بِإِذْنِهِ﴾ دا مستثنی مفرغ ده د عموم احوال نه خو دلته به دا شبه وی چه مستثنی مفرغ په کلام موجب کښی نه واقع کیږی او دلته مستثنی منه کومه چه ﴿یمسك السماء﴾ ده کلام موجب دې؟ د دې شبهې جواب دا دې چه ﴿یمسك السماء ان تقع علی الارض﴾ په قوت د نفی کښی دې د عبارت تقدیر داسې دې ﴿لا یترکها تقع فی حالة من الاحوال الا فی حالة کونها متلبسة بمشیة الله تعالی﴾ باذنه کښی باء د ملابست دپاره ده.

قوله: لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا: دلته د امت نه هغه امت مراد دې چا سره چه اسمانی ملت او د یو نبی شریعت وی نه چه مشرکین اوکفار، په دې باندې لفظ جعلنا دلالت کوی مفسر علام د منسک تفسیر په شریعت سره کولو کښې دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه (النسیکة) په معنی د عبادت نه ماخوذ دې لهذا ﴿منسکا﴾ په موضع د عبادت یا په وقت د عبادت باندې محمول کولو څه وجه نشته او هم په دې معنی باندې ﴿ناسکوه﴾ دلالت کوی که د موضع یا د وخت معنی مراد وې نو ﴿ناسکون فیه﴾ به ئې وئیلې ځکه چه عامل د ظرف د ضمیر طرف ته متعدی وی.

قوله: ﴿لاینازعنك﴾ تفسیر ﴿لاتنازعهم﴾ سره کولو کښې دې طرف ته اشاره ده چه مقصد رسول الله ﷺ نورو اهل ملل سره د منازعت نه منع کول دی او دا په طور د کنایه ده ځکه چه منازعت د طرفین نه وی، رسول الله ﷺ ته دترک نزاع د حکم مقصد د هغوی د خبرو طرف ته د التفات د نه کولو حکم کول دی او چه کله رسول الله د هغوی د خبرو طرف ته التفات نه کوی نو جهګړه به پخپله ختمه شی، یو فریق لره منع کول، دا کنایة دویم فریق لره منع کول دی.

قوله: ﴿فِي الْأَمْرِ﴾ مفسر علام د امر نه ذبیحه مراد کړې ده، خطیب وئیلې دی چه دا آیت کریمه بدیل بن ورقاء او بشر بن سفیان او یزید بن خنیس په باره کښی نازل شوې دې چه کله هغوی اصحاب رسول ﷺ ته وئیلې وو ﴿مالکم تاکلون مما تقتلون ولاتاکلون مما قتله الله﴾ یعنی تاسو د خپل لاس وژلې څه روتې خورئ او کوم څیز چه الله پاک قتل کړی (یعنی مردار) هغه نه خورئ. د مفسر علام د فی الامر تشریح په ذبح سره کول د مقام موافق نه ده بلکه دلته مطلقا احکام شریعت مراد دی، ګنې د دې نه به لازم شی چه په سابقه امتونو کښی مردار خوړل مشروع وو.

قوله: ﴿مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ﴾ ما موصوله ده او د ﴿یعبدون﴾ مفعول به دې.

قوله: ﴿يَكَادُونَ يَسْطُونَ﴾ دا جمله حالیه ده یا خو د ﴿الذین﴾ نه خو په دې صورت کښی به دا اعتراض وی چه ﴿الذین﴾ مضاف الیه دې او مقصود مضاف وی نو د مضاف الیه

نه حال واقع کيدل به څنګه صحيح وی؟ جواب دا دې چه مضاف چونکه د مضاف اليه جزء دې لهذا د مضاف اليه نه حال واقع کيدل صحيح دی يا د وجوه نه حال دې او د (وجه) نه صاحب وجه مراد دې، مفسر علام د (يسطون) تفسير (يبطش) سره کولو کښې دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه (يسطون) د يبطشون معنی لره متضمن دې، هم دا وجه ده چه د (يسطون) صله (با) صحيح ده، ګنې د (يسطون) صله (على) راځي.

قوله: (هُوَ النَّارُ) النار د هومبتدأ محذوف خبر دې، په دې صورت کښې به وقف په (ذلکم) باندې وی او دا هم جائز ده چه (النار) مبتدأ او (وعدها الله) د دې خبر شی په دې صورت کښې به وقف په (الذين كفروا) باندې وی.

[اياتونه: ۷۳-۷۸]

﴿يأيها النَّاس﴾ أيْ أهل مَكَّة ﴿ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ﴾ وَهُوَ ﴿إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ﴾ تَعْبُدُونَ ﴿مِنْ دُونِ اللَّهِ﴾ أيْ غَيْرِه وَهُمْ الأصْنَام ﴿لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا﴾ اسْم جِنْس وَاحِده ذُبَابَة يَقَع عَلَى الْمُذَكَّر وَالْمُؤَنَّث ﴿وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ﴾ لِخَلْقِهِ ﴿وَإِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا﴾ مِمَّا عَلَيْهِمْ مِنَ الطِّيب وَالزَّعْفَرَان الْمُلَطَّخِين بِهِ ﴿لَا يَسْتَنْقِذُوهُ﴾ لَا يَسْتَرِدُّوهُ ﴿مِنْهُ﴾ لِعَجْزِهِمْ فَكَيْفَ يَعْبُدُونَ شُرَكَاء اللَّه تعالى هذا أمْر مُسْتَغْرَب عَبَّرَ عَنْهُ بِضَرْبِ مَثَل ﴿ضَعُفَ الطَّالِبُ﴾ الْعَابِد ﴿وَالْمَطْلُوبُ﴾ الْمَعْبُود ﴿مَا قَدَرُوا اللَّهَ﴾ عَظَّمُوهُ ﴿حَقَّ قَدْرِهِ﴾ عَظَمَته إذْ أشْرَكُوا بِهِ مَا لَمْ يَمْتَنِع مِنَ الذُّبَاب وَلَا يَنْتَصِف مِنْهُ ﴿إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾ غالب ﴿اللَّهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ النَّاسِ﴾ رسلا نزل لَمَّا قَالَ الْمُشْرِكُونَ ﴿أَأُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِنْ بَيْنِنَا﴾ ﴿إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ﴾ لِمَقَالَتِهِمْ ﴿بَصِيرٌ﴾ بِمَنْ يَتَّخِذهُ رَسُولًا كَجِبْرِيل وَمِيكَائِيل وَإِبْرَاهِيم وَمُحَمَّد وَغَيْرهمْ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِمْ وَسَلَّمَ ﴿يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ﴾ أيْ مَا قَدَّمُوا وَمَا خَلَّفُوا وَمَا عَمِلُوا وَمَا هم عاملون بعد ﴿وَإِلَى اللَّهِ ترجع الأمور﴾ ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا﴾ أيْ صَلُّوا ﴿وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ﴾ وَحِّدُوهُ ﴿وَافْعَلُوا الْخَيْرَ﴾ كَصِلَةِ الرَّحِم وَمَكَارِم الْأخْلَاق ﴿لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ تَفُوزُونَ بِالْبَقَاءِ فِي الْجَنَّة ﴿وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ﴾ لِإِقَامَةِ دِينه ﴿حَقَّ جِهَادِهِ﴾ بِاسْتِفْرَاغِ الطَّاقَة فِيهِ وَنُصِبَ حَقّ عَلَى الْمَصْدَر ﴿هُوَ اجْتَبَاكُمْ﴾ اخْتَارَكُمْ لِدِينِهِ ﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾ أيْ ضِيق بِأَنْ سَهَّلَهُ عِنْد الضَّرُورَات كَالْقَصْرِ وَالتَّيَمُّم وَأَكْل الْمَيْتَة وَالْفِطْر لِلْمَرَضِ وَالسَّفَر ﴿مِلَّةَ أَبِيكُمْ﴾ مَنْصُوب بِنَزْعِ الْخَافِض الْكَاف ﴿إِبْرَاهِيمَ﴾ عَطْف بَيَان ﴿هُوَ﴾ أيْ اللَّه ﴿سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ﴾ أيْ قَبْل هَذَا الْكِتَاب ﴿وَفِي هَذَا﴾ أيْ الْقُرآن ﴿لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ﴾ يَوْم الْقِيَامَة أنَّهُ بَلَّغَكُمْ ﴿وَتَكُونُوا﴾ أنْتُمْ ﴿شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ﴾ أنَّ رُسُلهمْ بَلَّغُوهُمْ ﴿فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾ دَاوِمُوا عَلَيْهَا ﴿وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ﴾ ثِقُوا بِهِ ﴿هُوَ مَوْلَاكُمْ﴾ نَاصِركُمْ وَمُتَوَلِّي أُمُوركُمْ ﴿فَنِعْمَ الْمَوْلَى﴾ هُوَ ﴿وَنِعْمَ النَّصِيرُ﴾ النَّاصِر لَكُمْ

ترجمه: اې خلقو! يعنی مکې والو! يوه عجيبه خبره بيانولې شی هغه په غور سره واورئ او هغه خبره دا ده چه په دې خبره کښې هيڅ شبهه نشته چه کوم څيزونه تاسو د الله پاک نه سوا رابلئ يعنی

بندگي کوئ د غير الله هغه بتان دي هغوي خو يو مچ هم نه شي پيدا کولې ذباب اسم جنس دې د دې واحد ذبابة دې د دې اطلاق په مذکر او مونث دواړو باندې کيږي اګرکه د دې تخليق دپاره ټول راجمع شي او که د هغوي نه مچ يو څيز اوتختوي د هغه نه چه په هغوي کومه خوشبوئي او زعفران لګيدلې وي (چه په هغې هغه ککړ شوي دي) نو هغې لره هغوي د هغه نه واپس نه شي اخستلې د هغوي د عاجز کيدو د وجې نه، بيا ولې بندګي کوئ (د هغوي) د الله پاک شريکان ګنړلو سره، دا خبره چونکه عجيب ده هم په دې وجه د دې نه په ضرب المثل سره تعبير کړې شوې دې داسې طالب عابد هم ضعيف او مطلوب معبود هم ضعيف دې، دې خلقو څنګه چه د الله پاک تعظيم کول پکار وو هغه شان ئې اونکړو حال دا چه هغه سره ئې داسې څيز شريک کړې دې کوم چه د مچ نه خپل حفاظت نه شي کولې او نه د هغه نه خپل حق اغستلې شي بيشکه الله پاک لوئې طاقت والا او په ټولو باندې غالب دې الله پاک په فرشتو کښې او په انسانانو کښې چه څوک غواړي د پيغام رسولو دپاره منتخب کوي (دا آيت کريمه) هغه وخت نازل شو چه کله مشرکانو اووئيل چه آيا په مونږ کښې صرف ده باندې ذکر (قرآن) نازل کړې شوې دې بيشکه الله پاک د هغوي خبرو لره اوريدونکې او پيژندونکې دې په هغه چا لره چه څوک خپل استاذي ګرځوي لکه په فرشتو کښې سيدنا جبرائيل عليه السلام او سيدنا ميکائيل عليه السلام او په انسانانو کښې سيدنا ابراهيم عليه السلام او سيدنا محمد ﷺ لره هغه د هغوي په مخکښې او روستو ټولو حالاتو باندې خبر دې يعنى چه کوم اعمال ئې وړاندې ليږلي دي او کوم اعمال چه ئې شاته پريخودلي دي او کوم اعمال چه ئې کړي دي او کوم چه به راروان وخت کښې کوي او ټول امور به د الله پاک طرف ته واپس کولې شي اې خلقو رکوع کوئ او سجده کوئ يعنى مونځ کوئ او د خپل رب بندګي کوئ يعنى دهغه د وحدانيت عقيده ساتئ او نيک کار کوئ لکه صله رحمي او ښه اخلاق اميد دې چه تاسو به کامياب شئ يعنى په جنت کښې به د دائمي بقاء سره کامياب شئ او د الله پاک په کار کښې د هغه د دين د قيام دپاره ښه کوشش کوئ خپل پوره کوشش په هغې کښې خرچ کولو سره او د حق د نصب مصدريت د وجې نه دې هغه تاسو د خپل دين دپاره منتخب کړي يئ او په تاسو باندې ئې ستاسو د دين په معامله کښې هيڅ تنګسيا نه ده کيخودلې په دې طريقه چه د ضرورت په وخت ئې درته دين اسان کړې دې لکه قصر او تيمم او د مردارې خوړل او د مريض او مسافر دپاره د روژې نه ساتلو اجازت ستاسو د پلار ابراهيم عليه السلام د ملت په شان ملة حرف جر کاف لره د حذف کولو د وجې نه منصوب دې ابراهيم په ابيکم باندې عطف دې هغه يعنى الله پاک ستاسو نوم د مخکښې نه (يعنى د دې کتاب د نزول) نه مخکښې مسلمان کيخودلې دې او په دې کښې هم يعنى قرآن کښې هم د دې دپاره چه رسول ﷺ ستاسو دپاره د قيامت په ورځ باندې ګواه شي چه هغه

تاسو ته پیغام در اورسولو او تاسو د خلقو په مقابله کښې گواه شئ چه دهغوی رسولانو (پیغام) هغوی ته رسولي دي تاسو د مونځ پابندي کوئ او زکاة ورکوئ او الله لره مضبوط اونیسئ یعني په هغه باندې خان اوسپارئ هغه ستاسو مولي یعني مددګار او ستاسو کارساز دې پس هغه څه بنه کارساز دې او ستاسو دپاره څه بنه مدد ګار دې.؟

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ﴿ یایها النّاس ﴾ای اهل مکة د دې آیت کریمه تعلق د ماقبل آیت کریمه ﴿ ویعبدون من دون الله ﴾ (الایة) سره دې، په دې آیت کریمه کښې خطاب اګر چه اهل مکه ته دې خو مراد ترې هر هغه کس دې کوم چه د غیر الله بندګی کوی، ﴿ ضرب مثل ﴾، د مثل نه مراد امر عجیب دې او هغه امر عجیب د شرک او د بت پرستئ حماقت لره په یو واضح مثال سره بیانول دی چه کوم بتان چه تاسو خپل کارساز ګنړئ داسې بې وسه او عاجزه دی چه ټول یوځائې کیدو سره هم د مچ په شان یو سپک څیز نه شی پیدا کولې او پیدا کول خو ډیر لوئې کار دې تاسو روزانه د هغې په وړاندې د خوړو او خوراکونو منختې کوئ او مچان هغه خوری د هغوی نه خو دومره هم نه کیږی چه د مچانو نه خپل څیز بچ کړی دا به تاسو د یو آفت نه څه بچ کړی په دې وجه ئې د آیت کریمه په آخر کښې د هغوی د جهالت او بې وقوفئ نه په دې الفاظو سره تعبیر فرمائیلې دې. ضعف الطالب والمطلوب.

قوله: ﴿ وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ ﴾ دا جمله د حال په محل کښې واقع ده، ای انتفی خلقهم الذباب علی کل حال ولو فی حال اجتماعهم.

قوله: ﴿ وَإِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا ﴾ ﴿ یسلب ﴾ متعدی دې دوؤ مفعولو ته، مفعول اول ﴿ هم ﴾ او ثانی ﴿ شیئا ﴾ دې ملطخون دا د لطخ نه مشتق دې، ککړ کول، ګنده کول، ملاویدل او خیرن کول، ﴿ ملطخون ﴾ په اصل کښې د طیب والزعفران صفتِ سببی دې لهذا ملطخون په ځائې ملطخین پکار دی لکه چه ظاهره ده. (جمل)

قوله: ﴿ عَبَّرَعَنهُ بِضَرْبِ مَثَل ﴾ دا د دې سوال جواب دې چه د ضرب مثل په نوم سره چه بیان کړې شوې دې هغه مثل نه دې نو بیا دې ته مثل ولې اونیلې شو؟ د جواب خلاصه دا ده چه واقعه عجیبه او دغه شان غوره او عجیب وغریب مضمون نه هم په مثل سره تعبیر کولې شی.

قوله: ﴿ وَمِنَ النَّاسِ رسلا ﴾ رسلا: محذوف منلو سره ئې اشاره اوکړه چه په آیت کریمه کښې حذف دې ثانی لره په اول باندې قیاس کولو سره ﴿ رسلا ﴾ حذف کړې شو.

قوله: ﴿ حَقَّ جِهَادِه ﴾ په اصل کښې جهاداً حقاً دې دا د اضافت الصفت الی الموصوف د قبیل نه دې.

قوله: ﴿ هو﴾ اي الله سماكم المسلمين، د هو د مرجع كښې دوه احتمالات دی یو دا چه د دې مرجع ابراهیم وی او دویم دا چه د دې مرجع ﴿ الله ﴾ وی، مفسر علام د ﴿ هو﴾ نه پس الله محذوف منلو سره ثاني احتمال راجع گرځولي دې او قرينه وفي هذا القرآن دې ځکه چه په قرآن کریم کښې مسلمان نوم کيخودل د الله پاک کار دې، نه د سيدنا ابراهيم عليه السلام.

پاره لمبر ۱۸ [قد أفلح المؤمنون]

[۲۳] سورة المُؤْمِنُونَ

سُورَةُ الْمُؤْمِنُونَ مَكِّيَّةٌ وهي مائة و ثمان او تسع عشرة آية.

سوره مومنون مکی دې، او (۱۱۸) يا (۱۲۹) آيتونه دی.

[اياتونه: ۱-۲۲]

بسم الله الرحمن الرحيم (قد) للتحقيق (أفلح) فاز (المؤمنون) (الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ) متواضعون (وَالَّذِينَ هم عن اللغو) من الكلام وغيره (معرضون (وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ) مؤدون (وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ) عَنِ الْحَرَامِ (إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ) أي مِنْ زَوْجَاتِهِمْ (أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ) أي السَّرَارِي (فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ) في إتيانهن (فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَلِكَ) مِنَ الزَّوْجَاتِ وَالسَّرَارِي كَالاسْتِمْنَاءِ بِالْيَدِ فِي إِتْيَانِهِنَّ (فَأُولَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ) الْمُتَجَاوِزُونَ إِلَى مَا لَا يَحِلُّ لَهُمْ (وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ) جَمْعًا وَمُفْرَدًا (وَعَهْدِهِمْ) فِيمَا بَيْنَهُمْ أَوْ فِيمَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ اللهِ مِنْ صَلَاةٍ وَغَيْرِهَا (رَاعُونَ) حَافِظُونَ (وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ) جَمْعًا وَمُفْرَدًا (يُحَافِظُونَ) يُقِيمُونَهَا فِي أَوْقَاتِهَا (أُولَئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ) لَا غَيْرُهُمْ (الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ) هُوَ جَنَّةُ أَعْلَى الْجِنَانِ (هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ) فِي ذَلِكَ إِشَارَةٌ إِلَى الْمَعَادِ وَيُنَاسِبُهُ ذِكْرُ الْمَبْدَإِ بَعْدَهُ (وَ) اللهِ (لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ) آدَمَ (مِنْ سُلَالَةٍ) هِيَ مِنْ سَلَلْتُ الشَّيْءَ مِنَ الشَّيْءِ أَيِ اسْتَخْرَجْتُهُ مِنْهُ وَهُوَ خُلَاصَتُهُ (مِنْ طِينٍ) متعلق بسلالة (ثُمَّ جَعَلْنَاهُ) أَيِ الْإِنْسَانَ نَسْلَ آدَمَ (نُطْفَةً) مَنِيًّا (فِي قَرَارٍ مَكِينٍ) هُوَ الرَّحِمُ (ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً) دَمًا جَامِدًا (فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً) لَحْمَةً قَدْرَ مَا يُمْضَغُ (فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا) وَفِي قِرَاءَةٍ عَظْمًا فِي الْمَوْضِعَيْنِ وَخَلَقْنَا فِي الْمَوَاضِعِ الثَّلَاثِ بِمَعْنَى صَيَّرْنَا (ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ) بِنَفْخِ الرُّوحِ فِيهِ (فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ) أَيِ الْمُقَدِّرِينَ وَمُمَيِّزُ أَحْسَنَ مَحْذُوفٌ لِلْعِلْمِ بِهِ أَيْ خَلْقًا (ثم إنكم بعد ذلك لميتون) (ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ) لِلْحِسَابِ وَالْجَزَاءِ (وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَائِقَ) أَيْ سَمَاوَاتٍ جَمْعُ طَرِيقَةٍ لِأَنَّهَا طُرُقُ الْمَلَائِكَةِ (وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ) الَّتِي تَحْتَهَا (غَافِلِينَ) أَنْ تَسْقُطَ عَلَيْهِمْ فَتُهْلِكَهُمْ بَلْ نُمْسِكُهَا كَآيَةِ (وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ أَنْ تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ) (وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ) مِنْ كِفَايَتِهِمْ (فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ وَإِنَّا عَلَى ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ) فَيَمُوتُونَ مَعَ دَوَابِّهِمْ عَطَشًا (فَأَنْشَأْنَا لَكُمْ بِهِ جَنَّاتٍ مِنْ نَخِيلٍ وَأَعْنَابٍ) هُمَا أَكْثَرُ فَوَاكِهِ الْعَرَبِ (لَكُمْ فِيهَا فَوَاكِهُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ) صَيْفًا وَشِتَاءً (وَ) أَنْشَأْنَا (شَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُورِ سَيْنَاءَ) جَبَلٌ بِكَسْرِ السِّينِ وَفَتْحِهَا وَمَنْعِ الصَّرْفِ لِلْعَلَمِيَّةِ

وَالتَّانِيث لِلْبُقْعَةِ (تَنْبُتُ) مِنَ الرُّبَاعِيِّ وَالثُّلاثِيِّ (بِالدُّهْنِ) الْبَاءُ زَائِدَةٌ عَلَى الْأَوَّلِ وَمُعَدِّيَةٌ عَلَى الثَّانِي وَهِيَ شَجَرَةُ الزَّيْتُونِ (وَصِبْغٍ لِّلْآكِلِينَ) عَطْفٌ عَلَى الدُّهْنِ أَيْ إِدَامٌ يُصْبَغُ اللُّقْمَةُ بِغَمْسِهَا فِيهِ وَهُوَ الزَّيْتُ (وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ) الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ (لَعِبْرَةً) عِظَةً تَعْتَبِرُونَ بِهَا (نُّسْقِيكُم) بِفَتْحِ النُّونِ وَضَمِّهَا (مِّمَّا فِي بُطُونِهَا) اللَّبَنِ (وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ كَثِيرَةٌ) مِنَ الْأَصْوَافِ وَالْأَوْبَارِ وَالْأَشْعَارِ وَغَيْرِ ذَلِكَ (وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ وَعَلَيْهَا) الْإِبِلِ (وَعَلَى الْفُلْكِ) السُّفُنِ (تُحْمَلُونَ)

ترجمه: یقینا هغه مومنان کامیاب شو کوم چه په خپلو مونځونو کښې تواضع اختیارونکی دی قد د تحقیق دپاره دې (او دا هغه خلق دی) چه د لغو خبرو وغیره نه اعراض کونکی دی او کوم چه زکاة ادا کونکی دی (او هغه خلق دی) چه د حرام نه د خپلو شرمګاهونو حفاظت کونکی دی خو د خپلو بیبیانو نه یا د هغه زنانو نه د کومو چه هغوی مالکان دی یعنی وینزو نه ځکه چه هغوی نه په راتلو کښې (جماع کولو کښې) په هغوی باندې هیڅ الزام نشته او څوک چه د دې نه علاوه یعنی د بیبیانو او وینزو نه علاوه مثلا استمناء بالید وغیره طالب وی نو داسې خلق دحد نه اوړیدونکی دی یعنی داسې څیز طرف ته ورمخکښې کیدونکی دی چه هغه دهغوی دپاره حلال نه دې او څوک چه دخپلو اماتونو امانات جمع او مفرد دواړه قراءتونه دی خپل مینځ کښې (معاملات) او دخپل او الله په مینځ کښې وعده او لوظ (مثلا) دمونځ وغیره حفاظت کونکی دی او کوم چه د خپلو مونځونو صلوات جمع او مفرد دواړه قراءتونه دی، د هغې په وختونو کښې پابندۍ سره قائمونکی دی هم دغه شان خلق وارثان دی نه چه نور خلق کوم چه به د فردوس وارثان وی هغه د اعلی درجې جنت دې (او) هغوی به په هغې کښې همیشه اوسیږی، په دې (آیت) کښې د معاد (انجام) طرف ته اشاره ده ددې نه پس د مبداء ذکر مناسب دې، قسم دې زما په ذات باندې چه مونږ انسان آدم علیه السلام لره د خاورې نه پیدا کړو او سلالة سللت الشیء من الشیء نه ماخوذ دې یعنی ما انسان لره د خاورې د جوهر نه پیدا کړې دې او هغه جوهر د خاورې خلاصه ده، د من الطین تعلق د سلالة سره دې، بیا مونږ انسان یعنی نسل آدم علیه السلام لره د منی د نطفې نه جوړ کړو کوم چه په یو محفوظ ځائې کښې پاتې شوې دې هغه رحم دې بیا مونږ هغه نطفه کلکه وینه جوړه کړه یعنی چکه وینه بیا مونږ دهغه چکه وینې ټکره (بوټۍ) د شخوند وهلو چیچلو لائقه د غوښې بوټۍ جوړ کړو بیا مو هغه بوټۍ هډوکی جوړ کړل بیا مونږ هغه هډوکو باندې غوښه اوخیژوله او په یو قراءت کښې دواړو ځایونو کښې (د عظام په ځائې عظم دې، او (خلقنا) په درې واړو ځایونو کښې د (صیرنا) په معنی کښې دې بیا مونږ هغه لره په هغې کښې روح پوکلو سره یو بل مخلوق جوړ کړو نو څنګه شان دې د الله پاک کوم چه د ټولو پیدا کونکو نه ښه پیدا کونکې دې او خالقین په معنی د مقدرین اندازه کونکی دې او د

احسن تمیز خلقا د دې د معلومیدو (متعین کیدو) د وجې نه محذوف دې یا تاسو د دې نه روستو بالیقین مره کیدونکي یئ یا به تاسو یقینا د دې نه روستو د قیامت په ورځ باندې د حساب او جزاء دپاره پاڅولې شئ او مونږ ستاسو دپاسه اووه اسمانونه جوړ کړل طرائق په معنی د اسمان دې او طرائق طریقة جمع ده ځکه چه اسمان د فرشتو لاره ده او مونږ د اسمان د لاندې مخلوق نه بې خبره نه وو چه اسمان به د هغوی دپاسه راغورځیږي پس هغوی به هلاک شي بلکه مونږ اسمان راتینګ کړې دې لکه چه په یو آیت کریمه کښې دي یمسك السماء ان تقع علی الارض او مونږ (مناسب) مقدار سره په قدر د کفایت اسمان (وریځ) نه اوبه راورولې، یا مونږ هغه (اوبو) لره په زمکه کښې پاتې کړې او مونږ د دغه (اوبو) په بوتلو (ختمولو) باندې هم قادریو، پس تول په تول به سره د خپلو څارو و د تندې نه مړه شي یا مونږ د دې اوبو په ذریعه ستاسو دپاره د کهجورو او انګورو باغونه پیدا کړل ذکر شوی دواړه خیزونه په عربو کښې په کثرت سره پیدا کیدونکي میوې دی چه په هغې ستاسو د پاره ډیرې میوې او د دې نه تاسو خوراک هم کوئ په ګرمئ او یخنئ کښې او مونږ یوه اونه پیدا کړه کوم چه په سیناء غر کښې پیدا کیږي سیناء د سین په کسرې او فتحې دواړو سره دې او غیر منصرف منلې شوې دې د علمیت د وجې نه او د بقعه په معنی کښې د کیدو د وجې نه د تانیث د موندلې کیدو د سبب نه کوم رازرغونیږي د تیلو سره تنبت کښې رباعی او ثلاثی دواړه صحیح دی اولنې (یعنی د رباعی) صورت کښې باءزائده ده، او دویم (یعنی د ثلاثی) په صورت کښې باء د تعدیه دپاره ده او هغه د زیتون اونه ده او د خوراک کونکو دپاره ترکاری سره د دې عطف په ﴿ الدهن ﴾ باندې یعنی ترکاری کوم چه رنګ ورکوی لقمې ته په هغې کښې د ډوبیدو د وجې نه او هغه تیل دی او ستاسو دپاره په څارو و کښې یعنی اوښ، غواګانو او بیزو کښې عبرت دې یعنی نصیحت دې چه د هغې نه تاسو عبرت حاصلولې شئ، چه مونږ تاسو د هغې د خیټې څیز نه یعنی پئ د شکلو دپاره درکوو نسقیکم د نون په ضمې او فتحې دواړو سره دې او ستاسو دپاره په دې کښې نورې هم ډیرې فائدې دی د وړئ نه او د اوښانو د ویښتو نه او غوا (وغیره) د ویښتو نه او په هغې کښې بعض تاسو خورئ او په اوښانو او په کشتو باندې تاسو سورلې شئ او ګرځئ.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ﴿ قد ﴾ د تحقیق دپاره دې یعنی قدچه کله په ماضی باندې داخل شي نو په اثبات باندې دلالت کوی هم په دې وجه ماضی لره حال ته نزدې کوی او متوقع لره ثابتوی مومنان چونکه د الله پاک د فضل امیدوار وو په دې وجه د هغوی بشارت ئې په ﴿ قد ﴾ سره شروع اوفرمائیلو، او چونکه د دې بشارت وقوع یقینی ده په دې وجه ئې د ماضی

په صیغې سره تعبیر اوفرمائیلو.

قوله: ﴿ افلح ﴾ فلاح په لغت کښې په مقصد کښې کامیابیدلو او د مکروهاتو نه بچ کیدلو ته وائی (کما فی ابی سعود) او بعض حضرات فرمائی چه ﴿ فلاح بقاء فی الخیر ﴾ ته وائی.

قوله: ﴿ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ ﴾ زکاة معنی مصدری یعنی زکاة ادا کولو او د زکاة مال ته وئیلې شی یعنی معنی مصدری مراد ده ځکه چه فاعل د معنی حدثی وی نه د محل فعل، یعنی هغه خلق کامیاب شو کوم چه زکاة ادا کوی، اوس پاتې شوه دا سوال چه د اداء زکاة په سلسله کښې معروف تعبیر مثلا ایتاء الزکاة یؤتون الزکاة یا اتوا الزکاة ... لره پریخودلو سره ئې د للزكاة فاعلون تعبیر ولې اختیار فرمائیلې دې؟ جواب دا دې چه ﴿ للزكاة فاعلون ﴾ هم په کلام عرب کښې مستعمل دې، امیه بن ابی صلت وائی ﴿ المطعمون الطعام فی السنة اللازمة والفاعلون للزكاة ﴾ (روح البیان) دویم جواب دا دې چه فواصل رعایت مقصود دې بعض حضراتو وئیلې دی چه دلته عین زکاة هم مراد کیدې شی خو مضاف به محذوف منل وی ای والذین هم لتادیة الزكاة فاعلون.

قوله: ﴿ وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ﴾ د دې آیت کریمه نه په حرمت متعه باندې استدلال کړې شوې دې، أخرج ابن ابی حاتم عن القاسم بن محمد انه سئل عن المتعة فقراء هذه الاية قال فمن ابتغى وراء ذلك فهو عاد، وروى عن ابن ابی ملیکة قال سالت عائشة ﷺ عن المتعة فقالت بینی وبینهم القرآن، ثم قراءت الاية قالت فمن ابتغى وراء ذلك غیر ما زوجه الله او ملکه یمینه فقد عدا.

قوله: ﴿ أَيْ مِنْ أَزْوَاجِهِمْ ﴾ په دې کښې اشاره ده چه ﴿ على ﴾ په معنی د ﴿ من ﴾ دې.

قوله: ﴿ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ ﴾ نه مراد وینزې دی د ﴿ من ﴾ په ځائې په ﴿ ما ﴾ سره تعبیر اوکړې شو د دې وجه دا کیدې شی چه زنانه ناقصات العقل وی او خاص طور سره چه کومې مملوکې هم وی لهذا د مشابه بالبهائم کیدو دوجې نه ئې په ﴿ ما ﴾ سره تعبیر اوکړو ﴿ ما ملکت ﴾ د خپل عموم د وجې نه اگرچه غلامانو او وینزو دواړو ته شامل دې خو دلته صرف وینزې مراد دی ځکه چه د مالکې د خپل غلام سره وطی کول بالاتفاق جائز نه دی ﴿ غیر ملومین ﴾ کښې دې طرف ته اشاره ده چه هم دا مقصد جوړول څه د تعریف خبره نه ده آو د انسانی طبیعت د ضرورت پوره کولو د حده پورې اجازت دې.

قوله: ﴿ كَالِاسْتِمْنَاءِ بِالْيَدِ ﴾ د ائمه ثلاثه په نزد استمناء بالید حرامه ده او د امام احمد رحمه الله په نزد په درې شرطونو سره جائز ده. ① په زنا کښې د اخته کیدو د ویرې نه، ② د مهر ادا کولو یا وینزې اخستلو د طاقت نه لرلو په صورت کښې، ③ دا په خپل لاس سره وی نه د پردی سړی یا پردئ زنانه په لاس. (حاشیه جلالین)

قوله: (تترارى) د (سريه) جمع ده په معنى د وينزې، دا د (سر) نه ماخوذ دې چه د هغې معنى يا د اخفاء ده څکه چه ډير کرته انسان د وينزې سره همبسترى د خپلې ازادې زنانه نه پټه ساتى هم په دې وجه (سريه) وئيلې شى يا بيا د سرورنه مشتق دې چه د هغې معنى د خوشحالئ ده چونکه مالک د وينزې نه خوشحاله وى په دې وجه هغه ته (سريه) وئيلې شى.

قوله: (إلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ غَيْرُ مَلُومِينَ) دا د استثناء علامت دې.

قوله: (أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ لَا غَيْرُهُمْ) د لاغيرهم اضافه جمله معرفة الطرفين نه حصر مستفاد لره ظاهرولو د پاره ده، جمله چه کله معرفة الطرفين وى لکه چه ذکر شوې جمله ده نو د دې نه حصر مستفاد کيږى، هم د غه شان د طرفين ترمينځه ضمير د (هم) دا هم په حصر باندې دلالت کوى، دلته د حصر نه مراد حصر اضافى دې نه حقيقى، څکه چه دا خبره ثابته ده چه د ذکر شوى اشخاص داخليږى اگر چه نورو جنتونو ته به نور اشخاص داخليږى.

قوله: (وَيُنَاسِبُهُ ذِكْرُ الْمَبْدَإِ بَعْدَهُ) د دې عبارت د اضافې مقصد په دې آيت او مخکښې آيت ترمينځه مناسبت او ربط لره بيانول دى.

قوله: (وَاللّٰهِ لَقَدْ خَلَقْنَا) لفظ الله لره محذوف منلو سره ئې اشاره اوکړه چه واو قسميه دې او په (لقد) کښې لام په جواب قسم باندې داخل دې.

قوله: (جَعَلْنَاهُ أَيِ الْإِنْسَانَ نَسْلَ آدَمَ) ... (ه) ضمير په ماقبل کښې د مذکور انسان طرف ته راجع دې خو مراد ترې نسل ادم دې او د انسان نه کوم چه مرجع دې، آدم مراد دې غرض دا چه په کلام کښې صنعت استخدام دې، صنعت استخدام دې ته وئيلې شى چه د مرجع نه يوه معنى مراد وى او د مرجع طرف ته واپس کيدونکى ضمير نه بله معنى مراد وى.

قوله: (وَأَنْشَأْنَا شَجَرَةً) انشانا محذوف منلو سره ئې اشاره اوکړه چه د شجرة عطف په جنات باندې دې.

قوله: (أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ) اى المقدرين د المقدرين د اضافې مقصد دا شبه دفع کول دى چه اسم تفضيل د مشارکت تقاضه کوى حال دا چه د الله پاک نه سوا هيڅ څوک خالق نشته؟ نو جواب ئې ورکړو چه د خلق نه مراد تقدير او تصوير دې نه ايجاد او تخليق لهذا اوس هيڅ اعتراض نشته.

قوله: (لِلْعِلْمِ بِهِ) چونکه لفظ د (خالقين) په خلقا باندې دلالت کوى لهذا د دې قرينې د وجې نه تمييز محذوف کړې شو.

قوله: (فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَائِقَ) د فوق نه مراد مطلقا علو ده نه چه د انسانانو په سرونو

باندې خکه چه کوم وخت اسمانونه پيدا کړې شوې وو هغه وخت انسان موجود نه وو بيا (فوقكم) ونيل به څنګه صحيح وى، معلومه شوه چه د (فوقكم) نه مطلقا علو مراد دے.

[ايا تونه: ۲۳-۳۲]

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ﴾ أَطِيعُوا اللهَ وَوَحِّدُوهُ ﴿مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ﴾ وَهُوَ اسْمُ مَا وَمَا قَبْلَه الخَبَر وَمِنْ زَائِدَة ﴿أَفَلَا تَتَّقُونَ﴾ تَخَافُونَ عُقُوبَتَه بِعِبَادَتِكُمْ غَيْرَه ﴿فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ﴾ لِأَتْبَاعِهِمْ ﴿مَا هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ﴾ يَتَشَرَّف ﴿عَلَيْكُمْ﴾ بِأَنْ يَكُونَ مَتْبُوعًا وَأَنْتُمْ أَتْبَاعه ﴿وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ﴾ أَنْ لَا يُعْبَدَ غَيْرُه ﴿لَأَنزَلَ مَلَائِكَةً﴾ بِذٰلِكَ لَا بَشَرًا ﴿مَّا سَمِعْنَا بِهَٰذَا﴾ الَّذِي دَعَا إِلَيْهِ نُوح مِنَ التَّوْحِيد ﴿فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ﴾ الأُمَم المَاضِيَة ﴿إِنْ هُوَ﴾ مَا نُوح ﴿إِلَّا رَجُلٌ بِهِ جِنَّةٌ﴾ حَالَة جُنُون ﴿فَتَرَبَّصُوا بِهِ﴾ انْتَظِرُوهُ ﴿حَتَّىٰ حِينٍ﴾ إِلَى زَمَن مَوْتِه ﴿قَالَ﴾ نُوح ﴿رَبِّ انصُرْنِي﴾ عَلَيْهِمْ ﴿بِمَا كَذَّبُونِ﴾ بِسَبَبِ تَكْذِيبِهِمْ إِيَّايَ بِأَنْ تُهْلِكَهُمْ قَالَ تَعَالَى مُجِيبًا دُعَاءَه ﴿فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ أَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ﴾ السَّفِينَة ﴿بِأَعْيُنِنَا﴾ بِمَرْأًى مِنَّا وَحِفْظنَا ﴿وَوَحْيِنَا﴾ أَمْرِنَا ﴿فَإِذَا جَاءَ أَمْرُنَا﴾ بِإِهْلَاكِهِمْ ﴿وَفَارَ التَّنُّورُ﴾ لِلْخَبَّاز بِالمَاء وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَامَة لِنُوح ﴿فَاسْلُكْ فِيهَا﴾ أَيْ أَدْخِلْ فِي السَّفِينَة ﴿مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ﴾ ذَكَر وَأُنْثَى أَيْ مِنْ كُلِّ أَنْوَاعِهِمَا ﴿اثْنَيْنِ﴾ ذَكَرًا وَأُنْثَى وَهُوَ مَفْعُول وَمِنْ مُتَعَلِّقَة بِاسْلُكْ وَفِي القِصَّة أَنَّ اللهَ تَعَالَى حَشَرَ لِنُوحٍ السِّبَاع وَالطَّيْر وَغَيْرهمَا فَجَعَلَ يَضْرِب بِيَدَيْهِ فِي كُلِّ نَوْع فَتَقَع يَدُه اليُمْنَى عَلَى الذَّكَر وَاليُسْرَى عَلَى الأُنْثَى فَيَحْمِلهُمَا فِي السَّفِينَة وَفِي قِرَاءَة كُلٍّ بِالتَّنْوِين فَزَوْجَيْنِ مَفْعُول وَاثْنَيْنِ تَأْكِيد لَه ﴿وَأَهْلَكَ﴾ زَوْجَته وَأَوْلَاده ﴿إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ﴾ بِالإِهْلَاكِ وَهُوَ زَوْجَته وَوَلَده كَنْعَان بِخِلَافِ سَام وَحَام وَيَافِث فَحَمَلَهُمْ وَزَوْجَاتهمْ ثَلَاثَة وَفِي سُورَة هُود ﴿وَمَنْ آمَنَ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ﴾ قِيلَ كَانُوا سِتَّة رِجَال وَنِسَاؤُهُمْ وَقِيلَ جَمِيع مَنْ كَانَ فِي السَّفِينَة ثَمَانِيَة وَسَبْعُونَ نِصْفهمْ رِجَال وَنِصْفهمْ نِسَاء ﴿وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ كَفَرُوا بِتَرْكِ إِهْلَاكِهِمْ ﴿إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ﴾ ﴿فَإِذَا اسْتَوَيْتَ﴾ اعْتَدَلْتَ ﴿أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي نَجَّانَا مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾ الكَافِرِينَ وَإِهْلَاكِهِمْ ﴿وَقُل﴾ عِنْدَ نُزُولك فِي الفُلْك ﴿رَّبِّ أَنزِلْنِي مُنزَلًا﴾ بِضَمِّ المِيم وَفَتْح الزَّاي مَصْدَرًا وَاسْم مَكَان وَبِفَتْحِ المِيم وَكَسْر الزَّاي مَكَان النُّزُول ﴿مُّبَارَكًا﴾ ذٰلِكَ الإِنْزَال أَوْ المَكَان ﴿وَأَنتَ خَيْرُ الْمُنزِلِينَ﴾ مَا ذُكِرَ ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ﴾ المَذْكُور مِنْ أَمْر نُوح وَالسَّفِينَة وَإِهْلَاك الكُفَّار ﴿لَآيَاتٍ﴾ دَلَالَات عَلَى قُدْرَة اللهِ تَعَالَى ﴿وَإِن﴾ مُخَفَّفَة مِنَ الثَّقِيلَة وَاسْمهَا ضَمِير الشَّأْن ﴿كُنَّا لَمُبْتَلِينَ﴾ مُخْتَبِرِينَ قَوْم نُوح بِإِرْسَالِهِ إِلَيْهِمْ وَوَعْظه ﴿ثُمَّ أَنشَأْنَا مِن بَعْدِهِمْ قَرْنًا﴾ قَوْمًا ﴿آخَرِينَ﴾ هُمْ عَاد ﴿فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ﴾ هُودًا ﴿أَنِ﴾ بِأَنْ ﴿اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ﴾ عِقَابه فَتُؤْمِنُونَ

ترجمه: قسم دې زمونږ د عزت او جلال چه مونږ نوح عليه السلام د هغه د قوم طرف ته پيغمبر اوليږلو نو هغه اوفرمائيل اې زما قومه صرف د الله پاک بندګي کوئ يعنى هم د هغه اطاعت کوئ او د هغه د توحيد عقيده ساتئ ستاسو دپاره د هغه نه سوا بل معبود نشته (الله) د ما اسم دې او د دې

ماقبل (لكم)د ما خبر دې او من زائده دې، نو بيا آيا تاسو ويرېږئ نه؟ يعنى د هغه د غير د عبادت کولو په صورت کښې آيا تاسو د هغه د عذاب نه ويرېږئ نه؟ نو د هغه د قوم کافر سردارانو خپلو ماتحتو ته اووئيل چه دا سړې سوا د دې نه چه ستاسو په شان (معمولی) انسان دې بل هيڅ نه دې د ده مقصد دا دې چه په تاسو باندې فضيلت فوقيت حاصل کړی په دې طريقه چه هغه ستاسو حاکم او تاسو د هغه محکوم شئ او که الله پاک ته دا منظور وې چه د هغه نه علاوه د چا بندگی اونکړې شی نو په دې حکم سره به ئې څوک فرشته رالیږلې وې نه چه انسان لره، مونږ دا خبره يعنى توحيد چه د هغې طرف ته نوح دعوت ورکوی، د خپلو مخکښې مشرانو نه يعنى تيرو امتونو نه نه دې اوريدلې پس دا نوح عليه السلام يو سړې دې چه ليونې شوې دې يعنى د ليونتوب کيفيت پرې راغلې دې نو د يو خاص وخت يعنى د مرگه پورې انتظار اوکړئ، نوح عليه السلام عرض اوکړو (دعا ئې اوکړه) اې زما ربه ته د هغوی په مقابله کښې هغوی هلاکولو سره او زما مدد اوکړه، په دې وجه چه هغوی زما تکذيب اوکړو، الله پاک د سيدنا نوح عليه السلام دعا قبوله کړه او وې فرمائيل پس مونږ نوح عليه السلام ته حکم اوليږلو چه ته زمونږ په نگرانئ او حفاظت کښې او زمونږ په حکم سره کشتئ جوړه کړه بيا چه کوم وخت د هغوی د هلاکت دپاره زمونږ حکم راشی او د نانبائی د تنور نه اوبه راوځی او دا د نوح عليه السلام دپاره په کشتئ کښې د سوريدو دپاره علامت وو نو په دې کشتئ کښې هر قسم نه نر او ماده نه يوه يوه جوړه يعنى د هر نوع نه دوه دوه مذکر او مونث کيږده، او ﴿اثنين﴾د ﴿ فاسلك﴾دپاره مفعول به دې، او ﴿ من کل ﴾،د ﴿اسلك﴾ سره متعلق دې، او په واقعه کښې داسې مذکور دی چه الله پاک د نوح عليه السلام دپاره درندگان او مارغان راجمع کړل، نو نوح عليه السلام به په هر نوع کښې دواړه لاسونه اچول نو خپل ښي لاس به ئې په نر او گس به ئې په ماده باندې لگيدلو نو هغه به ئې په کشتئ کښې سواره کړل، په يو قراءت کښې ﴿ کل ﴾ په تنوين سره دې په دې صورت کښې به ﴿ زوجين ﴾ مفعول وی او ﴿ اثنين ﴾ به د دې تاکيد وی. او خپل اهل لره يعنى خپله مومنه بی بی او اولاد سور کړه سوا د هغې نه چه په هغوی باندې په هغوی کښې د هلاکت حکم نافذ شوې دې او هغه د نوح عليه السلام کافره بی بی او د هغه کافر ځوئی کنعان دې، په خلاف د سام، حام او يافث پس هغوی او د هغوی درې واړو اولاد ئې سواره کړل، او په سورة هود کښې دی ﴿ ومن امن وما امن معه الا قليل ﴾ او هغه خلق چه ايمان ئې راوړې دې او د هغه سره ډيرو کمو خلقو ايمان راوړې وو، وئيلې شوی دی چه شپږ سړی او د هغوی اولاد وو او دا هم وئيلې شوی دی چه د هغه ټولو تعداد کوم چه په کشتئ کښې وو اته اويا وو د هغوی نه نيم سړی او نيمې زنانه وې، او ته ما سره د کفارو د ترک هلاکت (يعنى نجات) په باره کښې خبرې مه کوه هغوی به يقينا غرقولې شی بيا چه کله تاسو او ستاسو

ملګری په کشتئ کښې په اطمینان سره سواره شئ نو داسې وایئ چه ټول تعریفونه د الله پاک دپاره دی چا چه مونږ ته د ظالم یعنی کافر قوم نه خلاصې راکړو او هغوی ئې هلاک کړل او مونږ ئې ترې خلاص کړو (ای فلم یهلك معهم) او د کشتئ نه د کوزیدو په وخت داسې دعا کوئ ﴿ رب انزلنی منزلا ﴾ د میم په ضمې او د زاء په فتحې سره ﴿ ملالا ﴾ مصدر دې یا اسم مکان دې او د میم په فتحې او د زاء په کسرې سره (ملزلا) په معنی د کوزیدو ځائې... اې زما ربه! ته ما کوز کړه په بابرکته کوزولو سره، د برکت په ځائې کښې کوزول، په دویم قرات کښې به هم دا دواړه ترجمې وی، په اول قراءت کښې به د عبارت تقدیر داسې وی ﴿ رب انزلنی انزالا مبارکا ﴾ په دویم قراءت کښې به تقدیر د عبارت داسې وی ﴿ رب انزلنی نزلا مبارکا یا (نزولا مبارکا) ﴾ فرق به صرف دا وی چه په دویم قراءت کښې ﴿ انزلنی ﴾ د باب افعال نه دې او مصدر د نزلا یا نزولا ثلاثی مجرد نه لکه چه ﴿ انبت الله نباتا ﴾ کښې دې خو د مفسر علام د عبارت نه دا وهم پیدا کیږی چه په اول صورت کښې د مصدر او اسم مکان دواړو احتمال دی او په دویم صورت کښې صرف د مصدر احتمال دې حال دا چه په دواړو قراءتونو کښې دواړه احتمالونه دی، ﴿ مبارکا ﴾ اسم واحد مذکر غائب، ډیر برکت والا، ﴿ ذلك الانزال او المکان ﴾ مفسر علام د ﴿ ذلك ﴾ په ذریعه په ﴿ مبارکا ﴾ کښې دننه د ضمیر مستتر مرجع ظاهر فرمائیلې ده او ﴿ منزلا ﴾ کښې چونکه دوه احتمالونه دی په دې وجه ﴿ الانزال او المکان ﴾ وئیلو سره دواړو احتمالاتو ته اشاره اوکړه، او ته په دواړو مذکوره صورتونو کښې (یعنی که د معنی مصدری په صورت کښې وی یا د اسم مکان په معنی کښې) بهترین نازل کونکې یئ (ضیافت کونکی یئ) بیشکه په دې امر مذکور کښې کومه چه د نوح ﷺ او د کشتئ او کفارو لره د هلاکولو معامله ده د الله پاک د قدرت نخښې دی وان دا مخففه عن المثقلة دې او د دې اسم ضمیر شان محذوف او لام د نافیه او مخففه ترمینځه فارقه دې او مونږ د قوم نوح ﷺ نوح ﷺ د هغوی طرف ته لیږلو سره او د هغه د نصیحت په ذریعه ازمیښت کونکی یو بیا مونږ (قوم نوح) نه پس یو بل قوم لره چه هغه عاد دې پیدا کړو بیا مونږ په هغوی کښې یو رسول اولیږلو کوم چه د هغوی نه وو یعنی هود ﷺ (هغه پیغمبر اووئیل) چه تاسو د الله پاک بندګی کوئ د هغه نه علاوه ستاسو بل معبود نشته ایا تاسو ویریږئ نه؟ چه ایمان راوړئ.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا ﴾ (الاية) الله پاک د دې ځائې نه د پنځو قصو بیان فرمائی، د سیدنا ادم ﷺ قصه مختصرا پورته ذکر شوې ده په دې کښې ټولې شپږ قصې دی د دې قصو د بیانولو مقصد امت محمدیه ﷺ ته د سابقه امتونو د واقعاتو خبر ورکول دی چه

په غوره خصلتونو کښې د هغوی اقتداء اوکړی او د مذموم خصلتونو نه اجتناب اوکړی هم دغه شان په دې قصو کښې رسول الله ﷺ ته تسلی هم ده چه کوم حالات تاسو ته ستاسو د قوم طرف نه پیښیږی دغه شان حالات د سابقه انبیاؤ علیهم السلام سره هم د هغوی د امتونو د طرف نه راغلی دی، تاسو ته په دې حالاتو او واقعاتو باندې د خفه کیدو ضرورت نشته هغه پنځه قصې کومې چه دلته بیان کړې شوې دی هغه دا دی.

①قصه د نوح ﷺ ② قصه د هود ﷺ ③قصه د قرون الآخرین ④قصه د موسی او هارون علیهما السلام ⑤قصه د سیدنا عیسی ﷺ او د هغې د مور بی بی، نوح ﷺ دا لقب دې او نوم ئې عبد الغفار یا عبد الله دی او بعض حضراتو (یشکر)هم بیان کړې دې، هغه یو زر او پنځوس کاله ژوندې وو، د څلویښتو کالو په عمر کښې ورته د نبوت منصب ورکړې شو او نهه نیم سوه کاله هغه د دعوت او تبلیغ فرائض پوره کړل او د طوفان نه پس هغه شپیته کاله ژوندې وو، په دې حساب سره یو زر او پنځوس کاله جوړیږی.

قوله: (مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ)دا جمله د ماقبل دپاره په منزله د علت ده.

قوله: (هُوَ اسْمُ مَا)مفسر علام د دې خائې نه د (مالکم من اله غیره)ترکیب فرمائی (اله)د ما اسم موخر دې او (لکم)د کائنا متعلق کیدو سره د (ما)خبر دې، (غیره) باندې رفع هم صحیح ده دغه وخت به د الهٖ د محل تابع وی او جر هم جائز دې په دې صورت کښې به د (اله)دلفظ تابع وی د مفسر د قول ماقبله نه (لکم)جار مجرور مراد دې خو د جمهورو په نزد دا ترکیب ضعیف دې (ما)چونکه عامل ضعیف دې ځکه چه د دې د اسم او خبر د ترتیب بدلولو په صورت کښې (ما)عمل نه کوی، لهذا مناسب ذا وه چه (اله)لره مبتدأ مؤخر او (لکم)لره خبر مقدم اومنلې شی.

قوله: (أَن لَّا يُعْبَدَ غَيْرُهُ)د دې عبارت د محذوف منلو مقصد دې خبرې ته اشاره ده چه د (مشیئة)مفعول محذوف دې.

قوله: (بِذَٰلِكَ لَا بَشَرًا) دبذلك...تعلق د انزل سره دې، او د (ذلك)مشار الیه (ان لا یعبد غیره) یعنی د غیر الله د عبادت نه کولو حکم دې.

قوله: (أَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ)کښې ان تفسیریه دې ځکه چه د دې نه ماقبل (لوحینا) دې کوم چه د (قول)معنی باندې مشتمل دې.

قوله: (بِأَعْيُنِنَا)دا د (اصنع)خبر نه حال دې او (اعین)لره جمع راوړل د مبالغې په طور دی. **قوله:** (بِمَرْأًى مِنَّا وَحِفْظِنَا)اضافه دې طرف ته اشاره ده چه په آیت کریمه کښې مجاز مرسل دې، ځکه چه د نظرونو په کتلو سره حفاظت لازم دې لهذا ملزوم وئیلو سره لازم

مراد کړې شوې دې.

قوله: ﴿وَفَارَ التَّنُّورُ﴾ دا د ﴿جاء امرنا﴾ عطف بیان دې او په تنور کښې د اوبه راخوټکیدل د عذاب د علامت په طور وو، څکه چه روایت کړې شوې دې چه سیدنا نوح ﷺ ته د علامت په طور بیان کړې شو چه د تنور نه اوبه راوخوټکیږی نو پوهه چه چه اوس د عذاب وخت نزدې راغلې دې.

قوله: ﴿زَوْجَته﴾ د زوجه او اولاد نه زوجهٔ مومنه او اولاد مومن مراد دې، د سیدنا نوح ﷺ دوه بیبیانې وې یوه مومنه کومه چه ورسره په کشتۍ کښې وه او بله کافره بی بی نې چه نوم ئې داغله وو هغه او دهغې خوې کنعان په کشتۍ کښې سواره نه شو، د نوح ﷺ څلور خامن وو.یو کافر وو چه دهغه نوم کنعان ووهغه په کشتۍ کښې سور نه شو، باقي درې خامن چه هغوی مؤمنان وو دهغوی نومونه سام، حام او یافث وو. سام ابوالعرب دې، او حام ابوالسودان دې، او یافث ابوالترک دې.

قوله: ﴿فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ دا د ﴿اذا﴾ جواب دې، په ظاهره معلومیږی چه د ﴿فقل﴾ په ځائې ﴿فقولوا﴾ فرمائیلې وې چه د کوزیدو په وخت ټول خلق په دعا کښې شریک شوی وې، مګر چونکه د نوح ﷺ دعا د ټولو د دعا قائم مقام وو په دې وجه صرف هغه ته حکم کړې شوې دې.

[ایاتونه: ۲۴-۵۰]

﴿وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِلِقَاءِ الْاٰخِرَةِ﴾ بالمصير إليها ﴿وأترفناهم﴾ نعمناهم ﴿في الحياة الدنيا ما هذا إلا بشر مثلكم يأكل مما تأكلون منه ويشرب مما تشربون﴾ ﴿وَ﴾ اللّٰهِ ﴿لَئِنْ اَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ﴾ فِيهِ قَسَم وَشَرْط وَالْجَوَاب لِأَوَّلِهِمَا وَهُوَ مُغْنٍ عَنْ جَوَاب الثَّانِي ﴿اِنَّكُمْ اِذًا﴾ أَيْ إِذَا أَطَعْتُمُوهُ ﴿لَّخٰسِرُوْنَ﴾ أَيْ مَغْبُونُونَ ﴿اَيَعِدُكُمْ اَنَّكُمْ اِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَّعِظَامًا اَنَّكُمْ مُّخْرَجُوْنَ﴾ هُوَ خَبَر أَنَّكُمْ الْأُولَى وَأَنَّكُمْ الثَّانِيَة تَأْكِيد لَهَا لَمَّا طَالَ الْفَصْل ﴿هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ﴾ اسْم فِعْل مَاضٍ بِمَعْنَى مَصْدَر أَيْ بَعُدَ بَعُدَ ﴿لِمَا تُوْعَدُوْنَ﴾ مِنَ الْإِخْرَاج مِنَ الْقُبُور وَاللَّام زَائِدَة لِلْبَيَانِ ﴿اِنْ هِيَ﴾ أَيْ مَا الْحَيَاة ﴿اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا﴾ بحياة أبنائنا ﴿وما نحن بمبعوثين﴾ ﴿اِنْ هُوَ﴾ مَا الرَّسُول ﴿اِلَّا رَجُلُ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا وَّمَا نَحْنُ لَهٗ بِمُؤْمِنِيْنَ﴾ مُصَدِّقِينَ بِالْبَعْثِ بَعْد الموت ﴿قال رب انصرني بما كذبون﴾ ﴿قَالَ عَمَّا قَلِيْلٍ﴾ مِنَ الزَّمَان وَمَا زَائِدَة ﴿لَّيُصْبِحُنَّ﴾ لَيَصِيرُنَّ ﴿نٰدِمِيْنَ﴾ عَلَى كُفْرهمْ وَتَكْذِيبهمْ ﴿فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ﴾ صَيْحَة الْعَذَاب وَالْهَلَاك كَائِنَة ﴿بِالْحَقِّ﴾ فَمَاتُوا ﴿فَجَعَلْنٰهُمْ غُثَآءً﴾ وَهُوَ نَبْت يَبِسَ أَيْ صَيَّرْنَاهُمْ مِثْله فِي الْيُبْس ﴿فَبُعْدًا﴾ مِنَ الرَّحْمَة ﴿لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ﴾ المكذبين ﴿ثم أنشأنا من بعدهم قرونا﴾ أقواما ﴿آخرين﴾ ﴿مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا﴾ بِأَنْ تَمُوت قَبْله ﴿وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ﴾ عَنْهُ ذُكِرَ الضَّمِير بَعْد تَأْنِيثه رِعَايَة لِلْمَعْنَى ﴿ثم أرسلنا رسلنا تترا﴾ بِالتَّنْوِينِ وَعَدَمه مُتَتَابِعِينَ بَيْن كُلّ اثْنَيْنِ زَمَان طَوِيل ﴿كلما جَآءَ اُمَّةً﴾ بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَتَسْهِيل الثَّانِيَة بَيْنهَا وَبَيْن الْوَاو ﴿رَّسُوْلُهَا كَذَّبُوْهُ﴾

(فَأَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا) في الهلاك (وجعلناهم أحاديث فبعدا لقوم لا يؤمنون) (ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَارُونَ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُبِينٍ) حُجَّة بَيِّنَة وَهِيَ الْيَد وَالْعَصَا وَغَيرهمَا من الآيات (إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَاسْتَكْبَرُوا) عَنِ الإيمان بِهَا وَبِاللهِ (وَكَانُوا قَوْمًا عَالِينَ) قَاهِرِينَ بَنِي إسرائيل بالظلم (فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ) مطيعون خاضعون (فكذبوهما فكانوا من المهلكين) (وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ) التوراة (لَعَلَّهُمْ) قومه بني إسرائيل (يَهْتَدُونَ) به مِنَ الضَّلالَة وَأُوتِيَهَا بَعْد هَلاك فِرْعَوْن وَقَوْمه جُمْلَة وَاحِدَة (وجعلنا ابن مَرْيَمَ) عِيسَى (وَأُمَّهُ آيَةً) لَمْ يَقُلْ آيَتَيْنِ لِأَنَّ الْآيَة فِيهِمَا وَاحِدَة وِلَادَته مِنْ غَيْر فَحْل (وَآوَيْنَاهُمَا إِلَىٰ رَبْوَةٍ) مَكَان مُرْتَفِع وَهُوَ بَيْت الْمَقْدِس أَوْ دِمَشْق أَوْ فِلَسْطِين أَقْوَال (ذَاتِ قَرَارٍ) أَيْ مُسْتَوِيَة يَسْتَقِرّ عَلَيْهَا سَاكِنُوهَا (وَمَعِينٍ) وَمَاء جَارٍ ظَاهِر تَرَاهُ الْعُيُون

ترجمه: او د هغه د قوم سردارانو چا چه کفر کړې وو او د آخرت ملاقات ئې دروغژن ګڼړلې وو یعنی د هغه طرف ته رجوع کولو لره او مونږ هغوی ته په دنیوی ژوند کښې خوشحالي ورکړې وو یعنی انعامات مو ورکړې وو وې وئیل بس دا خو ستاسو په شان یو سړې دې هم هغه څه خوری څه چه تاسو خورئ او هم هغه څه څکی څه چه تاسو څکئ والله که تاسو د خپل ځان په شان د یو سړی په وینا پسې روان شوئ نو یقینا تاسو په لوئې تاوان کښې پریوتلئ. یعنی نقصان اوچتونکې ئې آیا دا سړې تاسو ته دا وائی چه کله تاسو مړه شئ او خاورې او هډوکې شئ نو آیا تاسو به دوباره راویستلې شئ (مخرجون) د (انکم) اولنی خبر دې او ثانی (انکم) د اولنی (انکم) دپاره تاکید دې د (ان) اسم او ود دې خبر ترمینځه د اوږد فصل کیدو د وجې نه ډیره لرې ده ډیره لرې ده هغه خبره کومه چه تاسو ته کولې شی (یعنی) د قبرونو نه د راویستلو او لام زائد دې د بیان دپاره زمونږ ژوند خو صرف دنیوی ژوند دې مونږ مرو او ژوندی کیږو د خپلو خامونو په ژوند سره او مونږ دوباره راژوندی کیدونکی نه یو دا سړې رسول نه دې دا خو داسې سړې دې کوم چه په الله پاک باندې بهتان تړی مونږ هرګز په ده باندې ایمان راوړونکی نه یو یعنی د مرګ نه پس هغوی ژوندی کولو په باره کښې تصدیق کونکی نه یو ، نبی ﷺ دعا اوکړه چه اې زما ربه زما بدله واخله په دې وجه چه هغوی زما تکذیب کړې دې، ارشاد اوشو چه دا خلق به عنقریب په خپل تکذیب او کفر باندې پښیمانه شی (عما قلیل) کښې ما زائده ده بالآخر د عدل د تقاضې مطابق هغوی چغې اونیول د چغې عذاب او هلاکت ئې حال دا اوکړو چه هغه د عدل د تقاضې مطابق وو پس ټول په ټول مړه شو بیا مونږ هغوی خس او خشاک کړل غثاء اوچې ګیا ته وئیلې شی، یعنی مونږ هغوی د خس او خشاک په شان کړل په اوچیدو کښې پس د رحمت نه دې لرې والې وی ظالم یعنی تکذیب کونکو قومونو دپاره بیا د هغوی نه پس مو نور قومونه پیدا کړل او یو امت د خپل مقرره وخت نه نه خو وړاندې تلې شی او نه شاته تلې شی په داسې طریقه چه د خپل مقرر وخت نه مخکښې مړ شی یا د دې نه مؤخر مړ شی (یستأخرون) کښې ضمیر لره د

معنی د رعایت د وجې نه مذکر راوړې شوې دې، د مونث راوړلو نه پس بیا مونږ پرلپسې
خپل رسولان راولیږل تترا تنوین او بغیر د تنوین دواړه دی یعنی د یو نه پس بل د هر دور
ترمینځه اوږده زمانه وه چه کله هم یو امت ته د هغوی رسول راغلو هغوی د هغه رسول تکذیب
اوکړو نو مونږ په هلاکت کښې په یو بل پسې اولګول او مونږ تري نه قصې جوړې کړې نو د الله
لعنت (هلاکت) دې وی په هغه قوم چه ایمان نه راوړی بیا مونږ موسی علیه السلام او د هغه رور هارون علیه السلام
ته احکامات او ښکاره دلیلونه ورکولو سره ښکاره دلیلونه یو خو ید بیضاء دې او بله همسا
ده او نورې نخښې دی فرعون او د هغه سردارانو اولیږلو نو هغوی په دې آیتونو او په الله پاک
باندې د ایمان راوړلو نه تکبر اوکړو او هغوی په بنی اسرائیل باندې د ظلم په ذریعه غلبه
حاصلونکی خلق وو پس هغوی اووئیل آیا مونږ دځان په شان دوه انسانانو باندې ایمان راوړو حال
دا چه د هغوی قوم زمونږ د حکم لاندې د فرمان لاندې او سرټیټې دی پس هغه خلقو د دې دواړو
تکذیب کولو پس آخر هلاک کړې شو او مونږ موسی علیه السلام ته کتاب تورات ورکړو د دې دپاره چه
هغوی یعنی د موسی علیه السلام قوم بنی اسرائیل د هغې په ذریعه د ګمراهئ د لارې نه د هدایت د
لارې طرف ته راشی او تورات د فرعون او د هغه د قوم د هلاکت نه روستو په یو کرت
ورکړې شوې وو او مونږ د مریم ځوئې عیسی علیه السلام او د هغه مور د خپل قدرت نخښه جوړه کړه
آیتین ئې او نه وئیلو، ځکه چه په دواړو کښې نخښه یوه ده او هغه بغیر د پلار نه د هغه
پیدائش دې او مونږ هغوی دواړو ته په یو لوړه زمکه باندې پناه ورکړه کوم چه د اوسیدو قابله وه
ربوة لوړ ځائې ته وئیلې شی او هغه بیت المقدس یا دمشق یا فلسطین دې دا (درې اقوال
دی، د (ذات قرار) مطلب دې هوار، د ځکه چه په هغې باندې اوسیدونکی اوسیدلې شی
او چینې والا یعنی په ظاهری سطح باندې جاری اوبو والا کومې چه په سترګو لیدې شی

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: (الملاء) اسم جمع دې، (الاملاء) جمع ده د سردارانو جماعت، د قوم شرفاؤ جماعت

قوله: (وَلَئِنْ أَطَعْتُمْ) دلته د قسم او شرط اجتماع ده چرته چه دا دواړه جمع شی نو د
اول جواب راوړلې شی او د ثانی جواب لره د اول په جواب باندې قیاس کولو سره حذف
کولې شی (انکم اذا لخاسرون) جوابِ قسم دې نه چه جوابِ شرط، د جوابِ شرط نه کیدو
قرینه هم دا ده چه دلته (انکم اذا لخاسرون) جمله اسمیه ده که دا جوابِ شرط وې نو په دې
باندې فاء داخلیدل ضروری وو، د دې نه هم معلومه شوه چه دا جوابِ قسم دې جواب
شرط نه دې.

قوله: (إِنَّكُمْ إِذًا) ای ان اطعتموه (لَّخَاسِرُونَ) کم د ان اسم دې او خاسرون د دې خبر دې،
لام ابتدائیه دې او اذاد ان اسم او د هغې خبر ترمینځه د مضمونِ شرط دتاکید دپاره

دې، او د اذاتنوین د جملهٔ شرطیه محذوف په عوض کښې ده لکه ﴿ یومئذ ﴾ کښې، مفسر علام هم دې ته اشاره کولو دپاره ای ان اطعتموه اضافه کړې ده په دې وخت کښې دې ته د جواب ضرورت نه وی ځکه چه دا د ماقبل د تاکید لفظی دپاره ذکر کړې شوې دې او د اعادة الشيء عرادفه د قبیل نه دې. (جمل)

قوله: ﴿ أَيَعِدُكُمْ ﴾ دا جمله مستانفه د ماقبل مضمون د تاکید دپاره راوړلې شوې ده.

قوله: ﴿ مُخْرَجُونَ ﴾ د ﴿ ان ﴾ اولی خبر دې، اذامتم مخرجون ظرف دې او د انکم عمل نه دې ځکه چه هغه مخکښې د انکم تاکید لفظی دې.

قوله: ﴿ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ ﴾ اسم فعل په معنی د ماضی، دا کلمه اکثر مکرر استعمالیږی ثانی د اول تاکید دې، چونکه په دې کښې اختلاف دې چه هیهات اسم فعل په معنی د ماضی دې یا په معنی د مصدر دې، هم دې اختلاف طرف ته اشاره کولو دپاره مفسر علام په (بعدا) باندې دوه اعرابونه لګولې دی.

سوال: هیهات ته اسم فعل ولې وئیلې شی؟ دا خو اجتماع بین الضدین معلومیږی ځکه چه کوم اسم وی هغه فعل نه وی، او کوم چه فعل وی هغه اسم نه وی؟

جواب: چونکه دا د لفظ په اعتبار سره اسم دې او هم دا وجه ده چه د دې ګردان نه راځی، په دې وجه ورته اسم وئیلې شی او د خپلې معنی او مدلول په اعتبار سره دا فعل دې په دې وجه ورته فعل وئیلې شی، د دواړو حیثیتونو رعایت کولو سره د دې نوم اسم فعل کیخودلې شوې دې، او چونکه هیهات په معنی د مصدر هم استعمالیږی په دې وجه مفسر علام اسم فعل ماض وئیلو سره د اولنۍ معنی طرف ته اشاره کړې ده او بمعنی المصدر وئیلو سره ئې د دویمې معنی طرف ته اشاره کړې ده او هم د دې دواړو معنی د وضاحت دپاره ئې په بعدا باندې دواړه اعراب لګولی دی، د فعل ماضی اعراب ئې هم لګولې دې او د مصدر هم.

د کلام خلاصه : ﴿ هیهات ﴾ اسم فعل دې ﴿ بَعُدَ ﴾ د فعل ماضی په معنی کښې د دې په فاعل کښې دوه صورتونه دی ① اول دا چه د دې فاعل په دې کښې مضمر وی او تقدیر د عبارت دا وی بَعُدَ التصدیق اوالصحة اوالوقوع لما توعدون نحو ذلك... ② او دویم صورت دا دې چه د دې فاعل ﴿ ما ﴾ وی او لام زائد وی د بیان د استبعاد دپاره.

ګویا چه وئیلې شو چه دا استبعاد د څه څیز دې؟

جواب: جواب ئې ورکړو ﴿ لما توعدون ﴾ د کوم چه تاسو سره وعده کړې شوې ده یعنی د بعث بعد الموت او بعض حضراتو وئیلی دی چه ﴿ هیهات ﴾، ﴿ البعد ﴾ په معنی د مصدر

مبتدأ او ﴿ لماتوعدون ﴾ د دې خبر، خو بعض حضراتو دې ته ضعيف وئيلی دی، په اول صورت کښې د ﴿ هيهات ﴾ محل اعراب نشته.

قوله: ﴿ مِنَ الْأَجْدَاثِ مِنَ الْقُبُورِ ﴾ ماتوعدون کښې د ما بيان دې

قوله: ﴿ يموت احياءنا ﴾ دا د يوې شبهې جواب دې چه

شبهه: دا ده چه مشرکانو خو ﴿ نموت ونحيا ﴾ اوئيل او دا خو د بعث بعد الموت اقرار دی حالانکه هغوی خو د بعث بعد الموت منکر دی؟

جواب: مفسر علام ﴿ يموت أحياءنا ﴾ وئيلو سره جواب ورکړو چه د مشرکانو قول ﴿ نموت ونحيى ﴾ مطلب دا دې چه کله مونږ مړه شو نو زمونږ اولاد خو به ژوندي اوسيږي زمونږ د اولاد ژوند داسې دې لکه زمونږ ژوند، د دې نه علاوه خو بله هيڅ طريقه هم د بعث بعد الموت نشته، بعض حضراتو دا جواب هم ورکړې دې چه په آيت کښې تقديم او تاخير دې اي نحيا ونموت.

قوله: ﴿ عَمَّا قَلِيلٍ ﴾ بعض حضراتو وئيلې دی چه ﴿ ما ﴾ زائده ده اي عن قليل من الزمان او بعض حضراتو وئيلی دی چه ﴿ ما ﴾ په معنی د ﴿ شئ ﴾ يا په معنی د ﴿ زمان ﴾ دی اي عن شئ قليل اوعن زمان قليل، عما قليل..... کښې جار مجرور د څه سره متعلق دې؟ په دې کښې درې اقوال دی ①(اول) ﴿ لَيُصْبِحُنَّ ﴾ سره متعلق دې ②(دويم) نادمين سره متعلق دی ③(دريمه) محذوف سره متعلق دې اي عما قليل ننصره چه هغه د ما قبل يعنی د انصرني: دلالت د وجې نه حذف کړې شوې دې.

قوله: ﴿ صَيْحَةُ الْعَذَابِ ﴾... کښې اضافت بيانيه دې اي صيحة العذاب والهلاك... د صيحه نه مراد عذاب دې نه چه د سيدنا جبرائيل عليه السلام چغه، ځکه چه قوم عاد د سيدنا جبرائيل عليه السلام په چغه سره نه وو هلاک شوی.

قوله: ﴿ كائنة ﴾ مفسر علام كائنة محذوف منلو سره اشاره اوکړه چه بالحق د كائنة متعلق کيدو سره د صيحة نه حال دې.

قوله: ﴿ فبعدا ﴾ د دې فعل حذف کولو سره مصدر د هغې قائم مقام کړې شوې دې د دې فعل ناصب لره حذف کول واجب دی اي فبعدوا بعدا دا کلمه د مشرکانو دپاره د بد دعا قائم مقام ده.

قوله: ﴿ ذكر الضمير الخ ﴾ يعنی يستأخرون کښې ضمير مذکر راوړلې شو حال دا چه ﴿ اجلها ﴾ کښې د ضمير مونث راوړلې دې؟ د دې جواب دا دې چه ها ضمير امة طرف ته راجع دې او د امة نه مراد قوم دې کوم چه مذکر دې هم په دې وجه په يستأخرون کښې ضمير مذکر راوړلې شوې دې.

قوله: ﴿ أحاديث ﴾ دا د احدوثة جمع ده ﴿ ما يحدثه الناس ﴾ يعنى هغه قصې كوم چه خلق وخت تيريدو او تفريح طبع د پاره اوري.

قوله: ﴿ من امة ﴾ كښې په فاعل باندې ﴿ من ﴾ زائده دې، امة د تسبق فاعل دې.

قوله: ﴿ بتحقيق الهمزتين ﴾ ① (اول صورت) دواړې همزه محقق اولولې ② (دويم صورت) اولنې همزه محقق او دويم مسهل اولولې، يعنى د همزه او واؤ ترمينځه ئې اولولې.

قوله: ﴿ جُمْلَةً وَاحِدَةً ﴾ د دې تعلق د ﴿ اوتيها ﴾ سره هم كيدې شي په دې وخت كښې به مطلب دا وى چه د فرعون د هلاكت نه روستو تورات په يو كرت وركړې شو او دا هم احتمال دې چه هلاكت فرعون او د هغه د قوم سره متعلق وى په دې صورت كښې به مطلب دا وى چه فرعون او د هغه قوم لره بالكليه د هلاكولو نه پس تورات وركړې شو.

[اياتونه: ۵۱ - ۷۷]

(يَاأَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ) الحَلَالَاتِ (وَاعْمَلُوا صَالِحًا) مِنْ فَرْض وَنَفْل (إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ) فَأُجَازِيكُمْ عَلَيْهِ (وَ) اعْلَمُوا (إِنَّ هَذِهِ) أَيْ مِلَّةَ الْإِسْلَام (أُمَّتُكُمْ) دِينُكُمْ أَيُّهَا الْمُخَاطَبُونَ أَيْ يَجِب أَنْ تَكُونُوا عَلَيْهَا (أُمَّةً وَاحِدَةً) حَال لَازِمَة وَفِي قِرَاءَة بِتَخْفِيفِ النُّون وَفِي آخرى بِكَسْرِهَا مُشَدَّدَة اسْتِئْنَافًا (وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ) فَاحْذَرُونِ (فَتَقَطَّعُوا) أَيْ الْأَتْبَاع (أَمْرَهُمْ) دِينهمْ (بَيْنَهُمْ زُبُرًا) حَال مِنْ فَاعِل تَقَطَّعُوا أَيْ أَحْزَابًا مُتَخَالِفِينَ كَالْيَهُودِ وَالنَّصَارَى وَغَيْرهمْ (كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ) أَيْ عِنْدهمْ مِنَ الدِّين (فَرِحُونَ) مَسْرُورُونَ (فَذَرْهُمْ) اُتْرُكْ كُفَّار مَكَّة (فِي غَمْرَتِهِمْ) ضَلَالَتهمْ (حَتَّى حِينٍ) إِلَى حِين مَوْتهمْ (أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهِ) نُعْطِيهِمْ (مِنْ مَالٍ وَبَنِينَ) فِي الدُّنْيَا (نُسَارِعُ) نُعَجِّل (لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ) لَا (بَلْ لَا يَشْعُرُونَ) أَنَّ ذَلِكَ اسْتِدْرَاج لَهُمْ (إِنَّ الَّذِينَ هُمْ مِنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ) خَوْفهمْ مِنْهُ (مُشْفِقُونَ) خَائِفُونَ مِنْ عَذَابه (وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِ رَبِّهِمْ) الْقُرْآن (يُؤْمِنُونَ) يُصَدِّقُونَ (وَالَّذِينَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ) مَعَهُ غَيْره (وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ) يُعْطُونَ (مَا آتَوْا) أَعْطَوْا مِنَ الصَّدَقَة وَالْأَعْمَال الصَّالِحَة (وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ) خَائِفَة أَنْ لَا تُقْبَل مِنْهُمْ (أَنَّهُمْ) يُقَدَّر قَبْله لَام الْجَرّ (إِلَى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ) (أُولَئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ) فِي عِلْم الله (وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا) طَاقَتهَا فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يُصَلِّيَ قَائِمًا فَلْيُصَلِّ جَالِسًا وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَصُوم فَلْيَأْكُلْ (وَلَدَيْنَا) عِنْدنَا (كِتَابٌ يَنْطِقُ بِالْحَقِّ) بِمَا عَمِلَتْهُ وَهُوَ اللَّوْح الْمَحْفُوظ تُسْطَر فِيهِ الْأَعْمَال (وَهُمْ) أَيْ النُّفُوس الْعَامِلَة (لَا يُظْلَمُونَ) شَيْئًا مِنْهَا فَلَا يُنْقَص مِنْ ثَوَاب أَعْمَال الْخَيْرَات وَلَا يُزَاد فِي السَّيِّئَات (بَلْ قُلُوبُهُمْ) أَيْ الْكُفَّار (فِي غَمْرَةٍ) جَهَالَة (مِنْ هَذَا) الْقُرْآن (وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِنْ دُونِ ذَلِكَ) الْمَذْكُور لِلْمُؤْمِنِينَ (هُمْ لَهَا عَامِلُونَ) فَيُعَذَّبُونَ عَلَيْهَا (حَتَّى) ابْتِدَائِيَّة (إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِمْ) أَغْنِيَاءَهُمْ وَرُؤَسَاءَهُمْ (بِالْعَذَابِ) أَيْ السَّيْف يَوْم بَدْر (إِذَا هُمْ يَجْأَرُونَ) يَضِجُّونَ يُقَال لَهُمْ (لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ إِنَّكُمْ مِنَّا لَا تُنْصَرُونَ) لَا تُمْنَعُونَ (قَدْ كَانَتْ آيَاتِي) مِنَ الْقُرْآن (تُتْلَى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُونَ) تَرْجِعُونَ الْقَهْقَرَى (مُسْتَكْبِرِينَ) عَنْ

الإيمان {بِهِ} أي بالبيت أو الحرم بأنهم أهله في أمن بخلاف سائر الناس في مواطنهم {سَامِرًا} حال أي جماعة يتحدثون بالليل حول البيت {تَهْجُرُونَ} من الثلاثي تتركون القرآن ومن الرباعي أي تقولون غير الحق في النبي والقرآن قال تعالى {أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا} أصله يتدبروا فأدغمت التاء في الدال {الْقَوْلَ} أي القرآن الدال على صدق النبي {أم جاءهم ما لم يأت آباءهم الأولين} {أم لم يعرفوا رسولهم فهم له منكرون} {أَمْ يَقُولُونَ بِهِ جِنَّةٌ} الاستفهام للتقرير بالحق من صدق النبي ومجيء الرسل للأمم الماضية ومعرفة رسولهم بالصدق والأمانة وأن لا جنون به {بَلْ} للانتقال {جَاءَهُمْ بِالْحَقِّ} أي القرآن المشتمل على التوحيد وشرائع الإسلام {وأكثرهم للحق كارهون} {وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ} أي القرآن {أَهْوَاءَهُمْ} بأن جاء بما يهوونه من الشريك والولد لله تعالى الله عن ذلك {لَفَسَدَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ} خرجت عن نظامها المشاهد لوجود التمانع في الشيء عادة عند تعدد الحاكم {بَلْ أَتَيْنَاهُمْ بِذِكْرِهِمْ} أي القرآن الذي فيه ذكرهم وشرفهم {فهم عن ذكرهم معرضون} {أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا} أجرا على ما جئتهم به من الإيمان {فخراج ربك} أجره وثوابه ورزقه {خير} وفي قراءة خرجا في الموضعين وفي قراءة أخرى خراجا فيهما {وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ} أفضل من أعطى وآجر {وَإِنَّكَ لَتَدْعُوهُمْ إِلَى صِرَاطٍ} طريق {مُسْتَقِيمٍ} أي دين الإسلام {وَإِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ} بالبعث والثواب والعقاب {عَنِ الصِّرَاطِ} أي الطريق {لَنَاكِبُونَ} عادلون {وَلَوْ رَحِمْنَاهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِنْ ضُرٍّ} أي جوع أصابهم بمكة سبع سنين {لَلَجُّوا} تمادوا {فِي طُغْيَانِهِمْ} ضلالتهم {يَعْمَهُونَ} يترددون {وَلَقَدْ أَخَذْنَاهُمْ بِالْعَذَابِ} الجوع {فَمَا اسْتَكَانُوا} تواضعوا {لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ} يرغبون إلى الله بالدعاء {حَتَّى} ابتدائية {إِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا ذَا} صاحب {عَذَابٍ شَدِيدٍ} هو يوم بدر بالقتل {إِذَا هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ} آيسون من كل خير

ترجمه: اې پيغمبرانو! پاکيزه حلال خيزونه خورئ او نيک اعمال کوئ هغه فرض او نفل دی بيشکه زه ستاسو د کړې شوو کارونو نه خبردار يم نو زه به په هغه کارونو باندې تاسو ته جزا درکړم او دا خبره ياد ساتئ چه دا يعنى ملت اسلام اې مخاطبو ستاسو دين دې يعنى ستاسو دپاره واجب ده چه تاسو په دې باندې قائم پاتې شئ حال دا دې چه هغه يوه طريقه ده دا حال لازمه دې او په يو قرات کښې ﴿ ان ﴾ د نون په تخفيف سره دې او په بل قرات کښې د همزې په کسرې او د نون په تشديد سره دې او دا د استيناف په اعتبار سره دې زه ستاسو رب يم تاسو زما نه ويرېږئ بيا هغه متبعين په خپله دينى معامله کښې په خپل مينځ کښې مختلف شو ﴿ زبرا ﴾ د تقطعوا د فاعل نه حال دې يعنى خپل مينځ کښې اختلاف کونکې ډلې شوې، لکه يهود او نصارى وغيره پس د هرې ډلې سره چه څه دى په هغې باندې خوشحال دى يعنى کوم دين چه د هغوى سره دې (هم په هغې باندې خوشحاله دى) نو ته هغوى يعنى اهل مکه لره د هغوى په ضلالت کښې د يو خاص وخت پورې پرېږده يعنى د هغوى د مرګه پورې

آیا د هغوی دا خیال دې چه مونږ هغوی ته څه مال اولاد په دنیا کښې ورکوو نو مونږ هغوی ته په فائده ورکولو کښې تندی کوو نه، بلکه دا خلق نه پوهیږی چه د هغوی دپاره مهلت دې بیشکه هغه خلق کوم چه د خپل رب د هیبت نه ویریږی یعنی د هغه د عذاب نه ویریږی او هغه خلق چه د خپل رب په آیتونو یعنی په قرآن باندې ایمان لری، یعنی تصدیق کوی او هغه خلق کوم چه د خپل رب سره یعنی هغه سره غیر لره نه شریکوی او هغه خلق ئې ورکوی څه چه ورکوی د صدقاتو نه او کوی نیک اعمال چه کوی او د هغوی زړونه د دې خبرې نه په ویره کښې وی چه چرته د هغوی دا نیکی رد نه کړې شی ځکه چه هغوی د خپل رب طرف ته واپس کیدونکی دی د ﴿ انهم ﴾ نه به مخکښې لام جر مقدر منلې شی، هم دا هغه خلق دی کوم چه په نیکو کښې تندی کوی او هم دا خلق ذ الله پاک په علم کښې د نیکو طرف ته سبقت کونکی دی، او مونږ څوک د هغه دوست نږد زیات نه مکلف کوو یعنی د هغه د طاقت نه (زیات) لهذا کوم کس چه اودریدلو سره مونځ اونکړې شی نو په ناسته دې مونځ اوکړی او کوم کس چه روژه نه شی نیولې نو نه دې نیسی. او مونږ سره یو دفتر دې چه برابر (هر هغه) کار بیانوی کوم چه چا کړې وی او هغه لوح محفوظ دې چه په هغې کښې اعمال لیکلې شی او دغه عمل کونکو باندې به د هغوی د اعمالو په باره کښې ذره برابر ظلم نه شی کولې، لهذا نه خو به د هغوی د اعمالو اجر کمولې شی او نه به د هغوی په بدو اعمالو کښې اضافه کولې شی بلکه د هغه کفارو زړونه د دې قرآن په باره کښې جهالت کښې دی او د هغه کفارو د دې مومنانو د اعمالو مذکوره په خلاف نور اعمال هم دی کوم چه هغوی کوی نو هغه (کفارو) ته به په هغه اعمالو باندې عذاب ورکولې شی، تردې چه کله مونږ د هغوی خوشحاله مالداران او سرداران په عذاب کښې یعنی په یوم بدر د تورې په عذاب کښې اونیسو نو هغوی به چغې وهی (نو) هغوی ته به اوئیلې شی، اوس چغې مه وهئ زمونږ د طرف نه به ستاسو مطلق مدد نه شی کولې، زما آیتونه به په تاسو باندې لوستلې شو نو تاسو به د ایمان نه تکبر کولو سره شاته تختیدلئ یعنی شاته به لاړئ د بیت الله یا د حرم د وجې نه ځکه چه هغوی اهل حرم وو او اهل حرم په امن کښې وو، په خلاف د نورو ټولو خلقو چه په خپلو مقاماتو کښې (غیر مامون وو) د شپې خبرې کولو سره بیهوده بکواس کونکی یعنی د جماعت په شکل کښې د بیت الله نه چاپیره جمع کیدو سره به ئې بیهوده خبرې جوړولې، ﴿ تهجرون ﴾ د ثلاثی نه د ﴿ تترکون القرآن ﴾ په معنی کښې دې او د رباعی نه ﴿ تهجرون ﴾ د ﴿ تقولون ﴾ په معنی کښې دې یعنی تاسو به د نبی او قرآن په باره کښې ناحقه خبرې کولې آیا دې خلقو دې کلام یعنی قرآن کریم کښې کوم چه د رسول اللهﷺ په صداقت باندې دلالت کوی غور نه دې کړې؟ ﴿ یدبروا ﴾ په اصل کښې ﴿ یتدبروا ﴾ وو تاء په دال کښې مدغم کړې شوه یا هغوی ته داسې یو څیز راغلې دې کوم چه د هغوی مخکښې پلارنیکه ته نه وو راغلې یا دا خلق د خپل رسولﷺ نه خبر نه وو چه د هغې په وجه باندې د هغه منکر دی یا دا

خلق ستا په باره کښې د لیونتوب قائل دی؟ ﴿افلم یدبروا﴾ کښې استفهام په حق باندې د اقرار کولو د ترغیب دپاره دې او هغه حق د رسول اللهﷺ صداقت او په امم ماضیه کښې د رسولانو راتلل او د هغوی د خپلو رسولانو د صداقت او امانت معرفت او دا چه رسول اللهﷺ مجنون نه دې بلکه (اصلی وجه دا ده) چه دا رسول هغوی ته حق خبرې سره راغلې دې یعنی د قرآن سره کوم چه په توحید او قانون اسلام باندې مشتمل دې او د هغوی اکثر خلق د حق خبرې نه نفرت کوی او که حق یعنی قرآن کریم د هغوی د خواهشاتو تابع شوې وې په داسې طریقه چه څه هغوی غوښتلې هم هغه ئې راوړلې (یعنی) د الله پاک دپاره شریک او اولاد، الله پاک د دې نه پاک دې نو اسمانونه او زمکه او څه چه په دې کښې دی دا ټول به تباه شوې وې یعنی د خپل نظام مشاهد (فطری انتظام چه په نظر راځی) نه به وتلې وې. د حکامو د تعدد په وخت کښې عادةً څیز کښې د اختلاف پیدا کیدو د وجې بلکه مونږ هغوی ته د نصیحت خبره یعنی قرآن کریم چه په هغې کښې د هغوی ذکر او شرف دې راولیږلو خو دا خلق د خپل نصیحت نه هم مخ اړوی آیا ته د هغوی نه په دې څه اجرت غواړې یعنی د ایمان په خبرو باندې کوم چه تا ددوی د پاره راوړی دی څه اجرت طلب کوې؟ نو اجرت خو ستا د رب یعنی دهغه اجر او ثواب اودهغه رزق غوره دې او په یو قراءت کښې په دواړو ځایونو کښې ﴿خرجا﴾ دې او په یو قراءت کښې په دواړو ځایونو کښې ﴿خراجا﴾ دې او هغه په ورکړه کونکو کښې د ټولو نه ښه ورکړه کونکې دې یعنی په ورکړه کونکو او اجر ورکونکو کښې د ټولو نه غوره دې ته خو هغوی نیغې لارې طرف ته یعنی دین اسلام طرف ته راغواړې او د هغه خلقو چه په آخرت باندې یعنی په بعث او ثواب او عقاب ایمان نه لری دا حالت دې چه (د نیغې) لارې نه اوړی او که مونږ په هغوی باندې مهربانی اوکړو او په هغوی چه کوم تکلیف دې یعنی هغه قحط کوم چه اووه کاله په مکه مکرمه کښې په هغوی باندې راغلې وو لرې کړو نو دغه خلق به په خپله ګمراهئ کښې سرګردانه اصرار کوی او مونږ هغوی د قحط په عذاب کښې ګرفتار کړې هم دی خو دې خلقو نه د خپل رب مخکښې عاجزی تواضع اختیار کړه او نه ئې تضرع اوکړه، یعنی نه ئې په دعا کښې د الله پاک طرف ته رغبت اوکړه تردې چه کله مونږ په هغوی باندې د قتل په ذریعه د عذاب شدید دروازه پرانستله نو ناڅاپه په هغه ورځ کښې د هر یو خیر نه نا امیده شو.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ﴿يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ﴾ په دې آیت کریمه کښې اګرچه په ظاهره خطاب محمدﷺ ته دې خو مراد ترې هر یو نبی دې، یعنی هر یو نبی ته د هغه په زمانه کښې هم دا حکم وو.

قوله: ﴿بَل لَّا يَشْعُرُونَ﴾ دا د ﴿یحسبون﴾ نه اضراب دې یعنی د هغوی خیال غلط دې بلکه حقیقت دا دې چه هغوی نه پوهیږی.

قوله: ﴿ إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً ﴾ مفسر علام ﴿ اعلموا ﴾ مقدر منلو سره اشاره اوکړه چه ﴿ان﴾ د همزې په فتحې سره دې او ﴿ هذه ﴾ د ان اسم دې او امتکمرئې خبر دې او امة حال لازمه دې او واحدةئې صفت لازمه دې او په يو قرا ءت کښې په تخفيف د نون او فتحې د همزې سره دې يعنى مخففه عن المثقله دې د دې اسم ضمير شان محذوف دې، او په يو بل قراءت کښې ان نون مشدده او د همزې په کسرې سره دې په دې صورت کښې به دا جمله مستانفه وی په جمله مستانفه باندې د عطف د وجې نه، ځکه چه معطوف على المستانفه، مستانفه وی.

قوله: ﴿ أَمْرَهُمْ ﴾ دا د تقطعوا په معنى د قطعوامفعول دې، لکه تقدمرچه په معنى د قدمرا ځى اى جعلوا دينهم اديانا مختلفة.

قوله: ﴿ زُبُرًا ﴾ دا د زبور جمع ده په معنى د فريق، د اوسپنې ټکړه د ﴿ تقطعوا ﴾ د فاعل نه حال دې يا د دې مفعول دې.

قوله: ﴿ فِى غَمْرَتِهِمْ ﴾ دا د فذرهم مفعول ثانى دې، اى اترکهم مستقرين فى غمرتهم

قوله: ﴿ أَنَّمَا نُمِدُّهُم ﴾ ما موصوله ده ځکه چه من مال وبنين د دې بيان وړاندې راځى دا د ما د موصوله کيدو دليل دې لهذا مالره د ان نه جدا کولو سره ليکل پکار دى خو مصحف امام (مصحف عثمانى) د رسم الخط اتباع کولو سره ﴿ ان ﴾ لره د ما سره متصل کړې شو دا ﴿ ما ﴾ د ان اسم دې او ﴿ نسارع ﴾ جمله خبر دې او د رابطه ضمير محذوف دې. اى به

قوله: ﴿ إِنَّ الَّذِينَ هُم مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ﴾ الذين د ان اسم دې، هم مبتدأ ده، مشفقون د مبتدأ خبر دې، من خشية ربهم د مشفقون سره متعلق دې، هم مبتدأ د خپل خبر مشفقون سره صله شوه د موصول، موصول د خپلې صلې سره د ﴿ ان ﴾ اسم دې، هم دغه شان اننده راتلونکى څلور واړه موصول د ﴿ ان ﴾ اسم دى او ﴿ اولئك يسارعون فى الخيرات ﴾ جمله د ان خبر دې.

قوله: ﴿ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ ﴾ ﴿ يعطون ما اعطوا ﴾ عام مفسرين دا رائې لرى چه ﴿ يؤتون ﴾ د ايتاء نه دې اى يعطون ما اعطوا، ابن عباس او عائشه رضي الله عنهم وغيره فرمائى چه يؤتون ما اتوا د اتيان نه دې اى يفعلون ما فعلوا من الاعمال الصالحات... مفسر علام د دواړو معنو رعايت کولو سره د ﴿ ما ﴾ په بيان کښې دووه الفاظ ذکر کړى دى، من الصدقة تعلق د عام مفسرينو د معنى په اعتبار سره او د اعمال صالحه تعلق د سيدنا ابن عباس رضي الله عنه او د عائشې رضي الله عنها د قراءت سره دې.

قوله: ﴿ وَجِلَةٌ ﴾ حال دې د ﴿ يؤتون ﴾ د ضمير نه.

قوله: ﴿ يُقَدَّرُ قَبْلَهُ لَامُ الْجَرِّ ﴾ د ﴿ انهم ﴾ نه مخکښې به لام جر مقدر منلې شي د څکه چه د ﴿وجلة﴾ علت شي يعنې د هغوی زړونه په دې وجه ويريږي چه هغوی به د خپل رب طرف ته واپس کيږي.

قوله: ﴿ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ﴾ دا په اصل کښې ﴿ وهم سابقون لها ﴾ وو د فواصل د رعايت دپاره ﴿ لها ﴾ مقدم کړې شو، دا جمله مبتدأ او خبر دی، ﴿ وهم لايظلمون ﴾ هم ضمير د نفس طرف ته راجع دې کوم چه په ﴿ لانكلف نفسا ﴾ کښې دې نفس چونکه د نفی د لاندې واقع دې چه د هغې د وجې نه عموم مراد دې چه په هغې کښې دننه د جمع معنی ده، په دې وجه ﴿ وهم لا يظلمون ﴾ کښې د جمع صيغه راوړل صحيح دی.

قوله: ﴿ وَلَهُمْ ﴾ الخ اي للكفار اعمال خبيثة من دون ذلك الاعمال المذكورة للمومنين ... قتاده وئيلی دی چه د ﴿ لهم ﴾ ضمير مرجع مسلمانان دی يعنې د مومنانو دپاره د اعمال مذکوره نه علاوه نور هم نيک اعمال دی کوم چه هغوی کوی، بغوی وئيلې دی چه اوله معنی زياته ظاهره ده.

قوله: ﴿ حَتَّى ابْتِدَائِيَّةٌ ﴾ يعنې د دې نه روستو د کلام ابتداء شوې ده.

قوله: ﴿ إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِمْ ﴾ شرط دې ﴿ اذا هم يجارون ﴾ د دې جزاء اذا مفاجاتيه ده په معنی د فاء ده، تقدير د عبارت داسې دې : حتى اذا اخذنا مترفيهم بالعذاب فجاروا بالصراخ ... يجارون مضارع جمع مذکر غائب (فتح) جئرابې قراره کيدو سره فرياد کول، د غوا غوئی چغې وهل، ﴿ تنكصون ﴾ مضارع جمع مذکر حاضر دې ﴿ نكوص ﴾ گرځيدل، واپس کيدل.

قوله: ﴿ مُسْتَكْبِرِينَ بِهِ ﴾ جار مجرور د مستكبرين سره متعلق دې، باء سببيه ده يا سامرا سره متعلق دې، يا په معنی د فی ده د به مرجع يا قرآن کريم دې کوم چه د كانت آياتي نه مفهوم دې يا د دې مرجع بيت الله يا حرم دې، اگر چه د دې په سابق کښې ذکر نشته خو په بيت الله او حرم باندې د هغوی فخر او استکبار دومره مشهور وو چه د نه مذکور کيدو په صورت کښې به هم مذکور گنړلې کيدو.

قوله: ﴿ مُسْتَكْبِرِينَ سَامِرًا تَهْجُرُونَ ﴾ دا درې واړه د ﴿ تنكصون ﴾ د ضمير نه حال دې، د مفسر علام دپاره زياته غوره دا وه چه ﴿ حال ﴾ ئې د ﴿ تهجرون ﴾ نه روستو ذکر کړې وې او د ﴿ حال ﴾ په ځائې ئې احوال فرمائيلې وې.

قوله: ﴿ بِأَنَّهُمْ أَهْلُهُ ﴾ باء سببيه ده، د بيانِ علت دپاره يعنې د ايمان نه به ئې استکبار کولو دا علت او دليل بيانولو سره چه مونږ د بيت الله منتظمين او متوليان يو.

قوله: ﴿ أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ ﴾ همزه په محذوف باندې داخله ده او فاء عاطفه ده تقدير د

عبارت دا دي ﴿ اعوالملم بدبروا ﴾ ایا دا خلق د قدرت د نخښو نه رانده شوی دی چه (په هغې کښې) غور او فکر نه کوی.

قوله: ﴿ عادة ﴾ دلته مناسب دا وه چه د ﴿ عادة ﴾ په ځائې ئې ﴿ عقلا ﴾ وئیلې وې، ځکه چه د مشرک وجود د عالم د فساد عقلا مقتضی دې نه عادة.

قوله: ﴿ لَلَجُّوا ﴾ دا د لوجواب دې.

قوله: ﴿ مُبْلِسُونَ ﴾ دا د ﴿ ابلاس ﴾ نه مشتق دې د دې ده معنی نا امید کیدل، هم د دې نه ابلیس دې چه هغه هم د الله پاک د رحمت نه نا امیده شوې دې.

[ایاتونه: ۷۸-۹۲]

﴿وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَ﴾ خَلَقَ ﴿لَكُمُ السَّمْعَ﴾ بِمَعْنَى الْأَسْمَاعِ ﴿وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ﴾ الْقُلُوب ﴿قَلِيلًا مَّا﴾ تاكِيد لِلقِلَّةِ ﴿تشكرون﴾ ﴿وَهُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ﴾ خَلَقَكُمْ ﴿فِي الْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾ تبعثون ﴿وَهُوَ الَّذِي يُحْيِي﴾ بِنَفْخِ الرُّوحِ فِي الْمُضْغَةِ ﴿وَيُمِيتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ﴾ بِالسَّوَادِ وَالْبَيَاضِ وَالزِّيَادَةِ وَالنُّقْصَانِ ﴿أَفَلَا تَعْقِلُونَ﴾ صُنْعَه تَعَالَى فَتَعْتَبِرُونَ ﴿بل قالوا مثل ما قال الأولون﴾ ﴿قالوا﴾ اي الاولون ﴿أئذا متنا وكنا ترابا وعظاما أئنا لَمَبْعُوثُونَ﴾ لا وَفِي الْهَمْزَتَيْنِ فِي الْمَوْضِعَيْنِ التَّحْقِيق وَتَسْهِيل الثَّانِيَة وَإِدْخَال أَلِف بَيْنهمَا عَلَى الْوَجْهَيْنِ ﴿لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَآبَاؤُنَا هَٰذَا﴾ أَيْ الْبَعْث بَعْد الْمَوْت ﴿مِن قَبْلُ إِنْ﴾ مَا ﴿هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ﴾ أَكَاذِيب ﴿الْأَوَّلِينَ﴾ كَالْأَضَاحِيكِ وَالْأَعَاجِيب جَمْع اسطورة بالضم ﴿قُل﴾ لَهُمْ ﴿لِّمَنِ الْأَرْضُ وَمَن فِيهَا﴾ مِنَ الْخَلْق ﴿إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ خالِقهَا وَمَالِكهَا ﴿سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ﴾ لَهُمْ ﴿أَفَلَا تَذَكَّرُونَ﴾ بِإِدْغَامِ التَّاء الثَّانِيَة فِي الذَّال تَتَّعِظُونَ فَتَعْلَمُونَ أَنَّ الْقَادِر عَلَى الْخَلْق ابْتِدَاء قَادِر عَلَى الْإِحْيَاء بعد الموت ﴿قل من رب السماوات السبع ورب العرش العظيم﴾ الكرسي ﴿سيقولون الله قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ﴾ تَحْذَرُونَ عِبَادَة غَيْره ﴿قل من بيده ملكوت﴾ ملك ﴿كل شيء﴾ وَالتَّاء لِلْمُبَالَغَةِ ﴿وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ﴾ يحمي ولا يحمى عليه ﴿إن كنتم تعلمون﴾ ﴿سيقولون الله﴾ وَفِي قِرَاءَة لِلَّهِ بِلَامِ الْجَرّ فِي الْمَوْضِعَيْنِ نَظَرًا إِلَى أَنَّ الْمَعْنَى مَنْ لَهُ مَا ذُكِرَ ﴿قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ﴾ تُخْدَعُونَ وَتُصْرَفُونَ عَنْ الحق عبادة الله وَحْده أَيْ كَيْفَ تَخَيَّلَ لَكُمْ أَنَّهُ باطل ﴿بَلْ أَتَيْنَاهُم بِالْحَقِّ﴾ بِالصِّدْقِ ﴿وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ﴾ فِي نفيه وهو ﴿مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَٰهٍ إِذًا﴾ أَيْ لَوْ كَانَ مَعَهُ إِلَه ﴿لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهٍ بِمَا خَلَقَ﴾ انْفَرَدَ بِهِ وَمَنَعَ الْآخَر مِنَ الِاسْتِيلَاء عَلَيْهِ ﴿وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ مُغَالَبَة كَفِعْلِ مُلُوك الدُّنْيَا ﴿سُبْحَانَ اللَّهِ﴾ تَنْزِيهًا لَهُ ﴿عَمَّا يَصِفُونَ﴾ هُ بِهِ مِمَّا ذُكِرَ ﴿عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ﴾ مَا غَابَ وَمَا شُوهِدَ بِالْجَرِّ صِفَة وَالرَّفْع خَبَر هُوَ مُقَدَّرًا ﴿فَتَعَالَىٰ﴾ تَعَظَّمَ ﴿عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ مَعَهُ

ترجمه: هغه داسې ذات دې چا چه ستاسو غوږونه جوړ کړې دی سمع په معنی د اسماع او سترګې او زړونه ئې جوړ کړل تاسو ډیر کم شکر کوئ ما د قلت د تاکید دپاره ده او هغه ذات دې چه هغه تاسو د خاورې نه پیدا کړئ او هم د هغه طرف ته به تاسو جمع کولې شئ، یعنی د مرګ نه روستو

به ژوندی کولې شئ او هغه داسې ذات دې چه د غوبنې په تکړه کښې روح پوکلو سره تاسو ته حيات درکوی او مرګ درکوی او د تور والی او سپين والی، زيادت او نقصان په ذريعه د شپې او ورځې بدلول هم دهغه په اختيار کښې دی نو آيا تاسو د الله پاک په صنعت باندې نه پوهيږئ؟ چه عبرت ترې حاصل کړئ. بلکه دوی هم هغه شان خبره کوی څنګه چه به وړاندې خلقو کوله اولنو خلقو داسې اووئيل آيا چه کله مونږ مړه شو او خاورې او هډوکی شو نو ايا مونږ به دوباره ژوندی کولې شو؟ نه، او همزه دواړو ځايونو کښې د تحقيق دپاره ده او د ثانی همزه تسهيل دې، او د دواړه همزو ترمينځه په دواړو صورتونو کښې الف داخلول دی د دې خو مونږ سره او زمونږ د مشرانو سره وعده کيږی يعنی د بعث بعد الموت دا هيڅ هم نه دی صرف بې سنده دروغ خبرې دی کومې چه د مخکښې خلقو نه منقول راروانې دی لکه د خندا او تعجب خبرې اساطير د اسطورة جمع ده د همزې په ضمې سره،، ته د هغوی نه تپوس اوکړه چه دا زمکه او په دې کښې چه کوم مخلوق دې دا د چا ملک دې که تاسو د دې خالق او مالک پيژنئ نو هغوی به درته ضرور دا وائی چه د الله پاک په ملک کښې دی نو هغوی ته اوايئ چه بيا تاسو ولې غور نه کوئ ﴿ تذکرون ﴾ (په اصل کښې تتذکرون وو) تاء ثانيه ذال کړې شو او ذال په ذال کښې مدغم کړې شو ﴿ تذکرون ﴾شو ، د دې دپاره چه تاسو پوهه شئ چه کوم ذات ابتداء په پيدا کولو باندې قادر دې هغه د مرګ نه پس په ژوندی کولو باندې قادر دې ته د هغوی نه دا تپوس هم اوکړه چه د دې اووه اسمانونو او عرش عظيم کرسئ مالک څوک دې؟ نو هغوی به ضرور دا جواب درکوی چه دا هم د الله پاک دی . (دغه وخت) اوايه چه بيا تاسو د غير الله د بندګئ نه ولې نه بچ کيږئ؟ ته هغوی ته دا هم اوايه چه هغه ذات څوک دې چه د هغه په لاس کښې د ټولو څيزونو اختيار دې ملکوت کښې تاء د مبالغې دپاره ده هغه پناه ورکوی او د هغه په مقابله کښې څوک هم چاته پناه نه شی ورکولې. يعنی هغه حمايت کوی د هغه په مقابله کښې حمايت نه شی کيدلې، که تاسو ته څه خبر وی؟نو هغوی به ضرور هم دا وائی (چه د دې صفاتو مالک) الله پاک دې او په يو قراءت کښې د الله په ځائې ﴿ لله ﴾دې د لام په جر سره به دواړو ځايونو کښې د دې خبرې طرف ته نظر کولو سره چه د ﴿ من بيده ﴾معنی د ﴿ من له ماذکر ﴾ده نو ته (هغه وخت) اوايه چه بيا په تاسو باندې څنګه جادو اوکړې شی؟ يعنی په دهوکه کښې پريوتلی يئ او حق يعنی د الله پاک د عبادت نه اوړئ يعنی تاسو دا تصور څنګه کوئ چه دا هر څه باطل دی بلکه مونږ هغوی ته رښتينی خبره رسولې ده او يقينا دا پخپله دروغژن دی د دې رښتينې خبرې په نفی کولو کښې او هغه رښتينې خبره کومه چه مونږ رسولې ده هغه دا ده چه الله پاک هيڅ څوک اولاد نه دې نيولې او نه دهغه سره څوک معبود شته ګنې که د هغه سره بل څوک معبود وې نو هر معبود به خپل مخلوق جدا کړې وې يعنی خپله

به يواځې د هغې مالک شوې وې او بل به ئې په هغې باندې د غلبې کولو نه منع کړلې، او په يو بل باندې به ئې حمله کړې وې د غلبې د حصول دپاره څنګه چه د دنيا بادشاهان کوی الله پاک د دې ټولو ذکر شوې خبرو نه پاک دې کومې چه دوی بيانوی، د پټو او ښکاره څيزونو پيژندونکې دې کوم چه غائب دی او کوم چه ظاهر دی د ﴿ عالم ﴾ په جر سره د لفظ الله صفت دې او په رفع سره د هومبتدأ محذوف خبر دې غرضهدا چه د هغه څيزونو نه بالاتر دې کوم چه د دوی د هغه سره شريک کوی.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: ﴿ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴾ د دوی د قلت د تاکيد دپاره ده کوم چه د ﴿ قليلا ﴾ د تنوين تنکير نه مستفاد دې او ﴿ قليلا ﴾ د مفعول مطلق صفت کيدو د وجې نه منصوب دې د دې د عبارت تقدير دا دې ﴿ اى تشكرون شكرا قليلا ﴾ او دا د عدم شکر نه کنايه ده څکه چه قلت د عدم په معنی کښې هم مستعمل دې او هم دا معنی د کفارو د حال سره زياته مناسب ده.

قوله: ﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ همزه په محذوف باندې داخله ده، فاء عاطفه ده ﴿ اى اغفلتم فلا تعقلون ان القادر على انشاء الخلق قادر على اعادتهم بعد الموت ﴾

قوله: ﴿ بل قالوا ﴾ اى كفار مكة ... دا د محذوف نه اضراب انتقالی دې. د عبارت تقدير داسې دې ﴿ فلم يعتبروا بل قالوا ﴾ ابو سعود وئيلې دی چه د بل قالوا عطف په مقدر دې اى فلم يعقلوا بل قالوا.

قوله: ﴿ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَآبَاؤُنَا ﴾ د اباؤنا عطف د وعدنا په ضمير متصل باندې دې او قاعده دا ده چه که په ضمير مرفوع متصل باندې عطف کول وی نو د ضمير منفصل په ذريعه باندې تاکيد ضروری وی خو دلته چونکه د ﴿ نحن ﴾ فصل راغلې دې کوم چه د ضمير منفصل قائم مقام دې لهذا عطف صحيح شو، ﴿ هذا ﴾ د ﴿ وعدنا ﴾ مفعول ثانی دې او ﴿ نا ﴾ ضمير د هغې نائب فاعل دې د عبارت تقدير داسې دې چه ﴿ وعدنا الان محمد صلى الله عليه وسلم بالبعث وعد غيره اباءنا من قبلنا به ﴾

قوله: ﴿ لا ﴾ دا دې خبرې ته اشاره ده چه ﴿ ءاذا متنا ﴾ کښې همزه د استفهام انکاری ده.

قوله: ﴿ ان كنتم تعلمون ﴾ شرط دې د دې جواب محذوف دې اى ان كنتم تعلمون فاخبرونى بخالقها.

قوله: ﴿ ملكوت ﴾ په دې کښې واو او تاء د مبالغې دپاره زيات کړې شوی دی لکه په ﴿ رحموت ﴾ کښې.

قوله: ﴿ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ ﴾ په على سره تعديه د نصرت معنی لره د متضمن کيدو د وجې نه ده.

قوله: ﴿ نظرا إِلَى أَنَّ الْمَعْنَى مَنْ لَهُ ﴾ لفظ د الله پورته په درې ځايونو کښې واقع شوې دې

اول ځائې کښې د لام جر سره متعين دي ځکه چه په سوال کښې لام ظاهر دې يعنى ﴿ قل لمن الارض ومن فيها ﴾ لهذا په جواب کښې يعنى ﴿ سيقولون لله ﴾ کښې هم لام لره ظاهرول متعين دى، په دويم مقام باندې د معنى د رعايت کولو د وجې لام ظاهروى او د لفظ د رعايت د وجې نه لام حذف کوى ځکه چه د سوال الفاظ دا دى ﴿ قل من رب السموات الاية ﴾ نو په دې وخت کښې به جواب ﴿ لله ﴾ واقع وى، هم دغه شان په دريم مقام باندې ﴿ قل من بيده ملكوت كل شئ ﴾ که د سوال د لفظ رعايت اوکړې شى نو لام به حذف وى او که د سوال د معنى رعايت اوکړې شى نو لام به ظاهر وى، ځکه چه معنى دا ده ﴿ لمن ملكوت كل شئ ﴾ خلاصه دا ده چه په دې درې واړو مقامونو کښې په اولنى مقام کښې د لام جر اظهار متعين دې او په روستو دواړو مقاماتو کښې به د سوال د لفظ د رعايت د وجې حذف د لام وى او د معنى د رعايت د وجې به اظهار د لام وى يعنى اظهار او حذف دواړه جائز دى.

قوله: ﴿ تُخۡدَعُونَ ﴾ د ﴿ تسحرون ﴾ تفسير په ﴿ تخدعون ﴾ سره کولو کښې دې خبرې ته اشاره ده چه ﴿ تسحرون ﴾ مجازا د ﴿ تخدعون ﴾ په معنى کښې دې.

قوله: ﴿ وَتُصۡرَفُونَ عَنِ الحق عبادة الله ﴾ عبادة الله د حق نه بدل دې هم په دې وجه عبادة الله مجرور دې.

قوله: ﴿ كَيۡفَ تُخَيَّلَ لَكُمۡ ﴾ په کښې دې خبرې ته اشاره ده چه ﴿ انى ﴾ د ﴿ كيف ﴾ په معنى ده او ﴿ تسحرون ﴾ د ﴿ تخيل ﴾ په معنى دې.

قوله: ﴿ مِنۡ وَلَدٍ ﴾ کښې ﴿ من ﴾ په مفعول باندې زائد دې، او ﴿ من اله ﴾ کښې ﴿ من ﴾ د ﴿ كان ﴾ په اسم باندې زائد دې.

قوله: ﴿ إِذًا ﴾ اى لوكان معه اله لذهب (الاية) اذانه پس د لوكان معه اضافه د يو سوال مقدر جواب دې، سوال دا دې چه ﴿ اذا ﴾ په داسې کلام باندې داخليږى چه کوم په شرط او جزا باندې مشتمل وى او دلته ﴿ لذهب ﴾ صرف جزا ده؟ جواب دا دې چه شرط محذوف دې چه د هغې طرف ته شارح په ﴿ لوكان معه اله ﴾ محذوف منلو سره اشاره کړې ده، ﴿ اذا ﴾ په معنى د ﴿ لو ﴾ امتناعيه دې.

قوله: ﴿ ما ذكر ﴾ اى من الاولاد والانداد.

قوله: ﴿ عَالِمِ الۡغَيۡبِ ﴾ په جر سره دې د لفظ الله نه بدل يا صفت واقع کيدو د وجې نه او که ﴿ عالم الغيب ﴾ په رفع سره اولوستلې شى نو د هومبتدأ محذوف خبر به وى.

قوله: ﴿ فتعالى ﴾ د دې عطف د ماقبل په معنى باندې دې، اى علم الغيب فتعالى عما يشركون.

....

[آیاتِ نمبر: ۹۳-۱۱۸]

(قُلْ رَّبِّ إِمَّا) فِيهِ إدْغَام نُون إنْ الشَّرْطِيَّة فِي مَا الزَّائِدَة (تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ) هـ مِنَ الْعَذَاب هُوَ صَادِق
بِالْقَتْلِ بِبَدْر (رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِي فِي الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ) فَأُهْلَك بِإِهْلَاكِهِمْ (وَإِنَّا عَلَى أَنْ نُرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَادِرُونَ)
(ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ) أَيْ الْخَصْلَة مِنَ الصَّفْح وَالْإِعْرَاض عَنْهُمْ (السَّيِّئَةَ) أَذَاهُمْ إيَّاكَ وَهَذَا قَبْل الْأَمْر
بِالْقِتَالِ (نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ) يَكْذِبُونَ وَيَقُولُونَ فَنُجَازِيهِمْ عَلَيْهِ (وَقُلْ رَّبِّ أَعُوذُ) أَعْتَصِم (بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ
الشَّيَاطِينِ) نَزَغَاتهمْ بِمَا يُوَسْوِسُونَ بِهِ (وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ) فِي أُمُورِي لِأَنَّهُمْ إنَّمَا يَحْضُرُونَ
بِسُوءٍ (حَتَّى) ابْتِدَائِيَّة (إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ) وَرَأَى مَقْعَده مِنَ النَّار وَمَقْعَده مِنَ الْجَنَّة لَوْ آمَنَ (قَالَ رَبِّ
ارْجِعُونِ) الْجَمْع لِلتَّعْظِيمِ (لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا) بِأَنْ أَشْهَد أَنْ لَا إلَه إلَّا اللَّه يَكُون (فِيمَا تَرَكْتُ) ضَيَّعْت مِنْ
عُمْرِي أَيْ فِي مُقَابَلَته قَالَ تَعَالَى (كَلَّا) أَيْ لَا رُجُوع (إِنَّهَا) أَيْ رَبِّ ارْجِعُونِ (كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا) وَلَا فَائِدَة لَهُ
فِيهَا (وَمِنْ وَرَائِهِمْ) أَمَامهمْ (بَرْزَخٌ) حَاجِز يَصُدّهُمْ عَنِ الرُّجُوع (إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ) وَلَا رُجُوع بَعْده (فَإِذَا نُفِخَ
فِي الصُّورِ) الْقَرْن النَّفْخَة الْأُولَى أَوْ الثَّانِيَة (فَلَا أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ) يَتَفَاخَرُونَ بِهَا (وَلَا يَتَسَاءَلُونَ) عَنْهَا
خِلَاف حَالهمْ فِي الدُّنْيَا لِمَا يَشْغَلهُمْ مِنْ عِظَم الْأَمْر عَنْ ذَلِكَ فِي بَعْض مَوَاطِن الْقِيَامَة وَفِي بَعْضهَا يُفِيقُونَ
وَفِي آيَة (فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ) (فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ) بِالْحَسَنَاتِ (فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)
الْفَائِزُونَ (وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ) بِالسَّيِّئَاتِ (فَأُولَئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ) فَهُمْ (فِي جَهَنَّمَ خَالِدُونَ) (تَلْفَحُ
وُجُوهَهُمُ النَّارُ) تُحْرِقهَا (وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ) شُمِّرَتْ شِفَاههمْ الْعُلْيَا وَالسُّفْلَى عَنْ أَسْنَانهمْ وَيُقَال لَهُمْ (أَلَمْ
تَكُنْ آيَاتِي) مِنَ الْقُرْآن (تُتْلَى عَلَيْكُمْ) تُخَوَّفُونَ بِهَا (فَكُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُونَ) (قَالُوا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا) وَفِي
قِرَاءَة شَقَاوَتنَا بِفَتْحِ أَوَّله وَأَلِف وَهُمَا مَصْدَرَانِ بِمَعْنَى (وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ) عَنِ الْهِدَايَة (رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ
عُدْنَا) إلَى الْمُخَالَفَة (فَإِنَّا ظَالِمُونَ) (قَالَ) لَهُمْ بِلِسَانِ مَالِك بَعْد قَدْر الدُّنْيَا مَرَّتَيْنِ (اخْسَئُوا فِيهَا) ابْعُدُوا
فِي النَّار أَذِلَّاء (وَلَا تُكَلِّمُونِ) فِي رَفْع الْعَذَاب عَنْكُمْ فَيَنْقَطِع رَجَاؤُهُمْ (إِنَّهُ كَانَ فَرِيقٌ مِنْ عِبَادِي) هُمْ
الْمُهَاجِرُونَ (يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ) (فَاتَّخَذْتُمُوهُمْ سُخْرِيًّا) بِضَمِّ السِّين
وَكَسْرهَا مَصْدَر بِمَعْنَى الْهُزْء مِنْهُمْ بِلَال وَصُهَيْب وَعَمَّار وَسَلْمَان (حَتَّى أَنْسَوْكُمْ ذِكْرِي) فَتَرَكْتُمُوهُ
لِاشْتِغَالِكُمْ بِالِاسْتِهْزَاءِ بِهِمْ فَهُمْ سَبَب الْإِنْسَاء فَنُسِبَ إلَيْهِمْ (وَكُنْتُمْ مِنْهُمْ تَضْحَكُونَ) (إِنِّي جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ
النَّعِيم الْمُقِيم (بِمَا صَبَرُوا) عَلَى اسْتِهْزَائِكُمْ بِهِمْ وَأَذَاكُمْ إيَّاهُمْ (أَنَّهُمْ) بِكَسْرِ الْهَمْزَة (هُمُ الْفَائِزُونَ)
بِمَطْلُوبِهِمْ اسْتِئْنَاف وَبِفَتْحِهَا مَفْعُول ثَانٍ لِجَزَيْتُهُمْ (قَالَ) تَعَالَى لَهُمْ بِلِسَانِ مَالِك وَفِي قِرَاءَة قُلْ (كَمْ لَبِثْتُمْ
فِي الْأَرْضِ) فِي الدُّنْيَا وَفِي قُبُوركُمْ (عَدَدَ سِنِينَ) تَمْيِيز (قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ) شَكُّوا فِي ذَلِكَ
وَاسْتَقْصَرُوهُ لِعِظَمِ مَا هُمْ فِيهِ مِنَ الْعَذَاب (فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ) أَيْ الْمَلَائِكَة الْمُحْصِينَ أَعْمَال الْخَلْق (قَالَ)
تَعَالَى بِلِسَانِ مَالِك وَفِي قِرَاءَة قُلْ (إِنْ) أَيْ مَا (لَبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا لَوْ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ) مِقْدَار لُبْثكُمْ مِنَ
الطُّول كَانَ قَلِيلًا بِالنِّسْبَةِ إلَى لُبْثكُمْ فِي النَّار (أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا) لَا لِحِكْمَةٍ (وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا

تُرْجَعُونَ﴾ بالبناء لِلْفَاعِلِ وَلِلْمَفْعُولِ لا بل لتتعبدكم بالأمر والنهي ترجعوا إلينا ونجازي على ذلك ﴿وما خلقت الجن والإنس إلا ليعبدون﴾ ﴿فَتَعَالَى اللَّهُ﴾ عَنِ الْعَبَثِ وَغَيْرِه مِمَّا لا يَلِيقُ بِهِ ﴿الْمَلِكُ الْحَقُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ رب العرش الكريم﴾ الكرسي هو السرير الحسن ﴿وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ﴾ صِفَةٌ كَاشِفَةٌ لا مَفْهُوم لَهَا ﴿فَإِنَّمَا حِسَابُهُ﴾ جَزَاؤُهُ ﴿عِنْدَ رَبِّهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ﴾ لا يَسْعَدُونَ ﴿وَقُلْ رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ﴾ الْمُؤْمِنِينَ فِي الرَّحْمَةِ زِيَادَةٌ عَنِ الْمَغْفِرَةِ ﴿وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ﴾ أَفْضَلُ رَاحِمٍ

ترجمه: ته دعا اوکړه چه اې زما ربه اما په اصل کښې ﴿ ان ما ﴾ وو د ﴿ ان ﴾ شرطيه نون په ما زائده کښې مدغم کړې شو د کوم عذاب چه د دې کفارو سره وعده کړې شوې ده که هغه ته ماته اوښايئ نو اې زما ربه ما په دې ظالمانو خلقو کښې شامل نه کړې چه زه د هغوی سره هلاک کړې شم او هغه وعده (غزوة) بدر کښې د قتل په ذريعه صادقه شوه او مونږ په دې خبره باندې قادر يو چه کومه وعده د هغوی سره کوؤ هغه تاته اوښايو ته د هغوی د بدو يعنی د هغوی د ضرر درکولو دفعه په داسې طريقه کوه چه ډيره ښه وی يعنی د هغوی نه د عفو او معاف کولو د خصلت په ذريعه او دا د (عفو او بخښنې) حکم د جهاد د اجازت نه مخکښې دې مونږ ته ښه معلومه ده چه دوی څه وائی يعنی تکذيب کوی او خبرې جوړوی مونږ به هغوی ته سزا ورکړو او ته داسې دعا کوه چه اې زما ربه زه ستا په پناه کښې راځم د هغه شيطانی خيالاتو نه چه دوی کومو په ذريعه هغوی وسوسه اچوی او اې زما ربه زه پناه غواړم د دې نه چه شيطانان ماته راشی يعنی زما په کارونو کښې دخل اوکړی څکه چه هغوی په بدئ سره راځی تردې چه کله په هغوی کښې د چا مرګ راشی حتی ابتدائيه ده او هغه د دوزخ خپله ټهکانه او د جنت خپله ټهکانه که ايمان راوړلې وی اوينی نو (هغه وخت به) وائی اې زما ربه ته ما واپس کړه ارجعون د جمع صيغه د تعظيم دپاره ده د دې دپاره چه دنيا ما پريخودلې ده هغې ته واپس تلو سره نيکی اوکړم يعنی د لا اله الا الله شهادت ورکړم چه زما دا شهادت د مافات کمې پوره کړی يعنی کوم عمر چه ما ضائع کړې دې د هغې عوض شی، الله پاک به اوفرمائی هرګز داسې نه شی کيدې يعنی واپسی نه شی کيدې بيشکه دا يعنی رب ارجعون يوه داسې کلمه ده کومه چه هغه وائی او د دې خبرې بار بار کولو کښې د هغه هيڅ فائده نشته او د دې خلقو مخې ته يوه پرده ده کومه چه د هغوی د واپسئ نه مانع ده د قيامت د ورځې پورې. او د هغې نه روستو رجوع نشته بيا به په شپيلئ کښې پوکې اوکړې شی يعنی ښکر (پشان يو څيز کښې) اوله نفخه يا ثانيه نو په دغه ورځ باندې به د هغوی ترمينځه رشتې او تعلقات چه په هغې باندې به دې خلقو فخر کولو باقی پاتې نه شی او نه به د رشتو او تعلقاتو باره کښې تپوس کوی به خلاف د دنيا چه هلته د هغوی حالت بدل وو، څکه چه د يو امر عظيم به د قيامت په بعض مواقع کښې هغوی د دې تپوس پوښتنې نه غافله کړی، او د قيامت په بعض مواقع

کښې به ورته افاقه وي او په يو بل آيت کريمه کښې دي چه هغوي به خپل مينځ کښې د يو بل نه تپوس کوي پس د کوم کس د نيکو چابړې چه درونډ شو نو داسې خلق به کامياب وي او د ګناهونو د وجې نه چه د چا چابړې سپک شو نو دا هغه خلق دي چا چه خپل نقصان اوکړو پس هغوي به په جهنم کښې هميشه هميشه اوسيږي او اور به د هغوي مخونه اوسيزي يعنې او به ئې سيزي او هغوي به هلته بدشکله شوي وي او د هغوي پورته شونډې به پورته اينختلې وي او لاندې شونډې به ئې د غاښونو نه لاندې زوړندې وي، هغوي ته به اوفرمائيلې شي آيا تاسو ته د قرآن کريم نه زما آيتونه په لوستلو سره نه شو اوروليې کيدې يعنې د دې آيتونو په ذريعه به تاسو ته ويره نه شوه درکولې بيا هم تاسو د هغې تکذيب کولو هغوي به وائي چه اې زمونږ ربه زمونږ بدنصيبي په مونږ باندې غالبه شوې وه او په يو قراءت کښې ﴿ شقاوتنا ﴾ دې د اول په فتحې او الف سره او دا دواړه په يو معنى کښې دي او بيشکه مونږ د هدايت نه بې لارې شوي وو اې زمونږ ربه مونږ د جهنم نه راوباسه پس که مونږ بيا مخالفت اوکړو نو يقينا مونږ به قصوروار يو د دنيا د دوچند مقدار نه پس، د مالک په ژبه به ورته ارشاد اوشي چه د ذلت سره هم په دې کښې پراته اوسيږئ يعنې ذلت سره په دوزخ کښې پراته اوسئ او ما سره د خپل عذاب د ختمولو په باره کښې خبرې مه کوئ پس هغه خلق به مايوس شي، زما د بندګانو يو جماعت وو چا چه به عرض کولو او هغه د مهاجرينو جماعت وو اې زمونږ ربه مونږ ايمان راوړې دې نو مونږ ته بخښنه اوکړه او په مونږ خپل رحمت اوکړه ته د ټولو رحم کونکو نه زيات رحم کونکې ئې نو تاسو به په هغوي پورې ټوقې کولې سخريا سين په ضمې او کسرې سره په معنى د تمسخر، په دې کښې سيدنا بلال، سيدنا صهيب، سيدنا عمار او سيدنا خباب ﷺ وو. تردې چه هغه خلقو تاسو نه زمونږ ياد هير کړو پس تاسو د هغوي په استهزاء کښې د مشغولتيا د وجې نه هغه ياد ترک کړو پس ګويا هغه خلق د هيرولو سبب شو هم په دې وجه د هيرولو نسبت ئې د هغوي طرف ته اوکړو او تاسو په هغوي پورې ټوقې کولې، ما نن هغوي ته ستاسو په ټوقو او تکليف باندې د صبر کولو په وجه د دائمي نعمتونو بدله ورکړه بيشکه هم دا خلق په خپل مقصد کښې کامياب دي انهم په کسرې سره دې (په دې صورت کښې) به جمله مستانفه وي او د همزه په فتحې سره د جزيتهم مفعول ثاني وي الله پاک به ورته د مالک په ژبه فرمائي او په يو قراءت کښې قل دې چه ته په دنيا کښې اوپه خپلو قبرونو کښې د کلونو په حساب سره څومره موده اوسيدلې ئې عددسنين د کم تميز دې (تقدير دعبارت دادې) لبثتم کم عددا من السنين هغوي په جواب ورکوي چه يوه ورځ يا د يوې ورځې نه هم کم پاتې شوي يو هغوي به دقيام په دې موده کښې شک کوي او په عظيم عذاب کښې د مبتلا کيدو په وجه سره به د دنيا قيام کم اوګڼړي نو د شمار کونکو يعنې د مخلوق اعمال

شمار کونکو فرښتونه معلوم کړئ الله تعالی به د مالک په ژبه اوفرمائی اوپه یو روایت کښې قل دې، تاسو ډیره لږه موده پاتې شوی یئ څه به ښه وې چه تاسو د خپل طول قیام موده باندې پوهه شوی وئ کوم چه ډیر کم وو ستاسو په جهنم کښې د قیام په نسبت آیا تاسو دا گمان کولو چه مونږ تاسو بیکاره بغیر د څه حکمت نه پیدا کړی یئ او دا چه تاسو به مونږ ته نه واپس کیږئ ﴿ ترجعون ﴾ په معروف او مجهول دواړه دې، نه‌ا بلکه (مونږ تاسو په دې وجه پیدا کړی یئ) چه تاسو د امر او نهی مکلف کړو او تاسو به زمونږ طرف ته واپس کیږئ او مونږ په دې تکلیف تاسو ته جزا درکړو، او مونږ جن او انس صرف د خپلې بندگئ دپاره پیدا کړی دی پس الله پاک د عبث وغیره نه کوم چه د هغه د شان لائق نه دې پاک دې کوم چه حقیقی بادشاه دې د هغه نه سوا څوک هم د عبادت لائق نشته، هغه د عرش عظیم مالک دې یعنی د کرسئ کوم چه بهترین تخت دې او څوک چه د الله پاک سره د بل معبود بندگی کړی چه د هغه په معبود کیدو باندې هغه سره هیڅ دلیل نشته آخرد الهاً صفت کاشفه دې د دې د مفهوم مخالف اعتبار نشته، پس د ده حساب یعنی دده جزاء د هغه د رب په نزد ده یقینا کفار به کامیاب نه شی یعنی هغوی ته به سعادت حاصل نه شی او ته داسې دعا کوه اې زما ربه بخښنه اوکړه او په مومنانو باندې رحم اوکړه په رحمت کښې د مغفرت په مقابله کښې زیادت دې او ته د ټولو رحم کونکو نه زیات رحم کونکې ئې یعنی د رحمت په اعتبار سره افضل ئې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ﴿ تُرِيَنِّي ﴾ته ماته اوښائې .... د اراءة نه مضارع واحد مذکر حاضر بانون تاکید ثقیله مبنی دې په فتحې سره او متعدی دې دوؤ مفعولو ته په واسطې د همزې، ی ضمیر متکلم مفعول اول ماموصوفه مفعول ثانی.

قوله: ﴿ فَلَا تَجْعَلْنِي ﴾جواب شرط ﴿ فی ﴾په معنی د ﴿ مع ﴾ د لفظ ﴿رب﴾اعاده په تضرع او عاجزئ کښې د مبالغې کولو دپاره کړې شوې ده. ﴿ فَأَهْلِكْ بِإِهْلَاكِهِم ﴾د نهی جواب دې.

قوله: ﴿ وَإِنَّا عَلَىٰ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَادِرُونَ ﴾ان حرف مشبه بالفعل ناصب، نا ضمیر ئې اسم، علی حرف جار نری فعل سره د فاعل ك مفعول اول ماموصوله نعدهم جمله صله شوه د موصول دپاره موصول سره د صله نه په تاویل د مصدر مفعول ثانی، نری فعل د خپل فاعل او دواړو مفعولونو سره مجرور شو د پاره د علی جار، جار مجرور متعلق مقدم شو د قادرون، قادرون د خپل متعلق سره د ان خبر شو.

قوله: ﴿ أَيِ الْخَصْلَةَ ﴾په معنی د خصلت مفسر علام ﴿ خصلة ﴾مقدر منلو سره اشاره اوکړه چه ﴿ التی ﴾ د خصلة موصوف مقدر صفت دې او السیئة د ادفع مفعول به دې، د عبارت تقدیر داسې دې: ادفع السیئة بالخصلة التی هی احسن.

قوله: ﴿ مِنَ الصَّفْحِ وَالْإِعْرَاضِ عَنْهُمْ ﴾ کښې من بيانيه دې او الصفح الخ د خصلة بيان دې
قوله: أَذَاهُمْ إِيَّاكَ.......د السيئة تفسير دې.
قوله: ﴿ هَمَزَاتِ ﴾ دا د همز جمع ده، شيطاني وسوسې، نفساني خطرات.
قوله: ﴿ حَتَّى ﴾ ابتدائيه ده يعني كلام مابعد د كلام ماقبل نه جدا دې، د دې كلام مقصد د مرګ نه روستو د كفارو حال بيانول دي.
قوله: ﴿ الْجَمْعِ لِلتَّعْظِيمِ ﴾ مفسر علام په دې عبارت سره د يوسوال مقدر جواب وركول غواړی، سوال دا دې چه الله پاک کوم چه مخاطب دې واحد دې لهذا رب ارجعنی سره خطاب كول پكار وو؟ جواب دا دې چه تعظيما د جمع صيغه راوړلې شوې ده، دويم جواب دا دې چه ﴿ ارجعون ﴾ کښې واو په تكرار باندې دلالت كولو دپاره راوړلې شوې دې، اى ارجعنى ارجعنى لكه چه د الله پاک په قول ﴿ القيا فى جهنم ﴾ کښې الف د تكرار دپاره دې يعنى د الق الق په معنى دې، دريم جواب دا دې چه د جمع صيغه د ملائكو په اعتبار سره ده
قوله: ﴿ وَرَائِهِمْ ﴾ هم د لاحدهم طرف ته راجع دې د جمع ضمير په اعتبار د معنى دې ځكه چه ﴿احدهم﴾ په معنى د ﴿ كلهم ﴾ چه په ماقبل کښې د واحد ضميرونه په اعتبار د لفظ دي
قوله: ﴿ فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ ﴾ انساب د نسب جمع ده په معنى د خپلولئ، رشته دارئ، دلته يو سوال پيدا كيږی چه د هغوی ترمينځه خو نسب او خپلولی يو ثابت شوې امر دې دهغې نفى ځنګه صحيح ده؟ مفسر علام د ﴿ يتفآخرون ﴾ اضافه كولو سره د دې سوال جواب وركړو چه د نسب نفى كول مقصود نه دی بلكه د دې صفت كوم چه محذوف دې د هغې نفى مقصود ده، او هغه ﴿ يتفآخرون ﴾ دې، يعنى په دنيا کښې چه ئې په كوم نسب او خپلولئ باندې فخر كولو هغه ټول به ختم شی، ځكه چه د ميدان محشر د سختې او دهشت د وجې نه به په يو بل رحم او تعلقات ختم شی، هم د دې سختې منظر كشی كولو سره په بل آيت كريمه کښې فرمائی : ﴿ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ﴾
قوله: ﴿ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ عَنْهَا ﴾ اى الانساب خلاف حالهم فى الدنيا اى ذلك خلاف حالهم.
قوله: ﴿ لِمَا يَشْغَلُهُمْ ﴾ دا د ولايتسائلون دپاره علت دې، يعنى دا عدم تساؤل به د هغوی په خپلو حالاتو کښې د مشغوليدو د وجې نه وی.
قوله: ﴿ فِي بَعْضِ مَوَاطِنِ الْقِيَامَةِ الخ ﴾ مفسر علام په دې عبارت سره د يو اعتراض جواب وركړې دې، اعتراض دا دې چه د دې آيت كريمه نه معلوميږی چه د قيامت په ورځ باندې به خپل مينځ کښې هيڅ تپوس نه شی كولې، او په يو بل آيت كريمه کښې دی ﴿ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴾ ؟ د جواب خلاصه دا ده چه د قيامت په ورځ کښې به

اوقات او حالات مختلف وی، بعض حالاتو کښې چه کله ویره او دهشت غالب وی نو څوک به هم د چا تپوس نه کوی او چه کله لږ سهولت پیدا شی نو خپل مینځ کښې به خیر خیریت تپوسی او د طبیعت تپوس به کوی، مطلب دا دې چه د نفخهٔ اولی په وخت به دهشت غالب وی نو څوک به د چا تپوس نه کوی، او د نفخهٔ ثانیه نه پس چه کله یو قسم سهولت راشی نو خپل مینځ کښې به یو بل اوپیژنی او تپوس پوښتنه به هم کوی.

قوله: ﴿ مَوَازِين ﴾ یا خو د عظمت د وجې نه جمع راوړلې شوې ده یا د موزون د مختلف النوع کیدو د وجې نه جمع راوړلې شوې ده یعنی د هر قسم عمل وزن کولو دپاره به جدا جدا قسم تله وی لکه چه په دنیا کښې مختلف قسمونو لره تللو دپاره مختلف قسم تلې وی، ﴿ بالحسنات ﴾ کښې باء سببیه ده یعنی د حسنات د ثقیل او دروند والی د وجې نه

قوله: ﴿ فهم ﴾ دا اشاره ده چه ﴿ فی جهنم ﴾، د ﴿ هم ﴾ مبتدأ محذوف خبر دې، امام زمخشری وئیلې دی چه ﴿ فی جهنم خالدون ﴾ د ﴿ الذین خسروا انفسهم ﴾ نه بدل دې.

قوله: ﴿ تَلْفَحُ ﴾ جمله مستانفه ده.

قوله: ﴿ شَمَّرَتْ ﴾ د شمر معنی ده لستوڼی وغیره اینغښتل.

قوله: ﴿ وَالسُّفْلَى عَنْ أَسْنَانِهِمْ ﴾ نه مخکښې فعل محذوف دې، ای استرخت السفلی.

قوله: ﴿ قَالَ تعالى: لَهُمْ بِلِسَانِ مَالِكٍ ﴾ ... مفسر علام په دې عبارت سره د یو سوال جواب ورکړې دې، سوال دا دې چه د الله پاک د ﴿ قال کم لبثتم ﴾ په ذریعه سره کفارو ته خطاب کول دا د هغوی سره د کلام کولو متقاضی دې، حال دا چه په بل آیت کریمه کښې دی ﴿ ولا یکلمهم الله ﴾ دا د کلام نه کولو متقاضی دې په دواړو کښې تعارض معلومیږی؟ جواب دا دې چه د کوم آیت کریمه نه کلام نه کول معلومیږی د هغې مطلب دې چه براه راست او بغیر د واسطې نه به د هغوی سره کلام نه فرمائی، او کوم آیت نه چه د کفارو سره کلام فهمیږی هلته د مالک په واسطې سره کلام کول مقصود دی.

قوله: ﴿ لَوْ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ مِقْدَارَ لَبْثِكُمْ ﴾ دلته ﴿ لو ﴾ امتناعیه دې او د ﴿ تعلمون ﴾ مفعول محذوف دې، مفسر علام ﴿ مقدار لبثکم ﴾ مقدر منلو سره د حذف مفعول طرف ته اشاره اوکړه، د ﴿ لو ﴾ جواب هم محذوف دې چه د هغې طرف ته مفسر علام په ﴿ کان قلیلا ﴾ وئیلو سره د حذف جواب طرف ته اشاره اوکړه: ای کان قلیلا فی علمکم

قوله: ﴿ أَفَحَسِبْتُمْ ﴾ کښې همزه په محذوف باندې داخل ده او فا عاطفه ده، د عبارت تقدیر داسې دې چه ﴿ اجهلتم فحسبتم ﴾ استفهام د توبیخ دپاره دې.

قوله: ﴿ عبثا ﴾ یا خو مصدر په معنی د اسم فاعل د حال په موقع کښې واقع کیدو د وجې نه منصوب دې. ای عابثین یا بیا خلقنا دپاره مفعول له دې.

قوله: ﴿لَاَلِعِبًا﴾دا د عبث تفسير دي.
قوله: ﴿أَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ﴾ عطف په ﴿انما خلقناكم﴾باندې دي.
قوله: ﴿لابل﴾دا ى ي د جوابِ استفهام په طور مقدر منلي دى.
قوله: ﴿هو العزيز الحسن﴾په بعض نسخو كښ دا عبارت نشته.
قوله: ﴿صِفَةٌ كَاشِفَةٌ لَا مَفْهُومَ لَهَا﴾د مفسر علام مقصد په دې عبارت سره يو اعتراض دفع كول دى، د اعتراض خلاصه داده چه ﴿وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ﴾نه معلوميږى چه كوم كس د الله پاک سره په عبادت كښ غير الله لره شريک كړى نو هغه بغير برهان او بغير سند نه دې، د دې نه د مفهوم مخالف په طور معلوميږى چه څوک صرف د غير الله عبادت كوى نو هغه سره برهان او سند دې حال دا چه دا خبره غلط ده؟
جواب: د جواب خلاصه دا ده چه ﴿آخر﴾،د ﴿الها﴾صفت كاشفه دې كوم چه صرف د وضاحت دپاره وى د هغې د مفهوم مخالف اعتبار نه وى، البته د صفت مخصصه د مفهوم مخالف اعتبار وى، صفت كاشفه خو صرف د تاكيد دپاره وى لكه چه د الله پاک قول ﴿طائر يطير بجناحيه﴾كښې يطير بجناحيه د طائرصفت كاشفه دې كوم چه صرف د تاكيد دپاره دې څكه چه هر يو مارغه په وزرو الوځى، بيا دا وينا چه هغه مارغه چه په وزرو الوځى څه معنى؟
لهذا ﴿وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ﴾نه د مفهوم مخالف په طور دا استدلال كول چه كه يو كس د غير الله بندگى اشتراكا اوكړى نو هغه به بې سنده او بې برهانه وى او كه افرادا د غير الله بندگى اوكړى نو هغه به باسند او برهان والا وى صحيح نه ده؟
قوله: ﴿فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِنْدَ رَبِّهِ﴾دا جوابِ شرط دې.
قوله: ﴿إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ﴾د جمهورو په نزد د همزه په كسرې سره جمله مستانفه ده او په دې كښ د علت معنى ده.

[۲۴] سورة النور

سُورَةُ النُّورِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ اثْنَتَانِ أَوْ اربع وستون آية
سورۂ نور مدنى دې، او په دې كښې ۶۲ يا ۶۴ آيتونه دى.
[اياتونه:۱-۱۰]

بسم الله الرحمن الرحيم هَذِهِ ﴿سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا﴾ مُخَفَّفَةً وَمُشَدَّدَةً لِكَثْرَةِ الْمَفْرُوضِ فِيهَا ﴿وَأَنْزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ﴾ وَاضِحَاتِ الدَّلَالَاتِ ﴿لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾ بِإِدْغَامِ التَّاءِ الثَّانِيَةِ فِي الذَّالِ تتعظون ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي﴾ أَيْ غَيْرُ الْمُحْصَنَيْنِ لِرَجْمِهِمَا بِالسُّنَّةِ وَأَلْ فِيمَا ذُكِرَ مَوْصُولَةٌ وَهُوَ مُبْتَدَأٌ وَلِشِبْهِهِ بِالشَّرْطِ دَخَلَتِ الْفَاءُ فِي خَبَرِهِ وَهُوَ ﴿فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ ضَرْبَةً يُقَالُ جَلَدَهُ ضَرَبَ جِلْدَهُ وَيُزَادُ عَلَى ذَلِكَ بِالسُّنَّةِ

تَغْرِيب عَام وَالرَّقِيق عَلَى النِّصْف مِمَّا ذُكِرَ ﴿وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ﴾ اي حُكْمه بِأَن تَتْرُكُوا شَيْئًا
مِنْ حَدِّهِمَا ﴿إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ﴾ اي يَوْم الْبَعْث فِي هَذَا تَحْرِيض عَلَى مَا قَبْل الشَّرْط وَهُوَ
جَوَابه أَوْ دَالّ عَلَى جَوَابه ﴿وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا﴾ الْجَلْد ﴿طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ قِيلَ ثَلَاثَة وَقِيلَ أَرْبَعَة عَدَد
شهود الزنى ﴿الزَّانِي لَا يَنكِحُ﴾ يَتَزَوَّج ﴿إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَا إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ﴾ اي الْمُنَاسِب
لِكُلّ مِنْهُمَا مَا ذُكِرَ ﴿وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ﴾ اي نِكَاح الزَّوَانِي ﴿عَلَى الْمُؤْمِنِينَ﴾ الْأَخْيَار نَزَلَ ذَلِكَ لَمَّا هَمَّ فُقَرَاء
الْمُهَاجِرِينَ أَنْ يَتَزَوَّجُوا بَغَايَا الْمُشْرِكِينَ وَهُنَّ مُوسِرَات لِيُنْفِقْنَ عَلَيْهِمْ فَقِيلَ التَّحْرِيم خَاصّ بِهِمْ وَقِيلَ عَامّ
وَنُسِخَ بِقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ﴾ ﴿والذين يرمون المحصنات﴾ العفيفات بالزنى ﴿ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا
بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ﴾ عَلَى زِنَاهُنّ بِرُؤْيَتِهِمْ ﴿فَاجْلِدُوهُمْ﴾ اي كُلّ وَاحِد مِنْهُمْ ﴿ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً﴾
فِي شَيْء ﴿أَبَدًا ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾ لِإِتْيَانِهِمْ كَبِيرَة ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا﴾ عملهم ﴿فَإِنَّ
اللَّهَ غَفُورٌ﴾ لَهُمْ قَذْفهمْ ﴿رَّحِيمٌ﴾ بهم بالهامه التَّوْبَة فِيهَا يَنْتَهِي فِسْقهمْ وَتُقْبَل شَهَادَتهمْ وَقِيلَ لَا تُقْبَل رُجُوعًا
بِالِاسْتِثْنَاءِ إِلَى الْجُمْلَة الْأَخِيرَة ﴿والذين يرمون أزواجهم﴾ بالزنى ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ﴾ عَلَيْهِ ﴿إِلَّا أَنفُسُهُمْ﴾
وَقَعَ ذَلِكَ لِجَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَة ﴿فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ﴾ مُبْتَدَأ ﴿أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ﴾ نُصِبَ عَلَى الْمَصْدَر ﴿بِاللَّهِ ۙ إِنَّهُ
لَمِنَ الصَّادِقِينَ﴾ فِيمَا رَمَى بِهِ زَوْجَته من الزنى ﴿وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ﴾ فِي ذَلِك
وَخَبَر الْمُبْتَدَأ تَدْفَع عَنْهُ حَدّ الْقَذْف ﴿ويدرأ﴾ اي يدفع ﴿عنها العذاب﴾ حد الزنى الذي ثبت بشهادته ﴿أَن
تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ ۙ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ﴾ فيما رماها به من الزنى ﴿وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِن كَانَ
مِنَ الصَّادِقِينَ﴾ فِي ذَلِكَ ﴿وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ﴾ بِالسَّتْرِ فِي ذَلِكَ ﴿وَأَنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ﴾ بِقَبُولِهِ التَّوْبَة
فِي ذَلِكَ وَغَيْره ﴿حَكِيمٌ﴾ فِيمَا حَكَمَ بِهِ فِي ذَلِكَ وَغَيْره لِيُبَيِّن الْحَقّ فِي ذَلِكَ وَعَاجَلَ بِالْعُقُوبَة من يستحقها

ترجمه: دا يو سورة دې چه مونږ نازل كړې دې او (د دې احكام) مو فرض كړي دي په تخفيف او تشديد سره (مشدد سره اشاره كثرتِ احكام طرف ته ده)، ځكه چه په دې صورت كښ احكام په كثرت سره دي او مونږ په دې سورت كښ صفا صفا احكام نازل كړي دي كوم چه واضح الدلالت دي د دې دپاره چه تاسو ئې ياد اوساتئ تاء ثانيه لره په ذال كښ مدغم كولو سره، د دې دپاره چه تاسو نصيحت حاصل كړئ، زناكاره زنانه او زناكار سړې كوم چه واده كړې نه وي، ځكه چه د واده كړي سړي او ښځې دپاره رجم ثابت دې، او الف لام (الزانية او الزاني) كښ موصوله (په معنى د الذى) دې، او هغه مبتدأ ده او د دې د مشابه بالشرط كيدو د وجې نه په دې په خبر باندې فاء داخله ده او هغه (خبر) ﴿ فاجلدوا ﴾ دې هر يو د دوى نه سل كوړې اووهئ يعنى د كوړې په وهلو سره ئې اووهئ جلده ضرب جلده او زياتولې به كولې شى په دې باندې د يو كال جلا وطن كولو د حديث د وجې نه او غلام ته به د دې ذكر شوې سزا نيمه سزا وركولې شى. او تاسو ته دې په دې دواړو باندې د الله پاک په معامله

کښې لږ رحم هم نه دی راتلل پکار په داسې طريقه چه د هغوی په سزا کښې څه پريږدئ که تاسو په الله پاک او د قيامت په ورځ باندې ايمان لرئ يعنی په يوم بعث باندې، په دې کښې ترغيب ورکول دی ماقبل شرط باندې او هغه جواب شرط دې يا دال علی جواب الشرط دې او د دې دواړو د سزا په وخت دې د کوړو ورکولو په وخت دې د مسلمانانو يو جماعت حاضر شی وئيلې شوی دی چه درې دې وی او وئيلې شوې دی چه څلور دې وی کوم چه د زنا د گواهانو تعداد دې، زانی سړې سوا د زناکارې يا مشرکې زنانه د بل چا سره عقد نکاح نه کوی او زناکاره زنانه هم سوا د زناکار يا مشرک سړی نه بل چا سره نکاح نه کوی يعنی په دواړو کښې د هر يو سره مناسب هم هغه دې کوم چه ذکر شو او دا يعنی د زناکارو نکاح په نيکانو مومنانو باندې حرام کړې شوې ده دا (حکم) هغه وخت نازل شو چه کله فقراء مهاجرينو اراده اوکړه چه د زوانی مشرکاتو سره نکاح اوکړی حال دا چه هغه مالدارې وې د دې دپاره چه په هغوی باندې خرچ اوکړی، وئيلې شوی دی چه تحريم هم د دوی سره خاص دې او وئيلې شوی دی چه عام دې (مگر) د الله پاک په دې قول ﴿ وانکحوا الايامی منکم ﴾ سره منسوخ کړې شو او کوم خلق چه تهمت لگوی په پاکو زنانو باندې د زنا کولو، او د هغوی په زنا باندې په خپلو سترگو سره ليدلې څلور گواهان پيش نکړی نو اووهئ د هغوی نه هر يو لره اتيا کوړې او د هغوی شهادت کله هم مه قبلوئ په هيڅ معامله کښې او دا خلق فاسقان دی، خو کوم خلق چه د دې نه روستو توبه اوکړی، او د خپلو اعمالو اصلاح اوکړی، نو الله پاک ورته ضرور مغفرت کوی د هغوی د بهتان لگولو او د هغوی په زړونو کښې د توبې الهام کولو سره رحمت کولو والا دې نو د دې توبې په ذريعه د هغوی فسق ختم شی او د هغوی شهادت به قبلولې شی او وئيلې شوی دی چه نه به شی قبلولې، استثناء لره جمله اخيره (يعنی اولئك هم الفاسقون) طرف ته راجع کولو سره او هغه خلق کوم چه په خپلو بيبيانو باندې د زنا تهمت اولگوی او د هغوی سره په زنا باندې د خپل ځان نه سوا گواهان نه وی نو د داسې سړی د گواهئ دا صورت دې چه څلور کرته په الله پاک باندې قسم اوکړی او گواهی ورکړی چه يقينا زه رشتينې يم او د قذف معامله د صحابه کرامو يو جماعت ته راپيښه شوې وه ﴿ شهادة احدهم ﴾ مبتدأ ده (اربع شهادات) د مصدريت په وجه باندې (يعنی د مفعول کيدو) د وجې نه منصوب دې، د زنا په هغه تهمت کښې کوم چه ما په خپله ښځه لگولې دې او په پنځم کرت دا اوائی چه په ما دې د الله پاک لعنت وی که زه په دې تهمت کښې دروغژن يم او د مبتدأ خبر ﴿يدفع عنه حد القذف﴾ (محذوف دې) او د دې زنانه نه سزا داسې لرې کيدې شی يعنی هغه د زنا حد کوم چه د هغې د خاوند په شهادت سره ثابت شوې دې چه هغه څلور کرته قسم خوړلو سره اوائی چه بيشکه دا سړې د دې زنا په تهمت کښې کوم چه هغه لگولې دې دروغژن دې او په پنځم کرت دا اوائی چه

په ما دې د الله پاک غضب وی که دا سرې په دې تهمت لګولو کښې رښتينې وی او که دا خبره نه وې چه په تاسو د الله پاک فضل او د هغه کرم دې په دې معامله کښې پرده ساتلو سره او دا چه الله پاک په دې معامله کښې او په نورو معاملو کښې توبه قبلولو سره ډير زيات توبه قبلونکې دې (کنې تاسو به په ډيرو ضررونو کښې اخته شوی وئ) او حکمت والا دې په هغه حکم کښې کوم چه هم هغه په دې معامله کښې او په نورو معاملاتو کښې صادر کړې دې په دې معامله کښې ئې حق بيان اوفرمائيلو او د سزا مستحق ته ئې په سزا کښې تندی اوکړه.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: ﴿ هَٰذِهِ سُورَةٌ أَنزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا ﴾ د هذه په تقدير سره ئې اشاره اوکړه چه سورة د مبتدأ محذوف خبر دې، د هذه مرجع اګرچه په سابق کښې مذکور نه دې خو چونکه ذکر ته نزدې دې کوم چه د حاضر په حکم کښې دې لهذا د اضمار قبل الذکر شبه نه لازميږی. (جمل) او دا هم صحيح ده چه سورة مبتدأ وی او جمله انزلناها د دې صفت او هم د دې صفت د وجې نه د نکره مبتدأ جوړيدل صحيح دی، ددې په خبر کښې دوه صورتونه دی اول دا چه ﴿ الزانية والزانى ﴾ جمله خبر وی، لکه چه د ابن عطيه هم دا خيال دې او دويم صورت دا دې چه خبر محذوف وی ای فيما يتلى عليكم بعد سورة، د انزلنا تکرار د کمالِ اهتمام او غايتِ اعتناء د وجې نه دې.

قوله: ﴿ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ ﴾ نه مراد د وحدانيت دلائل دی، د دې سورة په شروع کښې ئې د خو حدودو او احکامو ذکر اوفرمائيلو او د سورة په آخر کښې ئې د توحيد دلائل ذکر کړی دی.

قوله: ﴿ فَرَضْنَاهَا ﴾ سره د احکاماتو طرف ته اشاره ده او.

قوله: ﴿ وَأَنزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ ﴾ سره دلائلو طرف ته اشاره ده.

قوله: ﴿ يتذكرون ﴾ اول تا د قريب المخرج کيدو د وجې نه په دال سره بدله شوه بيا دال په ذال سره بدل شو او ذال په ذال کښې مدغم کړې شو، يذكرون شو.

قوله: ﴿ الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي ﴾ مبتدأ ده او د دې خبر محذوف دې، ای فيما يتلى عليكم بعد يا فاجلدوا خبر دې او د مبتدأ متضمن په معنی د شرط کيدو د وجې نه خبر باندې فا داخل ده، الزانية والزانى کښې الف لام چونکه په معنی د الذی اسم موصول دې چه د هغې د وجې نه مبتدأ متضمن معنی د شرط لره دې چه کله مبتدأ متضمن معنی د شرط لره وی نو خبر متضمن معنی د جزا لره وی چه د هغې د وجې نه په خبر باندې فاء داخليږی.

قوله: ﴿ فِي هَٰذَا تَحْرِيضٌ عَلَىٰ مَا قَبْلَ الشَّرْطِ الخ ﴾ د الله پاک قول ﴿ ان كنتم تؤمنون بالله ﴾ په دې آيت کريمه کښې ماقبل شرط يعنی ﴿ ولا تأخذكم بهما رافة ﴾ باندې تيارول او آماده کول دی يعنی که په تاسو کښې ايمان شته نو د الله پاک د احکامو په پاره کښې د چا رعايت مه

کوئ او نه په چا باندې رحم او ترس کوئ، اهل کوفه ولاتأخذكم بهما رأفة (الاية) لره جزا مقدم منی او اهل بصره جزا محذوف منی او ذکر شوې آیت په جزاء باندې دال منی، کوم الفاظ چه په جزاء باندې دال دی هم هغه به جزاء محذوف وی.

قوله: ﴿ وَلْيَشْهَدْ ﴾ امر د استحباب دپاره دې.

قوله: ﴿ قيل ثلاثة وقيل أربعة ﴾ ذکر شوی دواړه اقوال د امام شافعی رحمه الله دی، یعنی د کوړو ورکولو په وخت دې درې یا څلور کسان موجود وی، امام مالک رحمه الله فرمائی چه څلور یا ددې نه زیات کیدل پکار دی، امام نخعی او مجاهد او امام حمد رحمه الله هم دغه شان فرمائی چه کم از کم دوه کسان کیدل پکار دی.

قوله: ﴿ الْمُنَاسِبِ لِكُلٍّ مِنْهُمَا ﴾ دا د هغه خلقو دپاره زجر او توبیخ ده کوم چه د زناکارو سره د نکاح اراده لری.

قوله: ﴿ الْأَيَامَى ﴾ د ﴿ ايم ﴾ جمع ده، نا واده کړې زنانه ته وائی که باکره وی او که ثیبه وی او بغیر ښځې خاوند ته هم وئیلې شی.

قوله: ﴿ والذين يرمون المحصنات ﴾ مبتدأ ده، ددې درې خبرونه دی، ① فاجلدوهم ثمانين جلدة ② ولا تقبلوا لهم شهادة ابدا، ③ واولئك هم الفاسقون.

قوله: ﴿ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا ﴾ د امام شافعی رحمه الله په نزد دا استثناء د ماقبل دواړو جملو یعنی ﴿ لا تقبلوا لهم شهادة ﴾ او ﴿ اولئك هم الفاسقون ﴾ نه ده لهذا که یو عفیف یا عفیفه باندې د زنا تهمت لګونکې په رشتینې زړه سره توبه اوکړی او د بیا دپاره د خپلو اعمالو اصلاح اوکړی نو د دې حضراتو په نزد به د هغه سړی ائینده شهادت هم قبلولې شی او فسق به ئې هم ختم شی، د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد استثناء د آخری جملې یعنی اولئك هم الفاسقون طرف ته راجع ده، لهذا د زنا د تهمت لګونکی فسق خو به ختم شی خو د هغه شهادت به نه قبلیږی.

قوله: ﴿ وَقَعَ ذَٰلِكَ لِجَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ ﴾ یعنی په ښځه باندې د زنا د تهمت لګولو معامله د درېو صحابه کرامو سره راپیښه شوې ده. ① هلال بن امیه، ② عویمر العجلانی، ③ عاصم بن عدی. (جمل)

قوله: ﴿ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ ﴾ د دې د مرفوع کیدو درې صورتونه کیدې شی. ① دا چه مبتدأ وی او خبر ئې محذوف وی اګر چه مقدم وی لکه ﴿ فعليهم شهادة احدهم ﴾ یا موخر وی لکه ﴿ فشهادة احدهم كائنة ﴾... ② د مبتدأ محذوف خبر وی ای فالواجب شهادة احدهم. ③ د فعل مقدر د فاعل کیدو د وجې نه به مرفوع وی، ای فليكفي شهادة احدهم، ④ څلورم ترکیب د

مبتدأ خبر کیدو هغه هم دي کوم چه علامه محلی اختیار کړي دي یعنی فشهادة احدهم اربع شهادات مبتدأ، تدفعم حد القذف ددې خبر دې، خو قاضی ثناء الله دا صورت په قیل سره ذکر کړي دي کوم چه د ضعف طرف ته اشاره ده، جمهورو ﴿ اربع ﴾ لره مصدریت یعنی د مفعول کیدو د وجې نه منصوب لوستلي دي او عامل د مصدر شهادة دې، او ﴿ اربع ﴾ د موصوف محذوف صفت دي ای فشهادة احدهم شهادة اربعة شهادات بالله.

خلاصه: فشهادة احدهم.... مصدر د خپل فاعل طرف ته مضاف دي د عبارت تقدیر به داسې وی ای یشهد احدهم دې د مرفوع کیدو دوه صوترونه دی. ① د مبتدأ محذوف خبر وی. د عبارت تقدیر به داسې وی ﴿ فالواجب شهادة احدهم ﴾ ② فشهادة احدهم... مبتدأ او د دې خبر محذوف، د عبارت تقدیر به داسې وی. ﴿ فعلیهم شهادة احدهم ﴾

قوله: اربع د مبتدأ د خبر کیدو د وجې نه په رفع سره هم لوستلي شوي دي فشهادة احدهم مبتدأ اربع شهادات بالله د دې خبر، په دې صورت کښې د حذف ضرورت نشته د جمهورو په نزد اربع نصب سره هم لوستلي شوې دې، ای ان یشهد احدهم اربع شهادات.

قوله: ﴿ بالله ﴾ د بصریانو په نزد شهادات سره متعلق دې د قرب د وجې نه او د کوفیانو به نزد شهادة سره متعلق ځکه چه هغه مقدم دې.

قوله: ﴿ انه ﴾ دا د شهادة یا شهادات معمول دې ای یشهد علی انه صادق علی لره حذف کړي شو د ﴿ ان ﴾ فتحه په کسرې سره بدل کړي شو، او عامل د لام تاکید د وجې نه د عمل نه منع کړي شو.

قوله: ﴿ والخامسة ﴾ مبتدأ ده او ﴿ ان لعنة الله علیه ﴾ ددې خبر دې، د عبارت تقدیر دا دې ﴿ والشهادة الخامسة ان لعنة الله علیه ﴾

قوله: ﴿ ان تشهد ﴾ دا د ﴿ یدرء ﴾ فاعل دې

قوله: ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ ﴾ دا د ﴿ لولا ﴾ جواب محذوف دې. ای ﴿ لولا فضل الله لفضحکم او هلکتم ﴾

[ایاتونه: ۱۱ - ۲۰]

﴿إن الذين جاؤوا بالإفك﴾ أسوأ الكذب على عائشة رَضِيَ الله عَنهَا أم المُؤمِنِين بقذفها ﴿عُصْبَةٌ مِنْكُمْ﴾ جَمَاعَة مِنَ الْمُؤمِنِينَ قَالَتْ حسان بن ثابت وَعَبد الله بن ابي ومسطح وحمنة بنت جحش ﴿لَا تَحْسَبُوهُ﴾ أيها المُؤمِنُونَ غير العصبة ﴿شَرًّا لَّكُم بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ يأجركم الله به ويظهر براءة عائشة وَمَنْ جَاءَ مَعَهَا مِنْهُ وَهُوَ صفوان فإنها قالت كُنت مَعَ النَّبِيّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في غزوة بعد ما أنزل الحجاب فَفَرَغَ مِنْهَا وَرَجَعَ وَدَنَا مِنَ المَدِينَة وَآذَنَ بالرحيل لَيلَة فَمَشَيت وَقَضَيت شَأني وَأقبلت إلى الرحل فإذا عِقدِي انقطع هُوَ بكسر المُهمَلَة القِلادَة فرجعت ألتمسه وَحَمَلُوا هودجي هُوَ مَا يُركب فِيهِ عَلَى بَعِيري يحسبونني فِيهِ وَكَانَتْ

النساء خفافًا إنّما يأكلن العُلقة هُوَ بِضمِّ المُهمَلَة وَسُكون اللام مِن الطّعَام اي القليل ووجدت عقدي وجئت بعد ما سَارُوا فجلست في المَنزِل الّذي كُنت فِيهِ وَظنَنت انّ القَوم سَيَفقِدُونَني فَيَرجِعُون إليّ فغلبتني عيناي فنمت وَكَانَ صفوان قد عرّس مِن وَرَاء الجَيش فادّلج هُمَا بتشدِيدِ الرّاء وَالدّال أي نَزل مِن آخر الليل لِلاستِرَاحَةِ فَسَارَ مِنهُ فَأصبح فِي مَنزِله فرأى سَوَاد إنسَان نائم أي شَخصه فعرفني حِين رآني وَكَانَ يرَاني قبل الحِجَاب فاستيقظت باسترجاعِهِ حِين عَرفَنِي أي قوله إنّا لِلّهِ وإنّا إليهِ رَاجِعُون فخمّرت وَجهي بِجِلبَابِي اي غطّيته بالمُلاءَةِ وَاللّهِ مَا كَلّمَنِي بِكَلِمَةٍ وَلا سَمِعت مِنهُ كَلِمَة غير استرجاعه حِين أناخ رَاحِلَته وَوَطِئ عَلَى يَدهَا فركبتها فانطلق يقود بِي الرّاحِلَة حَتّى اتينا الجيش بعد ما نَزلُوا مُوغِرِين فِي نحر الظّهِيرَة أي مِن أوغر وَاقِفِين فِي مَكَان وَغر مِن شِدّة الحَرّ فهلك مَن هَلَكَ وَكَانَ الّذِي تَوَلّى كِبره مِنهُم عَبد الله بن أبيّ بن سلول اه قولها رواه الشيخان قال تعالى (لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم) اي عَلَيهِ (مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ) فِي ذَلِكَ (وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ) أي تَحَمّلَ مُعظَمه فبدأ بالخَوضِ فِيهِ وَأشَاعَهُ وَهُوَ عَبد الله بن أبيّ (لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ) هُوَ النّار فِي الآخرة (لَّوْلَا) هَلّا (إِذْ) حِين (سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنفُسِهِمْ) أي ظنّ بَعضهم بِبَعضٍ (خَيْرًا وَقَالُوا هَٰذَا إِفْكٌ مُّبِينٌ) كَذِب بَيّن فِيهِ التِفَات عَن الخِطَاب أي ظننتم أيّها العُصبَة وقلتم (لولا) هلا (جَاءُوا) أي العُصبَة (عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ) شَاهَدُوهُ (فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَٰئِكَ عِندَ اللَّهِ) اي فِي حُكمه (هُمُ الْكَاذِبُونَ) فِيهِ (وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِي مَا أَفَضْتُمْ) أيّهَا العُصبَة أي خُضتُم (فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ) فِي الآخرة (إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ) اي يَروِيهِ بَعضكُم عَن بَعض وَحُذِفَ مِن الفِعل إحدَى التّاءَين وَإِذ مَنصُوب بِمَسّكُم أو بِأفضتُم (وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا) لا إثم فِيهِ (وَهُوَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمٌ) فِي الإثم (وَلَوْلَا) هَلّا (إِذْ) حِين (سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ) ما ينبغي (لَنَا أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبْحَانَكَ) هو للتعجب هنا (هَٰذَا بُهْتَانٌ) كذب (عَظِيمٌ) (يَعِظُكُمُ اللَّهُ) يَنهَاكُم (أَن تَعُودُوا لِمِثْلِهِ أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ) تَتّعِظُونَ بِذَلِكَ (وَيُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ) فِي الأمر وَالنّهي (وَاللَّهُ عَلِيمٌ) بِمَا يَأمُر بِهِ وَيَنهَى عَنهُ (حَكِيمٌ) فيه (إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ) بِاللّسَانِ (فِي الَّذِينَ آمَنُوا) بِنِسبَتِهَا إلَيهِم وَهُم العُصبَة (لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا) بِحَدّ القَذف (وَالْآخِرَةِ) بِالنّار لِحَقّ الله (وَاللَّهُ يَعْلَمُ) انتِفَاءَهَا عَنهُم (وَأَنتُمْ) أيّهَا العُصبَة بِمَا قُلتُم مِن الإفك (لَا تَعْلَمُونَ) وُجُودهَا فِيهِم (وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ) أيّهَا العُصبَة (وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ) بِكُم لَعَاجَلَكُم بِالعُقُوبَةِ

ترجمه: بې شکه هغه خلق چا چې دا ډير غټ بهتان تړلې دې يعنى په ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها باندې بهتان لګولو سره ئې بدترين دروغ وئيلى دى هغه په تاسو کښې يو جماعت دې يعنى د مومنانو يو جماعت دې (د اهل افک په تعيين کښې) سيدنا عائشه رضي الله عنها فرمائى هغه حسان بن ثابت او عبدالله بن ابى او مسطح او حمنه بنت جحش دى، د بهتان لګونکو د جماعت نه علاوه اې مومنانو! تاسو دا بهتان په خپل حق کښې بد مه ګڼړئ بلکه

هغه ستاسو په حق کښې غوره دي الله پاک به تاسو ته د دې په عوض کښې اجر درکړي او د سيده عائشه رضي الله عنها او د هغې سره د يوځائې راتلونکې يعنې د صفوان (ابن معطل) به د تهمت نه براءت ظاهر کړي، سيده عائشه رضي الله عنها (واقعه بيانولو سره) اوفرمائيل چه زه به يوه غزوه کښې د نزول حجاب نه پس د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره اوم، پس کله چه نبي عليه السلام د غزوه نه فارغ شو او واپس شو او مدينې ته نزدې اورسيدو او د شپې ئې د سفر اعلان اوکړو نو زه د قضاء حاجت دپاره لاړم او د حاجت نه د فراغت نه پس د کجاوې طرف ته متوجه شوم نو ناځاپه ماته معلومه شوه چه زما اميل شليدو سره چرته غورځيدلې دې ﴿ عقد ﴾ د عين مهمله په کسرې سره اميل ته وئيلې شي نو زه د اميل د لټون دپاره واپس لاړم، حال دا دې چه خلقو زما هودج (ډولئ) په دې خيال چه زه پکښې موجود يم زما په اوښ باندې کيخودله، هودج هغه کجاوې او ډولئ ته وئيلې شي چه په هغې کښې سوريدلې شي او زنانه چونکه سپکې وې ځکه چه خوراک به ئې کم کولو. ﴿علقة﴾ د عين مهمله په ضمې او د لام په سکون سره لږ خوراک ته وئيلې شي (دلته داسې اوشوه) چه زما اميل ملاوشو، او د اهل قافله د روانيدو نه پس زه (خپل ځائې) ته واپس راغلم، پس زه هم هغه ځائې ته واپس راتلو سره کيناستم او زما غالب گمان وو چه کله خلق ما بيا نه مومي نو زما طرف ته به واپس راځي، پس ما باندې د خوب غلبه راغله چه د هغې د وجې نه اوده شوم، او صفوان بن معطل به په لښکر پسې شاته د شپې په آخر کښې قيام کولو پس صفوان د شپې په آخرې حصه کښې روان شو نو د سحر په وخت کښې زما منزل ته راورسيدلو.

قوله: ﴿ عَرَّسَ ﴾ او ﴿ادْلَجَ﴾ د را او دال په تشديد سره (عرس معنی په آخر شپه کښې د استراحت دپاره قيام کول ادلج په معنی د روانيدلو) نو هغه د يو اوده انسان بدن اوليدو پس زه چه ئې اوليدم نو وې پيژندلم ځکه چه هغه د حجاب د حکم نازليدو نه مخکښې ليدلې اوم، پس زما د پيژندگلو په وخت د هغه د استرجاع يعنی ﴿ انا لله وانا اليه راجعون ﴾ لوستلو د وجې نه زه بيداره شوم نو ما په خپل څادر سره خپل مخ پټ کړو، والله نه خو هغه ما سره څه خبرې اوکړې او نه ما د هغه نه سوا د استرجاع نه څه خبره واوريدله. هغه خپله اوښه کينوله، او د هغې په لاس ئې زور کړو (چه زر او نه درېږي) چه کله پرې زه سوره شوم نو هغې زما د اوښې واړې اونيولې او روان شو تردې چه مونږ لښکر ته اورسيدو، پس ددې نه چه هغه خلقو د غرمې په وخت په سخته گرمئ کښې په گرم ځائې کښې ايسار شوې وو. موغرين د اوغرنه مشتق دې يعنی د سختې گرمئ په وخت په گرم ځائې کښې ايساريدونکې وو. پس زما په باره کښې چه څوک هلاکيدل هغه هلاک شو او چا چه په دې معامله کښې ډيره حصه واخستله هغه عبدالله بن ابی بن سلول وو، د سيده

عائشه رضی الله عنها کلام پوره شو، دا روایت شیخینو نقل کړي دي، قال الله تعالی په دوی کښې په هریو سړي باندې دومره ګناه ده څومره چه هغه په دې معامله کښې کړي دي او د هغه سړي دپاره چا چه په دوی کښې (په دې معامله کښې) د ټولو نه زیاته حصه اخستلې ده یعنی ډیر په شوق نې حصه واخستله په داسې طریقه چه په دې معامله کښې نې لټول اوکړل او دې ته نې شهرت ورکړو، هغه عبدالله بن ابی دې د هغه دپاره لوئې عذاب دې او هغه په آخرت کښې اور دې چه کله خلقو دا بهتان واوریدلو نو مسلمانانو سړو او زنانو خپل مینځ کښې د یو بل دپاره ښه ګمان ولې اونکړو؟ او ولې ئې او نه وئیل چه دا ښکاره دروغ دی؟ په دې کښې د خطاب نه (د غیبت طرف ته) التفات دې (ظن المومنون الخ) ظننتم وقلتم ایها العصبة ... په معنی کښې دې او دې خلقو په دې بهتان باندې څلور عینی ګواهان پیش ولې نه کړل؟ چه کله دې خلقو ګواهان پیش نه کړل نو دا خلق د الله پاک په نزد یعنی د هغه په حکم کښې په دې معامله کښې دروغژن دی او که په تاسو باندې په دنیا او آخرت کښې د الله پاک فضل او کرم نه وې نو په کوم شغل کښې چه تاسو ننوتی وئ یعنی دا خبرې مو رالټولې د هغې وجې نه به تاسو ته آخرت کښې سخت عذاب در رسیدلې وې چه کله تاسو دا بهتان په خپلو ژبو باندې اړولو راړولو یعنی یو بل ته مو بیانولو. فعل (یعنی تلقونه) کښې د دوؤ تاءګانو نه یوه تاء حذف کړې شوې ده او ﴿اذ﴾ د ﴿مسكم﴾ یا د ﴿افضتم﴾ د وجې نه منصوب دې او تاسو د خپلې خُلې نه داسې خبره راوېستله چه د هغې په باره کښې تاسو ته مطلق علم نه وو او تاسو دا یوه معمولی خبره ګنړله چه په دې کښې به هیڅ ګناه نه وی حال دا چه هغه د الله پاک په نزد د ګناه په اعتباره سره ډیره لویه خبره وه او کله چه تاسو دا خبره اوریدلې وه نو داسې مو ولې او نه وئیل چه مونږ دپاره مناسب نه دی چه داسې خبره د خُلې نه راوباسو معاذ الله دا خو ډیر لوئې بهتان دې سبحانك د تعجب دپاره دې، الله پاک تاسو ته نصیحت کوی یعنی منع کوی مو چه بیا داسې حرکت اونه کړئ که تاسو مومنان یئ نو دا نصیحت قبول کړئ او الله پاک ستاسو دپاره د امر او نهی صفا صفا احکام بیانوی او الله پاک چه د څه حکم کوی او د څه نه چه منع کوی د هغې په باره کښې ډیر پوهیدلو والا او ډیر حکمت والا دې کوم خلق چه دا غواړی چه په مسلمانانو کښې بې حیائی خوره شی دغه بې حیائی د هغوی طرف ته منسوب کولو سره (او د هغې د چرچا کونکو) یو وړوکې شان جماعت دې د هغه خلقو دپاره په دنیا کښې دردناک عذاب دې د قذف د وجې نه د حد په صورت کښې او په آخرت کښې د اور عذاب د الله حق د وجې نه الله پاک د هغوی نه د بې حیایئ انتفاء لره ښه پیژنی او (اې تهمت لګونکی جماعته تاسو ددې بې حیایئ وجود په هغوی کښې نه پیژنئ او که اې خلقو په تاسو باندې د الله پاک فضل او کرم نه وې او هغه دا چه الله پاک ډیر شفقت کونکې او ډیر رحم کونکې دې نو هغه به ستاسو فورا مواخذه کړې وې.

....

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ﴿ إن الذين جاءوا بالإفك ﴾ د دې ځاني نه د افک متعلق د اتلسو آیتونو تذکره شروع کیږي ﴿ افك ﴾ په لغت کښې واپس کولو او بدلولو ته وئیلې شي، بدترین دروغ کوم چه حق لره د باطل سره او باطل لره په حق سره بدل کړي، پاک متقي لره فاسق او فاسق لره متقي جوړ کړي هم دې دروغو ته افک وئیلې شي ﴿ عصبة ﴾ مختصر جماعت ته وئیلې شي، د تعداد په باره کښې مختلف اقوال دي.

قوله: ﴿ لَا تَحْسَبُوهُ ﴾ د دې مخاطب رسول الله ﷺ، ابوبکر، عائشه او صفوان ﷺ دي، او مقصود هغوی ته تسلي ورکول دي.

قوله: ﴿ وَمَنْ جَاءَ مَعَهَا مِنْهُ ﴾ نه صفوان بن معطل السلمی ﷺ مراد دې او د ﴿ منه ﴾ ضمیر مرجع افک دې او جار مجرور د براءت سره متعلق دی.

قوله: ﴿ في غزوة ﴾ مراد غزوهٔ بني مصطلق ده کومې ته چه مریسیع هم وئیلې شي د صحیح او راجح قول مطابق ۵ هجری کښې راپیښه شوې وه.

قوله: ﴿ بعد ما انزل الحجاب ﴾ د حجاب نه مراد آیت حجاب یعنی ﴿ واذا سألتموهن متاعا فاسئلوهن من وراء حجاب ﴾ مراد دې.

قوله: ﴿ قد عرس ﴾ تعريس، النزول في آخر الليل للاستراحة.

قوله: ﴿ ادلج ﴾ او ادلاج د شپې په آخری حصه کښې سفر کول.

قوله: ﴿ هما بتشديد الراء والدال ﴾ عرس وادلج په باره کښې ئې د لف نشر په طور اشاره اوکړه چه په عرس کښې را او ادلج کښې دال دواړه مشدد دي.

قوله: ﴿ نَزَلَ مِنْ آخر اللَّيْلِ لِلاسْتِرَاحَةِ ﴾ دا د ﴿ عرس ﴾ تفسیر دې او.

قوله: ﴿ فَسَارَ مِنْهُ ﴾ دا د ﴿ ادَّلَجَ ﴾ تفسیر دې منه اى آخر الليل ... د سیده عائشه ﷺ د الفاظو د تشریح دپاره مفسر علام په مینځ کښې د تشریحی الفاظو اضافه فرمائیلې ده ګنې اصل عبارت داسې دې ﴿ كان صفوان قد عرس من وراء الجيش فادلج منه فاصبح في منزلي ﴾

قوله: ﴿ مُوغِرِينَ ﴾ دا د ﴿ وغر ﴾ نه مشتق دې ﴿ وغر ﴾ سختې ګرمئ ته وئیلې شي.

قوله: ﴿ بِالْمُلَاءَةِ ﴾ هغه څادر کوم چه بدن لره پټ کړي ﴿ موغرين ﴾ اى داخلين في شدة الحر.

قوله: ﴿ فِي نَحْرِ الظَّهِيرَةِ ﴾ د غرمې وخت.

قوله: ﴿ ابن سلول ﴾ دا عبد الله بن ابی د مور نوم دې.

قوله: ﴿ لِكُلِّ امْرِئٍ ﴾ مفسر علام په ﴿ عليه ﴾ سره تفسیر کولو کښې اشاره اوکړه چه لام په معنی د ﴿ على ﴾ دې.

قوله: ﴿ لَوْلَآ ﴾ ﴿ هَلَّا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ﴾: دا ﴿ لولا ﴾ توبيخيه دې ځکه چه په ماضي باندې داخل دې، (لولا) په درې قسمه دې. ①چه کله په ماضي باندې داخل وي نو دا توبيخيه دې ②او چه کله په مضارع باندې داخل وي نو تحضيضيه وي ③او چه کله په جمله اسميه باندې داخل وي نو امتناعيه وي، دلته ﴿ لولا ﴾ شپږ ځايه استعمال شوې دې اول، ثاني او رابع توبيخيه دی په دې وجه د جواب ضرورت نشته او دريم او پنځم او شپږم شرطيه (امتناعيه) دې (جواب ته ئې ضرورت شته) خو په دريم او شپږم مقام باندې جواب مذکور دې او په پنځم مقام باندې جواب محذوف دې. (صاوی)

قوله: ﴿ بِأَنفُسِهِمْ ﴾ اى ابناء جنسهم فى الايمان ... يعنى د خپل ايماني رونړو په باره کښې مو نېه گمان ولې اونکړو؟ ﴿ فيه التفات عن الخطاب الى الغيبة اذ سمعتموه ﴾ مطابق ﴿ ظن المومنون ﴾ او ﴿ قالوا ﴾ په ځائې ﴿ ظننتم ﴾ او ﴿ قلتم ﴾ پکار وو، په ذکر شوې دواړو صيغو کښې دوه قسم التفات شوې دې ①اول خو د حاضر نه د غائب طرف ته ②او دويم د ضمير نه د اسم ظاهر طرف ته، د دې التفات مقصد په توبيخ کښې مبالغه کول دی، په دې طريقه چه د ايمان تقاضه دا ده چه ته د خپلو رونړو په باره کښې حسن ظن لرلې، پاتې لا دا چه تاسو تهمت او عيب لگول شروع کړل تاسو له خو د خپلو رونړو داسې دفاع کول پکار وو څنگه چه تاسو خپله دفاع کوئ، د عبارت تقدير دا دې ﴿ لولا اذ سمعتموه ظننتم ايها المومنون والمومنات باخوانهم خيرا وهلا قلتم هذا افك مبين ﴾

قوله: ﴿ لولا جاءُوا عَلَيْهِ ﴾ دا د کلام سابق تتمه هم کيدې شی يعنی مومنانو سړو او مومنانو ښځو د افتراء کونکو نه په افتراء باندې څلور گواهان ولې طلب نه کړل؟ يعنی د بهتان د اوريدلو نه پس چه څنگه خپل مينځ کښې حسن ظن ضروری وو هم دغه شان د افتراء کونکو نه د څلورو گواهانو مطالبه ضروري وه، اى وقالوا هلا جاء الخائضون باربعة شهداء على ما قالوا... بل صورت دا هم کيدې شی چه لولا جاءوا الاية جمله استينافيه وی، په دې صورت کښې به د ﴿ قالوا ﴾ محذوف منلو ضرورت نه وی.

قوله: اى فى حكمه: د دې عبارت د اضافې مقصد د يوې شبهې جواب دې، شبهه دا ده چه افتراء کونکو ته د الله پاک په نزد کاذب په دې وجه اوئيلې شو چه هغوی څلور عينی گواهان پيش نه کړې شو حال دا چه که هغوی څلور عينی گواهان هم پيش کړې وې نو بيا به هم دروغژن وې؟ جواب دا دې چه د گواهان د نه پيش کولو په صورت کښې د شريعت په حکم سره دروغژن وو او که هغوی څلور گواهان پيش کړې وې نو په دې وخت کښې به په حکم شرعی کښې په ظاهره باندې صادق وې، الله پاک ته چونکه ظاهرا او باطنا د هغوی تکذيب منظور وو په دې وجه ئې ترې د څلورو گواهانو مطالبه اوکړه چه د هغوی

دروغ بنه بنکاره شي.

قوله: ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ﴾ کښې ﴿ لولا ﴾ امتناعيه دې د دې جواب ﴿ لمسكم ﴾ دې.

قوله: ﴿ فِيمَا أَفَضْتُمْ ﴾ في په معنى د سبب دې اى بسبب ما افضتم او ما موصوله ده مراد ترې حديث د افک دې اى لمسكم بسبب الذى خضتم فيه وهو الافك ... او ما مصدريه هم کيدې شي اى لمسكم بسبب خوضكم فيه اى في الافك.

قوله: ﴿ ولا اذ سمعتموه قلتم ﴾ د إذ قلتم ظرف مقدم دې يعنى ستاسو دپاره دا مناسب وو چه په بهتان اوريدلو سره مو وئيلى وو چه داسې خبرې كول زمونږ دپاره بالكل مناسب نه دى.

قوله: ﴿ ينهاكم أن تعودوا..الخ ﴾ ددې عبارت د اضافې مقصد دې خبرې طرف ته اشاره كول دى چه يعظكم فعل متعدى په عن سره معنى لره متضمن دې، بيا عن حذف كړې شوې دې أي ينهاكم عن العود أن مصدريه دې چه ددې په وجه تعودوا په معنى د عودٌ دې.

قوله: ﴿ تتعظون بذلك ﴾ دا جمله د مؤمنين صفت دې يعنى كه چرې تاسو نصيحت قبلونكى مؤمنان يئ نو داسې حركت به بيا نه كوئ، جواب دشرط محذوف دې أي كنتم مؤمنين فلا تعودوا لمثله.

قوله: ﴿ بألسان ﴾ ددې اضافه كولو مقصد دادې چه افتراء كونكو ته دا خبره خوښه وه چه فحش خبرې په ژبه باندې جارى وى دا نه چه په حقيقت كښې اشاعت وى.

قوله: ﴿ بنسبتها إليهم ﴾ د إليهم نه مراد حضرت عائشه او حضرت صفوان دى او وهم عصبة نه مراد هغه خلق دې چاچه د فحش خبرو اشاعت خوښولو.

قوله: ﴿ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ د ﴿ ان ﴾ خبر دې.

قوله: ﴿ وَأَنَّ اللّٰهَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ﴾ عطف په ﴿ فضل الله ﴾ باندې دې او ﴿ لعاجلكم ﴾ د ﴿ لولا ﴾ جواب دې، معطوف د معطوف عليه سره مبتدأ ده او ددې خبر محذوف دې چه هغه موجودان دې.

قوله: ﴿ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ ﴾ اى عليه ... په لكل كښې لام په معنى د على دې لكه چه مفسر علام اشاره كړې ده يعنى د تهمت لګونكى جماعت هر يو فرد ته د هغه د جرم مقدار سزا ملاويږى په پورته آيت كريمه كښې د ﴿ خائضين في الافك ﴾ بيان وو، په دې آيت كريمه كښې هغوى ته نهو طريقو سره تعيير او توبيخ كړې شوې دې، په دې كښې اولنئ په ﴿ لولا اذ سمعتموه ﴾ دې او نهم ﴿ يا ايها الذين آمنوا لا تتبعوا خطوات الشيطان الخ ﴾ دې، لولا توبيخيه دې او د اذ ظن ظرف دې.

قوله: ﴿ أي ظننتم أيها العصبة وقلتم ﴾ د دې عبارت مقصد دا بيانول وو چه په آيت كريمه كښې د خطاب نه د غيبت طرف ته التفات كړې شوې دې او ﴿ ظن ﴾ په معنى د ظننتم او

ناوا په معنی د قلتم دي.

قوله: (لولا) هلا جاءوا: په دې کښې دوه احتمالات دی ① اول دا چه دا جمله مستانفه ده نو د ماقبل سره به ئې هيڅ تعلق نه وی او ② که دا کلام د ماقبل تتمه ده نو د (لولا) د لاندې به داخل وی او مطلب به دا وی چه د دې افتراء او بهتان په اوریدلو سره غوره گمان کول پکار وو او په دې افتراء باندې د څلور عینی گواهانو مطالبه کول پکار وو.

قوله: (وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ) يعنی دا طوفان خو داسې اوچت شوې وو چه معلومه نه ده چه څوک څوک به په دې طوفان کښې گیریدل خو الله پاک صرف په خپل فضل او کرم سره په تاسو کښې د توبه کونکو توبه قبوله کړه او بعض ئې په شرعی حد جاری کولو سره پاک کړل او کوم چه زیات خبیث وو هغوی ته ئې یو قسم مهلت ورکړو، د هغوی د پاره په آخرت کښې سخت عذاب دې.

[ایاتونه: ۲۱-۲۶]

{يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ} أَيْ طُرُق تَزْيِينه {وَمَنْ يَتَّبِع خُطُوَات الشَّيْطَان فَإِنَّهُ} أَيْ الْمُتَّبَع {يَأْمُر بِالْفَحْشَاءِ} أَيْ الْقَبِيح {وَالْمُنْكَر} شَرْعًا بِاتِّبَاعِهَا {وَلَوْلَا فَضْل اللّٰه عَلَيْكُمْ وَرَحْمَته مَا زَكَى مِنْكُمْ} أَيُّهَا الْعُصْبَة بِمَا قُلْتُمْ مِنَ الْإِفْك {مِنْ أَحَد أَبَدًا} أَيْ مَا صَلَحَ وَطَهُرَ مِنْ هَذَا الذَّنْب بِالتَّوْبَةِ مِنْهُ {وَلَكِنَّ اللّٰه يُزَكِّي} يُطَهِّر {مَنْ يَشَاء} مِنَ الذَّنْب بِقَبُولِ تَوْبَته مِنْهُ {وَاللّٰه سَمِيع} بِمَا قُلْتُمْ {عَلِيم} بِمَا قَصَدْتُمْ {وَلَا يَأْتَلِ} يَحْلِف {أُولُو الْفَضْل} أَصْحَاب الْغِنَى {مِنْكُمْ وَالسَّعَة أَنْ} لَا {يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ} نَزَلَتْ فِي أَبِي بَكْر حَلَفَ أَنْ لَا يُنْفِق عَلَى مِسْطَح وَهُوَ ابْن خَالَته مِسْكِين مُهَاجِر بَدْرِيّ لَمَّا خَاضَ فِي الْإِفْك بَعْد أَنْ كَانَ يُنْفِق عَلَيْهِ وَنَاس مِنَ الصَّحَابَة أَقْسَمُوا أَنْ لَا يَتَصَدَّقُوا عَلَى مَنْ تَكَلَّمَ بِشَيْءٍ مِنَ الْإِفْك {وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا} عَنْهُمْ فِي ذَلِكَ {أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِر اللّٰه لَكُمْ وَاللّٰه غَفُور رَحِيم} لِلْمُؤْمِنِينَ قَالَ أَبُو بَكْر بَلَى أَنَا أُحِبّ أَنْ يَغْفِر اللّٰه لِي وَرَجَعَ إِلَى مِسْطَح مَا كَانَ يُنْفِقهُ عَلَيْهِ {إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ} بِالزِّنَى {الْمُحْصَنَات} الْعَفَائِف {الْغَافِلَات} عَنِ الْفَوَاحِش بِأَنْ لَا يَقَع فِي قُلُوبهنَّ فِعْلهَا {الْمُؤْمِنَات} بِاللّٰهِ وَرَسُوله {لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَة وَلَهُمْ عَذَاب عَظِيم} {يَوْم} نَاصِبه الِاسْتِقْرَار الَّذِي تَعَلَّقَ بِهِ لَهُمْ {تَشْهَد} بِالْفَوْقَانِيَّةِ وَالتَّحْتَانِيَّة {عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتهمْ وَأَيْدِيهمْ وَأَرْجُلهمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} مِنْ قَوْل وَفِعْل وَهُوَ يَوْم الْقِيَامَة {يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيهِمُ اللّٰهُ دِينَهُمُ الْحَقَّ} يُجَازِيهِمْ جَزَاءَهُ الْوَاجِب عَلَيْهِمْ {وَيَعْلَمُونَ أَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِين} حَيْثُ حَقَّقَ لَهُمْ جَزَاءَهُ الَّذِي كَانُوا يَشُكُّونَ فِيهِ وَمِنْهُمْ عَبْد اللّٰه بْن أُبَيّ وَالْمُحْصَنَات هُنَا أَزْوَاج النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يُذْكَر فِي قَذْفهنَّ تَوْبَة وَمَنْ ذُكِرَ فِي قَذْفهنَّ أَوَّل سُورَة التَّوْبَة غَيْرهنَّ {الْخَبِيثَات} مِنَ النِّسَاء وَمِنَ الْكَلِمَات {لِلْخَبِيثِينَ} مِنَ النَّاس {وَالْخَبِيثُونَ} مِنَ النَّاس {لِلْخَبِيثَات} مِمَّا ذُكِرَ {وَالطَّيِّبَات} مِمَّا ذُكِرَ {لِلطَّيِّبِينَ} مِنَ النَّاس {وَالطَّيِّبُونَ} مِنْهُمْ {لِلطَّيِّبَات} مِمَّا ذُكِرَ أَيْ اللَّائِق

بِالْخَبِيثِ مِثْله وَبِالطَّيِّبِ مِثْله (أُولَٰئِكَ الطَّيِّبُونَ وَالطَّيِّبَات مِنَ النِّسَاء وَمِنْهُمْ عَائِشَة وَصَفْوَان (مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ) أي الْخَبِيثُونَ وَالْخَبِيثَات مِنَ الرِّجَال وَالنِّسَاء فِيهِمْ (لَهُم) للطيبين والطيبات (مَغْفِرَة وَرِزْق كَرِيم) فِي الْجَنَّة وَقَدْ افْتَخَرَتْ عَائِشَة بِأَشْيَاء مِنْهَا أَنَّهَا خُلِقَتْ طَيِّبَة وَوُعِدَتْ مَغْفِرَة وَرِزْقًا كَرِيمًا

ترجمه: اې ایمان والو د شیطان په قدمونو باندې مه ځئ یعنی د شیطان په لارو باندې مه ځئ یعنی د هغه په تلبیس او دهوکه کښې مه راځئ، او کوم کس چه د شیطان په نقش قدم باندې ځی نو هغه یعنی په شیطانی لارو باندې تلونکې د شیطان په نقش قدم باندې د تلو د وجې نه د فحش یعنی د بې حیائی او شرعا نامعقول کارونو حکم کوی، که په تاسو باندې د الله پاک فضل او د هغه کرم نه وې نو اې خلقو په تاسو کښې به کله هم څوک پاک صفا شوې نه وې په دې وجه چه تاسو بهتان اوترلو، یعنی د توبې په ذریعه به نه د دې ګناه نه صحیح شوې وې او نه به پاک شوې وې، خو الله پاک چه چا لره غواړی پاک صفا کوی ئې د ګناه نه د هغه توبې لره قبلولو سره او الله پاک ستاسو خبرو لره اوریدونکې او ستاسو په ارادو باندې پوهه دې او قسم دې نه کوی په تاسو کښې فضل والا یعنی مالدار او وسعت لرونکی چه هغوی به خپلوانو او مسکینانو او د الله پاک په لاره کښې هجرت کونکو ته نه ورکوی دا آیت کریمه د سیدنا ابوبکر صدیق ﷺ په باره کښې نازل شوې وو هغه قسم خوړلې وو چه د خپل ترور خوئی مسکین، مهاجر، بدری سیدنا مسطح ﷺ باندې به خرچ نه کوی څکه چه هغه به دې افتراء کښې حصه اخستلې وه حال دا چه ابوبکر ﷺ به په هغه باندې خرچ کولو (یعنی د هغه کفالت به ئې کولو) او به صحابه کرامو کښې بعض نورو خلقو هم قسم کړې وو چه هغوی به په داسې خلقو باندې هیڅ قسم صدقه نه کوی چا چه لره هم د افک په معامله کښې په ژبې سره حصه اخستلې وه هغوی له پکار دی چه په دې معامله کښې هغوی معاف کړی او بخښنه اوکړی آیا تاسو دا خبره نه خوښوئ چه الله پاک ستاسو قصور معاف کړی او الله پاک د مومنانو دپاره بخښونکې او مهربانه دې سیدنا ابوبکر صدیق ﷺ اوفرمائیل بیشکه زه دا خبره خوښوم چه الله پاک ما معاف کړی پس په مسطح چه ئې کوم خرچ کولو هغه ئې بیا جاری کړو او کوم کسان چه په داسې زنانو باندې د زنا تهمت اولګوی کومې چه پاکې دی او د فحش خبرو نه بې خبر دی په داسې طریقه چه د هغوی په زړونو کښې کله د بې حیائی کولو خیال هم نه راځی او الله پاک او د هغه په رسول ﷺ باندې ایمان لرونکی دی نو په داسې خلقو باندې په دنیا او آخرت کښې لعنت کولې شی او د هغه خلقو دپاره به په هغه ورځ باندې لوئې عذاب وی، په کومه ورځ به چه د هغوی ژبې او د هغوی لاسونه او د هغوی خپې د هغوی د اعمالو ګواهی ورکوی که اعمال قولی وی یا فعلی او هغه به د قیامت ورځ وی د (یوم) ناصب (استقر) (محذوف) دې چه د هغې سره (لهم) متعلق دې (یشهد) تاء او یاء دواړو سره دی هغه ورځ به الله پاک هغوی ته پوره پوره واجبی بدله ورکړی یعنی چه کومه جزاء په هغوی

باندې واجب ده هغه به ورته پوره پوره ورکړي او هغوی ته به معلومه شي چه الله پاک صحیح فیصله کونکې (خبرې لره) ښکاره کونکې دې په داسې طریقې سره چه د هغوی په وړاندې به د هر هغه عمل جزا متحقق شي چه په هغې کښې هغوی شک کولو (هغه شک کونکو) کښې عبدالله بن ابی هم دې، او د ﴿ محصنات ﴾ نه دلته د رسول الله ﷺ ازواج مطهرات دی، د ازواج مطهرات د قذف په سلسله کښې ئې د توبې ذکر نه دې فرمائیلې. او د سورت په ابتداء کښې چه د چا د قذف په سلسله کښې د توبې ذکر کړې شوې دې هغه د ازواج مطهرات نه علاوه دی، گنده زنانه او گنده خبرې د گنده خلقو سره لائق دی او گنده سړي د گنده زنانو سره لائق دی.

قوله: ﴿ مما ذکر ﴾ ای للنساء او کلمات... او په مذکورین کښې پاکې زنانه د پاکو سړو لائق دی او په مذکورین کښې پاک سړي د پاکو زنانو لائق دی یعنی د خبیث لائق خبیث دې او د پاک لائق پاک دې او دا پاک سړې او پاکې زنانه او هم په دوی کښې سیده عائشه او سیدنا صفوان رضي الله عنهما دی. د هغه خبرو نه پاک دی کومې خبرې چه دوی کوی یعنی دا خبیث سړې او زنانه د دې حضراتو په باره کښې کوم بکواس کوی د هغوی د پاره یعنی د دې پاکو سړو او زنانو د پاره مغفرت او جنت کښې د عزت روزی ده او سیده عائشه رضي الله عنها به په څو خیزونو باندې فخر کولو یو په هغې کښې دا هم ده چه هغه پاکه پیدا کړې شوې ده او هغې سره د مغفرت او د عزت والا روزئ وعده کړې شوې ده.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ﴿ يٰأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ﴾ (خطوة) د طاء په ضمې او سکون سره په معنی د قدم.

قوله: ﴿ وَمَنْ يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ﴾ شرط دې او جواب محذوف دې د عبارت تقدیر داسې دې. ﴿ من يتبع خطوات الشيطان فلا يفلح ﴾

قوله: ﴿ فانه ﴾ د جواب شرط علت دې.

قوله: ﴿ أَيِ الْمُتَّبِعِ ﴾ د دې عبارت د اضافې مقصد دا بیانول دی چه د ﴿ ه ﴾ ضمیر مرجع ﴿ من ﴾ دې مراد هغه کس دې کوم چه د شیطان اتباع کوی بعض حضراتو ﴿ انه ﴾ ضمیر شیطان طرف هم راجع کړې دې هم دا ظاهره ده او ضمیر شان هم کیدې شي.

قوله: ﴿ باتباعهما ﴾ د یامر سره متعلق دې ﴿ ما زکی منکم ﴾ د لولا جواب دې ﴿ من الافك ﴾ کښې ﴿ من ﴾ بیانیه دې او ﴿ من احد ﴾ کښې ﴿ من ﴾ زائده دې او ﴿ احد ﴾ په محل د فاعل کښې دې

قوله: ﴿ ولا یأتل ﴾ ابتلاء (افتعال) نه نهی مضارع واحد مذکر غائب قسم دې نه خوری په اصل کښې ﴿ یأتلی ﴾ وو د ﴿ لا ﴾ ناهیه د وجې نه ﴿ ی ﴾ اوغورځیدله، ﴿ یأتل ﴾ شو، ماده د

(الی) په معنی د قسم.

قوله: ﴿ أُصْحَابُ الْغِنَى ﴾ دا د اولوا الفضل تفسير دي مفسر علام دا تفسير د تفسير بغوی په اتباع کښې کړې دې که د فضل تفسير ئي فضل فی الدين سره کړې وې نو زياته به غوره وه ځکه چه د سيدنا ابوبکرصديق ﷺ په فضيلت باندې استدلال کيدې شو ، د اولوا الفضل تفسير په اصحاب الغنی سره ه کولو کښې بغير د وجې نه تکرار هم لازميږي ځکه چه والسعة هم خوشحالی او مالی وسعت مراد دې.

قوله: ﴿ أَنْ لَا يُؤْتُوا ﴾ ... ﴿ لا ﴾ سره د دلالت د مقام د وجې نه حذف کړې شوې دہ، لکه چه (تفتؤاتذکریوسف) کښې ﴿ لا ﴾ مقدر دې او دا د حرف جر په تقدير سره دې ای علی ان لایؤتوا.

قوله: ﴿ وناس ﴾ د دې عطف په ابی بکرباندې دې ای نزلت فی ابی بکروناس من الصحابة... د يوم ناصب محذوف دې، تقدير د عبارت داسې دې وعذاب عظيم کائن لهم يوم تشهد الخ.

سوال: ﴿ عذاب ﴾ د مصدر په ذريعه منصوب ولې نه دې؟

جواب: د مصدر د عمل د بصريانو په نزد شرط دا دې چه مصدر موصوف واقع نه وی او دلته د ﴿ عظيم ﴾ موصوف واقع دې لهذا عذاب مصدر ناصب نه شی کيدې.

قوله: ﴿ الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ ﴾ (الاية) جمله مستانفه ده.

قوله: ﴿ مِنَ النِّسَاءِ وَمِنَ الْكَلِمَاتِ ﴾ د مفسر علام مقصد په دې عبارت سره دا بيانول دی چه د ﴿ الخبيثات ﴾ دوه تفسيرونه منقول دی يو ﴿ النساء ﴾ او دويم ﴿ الکلمات ﴾ او واو په معنی د ﴿ او ﴾ دې.

قوله: ﴿ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ ﴾ دا جمله مستانفه هم کيدې شی او دا هم کيدې شی چه د ﴿ اولئك ﴾ د خبر ثانی کيدو د وجې نه په محل د رفع کښې وی او خبر اول ﴿ مبرءون ﴾ وی.

[اياتونه: ۲۷ - ۳۴]

﴿يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا﴾ أَيْ تَسْتَأْذِنُوا ﴿وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا﴾ فَيَقُول الْوَاحِد السَّلَام عَلَيْكُمْ أَأَدْخُلُ كَمَا وَرَدَ فِي حَدِيث ﴿ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ﴾ مِنْ الدُّخُول بِغَيْرِ اسْتِئْذَان ﴿لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾ بِإِدْغَامِ التَّاء الثَّانِيَة فِي الذَّال خَيْرِيَّته فَتَعْمَلُونَ بِهِ ﴿فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا﴾ يَأْذَن لَكُمْ ﴿فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِنْ قِيلَ لَكُمْ﴾ بَعْد الِاسْتِئْذَان ﴿ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ﴾ أَيْ الرُّجُوع ﴿أَزْكَى﴾ أَيْ خَيْر ﴿لَكُمْ﴾ مِنْ الْقُعُود عَلَى الْبَاب ﴿وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾ مِنْ الدُّخُول بِإِذْنٍ وَغَيْر إِذْن ﴿عَلِيمٌ﴾ فَيُجَازِيكُمْ عَلَيْهِ ﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ﴾ أَيْ مَنْفَعَة ﴿لَكُمْ﴾ بِاسْتِكْنَانٍ وَغَيْره كَبُيُوتِ الرُّبُط وَالْخَانَات الْمُسَبَّلَة ﴿وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ﴾ تُظْهِرُونَ ﴿وَمَا تَكْتُمُونَ﴾ تُخْفُونَ فِي دُخُول غَيْر بُيُوتكُمْ مِنْ قَصْد صَلَاح أَوْ غَيْره وَسَيَأْتِي أَنَّهُمْ إِذَا دَخَلُوا بُيُوتهمْ يُسَلِّمُونَ على انفسهم ﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ

أَبْصَارِهِمْ﴾ عَمَّا لا يَحِلّ لَهُمْ نظره ومن زائدة ﴿وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ﴾ عمّا لا يحلّ لهم فعله بها ﴿ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ﴾ أي خير ﴿لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ﴾ بالابصار والفروج فيجازيهم عليه ﴿وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ﴾ عمّا لا يحلّ لهنّ نظره ﴿وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ﴾ عمّا لا يحلّ لهنّ فعله بها ﴿وَلَا يُبْدِينَ﴾ يظهرن ﴿زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ وهو الوجه والكفّان فيجوز نظره لاجنبيّ إن لم يخف فتنة في احد وجهين والثاني يحرم لانّه مظنّة الفتنة ورُجّح حسمًا للباب ﴿وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ﴾ اي يسترن الرؤوس والاعناق والصدور بالمقانع ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ﴾ الخفية وهي ما عدا الوجه والكفين ﴿إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ﴾ جمع بعل اي زوج ﴿أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ﴾ فيجوز لهم نظره إلا ما بين السرّة والركبة فيحرم نظره لغير الازواج وخرج بنسائهنّ الكافرات فلا يجوز للمسلمات الكشف لهنّ وشمل ما ملكت ايمانهنّ العبيد ﴿أَوِ التَّابِعِينَ﴾ في فضول الطعام ﴿غَيْرِ﴾ بالجرّ صفة والنصب استثناء ﴿أُولِي الْإِرْبَةِ﴾ أصحاب الحاجة إلى النساء ﴿مِنَ الرِّجَالِ﴾ بأن لم ينتشر ذكر كلّ ﴿أَوِ الطِّفْلِ﴾ بمعنى الأطفال ﴿الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا﴾ يطّلعوا ﴿عَلَىٰ عَوْرَاتِ النِّسَاءِ﴾ للجماع فيجوز أن يُبدين لهم ما عدا ما بين السرّة والركبة ﴿وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ﴾ من خلخال يتقعقع ﴿وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ﴾ مما وقع لكم من النظر الممنوع منه ومن غيره ﴿لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ تنجون من ذلك لقبول التوبة منه وفي الآية تغليب الذكور على الإناث ﴿وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ﴾ جمع أيّم وهي من ليس لها زوج بكرًا كانت أو ثيبًا ومن ليس له زوج وهذا في الأحرار والحرائر ﴿وَالصَّالِحِينَ﴾ المؤمنين ﴿مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ﴾ وعباد من جموع عبد ﴿إِن يَكُونُوا﴾ أي الأحرار ﴿فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ﴾ بالتزوّج ﴿مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ﴾ لخلقه ﴿عَلِيمٌ﴾ بهم ﴿وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا﴾ ما ينكحون به من مهر ونفقة عن الزنى ﴿حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ﴾ يوسّع عليهم ﴿مِن فَضْلِهِ﴾ فينكحون ﴿وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ﴾ بمعنى المكاتبة ﴿مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ من العبيد والإماء ﴿فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا﴾ اي امانة وقدرة على الكسب لأداء مال الكتابة وصيغتها مثلاً كاتبتك على ألفين في شهرين كلّ شهر ألف فإذا اديتها فانت حرّ فيقول قبلت ﴿وَآتُوهُم﴾ امر للسادة ﴿مِّن مَّالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ﴾ ما يستعينون به في أداء ما التزموه لكم وفي معنى الإيتاء حطّ شيء مما التزموه ﴿وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ﴾ إماءكم ﴿عَلَى الْبِغَاءِ﴾ الزنى ﴿إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا﴾ تعففًا عنه وهذه الإرادة محلّ الإكراه فلا مفهوم للشرط ﴿لِّتَبْتَغُوا﴾ بالإكراه ﴿عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ نزلت في عبد الله بن ابيّ كان يكره جواريه على الكسب بالزنى ﴿وَمَن يُكْرِههُّنَّ فَإِنَّ اللَّهَ مِن بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ﴾ لهنّ ﴿رَّحِيمٌ﴾ بهنّ ﴿وَلَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ آيَاتٍ مُّبَيِّنَاتٍ﴾ بفتح الياء وكسرها في هذه السورة بيّن فيها ما ذكر أو بيّنة ﴿وَمَثَلًا﴾ خبرًا عجيبًا وهو خبر عائشة ﴿مِّنَ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُمْ﴾ اي من جنس امثالهم اي اخبارهم العجيبة كخبر يوسف ومريم ﴿وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ﴾ في قوله تعالى ﴿وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ﴾ ﴿لَّوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ﴾ إلخ ﴿وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم﴾

اِلَخ ﴿يَعِظُكُمُ اللّٰهُ أَنْ تَعُودُوا﴾ اِلَخ وَتَخْصِيصَهَا بِالْمُتَّقِينَ لِأَنَّهُمُ الْمُنْتَفِعُونَ بِهَا

ترجمه: اې ايمان والو تاسو د خپلو كورونو نه سوا د نورو خلقو كورونو كښې تر هغه وخته پورې په داخليږئ ترڅو پورې چه اجازت حاصل نه كړئ او د كور خلقو ته سلام اونكړئ پس هر اجازت اخستونكى له پكار دى چه اوائى ﴿ السلام عليكم اادخل ﴾ آيا زه داخليدې شم؟ لكه چه په حديث كښې راغلى دى. هم دا ستاسو دپاره غوره ده بغير اجازت نه د داخليدو نه د دې دپاره چه تاسو خيال اوساتئ د اجازت د خير كيدو بيا تاسو په دې باندې عمل اوكړئ دويمه تا، په ذال كښې مدغم كولو سره پس كه تاسو په كورونو كښې څوک بيا نه مومئ چه تاسو ته اجازت دركړى نو هغې ته مه داخليږئ ترڅو چه تاسو ته اجازت درنكړې شى او كه د اجازت طلب كولو نه پس تاسو ته اوئيلې شى چه واپس شئ نو واپس كيږئ هم دا واپس كيدل ستاسو په دروازه باندې د كيناستلو نه غوره دى الله پاک ته ستاسو اعمالو دخول بالاذن او دخول بغير الاذن د ټولو خبر دې لهذا په دې اعمالو به درته جزا دركوى په تاسو باندې داسې كورونو ته (بغير داجازت نه) داخليدو كښې هيڅ ګناه نشته كوم چه رهائشى نه وى او د كومو سره چه ستاسو هم څه منفعت تړلې وى (مثلا) د ګرمئ يخنئ نه د بچ كيدو وغيره منفعت لكه د عام سرائې په طور استعماليدونكى كورونه او دكان او څه چه تاسو اعلانيه كوئ او څه چه پټ كوئ دنورو كورونو ته د اصلاح يا غير اصلاح په اراده باندې داخليدل الله پاک ته ټول معلوم دى او دا مضمون نزدې راروان دې چه خلق كله خپلو كورونو ته داخليږى نو پخپله دې سلام كوى ته مسلمانانو ته اوايه چه خپلې ستركې دې د هغه خيزونو نه ښكته ساتى چه د هغې كتل د هغوى دپاره حلال نه دى، او ﴿ من ﴾ زائده دې او د خپلو شرمګاهونو حفاظت دې كوى د هغه افعالو چه د هغې ارتكاب د هغوى دپاره حلال نه دې، دا د هغوى دپاره ډيره د پاكيزګئ خبره ده يعنى غوره ده الله پاک ته هر څه معلوم دى څه چه هغوى په خپلو ستركو او شرمګاهونو سره كوى او مسلمانانو زنانو ته اوايه چه خپلې ستركې دې ښكته ساتى د هغه څيزونو نه چه كومو ته كتل جائز نه دى او د خپلو شرمګاهونه دې د هغه كارونو نه محفوظ ساتئ چه د هغې ارتكاب د هغوى دپاره حلال نه دې او خپل زينت دې نه ښكاره كوى سوا د هغې نه چه كوم ظاهر دې او هغه مخونه او تلى دى د پردى سرى دپاره په يو قول كښې د دې اندامونو كتل جائز دى كه د فتنې ويره نه وى او په دويم قول كښې حرام دى، ځكه چه دا محل د فتنې دې او (دويم قول) سدا للباب راجح كړې شوې دې او خپلې لوپټې دې په خپلو سينو باندې اچوى يعنى سرونه، ستونه او سينې دې په لوپټو سره پټوى او خپل بت دول دې نه ښكاره كوى او هغه د مخ او لاسونو نه علاوه دې خو په خپلو خاوندانو باندې (بعل) جمع د بعل ده په معنى د خاوند او په خپل پلار يا د خپل خاوند په پلار باندې يا په خپلو خامنو باندې يا د خپلو

خاوند په خامنو باندې يا په خپلو رونړو باندې يا په خپلو وريرونو باندې يا په خپلو خورينو باندې يا په خپلو زنانو باندې (يعنى په مسلمانانو زنانو باندې) يا په خپلو وينزو باندې د دې خلقو دپاره د نوم او كونډئ ترمينځه نه علاوه كتل جائز دى لهذا د نوم او كونډو ترمينځه حصه د خاوندانو نه علاوه د نورو دپاره كتل حرام دى، او د ﴿نسائهن﴾ د قيد نه كافرې زنانه خارجې شوې، لهذا د مسلمانانو زنانو دپاره د كفارو په وړاندې بې پردې كيدل جائز نه دى او ﴿ماملكت ايمانهن﴾ لفظ (د خپل عموم د وجې نه) غلامانو ته هم شامل دې يا په هغه سړو باندې كوم چه طفيلى وى يعنى داسې خلق كوم چه د بچ شوى خوراک لټونكى وى د هغوى بل څه غرض نه وى غيربه جر سره به د ﴿التابعين﴾ صفت وى او نصب به د استثناء د وجې نه وى ﴿اولى الاربة﴾ هغه سړى چه د خوراک وغيره دپاره په زنانو پسې اولګى (د هغوى بل څه مقصد نه وى) هر داسې سړې چه د هغه په عضو تناسل كښې انتشاره نه وى يا په داسې هلكان باندې چه هغوى لا تر اوسه د پردې يعنى د جماع وغيره د خبرو نه خبر نه دى او طفل په معنى د اطفال دې، نو د داسې خلقو دپاره (مابين السرة والركبة) نه علاوه ظاهرول جائز دى او خپلې خپې دې په زوره نه وهى چه پټ كالى ئې ښكاره شى چه هغه اواز كونكې پازيب دې او اې مومنانو! تاسو ټول الله پاک ته توبه اوباسئ د ممنوع نظر وغيره نه كوم چه ستاسو نه واقع شوې دې د دې دپاره چه تاسو كامياب شئ يعنى چه تاسو د دې نه (د ممنوع نظر د ګناه نه) خلاص شئ، د الله پاک د توبې قبلولو په ذريعه، او په آيت كريمه كښې د مذكر په مونث باندې غلبه ده او په تاسو كښې چه څوک بغير د نكاح نه وى د هغوى نكاح كوئ ايامى د ﴿ايم﴾ جمع ده هغه زنانه ده چه د هغې خاوند نه وى برابره خبره ده كه باكره وى كه ثيبه او هغه سړې چه د هغه ښځه نه وى او دا (حكم) د ازادو سړو او زنانو دې او تاسو د خپلو مومن غلامانو او وينزو هم نكاح كوئ او عباد د عبد جمع ده كه هغوى غريبانان وى نو الله پاک به ئې په خپل فضل سره د دې نكاح په بركت سره مالدار كړى او الله پاک د خپل مخلوق دپاره وسعت والا دې او (د هغوى د حالاتو) نه خبردار دې او داسې خلق كوم چه په نكاح باندې د مهر او د نفقې د نشتوالى د وجې نه قادر نه وى نو هغوى لره پكار دى چه زنانه په صبر كار واخلى ترڅو چه الله پاک ئې په خپل فضل سره مالدار كړى يعنى هغوى ته فراخى وركړى بيا دې هغوى نكاح اوكړى او ستاسو په غلامانو كښې چه كوم د مكاتبت خواهشمند وى د غلامانو او وينزو نه نو هغوى مكاتب جوړ كړئ كه تاسو ته پكښې بهترى ښكارى يعنى د امانت او بدل كتابت ادا كولو دپاره د ګټې قدرت او (پاتې شوه) د مكاتبت صيغه نو مثلاً داسې اوائى چه ته ما په دوه مياشتو كښې په دوه زره باندې مكاتب جوړ كړې په هره مياشت كښې په زر باندې چه كله ته دا ادا كړې نو ته ازاد ئې نو غلام اوائى چه ما ته

منظوره ده او د الله پاک د هغه مال نه کوم چه هغه تاسو ته درکړي دي هغوی ته هم ورکړئ چه په هغې سره هغوی د هغه بدل کتابت په ادا کولو کښې مدد حاصل کړی کوم چه هغوی ستاسو دپاره (په خپل ځان باندې) لازم کړي دي، دا سردارانو نه حکم دې او کوم چه هغوی په خپل ځان باندې لازم کړي دي د هغې نه څه کمول دا هم د ورکړې په حکم کښې دې او خپلو وینزو لره په زنا باندې مه مجبوروئ که هغوی پاکې اوسیدل غواړي یعنی د زنا نه ځان ساتل غواړي او دا یعنی ارادهٔ تحصن د اکراه محل دې، لهذا د شرط د مفهوم مخالف هیڅ اعتبار نشته د دې دپاره چه تاسو د اکراه په ذریعه څه دنیاوی فائده حاصله کړئ دا آیت کریمه د عبدالله بن ابی په باره کښې نازل شوې دې چا چه به خپلې وینزې د زنا په ذریعه کسب کولو باندې مجبوره کولې او کوم سړې چه هغوی مجبوره کړی نو الله پاک د هغوی د مجبوره کیدو نه پس هغوی لره بخښونکې مهربانه دې او بیشکه مونږ تاسو ته په دې سورت کښې ښکاره احکامات نازل کړي دی (مبینات) کښې د یاء په فتحې او کسرې سره دې په دې (سورت) کښې هغه احکامات بیان کړی شوې دی کوم چه ذکر شوې دی یا (احکام لره) واضح کونکی آیتونه ئې نازل کړی دی او عجیب خبر نازل کړی دې او هغه د سیده عائشه رضی الله عنها واقعه ده کومه چه ستاسو نه مخکښې تیرو شوو خلقو د خبر د جنس نه ده (په عجیبه کیدو کښې) یعنی د هغه خلقو د اخبار عجیبه د جنس نه ده، لکه د سیدنا یوسف علیه السلام او سیده مریم علیها السلام خبر. او د ویریدونکو دپاره د نصیحت خبرې ئې (نازلې کړې) د الله پاک په قول ولا تأخذکم بهما رافة فی دین الله (الاية) کښې (او) لولا اذ سمعتموه ظن المومنون (الاية) کښې او ولولا اذ سمعتموه قلتم (الاية) کښې او یعظکم الله ان تعودوا (الاية) کښې د متقیانو تخصیص ځکه شوې دې چه هم دا خلق د نصیحت نه فائده اوچتوی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ﴿ يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا ﴾ ای تستاذنوا په مخکښې آیتونو کښې الله پاک د ستر او حجاب، عفت او پاک اوسیدو احکام بیان اوفرمائیل، بعض د دې احکاماتو نه د چا کور ته بغیر د اجازت نه نه داخلیدل لهذا دی د ستر او حجاب د احکاماتو نه پس ئې د استیذان مسئله بیان کړه، د ټولو نه اول الله پاک کورونو ته د داخلیدو اداب بیان کړل ځکه چه د پردو سړو او زنانو اختلاط بعض وخت د فتنې سبب جوړیږی.

قوله: ﴿ تَسْتَأْنِسُوا ﴾ په معنی د تستاذنوا دې ... دا د استیذان نه مشتق دې د دې معنی ده اجازت اخستل، انسیت پیدا کول.

قوله: ﴿ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ ﴾ دا د لاتدخلوا بیوتا نه په منزله د استثناء دې.

قوله: استکنان دا د کن (کاف مکسور ونون مشدد) نه مشتق دې د دې معنی د پټیدو ده یعنی یخنی، گرمی یا باران وغیره نه پټیدو سره ارام حاصلول.
قوله: ﴿ ربط ﴾ د رباط جمع ده د دې اصل معنی خو د اصطبل یا بیرک (غوجل) ده خو دلته هغه عام سرائې او مسافر خانې مراد دی چه په هغې کښې د ټلو راتلو عام اجازت وی او کومې چه د منفعت عامه دپاره جوړولې شی ﴿ المسبلة ﴾ هغه لارې ته وئیلې شی چه په هغې باندې خلق ځی راځی هم په دې مناسبت سره هغه کور ته هم وئیلې شی چه په هغې کښې د ټلو راتلو اجازت وی مسبلة په اصل کښې د ربط صفت دې لهذا که دا ئې د ربط سره متصل ذکر کړې وې نو دا به زیاته واضحه وې د خطیب عبارت داسې دې ﴿ کبیوت الخانات والربط المسبلة ﴾ (جمل) خانات د خانة جمع ده دکان ته وئیلې شی چه هلته د اخستلو او خرڅولو دپاره عام اجازت وی، المسبلة د ربط او خانات دوارو د صفت جوړیدو صلاحیت لری.
قوله: ﴿ بِالْمَقَانِعِ ﴾ دا د مقنع یا مقنعة جمع ده، لوپټې او پړونی ته وائی.
قوله: ﴿ أَوِ التَّابِعِينَ ﴾ ای التابعین للنساء هغه خفیف العقل او نیم پاګل خلق کوم چه د خوراک وغیره په لټون کښې د زنانو سره شی خلخال پازیب (ج) خلاخل، تقعقع یتقعقع په حرکت سره اواز ویستل.
قوله: ﴿ وَالصَّالِحِينَ ﴾ ای المومنین دلته د صالحین نه مراد هغه مومنین دی کوم چه د نکاح د حقوقو ادا کولو صلاحیت لری.
قوله: ﴿ وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ ﴾ ﴿ والذین ﴾ موصول او صله مبتدأ متضمن په معنی د شرط کیدو د وجې نه محلا مرفوع دې، په دې صورت کښې ﴿ فکاتبوهم ﴾ د دې خبر دې او ﴿ مما ملکت ایمانکم ﴾ د یبتغون د ضمیر نه حال دې او د فعل مقدر د وجې نه ئې نصب هم جائز دې نو په دې صورت کښې به محلا منصوب وی او د باب اشتغال نه به وی.
قوله: ﴿ وَمَعْنَى الْإِرَادَةِ مَحَلُّ الْإِكْرَاهِ فَلَا مَفْهُومَ لِلشَّرْطِ ﴾ دا د یو اعتراض جواب دې، اعتراض دا دې چه ﴿ ان اردن تحصنا ﴾ حرف شرط نه معلومیږی چه که وینزې پاکې اوسیدل غواړی نو هغوی دې په زنا باندې مجبورې نه کړې شی او که پاکې اوسیدل نه غواړی نو بیا مجبوره کولې شی؟ جواب دا دې چه د اجبار ضرورت هله راځی چه کله هغوی پاکې اوسیدل غواړی او که هغوی خپله پاکې اوسیدل نه غواړی نو د اجبار ضرورت به نه پیښیږی، هغوی به خپله مرضئ سره د زنا فعل اوکړی.
قوله: ﴿ مُبَيِّنَةٍ ﴾ په معنی د ﴿ مبینة ﴾ اسم فاعل دې یعنی احکاماتو لره واضح کونکی آیتونه.
قوله: ﴿ مثلا ﴾ یعنی په دې سورت کښې یا په دې قرآن کښې مونږ ستاسو دپاره واضح

احکامات نازل کړی دی او د عائشې ﷺ عجیبه واقعه مو نازل کړې ده کومه چه په عجیبه کیدو کښې د تیرو خلقو مثلا سیدنا یوسف او مریم ﷺ د واقعې سره مشابه دی ځکه چه په دې دواړو حضراتو باندې هم تهمت لګیدلې وو او الله پاک د دې حضراتو براءت هم ظاهر کړې وو.

[ایاتونه:۳۵-۴۰]

﴿اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ أَيْ مُنَوِّرُهُمَا بِالشَّمْسِ وَالْقَمَرِ ﴿مَثَلُ نُورِهِ﴾ أَيْ صِفَتُه فِي قَلْبِ الْمُؤْمِنِ ﴿كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ﴾ هِيَ الْقِنْدِيل وَالْمِصْبَاح السِّرَاج أَيْ الْفَتِيلَة الْمَوْقُودَة وَالْمِشْكَاة الطَّاقَة غَيْر النَّافِذَة أَيْ الْأُنْبُوبَة فِي الْقِنْدِيل ﴿الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا﴾ وَالنُّور فِيهَا ﴿كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ﴾ أَيْ مُضِيء بِكَسْرِ الدَّال وَضَمِّهَا مِنَ الدَّرْءِ بِمَعْنَى الدَّفْع لِدَفْعِهَا الظَّلَام وَبِضَمِّهَا وَتَشْدِيد الْيَاء مَنْسُوب إِلَى الدُّرّ اللُّؤْلُؤ ﴿تُوقَدُ﴾ الْمِصْبَاح بِالْمَاضِي وفي قراءة بمضارع او قد مَبْنِيًّا لِلْمَفْعُولِ بِالتَّحْتَانِيَّة وَفِي آخرى تُوقَد بِالْفَوْقَانِيَّة أَيْ الزُّجَاجَة ﴿مِنْ﴾ زَيْت ﴿شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ﴾ بَلْ بَيْنهمَا فَلَا يَتَمَكَّن مِنْهَا حَرّ وَلَا بَرْد مُضِرَّانِ ﴿يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ﴾ لِصَفَائِهِ ﴿نُورٌ﴾ بِهِ ﴿عَلَىٰ نُورٍ﴾ بِالنَّارِ وَنُور اللَّه أَيْ هُدَاهُ لِلْمُؤْمِنِ نُور عَلَى نُور الْإِيمَان ﴿يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ﴾ أَيْ دِين الْإِسْلَام ﴿مَنْ يَشَاءُ وَيَضْرِبُ﴾ يُبَيِّن ﴿اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ﴾ تَقْرِيبًا لِأَفْهَامِهِمْ لِيَعْتَبِرُوا فَيُؤْمِنُوا ﴿وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾ وَمِنْهُ ضَرْب الْأَمْثَال ﴿فِي بُيُوتٍ﴾ مُتَعَلِّق بِيُسَبِّح الْآتِي ﴿أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ﴾ تُعَظَّم ﴿وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ﴾ بِتَوْحِيدِهِ ﴿يُسَبِّحُ﴾ بِفَتْحِ الْمُوَحَّدَة وَكَسْرهَا أَيْ يُصَلِّي ﴿لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ﴾ مَصْدَر بِمَعْنَى الْغَدَوَات أَيْ الْبُكَر ﴿وَالْآصَالِ﴾ الْعَشَايَا مِنْ بَعْد الزَّوَال ﴿رِجَالٌ﴾ فَاعِل يُسَبِّح بِكَسْرِ الْبَاء وَعَلَى فَتْحهَا نَائِب الْفَاعِل لَهُ وَرِجَال فَاعِل فِعْل مُقَدَّر جَوَاب سُؤَال مُقَدَّر كَأَنَّهُ قِيلَ مَنْ يُسَبِّحهُ ﴿لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ﴾ شِرَاء ﴿وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ﴾ حَذْف هَاء إِقَامَة تَخْفِيف ﴿وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ﴾ تَضْطَرِب ﴿فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ﴾ مِنَ الْخَوْف الْقُلُوب بَيْن النَّجَاة وَالْهَلَاك وَالْأَبْصَار بَيْن نَاحِيَتَيْ الْيَمِين وَالشِّمَال هُوَ يَوْم الْقِيَامَة ﴿لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا﴾ أَيْ ثَوَابه وَأَحْسَن بِمَعْنَى حَسَن ﴿وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ يُقَال فُلَان يُنْفِق بِغَيْرِ حِسَاب أَيْ يُوَسِّع كَأَنَّهُ لَا يَحْسُب مَا يُنْفِقهُ ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ﴾ جَمْع قَاع أَيْ فِي فَلَاة وَهُوَ شُعَاع يُرَى فِيهَا بِنِصْفِ النَّهَار فِي شِدَّة الْحَرّ يُشْبِه الْمَاء الْجَارِي ﴿يَحْسَبُهُ﴾ يَظُنّهُ ﴿الظَّمْآنُ﴾ أَيْ الْعَطْشَان ﴿مَاءً حَتَّىٰ إِذَا جَاءَهُ لَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا﴾ مِمَّا حَسِبَهُ كَذَلِكَ الْكَافِر يَحْسَب أَنَّ عَمَله كَصَدَقَةٍ يَنْفَعهُ حَتَّى إِذَا مَاتَ وَقَدِمَ عَلَى رَبّه لَمْ يَجِد عَمَله أَيْ لَمْ يَنْفَعهُ ﴿وَوَجَدَ اللَّهَ عِنْدَهُ﴾ أَيْ عِنْد عَمَله ﴿فَوَفَّاهُ حِسَابَهُ﴾ أَيْ جَازَاهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا ﴿وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ﴾ أَيْ الْمُجَازَاة ﴿أَوْ﴾ الَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالهمْ السَّيِّئَة ﴿كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُجِّيٍّ﴾ عَمِيق ﴿يَغْشَاهُ مَوْجٌ مِنْ فَوْقِهِ﴾ أَيْ الْمَوْج ﴿مَوْجٌ مِنْ فَوْقِهِ﴾ أَيْ الْمَوْج الثَّانِي ﴿سَحَابٌ﴾ أَيْ غَيْم هَذِهِ ﴿ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ﴾ ظُلْمَة الْبَحْر وَظُلْمَة الْمَوْج الْأَوَّل وَظُلْمَة الثَّانِي وَظُلْمَة السَّحَاب ﴿إِذَا أَخْرَجَ﴾ النَّاظِر ﴿يَدَهُ﴾ فِي هَذِهِ الظُّلُمَات ﴿لَمْ

يَكَادُ زَيْتُهَا) اي لم يقرب من زلتها (وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ) اي من لم يهده الله لم يهتد

ترجمه: الله پاک د اسمانانو او زمکې نور دې يعنې دې دواړو لره په شمس او قمر سره روښانه کونکې دې او د هغه د نور مثال يعنې د هغې صفت د مومن په زړه کښې داسې دې لکه چه يو طاقچه ده او په هغې کښې يو ډيوه ده او هغه ډيوه په يو شيشه کښې ده (زجاجة) په معنى د شيشې او المصباح په معنى د ډيوې يعنې بليدونکې باتۍ (شعله) او المشكاة په معنى د طاقچې کوم چه آرپار نه وى يعنې د شيشې نلکه (بانس) او هغه شيشه حال دا چه په هغې کښې نور وى داسې دې لکه يو روښانه ستورې د دال په کسرې سره او د دال په ضمې سره (په دې صورت کښې به) درءنه مشتق وى او معنى به ئې د دفع کولو وى د هغې تياره دفع کولو د وجې نه، او د دال په ضمې او د ياء په تشديد سره (درى) د درطرف ته منسوب دې او معنى به ئې وى ملغلره توقد ماضى (تفعل) اى توقد المصباح او په يو قراءت کښې د لوقدنه مضارع مجهول ده يوقد (په دې صورت کښې به نائب فاعل المصباح وى) او په دريم قراءت کښې په تاء سره دې اى توقد په دې صورت کښې به نائب فاعل (الزجاجة) وى، روښانه کولې شى هغه ډيوه د ډيوې مبارکې اونې په تيلو سره کومه چه د زيتون ده او هغه اونه نه په مشرقى طرف کښې ده او نه په مغربى کښې بلکه د هغې ترمينځه واقع ده پس گرمى او يخنى په هغې (اونې) باندې مضر کيدو سره نه واقع کيږى، داسې معلوميږى چه د هغې تيل به د خپلې صفايئ د وجې نه پخپله بل شى اگرچه اور ورته او نه رسيږى هغه تيل د اور د وجې نه نور على نور دې الله پاک چه چاته غواړى خپل نور ته يعنې دين اسلام ته ئې رهنمائى کوى او الله پاک د خلقو دپاره مثال بيان فرمائى د هغوى عقلونو ته د نزدې کولو دپاره د دې دپاره چه هغوى عبرت حاصل کړى او ايمان راوړى او الله پاک د هر يو شيز نه خبردار دې او هم په دې علم کښې مثالونه بيانول هم دى او په هغه کورونو کښې د هغه تسبيح بيانولې شى چه د هغې متعلق الله پاک حکم کړې دې چه د هغې دې تعظيم اوکړې شى او په هغې کښې دې د هغه د توحيد سره د هغه نوم واخستلې شى (فى بيوت) د راتلونکې (يسبح) سره متعلق دې د (يسبح) ياء په فتحې او کسرې سره او (يسبح) (بضم الباء) په معنى د (يصلى) دې د سحر په وخت (الغدو) مصدر په معنى د (غداوة) دې په معنى د صبا او د مابنام په وخت د زوال نه پس (رجال) ديسبح فاعل دې د باء د کسرې په صورت کښې او که د باء په فتحې سره وى نو په (له) کښې (ه) ضمير به د دې نائب فاعل وى، او (رجال) به د فعل مقدر فاعل وى، او د سوال مقدر جواب به وى، گويا تپوس اوکړې شو چه څوک تسبيح بيان کړى؟ نو جواب ورکړې شو (رجال) هغه داسې خلق دى چه هغوى لره د الله پاک د ذکر نه او د مونځ قائمولو او د زکاة د

ورکولو نه نه اخستل په غفلت کښې اچوي او نه خرڅول د ﴿ اقام ﴾ په آخر کښې ﴿ ة ﴾ لره تخفيفا حذف کړې شوې ده (په اصل کښې اقامة وو) هغوي د داسې ورځې نه ويريږي چه په هغې کښې به دير زړونه او ديرې سترګې د ويرې د وجې نه مضطرب شي، زړونه به د نجات او هلاکت ترمينځه مضطرب وي او سترګې به ښي او ګس طرف ته مضطرب وي او هغه به د قيامت ورځ وي (او هغوي به) داسې ښکه کوي چه الله پاک د هغوي د اعمالو ښه بدله ورکړي يعنې د اعمالو ثواب او ﴿ احسن ﴾ په معنى د ﴿ حسن ﴾ دې او هغوي ته د خپل فضل او کرم نه نور هم زيات ورکړي او الله پاک چه چاته غواړي بې حسابه رزق ورکوي وئيلې شي چه فلانې سړي بې حسابه خرچ کوي يعنې په خرچ کښې دومره فراخي کوي ګويا چه هغه څه خرچ کوي د هغې حساب نه کوي او کوم خلق چه کافر دي د هغوي اعمال داسې دي لکه صفا ميدان کښې پرتيدونکې شړې قيعة جمع ئې قاع، بقيعة په معنى د في فلاة، فلاة په معنى د صحرا، هوار ميدان، سراب هغه رڼرا ګانو (شعاع ګانو) ته وئيلې شي کومې چه د غرمې په وخت کښې په سخته ګرمئ کښې د بهيدلو اوبو په شان ښکاره کيږي او دې شړو لره تږې انسان اوبه ګڼړي تردې چه کله د هغې خواته راشي نو هغه هيڅ نه مومي چه په څه ئې د اوبو ګمان کړې وو، هم دغه شان کافر خيال کوي چه د هغه عمل مثلا صدقه به هغه ته نفع اورسوي تردې چه کله هغه مړ شي او خپل رب ته لاړ شي نو خپل عمل به بيا نه مومي يعنې د هغه عمل به هغه ته هيڅ نفع ورنکړي، او الله پاک ئې د خپل عمل خوا کښې بيا موندلو چه هغه د هغه پوره پوره حساب ورکړو يعنې الله پاک د هغه کافر د عمل جزا په دنيا کښې پوره پوره ورکړه او الله پاک دير زر حساب کونکې دې يعنې زر جزا ورکونکې دې يا د کفارو د بدو عملونو مثال داسې دې لکه د ژور سمندر تياره چه يوې لوئې چپې پټ کړې وي او د هغه چپې دپاسه يوه بله چپه وي او د هغې چپې دپاسه وريځ وي دا تيارې د يو بل دپاسه تيارې دي د سمندر تياره، د رومبئ چپې تياره، د دويمې چپې تياره او د وريځ تياره که کتونکې په دې تيارو کښې خپل لاس راوباسي نو هغه به هم اونه ويني يعنې د هغه د لاس د ليدو هډو امکان نشته او چاته چه الله پاک رڼرا ورنکړي د هغه دپاره هيڅ رڼرا نشته چاته چه الله پاک هدايت ورنکړو د هغه دپاره هيڅ هدايت نشته.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: ﴿ اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ دا جمله مستانفه د ماقبل د تاکيد دپاره ده ﴿ الله ﴾ مبتدا ﴿ نور السماوات والارض ﴾ د دې خبر دې، د ﴿ نور ﴾ حمل د الله پاک په ذات باندې يا خو مبالغة دې، لکه په زيد عدل کښې يا مضاف محذوف دې اى الله ذو نور السماوات والارض يا نور مصدر د اسم فاعل منور په معنى دې لکه چه علامه محلى دا معنى اختيار کړې ده.

قوله: ﴿ مَثَلُ نُورِهٖ ﴾ په ترکیب اضافی سره مبتدا ﴿ كمشكاة فيها مصباح ﴾ د دې خبر. د مشکاة نه مخکښې نور مضاف محذوف دې اې صفة نوره تعالى فى قلب المومن كنور مشكاة فيها مصباح.

قوله: ﴿ زُجَاجَةٍ ﴾ بالتثليث شيشه، د شيشې لوښې، قنديل هم چونکه د شيشې وی لهذا قنديل ورته هم وئيلې كيدې شي.

قوله: ﴿ المَوْقُودَةُ ﴾ صحيح الموقدة دي.

قوله: ﴿ الأُنْبُوبَة ﴾ هغه نلكه چه په كومې كښې باتئ وی دا د مشكاة دويم تفسير دې مناسبه وه چه مفسر علام ﴿ اوالأُنْبُوبَة ﴾ فرمائيلې دی.

قوله: ﴿ تَوَقَّدَ المِصبَاح ﴾: توقد كښې درې قراتونه دی. ① فعل ماضى توقد په وزن د تفعل، المصباح دې فاعل دې. ② يوقد د اوقد نه مضارع مجهول واحد مذكر غائب المصباح نائب فاعل، ③ توقد ... بالتاء د اوقد نه مضارع مجهول، نائب فاعل الزجاجة د مضاف په حذف سره اى فتيلة الزجاجة.

قوله: ﴿ زَيْتُونَة ﴾ دا د شجرة نه بدل دې، هم دا ظاهره ده يا عطف بيان دې د كوفيانو په نزد خكه چه په نكرات كښې كوفيان عطف بيان ته جائز وائی، شجرة موصوف مباركة ئې صفت، موصوف سره د صفت نه مبدل منه، ﴿ زيتونة ﴾ بدل، بدل سره د مبدل منه نه مضاف اليه دپاره د زيت مضاف محذوف، مضاف او مضاف اليه مجرور شو د جار دپاره، او جار مجرور متعلق شو د ﴿ توقد ﴾ سره.

قوله: ﴿ لَاشَرْقِيَّةٍ وَلَاغَرْبِيَّةٍ ﴾ دا د ﴿ شجرة ﴾ صفت دې.

قوله: ﴿ مُظِنِّين ﴾ دا د حرولا يردنه حال دې.

قوله: ﴿ وَلَوْلَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ﴾ شرط دې د دې جواب محذوف دې اى لاضاء نوربه اى بالزيت.

قوله: ﴿ عَلَى نُورٍ ﴾ اى معه نور... ايمان پخپله يو نور دې، د ايمان سره سره د نورو اعمال صالحه توفيق او هدايت دا نور على نور دې، الله پاک د تقريب الى الفهم دپاره معقولاتو لره د محسوساتو په ذريعه مثال وركولو سره پوهوی چه خلق عبرت حاصل كړی او ايمان راوړی.

تنبيه: په آيت كريمه كښې مثل نوره كمشكاة الاية.... په دې كښې تشبيه د معقول بالمحسوس ده، د نورالله نه مراد دلائل يا قرآن كريم دې، يا توحيد والشرائع، يا هدايت مراد دې او دا مشبه ده او نور مشكاة سره د خپلو صفاتو نه مشبه به ده، د تشبيه دپاره د مشبه به اشهر كيدل كافى دی، اقوى كيدل ضرورى نه دی لهذا ذكر شوې تشبيه صحيح ده، په مشبه به كښې چونكه اجزاء نشته چه د هغې نه وجه د شبه منتزع كړې شي او د هغې په وجه تشبيه لره مركب يا مفرق (مفرد) اوئيلې شي. (روح المعانى)

دغه شان بعض حضراتو دا هم وئيلي دي چه که نور په معنى د هدايت وى چه په هغې باندې ايات بينات دلالت کوى نو په دې صورت کښې به تشبيه مرکب عقلى وى څکه چه په دې صورت کښې مشبه سره د هيئت منتزعه تشبيه د هغه هيئت منتزعه سره ده کوم چه د مشبه به نه انتزاع کړې شوې دې څکه چه لفظ نور اگر چه مفرد دې خو دال على المتعدد دې څکه چه نور نه مراد متعدد څيزونه دى مثلا ادله، قرآن، توحيد او شرائع، هدايت وغيره، هم دغه شان مشبه به هم ډير څيزونه دى، مشبه به قلب مومن دې کوم چه الله پاک په نورِ هدايت سره منور کړې دې کوم چه علوم او معارف دى. (روح المعانى)

قوله: ﴿ بَلَ يَنْهَمَا ﴾...دا دې خبرې ته اشاره ده چه هغه اونه نه په انتهائى مشرق کښې ده او نه په مغرب کښې بلکه په مينځ کښې ده، کومې ته چه مشرق وسطى وئيلې شى، ملک شام هم په دې علاقه کښې واقع دې د مشرق وسطى آب وهوا چونکه معتدل ده نه زياته گرمه ده او نه ډيره يخه، په دې وجه د هغه ځائې د زيتون تيل انتهائى صفا وى په خلاف د انتهائى مشرق او مغرب چه په هغې کښې گرمى او يخنى زياته وى کوم چه مضر دى

قوله: ﴿ فِي بُيُوتٍ ﴾د دې تعلق د آئنده راتلونکى ﴿ يسبح ﴾سره دې په دې صورت کښې ظرف يعنى ﴿ فيها ﴾د تاکيد دپاره مکرر وى، مفسر علام هم دا غوره کړې ده، او د محذوف هم متعلق کيدې شى د عبارت تقدير به داسې وى، ﴿ سبحوا ربكم فى بيوت ﴾په دې صورت کښې به په ﴿ عليم ﴾باندې وقف وى، او دا هم صحيح ده چه ﴿ فى بيوت ﴾د كائن وغيره محذوف سره متعلق کيدو سره د مشكاة يا د مصباح يا د زجاجة صفت وى، يا د توقد سره متعلق وى، په دې خلورواړه صورتونو کښې به په عليم باندې وقف نه وى.

قوله: ﴿ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ ﴾ دا جمله د بيوت صفت دې ﴿ ان ترفع الخ ﴾په تاويل د مصدر سره د باء حرف جار مقدر مجرور دې، د عبارت تقدير دا دې ﴿ امر الله برفعها ﴾،يسبح که د باء په فتحې سره اولوستلې شى نو ﴿ له ﴾به نائب فاعل وى، او ﴿ رجال ﴾به دفعل محذوف فاعل وى او هغه فعل محذوف به د سوال مقدر جواب وى چه کله اوئيلې شو ﴿ يسبح له ﴾ نو سوال پيدا شو ﴿ من يسبح؟ قال رجال لاتلهيهم تجارة ﴾

قوله: ﴿ لِيَجْزِيَهُمْ ﴾ کښې لام د عاقبت دې اى عاقبة امرهم الجزاء الحسن د يسبح سره هم متعلق کيدې شى اى يسبحون لاجل الجزاء.... او د محذوف سره متعلق کيدې هم شى د عبارت تقدير به داسې وى. فعلوا ذلك ليجزيهم الله.

قوله: ﴿ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ ﴾ والذين كفروا موصول او صله مبتدأ اول ده، ﴿ اعمالهم ﴾مبتدأ ثانى ده، ﴿ كسراب ﴾د كائن سره متعلق شو او د مبتدأ ثانى خبر دې، مبتدأ

ثاني د خپل خبر سره د مبتدأ اول (والذين) خبر دې، او دا هم صحيح ده چه (اعمالهم) د (والذين كفروا) نه بدل الاشتمال وي او كسراب، د الذين خبر وي.

قوله: (بِقِيعَةٍ) با جاره ده او قيعة د قاع جمع ده، هموار ميدان ته وئيلې شي

قوله: (الظَّمْآن) د ظمآن د شدتِ حاجت د وجې نه تخصيص كړې شوې دې، گنې ظمآن او غير ظمآن ټولو ته د غرمې په وخت كښې شړه د نمر په دهوپ (تپش) كښې سراب يعنې رواني اوبه ښكاري.

قوله: (أَوْ كَظُلُمَاتٍ) (او) د تقسيم دپاره دې يعنې د كافر اعمال په دوه قسمه دي يو هغه كوم چه د سراب په شان وي دا به هغه اعمال صالحه وي كوم چه هغوی په دنيا كښې د صدقې او خيرات يا د صله رحمئ په شكل كښې كړي وي دا په ظاهره كښې اعمال صالحه دي خو په آخرت كښې چونكه د دې هيڅ صله نشته په دې وجه د دې هيڅ حيثيت نشته.

دويم به د هغوی اعمال سيئه وي د هغې مثال د ظلمات په شان دې، د ظلمات عطف په كسرابٍ دې. د مضاف په حذف سره د عبارت تقدير داسې دې او كذی ظلمات.

تنبيه: أَوْ كَظُلُمَاتٍ الخ... كښې تشبيه مركب بالمركب ده په آيت كريمه كښې د درې قسمه تيارو د درې قسمه تيارو سره تشبيه وركړې شوې ده، د عقيدې تياره، د قول تياره. د فعل تياره د دې ټولو تشبيه د سمندر تيارې، د چپو تيارې او د وريځې د تيارې سره تشبيه وركړې شوې ده.

[اياتونه: ٤١ - ٥٠]

(أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ) وَمِنَ التَّسْبِيحِ صَلَاة (وَالطَّيْرُ) جَمْع طَائِر بَيْن السَّمَاء وَالْأَرْض (صَافَّاتٍ) حَال بَاسِطَات أَجْنِحَتهنَّ (كُلٌّ قَدْ عَلِمَ) اللّه (صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ) فِيهِ تَغْلِيب الْعَاقِل (وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ) خَزَائِن الْمَطَر وَالرِّزْق وَالنَّبَات (وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ) الْمَرْجِع (أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا) يَسُوقهُ بِرِفْقٍ (ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُ) يَضُمّ بَعْضه إِلَى بَعْض فَيَجْعَل الْقِطَع الْمُتَفَرِّقَة قِطْعَة وَاحِدَة (ثُمَّ يَجْعَلُهُ رُكَامًا) بَعْضه فَوْق بَعْض (فَتَرَى الْوَدْقَ) الْمَطَر (يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ) مَخَارِجه (وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ) زَائِدَة (جِبَالٍ فِيهَا) فِي السَّمَاء بَدَل بِإِعَادَةِ الْجَارّ (مِنْ بَرَدٍ) أَيْ بَعْضه ( ) بِقُرْب (سَنَا بَرْقِهِ) لَمَعَانه (يَذْهَبُ بِالْأَبْصَارِ) النَّاظِرَة لَهُ أَيْ يَخْطَفهَا (يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ) أَيْ يَأْتِي بِكُلٍّ مِنْهُمَا بَدَل الْآخَر (إِنَّ فِي ذَٰلِكَ) التَّقْلِيب (لَعِبْرَةً) دَلَالَة (لِأُولِي الْأَبْصَارِ) لِأَصْحَابِ الْبَصَائِر عَلَى قُدْرَة اللّه تَعَالَى (وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ) أَيْ حَيَوَان (مِنْ مَاءٍ) نُطْفَة (فَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَىٰ بَطْنِهِ) كَالْحَيَّاتِ وَالْهَوَامّ (وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَىٰ رِجْلَيْنِ) كَالْإِنْسَانِ وَالطَّيْر (وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَىٰ أَرْبَعٍ) كالبهائم والأنعام (يَخْلُقُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) (لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ) أَيْ بَيِّنَات هِيَ الْقُرْآن (وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَىٰ

صِرَاطٍ﴾ طريق ﴿مُّسْتَقِيمٍ﴾ أي دين الإسلام ﴿وَيَقُولُونَ﴾ المنافقون ﴿آمَنَّا﴾ صدقنا ﴿بِاللَّهِ﴾ بتوحيده ﴿وَبِالرَّسُولِ﴾ محمد ﴿وَأَطَعْنَا﴾ هما فيما حكما به ﴿ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ﴾ يعرض ﴿فَرِيقٌ مِّنْهُم مِّن بَعْدِ ذَٰلِكَ﴾ عنه ﴿وَمَا أُولَٰئِكَ﴾ المعرضون ﴿بِالْمُؤْمِنِينَ﴾ المعهودين الموافق قلوبهم لألسنتهم ﴿وَإِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ﴾ المبلغ عنه ﴿لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم مُّعْرِضُونَ﴾ عن المجيء إليه ﴿وَإِن يَكُن لَّهُمُ الْحَقُّ يَأْتُوا إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ﴾ مسرعين طائعين ﴿أَفِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ﴾ كفر ﴿أَمِ ارْتَابُوا﴾ أي شكوا في نبوته ﴿أَمْ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُولُهُ﴾ في الحكم أي فيظلموا فيه لا ﴿بَلْ أُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾ بالإعراض عنه

ترجمه: آيا تاسو ته معلومه نه ده چه ټول د الله پاک پاکي بيانوي څه چه په اسمانونو او په زمکه کښ دي او په تسبيح (پاکي) کښ مونږ هم داخل دي او مارغان (هم) د اسمان او زمکې ترمينځه حال دا چه وزرې ئې خورې کړې دي طيرد طائر جمع ده، صافات حال دې يعنې حال دا چه خپلې وزرې ئې خورې کړې وي ټولو ته خپله دعا او تسبيح معلومه ده او الله پاک ته د دې خلقو د ټولو افعالو پوره پوره علم دې په دې کښ ذوى العقول ته په غير ذوى العقول باندې غلبه ده او د الله پاک حکومت دې په اسمانونو او زمکه کښ او خاص د الله پاک ملک دې د باران، د رزق او د نباتاتو خزانې او د الله پاک طرف مرجع ده، آيا تا ته معلومه نه ده چه الله پاک وريځې روانوى (يوځى) يعنې په نرمئ سره ئې روانې کړې وى بيا هغه وريځې خپل مينځ کښ يوځائې کړى يعنې بعض د بعض سره ملاؤ کړى پس متفرق ټکړې را يوځائې کړى او يو ټکړه ترې جوړه کړى بيا هغه د يو بل دپاسه کړى نو بيا ته باران ته ګورې چه د هغې د مينځ د سورو نه راوځى او د وريځ نه يعنې د وريځې د غر په شان لويو لويو ټکړو نه ګلئ وروى فيها اى فى السماء فيها، د جار په اعادې سره د السماء نه بدل دې او من السماء کښ من زائده دې بيا چه هغه په چا غوارى دا (ګلئ) وروری او د چا نه چه ئې غوارى لرې کوى، د دې وريځې د بجلئ د چمک نه داسې معلوميږى چه اوس به ختم کړى چمک د کتونکى د سترګو رڼرا يعنې رڼدې به ئې کړى او الله پاک شپه او ورځ بدلوى يعنې په هغې کښ هر يو لره د بل په بدل کښ راولى بيشکه په دې بدلولو کښ د علم او پوهې والو دپاره د الله پاک د قدرت باندې دلالت دې او الله پاک هر ګرځيدونکې يعنې ساه لرونکې د اوبو يعنې د نطفې نه پيدا کړې دې نو په هغوى کښ بعض داسې دى کوم چه په خيټه باندې خوځيږى لکه مار او حشرات الارض او بعض په هغوى کښ هغه دى کوم چه په دوؤ خپو باندې ګرځى لکه انسان او مارغان او بعض د هغوى نه په څلورو خپو باندې ګرځى لکه څاروى الله پاک چه څه غوارى هغه پيدا کوى بيشکه الله پاک په هر يو څيز باندې قادر دې او بيشکه مونږ واضح کونکى آيتونه نازل کړى دى هغه قرآن دې او الله پاک چه چا ته غوارى د مستقيم لارې يعنې د دين اسلام طرف ته هدايت فرمائى او دا منافقان دعوى خو کوى چه مونږ په الله پاک يعنې د هغه توحيد او د هغه رسول محمد ﷺ باندې ايمان راوړو يعنې

د زړه نه مو تصدیق اوکړو او هغوی دوا ړو چه کوم حکم اوکړو د هغې مونږ اطاعت اوکړو بیا ددې نه روستو په دې کښې یو جماعت د دې حکم نه اعراض کوی او دا اعراض کونکی بالکل مومنان نه دی یعنی داسې عهد کونکی نه دی چه په هغې کښې د هغوی په زړه او ژبه کښې مطابقت وی او چه کله هغوی د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ طرف ته رابللې شی هغه رسول کوم چه د الله پاک د طرف نه مبلغ دې د دې دپاره چه هغه په دوی کښې فیصله اوکړی نو د هغوی یوه ډله نبی علیه السلام ته د راتلو نه اعراض کوی او که د هغوی (په چا باندې) حق وی نو فورا سر ښکته کړی (تابعدار) را روان وی آیا د هغوی په زړونو کښې مرض کفر دې؟ یا هغوی ستا د نبوت په باره کښې په شک کښې پریوتلې دی، یا د هغوی دا ویره ده چه الله پاک او د هغه رسول به په فیصلې کښې په هغوی باندې ظلم اوکړی؟ یعنی په هغوی باندې به په فیصله کښې ظلم اوکړې شی؟ نه! دا خبره نه ده بلکه هم دا ظالمان دی د حکم نه اعراض کولو سره.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ همزه د تقریر دپاره دې او د رؤیت نه مراد رؤیت قلبی دې، ځکه چه د تسبیح تعلق د بصر او نظر سره نه دې بلکه د قلب او بصیرت سره دې، مطلب دا دې اې محمد ﷺ تاته نښه معلومه ده چه د اسمانونو او زمکې مخلوق د الله پاک تسبیح او تقدیس بیانوی او مارغان هم په فضاء کښې وزرې خورې کړې د الله پاک تسبیح کوی، د ﴿ من ﴾ استعمال ذوی العقول ته په غیر ذوی العقول باندې غلبه ورکولو په اعتبار سره دې ګنې په مخلوق کښې خو په لس حصو کښې یوه حصه ذوی العقول دی چه په هغې کښې انسان، جن او ملائک هر څه داخل دی او باقی غیر ذوی العقول دی.

قوله: ﴿ وَمِنَ التَّسْبِيحِ صَلَاةٌ ﴾ د دې اضافې مقصد دا دې چه د تسبیح نه مراد انقیاد او خضوع ده او صلاة هم د انقیاد او خضوع د افرادو نه یو فرد دې، د دې نه علاوه د الله پاک قول ﴿ كل قد علم صلاته وتسبيحه ﴾ دپاره توطیه او تمهید هم دې، ﴿ طير ﴾ د ﴿ طائر ﴾ جمع ده، لکه چه رکب جمع د راکب ده، د ﴿ طير ﴾ عطف په ﴿ من في السماوات ومن في الارض ﴾ باندې دې.

سوال: د دې عطف نه عطف الشئ على نفسه لازمیږی، ځکه چه په ﴿ من في السموات ومن في الارض ﴾ کښې ﴿ طير ﴾ هم داخل دی، لهذا معطوف او معطوف علیه یو شو؟ ﴿ بين السماء والارض ﴾ سره د ذکر شوی اعتراض جواب ورکول مقصود دی.

جواب: د جواب خلاصه دا ده چه معطوف او معطوف علیه یو نه دی بلکه په دوی کښې مغایرت دې ځکه چه د معطوف علیه نه د اسمانونو او زمکې مخلوق مراد دې او مارغان چه کله وزرې خورې کړی نو هغه وخت هغوی نه په زمکه وی او نه په اسمان، لهذا د

عطف الشئ علی نفسه شبه ختم شوه.

قوله: ﴿ صَآفَّاتٍ ﴾ د ﴿ طير ﴾ نه حال دي، ﴿ الطير ﴾ په ﴿ من ﴾ باندې د عطف د وجې نه مرفوع دې او ﴿ صافات ﴾ د حال كيدو د وجې نه منصوب دې (په دې كښې نور تركيبونه هم كيدې شي خو آسان او راجح قول هم دا دې) كل قد علم صلاته وتسبيحه، علم صلاته ... او تسبيحه ... په درې وارو ضميرونو كښې اقوال مختلف دی، يو قول دا دې چه د درې وارو ضميرونو مرجع ﴿ كل ﴾ دې اى كل علم صلاته وتسبيحه ... دا صورت د ضمائرو د توافق د وجې نه د تولو نه غوره دې، دويم قول دا دې چه د علم ضمير د الله پاک طرف ته راجع وی او د صلاته وتسبيحه ضميرونه د ﴿ كل ﴾ طرف ته راجع وی. (جمل)

قوله: ﴿ ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُ ﴾ دلته دا اعتراض كيدلې شي چه ﴿ بين ﴾ د متعدد ترمينځه استعماليږی، او دلته دسحاب دپاره استعمال شوې دې، حال دا چه سحاب واحد دې؟ مفسر علام په خپل قول بضم بعضه الى بعض اضافه كولو سره د ذكر شوی اعتراض د جواب طرف ته اشاره اوكړه، اى قطع سحاب يعنى مضاف محذوف دې (قطع جمع قطيعة) خيال دې وی چه د ذكر شوی جواب ضرورت په هغه وخت راپيښيږی چه كله سحاب مفرد اومنلې شي او كه سحاب د سحابة جمع يا اسم جنس اومنلې شي نو نه به اعتراض واقع كيږی او نه به د جواب ضرورت راځی.

قوله: ﴿ يُزْجِي ﴾ د ازجاء نه مضارع واحد مذكر غائب دې هغه په نرمئ سره روانوی (بوځی).

قوله: ﴿ رُكَامًا ﴾ دا اسم دې يعنى د يو بل دپاسه ... يخرج من خلاله دا جمله د ﴿ الودق ﴾ نه حال دې.

قوله: ﴿ خِلَالِ ﴾ ته بعض حضراتو مفرد وئيلې دې په وزن د حجاب او بعض حضراتو ورته جمع وئيلې دې خلال جمع د خلل په وزن د جبال جمع د جبل په معنى د سورى.

قوله: ﴿ يُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ جِبَالٍ فِيهَا مِنْ بَرَدٍ ﴾ من السماء كښې من ابتدائيه دې اى مبتدأ من السحاب فان كل ما علاك فهو سماء.

قوله: ﴿ مِنْ جِبَالٍ ﴾ اى قطع عظام تشبه الجبال فى العظم.

قوله: ﴿ فِيهَا اى فِى السَّمَاءِ ﴾ والجار والمجرور فى موضع الصفة.

قوله: ﴿ مِنْ بَرَدٍ ﴾ كښې من تبعيضيه دې، اى ينزل مبتدأ من السحاب من جبال كائنة فيها بعض برد (او بردا).

ترجمه: د غرونو په شان د لويو لويو تكرو نه ګلئ راوروی كومه چه په وريځ كښې وی اى وينزل من السحاب الذى هو كامثال الجبال بردا ... په ذكر شوی آيت كريمه كښې من درې

کرته استعمال شوې دې، اولنې یعنی من السماء کښې دا په اتفاق د مفسرینو ابتدائیه دې، او دویم ﴿ من جبال ﴾ کښې وئیلې شوې دی چه زائده دې، او تبعیضیه هم وئیلې شوې دې او ابتدائیه هم وئیلې شوې او جبال د من السماء نه په اعاده د جار سره بدل دې، او دریم ﴿ من برد ﴾ کښې ذکر شوی درې واړه اقوالو نه علاوه یو څلورم قول هم دې او هغه دا دې چه ﴿ من بیانیه ﴾ دې، یعنی د بیانِ جنس دپاره دې، ای من جنس البرد کما یقال هذا خاتم فی یدی من حدید.... ای خاتم حدید فی یدی...

قوله: ﴿ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي ﴾ ﴿ هم ﴾ ضمیر د ﴿ کل ﴾ طرف ته راجع دې په اعتبار د معنی سره، په خیټې باندې خوئیدونکی نه د مشاکلت په طور د ماشی سره تعبیر کړې شوې دې ځکه چه حقیقتا د ماشی ذکر روستو راروان دې، ګنې په خیټه باندې تلونکی ته خو زاحف وئیلې شی.

قوله: ﴿ لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ ﴾ کښې لام قسمیه دې، قسم محذوف دې ای والله لقد انزلنا اطعنانه پس بعدهما ضمیر اضافه دې خبرې ته اشاره ده چه د ﴿ اطعنا ﴾ مفعول محذوف دې.

قوله: ﴿عنه﴾ ای عن القول...

قوله: ﴿ الْمُبَلِّغِ عَنْهُ ﴾ دا د دې سوال مقدر جواب دې چه ﴿ لیحکم ﴾ کښې ضمیرِ مفرد ولې راوړې شوې دې؟ حالانکه په ماقبل کښې د الله پاک او رسول ﷺ یعنی د دوؤ ذکر دې؟.

: جواب خلاصه دا ده چه حکم اګرچه حقیقت کښې د الله پاک دې خو مباشر بالحکم او مبلغ بالحکم رسول دې. د الله پاک ذکر خو تفخیما او تعظیما دې.

قوله ﴿فَرِيقٌ مِنْهُمْ مُعْرِضُونَ﴾ ﴿ اذا ﴾ مفاجاتیه قائم مقام د فاء دې کوم چه جواب شرط لره شرط سره د ربط ورکولو دپاره دې، یعنی ﴿ اذادعوا ﴾ شرط دې او ﴿ اذافریق منهم ﴾ جزاء.

قوله: ﴿ الیه ﴾ ای المبلغ یعنی که د غیر حق په هغوی باندې وې نو د رسول الله ﷺ خواته د راتلو نه اعراض کوی، دا آیت کریمه د بشر نومې یو منافق په باره کښې نازل شوې دې او حال دا چه د هغه د یو یهودی سره د زمکې په معامله کښې اختلاف راغلې وو. یهودی غوښتله چه فیصله نبی علیه السلام ته یوسی او منافق غوښتله چه کعب بن اشرف ته ئې یوسی ځکه د منافق دا خیال وو چه محمد ﷺ په مونږ باندې ظلم کوی.

قوله: ﴿ أَفِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ ﴾ (الایة) په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چه د اعراض منشاء په ذکر شوې درې څیزونو کښې یو دې.

[ایاتونه: ۵۱ - ۵۷]

﴿إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللّٰهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ﴾ فالقول اللائق بهم ﴿أَنْ يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾ بالإجابة ﴿وَأُولَئِكَ﴾ حينئذٍ ﴿هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ الناجون ﴿وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَيَخْشَ اللّٰهَ﴾ يخافه ﴿وَيَتَّقْهِ﴾ بسكون الهاء وكسرها بأن يطيعه ﴿فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ﴾ بالجنة ﴿وَأَقْسَمُوا بِاللّٰهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ﴾ غايتها ﴿لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ﴾ بالجهاد ﴿لَيَخْرُجُنَّ قُلْ﴾ لهم ﴿لَا تُقْسِمُوا طَاعَةٌ مَعْرُوفَةٌ﴾ للنبي خير من قسمكم الذي لا تصدقون فيه ﴿إِنَّ اللّٰهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾ من طاعتكم بالقول ومخالفتكم بالفعل ﴿قُلْ أَطِيعُوا اللّٰهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا﴾ عن طاعته بحذف إحدى التاءين خطاب لهم ﴿فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ﴾ من التبليغ ﴿وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ﴾ من طاعته ﴿وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ﴾ أي التبليغ البين ﴿وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ﴾ بدلًا عن الكفار ﴿كَمَا اسْتَخْلَفَ﴾ بالبناء للفاعل والمفعول ﴿الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ من بني إسرائيل بدلًا عن الجبابرة ﴿وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ﴾ وهو الإسلام بأن يظهره على جميع الأديان ويوسع لهم في البلاد فيملكوها ﴿وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ﴾ بالتخفيف والتشديد ﴿مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ﴾ من الكفار ﴿أَمْنًا﴾ وقد أنجز الله وعده لهم بما ذكر وأثنى عليهم بقوله ﴿يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا﴾ هو مستأنف في حكم التعليل ﴿وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ﴾ الإنعام منهم به ﴿فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾ وأول من كفر به قتلة عثمان رضي الله عنه فصاروا يقتتلون بعد أن كانوا إخوانًا ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ أي رجاء الرحمة ﴿لَا تَحْسَبَنَّ﴾ بالفوقانية والتحتانية والفاعل الرسول ﴿الَّذِينَ كَفَرُوا مُعْجِزِينَ﴾ لنا ﴿فِي الْأَرْضِ﴾ بأن يفوتونا ﴿وَمَأْوَاهُمُ﴾ مرجعهم ﴿النَّارُ وَلَبِئْسَ الْمَصِيرُ﴾ المرجع هي

ترجمه: د ایمان والو قول خو دا دي چه کله هغوی را وغوښتلې شی چه الله او د هغه رسول په هغوی کښ فیصله اوکړی نو هغوی وائی چه مونږ واوریدله او اومومنله (عملاً) منلو سره یعنی داسې وینا د مومنانو د شان سره لائق ده او هم داسې خلق د دې قول په وجه باندې فلاح بیا مونده ونکی دی او کوم کس چه د الله پاک او د هغه د رسول اطاعت اوکړی او د الله پاک نه ویره ساتی او د هغه (عذاب) نه ویرېږی بتقه د ها په سکون او کسرې سره دې یعنی د هغه اطاعت اوکړی پس هم داسې خلق به جنت موندلو سره بامراده وی او هغوی نهایت پوخ والی سره د الله پاک قسمونه خوړلو سره وائی چه که ته هغوی ته د جهاد حکم اوکړی نو هغوی به ضرور اوځی، ته اوایه چه قسمونه مه خورئ په معروف طریقې سره د نبی طاعت غوره دې ستاسو د داسې قسمونو نه چه په هغې کښ تاسو رشتینی نه یئ الله پاک ستاسو د عمل نه کوم چه قولا اطاعت او عملا مخالفت دې بنه خبر دې ته اوایه چه د الله پاک او د هغه د رسول اطاعت کوئ بیا هم که تاسو د دې طاعت نه مخ واړوئ تولوا کښ د یو تاء په حذف سره هغوی ته خطاب دې (نو د دې هیڅ نقصان نشته) (دا جواب شرط محذوف دې) ځکه چه د رسول الله ﷺ په ذمه باندې هم

هغه د تبلیغ کار دی کوم چه د هغه په ذمه لګولی شوی دی او ستاسو په ذمه هغه طاعت دی کوم چه ستاسو په ذمه لګولی شوی دی او که تاسو د هغه اطاعت اوکړو نو هدایت به بیا مومئ او د رسول ﷺ په ذمه خو صفا صفا رسول دی، الله پاک په تاسو کښې هغه خلقو سره وعده کړې ده چا چه ایمان راوړی دی او نیک عمل ئې کړی دی چه یقینا هغوی لره به د هغه کفارو په ځائې د زمکې خلیفه ګان جوړ کړی کوم چه د هغوی نه مخکښې وو بنی اسرائیلو کښې د ظالمانو په ځائې استخلف معروف او مجهول (دواړه دی) او کوم دین چه ئې د هغوی دپاره خوښ کړی دې یقینا د هغوی دپاره به هغې ته قوت ورکړی او هغه اسلام دې (داسې قوت به ورکړی) چه هغه به په ټولو دینونو باندې غالب کړی، او د هغوی دپاره به په ملکونو کښې وسعت ورکړی نو هغوی به د دې مالکان شی او د کفارو نه د هغوی د ویرې نه پس دا ویره به په امن باندې بدله کړی لیبدلنهم په تخفیف او تشدید سره دې او الله پاک د هغوی سره خپله ذکر شوې وعده پوره کړه او د هغوی ئې په خپل قول یعبدوننی لایشرکون بی شیئا سره تعریف اوفرمائیلو او دا جمله مستانفه ده د علت په حکم کښې ده. او په هغوی کښې چه کوم کس د دې انعام نه پس ناشکری اوکړی نو داسې خلق فاسقان دی او د ټولو نه اول چه چا د دې انعام ناشکری اوکړه هغه قاتلین عثمان ﷛ دی، پس سره د دې چه خپل مینځ کښې رونړه رونړه وو قتل وقتال ئې شروع کړو او د مونځ پابندی کوئ او زکاة ورکوئ او د رسول اطاعت کوئ چه په تاسو باندې رحم اوکړې شی یعنی د رحمت امید لرلو سره تاسو د کفارو متعلق دا خیال هرګز مه کوئ چه په زمکه باندې به زمونږ نه بچ کیدو سره مونږ ته شکست راکړی ﴿ تحسبن ﴾ په تاء فوقانیه او تاء تحتانیه سره دې او فاعل رسول الله ﷺ دې او د هغوی استوګنه مرجع دوزخ دې او هغه ډیر بد ځائې دې د ورګرځیدو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ﴿ إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ جمهورو په قول باندې، د کان د خبر کیدو د وجې نه نصب لوستلی دې او ان یقولوا الخ ئې په تاویل د مصدر د کان اسم منلی دې، او علی او حسن او ابن اسحاق قول لره د کان اسم منلو سره مرفوع لوستلی دې او ﴿ ان یقولوا ﴾ ئې په تاویل د مصدر د ﴿ کان ﴾ خبر منلی دې، اول قراءت جمهورو راجح ګرځولی دې.

قوله: ﴿ أَنْ يَقُولُوا ﴾ دا اګر چه جمله خبریه ده خو په دې سره د ادب شرعی تعلیم مقصود دې په دې وجه د جمله انشائیه په حکم کښې ده.

قوله: ﴿ وَيَتَّقْهِ ﴾ په اصل کښې ﴿ یتقیه ﴾ وو، د جزم د وجې نه یاء حذف شوه او د قاف کسره باقی پاتې شوه، بیا د قاف کسره تخفیفا خلاف قیاس حذف کړې شوه ځکه چه کومه صیغه د فَعِلَ په وزن باندې وی د هغې عین کلمه ساکن کولې شی لکه په ﴿ کتف ﴾ (بسکون

التاء) او (كتف) (بكسر التاء) كښې

قوله: (جهد ايمانهم) د فعل محذوف مفعول مطلق كيدو د وجې نه منصوب دې، (غايته) محذوف سره هم دې طرف ته اشاره ده، د عبارت تقدير دا دې (يجهدون ايمانهم جهدا) بعض حضراتو د حال كيدو د وجې نه منصوب منلې دې اى مجتهدين فى ايمانهم.

قوله: (لَيَخْرُجُنَّ) جواب قسم دې

قوله: (طَاعَةٌ مَعْرُوفَةٌ) په تركيب توصيفى سره مبتدأ ده او (خيراالخ) د دې خبر دې مفسر علام (خير) مقدر منلو سره هم دې طرف ته اشاره كړې ده، (طاعة معروفة) د مبتدا محذوف خبر كيديو دوجې نه هم مرفوع كيدې شى اى طاعتهم طاعة معروفة.

قوله: (إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ) دا د ماقبل جملې علت دې

قوله: (فَإِنْ تَوَلَّوْا) كښې مامورينو ته خطاب دې يعنى (اطيعوا الله واطيعو الرسول) كښې چه كوم خلق مخاطب دى هم هغوى د (تولوا) مخاطب دى، (قل اطيعوا الله الخ) كښې رسول الله ﷺ ته خطاب وو په (فان تولوا) كښې مامورينو ته خطاب دې

قوله: (فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ) دا جواب شرط دې او په يو قول كښې جواب محذوف دې او (فانما عليه ما حمل) د دې جواب علت دې لكه چه د ترجمې د عنوان لاندې بيان كړې شوى دى.

قوله: (وَمَا عَلَى الرَّسُولِ) دا د ماقبل جملې تاكيد دې.

قوله: (وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ)..... الذين امنو منكم د وَعَدَ مفعول اول دې او مفعول ثانى محذوف دې او هغه الاستخلاف فى الارض وتمكين دينهم وتبديل خوفهم بالامن دا ټول معطوفات د (وعد) مفعول ثانى دې او (ليستخلفنهم) قسم مقدر جواب دې، تقدير دا دې والله ليستخلفنهم او دا جوابِ قسم د مفعول ثانى په حذف باندې دلالت كوى.

قوله: (كَمَا اسْتَخْلَفَ) كښې ما مصدريه ده اى استخلافا كاستخلاف الذين من قبلهم.

قوله: (بما ذكر) د دې تعلق د وعده سره دې او ما ذكر نه امور ثلاثه مذكوره مراد دى

قوله: (يَعْبُدُونَنِي) دا جمله مستانفه ده مفسر علام په هو مستانف وئيلو سره هم دې طرف ته اشاره كړې ده، په دې كښې مختلف تركيبونه كيدې شى خو مفسر علام هم دې ته راجع وئيلې دې، دا جمله گويا د يو سوال مقدر جواب دې، اوئيلې شو ما بالهم يستخلفون ويؤمنون فاجيب يعبدوننى مذكوره جمله د مبتدأ محذوف خبر هم كيدې شى په دې صورت كښې به هم دا جمله مستانفه وى، تقدير به دا سې وى هم يعبدوننى.

قوله: (لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا) دا جمله مستانفه هم كيدې شى او د (يعبدوننى) د ضمير

فاعل نه حال هم كيدې شي اى يعبدوننى موحدين.

قوله: ﴿منهم﴾ دا د ﴿من﴾ نه حال دې او هم ضمير د للذين امنوا طرف ته راجع دې.

قوله: ﴿به﴾ ضمير د انعام طرف ته راجع دې، اى الانعام بما ذكر من الامور الثلاثة ... او د كفر نه مراد كفرانِ نعمت دې نه چه د ايمان ضد، هم په دې وجه باندې ئې ﴿اولئك هم الفاسقون﴾ وئيلي دي، ﴿اولئك هم الكافرون﴾ ئې نه دي وئيلي.

قوله: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾ دا جمله په مقدر باندې عطف ده چه د هغې سياق تقاضه كوى اى فامنوا واقيموا الصلاة الخ.

قوله: ﴿لَا تَحْسَبَنَّ﴾ د دې فاعل ﴿الرسول﴾ دې او ﴿الذين كفروا﴾ مفعول اول دې او ﴿معجزين﴾ مفعول ثانى دې او ﴿يحسبن﴾ بالياء په صورت كښې به مفعول اول محذوف وى اى لا يحسبن الذين كفروا انفسهم او معجزين به مفعول ثانى وى، او الذين كفروا به د لا يحسبن دپاره فاعل وى.

قوله: ﴿مُعْجِزِينَ﴾ اى فائتين يعنى بچ وتل.

[اياتونه: ۵۸ - ۶۱]

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ مِنَ الْعَبِيدِ وَالْإِمَاءِ ﴿وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ﴾ مِنَ الْأَحْرَارِ وَعَرَفُوا أَمْرَ النِّسَاءِ ﴿ثَلَاثَ مَرَّاتٍ﴾ فِي ثَلَاثَةِ أَوْقَاتٍ ﴿مِّن قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ الظَّهِيرَةِ﴾ أَيْ وَقْتَ الظُّهْرِ ﴿وَمِن بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَّكُمْ﴾ بِالرَّفْعِ خَبَرُ مُبْتَدَإٍ مُقَدَّرٍ بَعْدَهُ مُضَافٌ وَقَامَ الْمُضَافُ إِلَيْهِ مَقَامَهُ أَيْ هِيَ أَوْقَاتٌ وَبِالنَّصْبِ بِتَقْدِيرِ أَوْقَاتٍ مَنْصُوبًا بَدَلًا مِنْ مَحَلِّ مَا قَبْلَهُ قَامَ الْمُضَافُ إِلَيْهِ مَقَامَهُ وَهِيَ لِإِلْقَاءِ الثِّيَابِ تَبْدُو فِيهَا الْعَوْرَاتُ ﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ﴾ أَيِ الْمَمَالِيكِ وَالصِّبْيَانِ ﴿جُنَاحٌ﴾ فِي الدُّخُولِ عَلَيْكُمْ بِغَيْرِ اسْتِئْذَانٍ ﴿بَعْدَهُنَّ﴾ أَيْ بَعْدَ الْأَوْقَاتِ الثَّلَاثَةِ هُمْ ﴿طَوَّافُونَ عَلَيْكُم﴾ لِلْخِدْمَةِ ﴿بَعْضُكُمْ﴾ طَائِفٌ ﴿عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ وَالْجُمْلَةُ مُؤَكِّدَةٌ لِمَا قَبْلَهَا ﴿كَذَٰلِكَ﴾ كَمَا بَيَّنَ مَا ذُكِرَ ﴿يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ﴾ أَيِ الْأَحْكَامَ ﴿وَاللَّهُ عَلِيمٌ﴾ بِأُمُورِ خَلْقِهِ ﴿حَكِيمٌ﴾ بِمَا دَبَّرَهُ لَهُمْ وَآيَةُ الْاِسْتِئْذَانِ قِيلَ مَنْسُوخَةٌ وَقِيلَ لَا وَلَكِنْ تَهَاوَنَ النَّاسُ فِي تَرْكِ الْاِسْتِئْذَانِ ﴿وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنكُمُ﴾ أَيُّهَا الْأَحْرَارُ ﴿الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا﴾ فِي جَمِيعِ الْأَوْقَاتِ ﴿كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾ اي الاحرار الكبار ﴿كذلك يبين الله لكم آياته والله عليم حكيم﴾ ﴿وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ﴾ قَعَدْنَ عَنِ الْحَيْضِ وَالْوَلَدِ لِكِبَرِهِنَّ ﴿اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا﴾ لِذَلِكَ ﴿فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ﴾ مِنَ الْجِلْبَابِ وَالرِّدَاءِ وَالْقِنَاعِ فَوْقَ الْخِمَارِ ﴿غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ﴾ مُظْهِرَاتٍ ﴿بِزِينَةٍ﴾ خَفِيَّةٍ كَقِلَادَةٍ وَسِوَارٍ وَخَلْخَالٍ ﴿وَأَن يَسْتَعْفِفْنَ﴾ بِأَنْ لَا يَضَعْنَهَا ﴿خَيْرٌ لَّهُنَّ وَاللَّهُ سَمِيعٌ﴾ لِقَوْلِكُمْ ﴿عَلِيمٌ﴾ بِمَا فِي قُلُوبِكُمْ ﴿لَّيْسَ عَلَى الْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ﴾ فِي مُؤَاكَلَةِ مُقَابِلِيهِمْ ﴿وَلَا﴾ حَرَجَ ﴿عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ أَن تَأْكُلُوا مِن بُيُوتِكُمْ﴾ بُيُوتِ أَوْلَادِكُمْ ﴿أَوْ بُيُوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ

أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَفَاتِحَهُ﴾ خَزَنْتُمُوهُ لِغَيْرِكُمْ ﴿أَوْ صَدِيقِكُمْ﴾ وَهُوَ مَنْ صَدَقَكُمْ فِي مَوَدَّتِهِ الْمَعْنَى يَجُوزُ الاكل من بيوت او ذُكِرَ وَإِنْ لَمْ يَحْضُرُوا إِذَا عَلِمَ رِضَاهُمْ بِهِ ﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا﴾ مُجْتَمِعِينَ ﴿أَوْ أَشْتَاتًا﴾ مُتَفَرِّقِينَ جَمْعُ شَتٍّ نَزَلَ فِيمَنْ تَحَرَّجَ أَنْ يَأْكُلَ وَحْدَهُ وَإِذَا لَمْ يَجِدْ مَنْ يُؤَاكِلُهُ يَتْرُكُ الْأَكْلَ ﴿فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتًا﴾ لَكُمْ لَا أَهْلَ بِهَا ﴿فَسَلِّمُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ﴾ قُولُوا السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَرُدُّ عَلَيْكُمْ وَإِنْ كَانَ بِهَا أَهْلٌ فَسَلِّمُوا عَلَيْهِمْ ﴿تَحِيَّةً﴾ مَصْدَرُ حَيًّا ﴿مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً﴾ يُثَابُ عَلَيْهَا ﴿كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ﴾ أَيْ يُفَصِّلُ لَكُمْ مَعَالِمَ دِينِكُمْ ﴿لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ لِكَيْ تَفْهَمُوا ذلك

ترجمه: اې ایمان والو ستاسو غلامانو یعنی غلام او وینزو لره او هغه چا لره کوم چه په تاسو کښې د بلوغ حد ته نه دی رسیدلی د آزادو نه، خو د زنانوٴ د معاملې نه خبر شوې دی درې کرته یعنی درې وختونو کښې ورله اجازت اخستل پکار دی، سحر د مانځه نه مخکښې او د غرمې یعنی د غرمې په وخت چه کله تاسو خپلې کپړې کوزې کړئ او د ماسخوتن د مانځه نه روستو دا درې وختونه ستاسو د پردې دی (ثلاث) په رفع سره ځکه چه د مبتدا محذوف خبر دې او د مبتدأ نه پس مضاف محذوف دې، او مضاف الیه د مضاف قائم مقام شوې دې، ای هی اوقات ثلاث عورات لکم او (ثلاث) په نصب سره، ددې نه مخکښې اوقات مقدر منلو سره، حال دا دې چه د خپل ماقبل (یعنی من قبل صلاة الفجر) د محل نه د بدل د وجې نه منصوب وی او (اوقات) مضاف حذف کولو سره مضاف الیه (یعنی عورات) لره د مضاف قائم مقام کړې شو، او دا درې اوقات (داسې دی چه) په دې کښې کپړې لرې کولو د وجې نه ستر پرانستلې شی د دې درې وارو اوقاتو نه علاوه کښې نه په تاسو باندې څه الزام شته او نه په هغوی باندې یعنی مملوک او ماشومانو باندې، چه بغیر د اجازت نه تاسو ته راځی، هغوی په کثرت سره په تاسو د خدمت دپاره چکر لګوی بعض بعضو ته ځی راځی او (دا) جمله د ماقبل جملې تاکید دې، هم دغه شان لکه چه مذکوره احکام بیان کړې شو الله پاک ستاسو دپاره احکام ښکاره ښکاره بیانوی او الله پاک د خپل مخلوق د حالاتو نه خبردار دې او څه چه د دې دپاره تدبیر کوی په هغې کښې حکمت والا دې، د آیتِ استیذان په باره کښې وئیلې شوی دی چه منسوخ دې او وئیلې شوې دی چه منسوخ نه دې خو خلق په استیذان کښې سستی کوی (د ترک لفظ غالبا سهو ده) ګنې مطلب به دا وی چه په استیذان کښې ئې سستی ترک کړې ده. **تنبیه** : حال دا چه دا خلاف مقصود ده.

او چه کله ستاسو هلکان اې آزادو خلقو حد بلوغ ته اورسیږی نو په ټولو اوقاتو کښې هغوی لره هم دغه شان اجازت اخستل پکار دی لکه چه د هغوی ماقبل ذکر شوی خلق اجازت اخلی یعنی بالغ

آزاد، الله پاک ستاسو دپاره هم دغه شان احکامات بیانوی او الله پاک علم والا (او) حکمت والا دې، او مشرانې زنانه کومې چه د خپل بوډاتوب د وجې نه د اولاد او حیض ناامیده شوې وی اوهم د دې (بوډاتوب د وجې نه) د نکاح امید (خواهش) نه لری نو په هغوی باندې خپلې زائد کپړې لرې کولو کښې هیڅ گناه نشته مثلا برقع، لوپټه کومه چه د سرپیچک دپاسه وی په دې شرط چه پټ ډول ښکاره نه کړی لکه گلوبند (گریوان، بنگړی (کړې) او پازیب او که د دې نه هم احتیاط اوکړی نو د هغوی دپاره نوره هم زیاته غوره ده او الله پاک د هغوی خبرو لره اوریدونکې دې او د قلوب خطراتو لره پیژندونکې دې نه خو په ناپینا سړی باندې څه باک شته اونه په گډ باندې څه حرج دې او نه په مریض باندې څه گناه شته د خپل مقابل (غیر معذورو) سره په خوراک کښې او نه خپله ستاسو دپاره څه باک شته په دې خبره کښې چه تاسو د خپلو کورونو نه خوراک اوکړئ یا د خپل اولاد د کورونو نه یا د خپلو پلارانو د کورونو نه یا د خپلو میندو د کورونو نه یا د خپلو رونړو د کورونو نه یا د خپلو خویندو د کورونو نه یا د خپلو ترونو د کور نه یا د خپلو ترورګانو (د پلار خویندې) د کورونو نه، یا د خپلو ماماگانو د کورونو نه یا د خپلو ترورګانو (د مور خویندې) د کورونو نه یا د هغه کورونو نه چه د هغې چابیانې ستاسو په اختیار کښې دی یعنی د هغې نه چه د هغې تاسو د غیر د پاره حفاظت کوئ، یا د خپلو دوستانو د کورونو نه او دوست هغه دې کوم چه تا سره دوستئ کښې مخلص وی، د آیت کریمه معنی دا ده چه د مذکورینو د کورونو (اموال) نه د هغوی په غیر موجودگئ کښې خوراک جائز دې، یعنی چه کله د خوراک دپاره د هغوی د رضا علم اوشی، او ستاسو دپاره (په دې خبره کښې) هیڅ باک نشته چه ټول په یوځائې خوراک اوکړئ یا جدا جدا یعنی متفرق طریقې سره اشتاتا شت جمع ده دا آیت کریمه د هغه سړی په باره کښې نازل شوې وو چه هغه به یواځې خوراک بد گڼرلو، او که څوک ملگرې به ئې بیا نه موندلو نو خوراک به ئې نه کولو او کله چه تاسو خپلو داسې کورونو ته داخلیږئ چه په هغې کښې څوک نشته نو خپل ځان ته سلام کوئ یعنی داسې وایئ چه السلام علینا وعلی عباد الله الصالحین ځکه چه فرشتې به تاسو ته د دې جواب درکوی او که په هغې کښې د کور خلق موجود وی نو هغوی ته د دعا په طور سلام کوئ، تحیة د حی مصدر کوم چه د الله پاک د طرف نه مقرر دې برکت والا غوره څیز دې، په دې باندې اجر درکولې شی هم دغه شان الله پاک ستاسو دپاره خپل احکامات بیانوی یعنی ستاسو د دین احکامات په واضح طریقه باندې بیانوی د دې دپاره چه تاسو په دې احکاماتو باندې پوهه شئ.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ﴿ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ﴾ د ثلاث د منصوب کیدو دوه وجې دی اول دا چه د لیستاذنکم مفعول فیه دې ای لیستاذنوا فی ثلاثة اوقات فی الیوم واللیلة ... مفسر علام فی ثلاث اوقات اضافه کولو سره

اشاره اوکړه چه ثلاث مرات ظرف دې او مرات په معنی د اوقات دې، اى ليستأذنكم ثلاثة اوقات د دې نه پس من قبل صلاة الفجر نه من بعد صلاة العشاء پورې د ثلاث اوقات تفسير دې.
د ثلاث مرات د منصوب کيدو بله وجه دا ده چه د ليستأذنكم مفعول مطلق دې اى ليستأذنوا ثلاث استيذانات.

قوله: ﴿ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَكُمْ ﴾ ثلاث مبتدأ محذوف د خبر د وجې نه مرفوع دې د مبتدأ محذوف نه پس اوقات مضاف محذوف دې، مضاف لره حذف کولو سره مضاف اليه يعنى عورات لره د هغې قائم مقام کړې شوې دې، په دې صورت کښې به وقف په العشاء باندې وى، اى هى ثلاثة اوقات كائنة لكم... اوقات مذکوره ته عورات وئيلې شوى دى حال دا چه اوقات ثلاثة عورات نه دى خو چونکه مذکوره درې واړه اوقات د عدم تستر (خلل) عورات دى، مظروف وئيلو سره ظرف مراد اخستلې شوې دې (تسمية الشئ باسم ما يقع فيه) او ثلاث عورات منصوب کيدو په صورت کښې ثلاث عورات د خپل ماقبل يعنى من قبل صلاة الفجر د محل نه بدل دې او مضاف اليه د مضاف قائم مقام دې چونکه ذکر شوې درې واړو اوقاتو کښې د (زائد) کپړو ويستلو د وجې نه پټه حصه ظاهريږى، هم د دې وجې نه دې اوقاتو ته عورات وئيلې شوى دى.

قوله: هى مبتدأ ده تبدو فيها العورات خبر دې لالقاء الثياب الخ د تبدو علت مقدمه دې او د وختونو عورات نوم کيخودلو علت طرف ته اشاره اوکړې شوه.

قوله: ﴿ بعضكم على بعض ﴾ دا جمله د سابق جمله طوافون عليكم تاکيد دې.

قوله: ﴿ مُتَبَرِّجَاتٍ ﴾ د دې تفسير په مظهرات سره کولو کښې اشاره اوکړې شوه چه ﴿ بزينة ﴾ کښې با د تعديه دپاره ده بعض حضراتو وئيلې دى چه په ﴿ بزينة ﴾ کښې باء په معنى د لام دې اى مظهرات لزينة.

قوله: ﴿ الجِلْبَاب ﴾ لوئې څادر برقعه وغيره چه په هغې کښې پوره بدن پټ شى (جمع) ئې جلابيب راځى.

قوله: ﴿ فَوْقَ الخِمَار ﴾ د دې تعلق د ﴿ قناع ﴾ سره دې لوپټې وغيره ته وئيلې شى.

قوله: ﴿ فِي مُؤَاكَلَةِ مُقَابِلِيهِمْ ﴾ مواكلة... مصدر دې د خپل مفعول طرف ته مضاف دې اى فى اكلهم مع مقابليهم....(اى السالمين من هذه النقائص الثلاثة)

قوله: ﴿ وَلَا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ ﴾ دا جمله مستانفه ده.

قوله: ﴿ صَدِيقِكُمْ ﴾ د صديق اطلاق په واحد او جمع دواړو باندې کيږى.

قوله: ﴿ من بيوت من ذُكِرَ ﴾ ماقبل کښې د يولسو بيوتو ذکر کړې شوې دې دا تعداد د

عادت او عرف په اعتبار سره دي.

قوله: (اى إذا عَلِمَ رِضَاهُمْ بِهِ) دا رضامندي صراحة وي يا د داسې قرينې د وجې نه وي کوم چه په رضامندئ باندې دلالت کوي، او ذکر شوې اجازت د عام خوراک څکاک په څيزونو کښې دې لکه ډوډئ او ترکاري وغيره دا اجازت په هغه څيزونو کښې نه دې کوم چه په مخصوص طريقه باندې اهتمام سره جوړولې شي هم دغه شان د اجازت خوړلو د حده پورې دې د څان سره د اوړلو اجازت نشته، هم دغه شان په غير ماکول څيزونو کښې هم د تصرف اجازت نشته چه ترڅو پورې صريح اجازت نه وي.

قوله: (تحِيَّةً) دا د فعل مقدر مفعول مطلق دې اى لحيواتحية د فسلموا... معمول هم جوړيدې شي څکه چه سلموا او تحية معنى نزدې نزدې ده، په دې صورت کښې به د قعدت جلوساً د قبيل نه وي.

قوله: (مِنْ عِنْدِ اللّٰه) د دې تعلق د (تحية) د محذوف صفت سره هم کيدې شي د عبارت تقدير به داسې وي، تحية صادرة من عندالله. او خپله د تحية سره هم متعلق کيدې شي.

قوله: (يثاب عليها) دا د مبارکة تفسير دي.

[ايا تونه: ٦٢-٦٤]

{إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ} اي الرَّسُول {عَلَىٰ أَمْرٍ جَامِعٍ} كَخُطْبَةِ الْجُمُعَة {لَمْ يَذْهَبُوا} لِعُرُوضِ عُذر لَهُمْ {حَتَّىٰ يَسْتَأْذِنُوهُ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ} امرهم {فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ} بالانصراف {وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ} {لَّا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُم بَعْضًا} بِاَنْ تَقُولُوا يَا مُحَمَّد بَلْ قُولُوا يَا نَبِيَّ اللّٰه يَا رَسُولَ اللّٰه فِي لِين وَتَوَاضُع وَخَفْض صَوْت {قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمْ لِوَاذًا} اَيْ يَخْرُجُونَ مِنَ الْمَسْجِد فِي الْخُطْبَة مِنْ غَيْر اسْتِئْذَان خُفْيَة مُسْتَتِرِينَ بِشَيْءٍ وَقَدْ لِلتَّحْقِيق {فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ} اَيْ اللّٰه وَرَسُوله {أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ} بَلاء {أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} فِي الْآخِرَة {أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} مُلْكًا وَخَلْقًا وَعَبِيدًا {قَدْ يَعْلَمُ مَا أَنتُمْ} اَيُّهَا الْمُكَلَّفُونَ {عَلَيْهِ} مِنَ الْإِيمَان وَالنِّفَاق {وَ} يَعْلَم {يَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ} فِيهِ اِلْتِفَات عَنِ الْخِطَاب اَيْ مَتَى يَكُون {فَيُنَبِّئُهُم} فِيهِ {بِمَا عَمِلُوا} مِنَ الْخَيْر وَالشَّرّ {وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ} من اعمالهم وغيرها {عَلِيمٌ}

ترجمه: بس مومنان خو هغه کسان دي کوم چه په الله پاک او د هغه په رسول باندې ايمان لري، او چه کله هغوی د هغه سره يعنی د رسول عليه السلام سره په څه اهم معامله کښې جمع کيږي لکه چه د جمعې خطبه شوه نو د عذر پيښيدو په صورت کښې هم هغه وخته پورې نه ځی ترڅو پورې چه ستا نه اجازت وانخلی، کوم خلق چه ستا نه اجازت طلب کوی بس هغوی په الله باندې او د هغه په

رسول باندې ایمان لري نو کله چه دا خلق د خپل څه کار دپاره ستاسو نه اجازت او غواړي نو په هغوی کښې چه ته چاته غواړې د تلو اجازت ورکړه او ته د هغوی دپاره د الله پاک نه د مغفرت دعا اوکړه بیشکه الله پاک بخښنه کونکې او مهربانه دې تاسو د رسول ﷺ رابلل داسې مه ګڼئ لکه په تاسو کښې چه څوک یو بل لره رابلئ په دې طریقې سره چه وایئ اې محمد! بلکه یا نبی الله! یا رسول الله! په نرمئ سره او تواضع او ښکته اواز سره وایئ الله پاک هغه خلق پیژنی کوم چه په تاسو کښې پټیدو سره خوئیږی یعنی مسجد نه د خطبې په حالت کښې پټ د یو څیز نه پناه کیدو سره اوځی، او ﴿ قد ﴾ د تحقیق دپاره دې پس کوم خلق چه د الله پاک او د هغه د رسول د حکم مخالفت کوی هغوی لره د دې نه ویریدل پکار دی چه په هغوی باندې څه آفت راشی یا په هغوی باندې په آخرت کښې څه دردناک عذاب رانشی، یاد ساتئ چه څه په اسمانونو کښې دی او څه په زمکه کښې دی د ملکیت په اعتبار سره د تخلیق په اعتبار سره د مملوک کیدو په اعتبار سره ټول د الله پاک دی، الله پاک ته هغه حالت هم معلوم دې اې مکلفو (مخاطبو) چه په کوم حالت باندې تاسو یئ یعنی د ایمان او نفاق حالت او په هغه ورځ باندې هم عالم دې په کومه کښې چه به ټول هغه ته راوستلې شی په دې کښې د خطاب نه د غیبت طرف ته التفات دې، یعنی پوهیږی چه د رجوع ورځ به کله وی (ای یعلم متی یکون یوم الرجوع) پس هغه به هغوی ته په دغه ورځ باندې هر هغه څه بیان کړی چه څه هغوی خیر او شر کړی وی او الله پاک د هغوی د اعمالو وغیره نه واقف دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ ﴾ مبتدأ ده الذین اسم موصول آمنوا الخ معطوف علیه ﴿ واذا کانوا معه الخ ﴾ معطوف، معطوف سره د معطوف علیه نه صله شوه د ﴿ الذین ﴾ اسم موصول دپاره، اسم موصول او صله خبر شو د مبتدأ دپاره.

قوله: ﴿ عَلَىٰ أَمْرٍ جَامِعٍ ﴾ کښې اسناد مجازی دې، ځکه چه امر سبب جمع دې او جمع مسبب دې ګویا د سبب نسبت د مسبب طرف ته شوې دې

قوله: ﴿ لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ ﴾ ای لا تنادوه باسمه فتقولوا یا محمد ﷺ ولا بکنیته فتقولوا یا ابا القاسم، بل نادوه بالتعظیم بان تقولوا یا رسول الله یا نبی الله ... د رسول الله ﷺ نوم مبارک چه څنګه د هغوی په ژوند مبارک کښې تعظیم سره اخستل ضروری وو د وفات نه پس هم ضروری دی د هغوی په شان مبارک کښې تخفیف کونکې کافر او ملعون دې.

قوله: ﴿ لواذا ﴾ د (مفاعله) مصدر دې د یو بل نه شاته کیدل، ﴿ لواذا ﴾ یا خو ﴿ یتسللون ﴾ د هم معنې کیدو د وجې نه مصدر دې ای یتسللون لواذا یا د فعل محذوف مصدر دې ای یلاوذون لواذا هم دغه شان مصدر په موضع د حال کښې واقع کیدو د وجې نه هم منصوب

کیدې شی ای یتسللون متلاوذین.

قوله: ﴿ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ ﴾ په تاویل د مصدر د ﴿ فلیحذر ﴾ مفعول دې، ای اصابة فتنة.

قوله: ﴿ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ ﴾ د ﴿ یعلم ﴾ په معمول یعنی په ﴿ ما انتم ﴾ باندې عطف دې لکه چه مفسر علام یعلم مقدر منلو سره اشاره کړې ده.

[۲۵] سورة الفرقان

سُورَةُ الْفُرْقَانِ مَكِّيَّةٌ إِلَّا الْآيَاتِ ۶۸ و ۶۹ و ۷ فَمَدَنِيَّةٌ وَآيَاتُهَا ۷۷ نزلت بعد يس

سوره فرقان مکی دې سوا د "الذين لايدعون مع الله الها" نه تر آخر د "رحيما" پورې، دا مدنی دې، ټول ۷۷ آیتونه دی.

[ایاتونه: ۱-۹]

بسم الله الرحمن الرحيم ﴿تَبَارَكَ﴾ تَعَالَى ﴿الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ﴾ الْقُرآن لِأَنَّهُ فَرَّقَ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ ﴿عَلَى عَبْدِهِ﴾ مُحَمَّد ﴿لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ﴾ الإِنس وَالْجِنّ دُون الْمَلَائِكَة ﴿نَذِيرًا﴾ مُخَوِّفًا مِنْ عَذَاب الله ﴿الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ ولدا ولم يكن له شريك في الملك وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ﴾ مِنْ شَأْنِه أَنْ يَخْلُق ﴿فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا﴾ سَوَّاهُ تَسْوِيَة ﴿وَاتَّخَذُوا﴾ أَيْ الْكُفَّار ﴿مِنْ دُونِهِ﴾ أَيْ الله أَيْ غَيْره ﴿آلِهَةً﴾ هِيَ الْأَصْنَام ﴿لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلَا يَمْلِكُونَ لِأَنْفُسِهِمْ ضَرًّا﴾ أَيْ دَفْعه ﴿وَلَا نَفْعًا﴾ أَيْ جَرّه ﴿وَلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيَاةً﴾ أَيْ إِمَاتَة لِأَحَدٍ وَإِحْيَاء لِأَحَدٍ ﴿وَلَا نُشُورًا﴾ أَيْ بَعْثًا لِلْأَمْوَاتِ ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَذَا﴾ أَيْ مَا الْقُرآن ﴿إِلَّا إِفْكٌ﴾ كَذِب ﴿افْتَرَاهُ﴾ مُحَمَّد ﴿وَأَعَانَهُ عَلَيْهِ قَوْمٌ آخَرُونَ﴾ وَهُمْ مِنْ أَهْل الْكِتَاب قال تعالى ﴿فَقَدْ جَاءُوا ظُلْمًا وَزُورًا﴾ كُفْرًا وَكَذِبًا أَيْ بِهِمَا ﴿وَقَالُوا﴾ أَيْضًا هُوَ ﴿أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ﴾ أَكَاذِيبهم جَمْع أُسْطُورَة بِالضَّمِّ ﴿اكْتَتَبَهَا﴾ انْتَسَخَهَا مِنْ ذَلِكَ الْقَوْم بِغَيْرِهِ ﴿فَهِيَ تُمْلَى﴾ تُقْرَأ ﴿عَلَيْهِ﴾ لِيَحْفَظهَا ﴿بُكْرَةً وَأَصِيلًا﴾ غُدْوَة وَعَشِيًّا قَالَ تَعَالَى رَدًّا عَلَيْهِمْ ﴿قُلْ أَنْزَلَهُ الَّذِي يَعْلَمُ السِّرَّ﴾ الْغَيْب ﴿فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ كَانَ غَفُورًا﴾ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿رَحِيمًا﴾ بهم ﴿وَقَالُوا مَالِ هَذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ لَوْلَا﴾ هَلَّا ﴿أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُ نَذِيرًا﴾ يُصَدِّقهُ ﴿أَوْ يُلْقَى إِلَيْهِ كَنْزٌ﴾ مِنْ السَّمَاء يُنْفِقهُ وَلَا يَحْتَاج إِلَى الْمَشْي فِي الْأَسْوَاق لِطَلَبِ الْمَعَاش ﴿أَوْ تَكُونُ لَهُ جَنَّةٌ﴾ بُسْتَان ﴿يَأْكُلُ مِنْهَا﴾ أَيْ مِنْ ثِمَارهَا فَيَكْتَفِي بِهَا وَفِي قِرَاءَة نَأْكُل بِالنُّونِ أَيْ نَحْنُ فَيَكُون لَهُ مَزِيَّة عَلَيْنَا بِهَا ﴿وَقَالَ الظَّالِمُونَ﴾ أَيْ الْكَافِرُونَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿إِنْ﴾ مَا ﴿تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَسْحُورًا﴾ مخدوعا مغلوبا على عقله قال تعالى ﴿انْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْأَمْثَالَ﴾ بِالْمَسْحُورِ وَالْمُحْتَاج إِلَى مَا يُنْفِقهُ وَإِلَى مَلَك يَقُوم مَعَهُ بِالْأَمْرِ ﴿فَضَلُّوا﴾ بِذَلِكَ عَنْ الْهُدَى ﴿فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا﴾ طَرِيقًا إِلَيْهِ

ترجمه: شروع کوم په نوم د الله چه بیحده مهربان او رحم کونکې دې برکت والا برتر دې هغه ذات چا چه فرقان یعنی قرآن په خپل بنده محمد ﷺ باندې نازل کړې دې قرآن کریم ته فرقان په دې وجه وئیلې شوې دې چه هغه د حق او باطل تر مینځه فرق کړې دې د دې دپاره چه عالم والو

ته يعني د انسانانو او جناتو دپاره نه د فرشتو دپاره ويرونكې وى يعنى د الله پاک دعذاب نه ويرونكې وى داسې ذات چه د هغه دپاره د اسمانونو او زمكې حكومت دې او هغه څوک اولاد نه دې نيولې او نه په ملک كښې د هغه څوک شريک دې او هغه هريو څيز پيدا كړې دې چه د هغې شان مخلوق كيدل دى بيا ئې هغه په ښه طريقې سره برابر كړو او كفارو الله پاک لره پريخودلو سره دهغه غير لره معبود جوړ كړو هغه بتان دى هغوى د يو څيز هم خالق نه دې بلكه هغوى خپله مخلوق دى او خپله د ځان دپاره نه د څه قسم نقصان يعنى د هغې د دفع كولو اختيار لرى او نه د څه نفع يعنى هغې لره د حاصلولو او نه د چا د مرګ اختيار لرى او نه د ژوند يعنى نه د چا د وژلو او نه د چا د ژوندى كولو او نه د دوباره ژوندى كولو يعنى نه مړو لره د ژوندى كولو او كافر خلق د قرآن كريم په باره كښې داسې وائى چه دا قرآن هيڅ هم نه دى صرف دروغ دى كوم چه دې سړى محمد ﷺ جوړ كړى دى او نورو خلقو په دې جوړولو كښې دهغه مدد كړې دې او هغه په اهل كتابو كښې بعض خلق دى پس دا خلق د ډير ظلم او دروغو مرتكب شو د كفر او كذب. يعنى د دواړو ارتكاب ئې اوكړو او دا خلق دا هم وائى چه قرآن كريم د مخكښې خلقو دروغ قصې دى يعنى د دروغو افسانې دى (اساطير) د اسطورة بالضم جمع ده دې خرافاتى قصو لره د دې قوم (يهود) نه د بل چا په ذريعه نقل كوى بيا هم هغه خرافاتى قصې هغه ته سحر او ماښام لوستلې شى چه هغه محفوظ كړى، په دوى باندې رد كولو سره الله پاک اوفرمائيل ته اوايه دا قرآن كريم خو هغه ذات نازل كړې دې چاته چه د زمكې او اسمانونو د غائب څيزونو علم دې واقعى الله پاک د مومنانو دپاره غفور او د هغوى دپاره رحيم دې او دا كافر خلق داسې وائى چه په دې رسول باندې څه شوى دى چه دې خوراک كوى او په بازارونو كښې ګرځى دهٔ ته يوه فرشته ولې نه ده راليږلې شوې؟ چه هغې د دهٔ سره (خلق) ويرولې د هغه د نبوت تصديق ئې كولې يا د اسمان نه هغه ته يوه خزانه راغلې وې چه هغې سره هغه ته فائده حاصله شوې وې او د طلب معاش دپاره په بازارونو كښې نه ګرځيدې يا هغه سره يو باغ وې چه د هغې نه يعنى د هغې ميوې ئې خوړلې او په هغې باندې ئې اكتفاء كړې وې، او په يو قراءت كښې (ياكل) په ځائې نأكل به نون سره دې يعنى مونږ خوړلې، چه د هغې د وجې نه په مونږ باندې هغه ته فوقيت حاصل شوې وې او دا ظالمان كافران مومنانو ته داسې وائى چه تاسو د يو جادو زيلى دهوكه كړې شوى مغلوب العقل سړى پسې روان ئې الله پاک فرمائى اوګوره دا خلق ستا متعلق څنګه عجيب عجيب خبرې كوى د جادو زيلې، د خرچې د محتاج كيدو او د فرشتې د محتاج كيدو چه د هغه سره ذمه دارى كښې شريک وى، هم په دې وجه (ضرب الامثال په وجه) د هدايت د لارې نه ګمراه شو او په هيڅ طريقې سره په حق لاره باندې نه نشى راتلې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

سورة فرقان مكى دې خو درې آيتونه (دا سورة) د هجرت نه مخكښې نازل شوې وو د

تولو سورتونو نوم او د هغې ترتيب او آياتونو ترتيب توقيفي دې البته د آيتونو تعداد توقيفي نه دې، دا سورة د توحيد او د احوالِ معاد په مضامين باندې مشتمل دې. (جمل)

قوله ﴿الى رَحِيمًا﴾ دا ټول درې آيتونه دى.

قوله: ﴿تَعَالَى﴾ دا د تبارك تفسير دې يعنى الله خپل ذات او صفات او افعالو كښې د خپل ما سوا نه برتر دې تبارك (تفاعل) ماضى ده د دې مضارع اسم فاعل او مصدر مستعمل نه دى او نه د الله پاک نه علاوه د بل چا دپاره مستعمل دې، بركت په معنى د نمو او زيادت دې كه حسا وى كه معنى وى (جمل)

قوله: ﴿لِأَنَّهُ فَرَّقَ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ﴾ دا قرآن كريم ته د فرقان وئيلو علت دې قرآن چونكه د حق او باطل ترمينځه فرق كړې دې په دې وجه د دې نوم فرقان كيخودلې شوې دې، بعض حضراتو وئيلى دى چه فرقان په دې وجه وئيلې شى چه قران كريم متفرق طور د دربوشتو كلونو په موده كښې نازل شوې دې هم په دې وجه د قرآن كريم په باره كښې ﴿نزل﴾ وئيلې شوې دى كوم چه په تكثير تفريق باندې دلالت كوى. (جمل)

قوله: ﴿لِيَكُونَ﴾ دا د نزول علت دې په دې كښې ضمير مستتر دې هغه د ﴿عبد﴾ طرف ته راجع دې ځكه چه هغه نزدې دې، د فرقان طرف ته هم راجع كيدې شى او ﴿منزل﴾ يعنى د الله پاک طرف ته هم راجع كيدې شى.

قوله: ﴿لِلْعَالَمِينَ﴾ د ﴿نذيرا﴾ سره متعلق دې د فواصل د رعايت د وجې نه مقدم كړې شوې دې.

قوله: ﴿مِنْ شَأْنِهِ أَنْ يَخْلُقَ﴾ د دې عبارت د اضافې مقصد د الله پاک ذات لره د مخلوق نه خارج كول دى ځكه چه د الله پاک ذات شئ دې ځكه چه كه شئ او نه منلې شى نو بيا به لا شئ منل وى گنې نو ارتفاع د نقيضينو به لازم شى لهذا شئ منل ضرورى دى چه هر كله د الله پاک ﴿شئ﴾ كيدل ثابت شو .نو په خلق كل شئ كښې داخل شو اوهر كله چه په خلق كل شئ كښې داخل شو نود ذات بارى تعالى مخلوق كيدل ثابت شو ،او دا محال دى، هم د دې اعتراض د دفع كولو دپاره مفسر علام د ﴿من شانه ان يخلق﴾ اضافه اوفرمائيله.

جواب: د جواب خلاصه دا ده چه تخليق وئيلې شى د عدم نه وجود ته راوستلو ته او د عدم نه وجود ته هغه شئ راتلې شى كوم چه معدوم وى او د الله پاک شان معدوم كيدل نه دى، ځكه چه د الله پاک په ذات باندې كله هم عدم نه دې راغلې، لهذا د الله پاک ذات د مخلوق كيدو نه خارج شو.

قوله: ﴿سِوَاهُ تَسْوِيَةً﴾ د دې عبارت د اضافې مقصد هم د يو اعتراض دفع كول دى، اعتراض

دا دي چه ﴿ وخلق كل شئ فقدره تقديرا ﴾ كښې قلب دي ځكه چه په اصل كښې ﴿ وقدره تقدير الخلق كل شئ ﴾ پكار وو، ځكه چه تقدير ازلي او تخليق حادث دي، ځكه چه د تقدير معنى ده مقدر كول، پلاننګ كول او د خلق معنى ده جوړول، ظاهره ده چه تقدير او پلاننګ اول وى او دهغې مطابق تخليق روستو وى لكه چه د كور نقشه اول جوړيږى او د هغې مطابق روستو تخليق كيږى لكه چه د كور نقشه اول جوړيږى او كور روستو جوړيږى، نه دا چه كور اول جوړيږى او نقشه روستو، نو معلومه شوه چه په آيت كريمه كښې د رعايت فواصل دپاره قلب شوي دي؟

جواب: د جواب خلاصه دا ده چه په آيت كريمه كښې قلب نشته بلكه ﴿ قدره تقديرا ﴾ د ﴿ سوه تسوية ﴾ په معنى دي او تسوية وئيلې شي د يو څيز د جوړولو نه پس هغه برابرول كمى او كوتاهى لرې كول، مضبوطول، يعنى نقصان ترې ويستل، او دا د تخليق نه روستو وى، لهذا اوس هيڅ اعتراض نشته.

قوله: ﴿ بهما ﴾ په دې سره اشاره ده چه ﴿ ظلما وزورا ﴾ بنزع الخافض منصوب دي، د عبارت تقدير داسې وو ﴿ جاءوا بظلم وزور ﴾ حرف جار حذف كړې شو چه د هغې د وجې نه منصوب شو، شارح ﷺ هم دا خبره اختيار كړې ده او د بعض حضراتو په نزد جاءوا متعدى بنفسه هم دى، په دې صورت كښې به ﴿ ظلما وزورا ﴾ د مفعول به كيدو د وجې نه منصوب وى.

قوله: ﴿ هُوَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴾ اساطير الاولين، د هومبتدا محذوف خبر دي لكه چه شارح اختيار كړې دي او ﴿ اكتتبها ﴾ په محل د حال كښې دي، او دا هم صحيح ده چه ﴿ اساطير الاولين ﴾ مبتدا وى او ﴿ اكتتبها ﴾ ئې خبر وى.

قوله: ﴿ مَالِ هَٰذَا الرَّسُولِ ﴾ د ﴿ لهذا ﴾ لام جدا ليكلې شوې دي كوم چه د عام عربى رسم الخط خلاف دي؟ د دې وجه دا ده چه د قرآن كريم رسم الخط د مصحف عثمانى مطابق دي لهذا په دې كښې تغيير نه شى كيدې

قوله: ﴿ فَيَكُونَ ﴾ دا چونكه د ﴿ لولا ﴾ په معنى د ﴿ هلا ﴾ رچه د هغې حكم د استفهام دې جواب دي په دې وجه منصوب دي.

قوله: ﴿ وَقَالَ الظَّالِمُونَ ﴾ د اسم ضمير په ځائې اسم ظاهر لره د هغوى د صفت ظلم د ښكاره كولو دپاره راوړلې شوې دې كنې ﴿ قالوا ﴾ وئيل هم كافى وو.

[ايات توله: ۱۰-۲۰]

﴿ تَبَارَكَ ﴾ تكاثر خير ﴿ الَّذِي إِنْ شَاءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّن ذَٰلِكَ ﴾ الذي قالوه من الكنز والبستان ﴿ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ﴾ اي في الدنيا لانه شاء ان يعطيه اياها في الآخرة ﴿ وَيَجْعَل ﴾ بالجزم ﴿ لَّكَ قُصُورًا ﴾ ايضا

وفي قراءة بالرفع استئنافا (بَلْ كَذَّبُوا بِالسَّاعَةِ) القيامة (وَأَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيرًا) نارا مسعرة أي مشتدة (إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا) غليانا كالغضبان إذا غلى صدره من الغضب (وَزَفِيرًا) صوتا شديدا أو سماع التغيظ رؤيته وعلمه (وَإِذَا أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا) بالتشديد والتخفيف بأن يضيق عليهم ومنها حال من مكانا لأنه في الأصل صفة له (مُقَرَّنِينَ) مصفدين قد قرنت أي جمعت أيديهم إلى أعناقهم في الأغلال والتشديد للتكثير (دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا) هلاكا فيقال لهم (لَّا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَاحِدًا وَادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا) كعذابكم (قُلْ أَذَٰلِكَ) المذكور من الوعيد وصفة النار (خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِي وُعِدَ) ها (الْمُتَّقُونَ كَانَتْ لَهُمْ) في علمه تعالى (جَزَاءً) ثوابا (وَمَصِيرًا) مرجعا (لَّهُمْ فِيهَا مَا يَشَاءُونَ خَالِدِينَ) حال لازمة (كَانَ) وعدهم ما ذكر (عَلَىٰ رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْئُولًا) يسأله من وعد به (رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ) أو تسأله لهم الملائكة (رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدتَّهُمْ) (وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ) بالنون والتحتانية (وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ) أي غيره من الملائكة وعيسى وعزير والجن (فَيَقُولُ) تعالى بالتحتانية والنون للمعبودين إثباتا للحجة على العابدين (أَأَنتُمْ) بتحقيق الهمزتين وإبدال الثانية ألفا وتسهيلها وإدخال ألف بين المسهلة والأخرى وتركه (أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي هَٰؤُلَاءِ) أوقعتموهم في الضلال بأمركم إياهم بعبادتكم (أَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيلَ) طريق الحق بأنفسهم (قَالُوا سُبْحَانَكَ) تنزيها لك عما لا يليق بك (مَا كَانَ يَنبَغِي) يستقيم (لَنَا أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ) أي غيرك (مِنْ أَوْلِيَاءَ) مفعول أول ومن زائدة لتأكيد النفي وما قبله الثاني فكيف نأمر بعبادتنا (وَلَٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَآبَاءَهُمْ) من قبلهم بإطالة العمر وسعة الرزق (حَتَّىٰ نَسُوا الذِّكْرَ) تركوا الموعظة والإيمان بالقرآن (وَكَانُوا قَوْمًا بُورًا) هلكى قال تعالى (فَقَدْ كَذَّبُوكُم) أي كذب المعبودون العابدين (بِمَا تَقُولُونَ) بالفوقانية أنهم آلهة (فَمَا يَسْتَطِيعُونَ) بالتحتانية والفوقانية أي لا هم ولا أنتم (صَرْفًا) دفعا للعذاب عنكم (وَلَا نَصْرًا) منعا لكم منه (وَمَن يَظْلِم) يشرك (مِّنكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيرًا) شديدا في الآخرة (وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِي الْأَسْوَاقِ) فأنت مثلهم في ذلك وقد قيل لهم مثل ما قيل لك (وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً) بلية ابتلى الغني بالفقير والصحيح بالمريض والشريف بالوضيع يقول الثاني في كل ما لي لا أكون كالأول في كل (أَتَصْبِرُونَ) على ما تسمعون ممن ابتليتم بهم استفهام بمعنى الأمر أي اصبروا (وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا) بمن يصبر وبمن يجزع

ترجمه: د الله پاک ذات خو ډير عالي شان دې يعني خير كثير والا دې كه هغه اوغواړي نو تا ته د هغوی بيان كړې شوې څيزونو باغ او خزانې نه به غوره باغات دركړی چه د هغې نه لاندې نهرونه جاري وی يعني په دنيا كښې به ئې دركړی ځكه چه په آخرت كښې داسې باغونه نبي عليه السلام ته وركول خو د هغه په اراده كښې دی، او تاته به ډير محلونه هم دركړی يجعل د لام په جزم سره او په يو قرات كښې (يجعل) په رفعې سره دې، جمله مستانفه كيدو د وجې نه بلكه دا خلق قيامت دروغ گڼړی او قيامت لره دروغ گڼړنكو دپاره مونږ سخت گرم شديد اور تيار كړې

دې چه کله هغه اور هغوی د لرې نه وینی نو هغه خلق به د هغې جوش خروش اوری یعنی د غصه
نوی په شان به د هغې جوش وی چه د غضب د وجې نه ئې سینه جوش وهی زفیراسخت
آواز ته وئیلې شی یا ځطلره د اوریدو مطلب د هغې لیدل او پیژندل دی او چه کله هغوی
جهنم کښې په یو تنګ ځائې کښې خپې لاس تړلو سره اوغورځولې شی ضیقاً د یاء په تشدید او
تخفیف سره دې په داسې طریقې سره چه هغه مکان به په هغوی باندې راتنګ شی او
(منها) د (مكانا) نه حال دې ځکه چه (منها) په اصل کښې د (مكانا) صفت دې، مقرنین په
معنی د مصفدین داسې تړلی شوی چه د هغوی لاسونه د هغوی د سټ سره په طوق باندې
اوتړلې شی او تشدید د معنی کثرت لره د بیانولو دپاره دې، نو هلته به مرګ ته آواز اوکړی
نو هغوی ته به اوئیلې شی یو مرګ مه رابلئ د عذاب د وجې نه ډیر مرګونه راوبلئ ته اوایه چه
دا وعید او د صفت نار حالت چه د هغې ذکر اوشو ښه دې؟ یا د همیشوالی هغه جنت چه د هغې
د متقیانو سره وعده کړې شوې ده چه هغه جنة الخلد د هغوی دپاره د الله پاک په علم کښې جزاء
ثواب (بدله) ده او د هغوی ټهکانه ده، او هغوی ته به هلته هغه ټول څیزونه ملاویږی کوم چه هغوی
غواړی او په هغې کښې به همیشه اوسیږی (خالدين) حال لازمه دې، هغوی سره کړې شوې
مذکوره وعده ستا د رب په ذمه ده لهذا چا سره چه وعده کړې شوې ده هغه د هغه نه مطالبه
کولې شی (یعنی سائل په خپل سوال کښې وئیلې شی) (ربنا وآتنا ما وعدتنا على رسلك) اې
زمونږ ربه مونږ ته هغه څیز راکړه د کوم چه تا مونږ سره د خپلو رسولانو په ذریعه وعده
کړې ده، یا: هغه وعدې د پوره کولو، د هغوی دپاره به فرښتې داسې سوال کوی (ربنا
وادخلهم جنات عدن التي وعدتهم) اې زمونږ ربه هغوی د قیام قابل هغه جنت ته داخل کړه،
چه د هغې تا هغوی سره وعده کړې ده او په کومه ورځ چه الله پاک هغوی (نحشرهم) په نون او
یاء سره دې او د چا چه ئې د الله پاک نه سوا بندګی کوله راجمع کړی د غیر الله نه مراد ملائک
او عیسی او عزیر علیهما السلام او جنات دی یا به د معبودینو نه په عابدینو باندې د حجت
تمام کولو دپاره تپوس اوکړی چه آیا تاسو زما دا بندګان ګمراه کړې وو؟ هغوی ته د خپل
عبادت حکم ورکولو سره تاسو هغوی په ګمراهئ کښې اچولی وو؟ یا که هغوی پخپله د حق
نه بې لارې شوی وو؟ فیقول په یاء او نون سره دې ءانتم د دواړه همزو تحقیق او ثانی لره په
الف سره بدلولو او ثانی لره تسهیل او مسهله او د دویمې ترمینځه الف داخلولو سره او
ترک ادخال الف کولو سره نو هغوی به عرض اوکړی معاذالله ستا دپاره د هر هغه څیز نه پاکی ده
کوم چه ستا د شان لائق نه دې زمونږ دپاره بالکل صحیح نه وه چه مونږ ستا نه علاوه څوک
کارساز نیولې وې من اولياء مفعول اول دې او (من) زائده د نفی د تاکید دپاره دې او د
دې نه ماقبل مفعول ثانی دې نو بیا مونږ څنګه د خپل عبادت حکم کولې شو؟ خو تا

هغوی ته او د هغوی پلار نیکه ته کوم چه د دوی نه مخکښې تیر شوی دی د عمر د زیادت او د رزق د فراخوالی په ذریعه فراخی (فائده) ورکړه تردې چه ذکر (یاد) ئې هیر کړو یعنی نصیحت او په قرآن کریم باندې ایمان ئې ترک کړو دا خلق وو هلاکیدونکی الله پاک به ورته فرمائی اوګورئ هغوی خو ستاسو د ټولو خبرو تکذیب اوکړو یعنی ستاسو معبودانو ستاسو تکذیب اوکړو، تقولون د تاء فوقانیه سره (یعنی) ستاسو په دې قول کښې چه هغوی معبودان دی اوس نه خو په تاسو کښې او نه په هغوی کښې د عذاب د دفع کولو طاقت شته او نه د مدد کولو یعنی د دې عذاب نه د خپل مدد کولو په تاسو کښې چه چا ظلم یعنی شرک کړې دې مونږ به هغوی ته دیر لوئې عذاب یعنی په آخرت کښې سخت عذاب وروڅکوو او مونږ چه ستا نه مخکښې څومره رسولان رالیږلی دی ټولو به خوراک هم کولو او په بازارونو کښې به ګرځیدل هم لهذا ته هم د هغوی په شان ئې په دې خبرو کښې. او تاته هم هغه خبرې کولې شی کومې چه هغوی ته کړې شوې وې او مونږ په تاسو کښې هر یو د بل د ازمیښت ذریعه جوړ کړې دی مالدار د غریب په ذریعه ازمیښت کړې شو او صحت مند د مریض په ذریعه او شریف د رذیل په ذریعه، ثانی په هره خبره کښې وائی چه څه وجه ده چه څه په هره معامله کښې د اول په شان نه یم؟ آیا تاسو په دې خبرو باندې صبر کوئ کومې چه تاسو د خلقو نه اورئ د کومو په ذریعه چه په تاسو باندې ازمیښت کولې شی استفهام په معنی د امر دې یعنی صبر اوکړئ ستا رب هر څه وینی چه څوک صبر کوی؟ او څوک بې صبری کوی؟

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ﴿ تَبَارَكَ ﴾ ﴿ تبارك ﴾ داسې وصف دې کوم چه د کمال ټولو اوصافو لره جامع او د نقص د ټولو صفاتو نفی لره مستلزم دې هم په دې وجه باندې د موقع د مناسبت د وجې نه د دې تفسیر مختلف کړې شوې دې، د سورت په شروع کښې چونکه مقام تنزیه وو لهذا هلته په ﴿ تعالی ﴾ سره تفسیر اوکړې شو او دلته چونکه مقام عطاء دې په دې وجه په ﴿ کثرت خیر ﴾ سره تفسیر کړې شوې دې او د سورت په آخر کښې چونکه مقام د عظمت او کبریاء دې لهذا په ﴿ تعاظم ﴾ سره تفسیر کړې شوې دې.

قوله: ﴿ تَبَارَكَ ﴾ فعل ماضی ﴿ الذی ﴾ حذف د مضاف سره د ﴿ تَبَارَكَ ﴾ فاعل، ای تبارك خیر الذی.

قوله: ﴿ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ﴾ د خیرانه بدل دې، او د خیر او بهتر کیدو وجه ظاهره ده څکه چه مشرکانو چه د کوم باغ په باره کښې وئیلې وو هغه مطلق هغې په دې کښې د تعدد او جریان انهار هیڅ قید نه وو، او د بعض حضراتو په نزد د خیرانه عطف بیان هم کیدې شی، او بعض حضراتو د ﴿ اعنی ﴾ مقدر د وجې نه ﴿ جنات ﴾ لره منصوب ګرځولې

دي او ﴿ تجري من تحتها الانهار ﴾ نې د جنت صفت گرځولې دي.

قوله: ﴿ لانه ﴾ الخ مفسر علام لانه سره في الدنيا د قيد سره د مقيد كولو علت بيانوي، د علت خلاصه دا ده چه ﴿ ان شاء جعل لك خيرا ﴾ كښې خيريت لره په مشيئت باندې معلق كول د دنيا په اعتبار سره صحيح دي، ګنې په آخرت كښې خو محقق دي.

قوله: ﴿ يَجْعَل ﴾ په جزم سره د ﴿ جعل ﴾ په محل باندې عطف دې كوم چه د شرط جزاء واقع دې لهذا په مجزوم باندې چه د څه عطف وى هغه به هم مجزوم وى. ﴿ وَفِي قِرَاءَةٍ بِالرَّفْعِ ﴾ په جواب شرط باندې عطف كولو سره جواب شرط لره د استيناف د وجې نه مرفوع منلو سره شرط چه كله ماضي وى نو په جزاء كښې رفع او جزم دواړه جائز وى، لهذا كوم چه په جزاء باندې معطوف وى په هغې كښې به هم دواړه اعراب جائز وى ځكه چه شرط چه كله ماضي وى نو صرف د شرط تاثير په جزاء كښې كمزورې شى چه د هغې د وجې نه په جزاء كښې جزم او رفع دواړه جائز وى، ابن مالك وئيلي دى وبعد ماض رفعك الجزاء احسن ... د جزم او رفع دواړه قراءتونه سبعيه دى.

قوله: ﴿ تَغَيُّظًا ﴾ د ﴿ تغيظا ﴾ تفسير په غليانا سره د كولو مقصد د يو اعتراض جواب وركول دى، اعتراض دا دې چه غيظ د اوريدلو څيز نه دې هغه خو د كتلو څيز دې؟ جواب وركړې شو چه دلته د ﴿ غيظ ﴾ نه مراد ﴿ غليان ﴾ (جوش وهل) دى كوم چه اوريدلې شى، لهذا اعتراض ختم شو.

قوله: ﴿ أَوْسَمَاعُ التَّغَيُّظِ رؤيته وعلمه ﴾ د ذكر شوى اعتراض دا دويم جواب دې، د دې جواب خلاصه دا ده چه د سماعِ تغيظ نه مراد رويت او علم دې كوم چه په تغيظ كښې ممكن دې، بعض حضراتو دا جواب وركړې دې چه د عبارت تقدير داسې دې ﴿ سمعوا ورأوا تغيظا وزفيرا ﴾ لهذا د رأوا تعلق د تغيظ سره او د سمعوا تعلق د زفيرا سره دې، بعض حضراتو سماع مطلقا د ادراك په معنى كښې اخستلې ده په دې صورت كښې به د سمعوا تعلق د تغيظ او زفير دواړو سره صحيح وى. (جمل)

قوله: ﴿ أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ﴾ منها د مكانا صفت دې او د نكرې صفت چه كله مقدم كړې شى نو هغه حال شى.

قوله: ﴿ مُقَرَّنِينَ ﴾ د ﴿ القوا ﴾ د ضمير نه حال دې، مصفدين (بتشديد الفاء) او مُصْفَدِين (ض) دواړه صحيح دى د دې معنى د ترلو صفادبيړئ ته وئيلې شى.

قوله: ﴿ دَعَوْا هُنَالِكَ ﴾ دا د ﴿ اذا القوا ﴾ جزاء ده، د ﴿ هنالك ﴾ نه مراد مقام ضيق دې.

قوله: ﴿ ثُبُورًا ﴾ د فعل محذوف مفعول مطلق دې اى ثبرنا ثبورا ... بعض حضراتو وئيلي دى چه

د (دعوا) مفعول له دي.

قوله: (لعذابکم) ای لاجل دوام عذابکم وکثرته ینبغی ان یکون دعائکم علی حسبه ... یعنی څنګه چه ستاسو عذاب دائمی او متعدد قسم دې هم په دې حساب سره تاسو خپل هلاکت لره رابلئ. او په بعض نسخو کښې (کعذابکم) دې، دا په کثرت کښې تشبیه ده، او د دعاء ثبور نه مراد د مرګ غوښتل دی.

قوله: (ما) صله چونکه جمله ده په دې وجه مفسر علام (ما) ضمیر مقدر منلو سره د رابط طرف ته اشاره اوکړه.

قوله: (أَذٰلِكَ خيرٌ أم جنة الخلد) وعید او نار زیات غوره دې یا جنة الخلد، د دې نه معلومیږی چه په نار کښې هم خیر دې حال دا چه په هغې کښې هیڅ خیر نشته؟

جواب: ①په قرآن کریم کښې خیر اسم تفضیل اکثر د اسم فاعل په معنی کښې مستعمل دې لهذا هیڅ شبه نشته، ②دویم جواب دا ده چه دا داسې دې لکه سید چه خپل غلام ته څه رقم ورکړی او د هغې په وجه باندې غلام سرکشی شروع کړی، نو د هغې په نتیجه کښې سید غلام لره اووهی او ورته اوائی چه (هذا خیر ام ذاك)

سوال: (جنة) خپله (دار الخلد) ته وئیلې شی نو بیا د (خلد) د قید څه فائده ده؟

جواب: اضافت کله خو د تبیین دپاره وی، او کله د صفات کمال د بیان دپاره وی لکه د الله پاک قول (الخالق البارء) هم د دې قبیل نه دې.

قوله: (فِي عِلْمِهٖ تَعَالٰى) په دې عبارت سره د دې شبهې جواب مقصود دی چه جزاء او مصیر به د حشر او نشر نه پس وی نو بیا ئې د دې نه د ماضی په صیغې سره ولې تعبیر کړې دې؟ ①د دې جواب مفسر په (فی علمه تعالٰی) سره ورکړې دې چه د الله پاک علم کښې چونکه مقدر شوې دې په دې وجه د ماضی په صیغې سره ترې تعبیر اوکړې شو، ②دویم جواب دا دې چه د کوم څیز کیدل یقینی وی د هغې نه په ماضی سره تعبیر کولې شی.

قوله: (حَالٌ لَازِمَةٌ)... (خالدین) د (لهم) د ضمیر نه یا د (یشاءون) د واؤ نه حال دې، د حال لازمه مطلب دا دې چه کومه معنی د ما سبق نه فهمیږی هم د هغې تاکید دې.

قوله: (وَعْدُهُمْ) د دې اضافې مقصد د (کان) اسم ظاهرول دی یعنی (وعد المتقون) نه چه کوم (وعد) فهمیږی، (وهی) د (کان) اسم دې، بعض حضراتو په (ما یشاءون) کښې کومه (ما) ده هغه ئې د (کان) اسم منلې دې.

قوله: (ویوم یحشرهم) دا د (اذکر) فعل محذوف دپاره ظرف دې او په (قل) باندې عطف دې، د (یحشرهم) د مفعولی ضمیر نه د غیر الله عبادت کونکی مراد دی او د (وما

يعملون ﴾عطف په هوضمير باندې دی.

قوله: ﴿ إِلْبَاتًا لِلْحُجَّةِ عَلَى الْعَابِدِينَ ﴾ دا د يو سوال مقدر جواب دی، سوال دا دی چه الله پاک خو ﴿ علام الغيوب ﴾ دی، ماضی او مستقبل ټول د هغه دپاره حال دی نو بيا معبودين نه د ﴿ ءاضللتم؟ ﴾ په ذريعه د تپوس کولو مقصد څه دی؟

جواب: دا تپوس د استفهام د پاره نه دی بلکه د لا جواب کولو او خاموش کولو دپاره دی لکه چه د سيدنا عيسى عليه السلام نه به تپوس اوکړې شی، ﴿ ءانت قلت للناس اتخذونی وامی الهين من دون الله ﴾ دغه شان ﴿واذا الموءودة سئلت بأی ذنب قتلت ﴾ کښې هم سوال د تبکيت او لا جواب کولو دپاره دی.

قوله: ﴿ بورا ﴾دا جمع د بائرده په معنی د ﴿ هَلكَى ﴾د ﴿ هلك ﴾جمع ده.

قوله: ﴿ أَنْتُمْ آلِهَةً ﴾ دا د ﴿ تقولون ﴾ مقوله ده او د ﴿ ما ﴾ نه بدل هم کيدې شی ﴿ فما يستطيعون ﴾کښې چونکه حاضر او غائب دواړه قراءتونه دی په دې وجه مفسر علام ﴿ لاهم ولاانتم ﴾اوفرمائيل چه د دواړو قراءتونو رعايت اوشی.

قوله: ﴿ إِلَّا إِنَّهُمْ ﴾ په قول د ابن الانبارى رحمه الله دا جمله د حال کيدو د وجې نه په محل د نصب کښې ده او تقدير د عبارت داسې دې ﴿ الا وانهم ﴾ د هغه په نزد واو محذوف دې، جمهورو ﴿ الا انهم ﴾ د همزې په کسرې سره لوستلې دې، د ﴿ ان ﴾ په خبر باندې د لام د داخليدو د وجې نه که د ﴿ ان ﴾خبر باندې لام داخل شی نو د جمهورو په نزد ﴿ ان ﴾بکسر الهمزة متعين دې، اگرچه بعض حضراتو ﴿ ان ﴾هم جائز وئيلې دې، خو دا صحيح نه ده.
(فتح القدير، شوکانی)

پاره نمبر ۱۹ [وَقَالَ الَّذِينَ]

[ايا تونه: ۲۱-۲۴]

﴿وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا﴾ لا يخافون البعث ﴿لَوْلَا﴾ هلا ﴿أُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلَائِكَةُ﴾ فكانوا رسلا الينا ﴿أَوْ نَرَى رَبَّنَا﴾ فنخبر بأن محمدا رسوله قال تعالى ﴿لَقَدِ اسْتَكْبَرُوا﴾ تكبروا ﴿فِي﴾ شان ﴿أَنْفُسِهِمْ وَعَتَوْا﴾ طغوا ﴿عُتُوًّا كَبِيرًا﴾ بطلبهم رؤية الله تعالى في الدنيا وعتوا بالواو على اصله بخلاف عتي بالابدال في مريم ﴿يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلَائِكَةَ﴾ في جملة الخلائق هو يوم القيامة ونصبه باذكر مقدرا ﴿لَا بُشْرَى يَوْمَئِذٍ لِلْمُجْرِمِينَ﴾ اي الكافرين بخلاف المؤمنين فلهم البشرى بالجنة ﴿وَيَقُولُونَ حِجْرًا مَحْجُورًا﴾ على عادتهم في الدنيا اذا نزلت بهم شدة اي عوذا معاذا يستعيذون من الملائكة قال تعالى ﴿وَقَدِمْنَا﴾ عمدنا ﴿إِلَى مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ﴾ من الخير كصدقة وصلة رحم وقرى ضيف واغاثة ملهوف في الدنيا ﴿فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا﴾ هو ما يرى في الكوى التي عليها الشمس كالغبار المفرق اي مثله في عدم النفع به اذ لا ثواب فيه لعدم شرطه ويجازون

عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا (أَصْحَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ) يَوْمَ الْقِيَامَةِ (خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا) مِنَ الْكَافِرِيْنَ فِي الدُّنْيَا (وَأَحْسَنُ مَقِيلًا) مِنْهُمْ أَيْ مَوْضِعَ قَائِلَةٍ فِيهَا وَهِيَ الْإِسْتِرَاحَةُ نِصْفَ النَّهَارِ فِي الْحَرِّ وَأُخِذَ مِنْ ذٰلِكَ انْقِضَاءُ الْحِسَابِ فِي نِصْفِ نَهَارٍ كَمَا وَرَدَ فِي حَدِيثٍ (وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَاءُ) أَيْ كُلُّ سَمَاءٍ (بِالْغَمَامِ) أَيْ مَعَهُ وَهُوَ غَيْمٌ أَبْيَضُ (وَنُزِّلَ الْمَلَائِكَةُ) مِنْ كُلِّ سَمَاءٍ (تَنْزِيلًا) هُوَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ وَنَصْبُهُ بِاذْكُرْ مُقَدَّرًا وَفِي قِرَاءَةٍ بِتَشْدِيدِ شِينِ تَشَقَّقُ بِإِدْغَامِ التَّاءِ الثَّانِيَةِ فِي الْأَصْلِ فِيهَا وَفِي أُخْرَى نُنْزِلُ بِنُونَيْنِ الثَّانِيَةُ سَاكِنَةٌ وَضَمِّ اللَّامِ وَنَصْبِ الْمَلَائِكَةِ (الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ) لَا يَشْرَكُهُ فِيهِ أَحَدٌ (وَكَانَ) الْيَوْمُ (يَوْمًا عَلَى الْكَافِرِيْنَ عَسِيرًا) بِخِلَافِ الْمُؤْمِنِيْنَ (وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ) الْمُشْرِكُ عُقْبَةُ بْنُ أَبِي مُعَيْطٍ كَانَ نَطَقَ بِالشَّهَادَتَيْنِ ثُمَّ رَجَعَ إِرْضَاءً لِأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ (عَلَى يَدَيْهِ) نَدَمًا وَتَحَسُّرًا فِي يَوْمِ الْقِيَامَةِ (يَقُولُ يَا) لِلتَّنْبِيهِ (لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ) مُحَمَّدٍ (سَبِيلًا) طَرِيقًا إِلَى الْهُدَى (يَا وَيْلَتَىٰ) أَلِفُهُ عِوَضٌ عَنْ يَاءِ الْإِضَافَةِ أَيْ وَيْلَتِي وَمَعْنَاهُ هَلَكَتِي (لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا) أَيْ أُبَيًّا (خَلِيلًا) (لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ) أَيِ الْقُرْآنِ (بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي) بِأَنْ رَدَّنِي عَنِ الْإِيمَانِ بِهِ قَالَ تَعَالَى (وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنْسَانِ) الْكَافِرِ (خَذُولًا) بِأَنْ يَتْرُكَهُ وَيَتَبَرَّأَ مِنْهُ عِنْدَ الْبَلَاءِ (وَقَالَ الرَّسُولُ) مُحَمَّدٌ (يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي) قُرَيْشًا (اتَّخَذُوا هٰذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا) مَتْرُوكًا قَالَ تَعَالَى (وَكَذٰلِكَ) كَمَا جَعَلْنَا لَكَ عَدُوًّا مِنْ مُشْرِكِي قَوْمِكَ (جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ) قَبْلَكَ (عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ) الْمُشْرِكِيْنَ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرُوا (وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا) لَكَ (وَنَصِيرًا) نَاصِرًا لَكَ عَلَى أَعْدَائِكَ (وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا لَوْلَا) هَلَّا (نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً) كَالتَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالزَّبُورِ قَالَ تَعَالَى نَزَّلْنَاهُ (كَذٰلِكَ) مُتَفَرِّقًا (لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ) نُقَوِّيَ قَلْبَكَ (وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا) أَيْ أَتَيْنَا بِهِ شَيْئًا بَعْدَ شَيْءٍ بِتَمَهُّلٍ وَتُؤَدَةٍ لِتَيْسِيرِ فَهْمِهِ وَحِفْظِهِ (وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ) فِي إِبْطَالِ أَمْرِكَ (إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ) الدَّافِعِ لَهُ (وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا) بَيَانًا هُمُ (الَّذِيْنَ يُحْشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ) أَيْ يُسَاقُونَ (إِلَىٰ جَهَنَّمَ أُولٰئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا) هُوَ جَهَنَّمُ (وَأَضَلُّ سَبِيلًا) أَخْطَأُ طَرِيقًا مِنْ غَيْرِهِمْ وَهُوَ كُفْرُهُمْ

ترجمه: کوم خلق چه زمونږ مخې ته د پیش کیدو ویره نه لری یعنی د بعث (بعد الموت) ویره نه لری هغوی داسې وائی چه مونږ ته فرشتې ولې نه راځی؟ چه زمونږ طرف ته رسولان وی یا مونږ خپل رب لیدلې وې بیا به ئې مونږ ته دا خبره بیان کړې وې چه محمد د الله رسول دې، الله پاک وائی دې خلقو خپلو زړونو کښې خپل ځان لره ډیر لوئې ګڼړلې دې او په دنیا کښې د الله پاک د رؤیت مطالبه کولو سره ئې ډیره لویه سرکشی کړې ده او (عتوا) په واؤ سره په خپل اصل باندې دې په خلاف د (عتی) په ابدال سره په سورة مریم کښې په کومه ورځ چه د ټولو مخلوقاتو نه فرشتو لره وینی او د (یوم) نصب د (اذکر) فعل مقدر د وجې نه دې، په هغه ورځ به د مجرمانو یعنی د کفارو دپاره هیڅ خوشخبری نه وی، په خلاف د مومنانو، د هغوی دپاره به د جنت زیرې وی او وائی به چه پناه ده پناه ده (بچ مو کړه بچ مو کړه)، د خپل عادت مطابق په دنیا کښې چه کله په هغوی باندې څه مصیبت راتلو، یعنی پناه پناه چغې به

وهی او د ملائکو نه به پناه غواړی، الله پاک به وائی، او مونږ به د هغوی د ښه کارونو طرف ته کوم چه ئې په دنیا کښې کړې دی متوجه شو، مثلا صدقه او صله رحمی، میلمستیا او د مظلوم فریاد اوریدل نو مونږ به دا اعمال د منتشر ذراتو په شان کړو هباءً منثورا هغه ذراتو ته وئیلې شی کوم چه په هغه سوری کښې په نظر راځی چه په هغې باندې د نمر رنړا پریوځی لکه منتشر غبار یعنی (د هغوی اعمالو لره) به په بې فائدې کیدو کښې د منتشر غبار په شان کړو، ځکه چه د هغې اعمالو به هیڅ قسم اجر نه وی، د اجر د شرط مفقود کیدو د وجې نه او د هغې جزاء به ورته په دنیا کښې ورکړې شی، اهل جنت به دغه ورځ یعنی د قیامت په ورځ په قیام گاه کښې هم په دنیا کښې د کفارو نه ښه وی او په آرام گاه کښې به هم د هغوی نه ښه وی یعنی په جنت کښې د قیلوله (د آرام) کولو ځائې او قیلوله د غرمې په وخت په گرمئ کښې آرام کولو ته وئیلې شی او هم د دې ﴿احسن مقیلا﴾ نه اخستلې شوې دی چه حساب به د غرمې پورې پوره شی لکه چه په حدیث شریف کښې راغلی دی او په کومه ورځ به چه اسمان یعنی هر اسمان سره د وریځ نه اوچوی او هغه سپینه وریځ ده، او د هر اسمان نه به فرشتې په کثرت سره راکوزې کړې شی او هغه ورځ به د قیامت وی او یوم ﴿اذکر﴾ محذوف د وجې نه منصوب دې، او په یو قراءت کښې ﴿ تشقق ﴾ د شین په تشدید سره دې، په اصل کښې (یعنی تا لره په شین سره بدلولو او شین لره په شین کښې مدغم کولو نه مخکښې) تاء ثانیه په شین کښې ادغام کړې شوه، او په بل قراءت کښې ﴿ ننزل ﴾ په دوه نوناتو سره، دویم نون ساکن او د لام په ضمې سره او د ملائکه په نصب سره په دغه ورځ به حقیقی حکومت د رحمن وی په دغه ورځ به د هغه څوک شریک نه وی او هغه ورځ به د کافرو دپاره ډیره سخته وی په خلاف د مومنانو او په کومه ورځ چه ظالم مشرک عقبه بن ابی معیط چا چه د شهادتین اقرار کړې وو او بیا د ابی بن خلف د خوشحالولو دپاره مرتد شو، په خپلو لاسونو د پښیمانتیا او ارمان سره د قیامت په ورځ باندې چکونه لگوی او وائی به چه ارمان ما د رسول محمد ﷺ سره د هدایت لاره نیولې وې افسوس زما کمبختی د ویلتا الف د یاءِ اضافت په عوض کښې دې (په اصل کښې ﴿ ویلتی ﴾ وو او د دې معنی ده زما هلاکت ارمان چه ما فلانې یعنی ابی بن خلف دوست نه وې جوړ کړې هغه زه د نصیحت یعنی قرآن نه چه هغه ماته راغلو د هغې نه پس گمراه کړم یا په داسې طریقه چه ما ایمان راوړلو او زه ئې مرتد کړم او شیطان خو کافر انسان ته په وخت باندې دهوکه ورکونکې دې په داسې طریقه چه د مصیبت په وخت هغه پریږدی او د هغه نه د بیزارئ اظهار اوکړی او رسول یعنی محمد ﷺ به وائی اې زما ربه زما قوم قریشو دا قرآن متروک کړې وو الله پاک اوفرمائیل او هم دغه شان چه څنگه مونږ ستا د قوم مشرکان ستا دشمنان جوړ کړی دی ستا نه مخکښې هم د

هر یو نبی بعض مجرمین مشرکین دشمنان جوړ کړی وو لهذا څنګه چه هغوی صبر کړې وو دغه شان تاسو هم صبر کوئ ستا د رهنمایئ او مدد کولو دپاره ستا رب کافي دې یعنی ستا د دښمنانو خلاف ستا د مدد کولو دپاره کافی دې او کافر وائی چه په هغه باندې پوره قرآن کریم په یو کرت ولې نه دې نازل کړې شوې؟ څنګه چه تورات، انجیل او زبور نازل کړې شوی وو او هم دغه شان یعنی متفرق نزول په دې وجه دې چه مونږ د دې په ذریعه ستا زړه قوی کړو او مونږ دا قرآن کریم دیر په قلاره قلاره نازل کړې دې یعنی مونږ هغه لږ لږ په وقفې او اندازې سره نازل کړې دې چه په دې پوهیدل او یادول اسان وی او دا خلق چه څرنګه عجیبه تپوس ستا معاملې لره د باطل کولو دپاره ستا مخې ته پیش کړی مګر مونږ صحیح جواب کوو چه هغه سوال لره دفع کونکې وی او د بیان په اعتبار سره ښه واضح وی عنایت کوو دا هغه خلق دی کوم چه به په خپلو مخونو باندې په جهنم کښې راښکلې شی دا خلق د مکان په اعتبار سره هم بدترین دی او هغه مکان دوزخ دې او په طریقه کښې هم د ټولو نه زیات ګمراهان دی یعنی د نورو نه زیات ګمراهان دی او هغه طریقه د هغوی کفر دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ﴿ لَا يَخَافُونَ ﴾ دا د تهامه په لغت کښې د ﴿ لا یرجون ﴾ تفسیر دې، ﴿ لا یرجون ﴾ په خپله حقیقی معنی کښې استعمالول اولی دی، په دې صورت کښې به ترجمه دا وی ﴿ لا یاملون لقاء ما وعدنا علی الطاعة من الثواب ﴾ او دا خبره ظاهره ده چه څوک د ثواب امید نه لری هغه د عذاب نه نه ویریږی ﴿ لقد استکبر ﴾ کښې لام قسمیه دې.

قوله: ﴿ وعتو علیٰ ﴾ أصله عتوا په خپل اصل باندې دې، واؤ په یا سره د بدلولو نه بغیر، په خلاف د سوره مریم، چه هلته د فواصل د رعایت په وجه واؤ په یا سره بدل کړې شوې دې (زیاتی تحقیق په سوره مریم کښې اوګورئ).

قوله: ﴿ لَا بُشْرَىٰ ﴾ دا جمله د قول مضمر معمول دې، ای یرون الملائکة یقولون لا بشری.

قوله: ﴿ حِجْرًا ﴾ مصدر په معنی د استعاذه دې او ﴿ محجورا ﴾ د دې تاکید دې لکه چه عرب وائی ﴿ حرام محرم ﴾ یا وئیلې شی ﴿ المحرم الحرام ﴾

قوله: ﴿ قَدِمْنَا ﴾ د قدمنا تفسیر په ﴿ عمدنا ﴾ سره کولو کښې مقصد دا دې چه د قدوم اطلاق په الله پاک باندې صحیح نه دې څکه چه قدوم د جسمانیت صفت دې.

قوله: ﴿ ملهوف ﴾ مظلوم فریاد کونکی ته وئیلې شی.

قوله: ﴿ کوی ﴾ د کاف په فتحې او ضمې سره، هغه سوری ته وئیلې شی چه د هغې نه د نمر رڼرا داخلیږی.

قوله: ﴿ هباء ﴾ هغه ذراتو ته وئیلې شی کوم چه په سوری کښې راننوتونکی رڼرا کښې په

الوتلو په نظر راځي که څوک هغه په لاس کښې نيول غواړي نو دا ممکن نه ده.

قوله: ﴿ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا مِّنَ الْكَافِرِيْنَ ﴾ يعنى د مومنانو مستقر په جنت کښې په دنيا کښې د کفارو د مستقر نه غوره دې، دلته اسم تفضيل خير په خپله معنى دې ﴿ من الكافرين فى الدنيا ﴾ وئيلو سره مفسر رحمه الله هم دې طرف ته اشاره اوکړه ګويا چه دا د يوې شبهې جواب دې چه د اهل نار مستقر (جهنم) کښې هيڅ خير نشته خو خير د اسم تفضيل نه معلوميږي چه د کفارو په مستقر کښې هم خير دې خو د اهل جنت د مستقر نه کم خير دې او دا مطلب هم صحيح دې چه د مستقر نه د دواړو فريقو په آخرت کښې مستقر مراد وى په دې صورت کښې به د ﴿ خير ﴾ نه د اسم تفضيل معنى مراد نه وى بلکه د کفارو به صرف تقريع او توبيخ مراد وى او دا به د عربو د قول ﴿ العسل احلى من الخل ﴾ د قبيل نه وى حال دا چه په ﴿ خل ﴾ کښې هيڅ خوږوالي نشته، د دې نه معلوميږي چه د اسم تفضيل دپاره د مفضل منه هميشه کيدل ضروري نه دى، لهذا اعتراض دفع شو.

قوله: ﴿ وَأَحْسَنُ مَقِيْلًا ﴾ يعنى د ﴿ احسن مقيلا ﴾ نه دا خبره فهم ته راځي چه په ميدان محشر کښې حساب کتاب دنصف النهار نه مخکښې ختميږي ځکه چه دجنت د آرام دپاره ﴿ مقيلا ﴾ لفظ استعمال فرمائيلي شوي دې چه د هغې معنى د غرمې په وخت کښې د قيلولي کولو ده، ددې نه معلوميږي چه حساب کتاب نه فراغت به د غرمې نه مخکښې مخکښې اوشي، سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چه د قيامت په ورځ به اهل جنت جنت ته او اهل دوزخ دوزخ کښې قيلوله کوى، ګويا دا نيمه ورځ به په مومنانو باندې د يو مونځ په قدر وى او په کفارو باندې به ډيره اوږده وى.

قوله: ﴿ وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَاءُ ﴾ ﴿ يوم ﴾ د ﴿ اذكر ﴾ محذوف د وجې نه منصوب دې ﴿ كل سماء ﴾ سره اشاره ده دې طرف ته چه په ﴿ السماء ﴾ الف لام داستغراق دى او په ﴿ معه ﴾ سره اشاره اوشوه چه باپه معنى د معده او په معنى د عن هم کيدې شي.

قوله: ﴿ الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ﴾ الملك مبتدا ده، الحق د هغې صفت او للرحمان خبر دې، اى الملك الثابت الذى لايزول للرحمن يومئذ.

قوله: ﴿ الظَّالِمُ الْمُشْرِكُ ﴾ مفسر علام د ظالم تفسير په مشرک سره اوکړو او د عقبه بن ابى معيط سره ئې اشاره اوکړه چه دا آيت کريمه د يو خاص مشرک په باره کښې نازل شوې دې چه د هغه نوم عقبه بن ابى معيط وو.

قوله: ﴿ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِىْ ﴾ دا جمله د ﴿ بعض ﴾ د ضمير نه حال دې په ﴿ ياليتنى ﴾ کښې يا دپاره د تنبيه ده، نه د ندا دپاره، ځکه چه د منادى دپاره اسم کيدل شرط دې او که يا د ندا دپاره اومنلې شى نو منادى به محذوف منل وى. اى ياقوم

قوله: ﴿ لَقَدْ أَضَلَّنِي ﴾ كښې لام قسميه دې ﴿ أي والله لقد اضلني ﴾

قوله: ﴿ قال تعالى ﴾ سره اشاره ده چه دا جمله مستانفه ده د ﴿ ظالم ﴾ كلام په ﴿ اذ جاءني ﴾ باندې پوره شو.

قوله: ﴿ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً ﴾ دلته ﴿ نزل ﴾ په معنى د ﴿ انزل ﴾ دې ځکه چه د ﴿ نزل ﴾ معنى ده لږ لږ نازلول او د ﴿ انزل ﴾ معنى ده په يوځاې نازلول لهذا ﴿ نزل ﴾ او ﴿ جملة واحدة ﴾ كښې به تعارض وى په دې وجه به وئيلې شى چه ﴿ نزل ﴾ په معنى د ﴿ انزل ﴾ دې ﴿ نزلنا ﴾ ... ﴿ كذلك نزلنا ﴾ محذوف منلو سره ئې اشاره اوكړه چه ﴿ كذلك ﴾ د فعل محذوف مفعول دې او ﴿ لنثبت به ﴾ نه قرآن كريم لره متفرق طور نازلولو دريو حكمتونو بيان دې.

قوله: ﴿ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴾ عطف ئې په ﴿ الحق ﴾ باندې دې، ﴿ احسن ﴾ محلا مجرور دې.

قوله: ﴿ الَّذِينَ يُحْشَرُونَ ﴾ د ﴿ هم ﴾ مبتدا محذوف خبر دې لكه چه مفسر رحمه الله ظاهره كړه.

[اياتونه: ۳۵ - ٤٤]

(وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ) التوراة (وَجَعَلْنَا مَعَهُ أَخَاهُ هَارُونَ وَزِيرًا) معينا (فَقُلْنَا اذْهَبَا إِلَى الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا) أي القبط فرعون وقومه فذهبا إليهم بالرسالة فكذبوهما (فَدَمَّرْنَاهُمْ تَدْمِيرًا) أهلكناهم إهلاكا (و) اذكر (قَوْمَ نُوحٍ لَمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ) بتكذيبهم نوحا لطول لبثه فيهم فكأنه رسل أو لأن تكذيبه تكذيب لباقي الرسل لاشتراكهم في المجيء بالتوحيد (أَغْرَقْنَاهُمْ) جواب لما (وَجَعَلْنَاهُمْ لِلنَّاسِ) بعدهم (آيَةً) عبرة (وَأَعْتَدْنَا) في الآخرة (لِلظَّالِمِينَ) الكافرين (عَذَابًا أَلِيمًا) مؤلما سوى ما يحل بهم في الدنيا (و) اذكر (عَادًا) قوم هود (وَثَمُودَ) قوم صالح (وَأَصْحَابَ الرَّسِّ) اسم بئر ونبيهم قيل شعيب وقيل غيره كانوا قعودا حولها فانهارت بهم وبمنازلهم (وَقُرُونًا) أقواما (بَيْنَ ذَلِكَ كَثِيرًا) أي بين عاد وأصحاب الرس (وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْأَمْثَالَ) في إقامة الحجة عليهم فلا نهلكهم إلا بعد الإنذار (وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيرًا) أهلكنا إهلاكا بتكذيبهم أنبياءهم (وَلَقَدْ أَتَوْا) أي مر كفار مكة (عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِي أُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ) مصدر ساء أي بالحجارة وهي عظمى قرى قوم لوط فأهلك الله أهلها لفعلهم الفاحشة (أَفَلَمْ يَكُونُوا يَرَوْنَهَا) في سفرهم إلى الشام فيعتبرون والاستفهام للتقرير (بَلْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ) يخافون (نُشُورًا) بعثا فلا يؤمنون (وَإِذَا رَأَوْكَ إِنْ) ما (يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا) مهزوءا به يقولون (أَهَذَا الَّذِي بَعَثَ اللَّهُ رَسُولًا) في دعواه محتقرين له عن الرسالة (إِنْ) مخففة من الثقيلة واسمها محذوف أي إنه (كَادَ لَيُضِلُّنَا) يصرفنا (عَنْ آلِهَتِنَا لَوْلَا أَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا) لصرفنا عنها قال تعالى (وَسَوْفَ يَعْلَمُونَ حِينَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ) عيانا في الآخرة (مَنْ أَضَلُّ سَبِيلًا) أخطأ طريقا أهم أم المؤمنون (أَرَأَيْتَ) أخبرني (مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ) أي مهويه قدم المفعول الثاني لأنه أهم وجملة من اتخذ مفعول أول لرأيت والثاني (أَفَأَنْتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا) حافظا تحفظه عن اتباع هواه لا (أم

تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ؛ سَمَاعَ تَفَهُّمٍ ﴿أَوْ يَعْقِلُونَ﴾ مَا تَقُولُ لَهُمْ ﴿إِنْ﴾ مَا ﴿هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا﴾ أَخْطَأُ طَرِيقًا مِنْهَا لِأَنَّهَا تَنْقَادُ لِمَنْ يَتَعَهَّدُهَا وَهُمْ لَا يُطِيعُونَ مَوْلَاهُمُ الْمُنْعِمَ عَلَيْهِمْ

ترجمه: او بیشکه مونږ موسی علیه السلام ته کتاب تورات ورکړو او هغه سره مو د هغه رور هارون علیه السلام وزیر (یعنی) معین جوړ کړو او مونږ دواړو ته حکم ورکړو چه هغه خلقو ته لاړ شئ چا چه زمونږ د دلائلو تکذیب کړې دې یعنی د قبطیانو طرف ته کوم چه فرعون او د هغه قوم دې پس (دا دواړه) پیغام اخستلو سره هغوی ته لاړل خو هغوی د دواړو تکذیب اوکړو نو مونږ هغوی تس نس کړل یعنی پوره طریقې سره مو هلاک کړل او د قوم نوح تذکره اوکړئ چه کله هغوی د تولو رسولانو تکذیب اوکړو د نوح علیه السلام تکذیب کولو سره، د نوح علیه السلام د هغوی ترمینځه اوږدې مودې پورې د قیام کولو د وجې نه، گویا سیدنا نوح علیه السلام ډیر رسولان وو (یعنی په منزله د ډیرو رسولانو وو) یا په دې وجه چه (رسل د جمع صیغه استعمال کړې شوه) چه د سیدنا نوح علیه السلام تکذیب گویا د باقی رسولانو تکذیب دې خکه چه د توحید په راوړلو کښې ټول مشترک دی نو مونږ هغوی غرق کړل او د روستنو خلقو دپاره مو نشان عبرت جوړ کړل او مونږ په آخرت کښې د ظالمانو کفارو دپاره دردونکې عذاب تیار کړې دې یعنی تکلیف ورکونکې، د هغه عذاب نه علاوه کوم چه به په دنیا کښې په هغوی باندې نازلیږی او د هود علیه السلام د قوم عاد او د صالح علیه السلام د قوم ثمودیانو او اصحاب الرس تذکره اوکړئ، رس د یو کوهی نوم دې او د هغوی د نبی په باره کښې وئیلې شوې دی چه شعیب علیه السلام وو او وئیلې شوی دی چه د هغه نه علاوه وو، د کوهی په اطرافو کښې ئې استوگنه وه هغه کوهې د هغوی او د هغوی د کورونو سره ښخ شو او د هغوی په مینځ مینځ کښې د ډیرو قومونو یعنی عاد او اصحاب الراس ترمینځه او مونږ دهریو دپاره ښه ښه مضامین بیان کړل په هغوی باندې د حجت قائمولو دپاره مونږ هغوی ته د تنبیه (خبردار) کولو نه پس هلاک کړل بیا مونږ هریو پوره هلاک کړو د هغوی د خپلو انبیاؤ تکذیب کولو د وجې نه او هغوی یعنی کفار مکه په هغه کلی تیریږی چه په هغې باندې بد ترین باران کړې شوې وو ﴿ السوء﴾ د ﴿ ساء﴾ مصدر دې یعنی د کانړو باران پرې کړې شوې وو او هغه کلې د قوم لوط په کلو کښې د ټولو نه لوئې کلې (سدوم) وو پس الله پاک هغه کلی والو لره د هغوی د بدفعلئ د وجې نه هلاک کړل نو آیا دا خلق د خپل شام په سفر کښې هغه کلی ته نه گوری چه عبرت حاصل کړی او استفهام تقریری دې، بلکه خبره دا ده چه دا خلق د مرگ نه پس د ژوندی کیدو عقیده (امید) نه لری هم دا وجه ده چه ایمان نه راوړی او چه کله دا خلق تا لره وینی نو بس تا پورې توقې کوی یعنی تا پورې خندنئ کوی، وائی چه آیا هم دا دې هغه صاحب کوم چه الله پاک د هغه په گمان رسول رالیږلې دې د (مرتبه) رسالت نه نبی علیه السلام لره کم گنړلو سره ﴿ ان﴾ ثقیله

نه مخففه دې او د دې اسم محذوف دې اى انه دې سرى خو به مونږ زمونږ د معبودانو نه اړولي وې كه مونږ پرې كلک نه وې پاتې شوې نو يقينا مونږ به ترې اوړيدلى وې، الله پاک اوفرمائيل او زر ده چه دوى ته به معلومه شى چه كله هغوى عذاب لره په آخرت كښې په غړيدلو سترګو سره وينى چه څوک ګمراه وو؟ يعنى په غلطه لاره باندې وو هغوى يا مومنان؟ آيا تا هغه سړې د هغه حالت ليدلې دې چا چه د خپل خواهش نفسانى يعنى د خوښې څيزونو نه خپل معبود جوړ كړې دې؟ مفعول ثانى د اهم كيدو دوجې نه مقدم كړې شو او (من اتخذ الهه هواه) جمله د (رايت) معفول اول دې او (افانت تكون عليه وكيلا) مفعول ثانى دې، آيا ته د داسې سړى ضامن كيدې شې؟ يعنى ته د داسې خواهش پرست د خواهشاتو د اتباع نه حفاظت ذموارى اغستلې شې؟ نه آيا ته دا خيال كوې چه په دوى كښې اكثر د پوهيدلو دپاره اورى يا ته چه هغوى ته څه وائې په هغې باندې پوهيږى دا خو صرف د څاروو په شان دى بلكه د هغوى نه هم زيات بې لارې دى يعنى د څارو ونه هم د هغوى بد حال دې ځكه چه كوم كس : هغه (څارو) خيال ساتى د هغه فرمانبردارى كوى او دوى د خپل محسن مولى اطاعت نه كوى.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: (وَلَقَدْ آتَيْنَا) اى وبالله لقد اتينا وزيراد وزر نه صفت مشبه، مددګار، ناصر، معين

قوله: (أَيِ الْقِبْط)، القبط، د القوم نه د بدل كيدو د وجې نه مجرور دې، (فرعون وقومه) د قبط بيان دې.

قوله: (فَدَمَّرْنَاهُمْ) د دې عطف په فذهبا الیهم محذوف باندې دې، لكه چه مفسر علام اشاره كړې ده، شارح رحمه الله قوم نوح عليه السلام لره د اذكر فعل محذوف مفعول منلې دې، او لما لره شرطيه منلو سره ئې (اغرقناهم) لره جواب شرط منلې دې، او كه (لما) ظرفيه اومنلې شى نو دا د (ما اضمر عامله على شريطة التفسير) د قبيلې نه هم كيدې شى، د عبارت تقدير به داسې وى (اغرقنا قوم نوح لما كذبوا الرسل اغرقناهم) كه (لما) شرطيه اومنلې شى نو د ما اضمرد قبيل نه به نه وى ځكه چه د لما جواب د چا دپاره مفسر نه شى كيدې (جمل)

قوله: (لِطُولِ لُبْثِهِ فِيهِمْ) دا د يو سوالِ مقدر جواب دې، سوال دا دې چه (كذبوا الرسل) كښې (رسل) ولې جمع راوړلې شو حال دا چه نوح عليه السلام خو يو (واحد) دې؟ شارح د دې دوه جوابونه وركړى دى اول دا چه د سيدنا نوح عليه السلام د نبوت او د رسالت زمانه دومره اوږده ده چه په دومره موده كښې ډير انبياء او رسولان تله نو ګويا سيدنا نوح عليه السلام د زمانې په اعتبار سره د ډيرو نبيانو قائم مقام دې، او بل جواب ئې دا وركړو چه ټول انبياء د توحيد په مسئله كښې متفق دى او توحيد د ټولو انبياء اجماعى مسئله ده، لهذا د يو تكذيب كول د ټولو تكذيب دې.

قوله: ﴿ وَجَعَلْنَاهُمْ ﴾ اى اغراقاهم او قصتهم

قوله: ﴿ لِلظَّالِمِينَ ﴾ وضع الظاهر موضع المضمر، تسجيلا عليهم بوصف الظلم كنې نو عبارت به داسې وي. واعتدنالهم.

قوله: ﴿ وكلا ﴾ دا د عامل مقدر د وجې نه منصوب دې او د ﴿ ما اضمر ﴾ د قبيل نه دې او د ﴿ ضربنا ﴾ سره يو شان معني والا فعل د ﴿ كلا ﴾ نه مخكښې محذوف دې، مثلا ﴿ انذرنا كلا ضربنا له الامثال ﴾ امثال هغه قصصِ عجيبه او عمده مضامينو ته وئيلې شى كوم چه په غرابت كښې د مثالونو په شان وى.

قوله: ﴿ مروا ﴾ د شارح مقصد په دې اضافې سره د يو اعتراض دفع كول دى، اعتراض دا دې چه ﴿ اتوا ﴾ متعدى بنفسه وى يا د دې صله الى راځى او دلته د دې صله ﴿ على ﴾ استعمال شوې ده د دې څه وجه ده؟

جواب: جواب دا دې چه ﴿ اتوا ﴾ د ﴿ مروا ﴾ معنى باندې مشتمل دې لهذا د دې صله ﴿ على ﴾ راوړل صحيح دى، كما اشار اليه الشارح.

قوله: ﴿ مطر السوء ﴾ د امطرت مفعول مطلق دې، په معنى د ﴿ الامطار ﴾ دې، اصل عبارت داسې دې ﴿ امطرت القوم مطر السوء ﴾ ... والسوء په معنى د حجارة دې اى رميت بالحجارة.

قوله: ﴿ مهزوا به ﴾ دا اشاره ده چه ﴿ هزوا ﴾ مصدر په معنى د اسم مفعول دې.

قوله: ﴿ لصرفنا عنها ﴾ دا د لولا جواب دې كوم چه محذوف دې.

قوله: ﴿ مَنْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴾ ﴿ من ﴾ استفهاميه مبتدأ، ﴿ اضل ﴾ د دې خبر او ﴿ سبيلا ﴾ د هغې تميز، دا ټول جمله قائم مقام د ﴿ يعلمون ﴾ د دوؤ مفعولونو دې ﴿ يعلمون ﴾ د عمل معلق كړې شوې دې چه د ﴿ من ﴾ استفهاميه صدارت باطل نه شى.

قوله: ﴿ أَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ ﴾ د اهميت په وجه مفعول ثانى مقدم كړې شوې دې، اصل عبارت داسې دې ﴿ اتخذ هواه الها كما تقول علمت منطلقا زيدا ﴾ په اصل كښې وو وعلمت زيدا منطلقا.

[ايات قوله: ۴۴-۶۰]

﴿ أَلَمْ تَرَ ﴾ تنظر ﴿ إِلَىٰ ﴾ فعل ﴿ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ ﴾ مِن وَقتِ الإسفارِ إِلى وَقتِ طُلوعِ الشَّمسِ ﴿ وَلَوْ شَاءَ ﴾ ربك ﴿ لَجَعَلَهُ سَاكِنًا ﴾ مُقِيمًا لَا يَزُولُ بِطُلُوعِ الشَّمسِ ﴿ ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ ﴾ أي الظلِّ ﴿ دَلِيلًا ﴾ فَلَوْلا الشَّمسُ مَا عُرِفَ الظِّلُّ ﴿ ثُمَّ قَبَضْنَاهُ ﴾ أي الظِّلَّ الممدودَ ﴿ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴾ خَفِيًّا بِطُلُوعِ الشَّمسِ ﴿ وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِبَاسًا ﴾ سَاتِرًا كاللباسِ ﴿ وَالنَّوْمَ سُبَاتًا ﴾ رَاحةً لِلأبدانِ بِقَطعِ الأعمالِ ﴿ وَجَعَلَ النَّهَارَ نُشُورًا ﴾ مَنشُورًا فيه لابتغاءِ الرِّزقِ وغيرِه ﴿ وَهُوَ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ ﴾ وفي قِرَاءَةٍ الرِّيحَ ﴿ نُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ ﴾ مُتَفَرِّقَةً قُدَّامَ المطرِ وفي قِرَاءَةٍ بِسُكُونِ الشِّينِ تَخفِيفًا وفي أُخرى بِسُكُونِهَا وَنُونٍ مَفتُوحَةٍ مَصدَرٌ وفي أُخرى بِسُكُونِهَا وَضَمِّ

الْمُوَحَّدَة بَدَل النُّون أَيْ مُبَشِّرَات وَمُفْرَد الْأُولَى نَشُور كَرَسُولٍ وَالْأَخِيرَة بَشِير (وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا) مُطَهِّرًا (لِنُحْيِيَ بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا) بِالتَّخْفِيفِ يَسْتَوِي فِيهِ الْمُذَكَّر وَالْمُؤَنَّث ذَكَّرَهُ بِاعْتِبَارِ الْمَكَان (وَنُسْقِيَهُ) أَيْ الْمَاء (مِمَّا خَلَقْنَا أَنْعَامًا) إِبِلًا وَبَقَرًا وَغَنَمًا (وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا) جَمْع إِنْسَان وَأَصْله أَنَاسِين فَأُبْدِلَتْ النُّون يَاء وَأُدْغِمَتْ فِيهَا الْيَاء أَوْ جَمْع إِنْسِيّ (وَلَقَدْ صَرَّفْنَاهُ) أَيْ الْمَاء (بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوا) أَصْله يَتَذَكَّرُوا أُدْغِمَتْ التَّاء فِي الذَّال وَفِي قِرَاءَة لِيَذْكُرُوا بِسُكُونِ الذَّال وَضَمّ الْكَاف أَيْ نِعْمَة اللّٰه بِهِ (فَأَبَى أَكْثَرُ النَّاسِ إِلَّا كُفُورًا) جُحُودًا لِلنِّعْمَةِ حَيْثُ قَالُوا مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا (وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ نَذِيرًا) يُخَوِّف أَهْلهَا وَلَكِنْ بَعَثْنَاكَ إِلَى أَهْل الْقُرَى كُلّهَا نَذِيرًا لِيَعْظُم أَجْرك (فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ) فِي هَوَاهُمْ (وَجَاهِدْهُمْ بِهِ) اي القرآن (جِهَادًا كَبِيرًا) (وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ) أَرْسَلَهُمَا مُتَجَاوِرَيْنِ (هَذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ) شَدِيد الْعُذُوبَة (وَهَذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ) شَدِيد الْمُلُوحَة (وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا) حَاجِزًا لَا يَخْتَلِط أَحَدهمَا بِالْآخَرِ (وَحِجْرًا مَحْجُورًا) سِتْرًا مَمْنُوعًا بِهِ اخْتِلَاطهمَا (وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا) مِنَ الْمَنِيّ إِنْسَانًا (فَجَعَلَهُ نَسَبًا) ذَا نَسَب (وَصِهْرًا) ذَا صِهْر بِأَنْ يَتَزَوَّج ذَكَرًا كَانَ أَوْ أُنْثَى طَلَبًا لِلتَّنَاسُلِ (وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا) قَادِرًا عَلَى مَا يَشَاء (وَيَعْبُدُونَ) أَيْ الْكُفَّار (مِنْ دُونِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُهُمْ) بِعِبَادَتِهِ (وَلَا يَضُرُّهُمْ) بِتَرْكِهَا وَهُوَ الْأَصْنَام (وَكَانَ الْكَافِرُ عَلَى رَبِّهِ ظَهِيرًا) مُعِينًا لِلشَّيْطَانِ بطاعته (وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا مُبَشِّرًا) بِالْجَنَّةِ (وَنَذِيرًا) مُخَوِّفًا من النار (قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ) أَيْ عَلَى تَبْلِيغ مَا أُرْسِلْتُ بِهِ (مِنْ أَجْرٍ إِلَّا) لَكِنْ (مَنْ شَاءَ أَنْ يَتَّخِذَ إِلَى رَبِّهِ سَبِيلًا) طَرِيقًا بِإِنْفَاقِ مَاله فِي مَرْضَاته تَعَالَى فَلَا أَمْنَعهُ مِنْ ذَلِكَ (وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحْ) مُتَلَبِّسًا (بِحَمْدِهِ) أَيْ قُلْ سُبْحَان اللّٰه وَالْحَمْد لِلّٰهِ (وَكَفَى بِهِ بِذُنُوبِ عِبَادِهِ خَبِيرًا) عَالِمًا تَعَلَّقَ بِهِ بِذُنُوبِ هُوَ (الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ) مِنْ أَيَّام الدُّنْيَا أَيْ فِي قَدْرهَا لِأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ ثَمَّ شَمْس وَلَوْ شَاءَ لَخَلَقَهُنَّ فِي لَمْحَة وَالْعُدُول عَنْهُ لِتَعْلِيمِ خَلْقه التَّثَبُّت (ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ) هُوَ فِي اللُّغَة سَرِير الْمُلْك (الرَّحْمَنُ) بَدَل مِنْ ضَمِير اسْتَوَى أَيْ اسْتِوَاء يَلِيق بِهِ (فَاسْأَلْ) أَيُّهَا الْإِنْسَان (بِهِ) بِالرَّحْمَنِ (خَبِيرًا) يُخْبِرك بِصِفَاته (وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ) لِكُفَّارِ مَكَّة (اسْجُدُوا لِلرَّحْمَنِ قَالُوا وَمَا الرَّحْمَنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا) بِالْفَوْقَانِيَّةِ وَالتَّحْتَانِيَّةِ وَالْآمِر مُحَمَّد وَلَا نَعْرِفهُ لَا (وَزَادَهُمْ) هذا القول لهم (نفورا) عن الإيمان

ترجمه: آیا ته د خپل رب صنعت ته نه گورې چه څنګه ئې خور کړې دی سورې د رڼا خوریدو (اسفار) نه تر د نمر ختلو پورې که هغه غوښتلې نو دا به ئې په یو حالت باندې ولاړ پریخودلې وې یعنی ساکن به ئې پریخودلې وې چه د نمر په راختلو سره به نه زائل کیدلو بیا مونږ نمر لره په دې سورې باندې دلیل جوړ کړو که نمر نه وې نو د سورې پیژندګلو به نه شوه کیدې بیا مونږ دا یعنی خور شوې سورې خپل طرف ته په قلاره قلاره رانښکلو یعنی د طلوع شمس د وجې نه شنړ شنړ او هغه داسې دې چه هغه ستاسو دپاره شپه جامه یعنی د جامې په شان پټونکې جوړه کړه او خوب ئې قطع کونکې یعنی د بدنونو دپاره اعمالو لره موقوف کولو

سره د آرام ځيز جوړکړو ورځ ئې د منتشر کيدو وخت جوړ کړو په دې کښې د رزق وغيره د حاصلولو دپاره او هغه داسې دې چه د خپل رحمت باران نه اول هواګانې راليږي چه هغه خلق خوشحاله کړي او په يو قراءت کښې (الرياح) په ځائې ﴿ الريح ﴾ دې يعنی د باران نه وړاندې خوږې شوې هواګانې او په يو قراءت کښې ﴿ نشرا ﴾ د شين په سکون سره دې د تخفيف دپاره او په يو قراءت کښې د شين په سکون او د نون په فتحې سره (نشرا) مصدر دې او په بل قراءت کښې د شين په سکون او د نون په ځائې د باء په ضمې سره (يعنی بشرا) دې زيرې ورکونکې، (اول قراءت يعنی نشرا) مفرد نشوردې، لکه چه د ﴿ رسل ﴾ واحد رسول دې (او هم دغه شان دويم قراءت يعنی نشرا) مفرد دې، او آخری قراءت يعنی د ﴿ بشرا ﴾ واحد (بشير) دې او مونږ د اسمان نه پاکې يعنی پاکې او پاکونکې اوبه نازلوو د دې دپاره چه مونږ د هغې په ذريعه اوچه زمکه شنه او شاداب کړو ﴿ميتا﴾ په تخفيف سره دې، په ﴿ بلدة ﴾ کښې مذکر او مونث دواړه برابر دی، يا د ﴿ بلدة ﴾ صفت ﴿ ميتا ﴾ په دې وجه مذکر راوړلې شوې دې چه ﴿ بلدة ﴾ ئې د مکان په تاويل کښې کړې دې او مونږ هغه اوبه په خپل مخلوق کښې په ډيرو څارووًمثلا اوښانو، غواګانو او ګډو بيزو او ډيرو انسانانو باندې څکوو ﴿ اناسی ﴾ د انسان جمع ده د اناسی اصل اناسين وو، نون په ياسره بدل شو اود يا په يا کښې ادغام اوشو اناسيّ شو بيا اناسیٔ د ﴿ انسی ﴾ ده او مونږ دا اوبه د مخلوق ترمينځه تقسيمو و دې دپاره چه خلق غور او فکر اوکړی د ﴿ يذكروا ﴾ اصل (يتذكروا) وو تا په ذال کښې ادغام کړې شوه او په يو قراءت کښې ﴿ ليذكروا ﴾ د ذال په سکون او د کاف په ضمې سره دې يعنی د دې دپاره چه باران (د اوبو) په سبب د الله پاک نعمتونه ياد کړی بيا اکثر خلق ناشکری کوی يعنی د نعمت منکر وی، په داسې طريقه چه هغوی وائی چه د فلانی ستوری په راختلو (يا د غروب) کيدو د وجې نه مونږ ته باران راکړې شو او که مونږ غوښتلې نو هر يو کلی ته به مو ويرونکې پيغمبر راليږلې وې چه هغه به دا کلی والا ويرول خو مونږ ته د ټول عالم طرف ته نذير اوليږلې د دې دپاره چه ستا اجر زيات شی لهذا ته د کافرانو د هغوی په خواهشاتو کښې اتباع مه کوه او ته هغوی سره د قرآن کريم په ذريعه پوره طاقت سره جهاد کوه او هغه داسې ذات دې چا چه دوه درياب نه يو ځائې کولو سره جاری کړی دی چه په هغې کښې يو خوږ مزيدار يعنی انتهائی خوږ دې او دويم مالګين او تريو يعنی انتهائی تريو دې او د هغې دواړو ترمينځه ئې يو پرده د دې دپاره چه د يو بل سره ملاؤ نه شی او قوی مانع کيخودلې دې يعنی داسې مانع چه دهغې د وجې نه د هغه دواړو دريابونو يو ځائې کيدل ممنوع شو هغه داسې ذات دې چا چه انسان د اوبو يعنی د منی نه پيدا کړو بيا ئې هغه د نسب خاوند (د وينې رشتې والا) او سخرګنئ والا کړو په داسې طريقه چه هغه د نسل د زيات والی دپاره نکاح کوی که مذکر وی که مونث وی او ستا رب

ډیر د قدرت والا دې چه هغه څه غواړي په هغې باندې قادر دې او دا خلق یعنی کافران الله پاک لره پرېخودلو سره د داسې څیزونو بندګي کوي کوم چه د هغوی د بندګۍ د وجې نه نه هغوی ته په نفع رسولو باندې قادر دی او نه په ترک د بندګۍ باندې نقصان رسولو باندې قادر دی او هغه بتان دی او کفار خو د خپل رب په مخالفت کښې د شیطان مددګار دی د شیطان اطاعت کولو سره او مونږ ته صرف د دې دپاره لیږلې ئې چه ته خلقو ته د جنت زیرې ورکړې او د جهنم د اور نه خلق اوېروې تاسو اووایئ چه زه ستاسو نه ددې څیز په تبلیغ باندې کوم چې ماته راکولو سره رالیږلې شوې یم هیڅ معاوضه نه غواړم خو دا چې څوک غواړي دخپل رب په مرضیاتو کښې دې مال خرچ کولو سره خپل رب ته (د رسیدلو) لاره اختیار کړي نو زه هغه ددې نه نه منع کوم او تاسو په دغه حيّ لا یموت باندې توکل ساتئ او دهغه د حمد سره تسبیح بیانوئ یعنی سبحان الله وبحمده وایئ او هغه دخپلو بندګانو د ګناهونو نه ښه خبر دې، بذنوب د خبیرا سره متعلق دې او هغه داسې ذات دې چه هغه اسمانونه او زمکه او کوم څه چه ددې په مینځ کښې دی به شپږو ورځو کښې پیدا کړل د دنیا د ورځو په حساب سره یعنی ددې په مقدار کښې ځکه چه هغه وخت نمر نه وو، اوکه هغه غوښتلې نو دا به ئې په یوه لمحه (ساعت) کښې پیدا کړي وې، اوس پاتې شو دهغه دخپل قدرت نه عدول نو دا خپل مخلوق ته د جلتې نه کولو (اود نرمۍ) د تعلیم دپاره دی بیا هغه په عرش باندې برابر شو عرش په لغت کښې تخت شاهی ته وائی هغه رحمن دې رحمٰن د استویٰ د ضمیر نه بدل دې، اود استویٰ نه هغه استویٰ مراد ده کوم چه دهغه د شان سره لائق ده ته د رحمن د شان باره کښې د یو خبر لرونکی نه معلومات اوکړه هغه به تاته دهغه د صفاتو باره کښې بیان اوکړي او کله چه د مکې کافرانو ته اووئیلې شی چې رحمن ته سجده اوکړئ نو وائی رحمن څه څیز دې؟ آیا مونږ هغه چاته سجده اوکړو چاته چې ته د سجدې کولو حکم ورکوې تأمرنا په تاء او یاء دواړو سره دې او فاعل محمد دې، حال دا دې چې مونږ دغه (رحمٰن) نه پیژنو، مونږ داسې نه کوو. دې قول دوی لره د ایمان نه نور هم زیات نفرت کوونکی جوړ کړل.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: {أَلَمْ تَرَ} تَنْظُر: تنظر سره رؤیت بصری طرف ته اشاره ده او ددې تائید د الی نه هم کیږی ځکه چه د رؤیت بصری صله الی راځی

قوله: {إِلَىٰ رَبِّكَ}: کښې مضاف محذوف دې ځکه چه د ذات باری رؤیت په دنیا کښې ممکن نه دې لهذا تقدیر د عبارت به دا وی المرترالی صنیع ربّك او بعضې حضراتو د رؤیت نه رؤیت قلبی هم مراد اخستې دې او المرترٰی په معنی د الم تعلم اخستې دې او مخاطب نبی کریم ﷺ او هر هغه کس دې چې هغه په عالم کائنات کښې د غور اوفکر صلاحیت لري، الله تبارک وتعالی په دې آیاتونو کښې منفرد بالالوهیة کیدو باندې پنځه دلیلونه د

قبیلې دمحسوساتو نه بیان کړی دی ① أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ ② هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِبَاسًا ③ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ ④ هُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ ⑤ هُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا.

قوله: مِنْ وَقْتِ الْإِسْفَارِ إِلَىٰ وَقْتِ طُلُوعِ الشَّمْسِ: مفسر رحمه الله دپاره زیات مناسب وو چې ای من طلوع الفجر الی طلوع الشمس ئې وئیلې وو، که مطلق ئې پریخودې وې او هیڅ یو قید سره ئې مقید کړې نه وې نو نوره به هم زیاته غوره وه خکه چې په شپه کې خو د زمکې ظل (سورې) وی او په ورځ کښې د ونو سورې وی. اسفار ئې شاید د بنه وخت کیدو په وجه خاص کړې دې د کیف مد الظل په تفسیر کښې د مفسرینو درې اقوال دی ① من الفجر الی الشمس ② من المغرب الی طلوع الشمس ③ من طلوع الشمس الی زوال الشمس. صاحب د بحر رومبې قول د جمهورو قول نقل کړې دې او مفسر علام چې کوم تفسیر کړې دې هغه د نورو مفسرینو موافق نه دې (صاوی وجمل)

قوله: جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِبَاسًا: په دې کښې ئې لیل لره د لباس سره تشبیه ورکړې ده وجه د شبه ساتر کیدل دی، حرف تشبیه او وجه د شبه ئې حذف کړې ده، دې ته تشبیه بلیغ وائی لکه په زید أسد کې چې تشبیه بلیغ ده.

قوله: بُشْرًا}: په دې کښې یو څو قراءتونه دی دمفسر علام مخې ته د قرآن کریم هغه نسخه ده چې په هغې کښې د بُشرًا په ځائې نُشرًا دې په دې کښې څلور قراءتونه دی ① نُشُرًا ② نُشْرًا ③ نَشْرًا ④ بُشْرًا. رومبې او دویم د نُشور جمع دی لکه د رسول جمع چې رُسُل او رُسْل راځی، او دریم یعنی نَشْرًا دا مصدر دې چې په دې کښې واحد او جمع برابر دی او څلورم یعنی بُشْرًا د بَشیر جمع ده خوشخبری ورکونکې.

قوله: مُفْرَدُ الْأُولَىٰ وَالثَّانِيَةِ: یعنی مفسر علام له د اولی سره والثانیة هم وئیل پکار وو خکه چه د اول اودویم قراءت واحد یودې اوهغه دې نُشورًا او د څلورم قراءت یعنې د بُشْرًا واحد بشیرٌ دې

قوله: مَيْتًا: په مَيْت او مَيِّت کې فرق دادې چه مَیْت هغې ته وائی چې مړشوې وی او مَیِّت هغې ته وائی چه هغه مړکیدونکې وی یا مرګ ته نزدې وی.

قوله: يَسْتَوِي فِيهِ الْمُذَكَّرُ وَالْمُؤَنَّثُ: دا ددې اعتراض جواب دې چې بَلْدَةً موصوف او مَيْتًا دې صفت دې د مَيْتًا په ځائې مَيْتَةً پکار وو چې په موصوف او صفت کې مطابقت راغلې وې؟ ددې یو جواب خوئې دا ورکړو چې د مَيْت اطلاق په مذکر اومؤنث دواړو باندې کیږی، دویم جواب وذکرهُ باعتبار المكان. مفسر علام له د واوپه ځائې لَو وئیل پکار وو چې دویم جواب طرف ته اشاره شوی وې، د دویم جواب خلاصه دا ده چې بلدة د مکان په تاویل کښې دې لهذا میتًا اورل صحیح دی.

قوله: وَنُسْقِيَهُ: ددې عطف په نُحْيِيَ باندې دې.

قوله: أَنْعَامًا: دا د نُسْقِيَهُ مفعول ثانی دې او خَلَقْنَا په أَنْعَامًا باندې د مقدم کیدو په وجه حال دې گینې نو خَلَقْنَا د أَنْعَامًا صفت دې، قاعده ده چه موصوف که نکره وی او ددې موصوف مقدم کړې شوې وی نو دا حال جوړیږی.

قوله: أَنَاسِيَّ: دا د انسانٌ جمع ده داد سیبویه مذهب دې او هم دا راجح دی او بعضو وئیلی دی چه د إِنْسِيٌّ جمع ده دا د فراء مذهب دې اودا د اعتراض نه خالی نه دې ځکه چه په انسیٌّ کښې یَا نسبتي ده.اوپه کوم کښې چې یَا نسبتی وی دهغې جمع دَ فَعَالِيُّ په وزن باندې نه راځی لکه چې ابن مالک فرمائیلی دی: وَاجْعَلْ فَعَالِيَّ لِغَيْرِ ذِي نَسَب.

قوله: وَلَقَدْ صَرَّفْنَاهُ: اى والله لقد صرّفناه اى الماء مفسّر علام د صرّفناه د هُ ضمير مرجع ماءَ گرځولې دې. مطلب دادې چه مونږ باران په مختلفو ښارونو او علاقو کښې د مقدار په اعتبار سره تقسیم کړې دې، دغسې د صفت په اعتبار سره هم تقسیم کړې دې چې باران یو ځائې کښې په شیبو شیبو وریږی نو بل ځائې کښې په مزه مزه، دغسې مو په مختلفو وختونو تقسیم کړو.د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه هم دا تفسیر نقل دې، بعضې حضراتو د صرّفناه د هُ ضمير مرجع قرآن گرځولې دې او ددې قرینه ئې جاهِدْهُم به گرځولې ده.او بعضې حضراتو المَطَر مرجع گرځولې دې، صاحب د جلالین هم دا اختیار کړې ده قرآن لره د مرجع گرځولو په صورت کښې به مطلب دا وی چه مونږ په دې قرآن کښې مختلف مثالونو او عنواناتو سره ښه ښه مضامین بیان کړی دی او په مختلفو دلائلو او حُجتونو سره مو خلق پوهه کړی دی چه هغوی غور او فکر اوکړی. (صفوة التفاسير ملخصاً)

قوله: النَّوْءُ: ددې جمع أنواء راځی ددې معنی مائل کیدل او ساقط کیدل دی يقال نَاءَ به الحملُ اى أثقلَه وأمالَه) بوج ده لره دروند کړو او ټیټ ئې کړو د جاهلیت په زمانه کښې به عربو کواکب (ستورو) لره مؤثر حقیقی منل، او د یخنۍ اوگرمۍ او د باران وغیره نسبت به ئې د بعضې نجوم طلوع یا غروب طرف ته کولو، دهغوی عقیده وه چې په آخره شپه کښې چې کله یو مخصوص ستورې د مغرب په طرف غورځیږی او ددې په مقابل مشرق کښې ددې حریف (مقابل) طلوع کیږی نو باران کیږی. دې خلقو الله تعالی لره مؤثر حقیقی نه منلو او نجوم او کواکب (ستوری) به ئې مؤثر حقیقی گڼړل په دې وجه دې لره په کفران سره تعبیر کړې شولې. (روح البيان ملخصاً)

قوله: مَرَجَ: (ماضی باب نصر) مُرُوج: آزاد پریښودل، جاری کول، فُرات: ډیر خوږ، ښائسته ذائقې والا چې زړه ته تسلی ورکوی (ک، الرحمٰن: د رحمٰن د مرفوع کیدو دری وجې کیدې شی: ① د اَلَّذِیْ خَلَقَ..الخ مبتدأ خبر وی ② د هُومبتدأ محذوف خبر وی ③ د اِسْتَوٰی د

ضمیر نه بدل وی مفسر ﷫ هم دا اختیار کړي دي

قوله فَاسْأَلْ بِهٖ خَبِيْرًا: به د خبیرًا سره متعلق دي، د فواصل د رعایت په وجه مقدم کړې شوي دي ای فسأل خبیرًا به یا د اسئل سره متعلق دي ای اسئل عنه خبیرًا یعنی د رحمٰن د صفاتو باره کښې د عالم نه معلومات اوکړئ

قوله يُخْبِرُكَ بصفاته: دا جواب امر دي

[ایاتونه: ۶۱ - ۷۷]

قال تعالى {تَبَارَكَ} تعاظم {الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا} اثني عشر الحمل والثور والجوزاء والسرطان والأسد والسنبلة والميزان والعقرب والقوس والجدي والدلو والحوت وهي منازل الكواكب السبعة السيارة المريخ وله الحمل والعقرب والزهرة ولها الثور والميزان وعطارد وله الجوزاء والسنبلة والقمر وله السرطان والشمس ولها الأسد والمشترى وله القوس والحوت وزحل وله الجدي والدلو {وَجَعَلَ فِيهَا} أيضا {سِرَاجًا} هو الشمس {وَقَمَرًا مُنِيرًا} وفي قراءة سرجا بالجمع أي نيرات وخص القمر منها بالذكر لنوع فضيلة {وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً} أي يخلف كل منهما الآخر {لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يَذَّكَّرَ} بالتشديد والتخفيف كما تقدم ما فاته في أحدهما من خير فيفعله في الآخر {أَوْ أَرَادَ شُكُورًا} أي شكرا لنعمة ربه عليه فيهما {وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ} مبتدأ وما بعده صفات له إلى أولئك يجزون غير المعترض فيه {الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا} أي بسكينة وتواضع {وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ} بما يكرهونه {قَالُوا سَلَامًا} أي قولا يسلمون فيه من الإثم {وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا} جمع ساجد {وَقِيَامًا} بمعنى قائمين يصلون بالليل {وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا} أي لازما {إِنَّهَا سَاءَتْ} بئست {مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا} هي أي موضع استقرار وإقامة {وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا} على عيالهم {لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا} بفتح أوله وضمه أي يضيقوا {وَكَانَ} إنفاقهم {بَيْنَ ذَٰلِكَ} الإسراف والإقتار {قَوَامًا} وسطا {وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ} قتلها {إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ} أي واحدا من الثلاثة {يَلْقَ أَثَامًا} أي عقوبة {يُضَاعَفْ} وفي قراءة يضعف بالتشديد {لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ} بجزم الفعلين بدلا وبرفعهما استئنافا {مُهَانًا} حال {إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا} منهم {فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ} المذكورة {حَسَنَاتٍ} في الآخرة {وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا} أي لم يزل متصفا بذلك {وَمَنْ تَابَ} من ذنوبه غير من ذكر {وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ يَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مَتَابًا} أي يرجع إليه رجوعا فيجازيه خيرا {وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ} أي الكذب والباطل {وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ} من الكلام القبيح وغيره {مَرُّوا كِرَامًا} معرضين عنه {وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا} وعظوا {بِآيَاتِ رَبِّهِمْ} أي القرآن {لَمْ يَخِرُّوا} يسقطوا {عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا} بل خروا سامعين ناظرين منتفعين {وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا} بالجمع والإفراد {قُرَّةَ أَعْيُنٍ} لنا بأن نراهم مطيعين لك {وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا} في

الحير {أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ} الدَّرجة العُلْيَا فِي الْجَنَّة {بِمَا صَبَرُوا} عَلَى طَاعَةِ اللّٰه {وَيُلَقَّوْنَ} بالتشديد وَالتخفِيف مَعَ فَتح اليَاء {فِيهَا} فِي الغُرْفَة {تَحِيَّةً وَسَلَامًا} مِن الملائِكَة {خَالِدِينَ فِيهَا حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا} مَوضِع إقامَة لَهُمْ وأولئك وَمَا بَعْده خبر عِبَاد الرَّحْمٰن المبتدأ {قُلْ} يَا مُحَمَّد لِأَهْلِ مَكَّة {مَا} نَافِيَة {يَعْبَأُ} يَكتَرِث {بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَاؤُكُمْ} إيَّاهُ فِي الشَّدَائِد فَيَكْشِفهَا {فَقَدْ} أَيْ فَكَيْفَ يَعْبَأ بِكُمْ وَقَدْ {كَذَّبْتُمْ} الرَّسُول وَالقرآن {فَسَوْفَ يَكُونُ} العَذَاب {لِزَامًا} مُلازمًا لَكُمْ فِي الآخرة بَعْد مَا يَحِلّ بِكُمْ فِي الدُّنْيَا فَقُتِلَ مِنْهُمْ يَوْم بَدْر سَبْعُونَ وَجَوَاب لَوْلَا دَلَّ عَلَيْهِ مَا قَبْلهَا

ترجمه: هغه ذات ډیر لوئي شان والا دې چې هغه په اسمان کې دولس برجونه جوړ کړل ① حمل ② ثور ③ الجوزاء ④ السرطان ⑤ الاسد ⑥ السنبلة ⑦ المیزان ⑧ العقرب ⑨ القوس ⑩ الجدی ⑪ الدلو ⑫ الحوت، دا د سبع سیارو (اووه ستورو) منزلونه دی (اوهغه سبع سیاره دا دی ① المریخ: ددې منزل حمل اوعقرب دې. ② زهره: ددې منزل ثور اومیزان دې ③ عطارد: ددې منزل جوزاء او سنبله دې ④ القمر: ددې منزل سرطان دې. ⑤ الشمس ددې منزل اسد دې. ⑥ المشتری: ددې منزل قوس او حوت دې. ⑦ زحل ددې منزل جدی او دلو دې اوهغه په اسمان کښې ډیوه هم جوړه کړه اودا نمر دې او نوراني سپوږمۍ ئې جوړه کړه اوپه یو قرأت کښې سُرُجًا دجمع صیغې سره دې یعنی روښانه کواکب (ستوری) ئې جوړ کړل اوپه ستورو کښې ئې خاص کرد قمر (سپوږمۍ) ذکر د یو قسم د فضیلت په وجه دې اوهغه داسې ذات دې چه هغه شپه او ورځ په یوبل پسې تلونکې راتلونکې جوړ کړل یعنی په دې دواړو کښې هر یو بل پسې راځی دهغه کس دپاره څوک چه ځان پوهول غواړی دا (دخیر) کارکوم چه ددې نه په دغه دواړو (شپه اوورځ) کښې پاتې شو نو دا د خیر کار دې په بله کښې اوکړی.او شکر کول غواړی یَذّکر تشدید او تخفیف دواړو سره دې لکه وراندې چې تیرشوی دی یعنی خپل ځان باندې په شپه ورځ کښې دخپل رب د نعمتونو شکر کول پکار دی عبادالرحمٰن مبتدأ دې او ددې نه روستو د جمله معترضه نه علاوه ددې صفات دی أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ پورې (یعنی د یجزون دماقبل پورې اود رحمٰن بندګان هغه دی چې هغوې په زمکه باندې عاجزی یعنی سکون او تواضع سره ګرځی او کله چه جاهلان دهغوی سره داسې خبرې سره مخاطب کیږی چې هغې لره هغوی ناخوښه ګنړی نودا صاحب ورته سلام وائي یعنی داسې خبره ورته کوی چې په هغې کښې هغوی د ګناه نه محفوظ کیږی او څوک چه د شپې دخپل رب په وړاندې په سجده او قیام کښې لګیا وی سُجَّدًا د ساجدٌ جمع ده او قیامًا د قائمین په معنی دې یعنی د شپې مونځ کوی او څوک چه د خپل رب نه دا دعا غواړی چې اې زمونږ پروردګار ته زمونږ نه د جهنم عذاب لرې کړې ځکه چه دهغې عذاب اینښتیدونکې دې یعنی لازمیدونکې دې بیشکه هغه د پاتې کیدو او اوسیدلو په لحاظ سره بد

ترین ځائي دي يعنى د استقرار او اقامت دپاره ډير بد ځائي دي اوكله چه هغوى په خپل عيال باندي خرچ كوى نو اسراف نه كوى اونه تنگى كوى يقتروا ديا په فتحې سره (سره د تا په كسرې سره) او په ضمې د تا سره (سره د كسرې د تاء) لم يقتروا اى لم يضيقوا او ددوى خرچ كول د اسراف او تنگئ په مينځ كښې په اعتدال سره وى او څوک چې د الله سره د بل معبود بندگى نه كوى او كوم نفس لره چې الله حرام گرځولې دې هغې لره نه قتلوى خو په حقه سره، او هغوى زنا نه كوى او څوک چې (په ذكر شوى دريو واړو كارونو كښې يو كار هم اوكړى) نو هغه به سزا ته ورمخامخ كيږى أثاما اى عقوبة او هغه ته به د قيامت په ورځ دوچند عذاب وركولې شى او هغه به ذلت او خوارئ سره هميشه په دې كښې اوسيږى او په يو قراءت كښې يضعف په تشديد سره دې دواړه فعلونه (يعنى يضعف او يخلد) مجزوم دى (يلق نه د بدل الاشتمال) واقع كيدو په وجه او (ذكر شوى دواړه فعلونه) په رفع سره هم دى د استيناف په وجه سره. مهانا د يخلد دضمير نه حال دې خو په دوى كښې چې څوک توبه اوباسى او ايمان راوړى او نيک عمل كوى نو الله تعالى به د داسې خلقو ذكرشوى گناهونه په آخرت كښې په نيكو سره بدل كړى او الله تعالى غفور او رحيم دې يعنى دې صفت سره هميشه متصف دې او كوم كس دا كس د هغې نه علاوه دې دكوم ذكر چې په إلا من تاب وآمن كښې شوې دې.توبه كوى او نيک عمل كوى نو داسې كس (په حقيقت كښې) الله طرف ته رشتونې رجوع كوى يعنى په صحيح معنى كښې رجوع كوى نو داسې كس ته به (الله تعالى) غوره بدله وركړى اوهغوى په عبث خبرو كښې نه شامليږى (دويمه ترجمه) او هغوى دروغ او باطله گواهى نه وركوى او كله چې په لغو څيزونو يعنى عبث (فضول) خبرو وغيره باندې ددوى تيريدل كيږى نو په شرافت سره تيريږى يعنى (توجه نه وركوى) ددې نه اعراض كولو سره تيريږى اوهغوى داسې دى چې كله هغوى ته د الله په آيتونو يعنى د قرآن په ذريعه نصيحت كولې شى نو په هغې باندې د كنړو او ړندو په شان نه تيريږى بلكه د قبلولو په غوږونو ئې اورى اود عبرت په سترگو ورته كتلو سره استفاده كونكى تيريږى، او هغوى داسې دى چه دعا كوى چې اې پروردگار مونږ ته زمونږ د بيبيانو او زمونږ د اولاد د طرف نه د سترگو يخ والې راكړې ذرياتنا جمع او افراد سره دې په دې طور چې مونږ دوى ستا فرمانبردار اووينو او مونږ د متقيانو په خير كښې پيشوايان جوړكړې هم دغسې خلقو ته به جنت كښې اوچتې بالاخانې وركړې شى د هغوى د الله تعالى په اطاعت باندې د ثابت قدم اوسيدو په وجه هلته به هغوى ته د ملائكو د طرفه (دهميشه) بقا (خوشخبرى) اود سلامتيا دعا كولې شى هغوى به په دې كښې هميشه اوسيږى دا ډير ښه ځائې او ډير ښه مقام دې يعنى د دوى د اوسيدو ځائې دې او أولئك او ددې ما بعد د عباد الرحمن مبتدأ خبر دې، اې محمد ﷺ تاسو مكې والو ته اووايئ زما رب به ستاسو هيڅ پرواه اونه كړى كه تاسو

هغه په مصیبتونو کښې نه راغوارئ چې هغه دې لره زائل (ختم) کړي یعني څنګه به تاسو پرواه اوکړی تاسو خو رسول او قرآن دروغ ګڼرلی دی دیر زر به عذاب ستاسو پورې جُخت اونغلی (یعنی) په دنیا کښې به په تاسو باندې د عذاب نازلیدو نه علاوه په آخرت کښې تاسو باندې عذاب خامخا لازم شی، چنانچه په هغوی کښې د بدر په ورځ اویا (۷۰) کسان قتل کړې شو، د لَوْلَا جواب (محذوف دی) چې په دې باندې د لَوْلَا ماقبل (یعنی مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ) دلالت کوی (تقدیر د عبارت به داسې وی لَوْلَا دعاءكم ما يعبؤا بكم ربّی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: بُرُوجًا: دا د برج جمع ده منزل ته وائی، د اووهٔ سیارو دولس منزلونه دی، په اووهٔ سیارو کښې د پنځو دوه دوه منزلونه دی دغسې پنځو سیارو لس منزله واخستل باقی سیارو یعنی نمر او سپوږمئ یو یو منزل واخستلو دغه شان په اووه سیارو باندې دولس منزله تقسیم شو، زحل په اووم اسمان باندې دې او مشتري په شپږم اسمان باندې، او مریخ په پنځم اسمان باندې او شمس په څلورم اسمان باندې، او زهره په دریم اسمان باندې، او عطارد په دویم اسمان باندې، او قمر په رومبی اسمان باندې دې. مفسّر علام چې د اووهٔ سیاراتو کوم ترتیب بیان کړې دې د قدیم علم هیئت اول معلّم ارسطو په نزد د عالم مرکز زمکه ده، سیارات اوثوابت بلکه ټول جهان ددې ګیرچاپیره تاویږی، اکثر قدماؤ دهغه تقلید کړې دې، بطلیموس هم ددوی مبثر دې دا رائې تقریبًا یونیم زر کاله پورې منلې شوې راروانه وه.

د جدید علم هیئت بانی مشهور فلکی کوپرنیکس پولنډی م ۱۴۷۲ء و ۱۵۴۳ء ګڼرلې کیږی، مشهوره ده چې دا رومبې سړې دې چې ده د نمر د مرکزیت نظریه پیش کړه.

د کوپرنیکس د نظریې بنیادی اصول دوه دی:

اول: د کواکب عالم د روزانه ګردش اصلی وجه د خپل محور نه ګیرچاپیره د زمکې روزانه ګردش کول دی.

دوم: ټول سیارې د نمر نه ګیرچاپیره تاویږی، زمکه هم دهغې نه یوه سیاره ده، په نظام پرنیکی کښې د سیارو ترتیب د مرکز (نمر) نه شروع کیږی چې داسې دې:

① عطارد ② زهره ③ ارض ④ مریخ ⑤ مشتری ⑥ زحل ⑦ یورینس ⑧ نیپچون ⑨ پلوټو (بحواله فلکیات جدیده، ص۲۴)

قوله: وَجَعَلَ فِيهَا: ای فی السّماء، د سماء نه اصطلاحی سماء مراد نه دې بلکه فوق (بره طرف) مراد دې، (کل ما هو فوق رأسك فهو السّماء) سیارات په فضاء کښې رازورند دی په اسمان کښې پیوست نه دی، د اووه سیاراتو چې په اووه اسمانونو کښې کیدل ښودلی شوی

دی دا ددوی د دوری حرکت منزلونه دی هم دي ته بروج وئیلې شي، مثلا د قمر باره کښې وئیلې شي چې په ړومبی اسمان کښې دي او عطارد په دويم اسمان کښې او زهره په دريم اسمان کښې او نمر په څلورم اسمان کښې علی هذا القياس. په جَعَلَ فِيهَا کښې د فيها ضمير که بروج طرف ته اوګرځولې شي نو خبره بالکل واضحه کيږي لکه چې د محشی هم دا رائې ده، که د سماء نه سماء اصطلاحی حقيقی مراد واخستلې شي نو ډير اعتراضونه پيدا کيدلې شي، بيا ئې ددې نه پس قمراً په سُرٰجًا باندې عطف کړو، دا به د عطف الشئ علی نفسه د قبيل نه وئيلې شي اودا درست نه دې. په وخص القمر..الخ سره ددې اعتراض جواب دې د عربو په نزد چونکه د قمر يو اهميت اوفضيلت په دې وجه دې چه دهغوی په نزد د کال حساب په قمری مياشتو سره کيږی او ددې نه علاوه د بعضې عبادتونو دارومدار هم په قمری مياشتو باندې دې، په دې وجه د تخصيص بعد التعميم د قبيل نه ئې د قمر خاص طور باندې ذکرکړې دې لکه څنګه چې په حافظوا علی الصلوات والصلوٰة الوسطٰی کښې دی.

قوله: وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً: خِلفةً مصدر دې، د بيان نوع دپاره لکه چې جِلسَةً يعنی په خاص نوعيت سره يوبل پسې راتلل په داسې طريقه چه د يوبل قائم مقام شي. خلفةً نه خو د جَعَلَ مفعول ثانی کيدې شی که جَعَلَ په معنی د صَيَّرَ واخستلې شی. اونه د جَعَلَ دمفعول نه حال واقع کيدې شی که جَعَلَ په معنی د خَلَقَ واخستلې شی، حالانکه د خِلفة مفعول يا حال کيدل ضروری دی ګنی نو معنی به درست نه وی لهذا د خلفة نه مخکې به مضاف محذوف منل ضروری وی ای ذوخلفة په دې صورت کښې به مصدر په معنی د اسم فاعل شی، خِلفة به په معنی د خليفة سره شی نو معنی به صحيح شی، يو جواب دا هم ورکړې شوې دې چې په قاموس کښې دی چه خلفة په معنی د مختلفة دې په دې صورت کښې به د مضاف محذوف منلوضرورت نه وی او معنی به ئې داشی چې جعلهما مختلفين. اوس پاتې شو دا سوال چې خلفة هرکله د مختلفين تثنيه په معنی کښې دې نو خلفة واحد ولې راوړلې شوې دې؟ نو ددې جواب به دا وی چه خلفة چونکه د مصدر هم وزن دې اوپه مصدر کښې واحد تثنيه جمع ټول برابر وی په دې وجه خلفة واحد راوړلې شوې دې، هم دې جواب طرف ته مفسر علام په يخلف كل منهما الآخر سره اشاره کړې ده.

قوله: مَا فَاتَهُ: د يَذَّكَّرَ مفعول محذوف دې کوم چه مفسر ؒ ظاهر کړې دې.

قوله: أَوْ أَرَادَ شُكُورًا: په دې کښې أو د تقسيم او د تنويع دپاره دې د تخيير دپاره نه دې يعنی مانعة الخلو مراد دې چې په دې کښې دواړه جمع کيدې هم شی. شکوراً مصدر دې په

معنی شکرًا.

قوله: وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ: دا جمله مستانفه ده دمخلص او دیندار بندګانو اوصاف بیانولو دپاره راوړلې شوې ده. عباد الرحمن مبتدأ موصوف دې او موصولات ثمانیه چه په هغې کښې رومبې الذین یمشون دې او آخری والذین یقولون دې، دا ټول موصولات دخپلو صلو سره د مبتدأ موصوف دپاره صفت دې، او اولئك یجزون ..الخ د مبتدأ خبردې، د مبتدأ اوخبر په مینځ کښې درې آیتونه جملې معترضه دی. ومن یفعل ذلك یلق اثامًا نه مقامًا پورې هونًا، داد هَانَ مصدر دې نرمی کول، په سکون او وقار سره تلل.

قوله: سُجَّدًا: د یبیتون د ضمیر نه حال دې اود لربهم سجدًا متعلق دې، سُجدًا په قیامًا باندې د فواصل د رعایت په وجه مقدم کړې شوې دې.

قوله: وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا (الآية): یعنی خالق او مخلوق سره د ښه معامله کولو باوجود دالله تعالی د عذاب نه ویریږی، په خپلو اعمالو باندې اعتماد او بهروسه کولو سره بې ویرې نه اوسیږی او داسې دعا کوی چې ربنا اصرف عنا. (الآية)

قوله: إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا: او ساءت مستقرًا ومقامًا دا دواړه د ربنا اصرف عنا. (الآية) علت دی

قوله: سَاءَتْ: بئست، د ساءت تفسیر په بئست سره د کولو مقصد دې خبرې طرف ته اشاره ده چه ساءت د افعال ذم نه دې، د دې فاعل په دې کښې ضمیر مستتر مبهم دې او مستقرًا د دې تمیز دې چې دا د ضمیر مبهم تفسیر کوی او مخصوص بالذم محذوف دې اوهغه هی دې کوم چې شارح ظاهر کړې دې، بعضې حضراتو ساءت په معنی د أحزنت اخستې دې. دغه وخت به دا د افعال متصرفه نه وی اومفعول ته به نصب ورکوی کوم چې دلته محذوف دې اوهغه أصحابها یا داخلیها دې او تقدیر د عبارت به داسې وی چې إنها (ای جهنم) أحزنت أصحابها وداخلیها،، او مستقرًا تمیز یا حال واقع کیدې شی، اول قول ته ترجیح ورکولو دپاره مفسّر علام د ساءت تفسیر په بئست سره اوکړو چې اشاره اوشی چه ساءت د أحزنت په معنی نه دې، د مفسّر علام په نزد مستقر او مقام دواړه یو څیز دې، بعضې مفسّرینو په دواړو کښې فرق کړې دې، مستقر د عصاة المؤمنین دپاره دې یعنی دائمی نه دې او مقامًا دکافرانو دپاره دې چې دائمی دې.

قوله: یَقْتُرُوا: د یا په فتحې او په کسرې د تا سره ای یقتِروا او په ضمې د یا اوپه کسرې د تاء سره ای یُقتِروا او په فتحې د یا اوپه ضمې د تا سره د کوفیینو په نزد ای یَقتُروا یقال قتّر علی عیاله ای ضیّق علیهم فی النفقة. (بابه ضرب ونصر)

قوله: وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا الخ: د اطاعت د بیان نه پس ئې اجتناب عن المعصیة بیان

اوفرمائیلو يُضْعَفْ اويَخْلُد دواړه د يَلْقَ فعل نه بدل اشتمال واقع کیدو په وجه مجزوم دی، او د جمله مستانفه کیدو په وجه دې لره مرفوع هم وئیلې شوې دې.

قوله: اِلَّامَنْ تَابَ: د يَلْقَ دضمير مستتر نه مستثنى متصل د اى اِلامن تاب فلا يَلْقَ اَثَامًا، بعضې حضراتو مستثنى متصل هم ګرځولې دې، خوابوحيان وئيلى دى چه مستثنى متصل صحيح نه د، ځکه چه په مستثنى منه باندې مضاعف حکم لګولې شوې دې نو په دې صورت کښې به تقدير داسې وى: اِلَّامَن تَابَ وآمَنَ وعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فلَا يُضاعف لهُ العذابُ، او د عذاب مضاعف د انتفاء نه د عذاب غيرمضاعف انتفاء نه لازميږى لهذا مستثنى منقطع اولى د او اِلَّا په معنى د لكن د. (فتح القدير)

قوله: مُتَابًا: د يَخْلُد ضمير نه حال دې بعضې حضراتو د وَمَن تَابَ وآمَنَ وعَمِلَ صَالِحًا فإنه يتوب إلى الله متابًا، د شرط او د جزاء د اتحاد شبه کړې د کوم چه جائزنه دې ځکه چې مَن تَابَ فإنه يتوب نه شى وئيلې کيدې؟ بعضې حضراتو ددې دا جواب ورکړې دې چه د شرط نه ذاتى توبه مراد د او جزاء د عمل سره مؤکد توبه مراد د، په دې وجه ئې جزاء په مصدر متابًا سره مؤکد کړې د او د آيت معنى ئې دا ښودلې د چې من أراد التوبة وعزم عليها فليتب إلى الله خبر په معنى د امر دې. (فتح القدير، شوکانى)

قوله: غيرمن ذُكِرَ: سره اشاره د چه عطف د مغايرت دپاره ذې يعنى په ړومبي آيت کښې د من تاب نه مراد کافردې اوپه دويم ايت کښې مؤمن دې، او بعضې حضراتو د تخصيص بعد التميم د قبيل نه ګرځولې دې.

قوله: لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ: که لا يشهدون د لا يحضرون په معنى کښې وى لکه څنګه چې مفسّر علام په دې معنى اخستې دې نو زُورَ به مفعول به وى اوکه يَشْهَدُون د شهادت په معنى وى نو زُورَ به بنزع الخافض منصوب وى، اى لايشهدون بالزُّور.

قوله: قُرَّةَ اَعْيُنٍ: قرة العين سُرورُها، د قرةُ العين نه مراد د اهل وعيال نيکى او فرمانبردارى ليدلو سره د خوشحالئ اومسرت حاصليدل دى، هم دې لره ئې د سترګو يخوالى سره تعبير کړې دې.

قوله: وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ اِمَامًا: امام مفرد اوجمع تولو دپاره وئيلې شى په دې وجه د اِجْعَلْنَا جمع متكلم ضمير دپاره اِمَامًا مفرد راوړل صحيح دى.

قوله: اُولٰئِكَ يُجْزَوْنَ: د اُولٰئِكَ سره هغه عباد الرحمٰن طرف ته اشاره د کوم چه د موصولات ثمانيه لاندې راتلونکو صفاتو باندې متصف وى، الغرفة اسم جنس دې ددې نه مراد غرفات دى

قوله: أُولَئِكَ يُجْزَوْنَ: او ددې مابعد د عباد الرحمٰن مبتدأ خبر دې.

قوله: لَوْلَا دُعَاؤُكُم: د لولا جواب محذوف دې او ماقبل د لولا په محذوف جواب باندې دلالت کوی أی لولا دعاؤكم ما يعبؤبكم.

[۲۶] سورة الشعراء

سورة الشعراء مكية الا والشعراء، الى آخرها فمدني وهي مائتان وسبع وعشرون آية.

سورة شعراء مکی دې خو د الشعراء نه آخره پورې مدنی دې،

او دا دوه سوه اوويشت آياتونه دی.

[اياتونه: ۱-۹]

بسم الله الرحمن الرحيم (طسم) الله أعلم بمراد بذلك (تِلْكَ) اي هٰذه الآيات (آيَاتُ الْكِتَابِ) القرآن وَالإضافة بمعنى مِن (الْمُبِينِ) المُظهر الحقَّ مِن البَاطِل (لَعَلَّكَ) يا محمد (بَاخِعٌ نَفْسَكَ) قاتلها غمًّا من أجل (أَلَّا يَكُونُوا) اي أهل مكة (مُؤْمِنِينَ) وَلَعَلَّ هُنَا لِلإشفَاقِ اي اشفِق عَلَيْهَا بتخفيف هذا الغم (إِنْ نَشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ مِنَ السَّمَاءِ آيَةً فَظَلَّتْ) بمَعنَى المُضَارِع أي تَظَلّ اي تدوم (أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِينَ) فيؤمنون وَلمّا وَصفتْ الأعناق بالخُضُوعِ الَّذِي هُوَ لأَربَابِهَا جُمِعَتْ الصِّفَة مِنْهُ جمع العقلاء (وَمَا يَأْتِيهِمْ مِنْ ذِكْرٍ) قرآن (مِنَ الرَّحْمَنِ مُحْدَثٍ) صفة كاشفة (إِلَّا كَانُوا عَنْهُ مُعْرِضِينَ) (فَقَدْ كَذَّبُوا) به (فَسَيَأْتِيهِمْ أَنْبَاءُ) عواقب (مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ) (أَوَلَمْ يَرَوْا) ينظُرُوا (إِلَى الْأَرْضِ كَمْ أَنْبَتْنَا فِيهَا) اي كثيرًا (مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ) نوع حسن (إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً) دَلالَة عَلَى كَمَال قُدرته تَعَالَى (وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ) في عِلم الله وكان قال سيبويه زائدة (وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ) ذُو العِزَّة ينتقم من الكافرين (الرَّحِيمُ) يرحم المؤمنين

ترجمه: شروع کوم د الله په نوم چې عام مهربان او ډير رحم کونکې دې. طسٓمٓ ددې په مراد الله ښه پوهيږی دا يعنی آياتونه د کتاب مبين يعنی د قرآن آياتونه دی چې حق لره د باطل نه جدا کونکی دی او په آيات الکتاب کښې اضافت په معنی د مِن دې شايد اې محمد تاسو خو ددې غم په وجه چې مکې والا ايمان نه راوړی خپل ځان مړ کړی او لعلّ دلته د اِشفاق په معنی دې يعنی په دې غم کښې تخفيف کولو سره په خپل ځان باندې رحم اوکړئ. که چرې مونږ غوښتلې نو په دوی باندې به مو د اسمان نه څه داسې نښه راليږلې وې چه دغې مخکې به ددوی ستونه ټيټ شی ظلّت په معنی د مضارع دې أی تدوم يعنی دوی ايمان راوړی خو د (وصف) خضوع نسبت اعناق طرف ته اوکړې شو چې دا (په حقيقت کښې) د ارباب اعناق وصف دې، نو وصف خضوع د ذوی العقول د جمع په طور راوړلې شو او هغوی ته د رحمٰن د طرف نه څه داسې تازه نصيحت رانغلو چې دغې نه دوی مخ نه اړوی، مُحدث د ذکر صفت کاشفه دې نو دغې خلقو دا نصيحت دروغ اوګڼړلو نو ډير زر به هغوی ته ددې خبرې انجام راشی په کوم پورې

چې به دوی توقې کولې آیا دا خلق زمکې ته نه ګوری چه مونږ په دې کښې څومره په کثرت سره هر قسمه ښه ګلونه بوټی راټوکولی دی؟ بې شکه په دې کښې د الله تعالی د قدرت د کمال نښې دی او په دوی کښې اکثر خلق مؤمنان نه دی د الله تعالی په علم کښې او سیبویه وئیلی دی چې کان زائد دې بې شکه ستا رب غالب دې یعنی داسې غلبې والا دې چې د کافرانو نه به انتقام واخلی رحیم دې یعنی مومنانو باندې رحم کونکې دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: طٰسٓمٓ: د عبدالله بن مسعود ﷺ په قرات کښې ط، س، م، جدا جدا دی.

قوله: بَاخِعٌ: اسم فاعل (ف) دغم یا د غصې په وجه خپل ځان په هلاکت کښې اچوونکې، بَخعًا: حرام مغز پورې کټ کول، بَخَعٌ: حرام مغز، لَعَلَّكَ کښې لَعَلَّ حرف ترجّی دې خو چونکه دلته نه د ترجی معنی اخستل درست دی او نه مراد، لهذا لَعَلَّ ئې د اشفاق په معنې کښې واخستلو چې ددې معنی ویره د، او الله تعالی چونکه د ویرې نه پاک دې په دې وجه د مخاطب ویره مراد د، ترجی د امر یعنی لَشفِق أی ارحم په معنی دې ځکه چه دلته د ویرې هیڅ خبره نشته، إشفاق (افعال) چې کله متعدی شی په مِن سره نود ویرې په معنی وی او کله چې متعدی شی په علٰی سره نو ددې معنی رحمت او شفقت وی.

قوله: نُنَزِّلْ: إن حرف شرط دې او نشأ فعل شرط دې او نُنَزِّل جواب شرط دې.

قوله: فَظَلَّتْ: د فا په ذریعه په جواب شرط ننزّل باندې د عطف په وجه مجزوم دې، حالانکه په ذریعه د فا د ماضی (یعنی د ظلّت) ترتب په مضارع یعنی په ننزّل باندې درست نه دې په دې وجه ماضی د مضارع په تاویل کښې کړې شو چې عطف صحیح شی.

قوله: وَلَمَّا وَصَفَتْ الْأَعْنَاقَ الخ: د یو سوال مقدر جواب دې، سوال دادې چې أعناق د غیر ذوی العقول جمع د چې د واحد مؤنث په حکم کښې دې لهذا ددې صفت خاضعة راتلل پکاردی خاضعین راتلل نه دی پکار کوم چې دجمع مذکر صفت دې؟ د جواب خلاصه داد چې خضوع د ذوی العقول صفت دې کله چې ددې نسبت غیر ذوی العقول طرف ته اوکړې شو نو غیر ذوی العقول ته د ذوی العقول درجه ورکولو سره ددې صفت د جمع مذکر صیغه یعنی واؤ نون سره راوړل درست شو لکه د الله تعالی قول رأیتهم لی ساجدین، یو جواب ئې داهم ورکړې دې چې ظلت أعناقُهم په معنی د ظلت أصحابُ أعناقهم دې یعنی مضاف محذوف دې بیا مضاف لره حذف کولو سره ئې خبر ددې قائم مقام کړو.

قوله: مِن ذکرٍ: کښې مِنْ زائد دې او په مِن الرحمٰن کښې مِنْ ابتدائیه دې.

قوله: محدثٍ: دا د ذکر صفت کاشفه دې ځکه چې ما یأتیهم من ذکر نه چې کومه معنی حدثی

بوهه کښې راځي هم دغې معنی ته محدث سره تاکيد کړې دې
قوله إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً: لَآيَةً د إِنَّ اسم مؤخر دې اوپه دې کښې لام زائد دې، دا آيت په دې سورت کښې اته (۸) ځله ذکرشوې دې
قوله وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ: ددې تفسير په في علم الله سره کولو کښې ئې د يوې شبهې جواب ورکړې دې، شبه داد چې د آيت مقصد د کافرانو په آئند کښې د ايمان نه راوړلو خبرورکول دی، نو كان ماضی سره تعبير کول څنګه صحيح کيږی؟ ددې يو جواب ئې في علم الله سره ورکړې دې چه د الله تعالى په علم ازلی کښې دا خبره ثابته شوې د چه دوی به ايمان نه راوړی هم دا ئې ماضی سره تعبير کړې دې دا جواب كان لره اصلی منلو سره دې، دويم جواب ئې قال سيبويه سره ورکړې دې ددې مطلب دادې چې كان زائد دې لهذا اوس د آيت مطلب داشو چه دوی ايمان راوړونکی نه دی.
تنبيه وكان قال سيبويه زائدة: کښې إيهام دې صحيح تعبير داسې پکار دی قال سيبويه كان زائدة.

[اياتونه: ۱۰ - ۳۲]

(و) اذكر يا محمد لقومك (إِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰ) لَيْلَةَ رَأَى النَّارَ وَالشَّجَرَةَ (أَنِ) أَيْ بِأَنْ (ائْتِ الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ) رسولا (قَوْمَ فِرْعَوْنَ) مَعَهُ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ بِالْكُفْرِ بِاللَّهِ وَبَنِي إِسْرَائِيلَ بِاسْتِعْبَادِهِمْ (أَلَا) الْهَمْزَةُ لِلِاسْتِفْهَامِ الْإِنْكَارِيِّ (يتقون) الله بطاعته فيوحدونه (قَالَ) موسى (رب إني أخاف أن يكذبون) (وَيَضِيقُ صَدْرِي) مِنْ تَكْذِيبِهِمْ لِي (وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِي) بِأَدَاءِ الرِّسَالَةِ لِلْعُقْدَةِ الَّتِي فِيهِ (فَأَرْسِلْ إِلَىٰ) أَخِي (هَارُونَ) معي (وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْبٌ) بِقَتْلِ الْقِبْطِيِّ مِنْهُمْ (فَأَخَافُ أن يقتلون) به (قَالَ) تَعَالَى (كَلَّا) لَا يَقْتُلُونَكَ (فَاذْهَبَا) أَيْ أَنْتَ وَأَخُوكَ فَفِيهِ تَغْلِيبُ الْحَاضِرِ عَلَى الْغَائِبِ (بِآيَاتِنَا إِنَّا مَعَكُمْ مُسْتَمِعُونَ) مَا تَقُولُونَ وَمَا يُقَالُ لَكُمْ أُجْرِيَا مَجْرَى الْجَمَاعَةِ (فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَا إِنَّا) كُلًّا مِنَّا (رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ) إِلَيْكَ (أَنْ) أَيْ بِأَنْ (أَرْسِلْ مَعَنَا) إِلَى الشَّامِ (بَنِي إِسْرَائِيلَ) فَأَتَيَاهُ فَقَالَا لَهُ مَا ذُكِرَ (قَالَ) فِرْعَوْنُ لِمُوسَى (أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا) فِي مَنَازِلِنَا (وَلِيدًا) صَغِيرًا قَرِيبًا مِنَ الْوِلَادَةِ بَعْدَ فِطَامِهِ (وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ) ثَلَاثِينَ سَنَةً يَلْبَسُ مِنْ مَلَابِسِ فِرْعَوْنَ وَيَرْكَبُ مِنْ مَرَاكِبِهِ وَكَانَ يُسَمَّى ابْنَهُ (وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ) هِيَ قَتْلُهُ الْقِبْطِيَّ (وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ) الْجَاحِدِينَ لِنِعْمَتِي عَلَيْكَ بِالتَّرْبِيَةِ وعدم الاستعباد (قَالَ) مُوسَى (فَعَلْتُهَا إِذًا) أَيْ حِينَئِذٍ (وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ) عَمَّا آتَانِي اللَّهُ بَعْدَهَا مِنَ العلم والرسالة (فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا) علما (وجعلني من المرسلين) (وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ) أَصْلُهُ تَمُنُّ بِهَا عَلَيَّ (أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ) بَيَانٌ لِتِلْكَ أَيْ اتَّخَذْتَهُمْ عَبِيدًا وَلَمْ تَسْتَعْبِدْنِي لَا نِعْمَةَ لَكَ بِذَلِكَ لِظُلْمِكَ بِاسْتِعْبَادِهِمْ وَقَدَّرَ بَعْضُهُمْ أَوَّلَ الْكَلَامِ هَمْزَةَ اسْتِفْهَامٍ لِلْإِنْكَارِ (قَالَ فِرْعَوْنُ) لِمُوسَى (وَمَا رَبُّ الْعَالَمِينَ) الَّذِي قُلْتَ إِنَّكَ رَسُولُهُ أَيْ أَيُّ شَيْءٍ هُوَ وَلَمَّا لَمْ

يَكُن سَبِيل لِلْخَلْقِ إِلَى مَعْرِفَة حَقِيقَته تَعَالَى وَإِنَّمَا يَعْرِفُونَهُ بِصِفَاتِهِ أَجَابَهُ مُوسَى عَلَيْهِ الصَّلاة وَالسَّلَام بِبَعْضِهَا (قَالَ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا) أَيْ خَالِق ذَلِكَ (إِنْ كُنْتُمْ مُوقِنِينَ) بِأَنَّهُ تَعَالَى خَالِقه فَآمِنُوا بِهِ وَحْده (قَالَ) فِرْعَوْن (لِمَنْ حَوْلَهُ) مِنْ أَشْرَاف قَوْمه (أَلَا تَسْتَمِعُونَ) جَوَابه الَّذِي لَمْ يُطَابِق السُّؤَال (قَالَ) مُوسَى (رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ) وَهَذَا وَإِنْ كَانَ دَاخِلًا فِيمَا قَبْله يَغِيظ فِرْعَوْن وَلِذَلِكَ (قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِي أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ) (قَالَ) مُوسَى (رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ) أَنَّهُ كَذَلِكَ فَآمِنُوا بِهِ وَحْده (قَالَ) فِرْعَوْن لِمُوسَى (لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِينَ) كَانَ سِجْنه شَدِيدًا يَحْبِس الشَّخْص فِي مَكَان تَحْت الْأَرْض وَحْده لَا يُبْصِر وَلَا يَسْمَع فِيهِ أَحَدًا (قَالَ) لَهُ مُوسَى (أَوَلَوْ) أَيْ أَتَفْعَلُ ذَلِكَ وَلَوْ (جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُبِينٍ) بُرْهَان بَيِّن عَلَى رِسَالَتِي (قَالَ) فِرْعَوْن لَهُ (فَأْتِ بِهِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ) فِيهِ (فَأَلْقَى عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُبِينٌ) حَيَّة عَظِيمَة (وَنَزَعَ يَدَهُ) أَخْرَجَهَا مِنْ جَيْبه (فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ) ذَات شُعَاع (لِلنَّاظِرِينَ) خِلَاف مَا كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ الْأُدْمَة

ترجمه: او اې محمد ﷺ خپل قوم ته دغه وخت واقعه وریاد کړه چې کله ستا رب موسیٰ علیه السلام ته حکم اوکړو په هغه شپه کله چې موسیٰ علیه السلام اور او اُونه اولیدله چې ته ظالم قوم ته رسول جوړشوې لاړشه د فرعون قوم ته سره د فرعون هغوی الله تعالی سره کفر کړلو او بنی اسرائیل لره غلامان جوړولو سره په خپلو ځانونو ظلم کړې دې په آلا یتَّقون کښې همزه د استفهام انکاری دپاره د آیا هغوی د الله نه یریږی، چه دغه اطاعت اختیارولو سره دغه د توحید منونکی شی نو موسیٰ علیه السلام عرض اوکړواې زما پروردګاره زه یریږم چه دا خلق به زما تکذیب اوکړی او هغوی چې زما تکذیب اوکړی نوپه دې سره به زما زړه تنګ شی او د رسالت اداکولو دپاره زما ژبه دغه تتوالی په وجه نه چلیږی کوم چې په دې کښې دې لهذا ما سره سره زما رور هارون ته هم جبرائیل علیه السلام اولیږه او زما په ذمه دغې خلقو یو جرم هم دې دغوی نه زما د یو قبطی قتلولو په وجه لهذا زه یریږم چې ددې په بدله کښې به ما قتل کړی ارشاد اوشو هیڅ کله نه یعنی هغوی تا نه شی قتلولې نو تاسو دواړه زما آیتونه واخلئ لاړ شئ یعنی ته او ستا رور، په دې کښې غائب باندې حاضر ته غلبه د مونږ تاسو سره یو اوځه چه تاسو وایئ او څه چې به هغوی تاسو ته وائی مونږ هغې لره آورو دوه ئې د جماعت قائم مقام کړی دی نو اوس دواړه فرعون ته لاړ شئ او هغه ته اووایئ چې مونږ دواړه یعنی مونږ کښې هر یو د پروردګار عالم نه ستا په طرف رسول دې چې ته بنی اسرائیل مونږ سره شام په طرف اولیږه نو دوی دواړه حضرات فرعون ته راغلل او څه چې مخکښې ذکر شو هغه ته ئې اووئیل فرعون موسیٰ علیه السلام ته اووئیل مونږ ستا په ماشوموالی کښې په خپلو کورونو کښې پرورش نه وو کړې؟ یعنی په ماشوموالی کښې پیدائش ته نزدې د پیو پریښودلو نه روستو او ته د خپل عمر ډیر کلونه مونږ سره پاتې شوې ئې یعنی دیرش کاله (په دې موده کښې) به ئې د

فرعون کیږي اغوستلې، او هم دد په سورلو باندې به سوریدلو او دې (موسیٰ ﷺ) ته به ابن فرعون ونیلې کیدلو اوتا خپل هغه حرکت هم کړې ووکوم چې تا کړې وو اوهغه د قبطي قتلول وو او ته ډیر د ناشکرونه ئې یعنې په خپل خان باندې زما د تربیت او د غلام نه جوړولو انعام (احسان) ناشکری کونکو نه ئې موسیٰ ﷺ جواب ورکړو کوم وخت چې ما دا حرکت کړې وو زه هغه وخت (یعنې تاسره د قیام په وخت کښې) ددې څیز نه ناخبره ووم بیا روسته الله تعالی ماته (ددې علم) رانصیب کړو یعنې علم او رسالت (ئې راکړو) کله چې ماته ستا نه ویره شوه نو ستا دخوانه اوتختیدم، بیا ماته زما رب حکم یعنې علم راکړو او زه ئې په پیغمبرانو کښې شامل کړوم دا هغه نعمت دې چې ددې ته په ما باندې احسان زیاتنه کوې د (تمنها) اصل تمنّ بِها وو چې تا بنی اسرائیل غلامان جوړ کړی دی دا د تلك النعمة بیان دې یعنې تا بنی اسرائیل غلامان جوړ کړی دی او زه دې آزاد پرېښودې یم دا ستا هیڅ احسان نه دې ددې ظلم په وجه چې دوی تا غلامان جوړ کړی دی او بعضې حضراتو د کلام په شروع کښې همزه د استفهام انکاری مقدر منلې د فرعون د موسیٰ ﷺ نه تپوس اوکړو چې رب العالمین څه څیز دې؟ دکوم باره کښې چې ته وائې چې زه دغه رسول یم، یعنې دغه څه حقیقت دې؟ هرکله چه مخلوق دپاره د باری تعالی دحقیقت د پیژندلو هیڅ صورت نه وو، هغه لره خو صرف دغه د صفاتو په ذریعه سره پیژندلې کیدې شی، نو موسیٰ ﷺ د باری تعالی بعضې صفات بیان کړل او جواب ورکولو سره ئې اوفرمائیل هغه د اسمانونو او زمکې او ددې په مینځ کښې دټولو څیزونو رب یعنې خالق دې که تاسو ته یقین وی چې الله تعالی ددې (کائنات) خالق دې نو په دغه وحد (لاشریک) باندې ایمان راوړئ، نو فرعون خپل ګیر چاپیره خلقو یعنې دخپل قوم سردارانو ته ئې اووئیل آیا تاسو دد دا جواب چې دسوال مطابق نه دې نه آورئ؟ حضرت موسیٰ ﷺ اوفرمائیل چې هغه ستاسو او ستاسو د مخکینو پلار نیکه رب دې دا تعریف اګرچه په ما قبل (تعریف) کښې داخل دې (خودا تعریف) فرعون ته غصه راوستونکې دې اوهم په دې وجه (فرعون) په (غصه کښې) اووئیل بې شکه ستاسو رسول کوم چې تاسو ته رالیږلې شوې دې یقینًا پاګل دې موسیٰ ﷺ اوفرمائیل دمشرق او مغرب اوکوم څه چې ددې په مینځ کښې دې دغې (هم) رب دې که ستاسو په اسبابو باندې یقین وی چه هغه همدغسې دې نو په هغه وحدلاشریک باندې ایمان راوړئ، فرعون موسیٰ ﷺ ته اووئیل که ته زما نه علاوه بل معبود جوړ کړې نو څه تا به یقینًا په سولئ کړم، دغه جیل خانه ډیره سخته وه هغه به انسان په تاخانه کښې یواځې قید کولو چې نه چالره اووینی اونه دچا (خبره) واورې، موسیٰ ﷺ فرعون ته اووئیل که زه یو صریح دلیل پیش کړم نو بیا به هم ته دغسې کوې یعنې که په خپل رسالت باندې یو واضحه دلیل پیش کړم (بیا به هم)؟ فرعون موسیٰ ﷺ ته اووئیل که ته د رسالت په دعوی کښې رشتونې ئې نو دلیل پیش کړه نو

هم دغه وخت (موسیٰ علیه السلام) خپله همسا او غورځوله نو هغه ناڅاپه واضحه اژدا جوړه شوه او خپل لاس ئې راویستلو یعنی لاس ئې دخپل ګریوان نه راویستلو نو هغه هم دغه وخت کتونکو ته سپین ځلیدونکې په نظر راتلو یعنی دمخکینی غنم رنګې نه خلاف په نظر راتلو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: أَنْ أي بِأَنْ: په دې تفسیر کنبې دې طرف ته اشاره د چه أن مصدریه دې او ددې نه مخکنبې با حرف جر مقدّر دې اوبعضې حضراتو أن ته تفسیریه هم وئیلی دی ځکه چه نادیٰ د قَال په معنی کنبې دې.

قوله: رَسُولاً: دا د ائتِ د ضمیرنه حال دې په قوم د فرعون کنبې فرعون په طریق اولی شامل دې، او قوم فرعون ته ورلیږل فرعون ته په طریق اولی لیږل دی ځکه چه اصل د سرکشئ اود فساد جرړه خو فرعون وو.

قوله: وبني إسرائيل: ددې عطف په أنفسهم باندې دې، د استعباد مطلب دې دغلامانو په شان معامله کول یعنی دغوی نه د ذلت سخت کارونه اخستل، په حقیقت کنبې غلام جوړول نه دی.

قوله: أَلَا الهمزة للاستفهام الإنكاري، صحیح دا د چې همزه د تعجب دپاره د د انکار دپاره نه د ،لکه څنګه چه مفسّرعلام صراحت کړې دې ځکه چه لاتتّقون د حرف نفی په وجه منفی دې اوکله چه په دې باندې همزه انکاری داخله شی نو نفی النفی إثباتٌ قاعدې سره به اثبات شی او دا فاسد د، ځکه چه په دې صورت کنبې به معنی دا شی چې: اې موسیٰ ته د فرعون قوم ته لاړشه ځکه چه هغه د الله تعالی نه ویریږی،، اودامعنی سراسر د واقعې خلاف ده.

قوله: قَالَ موسیٰ إِنِّي أَخَافُ (الآية): موسیٰ علیه السلام د الله تعالی دحکم په جواب کنبې درې عذرونه پیش کړل ① ماته د تکذیب ویره د ② تکذیب سره به زما زړه کنبې تنګی راشی ③ زما په ژبه کنبې روانګی نشته. دا درې واړه عذرونه ئې د حکم منلو نه د منع کیدو دپاره نه دی فرمائیلی بلکه د رسالت د دروند بوج نه د عاجزئ اظهار او د حقیقت بیان او د مدد د طلب په طور وو.

قوله: وَيَضِيقُ صَدْرِي: دا خو یا د جمله مستانفه کیدو په وجه مرفوع دې یعنی ددې ماقبل سره تعلق نشته دې بلکه د الله تعالی په مخکنبې دخپل حالت بیان دې، یا په إِنِّي أَخَافُ کنبې د إِنّ خبر أَخَافُ باندې دعطف کیدو په وجه مرفوع دې.

قوله: أَجْرِيَا مَجْرَى الجَمَاعَة: دا ددې سوال جواب دې چه حضرت موسیٰ اوهارون دوؤ

وودي دپاره د تثنيه صيغه راوړل پکاروو اي إِنَّا معكما حالانكه معكم د جمعې صيغه راوړلې شوې د؟ جواب دادې چه تثنيه تعظيمًا د جماعت قائم مقام کړې شوې دې.

قوله: اي كلامنا: دې عبارت سره هم د يو سوال جواب مقصود دې. سوال دادې چه د إِنَّا په اسم اوخبر کښې مطابقت نشته ځکه چه رسول خبردې او دا مفرد دې او مخبرعنه د إِنَّا ضمير دې اودا جمع د؟ د جواب خلاصه داد چې إِنَّا د كلامنا په معنى دې چې دمفرد په حکم کښې دې لهذا د إِنّ په اسم اوخبر کښې مطابقت موجود دې.

قوله: فأتياه: ددې عبارت د مقدر منلو مقصد دا ښودل دی چې د قَالَ فرعون ترتب په نعل محذوف باندې دې.

قوله: قريبًا مِنَ الْوِلَادَةِ بَعْدَ فِطَامه: ددې عبارت د اضافې مقصد هم د يوسوال جواب دې، سوال دادې چې وَلِيدًا نومولود (نوی پيدا شوی) ماشوم ته وائی، حضرت موسٰی عليه السلام دخپل پئ رودلو (ماشوموالی) په زمانه کښې خو دخپلې مور سره وو، نوبيا د فرعون د تربيت څه مطلب دې؟ د جواب خلاصه داد چه د ماشوم د پيو پرېښودلو نه فوراً پس زمانه مراد د، خو زياته غوره داد چه آيت په خپل ظاهر باندې پرېخودلې شی د تاويل کولو ضرورت نشته، ځکه چه حضرت موسٰی عليه السلام د پيو رودلو په زمانه کښې اګرچه خپلې مور سره وو خو نګرانی او نفقه د فرعون وه، لهذا د فرعون نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا اوئيل صحيح دی.

قوله: مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ: مِنْ تبعيضيه دې مِنْ عُمُرِكَ د سِنِينَ صفت دې چې د مقدم کيدو په وجه حال کيدو سره محلا منصوب دې، ځکه چه د نکره صفت چې کله مقدم کړې شی نودا حال جوړيږی.

قوله: فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ: يعنی کله چې ماته ستا د طرفه د تکليف رارسولو ويره پيدا شوه نو زه اوتختيدم، او حضرت موسٰی عليه السلام ته د تکليف رسولو علم هغه وخت اوشو چې کله هغوی ته دا اوونيلې شو إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ (سورة قصص آيت ۲۰) په مِنكُم کښې ضمير دجمعې راوړلو وجه ددې نه معلوميږی ګنی نو د فَفَرَرْتُ مِنكَ موقع وه ځکه چې خبرې د فرعون سره شروع دی دټولو سره نه.

قوله: تِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ (الآية): د تلك مشارٌ اليه تربيت دې کوم چه د أَلَمْ نُرَبِّكَ نه مفهوم دې، تِلْكَ مبتدأ موصوف تَمُنُّهَا جمله صفت شو، موصوف سره د صفت نه خبر د مبتدأ شو، مبتدأ سره د خبرنه مُبَيَّن أَنْ عَبَّدتَّ عطف بيان، تَمُنُّهَا په اصل کښې تَمُنُّ بِهَا ووحرف جر حذف کولوسره ضمير دفعل سره متصل کړې شو، ګويا چې دا د حذف اواتصال دباب نه دې، مطلب دادې چې ستا مالره غلام نه جوړول په ما باندې څه احسان نه دې ځکه چه زما د قوم نور افراد تا غلامان جوړکړی دی اودا ظلم دې، لهذا ته زيات نه زيات دا

وئیلې شې چه ما تا لره غلام جوړلو سره په تا باندې ظلم نه دې کړې، اوظلم نه کول داخو د احسان خبره نه د، بلکه د ظلم نه په امن کښې اوسیدل خو د هر کس بنیادی حق دې اوبعضې حضراتو د وَتِلْكَ نه مخکښې همزه مقدر منلې د اواصل عبارت ئې داسې ښودلې دې، أَوَتِلْكَ آیا دې ته نعمت وئیلې شی دکوم چې ته په ما باندې احسان ضباتنه کوې چې زه دې آزاد پرېښودم او زما ټول قوم دې غلام جوړ کړې دې چې دغوی نه د ذلت نه ډک او سخت کارونه اخلې او د توهین نه ډک سلوک ورسره کوې؟

قوله: فَآمِنُوابِهِ: شارح دا عبارت مقدّر منلو سره اشاره کړې د چې د إِنْ كُنْتُمْ مُوقِنِينَ جزاء محذوف د قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعَالَمِينَ فرعون د رب العالمین باره کښې د مَاپه ذریعه سوال اوکړو کوم چه د شئ د حقیقت معلومولو دپاره راځی په دې وجه د أَيُّ په ذریعه سوال کول پکار وو کوم چه د صفاتو باره کښې د سوال کولو دپاره راځی خو فرعون د خپلې بې وقوفئ په وجه په مَاهُو سره سوال اوکړو، حضرت موسیٰ علیه السلام دغه په بې وقوفئ باندې د تنبیه کولو دپاره په جواب کښې صفات بیان کړل، په دې کښې دې طرف ته اشاره د چې تا لره د مَاپه ذریعه د رب العالمین د حقیقت سوال کولو په ځائې په أَيُّ شئ سره دغه د صفاتو باره کښې سوال کول پکار وو، ځکه چه د رب العالمین کُنهه اوحقیقت په دې دنیا کښې نه شی معلومیدلې.

قوله: وَمَا بَيْنَهُمَا: په دې کښې د هُمَاتثنیه نه سمٰوات او ارض مراد دی، حالانکه سمٰوات جمع د په دې وجه بَيْنَهُنَّ راوړل پکاروو؟ جواب دادې چې سمٰوات یو جنس دې اور ارض بل جنس دې لهذا د دواړو جنسونو دپاره د تثنیې صیغه راوړلې شوې د.

قوله: قَالَ فِرْعَوْنُ لِمَنْ حَوْلَهُ أَلَا تَسْتَمِعُونَ: فرعون په خپل دې قول سره دخپل قوم مشرانو ته دا تأثر ورکولو کوشش اوکړو چه د پیغمبرئ دعوه کونکی کښې خو په سوال د پوهیدلو صلاحت هم نشته لهذا دد د نبوت دعوی صحیح نه د، ما په مَاهُوسره د رب العالمین دحقیقت سوال اوکړو اودې په جواب کښې د حقیقت بیانولو په ځائې صفات بیانوی، خو موسیٰ علیه السلام د مَاهُو په جواب کښې صفات بیان کړل دې طرف ته ئې تعریض اوکړو چې کوم سړې د سوال په مطلب نه پوهیږی نودغه د ربوبیت په دعوی کښې څه صداقت کیدې شی؟

قوله: قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ: دا دویم جواب اګرچې په رومبي جواب رب السمٰوات والأرض وما بینهما کښې داخل دې خوفرعون ته د غصې راوستلو دپاره ئې دویم جواب ورکړو چه هغه صرف د اسمانونو او زمکې اود ما بینهما خالق نه دې بلکه ستا او ستا د پلار نیکه هم خالق دې نو فرعون غضبناک شو او وې وئیل: ان رسولكم الذي أرسل إليكم

لمجنون، مفسّرعلام هم دغه مطلب بیان کړي دي خوپه تفسیرکبیر کښې علامه فخرالدين رازی فرمائیلی دی چې د خالقیت سمٰوات والأرض په ذریعه د تعریف نه د عدول دا وجه وه چې کیدې شی چې فرعون دا ونیلې وې چې زمکه او اسمان واجب لذاته دی لهٰذا دا دخالق اومؤثر نه مستغنی دی، دا خبره د یو عاقل دپاره ممکنه نه د چه هغه دخان او دخپل پلار نیکونو باره کښې دا اووائی چې دا واجب لذاته دی ځکه چه مشاهد ددې خبرې ګواه د چې د عدم نه پس ددوی وجود شوې دې اوبیا به عدم شی اوپه کوم څیز باندې چې عدم راځی هغه حادث وی دغې دپاره د مؤثرکیدل ضروری دی، دویم تعریف د رومبی تعریف نه واضح دې.

قوله: رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ: موسٰی علیه السلام فوراً دریم تعریف طرف ته عدول اوکړو چې داد دویم نه هم واضح دې د مشرق نه دنمر راختل ا د مغرب نه دنمر پریوتل مراد دی، درې ورځې مشرق او مغرب مختلف وی اودا طلوع او غروب د کرورونو کلونو نه د وینسته قدرې د تبدیلئ یا خلل نه بغیر بنه پوره په اطمینان سره رابنکاره کیږی، دا د یو مؤثر نه بغیر ممکن نه دی اوهغه مؤثر ربّ العالمین دې.

قوله: اَلْأُدْمَةُ: غنم رنګې.

[ایاتونه: ۳۴ - ۵۱]

(قَالَ) فِرْعَوْن (لِلْمَلَإِ حَوْلَهُ إِنَّ هَٰذَا لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ) فَائِق فِي عِلْم السِّحْر (يريد أن يخرجكم من أرضكم بسحره فماذا تأمرون) (قَالُوا أَرْجِهْ وَأَخَاهُ) آخر أمرهما (وَابْعَثْ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ) جَامِعِينَ (يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ) يَفْضُل مُوسَى فِي عِلْم السِّحْر (فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيقَاتِ يَوْمٍ مَعْلُومٍ) وَهُوَ وَقْت الضُّحَى مِنْ يَوْم الزِّينَة (وقيل للناس هل أنتم مجتمعون) (لعلنا نتبع السحرة إن كانوا هم الغالبين) الِاسْتِفْهَام لِلْحَثّ عَلَى الِاجْتِمَاع وَالتَّرَجِّي عَلَى تَقْدِير غَلَبَتهمْ لِيَسْتَمِرُّوا عَلَى دِينهمْ فَلَا يَتَّبِعُوا مُوسَى (فلما جاء السحرة قالوا لفرعون أئن) بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَتَسْهِيل الثَّانِيَة وَإِدْخَال أَلِف بَيْنهمَا عَلَى الْوَجْهَيْنِ (لنا لأجرا إن كنا نحن الغالبين قال نعم وإنكم إذا) أي حِينَئِذٍ (لمن المقربين) (قَالَ لَهُمْ مُوسَى) بَعْد مَا قَالُوا لَهُ (إِمَّا أَنْ تُلْقِيَ وَإِمَّا أَنْ نَكُونَ نَحْنُ الْمُلْقِينَ) (أَلْقُوا مَا أَنْتُمْ مُلْقُونَ) فالأمر فيه للإذن بتقديم إلقائهم إلى إظهار الحق (فألقوا حبالهم وعصيهم وقالوا بعزة فرعون إنا لنحن الغالبون) (فَأَلْقَى مُوسَى عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ) بِحَذْفِ إِحْدَى التَّاءَيْنِ مِنْ الْأَصْل تَبْتَلِع (مَا يَأْفِكُونَ) يَقْلِبُونَهُ بِتَمْوِيهِهِمْ فَيُخَيِّلُونَ حِبَالهمْ وَعِصِيّهمْ أَنَّهَا حَيَّات تَسْعَى (فألقي السحرة ساجدين) (قالوا آمنا برب العالمين) (رَبِّ مُوسَى وَهَارُونَ) لِعِلْمِهِمْ بِأَنَّ مَا شَاهَدُوهُ مِنْ الْعَصَا لَا يَتَأَتَّى بِالسِّحْرِ (قَالَ) فِرْعَوْن (آمنتم) بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَإِبْدَال الثَّانِيَة أَلِفًا (لَهُ) لِمُوسَى (قَبْلَ أَنْ آذَنَ) أنا (لَكُمْ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ) فَعَلَّمَكُمْ شَيْئًا مِنْهُ وَغَلَبَكُمْ بِآخَر (فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ) مَا

بِتَالِكُمْ مِنِّي (لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ) أَيْ يَدَ كُلِّ وَاحِدٍ الْيُمْنَى وَرِجْلَهُ الْيُسْرَى (وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ) (قَالُوا لَا ضَيْرَ) لَا ضَرَرَ عَلَيْنَا فِي ذَٰلِكَ (إِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا) بَعْدَ مَوْتِنَا بِأَيِّ وَجْهٍ كَانَ (مُنقَلِبُونَ) رَاجِعُونَ فِي الْآخِرَةِ (إِنَّا نَطْمَعُ) نَرْجُو (أَن يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَايَانَا أَن) أَيْ بِأَنْ (كُنَّا أَوَّلَ الْمُؤْمِنِينَ) فِي زَمَانِنَا

ترجمه: فرعون خپلو گيرچاپيره موجود ناستو درباري سردارانو ته او وئيل داخو ډير پوهه جادوګر دې يعنې د جادو په علم کښې ډير اوچت دې دې دا خو غواړي چه د خپل جادو په ذريعه تاسو له ستاسو د زمکې نه اوباسي نو تاسو څه مشوره راکوئ؟ درباريانو ورته او وئيل تاسو دې او دد ورور ته (څه) مهلت ورکړئ يعنې د دوی معامله فی الحال مؤخر کړئ او په ښارونو کښې (د جادوګرانو) راجمع کونکی اوليږه چې هغوی تاسو ته هر علم لرونکې ماهر جادوګر راولي کوم چې په موسٰی علیه السلام باندې د جادو په علم کښې اوچت وی بيا د يو معين (معلوم) ورځې په مقرر وخت باندې جادوګران راجمع کړې شو اودا داختر په ورځ د ساختی وخت وو (يعنی: عاشورې د ورځې) او خلقو ته او وئيلې شو چې آيا تاسو به راجمع شئ؟ چې مونږ د جادوګرو اتباع اوکړو که چرته هغوی غالب شو، استفهام په اجتماع باندې د آماد کولو دپاره دې، او ترجی د جادوګرو د غلبې په صورت کښې دغوی په دين باندې د قائم پاتې کيدو دپاره د چې دموسٰی علیه السلام اتباع اونه کړی. نو کله چې جادوګر راغلل نو فرعون نه ئې او وئيل که چرته مونږ غالب راغلو نو آيا مونږ ته به څه لوئې انعام ملاويږی؟ أَئِنَّ کښې د دواړو همزو تحقيق او د دويمې تسهيل او په دواړو صورتونو کښې د دواړو همزو په مينځ کښې الف داخلولو سره، فرعون او وئيل ضرور، او تاسو به په دې صورت کښې په مقربينو کښې داخل شئ موسٰی علیه السلام روسته ددې نه چې جادوګرانو موسٰی علیه السلام ته او وئيل آيا ته به مخکښې وار کوې يا مونږ رومبې وار اوکړو هغوی ته او وئيل څه چې تاسو غورځوئ او غورځوئ دموسٰی علیه السلام د طرف نه (د إلقاء) حکم دغوی دمخکښې غورځولو اجازت دپاره دې چې اجازت د حق د اظهار ذريعه شی نو جادوګرانو خپلې رسئ او لرګی او غورځول او وې وئيل د فرعون د عزت قسم يقيناً هم مونږ به غالب راځو بيا موسٰی علیه السلام خپله همسا او غورځوله نو د غورځولو سره دې دغوی جوړکړی کرتب تيرول شروع کړل په تَلَقَّفُ کښې د اصل نه په دوؤ تاګانو کښې يو ه تاء حذف کړې شوې د او هغوی دغه څيزونه دخپلې نظربندئ په ذريعه بدلول او خلقو به دغوی رسئ او لرګی منډې وهونکی ماران محسوس کول په دې کتلو سره جادوګران بې اختياره په سجد کښې پريوتل (جادوګرو صفا) او وئيل چه مونږ په رب العالمين باندې ايمان راوړو (يعنی) دموسٰی او د هارون په رب باندې د دوی ددې خبرې نه دخبريدلو په وجه چې هغوی د همسا نه کومه مشاهده کړې وه دا دجادو په ذريعه نه شی کيدې، فرعون او وئيل آيا تاسو زما د اجازت نه بغير په د باندې يعنی به موسٰی باندې ايمان راوړو؟ په آمَنتُم کښې د دواړو

معزو تحقيق اودويم په الف سره بدلولو سره يقينًا هم دا ستاسو دټولو مشر دې چې د تاسو ته جادو ښودلې دې نو تاسو ته ئې دجادو څه حصه ښودلې د او د نورې په ذريعه (چه هغه ئې ستاسو نه پټ اوساتلو) په تاسو باندې غالب راغې، اوس به تاسو ته معلومه شي چې زما د طرفه تاسو ته څه پيښيږي زه به ستاسو د يو طرف لاس اود بل طرف خپه كټ كړم يعنې د هر يو ښې لاس او ګسه خپه او تاسو ټول به په سولۍ (پهانسۍ) راځوړند كړم ټولو جواب وركړو هيڅ باك نشته زمونږ په دې كښې هيڅ نقصان نشته مونږ خوبه د مرګ نه پس چې څنګه هم راله مرګ راشي خپل پروردګار ته به آخرت كښې اورسيږو مونږ اميد ساتو چې زمونږ پروردګار به زمونږ خطاګانې معاف كړي څكه چې مونږ په خپله زمانه كښې دټولو نه مخكښې ايمان راوړو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: الْمَلَأُ: اسم جنس دې د سردارانو جماعت (جمع) أَمْلَاءُ، أَرْجِهْ د إِرْجَاءُ نه امر واحد مذكرحاضر دې، هضمير مفعولي دې وخت وركړه، مهلت وركړه.

قوله: تَأْمُرُونَ: دا په اصل كښې تَأْمُرُونَنِيْ وو.

قوله: وَإِدْخَالُ أَلِفٍ بَيْنَهُمَا عَلَى الوجهين: دلته مناسب وو چه وَعَلَى تَرْكِ الْإِدْخَالِ عَلَى الْوَجْهَيْنِ ئې هم فرمائيلې وې چې څلور قراءتونه شوي وې.

قوله: فَالْأَمْرُ فِيهِ..الخ: دا ددې اعتراض جواب دې چې موسٰى عليه السلام (أَلْقُوامَا أَنْتُمْ مُلْقُونَ) وئيلو سره دجادو يعنې د يو ناروا او كفريه عمل حكم اوفرمائيلو څكه چه جادو كفر او ناروا عمل دې او نبي دپاره دا بالكل مناسب نه دى چې چاته د كفريه عمل كولو حكم وركړي؟ د جواب خلاصه داد چه دا حكم نه وو بلكه د امر په صورت كښې اجازت وو څكه چه جادوګرو وئيلي وو چې اول ته وار اوكړه يا مونږ ته اجازت راكړه چې مونږ وار اوكړو موسٰى عليه السلام هغوى ته د اول وار كولو (أَلْقُوامَا أَنْتُمْ مُلْقُونَ) وئيلوسره اجازت وركړو، لهذا د اعتراض هيڅ خبره نشته، خوپه دې جواب باندې دا اعتراض كيدې شي چې د كفريه عمل اجازت هم په رضا باندې دلالت كوي او رضا بالكفر كفردې،لهذا اجازت وركول هم مناسب نه وو؟ ددې شبهې جواب هم په دې عبارت كښې موجود دې چې د حق د اظهار دپاره ضروري وو چې جادوګرو ته اجازت وركړې شي چې هغوى خپل كرتب اوښائي او دمسا نه دمعجزې په ذريعه اژدا (ښامار) جوړشي او دغوى باطل او جوړشوي كرتب د حاضرينو په مخامخ تيركړي اوپه خلقو باندې په حق اوباطل كښې فرق واضح شي لكه چې حق ښكاره شو. دا داسې د لكه جومات ورانول اګرچې ناروا دى خود نوى تعمير دپاره ئې ورانول ناروا نه دى بلكه مستحسن (ښه) كار دې لهذا دا تخريب د تعمير دپاره وو داسې نه چې تخريب برائے تخريب.

قوله: وَإِبْدَال الثَّانِيَة أَلِفًا والصحيح إبدال الثانية ألفًا خكه چې دريمه همزه په الف سره بدله شوې ده.

قوله: رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ: دا د رب العالمين نه بدل دې.

قوله: يأفكون: إفكٌ (ض) نه جمع مذكر غائب واپس كيدل. فألقى السَّحَرَةُ يعنى بې اختياره په سجد كښې پريوتل.

[اياتونه: ۵۲-۶۸]

(وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى) بَعْدَ سِنِينَ أَقَامَهَا بَيْنَهُمْ يَدْعُوهُمْ بِآيَاتِ اللهِ إِلَى الْحَقِّ فَلَمْ يَزِيدُوا إِلَّا عُتُوًّا (أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي) بَنِي إِسْرَائِيلَ وَفِي قِرَاءَةٍ بِكَسْرِ النُّونِ وَوَصْلِ هَمْزَةِ اسْرِ مِنْ سَرَى لُغَةٌ فِي أَسْرَى أَيْ سِرْ بِهِمْ لَيْلًا إِلَى الْبَحْرِ (إِنَّكُمْ مُتَّبَعُونَ) يَتْبَعُكُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ فَيَلِجُونَ وَرَاءَكُمْ الْبَحْرَ فَأُنْجِيكُمْ وَأُغْرِقُهُمْ (فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ) حِينَ أُخْبِرَ بِسَيْرِهِمْ (فِي الْمَدَائِنِ) قِيلَ كَانَ لَهُ أَلْفُ مَدِينَةٍ وَاثْنَا عَشَرَ أَلْفَ قَرْيَةٍ (حَاشِرِينَ) جَامِعِينَ الْجَيْشَ قَائِلًا (إِنَّ هَؤُلَاءِ لَشِرْذِمَةٌ) طَائِفَةٌ (قَلِيلُونَ) قِيلَ كَانُوا سِتَّمِائَةِ أَلْفٍ وَسَبْعِينَ أَلْفًا وَمُقَدِّمَةُ جَيْشِهِ سَبْعُمِائَةِ أَلْفٍ فَقَلَّلَهُمْ بِالنَّظَرِ إِلَى كَثْرَةِ جَيْشِهِ (وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَائِظُونَ) فَا عِلُونَ مَا يَغِيظُنَا (وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَذِرُونَ) مُسْتَعِدُّونَ وَفِي قِرَاءَةٍ حَاذِرُونَ مُتَيَقِّظُونَ قَالَ تَعَالَى (فَأَخْرَجْنَاهُمْ) أَيْ فِرْعَوْنَ وَقَوْمَهُ مِنْ مِصْرَ لِيَلْحَقُوا مُوسَى وَقَوْمَهُ (مِنْ جَنَّاتٍ) بَسَاتِينَ كَانَتْ عَلَى جَانِبَيِ النِّيلِ (وَعُيُونٍ) أَنْهَارٍ جَارِيَةٍ فِي الدُّورِ مِنَ النِّيلِ (وَكُنُوزٍ) أَمْوَالٍ ظَاهِرَةٍ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَسُمِّيَتْ كُنُوزًا لِأَنَّهُ لَمْ يُعْطِ حَقَّ اللهِ تَعَالَى مِنْهَا (وَمَقَامٍ كَرِيمٍ) مَجْلِسٍ حَسَنٍ لِلْأُمَرَاءِ وَالْوُزَرَاءِ يَحُفُّهُ أَتْبَاعُهُمْ (كَذَلِكَ) أَيْ إِخْرَاجُنَا كَمَا وَصَفْنَا (وَأَوْرَثْنَاهَا بَنِي إِسْرَائِيلَ) بَعْدَ إِغْرَاقِ فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ (فَأَتْبَعُوهُمْ) لَحِقُوهُمْ (مُشْرِقِينَ) وَقْتَ شُرُوقِ الشَّمْسِ (فَلَمَّا تَرَاءَى الْجَمْعَانِ) رَأَى كُلٌّ مِنْهُمَا الْآخَرَ (قَالَ أَصْحَابُ مُوسَى إِنَّا لَمُدْرَكُونَ) يُدْرِكُنَا جَمْعُ فِرْعَوْنَ وَلَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ (قَالَ) مُوسَى (كَلَّا) أَيْ لَنْ يُدْرِكُونَا (إِنَّ مَعِيَ رَبِّي) بِنَصْرِهِ (سَيَهْدِينِ) طَرِيقَ النَّجَاةِ قَالَ تَعَالَى (فَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنِ اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْبَحْرَ) فَضَرَبَهُ (فَانْفَلَقَ) فَانْشَقَّ اثْنَيْ عَشَرَ فِرْقًا (فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ) الْجَبَلِ الضَّخْمِ بَيْنَهُمَا مَسَالِكُ سَلَكُوهَا لَمْ يَبْتَلَّ مِنْهَا سَرْجُ الرَّاكِبِ وَلَا لِبْدُهُ (وَأَزْلَفْنَا) قَرَّبْنَا (ثَمَّ) هُنَاكَ (الْآخَرِينَ) فِرْعَوْنَ وَقَوْمَهُ حَتَّى سَلَكُوا مَسَالِكَهُمْ (وَأَنْجَيْنَا مُوسَى وَمَنْ مَعَهُ أَجْمَعِينَ) بِإِخْرَاجِهِمْ مِنَ الْبَحْرِ عَلَى هَيْئَتِهِ الْمَذْكُورَةِ (ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ) فِرْعَوْنَ وَقَوْمَهُ بِإِطْبَاقِ الْبَحْرِ عَلَيْهِمْ لَمَّا تَمَّ دُخُولُهُمْ فِي الْبَحْرِ وَخُرُوجُ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْهُ (إِنَّ فِي ذَلِكَ) إِغْرَاقِ فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ (لَآيَةً) عِبْرَةً لِمَنْ بَعْدَهُمْ (وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ) بِاللهِ لَمْ يُؤْمِنْ مِنْهُمْ غَيْرُ آسِيَةَ امْرَأَةِ فِرْعَوْنَ وَحِزْقِيلَ مُؤْمِنِ آلِ فِرْعَوْنَ وَمَرْيَمَ بِنْتِ نَامُوصَى الَّتِي دَلَّتْ عَلَى عِظَامِ يُوسُفَ عَلَيْهِ السَّلَامُ (وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ) فَانْتَقَمَ مِنَ الْكَافِرِينَ بِإِغْرَاقِهِمْ (الرَّحِيمُ) بِالْمُؤْمِنِينَ فَأَنْجَاهُمْ مِنَ الْغَرَقِ

ترجمه: او مونږ موسىٰ علیہ السلام ته حکم وركړو روستو ددې نه چې موسىٰ علیہ السلام دغوى په مينځ

کښې به کلونو مقیم پاتې شوې وو(او) د الله د آیاتونو په ذریعه ئې دحق دعوت ورکولوخو دغوی په سرکشۍ کښې اضافه کیدله. چې زما بندګان بنی اسرائیل د شپې شپې اوباسه. اوپه یو قراءت کښې د نون په کسرې سره دې او د اَن په همزه وصل سره دې په نوې کښې یو لغت سرۍ هم دې، یعنی د شپې شپې دوی بحر (قلزم) طرف ته بوځه. یقینًا تاسو پسې به دوی درځي یعنی فرعون اودغه لښکر به ستاسو پسې کیږی نوهغوی به تاسو پسې شانه په دریاب کښې داخلیږی نو زه به تاسو ته نجات درکوم اوهغوی به غرق کوم، کوم وخت چې فرعون ته د بنی اسرائیلو د شپې د وتلو خبر ورکړې شو نو فرعون په ښار کښې لښکرې جمع کونکی اولیږل بیان کړې شوی دی چه دد د قبضې لاندې یو زر ښارونه او دولس زره کلی وو، دا وئیلو سره چې ددې خلقو یو وړوکې شان جماعت دې وئیلې شوی دی چه دغوی تعداد شپږ لاکه او اویا زره وو، اودغوی د مقدمة الجیش تعداد اووه لاکه وو دخپل لښکر د زیاتوالی په وجه ئې بنی اسرائیلو ته قلیل اووئیل (کنی نوهغوی هم فی نفسه کثیروو) او دا چې دې خلقو مونږ ته غصه راوستې د یعنی داسې حرکت ئې کړې دې چې مونږ ته ئې غصه راوستې د بې شکه مونږ ټول بیداریو یعنی دماغ مو بیدار دی (غافل نه یو) اوپه یو قراءت کښې حاذرون دې یعنی مستعد (تیار) یو الله تعالی فرمائي چنانچه دوې یعنی فرعون او دغه لښکر د مصر د باغونونه چې د (دریائي) نیل په دواړو غاړو باندې وواود چینو نه یعنی دغه نهرونو نه کوم چې د دریائي نیل نه دغوی کورونو کښې جاری وو، اود خزانونه یعنی د سرو او سپینو زرو د ښکاره مالونو نه او کنز (خزانې) ته کنز ځکه وائي چې ددې نه د الله تعالی حق ادانه کړې شو اود حاکمانو او وزیرانو د ښو مجلسونو نه چې په کوم مجلسونه به ددوی خادمانو ګیره اچولې وه راوویستل، د بیان کړې شوی طریقې مطابق مونږ ویستل اوشو، د فرعون اودغه دقوم د غرق کیدو نه پس مونږ بنی اسرائیل دغه ټولو څیزونو وارثان جوړ کړل نو قبطیان د نمر ختلو په وخت د اسرائیلیانو سره ملاو شو، پس کله چې دواړو ډلو یو بل اولیدلو نو د موسیٰ ﷺ ملګرو اووئیل مونږ خو اونیولې شو یعنی د فرعون لښکر مونږ اونیولو او په مونږ کښې دغوی د مقابلې طاقت نشته، حضرت موسیٰ ﷺ اوفرمائیل هیڅ کله نه یعنی هغوی مونږ بالکل نه شی نیولې (ځکه) چې یقین اوکړئ زما د رب مدد ماسره دې، هغه به ډیر زر ماته د نجات لاره اوښائی الله تعالی ورته اوفرمائي مونږ موسیٰ ﷺ ته حکم اوکړو چه خپله همسا په دریاب باندې اووهه نو موسیٰ ﷺ همسا اووهله، هم دغه وخت دریاب په دولسو حصو کښې تقسیم شو هره حصه د لوئې غر په شان وه او د دغه دولسو حصو په مینځ کښې لارې دې چې په هغې کښې به هغوی تلل او په دولسو قبیلو کښې نه خو د یو سور کس د اس زین لوند شو اونه لمسې او مونږ نور یعنی فرعون او دغه قوم دې موقعې ته نژدې اورسول تردې چې دوی هم دغوی په لارو

کښې داخل شو او موږ موسیٰ علیه السلام او دغه ټول ملګر نه په ذکر شوی هیئت سره د دریاب نه اوویستلو سره نجات ورکړو، ددې نه پس مو نور خلق غرق کړل یعنی فرعون او دغه قوم کله چې په دریاب کښې دغوی داخلیدل او د اسرائیلیانو د دریاب نه وتل مکمل شو نو په هغوی مو دریاب ملاؤ کړو او غرق مو کړل بې شکه په دې کښې یعنی د فرعون اودغه دقوم په غرق کولو کښې د روستنو دپاره د عبرت نخښه ده او په دوی کښې اکثر خلق (په الله باندې) ایمان نه راوړی یعنی د فرعون ښځه آسیه او د آل فرعون یو کس حزقیل او مریم بنت ناموسیٰ چاچې د حضرت یوسف علیه السلام د هډوکو نشاندی کړې وه، ددوی نه علاوه هیچا ایمان رانه وړلو، او بې شکه ستا رب غالب دې چې کافرانو نه ئې دغوی په غرق کولو سره انتقام واخستلو او په مؤمنانو باندې ډیر مهربان دې چې دوی ئې د غرق کولو نه بچ اوساتل.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: لَشِرۡذِمَةٌ: وړوکښې جماعت (جمع) شِرَاذِم (لَشِرۡذِمَةٌ قَلِيلُونَ) د قیاس تقاضه دا وه چې لَشِرۡذِمَةٌ قلیلة وې، ځکه چه قلیلة د لَشِرۡذِمَةٌ صفت دې خو شِرذمة په أسباط باندې مشتمل وو او هر سبط په هغوی کښې قلیل وو په دې وجه ئې جمع مذکر راوړله «روح المعانی» او قلیلون د إِنَّ خبر ثانی هم کیدې شی.

قوله: لَجَمِيعٌ: په معنی د جمع أی جماعة، دا کلمه د تاکید د الفاظو نه نه د چې دا اعتراض اوکړې شی چې حرف د تاکید تابع په طور استعمالیږی او دلته د تابع په طور استعمال نه شو؟ د جواب حاصل دادې چه دا د کلماتِ تاکیدنه نه دې بلکه د جماعت په معنی کښې دې نو هیڅ اعتراض نشته دې.

قوله: وفی قراءة حٰذِرُونَ: ابوعبید وئیلی دی د حذِرون او حٰاذِرُون دواړو یوه معنی د هوښیار، حاضردماغ، بیدار، بعضې حضراتو دا فرق بیان کړې دې چې د حَذِرٌ معنی متیقظ داود حاذر معنی خائف ده.اوبعضې حضراتو دا فرق بیان کړې دې چه حَذِرون هغه مخلوق ته وائی چې هغه پیدائشی طور باندې بیدار وی لکه کارغه، او حاذر هغې ته وائی چې هغه پیدائشی طور باندې بیدار خو نه وی خو روسته چالاکه او هوښیار شوې وی.

قوله: مقامٍ کریمٍ: نه څه مراد دې، په دې باره کښې د مفسرینو مختلف اقوال دی، بعضې حضراتو ښه مکانات (کورونه) مراد اخستی دی اوبعضو د حاکمانو او سردارانو مجالس مراد اخستی دی، لکه چې علامه محلی هم دا قول اختیار کړې دې.

قوله: کَذٰلِكَ: دا په محل د نصب کښې هم کیدې شی تقدیر به داسې وی: أخرجناهم مثل ذالك الآخراج الذی وصفنا،، اود مقام کریم دصفت په وجه په محل د جر کښې هم کیدې شی أی مقام کریم مثل ذلك المقام الذی کان لهم، اود مبتدا محذوف د خبر کیدو په وجه محلا

مرفوع هم کیدې شی أی الأمر کذلك.

قوله: وأورثناها: ددې عطف په فأخرجنا باندې دې

قوله: (وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ): د أكثرهم نه دغه خلقو اكثر مراد نه دې كوم چې حضرت موسٰی علیہ السلام پسې ورغلي ووځكه چې هغوی خو ټول په ټوله غرق كړې شو بلكه د اكثر نه هغه خلق مراد دی كوم چه د فرعون په مسلک اودغه په عقيد باندې وو او فرعون طرف ته منسوب وو، دغوی نه بعضې خلقو ايمان هم راوړې وو، لكه حزقيل او د فرعون لور، او دغه ښځه آسيه او مريم بنت ناموسٰی چاچې د حضرت يوسف عليه السلام د قبر نشاندی كړې وه او سيبويه كانَ ته زائد وئيلی دی.

[ایاتونه: ٦٩-١٠٤]

(واتل عليهم) أي كفار مكة (نبأ) خبر (إبراهيم) ويبدل منه (إذ قال لأبيه وقومه ما تعبدون) (قالوا نعبد أصناما) صرّحوا بالفعل ليعطفوا عليه (فنظل لها عاكفين) نقيم نهارا على عبادتها زادوه في الجواب افتخارا به (قال هل يسمعونكم إذ) حين (تدعون) (أو ينفعونكم) إن عبدتموهم (أو يضرون) كم إن لم تعبدوهم (قالوا بل وجدنا آباءنا كذلك يفعلون) أي مثل فعلنا (قال أفرأيتم ما كنتم تعبدون) (أنتم وآباؤكم الأقدمون) (فإنهم عدو لي) لا أعبدهم (إلا) لكن (رب العالمين) فإني أعبده (الذي خلقني فهو يهدين) إلى الدين (والذي هو يطعمني ويسقين) (وإذا مرضت فهو يشفين) (والذي يميتني ثم يحيين) (والذي أطمع) أرجو (أن يغفر لي خطيئتي يوم الدين) الجزاء (رب هب لي حكما) علما (وألحقني بالصالحين) النبيين (واجعل لي لسان صدق) ثناء حسنا (في الآخرين) الذين يأتون بعدي إلى يوم القيامة (واجعلني من ورثة جنة النعيم) ممن يعطاها (واغفر لأبي إنه كان من الضالين) بأن تتوب عليه فتغفر له وهذا قبل أن يتبين له أنه عدو لله كما ذكر في سورة براءة (ولا تخزني) تفضحني (يوم يبعثون) الناس قال تعالى فيه (يوم لا ينفع مال ولا بنون) احدا (إلا) لكن (من أتى الله بقلب سليم) من الشرك والنفاق وهو قلب المؤمن فإنه ينفعه ذلك (وأزلفت الجنة) قربت (للمتقين) فيرونها (وبرزت الجحيم) أظهرت (للغاوين) الكافرين (وقيل لهم أين ما كنتم تعبدون) (من دون الله) أي غيره من الأصنام (هل ينصرونكم) بدفع العذاب عنكم (أو ينتصرون) بدفعه عن أنفسهم لا (فكبكبوا) ألقوا (فيها هم والغاوون) (وجنود إبليس) أتباعه ومن أطاعه من الجن والإنس (أجمعون) (قالوا) أي الغاوون (وهم فيها يختصمون) مع معبوديهم (تالله إن) مخففة من الثقيلة واسمها محذوف أي إنه (كنا لفي ضلال مبين) بيّن (إذ) حيث (نسويكم برب العالمين) في العبادة (وما أضلنا) عن الهدى (إلا المجرمون) أي الشياطين أو أولونا الذين اقتدينا بهم (فما لنا من شافعين) كما للمؤمنين من الملائكة والنبيين والمؤمنين (ولا صديق حميم) يهمه أمرنا (فلو أن لنا كرة) رجعة إلى الدنيا (فنكون من المؤمنين) لو هنا للتمني ونكون جوابه (إن في ذلك) المذكور من

قصة ابراهیم وقومه (الآیة وماکان أکثرهم مؤمنین) (وان ربك لهو العزیز الرحیم)

ترجمه: او د مکې کافرانو ته د ابراهیم علیه السلام واقعه (هم) واوروه، اذقال لأبیه د (نبأ ابراهیم) نه بدل الاشتمال دی کله چې ابراهیم علیه السلام خپل پلار او خپل قوم ته اووئیل تاسو دکوم شي بندګي کوئ؟ هغوی جواب ورکړو د بتانو بندګي کوو د فعل صراحت ئې اوکړو، دې دپاره چې په دې باندې د (فنظل لها عاکفین) عطف اوکړې شي مونږ خو شپه ورځ ددوی په عبادت کښې مشغول اوسیږو یعنې مونږ پابندئ سره تول ورځ ددوی عبادت کوو، اوهغوی په جواب کښې د (فنظل) اضافه (د بتانو) په عبادت باندې د فخر په طور اوکړه نو ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل آیا دوی ستاسو آوری هم کله چې تاسو دوی ته آواز کوئ؟ یا ستاسو ددوی د عبادت کولو په صورت کښې تاسو ته نفع یا د عبادت نه کولو په صورت کښې نقصان در رسوی؟ هغوی اووئیل (مونږ هیڅ نه پیژنو) مونږ خو خپل پلار نیکونه دغسې کونکی موندلی دی یعنی څنګه چې مونږ کوو (ابراهیم علیه السلام) اوفرمائیل آیا تاسو اوستاسو مخکینی پلار نیکونه چې دکومو (بتانو) بندګو، کوئ کله مو په ددوی حالت کښې غور کړې دې؟ دا ټول زما دشمنان دی زه د دوی بندګي نه کوم لیکن د رب العالمین بندګي کوم چې هغه زه پیدا کړې یم نو هم هغه دین طرف ته زما رهبري کوی هم هغه دې چې ماته خوراک څکاک راکوی او کله چې زه بیمار شم نو ماته شفاء راکوی او هم هغه به ماته مرګ راکوی او بیا به مې ژوندې کوی او هم هغه دې چې د هغه نه اُمید کوم چه د جزاء په ورځ به هغه زما خطاګانې معاف کړی اې زما پروردګار ماته علم راکړې او ما په صالحانو یعنې د نبیانو په دله کښې شامل کړې او په روستو خلقو کښې زما نیک شهرت اوکړې یعنې په هغه خلقو کښې کوم چه به زمانه روسته تر قیامته پورې راځي او ما د جنت النعیم په وارثانو کښې شامل کړې یعنې په هغه خلقو کښې چاته چې به جنت ورکولې شي او زما پلار معاف کړې بې شکه هغه د لارې نه ګمراه شوې دې، په دې طریقه چه ته دغه توبه قبوله کړې چه دغه مغفرت اوشي او دا (دعاء) ددې نه د مخکښې خبره د چې په ابراهیم علیه السلام باندې الله تعالی سره دغه د دشمنئ حقیقت واضح شو، لکه چې په سورة براءت کښې ذکرشوی دی او خلقو لره د دوباره ژوندی کولو په ورځ ما رسوا نه کړې الله تعالی دغه ورځې باره کښې اوفرمائیل په هغه ورځ به مال او اولاد دیچا هیڅ په کار نه راځي خو څوک چې د شرک او نفاق نه سالم زړه سره راشي او هغه به دمومن زړه وی دا خیزونه به دغه دپاره فائده مند وی او متقیانو ته به جنت بالکل نزدې کړې شي چه هغوی دا اوګوری او کافرانو دپاره به جهنم ښکاره کړې شي او دغوی نه به تپوس اوشي چه دچا تاسو د الله نه سوا عبادت کولو هغوی چرته دی؟ یعنې د الله تعالی نه علاوه د بتانو، آیا هغوی ستاسو نه عذاب لرې کولو سره ستاسو مدد کولې شي؟ یا پخپله دخپل ځان دفاع کولې شئ؟ نه، پس هغوی او ګمراه خلق او د ابلیس لښکر او دغه متبعین او په جناتو او انسانانو کښې چې چا دغه اطاعت کړې وی ټول به جهنم ته

پرمخې ور واچولې شي او کافران به په جهنم کښې دخپلو معبودانو سره جهګړې کوي په الله قسم بې شکه مونږ په ښکاره ګمراهۍ کښې وو اِنْ مخففه عن المثقله دې، ددې اسم محذوف دې اي اِنَّهٗ، کله چه مونږ خو تاسو په عبادت کښې د رب العالمین برابر ګرځولئ او مونږ خو سوا ددې بدکارانو نه د هدایت نه هیڅوا ګمراه نه کړو یعنی شیطانانو یا هغه مخکښنو خلقو دکومو چې مونږ اقتداء اوکړه، اوس زمونږ څوک سفارشي هم نشته لکه څنګه چې د مومنانو دپاره ملائکه او انبیاء او مومنان سفارشیان دي، او نه څوک رشتونې غمخوار دوست چې هغوی له زمونږ حالت غمژن کړي کاش چې مونږ ته یوځل بیا دنیا کښې واپس تلل ملاؤ شوې نو مونږ به ایمان راوړلې وې لَوْدلته د تمنّي دپاره دې او نَكُوْنَ ددې جواب دې بې شکه ابراهیم عليه السلام او دغه په مذکوره قصه کښې روستنو خلقو دپاره نښه (عبرت) او دې په دوی کښې اکثر خلق ایمان راوړونکي نه دي او یقیناً ستا پروردګار غالب مهربان دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: (وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إبراهيم) واؤ عاطفه دې او په (ماسبق کښې) په اذکر مقدر باندې عطف دې کوم چې په اِذْنَادٰى رَبُّكَ مُوْسٰى کښې عامل دې دا عطف قصه على القصه دې.

قوله: (إذقـال لأبيه وقومه مـا تعبدون) د نَبَأَ ابراهيمَ نه بدل مفصل عن المجمل دې.

قوله: صَرَّحُوا بِالْفِعْلِ لِيَعْطِفُوا عَلَيْهِ: ددې عبارت د اضافه کولو مقصد دیو اعتراض جواب دې، اعتراض دادې چې د مَا تَعْبُدُوْنَ په جواب کښې د قیاس تقاضه دا وه چې (فقط) اَصْنَامًا ئې وئیلې وې لکه چې د الله تعالى په قول وَيَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ، قُلِ الْعَفْوَ، کښې دی څکه چه کله سوال کښې فعل مذکوروی نو په جواب کښې دفعل ذکرکولو ضرورت نه وي؟ جواب دادې چه د فعل نَعْبُدُ ذکر کولو ضرورت څکه پیښ شو چې د (فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِيْنَ) عطف صحیح شي ګني نو د فعل عطف به په اسم باندې لازم راتلو.

قوله: نُقِيمُ نَهَارًا: دا د نَظَلُّ دمعنی بیان دې اوس پاتې شوه داخبره چې د (فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِيْنَ) وئیلو څه ضرورت پیښ شو؟ نو ددې جواب دادې چې مشرکانو په بت پرستئ باندې فخر کولو هغوی دا د معیوب ګڼړلو یا په دې باندې د پښیمانه کیدو په ځائې په دې باندې فخر کولو په دې وجه دوی (فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِيْنَ) اووئیل چې مونږ خو توله ورځ یعنی هر وخت دې ته سجدې کوو او دا زمونږ دپاره د فخر سبب دې د پښیمانتیا سبب نه دې.

قوله: هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ: دلته مضاف محذوف دې تقدیر د عبارت دادې هَلْ يَسْمَعُوْنَ دُعَاءَكُمْ څکه چې د ذوات د اوریدلو هیڅ مطلب نشته.

قوله: أَفَرَأَيْتُمْ: کښې همزه په فعل محذوف باندې داخل د، فا عاطفه د، تقدیر د عبارت

دادي. أتأملتم فأبصرتم ماكنتم تعبدُون.

قوله: وآباؤكم: ددې عطف په تَعْبُدون کښې دننه په ضمير مرفوع متصل باندې دې هم په دې وجه د ضمير مرفوع منفصل أنتم په ذريعه تاكيد راوړلې شوې دې.

قوله: ﴿فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِي﴾ هغوي زما دشمنان دی د دشمنئ نسبت حضرت ابراهيم عليه السلام خپل ځان طرف ته کړې دې دا تعريض دې او په باب د نصيحت کښې تعريض دتصريح نه أبلغ وی يعنی د ﴿فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لَكُمْ﴾ په ځائې ئی ﴿فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِي﴾ اووئيل.

قوله: إِلَّا: لٰكِنَّ ربّ العالمين: د إِلَّا تفسير په لٰكِنَّ سره کولو کښې ئی اشاره اوکړه چې دا استثناء منقطع د ، معنی داد: لٰكِنَّ ربّ العالمين ليس بعدوّی بل هو ولی فی الدنيا والأخرة.

قوله: الذي خلقني: دا خو يا د رب العالمين صفت دې يا بدل دې يا عطف بيان دې يا د هُو مبتدأ محذوف خبر دې او ددې مابعد په دې باندې معطوف دې.

قوله: ﴿وإذا مرضت فهو يشفين﴾: په دې کښې ئې د مرض نسبت خپل ځان طرف ته کړې دې الله طرف ته ئې نه دې کړې، داسې ئې د ډير ادب په وجه کړی دی.

قوله: لِسَانَ صِدْقٍ: دا اضافت موصوف إلی الصفت دې أی اللسان الصدق.

قوله: قَالَ تَعَالَىٰ فِيهِ أي في شان ذٰلك اليوم: بعضې حضراتو وئيلی دی چې يوم لا ينفع مال ولا بنون دا هم دحضرت ابراهيم عليه السلام کلام دې او د يوم يبعثون نه بدل دې، په ړومبی صورت کښې ئی هم بدل اووئيلو خو دا د اعتراض نه خالی نه د.

قوله: إِلَّا لٰكن مَن أَتَى اللهَ بِقَلْبٍ سليم: شارح د إِلَّا په لكن سره تفسير کولو کښې اشاره اوکړه چه دا مستثنٰی منقطع د ليکن د أحدًا مفعول (محذوف) تقاضه داد چه دا دې مستثنٰی متصل وی په دواړو کښې تضاد معلوميږی، د تطبيق صورت دا کيدې شی چې مستثنٰی منه که مالٌ ولا بنونَ اوګرځولې شی نو مستثنٰی به منقطع وی اوکه مستثنٰی منه أحدًا اوګرځولې شی نو مستثنٰی به متصل وی، ځکه چې مَن أتی الله مستثنٰی منه د أَحدًا د جنس نه د او په ړومبی صورت کښې مستثنٰی د مستثنٰی منه د جنس نه نه د.

قوله: أين ما كنتم تعبدون: أينَ خبر مقدم دې او مَا مبتدأ مؤخر په معنی د الذی دې او کُنتم تعبدُون د مَا صله د عائد محذوف دې أی تعبدونهٗ او مِن دُون الله حال دې تقدير د عبارت به داسې وی: مَا کُنتُم تعبدونهٗ أينَ.

قوله: فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً: په فارسئ کښې: پس کاش ما را يک بار رجوع باشد. کاش مونږ ته يوځل دنيا ته واپس تلل ملاؤ شوې وې.

قوله: لَو هُنا للتمنّی فنکون مِن المؤمنين: ددې جواب دې بعضې حضراتو وئيلی دی چې لَو

شرطيه دې ددې جواب محذوف دې او فَنَكُوْنَ په كَرَّةً باندې معطوف دې، تقدير د عبارت دادې: لَوْاَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَرَجَعْنَا عَمَّا كُنَّا عَلَيْهِ يا جواب لَخَلَصْنَا مِنَ الْعَذَابِ كيدې شي.

[ايالتونه: ۱۰۵ - ۱۲۲]

{كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ الْمُرْسَلِيْنَ} بِتَكْذِيبِهِمْ لَهُ لِاشْتِرَاكِهِمْ فِي الْمَجِيءِ بِالتَّوْحِيدِ أَوْ لِأَنَّهُ لِطُولِ لُبْثِه فِيهِمْ كَأَنَّهُ رُسُل وَتَانِيث قَوْم بِاعْتِبَارِ مَعْنَاهُ وَتَذْكِيره بِاعْتِبَارِ لَفظه {إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ} نَسَبًا {نُوحٌ أَلَا تتقون} الله {إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ} عَلَى تَبْلِيغ مَا ارسلت به {فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَطِيعُونِ} فِيمَا آمُرُكُمْ بِهِ مِنْ تَوْحِيد الله وَطَاعَته {وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ} عَلَى تَبْلِيغه {مِنْ أَجْرٍ إِنْ} ما {أَجْرِيَ} اي ثوابي {إلا على رب العالمين} {فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَطِيعُونِ} كَرَّرَهُ تَأْكِيدًا {قَالُوا أَنُؤْمِنُ} نُصَدِّقُ {لَكَ} لِقَوْلك {وَاتَّبَعَكَ} وَفِي قِرَاءَةٍ وَأَتْبَاعك جَمْع تَابِع مُبْتَدَأ {الْأَرْذَلُونَ} السَّفَلَة كالحاكة والاساكفة {قال وما علمي} اي علم لي {بما كانوا يعملون} {إِنْ} مَا {حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَى رَبِّي} فَيُجَازِيهِمْ {لوتشعرون} تعلمون ذلك ما عبتموهم {وما أنا بطارد المؤمنين} {إِنْ} مَا {أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُبِينٌ} بَيِّن الإنذار {قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا نُوحُ} عَمَّا تَقُول لَنَا {لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ} بِالْحِجَارَةِ أَوْ بالشتم {قَالَ} نوح {رب إن قومي كذبون} {فافتح بيني وبينهم فتحا} اي احكم {ونجني ومن معي من المؤمنين} قال تعالى {فَأَنْجَيْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ} الْمَمْلُوء مِنَ النَّاس وَالْحَيَوَان وَالطَّيْر {ثُمَّ أَغْرَقْنَا} بَعْد بَعْد إنْجَائِهِمْ {الْبَاقِينَ} مِنْ قومه {إن في ذلك لآية وما كان أكثرهم مؤمنين} {وإن ربك لهو العزيز الرحيم}

ترجمه: د نوح قوم دحضرت نوح ؈ تكذيب كولو سره دټولو پيغمبرانو د تكذيب ارتكاب اوكړو ددې ټولو د توحيد په راوړلو كښې د مشترک كيدو په وجه يا ددوی په قوم كښې د ډيرې زمانې پورې د قيام كولو په وجه ګويا چه هغه د ډيرو پيغمبرانو قائم مقام وو(لفظ) قوم دخپلې معنى په اعتبار سره مؤنث دې او دخپل لفظ په اعتبار سره مذكر دې كله چې دوی ته د دوی نسبى رور نوح اوفرمائيل چې آيا تاسو د الله د عذاب نه نه ويرېږئ؟ زه ستاسو په طرف د الله امانت دار رسول يم هغه پيغام په رسولو كښې كوم سره چې څه رالېږلې شوې يم لهذا تاسو د الله نه اويرېږئ او د الله په توحيد اودغه په اطاعت كښې دكوم چې زه تاسو ته حكم كوم زما اطاعت كوئ زه ستاسو نه په دې باندې يعنى په دې تبليغ باندې هيڅ معاوضه نه غواړم زما اجر يعنى زما ثواب خو صرف په رب العالمين باندې دې دالله نه اويرېږئ او زما اطاعت اوكړئ د تاكيد په طور ئې دا مكرر ذكر كړې دې قوم جواب وركړو آيا مونږ په تا باندې ايمان راوړو يعنى ستا دخبرې تصديق اوكړو حالانكه ستا اتباع رذيلو خلقو كړې د يعنى كم حيثيت والا خلقو مثلاً جولاګانو او موچيانو او په يو قراءت كښې د اِتَّبَعَكَ په ځائې اَتْبَاعُكَ دې چې د تابع جمع د (او) مبتدا د (او ارذلون ددې خبر دې) حضرت نوح ؈ جواب وركړو زما ددوی د پيشو (كارونو) نه سره څه غرض؟ (يعنى زما ددوی د پيشې نه هيڅ

مطلب نشته که ددوی پیشه رذیله وی او که شریف، اوس پاتې شو دا احتمال چه ددوی ایمان د زړه نه نه دې نو دوی حساب په الله باندې دې ددوی حساب خو زما د رب په ذمه دې نو هم هغه به ددوی ته جزاء ورکړی، که دا حقیقت ستاسو په پوهه کښې راتلې نو تاسو به عیبونه نه لټول زه ایمان والو ته دیکه ورکونکې نه یم زه خو صفا طور باندې ویرونکې یم یعنی ښکاره یرونکې، دغه خلقو اووئیل اې نوح که ته منع نه شوې ددې خبرو نه کومې چه ته مونږ سره کوې نو یقیناً سنگسار به کړې شې د کاڼړو په ذریعه یا د کنځلو او بدو ردو په ذریعه (نو بیا د مجبورۍ نه) نوح علیه السلام دعا او کړه اې زما پروردگار زما قوم زما تکذیب او کړو نو ته زما او ددوی په مینځ کښې (قطعی) فیصله او کړې او ما ته او کوم چې ما سره ایمان والا خلق دی نجات ورکړې الله تعالی اوفرمائی چې مونږ هغه ته او دغه ملګرو ته په ډکه کشتۍ کښې نجات ورکړو، یعنی د انسانانو، حیواناتو او مارښانو نه ډکه کشتۍ کښې مو هغوی ته دنجات ورکولو نه پس دغه د قوم باقی خلق غرق کړل یقیناً په دې کښې ډیر لوئې عبرت دې او په دوی کښې اکثر خلق ایمان راوړونکی نه وو او بې شکه ستا پروردګار زبردست رحم کونکې دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: بِتَكْذِيبِهِمْ لَهُ..إلخ: ددې اضافې مقصد ددې شبهې توجیه د چې د نوح د پاره مُرْسَلِين د جمعې صیغه راوړلو څه مقصد دې حالانکه هغه یو فرد وو؟ شارح ددې دوه جوابونه ورکړی دی، د اول جواب خلاصه داد چې ټول انبیاء او مرسلین په اصول دین یعنی توحید اورسالت، بعث بعدالموت اوپه آخرت کښې جزا اوسزا دغسې نورو بنیادی أمورو کښې متفق وی، لهذا د یو تکذیب به دټولو تکذیب شمارلې شی. أولأنّهٗ سره دویم جواب دې، ددې خلاصه داد چې دحضرت نوح علیه السلام د رسالت زمانه ډیره اوږده د عام طورباندې دومره مود کښې ډیر رسولان مبعوث کیدې شو خوصرف حضرت نوح علیه السلام په دې اوږد زمانه کښې د رسالت فرائض پوره کړل ځکه خو وئیلې شی چه هغه د ډیرو رسولانو قائم مقام دې لکه بجو (غوښه خوړونکې) ښناور ته د ډیرو افرادو برابر دخوراک خوړلو په وجه حضاجر وئیلې شی.

قوله: تَأْنِيثُ قَوْم: په (كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ) کښې قوم مؤنث منلو سره ئې فعل مؤنث راوړې دې ځکه چه لفظ د قوم دخپلې معنی په اعتبار سره مؤنث او د لفظ په اعتبار سره مذکر دې، د قوم تصغیر قُوَيْمَةٌ راځی، ددې نه هم معلومیږی چه لفظ قوم د معنی په اعتبارسره مؤنث دې، هم دا حال درهغه جمعې دې چې دغې واحد نشته لکه رَهْطٌ ونَفَرٌ هم دا وجه د چې ضمائر مثلاً لَهُمْ، أَخُوهُمْ، تَتَّقُونَ کښې د معنی رعایت شوې دې.

قوله: مِنْ أَجْرٍ: مِن په مفعول باندې زائد دې.

قوله: أتباعك: مبتدأ د أرذلونَ خبر، دا جمله د أنؤمِنُ د ضميرنه حال دي، مفسّر علام چې چرته وفي قراءة آخرى فرمائي ددې نه قرا ءت سبعه مراد وى، خو ددوى دا طريقه اغلبى د كُلي نه د، ځكه چه دلته أتباعك والا قرا ءت سبعه نه دې دا قرا ءت د يعقوب دې د عشره نه.
الحُلة د ساللة جمع د، بې حيثيته يا كم حيثيته خلقو ته وائي. الحائك (جولا، تهان جوړونكې) قال في القاموس، حاك الثوب حوكًا وحياكًا نسجه فهو حائك، الأساكفة جمع د إسكاف د كفش دوز (يعنى موچى).
قوله: وَمَا عِلْمِي: په دې كښې دوه صورتونه دى اول ما استفهاميه انكاريه مبتدأ او علمى خبر، او بَاء د علمى سره متعلق د تقدير د عبارت دادې أيّ شئ علمي؟ دويم صورت مَانافيه د په دې صورت كښې به هم بَاد علمى سره متعلق وى، مفسّر علام أيّ علم لي ونيلو سره اول صورت طرف ته اشاره كړې د. د علمي اصل عِلمِيْ دې تخفيفًا حذف كړې شوې دې
قوله: أي أحكُم: ددې عبارت د اضافه كولو مقصد دا ښودل دى چې فافتح د انفتاحة نه مشتق دې، ددې معنى حكومت د، الفتاح أي الحاكم بفتح المغلق من الأمور.

[اياتونه: ۱۲۳-۱۴۰]

(كذبت عاد المرسلين) (إذ قال لهم أخوهم هود ألا تتقون) (إني لكم رسول أمين) (فاتقوا الله وأطيعون) (وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ) مَا (أجري إلا على رب العالمين) (أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ) مَكَان مُرْتَفِع (آيَة) بِنَاء عَلَمًا لِلْمَارَّة (تَعْبَثُونَ) بِمَنْ يَمُرّ بِكُمْ وَتَسْخَرُونَ منهم والجملة حال من ضمير تبنون (وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِع) لِلْمَاءِ تَحْت الْأَرْض (لَعَلَّكُمْ) كَأَنَّكُمْ (تَخْلُدُونَ) فِيهَا لَا تَمُوتُونَ (وَإِذَا بَطَشْتُمْ) بِضَرْبٍ أَوْ قَتْل (بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ) مِنْ غَيْر رَأْفَة (فَاتَّقُوا اللَّه) فِي ذَلِكَ (وَأَطِيعُونِ) فِيمَا أَمَرْتُكُمْ به (واتقوا الذي أمدكم) انعم عليكم (بما تعلمون) (أمدكم بأنعام وبنين) (وَجَنَّات) بَسَاتِين (وَعُيُون) أَنْهَار (إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ) فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَة إِنْ عَصَيْتُمُونِي (قَالُوا سَوَاءٌ عَلَيْنَا) مُسْتَوٍ عِنْدنَا (أَوَعَظْتَ أَمْ لَمْ تَكُنْ مِنَ الْوَاعِظِينَ) أصلا أي لا نرعوي لوعظك (إِنْ) مَا (هَذَا) الَّذِي خَوَّفْتنَا بِهِ (إِلَّا خلق الأولين) اختلاقهم وَكَذِبهمْ وَفِي قِرَاءَة بِضَمِّ الْخَاء وَاللَّام أَيْ مَا هَذَا الَّذِي نَحْنُ عَلَيْهِ مِنْ إنكار البعث إلا خلق الأولين أي طبيعتهم وعادتهم (وما نحن بمعذبين) (فكذبوه) بالعذاب (فأهلكناهم) في الدنيا بالريح (إن في ذلك لآية وماكان أكثرهم مؤمنين) (وإن ربك لهو العزيز الرحيم)

ترجمه: عاديانو هم پيغمبران دروغژن اوګڼل کله چه دوى ته د دوى رور هود اووئيل آيا تاسو نه يريږئ؟ زه ستاسو امانتدار پيغمبر يم پس د الله نه اويريږئ او زما خبره اومنئ زه ستاسو نه په دې باندې هيڅ اجرت نه غواړم زما اجر خو د رب العالمين په ذمه دې آيا تاسو په هر اوچت ځائې باندې عمارت جوړوئ يعنى مسافرو د پاره نښه حال دادې چه تاسو ستا سو په خوا كښې تيريدونكو

سره چهیر (لولبې) کوئ او دغوی سره مسخرې کوئ (تعبثون) جمله د تبنون د ضمیر نه حال دې او د زمکې لاندې د اوبو ټینکې جوړوئ ګویا چې دنیا کښې به تاسو همیشه اوسیږئ مړه کیږئ به نه اوکله چې تاسو په چا باندې د وهلو او قتل په ذریعه نیول کوئ نو بغیر د نرمۍ نه د ظالمانو په شان نیول کوئ په دې معامله کښې د الله نه اویریږئ او زما خبره اومنئ د کوم خیز چې زه تاسو ته حکم کوم اودغه نه اویریږئ چاچه ستاسو مدد اوکړو یعنې په تاسو باندې ئې ددې خیزونو انعام اوفرمائیلو څارووسره اوځامنو سره او باغونو سره او چینو سره یعنې نهرونو سره ماته خو ستاسو په باره کښې په دنیا او آخرت کښې د لوئې ورځې د عذاب ویره د که چرې تاسو زما نافرمانی اوکړئ نوهغه خلقو اووئیل زمونږ په نزد ټول برابر دی که ته نصیحت اوکړې یا بالکل نصیحت اونه کړې، مونږ ستا د نصیحت په وجه نه منع کیږو دا خبره د کوم نه چه ته مونږ یَروې هسې د رومبنو خلقو دځانه جوړه کړې خبره د او دغوی دروغ دی او په یو قراءت کښې د خا اولام په ضمې سره دې، یعنې هغه عقید چې په هغې باندې مونږ قائم یو هغه دا چې د مرګ نه پس ژوندی کیدل نشته، د تیرو شوو خلقو عادت او دغوی طبیعت دې او مونږ ته به هیڅ چرې عذاب نه شی راکولې نو دغه خلقو د عذاب تکذیب اوکړو نو مونږ هغوی د سیلئ په ذریعه په دنیا کښې هلاک کړل، بې شکه په دې کښې نښه د او په دوی کښې ډیر خلق منونکی نه وو او بې شکه ستا رب غالب مهربان دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ﴿كَذَّبَتْ عَادٌ﴾ عاد د قبیله په معنی کښې د کیدو په وجه مؤنث دې په دې وجه فعل مؤنث راوړلې شو، عاد د قوم عاد د لرې نیکه نوم دې هم هغه طرف ته دا قوم منسوب دې، عاد د حضرت نوح علیه السلام د خوی د سام نسل نه وو. (جمل)

قوله: ﴿إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ﴾ هود عليه السلام دغوی د نسل او خاندان سره تعلق ساتلو په دې وجه ئې دوی ته أخوهم وئیلی دی، حضرت هود عليه السلام ډیر حسین اوجمیل او د پیشې په اعتبار سره تاجر وو، دحضرت آدم عليه السلام سره ئې ډیر زیات مشابهت وو، څلورسوه شپیته کاله ژوندي وو. (جمل)

قوله: ﴿بِكُلِّ رِيعٍ﴾ کسره او فتحه دواړه صحیح دی اوچت ځائې ته وائی لکه غر، غونډئ وغیره. ابوعبید وئیلی دی لارې ته وائی أتبنون بکل ریع کښې استفهام د توبیخ دپاره دې او محل د توبیخ تعبثون جمله حالیه د. مطلب دادې چه په اوچت ځائې باندې عمارت جوړول مذموم نه دی بلکه بې فائدې اوفضول جوړول مذموم دی، د وتتخذون عطف په تبنون باندې دې او دغه شان د وَإِذَا بَطَشْتُم هم، مطلب دادې چه د قوم هود په دریو مذموم خبرو باندې توبیخ (رټنه) شوې د.

قوله: ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ﴾ فِي ذَٰلِكَ..الخ: هم دغه دریو خبرو طرف ته اشاره د ① البناء ② الاتخاذ المذکور ③ التجبر

قوله: ﴿أمدکم بأنعام وبنین﴾ په دې کښې دوه صورتونه دی ① جمله ثانیه د جمله اولی بیان دې ② بأنعام د بما تعلمون د فعل اعادې سره بدل دې لکه په اتبعوا المرسلین اتبعوا من لا یسألکم اجرًا کښې او بعضې حضرات ئې د بدل په ځائې تکرار ګرځوی.

قوله: سواءٌ علینا: خبر مقدم دې او أوعظتَ په تاویل د مفرد مبتدأ مؤخر دې أی الوعظ وعدمه سواءٌ علینا. نرعوی د لارعواءٌ نه په معنی د بازماندن (منع کیدو) إلا خلق الأولین دا د ماقبل علت دې مطلب دادې چې مونږ ستا وعظ او نصیحت ځکه نه قبلوو چې دا د تیرو شوو خلقو د ځان نه جوړې شوې خبرې دی.

[ایاتونه: ۱٤۱-۱۵۹]

﴿كذبت ثمود المرسلين﴾ ﴿إذ قال لهم أخوهم صالح ألا تتقون﴾ ﴿إني لكم رسول أمين﴾ ﴿فاتقوا الله وأطيعون﴾ ﴿وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ﴾ مَا ﴿أجري إلا على رب العالمين﴾ ﴿أتتركون في ما ها هنا﴾ من الخيرات ﴿آمنين﴾ ﴿في جنات وعيون﴾ ﴿وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ﴾ لَطِيف لَيِّن ﴿وَتَنْحِتُونَ من الجبال بيوتاً فرهين﴾ بَطِرِينَ وَفِي قِرَاءَة فَارِهِينَ حَاذِقِينَ ﴿فاتقوا الله وأطيعون﴾ فيما امرتكم به ﴿ولا تطيعوا أمر المسرفين﴾ ﴿الَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ﴾ بِالْمَعَاصِي ﴿وَلَا يُصْلِحُونَ﴾ بطاعة الله ﴿قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ﴾ الَّذِينَ سَحَرُوا كَثِيرًا حَتَّى غَلَبَ عَلَى عَقْلهمْ ﴿مَا أَنْتَ﴾ أَيْضًا ﴿إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا فَأْتِ بِآيَةٍ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ﴾ فِي رِسَالَتك ﴿قَالَ هَٰذِهِ نَاقَةٌ لَهَا شِرْبٌ﴾ نَصِيب مِنَ الماء ﴿ولكم شرب يوم معلوم﴾ ﴿وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ﴾ بعظم العذاب ﴿فَعَقَرُوهَا﴾ عَقَرَهَا بَعْضهمْ بِرِضَاهُمْ ﴿فَأَصْبَحُوا نَادِمِينَ﴾ عَلَى عقرها ﴿فأخذهم العذاب﴾ الموعود به فهلكوا ﴿إن في ذلك لآية وما كان أكثرهم مؤمنين﴾ ﴿وإن ربك لهو العزيز الرحيم﴾

ترجمه: ثمود (هم) پیغمبرانو لره دروغژن اوګنړل کله چه د هغوی ورور صالح هغوی ته اووئیل چه ستاسو (د خدائ نه) ویره نه کیږی؟ زه ستاسو امانت دار پیغمبریم نو تاسو د الله نه اویرېږئ اوزما وینا اومنئ، او زه ستاسو نه په دې باندې هیڅ بدله نه غوارم، زما بدله خو په رب العالمین باندې د، آیا تاسو به په دې (د راحت په شیزونو کښې) په بې فکرئ سره پرېښودلې شئ کوم چه دلته (په دنیا کښې) موجود دی، (یعنی) په باغونو او چینو اوپټو او کجورو کښېچه د هغې غونچې نرمې او نازکې دی (یاد کوموغونچې چه یوبل سره پیوسته دی) او تاسو غرونه تراشئ او په فخرسره کورونه جوړوئ، (په یو قراءت کښې فارهین دې یعنی په ماهرانه اندازسره) نو د الله نه اویرېږئ او (د کوم کار د پاره چه زه تاسو ته وینا کوم په هغې کښې) زما خبره اومنئ او د بې باکه د حدنه تیری کوونکو خبره مه منئ کوم چه (د نافرمانئ په ذریعه) په ملک کښې فساد راپورته

کوی، اود الله تعالى اطاعت کولو سره اصلاح نه کوی، نودې خلقواووئيل چه په تاباندې خوچادیرغټ جادوکړې دې، (یعنی تاسو په هغوخلقوکښې یئ چه په کوموباندې زبردست جادوشوې وی تردې پورې چه عقل ئې مغلوب شوې وی)، ته هم زمونږ په شان یوانسان یې لهذا که ته (د پیغمبرئ په خپله دعوی کښې) رښتونې یې نوڅه معجزه وړاندې کړه (صالح علیه السلام) اوفرمائیل چه دا یوه اوښه د د اوبود یوې ورځې واریه ددې وی او د یوه ورځ د اوبوپه ستاسودپاره مقرره وی، (اوخبردار اوسئ) په بدنیت سره دې ته لاس اونه لګوئ ګنی نود یوې ډیرې درنې ورځې عذاب به تاسولره په خپله نیوکه کښې را اونیسی (د عذاب د دروندوالی په وجه) بیا هغوی دا (اوښه) هلاکه کړه بیا هغوی (د هغې په هلاکولو) پښیمان شو نوهغوی لره موعودعذاب را اونیول، (چه دغې په نتیجه کښې هلاک شول) یقینا په دې (واقعه) کښې غټ عبرت دې اوپه هغوی کښې ډیرخلقوایمان رانه وړو او بې شکه ستارب ډیرزوره ور ډیر مهربان دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: كذبت ثمود. كذبت فعل مؤنث راوړلې شوځکه چه ثمود د قبیلې په معنی کښې دې. ثمود د قوم ثمود د مشرنیکهٔ نوم دې هم د هغه په نامه د قوم نوم کیښودلې شوې دې، نسب ئې داسې دې ثمودبن عبیدبن عوص بن عاد بن ارم بن سام بن نوح، ثمود د حضرت صالح علیه السلام امت دې حضرت صالح علیه السلام دوه سوه اتیاکاله عمرموندلې وو د حضرت صالح اوحضرت هودعلیهما السلام ترمینځه سل کاله وقفه د. (حاشیه جلالین)

قوله: فيماههنامن الخيرههنااى فى الدنيا، من الخير، د مابیان دې اوددې نه مراد د دنیاراحت اود آرام سامان دې، آمنين، د تترکون د ضمیرفاعل نه حال دې.

قوله: في جنت. الخ داد اعادې دجارسره د فیماههنانه د تفصیل دپاره بدل دې.

قوله: طلعها طلع ابتداء رانښکاره کیدونکې غونچه، بیابلح بیابسربیارطب بیاتمر، هضیم نرم نازک،

قوله: الذين يفسدون في الارض: د مسرفین صفت کاشفه دې ځکه چه دلته د مسرفین معروفه معنی نه د مراد.

[ایاتونه: ۱٦۰-۱۷۵]

(كذبت قوم لوط المرسلين) (إذ قال لهم أخوهم لوط ألا تتقون) (إني لكم رسول أمين) (فاتقوا الله وأطيعون) (وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ) ما (أجري إلا على رب العالمين) (أتأتون الذكران من العالمين) الناس (وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ) أقبالهن (بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ) متجاوزون الحلال إلى الحرام (قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا لُوطُ) عن إنكارك علينا (لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِينَ) من بلدتنا (قَالَ) لوط (إِنِّي لِعَمَلِكُمْ مِنَ الْقَالِينَ) المبغضين (رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ) أي من عذابه (فنجيناه وأهله أجمعين) (إلا

عَجُوزًا امرأته (فِي الْغَابِرِينَ) الباقين أهلكناها (ثُمَّ دَمَّرْنَا الْآخَرِينَ) اهلكناهم (وأمطرنا عليهم مطرا) حجارة من جملة الا هلاك (فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ) مطرهم (إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ) (وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ)

ترجمه: قوم لوط (هم) پیغمبرانو لره دروغژن اوګڼړل کله چه د هغوی ورور لوط ﷺ هغوی ته اووئیل چه آیاتاسو (د الله نه) نه یریږئ؟ زه ستاسو امانت دار پیغمبریم نو تاسو د الله نه اویریږئ اوزما طاعت اوکړئ اوزه ستاسونه په دې باندې هیڅ صله (بدله) نه غوارم زما صله خود رب العالمین په ذمه د. آیا تاسو د اهل عالم (یعنی انسانانو) نه د سړو سره شهوت پوره کوئ؟ او ستاسو د بیبیانو چه کوم ځیز (یعنی د هغوی شرمګاهونه) ستاسو رب ستاسو د پاره پیدا (حلال) کړی دی نوهغه موپریښی دی، (د خپلو بیبیانو شرمګاهونه تاسو پریښې دی اود نارینئونه شهوت پوره کوئ، د اتفسیر او ترجمه به په هغه صورت کښې وی چه مِن د تبغیض د پاره اومنلې شی، اوکه مِن د بیان د پاره شی نو مِن أَزْوَاجِكُمْ به د مَا بیان شی. مطلب به داشی چه الله تعالی کوم ځیز یعنی ښځه ستاسو د پاره جائزه کړې د هغه تاسو پریښې د اود نارینئونه شهوت پوره کوئ کوم چه حرام دې.) بلکه تاسو د حد (یعنی د حلالونه حرامو طرف ته تجاوز کوؤنکی یئ، (د قوم) خلقو جواب ورکړو، اې لوط کهٔ ته (په مونږ باندې د انکار کولونه) منع نه شوې نو یې شکه (زمونږ د ښارنه) به اوویستلې شې (حضرت لوط ﷺ ځواب ورکړو چه زه ستاسو د حرکت ډیرناخوښ یم، اې زما پروردګاره مااوزما اهل ته د دوی د عملونو (د عذاب نه) خلاصې راکړه نومونږ د ته اود د ټولو متعلقینو ته خلاصې ورکړو سیوا د یوې بوډې نه (کومه چه دد ښځه وه) په شاته پاتې کیدونکو کښې ایساره شوه کوم چه مونږ هلاک کړل، بیامونږ نورټول (هم) هلاک کړل بیامونږ په هغوی باندې د یو خاص قسم (یعنی د کاڼړو) باران را اوورولو (منجمله د هلاکولو د طریقونه) نو ډیربد باران وو کوم چه په هغه خلقو باندې رااوورید و کوم چه یرولې شوی وو بلاشبه په دې کښې عبرت دې او په دوې کښې زیات خلق ایمان نه راوړی او یې شکه ستارب د ډیر غالب رحمت والا دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: أَخُوهُمْ لُوطٌ: د لوط ﷺ خود قوم لوط سره نه نسبی تعلق وو اونه دینی مشارکت، ځکه چه حضرت لوط ﷺ د حضرت ابراهیم ﷺ وراره وو، او د مشرق په ښارونو کښې د بابل اوسیدونکې وو، د حضرت ابراهیم ﷺ سره ئې هجرت کړې وو او تشریف ئې راوړې وو، حضرت ابراهیم ﷺ په شام کښې په خلیل مقام کښې قیام اوفرمائیلو او حضرت لوط ﷺ ورسره نژدې یعنی د یوې ورځې په مسافت لرې په اهل سدوم کښې استوګنه اختیار کړه اود سخرګنې رشته ئې هم په دې خلقو کښې قائمه شوې وه په دې وجه حضرت لوط ﷺ ته د دوی ورور اووئیلې شو.

قوله: ماخلق لکم: أي أحل لكم من أزواجكم،دا د مَابيان دې، شارح علام د من أزواجكم تفسير په أقبالهنّ سره کولو کښې دوؤخبروته اشاره کړې د اوله خبره داچه په ماخلق لکم کښې د مارعايت مقصوددې، کۀ د ماپه ځائ من وې نوددې تفسيرمن أزواجكم کافی وو،د أقبالهنّ حاجت نه وو،دويم داچه په أقبالهن سره ئې اشاره اوکړه چه ستاسو د بيبيانو د حلال والی مطلب دادې چه د هغوی قبل ستاسودپاره حلال دې او دبر نه دې حلال،ځکه چه قبل موضع دحرث دې نه چه دبرځکه چه دبر موضع دفرث دې.

قوله: عادون دا د عادجمع د معنی ئې د حدنه وړاندې والې کوونکې،يعنی حق پرېښودونکې باطل اختيارونکې اوحلال پرېښودونکې اوحرام اختيارونکې،

قوله: من القالين قالين د قالی جمع د اوماد ئې قلو ياقلی د،ددې په معنی کښې د نفرت اود بې زارئ مفهوم هم شامل دې،اصل معنی ئې د غوړخول ورتول،من القالين د قال محذوف سره متعلق دې اود إنّ خبردې.

قوله: من عذابه،دا د مضاف محذوف طرف ته اشاره د أی من عذاب ممايعملون،ځکه چه د دوی په شان د عملونونه د بچ کولوهيڅ مطلب نشته،ځکه چه پيغمبرخوهسې هم دداسې قبيحوعملونونه محفوظ وی مطلب دادې چه د دوی د بدوعملونوپه بدل کښې چه کوم عذاب په دوی باندې نازليدونکې دې د هغې نه ماداوزمامتعلقين بچ اوساته.

قوله: إلا عجوزا،دا لفظ په اهل کښې د شامليدو په وجه سره مستثنٰی متصل د،اوپه دې اعتبارسره چه هغه د ايمان والؤنه نه وه اود حضرت لوط عليه السلام په حقيقت کښې اهل د ايمان والا وؤنوپه دې اعتبارسره دامستثنٰی منقطع د،امرءته د عجوزا نه بدل دې د حضرت لوط عليه السلام د کافرې ښځې نوم واعله وو،اوپه تفسيرروح البيان کښې ئې نوم والهه ليکلې دې،د حضرت لوط عليه السلام يوه ښځه مؤمنه هم وه،کافره ښځه چونکه د قوم سره د يوفکر والا وه،اود هغوی په بې حيائی باندې خوشحاله وه په دې وجه هغه هم د قوم سره هلاکه شوه د حضرت لوط عليه السلام قوم د زمکې په الټه کولواود کانړود باران په ورولواو د مختلفوعذابونو په ذريعه هلاک کړې شو.

[اياتونه:۱۷۶ - ۱۹۱]

(كَذَّبَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ) وَفِي قِرَاءَةٍ بِحَذْفِ الْهَمْزَةِ وَإِلْقَاءِ حَرَكَتِهَا عَلَى اللَّامِ وَفَتْحِ الْهَاءِ هِيَ غَيْضَةُ شَجَرٍ قُرْبَ مَدْيَنَ (الْمُرْسَلِينَ) (إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ) لَمْ يَقُلْ لَهُمْ أَخُوهُمْ لِأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ مِنْهُمْ (أَلَا تَتَّقُونَ) (إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ) (فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ) (وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ) مَا (أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ) (أَوْفُوا الْكَيْلَ) أَتِمُّوهُ (وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ) النَّاقِصِينَ (وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ) الْمِيزَانِ السَّوِيِّ (وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ) لَا تُنْقِصُوهُمْ مِنْ حَقِّهِمْ شَيْئًا (وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ) بِالْقَتْلِ

وَكَسْرِهَا مِنْ عَثِيَ بِكَسْرِ الْمُثَلَّثَةِ أَفْسَدَ وَمُفْسِدِينَ حَالٌ مُؤَكِّدَةٌ لِمَعْنَى عَامِلِهَا (واتقوا الذي خلقكم والجبلة) الخليقة (الأولين) (قالوا إنما أنت من المسحرين) (وَمَا أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَإِنْ) مُخَفَّفَةٌ مِنَ الثَّقِيلَةِ وَاسْمُهَا مَحْذُوفٌ أَيْ أَنَّهُ (نظنك لمن الكاذبين) (فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا) بِسُكُونِ السِّينِ وَفَتْحِهَا قِطَعًا (مِّنَ السَّمَاءِ وَإِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ) فِي رِسَالَتِكَ (قَالَ رَبِّي أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ) فَيُجَازِيكُمْ بِهِ (فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ) هِيَ سَحَابَةٌ أَظَلَّتْهُمْ بَعْدَ حَرٍّ شَدِيدٍ أَصَابَهُمْ فَأَمْطَرَتْ عَلَيْهِمْ نَارًا فَاحْتَرَقُوا (إنه كان عذاب يوم عظيم) (إن في ذلك لآية وما كان أكثرهم مؤمنين) (وإن ربك لهو العزيز الرحيم)

ترجمه: ايکه والو (هم) د رسولانو تکذيب اوکړو (په يو قراءت کښې د همزې په حذف سره او د ي د حرکت لام ته ورکولو سره او د ة په فتحې سره راغلې دي، ايکه د مدين سره نزدې د ونو يو بن وو،) کله چه هغوی ته حضرت شعيب عليه السلام اوفرمائيل (دلته ئې أخوهم اونه وئيلو ځکه چه شعيب عليه السلام د دوی نه نه وو) آيا تاسو نه ويرېږئ؟ زه تاسو د پاره امانت دار پيغمبر يم د الله نه يره اوکړئ او زما خبره اومنئ په دې باندې زه ستاسو نه څه بدله نه غوارم زما بدله خو د عالم په پروردګار باندې د ناپ پوره ورکوئ او په کمی کوونکو کښې مه شامليږئ په صحيح تلې سره تول کوئ (داسې تله چه هغې کښې پاسنګ (فرق) نه وی) د خلقو په څيزونو کښې کمې مه کوئ، (يعنی د هغوی د حق نه هيڅ څيز مه کموئ) او په ملک کښې (د قتل او داکو په ذريعه په سرکشئ سره فساد خورولو سره مه ګرځئ (عثی د ث د کسره سره په معنی د افسد دي. مفسدين د خپل عامل تعثوا نه معنی حال دې) د هغه نه يره اوکړئ چاچه تاسو او (نور) وړاندينی مخلوق پيدا کړې دې، دې خلقو اووئيل چه ته په هغه خلقو کښې ئې چه په چاباندې جادو شوې دې او ته خو يس زمونږ په شان انسان ئې او مونږ تا په دروغژنو کښې ګڼړو، (دلته ان مخفف د مثقل نه راغلې دې او اسم ئې محذوف دې أی انه) نو که ته (په خپله دعوی د رسالت کښې) رښتونې ئې نو په مونږ باندې د اسمان نه يوه ټکړه راوغورځوه. (کسفا د کاف په کسرې سره او د سين په سکون سره معنی ئې د ټکړه. شعيب عليه السلام اوفرمائيل زما رب ستاسو د عملونو نه به خبر دې (نو هغه به تاسو ته د دې بدله درکوی) نو هغه خلقو د شعيب عليه السلام مسلسل تکذيب کولو نو دوی له د سوری والا د ورځې عذاب را اونيول، (هغه يوه وريځ وه، د سختې ګرمئ په دوپ کښې د مبتلا کيدو نه پس په هغوی باندې سورې شوې وو، د هغې نه پس دغې وريځې په دوی باندې اور اوور ولو، چه د هغې په وجه هغوی اوسوزيدل او خاورې شول) بې شکه هغه د يوې لوئې ورځې عذاب وو بيلا شبه په دې کښې يوه لويه نخښه د او په دوی کښې زيات د ايمان والا نه وو او يقينا ستا رب د غلبې والا مهربانئ والا دې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: أيکة په يو قراءت کښې ليکة هم دي. أيکه ګڼر ځنګل ته وئيل کيږي د اصحاب الايکه نه مراد د حضرت شعيب عليه السلام قوم او د مدين د طرفونو اوسيدونکی مراد دی. وئيل شوی

دی چه ایکه گنري وني ته هم ونیل کیږي،غیضه د غین په فتحې سره ځنګل او ډیرو بوټو ته ونیل کیږي،مدین د حضرت شعیب علیه السلام د کلي نوم دې،مدین بن ابراهیم علیه السلام دا کلي آباد کړي وو،په دې وجه هم دد په نوم سره یادیږي،مدین او د مصر ترمینځه د اتو ورځو مسافت دې.

قوله: مفسدین د تعثوا د معنی نه حال مؤکد دې،د حال او د ذوالحال لفظونه اګرچه مختلف دی لیکن معنی ئې یو ه د،ځکه چه تعثوا د عثی نه مشتق دې او معنی ئې فساد کولو.

قوله: الجبلة او جبل د واړه د مخلوق په معنی دی،په یو بل ځائ کښې ئې فرمائیلی دی "وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِيرًا" دې (شیطان) په تاسو کښې ډیر خلق بې لارې کړل.

قوله: فأسقط ځنو دا جمله د ان کنت من الصادقین د پاره جوابِ مقدم ګرځولي دې او ځنو حضراتو جواب د شرط محذوف ګرځولي دې په کوم باندې چه جمله د (فأسقط) دلالت کوی.

[ایاتونه: ۱۹۲ - ۲۲۷]

(وإنه) أي القرآن (لتنزيل رب العالمين) (نزل به الروح الأمين) جبريل (على قلبك لتكون من المنذرين) (بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ) بَيِّن وَفِي قِرَاءَة بِتَشْدِيدِ نَزَّلَ وَنَصْب الرُّوح وَالْفَاعِل اللّٰه (وَإِنَّهُ) ذِكْر الْقُرْآن الْمُنَزَّل عَلَى مُحَمَّد (لَفِي زبر) كتب (الأولين) كالتوراة والإنجيل (أولم يكن لهم) لِكُفَّارِ مَكَّة (آيَة) عَلَى ذَلِكَ (أَنْ يَعْلَمَهُ عُلَمَاء بَنِي إِسْرَائِيل) كَعَبْدِ اللّٰه بن سلام وأصحابه من الذين آمنوا فإنهم يخبرون بذلك وَيَكُن بالتحتانية وَنَصْب آيَة وبالفوقانية وَرَفْع آيَة (وَلَوْ نَزَّلْنَاهُ عَلَى بَعْضِ الْأَعْجَمِينَ) جَمْع أَعْجَم (فَقَرَأَهُ عَلَيْهِمْ) كُفَّار مَكَّة (مَا كَانُوا بِهِ مُؤْمِنِينَ) أَنَفَة مِنْ اتِّبَاعه ٢٠ - (كَذَلِكَ) أَيْ مِثْل إِدْخَالنَا التَّكْذِيب بِهِ بِقِرَاءَةِ الْأَعْجَمِيّ (سَلَكْنَاهُ) أَدْخَلْنَا التَّكْذِيب بِهِ (فِي قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ) كفار مكة بقراءة النبي (لا يؤمنون به حتى يروا العذاب الأليم) (فيأتيهم بغتة وهم لا يشعرون) (فَيَقُولُوا هَلْ نَحْنُ مُنْظَرُونَ) لِنُؤْمِن فَيُقَال لَهُمْ لَا فقالوا متى هذا العذاب قال تعالى (أفبعذابنا يستعجلون) (أفرأيت) اخبرني (إن متعناهم سنين) (ثُمَّ جَاءَهُمْ مَا كَانُوا يُوعَدُونَ) من العذاب (مَا) اسْتِفْهَامِيَّة بِمَعْنَى أَيّ شَيْء (أَغْنَى عَنْهُمْ مَا كَانُوا يُمَتَّعُونَ) فِي دَفْع الْعَذَاب أَوْ تَخْفِيفه أَيْ لَمْ يُغْنِ (وَمَا أَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنْذِرُونَ) رُسُل تُنْذِر أَهْلهَا (ذِكْرَى) عِظَة لَهُمْ (وَمَا كُنَّا ظَالِمِينَ) فِي إِهْلَاكهمْ بَعْد إِنْذَارهمْ وَنَزَلَ رَدًّا لِقَوْلِ الْمُشْرِكِينَ (وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ) بالقرآن (الشَّيَاطِين) (وَمَا يَنْبَغِي) تصلح (لَهُمْ) أن ينزلوا به (وَمَا يَسْتَطِيعُونَ) ذَلِكَ (إِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ) لِكَلَامِ الْمَلَائِكَة (لَمَعْزُولُونَ) بِالشُّهُبِ (فَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ إِلَهًا آخَرَ فَتَكُونَ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ) إنْ فَعَلْت ذَلِكَ الَّذِي دَعَوْك إلَيْهِ (وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ) وَهُمْ بَنُو هَاشِم وَبَنُو الْمُطَّلِب وَقَدْ أَنْذَرَهُمْ جِهَارًا رَوَاهُ الْبُخَارِيّ وَمُسْلِم (وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ) أَلِنْ جَانِبك (لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ) الموحدين (فَإِنْ عَصَوْكَ) عشيرتك (فَقُلْ) لَهُمْ (إِنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تَعْمَلُونَ) مِنْ عِبَادَة غَيْر اللّٰه (وَتَوَكَّلْ) بِالْوَاوِ وَالْفَاء (عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ) اللّٰه أَيْ فَوِّضْ إلَيْهِ جَمِيع أُمُورك (الَّذِي يَرَاكَ

حِينَ تَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ (وَتَقَلُّبَكَ) فِي أَرْكَانِ الصَّلَاةِ قَائِمًا وَقَاعِدًا وَرَاكِعًا وَسَاجِدًا (فِي السَّاجِدِينَ) الْمُصَلِّينَ (إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ) (هَلْ أُنَبِّئُكُمْ) يَا كُفَّارَ مَكَّةَ (عَلَى مَنْ تَنَزَّلُ الشَّيَاطِينُ) بِحَذْفِ إِحْدَى التَّائَيْنِ مِنَ الْأَصْلِ (تَنَزَّلُ عَلَى كُلِّ أَفَّاكٍ) كَذَّابٍ (أَثِيمٍ) فَاجِرٍ مِثْلِ مُسَيْلِمَةَ وَغَيْرِهِ مِنَ الْكَهَنَةِ (يُلْقُونَ) الشَّيَاطِينُ (السَّمْعَ) مَا سَمِعُوهُ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَى الْكَهَنَةِ (وَأَكْثَرُهُمْ كَاذِبُونَ) يَضُمُّونَ إِلَى الْمَسْمُوعِ كَذِبًا كَثِيرًا وَكَانَ هَذَا قَبْلَ أَنْ حُجِبَتِ الشَّيَاطِينُ عَنِ السَّمَاءِ (وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ) فِي شِعْرِهِمْ فَيَقُولُونَ بِهِ وَيَرْوُونَهُ عَنْهُمْ فَهُمْ مَلُومُونَ (أَلَمْ تَرَ) تَعْلَمُ (أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ) مِنْ أَوْدِيَةِ الْكَلَامِ وَفُنُونِهِ (يَهِيمُونَ) يَمْضُونَ فَيُجَاوِزُونَ الْحَدَّ مَدْحًا وَهِجَاءً (وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ) فَعَلْنَا (مَا لَا يَفْعَلُونَ) يَكْذِبُونَ (إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ) مِنَ الشُّعَرَاءِ (وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا) لَمْ يَشْغَلْهُمُ الشِّعْرُ عَنِ الذِّكْرِ (وَانْتَصَرُوا) بِهَجْوِهِمُ الْكُفَّارَ (مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا) بِهَجْوِ الْكُفَّارِ لَهُمْ فِي جُمْلَةِ الْمُؤْمِنِينَ فَلَيْسُوا مَلُومِينَ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى (لَا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلَّا مَنْ ظُلِمَ) وَقَالَ تَعَالَى (فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ) (وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا) مِنَ الشُّعَرَاءِ وَغَيْرِهِمْ (أَيَّ مُنْقَلَبٍ) مَرْجِعٍ (يَنْقَلِبُونَ) يَرْجِعُونَ بَعْدَ الْمَوْتِ

ترجمه: بې شکه دا(قرآن کریم)د رب العالمین نازل کړې شوې دې،دې لره روح الامین (یعنی جبرائیل علیه السلام)ستا په زړه باندې رانازل کړې دې په صفاعربۍ ژبه کښې ددې دپاره چه ته په داړکوونکو کښې شې (اوپه یوقراءت کښې نزّل په تشدید سره اود روح په نصب سره راغلې دې اوفاعل ئې الله دې) اوبې شکه (په محمد صلی الله علیه وسلم باندې د نازل شوی)قرآن خبر د پخوانو خلقو په کتابونو(لکه تورات او انجیل)کښې دې آیا د دوی دپاره د قرآن د صداقت دانخښه کافی نه د چه د بنی اسرائیلو علماء ئې هم پیژنی ؟(لکه عبد الله بن سلام اودد هغه ملګری چه ایمان ئې راوړې دې،هغوی ددې د حقانیت خبرورکوی اویکن په یاء سره او د آیة په نصب سره او په تاسره اود آیة په رفع سره)اوکهٔ بالفرض داقرآن مونږ په یوعجمی باندې نازل کړې وې اوهغه داقرآن د مکې کافرانو ته اور ولی نو بیا به هم دې خلقو(دد د اتباع نه تکبرکولو په وجه) په د باندې ایمان نه وې راوړې،(اعجمین د اعجم جمع د،هم دغه شان(یعنی لکه څنګه چه د عجمی د قراءت په وجه د قرآن تکذیب مونږددوی په زړونو کښې داخل کړې دې)د مجرمانو(د کفارمکه)په زړونو کښې (د نبی د قراء ت په وجه هم)تکذیب داخل کړې دې،داخلق په دې قرآن باندې ایمان نه راوړی تردې پورې چه دردناک عذاب اوګوری بیاهغه عذاب په دوی باندې ناڅاپه راشی اودوی ته ئې هیڅ خبرهم نه وی،بیابه وائی چه آیامونږته به مهلت راکړې شی ؟(دې دپاره چه مونږ ایمان راوړو ،نو دوی ته به جواب ورکړې شی چه نه دې خلقو پوښتنه اوکړه چه داعذاب به کله راځی نو الله تعالی اوفرمائیل) آیاداخلق زماعذاب په جلتۍ سره غواړی ؟ ښه دا اوښایئ که مونږدوی لره څوکاله هم فائد اخستودپاره پریږدو بیاد هغې نه پس په دوی باندې داعذاب راشی کوم چه دوی سره ئې وعد کړې شوې د نوهغه د کالونوخوشحالی به

(ددوی نه د عذاب د لري كولو ياد آسانولو دپاره) څه په كارراشي ؟اومونږهيڅ يو كلي نه دې هلاک کړې مگرداچه د هغوی دپاره داروركوونكی (داسې پيغمبران)موجود وو چه هغوی به ئې (د نصيحت په توگه)يرول،(اود داروركولونه پس د هغوی په هلاكولو كښې)مونږظالمان نه وو ،(اود مشركانو د خبرې د ردكولودپاره داآيت نازل شو.يعنى)داقرآن شيطانانونه دې راوړې اونه هغوی ددې قابل دی(چه داقرآن نازل كړی اورائې ورړی)اونه په هغوی كښې ددې مجال شته،(بلكه)بې شكه هغوی خو(د فرښتود خبرو)اوريدونه هم محروم كړی شوی دی،(يعنى د شعلو په ذريعه را منع كړې شوی دی)نو ته د الله سره بل څوک مه راغواړه گنی ته به د سزامونده ونکونه شې (كڅ تاهغه كاراوكړو(كوم طرف ته چه ته راغوښتل رابلی)اوته خپل نزدې خپلوان اوډاركړه (اوهغه بنوهاشم اوبنومطلب دی اوهغوی ئې په ښكاره اويره ول،ددې روايت بخاری اومسلم كړې دې)اوپه مؤمنينو(يعنى موحدينو)كښې چه كوموستاتابعداری اختياركړې د نوته د هغوی سره په نرمئ (عاجزی) سره وراندې كيږه،او(كه ستاكورنئ)ستانافرمانی كوی نوورته اوايه چه زه ستاسو د عملونونه (يعنى د غيرالله د بندگئ نه)بری يم اوپوره اعتمادپه غالب مهربان الله باندې ساته(وتوكّل په واو اوفاء دواړوسره دې يعنى خپل ټول كارونه هغه ته اوسپاره)كوم چه ستامانځهٔ ته پاڅيدل او(د مانځهٔ په اركانوكښې)ستاناسته پاسته(يعنى قيام قعودركوع اوسجد)په سجد كوونكوكښې (يعنى په مانځهٔ كوونكوكښې) وينی بې شكه هغه اوريدونكې اوپوهه دې (اې د مكې كافرانو)آيازه تاسوته اوښايم چه شيطانان په كوم كس باندې راكوزيږی ؟(دلته اصل كښې په دوؤتاگانوكښې يوه تاء حذف شوې د،نوواوړئ چه شيطانان)په هردروغژن گنهگارباندې راكوزيږی،(په فاجرباندې لكه په كاهنانوكښې مسيلمه كذاب وغيره، او دا شيطانان اوريدلې شوې خبره (يعنى كومه خبره چه د فرښتونه واوری كاهنانوته ئې)القاء كوی اوپه دوی كښې زيات تردروغژن دی (په دې اوريدلې شوې خبره كښې ډيردروغ يوځائ كوی او داد شيطانانواسمان ته د ختلونه د بنديدونه وراندې خبره د)اود شاعرانوتابعداری (د اهغوی په شعر كښې) بې لارې خلق كوی (نوهغوی شعرونه وائی اود شاعرانونه نقل كوی نوهم دادې مذموم اود مذمت قابل)آياته نه پوهيږې چه داخلق (د كلام اووددې د اصنافو)په هره وادی كښې سردانه گرځی (يعنى حيران گرځی نوځكه خوپه مدح اوهجوكښې د حدنه تيرې كوی(يعنى دروغ وائی) سيواد هغه (شاعرانو)نه چه ايمان لری اونيک عملونه كوی اوډيرالله لره ياد وی،(يعنى شعر هغوی لره د الله نه نه دی غافل كړی او(د كافرانو هجوكوی اود)خپل مظلوم والی انتقام اخلی (ددې كافرانوفی الجمله د مومنانو د هجوكولوپه وجه لهذاداخلق د مذمت قابل نه دی،الله تعالی په بدئ سره آوازپورته كول نه خوښوی ليكن مظلوم ته اجازت دې نوچاچه په تاسوباندې ظلم كړې دې نوتاسوهم په هغوی باندې

دومره ظلم کولې شي) او نږدې د چه ظالمانو (دې شاعرانو وغیره) ته به معلومه شي چه (د مرګ نه پس به) کوم اړخ ته ګرځي (یعنی کومه ټکانه به ئې وي).

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: بلسان عربي: د به د ضمیرنه په اعاد د جارسره بدل دې اود المنذرین متعلق هم کیدې شي یعنی ددې دپاره چه ته د هغه پیغمبرانونه شې چه کوموپه عربئ ژبه دار ورکړې دې اوزیرې ئې ورکړې دې، لکه هود علیه السلام اوصالح علیه السلام اوشعیب علیه السلام اواسماعیل علیه السلام.

قوله: أي ذکرالقرآن: ددې عبارت د زیاتولومقصد د یوې شبهې جواب دې شبه داد چه د الله تعالی د قول "إنه لفی زبرالاولین" نه دامعلومیږی چه قرآن کریم په نفس نفیس سره په وړاندینوکتابونوکښې موجوددې حال دادې چه خبره داسې نه د؟

جواب: د جواب خلاصه داد چه قرآن کریم په نفس نفیس سره په وړاندینوکتابونوکښې موجودنه دې بلکه د قرآن کریم ذکراوصفت په کتب سابقه کښې موجوددې.

قوله: کعبدالله بن سلام واصحابه: د عبدالله بن سلام رضی الله عنه ملګری کوم چه د یهودیت نه اسلام ته راغلی وو نو د عبدالله بن سلام رضی الله عنه نه علاوه څلورنورکسان وو (۱) اسد رضی الله عنه (۲) اسید رضی الله عنه (۳) ثعلبه رضی الله عنه (۴) ابن یامین رضی الله عنه، داپنځه کسان علماء یهودو وو، وروستوئې ایمان راوړې دې اوښه ایمان ئې راوړې دې.

قوله: یکن بالفوقانیة ونصب آیةً: دا آیةً د یکن خبرمقدم دې اواسم ئې ان یعلمه دې اود آیة په رفع سره د تکن اسم دې اولهم ئې خبرمقدم دې او أن یعلمه د اسم نه بدل دې، که تکن تامه شي نو آیة ئې فاعل شي او أن یعلمه به د هغې نه بدل شي.

قوله: جمع أعجم: یعنی أعجمین د أعجم جمع د.

سوال: أفعل فعلاء جمع خوپه واو نون اویاء نون سره نه راځی لهٰذاد أعجم جمع أعجمین صحیح نه د؟

جواب: داپه اصل کښې اعجميّ دې اود نسبت والا یاء د تخفیف دپاره حذف کړې شوې د نوپه دې وجه د اعجميّ جمع په اعجمین سره صحیح د.

قوله: کذالك: دا د سلکنه دپاره معمول دې اوپه سلکنه کښې د ه ضمیرمرجع قرآن دې د مضاف په حذف سره، أی سلکنا تکذیبه.

قوله: أفرءیت: عطف په فیقولوا باندې دې، په مینځ کښې جمله معترضه د.

قوله: إلا لها منذرون: داپوره جمله د قریة دپاره صفت دې اود قریة نه حال هم کیدې شي.

قوله: من قریة: دلته من په مفعول باندې زائد دې، اوداپه سابق کښې د نفی په وجه

جائزدي.

سوال: دلته د إلاّ د جملې نه ئې واو ولې پريښودو حال دادې چه "وما أهلكنامن قرية الا ولهاكتاب معلوم" کښې واو موجوددې؟

جواب: اصل ترک د واؤ دې ځکه چه جمله د قرية صفت دې اود موصوف اود صفت ترمينځه د واؤ نه کيدل اصل دې اوکه چرته واؤ راؤړلې شی نود وصل صفت بالموصوف د تاکيددپاره راؤړلې کيږی لکه "سبعة وثامنهم كلبهم" (جمل)

لهاد محذوف سره متعلق د اوخبرمقدم دې اومنذرون ئې مبتدأ مؤخرد. مبتدأ اوخبردواړه جمله ياد قرية دپاره صفت دې ياترې حال دې، د خبرکيدوپه صورت کښې تقديرد عبارت به داسې شی قدانذراهلهامنذرون. اود حال کيدوپه صورت کښې به تقديرداسې شی الا كائناًلهامنذرون.

قوله: ذكرٰى :داخوياد منذرون د ضميرنه حال دې ای منذرون ذوی ذكرٰى، يامذكرين ذكرٰى، اوكۀ په خپل ظاهرباندې پاتې کړې شی نودامبالغةً حمل شی، لکه زيدعدل، يا ذكرٰى منصوب دې د مصدريت په بناء، په دې صورت کښې منذرون د مذکّرون په معنی سره شی، تقديرد عبارت به داسې شی مذكرون ذكرى ای تذكرة ذكرٰى د منذرون دپاره علت يعنی مفعول له کيدې شی ای تنذرهم لاجل تذكيرهم العواقب او ذكرٰى دمبتدأ محذوف د پاره خبرهم کيدې شی ای هٰذه ذكرٰى په داسې صورت کښې جمله معترضه شی.

قوله: ردّالقول المشركين: د قول مقوله محذوفه داوهغه داد انّ الشياطين يلقون القرآن اليه.

قوله: شهب: د شِهاب جمع د معنی ئې د، د اوربڼک، مات شوې ستوري.

قوله: فتكون من المعذبين: داد شرط محذوف دپاره جزامقدمه د لکه ځنګه چه شارح ورته په ان فعلت ذالک سره اشاره کړې د.

قوله: بالواووالفاء: يعنی په توکّل کښې دوه قراءته دی يوپه واؤسره بل په فاء سره، په واؤ سره د کيدلوپه صورت کښې په انذرباندې عطف شی اود فاء په صورت کښې د جواب شرط يعنی فقل انی بریئ نه بدل واقع شی.

قوله: تقلبك: د يراک په کاف باندې عطف دې.

قوله: فی الساجدين: دلته فاء په معنی د مع د.

قوله: على من: تنزل پورې متعلق دې کۀ انبئکم دريو مفعولوته متعدی شی نوجمله د تنزل الشياطين به قائم مقام د دوؤمفعولوشی يعنی د ثانی اود ثالث. او اوکښې مفعول ضميرد کم دې، اوکۀ متعدی دوؤمفعولوته شی نوداجمله چه قائم مقام دمفعول ثانی شی.

قوله: مثل مسیلمه: د مسیلمه په مثال کښې راوړل مناسب نه ښکاري ځکه چه اول خو مسیلمه دحضور ﷺ دبعثت به پس د نبوت دعوی اوکړه کوم وخت چه د شیطانانو اسمان ته ختل بندشوی وؤ،لهٰذا ته د شیطانانود اسماني خبروورکول صحیح نه دی،دویمه خبره داد چه مسیلمه په کاهنانوکښې نه وو بلکه هغه یومفتری اوکذاب وونولهٰذا د مفسر علام من الکهنة وئیل تیک نه معلومیږی وغیره لکه سطیح دایو کاهن وو،کاهن د راتلونکی وخت د خبرورکولو والا ته وائی، اوعرّاف د تیروخت د اخباروئیلو والا ته وائی.

قوله: ای کفارمکة: دلته آی ندائیه هم کیدې شی لکه څنګه چه ظاهره د اوتفسیریه هم کیدې شی اوپه دې صورته کښې مفسّرپه انبئکم کښې د کم ضمیروی.

قوله: یهیمون: د انّ خبردې او فی کلّ واد دې سره متعلق دې.

قوله: الاالذین امنوا: داد مذمومون محذوف سابق نه استثناء ده.

[۲۷] سورة النمل

سُورَة النَّمل مَكِّيَّة وَآيَاتهَا ۹۳ او ۹٤ او ۹۵ آيَة نَزَلَتْ بَعْد سُورَة الشعراء

سوره شعراء مکی دې خو "والشعراء" نه تر آخره پورې مدنی دې.اودا ۲۲۷ آیتونه دی.

[ایاتونه:۱-۱٤]

بسم الله الرحمن الرحيم (طس) اللَّه أَعْلَم بِمُرَادِهِ بِذَلِكَ (تِلْكَ) هَذِهِ الآيَات (آيَات الْقُرْآن) آيَات مِنْهُ (وَكِتَاب مُبِين) مُظْهِر لِلْحَقِّ مِنَ الْبَاطِل عَطْف بِزِيَادَةِ صِفَة (هُدًى) هَادٍ مِنَ الضَّلَالَة (وَبُشْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ) الْمُصَدِّقِينَ بِهِ بِالْجَنَّةِ (الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاة) يَأْتُونَ بِهَا عَلَى وَجْههَا (وَيُؤْتُونَ) يُعْطُونَ (الزَّكَاة وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ) يعلمونها بالاستدلال واعيد هم لَمَّا فَصَلَ بَيْنه وَبَيْن الْخَبَر (إنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ أَعْمَالهمْ) الْقَبِيحَة بِتَرْكِيبِ الشَّهْوَة حَتَّى رَأَوْهَا حَسَنَة (فَهُمْ يَعْمَهُونَ) يَتَحَيَّرُونَ فِيهَا لِقُبْحِهَا عِندنا (أُولَئِكَ الَّذِينَ لَهُمْ سُوء الْعَذَاب) أَشَدّه فِي الدُّنْيَا الْقَتْل وَالْأَسْر (وَهُمْ فِي الْآخِرَة هُمْ الْأَخْسَرُونَ) لِمَصِيرِهِمْ إلَى النَّار الْمُؤَبَّدَة عَلَيْهِمْ (وَإِنَّك) خِطَاب لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (لَتُلَقَّى الْقُرْآن) يُلْقَى عَلَيْك بِشِدَّةٍ (مِنْ لَدُنْ) مِنْ عِنْد (حَكِيم عَلِيم) فِي ذَلِكَ اذكر (إذْ قَالَ مُوسَى لِأَهْلِهِ) زَوْجَته عِنْد مَسِيره مِنْ مَدْيَن إلَى مِصْر (إنِّي آنَسْت) أَبْصَرْت مِنْ بَعِيد (نَارًا سَآتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ) عَنْ حَال الطَّرِيق وَكَانَ قَدْ ضَلَّهَا (أَوْ آتِيكُمْ بِشِهَابٍ قَبَس) بِالْإِضَافَةِ لِلْبَيَانِ وَتَرْكهَا أَيْ شُعْلَة نَار فِي رَأْس فَتِيلَة أَوْ عُود (لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ) وَالطَّاء بَدَل مِنْ تَاء الْافْتِعَال مِنْ صَلِيَ بِالنَّارِ بِكَسْرِ اللَّام وَفَتْحهَا تَسْتَدْفِئُونَ من البرد (فلما جاءها نودي) أَيْ بِأَنْ (بُورِكَ) أَيْ بَارَكَ اللَّه (مَنْ فِي النَّار) أَيْ مُوسَى (وَمَنْ حَوْلهَا) أَيْ الْمَلَائِكَة أَوْ الْعَكْس وَبَارَكَ يَتَعَدَّى بِنَفْسِهِ وَبِالْحَرْفِ وَيُقَدَّر بَعْد فِي مَكَان (وَسُبْحَان اللَّه رَبّ الْعَالَمِينَ) مِنْ جُمْلَة مَا نُودِيَ وَمَعْنَاهُ تَنْزِيه اللَّه مِنَ السُّوء (يَا مُوسَى إنَّهُ) اي الشأن (أنا الله العزيز الحكيم) (وَأَلْقِ عَصَاك) فَأَلْقَاهَا (فَلَمَّا رَآهَا تَهْتَزّ) تَتَحَرَّك

(كَأَنَّهَا جَانٌّ) حَيَّة خَفِيفَة (وَلَّى مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ) يرجع قال تعالى (يَا مُوسَى لَا تَخَفْ) مِنْهَا (إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ) عِنْدِي (الْمُرْسَلُونَ) مِنْ حَيَّة وَغَيْرهَا (إِلَّا) لَكِنْ (مَنْ ظَلَمَ) نَفْسه (ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًا) أَتَاهُ (بَعْدَ سُوءٍ) أَيْ تَابَ (فَإِنِّي غَفُورٌ رَحِيمٌ) أَقْبَل التَّوْبَة وَأَغْفِر لَهُ (وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ) طَوْق قَمِيصك (تَخْرُجْ) خِلَاف لَوْنهَا مِنَ الْأُدْمَة (بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ) بَرَص لَهَا شُعَاع يُغْشِي الْبَصَر آيَة (فِي تِسْعِ آيَاتٍ) مرسلا بها (إِلَى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ) (فَلَمَّا جَاءَتْهُمْ آيَاتُنَا مُبْصِرَةً) مُضِيئَة وَاضِحَة (قَالُوا هَذَا سِحْرٌ مُبِينٌ) بين ظاهر (وَجَحَدُوا بِهَا) لَمْ يُقِرُّوا (وَ) قد (اسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ) أَيْ تَيَقَّنُوا أَنَّهَا مِنْ عِنْد الله (ظُلْمًا وَعُلُوًّا) تَكَبُّرًا عَنِ الْإِيمَان بِمَا جَاءَ بِهِ مُوسَى رَاجِع إِلَى الْجَحْد (فَانْظُرْ) يَا مُحَمَّد (كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ) الَّتِي عَلِمْتهَا من إهلاكهم

ترجمه: طس (ددې مراد الله تعالى بنه پيژنى) داآيتونه دي د قرآن اود كتاب مبين دى (يعنى د باطل نه د حق جداكوونكى كتاب، د صفت د زيادت سره په القرآن باندې عطف دې) هدايت دې (يعنى د گمراهئ نه هدايت كوونكې دې) اومؤمنينوته (يعنى ددې تصديق كوونكوته د جنت) زيرې دې، هغه (مؤمنين) چه مونځ قائموى (يعنى مونخ په خپله طريقه سره اداكوى) اوزكوة وركوى اوپه آخرت باندې يقين لرى، (يعنى په دليل سره په دې يقين لرى، د "هم" مبتدأ اوددې د خبر "يوقنون" ترمينځه "بالآخرة" سره په فصل راتلوپه وجه سره د "هم" اعاد اوشوه) كوم خلق چه په آخرت باندې ايمان نه لرى مونږ د هغوى پاره د هغو (قبيح) عملونه ښائسته كړى دى (د نفس د خواهش د گډوالى په وجه سره تردې پورې چه هغوى بدعملونه هم ښه گڼرى) نودوى حيران گرځى (يعنى هغوى په دې عملونوكښې حيران دى زمونږ په نيزد قبيح كيدوپه وجه سره) دادى هغه خلق چه دوى لره لوئ عذاب دې (يعنى په دنياكښې سخت عذاب دې چه قيداوقتل دې) اوپه آخرت كښې هم په لوئ تاوان كښې دى (ددوى د دائمى عذاب خواته د تلوپه وجه) يقيناً تاله د حكمت والا دعلم والا د خوانه قرآن (د مشقتونو سره) دركول كيږى، هغه وخت يادكړه چه كله موسىٰ عليه السلام خپل اهل (يعنى خپلې ښځې ته د مدين نه مصرته د واپسئ په وخت) اووئيل چه ماد لرې نه اورليدلې دې، د هغه نه به ياخو (د لارې) خبرراوړم (اوحضرت موسىٰ عليه السلام لاره هيره كړې وه) يابه بله شوې يوه شعله راوړم (په بشهاب قبس كښې په اضافت بيانيه سره اوپه ترک د اضافت سره هم دې، يعنى د لرگى يا د رسئ په سركښې د اورشعله) ددې دپاره چه تاسوگرم شئ (طاء د افتعال د تاء نه بدل راغلې د اوتصطلون د صلي بالنار په كسره د لام اوفتحه د لام نه مشتق دې، د يخنئ نه ئې بچاؤ حاصل كړل) كله چه هلته اور سيدونوآواز وركړې شود بركت والا دې كوم چه دې اوركښې دې (يعنى موسىٰ عليه السلام) اوهغه څوک هم چه ددې سره دى (يعنى ملائكې يادې برعكس، اوبارک متعدى بنفسه دې اومتعدى بالحرف هم، اود فى نه پس لفظ د مكان

محذوف دی،) او الله رب العالمین پاک دې (دا جمله هم منجمله د هغه جملونه د چه د کوموپه ذریعه سره نداشوې د، ددې جملې معنی داد چه الله تعالی د تولوعیوبونه پاک دې) اې موسٰی (خبره داد چه) زه الله یم زوره ورحکمت والا او ته خپله همسا اوغورځوه، (نوحضرت موسٰی ﷺ خپله همسا اوغورځوله) نوکله چه موسٰی هغې لره په داسې حرکت کولوسره اولید چه گویاد ایو ماردې، (یعنی نرې شانتې ماردې) نود (موسٰی ﷺ) شاکړه او اوتختیدو او په شاته ئې هم اونه کتل، (ارشاداوشوچه) اې موسٰی، (ددې نه) مه یریږه زمونږ په حضورکښې پیغمبران د ماروغیره نه) نه یریږي، او ا چاچه (په خپل ځان باندې) ظلم اوکړو بیاد بدونه پس د بدو په ځائې ئې نیکی اوکړه (یعنی توبه ئې اوباسله) نوځه بخښنې والا رحمت والا یم، (توبه به ئې قبلوم اوبخښنه به ورته کوم،) اوخپل لاس دې په خپل گریوان کښې (یعنی د خپل قمیص په گریوان کښې) ننه باسه (د خپل غنم رنگی رنگ په خلاف به) هغه بغیرد څه بیمارئ نه پرقیدونکې را اوځی، (یعنی د برص وغیره د مرض نه بغیر به په هغه کښې یوداسې پرق وی چه سترگې به ورته بریخی، دا دوه معجزې) دغې نهو معجزونه دی د کوموسره چه ته فرعون او د هغه قوم ته لیږلې کیږې، هغوی بې شکه د حدنه تجاوزکوونکوکښې دی، نوکله چه دې خلقوته زمونږ سترگې کلاوه ونکې (واضحې او روښانه) معجزې راغلې نودې خلقواوویل چه دا صریح (یعنی ښکاره) جادودې، اود هغونه ئې انکاراوکړو (یعنی اقرارئې اونه کړو) حال دادې چه د دوی زړونویقین کړې وو (یعنی ددوی دایقین ووچه داټولې معجزې د الله تعالی د طرف نه دی اودابماجآء به موسٰی نه انکارکول د ایمان نه د ظلم اود تکبرپه توگه وؤ بماجاء به موسٰی تعلق د الجحد سره دې،) نوته اوگوره چه ددې فساد کوونکو انجام څنگه شو (لکه څنگه چه ته د دوی د هلاکت خبرئې)

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: عطف بزیادة صفة: په دې عبارت سره مفسرعلام مقصد د یوسوال جواب ورکول دې، سوال دادې چه عطف د کتاب په قرآن باندې د قبیلې د عطف د شیئ نه دې په خپل نفس باندې څکه چه د دواړومعنی یوه د، نوپه دې وجه ددې عطف هیڅ فائد نشته ؟
جواب دادې چه کله معطوف په یوصفت زائد باندې مشتمل وی نوداعطف بې فائدې نه وی، دلته هم معطوف چه کتاب دې په یواضافی صفت سره متصف دې چه مبین دې نوداعطف بې فائدې نه شو.

قوله: یؤتون: داد ایتاء مصدرنه د جمع مذکرغائب فعل مضارع معروف صیغه د، هغوی ورکوی.

قوله: وهم بالآخرة هم یوقنون: هم مبتدأ یوقنون ددې خبربالاخرة، د یوقنون متعلق مقدم د مبتدأ اود خبرترمینځه په جاراومجرورسره د فصل راتلوپه وجه د هم اعاد اوکړې

شوه،ددې دپاره چه د خبر د مبتدأ سره صورةً اتصال پیداشي،مفسرعلام د أعیدم الخ اضافه هم په دې وجه کړې د.

قوله: يعمهون: د "عمه" نه مشتق دې معنی ئې د تردد اوحیران والې.

قوله: لقبحها عندنا: په دې عبارت سره ددې شبهې دفع کول مقصوددی.چه د کافرانوپه خپلوعملونوکښې د حیرانیدلو اومتردد کیدلونه څه مراددی ؟حال داچه هغوی په خپل پوره سوچ اوپوهې سره خپل ټول کفری عملونه اختیاروی؟

جواب دادې چه دوی زمونږپه نیزمتحیردی نه داچه د خپل ځان په نیز،مطلب دادې چه د تزئین شیطان اود اخبار رحمٰن ترمینځه د تعارض په وجه متحیردی،او په دوی کښې دومره بصیرت نشته چه د ښه اوبدترمینځه فرق اوکړې شی،اودوی په دې هم متحیردی چه کفراواعمال کفریه باندې قائم اودائم پاتې شی اوکهٔ پرې ئې ږدی،لیکن داتفسیر شبه نقصان نه خالی نه دې،ځکه چه کفارکله د خپل عملونوباره کښې د حسن گمان کوی نوبیا د هغوی د حیران والی هیڅ معنی نشته،په دې وجه بهترین تفسیرهغه دې کوم چه نوروحضراتوکړې دې،هغه دادې چه يعمهون په معنی دیستمرون اویداومون علیها دې، کماذکره ابوسعود ،اوابن عباس رضی الله عنه اوامام قتاده رحمه الله ئې تفسیرپه يلعبون سره کړې دې.

قوله: لمصيرهم: دا د اخسرون علت دې،اخسراسم تفضیل د مبالغې دپاره دې نه داچه د تشریک د پاره،ځکه چه د مؤمنینو دپاره خسران نشته،د "وهم فی الاخرة هم الاخسرون" اعراب هم هغه دې کوم چه د "هم بالاخرة هم يوقنون"دې.څنوحضراتو وئیلی دی چه مفضل علیه په خپله کفاردی لیکن د زمان اود مکان په اختلاف سره،یعنی کفارپه د دنیاپه اعتبارسره په آخرت کښې ډیرتاوانیان وی.

قوله: لَتُلَقّٰى : تاته تلقین کول کیږی،تاته ښودلې کیږی،واحدمذکرحاضرمضارع مجهول،په اصل کښې تتلقی وویوه تاء ترینه حذف کړې شوې د ،دادوؤمفعولوته متعدی دې، رومبنې مفعول ئې قائم مقام د فاعل (نائب فاعل) دې اودویم مفعول ئې القرآن دې.

قوله: بشدة: په دې وجه چه په دې کښې سخت تکلیفونه دی یعنی د نزول په وخت کښې هم تکلیف وی اود عمل په وخت کښې هم.

قوله: بالإضافة: د جلالین د نظرلاندې نسخه کښې په ترک د اضافت سره دې، لهٰذاپه دې صورت کښې "قبس"په معنی د مقبوس د شهاب نه بدل دې یائې نعت دې،اوکه په اضافت سره شی لکه په موجود نسخه کښې دې نودابه اضافت بیانیه شی.

قوله: شعلة نار: داد مضاف اود مضاف الیه دواړو تفسیردې یعنی شهاب په معنی د شعله او قبس په معنی د ناردې.

قوله: قتبلة: باتې، کټ شوې څيز.

قوله: نودی: ددې نائب فاعل موسیٰ علیه السلام دې، په دې صورت کښې أن تفسيريه دې، ځکه چه په ماقبل کښې نودی په معنی د قيل موجود دې، مطلب دادې چه د أن تفسيريه د مراد کولو د پاره ضروري د چه مخکښې قول يا د قول نه مشتق صيغه وی، ياد قول معنی ورکوونکې صيغه وی، نودلته د ان تفسيريه نه وړاندې اگرچه قول يا ددې د مشتقاتو نه څه صيغه نشته ليکن "نودی" چه د قول په معنی دې هغه موجود دې، لهٰذا أن تفسيريه دې او دا هم ممکنه د چه ان مخفف عن المثقله نه شی، او اسم ئې ضميرشان شی، او "بورک" ئې خبرشی، او أن مصدريه هم کيدې شی په حذف د حرف جرسره أی بأن، او مدخول د أن به په معنی د مصدر شی، أی نودی ببرکة من فی النار بَارَکَ متعدی بنفسه هم استعماليږی لکه وئيل کيږی بارک الله داد متعدی بنفسه مثال دې يابارک الرجلَ د سړی د پاره ئې د برکت دعااوکړه او په حرف يعنی لام اوفی او علی سره هم استعماليږی د متعدی بالحرف د پاره مثال لکه بارك الله لك بارك الله فيك بارك الله عليك.

قوله: من جملة مانودی: مطلب دادې چه د کوم څيزنداء کړې شوې د په هغې کښې جمله تنزيهيه هم د يعنی سبحان الله رب العالمين.

قوله: تهتز: داد راها د ضميرمفعولی نه حال دې، ولّی مدبرا، د لمّاجواب دې.

قوله: إلّا لكنّ من ظلم: علامه مفسر د الا تفسيرپه لكنّ سره كولو كښې ته اشاره اوكړه چه دا مستثنیٰ منقطع د، مطلب دادې چه د من ظلم نه مراد غيرمرسلين دی.

قوله: من ظلم: مبتدأ د او فإنّی غفوررحيم ئې خبردې.

قوله: مبصرة: د آيات نه حال دې، اود آيات طرف ته د مبصرة اسنادمجازی دې، ځكه چه آيات كتونكی نه وی، بلكه د هغې په رڼاكښې كتل كيږی، لكه نهرجار، كښې اسناد مجازی دې ځنومفسرينو فرمائيلی دی چه مبصرة اسم فاعل په معنی د اسم مفعول دې لكه دافق په معنی د مدفوق دې.

قوله: استيقنتها أنفسهم: داد جحدوا د واؤنه په تقديرد قدسره حال دې.

قوله: اى تيقنوا: په دې سره ئې اشاره اوكړه دې خبرې ته چه په استيقنتهاكښې سين زائددې.

قوله: ظلماوعلوا: ددې تعلق د جحدوا سره دې، يعنی ظلماوعلوّاد انكارعلت دې.

قوله: كيف كان عاقبة المفسدين: كيف د كان خبرمقدم دې، اوعاقبة المفسدين ئې اسم مؤخردې اوپوره جمله د "انظر" په معنی د تفكرسره د متعلق كيدوپه وجه په محل د نصب كښې ده.

[ایاتونه: ۱۵ - ۲۱]

(ولقد آتينا داود وسليمان) ابنه (علما) بالقضاء بين الناس ومنطق الطير وغير ذلك (وقالا) شكرا لله (الحمد لله الذي فضلنا) بالنبوة وتسخير الجن والإنس والشياطين (على كثير من عباده المؤمنين) (وورث سليمان داود) النبوة والعلم دون باقي اولاده (وقال يايها الناس علمنا منطق الطير) اي فهم اصواته (وأوتينا من كل شيء) تؤتاه الأنبياء والملوك (إن هذا) المؤتى (لهو الفضل المبين) البين الظاهر (وحشر) جمع (لسليمان جنوده من الجن والإنس والطير) في مسير له (فهم يوزعون) يجمعون ثم يساقون (حتى إذا أتوا على واد النمل) هو بالطائف أو بالشام نمله صغار أو كبار (قالت نملة) ملكة النمل وقد رأت جند سليمان (يايها النمل ادخلوا مساكنكم لا يحطمنكم) يكسرنكم (سليمان وجنوده وهم لا يشعرون) نزل النمل منزلة العقلاء في الخطاب بخطابهم (فتبسم) سليمان ابتداء (ضاحكا) انتهاء (من قولها) وقد سمعه من ثلاثة أميال حملته إليه الريح فحبس جنده حين أشرف على واديهم حتى دخلوا بيوتهم وكان جنده ركبانا ومشاة في هذا السير (وقال رب أوزعني) ألهمني (أن أشكر نعمتك التي أنعمت) بها (علي وعلى والدي وأن أعمل صالحا ترضاه وأدخلني برحمتك في عبادك الصالحين) الأنبياء والأولياء (وتفقد الطير) ليرى الهدهد الذي يرى الماء تحت الأرض ويدل عليه بنقره فيها فتستخرجه الشياطين لاحتياج سليمان إليه للصلاة فلم يره (فقال ما لي لا أرى الهدهد) أي أعرض لي ما منعني من رؤيته (أم كان من الغائبين) فلم أره لغيبته فلما تحققها قال (لأعذبنه عذابا) تعذيبا (شديدا) بنتف ريشه وذنبه ورميه في الشمس فلا يمتنع من الهوام (أو لأذبحنه) بقطع حلقومه (أو ليأتيني) بنون مشددة مكسورة أو مفتوحة يليها نون مكسورة (بسلطان مبين) ببرهان بين ظاهر على عذره

ترجمه: او مونږ داؤد او (د هغه ځوی) سليمان ته (د خلقو په مينځ كښې د فيصله كولو) علم وركړو او (او د مارغانو وغيره) خبرې مونږ او ښودلې، او دې دواړو (د الله تعالى شكر ادا كړو او) اوئې وئيل چه ټول تعريفونه د هغه الله دپاره دى چاچه مونږ ته (د نبوت په ذريعه سره او د پېريانو او انسانانو او شيطانانو د تسخير په ذريعه سره) په خپلو ايماندارو بندګانو كښې په ډيرو باندې غوره والې راكړو، او سليمان (عليه السلام) په نبوت او علم كښې) د داؤد (عليه السلام) وارث شو، او (سليمان عليه السلام) او وئيل چه اې خلقو مونږ ته د مارغانو خبرې (يعنى د هغوى د آواز پوهه) ښودلې شوې د او هر هغه څيز راكړې شوې دې (كوم چه پيغمبرانو او بادشاهانو ته وركول كيږى، يعنى چه د كوم څيز هغوى ته حاجت وى،) بې شكه دا (راكړې شوې څيز) ډير لوئ فضل دې، (څرګند فضل دې) او د سليمان په وړاندې (په يو سفر كښې) د د لښكر راجمع كړې شو كوم چه په پېريانو او انسانانو او مارغانو باندې مشتمل وو هغه راجمع كولې شو، (بيا به نو تللې شو) تردې پورې چه هغوى د ميږيو ميدان ته اورسيدل (هغه ميدان په شام يا طائف كښې وو، هغه ميږى د واړه نسل والا وو يا د غټ نسل والا) يو ميږى (كوم چه د ميږو مشره وه) او وئيل (او د

سلیمان علیه السلام لښکرئې لیدلې وو)اې میږو ! خپلوسوړوته ننه اوځئ، داسې نه وی چه سلیمان اود ه لښکرتاسولره په بې خبرئ کښې د خپولاندې کړی.(یعنی هغوی ته ستاسو د هلاکت څه خبرهم اونه شی،میږوته په خطاب کښې،هغوی ته په خطاب کولوکښې په منزله د عقلاؤ اوګرځولې شو،)سلیمان (علیه السلام)د هغې په خبره مسکئ شواوئې خاندل(یعنی ابتداءً مسکئ شو اوآخرئې اوخاندل اوسلیمان علیه السلام د میږی خبره درې میله لرې اوریدلې وه،هواد میږی داخبره سلیمان علیه السلام ته رسولې وه،نوکله چه سلیمان علیه السلام دغه وادی ته اورسیدو نو خپل لښکرئې ایسارکړوتردې پورې چه میږی خپلوسوړوته ننوتل،اود سلیمان علیه السلام لښکرپه دې سفرکښې په سوررواوپه خپلوخپوروانوباندې مشتمل وو)سلیمان(علیه السلام) اووئیل چه اې زماپروردګاره اته ماته الهام (توفیق) راکړه چه زه ستاد هغه نعمتونو شکر اداکړم کوم چه تاپه ماباندې اوزماپه موراوپلارباندې کړی دی،اوداچه زه داسې عملونه اوکړم چه ته پرې خوشحاله شې،اوپه خپل رحمت سره مې په خپلو نیکانو بندګانو (یعنی په انبیاؤاوپه اولیاؤ) کښې داخل کړه،اود(سلیمان علیه السلام)د مارغانو معلومات اوکړل (ددې دپاره چه هدداوګوری کوم چه اوبهٔ د زمکې د لاندې وینی اوپه زمکه باندې خپله مخوکه وهلوسره اونخښه ئې ښائی، اوشیطانانو د سلیمان علیه السلام د پاره د مونځ وغیره ضرورتونود پاره اوبه راوستلې، نو هدهد ئې اونه موندونوسلیمان علیه السلام اووئیل چه څه خبره د چه هدد ماته په نظرنه راځی ؟(یعنی آیاڅه څیزماته مخې ته خنډ جوړ شوې دې،چه هغه ما د هدد د لیدونه منع کوی)یاواقعی هغه غیرحاضر دې(چه زه ئې د هغه د غیرحاضرئ په وجه نه وینم، نوکله چه دد غیرحاضری یقینی شوه،)نواوئې فرمائیل چه زه به د ته سخته سزاورکوم،(دد وزرې به شوکوم،لکئ به ئې اوکاږم اوګرمئ ته ئې واچوم،چه د هغې په وجه به د چینجومینجو نه محفوظ نه وی،)یابه ئې (مرئ غوڅوم)ذبح کړم به ئې،یابه زماپه وړاندې یوواضح دلیل (عذر) وړاندې کوی (لیاتینّی کښې په نون مشدد مکسورسره یانون مفتوحه چه ورسره نون مکسوره ملاؤشوې وی یعنی د خپل عذربه څه واضح دلیل ښائی.)

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اُتِینَا: په معنی د اعطینا،طیر د طائرجمع د مارغهٔ،قال یاَیُّهاالناس علّمنامنطق الطیر،د حضر ت سلیمان علیه السلام د خپل ځان دپاره د جمع صیغه استعمالول یوسیاسۃ شاهانه طرزِخطاب دې نه داچه تکبراً،(په روح البیان کښې دی)النون نون الواحد المطاع علی عادۃ الملوک فانهم یتکلمون مثل ذالک رعایة لقاعدة السیاسة، اوځنو حضراتووئیلی دی چه علّمنا ای اناوابی،لیکن داتاویل د حضرت سلیمان علیه السلام د مارغانو د خبرو د پوهې د اختصاص سره منافی دې،لکه څنګه چه مشهوره د ،اګرچه سلیمان علیه السلام ته د مارغانونه علاوه د نوروحیواناتوپه خبروباندې د پوهید ومعجزه هم ورکړې شوې وه

لیکن په دې وجه چه مارغان به هروخت په د باندې سورې کوونکی وو نو په دې غرض د مارغانوتذکره په خاص توګه شوید، د منطق عطف په قضا باندې دې، د باء د لاندې کیدو په وجه سره مجروردې ای علما بالقضاء وبمنطق الطير.

قوله: وغيرذالك: په دې سره دې خبرې ته اشاره د چه حضرت سليمان عليه السلام ته د مارغانو د خبرو د پوهیدو سره سره د نوروحیواناتو د خبروپوهه هم ورکړې شوې وه.

قوله: حتى اذا أتوا: دا د محذوف دپاره غایت دې، تقدیر د عبارت داسې دې "فساروا حتى اذا اتوا" اوځنو حضراتو د یوزعون دپاره غایت ګرځولې دې، تقدیر د عبارت به داسې شي فهم يسيرون ممنوعا بعضهم من مفارقة بعض حتى اذا اتوا على واد النمل.

قوله: في عبادك الصالحين: اى فى جملة عبادك الصالحين، د مضاف په حذف سره او د صالحینونه کامل صالحین مراددی کوم چه انبیاء کرام علیهم السلام دی، لهٰذا داشبه ختمه شوه چه د یو پیغمبر په صالحینو کښې د شاملیدو د دعا نه څه مقصد دې؟ ځکه چه انبیاء کرام په مرتبه کښې د ټولونه اوچت وی.

[ایاتونه: ۲۲ - ۳۱]

{فَمَكَثَ} بِضَمِّ الْكَافِ وَفَتْحِهَا {غَيْرَ بَعِيدٍ} يَسِيرًا مِنَ الزَّمَنِ وَحَضَرَ لِسُلَيْمَانَ مُتَوَاضِعًا بِرَفْعِ رَأْسِهِ وَإِرْخَاءِ ذَنَبِهِ وَجَنَاحَيْهِ فَعَفَا عَنْهُ وَسَأَلَهُ عَمَّا لَقِيَ فِي غَيْبَتِهِ {فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِ} أَيِ اطَّلَعْتُ عَلَى مَا لَمْ تَطَّلِعْ عَلَيْهِ {وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍ} بِالصَّرْفِ وَتَرْكِهِ قَبِيلَةٍ بِالْيَمَنِ سُمِّيَتْ بِاسْمِ جَدٍّ لَهُمْ بِاعْتِبَارِهِ صُرِفَ {بِنَبَإٍ} خَبَرٍ {يَقِينٍ} {إِنِّي وَجَدتُّ امْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ} أَيْ هِيَ مَلِكَةٌ لَهُمْ اسْمُهَا بِلْقِيسُ {وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ} يَحْتَاجُ إِلَيْهِ الْمُلُوكُ مِنَ الْآلَةِ وَالْعُدَّةِ {وَلَهَا عَرْشٌ} سَرِيرٌ {عَظِيمٌ} طُولُهُ ثَمَانُونَ ذِرَاعًا وَعَرْضُهُ أَرْبَعُونَ ذِرَاعًا وَارْتِفَاعُهُ ثَلَاثُونَ ذِرَاعًا مَضْرُوبٌ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ مُكَلَّلٌ بِالدُّرِّ وَالْيَاقُوتِ الْأَحْمَرِ وَالزَّبَرْجَدِ الْأَخْضَرِ وَالزُّمُرُّدِ وَقَوَائِمُهُ مِنَ الْيَاقُوتِ الْأَحْمَرِ وَالزَّبَرْجَدِ الْأَخْضَرِ وَالزُّمُرُّدِ عَلَيْهِ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ عَلَى كُلِّ بَيْتٍ بَابٌ مُغْلَقٌ {وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِن دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ} طَرِيقِ الْحَقِّ {فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ} {أَلَّا يَسْجُدُوا لِلَّهِ} أَيْ أَنْ يَسْجُدُوا لَهُ فَزِيدَتْ لَا وَأُدْغِمَ فِيهَا نُونُ أَنْ كَمَا فِي قَوْلِهِ تَعَالَى {لِئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ الْكِتَابِ} وَالْجُمْلَةُ فِي مَحَلِّ مَفْعُولِ يَهْتَدُونَ بِإِسْقَاطِ إِلَى {الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ} مَصْدَرٌ بِمَعْنَى الْمَخْبُوءِ مِنَ الْمَطَرِ وَالنَّبَاتِ {فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ} فِي قُلُوبِهِمْ {وَمَا تُعْلِنُونَ} بِأَلْسِنَتِهِمْ {اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ} اسْتِئْنَافُ جُمْلَةِ ثَنَاءٍ مُشْتَمِلٍ عَلَى عَرْشِ الرَّحْمَٰنِ فِي مُقَابَلَةِ عَرْشِ بِلْقِيسَ وَبَيْنَهُمَا بَوْنٌ عَظِيمٌ {قَالَ} سُلَيْمَانُ لِلْهُدْهُدِ {سَنَنظُرُ أَصَدَقْتَ} فِيمَا أَخْبَرْتَنَا بِهِ {أَمْ كُنتَ مِنَ الْكَاذِبِينَ} أَيْ مِنْ هَٰذَا النَّوْعِ فَهُوَ أَبْلَغُ مِنْ أَمْ كَذَبْتَ فِيهِ ثُمَّ دَلَّهُمْ عَلَى الْمَاءِ فَاسْتُخْرِجَ وَارْتَوَوْا وَتَوَضَّئُوا وَصَلَّوْا ثُمَّ كَتَبَ سُلَيْمَانُ كِتَابًا صُورَتُهُ {مِنْ عَبْدِ اللَّهِ سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ إِلَى بِلْقِيسَ مَلِكَةِ سَبَإٍ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ السَّلَامُ عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَىٰ أَمَّا بَعْدُ فَلَا تَعْلُوا عَلَيَّ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ} ثُمَّ طَبَعَهُ بِالْمِسْكِ وَخَتَمَهُ بِخَاتَمِهِ ثُمَّ قَالَ

لِلْهُدْهُدِ {اذْهَبْ بِكِتَابِي هٰذَا فَأَلْقِهِ إِلَيْهِمْ} أي بلقيس وقومها {ثُمَّ تَوَلَّ} انصرف {عَنْهُمْ} وقف قريبا منهم {فَانْظُرْ مَاذَا يَرْجِعُونَ} يردون من الجواب فأخذه وأتاها وحولها جندها وألقاه في حجرها فلما رأته ارتعدت وخضعت خوفا ثم وقفت على ما فيه ثم {قالت} لأشراف قومها {يأيها الملأ إني} بتحقيق الهمزتين وتسهيل الثانية بقلبها واوا مكسورة {ألقي إلي كتاب كريم} مختوم {إنه من سليمان وإنه} أي مضمونه {بسم الله الرحمن الرحيم} {ألا تعلوا علي وأتوني مسلمين}

ترجمه: (فمكث د كاف په ضمې او په فتحې سره)نولږشانتې وخت تیرووو(چه هد هد راغې او وئې وئیل)یعنې لږشانتې وخت تیرشوې ووچه لكنې اووزرې ئې زوروندې كړې وې اوسرئې اوچت كړې وو،د عاجزئ په حالت كښې د سلیمان ﷺ په خدمت كښې حاضر شو، نو سلیمان ﷺ معاف كړواود غائب والي په زمانه كښې ئې ترینه د راپیښې شوې واقعې په باره كښې معلومات اوكړل نو وئې وئیل) مایوداسې خبراوړې دې چه تاته ئې معلومات نشته،(یعنې زه د داسې خبرنه خبر شوې یم چه د هغې اطلاع تاته نشته) اوماد سبا(قوم)نه یوریښتونې خبراوړې دې،(سبامنصرف اوغیرمنصرف دواړه دې،سباپه یمن كښې د یوې قبیلې نوم دې،كوم چه د هغوی د لرې نیكه په نوم باندې كیښودلې شوې دې،اوهم په دې وجه منصرف دې،اوكه د قبیلې نوم شي نو د علمیت او د تانیث په وجه به غیرمنصرف شي)مااوكتل چه په هغوی باندې یوه ښځه حكومت كوي،(یعنې هغه دغوی ملكه د اونوم ئې بلقیس دې) اود هغې سره د هرقسم سازاوسامان دې،(د كوموچه بادشاه ته ضرورت وي،یعنې وسله او نور سامان،)اود هغې یودیرلوئ تخت دې (چه اوږدوالي ئې اتیالاسه اوپلن والي ئې څلویښت لاسه دې اولوړوالي ئې دیرش لاسه دې،د سرو اوسینوزرونه جوړدې، په ملغلرو او سرو یاقوتو، زبرجدو او زمردوسره ښائسته كړې شوې دې،اوخپې ئې د سروپاقوتواود شنوزبرجدواود زمردودی،اود پاخه پرې اوو كمرې دی اوپه هره كمره باندې بند دروازه د،)ماهغې لره اود هغې قوم لره د الله نه علاوه نمرته په سجد كولواوموندل اوشیطان ورته خپل عملونه دغوی په نظر ښائسته كړی دی چه د هغې په وجه ئې هغوی د حق لارې نه نبد كړی دی نوهغوی په هدایت باندې نه راځي چه الله ته سجد اوكړی،(دلته لا زائد د اوان پكښې مدغم كړې شوې دې لكه په دې قول د الله تعالی كښې "لئلا يعلم اهل الكتاب" حرف الی حذف شوې دې اود يهتدون د مفعول په ځائ كښې دې) هغه (الله) كوم چه د زمكې اواسمانونوپټ څیزونه (یعنې باران اوبوټی)را اوكاږی (الخبا مصدرپه معنی د مخبوء دې) اوكوم څیزونه چه تاسو (په خپلوزړونو كښې)پټوئ اوكوم څیزونه چه (په خپلوژبو سره)ښكاره كوئ هغه پیژنی، هغه برحق معبوددې،دغه نه سیوابل معبود نشته، هغه د عرش عظیم مالك دې،(دا جمله مستانفه ثنائیه د ،د بلقیس د تخت په مقابله كښې د

رحمٰن په تخت باندې مشتمله د حال دادې چه د دواړو ترمینځه بون بعیدې، سلیمان ﷺ اوفرمائیل ځه اوس به مونږ گورو چه آیات (په دې خبره کښې کومه دې چه مونږ ته اوکړه) رښتیا او وئیل که ته په دروغژنو کښې ئې، (یعنی د دروغژنو د قسم نه ئې، دا جمله د ام کذبتَ فیه نه ډیره بلیغه د ،بیاهدهد هغوی دپاره د اوبو نشاندی اوکړه، نوسلیمان ﷺ اوبه را اوکاږلې، تول خلق ماړه شول،اودسونه ئې اوکړل اومونځونه ئې اوکړل، بیا سلیمان ﷺ یو خط اولیکلوچه د هغې متن لاندینې دې،د الله د بند سلیمان بن داؤد له خوانه د سباد ملکه بلقیس په نوم،بسم الله الرحمٰن الرحیم، السلام علی من اتبع الهدیٰ امّابعد ،زماپه مقابله کښې سرکشی اونه کړئ اود فرمان منونکی زماخواته راشی بیا ئې دا خط په مشکوسره سر بند کړو اوخپل مهرئې هم پرې اولگولو ،بیائې هدهدته اوفرمائیل زما داخط یوسه اوهغوی ته (یعنی بلقیس اود هغې قوم ته)ئې اورسوه بیاد هغوی نه یو خواته شه(اونزدې ورسره اودرېږه) اوگوره چه هغوی څه جواب ورکوی؟(نوهدهد غه خط راواخستو اود بلقیس خواته راغې،حال دادې چه د بلقیس گیر چاپیره لښکر وو، نو هدهد داخط د بلقیس په غیږه کښې واچولو ،نوکله چه بلقیس داخط اوکتونوپه بدن ئې لړزان راغې اوعاجزی ئې اوکړه، د خپل قوم شریفانوته ئې)اوئیل چه زماخواته یود عزت والا (یعنی مهروهلې شوې) خط راغورځول شوې دې (د دواړوهمزود تحقیق سره اود ثانی په تسهیل سره یعنی په واؤ مکسوره سره بدل شوې،) د سلیمان د خوانه دې (اومضمون ئ دادې)بسم الله الرحمٰن الرحیم، داچه زماپه مقابله کښې سرکشی مه کوئ اوفرمان بردار ه زماخواته راشئ.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: أبلغ من أم كذبت فيه: داددې سوال جواب دې چه أم كذبت مختصرهم دې او مشهور هم دې، کثیرالاستعمال هم دې نوبیا ئې دا مختصر کلام ولې پرېښودواو دااوږد جمله ام کنت من الکاذبین ئې اختیارکړه ؟

خلاصه د جواب داد چه أم كذبت په صدور د كذب أحيانا باندې دلالت کوی او ام کنت من الکاذبین په دوام د کذب اوپه عادت د کذب باندې دلالت کوی،په دې وجه ئې أخصرپرېښودواو أطول ئې اختیارکړو.

قوله: فـأنظر،الأیة: انظرپه معنی د انتظرسره دې او مَاپه معنی د الذی د ،صله چونکه جمله د په دې وجه عائدمحذوف دې،تقدیرد عبارت داسې دې چه انتظرالذی یرجعونه، وتسهيل الثانية بقلبها واوا مكسورا دلته د تسهیل نه معروف تسهیل نه دې مراد ،بلکه دویمه همزه په واؤسره بدلول مراددی،یعنی "یَاَیُّهَا الملاوِنّی اُلقی الیّ کتاب کریم، د کتاب کریم نه مراد مهرلگول شوې خط مراددې،دحضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه رسول اکرم ﷺ

اوفرمائیل "کرم الکتاب ختمه" د خط محترم کیدل د هغې په مهرسره کیدل دي

قوله: إنه من سليمان: جمله مستانفه د يعنی د يومقدرسوال جواب دي،کله چه بلقيس اووئيل چه إني ألقی إليّ كتاب كريم،نوسوال اوكړې شوچه مّاهو ؟ نوجواب ئې وركړو إنه من سليمان الخ.

قوله: أن لا تعلوا علي: داخوياد كتاب نه د بدل واقع كيدوپه وجه محلاً مرفوع دي ياد محذوف مبتدأ دخبركيدوپه وجه مرفوع دي،أی مضمونه أن لاتعلوا علي وأتوني مسلمين.

[ايالتونه: ۳۲ - ۳۹]

(قالت يأيها الملأ أفتوني) بتحقيق الهمزتين وتسهيل الثانية بقلبها واوا اي اشيروا علي (في أمري ما كنت قاطعة أمرا) قاضيته (حتى تشهدون) تحضرون (قالوا نحن أولوا قوة وأولوا بأس شديد) اي اصحاب شدة في الحرب (والأمر إليك فانظري ماذا تأمرين) لنا نطعك (قالت إن الملوك إذا دخلوا قرية أفسدوها) بالتخريب (وجعلوا أعزة أهلها أذلة وكذلك يفعلون) اي مرسلو الكتاب (وإني مرسلة إليهم بهدية فناظرة بم يرجع المرسلون) من قبول الهدية أو ردها إن كان ملكا قبلها اونبيا لم يقبلها فأرسلت خدما ذكورا واناثا ألفا بالسوية وخمسمائة لبنة من الذهب وتاجا مكللا بالجواهر ومسكا وعنبرا وغير ذلك مع رسول بكتاب فأسرع الهدهد إلى سليمان يخبره الخبر فأمر أن تضرب لبنات الذهب والفضة وأن تبسط من موضعه إلى تسعة فراسخ ميدانا وأن يبنوا حوله حائطا مشرفا من الذهب والفضة وأن يؤتى بأحسن دواب البر والبحر مع أولاد الجن عن يمين الميدان وشماله (فلما جاء) الرسول بالهدية ومعه اتباعه (سليمان قال أتمدونن بمال فما آتاني الله) من النبوة والملك (خير مما آتاكم) من الدنيا (بل أنتم بهديتكم تفرحون) لفخركم بزخارف الدنيا (ارجع إليهم) بما أتيت من الهدية (فلنأتينهم بجنود لا قبل) لا طاقة (لهم بها ولنخرجنهم منها) من بلدهم سبا سميت باسم ابي قبيلتهم (أذلة وهم صاغرون) إن لم يأتوني مسلمين فلما رجع إليها الرسول بالهدية جعلت سريرها داخل سبعة أبواب داخل قصرها وقصرها داخل سبعة قصور وغلقت الأبواب وجعلت عليها حرسا وتجهزت للمسير إلى سليمان لتنظر ما يأمرها به فارتحلت في اثني عشر الف قيل مع كل قيل ألوف كثيرة إلى أن قربت منه على فرسخ شعر بها (قال يأيها الملأ أيكم) في الهمزتين ما تقدم (يأتيني بعرشها قبل أن يأتوني مسلمين) منقادين طائعين فلي اخذه قبل ذلك لا بعد (قال عفريت من الجن) هو القوي الشديد (أنا آتيك به قبل أن تقوم من مقامك) الذي تجلس فيه للقضاء وهو من الغداة إلى نصف النهار (وإني عليه لقوي) اي على حمله (أمين) على ما فيه من الجواهر وغيرها

ترجمه: اې درباريانو اتاسوماته زماپه دې معامله كښې مشوره راكړئ زه په يوه معامله كښې ترهغه وخته پورې فيصله نه كوم ترڅوچه تاسوماسره موجودنه يئ،(په الملاء أفتوني كښې د دواړوهمزوپه تحقيق سره اود ثاني په تسهيل سره يعنی په واؤسره بدلولو سره، أی

وفتونی)دې تولوجواب ورکړوچه مونږ د لويْ طاقت والا اوډيرجنګيالی يو،(يعنی په جنګ کښې ډيرسخت يو)وړآندې تاله اختياردې،ته په خپله غوراوکړه چه مونږته څه حکم راکول غواړې ؟(مونږبه ستااطاعت کوؤ) بلقيس اووئيل چه بادشاهان چه کله يوکلی ته (په فاتحانه توګه)ننوځی نوهغه (د تخريب په ذريعه)خرابوی اود هغه ځایْ عزت مندخلق ذليل کوی،او (داخط ليږونکی به)هم داسې کوی،اوزه دې خلقوته څه هديه ورليږم بياګورم چه قاصدڅه جواب سره اوواپس کيږی ؟(آياهغوی به هديه قبلوی يابه ئې واپس کوی،که بادشاه وی نوهديه به قبلوی اوکهٔ پيغمبروی نوبيابه ئې نه قبلوی.لنډه دا چه بلقيس يوزرخادمان اوليږل په کوموکښې چه پنځه سوه هلکان اوپنځه سوه جينکئ وې، اوپنځه سوه د سروزروخښتې اويود جواهراتونه پيللې شوې تاج اومشک اوعنبروغيره ئې د قاصدسره، سره د يوخط نه اوليږل.په دې موقع هدهدزرزرحضرت سليمان عليه السلام ته د ټول صورت حال خبر راوړو، نو حضرت سليمان عليه السلام د سروزرواود سپينوزرود خښتوجوړولوحکم اوکړو،اواوئې فرمائيل چه زماد محل نه ترنهه فرسخه پورې دې په ميدان کښې اوغوړولې شی،اوددې ميدان نه ګيرچاپيردې د سرزور اوسپينوزرود يوالونه اوچت کړې شی،دويمه ترجمه داد چه د ميدان نه ګيرچاپيردې يوديوال جوړکړې شی چه د هغې (کنګورے) د سرو او سپينو زرووی،اوداچه د وچې اود لوندې بهترين ځناور د خدمت د پاره سره د پيريانود بچو دې د ميدان ښی اوګس اړخ ته اودرولې شی،)نوکله چه (قاصدد هديې سره د وفدد نورواركانوسره)د سليمان (عليه السلام)په خدمت کښې حاضرشونو؟حضرت سليمان عليه السلام)اوفرمائيل چه آياتاسوپه مال سره زمامددکول غواړئ ؟نوالله چه کوم څه (نبوت اوبادشاهی)ماته راکړی دی هغه ډيربهتردی د هغه (دنيا)نه کومه ئې چه تاسوته درکړې د،آو تاسو به ذ هديې په لين دين باندې فخرکوئ،(ځکه چه ددنياپه زيب اوزينت باندې تاسوفخرکوئ'يوه ترجمه داهم کړې شوې د،هم تاسوپه خپله هديه باندې خوشحال اوسئ،يعنی ستاسوداهديه دی هم ستاسو مبارکه شی زماورته ضرورت نشته. حضرت سليمان عليه السلام د وفدامیرته اوفرمائيل چه خپله هديه راخله) د هغه (هديه ليږونکو)خواته واپس ورشه، مونږبه د هغوې په مقابله کښې يو داسې لښکرراؤلوچه هغوی کښې به ددې لښکرسره د مقابلې کولوطاقت نه وی اومونږبه خامخا هغوی د (دې ښارنه يعنی د سبانه)ذليل اوخوارکولوسره اوباسو(کهٔ دوی مونږتابعدارانه غلل.د ابوقبيله په نوم د ښارنوم سباکيښودلې شو،نوکله چه قاصدديه سره اوواپس لاړونوبلقيس خپل تخت د خپل محل د ننه کوم چه د اوؤ محلونود ننه وو،د اوو کمرود ننه بندکړواودروازې ئې تالا کړې،ورسره ئې په دروازوباندې څوکيداران کينول،اود حضرت سليمان عليه السلام طرف ته په دې نيت دتللو تياری شروع کړه چه اوګوری چه هغوی دې ته څه وائی، نوبلقيس د دولس زرومشرانوسره روانه شوه اود هرسردارسره په

زرونو کسان وؤ ،تردې چه بلقیس حضرت سلیمان علیه السلام ته دومره نزدې اورسید چه صرف د یو فرسخ فاصله پاتې شوه نوحضرت سلیمان ته ددې د راتگ علم اوشو.

(حضرت) سلیمان (علیه السلام) اوفرمائیل چه اې سردارانو اپه تاسو کښې څوک دې (په دوؤهمزو کښې هم هغه دوه قراءته دی کوم چه په وړاندینو کښې وو) چه د هغوی د مسلمان کیدو سره رارسیدونه وړاندې ماته دغې تخت راوړی (یعنی د مطیع اوفرمانبردارکیدوسره د راتلونه مخکښې،د هغې د مسلمان کیدونه مخکښې مادپاره د هغې تخت اخستل جائز دی، وروستونه دی جائز،) یوقوی صورت والا پیری اووئیل (حال داچه هغه ډیرقوی اومضبوط وو)زه به ئې درله ستاد مجلس نه د پاڅیدونه وړاندې ستاخواته راوړم، (هغه مجلس کوم کښې چه ته د مقدمو د فیصله کولودپار کښینې اوهغه د سحرنه ترغرمه پورې به وو)اویقین اوساته چه په هغې باندې (یعنی د هغې راپورته کولوباندې) زه قادریم امین هم یم .(یعنی چه کوم جواهرات اوملغلرې په هغې پورې لگیدلې دی نوزه په هغې امین یم .)

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ماذاتأمرین :ماذا د تامرین دپاره مفعول ثانی دې اومفعول اول ئې محذوف دې،تقدیرد عبارت داسې دې تامریننا .

قوله: نطلعك:دادفانظری امرجواب محذوف دې،اود جواب امرد کیدوپه وجه مجزوم دې.

قوله: بمَ یرجع: بم د یرجع سره متعلَق دې.

قوله: من قبول الهدیة : داپه بِمَ کښې د ما بیان دې، د فناظرة عطف په مرسلة باندې دې،د بم تعلق څنوحضراتود ناظرة سره کړې دې لیکن داصحیح نه د څکه چه مِا استفهامیه صدارت غواړی اوپه دې صورت کښې هغه فوت کیږی.

قوله: اذلة وهم صاغرون:اذلةً د هم ضمیرنه حال اول دې او"وهم صاغرون"حال ثانی مؤکد دې.

قوله: اى إن لم یأتونی مسلمین : دائې مقدرمنلو سره اشاره اوکړه چه "ولنخرجنهم"د شرط محذوف مؤخر جزاء د اواهل سباد سبانه ویستل د بلقیس د تابع فرمان کیدوسره نه راتلو شرط سره مشروط دی.

[ایاتوله:۴۰-۴۴]

قَالَ سُلَيْمَان أُرِيد أَسْرَع مِن ذَلِك (قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَابِ) الْمُنَزَّل وَهُوَ آصَف بْن بَرْخِيَا كَانَ صِدِّيقًا يَعْلَم اسْم اللّه الْأَعْظَم الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ (أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ) إِذَا نَظَرْت بِهِ إِلَى شَيْء فَقَالَ لَهُ اُنْظُرْ إِلَى السَّمَاء فَنَظَرَ إِلَيْهَا ثُمَّ رَدَّ بِطَرْفِهِ فَوَجَدَهُ مَوْضُوعًا بَيْن يَدَيْهِ فَفِي نَظَره إِلَى السَّمَاء دَعَا آصَف بِالِاسْمِ الْأَعْظَم أَنْ يَأْتِي اللّه بِهِ فَحَصَلَ بِأَنْ جَرَى تَحْت الْأَرْض حَتَّى نَبَعَ تَحْت كُرْسِيّ سُلَيْمَان (فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا) سَاكِنًا (عِنْدَهُ قَالَ هَذَا) أَيْ الْإِتْيَان لِي بِهِ (مِنْ فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي) لِيَخْتَبِرنِي (أَأَشْكُرُ

بتحقیق الهمزتین وإبدال الثانیة ألفا وتسهیلها وإدخال ألف بین المسهلة الآخری وترکه ﴿أم أکفر﴾ النعمة ﴿ومن شکر فإنما یشکر لنفسه﴾ أي لأجلها لأن ثواب شکره له ﴿ومن کفر﴾ النعمة ﴿فإن ربي غني﴾ عن شکره ﴿کریم﴾ بالأفضال علی من یکفرها ﴿قال نکروا لها عرشها﴾ أي غیروه إلی حال تنکره إذا رأته ﴿ننظر أتهتدي﴾ إلی معرفته ﴿أم تکون من الذین لا یهتدون﴾ إلی معرفة ما یغیر علیهم قصد بذلك اختبار عقلها لما قیل إن فیه شیئا فغیروه بزیادة أو نقص وغیر ذلك ﴿فلما جاءت قیل﴾ لها ﴿أهکذا عرشك﴾ أي أمثل هذا عرشك ﴿قالت کأنه هو﴾ فعرفته وشبهت علیهم کما شبهوا علیها إذ لم یقل أهذا عرشك ولو قیل هذا قالت نعم قال سلیمان لما رأی لها معرفة وعلما ﴿وأوتینا العلم من قبلها وکنا مسلمین﴾ ﴿وصدها﴾ عن عبادة الله ﴿ما کانت تعبد من دون الله﴾ أي غیره ﴿إنها کانت من قوم کافرین﴾ ﴿قیل لها﴾ أیضا ﴿ادخلي الصرح﴾ هو سطح من زجاج أبیض شفاف تحته ماء عذب جار فیه سمك اصطنعه سلیمان لما قیل له إن ساقیها وقدمیها کقدمي الحمار ﴿فلما رأته حسبته لجة﴾ من الماء ﴿وکشفت عن ساقیها﴾ لتخوضه وکان سلیمان علی سریره في صدر الصرح فرأی ساقیها وقدمیها حسانا ﴿قال﴾ لها ﴿إنه صرح ممرد﴾ مملس ﴿من قواریر﴾ من زجاج ودعاها إلی الإسلام ﴿قالت رب إني ظلمت نفسي﴾ بعبادة غیرك ﴿وأسلمت﴾ کائنة ﴿مع سلیمان لله رب العالمین﴾ وأراد تزوجها فکره شعر ساقیها فعملت له الشیاطین النورة فأزالته بها فتزوجها وأحبها وأقرها علی ملکها وکان یزورها في کل شهر مرة ویقیم عندها ثلاثة أیام وانقضی ملکها بانقضاء ملك سلیمان روی أنه ملك وهو بن ثلاث عشرة سنة ومات وهو بن ثلاث وخمسین سنة فسبحان من لا انقضاء لدوام ملکه

ترجمه: (سلیمان علیه السلام اوفرمائیل چه زه ئې درته ددې نه هم زرغوارم) دچاسره چه (د نازل شوي کتاب علم وو هغه اووئیل (اوهغه آصف بن برخیا وو، مقام د صدیقیت ته رسیدلي وو اود الله تعالی د اسم اعظم نه خبروو، هغه اسم اعظم کوم سره چه دعا اوغوښتلې شي نوقبلیږي)دا تخت به زه ستاد بڼود رپولونه وړاندې ستاحضورته راوړم (چه کله ته په خپل نظرسره څه څیزته ګوري، آصف بن برخیا حضرت سلیمان علیه السلام ته عرض اوکړوچه ته د اسمان په طرف ګوره، نو حضرت سلیمان علیه السلام د اسمان په طرف اوکتل بیائې نظررا اوګرځولونوتخت ئې په خپل خواکښې مخامخ پروت اولیدو، د حضرت سلیمان علیه السلام د اسمان طرف ته د نظرکولوپه وخت کښې آصف بن برخیا اسم اعظم اووئیلو اودادعا ئې اوکړه چه اې الله ! ته داتخت راولوه، نودعاداسې قبوله شوه چه تخت د زمکې د لاندې لاندې نه روان شواود حضرت سلیمان علیه السلام د کرسۍ مخې ته ښکاره شو) کله چه سلیمان علیه السلام تخت خپل ځان ته مخامخ موجوداولیدونواوئې فرمائیل چه دا (یعنی ددې تخت زماخواته راوړل) زماد رب فضل دې، ددې دپاره چه هغه ما اوزمائی چه زه شکرګزاری کوم که (د نعمت) ناشکری کوم (ء أشکر، کښې د دوارو همزوتحقیق اود دویمې په الف سره بدلیدلو اود ثانی په تسهیل سره اودمسهله اود دویمې ترمینځه د الف په داخلولوسره اوپه ترك

د ادخال سره» اوشکرگزار د خپلې فائدې دپاره شکرگزاری کوی «ځکه چه دد دشکرگزارئ اجرهم د ته رسي»اوچاچه «د نعمت» ناشکری اوکړه بې شکه زمارب «دغه د شکرېې نه» بې پرواه «او»کریم دې.«د نعمتونو ناشکری کوونکوباندې هم د فضل کولوپه وجه، حضرت سلیمان (علیه السلام)حکم اوکړوچه دهغې په تخت کښې څه رداوبدل اوکړئ .«یعنی هغه دومره بدل کړئ چه هغه ئې کله اووینی نوچه اوئې نه پیژنی،داد دې دپاره چه»مونږاوګوروچه آیاهغه به پیژندلې شی او کهٔ په نه پیژندونکوکښې پاتې کیږی.«دهغه تخت په معرفت کښې،په کوم کښې چه د هغې دپاره ترمیم کړې شوې دې،ددې رداوبدل مقصدد هغې د عقل آزمائش ووځکه چه حضرت سلیمان (علیه السلام) ته وئیل شوی ووچه د هغې په عقل کښې څه کمې دې نوپه دې وجه په تخت کښې څه قدرې کمې زیاتې اوکړې شواوبدل کړې شو» کله چه هغه راغله نو پوښتنه ترې اوکړې شوه چه آیاستاتخت هم داسې دې ؟«یعنی آیاستاتخت هم ددې په شان دې» نوبلقیس جواب ورکړودا خو لکه چه هم هغه دې «یعنی خپل تخت ئې اوپیژندو،هغې هم دوی ته مغالطه ورکړه لکه څنګه چه دوی هغې ته مغالطه ورکړې وه،په دې وجه هغې ته داسې اونه وئیل شول چه آیاداستاتخت دې ؟ اوکه داسې ورته وئیل شوی وی نوداسې به ئې وئیلی وې چه "نعم".کله چه سلیمان (علیه السلام) په هغې کښې علم اومعرفت اولیدونو وئې فرمائیل چه» مونږته ددې واقعې نه وړاندې هم وئیلې شوې وه،«د سباقوم ملکه به د فرمان تابعداری کوی اوخدمت کښې به حاضرېږی» اومونږمسلمانان وو.

نوټ: مفسرابن کثیر (رحمه الله) د "واوتیناالعلم" آیت د حضرت سلیمان (علیه السلام) قول ګرځولې دې اوعلامه محلی (رحمه الله) هم دغه اختیارکړې دې،نورومفسرینود بلقیس قول ګرځولې دې او ترجمه ئې داکړې د چه مونږددې واقعې نه وړاندې هم پوهه وو چه ته د الله تعالی پیغمبر ئې اوستاد فرمان تابعدارشوی وو،» اوهغه «د الله تعالی د عبادت نه»د غیرالله عبادت راایساره کړې وه،«د صدها فاعل ماکانت تعبد دې» یقیناً هغه د کافرقوم نه وه،بلقیس ته داهم اووئیل شول چه محل ته تشریف یوسئ،«او هغه د صفااوشفاف شیشې سطح اوفرش وو،چه لاندې ترینه اوبهٔ جاری وې،پکښې کبان هم وو،اودا د شیشې محل یا حوض ئې ددې دپاره جوړکړې ووچه حضرت سلیمان (علیه السلام) ته داوئیل شوی وو د بلقیس دواړه پنډئ اودواړه خپې د خرهٔ د خپوپه شان دی» کله چه بلقیس محل ته اوکتل نوداسې اوګڼله چه داژورې اوبهٔ دی اوخپلې پنډئ ئې کلاوې کړې، «ددې دپاره چه وردننه شی اوحضرت سلیمان (علیه السلام) محل ته مخامخ په تخت باندې تشریف فرماوو،نود بلقیس خپې اوقدمونه ئې ښائسته اوموندل نوحضرت»سلیمان (علیه السلام) هغې ته»اووئیل چه داخویود شیشې محل دې چه پرقیدونکې دې»«یعنی د شیشې نه جوړشوې محل دې !اوبلقیس ته ئې د اسلام دعوت ورکړو»بلقیس اووئیل چه اې ربه ایقیناً «ستانه بغیرد بل چاپه بندګئ کولوسره»ماپهٔ خپل ځان باندې ظلم کړې

دې اوزه د سليمان ﷺ سره په رب العالمين باندې ايمان راوړم. (او سليمان ﷺ د هغې سره د نکاح کولواراد اوکړه ليکن د هغې د پنډۍ ويښته ئې ناخوښه کړل نوپه دې وجه شيطانانو د هغې دپاره نوره (بال صفا) جوړه کړه پس د هغې نه بلقيس په هغې سره ويښته صفاکړل اوپس د هغې نه سليمان ﷺ د هغې سره نکاح اوکړواوهغه ئې په خپل ملک باندې برقرار اوساتله، حضرت سليمان ﷺ به د هغې سره هره مياشت کښې يوځل ملاقات کولو، اودرې ورځې به ئې ورسره قيام کولو، د حضرت سليمان ﷺ د بادشاهت د ختميدو سره د بلقيس بادشاهت هم اختتام ته اورسيدو، روايت کړې شوې دې چه حضرت سليمان ﷺ چه کله د ديارلسو کالوونو بادشاه جوړشوې وواوکله چه د دريوپنځوسو کالوشونو وفات شو، يو الله تعالى دې چه د هغه باشاهۍ لره ختميدل او زوال نشته.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: عفريت من الجن: ددې پيرى نامه ذکوان ياصخروه.

قوله: آصف بن برخيا: وئيلى شوى دى چه داد حضرت سليمان ﷺ د ترور (ماسى) خوې وو، اوپه لويو اولياء کرامو کښې وو، دد په لاس به خارق العادة کارونه ډيرښکاره کيدل.

قوله: ثمرد بطرفه: بطرفه کښې باء زائد د.

قوله: بالافضال على من يکفرها: يعنى هغه خپل عام نعمتونه د کفراود ناشکرۍ په وجه نه سلب کوى، "قال نکروالها" ددې عطف په "قال هذا من فضل ربى" باندې دې.

قوله: ننظر: د جواب امر کيدو په وجه مجزوم دې.

قوله: فکرة شعر ساقيها: داتفسيرد ماقبل تفسير "فراى ساقيها وقدميها احسانا" سره متعارض دې، ځنوحضراتوداتوجيه کړې د چه د ويښتونه قطع نظرد هغې قدمونه اوپنډۍ ښائسته وې، ليکن داتوجيه زړه ته نه کوزيږى.

قوله: ممرد" د تمريد نه مشتق دې معنى ئې د "خويه، هوار" امردم ددې نه دې.

[اياتونه: ۴۵ - ۵۹]

(وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ) مِن القبيلة (صَالِحًا أَنِ) أي بأن (اعْبُدُوا اللَّهَ) وحدوه (فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ) في الدين فريق مؤمنون من حين ارساله اليهم وفريق كافرون (قَالَ) للمكذبين (يَا قَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ) أي بالعذاب قبل الرحمة حيث قلتم ان كان ما اتيتنا به حقا فاتنا بالعذاب (لَوْلَا) هلا (تَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ) من الشرك (لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ) فلا تعذبون (قَالُوا اطَّيَّرْنَا) اصله تطيرنا ادغمت التاء في الطاء واجتلبت همزة الوصل أي تشاء منا (بِكَ وَبِمَن مَّعَكَ) المؤمنين حيث قحطوا المطر وجاعوا (قَالَ طَائِرُكُمْ) شومكم (عِندَ اللَّهِ) اتاكم به (بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ) تختبرون بالخير والشر (وَكَانَ فِي

الْمَدِينَةِ) مَدِينَة ثَمُود (تِسْعَةُ رَهْطٍ) أَيْ رِجَال (يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ) بِالْمَعَاصِي مِنْهَا قَرْضهمْ الدَّنَانِير وَالدَّرَاهِم (وَلَا يُصْلِحُونَ) بِالطَّاعَةِ (قَالُوا) أَيْ قَالَ بَعْضهمْ لِبَعْضٍ (تَقَاسَمُوا) أَيْ احْلِفُوا (بِاللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُ) بِالنُّونِ وَالتَّاء وَضَمّ التَّاء الثَّانِيَة (وَأَهْلَهُ) أَيْ مَنْ آمَنَ بِهِ أَيْ نَقْتُلهُمْ لَيْلًا (ثُمَّ لَنَقُولَنَّ) بِالنُّونِ وَالتَّاء وَضَمّ اللَّام الثَّانِيَة (لِوَلِيِّهِ) لِوَلِيّ دَمه (مَا شَهِدْنَا) حَضَرْنَا (مَهْلِكَ أَهْلِهِ) بِضَمّ الْمِيم وَفَتْحهَا أَيْ إِهْلَاكهمْ أَوْ هَلَاكهمْ فَلَا نَدْرِي مَنْ قَتَلَهُمْ (وَإِنَّا لَصَادِقُونَ) (وَمَكَرُوا) فِي ذَلِكَ (مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا) أَيْ جَازَيْنَاهُم بِتَعْجِيل عُقُوبَتهم (وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ) (فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ أَنَّا دَمَّرْنَاهُمْ) أَهْلَكْنَاهُمْ (وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ) بِصَيْحَةِ جِبْرِيل أَوْ بِرَمْيِ الْمَلَائِكَة بِحِجَارَةٍ يَرَوْنَهَا وَلَا يَرَوْنَهُم (فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً) أَيْ خَالِيَة وَنَصْبه عَلَى الْحَال وَالْعَامِل فِيهَا مَعْنَى الْإِشَارَة (بِمَا ظَلَمُوا) بِظُلْمِهِمْ أَيْ كُفْرهمْ (إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً) لَعِبْرَة (لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ) قُدْرَتنَا فَيَتَّعِظُونَ (وَأَنْجَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا) بِصَالِحٍ وَهُمْ أَرْبَعَة آلَاف (وَكَانُوا يَتَّقُونَ) الشِّرْك (وَلُوطًا) مَنْصُوب بِاذْكُرْ مُقَدَّرًا قَبْله وَيُبْدَل مِنْهُ (إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ) أَيْ اللِّوَاط (وَأَنْتُمْ تُبْصِرُونَ) أَيْ يُبْصِر بَعْضكُمْ بَعْضًا انْهِمَاكًا فِي الْمَعْصِيَة (أَئِنَّكُمْ) بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَتَسْهِيل الثَّانِيَة وَإِدْخَال أَلِف بَيْنهمَا عَلَى الْوَجْهَيْنِ (لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِنْ دُونِ النِّسَاءِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ) عَاقِبَة فِعْلكُمْ (فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَنْ قَالُوا أَخْرِجُوا آلَ لُوطٍ) أَهْله (مِنْ قَرْيَتِكُمْ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ) مِنْ أَدْبَار الرِّجَال (فَأَنْجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَاهَا) جَعَلْنَاهَا بِتَقْدِيرِنَا (مِنَ الْغَابِرِينَ) الْبَاقِينَ فِي الْعَذَاب (وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَطَرًا) هُوَ حِجَارَة السِّجِّيل فَأَهْلَكَتْهُمْ (فَسَاءَ) بِئْسَ (مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ) بِالْعَذَابِ مَطَرهمْ (قُلْ) يَا مُحَمَّد (الْحَمْدُ لِلَّهِ) عَلَى هَلَاك الْكُفَّار مِنَ الْأُمَم الْخَالِيَة (وَسَلَامٌ عَلَى عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَى) هُمْ (آللَّهُ) بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَإِبْدَال الثَّانِيَة أَلِفًا وَتَسْهِيلهَا وَإِدْخَال أَلِف بَيْن الْمُسَهَّلَة وَالْأُخْرَى وَتَرْكه (خَيْرٌ) لِمَنْ يَعْبُد (أَمَّا يُشْرِكُونَ) بِالتَّاءِ وَالْيَاء أَيْ أَهْل مَكَّة بِهِ الْآلِهَة خَيْر لِعَابِدِيهَا

ترجمه: او یقیناً مونږ ثمود یانو ته د هغوی (د برادرئ) ورور صالح لیږلې وو چه تاسو ټول د الله بندګی اوکړئ (یعنی د هغه د توحید قائل شئ) ناڅاپه (د امید خلاف) په هغوی کښې دوه ډلې شوې، (د دین په باره کښې) ترخپله مینځه ئې جګړې شروع کړې، (یوه ډله د مؤمنانووه، د هغوی طرف ته د صالح علیه السلام د لیږلود وخت نه اوبله ډله د کافرانووه) هغه (صالح علیه السلام تکذیب کوونکو ته) او وئیل چه اې زما د قوم خلقو ! تاسو د نیکئ نه وړاندې د بدئ جلتی ولې کوئ ؟ (یعنی د رحمت نه وړاندې د عذاب جلتی ولې کوئ، په دې اعتبار سره چه تاسو اووئیل چه که ته په خپله خبره کښې رېښتونې ئې کومه چه تا مونږ ته راوړې ده نو په مونږ باندې عذاب راوله) تاسو ولې د الله نه د شرک نه معافی نه غواړئ ددې د پاره چه په تاسو باندې رحم اوکړې شی، (چه په عذاب کښې مبتلا نه شئ) هغه خلقو او وئیل چه مونږ تا له او ستا ملګرتیا کوونکو له (یعنی مؤمنانو له) سپیره ګنړو، (اطیر نا په اصل کښې تطیر نا وو، تاء

په طاء کښې ادغام شوه، د ابتداء بالسکون لازمیدو په وجه په شروع کښې همزه داخله کړې شوه نواطیرناشو، یعنی ستاپه وجه مونږ په نحوست اوسپیرۀ والی کښې مبتلاشو، ځکه چه قوم د وچ کالئ اود قحط ښکارشو، (حضرت صالح ﷺ) اوفرمائیل چه ستاسونحوست د الله سره دې (هم هغه په تاسوباندې راوستې دې لیکن تاسوهغه خلق یئ چه (د خیراو شرپه ذریعه) په امتحان کښې مبتلاشوی یئ، اود ثمودپه ښار (حجر) کښې نهه داسې کسان وو چه (د نافرمانیوپه وجه ئې) په زمکه (ملک) کښې فسادخورولو، (هم ددې فسادپه طریقوکښې د دراهمواودنانیروکټ کول هم شامل وو) او (د طاعت په ذریعه ئې لره) اصلاح هم نه کوله، دې خلقو (په خپل مینځ کښې یوبل ته) اووئیل چه په الله قسم اوخورئ چه مونږ به د شپې په صالح (ﷺ) اوددپه اهل باندې حمله کوو (یعنی د شپې به ئې مونږ خامخا وژنو. "لنبیتنه" په نون سره اوپه ځائ د نون په تاء سره اود تاثانی په ضمې سره، اود اهل نه د حضرت صالح ﷺ باندې ایمان لرونکی خلق مراددی.) اوبیابه مونږد هغه ولی دمتعصا وایوچه مونږد هغه د اهل د هلاکیدوپه وخت کښې موجود (هم) نه وو (لنقولنّ په نون سره اود تٰ، او لام ثانی په ضمې سره اومهلک د میم په ضمې سره یعنی د هغوی د هلاکولوپه وخت کښې اود میم په فتحې سره یعنی د هغود هلاکیدوپه وخت کښې، لهٰذامونږنه خبرچه. چابه وژلی وی ؟) اومونږبالکل رښتونی یو، هغوی (په دې معامله کښې) یوپټ تدبیر اوکړو او مونږ (هم) یوتدبیراوکړو (یعنی مونږهغوی لره په فوری عذاب کښې راګیرکړل او سزا مو ورکړه) اوهغوته خبرهم اونه شونواوګوره د هغود مکرڅه انجام شو ؟ مونږهغوی لره اود هغوی پوره قوم لره (د جبرائیل د چغې په ذریعې یاد فرښتود کاڼوویشتلوپه ذریعې سره) هلاک کړل (هغوې به کاڼی لیدل لیکن فرښتې ئې نه لیدلې) نودادی د هغوی ځایونه کوم چه د ظلم په وجه خالی پراته دی (یعنی د هغوی د کفرپه وجه، خَاوِيَةً د حال کیدوپه وجه منصوب دې، اوعامل پکښې د اسم اشاره معنی د یعنی اشیر) بې شکه په دې (تدبیر) کښې غټ عبرت دې دهغه خلقودپاره چه زمونږقدرت پیژنی (نونصیحت ترې حاصلوی) اومونږ هغه خلقوته کوموچه (په صالح ﷺ باندې) ایمان راوړې وو (اوهغوی څلورزره وو) خلاصې ورکړواوهغوی (د شرک نه) ځان ساتلو، اولوط ﷺ لره هم یادکړه دلته لوطا د ماقبل اذکرمحذوف په وجه منصوب دې او "اذقال لقومه" د "اذکرلوطا" نه بدل دې) کله ئې چه خپل قوم ته اوفرمائیل چه آیاتاسو د بې حیایئ (یعنی لواطت) کارکوئ په داسې حال کښې چه تاسو (یوبل لره په دې معصیت کښې ورډوب) وینی، (یعنی یوبل لره مشغول وینئ) آیاتاسو د ښځونه بغیرد ناریڼوته شهوت پوره کوئ ؟ (په آئنکم کښې د دواړوهمزوپه تحقیق سره اود ثانی په تسهیل سره اوبیاپه دې دواړوصورتونوکښې د دواړوترمینځه په الف داخلولوسره) بلکه تاسوداسې قوم یئ چه (د خپل کارد انجام نه) بې خبره یئ (د قوم سره جواب بغیرددې وئیلونه بل څه نه ووچه د

لوط متعلقین د خپل ښارنه اوباسئ داخلق (د نارینؤد دبرېه معامله کښې)ډیرپاک جوړېږي، نومونږ لره اودد اهل لره سیواد د ښځې نه بچ کړل اومونږهغه (دد ښځه په عذاب کښې)په پاتې کیدونکې کښې کړه، اومونږپه هغوی باندې د یوخاص قسم باران اوور ولو(هغه کود کانړو کانړي وو کومړچه هغوی لره هلاک کړل)نوددې عذاب نه په ویر ولوشوؤباندې هغه بدباران وو.(اې محمد ﷺ)اووایه (د تیروشوو قومونوپه هلاکولوسره)ټول تعریفونه د الله دپاره دی اود هغه په غوره بندګانوباندې سلام دې،آیاالله غوره دې (د هغه چا دپاره چه څوک ئې بندګی کوی)یاهغه چه دوی شریکان جوړی کړی دی.(په ءالله خیرکښې د دواړوهمزوپه تحقیق سره اود دویمې په الف سره بدلولوسره اود مسهله اومحققه ترمینځ د الف په داخلولوسره اوپه ترک سره،یشرکون په یاء اوتاء سره، یعنی اې د مکې والؤ!الله تعالی بهتردې یاهغه څیزونه کوم چه تاسود الله تعالی سره د معبودپه حیثیت سره شریک کړی دی،د خپلو عابدینودپاره بهتردی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ولقدأرسلناإلی ثمودأخاهم: ثمودددې قبیلې د جدّابعدنوم دې حضرت صالح ﷺ هم دوی د نسل نه دې،هم ددې ابوالجدپه نوم سره د قبیلې نوم کیښودلې شوې دې لیکن قبیله مراده،د حضرت صالح ﷺ امت ته عادثانیه هم وئیلې کیږی،عاداولی د هود ﷺ د قوم نوم دې،د عاد اولی اود عادثانیه ترمینځه سل کاله فاصله ده.

قوله: صالحا: د اخاهم نه بدل یاعطف بیان دې،حضرت صالح ﷺ دوه سوه اتیاکاله عمر موندلې وو،د هود ﷺ عمرخلورسوه خلورشپیته کاله وو،د هود ﷺ اود نوح ﷺ ترمینځه آته سوه کاله فاصله د.

قوله: فاذاهم فریقٰن یختصمون: د فریقان نه قوم صالح مراددې،یعنی څنوخلقوایمان راؤړواوځنورانه وړو،علامه زمخشری په دوه فریقوکښې یوفریق حضرت صالح ﷺ اوبل د هغوی قوم ګرځولې دې،علامه زمخشری لره په دې توجیه باندې یعنی د فریقان نه دامطلب اخستوباندې د فاء په ذریعه سره عطف آماده کړې دې ځکه چه فاء په تعقیب بالاتصال باندې دلالت کوی،یعنی د دعوې د رسالت سره متصلاً دوه دلې شوې،یوفریق حضرت صالح ﷺ اوبل فریق د هغه قوم.

قوله: یختصمون: په اعتبارد معنی سره د فریقان صفت دې یعنی فریقان کوم چه موصوف دې اګرچه په اعتبارد لفظ سره تثنیه د لیکن کله چه هرفریق په څوافرادوباندې مشتمل دی په دې وجه په دې کښې د جمعیت معنی ده په موصوف اوصفت کښې مطابقت موجوددې.

قوله: لم تستعجلون بالسیئة : ای بطلب السیئة، د سیّئه نه عذاب اود حسنه نه رحمت مراد دي،لکه څنګه چه ورته مفسرعلام اشاره کړې د.

قوله: قحطواالمطرای حبسواالمطر: یعنی ستاسود نحوست په وجه باران بندشوي دي.

قوله: مدینة ثمود: وئیلی شوی دی چه د ثمودد ښارنوم حجروو،اوځنومفسرینووئیلی دی چه حجرد مدینې اود شام ترمینځه یوه وادی د،هم دلته د ثمودیانوآبادی وه.

قوله: رهط : د رهط تفسیرئې په رجال سره کولو کښې اشاره د دې خبرې ته چه رهط د تسعة نه په اعتبارد معنی سره تمیزواقع شوي دې،رهط اګرچه د لفظ په اعتبارسره مفرد دې لیکن د معنی په اعتبارسره جمع دې،په دې وجه ئې تمیزواقع کیدل صحیح دی، په تسعة رهط کښې اضافت بیانی دې،ای تسعة هم رهط. رهط د لسونه کمو افرادو ته وئیلې کیږی په کوموکښې چه زنانه نه وی.د تقاسمواتفسیر په احلفواسره کولو کښې اشاره د دې خبرې ته چه دا صیغه د امرد ،مطلب دادې چه دې نهوکسانوکوموچه د اوښې اود حضرت صالح ﷺ د اهل خانې د وژلومنصوبه جوړه کړې وه،دوی په خپل مینځ کښې اووئیل چه قسمونه اوخورئ چه مونږبه په صالح ﷺ اود هغه په اهل خانه باندې د شپې حمله کوو.تقاسموا فعل ماضی هم کیدې شی په دې صورت کښې به د لقالوا تفسیرواقع شی،نوګویاچه سوال اوکړې شوچه "ماقالوا ؟ فقیل تقاسموا،لنبیتنه مضارع جمع متکلم بانون تاکیدثقیله، ه ضمیرمفعول باب تفعیل، مونږبه د باندې خامخاپه شپه کښې حمله کوو.

قوله: بماظلموا:۔ددې تفسیرئې په بظلمهم سره کوکو کښې اشاره کړې د دې خبرې چه مَا مصدریه د اوباء سببیه د.

قوله: اٰمنوبصالح:په نوروتفاسیروکښې اٰمنوا صالحا دې.

قوله: وانتم تبصرون : د تاتون د ضمیرنه جمله حال واقع دې، مقصدد نکیر تاکید او تشدید دې،په یبصربعضکم بعضاسره دې خبرې ته اشاره د چه د رؤیت نه رؤیت بصری مراددې،یعنی دوی به د یوبل په وړاندې داخبیث عمل کولو.ځنود رؤیت نه رؤیت قلبی مرادکړې دې یعنی سره د پوهې تاسوداحرکت کوئ.

قوله: لتاتون الرجال شهوةً من دون النسآء: په دې سره چه په "اتاتون الفاحشة "کښې کوم ابهام وونود هغې تعین اوکړې شو،اوّلا مبهم ساتلوکښې دې طرف ته اشاره د چه دا حرکت ناقابل بیان بلکه ددې وصف بیانول انتهائی مشکل اوګران دی،هیڅ یو عقلمند اوپوهه کس به ددې تصدیق او نه کړی چه یوداسې عمل هم د چانه صادریدې شی.

قوله: من دون النساء: په دې کښې دې خبرې ته اشاره د چه په دې حرکت کښې دوه طرفه معصيت اونافرمانی ديعنی يود نارينه سره فعل معصيت دې اوبل د ښځوترک معصيت دې.
قوله: تجهلون: سوال دلته تجهلون د قوم صفت دې حال داچه مطابقت نشته ځکه چه قوم غائب دې اوتجهلون حاضردې؟ جواب دادې چه کله غيبت اومخاطبت دواړه جمع شی نود مخاطبت د اقوٰی کيدوپه وجه مخاطبت ته په غيبت باندې غلبه ورکول کيږی، (جمل) داهم وئيل شوی دی چه چونکه مخاطب قوم دې په دې وجه ئې د حاضرپه درجه کښې اوساتلوصفت ئې د مخاطب په صيغې سره راوړلې شو.
قوله: عاقبة: په دې کښې اشاره دې خبرې ته د چه د تجهلون مفعول محذوف دې.
قوله: فماكان جواب قومه: د كان خبرمقدم دې الا ان قالوا ئې اسم دې ای الا قولهم، اوابن ابی اسحاق جواب په رفع سره لوستلې دې اود كان دپاره ئې اسم گرځولې دې او مابعد ئې ددې خبرگرځولې دې.
قوله: وامطرناعليهم مطرا: داتاكيدپه شدت د مطر باندې دلالت كولو دپاره دې يعنی هغه باران غيرمعمولی اوغيرمعهودوو،بالعذاب د منذرين سره متعلق دې اومطرهم مخصوص بالذم دې.

پاره نمبر۲۰ [أمن خلق]
[اياتونه:۶۰-۶۶]

(أمن خلق السماوات وَالْأَرض وَأَنْزَلَ لَكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَنْبَتْنَا) فِيهِ الْتِفَات مِنَ الْغَيْبَة إِلَى التَّكَلُّم (بِهِ حَدَائِق) جَمْع حَدِيقَة وَهُوَ الْبُسْتَان الْمَحُوط (ذَاتَ بَهْجَة) حُسْن (مَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُنْبِتُوا شَجَرَهَا) لِعَدَمِ قُدْرَتكُمْ عَلَيْهِ (أَإِلَه) بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَتَسْهِيل الثَّانِيَة وَإِدْخَال أَلِف بَيْنهمَا عَلَى الْوَجْهَيْنِ فِي مَوَاضِعه السَّبْعَة (مَعَ اللَّه) أَعَانَهُ عَلَى ذَلِكَ أَيْ لَيْسَ مَعَهُ إِلَه (بَلْ هُمْ قَوْم يَعْدِلُونَ) يُشْرِكُونَ بِاَللَّهِ غَيْره (أَمَّنْ جَعَلَ الْأَرْض قَرَارًا) لَا تَمِيد بِأَهْلِهَا (وَجَعَلَ خِلَالهَا) فِيمَا بَيْنهَا (أَنْهَارًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ) جِبَالًا أَثْبَتَ بِهَا الْأَرْض (وَجَعَلَ بَيْن الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا) بَيْن الْعَذْب وَالْمِلْح لَا يَخْتَلِط أَحَدهمَا بِالْآخَرِ (أَإِلَه مَعَ اللَّه بَلْ أَكْثَرهمْ لَا يَعْلَمُونَ) تَوْحِيده (أَمَّنْ يُجِيب الْمُضْطَرّ) الْمَكْرُوب الَّذِي مَسَّهُ الضُّرّ (إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِف السُّوء) عَنْهُ وَعَنْ غَيْره (وَيَجْعَلكُمْ خُلَفَاء الْأَرْض) الْإِضَافَة بِمَعْنَى فِي أَيْ يَخْلُف كُلّ قَرْن الْقَرْن الَّذِي قَبْله (أَإِلَه مَعَ اللَّه قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ) تَتَّعِظُونَ بِالْفَوْقَانِيَّةِ وَالتَّحْتَانِيَّة وَفِيهِ إِدْغَام التَّاء فِي الذَّال وَمَا زَائِدَة لِتَقْلِيلِ الْقَلِيل (أَمَّنْ يَهْدِيكُمْ) يُرْشِدكُمْ إِلَى مَقَاصِدكُمْ (فِي ظُلُمَات الْبَرّ وَالْبَحْر) بِالنُّجُومِ لَيْلًا وَبِعَلَامَاتِ الْأَرْض نَهَارًا (وَمَنْ يُرْسِل الرِّيَاح بُشْرًا بَيْن يَدَيْ رَحْمَته) قُدَّام الْمَطَر (أَإِلَه مَعَ اللَّه تَعَالَى اللَّه عَمَّا يُشْرِكُونَ) بِهِ غَيْره (أَمَّنْ يَبْدَأ الْخَلْق) فِي الْأَرْحَام مِنْ نُطْفَة (ثُمَّ يُعِيدهُ) بَعْد الْمَوْت وَإِنْ لَمْ تَعْتَرِفُوا بِالْإِعَادَةِ لِقِيَامِ الْبَرَاهِين عَلَيْهَا (وَمَنْ يَرْزُقكُمْ مِنَ

السماء، بالمطر ﴿وَالْأَرْض﴾ بالنبات ﴿أَإِلَهٌ مَعَ اللَّهِ﴾ اي لا يفعل شيئا مما ذكر إلا الله ولا إله معه ﴿قُلْ﴾ يا محمد ﴿هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ﴾ حجتكم ﴿إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ﴾ ان معي الها فعل شيئا مما ذكر وسألوه عن وقت قيام الساعة فنزل ﴿قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ من الملائكة والناس ﴿الْغَيْبَ﴾ اي ما غاب عنهم ﴿إِلَّا﴾ لكن ﴿اللَّهُ﴾ يعلمه ﴿وَمَا يَشْعُرُونَ﴾ اي كفار مكة كغيرهم ﴿أَيَّانَ﴾ وقت ﴿يُبْعَثُونَ﴾ ﴿بَلْ﴾ بمعنى هل ﴿أدرك﴾ وزن اكرم وفي قراءة آخرى بتشديد الدال واصله تدارك أبدلت التاء دالا وأدغمت في الدال واجتلبت همزة الوصل اي بلغ ولحق او تتابع وتلاحق ﴿عِلْمُهُمْ فِي الْآخِرَةِ﴾ اي بها حتى سألوا عن وقت مجيئها ليس الامر كذلك ﴿بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِنْهَا بَلْ هُمْ مِنْهَا عَمُونَ﴾ من عمى القلب وهو ابلغ مما قبله والأصل عميون استثقلت الضمة على الياء فنقلت إلى الميم بعد حذف كسرتها

ترجمه: اوښایئ؟ آیاهغه ذات (غوره دې) چاچه اسمانونه اوزمکه جوړکړی دی اود اسمان نه ئې ستاسودپاره اوبه راوروليې دی بیامونږدديې اوبوپه ذریعه باغونه د حسن والا راوټوکول، (په انبتنا کښې د غیبت نه تکلم طرف ته التفات دې، حدائق د حدیقة جمع د هغه باغ ته وئیل کیږی چه د هغې نه څلورواړه خونوته دیوال وهلې شوې وی،) ستاسودپاره ممکنه نه وه چه ددې باغونونې راوټوکوئ، (ستاسوپه دې باندې د نه قدرت لرلوپه وجه، داموچه واوریدل نودا اوښایئ چه) آیاد الله سره بل معبودشته؟ (په دې کارباندې دمدد کولودپاره، یعنی دهغه سره بل هیڅ څوک اله نشته، په ءاله کښې د دواړوهمزوپه تحقیق سره اود دویمې په تسهیل سره اوپه دواړوصورتونوکښې د دواړوهمزوترمینځه په الف داخلولوسره په اوږدوالي کښې) بلکه داداسې خلق دی چه د الله سره برابر جوړوی. (یعنی غیرالله لره د الله سره شریک ګرځوی) یاهغه ذات چه زمکه ئې قرارګاه جوړه کړه، (ددې دپاره چه د زمکې والوباندې اونه خوزی) اوددې په مینځ کښې ولې روانې کړې، (اود زمکې د ټینګولودپاره ئې) غرونه جوړکړل، (چه د هغې په ذریعه ئې زمکه ساکنه کړه ددې دپاره چه هغه اضطرابی حرکت اونه کړی) اودوو دریابونو (یعنی د خوږاوتریخ) ترمینځه ئې حد فاصل جوړکړو، (ددې دپاره چه په خپلوکښې خلط ملط نه شی) آیاد الله سره بل معبود شته؟ بلکه په دوی کښې زیات خلق (په توحید) نه پوهیږی، آیاهغه ذات کوم چه د بې قراره کس دعا اوری کله چه د هغه نه غوښته کوی (یعنی ددې مصیبت زپلی کس کوم چه په تکلیفونو کښې مبتلادې) اودد (اود نوروهم) مصیبتونه لرې کوی اوتاسو د زمکې خلیفه ګان جوړوی، (په خلفاء الارض کښې اضافت په معنی د فی دې یعنی هرنوې نسل د راتلونکی نسل د پاره قائم مقام جوړوی) آیاد الله سره بل معبودشته؟ تاسوډیرکم نصیحت حاصلوئ، (تذکرون کښې په تاء اویاء دواړه قراتونه راغلی دی اوپه دې کښې د تاء په ذال کښې ادغام دې او ما پکښې زائد د قلیل د قلت یعنی د عدم بیانولودپاره) آیاهغه ذات کوم چه تاسوته (ستاسود

مقاصدو په طرف﴾ وچې اود لوندې په تيارو کښې لاربنودنه کوی﴿د شپې د ستورو په ذريعې سره اود ورځې د زمکې د علاماتو په ذريعې سره﴾اوهغه ذات چه ﴿د باران نه ورآندې﴾زيرې ورکوونکی بادونه چلوی آيادهٔ الله سره بل معبودم شته ؟الله د هغه ترلوځيزونه پاک دې ﴿کوم چه دوی د الله سره شريک جوړوی﴾ آياهغه ذات کوم چه مخلوق ﴿د مورپه رحم کښې د نطفې نه﴾ابتداءً پيداکوی بيابه ئې ﴿د مرګ نه وروستو﴾ واپس کوی ﴿اګرچه د هغوی د اعادې عقيده نه وه ليکن چونکه په اعاد باندې براهين قاطعه موجوددی ځکه د هغوی نه د دويم ځل د تخليق په باره کښې پوښتنه اوشوه﴾ اوهغه ذات چه د اسمان نه ﴿د باران په ذريعه﴾اود زمکې نه ﴿د زرغونې په ذريعه﴾ تاسوته روزی درکوی ﴿ددې اوريدوسره اوس اووايئ چه﴾آياد الله سره بل کوم معبودشته ؟﴿يعنی په دې مذکوره کارونو کښې د الله نه سيوابل هيڅوک څه نه شی کولې اونه بل هيڅ يومعبود د هغه سره شته،اې محمد ﷺ﴾ته اووايه چه که تاسوريښتونی يئ نودليل راوړئ،﴿په دې خبره چه ماسره بل معبودشته چاچه په دې مذکوره کارونو کښې څه کارکړې وی ؟اوکله چه مشرکانو د حضور ﷺ نه د قيامت د قائميدو د وخت په باره کښې پوښتنه اوکړه نودارآروان آيت نازل شو﴾ته اووايه چه د اسمان اود زمکې والؤنه ﴿که هغه فرښتې وی که انسانان وی﴾په غيب ﴿يعنی د خپل ځان نه په پټوځيزونوباندې﴾ هيڅوک نه پوهيږی سيواد الله نه ﴿چه هغه پرې پوهيږی﴾ اوکافران ﴿هم د نوروپه شان﴾په دې نه پوهيږی چه کله به راپورته کولې شی ؟﴿بل په معنی د هل دې،ادرک په وزن د اکرم په يوقراءت کښې اوپه بل قراءت کښې ادّارک په تشديدسره،اصل کښې تدارک ووتاء په دال سره بدله کړې شوه اودال په دال کښې مدغم کړې شو،د ابتداء بالسکون لازميدوپه وجه په شروع کښې همزه د وصل اضافی کړې شوه يعنی بلغ ولحق،دامعنی به د رومبنی قراءت په صورت کښې شی اوتتابع اوتلاحق به د دويم قراءت په صورت کښې شی يعنی﴾د دوی علم د آخرت په باره کښې ستړی شوې دې ﴿عاجزشوې دې﴾ چه د هغې په وجه ئې د آخرت د وخت د راتلوپه باره کښې پوښتنه کړې وی خبره داسې نه د،فی الاخرة کښې فی په معنی د باء د ای بها﴾بلکه داخلق د قيامت د وقوع په باره کښې په شک کښې مبتلا دی بلکه ددې نه دوی ړاند جوړشوی دی ﴿د زړه ړاندهٔ،اوداد ماقبل نه ابلغ دې،يعنی بل هم منهاعمون د ادارک علمهم نه ابلغ دې،اوعمون په اصل کښې عميون وو،ضمه په ياء باندې ګرانه وه د ميم د کسرې د حذف کولونه وروستوميم ته ورکړې شوه.

د قيودااتو فوائد اوتسهيل

قوله: أمّن خلق السمٰوات والأرض : دا أم منقطعه دې،ابوحاتم وئيلی دی چه ددې تقديرداسې دې ءالهتکم خيرأمن خلق السمٰوات والارض، اوځنوحضراتود آيت معنی دابيان کړې د چه أعبادة ماتعبدون من أوثانکم خيرأم عبادة من خلق السمٰوات والارض

په دې صورت کښې به أم متصله وی او د توبیخ او تهکم په معنی به وی.

قوله: قوم یعدلون : دا د عدل نه مشتق دې چه معنی ئې د برابرول، مفسر علام هم دغه معنی مراد اخستې د، او د عدول نه هم مشتق کیدې شی چه معنی ئې د حدنه تجاوزکول. یعنی تاسو د حدنه تجاوزکوونکې قوم یئ. ځنو حضراتو امن جعل والارض قرارا اوورپسې راتلونکې دغه شان جملې د امّن خلق السمٰوات نه بدل ګرځولې دی. راجح او بهترقول دا معلومیږی چه بَل په درې واړو ځایونوکښې د تبکیت د یوې طریقې نه بلې طریقې ته د انتقال دپاره دې.

قوله: خلالها : د جعل دپاره ظرف هم کیدې شی کهٔ جَعَلَ په معنی د خلق واخستې شی او د جعل دپاره مفعول ثانی هم کیدې شی کهٔ جعل په معنی د صیّر واخستې شی.

قوله: ویکشف السوء : ددې عطف په یجیب المضطر باندې دې، دا د عطف د خاص علی العام د قبیلې نه دې، مفسر علام عنه وعن غیره وئیلو سره هم دې طرف ته ئې اشاره اوکړه.

قوله: تقلیل القلیل : دا کنایه ده د عدم بالکلیه نه مراد د تذکّر مطلقا نفی ده.

قوله: وان لم یعترفوا بالاعادة : دا د یو مقدر سوال جواب دې، سوال دا دې چه کله کفار د اعاد بعدالموت قائل نه دی نو بیا هغوی ته دا وئیل چه هغه ذات چه ابتداءً تخلیق کوی او د مرګ نه پس به بیا ژوندی کول کوی، څنګه صحیح کیدې دې ؟

د جواب حاصل دا دې چه کفار اګرچه د اعادِ بعدالموت قائل نه و لیکن ابتداءً د تخلیق قائل وو، د ابتداء په اعاد باندې دلالت ظاهر او اقوی دې نو په دې وجه دوی د اعادې قائلین او معترفین فرض کړې شو او د اعادې په باره کښې ترې تپوس اوکړې شو.

قوله: ءَإلٰه مع الله : دا جمله دلته پینځه ځایه مسلسل ذکرشوې د اولنې ئې په بل هم قوم یعدلون باندې ختمه کړې د، دویمه ئې په بل اکثرهم لایعلمون باندې ختمه کړې د، دریمه ئې په قلیلا ماتذکرون باندې ختمه کړېد، څلورمه ئې په عمّا یشرکون باندې او پینځمه ئې په قل هاتوا برهانکم ان کنتم صادقین باندې ختمه کړې ده.

قوله: انّ معی الها : دیر صحیح دا دې انّ معه الها ځکه چه مخکښې ءالهة معه وئیلې شوې دې، په ځنو نسخو کښې د معه په ځای مع الله دې، کوم چه بالکل واضح دې، د الاتفسیرئې په لکنّ سره اوکړو په دې کښې دې خبرې ته اشاره د چه دا مستثنی منقطع د ځکه چه کهٔ مستثنی متصله اوګرځولې شی نو الله به په من فی السمٰوات والارض کښې شامل شی، او د من فی السمٰوات والارض دپاره د مکان ضرورت دې نو د الله دپاره به هم مکان ثابت شی، کوم چه غلط دې، نو په دې وجه مستثنی لره مستثنی منقطعه ګرځولې ده.

د فی الاخرة تفسیرئې بهاسره اوکړو، اشاره دې خبرې ته د چه دلته فاء په معنی د باء سره

د، یعنی آیاد آخرت په باره کښې ددوی علم عاجزشوی دی.

قوله: ليس الامركذالك: په دې سره اشاره د دې خبرې ته چه بَل په معنی د هل دې اود استفهام انکاری دپاره دې، أي لم يحصل لهم علم بالآخرة أي لم يصدقوا بها ولم يحققوها".

[اياتونه: ۶۷-۸۲]

﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ أيضا في إنكار البعث ﴿أَإِذَا كُنَّا تُرَابًا وَآبَاؤُنَا أَئِنَّا لَمُخْرَجُونَ﴾ مِن القُبور ﴿لَقَدْ وُعِدْنَا هَذَا نَحْنُ وَآبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ إِنْ﴾ ما ﴿هَذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ﴾ جمع أسطورة بالضم أي ما سطر من الكذب ﴿قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ﴾ بإنكارهم وهي هلاكهم بالعذاب ﴿وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُنْ فِي ضَيْقٍ مِمَّا يَمْكُرُونَ﴾ تسلية للنبي صلى الله عليه وسلم أي لا تهتم بمكرهم عليك فإنا ناصروك عليهم ﴿وَيَقُولُونَ مَتَى هَذَا الْوَعْدُ﴾ بالعذاب ﴿إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ﴾ فيه ﴿قُلْ عَسَى أَنْ يَكُونَ رَدِفَ﴾ قرب ﴿لَكُمْ بَعْضُ الَّذِي تَسْتَعْجِلُونَ﴾ فحصل لهم القتل ببدر وباقي العذاب يأتيهم بعد الموت ﴿وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ﴾ ومنه تأخير العذاب عن الكفار ﴿وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ﴾ فالكفار لا يشكرون تأخير العذاب لإنكارهم وقوعه ﴿وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ﴾ تخفيه ﴿وَمَا يُعْلِنُونَ﴾ بألسنتهم ﴿وَمَا مِنْ غَائِبَةٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ﴾ الهاء للمبالغة أي شيء في غاية الخفاء على الناس ﴿إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ﴾ بين هو اللوح المحفوظ ومكنون علمه تعالى ومنه تعذيب الكفار ﴿إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ﴾ الموجودين في زمان نبينا ﴿أَكْثَرَ الَّذِي هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ﴾ أي ببيان ما ذكر على وجهه الرافع للاختلاف بينهم لو أخذوا به وأسلموا ﴿وَإِنَّهُ لَهُدًى﴾ من الضلالة ﴿وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ﴾ من العذاب ﴿إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ﴾ كغيرهم يوم القيامة ﴿بِحُكْمِهِ﴾ أي عدله ﴿وَهُوَ الْعَزِيزُ﴾ الغالب ﴿الْعَلِيمُ﴾ بما يحكم به فلا يمكن أحدا مخالفته كما خالف الكفار في الدنيا أنبياءه ﴿فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ﴾ ثق به ﴿إِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِينِ﴾ الدين البين فالعاقبة لك بالنصر على الكفار ثم ضرب أمثالا لهم بالموتى والصم وبالعمى فقال ﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا﴾ بتحقيق الهمزتين وتسهيل الثانية بينها وبين الياء ﴿وَلَّوْا مُدْبِرِينَ﴾ ﴿وَمَا أَنْتَ بِهَادِي الْعُمْيِ عَنْ ضَلَالَتِهِمْ إِنْ﴾ ما ﴿تُسْمِعُ﴾ سماع إفهام وقبول ﴿إِلَّا مَنْ يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا﴾ القرآن ﴿فَهُمْ مُسْلِمُونَ﴾ مخلصون بتوحيد الله ﴿وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ﴾ حق العذاب أن ينزل بهم في جملة الكفار ﴿أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ﴾ أي تكلم الموجودين حين خروجها بالعربية تقول لهم من جملة كلامها عنا ﴿أَنَّ النَّاسَ﴾ كفار مكة وعلى قراءة فتح همزة أن تقدر الباء بعد تكلمهم ﴿كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ﴾ لا يؤمنون بالقرآن المشتمل على البعث والحساب والعقاب وبخروجها ينقطع الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر ولا يؤمن كافر كما أوحى الله إلى نوح ﴿أَنَّهُ لَنْ يُؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ إِلَّا مَنْ قَدْ آمَنَ﴾

ترجمه: اوكافرانو (د بعثت نه د انكارپه باره كښې هم)اووئيل چه آيا كله چه مونږخاورې شو اوزمونږپلاران اونيكونه هم،نوآيامونږبه (د قبرونو نه)بياراويستل كيږو؟زمونږسره اوزمونږ

پلارانواونیکونوسره د دیروخت نه داوعدې شوې دی،هیڅ نشته،داخود پخوانوخلقوقیصې دی (اساطیرد اسطوره بالضم جمع د یعنی هغه دروغ خبرې چه لیکلې شوی وی)ته اووایه چه په زمکه کښې لړاوګرځئ اوګورئ چه د مجرمانو (د انکارکولو په وجه) څه انجام شو ؟ (اوهغه د عذاب په ذریعه د هغوی هلاکیدل دی) ته په دوی باندې غمژن کیږه مه،اوکوم شرارتونه چه دوی کوی د هغې نه زړه مه تنګوه، (داپیغمبر ﷺ ته تسلی د یعنی ستاپه خلاف د دوی د سازش کولو په وجه ته غمګین کیږه مه،مونږ د دوی په مقابله کښې ستامدد کوونکی یو) داخلق وائی چه (د عذاب) داوعد کله د ؟ که تاسو (په دې وعد کښې) رښتونې ئې (نواوښایه) ته اووایه چه عجیبه نه ده کوم عذاب چه تاسوئې زرغواړئ د هغې څه حصه تاسونه نزدې شوی وی ، (نوبیاپه دوی باندې په غزوهٔ بدرکښې د قتل عذاب لا حق شو . اوباقی عذاب به د مرګ نه روستوراخی) یقیناً ستارب په خلقوباندې دیرد فضل والا دې (اود کافرانونه د عذاب تاخیرد هغه د فضل حصه د) لیکن زیات خلق ناشکری کوی، (چنانچه کافران د عذاب د واقع کیدونه د څه منکرکیدوپه وجه د عذاب د تاخیرشکرنه اداکوی) اوبې شکه ستارب هغه څه هم پیژنی چه د دوی سینوپټ کړی دی اوڅه چه دوی (په خپلوژبوسره) ښکاره کوی، د اسمانونواود زمکې هیڅ یوپټ څیزداسې نشته چه په کتاب مبین کښې نه وی، (په غائبة کښې تا، د مبالغې دپاره د یعنی هغه څیزچه د خلقودپاره بیخی پټ وی ، اود کتاب مبین نه مراد لوح محفوظ دې،یاد باری تعالی په علم کښې محفوظ دی، اوهم ددې محفوظو څیزونونه د کفاروته د عذاب ورکولو علم هم دې) یقیناً دا قرآن (زمونږد پیغمبر ﷺ په زمانه کښې موجودو) بنی اسرائیلوته زیات ترهغه خبرې بیانوی چه په کوموکښې دوی اختلاف کوی، (یعنی مذکوره اختلاف په داسې طریقې سره بیانوی چه کهٔ داخلق دې لره اختیار کړی اوتسلیم ئې کړی نوددوی مینځنې اختلاف به ختم کړی) اودقرآن یقیناً (د ګمراهئ نه) هدایت دې اود مؤمنینودپاره (د عذاب نه) رحمت دې، بې شکه ستارب به (د قیامت په ورځ د نوروپه څیرد هغوترمینځه هم) په خپل حکم سره (یعنی عدل سره) فیصله کوی، هغه غالب دې (اود کوم څیزچه فیصله کوی نوپه هغې) پوهه دې، (هیڅوک به د هغه د فیصلې د مخالفت کولو قدرت نه وی ، لکه څنګه چه په دنیاکښې کافرانود پیغمبرانونه مخالفت کړې وو) نوته په الله باندې باورلره ته پهٔ واضح حق باندې ئې (یعنی په واضح دین باندې ئې آخرهم کامیابی په کافرانوباندې هم ستاده .بیاالله تعالی د کافرانود مړواوکڼرواود راندو مثالونه بیان کړی دی اوفرمائیلی ئې دی) بې شکه ته (خپل غږنه مړوته اوره ولې شې اونه کڼرو ته کله چه هغوی په شاواوګرځی (دعاءاذا کښې د دواړوهمزوتحقیق اود دویمې په تسهیل سره د همزه اویا ترمینځه) اونه راندوته د هغوی د ګمراهئ نه (بچ کولو سره شې) اود لاربنودنه کولې شې، ته خو (د فهم اوقبلولواوریدل) صرف هغه خلقوته اوره ولې شې چه کوم

زمونږه آیتونو باندې ایمان لري یا هغوی فرمانبردار هم وي، (یعني د الله تعالی په توحید کښې مخلص وي) او کله چه به په هغوی باندې وعد ثابته شي (یعني د عذاب وعد ثابت شي په دې طریقې سره چه منجمله د کفارونه په دوی باندې هم عذاب نازلیشي) نو مونږه به د هغوی دپاره د زمکې نه یو ځناور را اوکاږو چه کوم به د دوی سره خبرې کوي (یعني د هغه د راوتو په وخت کښې چه کوم خلق موجود وي په عربۍ کښې د هغو سره خبرې کوي هغه به منجمله د ډېلو نورو خبرونه زمونږد خوانه حکایت کوي او دا به وائي) چه خلق به زمونږ په خبرو یقین نه ساتلو، (یعني د مکې کافرانو، او په یو قراءت کښې د انّ د فتحې سره دې د باء په تقدیر سره د تکلّمهم نه پس، یعني په قرآن کریم ئې یقین نه ساتلو کوم چه د بعث اود حساب اوعقاب په خبرو باندې مشتمل دې، او ددې د خروج نه وروستو به د امربالمعروف اونهي عن المنکر وخت ختم شي، ځکه چه ددې نه پس به د عمل کولو هیڅ فائد نه وي، دودی نه پس به هیڅ یو کافر ایمان نه راوړي، لکه څنګه چه الله تعالی نوح ﷺ ته وحی اولیږله چه ستاد قوم نه به اوس هیڅوک ایمان نه راوړي، سوا د هغه چا نه چه ایمان ئې راوړې دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: وقال الذین کفروا: د ضمیر په ځائ ئې الذین موصول ذکر کړو، یعني د "قالوا ءاذا کنا ترابا" په ځائ ئې قال الذین کفروا اووئیل ددې دپاره چه د صلې په ذریعه د هغوی د صفت مذمومه کفر طرف ته اوشی اود هغوی د باطل قول د علت طرف ته هم اشاره د، (روح المعاني) ءاذا د فعل محذوف دپاره ظرف دې په کوم باندې چه مخرجون دلالت کوي، تقدیر دعبارت دادې ٭ نخرج اذاکناترابا، ءاذاد لمخرجون دپاره ظرف مقدم ګرځول صحیح نه دی ځکه چه د مابعد په ماقبل کښې د عمل کولو نه درې موانع موجود دی، همزه، انّ او لام. په دې کښې هر یو د مابعد د پاره په ماقبل کښې د عمل کولو نه مانع دې، او کله چه درې موانع جمع شي نو د مابعد په ماقبل کښې د عمل کولو سوال هم نه پیدا کیږي. څنو حضراتو وئیلی دی چه د انّ جواب چه کله مقرون باللام وی نو بیا په ماقبل کښې عمل کولې شي، لکه انّ زید اطعامک لاکل. لیکن بیا دوه مانعه پاتې کیږي لهٰذا دا به منې چه لمخرجون د اذا دپاره عامل نه دې، بلکه ددې عامل محذوف دې او هغه نخرج دې.

قوله: وآباؤنا: ددې عطف د کان په اسم باندې دې. دلته دا سوال پیدا کیږي چه په ضمیر مرفوع متصل باندې د عطف دپاره په ضمیر منفصل سره تاکید لازمي وي لیکن دلته نشته دې؟

جواب دادې چه دلته د ترابا (خبر) فصل راغلې دې لهٰذا اوس د تاکید ضرورت نشته دې او په ءانا کښې د همزه تکرار د تاکید او تشدید فی انکار البعث دپاره دې.

قوله. قل سيروا في الارض : داامرد تهديد دپاره دي اوودي خبرې طرف ته د اشارې کولو دپاره دي چه ستاسونه وړاندې هم امتونود الله تعالى طرف ته رجوع اونه کړه آخرداچه هغوی په عذاب کښې مبتلا کړې شول نوکه تاسوهم الله تعالى طرف ته رجوع اونه کړه نوتاسوبه هم د الله تعالى په رانيولو کښې راشئ.

قوله: إن كنتم صدقين : دلته د جمع صيغه استعمال کړې شوه حال دادې چه مخاطب صرف حضورﷺ دې ؟وجه داد چه د بعث بعد الموت وغيره څيزونو خبرورکولو کښې د حضورﷺ سره نورمسلمانان هم شريک وو په دې وجه مشرکانود جمع صيغه استعمال کړه.

قوله: قل عسى أن يكون : عسى دلته د يقين په معنى دې،قاضى ﷫ ونيلى دى چه عسى،لعلّ اوسوف د بادشاهانوپه مواعيدوکښې د جزم په کښې وى،اوددې خبرې طرف ته اشاره کولودپاره وى چه د هغوى اشاره د نورود تصريح په مثل ده .

قوله: ولوامدبرين: يعنى يوخو کوڼړهم دې اوبل داچه شائې هم واړوله چه د هغې په وجه د هدايت امکان بالکليه مفقودشو،ځکه چه د تش اوريدواميدخود کوڼړوالى په وجه منقطع شوليکن کوڼړهم کله کله د اشارې په ذريعه خبره باندې پوهه شى ليکن کله چه کوڼړخپله شاواړوله نوپه اشارې سره هم د پوهيدواميدختم شو.

قوله: بهدى العمى عن ضللتهم: د هدايت صله عن نه استعماليږى دلته چونکه هدايت د صرّف معنى لره متضمن دې په دې وجه ددې صله عن راوړل صحيح دى.

قوله: حق العذاب: دا د وقع القول تفسيردې.

قوله: أخرجنا لهم دابة من الارض : د قيامت نزدې به د حضرت عيسىٰ اوحضرت مهدى عليهما السلام د وفات نه پس يوعجيب الخلقت ځناورد کوه صفانه رابهرشى اوځنو حضراتو حجر او د طائف مقام د خروج ښودلې دې،هغه دابه به د خلقوسره په عربئ کښې خبرې کوى، منجمله د نوروخبرونه به ځنې خبرې نيابةً عن الله په طورد نقل د حکايت هم کوى،مثلاً د هغه دامقوله "انّ الناس كانو اباٰيٰتنا لايوقنون" به نيابةً عن الله وى .

[اياتوله:۸۲-۹۲]

(وَ) اُذْكُرْ (يَوْمَ نَحْشُرُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا) جَمَاعَةً (مِمَّنْ يُكَذِّبُ بِآيَاتِنَا) وَهُمْ رُؤَسَاؤُهُمُ الْمُتَّبَعُونَ (فَهُمْ يُوزَعُونَ) أَيْ يُجْمَعُونَ بِرَدِّ آخرهم الى اولهم لم يساقون (حَتَّى إِذَا جَاءُوا) مَكَانَ الْحِسَابِ (قَالَ) تَعَالَى لَهُمْ (أَكَذَّبْتُمْ) انبيائي (بِآيَاتِي وَلَمْ تُحِيطُوا) مِنْ جِهَةِ تَكْذِيبِكُمْ (بِهَا عِلْمًا أَمَّا) فِيهِ إِدْغَامُ مَا الإِسْتِفْهَامِيَّةِ (ذَا) مَوْصُولٌ أَيْ مَا الَّذِي (كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ) مِمَّا آمرتم به (وَوَقَعَ الْقَوْلُ) حَقَّ الْعَذَابِ (عَلَيْهِمْ بِمَا ظَلَمُوا) أَيْ

اشركوا ﴿فَهُمْ لَا يَنْطِقُونَ﴾ اِذْ لا حجة لهم ﴿أَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا﴾ خلقنا ﴿اللَّيْلَ لِيَسْكُنُوا فِيهِ﴾ كغيرهم ﴿وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا﴾ بمعنى يُبصر فيه لِيَتصرفوا فِيهِ ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ﴾ دَلالات عَلَى قُدرته تَعَالَى ﴿لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾ خصُّوا بالذكر لانتفاعِهِمْ بِهَا في الإيمان بخلافِ الكافرين ﴿وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ﴾ القَرن النفخة الأولى من إسْرَافيل ﴿فَفَزِعَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ﴾ خافوا الخوف المفضي إلى الموت كما في آية أخرى فصَعِقَ وَالتعبير فِيهِ بالماضي لِتحقُّقِ وُقوعه ﴿إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ﴾ أي جبريل وميكائيل وإسرافيل وملك الموت وعَن ابن عباس هُمُ الشُّهَدَاء إِذْ هُمْ أحياء عِند ربهم يُرزقون ﴿وَكُلٌّ﴾ تنوينه عِوض عَن المُضاف إليه أي وَكُلُّهم بعد إحيائهم يَوْم القِيَامَة ﴿أَتَوْهُ﴾ بصيغة الفِعْل واسم الفاعل ﴿دَاخِرِينَ﴾ صاغرين والتعبير في الإتيان بالماضي لِتحقُّقِ وُقوعه ﴿وَتَرَى الْجِبَالَ﴾ تُبصرها وَقت النفخة ﴿تَحْسَبُهَا﴾ تظنّها ﴿جَامِدَةً﴾ واقفة مكانها لِعظمها ﴿وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ﴾ المَطر إِذا ضربته الرِّيح أي تَسير سيره حتّى تقع على الأرض فتستوي بها مبثوثة ثُمّ تَصير كالعِهن ثُمّ تَصير هَبَاء منثورًا ﴿صُنْعَ اللَّهِ﴾ مَصدر مُؤكِّد لِمضمون الجُملة قبله أضيف إلى فاعِله بعد حذف عَامله أي صَنَعَ الله ذَلِكَ صُنعًا ﴿الَّذِي أَتْقَنَ﴾ أحكمَ ﴿كُلَّ شَيْءٍ﴾ صَنعَهُ ﴿إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ﴾ بالياء والتاء أي أعداؤه مِن المَعصية وأولياؤه مِن الطاعة ﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ﴾ أي لا إله إلّا الله يَوْم القِيَامَة ﴿فَلَهُ خَيْرٌ﴾ ثَواب ﴿مِنْهَا﴾ أي بسببها وليس للتفضيل إذ لا فِعْل خَير منها وَفي آية أخرى ﴿عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾ ﴿وَهُمْ﴾ الجَاءُون بِهَا ﴿مِنْ فَزَعِ يَوْمَئِذٍ﴾ بالإضافة وكسر الميم وفَتحها وفَزَعٍ مُنوّنًا وفتح الميم ﴿آمِنُونَ﴾ ﴿وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ﴾ أي الشرك ﴿فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ﴾ بِأَنْ وَلِيَتْهَا وَذُكِرَتِ الوُجوه لِأَنَّهَا مَوْضِع الشَّرَف مِنَ الحَوَاسّ فَغَيرها مِن بَاب أَوْلَى وَيُقَال لَهُم تبكيتًا ﴿هَلْ﴾ مَا ﴿تُجْزَوْنَ إِلَّا﴾ جَزاء ﴿مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ مِن الشِّرْك وَالمَعاصي قُلْ لَهُمْ ﴿إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ الْبَلْدَةِ﴾ أي مَكَّة ﴿الَّذِي حَرَّمَهَا﴾ جعلها حَرمًا آمِنًا لا يُسفك فِيها دَم إنسان وَلا يُظلم فِيها أحد وَلا يُصاد صيدها وَلا يُختلى خَلاها وَذَلِكَ مِن النِّعَم عَلَى قُرَيْش أَهْلها في رَفع الله عَن بَلدهم العَذاب وَالفِتَن الشائعة في جميع بِلاد العَرَب ﴿وَلَهُ﴾ تَعَالَى ﴿كُلُّ شَيْءٍ﴾ فَهُوَ رَبّه وَخالقه وَمَالكه ﴿وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾ لِلّهِ بتوحيده ﴿وَأَنْ أَتْلُوَ الْقُرْآنَ﴾ عَلَيْكُمْ تِلاوَة الدَّعْوَى إلى الإيمان ﴿فَمَنِ اهْتَدَىٰ﴾ لَهُ ﴿فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ﴾ أي لِأَجلها فإنّ ثَواب اهتدائِهِ لَهُ ﴿وَمَنْ ضَلَّ﴾ عَن الإيمان وَأخطأ طَريق الهُدَى ﴿فَقُلْ﴾ لَهُ ﴿إِنَّمَا أَنَا مِنَ الْمُنْذِرِينَ﴾ المُخوِّفين فليس عَلَيَّ إلّا التبليغ وَهَذا قَبل الأمر بالقِتال ﴿وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ فَتَعْرِفُونَهَا﴾ فَأَرَاهُمُ الله يَوْم بَدر القَتْل وَالسَّبي وَضَرْبَ المَلائِكَة وُجوههم وَأدبارهم وَعَجَّلَهُمُ الله إلى النّار ﴿وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ﴾ بالياء والتاء وَإِنَّمَا يُمهلهُمْ لِوقتِهِمْ

ترجمه: هغه ورځ (یاد کړه) په کومه ورځ به چه مونږه هرامت نه یوه یوه ډله د هغه خلقو راجمع کړو کوموبه چه زماآیتونه دروغ ګڼړل (اوهغوی به ددی مشران اومقتدیان وی) هغوی به را ایساره کړې شی (یعنی د مخکښې اووروستونه به راایسارکړې شی بیابه هغوی لره شړل

کيږی،ترديږ پوريږ چه کله (د حساب مقام ته)اورسيږی نوالله تعالى به (دوی ته)اوفرمائی چه آياتاسو (زماپيغمبران) زماد آيتونوسره دروغژن گڼرلی وؤ، حال داديږ چه تاسود هغه تکذيب (د جهت علمی) احاطه نه وه کريږ، (په أماکنبي ام لره په مااستفهاميه کنبي مدغم کړې شوي ديږ،ذا موصول ديږ ای ماالذی، اود کوموکارونوچه تاسوته حکم درکړي شوي وو)په هغي کنبي تاسوکوم کوم کارونه اوکړل ؟اود هغوی د ظلم (يعنی شرک)کولوپه وجه په هغوباندي د عذاب حکم ثابت شواوس هغوی غلی دی (څکه چه د هغوی سره څه دليل نشته)آيادوی دانه گوری چه مونږشپه (تيارهٔ)جوړه کړي د؟ (يعنی پيداکړي د) ددي دپاره چه (د نوروخلقوپه خيردوی هم)په دي کنبي سکون حاصل کړی اوورځ مود کتلووالا (جوړه کړه يعنی داسي موجوړه کړه چه هغي کنبي په نظرراشی ددي دپاره چه پکنبي کارروزگاراوکړی) يقيناًپه دي کنبي (د الله تعالى په قدرت باندي) نخښي (دلائل)دی د ايمان والوٌدپاره (د مؤمنينوپه خاص طورسره ذکرځکه اوکړي شو چه د قدرت د دلائلونه صرف مومنان فائد اخلی نه کافران)کومه ورځ چه شپيلئ اوپوکلې شی،يعنی په ښکرکنبي، دابه د حضرت اسرافيل ﷺ رومبني شپيلئ وی)نود زمکي اواسمان والا به اوډارشی (يعنی دومره حد پوري به اويريږی چه انجام به ئي مرگ وی لکه څنگه چه په يوبل آيت کنبي فصعق راغلي دي اود ماضی په صيغي سره تعبيرد يقينی الوقوع کيدلوپهٔ وجه سره دي)ليکن چالره چه الله اوغواړی (نوهغه به نه يريږی لکه جبرائيل اوميکائيل اواسرافيل اوعزرائيل عليهم السلام،اود ابن عباس ﷺ نه نقل دی چه هغه شهداء دی ځکه چه هغوی ژوندی دی هغوته د هغوی د رب په حضورکنبي روزی ورکول کيږی)اوداټول به عاجزئ (اوکمزورئ) سره دد مخامخ حاضرشی (د کلّ تنوين د مضاف اليه نه عوض دي "أي كلهم بعدإحياءهم يوم القيامة أتوه "په اتوه کنبي فعل اواسم فاعل دواړه صحيح دی،د دآخرين معنی صاغرين د يعنی ذليل اوخوار،د مذکوره خبرود يقينی کيدوپه وجه په ماضی سره تعبيراوکړي شو) کوم غرونه چه ته ښځ شوی (مضبوط) (يعنی په خپل ځائ باندي د هغي د غتوالی په وجهٔ قائم اوکلک) گنړي (نودابه هم ته د نفخهٔ اولی په وخت اوگوري چه) هغه به د باران د وريځي (يعنی د باران)په شان په والوځی (گوياچه هوا هغي لره الوځوی يعنی په تيزئ سره ئي گرځوی ترديږ چه په زمکه باندي به راپريوځی اوخوارهٔ وارهٔ به شی اود زمکي د سطحي سره به هوارشی بيابه د دانډس شوي وری په شان شی بيابه الوتونکي گردشی)داديږ صنعت د هغه الله (صنعة مصدرديږ داد ماقبل جملي د مضمون تاکيدکوی چه اضافت ئي د خپل فاعل طرف ته شوي ديږ د مصدرد عامل د حذف کولونه پس تقديرد عبارت داسي ديږ صنع الله ذالک صنعا) چه خپل هرمصنوع ئي مضبوط جوړکړي ديږ بي شکه کوم څه چه تاسوکوئ د هغي ښه خبرديږ (په ياء اوتاء سره يعنی د الله دښمنان چه کومه نافرمانی او

اولياء ئې چه كوم اطاعت كوى د هغوتولونه خبرداردې) چاچه (د قيامت په ورځ)نيک عمل (يعنى لا اله الا الله)راوړو نود هغه ته به د هغې بهترثواب ملاويږى (يعنى ددې نيكئ په وجه، خير د اسم تفضيل په معنى نه دې ځكه چه د كلمه لا اله الا الله نه بغيربل هيڅ بهترعمل نشته اوپه يوبل آيت كښې دى چه ددې په لس چنده به د ته ثواب ملاويږى) اودوې به (يعنى د نيک عمل كوؤنكې به) دې ورځې د يرې نه مامون وى (په اضافت اود ميم په كسرې اود ميم په فتحې سره اوفزع په تنوين سره اود ميم په فتحې سره هم يوقراءت دې) اوكوم كس چه بدئ (يعنى شرک)سره راغې نوهغه په پرمخ سره دوزخ ته غورځولې شى (په داسې طريقې سره چه مخونه به ئې اورته حواله كړې شى ځكه چه مخ په حواس خمسه كښې اشرف مقام دې نوپه دې وجه به د مخ نه علاوه به په طريق اولى سره د اورمستحق وى،اود هغوى د لاجواب كولوډپاره به هغوى ته وئيل شى چه)تاسوته صرف د هغه عملونو(يعنى د شرک اونافرمانيانو)بدله دركول شى كوم چه تاسوكول (ته دوى ته اووايه چه) ماته صرف ددې حكم راكړې شوې دې چه زه صرف ددې ښار (مكې)د رب عبادت اوكړم چاچه دا محترم جوړ كړې دې (يعنى مكه ئې محترمه اود امن والا جوړه كړې د نه په دې كښې د يوانسان وينه تويولې شى اونه په دې كښې په چاباندې ظلم كيدې شى اونه ددې د ښكار يعنى ښناورښكاركيدلې شى اوددې شنه واښه اوكارلې شى اودا انعامات دى په قريشو باندې كوم چه ددې اوسيدونكى دى، د الله تعالى د هغوې د ښارنه د عذاب اوپه ټولو ښارونود عربو كښې د خوروشوؤفتنو د پورته كولوپه وجه) اودده په ملكيت كښې هريو څيز دې (نوبس هم دې د هغې خالق اومالک اورب دې) اوماته ددې خبرې حكم راكړې شوې دې چه (زه به دد دتوحيد سره) دد په فرمان منونكو كښې اوسم (اوماته ددې خبرې هم حكم راكړې شوې دې چه) زه به تاسوته (د دعوت الى الايمان په طورسره)قرآن اوروم نوڅوک چه (د ايمان لاره اختياركړى نوهغه به د خپل ځان دپاره لاره اختياروى (ځكه د هغه د ايمان لاره اختيارولو ثواب به هم هغه ته ملاويږى) اوڅوک چه (د ايمان نه)بې لارې شى (اود هدايت د لارې نه واوړى نوهغه ته) اووايه چه زه صرف داروركوؤنكې يم (يعنى خوف وركوؤنكې يم،زماپه ذمه صرف پيغام رسول دى،اوداحكم د جهاد د حكم د راتلونه وراندې وو) اوته اووايه چه ټول تعريفونه د الله تعالى دى هغه به زرتاسوته خپلې نخښې اوښائى چه تاسوبه ئې په خپله اوپيژنئ (نو بيا الله تعالى دوى ته په بدركښې د قتل اوبندى كيدل او د فرښتو هغوى لره په مخونو او كوناټو باندې وهل اوښودل اوزرالله تعالى دوى لره دوزخ ته بوتلل)اوكوم څه چه تاسوكوئ ستا رب د هغې نه ناخبره نه دې (په ياء اوتاء سره،هغوى ته صرف د وخت پوره كيدوپورې مهلت وركول دى).

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: ويوم نحشر من كل أمة فوجا ممن يكذب بآيتنا: د عمومي حشرنه پس به داخصوصي حشرتوبيخي وي من كل امة كښې مِن تبعيضيه دې اوممن يكذب كښې من بيانيه دې ددې مبيَّن فوجادې، فوج اگرچه په تيزئ سره حركت كوونكي جماعت ته وئيل كيږي ليكن دلته د مطلق جماعت په معنى دې اود جماعت نه د هرامت د مشرانو او رئيسانو جماعت مراددې.

قوله: يرد أخرهم الى أولهم: كۀ شارح رحمه الله "يردّ اولهم على آخرهم" وئيلى وې نودپريه مناسب وې يعنى مخكښې تلونكى به راايساره كړې شى ددې دپاره چه روستنى هم د هغوى سره يوځائ شى اويوځائ روان شى، (صاوى)

قوله: أكذبتم أنبيائى بآياتى: دااستفهام د توبيخ دپاره دې يعنى تاسوزماد آيتونولې تكذيب كړې وو ؟ آيتى د كذّبتم دپاره مفعول دې اوباء د تعديه دپاره د يعنى تاسوزماد آيتونوولې تكذيب كړې وو ؟ مفسرعلام د كذبتم دپاره مفعول انبيائى مقدرگرځولې دې حال دادې چه ددې تقديرهيڅ ضرورت نشته،ددې په وجه به بې وجه تكلف كول پيښيږى.

قوله: ولم تحيطوابها علما: داجمله د كذبتم د ضميرنه حال دې اود سابق انكاراود تكذيب تاكيددې يعنى تاسوزماد آيتونوبغيرد فكراوسوچ نه انكاراوكړوكوم چه د مؤاخذې اهم سبب دې .

قوله: أماذا كنتم تعملون: ددې تقديرد عبارت دادې "أيّ الشيئ الذى كنتم تعملونه "ما استفهاميه په معنى د أيّ شيئ مبتدأ،ذا موصول په معنى د الذى، كنتم تعملونه جمله صله د موصول، موصول سره د صلې نه د مامبتدأ خبر،يعنى داهم اوښايئ چه تاسوځه كول چه تاسوته زماپه آيتونوكښې ئ ظوراوفكركولوموقع هم ملاؤنه شوه ؟

قوله: وقع القول: أى قرب وقوعه د يقينى الوقوع كيدوپه وجه په ماضى سره تعبيرشوې دې،د وجعلنا الليل نه پس مظلمامحذوف دې اوقرينه والنهارمبصرا د لكه څنگه چه په ليسكنوافيه باندې قياس كولوسره والنهارمبصرانه ليتصرّفوافيه لره حذف كړې شوې دې،دې ته صنعت احتباک وئيلې شى .

قوله: ففزع: نفخۀ اولى ته نفخۀ فزع وئيلې كيږى اوهم دې ته نفخۀ صعق هم وئيلې كيږى په سورۀ زمركښې نفخۀ اولى ته صعق وئيلى شوى دى د صعق معنى د داسې بې هوشئ اوبې خودئ د چه هغې سره مرگ واقع شى.د نفخۀ اولى په وخت كښې به اوّلا په ټولو حيواناتوباندې بې هوشى راشى ددې نه پس به پرې مرگ راشى سيواد هغه چا نه كوم چه الله تعالى مستثنى كړى دى اود دويمې نفخې نه پس به هرمړې راژوندې كيږى اود دې

دوارونفخوترمینځه به د څلویښتو کالو فاصله وی،ځنوحضراتودرې نفخې بیان کړې دی (۱) نفخهٔ زلزله چه د کومې په وجه به په زمکه کښې یوه زوره وره زلزله راشی غرونه به د وریځ د ټکروپه شان الوځی اوګرځی به (۲) نفخهٔ موت او(۳) نفخهٔ حیات. لیکن داروایت ضعیف دې د صحیح حدیث نه صرف د دوؤنفخوپته لګی.

قوله: ثمرمرالسحاب: المطر، مفسرعلام د السحاب تفسیرپه مطرسره کړې دې داتفسیرنه د لغت سره موافق دې اونه د عقل اونقل سره، د سحاب نه ددې ځپله ظاهری معنی مراده.

قوله: مؤکدلمضمون الجملة قبله: ددې مطلب دادی، چه "صنع الله" د ماقبل جملې د مضمون دپاره تاکیددې یعنی نفخ صوراوفزع بیامرګ 'وبیاد غرونود روان ریګ په شان الوتل داټول د الله تعالی صنعت دې.

قوله: بالإضافة: یعنی د فزع د یوم په طرف اضافت سره،د یوم په میم باندې به د اضافت په وجه کسره وی اویوم مفتوح هم کیدې شی د مبنی برفتحه کیدوپه وجه سره،ځکه چه یوم د اذطرف ته مضاف دې کوم چه مبنی الاصل دې نوګویاد یوم په میم کښې دوه قراءته دی،د میم کسره اوفتحه.

قوله: وفزع منوّنا: ددې عطف په اضافة باندې دې یعنی یوم په اضافت سره هم وئیلې کیږی اوبغیرد اضافت نه هم،په اضافت سره د وئیلو په صورت کښې د یوم په میم باندې کسره اوفتحه دواړه صحیح دی اود عدم اضافت په صورت کښې په میم باندې صرف فتحه صحیح د کسره نه د صحیح.

قوله: موضع الشرف من الحواس: حواس خمسه باطنه ځوټول په سرکښې دی چه تفصیل ئې دادې،دماغ نرم اومتخلل مخروطی یعنی د مثلث شکل یوجرم دې ددې درې حصې دی چه هغې ته بطون وئیلې کیږی (۱) بطن مؤخرد زاویه حاد طرف ته دې او(۲) بطن اوسط، د دواړوترمینځه دې (۳) بطن مقدم د ټولونه غټ دې اوهم داحس مشترک اودقوت خیال مقام دې،بطن مؤخرکوم چه دڅاوګې(څټ) په طرف د مقدم په نسبت سره وړوکې دې اوداد قوت حافظه مقام دې بطن اوسط د ټولونه وړوکې دې اود قوت متصرفه اوقوت واهمه مقام دې (کاتونچه ترجمه قانونچه)اوپه حواس خمسه ظاهریه کښې سیواد قوت لامسه نه باقی څلورپه سرکښې دی (۱)قوت باصره (۲) قوت سامعه (۳)قوت شامه (۴) قوت ذائقه، البته پنځم قوت لامسه په ټول بدن کښې عام دې،قوت لامسه په ټولوقوتونوکښې زیات بلیدحس دې ترڅوچه ددې سره مس نه وی راغلې نواحساس نه شی کولې.

قوله: فقل له إنما أنا من المنذرین: داجمله د من ضلّ جزاء د او "له" رابطه د.

[۲۸] سورة القصص

سُورة الْقَصَص مَكِّيَّة إِلَّا مِنْ آيَة ۵۲ إِلَى آيَة ۵۵ فَمَدَنِيَّة

وَآيَة ۸۵ فَبِالْجُحْفَةِ نَزَلَتْ اثناء الهجرة وآياتها ۸۸ نزلت بعد النمل

سوره قصص مکی دي سوا د آیت ۵۲ نه ۵۵ پورې دا مدنی دی، او آیت ۸۵ په جحفه کښې د هجرت په دوران کښې نازل شوې دې، ددې آیتونه ۸۸ دی، سوره نمل نه پس نازل شوې دې.

[ایاتونه: ۱-۱۳]

بسم الله الرحمن الرحيم (طسم) الله أعلم بمُرَاد بذَلِكَ (تِلْكَ) اي هَذِهِ الآيَات (آيَاتُ الْكِتَابِ) الإضافة بِمَعْنَى مِنْ (الْمُبِينِ) الْمُظْهِر الحَقّ مِنَ البَاطِل (نتلوا) نَقُصّ (عَلَيْكَ مِنْ نَبَإِ) خبر (مُوسَى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ) الصِّدْق (لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ) لِأَجْلِهِمْ لِأَنَّهُمُ الْمُنْتَفِعُونَ به (إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا) تَعَظَّمَ (فِي الْأَرْضِ) ارض مصر (وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا) فِرَقًا فِي خِدْمَته (يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ) هُمْ بَنُو إسْرَائِيل (يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ) الْمَوْلُودِين (وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ) يَسْتَبْقِيهِنَّ أَحْيَاء لِقَوْلِ بَعْض الْكَهَنَة لَهُ إِنَّ مَوْلُودًا يُولَد فِي بَنِي إسْرَائِيل يَكُون سَبَب زَوَال مُلْكك (إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ) بِالْقَتْلِ وَغَيْره (وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً) بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَإِبْدَال الثَّانِيَة يَاء يُقْتَدَى بِهِمْ فِي الْخَيْر (وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ) ملك فرعون (وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ) أَرْض مِصْر وَالشَّام (وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا) وَفِي قِرَاءَة وَيَرَى بِفَتْحِ التَّحْتَانِيَّة وَالرَّاء وَرَفْع الْأَسْمَاء الثَّلَاثَة (مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ) يَخَافُونَ مِنَ الْمَوْلُود الَّذِي يَذْهَب مُلْكهمْ عَلَى يَدَيْهِ (وَأَوْحَيْنَا) وَحْي إلْهَام أَوْ مَنَام (إِلَى أُمِّ مُوسَى) وَهُوَ الْمَوْلُود الْمَذْكُور وَلَمْ يَشْعُر بِوِلَادَتِهِ غَيْر اخته (أَنْ أَرْضِعِيهِ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي الْيَمِّ) الْبَحْر أَيِ النِّيل (وَلَا تَخَافِي) غرقه (وَلَا تَحْزَنِي) لِفِرَاقِهِ (إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ) فَأَرْضَعَتْهُ ثَلَاثَة أَشْهُر لَا يَبْكِي وَخَافَتْ عَلَيْهِ فَوَضَعَتْهُ فِي تَابُوت مطلي بالقار من داخل مُمَهَّد لَهُ فِيهِ وَأَغْلَقَتْهُ وَأَلْقَتْهُ فِي بَحْر النيل ليلا (فَالْتَقَطَهُ) بِالتَّابُوتِ صَبِيحَة اللَّيْل (آلُ) أَعْوَان (فِرْعَوْنَ) فَوَضَعُوهُ بَيْن يَدَيْهِ وَفُتِحَ وَآخرجَ مُوسَى مِنْهُ وَهُوَ يَمُصّ مِنْ إبْهَامه لَبَنًا (لِيَكُونَ لَهُمْ) فِي عَاقِبَة الْأَمْر (عَدُوًّا) يَقْتُل رِجَالهمْ (وَحَزَنًا) يَسْتَعْبِد نِسَاءَهُمْ وَفِي قِرَاءَة بِضَمِّ الْحَاء وَسُكُون الزَّاي لُغَتَانِ فِي الْمَصْدَر وَهُوَ هُنَا بِمَعْنَى اسْم الْفَاعِل مِنْ حَزَنَهُ كَأَحْزَنَهُ (إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ) وَزِيره (وَجُنُودَهُمَا كَانُوا خَاطِئِينَ) مِنَ الْخَطِيئَة أَيْ عَاصِينَ فَعُوقِبُوا عَلَى يَدَيْهِ (وَقَالَتِ امْرَأَتُ فِرْعَوْنَ) وَقَدْ هَمَّ مَعَ أَعْوَانه بقتله هو (قُرَّتُ عَيْنٍ لِي وَلَكَ لَا تَقْتُلُوهُ عَسَى أَنْ يَنْفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا) فَأَطَاعُوهَا (وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ) بِعَاقِبَةِ أمرهم معه (وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَى) لَمَّا عَلِمَتْ بِالْتِقَاطِهِ (فَارِغًا) مِمَّا سِوَاهُ (إِنْ) مُخَفَّفَة مِنَ الثَّقِيلَة وَاسْمهَا مَحْذُوف اي إنَّهَا (كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِ) اي بِأَنَّهُ ابنها (لَوْلَا أَنْ رَبَطْنَا عَلَى قَلْبِهَا) بِالصَّبْرِ اي سَكَّنَّاهُ (لِتَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ) الْمُصَدِّقِينَ بِوَعْدِ اللَّه وَجَوَاب لَوْلَا دَلَّ عَلَيْهِ ما قبلها (وَقَالَتْ لِأُخْتِهِ) مَرْيَم (قُصِّيهِ) اتَّبِعِي اثره

حتى تعلمي خبره ﴿فَبَصُرَتْ بِهِ﴾ ابصرته ﴿عَنْ جُنُبٍ﴾ من مكان بعيد اختلاسًا ﴿وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ﴾ انها اخته وانها ترقبه ﴿وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ﴾ اي قبل رده الى امه اي منعناه من قبول ثدي مرضعة غير امه فلم يقبل ثدي واحدة من المراضع المحضرة له ﴿فَقَالَتْ﴾ اخته ﴿هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ أَهْلِ بَيْتٍ﴾ لما رأت حنوهم عليه ﴿يَكْفُلُونَهُ لَكُمْ﴾ بالارضاع وغيره ﴿وَهُمْ لَهُ نَاصِحُونَ﴾ وفسرت ضمير له بالملك جوابًا لهم فاجيبت فجاءت بامه فقبل ثديها واجابتهم عن قبوله بانها طيبة الريح طيبة اللبن فاذن لها في ارضاعه في بيتها فرجعت به كما قال تعالى ﴿فَرَدَدْنَاهُ إِلَىٰ أُمِّهِ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا﴾ بلقائه ﴿وَلَا تَحْزَنَ﴾ حينئذ ﴿وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ﴾ برده اليها ﴿حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ﴾ اي الناس ﴿لَا يَعْلَمُونَ﴾ بهذا الوعد ولا بان هذه اخته وهذه امه فمكث عندها الى ان فطمته واجرى عليها اجرتها لكل يوم دينار واخذتها لانها مال حربي فاتت به فرعون فتربى عنده كما قال تعالى حكاية عنه في سورة الشعراء ﴿أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ﴾

ترجمه: طٰسٓمٓ (ددې نه د الله تعالى څه مراددې هغه پرې ښه پوهيږي) دا (آيتونه) د كتاب مبين آيتونه دي (په آيات الكتاب كښې اضافت په معنى د من دې اود مبين نه مراددباطل نه حق لره د ممتازكوونكى كتاب آيتونه دي) مونږستاپه وړاندې د موسىٰ اوفرعون صحيح واقع بيانوؤ د هغه خلقو دپاره چه ايمان لري (يعنى د مؤمنينودپاره،ځكه چه هغوى د دې قيصې نه استفاده كوي) يقيناًفرعون په زمكه (ده مصر)كښې سركشى كړې وه اوده مصراوسيدونكى ئې (ده خپل خدمت دپاره)په ډلوكښې تقسيم كړي وؤپه هغوى كښې ئې يوه ډله كمزورې كړې وه (اوهغه بنى اسرائيل وؤ) ده هغوى (نوى پيداشوى)هلكانولره به ئې قتلول اوده هغوى جينكئ به ئې ژوندئ پريښودلې (يعنى ژوندئ به ئې ساتلې د ځنو كاهنانو د دې خبرې په وجه چه په بنى اسرائيلوكښې به يوداسې ماشوم پيداكيږي چه ستاده بادشاهت د خاتمې سبب به جوړيږي) بې شكه هغه (د قتل وغيره په وجه) وود مفسدانونه،اوزمونږ د مشيت تقاضا داشوه چه مونږ احسان اوكړوپه هغوى خلقوباندې كوم چه په ملك كښې كمزوري كړې شوى وؤ او مونږ هغوى لره مشران جوړكړو(د دواړوهمزوپه تحقيق سره اود همزه ثانى په ياء سره بدلول،ددې دپاره چه په خيركښې د هغوى اقتدا اوكړې شى)اومونږهغوى لره (د فرعون د ملك) وارثان جوړ كړو او دا چه مونږهغوى ته (د شام او د مصرپه ملك كښې) قدرت (اختيار) وركړو،اوفرعون اوهامان او د هغوى لښكرو ته (په يوقراءت كښې يرٰى د ياء اود راء په فتحې سره دې،اوددې درې واړو اسمونو فرعون اوهامان اوجنودهما په رفع سره) د بنى اسرائيلود خوانه هغه څه اوښايو د كوم څه نه هغوى يريدل (فرعونيان د هغه ماشوم نه په يره كښې وو چه د كوم په وجه د هغوى ملك بربادى مقدر وه) اومونږد موسىٰ مور ته (الهامى يامنامى)وحى اوليږله (اوموسىٰ عليه السلام هم هغه ولدمذكوردې اود موسىٰ عليه السلام د ولادت علم سيوا د هغه د خورنه هيچاته نه ووشوې)چه ده ته پئ وركوه اوكله چه دده په باره

کښې څه يره محسوس کړې نوده لره په درياب (د نيل کښې) واچوه اووده (د ډوبيدو) خطره مه کوه اود (جدايئ)غم مه کوه مونږيقيناً دې بياتاله راواپس کوونکی يو او ده لره د خپلو رسولانو نه جوړوونکی يو (لهٰذاحضرت موسیٰ عليه السلام ته درې مياشتو پورې خپلې مورېئ ورکړل چه موسیٰ عليه السلام ژړلی هم نه، اوکله ئې چه په موسیٰ عليه السلام باندې د وژلوخطره محسوسه کړه نوموسیٰ عليه السلام ئې په يوداسې تابوت کښې واچولوچه دننه پکښې روغن زفت يعنی تارکول لګولې شوی وو اوګدئ پکښې غوړولې شوې وه،هغې کښې ئې رابندکړواوده شپې ئې په دريائے نيل کښې واچولو،هم ددې شپې په سحر) تابوت لره آلِ فرعون (يعنی د هغه خادمانو) راپورته کړو (د هغې نه پس ئې تابوت د فرعون خواته راوړو او کلاؤ ئې کړو،موسیٰ عليه السلام ئې د تابوت نه راواويستوپه داسې حال کښې چه هغه د خپلې ګوتې نه پئ څکل) ددې دپاره چه (آخرکارهم دابچې) ده هغوی دښمن جوړشی،(چه د قبطيانو نارينه به قتلوی) او د غم سبب جوړشی (دهغوی ښځې به وينځې جوړوی،اوپه يوقراءت کښې 'حزنا' کښې د حاء په ضمې سره اود زاء په سکون سره راغلې دې په مصدر 'حزنا' کښې دادوه لغته دی، اومصدردلته د اسم فاعل په معنی دې او'حزناً' دحزِنَه باب سمع نه دې په معنی د آحزنه دې،)په دې کښې هيڅ شک نشته چه فرعون او (د هغه وزير) هامان او د داوړو لښکرې خطاکار وو، (خٰطئين د خطيئة نه مشتق دې معنی ئې ده نافرمانی کوونکی،نوهم د موسیٰ عليه السلام په لاس دوی ته سزاملاؤشوه،) او د فرعون ښځې اووئيل (کوم وخت چه فرعون د خپلو مددګارانو سره د موسیٰ عليه السلام د وژلواراده اوکړه) دا خو زما او ستا د سترګو يخوالې دې، دامه وژنه، ممکنه ده چه دې به مونږته فائده اورسوی، يابه مونږ ده لره خپل ځوئ جوړکړو،(نودې خلقوئې داخبره اومنله)اوداخلق (ددې سره د انجام نه) ناخبره وو، (بل خواته) ده موسیٰ (عليه السلام)د مور زړه بې قراره شو (کله چه هغې ته معلومه شوه چه موسیٰ عليه السلام لره فرعون اوچت کړې دې، يعنی د موسیٰ عليه السلام نه سيوا د هغې په زړه کښې بل هيڅ يوه خبره پاتې نه شوه) اِن (داده اِنَّ نه مخفف دې اواسم ئې محذوف دې، ای انّها، نزدې وه چه داخبره ئې ښکاره کړې وې (چه هغه زماځوئ دې)که مونږ د هغې زړه (د صبر په ذريعه)مضبوط کړې نه وې (يعنی که مونږ د هغې زړه ته تسلی نه وې ورکړې) ددې دپاره چه هغه په يقين کوونکوکښې شی، (يعنی د الله تعالی ده وعدې په تصديق کوونکوکښې شی،اود لولا په جواب باندې ماقبل ('لتبدی') دلالت کوی)او د موسیٰ (عليه السلام) مورد موسیٰ (عليه السلام) خور(مريم)ته اووئيل چه د موسیٰ (عليه السلام)پته اولګوه،(يعنی په د پسې پسې درومه چه ده حال نه ئې خبرداره اوسې) نوهغه ئې د لرې نه کتلو (يعنی د لرې نه ئې په پټه طريقه کتلو) او فرعونيانو ته (ددې خبرې) خبرتيا او نه شوه،(چه دائې خور ده او د ده نګرانی کوی) او مونږ د ورآندې نه (يعنی دده خپلې مورته د واپس کيدونه وړاندې) د پئ ورکوونکو بندش کړې وو، (يعنی موسیٰ

ﷺ لره موده خپلې مورته علاوه د بلې پۍ ورکوونکې ښځې سينې نه منع کړې وو، په دې وجه موسى ﷺ د هيڅ يوې پۍ ورکوونکې ښځې سينې قبولې نه کړې) نود موسى ﷺ خور (چه کله په موسى ﷺ باندې د هغوى شفقت اوليدو نو وې وئيل چه آيا زه تاسوته دداسې کورنۍ نخښه درکړم چه ستاسو د پاره ددې ماشوم (د پۍ ورکولو وغيره) پالنه اوکړي اوهغوى ددې ماشوم خيرغوښتونکى هم وي، (اومريم د "له" د ضمير مرجع د هغوى د سوال په جواب کښې بادشاه اوښودو، لهٰذا د مريم مشوره اومنلې شوه بيانې خپله مور راوغوښتله نوموسى ﷺ د خپلې مورسينې رودل شروع کړل، د حضرت موسى ﷺ مور د موسى ﷺ د هغې سينولره د قبلولوپه وجه د سوال په جواب کښې اووئيل چه زه د ښائسته خوشبوئ والا اود ښکلو پيتووالا ښځه يم نوهغې ته ئې خپل کورته د بوتلو او د پيو ورکولو اجازت ئې ورکړو، نو د موسى ﷺ مور هغه خپل کورته واپس يوړو، لکه څنګه چه الله تعالى فرمائيلى دى چه) موننږموسى لره د هغه خپلې مورته واپس کړو ددې دپاره چه د هغې سترګې (د موسى ﷺ په ليدوسره) يخې شى اوددې دپاره چه (په دې وخت کښې د جدائۍ) په غم کښې پاتې نه شى اوددې دپاره چه پوهه شى چه (د ماشوم بياهغې ته د واپس کولوسره) د الله وعده ريښتونې ده ليکن اکثرخلق (ددې وعدې په باره کښې)نه پوهيږى، (اونه ددې خبرې نه خبرداردى چه داد هغه خورده اوداتې مورده، حضرت موسى ﷺ د خپلې مورسره د تى پرېښودوپورې وو، فرعون د موسى ﷺ مورته د پۍ ورکولو اجرت روزانه يو دينار مقرر کړې وو، د موسى ﷺ مور دا اجرت واخستو څکه چه د حربى مال دې بيا مور ئې حضرت موسى ﷺ لره فرعون ته راوستو، لهٰذاموسى ﷺ د فرعون سره پالنه اوموندله لکه څنګه چه الله تعالى ددې حکايت کړې دې اوپه سورت شعراء کښې ئې ارشادفرمائيلې دې اَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا وَلِيْدًا وَّلَبِثْتَ فِيْنَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِيْنَ•.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: نتلواعليك: اى بواسطة جبرائيل من نبأ من خبر موسى وفرعون بالحق، من تبعيضيه دې أى نتلوا عليک بعضَ نبأ موسٰى، د نتلوامفعول محذوف هم کيدې شى، د عبارت تقديربه داسې شى "نتلواعليک شيئامن نبأ موسى، په قول د اخفش من زائده هم کيدې شى "اى نتلواعليک نبأ موسى.

قوله: بالحق: داد نتلواد ضمير فاعل نه حال دې "أى حال کوننامتلبسين بالصدق "ياد نتلوا د مفعول نه حال دې "أى کون الخبرمتلبسابالصدق.

قوله: لاجلهم: دااشاره ده چه لقوم کښې لام د تعليل دپاره دې اود نتلواسره متعلق دې يعنى مقصودبالذکرمؤمنين دى څکه چه هم هغوى ددې نه منتفع کيږى.

قوله. انّ فرعون علا : داجمله مستانفه ده، گویاچه پوښتنه اوکړې شوه چه د موسیٰ اوفرعون څه قیصه ده ؟نوجواب ئې ورکړوچه انّ فرعون علا الخ

قوله. یذبح ابنآءهم: داد یستضعف نه بدل دې لقول بعض الکهنة،داد یذبح علت دې

قوله. نمکن لهم فی الارض: ای نسلطهم علی مصرو الشام

قوله: نری فرعون:فرعون اوددې معطوفات د "نری" مفعول اول دی، ماکانوایحذرون ئې مفعول ثانی دې،په جنودهماکښې اضافت تغلیبا دې یعنی لښکراگرچه د فرعون وولیکن هامان ئې وزیروو دبادشاه لښکرته ئې تغلیباد هامان لښکراووئیلو.اوداهم ممکنه د چه د هامان خپل څه مخصوص لښکروی،اوپه یوقراءت کښې یری دې په دې صورت کښې به درې واړه اسمونه د اسم فاعل کیدوپه وجه مرفوع وئیلې کیږی.

قوله: الی امّ موسیٰ : د حضرت موسیٰ علیہ السلام د موربی بی په نوم کښې اختلاف دې،ځنې حضرات یوحانذ وائی اوقرطبی د ثعلبی نه نقل کړی دی چه د هغې نوم لوخا بنت حانذ بن لاوی بن یعقوب دې ددې نه علاوه نور نومونه هم مذکوردی.

قوله: ان ارضعیه: آن تفسیریه اومصدریه دواړه کیدې شی .

قوله: ولاتخافی: غرقه، بره وئیلی شوی وو فاذاخفت علیه اودلته وئیلې کیږی چه لاتخافی په دې دواړوکښې تعارض معلومیږی؟ ددې جواب دادې چه داتعارض د لاتخافی غرقه په تفسیرسره دفع شو،فاذاخفت کښې د ذبح خوف مراددې.اوپه لاتخافی کښې د غرق د خوف نفی د ، لهٰذا هیڅ تعارض نشته القار توره بهیدونکې ماده کومه چه په کشتئ وغیره کښې لګول کیږی ددې دپاره چه اوبه څه اثراونه کړی لکه تارکول وغیره .

قوله: ممهد: داد تابوت دپاره صفت ثانیه دې،صفت اولی ئې مطلی دی.یعنیٰ په خشبی تابوت کښې ئې تارکول اولګول ددې دپاره چه اوبه پرې اثراونه کړی اوپکښې تکولې (داندس) شوې مالوچ ئې واچولوددې دپاره چه موسیٰ علیہ السلام ته څه تکلیف اونه رسی، ممهدپه معنی د غوړولی شوی.

قوله: فی عاقبة الامر: په دې سره ئې اشاره اوکړه چه په لیکون کښې لام د عاقبت دپاره دې اود علت دپاره نه دې ځکه چه د پورته کولوپه وخت کښې مقصد ابن جوړول وؤ او د خوانیدو نه پس د فرعون اود فرعونیانودپاره د غم اوتکلیف سبب جوړشو .

قوله: انّ فرعون وهامان : داد معطوف علیه فالتقطه آل فرعون اود معطوف وقالت امراة فرعون ترمینځه جمله معترضه ده (جمل)قالت امراة فرعون، د فرعون د ښځې نوم آسیه بنت مزاحم بن عبید بن الریان بن الولید وو .

قوله: هو قرّة عين لی ولك: هوئي مقدر منلو سره اشاره اوكړه چه قرّة عين مرفوع دې اود مبتدأ محذوف خبردې.

قوله: لولا ان ربطنا: د لولا جواب محذوف دې په كوم باندې چه د لولا ماقبل لتبدين دلالت كوی تقديرد عبارت داسې دې لولا ان ربطنا علی قلبها لابدت انه ابنها.

قوله: وهم لايشعرون: دا جمله د آل فرعون نه حال دې.

قوله: لاخته مريم: مريم د حضرت موسیٰ ﷺ حقيقي خورد ،ځنوحضراتود مريم په ځای كلثمه اوكلثوم هم ذكركړې ده،د موربی بی نوم ئې يوحانذ اود پلارنوم ئې عمران دې،اوداعمران د حضرت عيسیٰ ﷺ د مورمريم د پلارعمران نه علاوه بل عمران دې،ځكه چه د دواړو په مينځ كښې د يوزرآته سوه كالوفاصله ده. (جمل)

قوله: من مكان بعيد: په دې سره دې خبرې ته اشاره ده چه جنب د موصوف يو محذوف صفت دې "ای عن مكان بعيد اختلاسا ای اختفاءً.

قوله: حرّمنا عليه المراضع: حرّمنا د تحريم نه مشتق دې ای منعنا. دلته د تحريم نه مجازاً منع كول مراد دې،ځكه چه دلته د تحريم شرعی معنی مرادكول صحيح نه دی ځكه چه ماشوم د شرعی امورو او تكاليفو مكلف نه وی، مراضع د مرضع جمع ده، چونكه پئ وركول د بنځوسره مخصوص دی ځكه پكښې (ة) ترك شوې ده،لكه په حائض كښې

[ایاتونه: ۱۴ - ۲۱]

(وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ) وَهُوَ ثَلاثُونَ سَنَة أَوْ وَثَلاث (وَاسْتَوَى) أَيْ بَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَة (آتَيْنَاهُ حُكْمًا) حِكْمَة (وَعِلْمًا) فِقْهًا فِي الدِّين قَبْل أَنْ يُبْعَث نَبِيًّا (وَكَذَٰلِكَ) كَمَا جَزَيْنَاهُ (نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ) لِأَنْفُسِهِمْ (وَدَخَلَ) مُوسَى (الْمَدِينَة) مَدِينَة فِرْعَوْن وَهِيَ مَنْف بَعْد أَنْ غَابَ عَنْهُ مُدَّة (عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا) وَقْت الْقَيْلُولَة (فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِ) أَيْ إسْرَائِيلِيّ (وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِ) أَيْ قِبْطِيّ يُسَخِّر إسْرَائِيلِيًّا لِيَحْمِل حَطَبًا إلَى مَطْبَخ فِرْعَوْن (فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِي مِن شِيعَتِهِ عَلَى الَّذِي مِنْ عَدُوِّهِ) فَقَالَ لَهُ مُوسَى خَلِّ سَبِيله فَقِيلَ إنَّهُ قَالَ لِمُوسَى لَقَدْ هَمَمْت أَنْ أَحْمِلهُ عَلَيْك (فَوَكَزَهُ مُوسَىٰ) أَيْ ضَرَبَهُ بِجُمْعِ كَفّه وَكَانَ شَدِيد الْقُوَّة وَالْبَطْش (فَقَضَىٰ عَلَيْهِ) قَتَلَهُ وَلَمْ يَكُنْ قَصَدَ قَتْله وَدَفَنَهُ فِي الرَّمْل (قَالَ هَٰذَا) قَتْله (مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ) الْمُهَيِّج غَضَبِي (إِنَّهُ عَدُوٌّ) لِابْنِ آدَم (مُّضِلٌّ) لَهُ (مُّبِينٌ) بَيِّن الْإِضْلَال (قَالَ) نَادِمًا (رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي) بِقَتْلِهِ (فَاغْفِرْ لِي فَغَفَرَ لَهُ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ) أَيْ الْمُتَّصِف بِهِمَا أَزَلًا وَأَبَدًا (قَالَ رَبِّ بِمَا أَنْعَمْتَ) بِحَقِّ إنْعَامك (عَلَيَّ) بِالْمَغْفِرَةِ اعْصِمْنِي (فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا) عَوْنًا (لِّلْمُجْرِمِينَ) الْكَافِرِينَ بَعْد هَذِهِ إنْ عَصَمْتنِي (فَأَصْبَحَ فِي الْمَدِينَةِ خَائِفًا يَتَرَقَّبُ) يَنْتَظِر مَا يَنَالهُ مِنْ جِهَة الْقَتِيل (فَإِذَا الَّذِي اسْتَنصَرَهُ بِالْأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُ) يَسْتَغِيث بِهِ عَلَى قِبْطِيّ آخَر (قَالَ لَهُ مُوسَىٰ إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِينٌ) بَيِّن الْغَوَايَة لِمَا فَعَلْته بِالْأَمْسِ

واليوم {فَلَمَّا أَنْ} زائدة {أَرَادَ أَن يَبْطِشَ بِالَّذِي هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا} لموسى والمستغيث به {قَالَ} المستغيث ظانا انه يبطش به لما قال له {يَا مُوسَىٰ أَتُرِيدُ أَن تَقْتُلَنِي كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْأَمْسِ إِن} ما {تُرِيدُ إِلَّا أَن تَكُونَ جَبَّارًا فِي الْأَرْضِ وَمَا تُرِيدُ أَن تَكُونَ مِنَ الْمُصْلِحِينَ} فسمع القبطي ذلك فعلم ان القاتل موسى فانطلق الى فرعون فاخبره بذلك فامر فرعون الذباحين بقتل موسى فاخذوا في الطريق اليه {وَجَاءَ رَجُلٌ} هو مؤمن آل فرعون {مِّنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ} آخرها {يَسْعَىٰ} يسرع في مشيه من طريق اقرب من طريقهم {قَالَ يَا مُوسَىٰ إِنَّ الْمَلَأَ} من قوم فرعون {يَأْتَمِرُونَ بِكَ} يتشاورون فيك {لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ} من المدينة {إِنِّي لَكَ مِنَ النَّاصِحِينَ} في الامر بالخروج {فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا يَتَرَقَّبُ} لحوق طالب او غوث الله اياه {قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ} قوم فرعون

ترجمه: اوموسیٰ عليه السلام چه كله خپلې پوره ځوانئ ته اورسيدو (چه هغه ديرش يادرې ديرش كاله دى) اومضبوط اوتندرست شو (يعنى د خلويښتو كالو شو) نوموږ هغه ته حكمت اوعلم وركړو (يعنى د پيغمبرجوړولونه وړاندې وړاندې موږهغه ته د حكمت اود دين پوهه وركړه) اوموږهم دغه شان (لكه څنګه موچه موسىٰ عليه السلام ته بدله وركړه) په خپل ځان بلندې احسان كوونكوته بدله وركووٓاو (موسىٰ عليه السلام په ښاركښې (يعنى د فرعون په ښاركښې چه نامه ئې منف وه د ډېروخت د غائب والى نه پس) په يوداسې وخت كښې داخل شوچه د ښارخلق (د قيلوله په وخت كښې) غافل وو، دلته ئې دوه كسان په جګړه اوموندل دايودد د ورورولئ (خاندان) نه وو (يعنى اسرائيلى وو) اودويم دده ده دښمن د ورورولئ نه وو (يعنى قبطى وو، قبطى دې اسرائيلى لره په دې خبره باندې مجبورولوچه هغه لرګى د فرعون لنګر ته يوسي) نوكوم چه د موسىٰ د برادرئ نه وو هغه د هغه كس چاخلاف موسىٰ ته فرياداوكړوچه د هغه د دښمن د برادرئ نه وو (نوموسىٰ عليه السلام قبطى ته اووئيل چه دې پريږده چه لاړشي، وئيلى شوى دى چه دې قبطى موسىٰ عليه السلام ته اووئيل چه اراده لرم چه دالرګى ستاپه سرباندې كيږدم) په دې موسىٰ (عليه السلام) قبطى ته يوسوك وركړو (يعنى لاس ئې راموټې كړو او په سوك ئې اووهلو، موسىٰ عليه السلام ډير قوى او سختو رانيولو والا وو) نوموسىٰ (عليه السلام) قبطى لره مړكړو (حال داچه د هغه د وژلواراده نه وه، اوهغه ئې په شړوكښې ښخ كړواوموسىٰ عليه السلام وې فرمائيل چه داقتل شيطانى حركت شو (كوم چه زماد غصې راتيزولووالا دې) بې شكه شيطان د انسانانودپاره ښكاره دښمن دې په غلطئ كښې غورځوونكې دې (پښيمان شواو) عرض ئې اوكړوچه اې زماپروردګاره (ماد قبطى په قتلولوسره) پخپله په خپل ځان باندې ظلم اوكړو، ته ماته معافى اوكړې، نوالله هغه لره معاف كړو، بې شكه الله غفوراورحيم دې (يعنى الله تعالى ددې دواړوصفتونوسره ازلاً او ابداً متصف دې) موسىٰ اووئيل چه اې زماربه ا په ماباندې ستاد بخښنې كولود انعام فرمائيلوپه صدقه كښې (زماحفاظت اوكړه، كه

تازماحفاظت اوکړونوزه به په راتلونکی وخت کښې) د مجرمانو مددګارنه جوړېږم بیاموسیٰ علیه السلام د یرې اووحشت په حالت کښې سباکړو، (په دې انتظار کښې چه د مقتول د خوانه د ته ئه معامله رامخې ته کیږی) نویوناڅاپه (څه ګوری چه) هم هغه سړې چه پرون ئې د موسیٰ نه مددغوښتې وو (نن بیاد یوقبطی خلاف د مددکولودپاره) موسیٰ ته فریادکوی، نوموسیٰ اوویل چه ته خوڅرګندبې لارې ئې (د خپل هغه حرکت په وجه چه پرون اونن دې اوکړو) نوکله چه موسیٰ (علیه السلام) د هغه کس طرف ته لاس اوږدکړوکوم چه د دواړو دښمن وو (یعنی د موسیٰ علیه السلام اود اسرائیلی، آن زائده دې، کله چه حضرت موسیٰ علیه السلام اسرائیلی ته انک لغوی مبین جمله اوونیله نوهغه داسې اوګڼړله چه کیدې شی چه نن موسیٰ علیه السلام زما د رانیولو اراده لری نو) وې وئیل چه اې موسیٰ! آیاته زماد قتل اراده لرې لکه څنګه چه تاپرون یوکس قتل کړې وو، ته خوصرف داغواړې چه ته خپل زورپه دنیا کښې جوړکړې اوصلح کول نه غواړې، (نوکله چه قبطی داخبره واوریدله نوپوهه شوچه د پرون ورځې د مقتول قاتل خوموسیٰ علیه السلام دې، نوقبطی لاړواوفرعون ته ئې داخبرورکړو، فرعون جلادیانو ته د موسیٰ علیه السلام د وژلو حکم صادرکړو، نوجلادیان د موسیٰ علیه السلام په خواروان شول، الله تعالیٰ فرمائی چه د آل فرعون نه) یوکس (مؤمن) د ښارد لرې طرف نه په منډه راغې (یعنی د جلادیانوپه نسبت تیزاوپه لنډه لارېاندې راغې) اوئې وئیل چه اې موسیٰ! (د فرعون د قوم) مشران مشوره کوی چه تااووژنی نوته د ښار نه اووځه، (اود وتلو د مشورې په معامله کښې) زه ستادپاره خیرخواه یم، نوموسیٰ (علیه السلام) د یرې په حالت کښې چه انتظارئې کولو (د تلاش کوونکود رسیدو (د یرې نه) یاد الله تعالیٰ د مددانتظارئې کولو) اووتو، وې وئیل چه زماپروردګاره! ته ماد ظالم قوم (یعنی د فرعون د قوم) نه بچ اوساته.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: واستویٰ : ای بلغ اربعین سنةً، مفسرعلام کۀ د استویٰ تفسیرپه انتهیٰ شبابه وتکامل عقله سره کړې وې نودابه ډیرظاهراومناسب وې، ځکه چه په مدین کښې د حضرت شعیب علیه السلام خدمت کښې لس کاله قیام کولو نه پس د حضرت موسیٰ علیه السلام مصرته واپسی اوشوه په دې وخت کښې دحضرت موسیٰ علیه السلام عمرخلویښت کاله وو، ددې مطلب دادې چه د حضرت موسیٰ علیه السلام په مصرکښې دیرش کاله قیام شوې دې اوکۀ په مصرکښې د موسیٰ علیه السلام قیام خلویښت کاله اومنلې شی لکه څنګه چه مفسرعلام فرمائیلی دی نود مدین نه د واپسئ په وخت کښې د حضرت موسیٰ علیه السلام عمرپنځوس کاله په کاردې، حال داچه داد صراحت نه خلاف دی.

قوله: منف: داد هغه ښارنوم دې کوم کښې چه فرعون اوسیدو، داد علمیت اود عجمه په وجه یاد علمیت اوتانیث په وجه غیرمنصرف دې، دې ښارته منوف هم وائی، فلفظی علیه

داد اوقع القضاء علیه په معنی د کید وپه وجه متعدی په علی سره دی.

قوله: وکن یکن لصده : داده دې سوال جواب دې چه حضرت موسیٰ علیه السلام یوداسې غیرشرعی کارخنګه اوکړوچه یوغیرواجب القتل کس ئې قتل کړو ؟ جواب دادې چه داقتل خطا دې، پاتې شوه داخبره چه په دې قتل ئې استغفارولې اوغوښتونووجه داد چه "حسنات الابرار سیئات المقربین".

قوله: هذاای قتله : په ای قتله سره ئې هذا مشارالیه ته اشاره اوکړه چه مرادفعل قتل دې، او څنو حضراتوذ هذا مشارالیه فعل مقتول ګرځولې دې د مقتول فعل یعنی د قبطی په اسرائیلی باندې زور زبردستی کول دافعل یوشیطانی عمل ووکوم چه د مؤاخذې قابل وو، اوڅنوحضراتود هذا مشارالیه په خپله قبطی ګرځولې دې یعنی داقبطی په خپله د یو شیطانی لښکراود هغې د جماعت یوفردوو، اود حضرت موسیٰ علیه السلام "انی ظلمت نفسی" وئیل د تواضع اود کسرنفسی په توګه وؤ.

قوله: قال رب بما انعمت : بحق انعامک علیّ :دلته مفسرعلام د بما انعمت علی تفسیربه بحق انعامک علیّ سره اوکړو،دې سره ئې دوؤخبروطرف ته اشاره اوکړه،یوه داچه مامصدریه د یعنی انعمت په معنی د انعامک دې،اوکلام په حذف د مضاف سره دې،ای بحق انعامک، او دویمه خبره داچه اعصمنی محذوف منلو سره ئې دې خبرې ته اشاره اوکړوچه بحق جار او مجرور د اعصمنی محذوف سره متعلق دې تقدیرد عبارت داسې دې "اعصمنی بحق انعامک علی بالمغفرة.

قوله: فلن أکون ظهیراللمجرمین : داجمله د شرط محذوف جواب دې تقدیرد عبارت دادې "ان عصمتنی فلن اکون ظهیراللمجرمین .

قوله: بعدهذه : ای بعدهذه المرة د مفسرعلام د مجرمین تفسیربه کافرین سره کول مناسب نه معلومیږی ځکه چه ددې تفسیرمطابق د اسرائیلی کافرکیدل لازمیږی،بهتره داد چه مجرمین په خپل حال باندې پرېښودلې شی، (جمل)

قوله: فاصبح فی المدینة خائفایترقب : د مدینه نه هغه ښارمراددې کوم کښې چه قبطی قتل کړې شوې وو.

قوله: خائفاً: داد اصبح خبردې اوفی المدینة ددې سره متعلق دې اود یترقب مفعول محذوف دې ای یترقب المکروه،اوالفرَج،اوالخبرهل وصل لفرعون ام لا ،یعنی د یترقب مختلف مفعول محذوف ګرځول کیدې شی،لکه څنګه چه بره ظاهرکړی شوی دی .

قوله: اذاالذی : اذامفاجاتیه ده،الذی موصول استنصره ئې صله ده،صله سره د خپل موصول نه دموصوف محذوف الاسرائیلی صفت،موصوف سره دخپل صفت نه مبتدأ،

يستصرخه ئې خبر، بالامس متعلق دې د استنصره سره، تقديرد عبارت داسې دې "اذا الاسرائيلي الذي استنصره بالامس يستصرخه".

قوله: يسعى: د رجل صفت دې، يسعى د رجل نه حال هم كيدې شي ځكه چه رجل په من اقصى المدينة سره د متصف كيدو په وجه معرفه شوې دې چه د هغې په وجه د رجل ذوالحال كيدل صحيح دى، الملاء اسم جمع د معنى ئې د شريفان ياد سردارانو جماعت او دله.

قوله: يأتمرون: ايتمار د باب افتعال نه جمع مذكر غائب صيغه د، هغوى مشوره كوى. اياه الضمير راجع الى موسى.

[اياتونه: ٢٢ - ٢٨]

(وَلَمَّا تَوَجَّهَ) قَصَدَ بِوَجْهِهِ (تِلْقَاءَ مَدْيَنَ) جِهَتَهَا وَهِيَ قَرْيَةُ شُعَيْبٍ مَسِيرَةَ ثَمَانِيَةِ أَيَّامٍ مِنْ مِصْرَ سُمِّيَتْ بِمَدْيَنَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ وَلَمْ يَكُنْ يَعْرِفُ طَرِيقَهَا (قَالَ عَسَىٰ رَبِّي أَنْ يَهْدِيَنِي سَوَاءَ السَّبِيلِ) أَيْ قَصْدَ الطَّرِيقِ أَيِ الطَّرِيقَ الْوَسَطَ إِلَيْهَا فَأَرْسَلَ اللّٰهُ مَلَكًا بِيَدِهِ عَنَزَةٌ فَانْطَلَقَ بِهِ إِلَيْهَا (وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ) بِئْرٌ فِيهَا أَيْ وَصَلَ إِلَيْهَا (وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً) جَمَاعَةً (مِنَ النَّاسِ يَسْقُونَ) مَوَاشِيَهُمْ (وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ) سِوَاهُمْ (امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ) تَمْنَعَانِ أَغْنَامَهُمَا عَنِ الْمَاءِ (قَالَ) مُوسَىٰ لَهُمَا (مَا خَطْبُكُمَا) مَا شَأْنُكُمَا لَا تَسْقِيَانِ (قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّىٰ يُصْدِرَ الرِّعَاءُ) جَمْعُ رَاعٍ أَيْ يَرْجِعُونَ مِنْ سَقْيِهِمْ خَوْفَ الزِّحَامِ فَنَسْقِي وَفِي قِرَاءَةٍ يُصْدِرَ مِنَ الرُّبَاعِيِّ أَيْ يَصْرِفُوا مَوَاشِيَهُمْ عَنِ الْمَاءِ (وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ) لَا يَقْدِرُ أَنْ يَسْقِيَ (فَسَقَىٰ لَهُمَا) مِنْ بِئْرٍ أُخْرَىٰ بِقُرْبِهِمَا رَفَعَ حَجَرًا عَنْهَا لَا يَرْفَعُهُ إِلَّا عَشَرَةُ أَنْفُسٍ (ثُمَّ تَوَلَّىٰ) انْصَرَفَ (إِلَى الظِّلِّ) لِسَمُرَةٍ مِنْ شِدَّةِ حَرِّ الشَّمْسِ وَهُوَ جَائِعٌ (فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ) طَعَامٍ (فَقِيرٌ) مُحْتَاجٌ فَرَجَعَتَا إِلَىٰ أَبِيهِمَا فِي زَمَنٍ أَقَلَّ مِمَّا كَانَتَا تَرْجِعَانِ فِيهِ فَسَأَلَهُمَا عَنْ ذٰلِكَ فَأَخْبَرَتَاهُ بِمَنْ سَقَىٰ لَهُمَا فَقَالَ لِإِحْدَاهُمَا ادْعِيهِ لِي قَالَ تَعَالَىٰ (فَجَاءَتْهُ إِحْدَاهُمَا تَمْشِي عَلَى اسْتِحْيَاءٍ) أَيْ وَاضِعَةً كُمَّ دِرْعِهَا عَلَىٰ وَجْهِهَا حَيَاءً مِنْهُ (قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا) فَأَجَابَهَا مُنْكِرًا فِي نَفْسِهِ أَخْذَ الْأُجْرَةِ كَأَنَّهَا قَصَدَتِ الْمُكَافَأَةَ إِنْ كَانَ مِمَّنْ يُرِيدُهَا فَمَشَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ فَجَعَلَتِ الرِّيحُ تَضْرِبُ ثَوْبَهَا فَتَكْشِفُ سَاقَيْهَا فَقَالَ لَهَا امْشِي خَلْفِي وَدُلِّينِي عَلَى الطَّرِيقِ فَفَعَلَتْ إِلَىٰ أَنْ جَاءَ أَبَاهَا وَهُوَ شُعَيْبٌ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَعِنْدَهُ عَشَاءٌ فَقَالَ اجْلِسْ فَتَعَشَّ قَالَ أَخَافُ أَنْ يَكُونَ عِوَضًا مِمَّا سَقَيْتُ لَهُمَا وَإِنَّا أَهْلُ بَيْتٍ لَا نَطْلُبُ عَلَىٰ عَمَلِ خَيْرٍ عِوَضًا قَالَ لَا عَادَتِي وَعَادَةُ آبَائِي نَقْرِي الضَّيْفَ وَنُطْعِمُ الطَّعَامَ فَأَكَلَ وَأَخْبَرَهُ بِحَالِهِ قَالَ تَعَالَىٰ (فَلَمَّا جَاءَهُ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ) مَصْدَرٌ بِمَعْنَى الْمَقْصُوصِ مِنْ قَتْلِهِ الْقِبْطِيَّ وَقَصْدِهِمْ قَتْلَهُ وَخَوْفِهِ مِنْ فِرْعَوْنَ (قَالَ لَا تَخَفْ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ) إِذْ لَا سُلْطَانَ لِفِرْعَوْنَ عَلَىٰ مَدْيَنَ (قَالَتْ إِحْدَاهُمَا) وَهِيَ الْمُرْسَلَةُ الْكُبْرَىٰ أَوِ الصُّغْرَىٰ (يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ) اتَّخِذْهُ أَجِيرًا يَرْعَىٰ غَنَمَنَا بَدَلَنَا (إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ) أَيِ اسْتَأْجِرْهُ لِقُوَّتِهِ وَأَمَانَتِهِ فَسَأَلَهَا عَنْهُ فَأَخْبَرَتْهُ بِمَا تَقَدَّمَ مِنْ رَفْعِهِ حَجَرَ الْبِئْرِ وَمِنْ قَوْلِهِ لَهَا امْشِي خَلْفِي وَزِيَادَةِ أَنَّهَا لَمَّا جَاءَتْهُ وَعَلِمَ بِهَا صَوَّبَ رَأْسَهُ فَلَمْ يَرْفَعْهُ فَرَغِبَ فِي إِنْكَاحِهِ (قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنْكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ) وَهِيَ الْكُبْرَىٰ أَوِ الصُّغْرَىٰ (عَلَىٰ أَنْ تَأْجُرَنِي) تَكُونَ

أجيرًا لي في رَعْي غَنَمِي ﴿ثَمَانِيَ حِجَجٍ﴾ أي سِنِينَ ﴿فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا﴾ أي رَعْي عَشْر سِنِينَ ﴿فَمِنْ عِنْدِكَ﴾ التَّمام ﴿وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ﴾ باشتِرَاطِ العَشْر ﴿سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ﴾ لِلتَّبَرُّكِ ﴿مِنَ الصَّالِحِينَ﴾ الوَافِينَ بالعهد ﴿قَالَ﴾ مُوسَى ﴿ذَٰلِكَ﴾ الَّذِي قُلْته ﴿بَيْنِي وَبَيْنَكَ أَيَّمَا الْأَجَلَيْنِ﴾ الثَّمَان أو العَشْر وَمَا زَائِدَة أي رَعْيَهُ ﴿قَضَيْتُ﴾ بِهِ أي فَرَغْت مِنْهُ ﴿فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ﴾ بطَلَبِ الزِّيَادَة عَلَيْهِ ﴿وَاللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ﴾ أنا وَأَنْتَ ﴿وَكِيلٌ﴾ حَفِيظ أو شَهِيد فَتَمَّ العَقْد بِذَلِكَ وَأَمَرَ شُعَيْب ابْنَته أَنْ تُعْطِي مُوسَى عَصًا يَدْفَع بِهَا السِّبَاع عَنْ غَنَمه وَكَانَتْ عِصِيّ الأَنْبِيَاء عِنْده فَوَقَعَ فِي يَدهَا عَصَا آدَم مِنْ آس الْجَنَّة فَأَخَذَهَا مُوسَى بِعِلْمِ شُعَيْب

ترجمه: اوکله چه د مدین طرف ته متوجه شو (یعنی د مدین طرف ته ئې مخه کړه، مدین د حضرت شعیب علیه السلام کلې وو، کوم چه د مصرنه د آته ورځو په مسافت پروت وو، د حضرت ابراهیم علیه السلام د ځوئ مدین بن ابراهیم علیه السلام په نوم باندې داکلې موسوم وو. اوحضرت موسیٰ علیه السلام د مدین د لارې نه واقف اوخبر نه وو) نو وئ وئیل چه ماته امیدې چه زمارب به ماته د نیغې لارې ښودنه اوکړی (یعنی د سیدهالارې یعنی د مدین د متوسطې لارې ښودنه به راته اوکړی، نو الله تعالی یوه فرښته موسیٰ علیه السلام ته اولیږله چه د هغې په لاس کښې نیزه وو، نو هغې فرښتې حضرت موسیٰ علیه السلام لره مدین طرف ته بوتلو) نو کله چه (حضرت موسیٰ علیه السلام) د مدین اوبو (یعنی د هغې کوهی) ته اورسیدو نو وئ لیدل چه یوه غټه ډله د خلقو (خپلو څاروؤته) اوبۀ ورکوی، او ددې خلقونه جدائې دوه ښځې اولیدې چه (خپل څاوری ئې د اوبونه) رامنع کول، موسیٰ (علیه السلام) د دواړونه تپوس اوکړو چه ستاسو څه معامله ده؟ (تاسو ولې اوبۀ نه ورکوئ) هغوی اووئیل ترڅوپورې چه شپونکی واپس نه وی تلی ترهغې پورې مونږ اوبۀ نه ورکوؤ، (الرعآء د راع جمع ده یعنی ترڅوپورې چه دې شپونکو خپلو څاروؤته اوبۀ نه وی ورکړې او واپس نه وی تلی نو مونږ د ازدحام د یرې په وجه اوبۀ نه ورکوؤ. اوکله چه رش ختم شی نو بیا به اوبۀ ورباندې څکوؤ. او په یو قراءت کښې یصدر د باب افعال نه راغلې دې ای یصرفوامواشیهم عن المآء. یعنی ترڅوچه دوی خپل څاروی واپس بو نه څی) او زمونږ پلار ډیرعمر بوډادې، (یعنی هغه د اوبو په ورکولو باندې قدرت نه لری) لهذه داچه موسیٰ (علیه السلام) ددوی څاروؤته (د یوبل کوهی نه چه ددې کوهی سره نزدې وو) اوبۀ ورکړې (یوه غټه تیګه حضرت موسیٰ علیه السلام ددې کوهی نه په یواځې ځان پورته کړه کومه به چه لس کسانوهم په مشکله پورته کوله بیاد ګرمئ د سخت دهوپ په وجه د کیکر) سوری خواته لاړو (حال داچه موسیٰ علیه السلام سخت وږې هم وو) بیائې دعا اوکړه چه اې زما پروردګاره! (په دې وخت کښې) کوم نعمت هم چه ته په ما باندې رااولیږې (خوراک وغیره) نو زه د هغې حاجت مندیم، (نو د دادواړه جینکئ به چه هره ورځ په خومره وخت کښې واپس کېدلې د هغې نه په کم وخت کښې خپل پلار ته واپس لاړلې نو پلار ترینه د زرراتلووجه

اوپوښتله نوهغوی ددې کس په باره کښې خبرورکړوکوم چه د دوی چیلوته اوبهٔ ورکړې وې نوپلارئې په هغوی کښې یوې ته اووئیل چه داکس زماخواته راوله.الله تعالی فرمائی:په دې کښې د هغه دوؤنه یوه جینئ موسٰی ﷺ ته راغله چه په حیاسره رازوانه وه (یعنی د موسٰی ﷺ نه د حیاکولوپه وجه ئې د قمیص لستونې په خپل مخ باندې ایښې وو)اووئې وئیل چه زماپلارتاغواړی ددې دپاره چه تاکوم زمونږڅاروؤته اوبهٔ ورکړې دی چه د هغې بدله درکړی (حضرت موسٰی ﷺ ددې جینئ دعوت قبول کړو،په خپل زړه کښې د اجرت د اخستل ناخوښولو سره او ګویاچه د جینئ مقصداجرت ورکول وؤکهٔ موسٰی ﷺ اجرت اخستل اوغواړی بیاهغه جینئ د موسٰی ﷺ نه وړاندې وړاندې تله او بادونو د هغې جامې پورته کړې چه د هغې په وجه ئې پنډئ ښکاره شوه نوموسٰی ﷺ ورته اوفرمائیل چه ته زماشاته ځه اوماته لاره ښایه،نودې جینئ هم داسې اوکړل تردې چه خپل پلارحضرت شعیب ﷺ ته اورسیده،د هغه سره د ماښام روټئ تیاره وه،حضرت شعیب ﷺ موسٰی ﷺ ته اوفرمائیل چه تشریف کیږده اوروټئ اوخوره،حضرت موسٰی ﷺ اوفرمائیل چه ماته خطره د چه هسې نه داسې اوشی چه داخوراک زماد څاروؤته د اوبوورکولوبدله وی، اوزمونږتعلق د یوداسې کورنئ سره دې چه هغوی په یونیک کارباندې اجرت نه اخلی،حضرت شعیب ﷺ ورته اوفرمائیل چه داسې خبره نشته بلکه زمااوزماد پلارانواونیکونودامعمول دې چه مونږ میلمنومیلمستیاکوؤ،اوروټئ پرې خوروؤ،لهٰذاموسٰی ﷺ روټئ اوخوړه اوخپل ټول حال ئې شعیب ﷺ ته بیان کړو.نوالله تعالی فرمائی) فلما جاءه کله موسی ﷺ هغه ته اورسیدونواوهغه ته ئې ټول حال بیان کړو (القصص مصدردې د مقصوص په معنی دې یعنی د قبطی د قتلولو او بیا د هغوی د موسٰی ﷺ لره د قتلولو اراده اود فرعون د خوانه د خپلې یرې ټوله قیصه ئې واؤروله نوشعیب ﷺ ورته) اوفرمائیل چه (اوس)خطره مه کوه ته د ظالمانوخلقونه بچ شوې، (ځکه چه په مدین باندې د فرعون سلطنت نشته) په هغوی دوؤ کښې یوې (اوداهم هغه وه چه د موسٰی ﷺ راغوښتو پسې ئې لیږلې وه) اووئیل چه اې پلاره! ده لره نوکرا وساته،(یعنی دې مزدوراونیسه چه زمونږ په ځائې داچیلئ څروی) ځکه چه کوم څوک ته په اجرت سره نیسې په هغوی کښې د ټولونه بهتر به هغه څوک وی چه کوم قوی اوامانت داروی (یعنی د هغه د قوت اوامانت په وجه هغه مزدور اونیسه نوشعیب ﷺ د خپلې لورنه ددې دواړوصفتونوپه باره کښې معلومات اوکړل نوهغې هغه ټولې خبرې خپل پلارته بیان کړې د کوموچه اوس بره ذکراوشویعنی د کوهی نه د یوې غټې تیګې په یواځې ځان سره پورته کول اوپه لاره کښې ئې جینئ ته داوئیل چه زمانه شاته ځه، او مزید دا چه کله هغه ته داجینئ را اورسیده اوهغه ئې د راتلوعلم اوشونوخپل سرئې ټیټ کړواوپورته کړې ئې هم نه دې،

نوپه دې وجه شعیب عليه السلام حضرت موسیٰ عليه السلام ته د لورپه نکاح ورکولوباندې راغب شونو، شعیب عليه السلام اوفرمائیل چه زه په دې دواړولوریانوکښې یوه لورتاله په نکاح درکول غواړم (هغه که لویه ده او که وړه) په دې شرط سره چه ته به زماسره آته کاله نوکری کوې، (یعنی ته به زما د چیلود څرولوکارکوې) اوکهٔ تالس کاله پوره کړل (یعنی لس کاله دې چیلې اوڅرولې نودا (اتمام) به ستاد خوانه وی اوزه تالره (د لسوکالوپه شرط لګولوسره) په مشقت کښې اچول نه غواړم اوته به ماله انشاء الله (د تبرک دپاره دې) وعده پوره کوونکې اومومې نوموسیٰ عليه السلام اوفرمائیل چه داخبره (کومه چه تا اوکړه) زما او ستا ترمینځه مکمله شوه په دې دوؤکښې (یعنی دې اتویاد لسوکالو کښې) کومه یوه موده چه هم زه پوره کړم نو(په هغې باندې د زیاتولودغوښتنې) مطالبې کولوسره) په ما باندې به جبرنه وی (آیماکښې مازائده ده یعنی چه د څرولو مود پوره کړم) اوموږچه څه وایو الله په هغې باندې نګهبان دې (یا شاهد دې، په دې خبره د نکاح عقدمکمل شواوحضرت شعیب عليه السلام خپلې لورته اووئیل چه د ته یوه همساورکړه چه د هغې په ذریعه د څاروؤ حفاظت د درنده (شلوؤنکوحیواناتو) نه کوی، او د سابقینو انبیاء کرامو علیهم السلام ډیرې همساګانې دد سره موجودې وې نو د جینۍ په لاس کښې د حضرت آدم عليه السلام همسا راغله کومه چه د جنت د ونې د مورو وه، نوحضرت موسیٰ عليه السلام هغه همسا د حضرت شعیب عليه السلام په علم کښې راوسته اوځان سره ئې واخسته

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: سوآءالسبیل: داد اضافت د صفت نه الی الموصوف د قبیلې نه دې، ای الطریق الوسط، د سواء السبیل تفسیرئې په قصدالسبیل سره کړې دې، د دې خبرې د ښودنې دپاره چه دااضافت د صفت دې خپل موصوف ته د قصدالطریق تفسیرئې په الطریق الاوسط سره کړې دې.

قوله: عنزة: عنزه د عصانه غټه اود نیزې نه وړه وی ددې په لاندینی سرپورې د اوسپنې نوکه وی

قوله: مآءمدین: ددې تفسیرئې په بئرسره کړې دې اشاره ئې اوکړه دې خبرې ته چه دلته ذکرد حال دې اومرادترینه محل دې، اود بئرنه مخکښې هومبتدأمحذوف ده، بئردې خبردې، ای هوبئرکائن فیها.

قوله: امّة: د امّت تفسیر په جماعة کثیرة سره کولو کښې ئې اشاره کړې د دې خبرې ته چه تنوین د تکثیردپاره دې.

قوله: تذودان: د امرئتین صفت دې نه داچه د وجد مفعول ثانی، ځکه چه وَجَدَپه معنی د لقِیَ دې.

قوله: دلته سوال پيداكيږي چه ددې خلور افعالو مفعولونه ئې ولې حذف كړي دي، يسقون، تذودان، لانسقى اويصدرالرعآء.

جواب: جواب دادې چونكه مقصودبالذات فعل وى اومفعول نه وى په دې وجه ئې د خلوروواړو مفاعيل حذف كړل.

قوله: على ان تأجرنى: داجمله د فاعل ياد مفعول نه د حال كيدوپه وجه محلاً منصوب ده، اى مشروطاعلىّ اوعليک ذالک.

قوله: التمام: دائې محذوف منلو سره اشاره كړې د چه من عندک د مبتدأ محذوف خبردې.

قوله: ايمّاالاجلين: آىّ شرطيه د مازائده ده اوفلاعدوان جواب شرط دې.

[اياتونه: ۲۹-۳۲]

{فلماقضى موسى الأجل} اي رعيه وهو ثمان أو عشر سنين وهو المظنون {وَسَارَبِأَهْلِهِ} زوجته بإذن أبيها نحو مصر {آنَسَ} أبصر من بعيد {مِنْ جَانِبِ الطُّورِ} اسم جبل {نَارًاقَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا} هنا {إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَعَلِّي آتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ} عن الطريق وكان قد أخطأها {أَوْجَذْوَةٍ} بتثليث الجيم قطعة وشعلة {مِنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ} تستدفئون والطاء بدل من تاء الإفتعال من صلي النار بكسر اللام وفتحها {فلماأتاهانودي من شاطئ} جانب {الوادِ الْأَيْمَنِ} لموسى {فِي الْبُقْعَةِ الْمُبَارَكَةِ} لموسى لسماعه كلام الله فيها {مِنَ الشَّجَرَةِ} بدل من شاطىء بإعادة الجار لنباتها فيه وهي شجرة عناب أو عليق أو عوسج {أَنْ} مفسرة لا مخففة {ياموسى إني أنا الله رب العالمين} {وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ} فألقاها {فَلَمَّا رَآهَا تَهْتَزُّ} تتحرك {كَأَنَّهَا جَانٌّ} وهي الحية الصغيرة من سرعة حركتها {وَلَّى مُدْبِرًا} هاربا منها {وَلَمْ يُعَقِّبْ} اي يرجع فنودي {ياموسى أقبل ولاتخف إنك من الآمنين} {اسْلُكْ} أدخل {يَدَكَ} اليمنى بمعنى الكف {فِي جَيْبِكَ} هو طوق القميص وأخرجها {تَخْرُجْ} خلاف ما كانت عليه من الأدمة {بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ} أي برص فأدخلها وأخرجها تضيء كشعاع الشمس تغشي البصر {وَاضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ من الرهب} بفتح الحرفين وسكون الثاني مع فتح الأول وضمه أي الخوف الحاصل من إضاءة اليد بأن تدخلها في جيبك فتعود إلى حالتها الأولى وعبر عنها بالجناح لأنها للإنسان كالجناح للطائر {فَذَانِكَ} بالتشديد والتخفيف أي العصا واليد وهما مؤنثان وإنما ذكر المشار به إليهما المبتدأ لتذكير خبره {بُرْهَانَانِ} مرسلان {من ربك إلى فرعون وملئه إنهم كانوا قوما فاسقين}

ترجمه: نوكله چه موسىٰ عليه السلام موده پوره كړه (يعني د چيلود څرولو موده، كومه چه اته يالس كاله وه اوغالب ګمان دادې چه لس كاله ئې تيركړل) اوخپله اهليه ئې (د هغې د پلارپه اجازت سره د مصرپه طرف څان سره) بوتله (نو) د لرې نه ئې د طور (كوم چه د يوغرنوم دې) خواته اوراوليدونوخپلې كوروالا ته ئې اووئيل چه ته (دلته) ايساره شه (مااورليدلې دې لايره ممكنه ده چه زه به هلته نه (د لارې) خبر (حال داچه موسىٰ عليه السلام لاره غلطه كړې وه) ياد

اورتکړه (یاشعله) راوړم (جذوة په جیم کښې درې واړه اعرابه صحیح دي) ددې دپاره چه تاسو گرم شئ (یعني تاوده شئ. طاء د باب افتعال په تاء سره بدله شوې ده اوداد صَلَیَ بالنار په فتحې د لام اوکسرې د لام دواړو نه مشتق دې،)نوکله چه موسیٰ (عليه السلام) اورته اورسیدو نو(موسیٰ عليه السلام ته)د هغه د ښي اړخ نه د وادی په غاړه د ونې نه غږورکړې شو(د موسیٰ عليه السلام د پاره)، په مبارک میدان کښې (د هغه په دې میدان کښې د الله تعالی د کلام اوریدوپه وجه،یعني هغه میدان د موسیٰ عليه السلام دپاره ډیرمبارک وو په دې میدان کښې هغه ته د نبوت د ملاویدوپه وجه اود الله تعالی سره د خبروکولوپه وجه، من الشجرة په اعادې دجارسره د وادی نه بدل دې،ددې ونې په دې وادی کښې د راټوکیدلوپه وجه، اوهغه د بیرې یاامبربیل یاد عوسج ونه وه،ان مفسره ده مخففه نه دې) اې موسیٰ یقیناًزه الله یم د ټولو جهانونوپروردگار(اوداآوازهم راغې چه اې موسیٰ !)خپله همسادې اوغورځوه، (نوهمسا ئې اوغورځوله)بیائې چه کله داهمسااولیدله چه د مارپه شان حرکت کوی (نولکه چه د ډیر تیزحرکت کولوپه وجه هغه جان یعني وړوکې ماردې نو)موسیٰ عليه السلام د هغې نه) شاګړه او اوتختیدو (اوشاته ئې اونه کتل نوحکم اوشو)اې موسیٰ وړاندې راشه اوویرېږه مه،یقیناً ته په امن کښې ئې اوته خپل (ښي)لاس ترخ ته دننه باسه (اوطوق د قمیص ګریوان ته وائی،د خپل وراندینی غنم رنګئ برخلاف به)بغیرد څه بیمارئ نه (پرقیدونکې) راواوځی (یعني د برص د بیمارئ نه علاوه،نوموسیٰ عليه السلام لاس وردننه کړواوبیائې رابهر کړونو د نمرد شعلې په شان روښانه وو ،اوسترګې ئې بریښنولې،)اود یرې نه (د بیچ کیدودپاره)خپل لاس دې د خپل ځان په طرف رایوځائ کړه (ددواړوحرفونوپه فتحې اود دویم په سکون معه فتحه د اول اوضمه د اول یعني د هغه د یرې نه د بیچ کیدودپاره کومه چه د لاس په پرقیدوسره حاصله شی،په داسې طریقې سره چه ته لاس دویم ځل ترخ ته ننه باسه نوهغه به خپل وراندینی حالت ته راشی اود لاس نه ئې په وزر سره تعبیرکړې دې په دې وجه چه د انسان دپاره لاسونه داسې دی لکه د مارغهٔ دپاره وزرې .)داوه معجزې ستادپاره ستاد رب د خوانه د فرعون اودهغه د مشرانوخواته لیږلې شوې دی (ذانک په تشدید اوتخفیف دواړوسره یعني عصااویدبیضا ،اوداودواړه مؤنث دی اوپه کوم اسم اشارې سره چه دې ته اشاره شوې ده هغه مبتدا دهو هغه مذکرراوړلې شوې ده اود هغې د خبرد مذکروالی د رعایت کولو په وجه) ځکه چه هغوی ډیرنافرمانه خلق دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: جذوة: په جیم باندې درې واړه حرکات صحیح دی،هغه لرګی ته وئیلې کیږی چه په سرکښې ئې شعله وی،مضبوط لرګی ته هم جذوه وئیلې کیږی، من نارد جذوة بیان دې، فلما اتاها کښې د هاضمیرمرجع ناردې.

قوله: من شاطئ الواد: من ابتدائیه د غایت دپاره دې اوأیمن د شاطئ یاد وادی صفت دې اوایمن د یمین نه دې په معنی د ښی اړخ، اود جانبِ یمین نه مراد د حضرت موسٰی علیه السلام جانب یمین دې اوفی البقعة د نودي سره متعلق دې.

قوله: لسماعه کلامَ الله: یعنی هغه میدان د موسٰی علیه السلام دپاره ځکه مبارک ووچه په دې میدان کښې هغه په نبوت سره اونمانزلې شواود رب العالمین سره ورته د کلام کولوشرف حاصل شو.

قوله: من الشجرة: داد شاطئ نه بدل الاشتمال دې اود ملابست د وجې طرف ته مفسرعلام "لنباتها فیه ونیلوسره اشاره کړې ده،چونکه هغه ونه پهٔ شاطئ یعنی یوطرف کښې وه نو داسې شوه لکه چه آوازد ونې نه راغې،هغه ونه د څه ونه وه نوپه دې کښې درې اقوال دی ① اول عناب کوم چه معروف دې،هغې میوې ته هم عناب ونیل کیږی چه کوم د ځنګلی بیرې نه لږغټ او رنګ ئې سور توروالی ته مائل وی، ② دویم عُلیق،داپه ونوپورې انختونکې د خیلئ (تانړو) په څیروی پانړې ئې بیخی لږې وی، د مینچوپه شان په ټوله ونه باندې خوریږی،په کومه ونه پورې چه اونخلی نود هغې ونې رس راکاږی اوهغه وچه کوی، رنګ ئې زیړوی،په عوامو کښې ئې مختلف نومونه دی،آکاش بیل،امربیل اوپه فارسئ کښې ورته عشق پیچان وائی،طبی نوم ئې افطیمون دې، ③ دریم قول عوسج دې، دا یو ازغنه ځنګلی ونه ده،په دې باندې وړې وړې ترخې ترشې میوې رااوځی، کوموته چه عام طورباندې "جهربیری وائی.

قوله: ان مفسرة: ځنوحضراتو دې اَن ته ان مخففه عن المثقله ونیلې دی لیکن داصحیح نه د بلکه داان مفسره دې، ددې نه وړاندې چه کوم نوديَ راغلې دې چه د قول په معنی کښې دې لهٰذا ددې ان مفسره کیدل متعین دی،ای نودی بان یموسٰی، جانّ وارهٔ مارته ونیلې کیږی اوثعبان غټ مارته ونیلې کیږی اوحیّة مطلق مارته ونیلې کیږی،په قرآن کریم کښې دیته جان هم ونیلې شوې دې اوثعبان هم،د تطبیق صورت دادې چه ابتداءً د غورځولوپه وخت کښې به جانّ یعنی وړوکې ماروو،لیکن ورروستوبه غټ شو،یاد تیزحرکت کولوپه وجه به هغه د وړوکې مارپه شان تیزګرځیدواود جسم اوجوثې په اعتبارسره به غټه اژدهاوه.

قوله: ذکّرالمشاربه الیهما : داد یوسوالِ مقدر جواب دې،سوال دادې چه عصااویدواړه مؤنث دی لهٰذا ددوی دپاره اسم اشاره مؤنث تانَ په کاروه،نه داچه ذان ؟
د جواب خلاصه داده چه په دې کښې د خبررعایت کړې شوې دې کوم چه "برهانان "دې هغه مذکردې نوپه دې وجه ئې مبتدأ هم مذکرذکر کړه چه مطابقت راشی.

قوله: من ربك: دا د محذوف سره متعلق دې او هغه د برهانان صفت دې د كوم طرف ته چه مفسرعلام د مرسلان په مقدر منلو سره اشاره كړې د اوځنوحضراتو كائنان محذوف منلې دې.

[اياتونه: ۳۳ - ۴۲]

﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا﴾ هُوَ الْقِبْطِي السَّابِق ﴿فأخاف أن يقتلون﴾ به ﴿وَأَخِي هَارُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا﴾ أَبْيَن ﴿فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا﴾ مُعِينًا وَفِي قِرَاءَة بِفَتْحِ الدَّال بِلَا هَمْزَة ﴿يُصَدِّقُنِي﴾ بِالْجَزْمِ جَوَاب الدُّعَاء وفي قراءة بالرفع وجملته صفة ردءا ﴿إني أخاف أن يكذبون﴾ ﴿قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ﴾ نُقَوِّيك ﴿بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَانًا﴾ غَلَبَة ﴿فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا﴾ بِسُوءٍ اذهَبَا ﴿بِآيَاتِنَا أَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغَالِبُونَ﴾ لَهُمْ ﴿فَلَمَّا جَاءَهُمْ مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا بَيِّنَاتٍ﴾ وَاضِحَات حَال ﴿قَالُوا مَا هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُفْتَرًى﴾ مُخْتَلَق ﴿وما سمعنا بهذا﴾ كائنا ﴿في﴾ ايام ﴿آبائنا الأولين﴾ ﴿وَقَالَ﴾ بِوَاوٍ وَبِدُونِهَا ﴿مُوسَىٰ رَبِّي أَعْلَمُ﴾ عَالِم ﴿بِمَنْ جَاءَ بِالْهُدَىٰ مِنْ عِنْدِهِ﴾ الضَّمِير لِلرَّبِّ ﴿وَمَنْ﴾ عَطْف عَلَى مَنْ قَبْلهَا ﴿تَكُونُ﴾ بِالْفَوْقَانِيَّةِ وَالتَّحْتَانِيَّة ﴿لَهُ عَاقِبَةُ الدَّارِ﴾ أَيْ الْعَاقِبَة الْمَحْمُودَة فِي الدَّار الْآخِرَة أَيْ هُوَ أَنَا فِي الشِّقَّيْنِ فَأَنَا مُحِقّ فِيمَا جِئْت بِهِ ﴿إِنَّهُ لا يفلح الظالمون﴾ الكافرون ﴿وقال فرعون يأيها الْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي فَأَوْقِدْ لِي يَا هَامَانُ عَلَى الطِّينِ﴾ فَاطْبُخْ لِي الْآجُرّ ﴿فَاجْعَلْ لِي صَرْحًا﴾ قَصْرًا عَالِيًا ﴿لَعَلِّي أَطَّلِعُ إِلَىٰ إِلَٰهِ مُوسَىٰ﴾ أَنْظُر إِلَيْهِ وَأَقِف عَلَيْهِ ﴿وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ مِنَ الْكَاذِبِينَ﴾ فِي ادعائهم إلَهًا آخَر وَأَنَّهُ رَسُوله ﴿وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُ فِي الْأَرْضِ﴾ أَرْض مِصْر ﴿بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ﴾ بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ وَلِلْمَفْعُولِ ﴿فَأَخَذْنَاهُ وَجُنُودَهُ فَنَبَذْنَاهُمْ﴾ طَرَحْنَاهُمْ ﴿فِي الْيَمِّ﴾ الْبَحْر الْمَالِح فَغَرِقُوا ﴿فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ﴾ حِين صَارُوا إِلَى الْهَلَاك ﴿وَجَعَلْنَاهُمْ﴾ فِي الدُّنْيَا ﴿أَئِمَّةً﴾ بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَإِبْدَال الثَّانِيَة يَاء رُؤَسَاء فِي الشِّرْك ﴿يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ﴾ بِدُعَائِهِمْ إِلَى الشِّرْك ﴿وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يُنْصَرُونَ﴾ بِدَفْعِ الْعَذَاب عَنْهُمْ ﴿وَأَتْبَعْنَاهُمْ فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً﴾ خِزْيًا ﴿وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ هُمْ مِنَ الْمَقْبُوحِينَ﴾ الْمُبْعَدِينَ

ترجمه: موسیٰ (علیه السلام) عرض اوكړو اې زما پروردګاره! زما نه د هغوى د يو كس قتل شوې دې (او هغه سابق قبطي وو) نوزه يريږم چه چرته (د هغه په بدل كښې به) مابه هم اووژنى، او زما ورور هارون زمانه ډير فصيح اللسان دې نو هغه هم (ځما) معاون جوړولو سره ليږه (په يو قراءت كښې ردا د دال په فتحې سره بغيرد همزې نه دې) هغه به ځما تائيد كوى، (يصدقني په جزم سره جواب دعاء دې يعنى د ارسله، اوبل قراءت په رفع د قاف سره جمله به د ردء صفت شى) زه يريږم چه دا خلق به ځما تكذيب اوكړى، ارشاد اوشوچه اوس مونږ ستاو رورستاد لاس قوت جوړوو، (يعنى تاته قوت دركوو) اومونږه تاله غلبه دركړو، چه د هغې په وجه به هغوى تاسو ته (په بدنيتئ سره) نه شي رسيدلې، زمونږ نخښو (معجزو) سره لاړشئ تاسو او ستاسو متبعين به په هغوى باندې غالب اوسئ. لنډه داچه كله موسیٰ دې خلقوته زمونږه ښكاره نخښوسره راغې (بينات

حال دي،نودې خلقواووئیل چه داخوجوړکړې شوې جادودې،اومونږنه دی اوریدلی چه زمونږپه وړاندینو پلارانواونیکونوکښې داسې خبره شوې وی،اوموسیٰ (علیه السلام)اووئیل چه زماپروردگارهغه کس ډیرښه پیژنی کوم چه د هغه د طرف نه هدایت راوړی (په یوقراءت کښې په دواؤسره "وقال" دې اوپه یوکښې بغیرد واؤنه "قال" دې، د عنده ضمیررب ته راجع دې،اوهغه څوک هم ښه پیژنی) چالره چه په آخرت کښې (ښه)انجام دې، (یعنی بهترانجام دې په آخرت کښې،یعنی هغه په دواړوصورتونوکښې هم زه یم،نوماچه کوم څه راوړې دی نوزه په هغې کښې په حقه یم،)یقیناًظالمان خلق به کامیابی نه مومی.(په یکون کښې یاء اوتاء دواړه قراءتونه دی) فرعون اووئیل چه اې درباریانو ازه ستاسودپاره د خپل ځان نه بغیرېل معبودنه پیژنم،اې هامان اته زمادپاره خاوره په اورکښې اولګوه پخه ئې کړه (یعنی پخې خښتې جوړې کړه)اوما له یولوړعمارت جوړکړه (اوچته بنګله)ددې دپاره چه زه د موسیٰ خدایٔ ته ورګرگندشم،(هغه اوګورم اوځان ترې خبرکړم)اوزه خوموسیٰ (علیه السلام)لره (د هغه په دې دعوی کښې چه زمانه علاوه هم بل خدایٔ شته اودې ئې پیغمبردې) دروغژن ګنړم اوفرعون اود هغه لښکرپه دنیاکښې ناحقه سراوچت کړې وواودائې ګنړله چه د هغوی زماخواته هدو واپس راتلل نشته (یرجعون په معروف اومجهول دواړوصیغوسره استعمال شوې دې)نوموږ لره اود د لښکرو لره رااونیول اوپه دریاب کښې موورګوزارکړل (په ترش دریاب کښې نوپکښې غرق شول،)نواوګوره چه د ظالمانو څنګه انجام شو؟ (کله چه د هلاکت په طرف روان شول، اوموږهغوی لره (په دنیاکښې)داسې مشران اوګرځول چه (خلق ئې د شرک د دعوت په ذریعه) د دوزخ په اړخ راغوښتل (ائمة کښې د دواړوهمزوپه تحقیق سره اود دویمې په یاء سره بدلولو سره، یعنی په شرک کښې مورنیسان اوګوځول)اود قیامت په ورځ به (د عذاب د لرې کولودپاره مطلقا)ددوی سره مددنه کیږی،اوموږپه دوی پسې په دې دنیاکښې هم لعنت (رسوائی)اولګوله،اود قیامت په ورځ به دوی په بدشکله (لعنتی) خلقوکښې وی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: رِدءً: د ارسله د ضمیرنه حال دې په معنی د مددګار، جواب الدعاء په اصل کښې جواب الامروئیل په کاروو لیکن ادبائې جواب دعاء اووئیل ځکه چه د الله تعالی په حضورکښې چه کومې صیغې د امراستعمالیږی هغې ته دعاوئیلې کیږی.

قوله: سنشدعضدك: په دې مجازمرسل دې سبب ذکرشوې دې اومرادترې نه مسبب دې،ځکه چه قوت د لاس قوت د شخص لره مستلزم دې

قوله: بآیٰتنا: دلته د آیات نه عصااویدمراددی،لیکن په دوؤباندې صیغه د جمع راؤړلې شوه ځکه چه د هغې نه هریوپه متعدد دوآیاتوباندې مشتمل وو.

قوله: بينات: داد آيات نه حال دي.

قوله: اعلم: اى عالم، د اعلم تفسيرئې په عالم سره اوکړو په دې سره ئې دفع د سوال مقدر اوکړه، سوال دادې چه اسم تفضيل خو اسم ظاهر ته نصب نه ورکوى؟ د جواب خلاصه داده چه دلته اسم تفضيل په معنى د اسم فاعل دې، وتكون عامو قاريانو په تاء سره وئيلې دې له ' د تكون خبردې او عاقبة ئې اسم دې، اوداهم كيدې شى چه په تكون كښې هم ضمير ددې اسم شى اوله عاقبة الدار جمله د خبر په محل كښې، اوشقين د شق تثنيه د په معنى د غاړې اوارخ نومعنى ئې دوه غاړې، دلته مراد 'من جآء بالهدىٰ اومن تكون له عاقبة الدار' دى.

قوله: يوم القيٰمة هم من المقبوحين: يوم القيامة د مقبوحين سره هم متعلق كيدې شى ليكن ظاهره داد چه د محذوف سره متعلق دې. تقديرد عبارت به داسې شى 'قبحوا يوم القيامة هم من المقبوحين، قبحوا د مقبوحين تفسير كوى، مقبوحين د مقبوح جمع ده او معنى ئې ده وران كړې شوې، مطلب دادې چه د قيامت په ورځ به ددوى مخونه مسخ شوى وى اوتک توربه وى، سترګې به ئې شنې وى، مقبوح اسم مفعول دې، (ک، ف).

[اياتونه: ۴۲-۵۰]

{وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ} التَّوْرَاةَ {مِنْ بَعْدِ مَا أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ الْأُولَى} قَوْمَ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَغَيْرَهُمْ {بَصَائِرَ لِلنَّاسِ} حَالٌ مِنَ الْكِتَابِ جَمْعُ بَصِيرَةٍ وَهِيَ نُورُ الْقَلْبِ أَيْ أَنْوَارًا لِلْقُلُوبِ {وَهُدًى} مِنَ الضَّلَالَةِ لِمَنْ عَمِلَ بِهِ {وَرَحْمَةً} لِمَنْ آمَنَ بِهِ {لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ} يَتَّعِظُونَ بِمَا فِيهِ مِنَ الْمَوَاعِظِ {وَمَا كُنْتَ} يَا مُحَمَّدُ {بِجَانِبِ} الْجَبَلِ أَوِ الْوَادِي أَوِ الْمَكَانِ {الْغَرْبِيِّ} مِنْ مُوسَى حِينَ الْمُنَاجَاةِ {إِذْ قَضَيْنَا} أَوْحَيْنَا {إِلَى مُوسَى الْأَمْرَ} بِالرِّسَالَةِ إِلَى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ {وَمَا كُنْتَ مِنَ الشَّاهِدِينَ} لِذَلِكَ فَتَعْلَمَهُ فَتُخْبِرَ بِهِ {وَلَكِنَّا أَنْشَأْنَا قُرُونًا} أُمَمًا مِنْ بَعْدِ مُوسَى {فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ} طَالَتْ أَعْمَارُهُمْ فَنَسُوا الْعُهُودَ وَانْدَرَسَتِ الْعُلُومُ وَانْقَطَعَ الْوَحْيُ فَجِئْنَا بِكَ رَسُولًا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْكَ خَبَرَ مُوسَى وَغَيْرِهِ {وَمَا كُنْتَ ثَاوِيًا} مُقِيمًا {فِي أَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا} خَبَرٌ ثَانٍ فَتَعْرِفَ قِصَّتَهُمْ فَتُخْبِرَ بِهَا {وَلَكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ} لَكَ وَإِلَيْكَ بِأَخْبَارِ الْمُتَقَدِّمِينَ {وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّورِ} الْجَبَلِ {إِذْ} حِينَ {نَادَيْنَا} مُوسَى أَنْ خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ {وَلَكِنْ} أَرْسَلْنَاكَ {رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَا أَتَاهُمْ مِنْ نَذِيرٍ مِنْ قَبْلِكَ} وَهُمْ أَهْلُ مَكَّةَ {لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ} يَتَّعِظُونَ {وَلَوْلَا أَنْ تُصِيبَهُمْ مُصِيبَةٌ} عُقُوبَةٌ {بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ} مِنَ الْكُفْرِ وَغَيْرِهِ {فَيَقُولُوا رَبَّنَا لَوْلَا} هَلَّا {أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ آيَاتِكَ} الْمُرْسَلَ بِهَا {وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ} وَجَوَابُ لَوْلَا مَحْذُوفٌ وَمَا بَعْدَهُ مُبْتَدَأٌ وَالْمَعْنَى لَوْلَا الْإِصَابَةُ الْمُسَبَّبُ عَنْهَا قَوْلُهُمْ أَوْ لَوْلَا قَوْلُهُمُ الْمُسَبَّبُ عَنْهَا لَعَاجَلْنَاهُمْ بِالْعُقُوبَةِ وَلَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَيْهِمْ رَسُولًا {فَلَمَّا جَاءَهُمُ الْحَقُّ} مُحَمَّدٌ {مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا لَوْلَا} هَلَّا {أُوتِيَ مِثْلَ مَا أُوتِيَ مُوسَى} مِنَ الْآيَاتِ كَالْيَدِ

اَنْبِيَاءٍ وَالْعَصَا وَغَيْرِهِمَا أوْ الكتاب جملة واحدة قال تعالى ﴿أَوَلَمْ يَكْفُرُوا بِمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ﴾ حيث ﴿قَالُوا﴾ فِيهِ وَفِي مُحَمَّد ﴿سَاحِرَانِ﴾ وَفِي قِرَاءَةٍ سِحْرَانِ أيْ القرآن وَالتَوْرَاةُ ﴿تَظَاهَرَا﴾ تعاونا ﴿وَقَالُوا إِنَّا بِكُلٍّ﴾ من النبين والكتابين ﴿كَافِرُونَ﴾ ﴿قُلْ﴾ لَهُمْ ﴿فَأْتُوا بِكِتَابٍ مِّنْ عِندِ اللَّهِ هُوَ أَهْدَىٰ مِنْهُمَا﴾ من الكِتَابَيْنِ ﴿أَتَّبِعْهُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾ فِي قَوْلِكُمْ ﴿فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ﴾ دُعَاءَكَ بِالإِتْيَانِ بِكِتَابٍ ﴿فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءَهُمْ﴾ فِي كُفْرِهِمْ ﴿وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللَّهِ﴾ اي لا اضلّ مِنْهُ ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾ الْكَافِرِينَ

ترجمه: او مونږ وراندینو امتونولره (لکه قوم نوح او عاد او ثمود وغیره) د هلاکولونه وروستو موسٰی ﷺ ته کتاب (تورات) ورکړې وو کوم چه د خلقو دپاره بصیرت او هدایت وو، (د ه گمراهئ نه هغه کس دپاره چه عمل پرې اوکړی) او رحمت وو (د هغه چا دپاره چه ایمان پرې راوړی) ددې دپاره چه نصیحت حاصل کړی (د هغه نصحتونونه چه په هغې کښې وو. بصائر للناس د الکتاب نه حال دې، او بصائر د بصیرة جمع ده، او بصیرت نور قلبی ته وائی. او د بصائر مطلب دې انوار القلوب. او اې محمد ﷺ) ته (د مناجات په وخت کښې د موسی ﷺ په مغربی (د غرهٔ په) اړخ کښې (یاد مغربی وادی په اړخ کښې یاد مغربی مکان په اړخ کښې) موجود نه وې کله چه مونږ (فرعون او د هغه د قوم په طرف) د پیغام رسولو دپاره موسٰی ﷺ ته وحی لیږلې وه او نه ته (ددې واقعې) په کتونکو کښې وې (چه دا واقعه دې کتلې وې او بیا دې ترې خبر ورکړې وې) لیکن مونږ (د موسٰی ﷺ نه پس) ډیر امتونه پیدا کړل بیا په هغوی باندې اوږده زمانه تیره شوه، (یعنی د هغوی عمرونه اوږده شول، وعدې اولوظونه ئې هیر کړل او علوم ختم شول او د وحی سلسله منقطع شوه نو مونږ تا لره پیغمبر جوړ کړو او ته مواولیږلې او تا له مو ده حضرت موسٰی ﷺ وغیره د واقعاتو وحی اولیږله) او ته په اهل مدین کښې هم ستوګن نه وې، چه ته هغه خلقو ته زمونږ آیتونه اوروې، (تتلو علیهم د ماکنت دپاره خبر ثانی دې) بلکه مونږ تا لره پیغمبر جوړولو سره لیږونکی یو، (او د تیرو شوو خلقو د واقعاتو د خبرونو لیږونکی یو،) او کله چه مونږ (حضرت موسٰی ﷺ ته آواز او کړو (چه کتاب په مضبوط والی سره اونیسه) نو (هغه وخت کښې هم) ته د جبل طور په جانب کښې موجود نه وې بلکه مونږ تا لره ستاد رب د خوانه رحمت جوړ کړې او مو لیږلې ددې دپاره چه ته هغه قوم ته دا رورکړې چه کوم ته ستا نه وراندې هیڅ یو ویره وُنکې نه دې راغلې، (او هغه اهل مکه دی) دې دپاره چه هغوی نصیحت حاصل کړی، او کهٔ دا خبره نه وې چه د هغوی د لاسونو د کړو (کفر وغیره) په وجه هغوی ته مصیبت (یعنی عقوبت) اورسی نو دا به ئې وئیلې چه زمونږه پروردګاره اتا زمونږ خوا ته یو پیغمبر ولې رانه لیږلو؟ چه مونږه ستاد (رالیږلی شوو) آیتونو تابعداری کړې وې او په ایمان والو کښې شوی وې، (د لولا اول دپاره جواب محذوف دې او مابعد ئې مبتدأ

د ده او معنى داده چه كۀ د مصيبت رسيدل كوم چه ددې كافرانو قول لولا ارسلت الينا رسولا سبب دي، كۀ دانه وې نوموږ به دوى ته په سزاوركولو كښې جلتى كړې وې. يا كۀ د دوى قول ربنا لولا ارسلت الينا رسولا كوم چه مسبب دې د مصيبت د اصابت نه وى نوموږ به تالره د هغوى طرف پيغمبرنه وې ليږلې، بيا كله چه د دوى خواته زمونږ د طرف نه حق (محمد ﷺ) راغې نو (د مكې والؤ) اووئيل چه د ته دا سې نخښنه ولې نه د وركړې شوې لكه څنګه چه موسى (عليه السلام) ته وركړې شوې وه، (لكه يدبيضا او عصا او په يوځل د كتاب ملاويدل. الله تعالى فرمائى) آيا دا خلق منكرشوى نه وو د هغه څه نه كوم چه موسى ته ددې نه وړاندې وركړې شوې وو، دوى (د موسى عليه السلام او د حضور اكرم ﷺ په باره كښې) اووئيل چه دواړه جادوګردى (په يو قراءت كښې سِحران دې يعنى تورات او قرآن كريم) كوم چه د يوبل معاون دى، او هغوى دا هم وائى چه مونږ (دد دواړو كتابونو يا په دواړو پيغمبرانو نه) يو هم نه منو، ته (دوى ته) او وايه چه ښه، نو بيا تاسو يو كتاب د الله د خوانه راوړئ كوم چه په هدايت كولو كښې ددې دوؤ (كتابونو) نه بهتروى زه به ئې اتباع اوكړم، كۀ تاسو (په خپله خبره كښې) رښتونى يئ، بيا كۀ دا خلق (د كتاب په راوړلو كښې) ستا خبره اونه منى نو ته پوهه شه چه دوى (په كفر كښې) صرف د خپلو خواهشاتو پسې دى او د داسې كس نه به غټ بې لارې څوک وى چه په خپلو خواهشاتو پسې درومى بغير ددې نه چه د الله د خوانه څه دليل وى، (يعنى دد نه لوئ ګمراه بل څوک نشته) الله تعالى داسې ظالم (كافر) خلقو ته هدايت نه وركوى.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: وعاد: ددې عطف په قوم باندې دې نه چه په نوح باندې، ځكه چه كه ددې عطف په نوح باندې شى نو د قوم عاد د پاره به د قوم كيدل لازم شى حال داچه عاد په خپله يو قوم دې تقدير د عبارت دادې "من بعدما اهلكنا قوم نوح وعاد وثمود، پس ددې نه چه مونږ هلاک كړل قوم نوح او قوم عاد او قوم ثمود لره. لهٰذا مناسب وه چه عاد ئې په الف سره "عادا" ليكلې وې ددې د پاره چه په نوح باندې ئې د عطف اشتباه نه وې راغلې.

قوله: بصائر: ① دا په حذف د مضاف سره د كتاب نه حال دې، اى ذا بصائر، ② كه مضاف محذوف اونه منلې شى نو مبالغةً هم حال كيدې شى، ③ او بصائر د كتاب نه مفعول له هم كيدې شى. دغه شان په هدى او رحمة كښې هم ذكر شوى درې واړه تركيبونه كيدې شى.

قوله: بجانب الجبل او الوادى او المكان: ددې عبارت په اضافه كولو سره مقصد د بصريانو مذهب مطابق د راتلونكى اعتراض جواب دې، اعتراض دادې چه د جانب اضافت غربى طرف ته د اضافت د موصوف الى الصفة د قبيلې نه دې او داد بصريينو په نيز جائز نه دې، ځكه چه موصوف او صفت دواړه يو څيزوى، لهٰذا ددې نه اضافت الشئ الى نفسه

لازمیږی، او دلته هم دغه شان دي چه جانب او غربي یو څیز دي؟
د دې اعتراض جواب کولو د پاره د غربي موصوف محذوف منلې دي خلاصه د جواب داده چه دلته د غربي دپاره موصوف محذوف دې چه الجبل دې، نو اضافت د جانب جبل ته دې، غربي ته نه دې، مفسرعلام درې لفظونه محذوف منلی دی، په دې درې وارو کښې هریود جانب دپاره مضاف الیه ګرځولې شی، د کوفینود مذهب مطابق اعتراض نه واقع کیږی، دداسې قسم تعبیرات په قرآن او حدیث کښې ډیرزیات موجود دی.

قوله: وماكنت من الشاهدين: لذالک، اوته د دې حالاتو او واقعاتو کتونکې نه وې، دلته یو سوال پیدا کیږی چه په ماقبل کښې اوئیلې شوچه د غربه غربي جانب کښې موجودنه وې، په دې سره د مشاهدې په خپله نفی اوشوه، نو بیا د "وماكنت من الشاهدين" وئیلو څه فائده ؟
جواب دادې چه د حاضریدو د پاره مشاهده ضروری نه ده، څنو ختونو کښې داسې هم کیږی چه انسان خوموجودوی لیکن مشاهده اونه کړی، په دې وجه ابن عباس ﷺ فرمائی چه "لم تحضر ذالك الموضع ولوحضرته ماشاهدت ما وقع فيه".

قوله: تتلوعليهم آيتنا: داجمله ده کنتَ دپاره خبرثانی هم کیدې شی او د کنت د ضمیرنه حال هم کیدې شی، د هم ضمیرمرجع اهل مکه دی، یعنی کله چه تااهل مکه ته د اهل مدین واقعات اورول نوته په اهل مدین کښې موجودنه وې، چه د هغوی حالات او واقعات دې کتلې وئ او قوم ته ئې اوره وې، بلکه د زرونو کالو په خواتیرشوو دې حالا تو او واقعاتو خبرتاله د وحی په ذریعه سره درکولې کیږی کوم چه ستاد پیغمبرئ یو پوخ او واضح دلیل دې.

قوله: ان خذالكتاب بقوة: دې کښې ان تفسیریه دې یعنی د نداء تفسیر دې، مفسرعلام خذالكتاب لره د ایتاء تورات سره متعلق کړې دې او مخکښینئ آیت "وماكنت بجانب الغربي" لره ئې په نفس ارسال پورې متعلق کړې دې، حال دادې چه د نفس ارسال اود ایتاء تورات په مینځ کښې د دیرشو کالو فاصله د، او څنو حضراتو دې عکس هم وئیلې دې.

قوله: لولاان تصيبهم مصيبة: لولا امتناعیه ده کومه چه د وجودد اول په وجه په انتفاء د ثانی باندې دلالت کوی، په ان تصیبهم کښې ان مصدریه دې، اود لولا اصابة المصيبة لهم په معنی کیدونه پس مبتدأ ده اوخبرئې موجودٌ محذوف دې، اود لولا جواب "ماارسلناک" محذوف دې. دویمه لولا تحضیضیه ده ددې جواب "فنتبع آيتک" مذکور دې تقدیرد عبارت دادې "لولا قولهم هذا اذا اصابتهم مصيبة لماارسلناک اليهم رسولا".
خلاصه داشوه چه اصابت عقوبت، سبب دَې د قول، او قول سبب دې د ارسال، چونکه د سبب سبب هم سبب وی لهٰذا اصابت مصیبت په واسطه د قول سبب شو د ارسال دپاره، نو په دې وجه ئې لولا په اصابت باندې داخل کړو او فاء سببیه سره ئې د "فیقولوا" عطف

په اصابت باندې اوکړو.

یعنی د حضور ﷺ د ارسال سبب د اهل مکه قول دې، که د اهل مکه دا قول نه وې نو مونږ به ته پیغمبرنه وې لیږلې، یعنی د عدم ارسال د انتفاء (ارسال)سبب د اهل مکه قول لولا ارسلت الینا رسولا دې، او د دې قول سبب اصابت د مصیبت دې.

تنبیه: د عدم ارسال انتفاء نفی النفی د اثبات په معنی کښې د کیدوپه وجه د ارسال په معنی کښې دې.

قوله: اولولا قولهم المسبب عنها الخ: یعنی د اصابت د مصیبت په وخت کښې کهٔ د هغوی قول د انتفاء د عدم رسالت سبب نه وې نومونږبه د هغوی په عذاب کښې جلتی کړې وې،اونه به موهغوی ته پیغمبرنه لیږلې،داتعبیرد حاصل معنی په اعتبارسره دې،چه حاصل ئې دادې چه د لولا د جواب د انتفاء سبب د هغوی داقول مذکوردې،په دې وجه ئې "المسبب عنها قولهم "وئیلی دی.

قوله: ولما ارسلناك: داجواب منفی دې،داد وجودشرط په وجه د جواب په انتفاء باندې دلالت کوی،فالمعنی انتفی عدم ارسالک الیهم لقولهم المذکور،ددې دپاره چه د عذاب د نزول په وخت کښې ددوی عذرختم کړې شی،ګنی بیابه ئې د عذاب د نزول په وخت کښې داعذروړاندې کولې شوچه کهٔ د مخکښینوامتونوپه شان مونږته هم انبیاء کرام راغلی وې نومونږبه ایمان راوړې وې اونن به د عذاب په دې مصیبت کښې مونږنه وې راګیرشوی، الله تعالی د حضور ﷺ په لیږلوسره ددوی داعذرختم کړو،کهٔ یو کس اعتراض اوکړی چه اصابت د مصیبت او دا مذکوره مقوله خوبه په راتلونکې ورځ د قیامت کښې واقع کیږی اولولا کوم چه د وجود واقعی په وجه په انتفاء د ثانی باندې دلا لت کوی حال دادې چه دلته داسې نه ده؟ د جواب خلاصه داده چه مانع کله موجودوی اوکله مفروض وی،دلته ثانی صورت مراددې،یعنی علی سبیل الفرض والتقدیر. (جمل ملخصا)

قوله: اوالکتاب: په دې سره د "مثل ما اوتی "دویم تفسیرته اشاره ده،اود اَوِالکتاب عطف په الایات باندې دې.

قوله: ساحران: داد مبتدأ محذوف "هما" خبردې.

[ایاتوله: ۵۱-۶۰]

﴿وَلَقَدْ وَصَّلْنَا﴾ بَيَّنَّا ﴿لَهُمُ الْقَوْلَ﴾ القرآن ﴿لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ﴾ يَتَّعِظُونَ فَيُؤْمِنُونَ ﴿الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِهِ﴾ أَيْ القرآن ﴿هُمْ بِهِ يُؤْمِنُونَ﴾ أَيْضًا نَزَلَتْ فِي جَمَاعَةٍ أَسْلَمُوا مِنَ الْيَهُودِ كَعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ وَغَيْرِهِ وَمِنَ النَّصَارٰى قَدِمُوا مِنَ الْحَبَشَةِ وَمِنَ الشَّامِ ﴿وَإِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ﴾ القرآن ﴿قَالُوا آمَنَّا بِهِ إِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَبِّنَا إِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهِ مُسْلِمِينَ﴾ مُوَحِّدِينَ ﴿أُولٰئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ﴾ بِإِيمَانِهِمْ بِالْكِتَابَيْنِ ﴿بِمَا صَبَرُوا﴾ بِصَبْرِهِمْ عَلٰى

العمل بهما ﴿وَيَدْرَءُونَ﴾ يدفعون ﴿بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ﴾ منهم ﴿وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ﴾ يتصدقون ﴿وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ﴾ الشتم والأذى من الكفار ﴿أَعْرَضُوا عَنْهُ وَقَالُوا لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ﴾ سلام متاركة أي سلمتم منا من الشتم وغيره ﴿لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ﴾ لا نصحبهم ونزل في حرصه صلى الله عليه وسلم على إيمان عمه أبي طالب ﴿إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ﴾ هدايته ﴿وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ﴾ عالم ﴿بِالْمُهْتَدِينَ ۝ وَقَالُوا﴾ قومه ﴿إِن نَّتَّبِعِ الْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَا﴾ ننتزع منها بسرعة قال تعالى ﴿أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا آمِنًا﴾ يأمنون فيه من الإغارة والقتل الواقعين من بعض العرب على بعض ﴿يُجْبَىٰ﴾ بالفوقانية والتحتانية ﴿إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ﴾ من كل أوب ﴿رِّزْقًا﴾ لهم ﴿مِّن لَّدُنَّا﴾ عندنا ﴿وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ﴾ أن ما نقوله حق ﴿وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ بَطِرَتْ مَعِيشَتَهَا﴾ عيشها وأريد بالقرية أهلها ﴿فَتِلْكَ مَسَاكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَن مِّن بَعْدِهِمْ إِلَّا قَلِيلًا﴾ للمارة يومًا أو بعضه ﴿وَكُنَّا نَحْنُ الْوَارِثِينَ﴾ منهم ﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرَىٰ﴾ بظلم منها ﴿حَتَّىٰ يَبْعَثَ فِي أُمِّهَا﴾ أي أعظمها ﴿رَسُولًا يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرَىٰ إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَالِمُونَ﴾ بتكذيب الرسل ﴿وَمَا أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَزِينَتُهَا﴾ تتمتعون وتتزينون به أيام حياتكم ثم يفنى ﴿وَمَا عِندَ اللَّهِ﴾ أي ثوابه ﴿خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ أَفَلَا يَعْقِلُونَ﴾ بالتاء والياء أن الباقي خير من الفاني

ترجمه: اومونږ خلقو دپاره قول (يعنى قرآن) لره (ښکاره بيان کړې دې) ليږلې دې، ددې دپاره چه دوی نصيحت حاصل کړی (او ايمان راوړی) کوم خلقوته چه مونږ ددې قرآن نه وړاندې کتاب ورکړې دې په دې هغوی قرآن باندې (هم) ايمان لری (دا آيت د يهودو د هغه کسانو په باره کښې نازل شوې دې چه کوموا اسلام قبول کړې وو، لکه عبد الله بن سلام وغيره. او د هغه نصارى په حق کښې نازل شوې دې کوم چه د حبشې او شام نه راغلى وو) او کله چه قرآن په دوی باندې تلاوت کولې شی نو هغوی وائی چه ددې زمونږ د رب د خوانه په حق کيدو باندې زمونږ ايمان دې مونږ خو ددې نه وړاندې هم مسلمانان (يعنى مؤحدين) وو، دې خلقوته به (په دواړو کتابونو باندې د ايمان لرلو په وجه او په دواړو باندې د عمل کولو په مشقت باندې) د صبر په وجه دوه گنا ثواب ورکول کيږی، او دا خلق په نيکئ سره بدی دفع کوی، او مونږ چه دوی ته کوم څه ورکړی دی نو د هغې نه (د الله تعالى په لاره کښې) صدقه کوی، او کله چه د چانه لغوه خبره (او د اذيت خبره) واؤرى نو د هغې نه ډډه کوی او وائی چه زمونږ عمل زمونږ دپاره دې او ستاسو عمل ستاسو دپاره دې، مونږ تاسو ته سلام کولو، (دا سلام د متارکت يعنى د ځان خلاصى سلام دې، نه دا چه د تحيه سلام، يعنى تاسو زمونږ د کنځلو وغيره نه سلامت رسئ،) مونږ نا پوهه خلقو سره مصاحبت (اختلاط) نه غواړو. (را تلونکې آيت د حضور اکرم ﷺ د خپل تره ابو طالب په ايمان باندې د ډير حرص کولو په باره کښې نازل شوې دې) بې شکه ته چه چالره اوغواړې هدايت ورته نه شې کولې بلکه الله چه چالره اوغواړی هدايت ورته کوی او د هدايت موندونکو علم هم د د سره دې، او دوی (د حضور ﷺ قوم) او وئيل چه که مونږ ستا سره د

هدايت تابعداري اوكړونو مونږ به د خپل ملک نه اوتختولي شو.(يعنى سمدستى به مونږ د ملک نه بهر اوويستلي شو) آيامونږدوى ته د امن والا حرم كښي ځائ نه دي وركړي؟(چه دوى په هغې كښې د قتل اوغارت نه كوم چه په عربوكښې په عامه توګه باندې واقع كيږي، مامون اوسيږي)چرته چه د هرقسم ميوې د هرځائ نه راوړل كيږى كوم چه زمونږ خوانه (د هغوى دپاره)په طورد رزق دى،ليكن په دوى كښې زيات خلق نه پوهيږي،(چه كوم څه مونږ وايونو هغه حق دى)اومونږډيرداسې كلي هلاک كړى دى كوم چه په خپل سامان د عيش باندې نازكوونكي وو،(د قريه نه مراد اهل قريه دى)دادى د هغوى ځايونه،چه استوګنه پرې نه ده شوې ددوى نه پس ليكن لږه شان،(د مسافرودپاره يوه ورځ ياد ورځې څه حصه)اوآخرهم مونږ(د هغوى) وارثان شو، او ستارب هيڅ كلى لره (د كلى والؤد ظلم په وجه) ترهغه وخته پورې نه هلاكوى ترڅوپورې چه ئې ددې (كلو)په صدرمقام كښې يوپيغمبر نه وى راليږې چه هغوى ته زمونږآيتونه واوروى،اومونږ كلوهلاكوونكى نه يومګرهغه وخت چه اوسيدونكى ئې(د پيغمبرانوتكذيب كولوسره) ظلم ته ملااوتړى،اوكوم څه چه تاسوته دركړى شوى دى هغه صرف د دنيوى ژوندسامان اود هغې زينت دې،(چه د كوم نه تاسوپه خپل ژوندكښې فائده اوچتوئ،اودهغې نه زينت حاصلوئ،بيا هغه فنا كيږى.) آو كوم څه چه د الله سره دى هغه ډير بهتر او باقى پاتې كيدونكى دى،آياتاسونه پوهيږئ؟ (دلته تعقلون اويعقلون دواړه قراءته دى،اويقينى د چه باقى د فانى نه ډيربهتروى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وصّلنا: ماضى جمع متكلم باب تفعيل،مونږ پرله پسې اوليږل،مونږصفاصفابيان كړل

قوله: الذين: موصول سره د خپلې صلې نه جمله مبتدأ،هم مبتدأ ثانى،يؤمنون ئې خبر دې، او"به" د يؤمنون سره متعلق دې،مبتدأ ثانى سره د خبرنه جمله د مبتدأ اول خبردې

قوله: ايضاً: اى كما اٰمنوا بكتابهم

قوله: بصبرهم: په دې سره ئې اشاره اوكړه چه دلته مامصدريه ده.

قوله: يدرءون: ينفقون،واذا سمعوا ددې ټولو عطف په يؤتون باندې دې.

قوله: والاذٰى من الكفار: داد قبيلې د عطف د عام على الخاص نه دې

قوله: لاتهدى من احببت: په دې كښې د ايصال الى المطلوب نفى ده،نه دا چه د ارائة الطريق نفى ده. لهٰذا په دې قول كښې اوپه دې قول د الله تعالى "وانك لتهدى الى صراط مستقيم" كښې هيڅ تعارض نشته. وقالوا اى قومه،د قوم نه مراد د حضور ﷺ قوم دې،اوقائل ئې حارث بن عثمان بن نوفل بن عبدمناف دې.

قوله: يجبٰى: اى يحمل ويساق اليه من كل اوب اى من كل جانب.

قوله: ثمرات کل شیء: داد کثرت نه کنایه ده، لکه په دې قول د الله تعالی "واوتيت من کل شئ" کښې چه ضرورت هرڅيز مراددې نه دا چه د دنيا هرڅيز.

قوله: معيشتها: ای عيشها معيشتهاد حذف د مضاف سره د ظرفيت په وجه منصوب دې، او مفسر علام د معيشت تفسيرپه عيش سره کړې دې اوس به تقديرداسې شی، بطرت فی زمن حياتها.

قوله: لم تسكن: داجمله حال دې اوعامل پکښې تلک په معنی د اشير دې، اوتلک د مبتدأ ثانی خبرهم کيدې شی.

قوله: وما اوتيتم من شیء فمتاع الحيٰوة الدنيا: ما شرطيه ده اومن شيئ ددې بيان دې، فمتاع الحيٰوة الدنيا د هو مبتدأ محذوف خبردې، اوپوره جمله جواب شرط دې.

[اياتونه: ۶۱-۷۵]

﴿أَفَمَنْ وَعَدْنَاهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيهِ﴾ وَهُوَ مُصِيبُه وَهُوَ الْجَنَّة ﴿كَمَنْ مَتَّعْنَاهُ مَتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ فَيَزُول عَنْ قُرْب ﴿ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْمُحْضَرِينَ﴾ النَّار الْأَوَّل الْمُؤْمِن وَالثَّانِي الْكَافِر أَيْ لَا تَسَاوِي بَيْنهمَا ﴿وَ﴾ اُذْكُرْ ﴿يَوْمَ يُنَادِيهِمْ﴾ اللّٰه ﴿فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ الَّذِينَ كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ﴾ هُمْ شُرَكَائِي ﴿قَالَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ﴾ بِدُخُولِ النَّار وَهُمْ رُؤَسَاء الضَّلَالَة ﴿رَبَّنَا هَؤُلَاءِ الَّذِينَ أَغْوَيْنَا﴾ هُمْ مُبْتَدَأ وَصِفَة ﴿أَغْوَيْنَاهُمْ﴾ خَبَره فَغَوَوْا ﴿كَمَا غَوَيْنَا﴾ لَمْ نُكْرِههُمْ عَلَى الْغَيّ ﴿تَبَرَّأْنَا إِلَيْكَ﴾ مِنْهُمْ ﴿مَا كَانُوا إِيَّانَا يَعْبُدُونَ﴾ مَا نَافِيَة وَقُدِّمَ الْمَفْعُول لِلْفَاصِلَةِ ﴿وَقِيلَ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ﴾ أَيْ الْأَصْنَام الَّذِينَ تَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ شُرَكَاء اللّٰه ﴿فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ﴾ دُعَاءَهُمْ ﴿وَرَأَوُا﴾ هُمْ ﴿الْعَذَابَ﴾ أَبْصَرُوهُ ﴿لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا يَهْتَدُونَ﴾ فِي الدُّنْيَا لَمَا رَأَوْهُ فِي الْآخِرَة ﴿وَ﴾ اُذْكُرْ ﴿يَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَا أَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِينَ﴾ إِلَيْكُمْ ﴿فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْأَنْبَاءُ﴾ الْأَخْبَار الْمُنْجِيَة فِي الْجَوَاب ﴿يَوْمَئِذٍ﴾ لَمْ يَجِدُوا خَبَرًا لَهُمْ فِيهِ نَجَاة ﴿فَهُمْ لَا يَتَسَاءَلُونَ﴾ عَنْهُ فَيَسْكُتُونَ ﴿فَأَمَّا مَنْ تَابَ﴾ مِنَ الشِّرْك ﴿وَآمَنَ﴾ صَدَّقَ بِتَوْحِيدِ اللّٰه ﴿وَعَمِلَ صَالِحًا﴾ أَدَّى الْفَرَائِض ﴿فَعَسَى أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ﴾ النَّاجِينَ بِوَعْدِ اللّٰه ﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ﴾ مَا يَشَاء ﴿مَا كَانَ لَهُمُ﴾ لِلْمُشْرِكِينَ ﴿الْخِيَرَةُ﴾ الِاخْتِيَار فِي شَيْء ﴿سُبْحَانَ اللّٰهِ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ عَنْ إِشْرَاكهمْ ﴿وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ﴾ تُسِرّ قُلُوبهمْ مِنَ الْكُفْر وَغَيْره ﴿وَمَا يُعْلِنُونَ﴾ بِأَلْسِنَتِهِمْ مِنْ ذَلِكَ ﴿وَهُوَ اللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْأُولَى﴾ الدُّنْيَا ﴿وَالْآخِرَةِ﴾ الْجَنَّة ﴿وَلَهُ الْحُكْمُ﴾ الْقَضَاء النَّافِذ فِي كُلّ شَيْء ﴿وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ بِالنُّشُورِ ﴿قُلْ﴾ لِأَهْلِ مَكَّة ﴿أَرَأَيْتُمْ﴾ أَيْ أَخْبِرُونِي ﴿إِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا﴾ دَائِمًا ﴿إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ﴾ بِزَعْمِكُمْ ﴿يَأْتِيكُمْ بِضِيَاءٍ﴾ نَهَار تَطْلُبُونَ فِيهِ الْمَعِيشَة ﴿أَفَلَا تَسْمَعُونَ﴾ ذَلِكَ سَمَاع تَفَهُّم فَتَرْجِعُونَ عَنِ الْإِشْرَاك ﴿قُلْ﴾ لَهُمْ ﴿أَرَأَيْتُمْ إِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ﴾ بِزَعْمِكُمْ ﴿يَأْتِيكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ﴾ تَسْتَرِيحُونَ ﴿فِيهِ﴾ مِنَ التَّعَب ﴿أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ مِنَ الْخَطَأ فِي الْإِشْرَاك فَتَرْجِعُونَ عَنْهُ ﴿وَمِنْ رَحْمَتِهِ﴾ تَعَالَى ﴿جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ﴾

لتسكنوافيه) فِي الَّيْلِ (وَلِتَبْتَغُوامِنْ فَضْلِه) فِي النَّهَار لِلْكَسْب (وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ) النِّعْمَة فِيهِمَا (وَ اذْكُرْ يَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَاءِيَ الَّذِينَ كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ) ذُكِرَ ثَانِيًا لِيُبْنَى عَلَيْهِ (وَنَزَعْنَا) آخرجنا (مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا) وَهُوَ نَبِيُّهُمْ يَشْهَد عَلَيْهِمْ بِمَا قَالُوا (فَقُلْنَا) لَهُمْ (هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ) عَلَى مَا قُلْتُمْ مِنَ الْإِشْرَاك (فعلموا أن الحق) في الإلهية (لِلَّهِ) لَا يُشَارِكُهُ فِيهِ أَحَد (وَضَلَّ) غَابَ (عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ) فِي الدُّنْيَا مِنْ أَنَّ مَعَهُ شَرِيكًا تَعَالَى عَنْ ذَلِكَ

ترجمه آیاهغه څوک چه چاسره مونږ يوه ښائسته وعده کړې ده چه هغې لره خامخاموندونکې دې (يعنى دې وعدې (موعودبه) ته رسيدونکې دې، چه هغه جنت دې) آيا داد هغه چا په شان دې چه چاته مونږ د دنيوى ژوندېو څوورځې فائده ورکړې ده، (کوم چه به نزدې زائل شي) بیابه هغه د قيامت په ورځ په هغه خلقو کښې وى کوم به چه گرفتارولو سره (دوزخ ته حاضرکولې شي، (اول کس به مؤمن وى اودويم کافريعنى په دواړو کښې به هيڅ مساوات نه وى) او (هغه ورځ ياده کړه چه) کومه ورځ به الله تعالى دې کافرانو ته اووائى چه چرته دى زما هغه شريکان کوم چه تاسو گنړل، (چه دوى زما سره شريکان دى) په چا باندې چه د الله (دوزخ ته د ننوتو) حکم ثابت شوې وى هغوى به اووائى (اوهغوى به د گمراهئ سرداران وى) اې زمونږپروردگاره! داهغه خلق دى چه مونږ بې لارې کړى وو، (دامبتدأ اود هغې صفت دې اواغوينا هم ئې خبردې) مونږ دوى لره داسې بې لارې کړى دى لکه څنگه چه مونږ بې لارې وو، (نو دوى گمراه اوبې لارې شول او مونږ دوى لره په گمراهئ باندې نه وو مجبور کړى) مونږ ستا په درکښې (د دوى نه) د خپل طرف نه د براءت اظهار کوو، دوى زمونږ بندگى نه کوله، (مانافيه ده اومفعول د فواصلو د رعايت دپاره مقدم کړې شوې دې) اوا و به وئيلې شى چه خپل شرکاء راوغواړئ (يعنى هغه بتان چه تاسو دا گنړل چه هغوى زما سره شريکان دى) نو دوى به هغوى لره راوغواړى نو هغوى به دوى ته (د چغو وهلو) جواب قدرې هم ورنه کړى اوداخلق به عذاب (په خپلو سترگو) اووينى، ارمان چه داخلق (په دنيا کښې) په نيغه لاره باندې وې، (نو داعذاب به ئې په آخرت کښې نه ليدلې) او (هغه ورځ ياده کړه په) کومه ورځ به چه الله دوى ته آوازاوکړى اوپوښتنه به اوکړى چه تاسو خپلو پيغمبرانو ته څه جواب ورکړې وو؟ بيابه په دې ورځ باندې د دوى (په جواب کښې د پيش کولو سره د خلاصى ورکونکى) ټول دليلونه ورک شى، (يعنى هک بک به پاتې شى، يعنى د دوى په پوهه کښې به هيڅ يوداسې دليل نه راځى چه د دوى دپاره د خلاصون سبب وى) اودوى به په خپل مينځ کښې هم (د دليل په باره کښې) پوښتنه نه شى کولې، (چه ددې په وجه به دوى لاجوابه شى) ليکن کوم کس چه (د شرک نه) توبه اوباسى وايمان راوړى (يعنى د الله تعالى د توحيد تصديق اوکړى) اونيک عملونه اوکړى (يعنى فرائض اداکړى) نويقينى د چه داسې خلق به (د الله تعالى د وعدې مطابق) کاميابيږى.

او ستارب چه څه اوغواړي نوپيدا کوي ئې، او چالره چه اوغواړي نوخوښ ئې کړي، او دوی کښې هيڅ مشرک لره په هيڅ يو څيز باندې هيڅ اختيار نشته، الله لره پاک والې دې، او هغه لوئ دې د دوی د شرک نه، او ستارب د دوی په ټولو (د کفر وغيره) خبرو باندې خبردې کومې چه د دوی سينې پټوی، او کوم (دروغ) چه (د دوی ژبې) ښکاره کوی، (هم دا معبود دې) د ده نه علاوه څوک د بندګئ لائق نشته، په دنيا او آخرت کښې (په جنت کښې) هم دد تعريف دې، او هم دد دپاره فرمان روائی ده (يعنی په هر څيز کښې دده فيصله نافذه ده) او (بيا ژوندی کيدونه پس) هم د ده طرف ته به واپس کولې شئ، ته (اهل مکه ؤته) اووايه چه راته اوښايئ چه کۀ الله تعالی په تاسو باندې د هميشه دپاره ترقيامته پورې شپه اوساتی نود الله نه سيوا (ستاسو په خيال کښې) هغه کوم يو معبود دې چه ستاسو دپاره (د ورځې) رڼرا راولی (چه تاسو پکښې روزی طلب کړئ) آيا تاسو دا خبره د پوهيدو دپاره نه اورئ؟ (چه تاسو د شرک نه توبه ګارشئ) ته پوښتنه اوکړه چه دا هم راته اوښايئ چه کۀ الله تعالی په تاسو باندې ترقيامته پورې د هميشه دپاره ورځ اوساتی نو (ستاسو د خيال مطابق) دده نه سيوا کوم معبود دې چه تاسو ته شپه راولی؟ چه تاسو پکښې (د ستوميې په وجه) آرام اوکړئ، آيا تاسو (د شرک په معامله کښې خپلې غلطئ ته) نه ګورئ (غورنه کوئ، چه تاسو د شرک نه منع شئ) الله تعالی په خپل رحمت سره ستاسو دپاره شپه او ورځ جوړ کړی دی، دد دې دپاره چه په شپه کښې آرام اوکړئ او (په ورځ کښې د کسب په ذريعه) د هغه روزی تلاش کړئ او دد دې دپاره چه تاسو (د شپې اود ورځې د نعمت) شکر اداکړئ، (او ياده کړه) په کومه ورځ چه به الله تعالی دوی ته آواز اوکړی او به وائی چه کوم تاسو زما سره شريک ګڼړل هغه چرته دی؟ (د دوی شرک ئې دويم ځل ذکر کړودې دپاره چه د راتلونکی قول په دې باندې بنااوکړی) او مونږ به د هر امت نه يو يو ګواه راولو، (او هغه به د هغوی پيغمبروی کوم څه چه هغوی د ته وئيلي وی نود هغې شهادت به ورکړی) نو مونږ به دې (مشرکانو) ته اووايو چه تاسو (په خپله دعوی د شرک باندې) دليل وړاندې کړئ، دوی ته به معلومه شی چه (د الوهيت په باره کښې) ريښتونې خبره د الله وه (چه په الوهيت کښې دد سره شريک څوک نشته) او کوم څه چه دوی په دنيا کښې د ځانه جوړول (چه د الله تعالی سره شريک شته، حال دا چه الله دد دې نه بری دې) هغه ټول به د دوی د خوانه ورک شی.

د قيودا تو فوائد او تسهيل

قوله: وقال الذين حق عليهم القول : دا جمله مستانفه ده، کومه چه د سوال مقدر په جواب کښې واقع ده، کله چه مشرکانو ته اووئيلې شی چه زما هغه شريکان چرته دی کوم ته چه تاسو عبادت کولو؟ نو دد دې سوال د جواب ورکولو په ځائ به ده مشرکانو مشران او تابعداران په خپلو کښې جګړه شروع کړی، تابعين به متبوعينو لره مورد د الزام ګرځوی او متبوعين به تابعين لره مورد د الزام ګرځوی.

قوله: مبتدأ أو صفته: هٰؤلاء اسم اشاره موصوف الذين اسم موصول، اغوينا جمله صله، عائد محذوف دے چه هم ضمیردے، تقدیرد عبارت داسے دے، اغويناهم، موصول سره د صلے نه صفت، صفت سره د خپل موصوف نه مبتدأ، او اغوينا، د كما غوينا (مبتدأ) خبردے.

قوله: قدم المفعول للفاصل: په اصل کښې ماكانوايعبدوننا وو، د فواصلود رعايت دپاره مفعول مقدم کړې شو، ماكانوا ايّانا يعبدون شو.

قوله: ماراوه في الاٰخرة: داد لو جواب دے اوځنوحضراتو "لَاَتّبعُوهم ذالك" محذوف منلے دے، يعنى كه دوى په دنياكښې په هدايت باندې وئ نودوى لره به په آخرت كښې د دوى په هدايت كيدلو كاميابى كړى وې.

قوله: فعميت عليهم الانبآء: په دې کښې قلب دے، كوم چه په محسنات د كلام كښې شمارېږى، اصل دا ے چه "فعمواعن الانبآء"، د شارح قول لم يجدوا خيرالهم فيه سره هم دې قلب ته اشاره د..

قوله: فعميت عليهم: په دې کښې د عمى صله على په دې وجه راغلے ده چه عمى معنى د خَفِىَ لره متضمن دے.

قوله: عسٰى ان يكون: عسٰى دلته د تحقيق دپاره ده، ځكه چه د كريم په حضوركښې توقع هم د يقين درجه لرى، اوالله تعالى خواكرم الاكرمين دے، لهٰذا د الله تعالى په كلام كښې به عسٰى په معنى ده حقق وى. اوكۀ په خپله معنى ده ترجى سره واخستلے شى نودابه د تائب په اعتبارسره وى.

[اياتونه: ۷۶-۸۲]

(إن قارون كان من قوم موسى) ابن عمه وابن خالته وآمن به (فَبَغَى عَلَيْهِمْ) بِالْكِبْرِ وَالْعُلُوّ وَكَثْرَة الْمَال (وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ) تُثْقِل (بِالْعُصْبَةِ) الْجَمَاعَة (أُولِي) أَصْحَاب (الْقُوَّةِ) أَيْ تُثْقِلهُمْ فَالْبَاء لِلتَّعْدِيَةِ وَعِدَّتهمْ قِيلَ سَبْعُونَ وَقِيلَ أَرْبَعُونَ وَقِيلَ عَشَرَة وَقِيلَ غَيْر ذَلِكَ اُذْكُرْ (إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ) الْمُؤْمِنُونَ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيل (لَا تَفْرَحْ) بِكَثْرَةِ الْمَال فَرَح بَطَر (إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ) بذلك (وَابْتَغِ) اُطْلُبْ (فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ) مِنْ الْمَال (الدَّارَ الْآخِرَةَ) بِأَنْ تُنْفِقهُ فِي طَاعَة اللَّه (وَلَا تَنْسَ) تَتْرُك (نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا) أَيْ أَنْ تَعْمَل فِيهَا لِلْآخِرَةِ (وَأَحْسِنْ) لِلنَّاسِ بِالصَّدَقَةِ (كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ) تَطْلُب (الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ) بِعَمَلِ الْمَعَاصِي (إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ) بِمَعْنَى أَنَّهُ يُعَاقِبهُمْ (قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ) أَيْ الْمَال (عَلَى عِلْمٍ عِنْدِي) أَيْ فِي مُقَابَلَته وَكَانَ أَعْلَم بَنِي إِسْرَائِيل بالتوراة بعد موسى وهارون قال تعالى (أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهِ مِنَ الْقُرُونِ) الْأُمَم (مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا) لِلْمَالِ أَيْ هُوَ عَالِم بذلك وَيُهْلِكهُمْ اللَّه (وَلَا يُسْأَلُ عَنْ ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ) لِعِلْمِهِ تَعَالَى بِهَا فَيَدْخُلُونَ النَّار بلا حساب (فَخَرَجَ)

قارون {عَلَى قَوْمِهِ فِي زِينَتِهِ} بِأَتْبَاعِهِ الْكَثِيرِينَ رُكْبَانًا مُتَحَلِّينَ بِمَلَابِسِ الذَّهَبِ وَالْحَرِيرِ عَلَى خُيُولٍ وَبِغَالٍ مُتَحَلِّيَةٍ {قَالَ الَّذِينَ يُرِيدُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا يَا} لِلتَّنْبِيهِ {لَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَا أُوتِيَ قَارُونُ} فِي الدُّنْيَا {إِنَّهُ لَذُو حَظٍّ} نَصِيبٍ {عَظِيمٍ} وَافٍ فِيهَا {وَقَالَ} لَهُمْ {الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ} بِمَا وَعَدَ اللهُ فِي الْآخِرَةِ {وَيْلَكُمْ} كَلِمَةُ زَجْرٍ {ثَوَابُ اللَّهِ} فِي الْآخِرَةِ بِالْجَنَّةِ {خَيْرٌ لِمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا} مِمَّا أُوتِيَ قَارُونُ فِي الدُّنْيَا {وَلَا يُلَقَّاهَا} أَيِ الْجَنَّةَ الْمُثَابَ بِهَا {إِلَّا الصَّابِرُونَ} عَلَى الطَّاعَةِ وَعَنِ الْمَعْصِيَةِ {فَخَسَفْنَا بِهِ} بِقَارُونَ {وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُ مِنْ فِئَةٍ يَنْصُرُونَهُ مِنْ دُونِ اللَّهِ} أَيْ غَيْرِهِ بِأَنْ يَمْنَعُوا عَنْهُ الْهَلَاكَ {وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِينَ} مِنْهُ {وَأَصْبَحَ الَّذِينَ تَمَنَّوْا مَكَانَهُ بِالْأَمْسِ} أَيْ مِنْ قَرِيبٍ {يَقُولُونَ وَيْكَأَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ} يُوَسِّعُ {الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ} يُضَيِّقُ عَلَى مَا يَشَاءُ وَوَيْ اسْمُ فِعْلٍ بِمَعْنَى أَعْجَبُ أَيْ أَنَا وَالْكَافُ بِمَعْنَى اللَّامِ {لَوْلَا أَنْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا} بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ وَالْمَفْعُولِ {وَيْكَأَنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ} لِنِعْمَةِ اللهِ كَقَارُونَ

ترجمه: بې شکه قارون د موسىٰ (علیه السلام) د قوم نه وو (یعنی د ترهٔ خوئ اود ترور (ماسي) خوئ ئې وو او په موسىٰ علیه السلام باندې ئې ایمان راوړې وو، د تکبراولوئي اود مال د ډیروالی په ذریعه ئې د خلقو په مقابله کښې تکبرشروع کړو او مونږه ته دومره قدرې خزانې ورکړې وې چه د هغې کنجیانې په ډیرو طاقتورو خلقو باندې درنې وې (یعنی په هغوی باندې به ئې زور راوستو، باء د تعدیه دپاره ده، اوددې کنجیانو ده اوچتوونکو خلقو شمیره کښې چارپیلی دی چه اویاکسان وو، څلوېښت ښودلی دی اوڅالس ښودلی دی ددې نه علاوه نورهم ډیراقوال دی، هغه وخت یادکړه) کله چه دده قوم (د بنی اسرائیلو مؤمنانو خلقو) ده ته اووئیل چه (د مال په ډیروالی باندې) فخرمه کوه، بې شکه الله تعالی (په مال باندې) فخرکوونکی نه خوښوی اوکوم مال چه الله تاله درکړې دې په هغې کښې د آخرت د کورطلب هم کوه، (په دې طریقه چه دا هغې نه د الله تعالی په لاره کښې خرچ کوه) اود دنیانه خپله حصه هم مه هیروه (په دې طریقه چه په دنیاکښې د آخرت دپاره عمل کوه) او (د خلقو د صدقې په ذریعه) ښه سلوک کوه لکه څنګه چه الله تعالی تاسره احسان کړې دې او (د معصیت د عمل په ذریعه) په ملک کښې د فساد لټونکو نه مه جوړېږه، بې شکه الله فساد خوروونکی نه خوښوی، (په دې معنی چه هغوی ته به سزا ورکوی) قارون جواب ورکړو چه دا هرڅه ماته زماد ذاتی هنرمندئ په وجه ملاؤ دی، (یعنی زماد هوښیاروالی په وجه، او هغه د موسىٰ اود هارون علیهما السلام نه پس د تولو زیات د تورات عالم وو، الله تعالی فرمائی چه) آیاده ته ددې خبرې علم نشته چه الله تعالی دده نه وړاندې هم ډیر داسې امتونه هلاک کړی دی چه هغوی په قوت کښې دده نه هم زیات وو او (د مالونو) د جمع کولو په اعتبارسره هم ډیروؤ، (یعنی ده ته ددې خبرې علم دې او الله تعالی به دوی لره هلاک کړی، او الله تعالی ته ددوی ده ګناهونود علم لرلو په وجه به ددوی نه د ګناهونو په باره کښې پوښتنه نه

کیږي) او بغیر د حساب کتاب نه به ئې دوزخ ته ننه باسي) نو (قارون) په پوره ښائست (او شان) سره د خپل قوم په وړاندې (یوه ورځ ده خپلو تابعدارانو سره کوم چه د سرو او ریښمو جامې اغوستې وې او په کالو او سرو زرو سره بارکړي کچرو او اسونو باندې سوارۀ وو) راووتو نو ده دنیاده ژوند طلبګارو او وئیل (یا د تنبیه د پاره ده) کاش چه مونږ ته هم په څه طریقه هغه څه ملاؤ شوي وې کوم چه قارون ته (په دنیا کښې) ورکړي شوي دي دا خوده ډیرې برخې والا دې (یعنی د دنیانه د ډیرې حصې موندونکې دې، د فیها په ځائې منها ډیر مناسب دې) او هغوی خلقو چاته چه (د هغه څیزونو) علم ورکړې شوې وو (چه د کوموالله تعالی په آخرت کښې وعده کړې ده دې خلقوته ئې د نصیحت په طور) او وئیل په تاسو افسوس دې (ویل کلمه د توبیخ ده) د الله ثواب (په آخرت کښې چه جنت دې، په زرونو درجې) بهتر دې (د هغه څه نه چه په دنیا کښې قارون ته ورکړي شوي دي) کوم چه به هغه کس ته ورکولې کیږي چه ایمان ئې راوړې وی او نیک عملونه ئې کړي وی، او دا جنت (کوم چه په طورد ثواب ورکول کیږي) هغه چا ته به ملاویږي چه (په طاعت او معصیت باندې) صبرکوونکي وی نو مونږ قارون سره دده د محل په زمکه ښخ کړو او ده الله نه سیوا بل هیڅ یو جماعت نه وو چه دد مددئې کړې وې (یعنی چه ده هلاکت نه ئې خلاص کړې وې) او نه هغه په خپله د عذاب نه د ځان په بچ کوونکو کښې شو، او کوموخلقو چه پرون (په زمانه قریب کښې) دده په شان د کیدوارمان کولو هغوی او وئیل چه داسې معلومیږي چه الله چاته او غواړي په خپلو بندګانو کښې نو په روزۍ کښې فراخي ورکوی او (چاته چه او غواړي نو) تنګی ورکوی (وَی اسم فعل په معنی د اعجب انا دې، او کاف په معنی ده لام دې) او که په مونږ باندې د الله مهربانی نه وې نو مونږ به ئې هم په زمکه ښخ کړی وې، (لخسف معروف او مجهول دواړه دی) معلومه شوه چه (د قارون په شان د الله تعالی د نعمتونو) ناشکري کوونکی کامیابی نه مومي.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: انّ قارون: قارون عجمی عبرانی لفظ دې، د عجمه او علمیت په وجه غیرمنصرف دې، د قارون په باره کښې دومره خبره یقینی ده چه د موسیٰ علیه السلام د ورورولۍ (خاندان) کس وو. پاتې شوه دا خبره چه د موسیٰ علیه السلام سره ئې څه رشته وه، په دې کښې مختلف اقوال دی، ① اوّل دا چه د ترۀ خوئ ئې وو، ② دویم دا چه د ترور (ماسي) خوئ ئې وو، دا دواړه خپلولۍ جمع کیدې هم شي په داسې طریقې سره چه د حضرت موسیٰ علیه السلام ترور (ماسي) د موسیٰ علیه السلام په ترۀ باندې واده وی، ددې نه علاوه نورهم اقوال موجود دی. نسب ئې داسې دې، قارون بن یصهربن قاهث، او موسیٰ بن عمران بن قاهث، لتنوء واحد مؤنث غائب ده ناء ینوء نوءً نه، باب نصر، په معنی ده تیتید او ودرنیدو سره.

قوله: ان مفاتحه لتنوء بالعصبة: لتنوء بالعصبة کښې دوه صورته دی،

① یو دا چه باء د تعدیه دپاره شي په دې صورت کښې به معنی داشي چه "لتنوء المفاتح العصبة الاقویاء" یعني کنجیانې دومره قدرې زیاتې وې چه د طاقتورو خلقو یوه غټه ډله به ئې هم درنوله، په دې صورت کښې قلب نشته، ②دویم صورت دادې چه لتنوء بالعصبة کښې قلب اومنلې شي اومعنی داشي، لتنوء المفاتح العصبة هغوی کنجیانو به یو قوي ډله دروندبارجوړوله، ځکه چه که قلب اونه منلې شي نوترجمه به داسې شي، د طاقتوروکسانو ډلې به کنجیانې درنولې، ظاهره ده چه داخبره خلاف عقل ده

قوله: ولایسئل عن ذنوبهم المجرمون:

سوال: په یو آیت کښې دی چه "فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ أَجْمَعِيْنَ ۝ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ" د رومبنی آیت نه دامعلومیږی چه د مجرمانو نه به د هغوی د جرمونو په باره کښې پوښتنه نه کیږی اوبغیرد حساب کتاب به دوزخ ته داخلیږی، اوددې دویم آیت نه دامعلومیږی چه د ټولو مجرمانو نه به د ګناهونو په باره کښې تپوس کیږی، په دې دواړو کښې د تطبیق څه صورت دې ؟

جواب: د سوال اوپوښتنې کولو دوه قسمونه دی:

رومبنې قسم: استعتاب "چه د سوال کولو نه پس به دوی معاف کیږی، لکه څنګه به چه د خنو نافرمانو مؤمنانو سره دامعامله کیږی.

دویم قسم: تقریع "چه د هغې نه پس به دوزخ ته داخلولې شي دلته د رومبنی قسم د سوال نفی مرادد، لهٰذا هیڅ تعارض نشته.

قوله: فخرج: ددې عطف په قال انما اوتیته باندې دې، په مینځ کښې جمله معترضه ده.

قوله: من فئة ینصرونه: فئة د کان اسم هم کیدې شي کۀ کان ناقصه شي. او "له" به ئې خبرشي. اوکۀ کان تامه شي نوفئة به ئې فاعل شي، اوینصرونه د فئة صفت. فئة لفظا مجرور دې او معنی مرفوع دې، ځکه چه من زائد دې

قوله: من دون الله: داد فئة نه حال دې.

قوله: بألامس: ددې نه خپله حقیقی معنی نه ده مرادچه تیره شوې ورځ ده. بلکه نزدې زمانه ترې نه مراد ده، د نزدې وخت نه مجازا په امس سره تعبیر کیږی

قوله: ویکانّ: داکلمه د زجراوتعجب ده، ده وَی کَ نه مرکب دې، کاف ضمیرخطاب دې، اوانّ حرف مشبه بالفعل دې، خنوحضراتو وئیلی دی چه "وا" اسم دې چه په تعجب باندې دلالت کوی ددې "وا" نه پس کله کله ها راځی اومعنی ئې هم د تعجب وی. اوکله وا لره وَی وئیل کیږی، اوددې نه پس کَأنّ لګولې شي. ویکانّ من یکن له نشب یحبب ومن یفتقر یعش عیش ضر" تعجب دې چاسره چه ډیرزروی ده هغه سره مینه کیږی، اوځوک چه محتاج وی نود تکلیف ژوند تیروی. (لغات القرآن)

[ايا تونه: ۸۳-۸۸]

(تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ) أَيِ الْجَنَّةُ (نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ) بِالْبَغْيِ (وَلَا فَسَادًا) بِعَمَلِ الْمَعَاصِي (وَالْعَاقِبَةُ) الْمَحْمُودَةُ (لِلْمُتَّقِينَ) عِقَابَ اللهِ بِعَمَلِ الطَّاعَاتِ (مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِنْهَا) ثَوَابٌ بِسَبَبِهَا وَهُوَ عَشْرُ أَمْثَالِهَا (وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى الَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ إِلَّا) جَزَاءَ (مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ) أَيْ مِثْلَهُ (إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ) أَنْزَلَهُ (لَرَادُّكَ إِلَى مَعَادٍ) إِلَى مَكَّةَ وَكَانَ قَدِ اشْتَاقَهَا (قُلْ رَبِّي أَعْلَمُ مَنْ جَاءَ بِالْهُدَى وَمَنْ هُوَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ) نَزَلَ جَوَابًا لِقَوْلِ كُفَّارِ مَكَّةَ لَهُ إِنَّكَ فِي ضَلَالٍ أَيْ فَهُوَ الْجَائِي بِالْهُدَى وَهُمْ فِي ضَلَالٍ وَأَعْلَمُ بِمَعْنَى عَالِمٍ (وَمَا كُنْتَ تَرْجُو أَنْ يُلْقَى إِلَيْكَ الْكِتَابُ) الْقُرْآنُ (إِلَّا) لٰكِنْ أُلْقِيَ إِلَيْكَ (رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا) مُعِينًا (لِلْكَافِرِينَ) عَلَى دِينِهِمُ الَّذِي دَعَوْكَ إِلَيْهِ (وَلَا يَصُدُّنَّكَ) أَصْلُهُ يَصُدُّونَنَّكَ حُذِفَتْ نُونُ الرَّفْعِ لِلْجَازِمِ وَالْوَاوُ لِلْفَاعِلِ لِالْتِقَائِهَا مَعَ النُّونِ السَّاكِنَةِ (عَنْ آيَاتِ اللهِ بَعْدَ إِذْ أُنْزِلَتْ إِلَيْكَ) أَيْ لَا تَرْجِعْ إِلَيْهِمْ فِي ذٰلِكَ (وَادْعُ) النَّاسَ (إِلَى رَبِّكَ) بِتَوْحِيدِهِ وَعِبَادَتِهِ (وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ) بِإِعَانَتِهِمْ وَلَمْ يُؤَثِّرِ الْجَازِمُ فِي الْفِعْلِ لِبِنَائِهِ (وَلَا تَدْعُ) تَعْبُدْ (مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ) إِلَّا إِيَّاهُ (لَهُ الْحُكْمُ) الْقَضَاءُ النَّافِذُ (وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ) بِالنُّشُورِ مِنْ قُبُورِكُمْ

ترجمه: دغه دارِ آخرت (يعنى جنت) مونږ هغوى خلقو دپاره خاص كوؤ كوم چه په دنيا كښې نه (د ظلم په ذريعه) غټ جوړيدل غواړى اونه (د نافرمانئ په ذريعه) فساد كوى، اوبهترانجام (د الله په حكم منلوسره، د الله د عذاب نه) د يريدونكو دپاره دې. كوم كس چه نيكى ځان سره راوړى هغه ته به د هغې نه بهتره ملاويږى (د ده د نيكئ په وجه به اجر ملاويږى اوهغه به د دې نيكئ نه لس چنده زيات وى) اوكوم كس چه بدى ځان سره راوړى نو داسې خلقوته چه بديانې كوى هغوى ته به هم دومره بدله ملاويږى څومره چه هغوى عمل كړى دې، كوم الله چه په تاباندې قرآن نازل كړې دې هغه دويم ځل بيا تالره رومبنى ځائ ته واپس كوونكې دې، (يعنى مكې مكرمې ته، اوحضور ﷺ د مكې دپاره اشتياق ښكاره كړې وو) ته اووايه چه زمارب ښه پوهيږى چه څوک د هدايت سره راغلې دې، اوڅوک په ښكاره ګمراهئ كښې دې. (داآيت مباركه د مكې د كفارود هغه قول په باره كښې نازل شوې دې كوم كښې دوى حضور ﷺ ته وئيلى وو چه ته په ښكاره ګمراهئ كښې ئې، يعنى نبى عليه السلام د هدايت سره راغلې دې اودوى په ښكاره ګمراهئ كښې پراته دى دلته اعلم په معنى د عالم دې) ستاخوداتوقع نه وه چه په تاباندې به داكتاب (قرآن كريم) نازل كړې شى، ليكن په تاباندې خالص ستاد رب په مهربانئ سره (نازل كړې شو) لهٰذاته د كافرانو (د هغوى د دين په باره كښې چه د كوم په طرف هغوى تاله دعوت اوبلنه دركوى) هيڅ كله مددګارمه جوړيږه او (خيال ساته چه) داكافران تالره د الله تعالى د آيتونود تبليغ نه منع نه كړى پس د هغې نه چه دا آيتونه تا ته نازل شوى دى (ولا يصدنك په اصل كښې يصدوننك وو، نونِ رفع د جازم په وجه حذف شو، او واوِ فاعل د نون ساكنه

سره د التقاء ساكنين په وجه حذف شو، يعني ته په دې معامله كښې د هغوى د خرافاتو طرف ته التفات مه كوه، او ته خلقوته د خپل رب (د توحيد او عبادت) په طرف دعوت وركوه او هيڅ كله (ددوى په اعانت كولو سره) د مشركانو نه مه كيږه. (جازم يعنى لا فعل لره د مبنى كيدو په وجه جزم نه دې وركړې) او د الله سره د بل چابندگى مه كوه، سوا د الله نه بل معبود نشته، د هغه د ذات نه علاوه هر يو څيز فنا كيدونكي دې، هم ددغه ذات فيصله (نافذ كيدونكې ده) او (د قبرونو نه د راژوندى كولو نه پس به) تاسو هم دد خواته ور گرځول كيږئ.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: تلك الدار الأخرة: تلك مبتدأ موصوف الدار الأخرة په تركيب توصيفى سره د دې صفت، نجعلها جمله ئې خبر دې.

قوله: لرآدك الى معاد: د معاد نه اكثرو مفسرينو مكه مكرمه اخستې ده، او څنو تري نه مقام محمود مراد اخستې دې.

قوله: ولا يصدنك: لا ناهيه جازمه ده، او يصدنك فعل مضارع مجزوم دې او علامت د جزم حذف د نون دې، او واؤ فاعل دې، كاف مفعول به دې او نون تاكيد دې.

قوله: عن أيات الله: دلته مضاف محذوف دې يعنى عن تبليغ أيات الله.

قوله: لم يؤثر الجازم: په ولا تكونن كښې لاء جازمه په لفظ كښې هيڅ اثر نه دې كړې، اگرچه محلائې اثر كړې دې، د اثر نه كولو وجه دا ده چه تكونن د نون تاكيد ثقيله په وجه مبنى شوې دې.

قوله: تعبد: د تدع تفسير ئې په تعبد سره كړې دې په دې سره ئې په خوارجو باندې رد كړې دې، خوارج وائى چه طلب كه د ژوندى نه وى او كهٔ د مړى نه وى داشرک دې، دا د خوارجو جهل دې څكه چه مؤثر بالذات گنړلو سره د غير الله نه طلب كول شرک دې، ليكن د اسبابو په درجه كښې طلب شرک نشته.

[۲۹] سورة العنكبوت

سورة العنكبوت مكية هي تسع و ستون اية

سوره عنكبوت مكى دې او په دې كښې ۶۹ آيتونه دى.

[اياتونه: ۱ - ۱۴]

بسم الله الرحمن الرحيم (الم) الله أعلم بمراده بذلك (أحسب الناس أن يتركوا أن يقولوا) أي بقولهم (آمنا وهم لا يفتنون) يختبرون بما يتبين به حقيقة إيمانهم نزل في جماعة آمنوا فآذاهم المشركون (ولقد فتنا الذين من قبلهم فليعلمن الله الذين صدقوا) في إيمانهم علم مشاهدة (وليعلمن الكاذبين) فيه (أم حسب الذين يعملون السيئات) الشرك والمعاصي (أن يسبقونا) يفوتونا فلا ننتقم منهم (ساء) بئس (ما) الذي (يحكمون) ه حكمهم هذا (من كان يرجو) يخاف (لقاء الله فإن أجل الله) به (لآت) فليستعد له

(وَهُوَ السَّمِيعُ) لِأَقْوَالِ الْعِبَادِ (الْعَلِيمُ) بِأَفْعَالِهِمْ (وَمَنْ جَاهَدَ) جِهَادَ حَرْبٍ أَوْ نَفْسٍ (فَإِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهِ) فَإِنَّ مَنْفَعَةَ جِهَادِهِ لَهُ لَا لِلّٰهِ (إِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ) الْإِنْسِ وَالْجِنِّ وَالْمَلَائِكَةِ وَعَنْ عِبَادَتِهِمْ (وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ) بِعَمَلِ الصَّالِحَاتِ (وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَحْسَنَ) بِمَعْنَى حَسَنٍ وَنَصَبَهُ بِنَزْعِ الْخَافِضِ الْبَاءِ (الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ) وَهُوَ الصَّالِحَاتُ (وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا) أَيْ إِيصَاءً ذَا حُسْنٍ بِأَنْ يَبَرَّهُمَا (وَإِنْ جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ) بِإِشْرَاكِهِ (عِلْمٌ) مُوَافَقَةً لِلْوَاقِعِ فَلَا مَفْهُومَ لَهُ (فَلَا تُطِعْهُمَا) فِي الْإِشْرَاكِ (إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ) فَأُجَازِيكُمْ بِهِ (وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصَّالِحِينَ) الْأَنْبِيَاءِ وَالْأَوْلِيَاءِ بِأَنْ نَحْشُرَهُمْ مَعَهُمْ (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللّٰهِ فَإِذَا أُوذِيَ فِي اللّٰهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ) أَيْ أَذَاهُمْ لَهُ (كَعَذَابِ اللّٰهِ) فِي الْخَوْفِ مِنْهُ فَيُطِيعُهُمْ فَيُنَافِقُ (وَلَئِنْ) لَامُ قَسَمٍ (جَاءَ نَصْرٌ) لِلْمُؤْمِنِينَ (مِنْ رَبِّكَ) فَغَنِمُوا (لَيَقُولُنَّ) حُذِفَتْ مِنْهُ نُونُ الرَّفْعِ لِتَوَالِي النُّونَاتِ وَالْوَاوُ ضَمِيرُ الْجَمْعِ لِالْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ (إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ) فِي الْإِيمَانِ فَأَشْرِكُونَا فِي الْغَنِيمَةِ قَالَ تَعَالَى (أَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَعْلَمَ) أَيْ بِعَالِمٍ (بِمَا فِي صُدُورِ الْعَالَمِينَ) بِقُلُوبِهِمْ مِنَ الْإِيمَانِ وَالنِّفَاقِ بَلَى (وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا) بِقُلُوبِهِمْ (وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنَافِقِينَ) فَيُجَازِي الْفَرِيقَيْنِ وَاللَّامُ فِي الْفِعْلَيْنِ لَامُ قَسَمٍ (وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا) دِينَنَا (وَلْنَحْمِلْ خَطَايَاكُمْ) فِي اتِّبَاعِنَا إِنْ كَانَتْ وَالْأَمْرُ بِمَعْنَى الْخَبَرِ قَالَ تَعَالَى (وَمَا هُمْ بِحَامِلِينَ مِنْ خَطَايَاهُمْ مِنْ شَيْءٍ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ) فِي ذٰلِكَ (وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ) أَوْزَارَهُمْ (وَأَثْقَالًا مَعَ أَثْقَالِهِمْ) بِقَوْلِهِمْ لِلْمُؤْمِنِينَ اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا وَإِضْلَالِهِمْ مُقَلِّدِيهِمْ (وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ) يَكْذِبُونَ عَلَى اللّٰهِ سُؤَالَ تَوْبِيخٍ وَاللَّامُ فِي الْفِعْلَيْنِ لَامُ قَسَمٍ وَحُذِفَ فَاعِلُهُمَا الْوَاوُ وَنُونُ الرَّفْعِ

ترجمه: الٓمّٓ: ددې په مرادباندې الله تعالى ښه پوهيږي. ايا ددې خلقو داګمان دې چه د دوى صرف په دې ووئيلو باندې چه مونږه ايمان روړې دې مونږه دوى بغير دازميښته پريږدو، دوى به په داسې څيزونو باندې آزميښتولې شي چه دهغې دوجې نه ددوى ايمان ظاهرشى، داديوجماعت په باره کښې نازل شوى دې چه کله هغوى ايمان راوړلو نودمشرکينو دطرفه هغوى ته مختلف قسمه اذيتونه اوتکليفونوورکول شروع شو، الله تعالى د دوى نه رومبنى خلق هم آزماو کړى دى، يقيناً الله تعالى به داخلق هم معلوم کړى چه کوم په خپل ايمان کښې رشتونې دى، دمشاهدې په توګه باندې معلومول اودايمان په باره کښې به دروغجن خلق هم معلوم کړى، آياکوم خلق چه بدکارونه يعنى شرك اونورګناهونه کوى نودوى د اګنړى دوى به زمونږ نه يچ شى نو مونږ به ددوى نه انتقام نه شو اغستې، نوددوى داتجويزدکوم په باره کښې چه دوى فيصله کوى، انتهائى بې خونده اوبيهوده دې کوم کس چه د الله تعالى دملاقات ويره لرى نويقيناً دده دملاقات وخت راروان دې، لهذا ده له پکاردى چه دهغې دپاره تيارى اوکړى، هغه دخپلو بنديګانو خبرې لره اوريدونکې او دهغوى کارونو

لره پېژندونکې دې اوچه کوم کس جهاد اوکړو برابره ده که جهاد بالحرب وی اوکه جهاد بالنفس وی نوهغه هم دخپلې فائدې دپاره جهاد کوی ځکه چه ددې دجهاد نفع به هم دې جهادکونکی ته ملاویږی نه چې الله تعالی ته، الله تعالی خودجهان والونه یعنی دانسانانو، پیریانواوفرشتو اودهغوی دعباداتونه بې نیازه دې اوکومو خلقوچه ایمان راوړلو اونیک عملونه ئې اوکړل نوموږ به دهغوی گناهونه دهغوی دنیک عملونوپه بدله کښې ختم کړواوموږبه ددوی دعملونو حال دادې چه هغه عملونه نیك وی، بهترینه بدله ورکړو احسن، دحسن په معنی کښې دې اوددې نصب دباجاره دساقط کیدلو دوجې نه دې، موږ هرانسان ته دخپل مورپلارسره دښه اوحسن سلوک تاکیدکړې دې ښه سلوك اوښه تاکید دادې چه هغوی سره دښه سلوك برتاؤکوې، اوکه چرې هغوی په تا باندې ددې خبرې زورواچوی چه ته ماسره څوک شریک جوړکړې داسې څیزچه دهغې په شریک کیدو باندې تاسره دواقع مطابق علم هم نشته نو په شرك کولو کښې دهغوی اطاعت مه کوه تاسوټول به زما طرف ته واپس راځې بیابه زه تاسو دهرهغه څیزنه خبرکړم کوم چه تاسو کول، نوزه به ستاسو داعمالوجزاء درکومه اوهغه خلق کومو چه ایمان راوړې وی اونیک عملونه ئې کړې وی نوهغوی به په صالحینو یعنی په انبیاؤ اواولیاؤکښې اوشمارو په دې توگه چه موږ به دهغوی حشردې پاکوخلقوسره اوکړو، اوځنی خلق داسې هم دی چه هغوی امنا بالله وائی اوکله چه دوی ته دالله تعالی په لارکښې تکلیفونه وررسولې شی، نوهغوی دخلقو تکلیف یعنی دخلقوایذاء رسانی دخپل زان دپاره دعذاب الهی په شان گنړی اودهغې نه ویریږی اوهم ددې دوجې نه دهغوی اطاعت کوی اودنفاق مرتکب جوړشی، اوقسم دې که چرې مومنینوته ستادرب دطرفه څه امداد راورسی چه دهغې دوجې نه دوی ته مال غنیمت حاصل شی، نودوی وائی چه موږه خوتاسوسره په ایمان کښې شریک وو، لهذا موږه هم په مال غنیمت کښې شریك کړئ، ولئن، کښې لام قسم دې، لیقولن : کښې نون د رفع مسلسل «درې» نونودوجې نه اودجمع ضمیرواؤدالتقائې ساکنین دوجې نه حذف کړې شوی دې، الله تعالی اوفرمائیل آیا الله تعالی ته دټولوجهان دخلقو دزړونوحال دایمان او دنفاق نه چه هرڅه وی معلوم نه دې؟ ضرورورته معلوم دې، اوالله تعالی به دزړه نه ایمان روړونکې خلق بالیقین ظاهره وی اومنافقان به هم بالیقین ظاهره وی، اودواړوډلوته به بدله ورکړی، اوپه دواړو فعلونو کښې لام لام قسم دې اوکافران مسلمانانو ته وائی چه تاسوپه دین کښې زمونږه طریقه اختیاره کړئ (بالفرض) که چرې زمونږه په اتباع کولو کښې څه گناه وی نو موږ به هغه په خپل زان باندې اوچته کړو یعنی دهغې وبال اوبوج به موږ ه په خپله ذمه واخلو، اوتاسوبه ترینه بیغمه ئې، اوامردخبرپه معنی کښې دې، الله تعالی فرمائی حالانکې دوی دهغوی دگناهونونه هیڅ څه اوچتوونکې نه دی دوی خوپه دې معامله کښې محض دروغجن دی البته

دوى به دخپلو گناهونو بوج اوچت كړې وى اود خپلو گناهونو د بوج سره سره به ئې لگ نور بوج هم مومنانوته ددې خبرې دوجې نه چه تاسوزمونږ دطريقې اتباع اوكړئ اوخپلو متبعينو گمراه كولو دوجې نه اودوى چه كوم دروغ اوافتراء كوى نود قيامت په ورځ به ددوى نه ضرور تپوس پوښتنه كولې شى، يعنى په الله تعالى باندې چه كوم دروغ بيانى كوى، اوداتپوس اوپوښتنه به دتوبيخ اوزورنې په توگه باندې وى، په دواړوفعلونوكښې لام لام قسم دې اود دواړوفاعل واؤ اونون د رفع حذف كړې شوى دې،

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اى بقولهم: داد، ما، مصدريه كيدوطرف ته اشاره ده او، با، محذوف ده او، ان يتركوا، دحسب د دومفعولو قائم مقام دې،

قوله: نزل فى جماعة: لكه عماربن ياسر، عياش بن ابى ربيعه وليدبن وليد، سلمان بن هشام دې فقيرانوته په مكه كښې ددوى دايمان رواړلو دوجې نه تكليفونه وركړې كيدل،

قوله: علم مشاهدة: ددې اضافې مقصدديوسوال مقدر جواب وركول دى، سوال دادې چه دا آيت دالله تعالى دعلم په تجددباندې دلالت كوى، حالانكه دالله تعالى علم قديم غيرحادث دې؟

دجواب خلاصه داده چه دعلم نه مراد علم ظهور اوعلم مشاهده دې، دايت مقصد دادې چه الله تعالى دصادقينو صدق اودكاذبينوكذب ښكاره كړى چه معلوم دا الله تعالى دعلم مطابق ظاهر شى، (يعنى چه خلقوته دالله تعالى دعلم اودمعلوم مطابقت معلوم شى،) كوم چه د ښكاره كيدو نه مخكښې دپټوالى په پرده كښې وو.

قوله: يحكمون: داټوله جمله صله ده د، ما، دپاره اوماپه معنى د، الذى، كښې ده، اوپه صله كښې، ه، ضمير محذوف دې كوم چه شارح رحمه الله ظاهركړواو، حكمهم هذا، مخصوص بالذم دې،

قوله: فليستعن: داد، من كان، جواب شرط دې او احسن دنزع خافض دوجې نه منصوب دې په اصل كښې باحسن وو،

قوله: ايصاء ذا حسن: ددې مقصوددې طرف ته اشاره كول دى چه، حسناً دوصينا، محذوف مصدردپاره صفت دې سره دحذف دمضاف، اوكه مضاف محذوف اونه گڼړلې شى نوبيامبالغةً صفت واقع كيدل هم درست دى،

قوله: والذين امنوا وعملوا الصلحت: مبتدأده او لنكفرن عنهم سيئاتهم سره دقسم محذوف دمبتدأ خبردې، تقدير دعبارت داسې دې والله لنكفرن، اوداهم كيدې شى چه والذين امنوا دفعل محذوف دوجې نه محلاً منصوب وى نوتقدير دعبارت به داسې شى ولنخلص الذين

امنوا وعملوا الصلحت من سيئاتهم په دې صورت كښې به دا دباب اشتغال نه وي،

قوله: موافقة للواقع: دا د محذوف علت دې، تقديري عبارت دا دې وذكر هذا القيد موافقة للواقع.

قوله: فلا مفهوم له: مطلب دا دې چه ددې مفهوم مخالف مرادنه دې چه ددې په معبود كيدو باندې تاسره څه دليل نه وى نوته هغه ماسره شريك مه جوړه وه اوچه دكوم په معبود جوړولو باندې دليل وى نو هغه معبود جوړولې شى، دلته كښې دامرادنه دې څكه چه دهغه نه سوابل څوك داسې معبودنشته چه دهغه په وجود باندې دليل موجودوى اونه داسې معبودشته دې چه دهغه په وجودباندې دليل موجودنه وى بلكه هغه خو اله واحد دې،

[اياتونه: ۱۵ ـ ۲۲]

{وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ} وَعُمْره أَرْبَعُونَ سَنَة أَوْ أَكْثَر {فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا} يَدْعُوهُمْ إِلَى تَوْحِيد اللّٰه فَكَذَّبُوهُ {فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ} أَيْ الْمَاء الْكَثِير طَافَ بِهِمْ وَعَلَاهُمْ فَغَرِقُوا {وَهُمْ ظَالِمُونَ} مُشْرِكُونَ {فَأَنجَيْنَاهُ} أَيْ نُوحًا {وَأَصْحَابَ السَّفِينَةِ} الَّذِينَ كَانُوا مَعَهُ فِيهَا {وَجَعَلْنَاهَا آيَةً} عِبْرَة {لِّلْعَالَمِينَ} لِمَنْ بَعْدهمْ مِنْ النَّاس إِنْ عَصَوْا رُسُلهمْ وَعَاشَ نُوح بعد الطوفان ستين سنة او اكثرحتى كثر الناس {وَ} اُذْكُرْ {إِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاتَّقُوهُ} خَافُوا عِقَابه {ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ} مِمَّا أَنْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ عِبَادَة الْأَصْنَام {إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ} الْخَيْر مِنْ غَيْره {إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ} أَيْ غَيْره {أَوْثَانًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا} تَقُولُونَ كَذِبًا إِنَّ الْأَوْثَان شركاء لله {إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا} لَا يَقْدِرُونَ أَنْ يَرْزُقُوكُمْ {فَابْتَغُوا عِندَ اللَّهِ الرِّزْقَ} اطلبوه منه {واعبدوه واشكروا له إليه ترجعون} {وَإِن تُكَذِّبُوا} أَيْ تُكَذِّبُونِي يَا أَهْل مَكَّة {فَقَدْ كَذَّبَ أُمَمٌ مِّن قَبْلِكُمْ} مِنْ قَبْلِي {وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ} إِلَّا الْبَلَاغ الْبَيِّن فِي هَاتَيْنِ الْقِصَّتَيْنِ تَسْلِيَة لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وقال تعالى في قومه {أَوَلَمْ يَرَوْا} بِالْيَاءِ وَالتَّاء يَنْظُرُوا {كَيْفَ يُبْدِئُ اللَّهُ الْخَلْقَ} هو بضم اوله وقرىء بِفَتْحِهِ مِنْ بَدَأَ وَأَبْدَأَ بِمَعْنَى أَيْ يَخْلُقهُمْ اِبْتِدَاء {ثُمَّ} هُوَ {يُعِيدُهُ} أَيْ الْخَلْق كَمَا بَدَأَهُمْ {إِنَّ ذَٰلِكَ} الْمَذْكُور مِنْ الْخَلْق الْأَوَّل وَالثَّانِي {عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ} فَكَيْفَ يُنْكِرُونَ الثَّانِي {قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ} لِمَنْ كَانَ قَبْلكُمْ وَأَمَاتَهُمْ {ثُمَّ اللَّهُ يُنشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ} مَدًّا وَقَصْرًا مَعَ سُكُون الشِّين {إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} وَمِنْهُ الْبَدْء والاعادة {يُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ} تَعْذِيبه {وَيَرْحَمُ مَن يَشَاءُ} رَحْمَته {وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ} تُرَدُّونَ {وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ} رَبّكُمْ عَنْ إِدْرَاككُمْ {فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ} لَوْ كُنْتُمْ فِيهَا أَيْ لَا تَفُوتُونَهُ {وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ} أَيْ غَيْره {مِن وَلِيٍّ} يَمْنَعكُمْ مِنْهُ {وَلَا نَصِيرٍ} يَنْصُركُمْ مِنْ عَذَابه

ترجمه: او مونږه نوح علیه السلام د دوى طرف ته ورليږلې وو اوهغه وخت دهغوى عمر څلويښت كاله يا ددې نه هم زيات وو، نوح عليه السلام په خپل قوم كښې پنځوس كم زركاله پاتې شوى وو

او دوی ته ئې دالله دتوحید دعوت ورکولو نوهغوی دنوح علیه السلام تکذیب اوکړونو
طوفان راګیرکړل یعنی ډیرو ابودوی راګیرکړل اوپه دوی باندې راواوریدې نودوی په هغه
اوبو سره غرق شو، اوهغوی ډیرلوئې ظالمان مشرك خلق وونوموني نوح عليه السلام اوکشتې
والویعنی هغه کسان چه هغوی دنوح علیه السلام سره په کشتې کښې سواره شوی وو ته
نجات ورکړو اودا واقعه مونږه دټولوجهان دانسانانو دپاره دعبرت نښه اوګرځوله یعنی ددوی نه
روستونو خلقو دپاره که چرې هغوی دخپل رسولانونافرمانی اوکړی، اونوح عليه السلام دطوفان
نه روستوشپیته کاله یاددېنه زیات موده ژوندې پاتې ووتردې پورې چه خلق
ګڼرشو اوډیرشو اودحضرت ابراهیم ذکراوکړه کله چه هغوی خپل قوم ته اووئیل چه د الله بندګی
کوئې اودهغه نه یریږې یعنی دهغه دعذاب نه اویریږئ داستاسو دپاره دبتانو دبندګې نه چه
په کوم باندې تاسوکلك ولاړ یئ بهتر دې که چرته تاسوپه ښه اوخراب کښې تمیز کولې
شئ، تاسوخلق دالله تعالی نه علاوه دغیرالله عبادت کوئ یعنی دبتانو اودروغ جوړوئ یعنی
دادروغ وائې چه بتان دالله شرکاء دې (واورئ) تاسو دالله تعالی نه سواچه د کومو معبودانو
عبادت کوئ هغوی ستاسو درزق مالکان نه دی یعنی تاسوته رزق درکولوباندې قادرنه دې
نوتاسوله پکاردی چه تاسو هم دالله نه رزق اوغواړئ اوهم دهغه بندګی اوکړې اوهم دهغه شکر
اداکړئ اوتاسو به هم دهغه طرف ته واپس ګرځولې شئ اې مکې والو که چرته تاسو زماتکذیب
کوئې (نوداخه نوې خبره نه ده) تاسو نه مخکښې هم ډیرو امتونو زمانه رومبنی راتلونکی
رسولان دروغجن ګرځولې وو، درسول په ذمه خوصرف په صفاصفا توګه باندې وررسول دی
یعنی په ښکاره توګه باندې وررسول دی د دوی دواړو حضراتو (یعنی نوح علیه السلام
اوا براهیم علیه السلام) په قصه کښې حضور مبارك ته تسلی ده الله تعالی د نبی علیه
السلام دقوم په باره کښې اوفرمائیل چه آیاهغوی نه ګوری چه الله تعالی مخلوقات ابتداء
څنګه پیدااکړی دی یروا یااوتاپه دواړوقراءتو سره واردې، یبدی داول په ضمې سره
اوداول په فتحې سره وئیلې شوی دی دبدء اودابدأیوه معنی ده یعنی هغه ابتداء پیدا
کولو والا دې اوهم هغه به دوی دوباره پیدا کوی یعنی څنګه ئې چه ابتداء مخلوق پیدا کړو
بلا شبه داپه اول خل پیداکول او داپه دوئیم خل پیدا کول د الله تعالی دپاره ډیرآسان دی
لهذاپه دوئیم خل پیداکولونه تاسو ولې انکار کوئې؟تاسو دوی ته اووائې چه په ملك کښې
اوګرځئ اواوګورئ چه ستاسونه رومبنی خلق مونږه څنګه پیداکړل په رومبی محل اوبیامو هغوی
مړه کړل اوبیابه ئې دوباره هم پیداکوونشأة مد سره اوقصرسره اودشین په سکون سره بیشکه
الله تعالی په هرڅیزباندې قادر دې اوپه دې کښې په رومبی خل اوپه دوئیم خل پیداکول هم
داخل دی چاته چه عذاب ورکول اوغواړی نوعذاب ورله ورکړی اوپه چاچه رحم کول اوغواړی نو
رحم پرې اوکړی تول، به دهغه طرف ته واپس ګرځولی شئ اوتاسوخپل رب ستاسودنیولونه نه په

زمکه کښې عاجزه کولې شئ اونه په اسمان کښې که چرې تاسو په اسمان کښې یې یعنی تاسو دهغه نه نشئ بچ کیدلې دالله تعالی نه سوانه ستاسو څوک دوست شته دې چه تاسو دهغه نه بچ کړی اونه څوک مددګار چه د الله تعالی دعذاب نه ستاسو امداد اوکړی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: نوحاً: دحضرت نوح علیه السلام په نوم مبارك کښې یوڅو اقوال دی ① عبدالغفار ② یشکر ③ السکن، نوح، د دوی لقب وو، ډیرزیات نوحه کونکی ته نوح وئیلی شی، حضرت نوح علیه السلام به هم دخپل قوم په حالت باندې ډیرزیات ژړل نو دډیرو ژړلودوجې نه دهغوی لقب نوح مشهورشو

قوله: ابراهیم: په ابراهیم باندې عامو قراؤ نصب وئیلی دې اودنصب درې وجې کیدې شی، اول خوداچه داپه نوحاً باندې عطف شی یا ددې عامل ناصب محذوف اوګنړلې شی لکه څنګه چه شارح، اذکر، محذوف ګنړلو سره دې طرف ته اشاره اوکړه، اویاد، انجیناه، په ضمیر باندې عطف دې اوځنی حضراتو ابراهیم دمبتدأ دوجې نه مرفوع وئیلی دې اوخبرئې ورله محذوف ګنړلې دې نو تقدیر دعبارت به داسې شی، ومن المرسلین ابراهیم

قوله: اوثان: دوثنٌ جمع ده دکاڼرونه تراشلې شوی بتان د چا چې عبادت کیږی

قوله: یرزقوکم: ددې اضافه کولوسره شارح دې طرف ته اشاره اوکړه چه رزقاً دمفعول مطلق دوجې نه منصوب دې تقدیر دعبارت دادې لایملکون ان یرزقوکم رزقاً.

قوله: تکذبونی: په دې کښې دې طرف ته اشاره ده چه دتکذبوا مفعول محذوف دې،

قوله: یأاهل مکة: دې سره مقصود دې طرف ته اشاره کول دی چه دا آیت او راروان آیت دحضرت ابراهیم علیه السلام د واقعې په مینځ کښې جمله معترضه ده او دې سره مقصود حضور مبارك ته تسلی ورکول دی ان تکذبوا شرط دې اوددې جزاء داده فلایضرنی تکذیبکم

قوله: من قبلی: من موصوله دکذب مفعول دې

قوله: هاتین القصتین: ددې نه مراد دحضرت نوح علیه السلام اودحضرت ابراهیم علیه السلام قصې دی،

قوله: اولم یروا: دلته درویت نه مراد علم یقینی دې ګنی په رومبی ځل دتخلیق په وخت کښې خوڅوك هم موجود نه وو، لهذاد اولم یروا په ذریعه سره سوال کول به بې معنی وو،

قوله: النشأة الاخرة مداً وقصراً: دمد مطلب دادې چه دشین نه پس الف دې او دقصر مطلب دادې چه الف نشته دې.

....

[ایاتونه: ۲۳ ـ ۳۰]

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللهِ وَلِقَائِهِ﴾ أي القرآن والبعث ﴿أُولَٰئِكَ يَئِسُوا مِن رَّحْمَتِي﴾ أي جنتي ﴿وأولئك لهم عذاب أليم﴾ مؤلم قال تعالى في قصة إبراهيم عليه السلام ﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا اقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ فَأَنجَاهُ اللهُ مِنَ النَّارِ﴾ التي قذفوه فيها بأن جعلها عليه بردا وسلاما ﴿إن في ذلك﴾ أي إنجائه منه ﴿لَآيَاتٍ﴾ هي عدم تأثيرها فيه مع عظمها وإخمادها وإنشاء روض مكانها في زمن يسير ﴿لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾ يصدقون بتوحيد الله وقدرته لأنهم المنتفعون بها ﴿وَقَالَ﴾ إبراهيم ﴿إِنَّمَا اتَّخَذْتُم مِّن دُونِ اللهِ أَوْثَانًا﴾ تعبدونها وما مصدرية ﴿مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ﴾ خبر إن وعلى قراءة النصب مفعول له وما كافة المعنى تواددتم على عبادتها ﴿فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ﴾ يتبرأ القادة من الأتباع ﴿وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا﴾ يلعن الأتباع القادة ﴿وَمَأْوَاكُمُ﴾ مصيركم جميعا ﴿النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّاصِرِينَ﴾ مانعين منها ﴿فآمن له﴾ صدق بإبراهيم ﴿لوط﴾ وهو ابن أخيه هاران ﴿وَقَالَ﴾ إبراهيم ﴿إِنِّي مُهَاجِرٌ﴾ من قومي ﴿إِلَىٰ رَبِّي﴾ إلى حيث أمرني ربي وهجر قومه وهاجر من سواد العراق إلى الشام ﴿إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ﴾ في ملكه ﴿الْحَكِيمُ﴾ في صنعه ﴿ووهبنا له﴾ بعد إسماعيل ﴿إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ﴾ بعد إسحاق ﴿وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ﴾ فكل الأنبياء بعد إبراهيم من ذريته ﴿وَالْكِتَابَ﴾ بمعنى الكتب أي التوراة والإنجيل والزبور والفرقان ﴿وَآتَيْنَاهُ أَجْرَهُ فِي الدُّنْيَا﴾ وهو الثناء الحسن في كل أهل الأديان ﴿وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ﴾ الذين لهم الدرجات العلى ﴿و﴾ اذكر ﴿لوطا إذ قال لقومه أنكم﴾ بتحقيق الهمزتين وتسهيل الثانية وإدخال ألف بينهما على الوجهين في الموضعين ﴿لَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ﴾ أي أدبار الرجال ﴿مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ من العالمين﴾ الإنس والجن ﴿أئنكم لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ﴾ طريق المارة بفعلكم الفاحشة بمن يمر بكم فترك الناس الممر بكم ﴿وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ﴾ أي متحدثكم ﴿الْمُنكَرَ﴾ فعل الفاحشة بعضكم ببعض ﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللهِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ﴾ في استقباح ذلك وأن العذاب نازل بفاعليه ﴿قَالَ رَبِّ انصُرْنِي﴾ بتحقيق قولي في إنزال العذاب ﴿عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِينَ﴾ العاصين بإتيان الرجال فاستجاب الله دعاءه

ترجمه: کوم خلقو چه د الله تعالی آیتونه او دهغه ملاقات هیر کړي دي یعنی قرآن او بعث بعد الموت لره نو دا خلق زما د رحمت نه نا امیده شوی دي او دوی د پاره به دردناک عذاب وی الله تعالی د حضرت ابراهیم علیه السلام په قصه کښې فرمائی نو د هغوی قوم سره ددې نه سوا بل څه جواب نه وو چې وئ وئیل چه یا خودې قتل کړئ او یائې په اور کښې اوسوزئ خو آخرهم الله تعالی هغوی ددې اور نه بچ کړو چه په کوم کښې هغوی اچولی شوی وو په دې طریقه باندې چه هغه اور ابراهیم علیه السلام باندې سلامتیا والا او دهغوی د پاره گل گلزار شو بیشکه په دې کښې یعنی ابراهیم علیه السلام لره د اور نه خلاصولو کښې ډیرې نښې دي په دغه نښو کښې یو داهم وه چه دې دومره لوئې اور په حضرت ابراهیم علیه السلام کښې هیڅ قسمه اثر اونه کړو او

هغه اور مړشو او په لږ وخت کښې د اور په ځائې ښکلې ګلستان اوباغ جوړشو، ایمان والو دپاره یعنی دالله د توحید او د هغه دقدرت تصدیق کونکووالو دپاره، ځکه چه هم دغه خلق دنښو نه نفع اوفائده اغستونکی دی اوابراهیم علیه السلام داهم اوفرمائیل چه تاسو الله تعالی پریښې دې اویتان مو خپل معبودان ګرځولی دی دکومو چه تاسو عبادت کونې نو داستاسو دیوبل سره ددنیاوی تعلقاتو دوجې نه دی ما اتخذتم کښې ما مصدریه ده او مودة بینکم د انّ خبر دې او دنصب په صورت کښې به مودة مفعول له وی اوما به کافه وی، او دآیت معنی به داسې شی چه ددې بتانو دعبادت دوجې نه ستاسو دیو بل ترمینځه دادوستې تعلق قائم دې بیا دقیامت په ورځ به تاسو دیوبل نه منکر ئې سرداران به دخپلو ماتحتو نه دبیزارۍ اظهار اوکړی او په خپل مینځ کښې به په یوبل باندې لعنت وائې یعنی ماتحت به په سردارانو باندې لعنت وائی اودستاسو ټولو ټهکانه به دوزخ وی اوستاسو به هیڅ څوک مددګار یعنی داور نه دخلاصی دپاره نه وی نو لوط علیه السلام دابراهیم علیه السلام دنبوت تصدیق اوکړو اوهغه ددوی دروړ هاران ځوئې وو ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل زه دا خپل قوم پرېږدمه اودخپل پروردګار خودلې شوی ځائې ته هجرت کومه نو خپل قوم ئې پریخودلو اودعراق داطرافونه ئې دشام طرف ته هجرت اوکړو بیشکه هغه په خپل ملك کښې ډیر غالبه اوپه خپل کاریګرئې کښې ډیرحکمت والا دې اومونږه دوی له داسماعیل علیه السلام نه پس اسحاق اوداسحاق نه پس یعقوب ورکړو اومونږه ددوی په اولاد کښې نبوت جاری کړو نو ټول انبیاء ددوی نه پس هم ددوی په نسل کښې راغلی دی اوکتاب سلسله موجاری کړله اوکتاب په معنی دکتب سره یعنی تورات، انجیل، زبور، او دقرآن مجید اومونږه ددې صله دوی له په دنیاکښې هم ورکړله اوپه ټولو اهل مللو کښې ددوی ذکرجمیل دې اوبیشکه هغوی په آخرت کښې هم دصالحانو بندګانو نه دی دچادپاره چه عالی شان درجات دی، اود لوط ذکر اوکړئې کله چه هغوی خپل قوم ته اوفرمائیل چه تاسو داسې دبې حیائې کارونه کوئې یعنی تاسو سروسره بدفعلی کوئې چه دتاسو نه مخکښې عالم والو یعنی نه انسانانو اونه پیریانو کړې دې ددوارو همزو په تحقیق سره اوددوئیمې په تسهیل سره اود دوارو ترمینځه په دوارو صورتونو کښې په دوارو ځایونو کښې په الف داخلولو سره آیا تاسو نارینو سره بدفعلی کوئې اوتاسو تیریدونکو خلقو سره دبې حیائې کارونه کوئې اودمسافرو لاره بنده وې دکومې دوجې نه چه خلقو ستاسو په خوا کښې تیریدل پریخودل اوتاسو دخپل خبرو په مجلسونو کښې دیوبل سره دبې حیائې کارونه کوئې نو ددوی قوم سره ددې نه سوا بل څه جواب نه چې ویّ وئیل که چرته ته داکار بدګنړې اوپه دې خبره کښې چه داسې کارونه کونکو باندې د الله تعالی عذاب رانازلیدونکې دې رشتونکې ئې نو راوړه دالله عذاب نو لوط علیه السلام دا دعا اوکړه چه اې زما پروردګاره په عذاب نازلیدو کښې زما خبره

رشتیا کړه او دنارینو سره بدفعلی کونکی او نافرمانه قوم په مقابله کښې زما امداد اوکړه نو الله تعالی د حضرت لوط عليه السلام دعا قبوله کړه،

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: يئسوا من رحمتي :هم داهغه خلق دی چه د قیامت په ورځ به زما د رحمت نه ناامیده وی، يئسوا د ماضی صیغه ئې ددې دپاره استعمال کړه چه ددې واقع کیدل یقینی دی.

قوله: اقتلوه او حرقوه :دلته ئې حرف تردید سره اوفرمائیل او په سورة الانبیاء کښې ئې صرف یو یعنی حرقوه اوفرمائیل؟

جواب: دلته کښې ئې ددوی مشوره بیان کړې ده او په سورة الانبیاء کښې ئې د مشورې نه پس چه کومه فیصله په وجود کښې راغلې وه هغه بیان کړه (یعنی په اور کښې سوزول) نو هغې فیصلې د عملی جامې اغوستلو بیان دې،

قوله: التي قذفوه فيها :شارح ددې عبارت سره د محذوف کلام طرفته اشاره کړې ده نو تقدیر د کلام داشو فقذفوه في النار فانجاه الله من النار،

قوله: وقال ابراهيم: ددې عطف په فانجاه الله من النار باندې دې ای قال بعد انجائه من النار،

قوله: ان ما اتخذتم من دون الله اوثانا: په ما کښې درې ترکیبونه کیدې شی،

رومبی ترکیب: ما موصوله په معنی د الذی سره او عائد ئې محذوف دې او هم هغه د اتخذتم مفعول اول اوثانا مفعول ثانی او مودة د انّ خبر دې نو تقدیر د عبارت به داسې شی انّ الذی اتخذتموه اوثانا مودة (په دې صورت کښې به د مودة حمل په اوثانا باندې مبالغةً وی او که چرې د مودةٌ نه مخکښې ذو محذوف اوګنړلی شی نو حمل به درست وی) او په مودة باندې د نصب په صورت کښې به د انّ خبر محذوف وی نو تقدیر د عبارت به داسې وی الذی اتخذتموه اوثانا لاجل المودة لا ينفعوكم،

دوئیم ترکیب: ما کافه انّ د عمل نه منع کوی اوثانا اتخذتم دپاره مفعول به دې که چرې اتخذتم متعدی وی یو مفعول ته او که چرې متعدی وی دوو مفعولو ته نو مفعول ثانی به من دون الله وی، او که چرې مودة مرفوع اولوستلې شی نو بیا به د مبتدا محذوف دپاره خبر وی ای هی مودة جمله به په دې صورت کښې د اوثانا صفت وی، او جمله مستانفه هم کیدې شی، او که په مودة باندې نصب اووئیلې شی نو بیا به هغه د اتخذتم دپاره مفعول له وی نیز د اعنی محذوف په ذریعه هم منصوب کیدې شی،

درېیم ترکیب : ما: که چرې مصدریه اوګنړلې شی نو ددې نه پس به دوه صورتونه وی، د اتخاذنه وړاندې سبب مضاف محذوف اوګنړلی شی او تقدیر د عبارت به داوی انّ سبب

تخذكم اوثانا مودة او داهم جائزده چه سبب مضاف محذوف اونه گنړلی شی، بلکه مبالغةً هم نفس اتخاذمؤدة اوګنړلی شی اوپه مؤدةً باندې دنصب په صورت کښې به خبر محذوف وی لکه څنګه چه په رومبنی صورت کښې دی،

قوله: المعنی: دقراءت مذکوره حاصل معنی یعنی تاسوهم ددې بتانو دعبادت دوجې نه متفق شوی یئ،

قوله: صدق بابراهیم: یعنی حضرت لوط عليه السلام دحضرت ابراهیم عليه السلام دنبوت تصدیق اوکړو، نه که دنفس ایمان تصدیق ئې اوکړو څکه چه حضرت لوط علیه السلام خو دمخکښې نه مومن وو، په لوط به وقف لازم وی،

قوله: الی حیث امرنی ربی: ددې عبارت سره مقصودددیوشبهې جواب ورکول دی هغه داچه دالی‌ربی‌نه دالله تعالی دپاره جهت ثابتیږی حالانکه الله تعالی خودجهاتو نه پاك دې، نودهغه جواب ئې الی حیث امرنی ربی‌سره ورکړو،

قوله: سواد العراق: ای اطرافها یقال سواد البلد ای اطراف البلد،

قوله: لمن الصالحین: ای الصالحین الکاملین،

[ایاتونه: ۳۱ - ٤٤]

(وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَىٰ) بِإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ بَعْدَهُ (قَالُوا إِنَّا مُهْلِكُوا أَهْلِ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ) أَيْ قَرْيَةِ لُوطٍ (إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا ظَالِمِينَ) كَافِرِينَ (قَالَ) إِبْرَاهِيمُ (إِنَّ فِيهَا لُوطًا قَالُوا) أَيِ الرُّسُلُ (نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَنْ فِيهَا لَنُنَجِّيَنَّهُ) بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيدِ (وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ) الْبَاقِينَ فِي الْعَذَابِ (وَلَمَّا أَنْ جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ بِهِمْ) حَزِنَ بِسَبَبِهِمْ (وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا) صَدْرًا لِأَنَّهُ حِسَانُ الْوُجُوهِ فِي صُورَةِ أَضْيَافٍ فَخَافَ عَلَيْهِمْ قَوْمَهُ فَأَعْلَمُوهُ أَنَّهُمْ رُسُلُ رَبِّهِ (وَقَالُوا لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ إِنَّا مُنَجُّوكَ) بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ (وَأَهْلَكَ إِلَّا امْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ) وَنَصْبُ أَهْلَكَ عَطْفٌ عَلَى مَحَلِّ الْكَافِ (إِنَّا مُنْزِلُونَ) بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيدِ (عَلَىٰ أَهْلِ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا) عَذَابًا (مِنَ السَّمَاءِ بِمَا) بِالْفِعْلِ الَّذِي (كَانُوا يَفْسُقُونَ) بِهِ أَيْ بِسَبَبِ فِسْقِهِمْ (وَلَقَدْ تَرَكْنَا مِنْهَا آيَةً بَيِّنَةً) ظَاهِرَةً هِيَ آثَارُ خَرَابِهَا (لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ) يَتَدَبَّرُونَ (وَ) أَرْسَلْنَا (إِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَارْجُوا الْيَوْمَ الْآخِرَ) اخْشَوْهُ هُوَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ (وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ) حَالٌ مُؤَكِّدَةٌ لِعَامِلِهَا مِنْ عَثِيَ بِكَسْرِ الْمُثَلَّثَةِ أَفْسَدَ (فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ) الزَّلْزَلَةُ الشَّدِيدَةُ (فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ) بَارِكِينَ عَلَى الرُّكَبِ مَيِّتِينَ (وَ) أَهْلَكْنَا (عَادًا وَثَمُودًا) بِالصَّرْفِ وَتَرْكِهِ بِمَعْنَى الْحَيِّ وَالْقَبِيلَةِ (وَقَدْ تَبَيَّنَ لَكُمْ) إِهْلَاكُهُمْ (مِنْ مَسَاكِنِهِمْ) بِالْحِجْرِ وَالْيَمَنِ (وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ) مِنَ الْكُفْرِ وَالْمَعَاصِي (فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ) سَبِيلِ الْحَقِّ (وَكَانُوا مُسْتَبْصِرِينَ) ذَوِي بَصَائِرَ (وَ) أَهْلَكْنَا (قَارُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَلَقَدْ جَاءَهُمْ مُوسَىٰ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنَاتِ) الْحُجَجِ الظَّاهِرَاتِ (فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانُوا

سَابِقِيْنَ﴾ فَائِتِيْنَ عَذَابَنَا ﴿فَكُلًّا﴾ مِنَ الْمَذْكُوْرِيْنَ ﴿أَخَذْنَا بِذَنْبِهٖ فَمِنْهُمْ مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا﴾ رِيْحًا عَاصِفَةً فِيْهَا حَصْبَاء كَقَوْمِ لُوطٍ ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ﴾ كَثَمُوْد ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ﴾ كَقَارُوْن ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ أَغْرَقْنَا﴾ كَقَوْمِ نُوْحٍ وَفِرْعَوْنَ وَقَوْمِهٖ ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ﴾ فَيُعَذِّبَهُمْ بِغَيْرِ ذَنْبٍ ﴿وَلٰكِنْ كَانُوْا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ﴾ بِارْتِكَابِ الذَّنْبِ ﴿مَثَلُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ أَوْلِيَاءَ﴾ أَيْ أَصْنَامًا يَرْجُوْنَ نَفْعَهَا ﴿كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا﴾ لِنَفْسِهَا تَأْوِيْ إِلَيْهِ ﴿وَإِنَّ أَوْهَنَ﴾ أَضْعَفَ ﴿الْبُيُوْتِ لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوْتِ﴾ لَا يَدْفَعُ عَنْهَا حَرًّا وَلَا بَرْدًا كَذٰلِكَ الْأَصْنَامُ لَا تَنْفَعُ عَابِدِيْهَا ﴿لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ﴾ ذٰلِكَ مَا عَبَدُوْهَا ﴿إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا﴾ بِمَعْنَى الَّذِيْ ﴿يَدْعُوْنَ﴾ يَعْبُدُوْنَ بِالْيَاءِ وَالتَّاءِ ﴿مِنْ دُوْنِهٖ﴾ غَيْرِهٖ ﴿مِنْ شَيْءٍ وَهُوَ الْعَزِيْزُ﴾ فِيْ مُلْكِهٖ ﴿الْحَكِيْمُ﴾ فِيْ صُنْعِهٖ ﴿وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ﴾ فِي الْقُرْاٰنِ ﴿نَضْرِبُهَا﴾ نَجْعَلُهَا ﴿لِلنَّاسِ وَمَا يَعْقِلُهَا﴾ أَيْ يَفْهَمُهَا ﴿إِلَّا الْعَالِمُوْنَ﴾ الْمُتَدَبِّرُوْنَ ﴿خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ﴾ أَيْ مُحِقًّا ﴿إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً﴾ دَالَّةً عَلٰى قُدْرَتِهٖ تَعَالٰى ﴿لِلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ خُصُّوْا بِالذِّكْرِ لِأَنَّهُمُ الْمُنْتَفِعُوْنَ بِهَا فِي الْإِيْمَانِ بِخِلَافِ الْكَافِرِيْنَ

ترجمه: زمونږ لیږلي شوي فرشتې ابراهیم علیه السلام له داسحاق اوداسحاق نه پس داسحاق دخوئې یعقوب زیرې ورکولودپاره راغلې نو وئ وئیل چه مونږه دې کلی والو لره هلاکونکی یو یعنی د لوط علیه السلام کلی والا بیشکه ددې کلی والا خلق ظالمان یعنی کافران دی حضرت ابراهیم علیه السلام اووئیل چه په دوی کښې خولوط هم دې فرشتوورته اوفرمائیل څوک چه هلته دی مونږه هغوی ښه پیژنو مونږ به لوط اودهغوی اهل خاندان دهغوی دښځې نه علاوه ټول بچ اوساتو ځکه چه هغه خوبه په عذاب راګیریدونکی خلقو کښې پاتې کیدونکی وی اوکله چه زمونږه استازی لوط علیه السلام له راغلل نو دهغوی دوجې نه حضرت لوط غمژن شو اوزړه تنګې شو ځکه چه هغوی دخکلو هلکانو په شکل کښې میلمانه وو، نو ددوی په باره کښې ئې دخپل قوم نه اندیښنه اوکړه، نو هغوی ورته اووئیل چه مونږه ستا درب دطرف نه استازی رالیږلې شوی یو نوهغه ملائکو اووئیل چه تاسو اندیښنه مه کوئې اوغمژن کیږې هم مه مونږ به تاسو اوستاسو کوروالا دعذاب نه بچ اوساتو ستاسو دښځې نه علاوه چه هغه به په عذاب کښې پاتې کیدونکوکښې وی اوداهلك نصب دکاف په محل باندې د عطف دوجې نه دې مونږ به په دې کلی والوباندې د دوی دبدعملونو دوجې نه یعنی ددوی دنافرمانۍ اوپه سبب اسمانی عذاب نازلونکی یو البته مونږه ددې کلی ځنې ظاهری نښې یعنی ددوی دکورونو دکهنډراتو اثار دغوراوفکر کونکو خلقو دپاره پریخودی دی اومدین والوته مونږه ددوی رور شعیب پیغمبر جوړکړو ومولږلو نوهغوی اوفرمائیل ای زماقومه دقوم خلقوداللّٰه تعالی عبادت کوئې اودآخرت دورځې نه چه هغه دقیامت ورځ ده ویریږئ اوپه زمکه کښې فسادمه کوئې مفسدین دخپل عامل دپاره حال مؤکده دې اوعثی، دافسد، په معنی کښې دې نودې خلقو حضرت شعیب علیه السلام دروغژن اوګڼړلونودوی یوې جټکې یعنی تیزې زلزلې اونیول نوهغوی خوییاپه خپلو

کورونوکښې مړه دکونډودپاسه پاتې شواومونږه عاداوثمودهم هلاک کړل ثمودمنصرف اوغیرمنصرف دواړه کیدې شی، الحی، په معنی کښې منصرف او د القبیله په معنی کښې غیرمنصرف، ستاسو وړاندې دهغوی هلاکت په حجر اویمن کښې دهغوی د کورونو نه ظاهر دې اوشیطان دهغوی عملونه یعنی کفر او نور معصیتونه دهغوی په نظر کښې ښائسته کړې وو او هغوی ئې دحق دلارې نه بندکړی وو اوهغوی په عقلمند و کښې شمارلې کیدل، اومونږه قارون اوفرعون اوهامان هلاك کړل اوددې نه وړاندې دوی ته موسی علیه السلام ښکاره دلیلونه راوړې وو بیا هم دوی خلقو په زمکه کښې سرکشی اوکړه اوزمونږ د عذاب نه نشو تختیدلې نومونږه دا ټول مذکورین ددوی دګناهونو په سزاکښې رااونیول نو په دوی کښې موبه څنو باندې زول ورولیږلو یعنی تیزه هواچه په هغې کښې کودکانړې هم وولکه څنګه چه دلوط علیه السلام په قوم باندې اوپه دوی کښې څنی خلق سختې تیزې چغې (تیز اوان گیر کړل لکه ثمود شو اوپه دوی کښې موځنی په زمکه کښې خخ کړل لکه قارون اوپه دوی کښې موځنی غرق کړل لکه قوم د نوح اوفرعون او دهغه قوم اوالله تعالی داسې نه دې چه په دوی باندې ظلم اوکړی یعنی چه بغیر دجرم نه سزاورکړی خو دوی هم په خپله دجرمونو ارتکاب کولو په وجه په خپلو زانونو باندې ظلمونه کول اوکومو خلقو چه دالله تعالی نه علاوه نور کارساز جوړکړی دی یعنی بتان چه دهغوی نه دنفع توقعات لری ددوی مثال دجولاګی دجالې په شان دې چه د ځان دپاره یوکورجوړکړی چه په هغې کښې هغه تهکانه جوړه وی بیشکه په ټولو کورونوکښې دټولو نه کمزورې کور د جولاګی وی ځکه چه دهغه کور دهغه نه ګرمی هم نشی لرې کولې اویخنی هم، هم دغه شان بتان هم دی یعنی خپلو عبادت کونکو ته نفع نشی رسولی، اوکه چرې داخلق په دې حقیقت باندې پوهیدلې نو دوی به کله هم ددې بتانو عبادت نه ووکړې الله تعالی بیشکه هغه ټول څیزونه پیژنی دکوموچه دوی دالله تعالی نه علاوه عبادت کوی په یا اوتاسره هغه په خپل ملك کښې غالب دې اوپه خپل صنعت کښې حکمت والا دې مونږ دا قرآنی مثالونه دخلقو دپاره بیانو او په دې مثالونو صرف غوراوفکروالا عالمان پوهیږی الله تعالی اسمانونه اوزمکې برحق یعنی بامقصده پیدا کړی دی بیشکه په دې کښې دمؤمنانو دپاره دالله تعالی په قدرت باندې لوئې لوئې دلیلونه دی، مؤمنین ئې په خاصه توګه ځکه ذکرکړل چه ددې دلائلونه په ایمان کښې صرف هم مومن فائده اغستلی شی، په خلاف دکافرانو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اسحاق ویعقوب: په سورة هود کښې ددوؤ خبرودزیری ذکر دې، داسحاق اود یعقوب دولادت دزیری ذکر، اودقوم لوط دهلاکت خبر، لیکن دلته کښې شارح په یوباندې اکتفاء اوکړه ګویا چه دسابق تفصیل دوجې نه ئې دلته په اجمال باندې اکتفاء اوکړه، داحقرپه خیال کښې د، بعده، په ځائ که شارح، ولده، وئیلی وونودابه ډیره مناسبه وه

ځکه چه حضرت يعقوب عليه السلام دحضرت ابراهيم عليه السلام نوسې وو، دبعد ضمير دحضرت اسحاق عليه السلام طرف ته راجع دې يعنى حضرت ابراهيم عليه السلام له د اسحاق اوداسحاق نه پس دحضرت يعقوب عليه السلام زيرى ورکړى شونودې نه داوهم چه حضرت يعقوب عليه السلام هم داحضرت ابراهيم عليه السلام ځوئې دې حالانکې حضرت يعقوب دهغوى نوسې دې.

قوله: قرية لوط: ددې کلى نوم سدوم وو (جمل) په ځنې کتابونو کښې سدوم په دال سره دې، دادقوم لوط دکلومرکزى مقام وو، حضرت لوط عليه السلام هم په دې کلى کښې اوسيدلو.

قوله: كانت من الغابرين اى فى علم الله الازلى.

قوله: سيئ بهم: ددې تفسيرئې په حزن بسببهم سره اوکړو، چه دې طرف ته اشاره اوشى چه د سيئ دضمير مرجع حضرت لوط عليه السلام دې قاضى بيضاوى دسيئ ضمير مرجع مصدرمساة ګرځولې دې اى جاءت المساءة بهم خوشارح اول توجيه اختيارکړې ده او دې خبرې طرف ته هم اشاره ده چه په. بهم کښې، باء، سببيه ده

قوله: ذرعاً صدراً: د ذرعاً تفسير په صدراً سره کولو کښې دې طرف ته اشاره ده چه داتفسير دحاصل معنى په ذريعه سره دې ګنى نو د ذرعاً معنى ځو په قوت اوطاقت سره راځى، دارنګ ذرعاً د ضاق د نسبت نه تميزدې چه هغه دفاعل نه منتقل شوى دې نوتقديردعبارت به داسې شى، ضاق بامرهم.

قوله: لقوم يعقلون: د لقوم تعلق تركنا يا باية بابينة سره کيدى شى، خودريم احتمال ظاهر دې

قوله: وارجوا اليوم الاخرة: رجاء مشهوره معنى توقع اواميدده نو بعضې مفسرينو هم دامعنى مراد اخستى ده او ددې يومعنى ديرې هم ده، مفسر علام هم دغه معنى له ترجيح ورکړې ده، يعنى دقيامت په ورځ دالله تعالى نه اويرېږئ، اوپه رومبى صورت کښې به معنى اومطلب داشى چه تاسو خلق دآخرت په ورځ داجر اوثواب اميد اوساتئ.

قوله: من عثى: دا (سين اونون) دواړه بابونو نه مستعمل دې ددې معنى ده فساد خورول.

قوله: مفسدين: دلاتعثوا دضمير نه حال مؤکده دې ځکه چه دعثى کومه معنى ده نو هم هغه معنى دافسد هم ده نوګويا چه دا د لايتك عطوفاً دقبيل نه دې،

قوله: الرجفة: سخته زلزله، اوپه سورة هود کښې داسې راغلى دى فاخذتهم الصيحة په دواړو کښې هيڅ منافات نشته دې، حالانکه واقعه يوه ده ځکه چه دحضرت جبرائيل عليه السلام دآواز اوکړکې نه زلزله پيداشوه اودزلزلې دوجې نه هغوى هلاك شو،نوپه يوځاى کښې د عذاب اضافت سبب ته يعنى صيحة طرف ته اوشو اوبل ځاى کښې بل سبب يعنى رجفة ته اوشو

قوله: بالصرف وترکه: ددې دواړو تعلق صرف دثمود سره دې،

قوله: بالحجر: حجر دیووادې نوم دې، دا دمدینې اودشام په مینځ کښې واقع ده، دادقوم ثمودکلې وو، اوپه یمن کښې قوم عادآبادوو، دادواړه قومونه په عذاب الهي کښې تباه شوي وو.

قوله: ذوي بصائر: یعنی صاحب د بصیرت، عقلمند، تجربه کار، یعنی دوی څه لیونی اومجنونان نه وو بلکه ددنیاپه کارونوکښې ښه هوښیاران وو، نوکه چرې دوی غوښتل نو د توحید او د آخرت په معامله کښې هم دوی دعقل نه کاراغستلې شو مګر د دنیا حرص اوقومی تعصب ددوی نه بې بصیرته جوړ کړل،

قوله: قارون وفرعون: دلته کښې قارون مقدم کړې شو، حالانکه په سرکشۍ اوتکبر کښې فرعون دقارون نه ډیرزیات اوچت اوخطرناك وو، خو قارون چونکه دحضرت موسی علیه السلام رشته داروویعنی دتره خوئې ئې وونوددې وجې نه هغه ته یو قسمه شرف اوعزت حاصل وو، نو هم ددې وجې نه ئې قارون په فرعون باندې مقدم کړو،

قوله: العنکبوت: بیت العنکبوت ددې نه دجولا ګی جالا مراده ده، جولا ګې په څوقسمه باندې دې، دلته کښې هغه جولا ګې مراددې چه هغه په عامه توګه په کورونوکښې جالې اچوی، په صاوی کښې دی چه دجولا ګی اته خپې اوشپږ سترګې وی، دې په قانع ترین حیواناتو کښې دې، په خپله جاله کښې ښه په صبراوقناعت سره ناست وی، الله تعالی دده دصبراوقناعت دوجې نه دټولونه حریص ترین حیوان، مچ اوماشې ددې خوراك جوړ کړې دې، چه هغه ددې په جاله کښې ګیرشی اودده خوراك اوغذا جوړه شی، په عنکبوت کښې نون اصلی دې او واو او تاء پکښې زائددی، ددې وجې نه ددې جمع عناکب اوتصغیر عنیکب راځی، ددې اطلاق په واحد، جمع، مذکر، اومونث په ټولو باندې کیږی، اګرچه کثیراالاستعمال په تانیث کښې دې.

قوله: ماعبدوها: دلوکانوایعلمون جزاء ده،

قوله: ما بمعنی الذي: ما د، یعلم، مفعول دې ای یعلم الذین یدعونهم اوځنی حضراتو ما استفهامیه توبیخیه مراداخستی ده، نوپه ددې صورت کښې به مایدعون من دونه من شيء دیعلم او د وهوالعزیزالحکیم په مینځ کښې جمله معترضه شی.

قوله: محقاً: سره دې خبرې ته اشاره ده چه بالحق جار مجرور دملابست دپاره دې اودلفظ دالله نه حال دې ای محقاً غیرقاصدبه باطلاً،

پاره نمبر ۲۱ [اُتْلُ مَآ]

[ایاتونه: ۴۵ـ۵۱]

﴿اُتْلُ مَا اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ﴾ القرآن ﴿وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ﴾ شرعًا اي من شانها ذلك ما دام المرء فيها ﴿وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ﴾ من غيره من الطاعات ﴿وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ﴾ فيجازيكم به ﴿وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِيْ﴾ اي المجادلة التي ﴿هِيَ اَحْسَنُ﴾ كالدعاء الى الله باياته والتنبيه على حججه ﴿اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ﴾ بان حاربوا وابوا ان يقروا بالجزية فجادلوهم بالسيف حتى يسلموا او يعطوا الجزية ﴿وَقُوْلُوْٓا﴾ لمن قبل الاقرار بالجزية اذا اخبروكم بشيء مما في كتبهم ﴿اٰمَنَّا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَاُنْزِلَ اِلَيْكُمْ﴾ ولا تصدقوهم ولا تكذبوهم في ذلك ﴿وَاِلٰهُنَا وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ﴾ مطيعون ﴿وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ﴾ القرآن كما انزلنا اليهم التوراة وغيرها ﴿فَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ﴾ التوراة كعبد الله بن سلام وغيره ﴿يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ﴾ بالقرآن ﴿وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ﴾ اهل مكة ﴿مَنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ﴾ بعد ظهورها ﴿اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ﴾ اي اليهود وظهر لهم ان القرآن حق والجائي به محق وجحدوا ذلك ﴿وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ﴾ اي القرآن ﴿مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ اِذًا﴾ اي لو كنت قارئا كاتبا ﴿لَّارْتَابَ﴾ شك ﴿الْمُبْطِلُوْنَ﴾ اي اليهود فيك وقالوا الذي في التوراة انه امي لا يقرا ولا يكتب ﴿بَلْ هُوَ﴾ اي القرآن الذي جئت به ﴿اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ﴾ اي المؤمنون يحفظونه ﴿وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الظّٰلِمُوْنَ﴾ اي اليهود وجحدوها بعد ظهورها لهم ﴿وَقَالُوْا﴾ اي كفار مكة ﴿لَوْلَآ﴾ هلا ﴿اُنْزِلَ عَلَيْهِ﴾ اي على محمد ﴿اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ﴾ وفي قراءة آيات كناقة صالح وعصا موسى ومائدة عيسى ﴿قُلْ﴾ لهم ﴿اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ﴾ ينزلها كيف يشاء ﴿وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ﴾ مظهر انذاري بالنار اهل المعصية ﴿اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ﴾ فيما طلبوا ﴿اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ﴾ القرآن ﴿يُتْلٰى عَلَيْهِمْ﴾ فهو آية مستمرة لا انقضاء لها بخلاف ما ذكر من الآيات ﴿اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ﴾ الكتاب ﴿لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى﴾ عظة ﴿لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ﴾

ترجمه: کوم کتاب چه په تاسو باندې يعنى قرآن نازل کړې شوى دې تاسو دا لولئ او د مونځ پابندى کوئ يقيناً بيشکه مونځ د بې حيائۍ او شرعاً ناروا کارونو نه منع کونکې دې يعنى د مونځ شان داسې ترسو پورې چه انسان په مانځه کښې وى بيشکه دالله تعالىٰ ذکر د نورو نيکو کارونو په مقابله کښې ډيرلوئې څيز دې او تاسو چه څه کوئ الله تعالىٰ ددې نه ښه خبردار دې دې به هغه تاسو له جزاء درکوى او اهل کتابو سره جګړه مه کوئ مګر په مهذب طريقې سره مثلاً دالله د طرف ته د هغه په آياتونو سره دعوت ورکړئ او د هغې په دلائلو باندې تنبيه اوکړئ مګر هغه چا سره کوم چه په دوى کښې زياتې اوکړى داسې چه هغوى محاربه (جنګ) اوکړى يا د جزيې نه انکار اوکړى نو داسې خلقو سره په توره باندې جهاد اوکړئ تر دې پورې چه يا خو اسلام قبول کړى او يا جزيه ورکول منظور کړى،

اوکوموکسانو چه د جزيې ورکولو اقرار کړې دې نو چه کله هغوی خپلو کتابونو نه تاسو ته دغه خبرې خبر درکړی نو تاسو ورته اووائې چه زمونږ خو په هغه کتاب باندې ايمان دې کوم چه په مونږ باندې نازل کړې شوې دې او په هغه هم کوم چه په تاسو باندې نازل کړې شوې دې او ددې خبر په باره کښې مه ددوی تصديق کوئ اونه تکذيب اوزمونږ اوستاسو معبود يو دې او مونږټول دهغه حکم منونکی يو يعنی دهغه اطاعت گزاريو اومونږ هم دغه شان په تاسو باندې کتاب يعنی قرآن نازل کړې دې لکه څنګه چه په دوی باندې تورات وغيره نازل کړې وو، نو کوموخلقو ته چه مونږکتاب تورات ورکړې دې لکه عبدالله بن سلام وغيره نوهغوی په دې کتاب يعنی قرآن باندې هم ايمان راوړې دې اودې خلقو يعنی په اهل مکه کښې څنی داسی دی چه په قرآن باندې ئې ايمان راوړې دې اوزمونږ دآيتونونه ددې دظاهريدونه پس سوا دکافرانو نه يعنی ديهوديانو نه هيڅ څوک هم منکرنشته دې اوپه دوی باندې داظاهره شوه چه قرآن حق دې اوددې راوړونکې هم په حقه باندې دې بياهم ددې منکر شول تاسو ددې کتاب يعنی د قرآن نه مخکښې بل هيڅ يو کتاب نه وو وئيلې اونه تاسو په خپل لاس باندې يو کتاب ليکلې وو کنی که چرته تاسو ليکل اولوستل پيژندل نودې باطل پرستو يهوديانو به ستاسو په باره کښې ضرورشک کولو او وئيل به ئې چه دکوم راتلونکی نبی ذکر په تورات کښې راغلی دې نوهغه خوبه امی وی، ليکل اولوستل وغيره هيڅ څيز به نه پيژنی (اودانبی خوليکل او لوستل پيژنی) بلکه داقرآن کوم چه تاسو راوړې دې پخپله دهغه خلقو په زړه کښې چاته چه علم ورکړې شوې دې يعنی مومنان کوم چه ددې قرآن حفاظت کوی واضح اوښکاره دليلونه دی اوزمونږ دآيتونونه سوا دظالمانو نه څوک هم منکرنه دی يهوديانو ددې خبرې باوجودچه دا آيتونونه ښه ښکاره اوواضح دې خوبيائې هم انکار اوکړو، دمکې کافرانو اووئيل چه ولې په محمد باندې يوه نښه دده درب دطرف نه نازله نه شوه اوپه يو قراءت کښې دآيت په ځائې آيات راغلی دی، لکه د صالح عليه السلام اوښه، او دموسی عليه السلام کونتې، او دعيسی عليه السلام دسترخوان، تاسو ورته اووائې چه نښې خو دالله تعالی په اختيارکښې دی چه په چاباندې ئې غواړی نو په هغوی باندې ئې نازل کړی زه خوصفاصفا ويرونکې يمه زه ګناهګاران دجهنم داورنه ويروم نو آيا دوی ته د خپلې مطالبې په سلسله کښې دکافی نه ده چه مونږ داقرآن په تاسو باندې نازل کړې دې کوم چه دوی باندې اوروٌلی شی داکتاب خو داسې نښه ده چه دابه هميشه پاتې وی اوکله به هم ختم نشی، بخلاف دهغه نښو دکومو چه شاته ذکر اوکړې شو په دې کتاب کښې رحمت هم دې اونصيحت هم دې دايمان والو دپاره.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اتل ما اوحی اليك : اې محمد چه کله تاسوته دخپل قوم دايمان نه راوړلو افسوس اوغم وی نو تاسو دقرآن تلاوت کوئې، نوتاسوته به په دې خبرې تسلی ملاوېږی چه

حضرت نوح او حضرت لوط (عليهما السلام) ته هم داسې قسمه حالات راپيښ شوي وو، ځکه چه تاسو ته راپيښ شوي دي يار اپيښيدونکي دي، دارنګ هغوى درسالت په تبليغ کښې اوددلا ئلو په قائمولو کښې د ډيرزيات محنت او مبالغې نه کاراخستې وو، خو ددې باوجود هغوى خپل قومونه دضلالت اودجهالت نه بچ نه کړې شونو چه کله تاسو دقرآن تلاوت کوئې او دانبياؤ مذکورينو حالات تاسو ته معلوميږي نو تاسو ته به د دې په ذريعې سره تسلى ملا ويږي،

قوله: الفحشاء والمنكر: ، فحش، هغه بدکارته وئيلى شي چه شريعت هغې ته بد وئيلى وي او دشريعت په نظر کښې هغه بد وى اګر که په عام عرف کښې خلق هغه ښه ګڼړي.

قوله: مادام المرء فيها: دايوقول دې ورنه صحيح خبره داده چه دفواحشو اومنکر اتونه منع کول دمونځ خاصه ده خو په دې شرط چه مونځ کښې دشرائطو اود آدابو رعايت اوساتلې شي، اوپه پابندې سره اوکړې شي، که چرته څوک دمانځه دپابندې باوجوددفواحشو نه نه منع کيږي نو هغه دې په دې خبره باندې پوهه شي چه دهغه په مانځه کښې دشرائطو اود آدابو په لحاظ سره کمي دې، نو قصور او کمي دده دطرفه دې، دمونځ په خاصيت کښې دځه قسمه کمي نشته دې،

قوله: كعبدالله بن سلام: داسبقت قلم دې ځکه چه داسورت مکى دې، اوحضرت عبدالله بن سلام په مدينه کښې اسلام راوړې دې لهذا عبدالله بن سلام په مثال کښې پيش کول درست نه دى، البته دامکن ده چه داخبار بالغيب په توګه الله تعالى دحضرت عبدالله بن سلام دايمان خبرورکړې وى،

قوله: من كتاب: من كتاب دتتلوامفعول دې اومن زائده دې،

قوله: لوكنت قارئا كاتبا: دالف نشر مرتب دې،

قوله: اليهود: د مبطلون په تفسير کښې ديهود وتخصيص مناسب نه دې ځکه چه دنصارى هم داحال وو نو که د اليهود په ځاې باندې كاليهود وئيلې شوى وونو ډيره به مناسبه وه ددې دپاره چه ديهودونه علاوه هرمنکرِ قرآن ته شامل شى،

قوله: اولم يكفهم: همزه محذوف باندې داخل دې او واؤ عاطفه دې او يكفهم معطوف دې په محذوف باندې نو تقدير دعبارت به داسې شى، اجهلوا ولم يكفهم، لودا استفهام توبيخى دې،

قوله: انا انزلنا: ان اوپه ځه چه ان داخل ده دمصدرپه تاويل ديکف فاعل دې نو تقدير د عبارت به داسې شى اولم يكفهم انزالنا،

[اياتونه: ٥٢ـ٦٣]

(قُلْ كَفَى بِاللّٰهِ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ شَهِيدًا) بِصِدْقِي (يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ) وَمِنْهُ حَالِي وَحَالُكُمْ (وَالَّذِينَ آمَنُوا بِالْبَاطِلِ) وَهُوَ مَا يُعْبَدُ مِنْ دُونِ اللّٰه (وَكَفَرُوا بِاللّٰهِ) مِنْكُمْ (أُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ) فِي صَفْقَتِهِمْ حَيْثُ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالإِيمَانِ (وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَوْلَا أَجَلٌ مُسَمًّى) لَهُ (لَجَاءَهُمُ الْعَذَابُ) عَاجِلًا (وَلَيَأْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ) بِوَقْتِ إِتْيَانِهِ (يَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ) فِي الدُّنْيَا (وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ) (يَوْمَ يَغْشَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ وَنَقُولُ) فِيهِ بِالنُّونِ أَيْ نَأْمُرُ بِالْقَوْلِ وَبِالْيَاءِ يَقُولُ أَيِ الْمُوَكَّلُ بِالْعَذَابِ (ذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ) أَيْ جَزَاءَهُ فَلَا تَفُوتُونَنَا (يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِي وَاسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِ) فِي أَيِّ أَرْضٍ تَيَسَّرَتْ فِيهَا الْعِبَادَةُ بِأَنْ تُهَاجِرُوا إِلَيْهَا مِنْ أَرْضٍ لَمْ تَتَيَسَّرْ فِيهَا نَزَلَ فِي ضُعَفَاءِ مُسْلِمِي مَكَّةَ كَانُوا فِي ضِيقٍ مِنْ إِظْهَارِ الإِسْلَامِ بِهَا (كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ) بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ بَعْدَ الْبَعْثِ (وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ) نُنْزِلَنَّهُمْ وَفِي قِرَاءَةٍ بِالْمُثَلَّثَةِ بَعْدَ النُّونِ مِنَ الثَّوَاءِ الإِقَامَةِ وَتَعْدِيَتُهُ إِلَى غُرَفًا بِحَذْفِ فِي (مِنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ) مُقَدَّرِينَ الْخُلُودَ (فِيهَا نِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ) هَذَا الأَجْرُهُم (الَّذِينَ صَبَرُوا) أَيْ عَلَى أَذَى الْمُشْرِكِينَ وَالْهِجْرَةِ لِإِظْهَارِ الدِّينِ (وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ) فَيَرْزُقُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُونَ (وَكَأَيِّنْ) كَمْ (مِنْ دَابَّةٍ لَا تَحْمِلُ رِزْقَهَا) لِضَعْفِهَا (اللّٰهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ) أَيُّهَا الْمُهَاجِرُونَ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَعَكُمْ زَادٌ وَلَا نَفَقَةٌ (وَهُوَ السَّمِيعُ) لِأَقْوَالِكُمْ (الْعَلِيمُ) بِضَمَائِرِكُمْ (وَلَئِنْ) لَامُ قَسَمٍ (سَأَلْتَهُمْ) أَيِ الْكُفَّارَ (مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللّٰهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ) يُصْرَفُونَ عَنْ تَوْحِيدِهِ بَعْدَ إِقْرَارِهِمْ بِذَلِكَ (اللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ) يُوَسِّعُهُ (لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ) امْتِحَانًا (وَيَقْدِرُ) يُضَيِّقُ (لَهُ) بَعْدَ الْبَسْطِ أَوْ لِمَنْ يَشَاءُ ابْتِلَاءً (إِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ) وَمِنْهُ مَحَلُّ الْبَسْطِ وَالتَّضْيِيقِ (وَلَئِنْ) لَامُ قَسَمٍ (سَأَلْتَهُمْ مَنْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللّٰهُ) فَكَيْفَ يُشْرِكُونَ بِهِ (قُلِ) لَهُمْ (الْحَمْدُ لِلّٰهِ) عَلَى ثُبُوتِ الْحُجَّةِ عَلَيْكُمْ (بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ) تَنَاقُضَهُمْ فِي ذَلِكَ

ترجمه: تاسو ورته او وائې چه الله تعالى زما او ستاسو په مينځ كښې زما په رښتينو الى باندې گواه كافى دې په آسمانونو او په زمكو كښې چه څه دې هغه ته ددې د هريو خبرې علم دې او هم په هغې كښې زما او ستاسو حال هم دې او كوم خلق چه په باطل باندې او هغه د الله نه علاوه هر هغه څيزدې د كوم چه عبادت كولى شي يقين ساتى او په تاسو كښې د الله تعالى نه منكرين دى هم داخلق دى چه كوم په خپله سودا كښې نقصان او چتونكى دى په دې توگه چه هغوى د ايمان په بدله كښې كفر اختيار كړو او داخلق تاسو نه دعذاب په باره كښې تلوار كوى او كه چرې دعذاب مدت متعين نه وو نو په دوى به زرترزره عذاب راغلې وو او په دوى باندې به هغه عذاب دفعة يعنى په يو خل راځى او دوى ته به ددې عذاب دراتللو خبر هم نه وى دا خلق تاسو نه په دنيا كښې د عذاب تقاضا كوى نو تاسو لره تسلى ساتې بيشكه جهنم كافرانو لره راگيرونكې دې په

کومه ورځ چه به دا خلق عذاب دېره نه اودلاندې نه راګیرکړی دعذاب ذمه داري فرښتې به اووائي دخپلو عملونو جزا اوڅکې به بقول کښې نون اویا دواړه دی که نون وی نو مطلب به داشی چه مونږ به فرښتو ته ددې خبرې حکم ورکوونو زمونږ نه به دوی بچ نه شی، اې زما ایماندار بندګانو زمکه ډېره فراخه ده نوهم زماعبادت اوکړئې چه په کوم ځائې کښې هم عبادت آسان وی نوکه په دې زمکه کښې عبادت کول آسان نه وی نو چه په کوم ځائې کښې عبادت آسان وی نوهلته هجرت اوکړئې (یعنی چه په کوم ځائې کښې عبادت کول آسان وی) داایت دمکې دکمزورې مسلمانانو په باره کښې نازل شوی دې کوم چه په مکه مکرمه کښې داسلام دظاهرولو په وجه په تنګې اوپه سختې کښې وو، هرژنده سریه دمرګ مزه څکی بیابه تاسو ټول دژوندې کیدونه پس زمونږ طرف ته واپس کولې شئ، ترجعون به تاء او یاء دواړو سره دې او کومو خلقو چه ایمان راوړلو اونیک عملونه ئې اوکړل نومونږه به دوی له دجنت په بالاخانو کښې ځایونه ورکړوچه د هغې دلاندې به نهرونه بهیږی اودجنت به بالاخانو کښې به همیشه همیشه اوسیږی یعنی مونږه ددوی دپاره دجنت په بالاخانو کښې همیشه همیشه اوسیدل لیکلی دی دعمل کونکواجرڅومره ښائسته دې دا اجر، دا هغه خلق دی چه هغوی دمشرکینو په تکلیفونو باندې اوددین په اظهارباندې صبر اوکړو او په خپل رب باندې توکل کوی نوهغه به دوی له په داسې طریقې باندې رزق ورکړی چه ددوی به وهم اوګمان هم نه وی اوډیرځناور داسی دی چه هغوی دخپلې کمزورې دوجې نه خپل رزق اچتولې نه شی، اې هجرت کونکوالله تعالی به تاسوله هم رزق درکړی او هغوی له به هم اګرکه تاسو سره دلارې خرچه او دخوراك دپاره څه نه وی هغه ستاسو خبرې اورېدلو والا دې اوستاسو دزړونو رازونه پیژندلو والا دې اوکه چرته تاسوددوی نه یعنی د کافرانونه تپوس اوکړئې چه داآسمانونه اوزمکې چاپیدا کړی دی؟ اونمر اوسپوږمې چامسخر کړې دی؟ ولئن کښې لام قسم دې نویقیناً دوی به هم دغه جواب درکوی چه الله پیدا کړې دی نوبیا دا خلق د توحید د اقرار کولو نه پس کوم خواه الوری روان دی؟ الله تعالی په خپل بندګانو کښې چه دچادپاره اوغواړی دآزمائش په توګه دهغوی رزق فراخه کړی اودفراخه کولو نه پس دهغوی رزق تنګ کړی یادآزمینبت په توګه چه دچادپاره اوغواړی نورزق ورله تنګ کړی بیشکه الله تعالی دهرڅیز په حال باندې خبردار دې اوهم په دغه (معلوم) شی کښې درزق دفراخه کولو او د تنګولو محل هم دې اوکه چرته تاسو د دوی نه تپوس اوکړئ چه هغه کوم ذات دې چه د آسمانه ئې اوبه راوورولې اوددې اوبو په ذریعه ئې زمکه داوچیدونه پس تروتازه کړه؟ نویقیناً دوی به هم داجواب درکوی چه الله تعالی دااوکړل نوبیاهغه سره ولې خلق شریکان جوړه وی؟ تاسواووائې چه په تاسو باندې حجت ثابتولو نه پس الحمد لله، بلکه په دوی کښې اکثرخلق په دې معامله کښې (په خپل قول کښې) په تناقض هم نه پوهیږی،

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله:صفقة: په لاس باندې لاس وهل، لاسونه پرقول، دعربوعادت ووچه دبیع تمامیدل ظاهرولو د پاره به ئې دبیع په اخره کښې د یو بل په لاس لاس باندې لاس وهلو، دلته کښې مطلقاً بیع مراده ده، کوم ته چه دتجارت په اصطلاح کښې سودا وئیلی شي،

قوله:فاياي فاعبدون :اياي د ماقبل محذوف فعل دوجې نه منصوب دې اوددې نه روستوفعل ددې تفسیرکوی نوتقدیر دعبارت به داشی، فاعبدوااياي فاعبدون

قوله.لنبوئنهم:جمع متکلم لام تاکیدبانون تاکیدثقیله دې، بوّء،یبوّء،تبوئة(تفعیل)بوّءماده ده، معنی ئې تهکانه ورکول،ځائې درست کول،راځی، اوپه یو قراءت کښې لنثوینهم ای لنقیمنهم نه مشتق دې په معنی داقامت سره، ددې دویم قراءت مطابق غرفاً به مفعول به وی، نثوی دننزل معنی لره متضمن کیدودوجې نه، نوپه دې صورت کښې دبه ننزل معنی لره د متضمن کیدو دوجې نه متعدی بدومفعول وی، مفعول اول به هم ضمیروی اودویم مفعول به غرفاً وی خود فی په تقدیرسره، ای فی غرف من الجنة اوپه رومبی قراءت کښې غرفاً مفعول ثانی دې اوهم مفعول اول دې ځکه چه بوأ متعدی بدومفعول دې، قال الله تعالٰی تبوّئ المومنين مقاعدللقتال،اوکله کله متعدی وی په لام سره کماقال الله تعالٰی واذ بوانالابراهيم مكان البيت،

قوله:تجري من تحتها الانهار:داجمله دغرفاً دپاره صفت دې،

قوله:والذين امنوا:مبتدأ ده اولنبوئنهم ددې خبردې او والذين امنوا دفعل محذوف دوجې نه منصوب هم کیدی شی، کوم باندې چه روستوراتلونکې فعل دلا لت کوی په دې صورت کښې به دا دباب اشتغال نه وی،

قوله:مقدرين الخلود فيها: په دې کښې اشاره ده دې طرفته چه خالدین، حال مقدره دې، ای حين الدخول يقدرون الخلود،

قوله:هذالاجر:دامخصوص بالمدح دې،

قوله:الذين صبروا:د هم مبتدأ محذوف خبردې لکه څنګه چه شارح ظاهر کړې دې اود العاملین صفت هم کیدې شی،

قوله:وكاين من دابة:كاين مبتدأ مميز، او من دابة ددې تمیز، لاتحمل ددابة صفت، الله يرزقها تولّه جمله دکاین مبتدأ دپاره خبر،

[اياتونه: ٦٤ ـ ٦٩]

{وَمَا هَٰذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ} وَأَمَّا الْقُرَبُ فَمِنْ أُمُورِ الْآخِرَةِ لِظُهُورِ ثَمَرَتِهَا فِيهَا {وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ} بِمَعْنَى الْحَيَاةِ {لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ} ذَلِكَ مَا آثَرُوا الدنيا عليها {فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ} أَيِ الدُّعَاءَ أَيْ لَا يَدْعُونَ مَعَهُ غَيْرَهُ لِأَنَّهُمْ فِي شِدَّةٍ لَا يَكْشِفُهَا إِلَّا هُوَ {فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ} بِهِ {لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ} مِنَ النِّعْمَةِ {وَلِيَتَمَتَّعُوا} بِاجْتِمَاعِهِمْ عَلَى عِبَادَةِ الْأَصْنَامِ وَفِي قِرَاءَةٍ بِسُكُونِ اللَّامِ امر تهديد {فسوف يعلمون} عاقبة ذلك {أَوَلَمْ يَرَوْا} يَعْلَمُوا {أَنَّا جَعَلْنَا} بَلَدَهُمْ مَكَّةَ {حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ} قَتْلًا وَسَبْيًا دونهم {أَفَبِالْبَاطِلِ} الصَّنَمِ {يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَكْفُرُونَ} بإشراكهم {وَمَنْ أَظْلَمُ} أَيْ لَا أَحَدَ أَظْلَمُ {مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا} بِأَنْ أَشْرَكَ بِهِ {أَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ} النَّبِيِّ أَوِ الْكِتَابِ {لَمَّا جَاءَهُ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى} مَأْوًى {لِلْكَافِرِينَ} أَيْ فِيهِ ذَلِكَ وَهُوَ مِنْهُمْ {وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا} فِي حَقِّنَا {لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا} اي طريق السير إلينا {وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ} الْمُؤْمِنِينَ بِالنَّصْرِ وَالْعَوْنِ

ترجمه: او دا دنيا ژوند دلوبو ټوقونه سواهيڅ څه نه دي البته عبادتونه نوهغه خودآخرت داموررو نه دی ځکه چه ددې ثمرات خوبه په آخرت کښې ظاهريږي، اواصلی ژوندخوهم دآخرت ژونددې که چرې دا خلق په خبره باندې زان پوهيدلې نو د دنيا ژوند له به ئې دآخرت په ژوند باندې ترجيح نه ورکوله، نوبياچه داخلق کله په کشتوکښې سواره شی نو په خالص اعتقادسره دالله تعالى نه دعاکوی يعنی هغه سره بل څوك شريك نه جوړوی، اوبل څوك نه رابلی ځکه چه دوی په دغه وخت کښې په يوه لوئې پريشانۍ کښې مبتلا وی، او دا پريشانی دالله تعالى نه علاوه بل څوك نه شی ختمولې، بياچه کله دوی ته نجات ورکړی او د خشکې طرف ته ئې راولی نوسمدستی د هغه سره شريکان جوړکړی ددې دپاره چه زمونږ د ورکړې شوی نعمت ناقدری اوکړی او چه داخلق دبتانوپه عبادت باندې راجمع شی اولږه نوره فائده ترينه هم واخلی اوپه يوقرا ءت کښې وليتمتعوادلام په سکون سره امرتهديدی دې، دوی ته به زر ددې دانجام پته اولګی آيادوی ته علم نشته دې چه مونږه دمکې ښار امن والا جوړکړې دې اوددې په ارخونوکښې نورخلق دقتل اوقيدپه ذريعه باندې تختولې شی آياداخلق ددروغوپه معبودانو باندې ايمان روړی اوالله سره شريک کوی او د هغه دنعمت ناشکری کوی د هغه چا نه به لوئې ظالم بل څوک وی؟ يعنی ددې نه لوئې ظالم بل څوك هم نشته دې، چه کوم په الله تعالى باندې بهتان تړی په دې توګه چه هغه سره شرك کوی، ياچه کله دۀ ته حق يعنی نبی يا کتاب راشی نو دهغه تکذيب اوکړی نوآيا دکافرانو ځائې په جهنم کښې نه دې؟ اوداسې کس دجهنميانو نه دې اوکوم خلق چه خالص زمونږ دپاره جهادکوی نو مونږ به داسې خلقوته مونږ ته د رارسيدو لارې خامخاخايوبيشکه الله تعالى دخپل نصرت اومد په ذريعه سره احسان کونکو يعنی مومنانوسره دې،

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله:اللهوا: ددنیادلذتونه خونداخستل، اوځنې حضراتو وئیلی دی چه لهوأ په بې مطبله ځیزونو کښې مشغول لیدلو ته وئیلی شی، اواللعب هوالعبث۔

قوله حیوان :ژوند، ژوندتیرول، حیوان، حیی یحی (س) نه مصدردې اوپه اصل کښې، حییان وو نو دویمه، یاء، په واؤ سره بدل کړې شوه، دا د حیاة نه زیات بلیغ دې، ځکه چه «فعلان» په وزن کښې دحرکت او اضطراب معنی ده کوم چه د حیاة لازمه ده، هم داوجه ده چه دلته کښې دحیاة په ځائې دحیوان لفظ استعمال کړې شو، (لغات القرآن)_

قوله:لوکانوایعلمون:ذلک،یعلمون دپاره مفعول دې لو حرف شرط دې او ما اثروا الدنیا علیها جواب شرط دې،

قوله:ای الدعاء: دا دمعنی دتعیین دپاره دې، ددین دلفظ مختلفې معانی راځی، نود، الدعاء،په ذریعه ئې ځکه تفسیر اوکړوچه په ډیرومعنوکښې یوه معنی متعین کړې شی،

قوله:اذا هم یشرکون : دادفلما جواب دې مطلب دادې چه دغرقیدونه ځنګه نجات اوموموی او سمدستی شرك شروع کړی،

قوله:لیکفروا:کښې لام، لام کی، دې اودلیتمتعواعطف په لیکفروا باندې دې،

تنبیه:که دلام کی په ځائې دلته کښې دلام نه مراد لام د عاقبت واخستلی شی نوهغه به زیات مناسب وی (جمل) په یوقراء ت کښې دلام په سکون سره دې نو په دې صورت کښې به لام، لام امروی په دواړو فعلونو کښې، خودلته کښې بیا داشبه کیدې شی چه ددېنه خودا لازمیږی چه الله تعالی دفعل قبیح امراوحکم کړې دې حالانکه الله تعالی خوحکیم ذات دې، اوحکیم خودقبیح حکم نه کوی، نو شارح امر تهدید وئیلو سره ددې سوال جواب ورکړو، یعنی دامر نه مرادامردامتثال نه دې بلکه امرتوبیخ او تهدید مراد دې، اوفسوف یعلمون دادامردتهدیدی کیدوقرینه ده،

قوله:ویتخطف: جمله حالیه ده اوددې نه وړاندې هم مبتدأ محذوف ده، نوتقدیر دعبارت داسې دې، وهم یتخطف الناس،

قوله:فیها ذلك: په دې کښې اشاره دې طرف ته ده چه په الیس فی جهنم کښې همزه د انکار دپاره ده اودا استفهام تقریری ځکه دې چه، لیس، حرف نفی ده کله چه په دې باندې همزه انکاری داخله شی نو نفی النفی په ایجاب باندې دلالت کوی، نوپه دې کښې دتقریر معنی پیداشوه، مطلب دادې چه دکافرانو ځائې بیشکه او بې شبه جهنم دې،

[۳۰] سورة الروم

سورة الروم مَكِّيَّة و هي ستون او تسع و خمسون اية

سوره روم مکی دی او دا ۶۰ یا ۵۹ آیتونه دی.

[ایاتونه: ۱ - ۱۰]

بسم الله الرحمن الرحيم ﴿الٓمٓ﴾ اللّٰه أعْلَم بِمُرَادِهِ فِي ذَلِكَ ﴿غُلِبَتِ الرُّومُ﴾ وَهُمْ أَهْل الْكِتَاب غَلَبَتْهَا فَارِس وَلَيْسُوا أَهْل كِتَاب بَلْ يَعْبُدُونَ الْأَوْثَان فَفَرِحَ كُفَّار مَكَّة بِذَلِكَ وَقَالُوا لِلْمُسْلِمِينَ نَحْنُ نَغْلِبكُمْ كَمَا غَلَبَتْ فَارِس الرُّوم ﴿فِي أَدْنَى الْأَرْضِ﴾ أَيْ أَقْرَب أَرْض الرُّوم إلَى فَارِس بِالْجَزِيرَةِ الْتَقَى فِيهَا الْجَيْشَانِ وَالْبَادِي بِالْغَزْوِ الْفُرْس ﴿وَهُمْ﴾ أَيْ الرُّوم ﴿مِّنۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ﴾ أُضِيفَ الْمَصْدَر إلَى الْمَفْعُول أَيْ غَلَبَة فَارِس إيَّاهُمْ ﴿سَيَغْلِبُونَ﴾ فَارِس ﴿فِي بِضْعِ سِنِينَ﴾ هُوَ مَا بَيْنَ الثَّلَاث إلَى التِّسْع أَوْ الْعَشْر فَالْتَقَى الْجَيْشَانِ فِي السَّنَة السَّابِعَة مِنْ الْإِلْتِقَاء الْأَوَّل وَغَلَبَتْ الرُّوم فَارِس ﴿لِلَّهِ الْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِنۢ بَعْدُ﴾ أَيْ مِنْ قَبْل غَلَب الرُّوم وَمِنْ بَعْده الْمَعْنَى أَنَّ غَلَبَة فَارِس أَوَّلًا وَغَلَبَة الرُّوم ثَانِيًا بِأَمْرِ اللّٰه أَيْ إرَادَته ﴿وَيَوْمَئِذٍ﴾ أَيْ يوم تغلب الروم ﴿يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ﴾ ﴿بِنَصْرِ اللَّهِ﴾ إيَّاهُمْ عَلَى فَارِس وَقَدْ فَرِحُوا بِذَلِكَ وَعَلِمُوا بِهِ يَوْم وُقُوعه يَوْم بَدْر بِنُزُولِ جِبْرِيل بِذَلِكَ مَعَ فَرَحهمْ بِنَصْرِهِمْ عَلَى الْمُشْرِكِينَ فِيهِ ﴿يَنصُرُ مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ﴾ الْغَالِب ﴿الرَّحِيمُ﴾ بِالْمُؤْمِنِينَ ﴿وَعْدَ اللَّهِ﴾ مَصْدَر بَدَل مِنْ اللَّفْظ بِفِعْلِهِ وَالْأَصْل وَعَدَهُمْ اللّٰه النَّصْر ﴿لَا يُخْلِفُ اللَّهُ وَعْدَهُ﴾ بِهِ ﴿وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ﴾ أَيْ كُفَّار مَكَّة ﴿لَا يَعْلَمُونَ﴾ وَعْده تَعَالَى بِنَصْرِهِمْ ﴿يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ أَيْ مَعَايِشهَا مِنْ التِّجَارَة وَالزِّرَاعَة وَالْبِنَاء وَالْغَرْس وَغَيْر ذَلِكَ ﴿وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ هُمْ غَافِلُونَ﴾ إعَادَة هُمْ تأكيد ﴿أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنفُسِهِم﴾ لِيَرْجِعُوا عَنْ غَفْلَتهمْ ﴿مَّا خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ لِذَلِكَ تَفْنَى عِنْد انْتِهَائِهِ وَبَعْده الْبَعْث ﴿وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ﴾ أَيْ كُفَّار مَكَّة ﴿بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ لَكَافِرُونَ﴾ أَيْ لَا يُؤْمِنُونَ بالبعث بعد الموت ﴿أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾ مِنْ الْأُمَم وَهِيَ إهْلَاكهمْ بِتَكْذِيبِهِمْ رُسُلهمْ ﴿كَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً﴾ كَعَادٍ وَثَمُود ﴿وَأَثَارُوا الْأَرْضَ﴾ حَرَثُوهَا وَقَلَبُوهَا لِلزَّرْعِ وَالْغَرْس ﴿وَعَمَرُوهَا أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا﴾ أَيْ كُفَّار مَكَّة ﴿وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ﴾ بِالْحُجَجِ الظَّاهِرَات ﴿فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ﴾ بِإِهْلَاكِهِمْ بِغَيْرِ جُرْم ﴿وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ﴾ بِتَكْذِيبِهِمْ رُسُلهمْ ﴿ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِينَ أَسَاءُوا السُّوأَىٰ﴾ تَأْنِيث الْأَسْوَأ الْأَقْبَح خَبَر كَانَ عَلَى رَفْع عَاقِبَة وَاسْم كَانَ عَلَى نَصْب عَاقِبَة وَالْمُرَاد بِهَا جَهَنَّم وَإِسَاءَتهمْ ﴿أَن﴾ أَيْ بِأَنْ ﴿كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ﴾ القرآن ﴿وَكَانُوا بِهَا يَسْتَهْزِئُونَ﴾

ترجمه: الٓمٓ ددې په مراد باندې الله تعالى ښه پوهيږي روميان مغلوبه شول دوی اهل کتاب وو دوی اهل فارس مغلوبه کړل او اهل فارس اهل کتاب نه وو، بلکه بت پرست وو، په ددې خبرې اهل مکه ډيرزيات خوشحاله شول، او مسلمانانو ته ئې اوويل چه مونږ به تاسو هم دغه شان مغلوبه کړو لکه څنګه چه اهل فارس روميان مغلوبه کړل، په نزدې زمکه

کښې يعنې دجزيره روم په هغه علاقه کښې کومه چه فارس ته ډيره زياته نزدې وه، هلته کښې ددواړولښکرو مقابله شوې وه اوهغوی يعنې روميان به دمغلوبه کيدونه پس دمصدر اضافت خپل مفعول طرف ته کړې شوی دې اى غلبة فارس اياهم، دجنګ شروع کونکی اهل فارس وو، عنقريب په يو څو کالو کښې په اهل فارس باندې غالب راشي اوهغه ددرې کالونه تردره نهه کالونو په مينځ کښې دې، نودروميې مقابلې نه اووه کاله پس دوباره دواړه لښکرونه دجنګ دپاره يو بل ته مخامخ شول، اوروميان په اهل فارس باندې غالبه شول، په روميې اوپه آخره کښې اختيارصرف د الله دې يعنې دروم دغلبې نه وړاندې اودروم دغلبې نه روستو، معنى داشوه چه داهل فارس غالب راتلل اووړپسې درروميانو غالب راتلل په اهل فارس باندې داټول دالله په حکم او ارادې سره وو، اوپه دغه ورځ به يعنې چه کله روميان غالبه راغلل نومسلمانان داهل فارس په مقابله کښې روميانو سره دالله تعالى په امدادباندې خوشحاله شي نومسلمانان په دې واقعه باندې خوشحاله شول، اوددې نصرت (غلبې) علم ددبدر په ورځ حضرت جبرائيل عليه السلام دوحې په ذريعه سره اوخودلو، اودا خوشحالی مسلمانانوته په مشرکانو باندې دبدر په ورځ نصرت (غلبې) سره حاصله شوی وه، هغه چه دچا اوغواړي نوامداد ئې کوی هغه غالب دې په حقيقت کښې غالب اومهربان هم الله پاک دې دا الله وعده ده داپه تلفظ کښې دخپل فعل نه بدل کړې شوې دې په اصل کښې داسې عبارت دې وعدهم الله النصرالله تعالى په امداد کښې دخپلې وعدې خلاف ورزی نه کوی خو اکثرخلق يعنې دمکې کافران مؤمنانو سره دالله تعالى دنصرت په وعده نه پوهيږی هغوی خو صرف ددنيا د ژوند په ظاهر يعنې دمعاش په طريقوباندې مثلاً تجارت، ز ميندارى، تعميرات اوونې نال کول وغيره باندې ښه پوهيږی، اوهغوی دآخرت نه بالکل بې خبره دی اود (هم) دلفظ اعاده دتاکيددپاره ده، آيادې خلقو په خپلو زړونو کښې په دې خبرې باندې نه دې کړې؟ ددې دپاره چه دخپل غفلت نه منع شی، چه الله تعالى آسمان اوزمکه اوڅه چه ددې په مينځ کښې دی داټول خيزونه ئې په يوې قرينې اوديوټاکلې وخت دپاره پيداکړی دی اوهم داوجه ده چه د خپل مدت پوره کيدونه پس به سمدستی دټول څيزونه فناشی، او ددې نه پس به (ژوندی کيدو) نه پس دوباره راپاسيدل وی يقيناً اکثرخلق يعنې دمکې کافران دخپل رب دملاقات نه منکر دی يعنې دمرګ نه پس په ژوندی کيدوباندې يقين نه ساتی، آيادوی په زمکه کښې دګرځيدوسره دانه ګوری چه ددوی نه وړاندې خلق يعنې تيرشوی امتونه دهغوی څه انجام شو؟ اوهغه ددوی هلاکت دې درسولانو دتکذيب کرلودوجې نه اوهغوی ددوی نه ډيرطاقتورو مثلاً عاداوثمود اوهغوی هم زمکه کرله اوزميندارى اوونې نال کولو دپاره به ئې زمکه نرموله اواړوله او دمکې والونه ئې ډيره آباده کړې وه اودوی له ددې رسولانوروښانه يعنې واضح دليلونه راوړلی وه، دا خو ناممکن ده

چه الله تعالی دوی بغیر د جرم نه هلاک کړی اوپه دوی باندې ظلم اوکړی لیکن اصل خبره دا ده چه دوی به پخپله په خپلو ځانونو باندې د پیغمبرانو د دروغژن ګنړلو دوجې نه ظلم کولو آخر د بدکارکونکو انجام هم ډیر بد شو السُّوأی. د لسوء تانیث دې په معنی د اقبح او که په عاقبة باندې رفع وی نو سوای به د کان خبر وی او د کان فعل تذکیر به د عاقبة د مؤنث مجازی کیدو د وجې نه وی. او که چرې په عاقبة باندې نصب شی نو السوای به د کان اسم وی او دبدانجامې نه مراد جهنم دې، او ددوی دبدانجامې وجه دا شوه چه دوی دالله تعالی د آیتونو قرآن تکذیب اوکړو او هغوی به په دې آیتونو پسې توقې اومسخرې کولې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله غلبت الروم: روم دیو قبیلې نوم دې، کوم چه ددوی د جد امجد یعنی نیکه په ذریعه پشت کښې، روم بن عیصو بن اسحاق بن ابراهیم په نوم سره موسوم وو

قوله: الجزیرة: د دجله اودفرات مینځنې علاقې ته وئیلې شی. دلته کښې جزیرة العرب مرادنه دې.

قوله: بالجزیرة: دمحذوف متعلق دې اود الارض دپاره صفت دې ای ارض الروم الکائنة بالجزیرة وقد فرحوا بذلك ای بنصره

قوله: یوم وقوعه یوم بدر: یوم بدر د یوم وقوعه نه بدل دې، بنزول دا دلموا سره متعلق دې یعنی دروم دغلبې علم دبدر دواقعې په ورځ اوشو، رومیانوته هم په دې ورځ غلبه حاصله شوه اومسلمانانوته په مشرکانو باندې دبدر په مقام کښې غلبه حاصله شوه، مسلمانانوته دخبر دحضرت جبرائیل په ذریعه سره راورسیدو.

[آیاتونه: ۱۱ ـ ۱۹]

{اللّٰهُ یَبْدَأُ الْخَلْقَ} أَيْ يُنْشِئُ خَلْقَ النَّاسِ {ثُمَّ یُعِیْدُهُ} أَيْ خَلْقَهُمْ بَعْدَ مَوْتِهِمْ {ثُمَّ إِلَيْهِ يرجعون} بالياء والتاء {وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ الْمُجْرِمُوْنَ} يَسْكُتُ الْمُشْرِكُوْنَ لانقطاع حجتهم {وَلَمْ يَكُنْ} أَيْ لَا يَكُوْن {لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَائِهِمْ} مِمَّنْ أَشْرَكُوهُمْ بِاللّٰهِ وَهُمُ الْأَصْنَامُ لِيَشْفَعُوا لَهُمْ {شُفَعَاءُ وَكَانُوْا} أَيْ يَكُوْنُوْنَ {بِشُرَكَائِهِمْ كَافِرِيْنَ} أَيْ مُتَبَرِّئِيْنَ مِنْهُمْ {وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ} تَأْكِيْد {يَتَفَرَّقُوْنَ} الْمُؤْمِنُوْنَ والكافرون {فَأَمَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ} جَنَّة {يُحْبَرُوْنَ} يُسَرُّوْنَ {وَأَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِآيَاتِنَا} القرآن {وَلِقَاءِ الْآخِرَةِ} البعث وغيره {فَأُولٰئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ} {فَسُبْحَانَ اللّٰهِ} أَيْ سَبِّحُوا اللّٰهَ بِمَعْنَى صَلُّوا {حِيْنَ تُمْسُوْنَ} أَيْ تَدْخُلُوْنَ فِي الْمَسَاءِ وَفِيْهِ صَلَاتَانِ الْمَغْرِبُ وَالْعِشَاءُ {وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ} تَدْخُلُوْنَ فِي الصَّبَاحِ وَفِيْهِ صَلَاةُ الصُّبْحِ {وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ} اعْتِرَاض وَمَعْنَاهُ يَحْمَدُهُ أَهْلُهُمَا {وَعَشِيًّا} عطف عَلَى حِيْن وَفِيْهِ صَلَاةُ الْعَصْرِ {وَحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ} تَدْخُلُوْنَ فِي الظَّهِيْرَةِ وَفِيْهِ صَلَاةُ الظُّهْرِ {يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ

النَّبت، كالإنسان مِن النُّطفة وَالطَّائِر مِن البَيضة (وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ) النُّطفة وَالبَيضة (مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِي الْأَرْضَ) بالنبات (بَعْدَ مَوْتِهَا) أي يَبسهَا (وَكَذَٰلِكَ) الإخراج (تُخْرَجُونَ) مِن القُبُور بالبناء لِلفَاعِل وَالمفعُول

ترجمه. الله تعالی دمخلوق ابتداء کوی یعنی دانسانو تخلیق ظاهر وی (یعنی دعدم نه وجود ته ئې راولی، اوبیابه هم هغه ددوی دمرګ نه پس ددوی دتخلیق اعاده کوی بیابه تاسوټول دهغه طرف ته واپس ګرځولی شی، په تاء او یاء سره اوپه کومه ورځ چه قیامت به قائم شی نومجرمان به حیرانه پاتی شی، اومشرکین به دلا جواب کیدونه پس غلی اوخاموشه پاتی شی، اوددوی شرکاؤ کښې به ددوی دپاره څوک هم سفارش کونکی نه وی یعنی په هغه شریکانو کښې کوم چه دوی به الله تعالی سره شریك جوړکړی وودې دپاره چه دهغوی سفارش اوکړی، اوهغه بتان وو . اودابت پرسته خلق به د خپلو شریکانونه انکاراوکړی یعنی دهغوی نه به دبراء ت اظهار اوکړی، اوپه کومه ورځ چه قیامت قائم شی نوموٴمنان اوکافران به جداجداشی یومئذ درومبی یوم دپاره تاکیددې، خوچه کومو خلقو ایمان روړلو اونیک عملونه ئې اوکړل نوهغوی به دجنت به باغونوکښې بته په خوشحالې سره اوسیږی اوهغه خلق کومو چه کفراوکړواوزمونږ آیتونه قرآن اودآخرت پیښه یعنی بعث بعدالموت وغیره ئې دروغ اوګنړله نوهم داسې خلق به دالله په عذاب کښې ګرفتاره وی نودالله تعالی تسبیح بیانوئ یعنی چه کله تاسودمابنام په وخت کښې داخلیږئ نومونځ کوئ، سبحواد صلواپه معنی کښې دې اوپه دې وخت کښې دوه مونځونه دی مغرب اوعشاء اوکله چه تاسو دسحرپه وخت کښې داخلیږئ نو مونځ کوئ یعنی دسحروخت اوپه دې وخت کښې چه دسحرمونځ شی په آسمانونواوزمکه کښې هم دهغه حمدکیږی داجمله معترضه ده اومعنی ئې داده چه زمکې اوآسمانونو والا دهغه حمدبیانوی، اودمابنام په وخت کښې مونځ کوئ اوددې عطف په حین باندې دې اوپه دې وخت کښې دمازیګرمونځ دې، اوکله چه تاسودماسپښن په وخت کښې داخل شئ نومونځ کوئ اوپه دې وخت کښې دماسپښن مونځ دې اوهم هغه ذات دمړی نه ژوندې پیداکوی لکه انسان دنطفې نه اومارغه د اګې نه اومړې لکه نطفه او اګې د ژوندی نه پیداکوی اوزمکه دنباتاتوپه ذریعه ددې د مړکیدونه یعنی د اوچیدونه پس ژوندې کوی اوهم دغه شان به تاسوهم راویستلې شئ،

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: یبدؤ الخلق : دماضی په ځائې دمضارع صیغه استعمال کړه ددې دپاره چه په تجددباندې دلا لت اوکړی ځکه بدؤ او خلق هروخت اوهره لمحه کیږی اوچه ترڅوپورې دنیاقائمه وی نو تجدد به کیږی ، په یبدؤا کښې واؤ دجمع دپاره نه دې بلکه دجمع سره دمشابهت دوجې نه ددې په اخره کښې الف لیکلې شوی دې خولوستلې نه شی اودنه

لوستلونښه ئې داده چه په الف باندې پوه وره ګول دائره شان جوړه شوې وي،

قوله: ينشئ د ببدؤ اتفسيرئې په ينشئ سره د معنى د بيان دپاره اوكړو، ددې معنى ده ظاهرول يعنى چه دعدم نه وجود طرف ته راوستل يوم تقوم الساعة دبطس دپاره ئې ظرف مقدم دې،

قوله. لا يكون: دلم يكن تفسيرئې پ لا يكون سره اوكړو، په دې كښې دخبرې طرفته اشاره ده چه، لم يكن، اګركه دماضى په معنى دې خودلته دمضارع معنى مراده ده،

قوله: بشركائهم كافرون: بشركائهم د كافرين متعلق مقدم دې،

قوله: يحبرون: دحبرنه مضارع جمع مذكرغائب (ن) دوى به خوشحاله كړې شى، اوددوى به عزت اوكړې شى،

قوله: بمعنى صلوا: د سبحوا تفسير ئې په صلواسره اوكړو په دې كښې دې خبرې طرفته اشاره ده چه تسبيح په قول، فعل اوزړه درې واړه طريقوسره كيږى، اوصلوة دې ټولوته شامل اوجامع دې، اود، سبحان الله تفسير ئې په سبحوا الله سره اوكړو، په دې كښې دې خبرې طرفته اشاره ده چه خبر دامر په معنى دې او سبحان مصدردې ددې نه وړاندې فعل محذوف دې، اى سبحوا سبحاناً

قوله: تمسون اود تصبحون تفسير ئې په تدخلون سره اوكړو په دې كښې دې خبرې طرفته اشاره ده چه دواړه فعل تام دى، په دې آيت كښې دپنځو مونځونو ذكر دې،

قوله: اعتراض: يعنى دمعطوف اودمعطوف عليه په مينځ كښې جمله معترضه ده،

[اياتونه: ۲۰-۲۷]

﴿وَمِنْ آيَاتِهِ﴾ تعالى الدالة على قدرته ﴿أَنْ خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ﴾ أي أصلكم آدم ﴿ثُمَّ إِذَا أَنْتُمْ بَشَرٌ﴾ من دم ولحم ﴿تَنْتَشِرُونَ﴾ في الأرض ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا﴾ فخلقت حواء من ضلع آدم وسائر الناس من نطف الرجال والنساء ﴿لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا﴾ وتألفوها ﴿وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ﴾ جميعا ﴿مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ﴾ المذكور ﴿لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ في صنع الله تعالى ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ﴾ أي لغاتكم من عربية وعجمية وغيرهما ﴿وَأَلْوَانِكُمْ﴾ من بياض وسواد وغيرهما وأنتم أولاد رجل واحد وامرأة واحدة ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ﴾ دلالات على قدرته تعالى ﴿لِلْعَالِمِينَ﴾ بفتح اللام وكسرها أي ذوي العقول واولي العلم ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ مَنَامُكُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ﴾ بإرادته تعالى راحة لكم ﴿وَابْتِغَاؤُكُمْ﴾ بالنهار ﴿مِنْ فَضْلِهِ﴾ أي تصرفكم في طلب المعيشة بإرادته ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ﴾ سماع تدبر واعتبار ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ يُرِيكُمُ﴾ أي إراءتكم ﴿الْبَرْقَ خَوْفًا﴾ للمسافر من الصواعق ﴿وَطَمَعًا﴾ للمقيم في المطر ﴿وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيُحْيِي بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا﴾ اي يبسها بأن تنبت ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ﴾ المذكور ﴿لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ يتدبرون ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ تَقُومَ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ بِأَمْرِهِ﴾ بإرادته من غير عمد ﴿ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ﴾

دَعْوَةً مِنَ الْأَرْضِ﴾ بِأَنْ يَنْفُخَ إِسْرَافِيلُ فِي الصُّورِ لِلْبَعْثِ مِنَ الْقُبُورِ ﴿إِذَا أَنْتُمْ تَخْرُجُونَ﴾ مِنْهَا أَحْيَاءً فَخُرُوجُكُمْ مِنْهَا بِدَعْوَةٍ مِنْ آيَاتِهِ تعالى ﴿وَلَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ مُلْكًا وَخَلْقًا وَعَبِيدًا ﴿كُلٌّ لَهُ قَانِتُونَ﴾ مُطِيعُونَ ﴿وَهُوَ الَّذِي يَبْدَأُ الْخَلْقَ﴾ لِلنَّاسِ ﴿ثُمَّ يُعِيدُهُ﴾ بَعْدَ هَلَاكِهِمْ ﴿وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ﴾ مِنَ الْبَدْءِ بِالنَّظَرِ إِلَى مَا عِنْدَ الْمُخَاطَبِينَ مِنْ أَنَّ إِعَادَةَ الشَّيْءِ أَسْهَلُ مِنِ ابْتِدَائِهِ وَإِلَّا فَهُمَا عِنْدَ اللهِ تَعَالَى سَوَاءٌ فِي السُّهُولَةِ ﴿وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَى فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ أَيِ الصِّفَةُ الْعُلْيَا وَهِيَ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ﴿وَهُوَ الْعَزِيزُ﴾ فِي مُلْكِهِ ﴿الْحَكِيمُ﴾ فِي خَلْقِهِ

ترجمه: او دالله تعالی په هغه نښو کښې کومې چه دهغه په قدرت باندې دلالت کوی چه هغه تاسو یعنی ستاسو اصل آدم علیه السلام دخاورې نه پیداکړواوبیاتاسو دفعةً دوینې او دغوښې انسانان جوړشوې اوپه زمکه کښې ګرځې راګرځې اوهم دهغه د قدرت په نښو کښې داهم ده چه تاسو له ئې ستاسو دجنس بیبیانې جوړې کړې نو حضرت حواء ئې دآدم علیه السلام دپښتې نه پیداکړه اونورې تولې ښځې ئې دسړو اودښځو دنطفو نه پیداکړلې ددې دپاره چه تاسو په هغوی سره ارام حاصل کړئ اوهغوی سره الفت اوکړئ، اوپه تاسو تولو کښې ئې مینه اوهمدردی پیداکړه یقیناً په دې مذکوره څیزونوکښې دالله په کاری ګری کښې غور او فکرکونکو دپاره دقدرت نښې دی اوهم دهغه د قدرت په نښو کښې دآسمانونو اوزمکې پیدائش اوستاسو دژبو یعنی دلغاتو اختلاف هم دې، څنې عربی دی اوځنې عجمی دی، او ستاسو درنګونو اختلاف دې دچارنګ سپین دې اودچه رنګ تور دې حالانکه تاسوټول دیو سړی اودیوښځې اولاد ئې، دعقلمندانو دپاره یقیناً په دې کښې دالله تعالی په قدرت باندې دلالت کونکی نښې دی العالمین،دلام په فتحې اوکسرې سره یعنی عقل اوعلم لرونکو د پاره. او دهغه دقدرت په نښو کښې ستاسو په شپه اوپه ورځ کښې دالله تعالی په ارادې سره ستاسو دراحت دپاره اوده کیدل هم دی اوپه ورځ کښې ستاسو دهغه دروزق نه طلب کول دی یعنی درزق دطلب دپاره دالله تعالی په ارادې اومشیت سره ستاسو کوشش اوګرځیدل دی بیشکه په دې کار کښې هم دهغه خلقو دپاره کوم چه دغورافکراودعبرت دپاره اوریدل کوی دقدرت نښې دی اودهغه په نښوکښې د مسافرانو یرولو دپاره او د مقیم خلقوته دباران امید ورکولو دپاره دبجلې پرق ښودل هم دی اوهم هغه داسمان نه اوبه راوروی چه دهغې په ذریعه مړه زمکه یعنی اوچه زمکه راژوندې کوی په دې طریقه باندې چه هغه وابنه اوګیاګانې رازرغونی کړی بیشکه په دې مذکوره خبروکښې هم د غوراوفکر کونکو دپاره دقدرت نښې دی اود هم هغه دقدرت په نښو کښې داهم دی چه آسمان اوزمکه دهغه په حکم یعنی ارادې سره بغیر دستنونه ولاړاوقائم دی اوبیاچه کله به هغه تاسو ته اواز درکړی نوهم په یواوازباندې به تاسو داسې چه اسرافیل علیه السلام به قبرونونه د راپاخولو دپاره شپیلې اووهی نوتاسوبه

سمدستي دزمكې نه يعنى دقبرونو نه ژوندى راوځې نو ستاسو دقبرونونه په يو آوازباندې سمدستى راوچتيدل هم داالله تعالى دقدرت په نښوكښې دى، اودزمكې اودآسمان هر يوشيز دهغه دې دملك په اعتبارسره اودمخلوق كيدلو په اعتبارسره اودغلام كيدلو په اعتبار سره، اوهريو شيزهم داهغه فرمانبرداردې اوهم هغه دې چه په اول ځل خلق پيداكوى اوبيا دهغوى دهلاك كيدونه پس به ئې دوباره پيداكوى اوداعاده دهغه دپاره دابتداء پيداكولونه ډيره آسانه ده مخاطبينوته د نسبت په اعتبارسره، ځكه چه دشى اعاده دهغې د ابتداء نه آسانه وى، گنى ابتداء اواعاده خوالله تعالى ته دسهولت په اعتبارسره برابردى په آسمانونو اوپه زمكه كښې دهغه شان اوچت دې يعنى دهغه صفت اعلى اواوچت دې اوهغه داچه دهغه نه علاوه بل څوك معبودنشته دې، اوهم هغه په خپل ملك كښې غالب دې اوپه خپل تخليق كښې حكمت والا دې،

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اصلكم: مقدر راويستلوسره ئې اشاره دې طرفته اوكړه چه خلقكم كښې د كم نه وړاندې مضاف محذوف دې اودائې هم اوخودل چه داصل نه مرادحضرت آدم عليه السلام دې

قوله: ثم: په ثم سره تعبير كولوكښې ئې تاخير دتغيراتو ته اشاره وكړه ځكه چه دغذانه اول نطفه جوړيږى اوبياعلقه اوبيامضغه، اوددې ټولو تغيراتو وقفه څلويښت څلويښت ورځې وى، اوچه كله يوسل اوشل ورځې اوشى نودغوښې په دې تكړه كښې روح پوك وهلى شى، نوهغه سمدستى انسان جوړشى اذا مفاجاتيه دې، اگرچه اذا مفاجاتيه اكثر د فا نه روستوراځى، مگرډيركرته د ، واو ، نه روستوهم راځى، د اذا په ذكر كولو كښې مقصود دا دې چه كله مذكوره درې واړه تغيرات مكمل شى نو بيابشرجوړيدوكښې وخت نه لگى، يعنى روح پوك وهلو سره سمدستى انسان جوړشى،

قوله: ومن آياته يريكم البرق

قوله: يريكم: په اصل كښې ان يريكم وو ، ددې دوجې نه يريكم د ، اراءتكم مصدرپه معنى كښې دې نو أن مصدريه ئې حذف كړو مفسر علام هم د ، يريكم ، تفسير په اراءتكم سره ځكه اوكړو چه د ، ان مصدريه په حذف باندې دلا لت اوكړى اود ، ان مصدريه ، حذف په كلام عرب كښې شائع اوذائع دې، لكه تسمع بالمعيدى خير من ان تراه

اى ان تسمع، يريكم البرق مبتدأ مؤخرده او ومن آياته خبرمقدم دې،

قوله: خوفاً وطمعاً: دا د يريكم مفعول له دې،

قوله: هو: ددې مرجع اعاده ده كوم چه د يعيده نه مفهوم كښې راځى، هو ، ضمير ئې دخبر درعايت دوجې نه مذكرراوړلو ، هواهون عليه مبتدأ مؤخر ده.

قوله: بالنظر الى ما عند المخاطبين: مفسر علام په ددې عبارت سره دیو شبهې جواب ورکول غواړي هغه شبه داده چه الله تعالى دپاره ابتداء اواعاده دواړه برابردي، يعنى آسان دي خود، هواهون عليه، نه داسې معلوميږي چه اعاده الله تعالى ته هم د ابتداء نه اسانه ده؟

جواب: دجواب خلاصه داده چه په دې كښې دانسانو په اعتبارسره يوه اصولى خبره ښودلې شوې ده اودعقل تقاضاهم داده چه د ابتداء جوړولو په اعتبارسره ثانياً ديو څيز جوړول اسان وي،

دوئم جواب: دادې چه اهون، اسم تفضيل د، هينٌ، په معنى كښې دې

دريم جواب: اوځنې حضراتو دا جواب وركړې دې چه، هو اهون عليه، كښې، عليه، ضمير مخلوق طرفته راجع دې نه كه د خالق اوالله تعالى طرفته، اومطلب دادې چه كله شپيلې پوك وهلې شي نومخلوق دپاره به عودكول په نسبت دابتدا اسان وي ځكه چه ځنګه دروح تعلق دانسان دجسم سره پيدا شو نو بس اعاده هم اوشوه، بخلاف دابتداء نه چه په دې كښې دمختلف بدلون اودتغيراتونه پس ژوندملاويږي، مثلاً رومبې خلويښت ورځ كښې علقه جوړيږي ددې نه پس څلويښت ورځې مضغه جوړيږي نوپه دې طريقه باندې په دې كښې تاخير راځي كوم چه دعودپه اعتبارسره ډيرګران اومشكل دې، (حاشيه جلالين)

[اياتونه: ۲۸ـ ۴۰]

(ضَرَبَ) جَعَلَ (لَكُمْ) أَيُّهَا الْمُشْرِكُونَ (مَثَلًا) كَائِنًا (مِنْ أَنفُسِكُمْ) وهو (هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ) أَيْ مِنْ مَمَالِيكِكُمْ (مِنْ شُرَكَاء) لَكُمْ (فِي مَا رَزَقْنَاكُمْ) مِنَ الْأَمْوَالِ وَغَيْرِهَا (فَأَنْتُمْ) وَهُمْ (فِيهِ سَوَاءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ) أَيْ أَمْثَالَكُمْ مِنَ الْأَحْرَارِ وَالِاسْتِفْهَامُ بِمَعْنَى النَّفْيِ الْمَعْنَى لَيْسَ مَمَالِيكُكُمْ شُرَكَاءَ لَكُمْ إِلَى آخِرِهِ عِنْدَكُمْ فَكَيْفَ تَجْعَلُونَ بَعْضَ مَمَالِيكِ اللَّهِ شُرَكَاءَ لَهُ (كَذَلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ) نُبَيِّنُهَا مِثْلَ ذَلِكَ التَّفْصِيلِ (لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ) يَتَدَبَّرُونَ (بَلِ اتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا) بِالْإِشْرَاكِ (أَهْوَاءَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ فَمَنْ يَهْدِي مَنْ أَضَلَّ اللَّهُ) أَيْ لَا هَادِيَ لَهُ (وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ) مَانِعِينَ مِنْ عَذَابِ اللَّهِ (فَأَقِمْ) يَا مُحَمَّدُ (وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا) مَائِلًا إِلَيْهِ أَيْ أَخْلِصْ دِينَكَ لِلَّهِ أَنْتَ وَمَنْ تَبِعَكَ (فِطْرَتَ اللَّهِ) خِلْقَتَهُ (الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا) وَهِيَ دِينُهُ أَيِ الْزَمُوهَا (لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ) لِدِينِهِ أَيْ لَا تُبَدِّلُوهُ بِأَنْ تُشْرِكُوا (ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ) الْمُسْتَقِيمُ تَوْحِيدُ اللَّهِ (وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ) أَيْ كُفَّارَ مَكَّةَ (لَا يَعْلَمُونَ) تَوْحِيدَ اللَّهِ (مُنِيبِينَ) رَاجِعِينَ (إِلَيْهِ) تَعَالَى فِيمَا أَمَرَ بِهِ وَنَهَى عَنْهُ حَالٌ مِنْ فَاعِلِ أَقِمْ وَمَا أُرِيدَ بِهِ أَيْ أَقِيمُوا (وَاتَّقُوهُ) خَافُوهُ (وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ) (مِنَ الَّذِينَ) بَدَلٌ بِإِعَادَةِ الْجَارِّ (فَرَّقُوا دِينَهُمْ) بِاخْتِلَافِهِمْ فِيمَا يَعْبُدُونَهُ (وَكَانُوا شِيَعًا) فِرَقًا فِي ذَلِكَ (كُلُّ حِزْبٍ) مِنْهُمْ (بِمَا لَدَيْهِمْ) عِنْدَهُمْ (فَرِحُونَ) مَسْرُورُونَ وَفِي قِرَاءَةٍ فَارَقُوا أَيْ تَرَكُوا دِينَهُمُ الَّذِي أُمِرُوا بِهِ (وَإِذَا مَسَّ النَّاسَ) أَيْ كُفَّارَ مَكَّةَ (ضُرٌّ) شِدَّةٌ (دَعَوْا رَبَّهُمْ مُنِيبِينَ) رَاجِعِينَ (إِلَيْهِ) دُونَ غَيْرِهِ (ثُمَّ إِذَا أَذَاقَهُمْ مِنْهُ رَحْمَةً) بِالْمَطَرِ (إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ) (لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ)

أُرِيدَ بِهِ التَّهْدِيدُ ﴿فَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ﴾ عَاقِبَةَ تَمَتُّعِكُمْ فِيهِ الْتِفَاتٌ عَنِ الْغَيْبَةِ ﴿أَمْ﴾ بِمَعْنَى هَمْزَةِ الْإِنْكَارِ ﴿أَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا﴾ حُجَّةً وَكِتَابًا ﴿فَهُوَ يَتَكَلَّمُ﴾ تَكَلُّمَ دَلَالَةٍ ﴿بِمَا كَانُوا بِهِ يُشْرِكُونَ﴾ أَيْ يَأْمُرُهُمْ بِالْإِشْرَاكِ لَا ﴿وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ﴾ كُفَّارَ مَكَّةَ وَغَيْرَهُمْ ﴿رَحْمَةً﴾ نِعْمَةً ﴿فَرِحُوا بِهَا﴾ فَرَحَ بَطَرٍ ﴿وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ﴾ شِدَّةٌ ﴿بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ﴾ يَيْأَسُونَ مِنَ الرَّحْمَةِ وَمِنْ شَأْنِ الْمُؤْمِنِ أَنْ يَشْكُرَ عِنْدَ النِّعْمَةِ وَيَرْجُوَ رَبَّهُ عِنْدَ الشِّدَّةِ ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا﴾ يَعْلَمُوا ﴿أَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ﴾ يُوَسِّعُهُ ﴿لِمَنْ يَشَاءُ﴾ امْتِحَانًا ﴿وَيَقْدِرُ﴾ يُضَيِّقُهُ لِمَنْ يَشَاءُ ابْتِلَاءً ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾ بِهَا ﴿فَآتِ ذَا الْقُرْبَى﴾ الْقَرَابَةِ ﴿حَقَّهُ﴾ مِنَ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ ﴿وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ﴾ الْمُسَافِرَ مِنَ الصَّدَقَةِ وَأُمَّةُ النَّبِيِّ تَبَعٌ لَهُ فِي ذَلِكَ ﴿ذَلِكَ خَيْرٌ لِلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ﴾ أَيْ ثَوَابَهُ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ الْفَائِزُونَ ﴿وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا﴾ بِأَنْ يُعْطِيَ شَيْءٌ هِبَةً أَوْ هَدِيَّةً لِيَطْلُبَ أَكْثَرَ مِنْهُ فَسُمِّيَ باسم المطلوب من الزيادة في المعاملة ﴿لِيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ﴾ الْمُعْطِينَ أَيْ يَزِيدَ ﴿فَلَا يَرْبُو﴾ يَزْكُو ﴿عِنْدَ اللَّهِ﴾ لَا ثَوَابَ فِيهِ لِلْمُعْطِينَ ﴿وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ زَكَاةٍ﴾ صَدَقَةٍ ﴿تُرِيدُونَ﴾ بِهَا ﴿وَجْهَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ﴾ ثَوَابَهُمْ بِمَا أَرَادُوهُ فِيهِ الْتِفَاتٌ عَنِ الْخِطَابِ ﴿اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ﴾ مِمَّنْ أَشْرَكْتُمْ بِاللَّهِ ﴿مَنْ يَفْعَلُ مِنْ ذَلِكُمْ مِنْ شَيْءٍ﴾ لَا ﴿سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ بِهِ

ترجمه: اې مشركانو الله تعالى ستاسو دپاره په خپله هم ستاسو مثال بيانوى اوهغه دادې چه كوم څيزمونږتاسوله دركړې دې دمال وغيره نه نوآيا په دې كښې ستاسو په غلامانوكښې ستاسوڅوك شريك دې؟ چه تاسو اوهغوى په دې كښې د برابر درجې ئې، اوتاسو دهغوى نه داسې انديښنه ساتې لكه چه څنګه په خپل مينځ كښې يعنى دځان پشان د ازادو خلقو، او استفهام دنفى په معنى كښې دې مطلب دادې چه ستاسو په نيزهم ستاسو غلامان ستاسوشريكان نه دى (الى اخره) يعنى په دې اموالوكښې كوم چه مونږ تاسو له دركړى دى ستاسوغلامان ستاسو دازادوپه شان ستاسو شريكان نه دى چې برابر درجه لرى، نو بيادالله څنى غلامان تاسو دالله سره څنګه شريكان جوړوئې؟ اومونږ به هم دغه شان څنګه چه مونږ دا تفصيل بيان كړو دعقلمندودپاره يعنى دغوراوفكر كونكودپاره صفا صفا دلائل بيانوو بلكه خبره داده چه شرك كونكى ظالمان خوبغير دپوهې نه دخپلو خواهشاتو اتباع كوى نوڅوك چه الله تعالى ګمراه كړى نوهغه بياڅوك په نيغه لار باندې راوستلې شى؟ يعنى هغه لره بيا په نيغه لارباندې راوستلو والا هيڅ څوك نشته دې، ددوى به څوك هم امدادكونكى نه وى، يعنى دالله دعذاب نه ساتلووالا به څوك هم نه وى نو اې محمد ﷺ تاسوبه په توجه سره خپل رخ هغه دين حق طرف ته واړوئ يعنى تاسواوستاسو اتباع كونكى دې خپل دين دالله دپاره خالص كړى په خداداد قابليت باندې په كوم باندې ئې چه خلق پيداكړى دى اوهغه دهغه دين دې لازم اونيسئ، دالله تعالى دين بدلول نه دى پكار يعنى شرك كولوسره دين

نطرت مه بدلوئې هم دغه دالله د توحيد قائله کيدل دين مستقيم دې خودير خلق يعنى دمکې کافران دالله دتوحيدنه انکارکوى تاسوسره دخپلو ملکروخپل رخ ددين طرف ته ساتې، الله تعالى طرفته رجوع کولو سره په هغه څيزونوکښې دکوموچه دالله دطرفه حکم کړې شوى دې اودکومونه چه منع کړې شوى ده، منيبين داقم نه او د اقم نه څه مراددى يعنى اتهوانه حال دې اودهغه نه ويريږئې، اودمونځ پابندى کوئې اودمشرکانونه مه کيږئ چاچه خپل دين دخپلومعبودانوپه باره کښې داختلاف دوجې نه ټکړې ټکړې کړومن الذين، دحرف جاردإعادې سره د المشرکين نه بدل دې اوهغوى ددين په باره کښې ډلې ډلې شول اوپه دوى کښې هره يوه ډله چه په کومه دين باندې ده خوشحاله ده اوپه يو قراء ت کښې فارقوا دې يعنى دوى خلقو هغه دين پريخودلې دې دکوم دين چه دوى ته حکم ورکړې شوې وو، اوکله چه خلقو يعنى دمکې کافرانو ته څه مصيبت اورسي نودهغې طرف ته نه که دهغې دغير طرف ته رجوع اوکړى او خپل رب (حقيقى) رابلى اوبيا چه کله الله تعالى دخپل رحمت دباران په ذريعه دهغې مزه په دوى باندې اوڅکوى نوپه دوى کښې يو فريق د خپل رب سره شرک کول شروع کړى پکاردې چه دوى زمونږ د ورکړې شوى نعمتونو ناشکرى اوکړى ددې امر نه دتهديد اراده کړې شوې ده، نويو څوورځې نورې هم مزې اوکړئ، ستاسو دمزو کولو انجام به تاسوته ډيرزر معلوم شى په دې کښې دغيبوبت نه خطاب طرفته التفات دې آيامونږ په دوى باندې څه حجت اوکتاب نازل کړې دې چه هغه دلالت دوى ته د شرک کولو وائى يعنى (هغه کتاب) په دلالت حال سره دوى ته دشرک کولوحکم ورکوى، نه داسې نه ده، اوکله چه مونږ خلقوته يعنى دمکې کافرانو وغيره ته د رحمت يعنى دنعمت مزه اوخوندا وڅکوو، نودوى ددې نعمت نه په خوشحالې کښې وى اکړخانى شروع کړى، اوکه چرې ددوى داعمالو دوجې نه دوى ته څه مصيبت اورسى نوسمدستى زمونږ درحمت نه نااميده شى اودمومن شان دادې چه دنعمت په وخت کښې دخپل رب شکرادا کړى اودمصيبت په وخت کښې دخپل رب نه اميداوساتى آيادې خلقوته معلومه نه ده چه الله تعالى دچاپاره اوغوارى امتحاناً دهغه په رزق کښې فراخ والې راولى اودچاپه رزق کښې چه اوغوارى ابتلاءً تنگى په کښې راولى په دې کښې هم د هغه خلقو دپاره نښې دى کوم خلق چه په دې نښو باندې ايمان ساتى، نو رشته دارته دهغه حق ورکړه اوهغه ښه سلوک اوصله رحمى ده، اومسکينانوته اومسافروته صدقه ورکړه اودنبى امت هم په دې حکم کښې دنبى تابع دې، دا دهغه خلقو دپاره بهتره ده کوم خلق چه دالله درضاطلب کوى، يعنى دهغه نه دخپل عملونو دثواب طلب کونکى دى، هم دغه شان خلق په خپل مقصد کښې کاميابى مونډلو والا دى، اوکوم څيزونه چه تاسو دډيريدوپه خيال سره ورکوئې په دې طريقه باندې چه څه څيزچاته هديه يادهبې په توگه ورکړئ په دې خيال چه د هغه نه بيادې نه ډيراوزيات طلب کړى، ددې دپاره چه کومو خلقوته ورکړې شوې دې دهغوى په مال کښې گډشى

اوزیات شي نوهغه دالله په نیزنه زیاتیږي یعنی په دې کښې ورکونکوته څه اجرنه ملاوېږي، روا په خیال سره ورکړې شوې څیزچه دهغې په ورکولو کښې زیاتوالې مطلوب وي نو ددې څیز نوم ربوا کیخودلې شو، یعنی کومه هبه یاصدقه چه دزیاتوالي په غرض ورکړې شي چونکه په دې کښې زیاتوالې یعنی ربوا مطلوب وي نوهم ددې هبې یا صدقې نوم په قرآن کښې ربوا کیخودلې شو، اوتاسوچه کوم زکوة ورکوئې چه دهغې نه ستاسومقصدالله رضاوي نوهم داسې خلق دي چه خپل ثواب د خپل مطلوب مطابق دوچند کوي په دې کښې دخطاب نه غیبوبت طرفته التفات دې، اوالله هم هغه ذات دې چاچه تاسوپیداکړئې اوبیائې تاسوله رزق درکړواوبیابه تاسوله مرګ درکوي اوبیابه تاسوژوندی کوي آیا ستاسوپه شریکانو کښې هم کوم چه تاسوالله تعالی سره شریك جوړوئ څوك داسې شته دې چه هغه په دې کارونو کښې څه هم کولی شي، نه نشته دې هغه ددې دشریکانونه پاك اوبرتر دې،

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله:کائناً :محذوف راویستلو سره ئې دې طرفته اشاره اوکړه چه من انفسکم دکائناً سره متعلق دې او مثلاً صفت دې، اومن ابتدائیه دې

قوله:مما ملکت ایمانکم: دادمن شرکاء نه حال مقدم دې، اوړومبې، من، ابتدائیه دې او دوئیم من، تبعیضیه دې، او دریم من زائده دې،

قوله:انت ومن اتبعك: په دې سره ئې اشاره اوکړه چه اقم وجهك کښې اګرچه خطاب حضور مبارك ته دې خومرادترینه ټول امت دې،

قوله:فطرت الله :دادفعل محذوف دوجې نه منصوب دې،اوهغه الزموا دې لکه څنګه چه شارح علیه الرحمة مقدر راویستلو سره اشاره وکړه چه فطرت معنی ده پیدائشی صلاحیت او خداداد قابلیت،فطرت،په اوګده تاسره په قرآن پاك کښې صرف دلته کښې مستعمل دې،

قوله:لاتبدلوه:په دې کښې اشاره دې طرف ته اوشوه چه لاتبدیل خبربمعنی امر دې اوداهم وئیلی شي چه نفی دنهی په معنی کښې ده،

قوله:"فطرت": ددې دوه تفسیرونه دي، یوفطری صلاحیت، دوئیم د دین اسلام په دې، دې دوئیم تفسیر طرفته شارح، وهی دینه، سره اشاره اوکړه، ددې دوجې نه دواړه تفسیرونه ګډوډ شوی دی. البته که د وهی دینه واو د او په معنی کښې واخستلی شي، نودا اختلاط ختمیدئې شي. (جمل)_

قوله:منیبین :داد اقم اود اقم نه چه څه مراددی یعنی د اقیموا نه حال دې څکه چه په اقم کښې اګرکه خطاب حضور مبارك ته دې خومرادترینه ټول امت دې،

قوله:لیکفروا: ددې نه پس ئې دایډ به التهدید په اضافې سره اشاره اوکړه چه په لیکفروا

کښې لام لام امر دې، او لام دعاقبت هم کیدې شي، یعنی آخر دوی ناشکری شروع کړی

قوله: تكلم دلالة: دلته کښې دتکلم نه مجازاً دلالت مراددې څکه چه حجت یا کتاب خو خبرې نه کوی، البته مجازاً داسې وئیلی شي، کتاب ناطق، ويقال هذا مما نطق به القرآن،

قوله: بطر: ډيرې زياتې خوشحالې اظهار کول چه هغه دتکبر درجې ته اورسيږي نوشارح د فرح بطر اضافه کولو سره دې خبرې ته اشاره اوکړه چه دې شبهې جواب هم پکښې اوشي چه دالله تعالى په نعمتونو باندې دخوشحالې اظهار کول څه بده خبره خو نه ده بلکه د واما بنعمة ربك فحدث، دوجې نه ښه خبره ده نوددې خبرې جواب ئې ورکړوچه دتحديث بالنعمت په طور باندې دنعمت اظهار کول اګر که ښه خبره ده خودتکبر په طور ممنوع دې.

قوله: الله الذي خلقكم: لفظ دالله مبتدأ ده او الذى خلقكم موصول صله خبردې او مبتدأ او خبر دواړه معرفه دی په دې وجه داجمله دحصرفائده ورکوی

قوله: هل من شركائكم: خبرمقدم دې او، من يفعل من ذلكم مبتدأ موخر ده

[اياتونه: ۴۱-۵۳]

﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ﴾ أيْ القِفَار بِقَحْطِ المَطَر وَقِلَّة النَّبَات ﴿وَالْبَحْرِ﴾ أيْ البِلاد الَّتِي عليها الأنهار بِقِلَّةِ مَائِهَا ﴿بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ﴾ مِنْ المَعَاصِي ﴿لِيُذِيقَهُمْ﴾ بِاليَاءِ وَالنُّون ﴿بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا﴾ أيْ عُقُوبَته ﴿لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ يَتُوبُونَ ﴿قُلْ﴾ لِكُفَّارِ مَكَّة ﴿سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلُ كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُشْرِكِينَ﴾ فَأُهْلِكُوا بِإِشْرَاكِهِمْ وَمَسَاكِنهمْ وَمَنَازِلهمْ خَاوِيَة ﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ الْقَيِّمِ﴾ دِين الإِسْلَام ﴿مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لَا مَرَدَّ لَهُ مِنَ اللَّهِ﴾ هُوَ يَوْم القِيَامَة ﴿يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ﴾ فِيهِ إدْغَام التَّاء فِي الأَصْل فِي الصَّاد يَتَفَرَّقُونَ بَعْد الحِسَاب إلَى الجَنَّة وَالنَّار ﴿مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ﴾ وَبَال كُفْره وَهُوَ النَّار ﴿وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِأَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ﴾ يُوَطِّئُونَ مَنَازِلهمْ فِي الجَنَّة ﴿لِيَجْزِيَ﴾ مُتَعَلِّق بِيَصَّدَّعُونَ ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْ فَضْلِهِ﴾ يُثِيبهُمْ ﴿إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ﴾ اي يعاقبهم ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ﴾ تَعَالَى ﴿أَنْ يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ﴾ بِمَعْنَى لِتُبَشِّرَكُمْ بِالمَطَرِ ﴿وَلِيُذِيقَكُمْ﴾ بِهَا ﴿مِنْ رَحْمَتِهِ﴾ المَطَر وَالخِصْب ﴿وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ﴾ السُّفُن بِهَا ﴿بِأَمْرِهِ﴾ بِإِرَادَتِهِ ﴿وَلِتَبْتَغُوا﴾ تَطْلُبُوا ﴿مِنْ فَضْلِهِ﴾ الرِّزْق بِالتِّجَارَةِ فِي البَحْر ﴿وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ هَذِهِ النِّعَم يَا أَهْل مَكَّة فَتُوَحِّدُوهُ ﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَى قَوْمِهِمْ فَجَاءُوهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ﴾ بِالحُجَجِ الوَاضِحَات عَلَى صِدْقهمْ فِي رِسَالَتهمْ إلَيْهِمْ فَكَذَّبُوهُمْ ﴿فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا﴾ أهْلَكْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوهُمْ ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ عَلَى الكَافِرِينَ بِإِهْلَاكِهِمْ وَإِنْجَاء المُؤْمِنِينَ ﴿اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا﴾ تُزْعِجهُ ﴿فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاءِ كَيْفَ يَشَاءُ﴾ مِنْ قِلَّة وَكَثْرَة ﴿وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا﴾ بِفَتْحِ السِّين وَسُكُونهَا قِطَعًا مُتَفَرِّقَة ﴿فَتَرَى الْوَدْقَ﴾ المَطَر ﴿يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ﴾ أيْ وَسَطه ﴿فَإِذَا أَصَابَ بِهِ﴾ بِالوَدْقِ ﴿مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ﴾ يَفْرَحُونَ بِالمَطَرِ ﴿وَإِنْ﴾ وَقَدْ ﴿كَانُوا مِنْ قَبْلِ أَنْ يُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ مِنْ قَبْلِهِ﴾ تَأْكِيد ﴿لَمُبْلِسِينَ﴾ آيِسِينَ مِنْ إنْزَاله ﴿فَانْظُرْ إِلَى

اثر وفي قراءة آثر ﴿رَحْمَتِ اللّٰهِ﴾ أي نِعْمَته بِالْمَطَرِ ﴿كَيْفَ يُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا﴾ أي يُبْسِهَا بِأَنْ تُنْبِتَ ﴿إِنَّ ذلك لمحيي الأرض لمحيي الموتى وهو على كل شيء قدير﴾ ﴿ولئن﴾ لام قسم ﴿أَرْسَلْنَا رِيحًا﴾ مُضِرَّة عَلَى نَبَات ﴿فَرَأَوْهُ مُصْفَرًّا لَظَلُّوا﴾ صَارُوا جَوَابُ الْقَسَمِ ﴿مِنْ بَعْدِهِ﴾ أي بَعْدَ اصْفِرَارِه ﴿يَكْفُرُونَ﴾ يَجْحَدُونَ النِّعْمَة بِالمطرِ ﴿فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا﴾ بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَتَسْهِيل الثَّانِيَة بَيْنَهَا وبين الياء ﴿ولوا مدبرين﴾ ﴿وما أنت بهاد العمي عن ضلالتهم إن﴾ مَا ﴿تُسْمِعُ﴾ سَمَاعَ إِفْهَام وَقَبُول ﴿إِلَّا مَنْ يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا﴾ القرآن ﴿فَهُمْ مُسْلِمُونَ﴾ مُخْلِصُونَ بِتَوْحِيدِ اللّٰه

ترجمه: په اوچه يعنى په ميدانونكښې خشك سالى اودوښو اوگياګانو دكمى وجه اوپه لمده يعنى په هغه ښارونوكښې كوم چه دنهرونوپه غاړو باندې واقع دى. داوبود كمى دوجې نه د خلقو د بدعملونو په سبب فساد ظاهرشوددې دپاره چه مونږدوى ته ددوى دځنو عملونو سزا اوڅكو ممكنه ده چه دوى راوګرځى (سم شى) توبه اوباسى، تاسو دمكې كافرانوته اووائې چه په زمكه كښې اوګرځې اوګورئې چه دمخكينې خلقو انجام څنګه شوې وو؟ چه په هغې كښې اكثرخلق مشركان وو، نو هغوى دخپل شرك په سبب باندې هلاك كړې شو، اود هغوى كورونه راغوزيدلى او وران پراته دى، تاسوخپله توجه دين قيم يعنى اسلام طرفته كړې مخكښې د دېنه چه هغه ورځ راشى چه هغه به الله تعالى هيڅ كله هم نه واپس كوى، اوهغه به دقيامت ورځ وى په دې ورځ به ټول خلق يوازې يوازې كړې شى يصدعون په اصل كښې د تاء په صاد كښې ادغام شوې دې، يعنى دحساب نه پس به په جنت ياپه دوزخ كښې متفرق كړې شى، كافرانو باندې به ددوى دكفروبال وى اوهغه دوزخ دې اونيک عملونه كونكى به دخپل ځان دپاره آرام ګاه جوړه وى، يعنى په جنت كښې به خپل كورجوړوى، ددې دپاره چه الله تعالى ايمان راوړونكو او نيک عمل كونكو ته په خپل فضل سره اجر وركړى، ليجزى د يتصدعون سره متعلق دې، بيشكه هغه كافران نه خوښوى، يعنى دوى له به سزاوركړى، اوداللّٰه تعالى دقدرت په نښو كښې دباران زيرى وركونكى هواګانو چلول هم دى، اومبشرات لتبشركم په معنى كښې دې، ددې دپاره چه تاسوته دهواګانوپه ذريعه خپل رحمت يعنى د باران اوشينكې په ذريعه سره خوندوركړى اودهغه په دپاره چه ددې حكم په ارادې سره دهواګانوپه ذريعه سره كشتيانې اوچلى اوددې دپاره چه تاسو ددې په ذريعه دهغه فضل يعنى رزق دسمندرى سفرپه ذريعه سره دتجارت په توګه حاصل كړئ اوددې دپاره چه اې مكې والو، تاسو ددې نعمتونو شكر ادا كړئ اوبيا دهغه دتوحيد قائله شئ او مونږ ستاسو نه وړاندې هم خپل رسولان دهغوى قو مونو طرفته ليږلى وو اودوى هغوى ته ددوى دطرفنه درسولانو كيدلوپه باره كښې دخپل صداقت واضح دليلونه راوړل، بيا هم هغه خلقو دخپلو پيغمبرانو تكذيب اوكړو بيامونږه دمجرمانونه بدله واخسته، يعنى كومو خلقو چه ددوى تكذيب اوكړو نومونږه هغوى هلاك كړل، اوپه

مونږه باندې دكافرانو په مقابله كښې دمسلمانانو مددكول لازم دى، چه كافران هلاك كړو اومومنان له نجات وركړو، الله تعالى هغه ذات دې چه هغه هواګانې چلوى نو هغه وريځې له اوچتوى، حركت وركوى، اوبيا هغه دخپل منشاء مطابق په اسمان كښې لرې يا ډيره خوروى اوبيا هغه دې اوريځې لره جداجداكړى كِسَفًا، دسين په فتحې اوسكون سره جداجداكول اوټكړې ټكړې كول، نو بيا اې مخاطبه ته به باران ته ګورې چه هغه داوريځې دمينځ نه راوځى بيا چه الله تعالى په خپلوبندګانوكښې دچادپاره دباران فيصله اوكړى نوپه هغوى باندې ئې اوروى نوهغوى په دې سره خوشحاله شى يعنى دباران په وجې دوى خوشحالى شى، يقينى خبره ده چه په دوى باندې دباران وريدونه وړاندې وړاندې خو دوى دباران نه نااميده شوى وو وړومبى قبل تاكيد دې، نوبيا ته سو دخدائې درحمت اثار اوګوره يعنى دانعمت دباران په شكل كښې اوپه يوقراء ت كښې آثرٌ دې چه هغه زمكه دمړه كيدونه يعنى ددې داوچيدونه پس څنګه ژوندى كوى په دې توګه چه هغه ټكول شروع كړى، يقيناً هم دغه زمكه ژوندې كولو والا ذات به مړى هم دغه شان ژوندى كوى اوهغه په هر شى باندې قادر دې، اوقسم دې كه چرې مونږ ددوى په فصلونو باندې نقصانى هوا اوچلو نو دوى به دافصلونه تك زيړ اوګورى نودوى به ددې فصلونو د زيړيدو نه پس دباران د نعمت ناشكرى شروع كړى او ولئن كښې لام قسم دې بيشكه تاسو مړو ته اورول نشئ كولې اونه كڼوته خپل اواز اورولې شئ كله چه هغوى شاكرى اوروان شئ، ءاذا، كښې د دوارو همزو تحقيق دى، اودويم تسهيل سره، د ياء اوهمزې په مينځ كښې اوهم دغه شان تاسوړانده دهغوى دبې لارې نه په لارباندې نشئ راوستې، تاسو خوبس صرف دفهم اودقبول اورول هم هغه چاته كولې شى كوم چه زمونږ په آيتونوباندې قرآن باندې ايمان لرى لهذا دالله په توحيد كښې هم دا خلق مخلصين دى،

قوله: قِفار: دقفرٌ جمع ده، اوار ميدان ته وائې، قفار، دقاف په فتحې سره هغه روټې ته وائې كومه چه دسالن نه بغير وى، بِمَا كَسَبَت: با سببيه ده او ما مصدريه ده اى بسب كسبهم لنذيقهم: كښې لام دعاقبت دې اوداد ظهر الفساد متعلق دې،

قوله: اى عقوبة: په دې سره حذف مضاف طرفته اشاره ده اى عقوبة ماعملوادلته كښې مجازاً دسبب اطلاق په مسبب باندې شوى دې، بد عملونه دعقوبت سبب وى نوځكه سبب وئيلې شوى دې اومرادترينه مسبب دې،

قوله: من الله: ددې تعلق د ياتى سره دې،

قوله: يومئذ: ددې تنوين دجملې په عوض كښې دې، اى يوم اذايأتى هذا اليوم،

قوله: يصدعون: دادمضارع نه دجمع مذكرغائب صيغه ده په اصل كښې يتصدعون وو نو تاء مو په صاد سره بدله كړه اوصاد مو په صاد كښې بدل كړو اومصدرئې تصدع راځى

خوریدلو په معنی سره، دیو سخت خیزچاودل، ماتیدل، وبال كفرة اضافه ئې ددې دوجې نه اوكړه چه دمضاف حذف ته په كښې اشاره اوشي،

قوله: يوطئون: هغوی بنائسته كوی برابروی وطأ توطئة، درست كول خورول ليجزى د يصدعون، سره متعلق دې، اى يصدعون ليجزيهم، دوی به جدا جدا شی ددې دپاره چه الله دوی له جزاء وركړی،

قوله: يثيبهم: دليجزي تفسير دې،

قوله: بمعنى لتبشركم: ددې اضافې نه مقصود ديو سوال مقدر جواب وركول دی،

سوال: دادې چه دليذيقكم عطف په مبشرات باندې درست نه دې ځكه چه دا دفعل عطف دې په اسم باندې؟ شارح ددې جواب وركړو چه مبشرد تبشر په معنی كښې دې، لهذا اس هيځ اعتراض نشته دې،

قوله: ولقد ارسلنا من قبلك: داآيت د آيت مفصله يعنى :ومن اياته ان يرسل (الأية) اوآيت مفصله يعنى الله الذى يرسل الرياح الأية په مينځ كښې جمله معترضه ده مطلب دادې چه ومن اياته مفصل دې او الله الذى ددې تفصيل دې او ولقدارسلنا من قبلك آيت معترضه دې اومقصد ددې نه حضور مبارك ته تسلی وركول دی،

قوله: فانتقمنا: ددې عطف په محذوف باندې دې، شارح، فكذبوا سره معطوف عليه محذوف دې طرف ته اشاره اوكړه،

قوله: وكان حقاً علينا نصرالمؤمنين :كان فعل ناقص دې او حقاً دهغې خبردې او نصرالمؤمنين اسم مؤخردې او علينا د حقاً متعلق دې،

قوله: وان وقد: شارح عليه الرحمة د، ان، تفسير په، قد، سره كولو كښې دبغوی اتباع كړې ده، په دې صورت كښې واوحاليه دې، اونوروحضراتو، مخفف من المثقل ان، گرځولي دې اوددې اسم ئې هم ضميرشان گرځولې دې اوتوله جمله ئې د انّ دپاره خبرگرځولې ده اوپه لمبلسين كښې لام فارقه دې،

قوله: لظلوا: داجواب قسم دې اودجواب شرط هم قائم مقام دې، ځكه چه قاعده داده چه كله شرط او قسم يوځې راشی نوپه دې كښې دړومبی جواب مذكور وی اوددوئيم جواب محذوف وی، او د ړومبنی جواب ددويم دجواب دقائم مقام وی، اودلته كښې، لئن، كښې قسم او شرط دواړه جمع شوی دی،

[اياتونه: ۵۴ـ ۶۰]

{اللّٰهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ ضَعْفٍ} مَاء مَهِين {ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ ضَعْفٍ} آخر وَهُوَ ضعف الطفولية {قوة} اي قوة الشاب {ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً} ضَعف الكِبَر وَشَيْب الْهَرَم وَالضُّعف فِي الثَّلاثَة بِضَمّ أوّله وَفتحه {يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ} مِنَ الضُّعف وَالْقُوَّة وَالشَّبَاب وَالشَّيْبَة {وَهُوَ الْعَلِيمُ} بِتَدبِير خلقه {الْقَدِيرُ} عَلَى مَا يَشَاء {وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ} يَحْلِف {الْمُجْرِمُونَ} الْكَافِرُونَ {مَا لَبِثُوا} فِي القبور {غَيْرَ سَاعَةٍ} قال تعالى {كَذَٰلِكَ كَانُوا يُؤْفَكُونَ} يُصْرَفُونَ عَنِ الْحَقّ الْبَعْث كَمَا صُرِفُوا عَنِ الْحَقّ الصِّدق فِي مُدَّة اللبث {وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَالْإِيمَانَ} مِنَ الْمَلَائِكَة وَغَيْرهمْ {لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِي كِتَابِ اللَّهِ} فِيمَا كَتَبَهُ فِي سَابِق عِلْمه {إِلَىٰ يَوْمِ الْبَعْثِ فَهَٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ} الَّذِي أَنْكَرْتُمُوهُ {وَلَٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ} وُقُوعه {فَيَوْمَئِذٍ لَا يَنْفَعُ} بِالْيَاءِ وَالتَّاء {الَّذِينَ ظَلَمُوا مَعْذِرَتُهُمْ} فِي إِنْكَارهمْ لَهُ {وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ} لَا يُطْلَب مِنْهُمُ الْعُتْبَى أَيِ الرُّجُوع إِلَى مَا يُرْضِي اللّه {وَلَقَدْ ضَرَبْنَا} جَعَلْنَا {لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ} تَنْبِيهًا لَهُمْ {وَلَئِنْ} لَام قَسَم {جِئْتَهُمْ} يَا مُحَمَّد {بِآيَةٍ} مِثْل الْعَصَا وَالْيَد لِمُوسَى {لَيَقُولَنَّ} حُذِفَ مِنْهُ نُون الرَّفْع لِتَوَالِي النُّونَات وَالْوَاو ضَمِير الْجَمْع لِالْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ {الَّذِينَ كَفَرُوا} مِنْهُمْ {إِنْ} مَا {أَنْتُمْ} أَيْ مُحَمَّد وَأَصْحَابه {إِلَّا مُبْطِلُونَ} أَصْحَاب أَبَاطِيل {كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ} التَّوْحِيد كَمَا طَبَعَ عَلَى قُلُوب هَؤُلَاءِ {فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ} بِنَصْرِك عَلَيْهِمْ {حَقٌّ وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ} بِالْبَعْثِ أَيْ لَا يَحْمِلَنَّك عَلَى الْخِفَّة وَالطَّيْش بِتَرْكِ الصَّبْر أَيْ لَا تَتْرُكنهُ

ترجمه: الله هغه ذات دې چه تاسو ئې دضعف يعنى دبې وقعته اوبې قدره اوبونه پيداكړئ اوبيا ئې ضعف آخريعنى دماشومتوب نه پس ئې تاسو ته قوت اوتوانائي دركړه يعنى قوت شباب اوبيائې دقوت نه پس ضعف اوبوډهاتوب دركړو، يعنى بوډها توب دكمزورې اودسپين ويختو په شكل كښې، اولفظ دضعف په درې واړوځايونوكښې دضاد په ضمې اوفتحې سره دې اوهغه ضعف اوقوت اوځوانى اوبوډاتوب چه څه اوغواړى نوهغه پيداكړى اوهغه دخپل مخلوق دتدبيرنه خبردار دې اوچه څه اوغواړى په هغې باندې قادر دې، اوپه كومه ورځ چه به قيامت قائم شى نومجرمان كافران به قسمونه خورى چه مونږه په قبرونوكښې د يو ساعت او يو ګهړئ درنګ نه زيات نه دې تير كړې الله تعالى اوفرمائيل چه هم دغه شان دوى حق يعنى دبعث بعدالموت نه په دنياكښې الټه الوړى روان وو لكه څنګه چه دمدت بعث په باره كښې دحقيقى رښتيانه الټه روان دى. اوكوموملائكو وغيره ته چه علم اوايمان وركړې شوې دې هغوى به اووائى چه تاسوخودالله تعالى د ليكلې شوې تقدير مطابق يعنى دهغه د تقدير مطابق كوم چه دهغه په علم ازلى كښې دې دقيامت دورځې پورې وخت تير كړو، داورځ هم دبعث ده د كوم نه چه تاسو انكاركولو خوتاسوخو ددې دوقوع يقين هم نه ساتې غرض داچه په دې ورځ به ظالمانوته دبعث دانكارپه باره كښې معذرت هيڅ فائده نه وركوى په

تنفم کښې یاء او تاء دواړه صحیح دی او نه به دوی نه د توبې مطالبه کولې شي یعنی دوی ته به د الله تعالی د خوشنودې حاصلولو دپاره نه شي ونیلې، او مونږه د خلقو دپاره په دې قرآن کښې دوی ته د تنبیه کولو دپاره هر قسمه عمده (ناشنا، ښکلی) مضمونونه بیان کړی دی او قسم دی اې محمد که چرته تاسو دوی ته د موسی علیه السلام د عصا او دید بیضاء په شان معجزې هم راوړې نو بیا هم په دوی کښې چه کوم کافران دی هغوی به هم داوائی چه ته او ستا ملګری اهل باطل دی کوم خلق چه دَ توحید علم (یقین) نه لری الله تعالی به دَهغوی په زړونو باندې مهر اولګوی لکه چه دَدغه خلقو په زړونو باندې ئې مهر اولګولو لهذا تاسو صبر کوئ بیشکه دَهغوی په مقابله کښې دَ الله تعالی وعده ستاسو دَ نصرت رښتونې ده او دَ بعث بعدالموت یقین نه لرونکی داخلق (چرته) تاسو بې صبره نه کړی یعنی (چرته) تاسو غولولو سره په جلدبازی او غصه باندې مجبور نه کړی یعنی په هر حال کښې ستاسو دَلاس نه دَ صبر لمن نه دی خلاصیدل پکار یعنی په هر حال کښې صبر کوئی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: مَـاءٍ مَهِـيْنٍ دا دَ ضُعْفٍ تفسیر دې، دَدې تفسیر مقصد یـو اعتراض دفـع کـول دی. اعتراض دادې چه ضُعْف صفت دې د دې نه دَ څه څیز تخلیق نه شي کیدې.

جواب: دَ جواب خلاصه داده چه دَ ضعف نه مراد اصلِ ضعف دې لکه چه نطفه په اصلِ ضعیف ده یعنی ضعف مصدر دَ ذو ضعفٍ په معنی کښې دې.

قوله: اللهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ جمله مبتدا او خبر دی.

قوله: شَيْبَةً دَ ویښتو سپینوالې چه په عـام توګه باندې دَ درې څلوېښتو کالو پـه عمر کښې ښکاره کیږی او هم دغه دَ کهولت شروع وی.

قوله: من الضُّعفِ والقوة. دَ مَا بیان دې.

قوله: من الملائكة وغيرهم اى الانبياء والمؤمنون.

قوله: وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ استعتاب د (استفعال مصدر دې، دَهغوی نه به (دَالله تعالی) دَ رضا کولو خواهش نه کیږی، بعض مفسرینو ترجمه کړې ده چه دَهغوی عذر به نه شي قبلولې. علامه محلی رحمه الله دَدې لفظ په تشریح کښې فرمائیلی دی لَا يُطْلَبُ منهم العتبى اى الرجوع الى مَا يرضى الله دَدې ظالمانو نه به دَ توبې مطالبه نه شي کولې یعنی دَ داسې عمل طرف ته رجوع کولو دپاره به نه شي ونیلې په کوم سره چه الله تعالی راضی شي. امام بغوی رحمه الله په معالم کښې لیکلی دی لايكلفون أن يُرْضُوا ربَّهُمْ لان الاخرة ليست بدار التكليف دَ قیامت په ورځ به هغوی د الله تعالی په رضا کولو باندې مکلف کیږی نه، ځکه چه دار آخرت دار تکلیف نه دې بلکه دار جزاء دې صاوی رحمه الله ونیلی دی العُتْبَى، الرُّجْعَى په شان دې په وزن او معنی

کنبې، او دَ لَا يُسْتَعْتَبُونَ معنی ده دنیاته دَ واپس تللو دَعفوی درخواست به قبلولې نه شی په نورو ایاتونو کنبې هم دا مضمون بیان کړې شوې دې چه کافران او مشرکان به دَقیامت په ورځ دَ الله تعالی نه دا درخواست کوی چه مونږ دنیاته واپس کړه او یوه موقع راکړه دې دَ پاره چه دَ مافات تلافی اوکړې شو.

قوله لَيَقُولَنَّ دَدې نه پس عبارت دَ شارح دَ قلم سبقت دې غالبًا دَ جمع مذکرغائب صیغه نې گنړلې ده ځکه نې مذکوره تعلیل کړې دې گنی په اتفاق دَ قراء لَيَقُولَنَّ کنبې لام مفتوح دې او الذين كفروا دَدې فاعل دې.

قوله فَاصْبِرْ د شرط محذوف جزاء ده ای إذا علمت حالهم انهم لايؤمنون فاصبر.

[۳۱] سورة لقمان

سورة لقمان مكية الا: ولو ان ما في الارض من شجرة اقلام الآيتين وهي اربع وثلثون آية

سوره لقمان مکی دې سوا د «ولوان ما في الارض من شجرة أقلام» دوه آیتونو نه، او دا ۳۴ آیتونه دی.

[ایاتونه: ۱ - ۱۱]

بسم الله الرحمن الرحيم ﴿الٓمٓ﴾ اللّٰه أَعْلَم بِمُرَادِهِ بِهِ ﴿تِلْكَ﴾ أَيْ هٰذِهِ الْآيَات ﴿آيَاتُ الْكِتَابِ﴾ الْقرآن ﴿الْحَكِيمِ﴾ ذي الحكمة والإضافة بمعنى من هو ﴿هُدًى وَرَحْمَةً﴾ بالرفع ﴿لِلْمُحْسِنِينَ﴾ وَفِي قراءة الْعَامَّة بِالنَّصْب حَالًا مِنَ الْآيَات الْعَامِل فِيهَا مَا فِي ﴿تِلْكَ﴾ مِنْ مَعْنَى الإشارة ﴿الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ﴾ بَيَان لِلْمُحْسِنِينَ ﴿وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ﴾ هُمْ الثَّانِي تَأْكِيد ﴿أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِنْ رَبِّهِمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ الفائزون ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ﴾ أَيْ مَا يُلْهِي مِنْهُ عَمَّا يَعْنِي ﴿لِيُضِلَّ﴾ بِفَتْحِ الْيَاء وَضَمِّهَا ﴿عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ﴾ طَرِيق الإسلام ﴿بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا﴾ بِالنَّصْبِ عَطْفًا عَلَى يُضِلّ وبالرفع عطفا على يشتري ﴿هُزُوًا﴾ مَهْزُوءًا بِهَا ﴿أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ﴾ ذُو إهانة ﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا﴾ أَيْ الْقرآن ﴿وَلَّىٰ مُسْتَكْبِرًا﴾ مُتَكَبِّرًا ﴿كَأَنْ لَمْ يَسْمَعْهَا كَأَنَّ فِي أُذُنَيْهِ وَقْرًا﴾ صَمَمًا وَجُمْلَتَا التَّشْبِيه حَالَانِ مِنْ ضَمِير وَلَّى أَوْ الثَّانِيَة بَيَان لِلْأُولَى ﴿فَبَشِّرْهُ﴾ اعلمه ﴿بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ مؤلم و ذكر الْبِشَارَة تَهَكُّم بِهِ وَهُوَ النَّضْر بْن الْحَارِث كَانَ يَأْتِي الْحِيرَة يَتَّجِر فَيَشْتَرِي كُتُب أَخْبَار الْأَعَاجِم وَيُحَدِّث بِهَا أَهْل مَكَّة وَيَقُول إنَّ مُحَمَّدًا يُحَدِّثكُمْ أَحَادِيث عَاد وَثَمُود وَأَنَا أُحَدِّثكُمْ أَحَادِيث فَارِس وَالرُّوم فَيَسْتَمْلِحُونَ حَدِيثه وَيَتْرُكُونَ اسْتِمَاع القرآن ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتُ النَّعِيمِ﴾ ﴿خَالِدِينَ فِيهَا﴾ حَال مُقَدَّرَة أَيْ مُقَدَّرًا خُلُودهمْ فِيهَا إذَا دَخَلُوهَا ﴿وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا﴾ أَيْ وَعَدَهُمْ اللّٰه ذَلِكَ وَحَقَّه حَقًّا ﴿وَهُوَ الْعَزِيزُ﴾ الَّذِي لَا يَغْلِبهُ شَيْء فَيَمْنَعهُ مِنْ إنْجَاز وَعْده وَوَعِيده ﴿الْحَكِيمُ﴾ الَّذِي لَا يَضَع شَيْئًا إلا في محله ﴿خَلَقَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا﴾ أَيْ الْعَمَد جَمْع عِمَاد وَهُوَ الْأُسْطُوَانَة وَهُوَ صَادِق بِأَنْ لَا عَمَد أَصْلًا ﴿وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ﴾ جِبَالًا مُرْتَفِعَة ل ﴿أَنْ﴾ لَا ﴿تَمِيدَ﴾ تَتَحَرَّك ﴿بِكُمْ وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَأَنْزَلْنَا﴾ فِيهِ الْتِفَات عَنْ الْغَيْبَة ﴿مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَنْبَتْنَا فِيهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ

كَرِيمٍ صِنف حَسَن (هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ) أيْ مَخلوقه (فَأَرُونِي) أخبروني يا اهل مكة (مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِنْ دُونِهِ) غَيره أيْ آلِهَتكُم حَتّٰى أشرَكْتُمُوهَا بِهِ تَعَالٰى وَمَا اسْتِفْهام إنكار مبتدأ وَذَا بِمَعْنَى الَّذِي بِصِلَتِهِ خبره وَأَرُونِي مُعَلّق عَنِ العَمَل وَمَا بَعْده سَدَّ مَسَدَّ المَفعُولَيْنِ (بَلْ) لِلانتِقالِ (الظّٰلِمُونَ فِي ضَلٰلٍ مُّبِينٍ) بَيِّن بِإشرَاكِهِم وَأنتُم مِنهم

ترجمه: شروع کوم په نامه دَ الله چه ډیر بخښونکي او ډیر مهربان دې. آلمٓ دَدې (حقیقي) مراد خو الله تعالٰی بهتر پیژنی تِلْكَ یعنی دا آیاتونه دَ حکمت والا کتاب یعنی د قرآن آیاتونه دی اضافت په معنی دَ مِنْ دې هغه دَ نیکانو دَپاره لارخودونکې او (سراسر) رحمت دې دَ رَحْمَةٌ په رفع سره، رَحْمَةً په عام قراءت کښې دَ ایات نه حال واقع کیدو دَ وجې نه منصوب دې (او) عامل په دې کښې هغه (فعل) دې کوم چه په تِلْكَ کښې دَ اشارې معنی ده (یعنی اُشِیْرُ کوم خلق چه مونځ قائموی دا دَ محسنینو بیان دې او زکوة اداکوی او په آخرت باندې (کامل) یقین لری دویم هُمْ دَ رومبې هُمْ تاکید دې هم دغه خلق دی چه دَخپل رب دَ طرف نه په هدایت باندې دی او هم دغه خلق خلاصې بیاموندونکی دی کامیاب دی او بعض خلق داسې دی چه فضول خبرې اخلی یعنی هغه څیز دکوم په وجه چه دَ مقصد نه غافل پاتې شی (نوټ) دا ترجمه په هغه صورت کښې ده کله چه يُلْهِي معروف اولوستلې شی او که يُلْهٰی مجهول اولوستلې شی نوترجمه به داسې شی او بعض خلق داسې دی چه داسې لغویات اخلی دَ کوم په ذریعه چه دَ مقصد نه غافل کړې شی دې دَپاره چه دَ الله تعالٰی دَ لارې نه یعنی دَ اسلام دَطریقې نه دَ ناپوهۍ دَ وجې نه په گمراهئی کښې پریوځی (یا) دې دَپاره چه خلق گمراه کړی لِيُضِلَّ په فتحه او ضمه سره دې وَيَتَّخِذَهَا نصب سره به په يُضِلَّ باندې عطف وی او په رفع سره به په يَشْتَرِى باندې عطف وی دې دَپاره چه د دې آیاتونو یعنی دَ سبیل الله مسخرې اوکړی هم دغه هغه خلق دی دَ چا دَپاره چه رسوا کونکې عذاب دې اوکله چه دوی ته زمونږ آیاتونه یعنی قرآن لوستلې اورولې شی نو کبر کولو سره داسې مخ اړوی لکه چه ده هډو اوریدلې نه دې لکه چه دَ ده په غوږونو کښې دروندوالې دې یعنې غوږونه ئې درانه دی اودَ تشبیه دواړه جملې د وَلّٰی دَ ضمیرنه حال دی یا دویمه جمله دَ رومبې جملې بیان دې تاسو ده ته دَ دردناک عذاب خبر ورکړئ اودَ زیری ذکر دَ ده دَپاره دَ تهکم دَپاره دې اوهغه نضربن حارث دې چه دَ تجارت په سلسله کښې به حیره ته تللو (هلته) نه به ئې دَعجمیانو تاریخی کتابونه راوړل اوهغه کتابونه به ئې اهل مکه ته اورول او وئیل به ئې چه محمد ﷺ خو تاسو ته دَ عادیانو او ثمودیانو قصې اوره وی او زه تاسو ته دَ روم او فارس قصې اوروم نودې خلقو به دَ هغه خبره خوښوله او قرآن اوریدل به ئې پریخودلو. بیشکه کوم خلقو چه ایمان قبول کړو او کارونه ئې هم نیک کړی دی دَ هغوی دَپاره دَ نعمتونو والا جنتونه دی چرته چه به هغوی همیشه

اوسیږی، حال مقدره دې یعنی دهغوی په جنت کښې دهمیشه دَ پاره اوسیدل مقدر شوی دی کله چه هغوی په دې کښې داخل شی دَ الله تعالی وعده رښتونې یعنی الله تعالی هغوی سره وعده کړې ده رښتونې وعده هغه دَ غلبې والا ده هغه لره هیڅوك مغلوب کولې نه شی چه هغه دَ خپلو وعدو اووعیدونوپوره کولونه منع کړې شی. هغه دَ لوئی حکمت والا دې چه هرڅیز هم دهغې په محل او موقع کښې اږدی هم هغه آسمان بغیر د ستنو جوړکړو (لکه څنګه) چه تاسو هغې ته ګورئی عَمَدٌ دَ عِمَادٌ جمع ده او معنی ئې ستنې دی اوداخبره په دې صورت کښې هم صادق راځی چه ستن بالکل نه وی او په زمکه ئې باندې اوچت اوچت غرونه کیخودل دې دَپاره چه په تاسو (اضطرابی) حرکت اونه کړی او هرقسم ځناورئی په زمکه کښې خواره کړل اوموږ دَ آسمان نه اوبه راوُرولې په دې کښې دَغیبت (نه دَ تکلم طرف ته) التفات دې بیا په دغه زمکه کښې د قسم قسم (بوټو نه) ښکلې قسمونه راوُټوکول دادی دَالله تعالی پیداکړې شوی (څیزونه) یعنی دهغه مخلوق، اوس اې مکې والوماته اوښایئې چه غیرالله څه پیداکړی دی؟ یعنی ستاسو معبودانو چه تاسو هغوی دَ الله تعالی سره شریك ګرځولی دی مَا استفهام انکاری مبتدأ ده اوذَا په معنی د الذی د خپلې صلې سره دَدې خبردې او اَرُوْنِی دَ عمل نه منع نه کړې شوې دې اودَدې مابعدَ د دوو مفعولو قائم مقام دې بل دَ انتقال دَپاره دې بلکه ظالمان په ښکاره ګمراهئی کښې دی دَهغوی دَ شرك کولوَ وجې نه او هم دَدوی نه تاسو هم یئې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اَیْ هٰذِهِ الاٰیَات، تِلْكَ د اسم اشارهٔ بعید تفسیر په هذه اسم اشارهٔ قریب سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چه دَ سورت ایات دَالله تعالی په نیزدَ مرتبې په لحاظ سره رفیع القدر دی اګرچه اذهان ته نیزدې دی. هُوَ محذوف منلو کښې ئې اشاره اوکړه چه هُدًی وَّرحمةً دَمبتدأ محذوف خبر دې او که چرې هدًی او رحمةً منصوب وی نو د آیات نه به حال وی او عامل به ئې تِلْكَ دَ یُشِیْرُ په معنی کښې وی.

قوله: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ یَّشْتَرِی لَهْوَالحدیث د دې نه وړاندې آیت کښې دَ نیکانو مؤمنانو ذکر وپه دې آیت کښې دَ مقابلې په توګه دَ بدکاره مشرکانو ذکردې په رومبی آیت کښې دَ محسنینو دَ اوصافو ذکر وو په دې آیت کښې دَ مشرکانو دَ اوصاف ذکر دې. وَمِنَ النَّاسِ کښې مِن تبعیضیه دې اودَ شان نزول په اعتبار سره اګرچه یوخاص سړی نضر بن حارث بن کلده مراد دې مګر الفاظ عام دی په کوم کښې چه لهوالحدیث سره شوق لرونکې هرسړې داخل دې.

قوله: لَهْوٌ (ن) مصدر دې په داسې فضول کار کښې مشغولیدل د کوم په وجه سره چه فائده مند کار پاتې شی دلته مصدر د اسم فاعل په معنی کښې دې یعنی هغه فضول خبرې کومې چه غافل کونکې وی، لَهْوَالحدیث دا اضافت په معنی د مِن دې لکه چه شارح رحمه الله په منه سره اشاره کړې ده په اصل کښې لَهْوٌ من الحدیث وو دَ فضول او بې هوده قصولو بې توقې.

قوله: عَمَّا یعنی، مایعنی هغه څیز چه مقصود وی اوس ترجمه داشوه لَهْوَالحدیثِ هغه شې چه دَ فائده مند اوکار والا شې نه غافل کړی.

قوله: ای مَایُلْهِی (س) واحد مذکر غائب مضارع معروف.

قوله: لِیَضِلَّ او لِیُضِلَّ دواړه قراءتونه دی په رومبی صورت کښې به ترجمه دا وی هغه لهو الحدیث ځکه اخلی او راوړی دې دَپاره چه په خرافات او قصه ویونکو کښې هیمشه مشغولیدو سره پخپله ګمراه پاتې شی او په دویم صورت کښې به ترجمه دا وی دې دَپاره چه هغه نور خلق ګمراه کړی یعنی ضالّ هم دې او مضل هم.

قوله: صَمَمًا دا دَ وَقْرًا تفسیر دې وقر ډاټ ته وائی کوم چه محسوس او دَ بهر څیز وی دلته معنوی ډاټ مراد دې او هغه دروند والې او کونړوالې دې نه اوریدل یا اوریدل خو عمل نه کول ئې په وقر سره تعبیر کړې دی.

قوله: فَبَشِّرْهُ ای أَعْلِمْهُ دبشره تفسیر په ئې أَعْلِمهُ سره کولو کښې اشاره اوکړه چه دلته خوشخبری اوزیرې مرادنه دې ځکه چه دَ عذاب الیم دَ خوشخبرئی هیڅ مطلب نشته ځکه چه خوشخبری خود بنه خبر وی مراد ترې نه مطلقًا خبرورکول دی.

قوله: وَذِکْرُالْبَشَارَةِ تَهَکُّمٌ دا دَ فَبَشِّرْهُ دویم تفسیر دې دَ شارح علام دَپاره مناسب وه چه دلته ئې دَ واؤ په ځائې أَوْ ذکر کړې وې. دَ دویم تفسیر خلاصه داده چه دلته دَ بشارت نه مراد هم بشارت یعنی زیرې دې خو دا دټوقو او خندا کولو په توګه دې

قوله: خالدین فیها دا دَ جَنّٰت یا لَهُمْ دَ ضمیرنه حال مقدره دې ځکه چه دَ حال او ذوالحال زمانه یو کیدل ضروری دی.

قوله: وَعَدَهُمُ اللهُ ذٰلِكَ په دې تفسیرسره ئې اشاره اوکړه چه وَعْدًا مصدر دې او دَخپل فعل په ځائې واقع دې یعنی فعل ئې حذف کړو او مصدرئې دَهغې په ځائې کیخودو. تقدیری عبارت داسې وو وَعَدَهُمُ اللهُ وَعْدًا او وَعْدًا مصدر مؤکد لنفسه دې ځکه چه لَهُمْ جنات النعیم په معنی کښې دَ وَعَدَهُمُ اللهُ ذٰلِكَ دې او حَقًّا مصدر مؤکد لغیره دې ځکه چه هره یوه وعده حق نه وی

قوله: أُسْطُوَانَةٌ ستن (ج) اساطین.

قوله: هُوَصَادِقٌ بِأَن لَا عَمَدَ اَصْلًا شارح رحمه الله په مذکوره عبارت سره دَ بِغَیْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا د

دوو معنو طرف ته اشاره کړې ده. ①یو مطلب دا دې چه الله تعالی اسمانونه په داسې ستنو قائم کړی دی کومې چه تاسو نه شئی لیدلې اودې ②دویم مطلب دا دې چه آسمانونه ئې بغیرد ستنو قائم کړی دی کوم چه تاسو نه شئی لیدلې اودې دریم مطلب دا دې چه آسمانونه ئې بغیرد ستنو پیدا کړل ځکه چه کله د آسمانونو ستنې نشته نو ښکاری به د کوم ځائې نه، ځکه چه قضیه سالبه څنګه چه د موضوع دپاره محمول نه ثابتیدو په صورت کښې صادق راځی نو دغه شان موضوع د سر نه د نه موجودکیدو په صورت کښې هم صادق راځی که چرې زید ناست وی نو زیدلیس بقائم وئیل صحیح دی او که چرې زید په دنیا کښې موجود نه وی نو بیا هم زیدلیس بقائم صادق دې.

قوله: لِاَنَّ لَا تَمِیْدَ بِکُمْ مفسر علام لام تعلیل او لائې نافیه مقدر منلو سره اشاره کړې ده چه په زمکه کښې د غرونو د نصب کولو علت زمکه د اضطرابی حرکت نه منع کول دی. په یو نسخه کښې د ان نه وړاندې لام مکتوب نشته اود صاوی په نسخه کښې لام تعلیلیه هم مکتوب دې.

قوله: مَاذَا خَلَقَ الَّذِیْنَ مِنْ دُوْنِهٖ،غَیْرِهٖ، دا د دونه تفسیر دې. آلِهَتُکُمْ، د الذین تفسیر دې ماذا کښې ما استفهام انکاری دې او مبتدأ ده او ذا په معنی د الذی د خپلې صلې سره د مبتدأ خبر دې او عائد محذوف دې ای ما الذی خلقه آلِهَتُکُمْ او اَرُوْنِی ممنوع العمل دې لفظًا، ځکه چه دد ما استفهامیه نه وړاندې واقع شوې دې که چرې ارونی ته عمل ورکړې شی نو دَما استفهامیه صدارت د کلام به باطل شی.

قوله: مَا بَعْدَهٗ سَدَّ مَسَدَّ المفعولین دا په دې صورت کښې صحیح دی چه ارونی متعدی دریو مفعولو ته او منلې شی نو په دې صورت کښې به مفعول اول د اَرُوْنِی یاء وی او روستنې جمله به قائم مقام د دوؤ مفعولو وی مګر دادې خلاف دی کوم چه بیان کړې شوی دی چه اَرِی کله د اَخْبِرَ په معنی کښې وی نو متعدی وی دوو مفعولو ته لکه څنګه چه دلته دی لهذا په دې صورت کښې د شارح رحمه الله سد مسد المفعولین وئیل مناسب نه معلومیږی بلکه که سد مسد المفعول الثانی ئې فرمائیلې وې نو بهتر به وه.

[ایاتونه: ۱۲ - ۱۹]

﴿وَلَقَدْ اٰتَیْنَا لُقْمٰنَ الْحِکْمَةَ﴾ مِنْهَا الْعِلْم والدِّیَانَة وَالإِصَابَة فِي الْقَوْل وَحِکَمه کَثِیرَة مَأْثُورَة کَانَ یُفْتِي قَبْل بَعْثَة دَاوُد وَأَدْرَکَ زَمَانه وَأَخَذَ عَنْهُ الْعِلْم وَتَرَکَ الْفُتْیَا وَقَالَ فِي ذَلِکَ أَلَا أَکْتَفِي إِذَا کُفِیْت وَقِیلَ لَهُ أَيّ النَّاس شَرّ قَالَ الَّذِي لَا یُبَالِي إِنْ رَآهُ النَّاس مُسِیئًا ﴿أَنْ﴾ أَيْ وَقُلْنَا لَهُ أَنْ ﴿اشْکُرْ لِلّٰهِ﴾ عَلَی مَا أَعْطَاک مِنْ الْحِکْمَة ﴿وَمَنْ یَّشْکُرْ فَاِنَّمَا یَشْکُرُ لِنَفْسِهٖ﴾ لِأَنَّ ثَوَاب شُکْره لَهُ ﴿وَمَنْ کَفَرَ﴾ النِّعْمَة ﴿فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ﴾ عَنْ خَلْقه ﴿حَمِیْدٌ﴾ مَحْمُود

بي صنعه (وَ) اُذْكُرْ (إِذْ قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ) تَصْغِير إِشْفَاق (لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ) بِاللهِ (لَظُلْمٌ عَظِيمٌ) فرجع إليه واسلم (وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ) أَمَرْنَاهُ أَنْ يَبَرَّهُمَا (حَمَلَتْهُ أُمُّهُ) فَوَهَنَتْ (وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ) أَيْ ضَعُفَتْ لِلْحَمْلِ وَضَعُفَتْ لِلطَّلْقِ وَضَعُفَتْ لِلْوِلَادَةِ (وَفِصَالُهُ) أَيْ فِطَامُه (فِي عَامَيْنِ) وَقُلْنَا لَهُ (أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ) أَيِ الْمَرْجِع (وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ) مُوَافَقَة لِلْوَاقِعِ (فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا) أَيْ بِالْمَعْرُوفِ الْبِرّ وَالصِّلَة (وَاتَّبِعْ سَبِيلَ) طَرِيق (مَنْ أَنَابَ) رَجَعَ (إِلَيَّ) بِالطَّاعَةِ (ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ) فَأُجَازِيكُمْ عَلَيْهِ وَجُمْلَة الْوَصِيَّة وَمَا بَعْدَهَا اعْتِرَاض (يَا بُنَيَّ إِنَّهَا) أَيِ الْخَصْلَة السَّيِّئَة (إِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ) أَيْ فِي أَخْفَى مَكَان مِنْ ذَلِكَ (يَأْتِ بِهَا اللَّهُ) فَيُحَاسِب عَلَيْهَا (إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ) بِاسْتِخْرَاجِهَا (خَبِيرٌ) بِمَكَانِهَا (يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ) بِسَبَب الْأَمْر وَالنَّهْي (إِنَّ ذَلِكَ) الْمَذْكُور (مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ) أَيْ مَعْزُومَاتهَا الَّتِي يُعْزَم عَلَيْهَا لِوُجُوبِهَا (وَلَا تُصَعِّرْ) وَفِي قِرَاءَة تُصَاعِر (خَدَّكَ لِلنَّاسِ) لَا تُمِلْ وَجْهك عَنْهُمْ تَكَبُّرًا (وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا) أَيْ خُيَلَاء (إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ) مُتَبَخْتِر فِي مَشْيه (فَخُورٍ) على الناس (وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ) تَوَسَّطْ فِيهِ بَيْن الدَّبِيب وَالْإِسْرَاع وَعَلَيْك السَّكِينَة وَالْوَقَار (وَاغْضُضْ) اخْفِضْ (مِنْ صَوْتِكَ إِنَّ أَنْكَرَ الْأَصْوَاتِ) أَقْبَحهَا (لَصَوْتُ الْحَمِيرِ) أَوَّله زَفِير وَآخِره شَهِيق

ترجمه: اويشکه مونږ حضرت لقمان ته حکمت ورکړې وو اوهم دَدې نه علم ديانت او رښتياخبرې کول دی اودَهغه دَ حکمت (خبرې) ډيرې دی کومې چه نقل دی اوهغوی به دَحضرت داؤد عليه السلام دَ بعثت نه وړاندې فتویٰ ورکوله، حضرت لقمان دَ حضرت داؤد عليه السلام په زمانه کښې وو اودَهغوی نه ئې علم هم حاصل کړې وو اودَ (داؤد عليه السلام دَ بعثت نه پس) ئې فتویٰ ورکول پرېخودې وو اودَ فتویٰ (په معامله کښې) ئې اوفرمائيل زه دې نه بس نه کړم کله چه زما په ځائې بل سوک کافی شو؟ اودَ حضرت لقمان نه تپوس اوکړې شو چه بدترين سړې کوم يودې؟ جواب ئې ورکړو چه هغه سړې چه دَ دې خبرې پرواه اونه کړی چه خلق به هغه په بدوکولوسره اووينی يعنی مونږ هغه ته اووئيل چه ته دَالله تعالی شکر کوه په دې خبره باندې چه تاته ئې حکمت درکړې دې اوهرشکر کونکې هم دَخپلې فائدې دَپاره شکر کوی څکه چه دَهغه دَ شکر کولو اجر هم هغه ته ملاويږی اوچاچه دَنعمت ناشکری اوکړه (هغه دې پوهه شی) چه الله تعالی دَ خپل مخلوق نه بې پرواه دې او په خپل صنعت کښې دَ ستاينې يعنی دَ تعريف قابل دې اوهغه وخت يادکړه کوم وخت چه حضرت لقمان خپل ځوئې ته نصيحت کولوسره اووئيل اې زما بچيه ئُنَّ دَ شفقت دَپاره تصغير دې الله تعالی سره شريک مه ګرځوه بيشکه الله تعالی سره شريک ګرځول ډير لوئې ظلم دې نوهغه دَ لقمان خبره اومنله او اسلام ئې قبول کړو اومونږ انسان ته دَخپل مورپلار سره دَ ښه سلوک کولو

(تاکیدی) حکم ورکړی دې دَهغه مور دَ تکلیف دَپاسه تکلیف تیرولو سره هغه په خیټه اوساتلو یعنی دَحمل دَ وجې نه هغې ته کمزوری اورسیدله اودَ بچی پیداکیدو په درد سره ورته کمزوری پیداشوه او دَ ولادت دَ وجې نه کمزورې شوه او په دوه کالو کښې هغه دَ پیشو نه پرې کولې شی اومونږ هغه ته اووئیل چه ته زما اوَ د خپل مورپلار شکر اداکوه هم زما طرف ته راواپس کیدل دی اوکه چرې هغه دواړه (هم) په تا باندې دَ دې خبرې زورنه واچوی چه ته ماسره داسې څیز شریک کړه دَ کوم چه تاسره دَ واقع مطابق دلیل نه وی نودَ هغوی وینامه منه او: په دنیاکښې هغوی سره ښه وخت تیروه یعنی په ښه سلوك سره اودَهغه کس دَ طریقې تابعداری کوه چه زماطرف ته دَ طاعت په ذریعه رجوع کونکې وی بیاتاسو ټول به هم زماطرف ته واپس راګرځئ بیا به زه تاسو ته اوښایم څه چه تاسو کول بیا به دَهغه اعمالو تاسو ته بدله ورکوم دَ وصیت اودَ هغې نه مابعد جمله جمله معترضه ده، اې زما خوږه بچیه خراب خصلت اګرچه که هغه دَا اوری دَ دانې برابروی او بیا هغه (هم) په کاڼړی کښې وی یا په آسمانونوکښې وی یا په زمکه کښې وی یعنی دَ دغه ذکر شوو ځایونونه په زیات پټ ځائې کښې وی الله تعالی به هغه خامخا راؤباسی اوبیابه په هغې باندې محاسبه کوی بیشکه الله تعالی دَهغې د راویستو په باره کښې باریک بین دې اودَهغې دَ ځائې نه خبردې، اې زما خوږه بچیه ته مونځ قائموه اودَ خو کارونو نصیحت کوه اودَ خرابو کارونو نه منع کول کوه اودَ امر اونهی دَ وجې نه که په تاباندې څه مصیبت راشی نو صبرکوه یقین اوکړه چه دا صبرکول دَ ډیر همت والا کارونونه دی یعنی دا صبردَهغه امورو نه دې دَ کوم دَ واجب کیدو دَ وجې نه چه دَدې تاکید کړې شوې دې اوته دَ خلقونه دَ تکبردَ وجې نه خپل مخ مه اړوه او په زمکه باندې په کبر سره مه ګرځه یعنی په عجب او خان خوښئی سره، بیشکه الله تعالی په کبرسره تګ کونکی او دَخلقو په مقابله کښې فخرکونکی نه خوښوی او ته په خپل رفتارکښې دَ توخیدو او د منډې په مینځ کښې اعتدال اختیارکړه او وقعت او وقار اختیارکړه او خپل آواز ښکته ساته یقینًا په آوازونو کښې دَ ټولونه ناخوښه آوازدَ خرآوازدې (دَ خردَ آواز) رومبې حصه زفیردې اودَدې آخر شهیق دې

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ دَ لفظ د لقمان باره کښې بعضو وئیلی دی چه دا عجمی لفظ دې اوعلمیت او عجمه دَ وجې نه غیرمنصرف دی او بعض حضراتو وئیلی دی چه عربی لفظ دې علمیت او الف نون زائدتان دَ وجې نه غیرمنصرف دې او د حضرت لقمان عليه السلام دَنسب په باره کښې مختلف اقوال دی بعض حضرات لقمان بن باغور بن ناخور بن تارخ او تارخ دَ آزر نوم دې دَدې نسب په اعتبارسره حضرت لقمان عليه السلام دَحضرت ابراهیم عليه السلام دَ رور نمسې دې او بعضې حضراتو ورته دَحضرت ایوب عليه السلام خورئې وئیلې دې اوبعضو دَحضرت ابراهیم عليه السلام دَ ترور خوئی وئیلې دې. وئیلی شی چه حضرت لقمان عليه السلام

زر کاله ژوندي وو ترديږ چه دَحضرت داؤد علیه السلام زمانه ئې هم ليدلې ده، جمهور په دې خبره متفق دی چه حضرت لقمان حکیم وو نبی نه وو البته عکرمه رحمه الله او امام شعبی رحمه الله دَ هغوی دَ نبوت قائل دی (صاوی)

قوله: إن، ای وَقُلْنَا لَهُ شارح رحمه الله په دې تفسیری عبارت سره دَ دوو خبرو طرف ته اشاره کړې ده اول دا چه أن تفسیریه دې دویم دا چه دا حذف د قلنا په ذریعه أن اشكرعطف په وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ باندې شوې دې. حضرت لقمان علیه السلام دَ خوئی په نوم کښې درې اقوال دی بعضو ثاران وئیلې دې او کلبی رحمه الله مشکم وئیلې اوبعضې انعم وئیلې دې (جمل) وئیلې شوی دی چه دحضرت لقمان علیه السلام بی بی او خوئی کافر وودَهغوی په نصیحت سره مسلمانان شو.

قوله: فَرَجَعَ وَأَسْلَمَ داعطف تفسیری دې.

قوله: وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ دا دوه آیاتونه دَحضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه په باره کښې نازل شوی دی اودا دوه آیاتونه دَحضرت لقمان علیه السلام دکلام په مینځ کښې دَ جملې معترضې په توګه واقع شوی دی.

قوله: وَهْنًا وَهَنَتْ عَلَى وَهْنٍ مفسرعلام دَ وَهْنًا نه وراندې وَهَنَتْ فعل محذوف منلو سره اشاره اوکړه چه وَهْنًا دَفعل محذوف مفعول مطلق دې او علىٰ وهن دا د کائنًا محذوف متعلق دې او دَوَهْنًا صفت دې ای وَهْنًا كَائِنًا عَلَى وَهْنٍ او صاوی رحمه الله وئیلی دی چه زیات بهتردادی چه د أُمُّهُ نه حال اوګرځولې شی ای حَمَلَتْهُ أُمُّهُ ذات وهن.

قوله: موافقة لِلْوَاقِعِ شارح رحمه الله دَ مَالَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ په باره کښې فرمائیلی دی چه دا قید دَ بیان د واقعې دَپاره دې یعنی واقعی اوحقیقت کښې دَهغه خوك شريك نشته نو بیابه د دې علم او دلیل چرته وی؟ دا قیداحترازی نه دې چه دَ آیت مطلب دا وی چه دَچادَ شريك کیدو چه تاسره دلیل نه وی نوهغه مه شريك کوه اودَ چادَ شريك کیدو چه تاسره دلیل وی هغه شريك کولې شې دا به دَدې مفهوم مخالف وی کوم چه معتبرنه دې. هم دې ته وئیلی شی لامفهوم لَهُ یعنی دَدې مفهوم مخالف مراد نه دې.

قوله: وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ د دې ځای نه دوه آیاتونه دَحضرت لقمان دکلام په مینځ کښې دَ جملې معترضې په توګه دې مقصد دَدې دَ حضرت لقمان دَ کلام تاکید دې یا بُنَيَّ داد حضرت لقمان دَ خپل خوئی دَ نصیحت طرف ته عود کول دی

قوله: فِي صَخْرَةٍ، صخرة مطلقًا دکانړی غر ته وائی اودَ اوومې زمکې لاندې چه کوم سخت کانړې دې هغې ته هم وائی.

قوله: لَا تُصَعِّرْ فعل نهی، مه اړوه دلته دَ تکبردَ وجې نه د مخ اړولو نه نهی ده.

[اياتونه: ٢٠ ـ ٣٠]

(أَلَمْ تَرَوْا) تَعْلَمُوا يَا مُخَاطَبِيْنَ (أَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ) مِنَ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ وَالنُّجُوْمِ لِتَنْتَفِعُوْا بِهَا (وَمَا فِي الْأَرْضِ) مِنَ الثِّمَارِ وَالْأَنْهَارِ وَالدَّوَابِّ (وَأَسْبَغَ) أَوْسَعَ وَأَتَمَّ (عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً) وَهِيَ حُسْنُ الصُّوْرَةِ وَتَسْوِيَةُ الْأَعْضَاءِ وَغَيْرُ ذٰلِكَ (وَبَاطِنَةً) هِيَ الْمَعْرِفَةُ وَغَيْرُهَا (وَمِنَ النَّاسِ) أَيْ أَهْلِ مَكَّةَ (مَنْ يُجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى) مِنْ رَسُوْلٍ (وَلَا كِتَابٍ مُنِيْرٍ) أَنْزَلَهُ اللّٰهُ بَلْ بِالتَّقْلِيْدِ (وَإِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا) قَالَ تَعَالٰى (أَ) يَتَّبِعُوْنَهُمْ (وَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ يَدْعُوْهُمْ إِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ) أَيْ مُوْجِبَاتِهِ لَا (وَمَنْ يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللّٰهِ) أَيْ يُقْبِلْ عَلٰى طَاعَتِهِ (وَهُوَ مُحْسِنٌ) مُوَحِّدٌ (فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى) بِالطَّرَفِ الْأَوْثَقِ الَّذِيْ لَا يُخَافُ انْقِطَاعُهُ (وَإِلَى اللّٰهِ عَاقِبَةُ الْأُمُوْرِ) مَرْجِعُهَا (وَمَنْ كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ) يَا مُحَمَّدُ (كُفْرُهُ) لَا تَهْتَمَّ بِكُفْرِهِ (إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا إِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ) أَيْ بِمَا فِيْهَا كَغَيْرِهِ فَمُجَازٍ عَلَيْهِ (نُمَتِّعُهُمْ) فِي الدُّنْيَا (قَلِيْلًا) أَيَّامَ حَيَاتِهِمْ (ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ) فِي الْآخِرَةِ (إِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ) وَهُوَ عَذَابُ النَّارِ لَا يَجِدُوْنَ عَنْهُ مَحِيْصًا (وَلَئِنْ) لَامُ قَسَمٍ (سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ) حُذِفَ مِنْهُ نُوْنُ الرَّفْعِ لِتَوَالِي الْأَمْثَالِ وَوَاوُ الضَّمِيْرِ لِالْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ (قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ) عَلٰى ظُهُوْرِ الْحُجَّةِ عَلَيْهِمْ بِالتَّوْحِيْدِ (بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ) وُجُوْبَهُ عَلَيْهِمْ (لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ) مُلْكًا وَخَلْقًا وَعَبِيْدًا فَلَا يَسْتَحِقُّ الْعِبَادَةَ فِيْهِمَا غَيْرُهُ (إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ) عَنْ خَلْقِهِ (الْحَمِيْدُ) الْمَحْمُوْدُ فِيْ صُنْعِهِ (وَلَوْ أَنَّ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ) عَطْفٌ عَلَى اسْمِ أَنَّ (يَمُدُّهُ مِنْ بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ) مِدَادًا (مَا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللّٰهِ) الْمُعَبَّرُ بِهَا عَنْ مَعْلُوْمَاتِهِ بِكَتْبِهَا بِتِلْكَ الْأَقْلَامِ بِذٰلِكَ الْمِدَادِ وَلَا بِأَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ لِأَنَّ مَعْلُوْمَاتِهِ تَعَالٰى غَيْرُ مُتَنَاهِيَةٍ (إِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ) لَا يُعْجِزُهُ شَيْءٌ (حَكِيْمٌ) لَا يَخْرُجُ شَيْءٌ عَنْ عِلْمِهِ وَحِكْمَتِهِ (مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَاحِدَةٍ) خَلْقًا وَبَعْثًا لِأَنَّهُ بِكَلِمَةِ كُنْ فَيَكُوْنُ (إِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ) يَسْمَعُ كُلَّ مَسْمُوْعٍ (بَصِيْرٌ) يُبْصِرُ كُلَّ مُبْصَرٍ لَا يَشْغَلُهُ شَيْءٌ عَنْ شَيْءٍ (أَلَمْ تَرَ) تَعْلَمْ يَا مُخَاطَبُ (أَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ) يُدْخِلُ (اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ) يُدْخِلُهُ (فِي اللَّيْلِ) فَيَزِيْدُ كُلٌّ مِنْهُمَا بِمَا نَقَصَ مِنَ الْآخَرِ (وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ) مِنْهُمَا (يَجْرِيْ) فِيْ فَلَكِهِ (إِلٰى أَجَلٍ مُسَمًّى) هُوَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ (وَأَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ) (ذٰلِكَ) الْمَذْكُوْرُ (بِأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ) الثَّابِتُ (وَأَنَّ مَا يَدْعُوْنَ) بِالْيَاءِ وَالتَّاءِ يَعْبُدُوْنَ (مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ) الزَّائِلُ (وَأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ) عَلٰى خَلْقِهِ بِالْقَهْرِ (الْكَبِيْرُ) الْعَظِيْمُ

ترجمه: اي مخاطبو! ولې تاسو داخبره نه پېژنئ چه الله تعالى ستاسو په کارکښې لګولې دى هغه ټول څيزونه کوم چه په آسمانونوکښې دى يعنى نمر، سپوږمۍ اوستورى دې دپاره چه تاسو دې نه فائده حاصله کړئ اوهغه څيزونه کوم چه په زمکه کښې دى، ميوې نهرونه او ځناور (وغيره) اوتاسو ته ئې خپل ظاهرى نعمتونه اوهغه ښائست او صورت اود اندامونو برابروالې وغيره وغيره دى، او باطنى (نعمتونه) (او) هغه معرفت (دَالله تعالى) وغيره دى

پوره درکړې دی او څه خلق یعنی اهل مکه داسې هم دی چه دَالله تعالی باره کښې بغیرِدَ علم نه اودَ رسول دَ طرف نه بغیرِدَ هدایت او بغیرِدَ څه روښانه کتاب کوم چه الله تعالی نازل کړې وی، جګړې کوې بلکه دَتقلیددَ وجې نه (جګړې کوې) او کله چه هغوی ته وئیلې شی چه دَالله تعالی دَ نازل کړې شوې وحی تابعداری اوکړئ نو وائی چه مونږ خو چه په کومه طریقه خپل پلاران اونیکونه لیدلی دی هم دَهغې تابعداری به کوو الله تعالی اوفرمائیل آیا دوی به هم دَهغه لارې تابعداری کوی اګرچه دوی لره شیطان دَدوزخ دَعذاب طرف ته یعنی دَهغې دَ موجبات طرف ته راغوښتې وی؟ نه، او کوم سړې چه خپل ځان الله تعالی ته حواله کړی یعنی دَهغه دَ اطاعت طرف ته متوجې شی او حال دا چه هغه نیک یعنی مؤحد وی نویقیناً هغه مضبوطه حلقه یعنی داسې مضبوطه غاړه اونیوله دَ کومې دَ ماتیدو چه څه اندیښنه نشته او دَ ټولو کارونو انجام یعنی راګرځیدل هم دَ الله تعالی طرف ته دی. اې محمد ﷺ تاسو دَ کافرانو په کفر سره مه خفه کیږئ یعنی تاسو دَهغوی په کفرباندې خپل خاطر مه درنوئی (آخر) دَ دوی هم زمونږ طرف ته راواپس کیدل دی نو مونږ به هغوی ته دَهغوی ټول چلونه اوښایو بیشکه الله تعالی دَ سینو دَ رازونونه یعنی څه چه په زړونو کښې دی خبردې لکه څنګه چه دَ زړونو دَ رازونونه علاوه هم خبردې نو دَهغې بدله به ورکړی مونږ به هغوی ته په دنیا کښې څه لږ شان (یعنی) دَ هغوی دَ ژوند دمودې پورې فائده ورکړو اوآخر به مونږ هغوی دَ دیرې ناچارئې په حالت کښې په آخرت کښې دَ سخت عذاب طرف ته وراوشړو او هغه دَدوزخ عذاب دې چه هغوی به دَدې نه دَ پناه ځائې اونه مومی او که چرې تاسو دَهغوی نه پوښتنه اوکړئی چه دَ آسمان او زمکې خالق څوک دې؟ نویقیناً به هم دغه جواب درکوی چه الله پاک دې. دَدې نه نون د رفع مسلسل دَ یوځو نوناتو دَ جمع کیدو دَ وجې نه حذف کړې شوې دې او ضمیر د واؤ (هم) دَالتقاء ساکنین دَ وجې نه ساقط کړې شو په هغوی باندې دَ توحید حجت ښکاره کیدو سره تاسو الحمدلله اووایئې لیکن په دوی کښې اکثر خلق په خپل ځان باندې دَ توحید دَ وجوب نه خبر نه دی، په آسمانونو او زمکو کښې چه څه دی دَ مملوك او مخلوق او غلام کیدو په اعتبار سره هم دَالله تعالی دی، لهذا په زمکو او آسمانونو کښې هیڅوك دَ هغه نه علاوه دَ عبادت مستحق نه دی یقیناً الله تعالی دَ خپل مخلوق نه بې نیاز دې او په خپل صنعت کښې دَ تعریف قابل دې. که په مخ دَ زمکې ټولې ونې قلمونه شی او ټول سمندرونه سیاهی شی دَ أَنَّ په اسم باندې عطف دې او دې سره اووه سمندرونه نور هم شامل شی بیا هم دَالله تعالی کلمات نه شی ختمیدې دَ الله تعالی معلومات ئې په کلمات سره تعبیرکړې دې دَ دغه معلوماتو په دې قلمونو سره دَ لیکلو دَ وجې نه په دغه سیاهی سره اونه دَ دغه (مذکوره) نه زیات (اندازې) سره ختمیدې شی ځکه چه دَ الله تعالی معلومات غیرمتناهیه دی بیشکه الله تعالی دَلوئی غلبې والا دې هغه هیڅ څیز عاجز کولې نه شی او دَ لوئی حکمت والا دې هیڅ یوشئ دَهغه دَعلم

او حکمت نه خارج نه دي ستاسو دټولو پیدا کول او دمرګ نه پس راژوندی کول هم داسې دي لکه دیونفس پیدا کول او ژوندی کول، ځکه چه دا ټول (هرڅه) په کلمه د کن فیکون سره کیږي، بیشکه الله تعالی هره خبره اوري او هریو څیز ته ګوري هغه لره هیڅ یو شئ د بل شئ نه منع کولې نه شي، اې مخاطب ولې ته نه ګورې چه الله تعالی شپه په ورځ کښې او ورځ په شپه کښې ورداخلوي په هغې کښې په هریو کښې دومره اضافه کیږي څومره چه د بل نه کمیږي. شمس او قمر ئې هریو هغه مسخر کړی دی چه د مقرر وخت پورې په خپله محور کښې ګرځي او مقرر وخت د قیامت ورځ ده، او بیشکه الله تعالی ستاسو دهر عمل نه خبر دې دا ذکر شوی (تسخیر او انتظامات) ددې دپاره دی چه الله تعالی برحق ثابت الالوهیة دې او دهغه نه علاوه چه کوم کوم (معبودان) رابلئې یعنی بندګی ئې کوئې ټول باطل دی ختمیدونکی دی یدعون کښې یاء او تاء دواړه قراءتونه دی او یقینًا الله تعالی په خپل مخلوق باندې د غلبې په اعتبار سره اوچت او عظیم دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: اَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللهَ الاٰیة دا ردعلی المشرکین د مخکښنی مضمون طرف ته رجوع ده.

قوله: یاَمُخَاطَبِیْنَ منادی مفرد کیدو د وجې نه قیاس دا وو چه یامخاطبون وی، ځکه چه منادی مفرد مبنی علی علامة الضم وی مګر کیدې شي چه نکره د غیر مقصود کیدو د وجې نه منصوب وی.

قوله: یقبل علی طاعته د اضافې مقصد دا خودل دی چه وَجْهُه نه مخ مراد نه دې بلکه ذات مراد دې.

قوله: مُوَحِّدٌ، دَمُحْسِنٌ تفسیر ئې په مُوَحِّدٌ سره کولو کښې دې طرف ته اشاره او کړه چه دلته د احسان نه کامل احسان مراد نه دې کومه چه د أن تعبدالله کأنك تراه درجه ده دلته د توحید قائل مسلمان مراد دې دې د پاره چه عام مسلمان هم په دې کښې داخل شي.

قوله: لَیَقُوْلُنَّ اللهُ دا جمله د قسم محذوف جواب دې او جواب شرط دقاعدې مطابق محذوف دې لفظ دالله خو یا د فعل محذوف د فاعل کیدو د وجې نه مرفوع دې، تقدیري عبارت دا دې خَلَقَهُنَّ الله او د دې حذف قرینه خَلَقَهُنَّ العزیز العلیم دې، یا د مبتدأ محذوف خبر دې تقدیری عبارت دا دې الخالق لهن الله.

قوله: وَلَوْ أَنَّ مَا فِی الارضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ دا پوره جمله د أنَّ اسم دې او اَقْلَامٌ دې خبر دې.

قوله: وَالْبَحْرُ عطف علی اسم أنَّ دا د البحر د نصب توجیه ده، شارح رحمه الله د رفع توجیه ترک کړې ده، د رفع توجیه دا کیدې شي چه دالبحر عطف أنَّ او د دې د اسم او خبر نه جوړې

شوې جملې باندې دی، ځکه چه جمله دَ فعل محذوف دَ فاعل کیدودَ وجې نه په محل دَ رفع کښې ده، تقدیری عبارت دا دې لَوْثَبَتَ أَنَّ مَا فِي الارض الخ االحر مبتدأ ده او يمده دی خبر دې او جمله حاليه ده.

قوله: مِدَادٌ دا دَ مبتدأ محذوف خبر دې اى الجميعُ مِدَادٌ دا جمله مستانفه ده.

قوله: مَا نَفِدَتْ الخ دا دَ لَوْ جواب دې مګر لَوْ دلته په خپله مشهوره معنى يعنى دَ انتفاء دَ شرط دَ وجې نه، انتفاء د جزاء دَپاره نه دې.

قوله: بكتبها بتلك الاقلام الخ په دې عبارت سره ئې اشاره اوکړه چه په کلام کښې حذف دې او کلمات الله نه دَ الله تعالى د کلام نفسی قديم قائم بالذات مدلولات مراد دی.

قوله: ذلك المذكور، ذلك مبتدأ بِأَنَّ الله هو الحق دَدې خبر دې.

[ايات وله: ۳۱ ـ ۳۴]

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ الْفُلْكَ﴾ السُّفُن ﴿تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَةِ اللَّهِ لِيُرِيَكُمْ﴾ يَا مُخَاطَبِينَ بِذَلِكَ ﴿مِنْ آيَاتِهِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ﴾ عِبَرًا ﴿لِكُلِّ صَبَّارٍ﴾ عَنْ مَعَاصِي اللَّه ﴿شَكُورٍ﴾ لِنِعْمَتِهِ ﴿وَإِذَا غَشِيَهُمْ﴾ أَيْ عَلَا الْكُفَّار ﴿مَوْجٌ كَالظُّلَلِ﴾ كَالْجِبَالِ الَّتِي تُظِلّ مَنْ تَحْتهَا ﴿دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ أَيْ الدُّعَاء بِأَنْ يُنْجِيهِمْ أَيْ لَا يَدْعُونَ مَعَهُ غَيْره ﴿فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ﴾ مُتَوَسِّط بَيْن الْكُفْر وَالْإِيمَان وَمِنْهُمْ بَاقٍ عَلَى كُفْره ﴿وَمَا يَجْحَدُ بِآيَاتِنَا﴾ وَمِنْهَا الْإِنْجَاء مِنَ الْمَوْج ﴿إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ﴾ غَدَّار ﴿كَفُورٍ﴾ لِنِعَمِ اللَّه تَعَالَى ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ﴾ أَيْ أَهْل مَكَّة ﴿اتَّقُوا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَا يَجْزِي﴾ يُغْنِي ﴿وَالِدٌ عَنْ وَلَدِهِ﴾ فِيهِ شَيْئًا ﴿وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَنْ وَالِدِهِ﴾ فِيهِ ﴿شَيْئًا إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ﴾ بِالْبَعْثِ ﴿فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا﴾ عَنْ الْإِسْلَام ﴿وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ﴾ فِي حِلْمه وَإِمْهَاله ﴿الْغَرُورُ﴾ الشَّيْطَان ﴿إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ﴾ مَتَى تَقُوم ﴿وَيُنَزِّلُ﴾ بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد ﴿الْغَيْثَ﴾ بِوَقْتٍ يَعْلَمهُ ﴿وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ﴾ أَذَكَر أَمْ أُنْثَى وَلَا يَعْلَم وَاحِدًا مِنَ الثَّلَاثَة غَيْر اللَّه تَعَالَى ﴿وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا﴾ مِنْ خَيْر أَوْ شَرّ وَيَعْلَمهُ اللَّه تَعَالَى ﴿وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ﴾ وَيَعْلَمهُ اللَّه تَعَالَى ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ﴾ بِكُلِّ شَيْء ﴿خَبِيرٌ﴾ بِبَاطِنِهِ كَظَاهِرِهِ رَوَى الْبُخَارِيّ عَن ابْن عُمَر حَدِيث مَفَاتِيح الْغَيْب خَمْسَة إِنَّ اللَّه عِنْده عِلْم السَّاعَة إِلَى آخِر السُّورَة

ترجمه: آيا تاسو په دې کښې غورنه کوئی چه په دریاب کښې کشتئی دَالله تعالى په فضل سره ګرځی دې دَپاره چه اې مخاطبو دَدې په ذریعه تاسوته دَ خپل (قدرت) نخښې اوښائی یقینًا په دې کښې دَ الله تعالى د معصيت نه صبرکونکو او دَهغه دَ نعمتونو شکرکونکودَ پاره دعبرت نښې دی اوکله چه په هغوی باندې يعنې په کافرانوباندې موجونه دَداسې غرو په شان راخوريږی چه هر هغه څيز کوم چه دَهغې دَ سور لاندې راشی په سوری کښې راګيرشی نو ډير په خالص عقيدې سره هم دَالله تعالى نه دعاکوی چه

دوی ته دَ (غرقیدو) نه نجات ورکړې یعنی (هغه) وخت د هغه سره غیرالله نه راغواړی بیاچه کله هغه هغوی ته خلاصې ورکړی او چې ته ئې راوُرسوی نو په هغوی کښې څه په اعتدال باندې پاتې شی یعنی دَ کفر او ایمان مینځمې لار اختیاروی او بعضې هم په خپل کفرباندې باقی پاتې شی او زمونږ د نعمتونو نه او په هغې کښې (دَدریاب) دَ موجونونه خلاصې ورکول هم دی صرف هم هغه انکارکوی چه بدعهد اودَ الله تعالی دَ نعمتونو ناشکره وی. اې خلقو اې دَ مکې والو دَ خپل رب نه اوویرېږئ اودَ هغه ورځې نه ویره اوکړئ په کومه ورځ چه به پلار خپلو ځامنوته څه فائده نه شی رسولې اونه به ځوئ خپل پلار ته په هغه ورځ څه فائده نشی رسولې. یقین اوکړئ دَالله تعالی دَ بعث وعده حق ده. ګورئ تاسو دا دنیاوی ژوندون دَ اسلام په باره کښې په دهوکه کښې وانچوی اونه دې شیطان تاسو دَ الله تعالی دَ حلم او مهلت ورکولوباره کښې په دهوکه کښې واچوی بیشکه هم الله تعالی سره دې علم دَ قیامت چه کله به وی اوهم هغه باران نازلوی په هغه وخت کوم چه هغه پیژنی. ینزل په تشدید اوتخفیف سره دې اوهغه څه هم پیژنی کوم چه دَ مور په رحم کښې وی چه هلك دې که جینئ؟ اودَ دې دریواړونه یوهم دَالله تعالی نه سوا بل څوك نه پیژنی اوهیڅوك نه پیژنی چه هغه به صباله څه کوی خیریا شر الله دا پیژنی اونه چاته معلومه ده چه چرته به مری او الله تعالی ته معلومه ده بیشکه الله تعالی ته دَهرشی علم دې (اوهغه) دَ هرشئ باطن نه داسې خبردې لکه څنګه چه دَ ظاهر نه. امام بخاری رحمه الله دَ ابن عمر رضی الله عنه نه مفتاتیح الغیب خمسةٌ والا حدیث روایت کړې دې ﴿ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ ۭ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۭ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌۢ بِاَيِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴾

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: لَا يَجْزِيْ وَالِدٌ عَنْ وَّلَدِهٖ وَلَا مَوْلُوْدٌ الخ مذکوره دواړه جملې دَیومًا صفت دې او ضمیر عائد محذوف دې لکه چه شارح ورته فیهِ مقدرمنلوسره اشاره کړې ده.

قوله: وَلَا مَوْلُوْدٌ دا مبتدأ اول ده او هُوَ مبتدأ ثانی ده او جازٍ دَمبتدأ ثانی خبردې او بیا جمله د مبتدأ اول خبردې.

سوال: مولودٌنکره ده دَدې مبتدأ جوړیدل صحیح نه دی؟

جواب: نکره چه کله تحت النفی داخل وی نودَدې مبتدأ جوړیدل صحیح وی، دلته هم مَوْلُوْدٌلانافیه لاندې داخل دې.

قوله: شیئًا دا تنازع د فعلان دَ قبیل نه دې په شیئًا کښې یجزی او جازٍمفعول جوړیدو کښې تنازع اوکړه ثانی یعنی جازته ئې عمل ورکړو او اول یعنی یجزی دَپاره ئې

مفعول محذوف او منلو لکه چه شارح رحمه الله شيئاً محذوف منلو سره اشاره او کړه

قوله: غَرُور صيغه دَ صفت ده دهوکه ورکونکې، دَ دروغو اميد ورکونکې. شيطان.

قوله: بالله باء سببيه ده او مضاف محذوف دې اى بسبب حلم الله لکه چه شارح رحمه الله حذف دَمضاف طرف ته اشاره کړې ده

قوله. إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَة دا آيت دَ حارث بن عمرو په باره کښې نازل شوې دې.

قوله: وينزل الغيث دَدې عطف عندهٔ علم الساعة باندې دې چه دَ إِنَّ خبر دې.

قوله: بوقتٍ اى فى وقتٍ.

قوله: واحدًا دا دَلايَعْلَمُ مفعول مقدم کيدو دَ وجې نه منصوب دې او غيرالله دَدې فاعل دې.

قوله: مَاذَاتَكْسِبُ غدًا: مَا استفهاميه مبتدأ، ذا اسم موصول تَكْسِبُ غدًا اصله موصول او صله د مبتدأ خبر دې.

[۳۲] سورة السجدة

سورة السجدة مكية وهى ثلثون آية

سوره سجده مکى دې او په دې کښې ديرش (۳۰) آيتونه دى.

[اياتونه: ۱ ـ ۱۱]

بسم الله الرحمن الرحيم (الٓمّٓ) الله أعلم بمُرَادِهِ بِهِ (تَنْزِيلُ الْكِتَابِ) القرآن مبتدا (لَارَيْبَ) شَكَّ (فِيهِ) خبر أول (مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ) خبر ثان (أَمْ) بَلْ (يَقُولُونَ افْتَرَاهُ) مُحَمَّد لَا (بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ لِتُنْذِرَ) به (قَوْمًا مَا) نافية (أَتَاهُمْ مِنْ نَذِيرٍ مِنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ) بانذارك (اللهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ) اوّلها الأحد وآخرها الجمعة (ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ) هُوَ فِي اللُّغَة سرير المُلك استواء يليق به (مَا لَكُمْ) يا كفار مكة (مِنْ دُونِهِ) أي غيره (مِنْ وَلِيٍّ) اسم ما بزيادة مِن أي ناصر (وَلَا شَفِيعٍ) يدفع عذابه عنكم (أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ) هذا فتؤمنون (يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ) مُدَّة الدُّنيا (ثُمَّ يَعْرُجُ) يرجع الأمر والتدبير (إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ) في الدُّنيا وفي سورة سَأَلَ خمسين ألف سنة وهو يوم القيامة لشِدَّةِ أهواله بالنسبة إلى الكافر وأمّا المؤمن فيكون أخف عليه من صلاة مكتوبة يصلّيها في الدُّنيا كما جاء في الحديث (ذَلِكَ) الخالق المدبّر (عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ) أي ما غاب عن الخلق وما حضر (الْعَزِيزُ) المنيع في ملكه (الرَّحِيمُ) بأهل طاعته (الَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ) بفتح اللام فعلًا ماضيًا صفة وبسكونها بدل اشتمال (وَبَدَأَ خَلْقَ الْإِنْسَانِ) آدم (مِنْ طِينٍ) (ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُ) ذرّيته (مِنْ سُلَالَةٍ) علقة (مِنْ مَاءٍ مَهِينٍ) ضعيف هو النطفة (ثُمَّ سَوَّاهُ) أي خلق آدم (وَنَفَخَ فِيهِ مِنْ رُوحِهِ) أي جعله حيًا حسّاسًا بعد أن كان جمادًا (وَجَعَلَ لَكُمْ) أي لذرّيته (السَّمْعَ) بمعنى الأسماع (وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ) القلوب (قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ) ما زائدة مؤكّدة للقلّة (وَقَالُوا) اي منكرو البعث (أَإِذَا ضَلَلْنَا فِي الْأَرْضِ) غبنا

فِيهَا بِأَنْ صِرْنَا تُرَابًا مختلطا بترابها ﴿ءَأَنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ﴾ اسْتِفْهَام إِنْكَار بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَتَسْهِيل الثَّانِيَة وَإِدْخَال أَلِف بَيْنَهُمَا عَلَى الْوَجْهَيْنِ فِي الموضعين قال تعالى ﴿بَلْ هُم بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ﴾ بالبعث ﴿كَافِرُونَ﴾ ﴿قُلْ﴾ لَهُمْ ﴿يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ﴾ أَيْ يَقْبِض أرواحكم ﴿ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ﴾ احياء فَيُجَازِيكُمْ بِأَعْمَالِكُمْ

ترجمه: شروع كوم په نامه دَ الله چه ډير بخښونكې اوډير مهربان دې الٓمّ دَدې مرادخو هم الله تعالى بهتر پيژنى بيشكه دا كتاب قرآن دَ ټولوجهانونودَ پروردګاردَ طرف نه نازل كړې شوې دې، (تنزيل الكتاب) مبتدأ ده (لاشك فيه) خبراول دې (من رب العالمين) خبرثانى دې، ايا دغه خلق دا وائى چه دا محمد ﷺ دَ ځان نه جوړكړې دې؟ نه، بلكه داخوستادَ رب دَطرف نه حق دې دَپاره چه تاسودَدې په ذريعه هغه قوم اوېروئ چاله چه تاسو نه وراندې څوك ويرونكې نه دې راغلې، مَا نافيه ده دې دَپاره چه هغوى ستاسو په ويرولوسره هدايت حاصل كړى، الله تعالى هغه ذات دې چاچه آسمانونه او زمكه او كوم څه چه دَدې په مينځ كښې دى په شپږو ورځوكښې پيداكړل په دې كښې رومبې ورځ يكشنبه ده او آخرى ورځ جمعه اوبياهغه په عرش باندې قائم شو (عرش) په لغت كښې دَ بادشاه تخت ته وائى داسې قيام چه دَهغه شان سره لائق دې، اې دَمكې كافرانوستاسودَپاره دَ هغه نه علاوه هيڅوك حمايتى نشته (من ولى) د من په زيادت سره دَمَا اسم دې، يعنى هيڅوك حمايتى نشته، او نه څوك سفارشى چه تاسونه دَهغه عذاب لرې كړې شى بياولې تاسو په دې نه پوهيږئ چه ايمان راوړئ، دَ آسمان نه واخله ترزمكې پورې دَ دنيادَ مودې پورې دَ هرحال تدبيركوى بيا به ټول امور اوتدبيرونه هم دَهغه طرف ته وراوراګرځى، په داسې ورځ دَ كومې اندازه چه به په دنياكښې ستاسو دَ شميرپه اعتبار سره دَ زرو كالو برابر وى او په سورت سأل كښې پنځوس زره كاله ذكر دى او هغه دَ قيامت ورځ ده دَدې دَسختئ خطرناكئ دَ وجې نه په نسبت دَ كافر، باقې شو مؤمن نو (هغه ورځ) به په هغه باندې دَ يوفرض مونځ كولودَ وخت نه هم كم وى كوم چه به ئې په دنياكښې كولو لكه چه په حديث شريف كښې راغلى دى داخالق كوم چه تدبيركونكې دې دَ غائب اوحاضر پيژندونكې دې يعنى (دَهرهغه څيز) چه مخلوق دَپاره غائب اوكوم چه ظاهر دې او هغه ذات چه غالب دې په خپل ملك كښې او ډير رحم كونكې دې په اطاعت كونكو باندې چاچه ډير ښكلې جوړكړو كوم يوڅيزئې هم چه جوړكړو (خَلَقَهُ) كښې د لام په فتحې سره دَفعل ماضى كيدودَ وجې نه جمله دَ شئ صفت دې او په سكون دلام سره بدل الاشتمال دې اودَ انسان يعنى د آدم ﷺ تخليق شروع ئې دَ خاورې نه كړې ده بيا ئې دَهٔ دَنسل (سلسله) دَ بې قيمته اوبو دَ جوهردَ وينې كلكې نه جارى كړه اوهغه نطفه دَمنى ده اوبيا دا يعنى دَ آدم ﷺ تخليق ټيك ټاك كړو بيائى په هغه كښې خپل روح ورپوك وهلو

يعنى هغه ته ئې ژوندون وركړو حالانكه هغه جماد (بې حس) وو او هم هغه اې دَ آدم ﷺ اولاد ستاسو غوږونه جوړكړل سَمْعٌ په معنى دَ اَسْمَاعُ دې او سترګې ئې جوړې كړې او زړونه ئې جوړكړل (په دې باندې هم) تاسو ډير كم شكر اداكوئې ما زائده دَ قلت دَتاكيدد پاره ده او منكرين د بعث اووئيل آيا كله چه مونږ په زمكه كښې خاورې شو يعنى په زمكه كښې غائب شو په داسې طريقه چه مونږ خاورې شو او دَزمكې په خاوره كښې ګډ شو نو آيا مونږ به بيا په نوى تخليق كښې راځو؟ دا استفهام انكارى دې په دواړو ځايونو كښې دَ دواړو همزو تحقيق او دَ بل تسهيل او په دواړو صورتونو كښې دَ دواړو همزو په مينځ كښې الف داخلولو سره الله تعالى اوفرمائيل بلكه (خبره داده) چه هغه خلق بعث (بعد الموت) په ذريعه دَ خپل رب دَملاقات منكر دى تاسو هغوى ته اووايئې چه تاسو به دَمرګ فرښته مړه كړى كومه چه په تاسو باندې مقرره ده يعنى ستاسو روحونه به قبض كړى، بيابه تاسو ټول دَخپل پروردګار طرف ته راګرځولې شئى ژوندى كولو سره بيا به هغه تاسو ته ستاسو دَ اعمالو بدله دركړى.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

سورت سجده مكى سورت دې په دې كښې ديرش آياتونه دى او دَبعضو په نيز يو كم ديرش اياتونه دى البته درې آياتونه مدنى دى دا دكلبى رحمه الله او مقاتل رحمه الله قول دې دَهغوى نه علاوه نورو وئيلى دى چه پنځه آياتونه مدنى دى دكوم شروع چه دَ تتجافى جنوبهم نه ده او انتهاء ئې په الذى كنتم به تكذبون باندې ده.

قوله: الٓمٓ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لَارَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ په دې كښې متعدد تركيبونه كيدې شى مګر بهتر او اسان هم هغه دې كوم چه شارح رحمه الله بيان كړې دې هغه دا چه تنزيل الكتاب مبتدأ او لاريب فيه خبر اول او من رّبّ العالمين خبر ثانى، مبتدأ د خپلو دواړو خبرونو سره خبر شو دَ الٓمٓ مبتدأ.

قوله: اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰهُ اَمْ منقطعه دې چه په معنى كښې بل يقولون افتراه دې په دې كښې همزه انكارى ده مګر مفسر علام صرف بل تحرير كړې دې، كيدې شى چه دَ كاتب نه همزه پاتې شوې وى، مطلب دا چه په دې كښې دَمشركانو دَدې دعوې انكار دې چه دا قرآن دَمحمد ﷺ د ځان نه جوړ كړې شوې كتاب دې، دَدې رد او انكار كولو سره فرمائى چه داسې خبره نه ده ځكه چه دا قسم كلام كول دَ بشرى طاقت نه بهر خبره ده، پوره د دنيا فصحاء وبلغاء دَدې مثال راوړونه عاجز پاتې دى او نن هم دَ قرآن دا چيلنج دې چه د عربو د وړوكى نه وړوكې دَ دريو اياتونو پشان سورت دې څوك جوړ كړى او پيش دې كړى.

قوله: بل هو الحق دَ افتراء نفى كولو نه پس اثبات دَ حقيقت دَپاره دا اضراب انتقالى دې دا اضراب ابطالى هم كيدې شى يعنى دَ مشركانو قول دَافتراء باطل كولو سره وئيلى شوى

دی په دې صورت کښې به تقدیری عبارت دا وی لیس هوکما قالوا بل هو الحق او س پاتې شوه دا مقوله چه کل ما فی القرآن من الاضراب انتقالی نو هغه به دَدې نه په علاوه باندې محمول وی (صاوی) دَ آیت معنی به داشی چه په قرآن کښې چه څه دی هغه حق دې اودا د حصر جملې (بل هو الحق) معرفة الطرفین نه مستفاد دې.

قوله: لِتُنْذِرَ قَوْمًا، تُنْذِرُ د وؤ مفعولو ته نصب ورکوی رومبې مفعول قَوْمًا دې دویم محذوف کوم چه مفسرعلام خپل قول په سره ظاهر کړې دې او بعضې حضراتو مفعول ثانی العقاب محذوف منلې دې تقدیری عبارت به داشی لِتنذر قومًا العقاب او ما اتاهم الخ دَ قومًا صفت دې.

قوله: لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ دا ترجی دَ رسول الله ﷺ په اعتبار سره ده مطلب دا چه تاسو قوم دَ هدایت په امید سره ویروئی اوناامیده کیږئی مه.

قوله: الله، الذی خَلَقَ الخ جمله د مبتدأ خبر دې.

قوله: مَا لَكُم من دونه من ولی من دونه، دَمَا اسم دې او من زائده دې په دې عبارت سره مفسرعلام اشاره اوکړه چه مَا حجازیه دې من ولی اسم مؤخر دې او من دونه خبر مقدم دې مګر په دې به دا اعتراض واردیږی چه دَمَا د عامل کیدودَپاره دَدې په اسم اوخبر کښې ترتیب ضروری دې حالانکه دلته ترتیب باقی پاتې نه دې؟ دَدې دا جواب ورکولې شی چه دَنحویانودَ قول ضعیف مطابق ئې عمل کړې دې ځکه چه دَ قول ضعیف مطابق دَ مَادَعمل دَپاره ترتیب شرط نه دې او بهتردادی چه مَا تمیمیه اومنلې شی اومن دونه خبر مقدم او ولی مبتدأ مؤخر اومنلې شی ځکه چه په قرآن کښې قول ضعیف باندې حمل کول مناسب نه دی.

قوله: اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ همزه په محذوف باندې داخل ده او فاء عاطفه ده، تقدیری عبارت داسې دې اَغَفَلْتُمْ فَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ هذا، هذا دَ تَتَذَكَّرُوْنَ مفعول دې.

قوله: يُدَبِّرُ الْاَمْرَ (الآية) یعنی الله تعالی چه خالق او مدبرالامور دې هغه دَ خپلې ارادې او د علم ازلی مطابق په مخلوق کښې تصرف کوی یعنی په هریو وخت کښې د هغه یوشان دې ای کل یوم هو فی شان هر څیز د هغه په قضاء او قدر باندې کیږی.

قوله: من السماء الی الارض حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی دَدې مطلب دادې چه قضاء اوقدر نازلیږی اوبعضې حضراتو وئیلی دی چه مراددَ وحی نزول دې.

قوله: مدة الدنیا: مختلف روایاتو نه معلومیږی چه دَدنیا عمر (انسانی) اووه زره کاله دې اودَهغوی بعثت شپږ زره کښې شروع شوې دې او بعض آثار په دې خبره دلالت کوی چه دَ حضورپاك دَ امت عمر دَزرو کالو نه زیات وی مګر دا زیاتوالی به دَ پنځوسوو کالونه

زيات نه وى. (الكشف عن مجاوزة هذه الامة الالف، للسيوطي)

قوله: في يوم كان مقداره الف سنة دلته دَ يوم نه معروف يوم مراد نه دي كوم چه دَ دوو شپو په مينځ كښې محدودوى بلكه اوږده موده او عصر طويل مراد دي، ځكه چه عرب اوږده موده په يوم سره تعبيركوى نحاس رحمه الله فرمائيلى دى چه په لغت كښې دَ مطلق وخت په معنى كښې هم مستعمل دي لهذا اوس دَ تعارض هغه اشكال دفع شو كوم چه په سورت سأل كښې خمسين الف سنة او دلته الف سنة باندې وارد شوي دي. په دي لاندينى شعر كښې يوم د مطلق مودې په معنى كښې استعمال شوي دي:

يومان: يوم مقامات واندية ويوم سير الى الاعداء تأويب

قوله: ذالك مبتدأ ده او عالم الغيب والشهادة خبر اول العزيز خبر ثاني او الرحيم خبر ثالث او الذى احسن الخ خبر رابع.

قوله: خَلَقَهُ دَ فعل ماضى په صورت كښې جمله دَ شئ صفت وى نو محلاً به مجرور وى او كه چرې دكلّ صفت وى نو محلاً به منصوب وى اوكه چرې خَلْقَهُ په سكون دَ لام سره وى لكه چه بعضې قراءتونو كښې دي نو د كلّ نه به بدل الاشتمال وى.

قوله: وَبَدَأَ دي عطف په احسن باندې دي او الانسان مفعول به دي او من طين دخلق متعلق دي، دَانسان نه مراد آدم عليه السلام دي او د ة ضمير مرجع آدم دي نسل هم مرجع كيدې شى يعنى نسلِ آدم ئې دَ مورپه رحم كښې درست كړو.

قوله: مِنْ رُوحِهِ كښې اضافت دَتشريف دَپاره دي.

قوله: جعل لكم كښې دَ غيبوبت نه دَ خطاب طرف ته التفات دي ځكه چه په مضغة كښې روح پوك وهلونه پس دَ مخاطب جوړيدو صلاحيت پيدا كيږى.

قوله: السمع: مصدر په معنى د اسماع دي.

قوله: ادخال الف بينهما على الوجهين دلته دَ وتركها لفظ پاتې شوي دي دغه شان به تول څلور قراءتونه شى.

قوله: بل هم بلقاء ربهم كافرون دا انكار دَ بعث نه انكار دَ لقاء طرف ته اضراب دي.

[ايا تونه: ۱۲ـ۲۲]

(ولو ترى إذ المجرمون) الكافرون (ناكسوا رءوسهم عند ربهم) مُطَاطِئُوهَا حَيَاء يَقُولُونَ (رَبَّنَا أَبْصَرْنَا) مَا أنكرنا مِنَ الْبَعْث (وَسَمِعْنَا) مِنْك تَصْدِيق الرُّسُل فِيمَا كَذَّبْنَاهُمْ فِيهِ (فَارْجِعْنَا) إلَى الدُّنْيَا (نَعْمَل صَالِحًا) فِيهَا (إنَّا مُوقِنُونَ) الْآن فَمَا يَنْفَعهُمْ ذَلِكَ وَلَا يَرْجِعُونَ وَجَوَاب لَوْ لَرَأَيْت امرا فظيعا قال تعالى (وَلَوْ شِئْنَا لَآتَيْنَا كُلّ نَفْس هُدَاهَا) فَتَهْتَدِي بِالْإِيمَانِ وَالطَّاعَة بِاخْتِيَارٍ مِنْهَا (وَلَكِنْ حَقَّ الْقَوْل مِنِّي) وَهُوَ (لَأَمْلَأَنَّ

جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ) الجن (والناس أجمعين) وتقول لهم الخزنة إذا دخلوها (فَذُوقُوا) العذاب (بِمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَذَا) أي بتركِكُمُ الإيمان بِهِ (إِنَّا نَسِينَاكُمْ) تركناكُمْ فِي العَذاب (وَذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ) الدَّائِم (بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ) مِنَ الكُفر وَالتَّكذِيب (إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا) القرآن (الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا) وعظوا (بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا) مُتلبِّسِينَ (بِحَمْدِ رَبِّهِمْ) أي قالوا سُبحان الله وبحمده (وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ) عَنِ الإيمان والطاعة (تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ) ترتفع (عَنِ الْمَضَاجِعِ) مَواضِع الاضطجاع بِفُرُشِهَا لِصلاتِهِم بِاللَّيل تَهَجُّدًا (يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا) مِن عِقابه (وَطَمَعًا) فِي رَحْمَته (وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ) يتصدقون (فلا تعلم نفس ما أخفي) خبيء (لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ) مَا تَقَرُّ بِهِ أعينهم وفي قراءة بسكون الياء مضارع (جزاء بما كانوا يعملون) (أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا لَا يَسْتَوُونَ) أي المُؤمنونَ وَالفَاسِقُونَ (أَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ جَنَّاتُ الْمَأْوَى نُزُلًا) و هو ما يعد للضيف (بما كانوا يعملون) (وأما الذين فسقوا) بالكفر والتكذيب (فمأواهم النار كلما أرادوا أن يخرجوا منها أعيدوا فيها وقيل لهم ذوقوا عذاب النار الذي كنتم به تكذبون) (وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى) عَذاب الدُّنيَا بِالقَتلِ وَالأَسر وَالجَدب سِنِينَ وَالأَمرَاض (دُونَ) قَبل (الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ) عَذاب الآخِرَة (لَعَلَّهُمْ) أي مَن بَقِيَ مِنهُم (يَرْجِعُونَ) إلَى الإيمَان (وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ) القرآن (ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا) أي لا أحَد أظلَم منه (إنا من المجرمين) المشركين (منتقمون)

ترجمه: اوكه چرې تاسو اوګورئی چه کله به ګناهګاران خلق یعنی کافردَخپل رب په وړاندې سرښکته ولاړ وی یعنی دَ پښېمانتیا دَ وجې نه به ئې سرښکته کړی وی وائی به اې زمونږ ربه مونږ دَ مرګ نه پس ژوندی کیدل اولیدل دکوم چه مونږ منکروو اوستادَ طرف نه دَهغه رسولانو دَهغه خبرو تصدیق مو واوریدو په کومو خبرو کښې چه مونږ دَهغوی تکذیب کولو اوس ته مونږ دنیاته واپس کړه مونږ به دنیاته په تللو سره نیک اعمال اوکړو اوس زمونږ یقین راغلو هغوی ته به دَهغوی (دا اقرار اویقین) هیڅ فائده نه ورکوی اونه به هغوی دنیاته واپس کولې شی اودَ لَو جواب لَرَأَيتَ اَمرًا فظيعًا محذوف دې اوکه چرې مونږ غوښتل نوهريوته به مو هدايت ورنصيب کولو نوهغوی به په خپل اختیار ایمان او اطاعت قبلولو او په هدایت کیدل به، لیکن زماخبره بالکل حق شوې ده اوهغه دا چه زه به یقینی جهنم دَ پیریانو او انسانانو نه دکوم کله چه به هغوی دوزخ ته داخل شی نو دَ جهنم نګرانان به هغوی ته وائی چه اوس تاسو دې ورځې لره د هیرولو دَعذاب مزه اوڅکئ یعنی ستاسو په دې ورځ باندې دَ ایمان ترك کولو دَ وجې نه مونږ هم تاسو هیرکړئی (یعنی) تاسو مو په عذاب کښې پریخودئ او تاسو دَخپل اعمالو (شامت) یعنی دکفر اوتکذیب دَ دائمی عذاب مزه اوڅکئی زمونږ په آیاتونو (یعنی) قرآن باندې هم هغه خلق ایمان راوړی چه هغوی ته کله دَدې په ذریعه نصیحت کولې شی نو په سجده پریوځی اودَخپل رب حمد سره تسبیح لولی یعنی سبحان الله وبحمده وائی اوهغوی دَ ایمان او طاعت په مقابله کښې تکبرنه کوی اودَ هغوی اړخونه دَ

بسترونه جدا وی یعنی دَ شپې دَ تهجد مونځ کولودَ وجې نه دَ خوب په ځائې کښې خوږې شوې بسترې پرېږدی خپل رب لره دَهغه دَ عذاب دَ ویرې دَ وجې نه او د هغه دَ رحمت په امیدسره رابلي اوکوم څه چه مونږ هغوی ته ورکړی دی دَهغې نه دَ الله تعالی په لار کښې صدقه کوی او هیڅ یونفس هغه څه نه پیژنی چه مونږ دَهغوی دَ سترګودَ یخوالی سامان دُ غیب په پرده کښې پټ کړې دې یعنی داسې سامان په کوم سره چه به دَهغوی سترګې یخې شی او په یوقراءت کښې (اُخفیُ) دَ یاء په سکون سره دَمضارع صیغه ده دادَهغوی دَاعمالو دَ صلې په توګه دې، آیا هغه کس څوک چه مؤمن وی دَهغه چا برابر کیدې شی چه فاسق وی؟ برابریدې نه شی یعنی مؤمن اوفاسق (کافر) برابریدې نه شی کوموخلقوچه ایمان راوړو اونیک اعمال ئې هم اوکړل نودَهغه خلقودَپاره به دَهمیشه ځائې په جنت کښې دَ میلمستیاپه توګه وی (نُزُل) هغه خیزته وئیلې شی کوم چه دَ میلمه دَپاره تیارولې شی اوکوموخلقوچه دَ کفر اوتکذیب په ذریعه د حکم نه واوړیدل نودَهغوی ځائې به دوزخ وی کله چه دَ دوزخ نه بهر راوتلو غواړی نودیکه کولې به شی اوهغوی ته به وئیلی شی چه دَ هغه دوزخ دَعذاب مزه اوڅکئی دکوم چه تاسو تکذیب کولو اومونږ به هغوی ته دَ قتل قید اوقحط او د مرضونو ادنٰی دنیاوی عذاب (هم) وراوڅکوو دَ آخرت دَ لوئی عذاب نه وړاندې دې دَپاره چه هغوی یعنی کوم چه دَهغوی نه باقی پاتې شوی دی دَ ایمان طرف ته رجوع اوکړی اودَهغه کس نه به لوئې ظالم څوک وی چاته چه دَهغه دَ رب آیاتونو یعنی قرآن په ذریعه نصیحت اوکړې شی اوبیا هغه دَې نه اعراض اوکړی؟ یعنی دَداسې سړی نه بل لوئی ظالم څوک نشته یقینًا مونږ به دَمجرمانو یعنی مشرکانو نه انتقام واخلو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَلَوْتَرٰی اِذِالمجرمونَ دَ قیامت په ورځ دَ مجرمانو عام حالت بیانولو دَپاره دا جمله مستانفه ده خطاب رسول الله ﷺ ته دې یاهرهغه کس مخاطب دې په کوم کښې چه دَمخاطب جوړیدو صلاحیت وی. په دې آیت کښې دَ مجرمانو دَ محشر په ورځ دَ خراب حالت نظاره پیش کړې شوې ده اودَهغې معنوی حالت ئې محسوس اومجسم کولو سره پیش کړې دې، لَوْ او اِذَا سره دَدې چه دَ ماضی دَپاره دی مګردلته په مضارع باندې داخل دی څکه چه دَ مجرمانو مذکوره حالت واقع کیدل یقینی دی څکه دَدې په مضارع باندې داخلیدل صحیح دی او ابوالبقاء رحمه الله وئیلی دی چه اِذْ دَ اِذَا په ځائې واقع شوې دې.

قوله: المجرمون مبتدأ دې او ناکسوارءوسهم دَدې خبردې، دَ جملې فعلیې په ځائې جمله اسمیه اختیارولو کښې مقصد دَهغوی د سر ښکته کولو او ښپیمانتیا د حالت په دوام باندې دلالت کول دی.

قوله: ترٰی د ې مفعول محذوف دې په دې وجه دَ رؤیت نه رؤیت بصری مراد دې تقدیری عبارت دادې لوتری المجرمین جواب لَوْ محذوف دې ای لَرَأَیتَ امرًا فظیعًا لایمکن وصفه او

علامه زمخشری رحمه الله و د تمنی دپاره وئیلی دی په دې صورت کښې به د جواب ضرورت نه وی.

قوله: يقولون ربنا مفسر علام د يقولون اضافه کولو سره دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه ربنا په تقدير د قول حال دې ای قائلين يا ربنا.

قوله: أبصرنا فعل با فاعل دې او مفعول محذوف دې ای أبصرنا صدق وعيدك ووعدك.

قوله: د سمعنا عطف په ابصرنا باندې دې د سمعنا مفعول محذوف دې ای سمعنا منك تصديق رسلك او دا هم جائز دی چه مفعول محذوف او نه منلې شی، ای صرنا ممن يبصرون ويسمعون وكنا من قبل صما وعميانا.

قوله: نعمل جواب امر د وجې نه مجزوم دې.

قوله: فتهتدى دا د لو جواب دې کوم چه مفسر علام ښکاره کړې دې.

قوله: بترككم مفسر علام د نسيان تفسير په ترك سره کولو کښې اشاره اوکړه چه په نسيان سره دواړه خايونو کښې لازم معنی مراد ده ځکه چه د نسيان دپاره ترك لازم دې ګنی په نسيان باندې مواخذه نشته، بل دا چه د الله تبارك وتعالى طرف ته د نسيان نسبت محال دې دا نسبت د استعارې يا مجاز مرسل په توګه باندې کيدې شی.

قوله: ذوقوا عذاب الخلد د دې تکرار د اول ذوقوا د مفعول محذوف کيدو باندې دلالت کولو دپاره دې.

قوله: بما كنتم کښې باء سببيه ده من الكفر والتكذيب، د ما بيان دې.

قوله: تتجافى جنوبهم، د تتجافى نه مضارع واحد مؤنث غائب، لرې وی جدا وی، دا جمله مستانفه هم کيدې شی او د يستكبرون د ضمير نه حال هم کيدې شی، دغه شان په يدعون کښې هم دغه دواړه احتماله دی يدعون د حال ګرځولو په صورت کښې دا هم احتمال دې چه حال ثانيه وی او دا هم ممکن دی چه د جنوبهم د ضمير نه حال وی.

قوله: خوفا وطمعا دواړه مفعول له دی او حال هم کيدې شی او د فعل محذوف مفعول مطلق هم کيدې شی ای جوزوا جزاء او د أخفى مفعول له هم کيدې شی، ای أخفى لاجل جزاء هم.

[ایاتونه: ۲۳ ـ ۳۰]

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ﴾ التوراة ﴿فَلَا تَكُنْ فِي مِرْيَةٍ﴾ شك ﴿مِنْ لِقَائِهِ﴾ وَقَدْ الْتَقَيَا لَيْلَةَ الْإِسْرَاءِ ﴿وَجَعَلْنَاهُ﴾ أَيْ مُوسَى أَوْ الْكِتَاب ﴿هُدًى﴾ هاديا ﴿لِبَنِي إِسْرَائِيلَ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً﴾ بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَإِبْدَالِ الثَّانِيَة يَاء قَادَة ﴿يَهْدُونَ﴾ الناس ﴿بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا﴾ عَلَى دِينهمْ وَعَلَى الْبَلَاء مِنْ عَدُوّهمْ وَفِي قِرَاءَة بِكَسْرِ اللَّام وَتَخْفِيف الْمِيم ﴿وَكَانُوا بِآيَاتِنَا﴾ الدالة على قدرتنا ووحدانيتنا ﴿يُوقِنُونَ﴾ ﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ

الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ﴾ مِنْ أَمْرِ الدِّينِ ﴿أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم﴾ أَيْ يَتَبَيَّنْ لِكُفَّارِ مَكَّةَ إِهْلَاكُنَا كَثِيرًا ﴿مِّنَ الْقُرُونِ﴾ الْأُمَمِ بِكُفْرِهِمْ ﴿يَمْشُونَ﴾ حَالٌ مِنْ ضَمِيرِ لَهُمْ ﴿فِي مَسَاكِنِهِمْ﴾ فِي أَسْفَارِهِمْ إِلَى الشَّامِ وَغَيْرِهَا فَيَعْتَبِرُوا ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ﴾ دَلَالَاتٍ عَلَى قُدْرَتِنَا ﴿أَفَلَا يَسْمَعُونَ﴾ سَمَاعَ تَدَبُّرٍ وَاتِّعَاظٍ ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى الْأَرْضِ الْجُرُزِ﴾ الْيَابِسَةِ الَّتِي لَا نَبَاتَ فِيهَا ﴿فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنفُسُهُمْ أَفَلَا يُبْصِرُونَ﴾ هَذَا فَيَعْلَمُونَ أَنَّا نَقْدِرُ عَلَى إِعَادَتِهِمْ ﴿وَيَقُولُونَ﴾ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ﴾ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ﴿إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾ ﴿قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ﴾ بِإِنْزَالِ الْعَذَابِ بِهِمْ ﴿لَا يَنفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ﴾ يُمْهَلُونَ لِتَوْبَةٍ أَوْ مَعْذِرَةٍ ﴿فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانتَظِرْ﴾ إِنْزَالَ الْعَذَابِ بِهِمْ ﴿إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ﴾ بِكَ حَادِثَ مَوْتٍ أَوْ قَتْلٍ فَيَسْتَرِيحُونَ مِنْكَ وَهَذَا قَبْلَ الْأَمْرِ بِقِتَالِهِمْ

ترجمه: او بیشکه مونږ موسیٰ علیه السلام ته کتاب تورات ورکړو پس تاسو له دَهغوی دَملاقات باره کښې هیڅ کله شک نه دی کول پکار او دَ هغه دواړو حضراتو ملاقات په لیلة الاسراء یعنی د معراج په شپه شوې وو او مونږ هغه یعنی موسیٰ علیه السلام یا کتاب دَ بنی اسرائیل دَپاره لارخودونکې جوړکړو او کله چه هغه خلقو په خپل دین باندې (قائم پاتې کیدو) او دَ خپلو دښمنانو په تکلیفونو باندې صبر اوکړو نو مونږ په هغوی کښې داسې پیشوایان جوړکړل چه زمونږ په حکم به ئې دَ خلقو رهنمائی کوله (ائمة) کښې دَ دواړو همزو تحقیق سره د ثانی همزه په "ی" سره بدله کړه په د معنی پیشوا او زمونږ په هغه آیاتونو باندې ئې ایمان لرلو کوم چه زمونږ په قدرت او زمونږ په وحدانیت باندې دلالت کوی او (لَمَّا) په یو قراءت کښې دلام په کسرې او دَمیم په تخفیف سره دې. (یعنی لِمَا) یقینًا ستا رب به دَهغوی په مینځ کښې دَ قیامت په ورځ په هغه خبرو (یعنی) دَامور دین فیصله اوکړی په کوم کښې چه به هغوی اختلاف کولو، آیا دې خبرې هم هغوی ته هدایت ورنه کړو چه دَهغوی نه وړاندې مونږ څومره امتونه دَهغوی دکفر په سبب هلاک کړل، حالانکه دا خلق دَخپل شام وغیره په سفر کښې دَهغوی په مکانونو باندې تیریږی چه عبرت حاصل کړی، بیشکه په هغې کښې زمونږ دَ قدرت دلائل دی آیا دوی دَ تدبر او تذکر په توګه باندې نه اوری ولې دوی نه ګوری چه مونږ اوبه دَ اوچې زمکې طرف ته په کوم کښې چه وابنه نه وی رسوو بیا په هغه اوبو باندې مونږ فصل راټوکوو دَ کوم نه چه دَهغوی څاروی او هغوی پخپله خوراک کوی آیا بیا هم دوی دې ته نه ګوری چه پوهه شی چه مونږ په بیا راژوندی کولو باندې قادر یو او مؤمنانو ته وائی چه زمونږ او ستاسو په مینځ کښې به فیصله کله کیږی؟ که چرې تاسو رښتونی یئې (نواوخایئې) ته ورته اووایه په دوی باندې عذاب نازلولو سره دَ فیصلې په ورځ به دې کافرانو ته دَ دوی ایمان هیڅ فائده نه ورکوی او نه به دوی ته دَتوبې یا د عذر پیش کولو څه مهلت ورکولې شی اوس تاسو دَدوی خیال پریږدئ او په دوی باندې دَعذاب دَ نازلیدلو انتظار کوئی هغوی هم په تاسو باندې دَ حادثې مرګ یا د

قتل انتظارکوی دي دپاره چه هغوی ستاسو نه راحت حاصل کړی او دا حکم د جهاد د حکم نه وړاندې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: مِرْيَةٍ اسم مصدر په معنی د تردد او شك سره او لِقَائِه د ضمیرپه مرجع کښې یوڅو اقوال دی: ① د موسیٰ علیه السلام طرف ته راجع دې اولِقَاء مصدر د خپل مفعول طرف ته مضاف دې تقدیری عبارت دادې مِنْ لِقَائِكَ موسیٰ لیلة الاسراء ② د کتاب طرف ته راجع دې، په دې صورت کښې به د مصدر اضافت د فاعل اومفعول دواړو طرف ته صحیح وی د فاعل طرف ته اضافت په صورت کښې به تقدیری عبارت داسې وی مِنْ لِقَاءِ الْكِتَابِ لِمُوسیٰ اود مفعول طرف ته هم صحیح دې تقدیری عبارت به داشی لقاء موسیٰ الکتاب داهم احتمال دې چه د لقائه ضمیر د الله تعالی طرف ته راجع وی، ای من لقاء موسیٰ الله په دې صورت کښې به د مصدر اضافت د مفعول طرف ته وی، اوداهم احتمال دې چه د لِقَائِه ضمیر د موسیٰ طرف ته راجع وی په دې صورت کښې به اضافت د فاعل طرف ته وی، یعنی اې محمد صلی الله علیه وسلم تاسو د موسیٰ علیه السلام د الله تعالی سره د ملاقات په باره کښې شك مه کوئ یاد الله تعالی د موسیٰ علیه السلام سره د ملاقات په باره کښې شك مه کوئ (اعراب القرآن لابی البقاء) د دې اقوالونه علاوه نور هم اقوال شته مګر هغه د ضعف نه خالی نه دی.

قوله: أئمة په دې کښې یوقراءت همزه په "ی" سره بدل هم شته یعنی أيِمَّةً اودا قراءت د عربیت په اعتبارسره دې نه چه د قراءت سبعه په اعتبار سره او په شرح عقائد کښې دی چه أئمة په اصل کښې أَأْمِمَة وو ځکه چه دا د امام جمع ده، دوه میم جمع شود اول په ثانی کښې ادغام اوکړې شو، دارنګ حرکت نقل شو او همزې ته ورکړې شو نو أئمة شو د دوؤ همزو د اجتماع دکراهت د وجې نه همزه مکسوره په "ی" سره بدل شوه أيِمَّةً شو.

قوله: قَادَةً دا د قائدجمع ده معنی ئې ده مشر، لارخودونکې لکه چه سَادَةٌ د سیدجمع ده.

قوله: لَمَّا صَبَرُوا ① د جمهورو په قراءت کښې د لام په فتحې او د میم په تشدید سره دې. لَمَّا په فتحی دحِيْنَ په معنی کښې دې او جمله جزائیه ده ای جَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً حِيْنَ صَبَرُوْا، د صَبَرُوْا ضمیر أئمة طرف ته راجع دې او د لَمَّا جواب محذوف دې په کوم چه جَعَلْنَا مِنْهُمْ دلالت کوی، تقدیری عبارت دادې لَمَّا صَبَرُوْا جَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً او ② د حمزه اوکسائی په قراءت کښې لِمَا دلام په کسرې سره او د میم په تخفیف سره دې په دې صورت کښې به لام تعلیلیه وی ومَا مصدریه ای بسبب صبرهم علی دینهم وعَلَی الْبَلَاءِ مِنْ عدوهم. (جمل)

قوله: بَيْنَهُمْ نه یا ① خو انبیاء کرام علیهم السلام اود هغوی امتونه مراددی یا ② مؤمنین

او مشرکین مراد دی.

قوله: أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ دا عطف دې په محذوف باندې اى أغفلوا ولم يتبين لهم بالمرتبطوا.

قوله: يَهْدِ لَهُمْ د دې فاعل مضمون جمله ده لکه چه مفسر علام إهلاكنا ونيلو سره اشاره کړې ده که چرې په حذف د فاعل باندې قرينه موجود وى نو فاعل حذف کول جائز دى.

قوله: فى ذلك اى فى كثرة إهلاك الأمم الماضية.

قوله: الْجُرُزُ هغه زمکې ته وائى د کومې نه چه واښه وغيره پرې کولو سره تش خالى ميدان کړې شوې وى بآية د دې لازم معنى ده.

[۳۳] سورة الاحزاب

سورة الاحزاب مدنية وهى ثلث وسبعون آية

سوره احزاب مدنى دې، او په دې کښې ۷۳ آيتونه دى.

[اياتونه: ۱ ـ ۸]

بسم الله الرحمن الرحيم {يٰأَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ} دُمْ عَلٰى تَقْوَاهُ {وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ} فِيمَا يُخَالِفُ شَرِيعَتَكَ {إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا} بِمَا يَكُونُ قَبْلَ كَوْنِهِ {حَكِيْمًا} فِيمَا يَخْلُقُهُ {وَاتَّبِعْ مَا يُوْحٰى إِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ} أَيِ الْقُرْآنَ {إِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا} وَفِي قِرَاءَةٍ بِالتَّحْتَانِيَّةِ {وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ} فِي أَمْرِكَ {وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا} حَافِظًا لَكَ وَأُمَّتُهُ تَبَعٌ لَهُ فِي ذٰلِكَ كُلِّهِ {مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ} رَدًّا عَلٰى مَنْ قَالَ مِنَ الْكُفَّارِ إِنَّ لَهُ قَلْبَيْنِ يَعْقِلُ بِكُلٍّ مِنْهُمَا أَفْضَلَ مِنْ عَقْلِ مُحَمَّدٍ {وَمَا جَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ اللّٰٓـِٔيْ} بهمزة وياء وبلا ياء {تظهرون} بلا الف قبل الهاء وبها والتاء الثانية فِي الْأَصْلِ مُدْغَمَةٌ فِي الظَّاءِ {مِنْهُنَّ} يَقُولُ الْوَاحِدُ مَثَلًا لِزَوْجَتِهِ أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي {أُمَّهٰتِكُمْ} أَيْ كَالْأُمَّهَاتِ فِي تَحْرِيمِهَا بِذٰلِكَ الْمُعَدِّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ طَلَاقًا وَإِنَّمَا تَجِبُ بِهِ الْكَفَّارَةُ بِشَرْطِهِ كَمَا ذُكِرَ فِي سُورَةِ الْمُجَادَلَةِ {وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَآءَكُمْ} جَمْعُ دَعِيٍّ وَهُوَ مَنْ يُدْعٰى لِغَيْرِ أَبِيهِ ابْنًا لَهُ {أَبْنَآءَكُمْ} حَقِيقَةً {ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِأَفْوَاهِكُمْ} أَيِ الْيَهُودُ وَالْمُنَافِقِينَ قَالُوا لَمَّا تَزَوَّجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ الَّتِي كَانَتْ امْرَأَةَ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ الَّذِي تَبَنَّاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا تَزَوَّجَ مُحَمَّدٌ امْرَأَةَ ابْنِهِ فَأَكْذَبَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى فِي ذٰلِكَ {وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ} فِي ذٰلِكَ {وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيْلَ} سَبِيلَ الْحَقِّ لٰكِنْ {اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ} أَعْدَلُ {عِنْدَ اللّٰهِ فَإِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْا اٰبَآءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ وَمَوَالِيْكُمْ} بَنُو عَمِّكُمْ {وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيْمَا أَخْطَأْتُمْ بِهٖ} فِي ذٰلِكَ {وَلٰكِنْ} فِي {مَا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ} فِيهِ أَيْ بَعْدَ النَّهْيِ {وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا} لِمَا كَانَ مِنْ قَوْلِكُمْ قَبْلَ النَّهْيِ {رَّحِيْمًا} بِكُمْ فِي ذٰلِكَ {اَلنَّبِيُّ أَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ} فِيمَا دَعَاهُمْ إِلَيْهِ وَدَعَتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ إِلٰى خِلَافِهِ {وَأَزْوَاجُهٗٓ أُمَّهٰتُهُمْ} فِي حُرْمَةِ نِكَاحِهِنَّ عَلَيْهِمْ {وَأُولُوا الْأَرْحَامِ} ذَوُو الْقَرَابَاتِ {بَعْضُهُمْ أَوْلٰى بِبَعْضٍ} فِي الْإِرْثِ {فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ} أَيْ مِنَ الْإِرْثِ بِالْإِيمَانِ وَالْهِجْرَةِ الَّذِي كَانَ أَوَّلَ الْإِسْلَامِ فَنُسِخَ {إِلَّا} لٰكِنْ {أَنْ}

تَفْعَلُوا إِلَى أَوْلِيَائِكُمْ مَعْرُوفًا) بِوَصِيَّةٍ فَجَائِزٌ (كَانَ ذَٰلِكَ) أَيْ نَسْخُ الْإِرْثِ بِالْإِيمَانِ وَالْهِجْرَةِ بِإِرْثِ ذَوِي الْأَرْحَامِ (فِي الْكِتَابِ مَسْطُورًا) وَأُرِيدَ بِالْكِتَابِ فِي الْمَوْضِعَيْنِ اللَّوْحِ الْمَحْفُوظِ (وَ) اذْكُرْ (إِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ) حِينَ أُخْرِجُوا مِنْ صُلْبِ آدَمَ كَالذَّرِّ جَمْعُ ذَرَّةٍ وَهِيَ أَصْغَرُ النَّمْلِ (وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ) بِأَنْ يَعْبُدُوا اللَّهَ وَيَدْعُوا إِلَى عِبَادَتِهِ وَذِكْرُ الْخَمْسَةِ مِنْ عَطْفِ الْخَاصِّ عَلَى الْعَامِّ (وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا) شَدِيدًا بِالْوَفَاءِ بِمَا حَمَلُوهُ وَهُوَ الْيَمِينُ بِاللَّهِ تَعَالَى ثُمَّ أَخَذَ الْمِيثَاقَ (لِيَسْأَلَ) اللَّهُ (الصَّادِقِينَ عَنْ صِدْقِهِمْ) فِي تَبْلِيغِ الرِّسَالَةِ تَبْكِيتًا لِلْكَافِرِينَ بِهِمْ (وَأَعَدَّ) تَعَالَى (لِلْكَافِرِينَ) بِهِمْ (عَذَابًا أَلِيمًا) مُؤْلِمًا هُوَ عَطْفٌ عَلَى أَخَذْنَا

ترجمه: شروع کوم په نامه دَ الله چه ډیر بخښونکي او ډیر مهربان دې. اې نبي دَ الله تعالی نه ویریږه یعني دَ هغه په تقوی باندې قائم اوسیږه او دَ کافرانو او منافقانو هغه خبرې مه منه چه ستاسو دَ شریعت خلاف وي، الله تعالی دَ کیدونکي څیز دَ هغې دَ کیدو نه وړاندې علم لري او کوم څیز چه پیدا کول غواړي دَ هغې په باره کښې حکیم دې او ستا دَ پروردګار دَ طرف نه چه کوم حکم ستا طرف ته دَ وحي په ذریعه یعني دَ قرآن په ذریعه رالیږلې شي ته په هغې باندې روان اوسه بیشکه الله تعالی ستا دَ هر عمل نه خبر دې په یو قراءت کښې یاء فوقانیه سره دې او ته په خپله معامله کښې هم په الله تعالی باندې توکل ساته او الله تعالی دَ کارسازئ په اعتبار سره کافي دې ستا حفاظت کونکي دې، او د نبي علیه السلام امت په دې ټولو امورو کښې د هغوی تابع دې، الله تعالی دَ هیڅ یو سړي په سینه کښې دوه زړونه نه دي جوړکړي دا رد دې دَ بعضې کفارو په دې قول چه دَ فلانکي سړي په سینه کښې دوه زړونه دي او هغه په دواړو زړونو سره دَ محمد ﷺ نه زیات بهتر پوهیږي او خپلو کومو بیبیانو سره چه تاسو ظهارکړې وي (یعني دَ حرمت په نیت سره مو ورته مور وئیلې وي) هغه الله تعالی ستاسو دَ پاره (حقیقي) میندې نه دي جوړې کړې اللّائي همزه او ''ی'' او بغیر د ''ی'' دواړه قراءتونه دي، تظهرون دَ هٰا نه وړاندې الف او بغیر دَ الف دواړه صورتونه دي او تاء ثانیه په اصل کښې په ظاء کښې مدغم ده، چا خپلې ښځې ته مثلاً (انتِ عليَّ كظهرِ امي) او وئیل یعني دَ ظهار په وجه په حرمت کښې (حقیقي) مور په شان نه ده ظهار په جاهلیت کښې طلاق شمیرلو دَ وجې نه او بیشکه دَ ظهار دَ وجې نه کفاره دَ هغې په شرط سره واجب کیږي لکه چه په سورت مجادله کښې ذکرکړې شوې دي او نه ئې ستاسو په ځوئې نیولې شې ستاسو (حقیقي) ځامن جوړکړي دي. أَدْعِيَاءُ دَ دَعِيٌّ جمع ده هغه کس ته وائي چاته دَ چه دَ خوئي نسبت دَ هغه دَ پلار په ځائې باندې بل چاته کړې شوې وي. اې یهودو او منافقانو دا ستاسو دَ خلو خبرې دي، کله چه نبي کریم ﷺ دَ خپل متبنٰی حضرت زید بن حارثه ﷺ د بي بي زینب بنت جحش سره نکاح اوکړه نو (یهودو او منافقانو) وئیلي وو چه محمد ﷺ دَ خپل ځوئي ښځې سره

نکاح اوکړه نو الله تعالی په دې باره کښې دَهغوی تکذیب اوفرمائیلو او الله تعالی په دې معامله کښې حق خبره کوی اوهغه د لارې (حق) طرف ته رهنمائی کوی خو تاسو په ځوئی نیولی شوی دَ هغوی دَ پلارانو په نسبت سره رابلئ دَ الله تعالی په نیز صحیح خبره هم دغه ده اوکه چرې تاسو ته دَهغوی دَ پلارانو علم نه وی نو هغوی ستاسو دینی رونړه او ستاسو دَ تره ځامن دی اوکه چرې تاسو نه په دې معامله کښې هیره اوغلطی اوشی نو په تاسو باندې په دې کښې هیڅ گناه نشته، البته گناه هغه ده چه دَ ممانعت نه پس تاسو قصداً اوکړئی اودَممانعت نه وړاندې موچه څه وشیلی دی الله تعالی دیر بخښونکې دې او په دې باره کښې په تاسو باندې مهربان دې. نبی په مؤمنانو باندې د هغوی د ځانونو نه هم زیات شفقت کونکې (مهربان) دې په هغه څیزونو کښې دَ کوم طرف ته چه هغوی رابلل کوی اودَهغوی نفسونه دَهغې نه خلاف طرف ته رابلی اودَ هغوی ښځې دَهغوی میندې دی په هغوی باندې دَهغوی سره نکاح حرمت کښې او ذوی الارحام یعنی نیزدې خپلوان دَ کتاب الله په رترا کښې په نسبت دَ نورو مؤمنانو او مهاجرینو خپل مینځ کښې زیات حقداردی، دَ میراث په معامله کښې یعنی دَ ایمان او هجرت دَ وجې نه د ارث نه چه دَ اسلام په شروع کښې ووبیا منسوخ کړې شو مگر دا چه تاسو خپلو دوستانوسره دَ وصیت په ذریعه څه سلوک کول غواړئی نوجائزدې اودا یعنی دَایمان او د هجرت دَ وجې نه دَ میراث حکم دَ ذوی الارحام په ذریعه منسوخ کیدل په کتاب لوح محفوظ کښې لیکلې شوی دی دَ کتاب نه دوارو ځایونو کښې لوح محفوظ مراد دې. او یادکړئې مونږ دَ ټولو انبیاء کرامو نه عهد اخستې وو کوم وخت چه هغوی دَ آدم علیه السلام دَ شانه دَ وړو میږو په شان راویستلې شوی وو، ذُرِّ ذَرَّةٌ جمع ده دیر وړوکی میږی ته وائی او (بالخصوص) تاسو نه اودَ حضرت نوح علیه السلام نه اودَحضرت ابراهیم علیه السلام نه اودَ موسیٰ علیه السلام او عیسیٰ ابن مریم علیه السلام نه (عهد اخستې وو) دا چه دَ الله تعالی بندگی به کوی او خلقو ته به دَ هغه دَ بندگئی طرف ته دعوت ورکوی او دَتخصیص په توگه دَ دغه پنځو (انبیاء کرامو) ذکر عطف د خاص علی العام دَ قبیلې نه دې او مونږ دَهغوی نه ذمه واری پوره کولو دیر پوخ عهد اخستې وو اوهغه (میثاق) دَ الله تعالی قسم وو دې دَپاره چه الله تعالی دَ دغه رښتینو نه دَ رسالت دَ تبلیغ په سلسله کښې دَ رښتیاؤ په باره کښې تپوس کړی دَهغوی منکرینو لره د لاجواب کولو دَ پاره اودکافرانو دَپاره الله تعالی دردناک عذاب تیار ساتلې دې، یعنی تکلیف ورکونکې، دَدې عطف په اخذنا باندې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: يٰاَيُّهَا النَّبِیُّ الله تعالی سبحانه و تبارك رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دَ نورو انبیاء کرامو په شان خطاب نه فرمائی، نورو انبیاء کرامو ته ئې خطاب اوفرمائیلو یاموسیٰ یاعیسیٰ یاداؤد. څکه

چه حضورپاك بيشكه افضل الخلق على الاطلاق دي، لهذا الله تعالى حضورپاك ته په تعظيم او اكرام سره خطاب فرمائيلي دي مثلاً فرمائي يا ايها النبي، يا ايها الرسول او كه چرته په صراحت سره د حضورپاك د نوم د بيان ضرورت پيښ شوي نو سره د هغې نې وريسې څه بله كلمه ذكر كړي ده چه په تعظيم باندې دلالت كوي مثلاً فرمائي محمد رسول الله، وما محمد الا رسول وغير ذلك.

قوله: دُمْ على تقوا الله دي اضافي مقصد د تحصيل حاصل د شبهې جواب دې خكه چه حضورپاك خو د اول نه په تقوىٰ باندې وو بيا حضورپاك ته د تقوىٰ حكم وركول دا تحصيل د حاصل دې؟ د جواب خلاصه داده چه مقصد په تقوىٰ باندې د قائم پاتې كيدو حكم دې نه چه انشاء تقوىٰ يا حكم اگرچه حضورپاك ته دې مگر مراد امت دې.
قوله: كَفَىٰ بِاللَّهِ كښې لفظ الله د كفى فاعل كيدو د وجې نه په محل د رفع كښې دې فاعل باندې ب زائده ده، وكيلاً تميز دې يا حال دې.
قوله: وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ دا آيت حضرت زيد بن حارثه بن شرحبيل باره كښې نازل شوي دې، دَعِيٌّ په معنى د مَدْعُوٌّ يعنى فعيل په معنى د مَفْعُوْلٌ دَعِيٌّ اصل كښې دَعِيْوٌ وو واؤ او ياء په يوځائې جمع شو ياء ساكن ده، واؤ مو ياء كړه او د ياء مو په ياء كښې مدغمه كړه نو دَعِيٌّ شو ليكن د دَعِيٌّ جمع أَدْعِيَاء خلاف القياس ده ځكه چه د فعيل معتل لام جمع أفعلاء هغه وخت راځي كله چه د فاعل په معنى كښې وي لكه دَتَقِيٌّ جمع أتقياءُ او غنيٌّ جمع اغنياءُ، دَعِيٌّ سره د دې چه معتل لام دې مگر په معنى د مفعول دې لهذا قياس دا وو چه د دې جمع دَعْىٰ په وزن د فَعْلَى وي لكه د قتيل جمع قَتْلَى او جَرِيح جمع جَرْحَى راځي لهذا دا شاذ دي.
قوله: بَنُوْ عَمِّكُم. د مَوَالِيكُمْ تفسير په بنوعمكم سره د كولو مقصد د معنى تعيين دې ځكه چه د مولى ډيرې معنې راځي، د دغه ټولونه ابن عم مراد دې. حضرت زكريا عليه السلام فرمائيلي وو واني خفت الموالي من ورائي دلته د موالى نه بنوعم مراد دې.
قوله: مَا تَعَمَّدَتْ كښې مَا يا خو په سابق مَا باندې د عطف د وجې نه محلاً مجرور ده يا د ابتداء د وجې نه مرفوع ده او خبر ئې محذوف دې تقديرى عبارت به داشى ولكن ما تعمدت تؤاخذون به
قوله: أَرْحَامٌ جمع د رَحْمٌ په معنى د قرابت اولى بِبَعْضٍ اى بإرث بعض شارح رحمه الله فى الارث اضافي كښې حذف د مضاف طرف ته اشاره كړې دې، فى كتاب الله أولى سره متعلق دې اى هذه الاولوية ثابت فى كتاب الله دمن المؤمنين تعلق هم أولى سره دې يعنى خپلوان مؤمنان د پردو مهاجرينو نه د ارث زيات مستحق دى إِلَّا أَنْ تَفْعَلُوْا شارح رحمه الله د إلا تفسير په لكن سره

کړلو کښې اشاره او کړه چه دا مستثنى منقطع ده.

قوله: أَنْ تَفْعَلُوْا په تاويل د مصدر مبتدأ ده او دې خبر محذوف دې. شارح رحمه الله فجائز مقدر منلو سره حذف د خبر طرف ته اشاره او کړه، تَفْعَلُو چونکه د تَوَصَّلُوْا معنى لره متضمن دې لهذا د دې صله الى راوړل صحيح دى.

قوله: بِإِرْثِ ذَوِي الاَرحام دا د نسخ سره متعلق دې.

قوله: وَاِذْاَخَذْنَا د اذكر محذوف د وجې نه محلاً منصوب هم کيدې شى او دا هم جائزدى چه في الكتاب په محل باندې عطف وى نو هغه وخت به عامل مسطورًا وى اى كان هذا الحكم مسطورًا في الكتاب وقت أخذنا.

قوله: وَأَعَدَّ د دې عطف په أَخَذْنَا باندې دې.

[اياتونه: ۹ - ۲۰]

﴿يٰأَيها الَّذِينَ آمَنُوا اُذْكُرُوا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُود﴾ مِنَ الْكُفَّار مُتَحَزِّبُونَ أَيَّام حَفْر الْخَنْدَق ﴿فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَمْ تَرَوْهَا﴾ مِنَ الْمَلَائِكَة ﴿وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾ بِالتَّاءِ مِنْ حَفْر الْخَنْدَق وَبِالْيَاءِ مِنْ تَحْزِيب الْمُشْرِكِينَ ﴿بصيرا﴾ ﴿إِذْ جَاءُوكُمْ مِنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنْكُمْ﴾ مِنْ أَعْلَى الْوَادِي وَأَسْفَله مِنَ الْمَشْرِق وَالْمَغْرِب ﴿وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَار﴾ مَالَتْ عَنْ كُلّ شَيْء إِلَى عَدُوّهَا مِنْ كُلّ جَانِب ﴿وَبَلَغَتِ الْقُلُوب الْحَنَاجِر﴾ جَمْع حَنْجَرَة وَهِيَ مُنْتَهَى الْحُلْقُوم مِنْ شِدَّة الْخَوْف ﴿وَتَظُنُّونَ بِاللّٰهِ الظُّنُونَا﴾ الْمُخْتَلِفَة بِالنَّصْر واليأس ﴿هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ﴾ اُخْتُبِرُوا لِيَتَبَيَّنَ الْمُخْلِص مِنْ غَيْره ﴿وَزُلْزِلُوا﴾ حُرِّكُوا ﴿زِلْزَالًا شَدِيدًا﴾ مِنْ شِدَّة الفزع ﴿وَ﴾ اُذْكُرْ ﴿إِذْ يَقُول الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبهمْ مَرَض﴾ ضُعْف اِعْتِقَاد ﴿مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوله﴾ بِالنَّصْرِ ﴿إِلَّا غُرُورًا﴾ بَاطِلًا ﴿وَإِذْ قَالَتْ طَائِفَة مِنْهُمْ﴾ أَيْ الْمُنَافِقُونَ ﴿يَا أَهْل يَثْرِب﴾ هِيَ أَرْض الْمَدِينَة وَلَمْ تنصرف لِلْعَلَمِيَّةِ وَوَزْن الْفِعْل ﴿لَا مُقَام لَكُمْ﴾ بِضَمِّ الْمِيم وَفَتْحهَا أَيْ لَا إِقَامَة وَلَا مَكَانَة ﴿فَارْجِعُوا﴾ إِلَى مَنَازِلكُمْ مِنَ الْمَدِينَة وَكَانُوا خَرَجُوا مَعَ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى سَلْع جَبَل خَارِج الْمَدِينَة لِلْقِتَالِ ﴿وَيَسْتَأْذِن فَرِيق مِنْهُمُ النَّبِيّ﴾ فِي الرُّجُوع ﴿يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتنَا عَوْرَة﴾ غير حصينة يخشى عليها قال تعالى ﴿وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ إِنْ﴾ مَا ﴿يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا﴾ مِنَ الْقِتَال ﴿وَلَوْ دُخِلَتْ﴾ أَيْ الْمَدِينَة ﴿عَلَيْهِمْ مِنْ أَقْطَارهَا﴾ نَوَاحِيهَا ﴿ثُمَّ سُئِلُوا﴾ أَيْ سَأَلَهُمْ الدَّاخِلُونَ ﴿الْفِتْنَة﴾ الشِّرْك ﴿لَآتَوْهَا﴾ بِالْمَدِّ وَالْقَصْر أَيْ أَعْطَوْهَا وَفَعَلُوهَا ﴿وما تلبثوا بها إلا يسيرا﴾ ﴿وَلَقَدْ كَانُوا عَاهَدُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْل لَا يُوَلُّونَ الْأَدْبَار وَكَانَ عَهْد اللّٰه مَسْئُولًا﴾ عَنِ الْوَفَاء به ﴿قُلْ لَنْ يَنْفَعكُمُ الْفِرَار إِنْ فَرَرْتُمْ مِنَ الْمَوْت أَوِ الْقَتْل وَإِذًا﴾ إن فررتم ﴿لَا تُمَتَّعُونَ﴾ فِي الدُّنْيَا بَعْد فِرَاركُمْ ﴿إِلَّا قَلِيلًا﴾ بَقِيَّة آجَالكُمْ ﴿قُلْ مَنْ ذَا الَّذِي يَعْصِمكُمْ﴾ يُجِيركُمْ ﴿مِنَ اللّٰهِ إِنْ أَرَادَ بِكُمْ سُوءًا﴾ إهْلَاكًا وَهَزِيمَة ﴿أَوْ﴾ يُصِيبكُمْ بِسُوءٍ إِنْ ﴿أَرَادَ﴾ اللّٰه ﴿بِكُمْ رَحْمَة﴾ خَيْرًا ﴿وَلَا يَجِدُونَ لَهُمْ مِنْ دُون اللّٰه﴾ أَيْ غَيْره ﴿وَلِيًّا﴾ يَنْفَعهُمْ ﴿وَلَا نَصِيرًا﴾ يَدْفَع الضر عنهم ﴿قَدْ يَعْلَم اللّٰهُ الْمُعَوِّقِينَ﴾ الْمُثَبِّطِينَ ﴿مِنْكُمْ وَالْقَائِلِينَ لِإِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ﴾ تَعَالَوْا ﴿إِلَيْنَا وَلَا

يَأْتُونَ الْبَأْسَ﴾ الْقِتَالَ ﴿إِلَّا قَلِيلًا﴾ رِيَاءً وَسُمْعَةً ﴿أَشِحَّةً عَلَيْكُمْ﴾ بِالْمُعَاوَنَةِ جَمْعُ شَحِيحٍ وَهُوَ حَالٌ مِنْ ضَمِيرِ يَأْتُونَ ﴿فَإِذَا جَاءَ الْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنْظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ كَالَّذِي﴾ كَنَظَرٍ أَوْ كَدَوَرَانِ الَّذِي ﴿يُغْشَى عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ﴾ أَيْ سَكَرَاتِهِ ﴿فَإِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ﴾ وَحِيزَتِ الْغَنَائِمُ ﴿سَلَقُوكُمْ﴾ آذَوْكُمْ أَوْ ضَرَبُوكُمْ ﴿بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ﴾ أَيِ الْغَنِيمَةِ يَطْلُبُونَهَا ﴿أُولَئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا﴾ حَقِيقَةً ﴿فَأَحْبَطَ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ وَكَانَ ذَلِكَ﴾ الْإِحْبَاطُ ﴿عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا﴾ بِإِرَادَتِهِ ﴿يَحْسَبُونَ الْأَحْزَابَ﴾ مِنَ الْكُفَّارِ ﴿لَمْ يَذْهَبُوا﴾ إِلَى مَكَّةَ لِخَوْفِهِمْ مِنْهُمْ ﴿وَإِنْ يَأْتِ الْأَحْزَابُ﴾ كَرَّةً أُخْرَى ﴿يَوَدُّوا﴾ يَتَمَنَّوْا ﴿لَوْ أَنَّهُمْ بَادُونَ فِي الْأَعْرَابِ﴾ أَيْ كَائِنُونَ فِي الْبَادِيَةِ ﴿يَسْأَلُونَ عَنْ أَنْبَائِكُمْ﴾ أَخْبَارِكُمْ مَعَ الْكُفَّارِ ﴿وَلَوْ كَانُوا فِيكُمْ﴾ هَذِهِ الْكَرَّةَ ﴿مَا قَاتَلُوا إِلَّا قَلِيلًا﴾ رِيَاءً وَخَوْفًا مِنَ التَّعْيِيرِ

ترجمه. اې دَ ايمان والوپه خپلو ځانونوباندې دَ الله تعالى انعام يادکړئ کله چه په تاسو باندې دَ کافرانو ډيرو لښکرو دَ خندق کنستلو په ورځو کښې (متحده محاذ) جوړولو سره په تاسو حمله کړې وه نو مونږ په هغوی باندې طوفان راوليږلو او دَ فرښتو داسې فوج مو راوليږلو چه تاسو ته نه ښکاريدو او الله تعالى ستاسو خندق وغيره کنستلو عمل ته کتل، (تعملون) کښې تاء او ياء سره او دَ مشرکانو ډله بندی (متحده محاذ) ته ئې کتل کله چه (دښمن) تاسو ته ستاسو د پاسه يعنى دَ وادئ دَ بره طرف نه او ښکته طرف نه راغلى وو يعنى دَ مشرق او مغرب دَ طرف نه او کله چه سترګې کولاؤ په کولاؤ پاتې شوې يعنى دَ هر طرف نه حمله کونکې دَ خپل دښمن په طرف لګيدلې وې او دَ سختې ويرې نه زړونه خلو ته راغلل حناجر دَ حنجرة جمع ده حنجرة دَ حلق آخرى حصې ته وائى او تاسو دَ الله تعالى په نسبت دَ امداد او نااميدئ قسم قسم ګمانونه کول په دې موقع دَ مؤمنانو ازميښت اوکړې شو دې دَ پاره چه مخلص دَ غير مخلص نه جدا شى او دَ سختې ويرې په سخته زلزله کښې واچولې شوئى او هغه وخت يادکړئ کله چه منافقانو او هغه خلقو دَ چا په زړونو کښې چه دَ کمزورې عقيدې مرض وو وئيل به ئې چه مونږ سره خو الله تعالى او دَ هغه رسول د مدد صرف دَ دهوکې وعده کړې وه او کله چه په هغوی کښې يعنى دَ منافقانو يو جماعت اووئيل اې دَ يثرب والو دا دَ مدينې دَ علاقې نوم دې د علميت او وزن دَ فعل دَ وجې نه غير منصرف دې چه ستاسو دَ پاره دَ حصاريدو موقع نه ده (مقام) کښې دَ ميم په ضمې او په فتحې سره نه دَ حصاريدو موقع او نه دَ حصاريدو مقام خپل کورونو يعنى مدينې ته واپس شئى، او داخلق رسول الله ﷺ سره دَ جهاد دَ پاره دَ مدينې نه بهر جبل سلع پورې وتلې وو او په هغوی کښې بعضې خلقو دې ويناکولو سره دَ نبى ﷺ نه دَ واپس کيدو اجازت غوښتلو چه زمونږ کورونه خالى دى (يعنى) غير محفوظ دى زمونږ دَ خپلو کورونو باره کښې دَ (دښمن) انديښنه ده، الله تعالى اوفرمائيل حالانکه هغه غير محفوظ نه دى دَ هغوى صرف اراده دَ جنګ نه دَ تختيدو وه او که چرې په مدينه کښې په هغوی باندې دَ اطرافو د (مدينې) نه لښکرې راوَخيژى بيا دَ هغوی نه دَ داخليدونکې فتنې دَ شرک

مطالبه اوکړی نودوی به هغه منظورکړی (لاتوها) کښې مد اوقصردواړه دی یعنی دا به منظورې کړی اوبه ئې کړی او په کورونو کښې به ډیرکم حصار شی حالانکه دغه خلقو اول دَالله تعالی سره عهدکړې دې چه په شا به نه تختی، الله تعالی سره چه کوم عهدکولې شی دَهغې دَ پوره کولو په باره کښې به پوښتنه کیږی، تاسو ورته اووایئې چه تیختنه به تاسو ته څه فائده درنه کړی که چرته تاسودَ مرګ نه یا قتل نه تختئی اوکه چرې تاسو اوتختیدئ نو دَ تیختې نه پس به په دنیاکښې دَلږو ورځونه بغیر یعنی بغیردَ ژوند دَ باقی ورځونه مستفید کیدې نه شئی او دا هم ورته اووایه چه هغه څوک دې چه تاسو دَالله تعالی نه بچ کړې شی که چرې هغه تاسو سره د بدئ یعنی هلاکت یا شکست اراده اوکړی یا هغه څوک دی چه تاسو ته تکلیف دراورسوی که چرې الله تعالی تاسو سره دَ خیرمعامله کول غواړی؟ اونه به هغوی ته دَ الله تعالی نه بغیرڅوک حمایتی اومومی چه هغوی ته نفع اورسولې شی اونه مددګارچه دَهغوی نه ضرر اخواکړې شی الله تعالی په تاسو کښې هغه خلق پیژنی کوم چه نور منع کونکی دی او خپلو رونړو ته وائی چه مونږ له راشئی او په جنګ کښې شرکت نه کوی مګرډیرکم د خودلو اوړولو (ریاکارئ) دَپاره، دَ معاونت په باره کښې ستاسو په حق کښې پوره بخیلان دی. اَشِحَّةً دَ شحیحٌ جمع ده او دا دَ یاتون د ضمیر نه حال دې اوکله چه دَ ویرې موقع راشی نوتاسو به هغوی ګورئې چه هغوی ستاسو طرف ته داسې ګوری چه دَ هغوی سترګې چکر خوری دَهغه سړی دَ نظر په شان یا دَهغه سړی دَ چکر خوړلو په شان په کوم چه دَ زنکدن بې هوشی خوره شوې وی اوکله چه ویره ځی اودَ غنیمت مالونه راجمع کولې شی نوتاسو ته په تیزو تیزو ژبوسره تکلیف رسوی پیغورونه درکوی او دَغنیمت په مال کښې ډیرحرصناک دی دَهغې مطالبه کوی دې خلقو په حقیقت کښې ایمان نه دې راوړې نو الله تعالی دَهغوی اعمال بې کاره کړل اودا بې کاره کول دَ الله تعالی دَپاره دَ هغه په مشیت سره ډیرآسان دی، دَهغه خلقو داخیال دې چه دَ کافرانو جماعتونه اوس لا مکې مکرمې ته نه دی تلی دَهغوی نه دَ ویریدو دَ وجې نه اوکه (فرض کړه) دا جماعتونه بیا راواپس شی نو دوی به دا خبره خوښه کړی چه افسوس چه مونږ کلوته بهر تلې وې یعنی په کلوکښې مو استوګنه اختیار کړې وې او کافرانوسره ستاسو دَ جنګ حالات ئې معلومولې اوکه چرې دې ځل هغوی تاسو سره وې نوبیابه هم ډیرکم جنګیدل دَ ریاکارئی په توګه اودَ شرم دَ ویرې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: جُنُودٌ جمع د جُنْدٌ په معنی د لښکر، قریش، غطفان او یهودبنی نضیروغیره لښکرمراددې.

قوله: اِذْجَاءَتْكُمْ، نِعْمَةَ الله نه بدل دې په دې کښې عامل اُذْكُرُوْا دې.

قوله: مُعْتَزِبُوْنَ ای مُجْتَمِعُوْنَ، متحده محاذ.

قوله: إِذْجَاءُوكُم دا د إِذْجَاءَتْكُمْ نه بدل دې، په ظُنُوْنَا كښې نافع او ابن عامر او ابوبكر د مصحف امام (يعنى مصحف عثمانى) د رعايت د وجه نه وقفا ووصلاً الف سره لوستلې دې او ابوعمر او حمزه په دواړو حالتونو كښې حذف د الف سره لوستلې دې

قوله: بِالنصرِوالياس دَ نصرت اميدلرونكى مؤمنان مخلصان وو او نااميده كيدونكى منافقان وو.

قوله. زِلْزَالاً دَ زاء په كسرې سره دا عام قراءت دې او بعضې حضراتو دَ زاء په فتحې سره لوستلې دې څكه چه دَفِعْلاَلْ دواړه مصدرونه راځى لكه زِلْزالْ، قِلْقَالْ، اوصِلْصَالْ اوكله زَالزَالْ په فتحې سره دَا سم فاعل په معنى كښې هم راځى. لكه زَالزَال په معنى د مُزَلْزِلْ.

قوله: إِذقَالَت طائفة قائل منافق اوس بن قيظِيْ اودَهغه ملګرى دى لاَمُقَامَ په قراءت حفص كښې دَ ميم په ضمې سره دې اودَباقى حضراتو په نيز په فتحې سره دې. قول الشارح لاَ إِقَامَةَ په معنى د حصاريدلو د مُقَامُ (په ضمې سره) تفسير دې او لاَمَكَانَةَ په معنى د ځاې د قيام دادَ مقام (په فتحې سره) تفسير دې.

قوله: يَثْرِبَ په حديث شريف كښې مدينې ته يثرب ونيلونه منع كړې شوې ده څكه چه دا دَ ثِرْبٌ نه مشتق دې دَكوم معنى چه ملامت اودَ تعَنُّف ده، ونيلى شى چه دَ قوم معالقه يوسړې دَكوم نوم چه يثرب وو هغه دې ځائې كښې دَ تولونه اول اوسيدلې وو هم په دې وجه دَ دې ځائې نوم يثرب شو. رسول الله ﷺ دَدې ځائې نوم طيبة، طابة، قُبَّةَ الاسلام او دارالهجرت كيخودو. (اعراب القرآن للدرويش ملخصًا)

قوله. سَلَعْ د مدينې سره نيزدې دَ يوغرنوم دې اودَ شارح رحمه الله قول جبل خَارِجَ المدينة دسَلَعْ تفسير دې.

قوله: فَارجعوا كښې فا فصيحه ده اى إِن سمِعتم نُصْحِي فَارْجِعُوا يعنى كه تاسو زما نصيحت اوريدلې وى نو واپس شئى اودَ وَيَسْتَأذِن عطف په قالت باندې دې، حكايت د حال ماضى په توګه باندې دمضارع صيغه راوړلې شوې ده يقولون جمله حاليه يا مفسره ده كوم چه دَ وَيَسْتَأذِن تفسير كوى

قوله: وَلَوْدُخِلَتِ المَدِينَة اى لَوْدَخَلَتِ الاحزابُ المدينةَ لم يسلوا اى المنافقون.

قوله. الْفِتْنَةَ اى الكُفْرَوَالرِّدةَ

قوله: لاَتَوْهَا كښې لام په جواب قسم باندې داخل دې يعنى كفر او ردة (مرتد كيدل) ډير زر بلاتاخير منظور كړى او بعضې حضراتو دا معنى بيان كړې ده چه دكفر اوردة (مرتد كيدلو) مطالبه پوره كولو نه پس مدينه كښې ريب وخت حصار نه شى زر به ويستلې شى يا به

قتل کړې شي. (بيضاوی، جمل)

قوله: لَايُوَلُّوْنَ دا جواب قسم دې ځکه چه عَاهَدُوْا معنی کښې اَقْسَمُوْا دې.

قوله: اِنْ فَرَرْتُمْ شرط دې دَدې جواب لن ينفعكم مقدم يا د ماقبل دَ دلالت دَوجې نه محذوف هم کيدې شي.

قوله: اَلْمُعَوِّقِيْنَ دا دَ مُعَوِّقْ اسم فاعل جمع ده دَدې معنی ده بندونکی، منع کونکی.

قوله: هَلُمَّ اى تَعَالَوْا هَلُمَّ دَبنی تميم او حجازيينو په نيز فعل امر دې مګر فرق دا دې چه دَ بنو تميم په نيز علامات تثنيه او جمع او تذکير او تانيث لاحق کيږی، يعنی هَلُمَّا هَلُمُّوا هَلُمَّتْ وغيره وئيلی شی او دَ حجازيينو په نيز دَدې صرف دَ واحد مذکر صيغه راځی. شارح رحمه الله دَ هَلُمَّ تفسير تعالوا سره کولو کښې دې خبرې ته اشاره کړې ده چه هغه دَ هَلُمَّ په باره کښې دَ حجازی مذهب قائل دې.

قوله: اَشِحَّةً دا دَ شحيح جمع ده دَدې معنی ده حريص مع البخل، اَشِحَّةً منصوب بالذم دې يا دَ حال کيدو دَ وجې نه منصوب دې بعض حضراتو د هم مبتدأ محذوف د خبر کيدو دَ وجې نه مرفوع هم لوستلې دې.

قوله: رأيتهم ينظرون اِلَيْكَ دا دَ منافقانو دَ بزدلئی او د ويرې د کيفيت بيان دې، دَ بزدلئی او ويرې دوه وجوهات وو اول مشرکينو سره دَ جنګ ويره دويم دَ رسول الله ﷺ دَ غالب کيدو ويره، د يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ خوفًا من القتال تعلق رومبی صورت سره دې او تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ تعلق د دويم صورت سره دې.

قوله: ينظرون جمله حاليه ده ځکه چه مراد رويت بصريه دې.

قوله: كنظر او دَوَران د شارح رحمه الله مقصد دَدې عبارت نه دا خودل دی چه كَالَّذِىْ يُغْشٰى عليه کښې دوه صورتونه دی اول دا چه دا يَنْظُرُوْنَ د مصدر محذوف صفت وی اى يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ نظرًا كنظر الَّذِىْ يُغْشٰى عليه دويم دا چه دَ تَدُوْرُ د مصدرِ محذوف صفت وی اى تَدُوْرُ دَوْرًا كدوران عين الَّذِىْ يُغْشٰى عليه.

قوله: سَلَقُوْ (ض) سلقا په ژبه تيزه خبره کول سَلَقَهٗ بالكلام هغه ته ئې تيزه خبره اوکړه، پيغورنې ورکړو.

قوله: بَادُوْنَ دا دَ بَادٍ جمع ده، کلی وال، دکلی اوسيدونکې، يعنی افسوس چه هغوی دَ کلی اوسيدونکی وې، يَسْئَلُوْنَ جمله دَ بَادُوْنَ خبر دې.

....

[اياتونه: ۲۱ - ۲۷]

﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ﴾ بِكَسْرِ الْهَمْزَةِ وَضَمِّهَا ﴿حَسَنَةٌ﴾ اقْتِدَاءٌ بِهِ فِي الْقِتَالِ وَالثَّبَاتِ فِي مَوَاطِنِهِ ﴿لِمَنْ﴾ بَدَلٌ مِنْ لَكُمْ ﴿كَانَ يَرْجُو اللَّهَ﴾ يَخَافُهُ ﴿وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾ بِخِلَافِ مَنْ لَيْسَ كَذٰلِكَ ﴿وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ﴾ مِنَ الْكُفَّارِ ﴿قَالُوا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ﴾ مِنَ الِابْتِلَاءِ وَالنَّصْرِ ﴿وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ﴾ فِي الْوَعْدِ ﴿وَمَا زَادَهُمْ﴾ ذٰلِكَ ﴿إِلَّا إِيمَانًا﴾ تَصْدِيقًا بِوَعْدِ اللَّهِ ﴿وَتَسْلِيمًا﴾ لِأَمْرِهِ ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ﴾ مِنَ الثَّبَاتِ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَىٰ نَحْبَهُ﴾ مَاتَ أَوْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ﴿وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ﴾ ذٰلِكَ ﴿وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا﴾ فِي الْعَهْدِ وَهُمْ بِخِلَافِ حَالِ الْمُنَافِقِينَ ﴿لِيَجْزِيَ اللَّهُ الصَّادِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ إِنْ شَاءَ﴾ بِأَنْ يُمِيتَهُمْ عَلَى نِفَاقِهِمْ ﴿أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا﴾ لِمَنْ تَابَ ﴿رَحِيمًا﴾ بِهِ ﴿وَرَدَّ اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ أَيِ الْأَحْزَابَ ﴿بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا خَيْرًا﴾ مُرَادَهُمْ مِنَ الظَّفَرِ بِالْمُؤْمِنِينَ ﴿وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ الْقِتَالَ﴾ بِالرِّيحِ وَالْمَلَائِكَةِ ﴿وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا﴾ عَلَى إِيجَادِ مَا يُرِيدُهُ ﴿عَزِيزًا﴾ غَالِبًا عَلَى أَمْرِهِ ﴿وَأَنْزَلَ الَّذِينَ ظَاهَرُوهُمْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ﴾ أَيْ قُرَيْظَةَ ﴿مِنْ صَيَاصِيهِمْ﴾ حُصُونِهِمْ جَمْعُ صِيصَةٍ وَهُوَ مَا يُتَحَصَّنُ بِهِ ﴿وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ﴾ الْخَوْفَ ﴿فَرِيقًا تَقْتُلُونَ﴾ مِنْهُمْ وَهُمُ الْمُقَاتِلَةُ ﴿وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا﴾ مِنْهُمْ أَيِ الذَّرَارِيَّ ﴿وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ وَأَرْضًا لَمْ تَطَئُوهَا﴾ بَعْدُ وَهِيَ خَيْبَرُ اُخِذَتْ بَعْدَ قُرَيْظَةَ ﴿وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا﴾

ترجمه: يقينًا ستاسو دَپاره په (حيات) رسول الله ﷺ کښې دَ اقتداء دَپاره په جنګ کښې او په جنګ کښې ثابت قدم اوسيدو کښې ښکلي نمونه موجود ده، دَ اسوة په همزه باندې د کسرې او ضمې سره (يعني) دَهر هغه سړي دَپاره چه دَ الله تعالى او ورځې دَ آخرت نه ويريږي او دَ الله تعالى په کثرت سره ذکر کوي په خلاف دَ هغه سړي چه په دې صفت باندې نه دې. لِمَنْ دَ لَكُمْ نه بدل دې او ايمان والو چه کله دَ کافرانو لښکرا وليدلو نو ناځاپې ئې اوويل هم دغه دې هغه ازمينت او نصرت دکوم وعده چه الله تعالى او دَ هغه رسول ﷺ زمونږ سره کړې وه، او الله تعالى او دَ هغه رسول ﷺ په وعده کښې رښتونى دى او دې څيز دَ الله تعالى دَ وعدې تصديق او دَ هغه دَ حکم امتثال (پوره کولو) کښې اضافه اوکړه په دغه مؤمنانو کښې څه خلق داسې هم دى چا چه نبى سره دَ ثابت قدم اوسيدو کومه وعده کړې وه هغه ئې رښتيا کړه بيا بعضې په هغوى کښې هغه دى چه خپل نذر ئې پوره کړو اووفات شو، يا دَ الله تعالى په لار کښې شهيدان کړې شو او په هغوى کښې بعضې دَ موقع په انتظار کښې دى او هغوى په عهد کښې هيڅ بدلون نه دې کړې او دَ هغوى حال دَ منافقانو دَ حال نه برخلاف دې (دا واقعه دَ دې دَپاره اوشوه) چه الله تعالى رښتونى مسلمانانو ته دَ هغوى دَ صداقت بدله ورکړى او منافقانو ته که غواړى نو سزا ورکړى په داسې طريقه چه هغوى ته هم په نفاق باندې مرګ ورکړى او که غواړى نو دَ هغوى توبه قبوله

کړي بیشکه الله تعالی توبه کونکو لره بخښونکې او په هغوی ډیر مهربان دی، او الله تعالی کافرانو یعنی احزاب دَ غصې نه ډک نامراد واپس کړل یعنی هغوی په مؤمنانو باندې دَ فتح مراد حاصل نه کړې شو، او الله تعالی په جنګ کښې دَ مؤمنانو دَ طرف نه د سلیئی او دَ ملائکو په ذریعه هم په خپله کافي شو او الله تعالی چاله چه غواړی دَهغوی په موجود کولو باندې دَ ډیر قوت والا دې او په خپل امرباندې غالب دې او کومو اهل کتابو یعنی بنو قریظه چه دَهغوی امداد کړې وو هغوی ئې هم دَهغوی دَ قلعه ګانو نه راوویستل صیاصي دَ صِیْصِیَةٌ جمع ده هغه عمارت ته وئیلی شی دَ کوم په ذریعه چه حفاظت کولې شی (قلعه) او دَهغوی په زړونو کښې ئې رعب ، ویره واچول په هغوی کښې یو فریق تاسو قتل کولو او هغه مقاتلین (جنګ کونکی) وو او په هغوی کښې یو فریق (یعنی) ماشومان مو قید کول او هغه تاسو دَهغوی دَ زمکو او دَهغوی دَ کورونو او مالونو وارثان جوړ کړئې او دَهغې زمکې هم چرته چه تراوسه پورې ستاسو قدمونه هم نه دی رسیدلی (وارثان جوړ کړئې) او هغه دَ خیبر زمکه ده چه دَ قریظه نه پس په قبضه کښې واخستې شوه او الله تعالی په هر څیز قادر دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: أُسْوَةٌ نمونه د عمل، اسم په معنی د مصدر دې، اَلاِئْتِسَاءُ اقتداء کول شارح رحمه الله دَ اقتداء اضافه کولو سره اشاره اوکړه چه أُسْوَةٌ دَ اسم مصدر په معنی کښې دې لکه قُدْوَةٌ په معنی د اقتداء يقال ائتسى فلانٌ بِفُلَانٍ اى اِقتدى به.

قوله: فِي الْقِتَالِ وَالثَّبَاتِ دا دواړه قیدونه اتفاقی دی. دَدې مفهوم مخالف مراد نه دې بلکه مطلب دا دې چه دَ حضور پاك ژوند مبارك دَ عمل یوه بهترینه نمونه ده په هر حالت کښې که هغه دَ جنګ حالت وی او که دَ امن یا دَ جنګ په حالت کښې دَ ثابت قدم او سیدو معامله وی یا دَ بهادرئې.

قوله: فِي مَوَاطِنِهِ اى مواطن قتال یو عارف څه ښه وینا کړې ده

وَخَصَّكَ بِالْهُدٰى فِىْ كُلِّ اَمْرٍ　　　فَلَسْتَ تَشَاءُ الْأَمَا يَشَاءُ

قوله: بَدَلٌ مِنْ لَكُمْ یعنی لِمَنْ دلَکُمْ نه په اعادې د جار سره بدل البعض دې

قوله: مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ دَ الله تعالی د وعدې نه دَ الله تعالی دا قول اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ (الآية) مراد دې او دَ قول رسول ﷺ نه دَ حضور پاك دا قول اَنَّ الاحزاب سَائِرُوْنَ بعدَ تِسعٍ لَيَالٍ او عَشْرٍ وقوله صلى الله تعالى عليه وسلم سَيَشْتَدُّ الْأَمْرُ بِاجْتِمَاعِ الاحزاب عَلَيْكُمْ وَالْعَاقِبَةُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ مراد دې

قوله: صَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ دَ اسم ضمیر په ځائې اسم ظاهر راوړلې شوې دې.

سوال پورته دَ الله تعالی او دَهغه دَ رسول ذکر صراحةً شوې دې لهذا دلته ضمیر راوړل یعنی صَدَقَا وئیل کافي وو دَ اسم ظاهر راوړلو څه وجه ده؟

جواب: ① دَالله تعالی دَ نوم د تکریم او تعظیم دَپاره ئې دَالله تعالی نوم مستقلاً ذکر کړو

جواب: ② دادې چه ضمیر راوړلو کښې به الله او دَرسول نوم هم په یولفظ کښې جمع کیدل څکه چه دَ دواړو دَ پاره به تثنیه صیغه صَدَقَا راوړلې شوه کوم چه موهم الی الشرک دې، دارنګ حضور پاک ﷺ دواړه اسمونه په لفظ واحد کښې جمع کولونه منع فرمائیلې ده او دَ یوخطیب کوم چه مَنْ يُطِعِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ رَشَدَ وَمَنْ يَعْصِهِمَا فَقَدْ غَوَى وئیلی وو، مذمت فرمائیلو سره ئې اوفرمائیل بئس خطيبُ القوم أنتَ قل وَمَنْ يعصِ اللهَ ورسُوْلَهُ

قوله: نَحْبَهُ، نَحْبٌ نذر، منخته، دا د مرګ نه کنایه ده څکه چه دَ هر ساه والا دَپاره د نذر په شان مرګ هم لازم وی.

قوله: صِيْصِيَةً مَا يُتَحَصَّنُ بِهِ یعنی دَ څه په ذریعه چه حفاظت اوکړې شی که هغه قلعه وی اوکه څه بل څه څیز مثلاً ښکر، دَ چرګ تاج (خره) وغیره.

پاره نمبر ۲۲ [ومن يقنت]

[ایاتونه: ۲۸ ـ ۳۴]

{يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ} وَهُنَّ تِسْعٌ وَطَلَبْنَ مِنْهُ مِنْ زِينَةِ الدُّنْيَا مَا لَيْسَ عِنْدَه {إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ} أَيْ مُتْعَةَ الطَّلَاقِ {وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا} أُطَلِّقْكُنَّ مِنْ غَيْرِ ضِرَارٍ {وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ} أَيِ الْجَنَّةَ {فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ} بِإِرَادَةِ الْآخِرَةِ {أَجْرًا عَظِيمًا} أَيِ الْجَنَّةَ فَاخْتَرْنَ الْآخِرَةَ عَلَى الدُّنْيَا {يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ مَنْ يَأْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ} بِفَتْحِ الْيَاءِ وَكَسْرِهَا أَيْ بُيِّنَتْ أَوْ هِيَ بَيِّنَةٌ {يُضَاعَفْ} وَفِي قِرَاءَةٍ يُضَعَّفُ بِالتَّشْدِيدِ وَفِي أُخْرَى نُضَعِّفُ بِالنُّونِ مَعَهُ وَنُصِبَ الْعَذَابُ {لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ} ضِعْفَيْ عَذَابِ غَيْرِهِنَّ أَيْ مِثْلَيْهِ {وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا} {وَمَنْ يَقْنُتْ} يُطِعْ {مِنْكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُؤْتِهَا أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ} أَيْ مِثْلَيْ ثَوَابِ غَيْرِهِنَّ مِنَ النِّسَاءِ وَفِي قِرَاءَةٍ بِالتَّحْتَانِيَّةِ فِي تَعْمَلْ وَنُؤْتِهَا {وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا} فِي الْجَنَّةِ زِيَادَةً {يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ} كَجَمَاعَةٍ {مِنَ النِّسَاءِ إِنِ اتَّقَيْتُنَّ} اللَّهَ فَإِنَّكُنَّ أَعْظَمُ {فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ} لِلرِّجَالِ {فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ} نِفَاقٌ {وَقُلْنَ قَوْلًا مَعْرُوفًا} مِنْ غَيْرِ خُضُوعٍ {وَقَرْنَ} بِكَسْرِ الْقَافِ وَفَتْحِهَا {فِي بُيُوتِكُنَّ} مِنَ الْقَرَارِ وَأَصْلُهُ اقْرِرْنَ بِكَسْرِ الرَّاءِ وَفَتْحِهَا مِنْ قَرِرْتُ بِفَتْحِ الرَّاءِ وَكَسْرِهَا نُقِلَتْ حَرَكَةُ الرَّاءِ إِلَى الْقَافِ وَحُذِفَتْ مَعَ هَمْزَةِ الْوَصْلِ {وَلَا تَبَرَّجْنَ} بِتَرْكِ إِحْدَى التَّاءَيْنِ مِنْ أَصْلِهِ {تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى} أَيْ مَا قَبْلَ الْإِسْلَامِ مِنْ إِظْهَارِ النِّسَاءِ مَحَاسِنَهُنَّ لِلرِّجَالِ وَالْإِظْهَارُ بَعْدَ الْإِسْلَامِ مَذْكُورٌ فِي آيَةِ {وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا} {وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ} الْإِثْمَ يَا {أَهْلَ الْبَيْتِ} أَيْ نِسَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {وَيُطَهِّرَكُمْ} مِنْهُ {تَطْهِيرًا} {وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ} الْقُرْآنِ {وَالْحِكْمَةِ} السُّنَّةِ {إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا} بِأَوْلِيَائِهِ {خَبِيرًا} بِجَمِيعِ خَلْقِهِ

ترجمه: اې نبی ﷺ ته خپلو ازواج مطهراتو ته اووايه او دا نهه وې او دوی د نبی عليه السلام نه د دنيا زيب و زينت غوښتې وو او دا هغه سره نه وو که چرې تاسو دَ دنياوی ژوندون (عيش) اوډَې ښائست غوارئی نو راشئی چه زه تاسو ته څه يعنی متعهٔ طلاق درکړم او تاسو پريږدم په ښه طريقې سره يعنی تاسو ته طلاق درکړم بغير د ضرر رسولو نه او که چرې تاسو الله تعالی او دَهغه رسول او دَ آخرت کور غوارئی يعنی جنت نو يقين اوکړئی چه په تاسو کښې نيک کارونه کونکو دَپاره الله تعالی دَ آخرت په کور کښې زبردست اجر يعنی جنت تيار کړې دې نو هغه ټولو آخرت ته په دنياباندې ترجيح ورکړه، اې دَ نبی بيبيانو کومه يوه هم چه په تاسو کښې څه ښکاره بيهودګی اوکړی مُبَيِّنَةً کښې د "ی" په فتحې او په کسرې سره يعنی ښکاره کړې شوې يا ښکاره شوې نو هغوی ته به ډبل عذاب ورکولې شی او په يو قراءت کښې يُضَعَّف په تشديد سره دې او په يو قراءت کښې بِنُ نون سره دَ تشديد او العذاب په نصب سره (يعنی) دَ غير ازواج دَعذاب ډبل، يعنی دوه چند اودَ الله تعالی په نيز دا ډير آسان دی او په تاسو کښې چه څوک دَالله تعالی اودَ هغه دَ رسول ﷺ فرمانبرداری کوی او نيک عمل کوی نو مونږ به هغوی ته ډبل اجر ورکوو يعنی دَ نورو ښځو په نسبت ډبل اجر او په يو قراءت کښې نعمل او نؤتها کښې په ياء تحتانيه سره دې، او مونږ دَهغوی دَپاره په جنت کښې نور ډير ښائسته رزق تيار کړې دې، اې دَ نبی بيبيانو تاسو دَ عامو ښځو په شان (معمولی) نه يئې که چرې تاسو دَالله تعالی تقوىٰ اختيار کړئی نو بيشکه تاسو دَ لويودرجووالا يئې، تاسو سړو سره په خبرو اترو کښې نرمه لهجه مه اختيار وئی کنی دَ چا په زړه کښې چه دَ نفاق مرض وی هغه به طمع کول شروع کړی او تاسو دَ نرمئی او نزاکت نه بغير د قاعدې مطابق خبرې کوئی او تاسو په خپلو کورونو کښې په آرام سره کينئی قَرْنَ کښې په کسرې او فتحې دواړو سره دې دا دَ قرار نه مشتق دې، دَدې اصل اِقْرَرْنَ د راء په فتحې او کسرې سره قَرَرْتَ په فتحې دَ راء او کسرې دَ راء نه مشتق دې، دَ راء حرکت دَ قاف طرف ته منتقل شو اوسره دَ همزې وصل حذف شو او د جاهليت دَپخوانې زمانې دَ رواج مطابق تاسو دَخپل ښائست مه ښکاره کوئی يعنی دَاسلام نه وړاندې زمانه کښې دَ ښځودَ سرړو دَپاره دَ محاسنو دَ اظهار په شان، اودَ اسلام دَ زمانې نه پس اظهار په آيت ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ کښې ذکر دې اودَ مونځ پابندی کوئ اوزکوٰة اداکوئی اودَالله تعالی اودَهغه دَ رسول اطاعت کوئی اې اهل بيت يعنی د نبی بيبيانو الله تعالی ته دا منظوره چه تاسو نه دَ ګناه ګکروالې لرې کړی او تاسو ښه پاکې صفا اوساتی او تاسو هغه قرآنی آيا تونه او حکمت سنت ياد اوساتئی دَ کوم چه ستاسو په کورونو کښې تذکره کيږی يقيناً الله تعالی په خپلو دوستانو باندې مهربانی کونکې او دَ خپل ټول مخلوق نه باخبر دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: يَاَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّاَزْوَاجِكَ دَ نبی کریم ﷺ دَ ازواج مهطراتو او نورو مسلمانانو ښځو اسلامی موقف بیانولودَ پاره داکلام مستانف دي.

قوله: فَتَعَالَيْنَ تاسو راشئ د تَعَالَىٰ نه امر جمع مؤنث حاضر مبنی برسکون دي نون نسوة ني فاعل دي؛ داکلمه دکثرت استعمال دَ وجې نه اَقْبِلْ (واوړئې) په معنی کښې استعمالیدل شروع شو.

قوله: اُمَتِّعْكُنَّ وَاُسَرِّحْكُنَّ په عام قراءت کښې دواړه صیغې په جزم سره دی دَ مجزوم کیدو دوه وجې کیدې شی اول دا چه دَ جواب شرط کیدودَ وجې نه مجزوم وی او کُنْتُنَّ شرط وی او دَ شرط اوجواب شرط په مینځ کښې جمله معترضه وی. دویمه وجه داده چه فَتَعَالَيْنَ جواب شرط وی او اُمَتِّعْكُنَّ جواب د امروی.

قوله: مِنْكُنَّ، مِنْ بیانیه دي ځکه چه ټول ازواج محسنات دی دویم ترکیب دَ اول نه بهتردي. (اعراب القرآن للدرویش)

قوله: اِنِ اتَّقَيْتُنَّ اِنْ حرف شرط اِتَّقَيْتُنَّ شرط محلاً مجزوم، جواب شرط محذوف دي لکه چه شارح رحمه الله فَاِنَّ كُنَّ اعظم سره اشاره کړې ده او بعض مفسرینو فَلَا تَخْضَعْنَ بالقول جواب شرط گرځولي دي

اى اِنِ اتَّقَيْتُنَّ فلاتكلمن كلامًا لينًا خاضعًا مع الرجال ككلام المريبات.

قوله: وَقَرْنَ فِىْ بُيُوْتِكُنَّ (درفارسی) ای آرام گیرید درخانهائے خویش یعنی په خپلو کورونو کښې په سکون سره اوسیږئې وَقَرْنَ کښې واؤعاطفه دي جمع مؤنث امر حاضر معروف ① دا په اصل کښې د قرار نه اِقْرَرْنَ (سمع) یا ②په اصل کښې اِقْرِرْنَ وو دَ راء په کسرې او فتحې سره قَرِرْتَ(ضرب)یاقَرَرْتَ (سمع) نه دَ راء حرکت نقل کولو سره قاف ته ورکړې شو او راء سره دَ همزې حذف شوه، تاسو اوسیږئې، ③بیضاوی، زمخشری او نیشاپوری لیکلی دی چه دا د قَارَيَقَارُ په وزن دَ خَافَ يَخَافُ نه دي یعنی تاسو کلکې اوسیږئې ④او بعضې حضراتو واؤ اصل گرځولوسره د وَقَرَيَقِرُ (مثال واوی) نه مشتق گرځولې دي یعنی په سکون او قرار باندې اوسیږئې (لغات القرآن)

قوله: تَبَرَّجْنَ په اصل کښې تَتَبَرَّجْنَ وو په ناز او انداز باندې تلل او خپل زینت او محاسن د پردو سړو ته ښکاره کول.

[ايا تونه: ۳۵ ـ ۴۰]

{إن المسلمين والمسلمات والمؤمنين والمؤمنات والقانتين والقانتات} المطيعات {والصادقين والصادقات} في الإيمان {والصابرين والصابرات} على الطاعات {والخاشعين} المتواضعين {والخاشعات} المتواضعات {والمتصدقين والمتصدقات والصائمين والصائمات والحافظين فروجهم والحافظات} عن الحرام {والذاكرين الله كثيرا والذاكرات أعد الله لهم مغفرة} للمعاصي {وأجرا عظيما} على الطاعات {وما كان لمؤمن ولا مؤمنة إذا قضى الله ورسوله أمرا أن يكون} بالتاء والياء {لهم الخيرة} أي الإختيار {من أمرهم} خلاف أمر الله ورسوله نزلت في عبد الله بن جحش وأخته زينب خطبها النبي لزيد بن حارثة فكرها ذلك حين علماه لظنهما قبل أن النبي صلى الله عليه وسلم خطبها لنفسه ثم رضيا للآية {ومن يعص الله ورسوله فقد ضل ضلالا مبينا} بينا فزوجها النبي صلى الله عليه وسلم لزيد ثم وقع بصره عليها بعد حين فوقع في نفسه حبها وفي نفس زيد كراهتها ثم قال للنبي صلى الله عليه وسلم اريد فراقها فقال امسك عليك زوجك كما قال تعالى {وإذ} منصوب باذكر {تقول للذي أنعم الله عليه} بالإسلام {وأنعمت عليه} بالإعتاق وهو زيد بن حارثة كان من سبي الجاهلية اشتراه رسول الله صلى الله عليه وسلم قبل البعثة وأعتقه وتبناه {أمسك عليك زوجك واتق الله} في امر طلاقها {وتخفي في نفسك ما الله مبديه} مظهره من محبتها وأن لو فارقها زيد تزوجتها {وتخشى الناس} ان يقولوا تزوج زوجة ابنه {والله أحق أن تخشاه} في كل شيء وتزوجها ولا عليك من قول الناس ثم طلقها زيد وانقضت عدتها قال تعالى {فلما قضى زيد منها وطرا} حاجة {زوجناكها} فدخل عليها النبي صلى الله عليه وسلم بغير إذن واشبع المسلمين خبزا ولحما {لكي لا يكون على المؤمنين حرج في أزواج أدعيائهم إذا قضوا منهن وطرا وكان أمر الله} مقضيه {مفعولا} {ما كان على النبي من حرج فيما فرض} أحل {الله له سنة الله} اي كسنة الله فنصب بنزع الخافض {في الذين خلوا من قبل} من الأنبياء أن لا حرج عليهم في ذلك توسعة لهم في النكاح {وكان أمر الله} فعله {قدرا مقدورا} مقضيا {الذين} نعت للذين قبله {يبلغون رسالات الله ويخشونه ولا يخشون أحدا إلا الله} فلا يخشون مقالة الناس فيما أحل الله لهم {وكفى بالله حسيبا} حافظا لأعمال خلقه ومحاسبتهم {ما كان محمد أبا أحد من رجالكم} فليس أبا زيد أي والده فلا يحرم عليه التزوج بزوجته زينب {ولكن} كان {رسول الله وخاتم النبيين} فلا يكون له ابن رجل بعده يكون نبيا وفي قراءة بفتح التاء كآلة الختم أي به ختموا {وكان الله بكل شيء عليما} منه بأن لا نبي بعده وإذا نزل السيد عيسى يحكم بشريعته.

ترجمه: يقينًا مسلمانان سړی او مسلماناني ښځې اومؤمنان سړی اومؤمناني ښځې او فرمانبردار سړی او فرمانبرداري ښځې او په ايمان کښې مخلص سړی او مخلصې ښځې صبرکونکی سړی او صبرکونکې ښځې او خشوع او عاجزی کونکی سړی او خشوع او عاجزی کونکې ښځې او خيرات کونکی سړی او خيرات کونکې ښځې او روژې ساتونکی سړی او روژې ساتونکې ښځې او

ځرام نه دَ خپل شرمګاه حفاظت کونکی سړی او حفاظت کونکې ښځې او په کثرت سره د الله ذکر کونکی سړی او ذکرکونکې ښځې دَدې ټولودَپاره الله تعالی دَ ګناه نه مغفرت او په اطاعت باندې اجرعظیم تیار ساتلې دې او (ګورئی) د یو مؤمن سړی او یوې مؤمنې ښځې دَپاره دَ الله تعالی اودَهغه دَ رسول دَ فیصلې نه پس په خپله معامله کښې دَ الله تعالی اودَهغه دَ رسول خلاف ورزی کولو هیڅ اختیار باقی نه پاتې کیږی، یکونُ کښې ی او ت دواړه دی دا آیت دَعبدالله بن جحش اودهغه دَ خور زینب (بنت جحش) په باره کښې نازل شوې دې، رسول الله ﷺ حضرت زینب ته دَ حضرت زید بن حارثه ﷺ دَ نکاح پیغام ورکړې وو کله چه دواړو خور او رور ته دَ دې (حقیت حال) معلوم شو نوپیغام ئې ناخوښه کړو خکه چه دې دواړو اول دا ګنړلی وو چه حضورپاك پخپله دَخپل ځان دَپاره دَ زینب دَ نکاح پیغام ورکړې دې، دې نه پس دَ ذکرشوی آیت دَ نازلیدو دَ وجې نه دواړه راضی شو (یاد ساتئی) دَالله تعالی اودَهغه دَ رسول ﷺ چه څوك هم نافرمانی کوی هغه به په ښکاره ګمراهئی کښې پریوځی. نوهغوی دَ حضرت زینب ﷺ نکاح د حضرت زید ﷺ سره اوکړه، بیا څه موده پس دَ حضورپاك نظر په حضرت زینب باندې پریوتلو نو دَهغې محبت دَ حضورپاك په زړه کښې راوچت شو او دَ زید په زړه کښې دَ زینب نه نفرت (پیداشو) بیا زید حضورپاك ته عرض اوکړو چه زه زینب ته طلاق ورکول غواړم، حضورپاك اوفرمائیل خپله بی بی (په نکاح کښې) اوساته لکه چه الله تعالی فرمائیلی دی کله چه حضورپاک هغه سړی ته وئیل په چاچه الله تعالی دَ اسلام په ذریعه انعام فرمائیلې دې او آزادولوسره تاسو هم په هغه باندې احسان اوکړو هغه زیدبن حارثه ﷺ دې. دې دَ جاهلیت دَ زمانې په قیدیانوکښې وو رسول الله ﷺ دَ بعثت نه وړاندې اخستې وو او د آزادولونه پس ئې متبنٰی جوړکړې وو، خپله بی بی (زینب) په خپله نکاح کښې اوساته اودَهغې دَ طلاق په معامله کښې دَالله تعالی نه اوویرېږه او تاسو ﷺ په خپل زړه کښې (هغه خبره) پټه ساتلې وه کومه چه الله تعالی ښکاره کونکې وو او هغه دَ زینب محبت وو اودا چه که زید دې ته طلاق ورکړی نوزه به دې سره نکاح اوکړم. او تاسو ﷺ دَ خلقو دَ هغه خبرونه ویریدلئ چه خلق به وائی چه محمد ﷺ دَ خپل ځوئی دَ ښځې سره نکاح اوکړه، او ویریدل خو دَ حضورپاك دَپاره په هر څیز کښې هم دَ الله تعالی نه لازم دی، اوهغه به ستادې سره نکاح اوکړی اوتاسوله دَخلقو دَخبرو هیڅ اندېښنه نه دی کول پکار، روستو بیا حضرت زید ﷺ حضرت زینب ﷺ ته طلاق ورکړو اودَهغې عدت هم تیرشو، الله تعالی اوفرمائیل چه کله زید دَدې نه خپل حاجت پوره کړو نو مونږ ستا د هغې سره نکاح اوکړه نو حضورپاك زینب ته بغیر دَ اجازت نه تشریف بوړو او په مسلمانانو باندې ئې (ولیمه) کښې ښه په مړه خیټه غوښه اوروټئی اوخوړله دې دَپاره چه دَ مؤمنانو دَ پاره په دغه متبناګانو سره دَ نکاح په باره کښې تنګی نه وی، کله چه هغوی

دَدوی نه خپل حاجت پوره کړی اودَ الله تعالی امر فیصله شوې حکم خو هم کیدونکې وو کوم خیزچه الله تعالی دَنبی دَپاره فرض یعنی حلال کړو دَدې په (کولو) په نبی باندې هیڅ حرج نشته دَ پخوانو انبیاء کرامو په حق کښې هم د الله تعالی داسې طریقه ساتلې وه دا چه په دې کښې دَهغوی دَپاره څه حرج نشته دَهغوی دَپاره په نکاح کښې آسانی پیدا کولو دَ پاره سُنَّةً نه د نزع خافض دَ وجې نه نصب ورکړې شوې دې دَالله تعالی حکم یعنی دَهغه فعل مقرر کړې شوې وی اَلَّذِیْنَ دَ سابق اَلَّذِیْنَ صفت دې دا ټول داسې وو چه دَ الله تعالی احکام به ئې رسول اوهم دَالله تعالی نه به ویریدل هم دغه وجه ده چه په دغه کارونو کښې کوم چه الله تعالی دَهغوی دَپاره حلال کړل دَ خلقودَ خبرو (پیغورونو) پرواه به ئې نه کوله او الله تعالی دَخپل مخلوق دَمحافظت او محاسبت په اعتبارسره کافی دې (اې خلقو) محمد ﷺ ستاسو دَ سړونه دَ چا پلارنه دې لهذا دَ زید پلار یعنی دَهغه والد (هم) نه دې په دې وجه دَهغه دَ پاره دَ زید بی بی زینب سره نکاح حرام نه ده لیکن حضورپاک دَ الله تعالی رسول دې اودَ ټولو انبیاء کرامو دَ سلسلې ختمونکې دې لهذا دَهغوی هیڅ بالغ اولاد نشته چه دَهغوی نه پس نبی وی او په یو قراءت کښې دَ تاء په فتحې سره دې یعنی په معنی دَ مهر، مطلب دا چه دَ حضورپاک په ذریعه د انبیاؤ سلسله باندې مهر لګولې شوې دې اوالله تعالی دَهرشئ نه ښه خبردې اوهم دَهغې نه داخبره هم ده چه دَ حضورپاک نه پس څوك نبی نشته، او کله چه به دَ سیدنا عیسی ﷺ نزول اوشی نو هم دَحضورپاك دَ شریعت مطابق به فیصله کوی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: الـمؤمنین والمؤمنات **سوال:** د دې عطف په المسلمین والمسلمات باندې کړې شوې دې حالانکه شرعًا دواړه یو دی اودَعطف دَ پاره مغایرت ضروری دې؟

جواب: دَمفهوم په اعتبار سره دواړه مختلف دی ځکه چه اسلام بما جاء به النبی صلی الله علیه وسلم دَ تصدیقِ قلبی سره دَ شهادتین دَ تلفظ نوم دې او ایمان اذعانِ قلبی نوم دې د نطق باللسان په شرط سره، اودَ عطف دَپاره ادنی مغایرت کافی دې.

قوله: والحافظات د دې مفعول دَماقبل دَ دلالت دَ وجې نه حذف کړې شوې دې تقدیری عبارت دادې والحافظات فروجهن.

قوله: إِذَا قَضَى اللهُ ورسوله دَ الله تعالی نوم تعظیمًا اودې خبرې طرف ته د اشارې کولو دَ پاره ذکر کړې شوې دې چه دَرسول الله فیصله هم دَ الله تعالی فیصله ده ځکه چه رسول دَخپل طرف نه څه فیصله نه کوی.

قوله: لمؤمن، دکان خبرمقدم دې اوولامؤمنة په حقې معطوف دې اذا ظرفیه متضمن ده معنی د شرط لره، جواب د شرط محذوف دې په کوم چه نفی مقدم دلالت کوی. اذا ظرفیة

منه کيدې شي په دې صورت کښې به دَ استقر محذوف معمول وی د کوم سره چه دکَـانَ خبرمتعلق دې تقديری عبارت به داشی ومَاکَـان مـستقرًالمؤمن ولامؤمنـةٍ وقـت قـضـاءالله کـون خيرةالهٔ فی امره. (جمل)

قوله: الاختيار، د الخيَرَةُ تفسير په الاختيارسره کولو کښې ئې اشاره اوکره چه الخيرةُ مصدر غيرقياسی دې.

قوله: خلافَ امرالله دا دَ الخيرة د مفعول کيدودَوجې نه منصوب دې

قوله: مِن محبتهـا دا دَمـاابداهُ بيان دې.

قوله: سُنَّةَالله مصدرکيدودَ وجې نه هم منصوب کيدې شي.

قوله: قدرًامقدورًا مقدورًا، دَ قدرًا تاکيد دې لکه ظِلاًظليلاًولِيلٌ اَليَلُ.

قوله: ولکن رسول الله دَ جمهورو په قراءت کښي لکِنْ په تخفيف سره دې او دَرَسُوْلَ نصب دَ کانَ محذوف خبرکيدودَ وجې نه دې.

[اياتونه: ٤١ _ ٥٢]

{يأيهاالذين آمنوااذکرواالله ذکراکثيرا} {وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا} أوّل النّهار وآخره {هُوَالَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ} أي يَرحَمكُمْ {وَمَلَائِكَته} يَستَغفِرُونَ لَكُمْ {لِيُخْرِجَكُمْ} لِيُدِيمَ إخرَاجه إيّاكُم {مِنَ الظُّلُمَاتِ} اي الكفر {إلى النور} اي الإيمان {وكان بالمؤمنين رحيما} {تَحِيَّتُهُمْ} مِنْهُ تَعَالَى {يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلَامٌ} بِلِسَانِ المَلائِكَة {وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا} هُوَ الجَنّة {يأيها النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا} عَلَى مَن أرسِلتَ إلَيهِمْ {وَمُبَشِّرًا} مَن صدقك بالجَنةِ {وَنَذِيرًا} مُنذِرًا مَن كَذّبَك بالنّارِ {وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ} إلى طَاعَته {بِإِذْنِهِ} بأمرِهِ {وَسِرَاجًا مُنِيرًا} أي مِثله في الإهتِداء بِهِ {وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ بِأَنَّ لَهُمْ مِنَ اللَّهِ فَضْلًا كَبِيرًا} هُوَ الجَنّة {وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ} فِيما يُخالِف شَرِيعَتك {وَدَعْ} اترُكْ {أَذَاهُمْ} لا تُجازهِمْ عَلَيهِ إلَى أن تُؤمَر فِيهِمْ بأمرٍ {وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ} فَهُوَ كَافِيك {وَكَفَى بِاللَّهِ وَكِيلًا} مُفوّضًا إلَيهِ {يأيها الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ} وَفِي قِرَاءَة تُمَاسُّوهُنّ أي تُجامِعُوهُنّ {فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا} تُحصُونَهَا بالأقراءِ وَغَيرهَا {فَمَتِّعُوهُنَّ} أعطُوهُنّ مَا يَستَمتِعنَ بِهِ أي إن لَم يُسَمّ لَهُنّ اصدقة والا فلهن نصف المسمى فقط قاله بن عَبّاس وَعَلَيْهِ الشّافِعِيّ {وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا} خلّوا سبيلهن من غير إضرار {يأيها النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ} مُهُورهنّ {وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ} مِنَ الكُفّار بالسّبي كَصَفِيّةَ وَجُوَيْرِيَة {وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَالَاتِكَ اللَّاتِي هَاجَرْنَ مَعَكَ} بِخِلافِ مَن لَم يُهاجِرْنَ {وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَسْتَنْكِحَهَا} يَطلُب نِكاحهَا بِغَيرِ صَدَاق {خَالِصَةً لَكَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ} النّكاح بِلَفظِ الهِبَة مِن غَير صَدَاق {قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ} أي المُؤمِنِينَ {فِي أَزْوَاجِهِمْ} مِنَ الأحكَام بِأنْ لا يَزِيدُوا عَلَى أربَع نِسوَة وَلَا يَتزَوّجُوا إلّا بِوَلِيّ وَشُهُود ومهر {وَ}

في ﴿مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ﴾ مِنَ الْإِمَاءِ بِشِرَاءٍ وَغَيْرِه بِأَنْ تَكُونَ الْأَمَةُ مِمَّنْ تَحِلُّ لِمَالِكِهَا كَالْكِتَابِيَّةِ بِخِلَافِ المجوسية والوثنية وان تستبرء قَبْلَ الْوَطْءِ ﴿لِكَيْلَا﴾ مُتَعَلِّقٌ بِمَا قَبْلَ ذٰلِكَ ﴿يكون عليك حَرَجٌ﴾ ضِيقٌ فِي النِّكَاحِ ﴿وَكَانَ اللّٰهُ غَفُورًا﴾ فِيمَا يَعْسُرُ التَّحَرُّزُ عَنْهُ ﴿رَحِيمًا﴾ بِالتَّوْسِعَةِ فِي ذلك ﴿ترجي﴾ بِالْهَمْزَةِ وَالْيَاءِ بَدَلَه تُؤَخِّرُ ﴿مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ﴾ اي أَزْوَاجِك عَنْ نَوْبَتِهَا ﴿وَتُؤْوِي﴾ تَضُمُّ ﴿إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ﴾ مِنْهُنَّ فَتَأْتِيهَا ﴿وَمَنِ ابْتَغَيْتَ﴾ طَلَبْتَ ﴿مِمَّنْ عَزَلْتَ﴾ مِنَ الْقِسْمَةِ ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ﴾ فِي طَلَبِهَا وَضَمِّهَا إِلَيْكَ خُيِّرَ فِي ذٰلِكَ بَعْدَ أَنْ كَانَ الْقَسْمُ وَاجِبًا عَلَيْهِ ﴿ذٰلِكَ﴾ التَّخْيِيرُ ﴿أَدْنَى﴾ أَقْرَبُ إِلَى ﴿أَنْ تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ ولا يحزن ويرضين بِمَا آتَيْتَهُنَّ﴾ مَا ذُكِرَ الْمُخَيَّرُ فِيهِ ﴿كُلُّهُنَّ﴾ تَأْكِيدٌ لِلْفَاعِلِ فِي يَرْضَيْنَ ﴿وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمْ﴾ مِنْ أَمْرِ النِّسَاءِ وَالْمَيْلِ إِلَى بَعْضِهِنَّ وَإِنَّمَا خَيَّرْنَاكَ فِيهِنَّ تَيْسِيرًا عَلَيْكَ فِي كُلِّ مَا أَرَدْتَ ﴿وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا﴾ بِخَلْقِهِ ﴿حليمًا﴾ عن عقابهم ﴿لا تحل﴾ بالتاء والياء ﴿لَكَ النِّسَاءُ مِنْ بَعْدُ﴾ بَعْدَ التِّسْعِ اللَّاتِي اخْتَرْنَكَ ﴿وَلَا أَنْ تَبَدَّلَ﴾ بِتَرْكِ إِحْدَى التَّاءَيْنِ فِي الْأَصْلِ ﴿بِهِنَّ مِنْ أَزْوَاجٍ﴾ بِأَنْ تُطَلِّقَهُنَّ أَوْ بَعْضَهُنَّ وَتَنْكِحَ بَدَلَ مَنْ طَلَّقْتَ ﴿وَلَوْ أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ﴾ مِنَ الْإِمَاءِ فَتَحِلُّ لَكَ وَقَدْ مَلَكَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَهُنَّ مَارِيَةَ وَوَلَدَتْ لَهُ إِبْرَاهِيمَ وَمَاتَ فِي حَيَاتِه ﴿وَكَانَ اللّٰهُ عَلَى كُلِّ شيء رقيبا﴾ حفيظا.

ترجمه: اې دَ ایمان والو تاسو دَالله تعالی ذکر بنه په کثرت سره کوئی او سحرمابنام یعنی دَ ورځې اول او په آخرد ورځ کښې (یعنی همیشه) دَهغه پاکی بیانوئی هغه داسې (رحیم) دې چه هغه په تاسو باندې رحمت نازلوی او دَهغه فرښتې (هم) ستاسو دَپاره دعادَ رحمت کوی دې دَپاره چه تاسو دَ ظلمت یعنی دکفر نه نور یعنی ایمان طرف ته راوباسی، یعنی دې خروج ته دوام ورکړی، او الله تعالی په مؤمنانو باندې دیر مهربان دې په کومه ورځ چه هغوی د الله تعالی سره ملاویږی نو دَ هغوی دَپاره به تحفه دَ الله تعالی دَ طرف نه دَ فرښتو په ژبه سلام وی او الله تعالی دَهغوی دَپاره ښکلې بدله تیاره ساتلې ده او هغه جنت دې او اې نبی یقینًا هم مونږ تاسو په مُرسَل الیهم (یعنی) په امت باندې گواه جوړولوسره او ستاسو تصدیق کونکوته دَ جنت زیرې ورکونکې جوړولوسره اودَ ستاسو تکذیب کونکې دَ دوزخ نه ویرونکې جوړکړې لیږلې ئې اودَ هغه په حکم سره دَ الله تعالی دَ اطاعت طرف ته رابلونکې او روښانه چراغ جوړولوسره لیږلې ئې یعنی دَ چراغ په شان دې، دَ هغه په ذریعه هدایت حاصلولو کښې او تاسو مؤمنانوته زیرې واوروئی چه په هغوی باندې دَالله تعالی دَ طرف نه دیر لوئی فضل کیدونکې دې او هغه جنت دې او په هغه خبرو کښې چه ستاسو دَ شریعت خلاف وی، دَ کافرانو او منافقانو خبره مه منئی او دَهغوی دَ طرف نه تکلیف رسول هیر کړئی او په دغه تکلیفونو باندې بدله مه اخلئی ترکومې چه دَهغوی نه دَ بدلې اخستلو حکم نه وی درکړې شوې او په الله تعالی باندې یقین ساتئی ځکه چه هغه ستاسو دَپاره کافی دې او الله تعالی دکارسازئی دَپاره کافی دې یعنی (کارونه هغه ته د حواله کولو په اعتبار سره کافی دې، اې مؤمنانو کله چه تاسو مؤمنانو ښځو سره

نکاح اوکړئ یا (حقیقةً یا حکماً) دَ کوروالی نه وړاندې هغوی ته طلاق ورکړئ او په یو قراءت کښې تُمَسُّوهُنَّ دې او معنی ئې تُجَامِعُوْهُنَّ ده نو په (دې صورت) کښې ستاسو په هغوی باندې هیڅ دَعدت حق نشته کوم چه تاسو دَحیض وغیره په ذریعه سره اوشمیرئ نو تاسو هغوی ته متعه ورکړئ یعنې هغوی ته څه (مال) ورکړئ په کوم سره چه هغوی څه فائده حاصله کړی (او دا) په هغه صورت کښې دی چه دَهغې مهر نه وی متعین شوې ګنې دَهغې دَپاره نصف مهر کافی دې حضرت ابن عباس رضي الله عنهم دغه فرمائیلی دی او هم دغه دَ امام شافعي رحمه الله په نیزدی او په ښه شان سره هغوی رخصت کړئ یعنې بغیرد څه نقصان (تکلیف) رسولو هغوی په ښه طریقه سره رخصت کړئ، اې نبي مونږ ستاسو دَپاره هغه ښځې دَ کوم چه تاسو مهرادا کړې دې حلال کړی دی او هغه ښځې هم کومې چه الله تعالی تاسو ته په غنیمت کښې درکړی دی یعنې دکافرانو نه دَ قید په ذریعه لکه صفیه رضي الله عنها او جویریه رضي الله عنها اوستاسو دَ تره لونړه او ستاسو د ماماګانو لونړه او دَستاسو دَ ترور لونړه او ستاسو دَخاله ګانو لونړه چاچه تاسو سره هجرت کړې وی او هغه مؤمنه ښځه هم حلال ده چاچه خپل ځان نبي ته (بغیر دَ مهر) حواله کړې دې په دې شرط چه نبي د هغې سره نکاح کول قبول کړی یعنې (نبي) هغې سره بغیر دَ مهر نکاح کول منظور کړی دا دَ ستاسو خصوصیت دې نه چه دَ نورو مسلمانانو دَپاره یعنې بغیر نه دَمهر په لفظ د هبې سره نکاح (دَحضورپاك خصوصیت دې) مونږ ته هغه احکام معلوم دی کوم چه مونږ په هغوی باندې یعنې په مؤمنانو باندې دَهغوی دَ بیبیانو په باره کښې مقرر کړی دی دا چه دَڅلورونه زیات نکاح به نه کوی او (هغه احکام هم معلوم دی) چه دَ هغوی دَ وینځو په باره کښې مونږ مقرر کړی دی هغه وینځې (که) اخستې شوې وی او که په ملکیت کښې راغلې وی یا په څه بله طریقه، وینځه داسې وی کومه چه دَمالك دَپاره حلال وی لکه کتابیه په خلاف دَ مجوسي او بت پرستې اودا چه دَ کوروالی نه وړاندې ښځه د رحم اوکړی دې دَپاره چه دَ نکاح باره کښې په تاسو تنګی نه وی (لِكَيْلَا) دَدې تعلق د ماقبل یعنې اِنَّآ اَحْلَلْنَا لَكَ سره دې او الله تعالی په هغه (امر) کښې دَ کوم نه بچ کیدل چه سخت وی بخښونکې دې او په دې کښې آسانی ورکولو سره رحم کونکې دې دَ دغه بیبیانو نه کومې چه تاسو غواړئ دَهغې دَنمبر نه جدا اوساتئ، او کومې چه غواړئ ځان سره ئې اوساتئ یعنې دَهغې نمبر هغې ته ورکړی تُرْجِئْ په همزه سره اودَ همزه په ځائې ی سره یه معنی د تؤخر دُ اودکومې نمبر چه تاسو روستوکړې وو یا تاسو دَهغې نمبر شروع کول غواړئ نو دَ هغې نمبر شروع کولو او خپل ځان سره یوځائ کولو کښې په تاسو باندې هیڅ حرج نشته اولاً په حضورپاك باندې نمبر مقرر کول واجب وو روستو دَ نمبر مقرر کولو باره کښې اختیار ورکړې شو په دې تخییر کښې زیاته توقع ده چه دَهغوی سترګې یخې شی او دَهغوی خاطر به درووند نه شی او کوم څه چه تاسو په مخیر فیه کښې هغوی ته ورکوئ په هغې باندې به ټولې په

تولې راضي وي. كُلُّهُنَّ دَ يَرْضَيْنَ دَ فاعل تاكيد دې دَ ښځو په معامله كښې او په هغوى كښې دَبعضو طرف ته (دَ ډير) رغبت باره كښې الله تعالى ته ستاسو دَ زړونو حال معلوم دې مونږ ستاسو دَ آسانتيا دَپاره دَ بيبيانو باره كښې ستاسو په غوښتنه كښې اختيار وركړې دې، الله تعالى دَخپل مخلوق باره كښې ښه علم لري او هغوى ته دَ سزا وركولو باره كښې حليم دې، ستا دَپاره دَ دغه نهو ښځونه علاوه كومې چه تاسو اختيار كړې دى ستاسو دَ پاره حلال نه دى يَحِلُّ كښې تاء او ياء دواړه دى اونه ستاسو دَپاره دا صحيح دى چه دَ دغه بيبيانو په ځائې نورې اوكړئې په داسې توګه چه دغه ټولې يا د دوى نه بعضو ته طلاق وركړې او دَ طلاق شوې په بدله كښې نورې اوكړئې اګرچه تاسو ته دَهغه (نورو) حسن ښه لګى، مګر هغه وينځې كومې چه ستاسو مملوكې وى نو په هغې كښې ستاسو دَپاره (بدلون) حلال دې، حضورپاك دَ بيبيانو نه پس دَ ماريه قبطيه مالك شو اودَحضورپاك دَهغې نه ځوئى ابراهيم پيدا شو دَ كوم انتقال چه هم دَحضورپاك په ژوند مبارك كښې اوشو او الله تعالى دَهرڅيز پوره ساتونكې دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: هُوَالَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ جمله مستانفه ده اودَ امر بالذكر والتسبيح علت دې يعنى چه كله دَ ذكر اوتسبيح حكم وركړې شو نو سوال پيدا شو چه ذكر اوتسبيح دې ولې اوكړې شى؟ نو جواب وركړې شو دَدې دَپاره چه هغه په تاسو باندې رحمت نازل كړى.

قوله: اَيْ يَرْحَمُكُمْ دَ اضافې مقصد داخودل دى چه دَ صلوة نسبت كله دَ الله تعالى طرف ته اوشى نو نزول د رحمت مراد وى.

قوله: ملائكته دَدې عطف د يُصَلِّيْ په ضمير مستتر باندې دې، مګر دلته به دا اعتراض كيږى چه په ضمير مرفوع متصل باندې د عطف دَپاره د ضمير منفصل په ذريعه تاكيد ضرورى وى كوم چه دلته نشته.

جواب: دادې چه چونكه دَ عَلَيْكُمْ فاصل موجود دې په دې وجه دَ ضمير په ذريعه دَ تاكيد ضرورت نشته، او ملائكته نه پس يستغفرون دَاضافې مقصد داخودل دى چه د صلوة نسبت كله دَملائكو طرف ته وى نو طلب د مغفرت مراد وى.

قوله: لِيُخْرِجَكُمْ دَ دې تفسير په لِيُدِيْمَ سره د كولو مقصد دَ يو سوال جواب وركول دى، سوال دادې چه دَاهل ايمان د كفر دَ ظلمت نه وتل هم په نفس ايمان سره ثابت دى بيا دَ دوباره راويستلو څه مطلب دې؟ داخو تحصيل د حاصل دې؟

جواب: حاصل دادې چه دَدې تفسير مقصد دې خبرې طرف ته اشاره كول دى چه دَخروج نه دوام واستقرار مراد دې، ځكه چه كله دَ خالق نه غفلت زياتيږى نو دَايمان نه دَ خروج سبب

جوړيږي. (العياذ بالله).

سوال: اَلظُّلُمَاتِ جمع او النُّوْرُ واحد راوړلو كښې څه مصلحت دې؟

قوله: دكفرانواع چونكه ډير وى دَ دې وجې نه دَ هغې ظلمات هم زيات وى او ايمان خو شئ واحد دې په دې كښې تعددنشته دې كوم خلق چه دتعدد قائل دى هغه دَ اهل سنت والجماعت نه خارج دې. (صاوى)

قوله: بِإِذْنِهٖ تفسير بِأَمْرِهٖ سره كولو كښې مقصد دَ يوسوال مقدر جواب دې.

سوال: إذْن واجازت خو د إِنَّآ أَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا نه مستفاد دې بيا دَ دوباره اجازت څه ضرورت دې؟

جواب: خلاصه داده چه دلته د إِذْن نه امر (حكم) مراد دې، او په اذن او امر كښې فرق ظاهر دې.

قوله: دَعْ أَذَاهُمْ دا اضافت د مصدر الى الفاعل دَ قبيلې نه دې، تقدير د عبارت دادې دَعْ أَذِيَّتَهُمْ إِيَّاكَ يعنى تاسودَ هغوى تكليف رسول معاف كړئى دَهغوى نه دَهغوى دتكليف رسولو بدله مه اخلئى، يا اضافت د مصدرالى المفعول دَ قبيلې نه دې أَىْ اُتْرُكْ أَذِيَّتَكَ لَهُمْ يعنى تاسو هغوى ته تكليف رسول پريږدئ، هغوى ته په سزا وركولو كښې تادى مه كوئى ترهغه وخته پورې چه تاسو ته اجازت ملاؤشى، نودَ جنګ په آياتونوسره اجازت ملاؤشو اودَ معاف كولو هغه حكم منسوخ شو.

قوله: وَمَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ دمَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ په مثال كښې مفسرعلام دَ صفيه رضي الله عنها بنت حيى بن اخطب او جويريه رضي الله عنها بنت الحارث الخزاعيه پيش كړى دى، دَدې مقتضىٰ ده چه دَمَا مَلَكَتْ عطف په أٰتَيْتَ أُجُوْرَهُنَّ باندې وى مګر دا د ظاهر خلاف دې ظاهردادى چه دَ دې عطف أَزْوَاجَكَ باندې وى مګر په دې صورت كښې دَ مَا مَلَكَتْ په مثال كښې صفيه رضي الله عنها او جويريه رضي الله عنها پيش كول صحيح نه دى ځكه چه دا په مَا مَلَكَتْ كښې نه بلكه دَ ازواج مطهرات نه دى، دَ صفيه اوجويريه رضي الله عنهما په ځائې ماريه قبطيه او ريحانه پيش كول پكاردى ځكه چه دا دواړه دَحضورپاك دَ وينځونه دى.

قوله: مِمَّآ أَفَآءَ اللهُ عليكَ مِمَّا أَفَاءَ الله دمَا مَلَكَتْ بيان دې د مَا مَلَكَتْ قيد احترازى نه دې بلكه تغليبى دې، چونكه دَ حضورپاك اكثر وينځې په مال غنيمت كښې هغوى ته حاصلې شوې وې په دې وجه ئې دَ مَا مَلَكَتْ قيد لګولې دې ګنى دَا خستې شوو وينځوهم دغه حكم دې كوم چه دَ غنيمت په توګه دَ حاصل شوو وينځو دې. (يعنى حلت)

قوله: اِمْرَأَةً مُّؤْمِنَةً دَدې عطف هم د أَحْلَلْنَا لَكَ په مفعول أَزْوَاجَكَ باندې دې مطلب دادې چه دَحضورپاك دَ پاره مؤمن ښځې حلالې دى كافرې نه.

قوله: اِنْ اَرَادَالنبی ﷺ دا دَ وهبتْ نَفْسَهَا شرط دې یعنی دَ یوې ښځې محض خپل نفس هبه کول دَ نکاح پوره کیدو دَپاره کافی نه دی بلکه دَ حضورپاك قبلول هم شرط دې.

قوله: خَالِصَةً لكَ، د خَالِصَةً د منصوب کیدو درې وجوهات کیدې شی ① د وَهَبَتْ دَ فاعل نه حال کیدو دَ وجې نه ای حالَ کونِها خَالصةً لكَ دونَ غیرِكَ ② د اِمرأةً نه حال واقع کیدو دَ وجې نه په دوارو صورتونوکښې به معنی هم یوه وی ③ دَ مصدر محذوف صفت کیدو دَ وجې نه منصوب وی، ای هِبَةً خَالِصَةً لكَ دونَ غیرِكَ.

قوله: لِكَیْلَا دا دَ خپل ماقبل یعنی د خَالِصَةً سره متعلق دې.

قوله: تُرْجِیْ دا دَ ارجَاءٌ نه د مضارع واحد مذکرحاضر صیغه ده ته مهلت ورکړې، ته روستو ئې کړه.

قوله: تُؤوِیْ، اِیْوَاءٌ نه واحد مذکرحاضردې ته ځائې ورکړه، ته ځان سره اوساته، ته ملاؤکړه.

قوله: وَمَنْ ابْتَغَیْتَ من شرطیه دې د اِبْتَغَیْتَ مفعول مقدم کیدو دَ وجې نه محلاً منصوب دې، فلاجناح جواب شرط دې اوداهم کیدې شی چه مَنْ موصوله وی او د مبتدأ کیدو دَ وجې نه محلاً مرفوع وی اولاَجُنَاحَ عَلَیكَ دَمبتدأ خبر وی.

[ایاتوله: ۵۳ ـ ۵۸]

{یاایها الَّذِینَ آمَنُوالَا تَدْخُلُوابُیُوتَ النَّبِیِّ اِلَّا اَنْ یُؤْذَنَ لَکُمْ} فِي الدُّخُول بِالدُّعَاءِ {اِلیٰ طَعَامٍ} فَتَدْخُلُوا {غَیْرَ نَاظِرِینَ} مُنتظِرِینَ {اِنَاهُ} نُضجه مَصدَر اَنیٰ یَانِي {وَلٰکِنْ اِذَادُعِیتُمْ فَادْخُلُوا فَاِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا} تَمکُثوا {مُسْتَاْنِسِینَ لِحَدِیثٍ} مِن بَعضکُم لِبَعضٍ {اِنَّ ذٰلِکُمْ} المُکث {کَانَ یُؤْذِی النَّبِیَّ فَیَسْتَحْیِی مِنْکُمْ} ان یخرجکم {وَاللّٰهُ لَا یَسْتَحْیِی مِنَ الْحَقِّ} أَنْ یُخرِجکُمْ أَيْ لَا یَترُك بیانه وفریٔ یَستَحيِ بِیاءٍ وَاحِدَة {وَاِذَا سَاَلْتُمُوهُنَّ} أَيْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّی اللّٰه عَلَیْهِ وَسَلَّمَ {مَتَاعًا فَاسْاَلُوهُنَّ مِنْ وَّرَاءِ حِجَابٍ} سِتر {ذٰلِکُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوبِکُمْ وَقُلُوبِهِنَّ} مِنَ الخَوَاطِرِ المُرِیبَة {وَمَا کَانَ لَکُمْ اَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللّٰهِ} بِشَيْءٍ {وَلَا اَنْ تَنْکِحُوا اَزْوَاجَهٗ مِنْ بَعْدِهٖ اَبَدًا اِنَّ ذٰلِکُمْ کَانَ عِنْدَ اللّٰهِ} ذنبا {عَظِیمًا} {اِنْ تُبْدُوا شَیْئًا اَوْ تُخْفُوهُ} مِن نِکَاحِهِنَّ بَعْدَه {فَاِنَّ اللّٰهَ کَانَ بِکُلِّ شَیْءٍ عَلِیمًا} فیجازیکم علیه {لَا جُنَاحَ عَلَیْهِنَّ فِي آبَائِهِنَّ وَلَا اَبْنَائِهِنَّ وَلَا اِخْوَانِهِنَّ وَلَا اَبْنَاءِ اِخْوَانِهِنَّ وَلَا اَبْنَاءِ اَخَوَاتِهِنَّ وَلَا نِسَائِهِنَّ} أَيْ المُؤمِنَات {وَلَا مَا مَلَکَتْ اَیْمَانُهُنَّ} مِنَ الإِمَاءِ وَالعَبِید اَنْ یَرَوْهُنَّ وَیُکَلِّمُوهُنَّ مِن غَیرِ حِجَاب {وَاتَّقِینَ اللّٰهَ} فِیمَا أُمِرْتُنَّ بِهِ {اِنَّ اللّٰهَ کَانَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ شَهِیدًا} لَا یَخفَی عَلَیْهِ شَيْءٌ {اِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِکَتَهٗ یُصَلُّونَ عَلَی النَّبِیِّ} مُحَمَّد صلی الله علیه وسلم {یاایها الَّذِینَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَیْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِیمًا} أَيْ قُولُوا اللّهُمَّ صَلِّ عَلَی سَیِّدِنَا مُحَمَّد وَسَلِّمْ {اِنَّ الَّذِینَ یُؤْذُونَ اللّٰهَ وَرَسُولَهٗ} وَهُمُ الكُفَّار یَصِفُونَ اللّٰه بِمَا هُوَ مُنَزَّه عَنْهُ مِنَ الوَلَد وَالشَّرِیك وَیُکَذِّبُونَ رَسُوله {لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْیَا وَالْآخِرَةِ} أَبعَدَهُم {وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُهِینًا} ذَا إِهَانَة وَهُوَ النَّار {وَالَّذِینَ یُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِینَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَیْرِ مَا اکْتَسَبُوا} یَرمُونَهُم بِغَیرِ مَا عَمِلُوا {فَقَدِ

احتملوا بهتانا، تحملوا كذبا (واثما مبينا) بينا

ترجمه: اې دَ ايمان والو! دَنبي په كورونوكښې (بغيردَ رابللو) مه ورځئ مګردا چه تاسو دَ خوراک دَپاره دَ دعوت په توګه دَ راتللو اجازت درکړې شي نو داسې داخليدې شئ چه دَ خوراك دَ تيارى په انتظاركښې مه كينئ، اِنى، د انى يانى مصدردې، خوچه كله تاسو راؤبللې شئ نوبيا ورځئ بياچه كله دَ خوراک نه فارغ شئ نوپاسئ اوځئ او خپل مينځ كښې دَګپ شپ د خبرونه د خوند اغستلو د پاره مه كينئ بيشكه دغه كيناستل دَ نبي ته تكليف رسوى اوهغه تاسو ته دَ تللو دَپاره دَ وينا باره كښې ستاسو لحاظ كوى، اوالله تعالى دَ حق په بيان كښې دَچا لحاظ نه ساتى يعنى دَحق بيانول نه ترک کوى او په يوقراءت يَسْتَحْيِ په يو ياء سره هم دې، كله چه تاسو هغوى نه يعنى دَ نبى د بيبيانو نه څه څيز غوارئ نودَ پردې نه بهر غوارئ داستاسو اودَ هغوى دَ زړونو دَ شك منو خيالاتو نه پاكوالي دې اوستاسو دَپاره داخبره مناسب نه ده چه په څه طريقه هم دَالله تعالى رسول ﷺ ته تكليف اورسوئى او نه ستاسو دَپاره داحلال دى چه دَ رسول الله ﷺ نه پس كله هم دَهغوى ازواج سره نكاح اوكړئى بيشكه دَالله تعالى په نيزدا يوعظيم ګناه ده كه تاسو څه ښكاره كړئى اوكه پټ ئې كړئى دَ حضورپاك نه پس دَ هغوى دَ ازواج مطهراتو سره دَ نكاح په باره كښې، الله تعالى دَهرشئ نه ښه خبر دې هغه به تاسو ته په دې باندې ضرور بدله دركړى اوپه ازواج مطهرات باندې دَ خپلو پلارانو باره كښې هيڅ ګناه نشته اونه دَخپل ځامنو باره كښې اونه دَخپلو رونړو باره كښې اونه دَ خپلو وريرونو باره كښې اونه دَ خوريونو باره كښې اونه دَ خپلو ښځو يعنى مؤمناتو باره كښې اونه دَ خپل مملوک باره كښې كه هغه وينځه وى او كه غلام هيڅ حرج نشته دا چه هغوى ته اوګورى او بغيردَ پردې نه هغوى سره خبرې اوكړى اودَ كومې خبرې چه تاسو ته حكم دركړې شوې دې په هغې كښې دَالله تعالى نه ويريږئ بيشكه الله تعالى دَهرڅيزخيال ساتونكې دې دَهغه نه څه څيز پټ نه دې بيشكه الله تعالى اودَ هغه فرښتې په نبى محمد ﷺ باندې رحمت راليږى اې ايمان والو تاسو هم په رسول الله ﷺ باندې درود ليږئى او ښه سلام ورليږئى يعنى اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَسَلِّمْ وايئې بيشكه هغه خلق څوک چه الله تعالى اودَهغه رسول ته تكليف وركوى اوهغه كافران دى دَ الله تعالى دَپاره داسې صفات ثابتوى دَځه نه چه هغه پاك دې يعنى دَ اولاد نه اوشرك نه اودَهغه دَ رسول تكذيب كوى الله تعالى په هغوى باندې په دنيااو آخرت كښې لعنت كړې دې يعنى هغوى ئې دَ رحمت نه لرې كړى دى اودَهغوى دَپاره ئې دَ سپكاوى نه ډک عذاب تيارساتلې دې اوهغه اور دې څوک چه مؤمنانو اومؤمناتو ته بې وجې تكليف رسوى يعنى دهغوى دَځه كولو نه بغير پيغورونه كوى نوهغوى دَ بهتان يعنى دَ دروغو او د ښكاره ګناه بوج اوچتوى.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اِلَّآ اَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ دا دَ عموم احوال نه استثناء ده اى لاَتَدخلوها فى حال من الاحوال الاحال كونكم ماذونالكم.

قوله: الى طعام د دې تعلق د يُؤْذَنَ معنى لره متضمن كيدودَ وجې نه د يُؤْذَنَ سره دې، شارح رحمه الله دَ بالدعاء اضافه دَدې خودلودَپاره كړې ده چه يُؤْذَنَ دَ يُدْعون معنى لره متضمن دې گنى د يُؤْذَنُ صله الى نه راځى، دَ اكثرو مفسرينو وينا ده چه دا آيت دَ زينب بنت جحش رضي الله عنها د وليمې په باره كښې نازل شوې دې،

قوله: اِنٰهُ، اَنى دَ باَنِى مصدر دې په وزن دَ رَمى يَرْمِى پخيدل تياريدل. اَنِى بالفتح والكسر دا د اَنى يانى (ض) مصدردې معنى ئې دَ پخيدو او دَوخت دَ راتلوده، اِنى مصدر سماعى دې مصدر قياسى اَنْىٌ دې ليكن دا سماعى نه دى. (اعراب القرآن للدرويش)

قوله: فَانْتَشِرُوا دَ اِذَا طَعِمْتُمْ جواب دې.

قوله: وَلَامُسْتَاْنِسِيْنَ عطف دې په غيرنَاظرِينَ باندې او بعضې حضراتو وئيلى دى چه دا په حال مقدرباندې عطف دې اى لاتدخلوها هاجمين ولامُسْتَاْنِسِيْنَ زمخشرى وئيلى دى چه مُسْتَاْنِسِيْنَ په ناظرين باندې معطوف كيدودَوجې نه مجروردې.

قوله: لَايَسْتَحْى د دې تفسير ئې په لايترك سره كولو كښې اشاره اوكره چه يستحى په معنى د لايترك دې كوم چه لازم معنى ده څكه چه دَ حياء نسبت دَالله تعالى طرف ته صحيح نه دې.

قوله: ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ، د ذٰلِكُمْ مرجع بغيردَ اجازت نه نه داخليدل، او په خبرو كښې دلچسپى اخستلوسره كلك نه كيناستل، اودَ پردې نه بهر سامان غوښتل دى، يعنى دغه ذكرشوې خبرې دَ تهمت او شيطانى وسوسو دَ لرې كولودَپاره ډيرې فائده مندې او مؤثرې دى.

قوله: مَاكَانَ لَكُمْ اى ماصَحَّ لكم اَنْ تُؤْذُوا، اَنْ تُؤذوا دكَانَ اسم دې او لَكُمْ دَدې خبر او وَاَنْ تَنْكِحُوْا عطف دې دَ كَانَ په اسم باندې.

قوله: اَنْ يَرَوْهُنَّ وَيُكَلِّمُوْهُنَّ دَ اضافې مقصد دې خبرې طرف ته اشاره كول دى چه فِى اٰبَآئِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآئِهِنَّ الخ په حذف د مضاف سره دې، يعنى دې خلقوته كتل او دوى سره خبرې كولو كښې هيڅ گناه نشته دې.

قوله: وَاتَّقِيْنَ الله دَدې عطف په محذوف باندې دې اى اِمْتَثِلْنَ مَا اُمِرْتُنَّ به وَاتَّقِيْنَ الله.

قوله: صلوٰة دَدې ډيرې معنې دى رحمت، دعا، تعظيم اوثناء دا ټولې معانى په يو وخت مراد اخستل عموم مشترك يا ډيرى دَ بعضې حضراتو په نيزدا جائزنه دى دَدې دَپاره به دا وئيلى شى چه د لفظ صلوٰة په دې ځائې كښې هم يوه معنى مراد ده يعنى دَ نبى عليه

السلام تعظیم مدح اوثناء بیاچه کله دا معنی دَالله تعالی طرف ته منسوب وی نورحمت به مراد وی اوچه دَ فرښتوطرف ته منسوب وی نودعاء او استغفاربه مراد وی اوکه چرې دَ عام مؤمنانوطرف ته منسوب وی نو دعاء مدح اوتعظیم مجموعه به مراد وی. لفظ دَ سلام مصدردې په معنی دَ سلامت لکه ملام په معنی دَ ملامت مستعمليږی اودې نه مراددادې چه دَ نقصاناتو عیبونو او آفاتونو نه سلامتی دې تاسره وی دَ عربی ژبې په قاعدې سره دلته دَحرف علی موقع نه ده مګر چونکه لفظ سلام دَ ثناء معنې لره متضمن دې په دې وجه حرف علی سره علیكَ یا علیکم وئیلی شی.

[ایاتونه: ۵۹ - ۶۸]

{یاأیها النّبیّ قُل لِأَزْوَاجِك وَبَنَاتك وَنِسَاءِ الْمُؤمِنِینَ یُدْنِینَ عَلَیْهِنَّ مِن جَلَابِیبِهِنَّ} جَمع جِلْبَاب وَهِيَ الْمُلحفة الَّتِي تَشتَمِل بِهَا الْمَرْأَة أَيْ یُرْخِینَ بَعْضهَا عَلَى الْوُجُوه إِذَا خَرَجْنَ لِحَاجَتِهِنَّ إِلَّا عَیْنًا وَاحِدَة {ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ} أَقْرَب إِلَى {أَن یُعْرَفْنَ} بِأَنَّهُنَّ حَرَائِر {فَلَا یُؤْذَیْنَ} بِالتَّعَرُّضِ لَهُنَّ بِخِلَافِ الْإِمَاء فَلَا یُغَطِّینَ وُجُوههنَّ وَکَانَ الْمُنَافِقُونَ یَتَعَرَّضُونَ لَهُنَّ {وَکَانَ اللَّهُ غَفُورًا} لِمَا سَلَفَ مِنْهُنَّ مِنْ تَرْك السَّتْر {رَّحِیمًا} بِهِنَّ إِذْ سَتَرَهُنَّ {لَّئِن} لَام قَسَم {لَّمْ یَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ} عَنْ نِفَاقهم {والذین فی قلوبهم مرض} بالزنا {وَالْمُرْجِفُونَ فِی الْمَدِینَةِ} الْمُؤْمِنِینَ بِقَوْلِهِمْ قَدْ أَتَاکُمْ الْعَدُوّ وَسَرَایَاکُمْ قُتِلُوا أَوْ هُزِمُوا {لَنُغْرِیَنَّكَ بِهِمْ} لنسلطنك علیهم {ثُمَّ لَا یُجَاوِرُونَكَ} یساکنونك {فِیهَا إِلَّا قَلِیلًا} ثُمَّ یَخرُجُونَ {مَّلْعُونِینَ} مُبْعَدِینَ عَنْ الرَّحْمَة {أَیْنَمَا ثُقِفُوا} وُجِدُوا {أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِیلًا} أَيْ الْحُکْم فِیهِمْ هَذَا عَلَى جِهَة الْأَمْر بِهِ {سُنَّةَ اللَّهِ} أَيْ سَنَّ اللّه ذَلِكَ {فِی الَّذِینَ خَلَوْا مِن قَبْلُ} مِنْ الْأُمَم الْمَاضِیَة فِي مُنَافِقِیهِمْ الْمُرْجِفِینَ الْمُؤْمِنِینَ {وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِیلًا} مِنْهُ {یَسْأَلُكَ النَّاسُ} أَهْل مَکَّة {عَنِ السَّاعَةِ} مَتَى تکون {قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ اللَّهِ وَمَا یُدْرِیكَ} یُعْلِمك بِهَا أَيْ أَنْتَ لَا تَعْلَمهَا {لعل الساعة تکون} توجد {قریبا} {إِنَّ اللَّهَ لَعَنَ الْکَافِرِینَ} أَبْعَدَهُمْ {وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِیرًا} نَارًا شَدِیدَة یَدْخُلُونَهَا {خَالِدِینَ} مُقَدَّرًا خُلُودهمْ {فِیهَا أَبَدًا لَّا یَجِدُونَ وَلِیًّا} یَحْفَظهُمْ عَنْهَا {وَلَا نَصِیرًا} یَدْفَعهَا عَنْهُمْ {یَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِی النَّارِ یَقُولُونَ یَا} للتنبیه {لیتنا أطعنا الله وأطعنا الرسولا} {وَقَالُوا} أَيْ الْأَتْبَاع مِنْهُمْ {رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا} وَفِي قِرَاءَة سَادَاتنَا جَمْع الْجَمْع {وَکُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِیلَا} طَرِیق الْهُدَى {رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفَیْنِ مِنَ الْعَذَابِ} أَيْ مِثْلَيْ عَذَابنَا {والعنهم} عذبهم {لعنا کبیرا} عدده وفي قراءة بالموحدة اي عظیما.

ترجمه: اې نبی خپلو بیبیانواو خپلو لونړو ته او دَ (نورو) مسلمانانوښځوته اووایه چه دَ (سرنه) دې ښکته کړئی په خپل ځان باندې لړشان څادرونه (یعنی په مخ باندې دې راخواره کړئی) جَلَابِیْب، دَجِلْبَابْ جمع ده، مِلْحَفَةٌ هغه څادر ته وائی کوم چه ښځې اچوی کوم ته چه لوپټه وائی یعنی کله چه دَخپل حاجت دَپاره اوځئی نودَ څادر څه حصه په خپلو مخونوباندې زوړندوئی. بغیردَ یوې سترګې نه په دې طریقه به زر دَهغوی پیژندګلوکولې شی چه دا آزادې

ښځې دې نودوی نه به چیرې چارکولو باندې څه تکلیف نه شی رسولې په خلاف دَ وینځوچه
هغوی دې خپل مخونه نه پټوی اومنافقانوبه وینځو سره چیرچارې کولو ، دَ بې پردګئی
باره کښې د هغوی نه تراوسه پورې چه کومې کوتاهئی شوی دی الله تعالی هغې لره معاف
او په هغوی رحم کونکې دې چه هغوی ئې پټې (محفوظ کړې) کونکې دې ، قسم دې لئن کښې
لام قسمیه دې که چرې منافقان په د خپل نفاق نه اوهغه خلق دَ چا په زړونو کښې چه دَ زنا مرض
دې اوهغه خلق چه په مدینه یعنی په مؤمنانو کښې داسې ویناکولوسره خبرې خوروی چه په
تاسو باندې دښمن حمله اوکړهٔ اوستاسو لښکرقتل کړې شو یاماتې ئې اوخوړلو، منع نه
شو نه نو مونږ به تاسو په هغوی باندې ضرور مسلط کړو دَدې نه پس به هغوی ستاسو په ګاونډ
مدینه کښې سکونت اختیارنه کړې شی مګر دَ مختصرمودې پورې بیابه هغوی ویستلې شی
حال دادې چه هغوی به نه رټلې شوې شړلې شوې وی (یعنی) دَ رحمت نه به لرې کړې شوې وی
چرته چه ملاویږی راګیرولې به شی او وژلې تکولې به شی یعنی داحکم دَهغوی باره کښې دَ الله
تعالی دَ امر په رڼړاکښې دې الله تعالی په هغه خلقو کښې هم کوم چه پخوا تیرشوی دی یعنی الله
تعالی په پخوانو امتونو کښې هم افواګانې خورونکو منافقانو دَپاره هم دغه طریقه ساتلې وه او
تاسو به دَ الله تعالی په دستور کښې هیڅ قسم بدلون اونه وینئی، خلق یعنی دَ مکې والا تاسو نه دَ
قیامت باره کښې پوښتنه کوی چه کله به راځی؟ نوته ورته اووایه چه دَدې (صحیح) علم خو هم
الله تعالی ته دې اوتاسو ته څه معلوم دې؟ یعنی تاسو دَدې باره کښې نه پیژنئی امید دې چه
قیامت ډیر زر واقع شی بیشکه الله تعالی کافران دَ رحمت نه لرې ساتلی دی اودَهغوی دَپاره ئې
سخت تیر سور کړې شوې اور تیار ساتلې دې په کوم کښې چه به هغوی داخلیږی او هغوی به په
دې کښې دَهمیشه دَپاره اوسیږی یعنی دَهغوی دَ پاره خلود مقدرشوې دې هیڅوک دوست به نه
مومی چه دَهغوی دَ اور نه حفاظت اوکړې شی اونه به څوک امدادی چه دَ هغوی نه دغه اور
لرې کړې شی، په کومه ورځ چه به دَهغوی مخونه په اور کښې اولټه را اولټه کړې شی (نو په
ارمان سره) به وائی افسوس چه مونږ دَالله تعالی اودَهغه دَ رسول ﷺ اطاعت کولې یاء دَ تنبیه
دَپاره ده او په دوی کښې به متبعین او وائی اې زمونږ پروردګار مونږ دَخپلو سردارانو او په
یوقراءت کښې ساداتنا جمع الجمع دې اودَخپلو مشرانو اطاعت کړې دې هم هغوی مونږ دَ
هدایت دَلارې نه اوړولې یو اې زمونږ پروردګار دوی ته ډبل عذاب ورکړې یعنی زمونږ دَ
عذاب دوچند، او په دوی باندې په ډیر شمیر کښې په کسرت سره لعنت اوکړی او په
یوقراءت کښې په باءِ موحده سره دې یعنی (کبیرا دې) غټ لعنت.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: يُدْنِيْنَ د اِدْناء نه مضارع جمع مؤنث غائب، هغوی دې ښکته کړی، ماده دُنُوٌ ده په
يُدْنِيْنَ کښې دا احتمال هم دې چه دَ قول مقوله وی او خبر په معنی د امروی اوداهم

احتمال دي چه جواب امر وي لکه چه قل لعبادی الذين آمنوا يقيموا الصلوة.

قوله. لَا يُؤْذَيْنَ د ايذاءُ نه مضارع جمع مؤنث غائب منفي مجهول، دغه ښځو ته به تکليف نه ورکولي کيږي.

قوله: اَلْمُرْجِفُوْنَ دا د اِرْجَافٌ نه اسم فاعل دي د رَجْفَةٌ نه مشتق دي د دې معنی حرکت ورکول دی دَ دروغو خبر او افواه گانو ته هم رجفة وئيلي شي ځکه چه په افواه سره هم ګړبړ او بې چيني خوريږي.

قوله: مَلْعُوْنِيْنَ دَ فعل مقدردَ فاعل نه حال کيدودَ وجې نه منصوب دي اي يَخْرُجُوْنَ ملعونين شارح رحمه الله يخرجون محذوف منلوسره هم دې طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: وَمَا يُدْرِيْكَ مَا مبتدأ او يُدْرِيْكَ جمله خبر، استفهام انکاري دي، شارح رحمه الله انت لاتعلمها سره هم دې طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: يَوْمَ تُقَلَّبُ دا د يَقُوْلُوْنَ ظرف مقدم دې خَالِدِيْنَ او نَصِيْرًا هم ظرف کيدې شي. (جمل)

قوله: يقولون يَا لَيْتَنَا جمله مستانفه د سوال مقدر جواب دې کوم چه د کلام سابق نه پيدا کيږي په سابق کښې چه کله دَ دوزخيانو دَ خراب حالت ذکر اوکړې شو نو سوال پيداشو چه هغوی به څه کوی؟ نو اووئيلې شو چه په مافات باندې به دَ ارمان په توګه وائی يَالَيْتَنَا او دَ وُجُوْهُهُمْ ضمير يا نفس وجوه نه حال کيدې هم شي.

[اياتونه: ۶۹ ـ ۷۳]

(يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا) مَعَ نَبِيِّكُمْ (كَالَّذِيْنَ آذَوْا مُوْسٰى) بِقَوْلِهِمْ مَثَلًا مَا يَمْنَعُهُ أَنْ يَغْتَسِلَ مَعَنَا إِلَّا أَنَّهُ آدَرُ (فَبَرَّأَهُ اللّٰهُ مِمَّا قَالُوْا) بِأَنْ وَضَعَ ثَوْبَهُ عَلٰى حَجَرٍ لِيَغْتَسِلَ فَفَرَّ الْحَجَرُ بِهِ حَتّٰى وَقَفَ بَيْنَ مَلَأٍ مِنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ فَأَدْرَكَهُ مُوْسٰى فَأَخَذَ ثَوْبَهُ فَاسْتَتَرَ بِهِ فَرَأَوْهُ وَلَا أُدْرَةَ بِهِ وَهِيَ نَفْخَةٌ فِي الْخُصْيَةِ (وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا) ذَا جَاهٍ وَمِمَّا أُوْذِيَ بِهِ نَبِيُّنَا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَسَمَ قَسْمًا فَقَالَ رَجُلٌ هٰذِهِ قِسْمَةٌ مَا أُرِيْدَ بِهَا وَجْهُ اللّٰهِ تَعَالٰى فَغَضِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ذٰلِكَ وَقَالَ يَرْحَمُ اللّٰهُ مُوْسٰى لَقَدْ أُوْذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هٰذَا فَصَبَرَ رواه البخاري (يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا) صوابا (يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ) يَتَقَبَّلُهَا (وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا) نَالَ غَايَةَ مَطْلُوْبِهِ (إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ) الصَّلَوَاتِ وَغَيْرَهَا مِمَّا فِيْ فِعْلِهَا مِنَ الثَّوَابِ وَتَرْكِهَا مِنَ الْعِقَابِ (عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ) بِأَنْ خَلَقَ فِيْهِمَا فَهْمًا وَنُطْقًا (فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ) خِفْنَ (مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ) آدَمُ بَعْدَ عَرْضِهَا عَلَيْهِ (إِنَّهُ كَانَ ظَلُوْمًا) لِنَفْسِهِ بِمَا حَمَلَهُ (جَهُوْلًا) بِهِ (لِيُعَذِّبَ اللّٰهُ) اللام مُتَعَلِّقَةٌ بِعَرَضْنَا الْمُتَرَتِّبُ عَلَيْهِ حَمْلُ آدَمَ (الْمُنَافِقِيْنَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكَاتِ) الْمُضَيِّعِيْنَ الْأَمَانَةَ (وَيَتُوْبَ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ) الْمُؤَدِّيْنَ الْأَمَانَةَ (وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا) لِلْمُؤْمِنِيْنَ (رَحِيْمًا) بِهِمْ

ترجمه: اې ایمان والو! تاسو دَخپل نبی سره دَهغه خلقو په شان مه کیږئ چاچه موسیٰ ﷺ ته مثلاً داسې وینا کولو سره تکلیف ورکړو چه موسیٰ ﷺ لره زمونږ سره د (بربند) غسل کولونه سوا دَ دې نه هیڅ څیز منع کونکې نشته چه هغه عظیم الخصیتین دې نوکومه خبره چه هغوی کړې وه الله تعالی هغه دَهغې نه بری کړو په داسې طریقه چه (یوه ورځ) دَ غسل په ارادې (موسیٰ ﷺ) خپلې کپړې کوزې کړې او په یوکاڼړی باندې ئې کیخودې نوکاڼړی دَهغه کپړې واخستې اوتختیدو اودَ بنی اسرائیلو دَ سردارانو په مینځ ته لاړو اودریدو نوموسیٰ ﷺ کاڼړې هم هلته اونیولو اودَهغه نه ئې خپلې کپړې واخستې نوهغه خلقو موسیٰ ﷺ اولیدلو چه هغه ته د عظیم الخصیتین مرض نشته او اُدْرَة خصیتین کنبې هوا دکیدوته وائی او موسیٰ ﷺ دَ الله تعالی په نیز ډیر دَعزت مالک وو، یعنی دَ مرتبې خاوند وو اوپه کومو خبرو چه زمونږ نبی ﷺ ته تکلیف رسولې شوې دې دا دې چه حضورپاك (یوځل مال غنیمت) تقسیم کړو نو یوسړی اووئیل دا داسې تقسیم دې چه په دې سره دَالله تعالی خوشحالول مقصدنه دې نو نبی ﷺ ته په دې باندې تکلیف اورسیدو غصه شو او وئې فرمائیل الله تعالی دې په موسیٰ ﷺ باندې رحم اوکړی چه هغه ته دَدې نه هم زیات تکلیفونه رسولې شوی دی بیائی هم صبرکړې، دا روایت بخاری شریف نقل کړې دې اې ایمان والودَ الله تعالی نه اوېرېږئ او نیغه صحیح خبره کوئ الله تعالی به (دَدې په بدله کنبې) ستاسو دَاعمالو اصلاح اوکړی اوکوم کس چه دَ الله تعالی اودَ هغه دَ رسول اطاعت کوی هغه به لوئې کامیابئ ته اورسیږی یعنی غایت مقصودبه حاصل کړی مونږ دا امانت یعنی مونځ وغیره دَ کوم په کولوکنبې چه ثواب او په ترك کولوکنبې ئې عذاب دې په آسمانونو زمکو او غرونو باندې پیش کړو په داسې طریقه چه مونږ په هغې کنبې پوهه او د ځیرې کولو طاقت پیداکړو نوهغوی دَدې ذمه واری قبلولونه انکاراوکړو او دَدې نه اوویریدل اوانسان یعنی آدم ﷺ دا امانت په هغه باندې پیش کولو نه پس قبول کړو بیشکه انسان دَ امانت بوج اوچتولو دَ وجې نه په خپل ځان باندې ډیر ظلم کونکې اودَ امانت دَ بوج دَ اوچتولو دَا نجام نه ناخبره دې او دا (عرض امانت) ځکه اوشو چه الله تعالی منافقان سړو اومنافقانو ښځو اومشرکانو سړو او مشرکانو ښځو چه دَ امانت ضائع کونکی دی هغوی ته سزا ورکړی دَ لِيُعَذِّبَ الله لام د عَرَضْنَا سره متعلق دې په کوم چه آدم ﷺ (دَ امانت بوج) اوچتول مرتب دی او الله تعالی د (حق) دَ امانت اداکونکو دَ مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو توبه قبل کړی او الله تعالی غفور اورحیم دې په دوی باندې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: لاُدْرَةَ بِه، "اُدْرَةٌ" یو مرض دې په کوم کښې چه ګنده ماده یا ګنده هوا په خصیتین کښې راکوزیږی دَ کوم دَ وجې نه چه دَ خصیتین حجم ډیر زیات لوئیږی داسې سړی ته آدِرْ وائی په وزن دَ آدمْ.

قوله: مِمَّا قَالُوْا که مَا مصدریه وی نو تقدیری عبارت به داسې شی فَبَرَّأَهُ اللّٰهُ من قولهم او که چرې موصوله وی نو تقدیری عبارت به داسې شی فَبَرَّأَهُ اللّٰهُ ای مِنَ الَّذِی قَالُوْا.

قوله: بِه ای بالثوب.

قوله: مِمَّا په دې کښې مِن دَ مع په معنی کښې دې ای مَعَ مَا فِی فِعْلِهَا

قوله: مِنَ الثواب دا دَ مَا بیان دې.

قوله: ابین: دا د إبانة نه د ماضی، جمع مؤنث غائب صیغه ده.

سوال: اَبَیْنَ، یَحْمِلْنَ او اَشْفَقْنَ دا دریواړه دَ جمع مؤنث صیغې دی او دَدې مرجع سموات، ارض او جبال دې په دې کښې سموات او ارض مؤنث دی او جبال مذکر دې دَدې نه معلومیږی چه مؤنث ته غلبه ورکولو د وجې دَمؤنث ضمیرونه راوړلې شوی دی او غلبه خو مذکر ته ورکولې شی؟

جواب: چونکه سموات او جبال جمع تکسیر غیرِ عاقل ده لهذا دَدې دَپاره دَ مؤنث ضمیر راوړل جائز دی.

قوله: وَحَمَلَهَا الاِنْسَانُ دَدې معطوف علیه محذوف دې تقدیری عبارت دادې چه فَعَرَضْنَاهَا فَحَمَلَهَا الاِنْسَانُ شارح رحمه الله په خپل قول بَعدَعرضِهَاعلیه سره هم دې تقدیر طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: ظَلُوْمًا لِنفسه ای اِتْعَابَهُ اِیَّاهَا یعنی خپل ځان په مشقت کښې اچول. شارح رحمه الله خپل قول بِمَا حَمَلَهُ سره هم دې معنی طرف ته اشاره کړې ده او دا ظلم ممدوح دې او کومو حضراتو چه دَدې په بیانولو کښې توقف کړې دې هغوی دَ ظلم نه حقیقی ظلم ګڼړلې دې کوم چه د حد دَ شرع نه تجاوز دې.

قوله: بِه ای بعاقبته (انجام).

قوله: لِيُعَذِّبَ اللّٰهُ المُنٰفِقِيْنَ لام دَ عاقبت دې ای حَمَلَهَا الاِنْسَانُ لِيُعَذِّبَ اللّٰهُ بعض اَفرادِه الذين لم يُرَاعُوْهَا.

[۳٤] سورة سبا

سورة السبا مكية الا ويرى الذين اوتوا العلم الأية وهي اربع او خمس وخمسون آية

سورت سبا مکی دې سوا د "ویری الذین اوتوا العلم" آیت نه او دا دې څلور پنځوس یا پنځه پنځوس آیاتونه دی.

[ایاتونه: ۱ ـ ۹]

بسم الله الرحمن الرحيم ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ حَمِدَ اللهُ تَعَالَى نَفْسَه بِذَلِكَ وَالْمُرَادُ بِهِ الثَّنَاءُ بِمَضْمُونِهِ مِنْ ثُبُوتِ الْحَمْدِ وَهُوَ الْوَصْفُ بِالْجَمِيلِ لِلَّهِ تَعَالَى ﴿الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ مِلْكًا وَخَلْقًا ﴿وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْآخِرَةِ﴾ كَالدُّنْيَا يَحْمَدُهُ أَوْلِيَاؤُهُ إِذَا دَخَلُوا الْجَنَّةَ ﴿وَهُوَ الْحَكِيمُ﴾ فِي فِعْلِه ﴿الْخَبِيرُ﴾ فِي خَلْقِه ﴿يَعْلَمُ مَا يَلِجُ﴾ يَدْخُلُ ﴿فِي الْأَرْضِ﴾ كَمَاءٍ وغيره ﴿وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا﴾ كَنَبَاتٍ وَغَيْرِه ﴿وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ﴾ مِنْ رِزْقٍ وَغَيْرِه ﴿وَمَا يَعْرُجُ﴾ يَصْعَدُ ﴿فِيهَا﴾ مِنْ عَمَلٍ وَغَيْرِه ﴿وَهُوَ الرَّحِيمُ﴾ بِأَوْلِيَائِهِ ﴿الْغَفُورُ﴾ لَهُمْ ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ﴾ الْقِيَامَةُ ﴿قُلْ﴾ لَهُمْ ﴿بَلَى وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَالِمِ الْغَيْبِ﴾ بِالْجَرِّ صِفَةٌ وَالرَّفْعِ خَبَرُ مبتدا و في قراءة وَعَلَّامٍ بِالْجَرِّ ﴿لَا يَعْزُبُ﴾ يَغِيبُ ﴿عَنْهُ مِثْقَالُ﴾ وَزْنُ ﴿ذَرَّةٍ﴾ اصغر نملة ﴿فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَا أَصْغَرُ مِنْ ذَلِكَ وَلَا أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ﴾ بَيِّنٍ هُوَ اللَّوْحُ الْمَحْفُوظُ ﴿لِيَجْزِيَ﴾ فِيهَا ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾ حَسَنٌ فِي الْجَنَّةِ ﴿وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي﴾ إِبْطَالِ ﴿آيَاتِنَا﴾ الْقُرْآنِ ﴿مُعَاجِزِينَ﴾ وَفِي قِرَاءَةٍ هُنَا وَفِيمَا يَأْتِي مُعَجِّزِينَ أَيْ مُقَدِّرِينَ عَجْزَنَا أَوْ مُسَابِقِينَ لَنَا فَيَفُوتُونَا لِظَنِّهِمْ أَنْ لَا بَعْثَ وَلَا عِقَابَ ﴿أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِنْ رِجْزٍ﴾ سيء الْعَذَابِ ﴿أَلِيمٌ﴾ مُؤْلِمٌ بِالْجَرِّ وَالرَّفْعِ صِفَةٌ لِرِجْزٍ او عذاب ﴿وَيَرَى﴾ يَعْلَمُ ﴿الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ﴾ مُؤْمِنُو أَهْلِ الْكِتَابِ كَعَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ وَأَصْحَابِه ﴿الَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ﴾ أَيِ الْقُرْآنَ ﴿هُوَ﴾ فَصْلٌ ﴿الْحَقَّ وَيَهْدِي إِلَى صِرَاطِ﴾ طَرِيقِ ﴿الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾ اي الله ذِي الْعِزَّةِ الْمَحْمُودِ ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ أَيْ قَالَ بَعْضُهُمْ عَلَى جِهَةِ التَّعَجُّبِ لِبَعْضٍ ﴿هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَى رَجُلٍ﴾ هُوَ مُحَمَّدٌ ﴿يُنَبِّئُكُمْ﴾ يُخْبِرُكُمْ أَنَّكُمْ ﴿إِذَا مُزِّقْتُمْ﴾ قطعتم ﴿كُلَّ مُمَزَّقٍ﴾ بمعنى تمزيق ﴿إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ أَفْتَرَى﴾ بِفَتْحِ الْهَمْزَةِ لِلِاسْتِفْهَامِ وَاسْتُغْنِيَ بِهَا عَنْ همزة الوصل ﴿عَلَى اللَّهِ كَذِبًا﴾ في ذلك ﴿أَمْ بِهِ جِنَّةٌ﴾ جُنُونٌ تَخَيَّلَ بِهِ ذَلِكَ قال تعالى ﴿بَلِ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ﴾ الْمُشْتَمِلَةِ عَلَى البعث والعذاب ﴿فِي الْعَذَابِ﴾ فيها ﴿وَالضَّلَالِ الْبَعِيدِ﴾ عَنِ الْحَقِّ فِي الدُّنْيَا ﴿أَفَلَمْ يَرَوْا﴾ يَنْظُرُوا ﴿إِلَى مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ﴾ مَا فَوْقَهُمْ وَمَا تَحْتَهُمْ ﴿مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنْ نَشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا﴾ بِسُكُونِ السِّينِ وَفَتْحِهَا قطعا ﴿مِنَ السَّمَاءِ﴾ وَفِي قِرَاءَةٍ فِي الْأَفْعَالِ الثَّلَاثَةِ بِالْيَاءِ ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ﴾ الْمَرْئِيِّ ﴿لَآيَةً لِكُلِّ عَبْدٍ مُنِيبٍ﴾ رَاجِعٍ إِلَى رَبِّهِ تَدُلُّ عَلَى قُدْرَةِ اللهِ عَلَى الْبَعْثِ وَمَا يَشَاءُ

ترجمه: شروع کوم په نامه د الله چه ډیر بخښونکي او ډیر مهربان دي ټول تعریفونه د هغه الله تعالی دپاره ثابت دی دچا په ملکیت کښي چه هغه ټول هرڅه دی کوم چه په آسمانونوکښي او په

زمکو کښې دی، الله تبارك و تعالی (دَدې کلام) په ذریعه خپل تعریف فرمائیلې دې اودې کلام نه مراد، دَدې کلام دَمضمون په ذریعه چه هغه ثبوت د حمددې تعریف کول دی، او دَ حمد د الله تعالی دَ پاره دَ صفات کمالیه بیانول دی، دَ ملك په اعتبارسره اودَ تخلیق په اعتبارسره اودَ غلام کیدو په اعتبارسره او دَ دنیاپه شان په آخرت کښې هم دَ هغه حمددې، دَ هغه دوستان چه کله جنت ته داخل شی نودَهغه حمدبه بیانوی هغه په خپل فعل کښې دَ لویوحکمتونووالا دې اودَ خپل مخلوق نه باخبردې اوهغه دَ هرهغه شی نه خبرداردې کوم چه په زمکه کښې داخلیږی لکه اوبه وغیره اودَهغه شی نه (هم) کوم چه دَ زمکې نه راوځی مثلاً وابنه وغیره اودَهغې نه (هم) کوم چه دَآسمان نه نازلیږی لکه رزق وغیره اودَهغې نه هم کوم چه دَآسمان طرف ته خیژی (مثلاً) اعمال وغیره هغه په خپلو دوستانو باندې رحم کونکې دې (او) هغوی لره معاف کونکې دې اوکافران وائی چه په مونږ به قیامت نه راځی ته هغوی ته اووایه قسم دې زما دَ رب چه عالم الغیب دې چه هغه به یقیناً په تاسو باندې راځی دَ (عالم) دَ جر په صورت کښې دَ رَبِّی صفت دې اودَ رفع په صورت کښې دَ مبتدأ خبردې او په یوقراءت کښې علاّم په جرسره دې اودَهغه نه دَ یوې ذرې برابر څه څیزپټ نه دې نه په آسمانونو کښې اونه په زمکه کښې، ذره دَتولو نه وړوکی میږی ته وائی بلکه دَدې نه هم وړوکې او نه لوئی څیز مګرپه ښکاره کتاب کښې موجود دې اوهغه لوح محفوظ دې دې دَپاره چه دَ قیامت په ورځ ایمان والوته اونیکانو ته ښه بدله ورکړی، هم دغه خلق دی دَ چا دَ پاره چه مغفرت او په جنت کښې دَ عزت روزی ده اوکومو خلقو چه زمونږ آیاتونه قرآن باطل کولوسره د (رسول) دَ ښکته کولو کوشش کړې دې او په یوقراءت کښې دلته او روستو مُعَاجِزِیْنَ یعنی مونږ عاجز فرض کولوسره یا مونږ مغلوب ګڼړلوسره، چه زمونږ نه به بچ اوشی دَهغوی دا ګمان کولو دَ وجې نه چه نه بعث شته اونه عقاب، دَ داسې خلقو دَپاره بدترین عذاب دې. اَلِیْمٌ په معنی د مؤلم په جر او په رفع سره د رجز یا د عذابٌ صفت دې اوکومو خلقو ته چه علم ورکړې شوې دې (یعنی) دَ اهل کتاب نه (په حضورپاك ﷺ باندې) ایمان راوړونکی لکه عبدالله بن سلام رضي الله عنه اودَ هغه ملګری په هغه قرآن چه په تاسو باندې ستاسو دَ رب دَ طرف نه نازل کړې شوې پوهیږی چه دا حق دې (هو) د تَرَی دَ دوؤ مفعولونو په مینځ کښې فصل دې اوهغه دَعزت والا مستحق دَ تعریف دَالله تعالی دَلارې طرف ته رهنمائی کوی اودا کافران وائی یعنی په خپل مینځ کښې په تعجب سره وائی آیا مونږ تاسو ته یوداسې سړې اونه ښایو؟ هغه محمد ﷺ دې چه تاسو ته دَدې خبرې خبردرکوی چه کله تاسو په پوره ټوټه باندې ذره ذره شئ (ممزق) په معنی د تمزیق دې نوییابه تاسو دَنوی سرنه راپیدا کولې شی نه ده معلومه چه دې سړی په الله تعالی باندې بهتان لګولې دې؟ (اَفْتَرَی) دَهمزه په فتحې سره، دَ استفهام دَپاره دې دَ همزې دَ استفهام دَ وجې نه همزه دَ وصل نه

مستغني شو يا دې ليوني دې؟ دَ کوم دَ وجې نه چه دې داسې خيالي خبرې کوي، الله تعالى اوفرمائيل بلکه (حقيقت دا دې) چه کوم خلق په آخرت باندې يقين نه ساتي کوم چه په بعث اوحساب باندې مشتمل دې هغوى په آخرت کښې په عذاب کښې او په دنيا کښې دَحق نه دَ لرېوالي په گمراهئ کښې دی آيا دا خلق دَخپل وړاندې روستو پورته ښکته آسمان او زمکې ته نه گوري؟ که چرې مونږ غواړو نو دوی به په زمکه کښې ورخښ کړو يا به دوی باندې دَ آسمان ټکړې راوغورزوو (کِسَفًا) کښې دَ سين په سکون او فتحې سره او په يو قراءت کښې دريواړو افعالو کښې په "ی" سره دې يقينًا دغه نظر راتلونکې څيز کښې دَ رجوع کونکي بنده دَپاره دليل دې يعنى دَخپل رب طرف ته رجوع کونکې بنده دپاره (داسې) دليل چه دَ الله تعالى دَ بعث او په هره اراده باندې دَ قادر کيدو دلالت کوي.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا، دَ يَعْرُجُ صله "الى" راځي نه چه "فِي" مګر چونکه يَعْرُجُ دِاِسْتِقْرَارْ معنې لره متضمن دې دَدې وجې نه دَدې تعديه دَ "فى" په ذريعه صحيح ده.

قوله: قُلْ لَهُمْ بَلٰى، بَلٰى نفى لره د ردکولو او منفى لره د ثابتولو دَپاره راځي، مشرکينو وئيلي وو لَاتَأْتِيْنَا السَّاعَةُ دَهغوى دا قول رد کوي او فرمائي بَلٰى ولې نه؟ ضرور راتلونکې دې اى ليس الامر الا اتيانها.

قوله: وَرَبِّيْ لَتَأْتِيَنَّكُمْ کښې واؤ قسميه جاره دې او دا اثبات دَنفى دَ تاکيد دَپاره دې لام جواب قسم دَپاره دې، تَأْتِيَنَّكُمْ فعل مضارع مبنى برفتحه بانون تاكيد ثقيلة دې دا دريم تاکيد دې او کُمْ مفعول به دې.

قوله: عَالِمِ الْغَيْبِ دَ جر په صورت کښې دَ رب صفت يا بدل دې عَالِمُ دَ مبتدأ محذوف خبر کيدو دَ وجې نه مرفوع هم کيدې شي، اى هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ، عَالِمُ الْغَيْبِ مبتدأ لَايَعْزُبُ دَدې خبر يَعْزُبُ دَ جمهورو په قراءت کښې دَ زاء په ضمې سره دې اودَ کسائى رحمه الله په نيز دَ زاء په کسرې سره دې (ن، ض) عُزُوْبًا پټيدل، لرې کيدل.

قوله: لَا أَصْغَرُ مبتدأ مِنْ ذٰلِكَ دَدې خبر، دا دَجملې لَايَعْزُبُ دَتاکيد دَپاره دې.

قوله: لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا دَ لَتَأْتِيَنَّكُمْ علت دې يعنى قيامت به خامخا راځي دې دَپاره چه الله تعالى تاسو ته بدله درکړي.

قوله: أُولٰٓئِكَ مبتدأ لَهُمْ خبر مقدم ومَغْفِرَةٌ مبتدأ مؤخر جمله اسميه د أُولٰٓئِكَ مبتدأ خبر، او رِزْقٌ كَرِيْمٌ موصوف صفت په مَغْفِرَةٌ باندې عطف دې.

قوله: وَالَّذِيْنَ سَعَوْ موصول صله أُولٰٓئِكَ اودَدې مابعد خبر دويم ترکيب داهم کيدې شي چه

وَالَّذِيْنَ سَعَوْ عطف ماقبل الَّذِيْنَ آمنوا باندې او شي اى وَيَجْزِي الَّذِيْنَ سَعَوْا په دې صورت كښې به روستو والا اولئك جمله مستانفه شي او دَ ماقبل والا لوليك او دَ هغې د ماتحت معطوفتينو په مينځ كښې جمله به معترضه وى.

قوله: فيما يأتي اى في آخر السورة.

قوله: مقدّرين عَجْزَنَا أَوْ مُسَابِقِيْنَ لَنَا په دې كښې لف اونشر مرتب دې، مقدرين د رومبى قراءت تشريح ده او مسابقين لنا د دويم قراءت تشريح ده او مقدرين مطلب دې معتقدين.

قوله: مُعَاجِزِيْنَ نه مراد مُسَابِقِيْنَ دې مَسَابقة باندې مَعَاجزة اطلاق ځكه اوكړې شو چه مسابقت كونكى په خپل مينځ كښې دَيو بل عاجزكولو كوشش كوى مګر دلته باب مفاعله په خپله معنى كښې نه دې ځكه چه د الله تعالى عاجزكول متصورنه دى، لهذا دا عاجزكول دَهغوى دَ خپل فاسد ګمان په اعتبارسره دى نه چه په حقيقت كښې.

قوله: وَيَرَى الَّذِيْنَ دا "يا" خو په يَجْزِيَ باندې دَ عطف دَ وجې نه منصوب دې يا دَ جملې مستانفې كيدو دَ وجې نه مرفوع دې، يَرَى يَعْلَمُ په معنى كښې دې او اَلَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ دَ يَرَى فاعل دې او اَلَّذِيْنَ أُنْزِلَ اِلَيْكَ مفعول اول دې او الحق مفعول ثانى او هُوَ دَ دوو مفعولو په مينځ كښې ضمير فصل دې او دَ يَهْدِي عطف په الحَقَّ باندې دې، اى يَرَوْنَهُ حَقًّا وَهَادِيًا.

سوال: په دې صورت كښې دَ فعل په اسم باندې عطف لازميږى كوم چه صحيح نه دې؟

جواب: فعل چه كله دَ اسم په تاويل كښې وى نو عطف صحيح وى دلته يَهْدِي، دَ هَادِيًا په معنى كښې دې تقديرى عبارت دا دې وَيَرَى الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِي أُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْحَقَّ وَهَادِيًا، دَ يَرَى په يَجْزِيَ باندې دَ عطف په صورت كښې دا اعتراض راځى چه د يَرَى الَّذِيْنَ أُوْتُوا العلمَ نه مراد دَهغوى دَ پاره په دنيا كښې علم ثابتول دى او يَجْزِيَ باندې دَ عطف تقاضه داده چه علم دې په آخرت كښې ثابت وى كوم چه مرادنه دې نو د دې نه معلوميږى چه استيناف والا تركيب صحيح دې.

قوله: بمعنى تَعْجِيْزِيْ په دې سره ئې اشاره اوكړه چه اسم مفعول دَ مصدر په معنى كښې دې.

قوله: في الافعال الثلث بالياء اى نشا، نخسف، نُسْقِطْ.

[اياتونه: ۱۰ - ۱٤]

(وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُدَ مِنَّا فَضْلًا) نُبُوَّةً وَكِتَابًا وَقُلْنَا (يَا جِبَالُ أَوِّبِي) رَجِّعِي (مَعَهُ) بِالتَّسْبِيحِ (وَالطَّيْرَ) بِالنَّصْبِ عَطْفًا عَلَى مَحَلِّ الْجِبَالِ أَيْ وَدعوناها تُسَبِّحُ مَعَهُ (وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ) فَكَانَ فِي يَدِهِ كَالْعَجِينِ وَقُلْنَا (أَنِ اعْمَلْ) مِنْهُ (سَابِغَاتٍ) دُرُوعًا كَوَامِلَ يَجُرُّهَا لَابِسُهَا عَلَى الْأَرْضِ (وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ) أَيْ نَسْجِ الدُّرُوعِ قِيلَ لِصَانِعِهَا سَرَّادٌ أَيِ اجْعَلْهُ بِحَيْثُ تَتَنَاسَبُ حِلَقُهُ (وَاعْمَلُوا) أَيْ آلَ دَاوُدَ مَعَهُ (صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ)

فاجازيكم به (و) سخرنا (لِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ) وَقِرَاءَةُ الرَّفْعِ بِتَقْدِيرِ تَسْخِيرِ (غُدُوُّهَا) مَسِيرُهَا مِنَ الْغُدْوَةِ بِمَعْنَى الصَّبَاحِ إِلَى الزَّوَالِ (شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا) سَيْرُهَا مِنَ الزَّوَالِ إِلَى الْغُرُوبِ (شَهْرٌ) أَيْ مَسِيرَتُه (وَأَسَلْنَا) اذبنا (لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ) اَيِ النُّحَاسِ فَأُجْرِيَتْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ بِلَيَالِيهِنَّ كَجَرْيِ الْمَاءِ وَعَمَلُ النَّاسِ إِلَى الْيَوْمِ مِمَّا أُعْطِيَ سُلَيْمَانُ (وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ) بِأَمْرِ (رَبِّهِ وَمَنْ يَزِغْ) يَعْدِلْ (مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا) لَهُ بِطَاعَتِهِ (نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ السَّعِيرِ) النَّارِ فِي الْآخِرَةِ وَقِيلَ فِي الدنيا ان يَضْرِبَهُ مَلَكٌ بِسَوْطٍ مِنْهَا ضَرْبَةً تُحْرِقُهُ (يَعْمَلُونَ لَهُ مَا يَشَاءُ مِنْ مَحَارِيبَ) أَبْنِيَةٍ مُرْتَفِعَةٍ يُصْعَدُ إِلَيْهَا بِدَرَجٍ (وَتَمَاثِيلَ) جَمْعُ تِمْثَالٍ وَهُوَ كُلُّ شَيْءٍ مَثَّلْتَه بِشَيْءٍ أَيْ صُوَرٍ مِنْ نُحَاسٍ وَزُجَاجٍ وَرُخَامٍ وَلَمْ يَكُنِ اتِّخَاذُ الصُّوَرِ حَرَامًا فِي شَرِيعَتِه (وَجِفَانٍ) جَمْعُ جَفْنَةٍ (كَالْجَوَابِ) جَمْعُ جَابِيَةٍ وَهُوَ حَوْضٌ كَبِيرٌ يَجْتَمِعُ عَلَى الْجَفْنَةِ أَلْفُ رَجُلٍ يَأْكُلُونَ مِنْهَا (وَقُدُورٍ رَاسِيَاتٍ) ثَابِتَاتٍ لَهَا قَوَائِمُ لَا تَتَحَرَّكُ عَنْ أَمَاكِنِهَا تتخذ من الجبال باليمن يُصْعَدُ إِلَيْهَا بِالسَّلَالِمِ وَقُلْنَا (اعْمَلُوا) يَا (آلَ دَاوُدَ) بِطَاعَةِ اللهِ (شُكْرًا) لَهُ عَلَى مَا آتَاكُمْ (وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ) الْعَامِلُ بِطَاعَتِي شكرا لنعمتي (فلما قضينا عليه) على سليمان (الموت) أَيْ مَاتَ وَمَكَثَ قَائِمًا عَلَى عَصَاهُ حَوْلًا مَيِّتًا وَالْجِنُّ تَعْمَلُ تِلْكَ الْأَعْمَالَ الشَّاقَّةَ عَلَى عَادَتِهَا لَا تَشْعُرُ بِمَوْتِهِ حَتَّى أَكَلَتِ الْأَرَضَةُ عَصَاهُ فَخَرَّ مَيِّتًا (مَا دَلَّهُمْ عَلَى مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ) مَصْدَرُ أُرِضَتِ الْخَشَبَةُ بِالْبِنَاءِ لِلْمَفْعُولِ أَكَلَتْهَا الْأَرَضَةُ (تَأْكُلُ مِنْسَأَتَه) بِالْهَمْزِ وَتَرْكِهِ بِأَلِفٍ عَصَاهُ لِأَنَّهَا يُنْسَأُ يُطْرَدُ وَيُزْجَرُ بِهَا (فلما خر) ميتا (تبينت الجن) انكشفت لَهُمْ (أَنْ) مُخَفَّفَةٌ أَيْ أَنَّهُمْ (لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ) وَمِنْهُ مَا غَابَ عَنْهُمْ مِنْ مَوْتِ سُلَيْمَانَ (مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ) الْعَمَلِ الشَّاقِّ لَهُمْ لِظَنِّهِمْ حَيَاتَه خِلَافَ ظَنِّهِمْ عِلْمَ الْغَيْبِ وَعُلِمَ كَوْنُه سَنَةً بِحِسَابِ مَا أَكَلَتْهُ الْأَرَضَةُ مِنَ الْعَصَا بَعْدَ مَوْتِه يَوْمًا وليلة مثلا.

ترجمه: او مونږ حضرت داؤد علیه السلام ته دخپل طرف نه لوئی فضیلت ورکړو يعنی نبوت او کتاب او مونږ اووئیل اې غرونو او اې مرغو تاسو د داؤد علیه السلام سره تسبیح وایئې، طیر منصوب دې د جبال په محل باندې عطف کیدو د وجې نه، او مونږ هغوی ته داؤد علیه السلام سره د تسبیح لوستلو حکم ورکړو، او مونږ د هغه د پاره اوسپنه نرمه کړه. چنانچه د حضرت داؤد علیه السلام په لاس کښې اوسپنه د اغزلې شوې اورو په شان شوه او مونږ حکم ورکړو چه د اوسپنې نه اوږدې (مکمل) زغرې جوړې کړه چه اچونکې ئې په زمکه کښې راکاږی او په جوړولو کښې د یوشان والی خیال ساته زغرې جوړونکی ته سراد وائی يعنی داسې زغرې جوړوه چه د هغې حلقې (کړئې) برابروی، اې آل داؤد تاسو د داؤد علیه السلام په معیت کښې نیک کارکوئی زه ستاسو د ټولو اعمالو ته گورم لهذا زه به تاسو ته د دې بدله درکړم او مونږ هوا د حضرت سلیمان علیه السلام د پاره مسخر کړه او په يو قراءت کښې ريح رفع سره دې د تسخر په تقدیر سره چه د هغې د سحر نه تر زوال پورې سفر د یوې میاشتې فاصله وه غدوٌ الغداة نه ماخوذ دې په معنی د سحر او (د غه شان) د هغې ماښام (یعنی) د زوال نه د نمر دوبیدو پورې سفر د یوې میاشتې فاصله

وه او مونږ دَحضرت سليمان عليه السلام دَپاره دَ تانبې چينه ويلې کړې جارې کړه نر دريو ورځو شپوپورې لکه دَاوبو جارې وه، حضرت سليمان عليه السلام ته چه کوم (دَمعجزې په توګه) عطاکړې شوې وو ترننه پورې خلق هغه استعمالوي. پيريانوکښې څه داسې وو چه دَ الله تعالى په حکم سره ئې دَحضرت سليمان عليه السلام لاندې کار کولو اوکوم چه په هغوی کښې (سليمان عليه السلام) دَ اطاعت نه زمونږ دَ حکم نه مخ واړه وی مونږ به هغوی ته په آخرت کښې دَ اور عذاب ورڅکوو او وئيلې شوی دی چه هم په دنياکښې (ورڅکوو) په داسې توګه چه فرښته به هغوی دَاور په کوړه سره يو ګذار وهی هغه اور به هغوی اوسوزوی سليمان عليه السلام چه څه غوښتل (پيريانو) به دَهغه دَپاره هم هغه جوړول مثلاً محاريب يعنی لوئی لوئی اوچت عمارتونه کوم ته چه دَ پاؤړو په ذريعه اوختلې شی او مجسمې تماثيل دَتمثال جمع ده تمثال هرهغه څيز ته وائی کوم چه ته دَ يو په شان جوړکړې يعنی دَ تانبې اوسپنې يا سنګ مرمر شکلونه به ئې جوړول اودَ شکلونو بتانو جوړول دَهغوی په شريعت کښې حرام نه وو او دَحوض په شان لګن (به ئې جوړول) جِفَانٌ دَ جَفْنَةٌ جمع ده (په معنی د لګن لوئی پيالې) او جَوَابٌ دَ جَابِيَةٌ جمع ده لوئی حوض ته وئيلې شی. دَ جَفْنَةٌ نه په يو وخت زر کسان خوراك کولې شی او په يوځائې باندې کلک پراته ديګونه به ئې (جوړول) دَ کوم چه به ښپې وې چه دَخپل ځائې نه به خوزيدې نه شو، دا به په يمن کښې دَغرونونه جوړولې شو کوم ته چه به په پاؤړو باندې ختلې شو، مونږ اووئيل اې آل داؤد دَالله تعالى په اطاعت کښې څه چه هغه تاسو ته درکړی دی دَهغې په شکريه کښې (نيك) عمل کوئی زما په بنديګانوکښې شکر کونکی بنديګان کم وی يعنی زما دَ نعمت په عملی توګه باندې شکر کونکی (کم وی) بيا چه کله مونږ په سليمان عليه السلام باندې دَ مرګ حکم راوليږلو يعنی وفات شو او په خپله همساباندې تر يوکال پورې په حالت دَ مرې ولاړ وو او پيريان دَخپل عادت مطابق په خپل کارکښې لګيا وو (هغوی ته) دَحضرت سليمان عليه السلام دَمرګ احساس هم اونه شوو تردې چه کله وينه دَهغه همسا اوخوړله نودَمره کيدودَ وجې نه راپريوتلو، نودَهغه دَ مرګ خبر هغوی ته هيچا ورنه کړو سوا دَ وينه نه اَلاَرْضِ. اَرِضَتِ الخَشَبَةُ نه مصدر مبنی للمفول دې (يعنی) هغه وينه اوخوړله کوم چه دَهغه همسا خوړله مِنْسَاةٌ به همزه سره دې او بغير د همزې الف سره هم دې (مِنْسَاته) اى عصَاهُ ځکه چه په دې سره شړل او لرې کول او درکه کوله. کيږی نو کله چه سليمان عليه السلام مړ شو پريوتلو نو بياڅرته پيريانوته دَهغوی دَ (مرګ) پته اولګيده که چرې جنات په غيبوباندې پوهيدلې نو دَ دغه ذلت په مشقت کښې به نه وو راګير اودَهغوی دَ علم غيب دَدعوی نفی دَدې نه هم کيږی چه دَهغوی نه دَ حضرت سليمان عليه السلام مرګ پټ پاتې شو يعنی حضرت سليمان عليه السلام ژوندې ګنړلوسره دَخپل علم غيب د

دعوې باوجود دَمشقت په کارکښې اخته وو اودَ سخت کار دَ دیو کال د مودې علم دَهغسا دَهغه مقدار په حساب سره اوشو کوم مقدار چه وینه دَ سلیمان عليه السلام دَ مرګ نه پس مثلاً په یوه شپه ورځ کښې خورلې وه.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: أَوِّبِيْ دا تَأْوِيْبٌ نه دَامر واحد مؤنث حاضر صیغه ده په معنی د تَرجِيْعٌ بار بار کول، تکرار کول، أَوِّبِيْ اصل کښې اوِّبِيْنَ وو دَ امردَوجې نه نون حذف شو وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُدَمِنَّا فَضْلاً واؤ استینافیه دې او لام قسم د محذوف په جواب باندې داخل دې، تقدیر دادې وعزتنا وجلالنا لقد داتینا منا، مِنَّا، آتَيْنَا سره متعلق دې یا دَ محذوف متعلق او حال دې تقدیری عبارت دادې، کائنا مِنَّا فَضْلاً، کَائِنًا مِنَّا اصل کښې د فَضْلاً صفت دې دَمقدم کیدو دَ وجې نه حال شو فَضْلاً مفعول ثاني دې او داؤد مفعول اول دې.

قوله: وَقُلْنَا يَا جِبَالُ، يَا جِبَالُ دقُلْنَا فعل محذوف مقوله ده او دَدې عطف په آتَيْنَا باندې دې د وَالطَّيْرَ عطف په محل د جبال باندې کیدودَوجې نه منصوب دې ځکه چه منادی مفرد محلاً منصوب وی یا مفعول معه کیدودَوجې نه منصوب دې د وَالطَّيْرُ لفظ په جبال باندې د عطف دَ وجې نه مرفوع هم لوستلې شوې دې.

قوله: دُرُوْعًا، دُرُوْعًا مقدرمنلوسره شارح رحمه الله اشاره اوکړه چه سَابِغَاتٍ صفت دې او دُرُوْعًا دَدې موصوف محذوف دې.

قوله: سَرْدٌ زغرې ته وائی سَرَّادٌ زغرې جوړونکی ته وائی.

قوله: لِسُلَيْمَانَ مفسرعلام سَخَّرْنَا محذوف منلوسره اشاره اوکړه چه دَ جارمجرور متعلق سَخَّرْنَا دې او رِيْحٌ مفعول به کیدو دَ وجې نه منصوب دې اودَ رفع په صورت کښې ریح مبتدأ مؤخر په حذف د مضاف سره او لِسُلَيْمَانَ خبرمقدم، تقدیر د عبارت دادې وَتَسْخِيْرُالرِّيْحِ كَائِنٌ لِسُلَيْمَانَ مضاف حذف کولوسره مضاف الیه دَ هغې قائم مقام کړو.

قوله: وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ، مِنَ الْجِنِّ د فعل مقدر متعلق دې، تقدیرعبارت دادې وَسَخَّرْنَالَهٗ مِنَ الْجِنِّ او مَنْ يَّعْمَلُ به دَ فعل مقدر مفعول به وی اوداهم جائزدی چه من الجن خبرمقدم وی او مَنْ يَّعْمَلُ مبتدأ مؤخر.

قوله: قُدُوْرٍ، دَ قِدْرٌ جمع ده په معنی د کټوئی راسیاتٌ ای ثابتات.

قوله: اِعْمَلُوْا جمله مستانفه ده آلَ داؤدَ منادی ده او حرف ندامحذوف ده او شُكْرًا مفعول له دې.

قوله: قَلِيْلٌ خبرمقدم دې اومن عبادی دَدې صفت دې او الشکور مبتدأ مؤخرده.

قوله: الارضة وينه، ګونړې، (جمع) ارض.

قوله: مِنسَأَةً په وزن دَ مفعلة په يوقرامت كښې د الف سره دي، همسا، دَ شړلو آله.

قوله: دَابَّةُ الارضِ وينه، ګونړې.

[ایاتوله: ۱۵ ـ ۲۱]

﴿لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ﴾ بالصرف وعدمه قبيلة سميت باسم جد لهم من العرب ﴿فِي مَسْكَنِهِمْ﴾ باليمن ﴿آيَةٌ﴾ دالة على قدرة الله تعالى ﴿جَنَّتَانِ﴾ بدل ﴿عَنْ يَمِينٍ وَشِمَالٍ﴾ عن يمين واديهم وشماله وقيل لهم ﴿كُلُوا مِنْ رِزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوا لَهُ﴾ على ما رزقكم من النعمة في أرض سبا ﴿بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ﴾ ليس فيها سباخ ولا بعوضة ولا ذبابة ولا برغوث ولا عقرب ولا حية ويمر الغريب فيها وفي ثيابه قمل فيموت لطيب هوائها ﴿وَ﴾ الله ﴿رَبٌّ غَفُورٌ﴾ ﴿فَأَعْرَضُوا﴾ عن شكره وكفروا ﴿فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ﴾ جمع عرمة وهو ما يمسك الماء من بناء وغيره إلى وقت حاجته أي سيل واديهم الممسوك بما ذكر فأغرق جنتيهم وأموالهم ﴿وَبَدَّلْنَاهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ﴾ تثنية ذوات مفرد على الأصل ﴿أُكُلٍ خَمْطٍ﴾ مر بشع بإضافة أكل بمعنى مأكول وتركها ويعطف عليه ﴿وَأَثْلٍ وَشَيْءٍ مِنْ سِدْرٍ قَلِيلٍ﴾ ﴿ذَلِكَ﴾ التبديل ﴿جَزَيْنَاهُمْ بِمَا كَفَرُوا﴾ بكفرهم ﴿وَهَلْ نُجَازِي إِلَّا الْكَفُورَ﴾ بالياء والنون مع كسر الزاي ونصب الكفور أي ما يناقش إلا هو ﴿وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ﴾ بين سبا وهم باليمن ﴿وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا﴾ بالماء والشجر وهي قرى الشام التي يسيرون إليها للتجارة ﴿قُرًى ظَاهِرَةً﴾ متواصلة من اليمن إلى الشام ﴿وَقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ﴾ بحيث يقيلون في واحدة ويبيتون في أخرى إلى انتهاء سفرهم ولا يحتاجون فيه إلى حمل زاد وماء أي وقلنا ﴿سِيرُوا فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا آمِنِينَ﴾ لا تخافون في ليل ولا في نهار ﴿فَقَالُوا رَبَّنَا بَاعِدْ﴾ وفي قراءة بعد ﴿بَيْنَ أَسْفَارِنَا﴾ إلى الشام اجعلها مفاوز ليتطاولوا على الفقراء بركوب الرواحل وحمل الزاد والماء فبطروا النعمة ﴿وَظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ﴾ بالكفر ﴿فَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ﴾ لمن بعدهم في ذلك ﴿وَمَزَّقْنَاهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ﴾ فرقناهم في البلاد كل التفريق ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ﴾ المذكور ﴿لَآيَاتٍ﴾ عبرا ﴿لِكُلِّ صَبَّارٍ﴾ عن المعاصي ﴿شَكُورٍ﴾ على النعم ﴿وَلَقَدْ صَدَّقَ﴾ بالتخفيف والتشديد ﴿عَلَيْهِمْ﴾ أي الكفار منهم سبا ﴿إِبْلِيسُ ظَنَّهُ﴾ أنهم بإغوائه يتبعونه ﴿فَاتَّبَعُوهُ﴾ فصدق بالتخفيف في ظنه أو صدق بالتشديد ظنه أي وجده صادقا ﴿إِلَّا﴾ بمعنى لكن ﴿فَرِيقًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ للبيان أي هم المؤمنون لم يتبعوه ﴿وَمَا كَانَ لَهُ عَلَيْهِمْ مِنْ سُلْطَانٍ﴾ تسليط منا ﴿إِلَّا لِنَعْلَمَ﴾ علم ظهور ﴿مَنْ يُؤْمِنُ بِالْآخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِي شَكٍّ﴾ فنجازي كلا منهما ﴿وَرَبُّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ﴾ رقيب

ترجمه: په تحقيق سره دَ قوم سبادَپاره (سبا) منصرف او غير منصرف (دواړه دي) سبادَ يو قبيلې نوم دي دَهغوى عربى مشر نيكه په نوم باندې كيخودې شوې دې. په يمن كښې دَهغوى په كلو كښې دَ الله تعالى دَقدرت نخښه وه دَهغوى ښى اوګس طرف ته دوه ارخيز باغونه وو يعنى دَهغوى دَ وادئ ښى او ګس طرف ته جنتان دآية نه بدل دې هغوى ته اوونيلې شو چه

دَخپل رب درکړې شوې رزق خورئی او په ملك سباکښې تاسو ته د درکړې شوی نعمتونو شکراداکرئی دانبکلې ښاردې یعنی په دې کښې نه زمکه خاوریژنه ده، نه مچان، نه ماشی، نه کتمل، نه لړمانان، اونه ماران شته، او(که څوک) په دې ښار به څوك داسې مسافر تیریدو چه دَهغه په کپړوکښې به سپږې وې نو هغه به دَ دغه ښار دَ پاکې هوادَ وجې نه مړې شوې او الله بخښونکې رب دې لیکن هغوی دَدې دَ شکر نه ډډه اوکړه او ناشکری ئې اوکړه نو مونږ په هغوی باندې دَ بند اوبه راولیږلې عَرِمٌ دَ عَرِمَةٌ جمع ده عَرِمَةٌ هغه عمارت وغیره ته وائی دَ کوم په ذریعه چه دَ ضرورت په وخت اوبه ذخیره کولې شی، یعنی دَهغوی دَ وادئ رابندې کړې شوې اوبه مو په هغوی باندې راپریخودې نو هغه اوبو دَ هغوی دوه اړخیزباغونه اودَهغوی مالونه غرق کړل او مونږ دَهغوی دَ دوه اړخیزو باغونو په عوض داسې دوه باغونه ورکړل دکومو میوې چه بې خونده تروې او بې کاره وې، ذواتَیْ دذَوَات دَمفر دتثنیه ده په اصل کښې دَ أُكُلٍ په اضافت سره (اكل) په معنی دَماکول دې، او بغیر دَ اضافت او اُكُلٍ باندې اثْلٍ عطف دې او په کثرت سره جهاړیدارې ونې او څه څنګلی بیرې مونږ هغوی ته دا سزا دَهغوی دَناشکرئی دَ وجې نه یعنی دَهغوی دَکفردَ وجې نه ورکړه او مونږ هم داسې سزا ناشکره خلقو ته ورکوو (يُجَازِى) کښې یاء او نون دواړه دی اودَ زاء په کسرې اودَ کَفُور په نصب سره یعنی هم دکافرانو مناقشه په (سختئی سره محاسبه) کولې شی او مونږ دَهغوی یعنی دَملك سبا په مینځ کښې حال دا چه هغوی هم په یمن کښې اوسیدل اودَ هغه کلو په مینځ کښې په کوم کښې چه مونږ داویو او ونو په ذریعه برکت ورکړې دې اوهغه دَ شام دَملك کلی دی دکوم طرف ته چه به هغوی دَ تجارت دَپاره تلل ډیرکلی آباد کړې وو چه دَیمن نه ترشام پورې نیزدې نیزدې (فاصله) باندې وو اومونږ دَ دغه کلو په مینځ کښې دَ سفریو خاص مسافت کیخودې وو په داسې طریقه چه هغوی به په یو کلی کښې قیلوله کوله په دویم کښې به ئې شپه تیروله اودَهغوی دَ سفرپوره کیدو پورې به هم دغه صورت وو، او په سفرکښې به دَ لارې خرچه او اوبه ځان سره دَ اوړلو ضرورت نه پیښیدلو اومونږ اووئیل په کلوکښې دَ شپې اودَ ورځې په امن او امان سره سفرکوئې چنانچه دَهغوی نه دَ شپې څه ویره وه او نه دَ ورځې مگر هغوی اووئیل اې زمونږ پروردګاردَ شام دَ ملك پورې زمونږ دَ سفرونو په مینځ کښې لرېوالې راوله او په یو قراءت کښې بَاعِد دې یعنی دا کلی ارت هوار میدانونه کړه دې دَپاره چه هغوی دَ فقیرانو په مقابله کښې په سورلو سواره شی او ځان سره دلارې خرچه او توشه او اوبو ساتلو باندې فخراوکړی نو هغوی دَالله تعالی په نعمت باندې تکبراوکړو او دکفرپه ذریعه هغوی په خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړو، نو مونږ هغوی دَ روستو راتلونکو دَ پاره دَ ظلم په سبب سره افسانې اوقصې جوړکړل اومونږ هغوی

په پوره توګه سره ګډوډ کړل يعنې مونږ هغوی په مختلفو ښارونو کښې پوره خواره واره کړل، بيشکه په دغه مذکوره قصه کښې دګناه نه منع کيدونکو دپاره او په نعمتونو باندې هر يو شکرکونکی دپاره عبرت دی او واقعي د دغه خلقو يعنې کافرانو په باره کښې او په هغوی کښې اهل سباهم دی ابليس خپل ګمان صحيح اومنډلو چه هغوی دهغه په لمسون باندې دهغه اتباع اوکړه صدّق کښې تخفيف اوتشديد دواړه دی چه داخلق دهغه تابع شو، صَدَق په تخفيف سره دهغه ګمان رښتيا شو اوصدّق په تشديد سره هغه خپل ګمان رښتيا ثابت کړو سوادَ مؤمنانودَ جماعت الا په معنی د لکن دی اومؤمنين د فريقا بيان دی يعنې هغه ډله چه دَ شيطان اتباع ئې اونه کړه هغه مؤمنان دی دَ شيطان په هغوی باندې هيڅ قابو نه وه بلکه زمونږ دَ طرف نه په هغوی باندې مسلط کول صرف دَدې وجې نه اوشو چه مونږ هغه خلق څوک چه په آخرت باندې ايمان راوړی دَهغه خلقو نه جدا کړو چه دَ په آخرت باره کښې په شک کښې اخته دی، نو دَ دغه (دواړو نه) به مونږ هر يوته بدله ورکړو او ستا رب د هرشی ساتونکې دی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: أُكُلٍ ميوه خَمْطٍ د پيلو ونه (دمسواک ونه)، هر تريو ياتريخ څيز.

قوله: بَشِعٍ بې خونده، تريوبې کاره.

قوله: أَثْلٍ جهارپيداره (ګوره خيلې والا) ونه (ددې جمع ده) أثلاث،آثال،أثول.

قوله: ذَوَاتَيْ تثنيه ذوات مفرد على الاصل ذوات دَ ذو مؤنث دې دا په اصل کښې ذَوَيَةٌ وو په دې کښې ة دَ تانيث علامت دې ياء متحرك ماقبل مفتوح دَ وجې نه الف شو ذواتٌ تری جوړ شو، بيا واؤ تخفيفًا حذف کړې شو، ذاتٌ شو، اوس دَ واحدمؤنث دوه شکلونه شو يودَ واؤدَحذف نه وړاندې، هغه ذواتٌ، او دويم دَحذف واؤ نه پس اوهغه ذاتٌ دې. مفسرعلام چه دا وئيلی دی چه ذوَاتَيْ په اصل کښې دَ ذوات تثنيه ده دَدې مطلب دا دې چه حذف دَ واؤنه وړاندې حالت تثنيه ده که چرې حذف دَ واؤ نه دَ پس حالت تثنيه وې نو ذاتَيْ به وې.

قوله: بَشِعٍ په وزن د کيفٍ بې خونده، تريو، أُكُلٍ خمطٍ دا اضافت د موصوف الى الصفت دَ قبيلې نه دې اوترك د اضافت سره هم لوستلې شوې دې اى أُكُلٍ خمطٍ په دې صورت کښې به أكُلِ موصوف او خمطٍ صفت وی.

قوله: يُعْطَفُ عليه اى على أُكُلٍ أُكُلٍ په قاف باندې جزم او ضمه دواړه قراءت سبعه دی.

قوله: ذلك جزَيْنٰهُمْ ذٰلِكَ. دَجزَيْنَا مفعول ثانی دې کوم چه مقدم دې اول مفعول هُمْ دې اى جَزَيْنٰهُمْ ذٰلِكَ التبديل.

قوله: بكفرهم اى بسبب كفرهم.

قوله: وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ دا عطف د قصه على القصه دَقبيلې نه دې يعنى اول د اعطاء جنتين ذكراوكړې شو اوبيا دَمذكوره بدلون ذكراوكړې شو.

قوله: سِيرُوا فِيهَا اى فى هذه المسافة دا امر په معنى د خبر دې يعنى هغوى به په امن سره سفركولو لَيَالِيَ او أَيَّامًا حال دى.

قوله: إلا په معنى دلكن په دې كښې اشاره ده چه دا مستثنى منقطع ده څكه چه مؤمنان دَ كافرانو دَ جنس نه نه دى.

[اياتونه: ۲۲ - ۳۰]

{قُلْ} يَا مُحَمَّد لِكُفَّارِ مَكَّةَ {ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ} أَيْ زَعَمْتُمُوهُمْ آلِهَةً {مِنْ دُونِ اللَّهِ} أَيْ غَيْره لِيَنْفَعُوكُمْ بِزَعْمِكُمْ قَالَ تَعَالَى فِيهِمْ {لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ} وَزْن {ذَرَّةٍ} مِنْ خَيْر او شر {فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ} شَرِكَة {وَمَا لَهُ} تَعَالَى {مِنْهُمْ} مِنَ الآلِهَة {مِنْ ظَهِيرٍ} مُعِين {ولا تنفع الشفاعة عنده} تعالى ردا لقولهم إنَّ آلِهَتهمْ تَشْفَع عِنْده {إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ} بفتح الهمزة وضمها {لـه} فيها {حَتَّى إِذَا فُزِّعَ} بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ وَالْمَفْعُول {عَنْ قُلُوبِهِمْ} كُشِفَ عَنْهَا الْفَزَع بِالْإِذْنِ فِيهَا {قَالُوا} قَالَ بَعْضهمْ لِبَعْضٍ اسْتِبْشَارًا {مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ} فِيهَا {قَالُوا} الْقَوْل {الْحَقَّ} أَيْ قَدْ أَذِنَ فِيهَا {وَهُوَ الْعَلِيُّ} فَوْق خَلْقه بِالْقَهْرِ {الْكَبِيرُ} العظيم {قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاوَاتِ} الْمَطَر {وَالْأَرْضِ} النَّبَات {قُلِ اللَّهُ} إنْ لَمْ يَقُولُوهُ لَا جَوَاب غَيْره {وَإِنَّا أَوْ إِيَّاكُمْ} أَيْ أَحَد الْفَرِيقَيْنِ {لَعَلَى هُدًى أَوْ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ} بَيِّن فِي الْإِبْهَام تَلَطُّف بِهِمْ دَاعٍ إلَى الْإِيمَان إذَا وُفِّقُوا لَهُ {قُلْ لَا تُسْأَلُونَ عَمَّا أَجْرَمْنَا} أَذْنَبْنَا {وَلَا نُسْأَلُ عَمَّا تَعْمَلُونَ} لِأَنَّا بَرِيئُونَ مِنْكُمْ {قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا} يَوْم الْقِيَامَة {ثُمَّ يَفْتَحُ} يَحْكُم {بَيْنَنَا بِالْحَقِّ} فَيُدْخِل الْمُحِقِّينَ الْجَنَّة وَالْمُبْطِلِينَ النَّار {وَهُوَ الْفَتَّاحُ} الْحَاكِم {الْعَلِيمُ} بِمَا يحكم به {قل أروني} اعلموني {الذي أَلْحَقْتُمْ بِهِ شُرَكَاءَ} فِي الْعِبَادَة {كَلَّا} رَدْع لَهُمْ عَنْ اعْتِقَاد شَرِيك لَهُ {بَلْ هُوَ اللَّهُ الْعَزِيزُ} الْغَالِب عَلَى أَمْره {الْحَكِيمُ} فِي تَدْبِيره لِخَلْقِهِ فَلَا يَكُون لَهُ شَرِيك فِي مُلكه {وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً} حَال مِنَ النَّاس قُدِّمَ لِلِاهْتِمَامِ {لِلنَّاسِ بَشِيرًا} مُبَشِّرًا لِلْمُؤْمِنِينَ بِالْجَنَّةِ {وَنَذِيرًا} مُنْذِرًا لِلْكَافِرِينَ بِالْعَذَابِ {وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ} أَيْ كُفَّار مَكَّة {لَا يَعْلَمُونَ} ذَلِكَ {وَيَقُولُونَ مَتَى هَذَا الْوَعْدُ} بِالْعَذَابِ {إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} فيه {قُلْ لَكُمْ مِيعَادُ يَوْمٍ لَا تَسْتَأْخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً وَلَا تَسْتَقْدِمُونَ} عَلَيْهِ وَهُوَ يَوْم الْقِيَامَة.

ترجمه: اي محمد (ﷺ) دَمكې كافرانو ته اووايه چه دكوموخيزونوباره كښې چه ستاسودَ الله تعالى نه سوا (دَ خدائي) گمان دې يعنى څوك چه تاسو دَالله تعالى نه علاوه معبود گنړئ هغوى ته آواز اوكړئې دې دَپاره چه هغوى ستاسو دَ گمان مطابق تاسو ته نفع دراورسوى، الله تعالى دَهغوى باره كښې اوفرمائيل هغوى يوه ذره برابر دَخيراوشر اختيار نه لرى، نه په

آسمانونو کښې اونه په زمکه کښې اونه ده‌غه دواړو (په پیدا کولو) کښې د هغوی شرکت دې اونه دَ الله تعالی دَ دغه معبودانو نه څوک مددګار دې اودَ الله تعالی په وړاندې دَ چا سفارش په کارنه راځي دائي دَ هغوی دَ دې قول دَ رد دَپاره اوفرمائیل چه دَ هغوی معبودان به دَ هغه په وړاندې دَ هغوی سفارش کوی سوا د هغه چا نه دَ چادَپاره چه اجازت اوشی دَ همزې په فتحې او په ضمې سره ترڅو چه کله دَ هغوی دَ زړونونه ویره لرې کولې شی دَ معروف اومجهول په صیغې سره، یعنی کله چه اجازت ورکړې شی اودَ هغوی دَ زړونو نه ویره لرې کړې شی نو په خپل مینځ کښې به دَ بشارت دَ طلب په توګه پوښتنه اوکړی چه ستاسو پروردګار دَ سفارش باره کښې څه اوفرمائیل؟ جواب به ورکړی چه حق خبره ئې اوفرمائیله یعنی دَ شفاعت اجازت ئې ورکړو هغه دَ لوئی شان والا یعنی په خپل مخلوق دَ قهر په ذریعه غالب دې دَ ټولونه لوئی دې. تاسو پوښتنه اوکړئی چه تاسو ته دَ آسمانونو نه اوبه راورولو سره اودَ زمکې نه بوټی راټولولو سره رزق څوک دررسوی؟ که چرې هغوی جواب درنه کړی نو ته (پخپله) جواب ورکړه چه الله تعالی (روزی ورکوی) (څکه چه) دَ دې نه علاوه بل څه جواب هغو شته نه (واؤرئی) مونږ یا تاسو یعنی دَ دواړو فریقونه یو یا خویقیناً په هدایت باندې دی یا په ښکاره ګمراهئی کښې دی، مبهم ساتلو کښې هغوی سره نرمی ده چه دَ ایمان طرف ته داعی (سبب) دې کله چه هغوی ته دَ ایمان توفیق ورکړې شی تاسو ورته اووایئی زمونږ دَ کړې شوې جرم ګناه په بابت به تاسو نه هیڅ سوال نه شی کولې او نه به زمونږ نه ستاسو د عمل باره کښې تپوس کولې شی څکه چه مونږ تاسو نه بری یو، تاسو دوی ته اووائې چه مونږ ټول به زمونږ رب دَ قیامت په ورځ راجمع کوی بیا به زمونږ په مینځ کښې په حق سره فیصله کوی حق پرست به جنت ته او باطل پرست به دوزخ ته داخل کړی هغه ډیر لوئی فیصله کونکې دې او کومه فیصله چه کوی هغه ښه پېژندونکې دې (تاسو) ورته اووایئی ښه ده ماته هم لږ اوښایئې چه څوک چه تاسو دَ الله تعالی سره په عبادت کښې شریک ګرځوئی د هغه سره یوځای کړی دی دی داسې هیڅ کله نه ده، دا کافرانو ته دَ هغوی د شرك په عقیدې توبیخ (زورنه) ده بلکه هم هغه دې الله تعالی په خپل امر باندې غالب اودَ خپل مخلوق په تدبیر کښې حکمت والا دې لهذا په دې ملك کښې دَ هغه څوك شریك کیدې نه شی مونږ لره ټولو خلقو ته یعنی مؤمنانو ته دَ جنت زیرې اورونکې اوکافرانو لره دَ عذاب نه ویرونکې جوړ کړې لیږلې یئی کافة دللناس نه حال دې دَ دې دَ اهتمام په وجه مقدم کړې شوې دې مګر اکثر خلق یعنی دَ مکې کافران دَ دې علم نه لری او پوښتنه کوی چه دادَ عذاب وعده کله ده؟ که چرې تاسو په دې (وعده) کښې رښتونی ئې نو (اوښایئی) تاسو جواب ورکړئ چه ستاسو دَپاره دَ وعدې ورځ مقرره ده دَ هغې نه تاسو نه یو ساعت شاته کیدې شئی او نه وړاندې کیدې شئی او هم هغه دَ قیامت ورځ ده.

....

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اَلَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اى زَعَمْتُمُوْهُمْ اٰلِهَةً دَ دې عبارت په اضافي سره دَ شارح ﷫ مقصد دا خودل دى چه دزَعَمْتُمْ دواړه مفعول لـه دَ موصول باصـلـه دَ اوړېـدود وجې نه محذوف دى اول مفعول حذف کړې شو او دويم مفعول يعنى اٰلِهَةً ئې د صفت يعنى مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قائم مقام کيدو دَ وجې نه حذف کړو مفعول اول هُمْ او مفعول ثانى اٰلِهَةً دې.

قوله: لِيَنْفَعُوْكُمْ: د اُدْعُوْا متعلق دې اى اُدْعُوْا لِيَكْشِفُوْا عَنْكُمُ الضُّرَّ.

قوله: وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ ما نافيه ده او لَهُمْ خبر مقدم دې مِن زائده دې شرك مبتدأ مؤخر لفظًا مجرور او محلاً مرفوع دې.

قوله: فُزِّعَ مبنى للمفعول يعنى دَ هغوى دَ زړه ويره لرې کړې شوه، تضعيف دَ سلب دَ پاره دې لکه وئيلى شى قَرَّدْتُ الْبَعِيْرَ اى اَزَلْتُ قُرَادَهٗ ما دَ اوبن کونې لرې کړو.

قوله: مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ فِيْهَا اى فِى الشفاعَةِ.

قوله: القول الحق په دې کښې اشاره دې طرف ته ده چه الحقَّ د مصدرِ محذوف صفت دې.

قوله: قل الله، اللّٰهُ مبتدأ يَرْزُقُنَا دَ دې خبر محذوف.

قوله: اَرُوْنِىْ، اَعْلِمُوْنِى په دې کښې دې خبرې طرف تـه اشاره ده چه دَ رؤيت نـه مراد رؤيت قلبيه دې او متعدى بدو مفعول دې. کله چه دَ دې په شروع کښې همزه راورلې شوه نو متعدى په دريو مفعولو شو اول مفعول ارونى کښې ي ده دويم اسم موصول او دريم شُرَكَاء دَ صلې ضميرِ عائد محذوف دې اى اَلْحَقْتُمُوْهُمْ.

قوله: كَافَّةً اى جَمِيْعًا دَ اَرْسَلْنٰكَ د كاف نه حال دې اى اَرْسَلْنٰكَ جَامِعًا لِلنَّاسِ فِى الانذار والابلاغ د مبالغې دَ پاره ده لکه چه علامة کښې ة دَ مبالغه دَ پاره ده او كافة دللنّاس نـه حال مقدم هم کيدې شى اى للناس كافةً دا دَ هغه چا په نيزدى چه پـه جار مجرور باندې تقديم د حال جائز گڼړى دارنګ دَ مصدرِ محذوف صفت هم کيدې شى. اى اِرْسَالَةً كَافَّةً لِلنَّاسِ.

قوله: بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا دا دواړه دَ ارسلناكَ د كاف نه حال دى.

قوله: قل لَكُمْ مِيْعَادُ يَوْمٍ کښې لَكُمْ خبر مقدم دې او مِيْعَادُ يَوْمٍ مبتدأ مؤخر.

[ايا تونه: ۳۱ _ ۳۶]

(وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا) مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ (لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَلَا بِالَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ) أَيْ تَقَدَّمَهُ كَالتَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ الدَّالَّيْنِ عَلَى الْبَعْثِ لِإِنْكَارِهِمْ لَهُ قَالَ تَعَالٰى فِيْهِمْ (وَلَوْ تَرٰى) يَا مُحَمَّدُ (إِذِ الظّٰلِمُوْنَ) الْكَافِرُوْنَ (مَوْقُوْفُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضِ الْقَوْلَ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا) الْأَتْبَاعُ (لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا) الرُّؤَسَاءُ (لَوْلَا

اَنْتُمْ صَدَدْتُمُوْنَا عَنِ الْإِيْمَانِ ﴿لَكُنَّا مُؤْمِنِيْنَ﴾ بِالنَّبِيِّ ﴿قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا أَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ عَنِ الْهُدٰى بَعْدَ إِذْ جَآءَكُمْ﴾ لَا ﴿بَلْ كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ﴾ فِيْ اَنْفُسِكُمْ ﴿وَقَالَ الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ مَكْرُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ﴾ اَيْ مَكْرٌ فِيْهِمَا مِنْكُمْ بِنَا ﴿إِذْ تَأْمُرُوْنَنَآ أَنْ نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ وَنَجْعَلَ لَهٗٓ أَنْدَادًا﴾ شُرَكَاءَ ﴿وَأَسَرُّوْا﴾ اَيِ الْفَرِيْقَانِ ﴿النَّدَامَةَ﴾ عَلٰى تَرْكِ الْإِيْمَانِ بِهٖ ﴿لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ﴾ اَيْ اَخْفَاهَا كُلٌّ عَنْ رَفِيْقِهٖ مَخَافَةَ التَّعْيِيْرِ ﴿وَجَعَلْنَا الْأَغْلٰلَ فِيْٓ أَعْنَاقِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ فِي النَّارِ ﴿هَلْ﴾ مَا ﴿يُجْزَوْنَ إِلَّا﴾ جَزَاءَ ﴿مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ فِي الدُّنْيَا ﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ﴾ رُؤَسَاؤُهَا الْمُتَنَعِّمُوْنَ ﴿إِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ﴾ ﴿وَقَالُوْا نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَّأَوْلَادًا﴾ مِمَّنْ آمَنَ ﴿وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ﴾ ﴿قُلْ إِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ الرِّزْقَ﴾ يُوَسِّعُهٗ ﴿لِمَنْ يَّشَآءُ﴾ اِمْتِحَانًا ﴿وَيَقْدِرُ﴾ يُضَيِّقُهٗ لِمَنْ يَشَاءُ اِبْتِلَاءً ﴿وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ﴾ اَيْ كُفَّارَ مَكَّةَ ﴿لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ ذٰلِكَ

ترجمه: اود مکې کافران وائي چه مونږ به هيڅ کله دا قرآن او نه منو او نه هغه کتابونه کوم چه د دې نه وړاندې دی لکه تورات او انجيل چه د مرګ نه پس په ژوندی کيدو باندې دلالت کوي، ددوی د بعث بعد الموت نه د منکر کيدو وجې نه، الله تعالى د دوی باره کښې او فرمائيل او اې محمد ﷺ که چرې تاسو دا ظالمان کافران هغه وخت او ګورئ کله چه دوی د خپل رب په وړاندې او دريږی او (خپل مينځ) کښې به په يو بل باندې الزام لګوی د کمزورې درجې خلق يعنی متبعين به غټو خلقو ته يعنی سردارانو ته وائي که چرې تاسو مونږ لره د ايمان نه بند کړې نه وې نو مونږ به نبی منونکې وې دا غټان خلق به کمزورو خلقو ته جواب ورکړی چه آيا تاسو ته د هدايت راتلو نه پس مونږ تاسو د هغې نه منع کړې وئ؟ نه، بلکه تاسو خو پخپله قصوروار وئ (د دې په جواب کښې به) کمزوری خلق متکبرانو خلقو ته او وائي بلکه مونږ سره ستاسو د شپې ورځې تدبيرونو منع کړې وو کوم وخت چه تاسو وئيل چه د الله تعالى نه انکار او کړئ او هغه سره شريک او ګرځوئ دواړه فريقه چه کله عذاب او ګوری نو د ايمان په ترک کولو باندې به خپيمانتيا پټوی يعنی هر فريق به د خپل مخالف فريق نه د شرم د ويرې خپيمانتيا پټوی او په جهنم کښې به مونږ د کافرانو په غاړه کښې طوق واچوو هغوی ته به صرف په دنيا کښې د کړې شوې عملونو بدله ورکولې شی او مونږ خو چه په کوم کلی کښې کوم يو هم خبر ورکونکې (رسول ليږلې دې د هغه ځائې خوشحال خلقو يعنی خوشحاله سردارانو هم دغه وئيلی دی چه کوم څيز درکولو سره چه تاسو راليږلې شوی يئې مونږ د هغې نه منکرين يوو، او وئ وئيل چه مونږ په مال، اولاد کښې د ايمان والو نه ډير يو، داسې نه شی کيدې چه مونږ ته عذاب راکړې شی، تاسو ورته او وايئ زما رب چا لره چه او غواړی د ازميښت په توګه ورله رزق فراخه کوی او د امتحان په توګه د چا د پاره چه غواړی رزق تنګوی ليکن اکثر خلق يعنی د مکې کافران دا خبره نه پيژنی.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: وَلَوْ تَرٰى، د لَوْ جواب او د تَرٰى مفعول محذوف دې تقديری عبارت دا دې وَلَوْ تَرٰى

حَالَ الظّٰلِمُوْنَ وَقْتَ وُقُوْفِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ لَرَاَيْتَ اَمْرًا فَظِيْعًا حال مفعول دي او لَرَاَيْتَ الخ جواب لو دي.

قوله: إِذِ الظّٰلِمُوْنَ دَ ترى ظرف دي.

قوله: يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ دا دَ موقوفون دَ ضميرنه حال دي.

قوله: يَقُوْلُ الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا، دَ يَرْجِعُ تفسير دي.

قوله: لَوْلَا مبتدأ ده، دَ دي خبر محذوف دي، شارح رحمه الله دَ خپل قول صَدَدْتُمُوْنَا سره دَ خبر محذوف طرف ته اشاره اوکړه، او لَكُنَّا مُؤْمِنِيْنَ، دَ لَوْلَا جواب دي.

قوله: اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ نه پس شارح رحمه الله لَا مقدر منلو سره اشاره اوکړه چه اَنَحْنُ کښې همزه د استفهام انکاری دَ پاره ده.

قوله: بَلْ مَكْرُ الَّيْلِ، مكرٌ د فعل محذوف فاعل دي تقديری عبارت دا دي بَلْ صَدَّنَا مَكْرُكُمْ بِنَا فِي اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، مكركُمْ کښې كُمْ مضاف اليه حذف کړې شو او الساعاء ظرف دَ مضاف اليه په ځائې کړو.

قوله: إِذْ تَأْمُرُوْنَنَا، دا دَ مكرٌ ظرف دي اى مكركم وقت امركم لنا.

قوله: اَسَرُّوا جمله حاليه يا مستانفه ده.

قوله: اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَا دا دَ قرية نه حال دي قرية اګرچه نکره ده مګر په سياق د نفی کښې واقع ده دَ دې وجې نه د ذوالحال دَ جوړيدو ګنجائش پيدا شو.

قوله: مُتْرَفُوْهَا په اصل کښې مُتْرَفُوْنَ بِهَا نون د اضافت دَ وجې نه پريوتلو دا د اِتْرَاف نه اسم مفعول جمع مذکر دي، مالدار، خوشحال خلق.

قوله: بِمَا اُرْسِلْتُمْ بِهٖ، د كٰفِرُوْنَ سره متعلق دي اهتمام او رعايت دَ فواصل دَ وجې نه مقدم کړو، تقديری عبارت دا دي اى كٰفِرُوْنَ بِمَا اُرْسِلْتُمْ بِهٖ.

[اياتونه: ۳۷ـ ٤٥]

(وَمَا اَمْوَالُكُمْ وَلَا اَوْلَادُكُمْ بِالَّتِيْ تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰى) قُرْبٰى اي تَقْرِيْبًا (اِلَّا) لٰكِنْ (مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوْا) اَيْ جَزَاء الْعَمَلِ الْحَسَنَةِ مَثَلًا بِعَشْرٍ فَاَكْثَر (وَهُمْ فِي الْغُرُفٰتِ) مِنَ الْجَنَّةِ (آمنون) من الموت وغيره وفي قراءة الغرفة وهي بمعنى الجمع (والذين يسعون في آياتنا) القرآن بالإبطال (معجزين) لنا مقدرين عجزنا وانهم يفوتونا (أولئك في العذاب محضرون) (قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ الرِّزْقَ) يُوَسِّعُهُ (لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ) امْتِحَانًا (وَيَقْدِرُ) يُضَيِّقُهُ (لَهٗ) بَعْدَ الْبَسْطِ اَوْ لِمَنْ يَّشَاءُ ابْتِلَاءً (وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ) فِي الْخَيْرِ (فَهُوَ يُخْلِفُهٗ وَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ) يُقَالُ كُلُّ اِنْسَانٍ يَرْزُقُ عَائِلَتَهُ اي من رزق الله (و) اذكر (يَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا) اَيِ الْمُشْرِكِيْنَ (ثُمَّ نَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اَهٰٓؤُلَآءِ اِيَّاكُمْ) بِتَحْقِيْقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَاِبْدَالِ الْاُوْلٰى ياء واسقاطها (كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ) (قَالُوْا سُبْحٰنَكَ) تَنْزِيْهًا لَكَ عَنِ الشَّرِيْكِ (اَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُوْنِهِمْ) اَيْ لَا مُوَالَاةَ

بيننا وبينهم من جهتنا ﴿بَلْ﴾ للانتقال ﴿كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ﴾ الشياطين اي يطيعونهم في عبادتهم ايانا ﴿أَكْثَرُهُم بِهِم مُّؤْمِنُونَ﴾ مصدقون فيما يقولون لهم قال تعالى ﴿فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ﴾ اي بعض المعبودين لبعض العابدين ﴿نَّفْعًا﴾ شفاعة ﴿وَلَا ضَرًّا﴾ تعذيبا ﴿ونقول للذين ظلموا﴾ كفروا ﴿ذوقوا عذاب النار التي كنتم بها تكذبون﴾ ﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا﴾ القرآن ﴿بَيِّنَاتٍ﴾ واضحات بلسان نبينا محمد صلى الله عليه وسلم ﴿قَالُوا مَا هَٰذَا إِلَّا رَجُلٌ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُكُمْ﴾ من الاصنام ﴿وَقَالُوا مَا هَٰذَا﴾ اي القرآن ﴿إِلَّا إِفْكٌ﴾ كذب ﴿مُّفْتَرًى﴾ على الله ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلْحَقِّ﴾ القرآن ﴿لَمَّا جَاءَهُمْ إِنْ﴾ ما ﴿هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ﴾ بين قال تعالى ﴿وَمَا آتَيْنَاهُم مِّن كُتُبٍ يَدْرُسُونَهَا ۖ وَمَا أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِن نَّذِيرٍ﴾ فمن اين كذبوك ﴿وَكَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَمَا بَلَغُوا﴾ اي هؤلاء ﴿مِعْشَارَ مَا آتَيْنَاهُمْ﴾ من القوة وطول العمر وكثرة المال ﴿فَكَذَّبُوا رُسُلِي﴾ اليهم ﴿فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ﴾ انكاري عليهم بالعقوبة والاهلاك اي هو واقع موقعه

ترجمه: او ستاسو مالونه او اولاد داسې څيزونه نه دي چې تاسو لره زمونږه نيزدې خلق جوړ کړي، البته چا چې ايمان راوړو او نيک عملونه ئې اوکړل يقيناً د هغوی د پاره مونږ سره دوچنده ثواب دې، مثلاً د نيک اعمالو بدله لس چنده او ددې نه هم زياته او هغوی به د جنت په بالاخانو کښې د مرګ وغيره نه بې ويرې وی او په يو قراءت کښې الغرفة دې، او دا په معنی د جمع کښې دې، او هغه خلق چې زمونږ آيتونه دقرآن د باطلولو په کوشش کښې لګيا دی مونږ عاجزه کنړلو سره د دې چې مونږ نه به بچ شو دوی دغه وجه ده چې دوی به په عذاب کښې نيولې شوې حاضر شی، ته ورته اووايه چې ځما رب په خپلو بندګانو کښې چاته چې اوغواړی روزی امتحاناً پراخه کوی او د هغه يا بل چاته چې خوښه شی د پرخوالی نه پس امتحاناً روزی تنګوی او تاسو چې څه هم په نيک کارونو کښې خرچ کوئی الله به ددې بدله درکوی او هغه بهترين روزی رسونکې دې، وئيلې شی هر انسان خپل اهل او اعيال ته روزی ورکړی د الله د رزق نه او هغه ورځ د ذکر کولو قابله ده په کومه ورځ چې الله به دې ټولو مشرکانو لره جمع کړی بيا به فرشتو ته ارشاد اوکړی چې آيا دې خلقو ستاسو عبادت کولو؟ د دواړو همزو په تحقيق سره او د اولې همزې لره په ياء بدلولو سره او ددې غورزولو سره هغوی به عرض اوکړی ته د شرک نه پاک ئې زمونږ ولی خو هم ته ئې نه چې هغوی يعنی زمونږ او ددوی په مينځ کښې ئې هيڅ تعلق نشته، بلکې دې خلقو خو د شيطانانو عبادت کولو يعنی زمونږ په بندګی کولو کښې د هغوی تابعداری کوله په دوی کښې د ډيرو په دوی باندې ايمان وو، يعنی هغوی به چې څه دوی ته وئيل د هغې به ئې تصديق کولو، الله تعالی اوفرمائيل څوک چه چا ته يعنی يو معبود يو عابد ته نه د سفارش د فائدې رسولو اختيار لری او نه د عذاب د ورکولو، او مونږ به ظالمانو کافرانو ته اووايو چې د هغه عذاب مزه اوڅکئ کوم ته چې تاسو دروغ وئيل او چې کله ددوی په مخکښې د قرآن آيتونه کوم چې صفا صفا دی زمونږ د نبی محمد ﷺ په ژبه باندې

اورولې شي نو وائي چې دا داسې سړی دی چې تاسو لره ستاسو د پلار نيکه د معبودانو يعنی بتانو نه منع کول غواړي او وائي چې دا قرآن صرف په الله باندې لګولې شوې بهتان دی، او کافران ددې حق په باره کښې يعنی د قرآن چې کله د دوی طرف ته راغلو وائي چې دا صرف يو ښکاره جادو دی، الله تعالی اوفرمائيل نه خو مونږ دوی ته کتابونه ورکړي دی کوم چې دوی لولی او نه مونږ ددوی خوا له ستا نه مخکښې څوک خبر ورکونکې راليږلې دی، نو بيا دوی څنګه ستا تکذيب کوی او ددوی نه مخکښې خلقو هم تکذيب کړی وو او هغوی ته چې څه مونږ ورکړي وو نو دوی د هغې لسمې حصې ته هم رسيدلې نه دی، يعنی په قوت، اوږد عمر او ډير مال کښې. دې خلقو دوی ته راليږلې شوې پيغمبران دروغژن اوګنړل، بيا اوګوره په دوی باندې د سزا او د هلاکت په اعتبار سره زما عذاب څنګه وو؟ يعنی هغه په صحيح موقع (په حقه) پرې راغلو..

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وما اموالكم ولا اولادكم بالتي تقربكم عندنا زلفى: (وما اموالكم) جمله مستانفه ده د مخکښې تحقيق او تقرير د پاره راوړی شوې ده (ما) مشابه بليس دې اموالكم د خپل معطوف سره ددې اسم دی، بالتي موصول د صلې سره د اموال واولاد صفت دی، اګرچې په موصوف صفت کښې په ښکاره مطابقت نشته خو جمع تکسير که هغه د ذوی العقول د پاره وی او که د غير ذوی العقول د پاره خو د واحد مؤنث په حکم کښې وی، په دې اعتبار سره په موصوف صفت کښې مطابقت شته، او دا هم کيدې شی چې بالتي د موصوف محذوف صفت وی، تقديری عبارت دادې بالاحوال التي تقربكم، مفسر علام د زلفى تفسير په قربى کولو کښې اشاره اوکړه چې زلفى د تقربكم مفعول مطلق من غير لفظه دی، اى تقربكم تقريبا

قوله: اولئك: اسم اشاره مبتدأ ده او مشاراليه په (من آمن) کښې (من) دی، او اولئک جمع د (من) د معنی په اعتبار سره دی، دواړه فعلونه ئې د من د لفظ د رعايت د وجې مفرد راوړي دی.

قوله: لهم: خبر مقدم او جزاء الضعف مبتدأ مؤخر، جمله اسميه د (اولئک) مبتدأ خبر دی، او جزاء الضعف د اضافت موصوف الى الصفت د قبيل نه دی، اى لهم الجزاء المضاعف په يو قراءت کښې الغرفة دی، الف لام د جنس په وجه په معنی کښې جمع دی.

قوله: مقدرين عجزنا اي معتقدين انتا عاجزون فلا نقدر عليهم:

قوله: قل ان ربي يبسط الرزق لمن يشاء: الخ ددې آيت په باره کښې بعضې حضراتو وئيلي دی چې دا آيت مکرر دی، او د ماقبل د تاکيد د پاره دی، او بعضې حضراتو وئيلي دی چې دا آيت د اول نه غير دی، اول د اشخاص متعدده د پاره دی، يعنی د چا

روزی تنګوی او د چا روزی پراخه کوی، او دا آیت د یو کس په باره کښې دې یعنی د یو کس روزی په یو وخت کښې پراخوی او هم ددغه سړی په بل وخت کښې تنګوی.

قوله: فهو يخلفه: یعنی الله تعالی په خپله لاره کښې د خرچ کړې شوی څیز بدله او عوض ورکوی.

قوله: يقال كل انسان يرزق عائلته: دا د یو سوال مقدر جواب دې.

سوال: سوال دادې چې رازقين ئې جمع راوړې ده ددې نه معلومیږی چې رزاقین ډیر دی حالانکه رزاق صرف الله دې؟

جواب: حقیقی رازق خو الله تعالی دې چونکه بنده په ښکاره د الله د ورکړې شوی رزق نه خپل خاندان، نوکرانو وغیره ته رزق ورکوی، نو مجازا بنده ته هم رازق وئیلې شی، ددې وجې نه بنده ته رازق وئیلې شی خو رزاق نشی وئیلې، ځکه چې دا د اسماء حسنیٰ مختصه نه دې.

قوله: اكثرهم بهم مؤمنون: اكثرهم مبتدا مومنون ددې خبر، بهم د مومنون متعلق، او د اکثر نه مراد کل دې.

قوله: نقول: د دې عطف په لا يملك باندې دې.

قوله: وقال الذين كفروا: دلته ضمير راوړل هم کافی کیدل ځکه چې د کافرانو مشرکانو ذکر مخکښې تیر شوی دې یعنی د قال الذين كفروا په ځائې به ئې وقالوا وئیلې وو، خو چونکه په دې کښې د دوی د کفر صفت د ښکاره کولو په وجه خرابوالې او قباحت زیات دې ځکه ئې د اسم ضمیر په ځایې اسم ظاهر راوړو.

قوله: المعشار: لسمه حصه، بعضې حضراتو وئیلې دی چې د لسمې لسمه، یعنی سلمه حصه، مقصد تحدید نه دې، بلکه د قلت بیان دې، که د فكذبوا رسلي عطف په كذب الذين من قبلهم باندې وی نو بلغوا معشار ما اتيناهم به د معطوف او معطوف الیه په مینځ کښې جمله معترضه وی.

[ایاتونه: ۴۶ ـ ۵۴]

(قُلْ إِنَّمَا أَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ) هِيَ (أَنْ تَقُومُوا لِلَّهِ) أَيْ لِأَجْلِهِ (مَثْنَى) أَيِ اثْنَيْنِ اثْنَيْنِ (وَفُرَادَى) وَاحِدًا وَاحِدًا (ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا) فَتَعْلَمُوا (مَا بِصَاحِبِكُمْ) مُحَمَّدٍ (مِنْ جِنَّةٍ) جُنُونٍ (إِنْ) مَا (هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ) أَيْ قَبْلَ (عَذَابٍ شَدِيدٍ) فِي الْآخِرَةِ إِنْ عَصَيْتُمُوهُ (قُلْ) لَهُمْ (مَا سَأَلْتُكُمْ) عَلَى الْإِنْذَارِ وَالتَّبْلِيغِ (مِنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ) أَيْ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا (إِنْ أَجْرِيَ) مَا ثَوَابِي (إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ) مُطَّلِعٌ يَعْلَمُ صِدْقِي (قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ بِالْحَقِّ) يُلْقِيهِ إِلَى أَنْبِيَائِهِ (عَلَّامُ الْغُيُوبِ) مَا غَابَ عَنْ خَلْقِهِ فِي السَّمَاوَاتِ

وَالْأَرْض ﴿قُلْ جَاءَ الْحَقُّ﴾ الْإِسْلَام ﴿وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ﴾ الْكُفْر ﴿وَمَا يُعِيدُ﴾ أَيْ لَمْ يَبْقَ لَهُ أَثَر ﴿قُلْ إِنْ ضَلَلْتُ﴾ عَنِ الْحَقِّ ﴿فَإِنَّمَا أَضِلُّ عَلَى نَفْسِي﴾ أَيْ إِثْم ضَلَالِي عَلَيْهَا ﴿وَإِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِي إِلَيَّ رَبِّي﴾ مِنَ الْقُرْآن وَالحكمة ﴿إِنَّهُ سَمِيعٌ﴾ للدعاء ﴿قَرِيبٌ﴾ ﴿وَلَوْ تَرَى﴾ يَا مُحَمَّد ﴿إِذْ فَزِعُوا﴾ عِنْدَ الْبَعْث لَرَأَيْتَ أَمْرًا عَظِيمًا ﴿فَلَا فَوْتَ﴾ لَهُمْ مِنَّا أَيْ لَا يَفُوتُونَنَا ﴿وَأُخِذُوا مِنْ مَكَانٍ قَرِيبٍ﴾ أَيْ الْقُبُور ﴿وَقَالُوا آمَنَّا بِهِ﴾ بِمُحَمَّدٍ أَوْ الْقُرْآن ﴿وَأَنَّى لَهُمُ التَّنَاوُشُ﴾ بِوَاوٍ وَبِالْهَمْزَةِ بَدَلَهَا أَيْ تَنَاوُل الإيمان ﴿مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ﴾ عن محله إذ هم في الآخرة ومحله الدنيا ﴿وَقَدْ كَفَرُوا بِهِ مِنْ قَبْلُ﴾ فِي الدُّنْيَا ﴿وَيَقْذِفُونَ﴾ يَرْمُونَ ﴿بِالْغَيْبِ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ﴾ أَيْ بِمَا غَابَ عِلْمه عَنْهُمْ غَيْبَة بَعِيدَة حَيْثُ قَالُوا فِي النَّبِيِّ سَاحِر شَاعِر كَاهِن وَفِي الْقُرْآن سِحْر شِعْر كِهَانَة ﴿وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ﴾ مِنَ الْإِيمَان أَيْ قَبُوله ﴿كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِمْ﴾ أَشْبَاههمْ فِي الْكُفْر ﴿مِنْ قَبْلُ﴾ أَيْ قَبْلهمْ ﴿إِنَّهُمْ كَانُوا فِي شَكٍّ مُرِيبٍ﴾ مُوقِع فِي الرِّيبَة لَهُمْ فِيمَا آمَنُوا بِهِ الْآن وَلَمْ يَعْتَدُوا بِدَلَائِلِهِ فِي الدنيا

ترجمه: ته ورته اووایه چې څه تاسو ته صرف د یو مختصر غوندې خبرې نصیحت کوم، هغه دا چې تاسو د خدائی د پاره ضد پریښنو دلو سره دوه دوه یا یواځې ولاړ تیار اودیږئی، بیا سوچ اوکړئ، نو تاسو ته به پته اولږی، چې ستاسو په ملګری محمد ﷺ باندې څه جنون نشته، هغه خو تاسو لره د آخرت د یو سخت عذاب د راتلو نه مخکښې ویرولو والا دې، که تاسو د هغه خبره اونه منئ. تاسو دوی ته اووایئ چې څه تاسو لره په خبرولو او تبلیغ باندې تاسو نه څه مطالبه غواړم نو هغه دې تاسو ته مبارک شی یعنی په دې انداز او تبلیغ باندې تاسو نه څه طلب کوم نه، ځما بدله خو د الله سره ده، هغه د هر یو څیز نه خبردار دې ځما د رشتینولی نه هم خبر دې، ته ورته اووایه چې ځما رب حق خبرې لره په خپلو نبیانو باندې نازلوی، په اسمانونو او زمکه کښې چې کوم څیز د هغه د مخلوق نه پټ دې دغې پټ څیز لره هغه پیژنی ته ورته اووایه چې حق راغلو او باطل، کفر خو نه مخکښې څه اثر کړې وو او نه به وروستو ئې څه اثر وی ته ورته اووایه که چرې څه الله مه کړه بې لارې شوم نو ځما د اوریدلو وبال به په ما باندې وی او که زه په هدایت باندې یم نو دا د هغه قرآن او حکمت د وجې نه دی کوم چې ځما رب ماته په ذریعه د وحی رالیږی، هغه دعا لره اوریدونکې او ماته نیزدې دې، اې محمد ﷺ تاسو هغه وخت په خیال کښې راولئ، کله چې په د قبر نه د پاسیدو په وخت کښې کافران ویروندونکې ګرځی، نو ته به یو لوی خطرناک منظر اوګورې نو بیا د دوی د پاره خلاصیدل نشته، یعنی زمونږ د نیولو نه د تختیدلو څه صورت به نه وی، او نیزدې د قبرونو نه به دوی ګرفتار کړې شی، هغه وخت به وائی چې مونږ په دې باندې محمد ﷺ یا په قرآن باندې ایمان راورو، دومره لرې نه د دوی د پاره ایمان په لاس راتلل چرته ممکن دی، التناوش په واو سره، او د واؤ په عوض د همزې سره دې، یعنی ایمان حاصلیدل (چرته ممکن دی) ځکه چه دوی اوس په عالم آخرت کښې دی، او د ایمان ځایې دنیا ده، حالانکه ددې نه مخکښې په دنیا کښې دوی ددې انکار

کړې وو، او د لرې نه یې تحقیقه په اندازه او په اټکل خبرې به ئې کولې یعنی داسې خبرې ئې کولې چې د هغې د علم نه دوی ډیر لرې وو، په داسې طریقه چې دوی نبی ﷺ ته ساحر کاهن او شاعر اووئیل او د قرآن په باره کښې ئې سحر شعر او کله کهانت اووئیل د دوی او د دوی د ایمان په مینځ کښې پرده حائله کړې شوه یعنی د ایمان د قبولیت په مینځ کښې، څنګه چې ددې نه مخکښې په کفر کښې ددوی مشرانو سره کړې شوه وه، هغوی هم د دوی په شان په پوخ شک کښې پراته وو، چې په کومه خبره ئې اوس ایمان راوړو ددې په باره کښې په شک کښې پراته وو، حالانکه په دنیا کښې ئې دې ایمان طرف ته توجه ورکړې نه ده.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: بواحدة: دا د موصوف محذوف صفت دې، ای بخصلة واحدة او په حذف باندې قرینه ان تقوموالله دې. دا په په تاویل د مصدر سره د (هی) مبتدأ محذوف خبر دې، څنګه چې شارح (هی) محذوف منلو سره اشاره کړې ده، او ان تقوموا په تاویل د مصدر سره د بواحدة عطف بیان یا بدل دې، په دې دواړو صورتونو کښې به ان تقوموا محلا مجرور وی.

قوله: ثم تتفکروا: ثم حرف د عطف د تاخیر او ترتیب د پاره دې، او د تتفکروا عطف په ان تقوموا باندې دې، لومثنی او فرادی د حال د وجې نه منصوب دی، بصاحبکم خبر مقدم، من جنة مبتدأ مؤخر محلا مرفوع او لفظا مجرور دې، (من) زائده دې.

قوله: ما سالتکم من اجر فهو لکم: "ما" شرطیه د "سالتکم" مفعول ثانی مقدم دې، او "من" اجر د (ما) بیان دې، او "فهو لکم" جواب شرط دې، او دا هم احتمال دې، چې "ما" موصوله مبتدأ وی او "فهو لکم" ددې خبر وی، او موصول چونکه متضمن معنی د شرط لره دې څکه په فهو باندې فاء د رابطې د پاره ده، ان اجری الا علی الله په دې خبره باندې دلالت کوی چې هغوی ﷺ د انذار او تبلیغ په عوض کښې د هیڅ څیز مطالبه نه ده کړې.

قوله: یقذف بالحق: د یقذف مفعول محذوف دې، ای یقذف الباطل بالحق: دویم ترکیب چې هغې ته شارح اشاره کړې ده دا کیدې شی چې (باء) د ملابست دپاره وی او مفعول محذوف وی، تقدیری عبارت به دا وی یقذف الوحی الی انبیائه متلبسا بالحق.

قوله: علام الغیوب: د (ان) خبر ثانی دې، یا د (هو) مبتدأ محذوف خبر دې، او د یقذف د ضمیر نه بدل هم کیدې شی

قوله: ما غاب عن خلقه: الله تعالی غیب څیزونو لره ډیر ښه پیژنی، په (ما غاب) باندې د مغیبات اطلاق د مخلوق په اعتبار سره دې، ګنی هغه ته خو ماضی، حال او مستقبل ټول ښکاره دی.

هم ددې سوال مقدر د جواب د پاره شارح رحمه الله د ما غاب عن خلقه اضافه کړې ده.

قوله: فبما يوحى الى ربي: (ما) مصدريه هم کيدې شي، او (باء) سببيه ده، اى بسبب ايحاء ربى الى او موصوله هم کيدې شي، اى بسبب الذى يوحيه الى.

قوله: ولوترى: په دې کښې دا احتمال دې چې د ترى مفعول محذوف وى تقديرى عبارت به دا وى، لوترى حالهم وقت فزعهم.

قوله: لرايت امرعظيما: مقدر کړخولوسره اشاره ئې اوکړه چې د(لو) جواب شرط محذوف دې.

قوله: تناوش: په دې کښې دوه قراءتونه دى په واؤ باندې ضمه، او واؤ په همزې سره بدلول تناوش په وزن د تفاعل، ناش ينوش نوشاً نيول، اخستل.

قوله: وقدكفروا: دا جمله حاليه ده، چې هغوى په دنيا کښې کفر کړې دې.

قوله: ويقذفون بالغيب: ددې عطف د حکايتِ حال ماضى په توګه په (قدكفروا) باندې دې.

قوله: باشياعهم: اى اشباههم فى الكفر، اشياع د شيع جمع ده، او شيع د شيعة جمع ده، نو اشياع د شيعة جمع الجمع ده.

[۳۵] سورة فاطر

سورة فاطر مكية و هي خمس او ست و اربعون اية

سوره فاطر مکی دې اودا ۴۵ يا ۴۶ آيتونه دى.

[اياتونه: ۱ ـ ۷]

بسم الله الرحمن الرحيم (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ) حَمِدَ تَعَالٰى نَفْسَهُ بِذٰلِكَ كَمَا بُيِّنَ فِي أَوَّلِ سُوْرَةِ سَبَا (فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ) خَالِقِهِمَا عَلٰى غَيْرِ مِثَالٍ سَبَقَ (جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا) اِلَى الْاَنْبِيَاءِ (أُولِيْٓ أَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ) فِي الْمَلٰئِكَةِ وغيرها (ما يشاء إن الله على كل شيء قدير) (مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ) كَرِزْقٍ وَمَطَرٍ (فَلَا مُمْسِكَ لَهَا وَمَا يُمْسِكْ) مِنْ ذٰلِكَ (فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِنْ بَعْدِهِ) اَيْ بَعْدَ إِمْسَاكِهِ (وَهُوَ الْعَزِيْزُ) الْغَالِبُ عَلٰى أَمْرِهِ (الْحَكِيْمُ) فِي فعله (يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ) اَيْ اَهْلَ مَكَّةَ (اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ) بِاِسْكَانِكُمُ الْحَرَمَ وَمَنْعِ الْغَارَاتِ عَنْكُمْ (هَلْ مِنْ خَالِقٍ) مِنْ زَائِدَةٌ وَخَالِقٍ مبتدأ (غَيْرُ اللّٰهِ) بِالرَّفْعِ وَالْجَرِّ نَعْتٌ لِخَالِقٍ لَفْظًا وَمَحَلًّا وخبر المبتدأ (يرزقكم من السماء) المطر (و) من (الأرض) النَّبَاتَ وَالْاِسْتِفْهَامُ لِلتَّقْرِيْرِ اَيْ لَا خَالِقَ رَازِقَ غَيْرُهُ (لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ) مِنْ اَيْنَ تُصْرَفُوْنَ عَنْ تَوْحِيْدِهِ مَعَ اِقْرَارِكُمْ بِاَنَّهُ الْخَالِقُ الرَّازِقُ (وَإِنْ يُكَذِّبُوْكَ) يَا مُحَمَّدُ فِي مَجِيْئِكَ بِالتَّوْحِيْدِ وَالْبَعْثِ وَالْحِسَابِ وَالْعِقَابِ (فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ) فِي ذٰلِكَ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرُوْا (وَإِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْأُمُوْرُ) فِي الْآخِرَةِ فَيُجَازِي الْمُكَذِّبِيْنَ وينصر المسلمين (يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ) بِالْبَعْثِ وَغَيْرِهِ (حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا) عَنِ الْاِيْمَانِ بِذٰلِكَ (وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ) فِي حِلْمِهِ وَاِمْهَالِهِ (الْغَرُوْرُ) الشيطان (إِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا) بِطَاعَةِ اللّٰهِ ولا

تطیعوه (إنما یدعو حزبه) أتباعه في الکفر (لیکونوا من أصحاب السعیر) النار الشدیدة (الذین کفروا لهم عذاب شدید والذین آمنوا وعملوا الصالحات لهم مغفرة وأجر کبیر) هذا بیان ما لموافقي الشیطان وما لمخالفیه

ترجمه: شروع کوم د الله په نوم سره چې ډیر مهربانه او ډیر رحم والا دې، ټول تعریفونه الله لره ثابت دی اوسورت سبا پشان دلته هم الله تعالي په خپله د خان ثنا بیان کړه هلته ئ وضاحت شوې دې. کوم چې د اسمانونو او زمکې لره د مخکښې نمونې نه بغیر پیدا کونکې دې، او کوم چې فرشتو لره انبیاؤ ته خبر رسونکی جوړونکې دې، چې په هغې کښې د چا دوه دوه درې درې او څلور څلور وزرې دی، او هغه چې د ملائکو وغیره په پیدا کولو کښې چې څه غواړی اضافه کولو والا دې، الله تعالی یقینا په هر څیز باندې قادر دې، اوالله تعالی چې د خلقو د پاره کوم رحمت مثلا رزق او باران کولاؤ کړی، نو هغې لره څوک بندولو والا نشته، او په دې کښې چې څه بند کړی نو د هغوی د بندولو نه پس څوک د هغې کولاوولو والا نشته، هغه په خپل حکم باندې غالب او په خپل کار کښې حکمت والا دې، اې خلقو یعنی مکې والو تاسو په خپل ځان باندې هغه نعمتونه یاد کړئ کوم چې تاسو باندې په حرم کښې د استوګنې درکولو او تاسو د حملو نه محفوظ ساتلو په صورت کښې کړې دی آیا د الله نه سوا بل څوک معبود شته؟ دا (من) زائد دې، او خالق مبتدأ او غیر الله په رفع او جر سره، د خالق لفظا او محلا صفت دې، او د مبتدأ خبر یرزقکم من السماء دی. کوم چې اسمان نه یعنی د باران په ذریعه او د زمکې یعنی د بوټو په ذریعه تاسو ته روزی دراورسوی، استفهام تقریری دې یعنی د هغه نه سوا بل خالق او رازق نشته، د هغه نه سوا بل معبود نشته، نو تاسو چرته اړولې کیږې، یعنی د هغه توحید پریښودلو سره، ستاسو د دې اقرار نه باوجود چې هم هغه خالق او رازق دې، شرک کولو سره چرته ځئی، او اې محمد ﷺ که دا خلق تاسو لره د توحید د بیان، د بعث، حساب او د عقاب په باره کښې دروغژن ګنړی، نو په دې معامله کښې ستاسو نه د مخکښې رسولانو هم تکذیب شوې دې، لهذا تاسو صبر کوئی څنګه چې هغوی صبر کړې وو، او په آخرت کښې به ټول کارونه الله ته واپس کولې شی، چنانچه تکذیب کولو والا ته به سزا ورکړی او او د مسلماناو به ممد اوکړی، اې خلقو د الله د بعث وغیره وعده رشتونې ده، نو داسې دې نه وی چې په دې وعدې باندې د ایمان راوړلو نه د دنیا زندګی تاسو په دهوکه کښې واچوی، او داسې دې نه وی چې دهوکه باز شیطان تاسو لره د الله د حلم او مهلت درکولو په باره کښې په دهوکه کښې واچوی، یاد ساتئ شیطان ستاسو دشمن دې، لهذا د الله اطاعت کولو سره هغه لره خپل دشمن اوګنړئ، او د هغه اطاعت مه کوئی، هغه خو خپل جماعت لره یعنی په کفر کښې د هغه اتباع کولو والا جماعت څکه راغواړی چې هغوی د دوزخیانو نه شی، چا چې کفر اوکړو د هغوی د پاره سخته سزا ده، او چې کومو خلقو ایمان راوړو او نیک اعمال ئې اوکړل د

هغوی د پاره بخښنه ده، او لوئې اجر دې. او دا «سزا و جزاء» د هغه څيز بيان دې کوم چې د شيطان د دوستانانو او د مخالفينو د پاره دی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

د سورة فاطر دويم نوم سورة ملائکه هم دې.

قوله: فاطر السموات اي خالقهما عن الخير مثال: د فطر اصلی معنی مطلقا شق دې، (ن) وعن مجاهد عن ابن عباس رضي الله عنهما ما کنت ادری ما فاطر السموات والارض حتى اختصم الى اعرابيان في بئر فقال احدهما انا فطرتها اى ابتداتها وابتدعتها.

سوال: فاطر السموات والارض کښې اضافت لفظی دې لهذا دا د تعريف فائده نه ورکوی، حالانکه دا جمله د لفظ الله صفت واقع شوې دې، کوم چې معرفه ده؟

جواب: چونکه فاطر د فعل ماضی په معنی کښې دې د هغې د وجه نه دا اضافت معنوی دې لهذا د لفظ الله صفت واقع کيدل صحيح دی.

قوله: جاعل الملائکة: دا لفظ د لفظ الله دويم صفت دې.

سوال: جاعل د ماضی په معنی کښې دې يا د حال يا د استقبال؟ که د ماضی په معنی کښې وی نو د دې عامل کيدل صحيح نه دی، حالانکه دا په رسل کښې عامل دې، او که د حال يا د استقبال په معنی کښې وی نو دا اضافت لفظی دې، کوم چې د تعريف فائده نه ورکوی. په دې صورت کښې د لفظ الله صفت جوړول صحيح نه دی؟

جواب: دلته جاعل د استمرار په معنی کښې دې، لهذا د ماضی په معنی کښې د کيدو د وجې نه به دا اضافت معنوی وی، او د تعريف فائده به ورکوی، چې د هغې د وجې نه د لفظ الله صفت جوړول صحيح وی، او چونکه د حال او استقبال په معنی کښې هم دې، لهذاً د دې عامل کيدل هم صحيح به وی، اوس څه اعتراض پاتې نشو.

قوله: اولی: دا په حالت نصبی او جری کښې دې په حالت رفعی کښې «اولو» استعماليږی، په معنی د «والا او صاحب». دا د جمع په معنی کښې مستعمل دې د دې واحد نه رازی، او بعضې حضراتو د دې واحد «ذو» ښودلې دې.

قوله: اولی اجنحة: دا د جناح جمع ده، د دې معنی «وزرو والا» دا د رسلا صفت دې، دواړه چونکه د لفظ په اعتبار سره نکره دی، څکه مطابقت هم موجود دې. خو د دې نه شبه پيدا کيږی چې د وزرو کيدل خو د هغه فرشتو سره خاص دی کومې چې پيغمبرانو او رسولانو ته ليږلې شی، حالانکه د هر يو فرشتې وزرې وی لهذا دې لره د ملائکو صفت يا حال گرځول زيات مناسب دی.

قوله: مثنى وثلث ورباع: د اجنحة نه بدل د وجې نه محلا مجرور دې، د دې فتحه د کسرې د

نیابت د وجې نه ده ځکه چې دا درې وارو کلمې د وصفیت او د عدل د وجې نه غیر منصرف دی، دا کلمې د تکرار نه عدول کړې راغلې دی مثلا مثنی د اثنین اثنین نه معدول دې، دغه شان باقی.

قوله: یزید فی الخلق ما یشاء: داکلام مستانف دې چې د ماقبل د تاکید د پاره راوړې شوې دې،

قوله: فلا ممسك لها: کښې، ویزید فی الخلق ما یشاء کښې (لها) او فلا مرسل له کښې (له)، د دوارو مرجع (ما) دې، لها د معنی د رعایت د وجې نه، او (له) د لفظ د رعایت د وجه نه،

قوله: هل من خالق: هل د استفهام انکاری د پاره دې، او توبیخ د پاره هم کیدې شی، او (من) زائده دې، او خالق مبتدأ لفظا مجرور محلا مرفوع دې، او غیر الله په رفع سره د خالق صفت دې، د محل په اعتبار سره، او غیر الله صفت دې، د لفظ په اعتبار سره، د خالق مبتدأ خبر یرزقکم دې، او بعضو وئیلې دی چې لکم ددې خبر محذوف دې،

قوله: تؤفکون: دا د (افک) بالفتح نه ماخوذ دې، ددې معنې ورکیدل (لار خطا کول) او اوړبدل دی، او افک په کسرې سره معنی ده کذب وافتراء تؤفکون، مضارع مبنی للمجهول ده، واؤ نائب فاعل دې، تاسو چرته اړولې شې.

قوله: فاصبر کما صبروا: دا په حقیقت کښې د (ان یکذبوا) جزاء ده، او فاء جزائیه ده، خو د جزاء سبب کوم چې فقد کذبت دې، د جزاء قائم مقام کړې شوې دې.

[ایاتونه: ۸ - ۱۴]

وَنَزَلَ فِي أَبِي جَهْل وَغَيْره ﴿أَفَمَنْ زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ﴾ بِالتَّمْوِيهِ ﴿فَرَآهُ حَسَنًا﴾ مِنْ مبتدا خبره كَمَنْ هَدَاهُ اللّٰه لَا دَلَّ عَلَيْهِ ﴿فَإِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ﴾ عَلَى الْمُزَيَّن لَهُمْ ﴿حَسَرَاتٍ﴾ بِاغْتِمَامِك أَنْ لَا يُؤْمِنُوا ﴿إِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ بِمَا يَصْنَعُونَ﴾ فَيُجَازِيهِمْ عَلَيْهِ ﴿وَاللّٰهُ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ﴾ وَفِي قِرَاءَة الرِّيح ﴿فَتُثِيرُ سَحَابًا﴾ الْمُضَارِع لِحِكَايَةِ الْحَال الْمَاضِيَة أَيْ تُزْعِجهُ ﴿فَسُقْنَاهُ﴾ فِيهِ اِلْتِفَات عَنْ الْغَيْبَة ﴿إِلَى بَلَدٍ مَيِّتٍ﴾ بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيف لَا نَبَات بِهَا ﴿فَأَحْيَيْنَا بِهِ الْأَرْضَ﴾ مِنْ الْبَلَد ﴿بَعْدَ مَوْتِهَا﴾ يُبْسهَا أَيْ أَنْبَتْنَا بِهِ الزَّرْع وَالْكَلَأ ﴿كَذَلِكَ النُّشُورُ﴾ أَيْ الْبَعْث وَالْإِحْيَاء ﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا﴾ أَيْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَة فَلَا تُنَال مِنْهُ إِلَّا بِطَاعَتِهِ فَلْيُطِعْهُ ﴿إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ﴾ يَعْلَمهُ وَهُوَ لَا إِلَه إِلَّا اللّٰه وَنَحْوهَا ﴿وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ﴾ يَقْبَلهُ ﴿وَالَّذِينَ يَمْكُرُونَ﴾ الْمَكَرَات ﴿السَّيِّئَاتِ﴾ بِالنَّبِيِّ فِي دَار النَّدْوَة مِنْ تَقْيِيده أَوْ قَتْله أَوْ إِخْرَاجه كَمَا ذُكِرَ فِي الْأَنْفَال ﴿لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَكْرُ أُولَئِكَ هُوَ يَبُورُ﴾ يهلك ﴿وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ﴾ بِخَلْقِ أَبِيكُمْ آدَم مِنْهُ ﴿ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ﴾ أَيْ مَنِيّ بِخَلْقِ ذُرِّيَّته مِنْهَا ﴿ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا﴾ ذُكُورًا وَإِنَاثًا ﴿وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنْثَى وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ﴾ حَال أَيْ مَعْلُومَة لَهُ ﴿وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُعَمَّرٍ﴾ أَيْ مَا يُزَاد فِي عُمُر طَوِيل

العُمُر ﴿وَلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖ﴾ اي ذٰلِكَ المُعَمَّرِ اَوْ مُعَمَّر آخَر ﴿اِلَّا فِي كِتَابٍ﴾ هُوَ اللَّوْحُ المَحْفُوظ ﴿اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ﴾ هَيِّن ﴿وما يستوي البحران هذا عذب فرات﴾ شَدِيْدُ العُذُوبَة ﴿سَائِغٌ شَرَابُهٗ﴾ شُرْبُهٗ ﴿وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ﴾ شَدِيْدُ المُلُوْحَة ﴿وَمِنْ كُلٍّ﴾ مِنْهُمَا ﴿تَاْكُلُوْنَ لَحْمًا طَرِيًّا﴾ هُوَ السَّمَك ﴿وَتَسْتَخْرِجُوْنَ﴾ مِنَ المِلْحِ وَقِيْلَ مِنْهُمَا ﴿حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا﴾ هِيَ اللُّؤْلُؤُ وَالمَرْجَان ﴿وَتَرَى﴾ تُبْصِر ﴿الفُلْكَ﴾ السُّفُن ﴿فِيْهِ﴾ فِي كُلٍّ مِنْهُمَا ﴿مَوَاخِرَ﴾ تَمْخَرُ المَاءَ اَيْ تَشُقُّهٗ بِجَرْيِهَا فِيْهِ مُقْبِلَة وَمُدْبِرَة بِرِيْحٍ وَاحِدَة ﴿لِتَبْتَغُوْا﴾ تَطْلُبُوْا ﴿مِنْ فَضْلِهٖ﴾ تَعَالٰى بِالتِّجَارَةِ ﴿وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ اللّٰهَ عَلٰى ذٰلِكَ ﴿يُوْلِجُ﴾ يُدْخِلُ اللّٰهُ ﴿اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ﴾ فَيَزِيْدُ ﴿وَيُوْلِجُ النَّهَارَ﴾ يُدْخِلُهٗ ﴿فِي اللَّيْلِ﴾ فَيَزِيْدُ ﴿وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ﴾ مِنْهُمَا ﴿يَجْرِيْ﴾ فِي فَلَكِهٖ ﴿لِاَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ يَوْمِ القِيَامَة ﴿ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ المُلْكُ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ﴾ تَعْبُدُوْنَ ﴿مِنْ دُوْنِهٖ﴾ اَيْ غَيْرِهٖ وَهُمُ الاَصْنَام ﴿مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ﴾ لِفَافَةِ النَّوَاة ﴿اِنْ تَدْعُوْهُمْ لَا يَسْمَعُوْا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوْا﴾ فَرْضًا ﴿مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ﴾ مَا اَجَابُوْكُمْ ﴿وَيَوْمَ القِيَامَةِ يَكْفُرُوْنَ بِشِرْكِكُمْ﴾ بِاِشْرَاكِكُمْ اِيَّاهُمْ مَعَ اللّٰهِ اَيْ يَتَبَرَّءُوْنَ مِنْكُمْ وَمِنْ عِبَادَتِكُمْ اِيَّاهُمْ ﴿وَلَا يُنَبِّئُكَ﴾ بِاَحْوَالِ الدَّارَيْنِ ﴿مِثْلُ خَبِيْرٍ﴾ عَالِمٍ هُوَ اللّٰهُ تعالى

ترجمه: (راوان آيت) د ابوجهل په باره کښې نازل شوي دي، آيا هغه کس چا ته چې د هغه خراب اعمال شيطانت (تلبيس) په ذريعې سره مزين کړې شوي پيش کړې شي بيا هغه دې لره نيک اعمال او ګڼړل، د هغه کس برابر کيدې شی چا ته چې الله هدايت نصيب کړو (من مبتدأ دې، او ددې خبر (کمن هداه الله) نه دې، (په دې حذف خبر باندې) فان الله يضل من يشاء دلالت کوی، يقين اوساته چاله چې الله اوغواړی ګمراه کړی او چاته چې اوغواړی هدايت ورنصيب کړی نو تاسو په هغوی باندې يعنی هغه خلقو باندې چې د چا د پاره خراب اعمال مزين کړې شوې دی، دومره غم مه کوې، چې د دوی په دې خبره باندې د غم د وجې نه چې دوی ايمان نه راوړی خپل ځان ورکړی، او څه چې دوی کوی الله ته معلوم دی، نو هغه به ددوی د اعمالو سزا ورکړی او الله هغه دې کوم چې هواګانو لره چلوی او په يو قراءت کښې الريح دې کومې هواګانې چې اوريځو لره اوچتوی، د مضارع استعمال د حالت ماضی د حکايت د پاره کړې شوې دې يعنی هواګانې اوريځو ته حرکت ورکوی بيا مونږ دې اوريځو لره د اوچې زمکې طرف ته په شړلو سره بوځو، په سقنا کښې د غيبت نه متکلم ته التفات دې، ميت په تخفيف او تشديد سره دې، بيا مونږ ددې کلی زمکې د دې د مړه کيدو لره يعنی د اوچيدو نه پس دوباره ژوندئ کوو، يعنی په دې کښې فصل او ګيا راتوکوو، دغه شان دوباره پاسيدل هم دی، يعنی دوباره ژوندی کيدل کوم کس چې عزت حاصلول غواړی نو ټول عزتونه الله لره دی. يعنی په دنيا او آخرت کښې، لهذا عزت د هغه په اطاعت سره حاصليږی، نو پکار دی چې د هغه اطاعت اوکړې شی، ښه کارونه هغه ته رسی، يعنی هغه ددې نه خبر دې، او هغه (ښه کلام) لا اله الا الله او ددې پشان نور دی. او نيک کارونه هغه

اوچټوي، يعني قبولوي ئې او کوم خلق چه د نبي ﷺ په باره کښې په دارالندوه کښې خراب سازشونه کوي مثلاً د نبي عليه السلام د قيد کولو يا د وطن نه د ويستلو يا د قتل کولو.

ځنګه چې په سورة انفال کښې ذکر دی. داسې خلقو د پاره سخت ترين عذاب دې، او ددوی دا مکر به تباه يعني برباد به شي، اې خلقو الله تاسو لره د خاورې نه پيدا کړې يئ ستاسو نيکه آدم عليه السلام د خاورې نه پيدا کړو. بيا ئې د نطفه د منئ نه پيدا کړئ. د ادم عليه السلام اولاد ئې د نطفې نه پيدا کړو بيا ستاسو د نر او د مادې جوړې جوړې کړې، يو ښځه نه حامله کيږي او نه بچې زيګولې (پيدا کولې) شي خو دا چې د الله په علم کښې وي، دا جمله حاليه ده يعني د الله تعالى په علم کښې وي او د کوم مشر کس چې عمر اوږد شي يعني د لوئي عمر والا کس په عمر کښې اضافه نه کيږي او نه ددې کس د عمر نه يا د بل چا د عمر نه کم کيدې شي خو دا چې هغه په کتاب کښې موجود وي، او هغه لوح محفوظ دې، او الله تعالى د پاره دا خبره بالکل اسانه ده، او برابر نه دی دوه سيندونه بلکه يو ډير خوږ او ارام رسونکې او په څکلو کښې مزيدار او بل ډير زيات مالګين او ترېو او تاسو د دې دواړو نه تازه غوښه خورئ، او هغه مهې دې او د مالګين او ترېو سيند نه او وئيلې شوې دی چې د دواړو نه تاسو کالی راوباسئ کوم چې تاسو اچوئې. او ملغلرې او کونجکې دی، او اې مخاطب ته کشتيانو لره په دې کښې يعني په دې خوږ او ترېو سيند کښې وينئ چې اوبه شلوی او روانې وی يعني په اوبه کښې د تلو په وجه دا په يو هوا تلو راتلو سره شلوی. چې تاسو د تجارت په ذريعه د الله فضل روزی طلب کړئ چې تاسو په دې نعمت باندې د الله تعالى شکر ادا کړئ، هغه شپې لره په ورځ کښې داخلوی، نو ورځ غټه شي او شپه په ورځ کښې داخلوی نو شپه غټه شي، او نمر او سپوږمئ هغه په کار لګولې دی هر يو به په خپل محور کښې د ډيرې مودې يعني د قيامت پورې به ګرځي، دغه ستاسو الله دې هم د هغه بادشاهي ده، او څوک چې تاسو د هغه نه علاوه رابلئ بندګی ئې کوئی او هغه بتان دی هغه خو د کهجورې د هډوکی د پوستکی هم مالک نه دې، او که تاسو هغوی ته اواز اوکړئ نو هغوی ستاسو اواز نه اوری او که بالفرض واوری ئې هم نو ستاسو فرياد پورا کولې نشي، يعني ستاسو د وينا جواب ورکولې نشي، بلکه د قيامت په ورځ به ستاسو ددې شرک نه صفا انکار اوکړي، يعني ستاسو دوی لره د خدايانو جوړولو نه، يعني تاسو نه به ستاسو د هغوی د بندګئ د اظهار نه صفا انکار اوکړي. تاته به څوک د الله تعالى په شان خبردار د دواړو د جهانو د احوالو خبر درنکړي، هغه صرف الله تعالى دې

تحقيق، ترکيب، تسهيل، تفسيري فوائد

قوله: افمن زين: دا جمله مستانفه ده مخکښې چې د دوو ډلو د انجام په مينځ کښې کوم فرق بيان شوې دې د هغې تائيد دې، (من) د مبتدا کيدو د وجې نه په محل د رفع کښې دې، ددې خبر محذوف دې، تقديری عبارت دادې افمن زين له سوء عمله کمن لم يزين له

کسائي وئيلې دی، چې ذهبت نفسك عليهم حسرات خبر دې، کوم چې محذوف دې، او د الله تعالى قول فلا تذهب نفسك عليهم حسرات په دې باندې دلالت کوی، او زجاج کمن هداه الله خبر محذوف ګڼرلې دې، اولنې صورت په لفظ او معنٰی کښې د مطابقت د وجې نه افضل دې.

قوله: سوء عمله: ای عمله السئ، دا د اضافت صفت الى الموصوف د قبيلې نه دې.

قوله: لا: د(لا) اضافه د استفهام انکاری طرف ته د اشارې د پاره کړې ده.

قوله: حسرات: د فلا تذهب مفعول له دې، او د جمع استعمال په کثرت دغم باندې دلالت کولو د پاره دې.

قوله: عليهم: د تذهب صله ده څنګه چې وئيلې شی مات عليه حزناً د عليهم تعلق د حسرات سره صحيح نه دې، ځکه چې د مصدر معمول په مصدر باندې مقدم کيدې نشی.

قوله: ان لا يؤمنوا: ای على ان لا يؤمنوا

قوله: لحكاية الحال الماضية: دا په اصل کښې د يو سوال مقدر جواب دې.

سوال: دا دې چې ددې نه مخکښې ارسل د ماضی صيغه استعال شوې ده او په دې مضمون کښې ئ فورا بعد فتثير مضارع استعمال کړه، په دې کښې څه مصلحت دې؟

جواب: خلاصه دا ده چې د مضارع صيغه کومه چې په حال باندې دلالت کوی الله ددې نه د دې صورت عجيبه او غريبه استحضار کول غواړی، کوم چې د هغه په کمال قدرت او حکمت باندې دلالت کوی، او د يو صورت حال يا د يو واقعې داسې منظر بيانول چې د هغې نه مخکښې واقعه داسې د نظرونو وړاندې راشی ګويا چې دا واقعه دغه وخت د نظر مخکښې کيږی، دې ته حکايت د حال ماضيه وئيلې شی.

قوله: تثير: دا اثارة نه د مضارع واحد مؤنث غائب صيغه ده، هغه راوچتوی، حرکت ورکوی، د التفات عن الغيبة الى التكلم مطلب دا دې چې الله تعالى د ارسل غائب صيغه استعمال کړه، او په سقنا کښې ئې د متکلم صيغه استعمال کړه او د جمع استعمال ئې د عظمت په توګه کړې دې.

قوله: بلد: د بلد اطلاق په مذکر او مؤنث دواړو باندې کيږی، او د بلد اطلاق په آباد او غير آباد دواړه قسم زمکو باندې هم کيږی. دلته د بلد ميت نه هغه زمکه مراد ده چې په هغې کښې وابنه بالکل نه وی، د مړې زمکې نه اوچه بې ګياه زمکه مراد ده، او د زمکې د ژوندئ کولو نه مراد ددې زرغونول دی.

قوله: من البلد: کښې (من بيانيه دې، كذلك النشور، په دې کښې ئې مړو لره د اوچې زمکې سره تشبيه ورکړې ده، او د مړو ژوندی کولو لره ئې د زمکې د زرغونولو سره تشبيه

ورکړې ده،

قوله: فليطعه: شارح اشاره کړې ده چې په (من كان) کښې (من) شرطيه دې او فليطعه ددې جواب مقدر دې، او د الله تعالى قول فلله العزة جميعا د جواب شرط علت دې.

قوله: يعلمه: په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چې په کلام کښې مجاز دې او صعود په معنی د علم دې، او علم لره په صعود سره د تعبير کولو مقصد قبوليت طرف ته اشاره ده، ځکه چې د ثواب ځائې اوچت دې او د عذاب ځائې لاندې دې.

قوله: الذين يمكرون: د کلمات طيبه بيانولو نه پس د کلمات خبيثه بيان دې

قوله: والسيئات: دا د مفعول مطلق محذوف صفت دې، تقديري عبارت څنګه چې شارح المكرات محذوف ګنړلو سره اشاره کړې ده اى يمكرون المكرات السيئات، السيئات د مفعول به کيدو د وجې نه منصوب کيدل صحيح نه دى. ځکه چې يمكرون فعل لازم دې کوم چې مفعول به ته نصب نشى ورکولې، بعضې حضراتو وئيلې دى چې يمكرون د يكسبون معنې لره د متضمن کيدو د وجې نه متعدې دې، لهذا ددې د السيئات لره دمفعول کيدو په اعتبار سره نصب ورکول صحيح دى.

قوله: ومكر اولئك: ترکيب اضافى مبتدأ او يبور ددې خبر دې، او (هو) ضمير فصل دې، د خبر نه وړاندې د ضمير فصل د راتللو په جواز او عدم جواز کښې اختلاف دې، راجح جواز دې، (اعراب القرآن) (يبور) مضارع واحد مذکر غائب (ن) بورا ، بورا ، هلاکيدل.

قوله: فرات شديد العذوبة: ډيرې خوږې اوبه.

قوله: اجاج شديد الملوحة: ډير مالګين

قوله: وما يعمر من معمر: (ما) نافيه ده يعمر فعل مضارع مجهول، (من) زائده او معمر نائب فاعل، قطمير هغه نرئى جالئى ته وائى کومه چې د کهجورې د هډوکى نه تاؤ وى، او بعضې حضراتو هغه ريشې ته وئيلې دى کومه چه د هډوکى په مينځ کښې وى، او بعضې حضراتو وئيلې دى چې هغه ريشې ته وائى کومه چې د هډوکى په شا باندې سورى کښې وى، مطلب دادې چې تاسو چاته اوازونه کوئى او د چا نه د امداد اميد ساتئ، نو هغوى د يو سپک او معمولى څيز اختيار هم نه لرى.

[اياتوله: ۱۵ - ۲۶]

(يايها الناس أنتم الفقراء إلى الله) بكل حال (والله هو الغني) عن خلقه (الحميد) المحمود في صنعه بهم (إن يشأ يذهبكم ويأت بخلق جديد) بدلكم (وما ذلك على الله بعزيز) شديد (ولا تزر) نفس (وازرة) آثمة أي لا تحمل (وزر) نفس (أخرى وإن تدع) نفس (مثقلة) بالوزر (إلى حملها) منه أحدا ليحمل بعضه

{لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَلَوْ كَانَ} الْمَدْعُوّ {ذَا قُرْبَى} قَرَابَة كَالْأَبِ وَالِابْنِ وَعَدَم الْحَمْل فِي الشِّقَّيْنِ حُكْم مِنَ اللّٰه {إِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ} أَيْ يَخَافُونَهُ وَمَا رَأَوْهُ لِأَنَّهُمُ الْمُنْتَفِعُونَ بِالْإِنْذَارِ {وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ} أَدَامُوهَا {وَمَنْ تَزَكَّى} تَطَهَّرَ مِنَ الشِّرْك وَغَيْره {فَإِنَّمَا يَتَزَكَّى لِنَفْسِهِ} فَصَلَاحه مُخْتَصّ بِهِ {وَإِلَى اللّٰهِ الْمَصِيرُ} الْمَرْجِع فَيَجْزِي بِالْعَمَلِ فِي الْآخِرَة {وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَى وَالْبَصِيرُ} الْكَافِر وَالْمُؤْمِن {وَلَا الظُّلُمَاتُ} الْكُفْر {وَلَا النُّورُ} الْإِيمَان {وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُورُ} الْجَنَّة وَالنَّار {وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ وَلَا الْأَمْوَاتُ} الْمُؤْمِنُونَ وَلَا الْكُفَّار وَزِيَادَة (لَا) فِي الثَّلَاثَة تَأْكِيد {إِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ مَنْ يَشَاءُ} هِدَايَته فَيُجِيبهُ بِالْإِيمَانِ {وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ} أَيْ الْكُفَّار شَبَّهَهُمْ بِالْمَوْتَى فَيُجِيبُونَ {إِنْ} مَا {أَنْتَ إِلَّا نَذِيرٌ} مُنْذِر لَهُمْ {إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ} بِالْهُدَى {بَشِيرًا} مَنْ أَجَابَ إِلَيْهِ {وَنَذِيرًا} مَنْ لَمْ يُجِب إِلَيْهِ {وَإِنْ} مَا {مِنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا} سَلَفَ {فِيهَا نَذِيرٌ} نَبِيّ يُنْذِرهَا {وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ} أَيْ أَهْل مَكَّة {فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ} الْمُعْجِزَات {وَبِالزُّبُرِ} كَصُحُفِ إِبْرَاهِيم {وَبِالْكِتَابِ الْمُنِيرِ} هُوَ التَّوْرَاة وَالْإِنْجِيل فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرُوا {ثُمَّ أَخَذْتُ الَّذِينَ كَفَرُوا} بِتَكْذِيبِهِمْ {فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ} إِنْكَارِي عَلَيْهِمْ بِالْعُقُوبَةِ وَالْإِهْلَاك أَيْ هُوَ وَاقِع مَوْقِعه.

ترجمه: اې خلقو تاسو په هر حالت کښې د الله محتاج يئ او الله خو د خپل مخلوق نه بې نيازه دې، او په خپل مخلوق باندې د احسان د وجې نه د حمد لائق دې که اوغواړی نو تاسو به پناه کړی، او ستاسو په ځائې باندې به يو نوې مخلوق پيدا کړی، او دا خبره په الله باندې بالکل ګرانه نه ده هيڅ يو ګناه ګار سړې د بل ګناه ګار د ګناهونو پيټې اوچتولې نه شی، او که څوک د ګناهونو نه د درون پيټی والا کس بل څوک د خپل پيټی د اوچتولو د پاره را اوغواړی، نو د هغه نه به څه هم اوچت نه کړی شی، کوم سړې چې رابللې شوې دې دا اګر که رشته دار ولې نه وی، لکه پلار ځوي. په دواړو صورتونو کښې نه اوچتول د الله په حکم دې، ته خو صرف هغه خلق ويرولې شې څوک چې د خپل رب نه غائبانه ويريږی، يعنی د هغه نه ويريږی حالانکه هغه ئې ليدلې نه دې. ځکه چې هم دا خلق د تنبيه نه فائده اخسونکې دی، او د مونځ پابندی کوی، او کوم کس چه د شرک وغيره نه پاک وی هغه دځان د پاره پاک وی، لهذا ددې فائده به هم ده سره مخصوص وی. او هم الله طرف ته واپس تلل دی، او په آخرت کښې به دعمل بدله ورکولې شی او ړوند او روغ يعنی مومن او کافر برابر کيدې نه شی، او نه تياره يعنی کفر او رڼا يعنی ايمان او نه سورې او دهوپ، يعنی جنت او دروزخ او نه ژوندی او مړه يعنی مومن او کافر برابر کيدې شی، په درې واړو ځايونو کښې د (لا) اضافه د تاکيد د پاره دې، او الله چې چاته اوغواړی هغه ته خپل هدايت اوروی، نو هغوی په ايمان باندې لبيک اووائی. او ته هغه خلقو ته اورولې نشی کوم چې په قبرونو کښې دی، يعنی کافرانو ته، کافرانو لره ئې د مړو سره تشبيه ورکړې ده، ځکه چې هغوی جواب ورکولې نشی. (هدايت قبلولې نشی. او ته خو ددوی د پاره صرف ويرولو والا يې، او مونږ تالره حق ورکولو سره خوشخبری اورولو والا

او ویرولو والا جوړ کړي لیږلي ئې، او هیڅ یو امت داسې تیر شوي نه دي، چې په هغې کښې یو ویرونکي یعنی نبی ﷺ نه وی تیر شوي، او که مکې والا ستا تکذیب اوکړی نو ددوی نه مخکښې خلقو هم تکذیب کړي وو، او هغوی ته هم د هغوی رسولانو معجزې او صحیفې لکه صحیفه د ابراهیم علیه السلام او روښانه کتابونه ئې هغه تورات انجیل دی، راوړي وو، نو تاسو د هغوی په شان صبر اوکړئ، بیا ما دې کافرانو لره ددوی دتکذیب د وجې نه اونیول، نو اوګوره څما دوی ته عذاب ورکول، په سزا او هلاکت ورکولو سره څنګه وو؟ یعنی هغه په ځائې او په موقع نازل شوي وو.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: یاایها الناس انتم الفقراء الی الله: په آیت کښې خطاب خلقو ته دې، حالانکه هر یو څیز د الله محتاج دې، د دې وجه داده چې د انسان نه علاوه بل داسې مخلوق نشته، چې د غنا او استغناء دعوی کوی، ځکه په خاص طور سره انسان مخاطب جوړ کړې شوي دې، د آیت معنی دا ده، یاایها الناس انتم اشد افتقارا واحتیاجا الی الله فی انفسکم وعیالکم واموالکم وفیما یعرض لکم من سائر الامور فلا غنی لکم عنه طرفة عین، ولا اقل من ذلك:

انسان په خپل ذات کښې، په صفاتو کښې، په خپل اعیال او مالونو کښې مطلب دا چې په ټولو کارونو کښې هر وخت محتاج دې، د چا چې څومره زیات ضرورتونه وی دومره هغه محتاج هم وی، د انسان چونکه ضرورتونه په ټول مخلوقاتو کښې زیات دی نو دده محتاجیدل هم د ټولو نه زیات دی، الله تعالی د انسان په باره کښې فرمائیلي دی خُلق الانسان ضعیفا، د ابوبکر رضی الله عنه قول دې، من عرف نفسه فقد عرف ربه. یعنی چا چې خپل غریبی حاجت او خپله عاجزی اوپیژندله هغه د الله تعالی عزت او غنا او د هغه قدر او کمال اوپیژندلو.

قوله: الی الله: دا د فقراء متعلق دې، فقراء د فقیر جمع ده، فقیر صیغه د صفت ده، لهذا ددې سره متعلق کیدل صحیح دی.

سوال: د فقیر په مقابله کښې غنی راوړلو نه پس، د (الحمید) اضافه د څه مقصد د وجې نه شوې ده؟

جواب: د بندګانو فقیر کیدل او د الله تعالی غنی کیدل خو ثابت شول، خو غنی فائده ورکونکي نشی کیدې ترڅو چې هغه سخی نه وی، او چې کله مالدار سخی وی نو چې چاباندې ئې انعام کړې وی هغه دده حمد او ثناء بیانوی، او منعم او محسن د منعم علیهم د احسان مستحق وی، لهذا دې خبرې ته اشاره کولو د پاره چې الله تعالی غنی او نافع دې، نو د (الحمید) اضافه ئې اوکړه.

قوله: ان یشأ یذهبکم ویات بخلق جدید: دا د الله تعالی د غناء مطلق بیان دې، یعنی ستاسو فناء د هغه په مشیت او بقاء د هغه په فضل موقوف ده، په دې کښې د چا هیڅ دخل نشته، او د خپل قول ویات بخلق جدید،سره د زیادت استغناء بیان دې، یعنی څوک دې دا نه ګڼړی چې الله تعالی به انسانان فنا کړی نو د هغه په کمالِ ملک کښې به نقصان راشی، ځکه چې هغه په دې خبره باندې قادر دې، چې هغه نوې مخلوق پیدا کړی، چې ددې نه به هم احسن او ښکلې وی، وماذلك علی الله بعزیز یعنی دوی ختمول او نور راوستل د الله د پاره څه ګرانه نه ده.

قوله: وازرة: دا د تزر فاعل دې، ددې موصوف محذوف دې، مفسر علام په خپل قول ''نفس'' سره د محذوف طرف ته اشاره کړې ده، یعنی یو ګناه ګار کس به د بل ګناه ګار کس د قیامت په ورځ پیتې اوچتولې نشی.

سوال: په دې آیت یعنی لا تزر وازرة وزرا اخری، او بل آیت ولیحملن اثقالهم، کښې تعارض معلومیږی، د تطبیق به څه صورت وی؟

جواب: دا آیت د ګمراه شوو او ګمراه کونکو باره کښې دې، مطلب دادې چې دا خلق به ضلال او اضلال یعنی د ګمراه کیدو او ګمراه کولو دواړو بوج اوچتوی. نو په دې طریقه به دوی خپله د خپل ګناهونو بوج اوچتونکې وی.

قوله: وان تدع مثقلة الی حملها: مثقلة ای نفس مثقلة بالذنوب.

قوله: حمل،موصوف دې،

قوله: منه،حمل (ه) دا حمل په معنی د محمول صفت دې، او ضمیر ''وزر'' طرف ته راجع دې، ای الی محمولها الکائن من الوزر،حمل په کسرې سره هغه وزن ته وئیلې شی کوم چې په ملا یا په سر باندې اوړې شی، جمع ئې احمال او حمول رازی، او حمل په فتحې سره میوو ته وائی، ترڅو پورې چې هغه په اونه کښې وی، او ماشوم ته وائی، ترڅو چې هغه د مور په بطن کښې وی، ازهری وئیلې دی چې هم دا خبره صحیح ده، او هم دا د اصمعی قول دې.

قوله: عدم الحمل فی الشقین: د شقین نه مراد حمل اجباری وی کوم چې په فلاتزروازرة وزرا اخری کښې ذکر دې او که حمل اختیاری وی، کوم چې په وان تدع،ذا قربی کښې ذکر دی، یعنی د حمل اجباری او حمل اختیاری اجازت نه کیدل د الله په حکم سره به وی.

قوله: یخشون ربهم بالغیب: بالغیب د یخشون د ضمیرِ فاعل نه حال دې، ای یخشونه حال کونهم غائبین عنه.،غائبین دا د بندګانو صفت دې، نه چې د رب، ځکه چې د رب صفت قرب دې نه چې غیبت، کما قال الله تعالی ونحن اقرب الیه من حبل الورید،او دا هم صحیح ده

چې دیخشون د مفعول نه حال وی، ای یخشونه والحال انه غائب عنهم ای محتجب بجلاله فلا یرونه مفسر علام په خپل قول (وما راوه) سره دې طرف ته اشاره کړې ده. د الله تعالی نه لیدل د هغه په صفت جلال کښې د محجوب کیدلو په وجه دی، او چې کله په جنت کښې په صفت جمال سره ښکاره شي نو جنتیانو ته به د الله دیدار حاصل شي. خو په دنیا کښې په دې سترګو د الله دیدار کول ممکن نه دی

قوله: لانهم المنتفعون بالانذار: ددې عبارت مقصد د یو اعتراض جواب ورکول دی، اعتراض دادې چې (انما) کلمه د حصر په ذریعې سره انذار ئې د اهل خشیت سره ولې خاص کړو؟حالانکه د هر مکلف د پاره انذار دې؟

جواب: د جواب حاصل دادې چې چونکه د نصیحت او انذار نه اهل خشیت منتفع کیږی خکه ئې د اهل خشیت خاص ذکر اوکړو ګویا چې اویلې شو انما ینفع انذارك اهل الخشیة.

قوله: وما یستوي الاعمی والبصیر: دا د مومن او کافر مثال دې، اول یې ما یستوی الاعمی والبصیر سره د مومن او د کافر په مینځ کښې فرق بیان کړې دې او دویم ئې ولا الظلمات ولا النور سره د دواړو په صفاتو کښې فرق بیان کړې دې، او دریم ئې یعنی ولا الظل ولا الحرور سره ئې په آخرت کښې د دواړو د ټهکانو فرق بیان کړې دې، په دریو واړو جملو کښې د (لا) زیادت د نفی د تاکید د پاره دی، ځکه چې نفس نفی خو د (ما) نافیه نه هم معلومیږی.

قوله: ان الله یسمع: نه فکیف کان نکیر پورې حضور ﷺ ته تسلی ورکول دی

قوله: وما انت بمسمع من في القبور: دکافرانو ئې د اثر نه قبلولو د وجې د مړو سره تشبیه ورکړې ده.

قوله: فلا یجیبون: ددې ضمیر جمع د معنی په اعتبار سره (من) طرف ته راجع دې. ځکه مفسر علام د من تفسیر د کفار سره کړې دې، په بعضې نسخو کښې فیجیبون دې

قوله: ان انت الا نذیر: مطلب دادې چې تاسو باندې صرف تبلیغ فرض دې هدایت د الله په لاس کښې دې، هغه چې چاته غواړی هدایت ورکوی

قوله: بالحق: دا د ارسلنك د كاف نه حال دې، او حق په معنی د هدایت دې او هدایت د هادیا په معنی کښې دې ای ارسلناك حال کونك هادیا.

قوله: أجاب إليه: د إليه ضمیر هدایت طرف ته راجع دې، او اجاب الیه معنی جواب ورکول، قبلول، اجاب الیه ای قبله لم یجب الیه ای لم یقبله.

قوله: وما یستوي الاحیاء ولا الاموات: دا د کافرانو دویمه تشبیه ده، کومه چې د اولې نه ابلغه ده، رومبئ تشبیه ئې کافرانو لره په عدم نفع کښې د ړندو سره ورکړې ده، او په دې

کښې نې د مړو سره تشبيه ورکړې ده په ړندو کښې څه نه څه فائده وي، په خلاف د مړو نه، چې په هغوی کښې هيڅ فائده نه وي

قوله: هو واقع موقعه: په دې کښې اشاره ده چې په فكيف كان نكير كښې استفهام انكاري دې.

[اياتونه: ۲۷ - ۳۷]

﴿أَلَمْ تَرَ﴾ تَعْلَم ﴿أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا﴾ فِيهِ الْتِفَات عَنِ الْغَيْبَة ﴿بِهِ ثَمَرَاتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا﴾ كَأَخْضَر وَأَحْمَر وَأَصْفَر وَغَيْرهَا ﴿وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ﴾ جَمْع جُدَّة طَرِيق فِي الْجَبَل وغيره ﴿بِيضٌ وَحُمْرٌ﴾ وَصُفْر ﴿مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا﴾ بِالشِّدَّةِ وَالضَّعْف ﴿وَغَرَابِيبُ سُودٌ﴾ عَطْف عَلَى جُدَد أَيْ صُخُور شَدِيدَة السَّوَاد يُقَال كَثِيرًا أَسْوَد غِرْبِيب وَقَلِيلًا غِرْبِيب أَسْوَد ﴿وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَابِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَٰلِكَ﴾ كَاخْتِلَافِ الثِّمَار وَالْجِبَال ﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾ بِخِلَافِ الْجُهَّال كَكُفَّارِ مَكَّة ﴿إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ﴾ فِي مُلْكه ﴿غَفُورٌ﴾ لِذُنُوبِ عِبَاده المؤمنين ﴿إن الذين يتلون﴾ يقرؤون ﴿كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ﴾ أَدَامُوهَا ﴿وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً﴾ زَكَاة وَغَيْرهَا ﴿يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّن تَبُورَ﴾ تَهْلِك ﴿لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ﴾ ثَوَاب أَعْمَالهمْ الْمَذْكُورَة ﴿وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِ إِنَّهُ غَفُورٌ﴾ لِذُنُوبِهِمْ ﴿شَكُورٌ﴾ لِطَاعَتِهِمْ ﴿والذی أوحينا إليك من الكتاب﴾ القرآن ﴿هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ تَقَدَّمَهُ مِنَ الْكُتُب ﴿إِنَّ اللَّهَ بِعِبَادِهِ لَخَبِيرٌ بَصِيرٌ﴾ عَالِم بِالْبَوَاطِنِ وَالظَّوَاهِر ﴿ثُمَّ أَوْرَثْنَا﴾ أَعْطَيْنَا ﴿الْكِتَابَ﴾ الْقرآن ﴿الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا﴾ وَهُمْ أُمَّتك ﴿فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ﴾ بِالتَّقْصِيرِ فِي الْعَمَل بِهِ ﴿وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ﴾ يَعْمَل بِهِ أَغْلَب الْأَوْقَات ﴿وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ﴾ يَضُمّ إِلَى الْعِلْم التَّعْلِيم وَالْإِرْشَاد إِلَى الْعَمَل ﴿بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ بإرادته ﴿ذلك﴾ اي إيراثهم الكتاب ﴿هو الفضل الكبير﴾ ﴿جَنَّاتُ عَدْنٍ﴾ أَيْ إِقَامَة ﴿يَدْخُلُونَهَا﴾ الثَّلَاثَة بالبناء للفاعل والمفعول خَبَر جَنَّات الْمبتدأ ﴿يُحَلَّوْنَ﴾ خَبَر ثَانٍ ﴿فِيهَا مِنْ﴾ بَعْض ﴿أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا﴾ مُرَصَّع بالذهب ﴿ولباسهم فيها حرير﴾ ﴿وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ﴾ جَمِيعه ﴿إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ﴾ لِلذُّنُوبِ ﴿شَكُورٌ﴾ لِلطَّاعَةِ ﴿الَّذِي أَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ﴾ الْإِقَامَة ﴿مِن فَضْلِهِ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ﴾ تَعَب ﴿وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ﴾ إِعْيَاء مِنَ التَّعَب لِعَدَمِ التَّكْلِيف فِيهَا وَذِكْر الثَّانِي التَّابِع لِلْأَوَّلِ لِلتَّصْرِيحِ بِنَفْيِهِ ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقْضَىٰ عَلَيْهِمْ﴾ بِالْمَوْتِ ﴿فَيَمُوتُوا﴾ يَسْتَرِيحُوا ﴿وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُم مِّنْ عَذَابِهَا﴾ طَرْفَة عَيْن ﴿كَذَٰلِكَ﴾ كَمَا جَزَيْنَاهُمْ ﴿نَجْزِي كُلَّ كَفُورٍ﴾ كَافِر بِالْيَاءِ وَالنُّون الْمَفْتُوحَة مَعَ كَسْر الزَّاي وَنَصْب كُلّ ﴿وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا﴾ يَسْتَغِيثُونَ بِشِدَّةٍ وَعَوِيل يَقُولُونَ ﴿رَبَّنَا أَخْرِجْنَا﴾ مِنْهَا ﴿نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ﴾ فيقال لهم ﴿أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم مَّا﴾ وَقْتًا ﴿يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ﴾ الرَّسُول فَمَا أَجَبْتُمْ ﴿فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ﴾ الْكَافِرِينَ ﴿مِن نَّصِيرٍ﴾ يَدْفَع الْعَذَاب عَنْهُمْ

ترجمه: اې مخاطب آيا تا دې خبرې ته نظر اونکړو چې الله د اسمان نه اوبه نازلې کړې بيا مونږ د دې اوبو له ذريعه مختلف رنګونو والا ميوې پيدا کړې، په دې کښې د غائب نه متکلم ته التفات دې لکه شين، سور او زيړ وغيره او په غرونو کښې هم مختلف قسم لارې دی جدد د

جدة جمع ده، د غر لارو وغیره ته وائی مثلا سپینې او سرې او زیړ، او هغه رنګ د تیز والی او پیکوالی په اعتبار سره مختلف دی او ډیرې زیاتې تورې هم ددې عطف په جدد باندې دې، یعنی ډیرې زیاتې تیز رنګ والا کاڼړی، کثیر الاستعمال اسود غربیب دې، او قلیل الاستعمال غریب اسود دې او دغه شان په انسانانو څناورو او چوپایانو کښې هم داسې دی، د میوو او ګلونو د اختلاف په شان ددوی رنګونه هم مختلف دی، د الله نه هغه بندګان ویرېږی څوک چې د هغه د عظمت علم لری، په خلاف د جاهلانو، لکه د مکې کافران، واقعی الله تعالی په خپله بادشاهئ کښې زبردست او د خپل مومنانو بندګانو ګناهونو لره معاف کونکې دې، بې شکه چې څوک د الله د کتاب تلاوت کوی، او د مونځ پابندی کوی او مونږ چې څه دوی ته ورکړې دی د هغې نه په پټه او په ښکاره د زکواة وغیره په توګه خرچ کوی، هغوی د داسې تجارت امید ساتی چې کله به په تاوان کښې نه وی، چې هغوی ته ددې پورا بدله میلاؤ شی، یعنی د ددوی د ذکر شوې اعمالو ثواب، او هغوی ته خپل فضل نه نور هم زیات ورکړی، بې شکه هغه ګناهګارانو لره ډیر بخښونکې او ددوی د تابعدارئی قدر کونکې دې، او دا کتاب قرآن کوم چې مونږ تاسو ته د وحی په ذریعې سره لیږلې دې هغه بالکل ټهیک دې، کوم چې د خپل مخکښنی کتابونو هم تصدیق کوی، بې شکه الله تعالی د خپل بندګانو د حالت پورا خبر لرونکې او ښه کتونکې دې، یعنی د پټ او ښکاره عالم دې، بیا مونږ ددې کتاب قرآن هغه خلق وارثان جوړ کړل کوم چې مونږ په خپلو بندګانو کښې خوښ کړل، او هغه ستا امت دې نو په دې کښې بعضو په خپل ځان باندې په دې کتاب باندې په عمل کولو کښې په کوتاهئ سره ظلم کوی، او څه په دوی کښې مینځنی درجه کښې دی، چې اکثر وختونه په دې باندې عمل کوی او بعضې په دوی کښې داسې دی چې د الله په مشیت او توفیق سره نیکو کښې ترقی کوی یعنی په قرآن باندې عمل کولو سره سره تعلیم او د عمل رهنمائی هم یوځائې کوی، دا یعنی ددې کتاب وارث جوړول د الله فضل دې، هغه همیشه د اوسیدو باغونه دی چې په هغې کښې به دا درې واړه ډلې داخلیږی، یدخلون معروف او مجهول دواړه دی، یدخلونها، د جنات مبتدأ خبر دې، په جنت کښې به دوی ته د سرو کړئې او د سرو نه بنړلې شوې ملغلرې ورته اچولې شی، او ددوی لباس به په جنت کښې د ریښمو وی، او دوی به وائی چې د الله په لګهونو شکر دې، چې هغه زمونږ نه ټول غمونه لرې کړل بې شکه زمونږ پروردګار د ګناهونو ډیر بخښونکې دې او د طاعاتو قدردان دې، چا چې مونږ په خپل فضل سره د همیشه د اوسیدو ځائې کښې داخل کړو، چرته چې به مونږ ته نه څه تکلیف میلاویږی او نه به څه ستړې والې وی، یعنی د ستړی والی د وجې نه ستومانی، په جنت کښې تکلیف نه موجودیدو د وجې نه، او دویم یعنی د لعوب ذکر، کوم چې د اول (د نصب تابع) دې، صراحتا د ستړی والی د نفی د پاره دې. او د کافرانو د پاره د جهنم اور دې، نه به دوی ته مرګ رازی چې په مړونو باندې ارام

او مونی، او نه به ددوی نه لږ وخت د پاره د دوزخ اور سپکولې شی، څنګه چې دوی ته مونږ سزا ورکړه، داسې به مونږ هر کافر ته سزا ورکوو، د یاء او د نون په فتحې سره، د زاء په کسرې سره، او د کلّ په نصب سره، او دغه خلق به په جهنم کښې فریاد کوی، یعنی د سختوالی د وجې نه به هائې هائې اوازونو کولو سره وائی اې زمونږ پروردګاره مونږ خو ددې نه اوباسه، مونږ به د هغه کارونو نه خلاف کوو کوم چې به مو کول، نیک کارونه به کوو، نو دوی ته به جواب ورکړې شی، چې مونږ تاسو ته دومره عمر درکړې وو چې څوک پوهیدل نو هغوی پوهیدلې شو، او تاسو ته ویرولو والا رسول هم راغلې وو، نو تاسو د هغه دعوت قبول نه کړو، نو مزه اوڅکئ، د داسې ظالمانو کافرانو به څوک مددګار نه وی، چې ددوی نه عذاب لرې کړی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: الم تر: دا کلام مستانف دې، دا د غالب قدرت، کمالِ حکمت او عجیبه کاریګرې بیانولو د پاره راوړې شوې دې، او د رؤیت نه مراد رؤیتِ قلبی دې، څنګه چې مفسر علام د (تری) تفسیر په (تعلم) سره کولو سره اشاره کړې ده، (ان) خپل اسم او خبر سره د (تری) په معنی د تعلم، د دوو مفعولو قائم مقام دې، او مخاطب حضور ﷺ دې او هر هغه کس مخاطب کیدې شی چا کښې چې د مخاطب جوړیدو صلاحیت وی.

قوله: فاخرجنا به: ای بالماء، (فاخرجنا) په دې کښې د غائب نه متکلم طرف ته التفات دې، او نکته په دې التفات کښې د صنعتِ بدیع طرف ته د عنایت اظهار کول دی، ځکه چې د انزال په مقابله کښې په اخراج کښې زیات احسان او صنعتِ بدیع دې.

قوله: مختلفا الوانها: د دې نصب د ثمرات د صفت د وجې نه دې، او د الوان نه مراد مختلف اقسام دی، ای بعضها ابیض او بعضها احمر وبعضها اصفر بعضها اخضر وبعضها اسود.

قوله: جدد: جمع جدة، په معنی د لارې، او بعضې حضراتو وئیلې دی چې جدة په معنی د قطعة دې، یقال جددت الشئ ای قطعته، او جوهری وئیلې دی چې جدة هغه لکیرو ته وائی کومې چې د ځنګلی خر په شا باندې وی.

قوله: مختلف الوانها: الوانها د مختلف فاعل دې، بیا جمله د جدد صفت دې، او د غرابیب عطف په جدد باندې دې، او سود غرابیب نه بدل دې، یعنی ډیر زیات تور غرونه، غربیب د اسود تاکید یا صفت دې، څنګه چې الاحمر القانی کښې قانی د احمر صفت دې یا تاکید دې، د مبالغې د وجې نه صفت یعنی تاکید مقدم کړې دې، ګنی عام طور صفت د موصوف نه او تاکید د مؤکد نه روستو وی، او دا د اصل مطابق دې، ځکه اسود غربیب کثیر الاستعمال دې، او غربیب اسود خلاف القیاس کیدو د وجې نه قلیل الاستعمال دې.

قوله: ومن الناس: خبر مقدم دې، مختلف الوانه د موصوف محذوف صفت دې، ای

صنف مختلف الوانه من الناس،

قوله: كذلك د مصدر محذوف صفت دې، اى اختلافاً كذلك،

قوله: انما يخشى الله من عباده العلماء: چونكه د ويرې تعلق د څيز په پيژندګلو باندې موقوف وى چاته چې څومره زيات معرفت حاصل وى دومره به هغه زيات ويريدونكې وى، چنانچه په حديث كښې راغلي دى انا اخشاكم لله واتقاكم له او په شاذ قرامت كښې د لفظ الله په رفع سره او د علماء په نصب سره هم وئيلې شوې دې، خو په دې صورت كښې به يخشى په معنى د يعظم وى، يعنى الله تعالى د خان نه ويريدونكو خلق قدر كوى.

قوله: ان الله عزيز غفور: دا د خشيت د وجوب علت دې، مطلب دادې چې هر انسان له د هغه نه ويره پكار ده چې هغه په هر څيز باندې غالب او قاهر دې، او ګناه ګارو له معاف كونكې دې،

قوله: يرجون تجارة: د ان خبر دې،

قوله: سراوعلانية: د نزع حافض د وجې نه منصوب دې، اى فى السر والعلانية او د حال كيدو د وجې منصوب هم كيدې شى، اى مسرين ومعلنين، لن تبور فعل مضارع منصوب بلن ده، او جمله دتجارة صفت دې، او مضاف محذوف دې، اى يرجون ثواب تجارة لن تبور، تبور (ن) بوار، هلاكيدل، ختميدل، تبور واحد مؤنث حاضر، هغه هلاكه شوه، هغه خرابه شوه.

قوله: ليوفيهم اجورهم: كښې لام عاقبة دې.

قوله: والذي: الذى موصول، اوحينا اليك جمله صله، موصول د صلې سره مبتدأ، (من الكتاب) كښې (من) بيانيه دې، (هو) مبتدأ (الحق) خبر، مبتدأ خبر د (الذى) مبتدأ خبر، او بعضې حضراتو (هو) ته ضمير فصل وئيلې دى، او (الحق) ئې د (الذى) مبتدأ خبر ګرځولې دې.

قوله: مصدقاً: د الكتاب نه حال دې،

قوله: ثم اورثنا اعطينا: (ثم) د بُعد رتبى د بيانولو د پاره دې، او د اورثنا تفسير په اعطينا سره كولو كښې دې خبرې ته اشاره ده چې څنګه ميراث بغير د سترې او ستونزې نه حاصليږى دغه شان كتاب (القرآن) هم امت ته بغير د سترې ستونزې نه حاصل شوې دې،

قوله: من عبادنا: كښې (من) بيانيه او تبعيضيه دواړه كيدې شى،

قوله: اورثنا: فعل بافاعل دې، الكتاب مفعول به ثانى مقدم دې، او (الذين) مفعول اول مؤخر دې، او اصطفينا جمله د الذين صله ده، او من عبادنا حال دې،

قوله: مقتصد: اقتصاد نه اسم فاعل دې، واحد مذكر، په نيغه لاره قائم، درميانه چليدل،

قوله: مرصع بالذهب: دا تفسير د لؤلؤ د جر د قراءت په صورت كښې دې، او كه لؤلؤا نصب والا قراءت وى نو د (من اساور) په محل باندې به عطف وى، يدخلون او يحلون دا تغليبا دى، گنى دغه حكم خو د ښځو هم دې.

قوله: الحزن: دا د باب سمع مصدر دې. په معنى د غم، او پريشانه كيدل. شارح علام د جميعه اضافه كولو سره دې خبرې ته اشاره كړې ده چې د هر قسم غم ازاله مراد ده. برابره ده كه د معاش غم وى او كه د معاد، مطلب دا چې په جنت كښې به د هيڅ څيز غم نه وى

قوله. قالوا: د ماضى صيغه د يقينى واقع كيدو د وجې راوړې ده.

قوله: احلنا: دا دحل يحل حلولانه ماخوذ دې، په معنى د داخليدو سره.

قوله: المقامة: دا د باب افعال نه مصدر ميمى دې، په معنى د هميشه اوسيدل.

قوله: نصب: ستړې والې، تكليف

قوله: لغوب: لغوب مصدر او اسم مصدر دې، سستى، ستومانى، كمزورې كيدل.

قوله: ذكر الثانى التابع الاول: د مفسر علام مقصد ددې عبارت نه د يو شبهې جواب وركول دى.

شبه: دا ده چه نَصَب (ستړې والې) سبب، او لُغُوبْ (سستى)، مسبب دې، او انتفاء د سبب انتفاء د مسبب لره مستلزم وى، او لايمسنا فيها نصب كښې د سبب نفى ده، لهذا د لغوب هم نفى اوشوه، دوباره د لغوب د نفى كولو څه ضرورت وو.؟

جواب: خلاصه دا ده چې اگرچې د سبب نفى د مسبب نفى لره مستلزم وى خو دا نفى ضمنا او تبعا وى، د لغوب نفى كولو سره ئې مستقلا د نفى طرف ته اشاره اوكړه

قوله: يصطرخون: د اصطراخ نه جمع م... ائب، هغوى به چغې وهى، (افتعال) "تاء" په "طاء" سره بدله كړې شوه

قوله: العويل: رفع الصوت بالبكاء په چغه ژړل.

قوله: اولم نعمركم ما: دا جمله د قول محذوف مقوله ده، اى فيقال لكم همزه استفهام د توبيخ انكارى د پاره ده، د واؤ عاطفه په ذريعې په محذوف باندې عطف دې، اى الم نمهلكم ونؤخركم عمرا يتذكر فيه من تذكر، (ما) نكره موصوفه په معنى د وخت، او يتذكر جمله صفت دې

قوله: ما جيتم: ددې عبارت د اضافې مقصد د يوې شبهې جواب دې.

شبه داده چې د ظاهر آيت نه دا معلوميږى چې د اذاقت عذاب ترتب په مهلت د رسول باندې مرتب دې، حالانكه دا خلاف واقع دې،

جواب: د جواب خلاصه داده چې اذاقت عذاب به محذوف باندې مرتب دې، نه چې په مجئيت رسول باندې، او هغه محذوف فما اجبتم دې.

[ایاتونه ۳۸ ـ ۴۵]

﴿إن الله عالم غيب السماوات والأرض إنه عليم بذات الصدور﴾ بما في القلوب فعلمه بغيره أولى بالنظر إلى حال الناس ﴿هو الذي جعلكم خلائف في الأرض﴾ جمع خليفة أي يخلف بعضكم بعضا ﴿فمن كفر﴾ منكم ﴿فعليه كفره﴾ أي وبال كفره ﴿ولا يزيد الكافرين كفرهم عند ربهم إلا مقتا﴾ غضبا ﴿ولا يزيد الكافرين كفرهم إلا خسارا﴾ للآخرة ﴿قل أرأيتم شركاءكم الذين تدعون﴾ تعبدون ﴿من دون الله﴾ أي غيره وهم الأصنام الذين زعمتم أنهم شركاء الله تعالى ﴿أروني﴾ أخبروني ﴿ماذا خلقوا من الأرض أم لهم شرك﴾ شركة مع الله ﴿في﴾ خلق ﴿السماوات أم آتيناهم كتابا فهم على بينة﴾ حجة ﴿منه﴾ بأن لهم معي شركة لا شيء من ذلك ﴿بل إن﴾ ما ﴿يعد الظالمون﴾ الكافرون ﴿بعضهم بعضا إلا غرورا﴾ باطلا بقولهم الأصنام تشفع لهم ﴿إن الله يمسك السماوات والأرض أن تزولا﴾ أي يمنعهما من الزوال ﴿ولئن﴾ لام قسم ﴿زالتا إن﴾ ما ﴿أمسكهما﴾ يمسكهما ﴿من أحد من بعده﴾ أي سواه ﴿إنه كان حليما غفورا﴾ في تأخير عقاب الكفار ﴿وأقسموا﴾ أي كفار مكة ﴿بالله جهد أيمانهم﴾ غاية اجتهادهم فيها ﴿لئن جاءهم نذير﴾ رسول ﴿ليكونن أهدى من إحدى الأمم﴾ اليهود والنصارى وغيرهم أي أي واحدة منها لما رأوا من تكذيب بعضهم بعضا إذ قالت اليهود ليست النصارى على شيء وقالت النصارى ليست اليهود على شيء ﴿فلما جاءهم نذير﴾ محمد صلى الله عليه وسلم ﴿ما زادهم﴾ مجيئه ﴿إلا نفورا﴾ تباعدا عن الهدى ﴿استكبارا في الأرض﴾ عن الإيمان مفعول له ﴿ومكر﴾ العمل ﴿السيء﴾ من الشرك وغيره ﴿ولا يحيق﴾ يحيط ﴿المكر السيء إلا بأهله﴾ وهو الماكر ووصف المكر بالسيء أصل وإضافته إليه قبل استعمال آخر قدر فيه مضاف اليه حذرا من الإضافة إلى الصفة ﴿فهل ينظرون﴾ ينتظرون ﴿إلا سنة الأولين﴾ سنة الله فيهم من تعذيبهم بتكذيبهم رسلهم ﴿فلن تجد لسنة الله تبديلا ولن تجد لسنة الله تحويلا﴾ أي لا يبدل بالعذاب غيره ولا يحول إلى غير مستحقه ﴿أولم يسيروا في الأرض فينظروا كيف كان عاقبة الذين من قبلهم وكانوا أشد منهم قوة﴾ فأهلكهم الله بتكذيبهم رسلهم ﴿وما كان الله ليعجزه من شيء﴾ يسبقه ويفوته ﴿في السماوات ولا في الأرض إنه كان عليما﴾ أي بالأشياء كلها ﴿قديرا﴾ عليها ﴿ولو يؤاخذ الله الناس بما كسبوا﴾ من المعاصي ﴿ما ترك على ظهرها﴾ أي الأرض ﴿من دابة﴾ نسمة تدب عليها ﴿ولكن يؤخرهم إلى أجل مسمى﴾ أي يوم القيامة ﴿فإذا جاء أجلهم فإن الله كان بعباده بصيرا﴾ فيجازيهم على أعمالهم بإثابة المؤمنين وعقاب الكافرين

ترجمه بې شکه الله تعالی د اسمانونو او زمکې په پټو څیزونو باندې پوهیدونکې دې، بې شکه هغه د زړونو د رازونو نه خبردار دې، لهذا د زړه د رازونو نه علاوه په نورو باندې خو په طریق اولی خبردار دې، او اولویت د خلقو د احوالو په اعتبار سره دې، هم هغه ذات دې

چا چې تاسو په زمکه کښې آباد کړئ، خلائف، د خليفة جمع ده، يعنى بعضې د بعضې جانشين وى، نو چا چې تاسو نه کفر اوکړو نو هم په هغه باندې د هغه کفر دې، يعنى د کفر وبال او سزا، او د کافرانو د پاره د دوى کفر د دوى د پروردگار په نيز باندې د غصې باعث دې، او د کافرانو کفر په آخرت کښې ددوى په تاوان کښې د زياتوالى باعث دې، تاسو ورته اووايئ چې آيا تاسو د خپلو فرضى شريکانو حال کتلې دې؟ د چا چې تاسو د الله نه علاوه بندگى کوئى؟ يعنى د الله نه غير، او هغه بتان دى، چې د چا باره کښې تاسو يقين ساتئ چې دا د الله شريکان دى، ماته اووايئ چې هغوى د زمکې کومه حصه پيدا کړې ده؟ يا د هغوى الله سره د اسمانونو په پيدا کولو کښې شرکت دې؟ يا مونږ دوى ته څه کتاب ورکړېدې، ؟ چې د هغې د وجې دوى په دليل باندې قائم دى، په دې کښې يو خبره هم نشته، بلکه دا ظالمان کافران يو بل ته وائى چې دا بتان بهٔ ددوى سفارش کوى، خالص د دهوکې وعدې کوى، بې شکه الله تعالى اسمانونو او زمکې لره د غورځيدلو نه راټينګ کړې دې، والله که چرې هغه راوغورزيږى نو دده نه علاوه څوک هغې لره راټينګونکې نشته، بې شکه هغه د کافرانو په عذاب کښې روستوالى کولو والا غفورو رحيم دې، او د مکې خلقو دالله ډير زوردار قسمونه اوخوړل که چرې دوى ته رسول راغې نو دوى به د هر امت نه يعنى د يهوديانو عيسايانو نه زيات هدايت قبلولو والا وى، يعنى په دې دوارو کښې د هر يو نه «دا د هغه وخت خبره ده» چې کله دوى اوکتل چې يهود او نصارى د يو بل تکذيب کولو سره اووئيل چې نصارى په حق باندې نه دى او نصارى اووئيل چې يهود په حق باندې نه دى، چې کله دوى ته ويرونکې يعنى محمد ﷺ راغلو نو د هغه په راتلو سره ئې په نفرت يعنى د هدايت نه په لرې کيدلو کښې اضافه اوکړه، په دنيا کښې د ايمان نه تکبر کولو د وجې نه او ددوى د شرک وغيره په خرابو تدبيرونو کښې زياتوالې اوشو، استکبارا د نفورا مفعول له دې، او د خراب تدبيرونو وبال په خپله تدبير کولو والا باندې راځى، او هغه خراب تدبير کونکې دې، او د مکر صفت په سيئ سره اصل «استعمال» دې، مخکښې د مکر اضافت سيئ طرف ته بل استعمال دې، په دې کښې د اضافتِ موصوف الى الصفت نه د بچ کيدو د پاره مضاف محذوف گنړلې شوې دې، «معلوميږى» چه دا خلق صرف د الله د هغه دستور په انتظار دى، کوم چې مخکښې خلقو سره کيدلو، او هغه دستور دوى لره د خپلو رسولانو د تکذيب د وجې نه په عذاب کښې مبتلا کول دى، نو تاسو به چرې هم د الله په دستور کښې تبديلى اونه گورئى، او د الله په دستور کښې به بدليدل هم اونه وينې، يعنى عذاب په غير عذاب سره نه بدليږى، او دغه شان د مستحق نه غير مستحق ته به نه منتقل کيږى، نو ايا دا خلق په زمکه باندې نه گرځى چې اوگورى چې د مخکښې خلقو څهٔ انجام شو؟ حالانکه هغوى په قوت کښې ددوى نه زيات وو، نو الله هغوى لره هغوى د رسول دتکذيب د وجې نه هلاک کړل، او الله داسې نه دې چې په اسمانو او زمکه

کښې څوک هغه ته شکست ورکړي، چې د هغه نه مخکښې شي، او هغه نه بچ اوځي، او هغه په ټولو څيزونو باندې خبردار دې، او په دوی باندې قادر دې، او که الله تعالى خلقو له ددوی د ګناهونو د وجې نه نيول شروع کړی نو په مخ د زمکې به يو کس هم پاتې نه کړي، چې په زمکه باندې اوګرځي، (يعنی ژوندی پاتې شي) خو الله تعالى هغوی ته د يو وخت مقرر يعنی د قيامت ورځ پورې مهلت ورکوی نو چې کله ددوی وخت راشي نو الله تعالى به په خپله خپلو بندګانو سره پوهه شي، نو هغه به دوی ته ددوی د اعمالو بدله ورکړي، مؤمنينو ته ثواب ورکولو سره او کافرانو ته سزا ورکولو سره.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: انه عليم بذات الصدور: دا د عالم غيب السموات والارض علت دې، يعنی کوم ذات چې د سينې د رازونو نه خبردار دې، نو ددې نه په علاوه باندې په طريقهٔ اولی خبردار وی، ان الله عالم غيب السموات والارض دا دعوی ده، انه عليم بذات الصدور دعوې دليل دې، او فعلمه بغيره اولی دا نتيجه ده.

قوله: بالنظر الى حال الناس: داد يو سوال مقدر جواب دې، سوال دا دې چې د الله تعالى په علم کښې د اولويت واولويت په اعتبار سره څه فرق نه راځي، بلکه د هغه ته ټول څيزونه يو برابر ښکاره دی، د الله په علم حضوری کښې دې خبرې سره څه فرق نه پريوزی چې بعضې څيزونه د انسانانو د پاره پټ وی او بعضې ښکاره وی؟

جواب: د الله د طرف نه د اولويت نسبت د انسانانو د عادت په اعتبار سره دې چې انسان کله د پټ څيز نه خبردار وی نو د ښکاره نه به په طريقهٔ اولی خبردار وی،

قوله: ولا يزيد الكافرين: الخ دا د کفر د وبال او د هغې د انجام بيان دې،

قوله: قل ارايتم: (الأية) په دې کښې د اعراب په اعتبار سره دوه صورتونه دی، ① همزه استفهاميه او (اروني) د امر تعجيز د پاره جمله معترضه ده، په دې صورت کښې به دا د باب تنازع فعلان نه وی، او اروني ماذا خلقوا من الارض دا د ارايتم نه بدل الاشتمال دې، اى اخبروني عن شركائكم واروني اى شيئ خلقوا من الارض حتى يستحقوا الالهية والشركة، بعضې حضراتو وئيلې دی چې اروني د ارايتم نه بدل الكل دې، خو ابوحيان بدل ته ناجائز وئيلې دی، ددوی وينا ده چې کله مبدل منه باندې همزه استفهام راخل شي نو ضروری ده چې په بدل باندې هم داخل وی، او دلته داسې نه ده، او ابدال جمله عن الجملة په لغتِ عربی کښې معروف نه دې، او بدل د عامل د تکرار په نيت سره وی، او دلته مبدل منه يعنی ارايتم کښې عامل نشته.

② دویم احتمال دادې چې دا جمله د باب تنازع فعلان نه وی، په دې صورت کښې به ارایتم د باب افعال نه وی، او د اخبرونی په معنی به وی متعدی په دوه مفعولو سره وی، مفعول اول (نی) دې، دویم مفعول ته ددې ضرورت دې. دویم فعل ارونی دې، دا هم متعدی بدومفعول دې، یو مفعول دې سره متصل (نی) دې، د دې هم دویم مفعول ته ضرورت دې، او دویم مفعول چې په کوم کښې تنازع ده هغه ماذاخلقوامن الارض دې، چې په هغې کښې ارونی اوارایت تنازع کوی، د بصریین د مختار مذهب مطابق دویم فعل ارونی ته عمل ورکړې شو.

قوله: شرکائهم: دا اضافت د ادنی مناسبت د وجې دې، ځکه چې مشرکینو دوی لره د الله شریکان جوړ کړې وو، یا اضافت ددې وجې دې چې مشرکانو بتانو لره په حقیقت کښې په خپلو مالونو کښې شریک کړې وو، او باقاعده په خپلو مالونو کښې به ئې د بتانو حصه ساتله، ددوی د نوم قربانی به ئې کوله.

قوله: امراتیناهم: د(هم)نه مراد مشرکین دی، بعضې حضراتو وئیلې دی چې شریکان مراد دی، یعنی آیا مونږ مشرکینو لره یا شریکانو لره څه داسې کتاب ورکړې دې، چې په هغې کښې لیکلې وی، چې ځما په قدرت کښې ځما څوک شریک شته؟ لاشیٔ من ذلك، سره ئې اشاره اوکړه چې دااستفهام انکاری دې، او دا جمله د ذکر شوې درې واړو استفهامونو جواب دې.

قوله: شرکة: د شرک تفسیر په شرکة سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې شرک مصدر په معنی دشرکة دې، (لغات القرآن)

قوله: بعضهم: دظالمون نه بدل دې.

قوله: یمنعهمن الزوال: دې سره ئې دې خبرې ته اشاره ده چې ان تزولا د حرف جر (من)د اسقاط سره په تاویل د مصدر د یمسك مفعول ثانی دې، او یمسك د یمنع په معنی کښې دې، او زجاج وئیلې دی چې مفعول له دې، ای مخافة ان تزولا.

قوله: ولئن زالتا: په دې کښې قسم او شرط دواړه جمع دی، ان امسکهما جواب قسم دې، او د قاعدې معروفې په اعتبار سره جواب شرط محذوف دې، کوم باندې چې جواب قسم دلالت کوی،

واحذف لدی اجتماع شرط وقسم جواب ما اخرت فهوا ملتزم

قوله: من احد: من په فاعل باندې زائد دې، (احد) لفظا مجرور او محلا مرفوع دې.

قوله: سواه: دا د (من بعده) تفسیر دې، یعنی بُعد د غیر په معنی کښې دې، او په من بعده کښې (من) ابتدائیه دې،

قوله: انه كان غفورا رحيما: دا د يمسكهما السموات والارض علت دې، يعنى غفور او رحيم كيدو د وجې نه ئ زمكه او اسمان د غورزيدو نه منع كړې دى، يعنى كفر او شرک په حقيقت كښې داسې جرمونه دى چې د هغې سزا زر ميلاويدل پكار دى، خو هغه د صفت رحمت د وجې نه په عذاب كښې روستوالې كوى.

قوله: جهد ايمانهم: مفسر علام د جهد تفسير په غاية ايمانهم سره كړې دې، اشاره ئ اوكړه چې جهد د مصدريت د وجې نه منصوب دې، او دا هم صحيح ده چې د حال كيدو د وجې نه منصوب وى، اى اقسموا بالله جاهدين، جهد د جيم په فتحې سره، پورا طاقت لګول او كوشش كول. جهد بالضم په معنى د طاقت سره، د مشركين مكه دا عادت وو چې عام طور به ئې د بتانو قسمونه خوړل، خو چې كله به ئ په يو كار باندې يقين او باور كول مقصود وو، نو قسم د زيات مضبوطولو او مؤكد كولو د پاره به ئې د الله قسمونه خوړل.

قوله: ليكونن: دا بالمعنى حكايتِ حال دې، ګنى د مقام خو تقاضه دا وه چې لتكونن وې.

قوله: فلما جاءهم نذير: لما حرف شرط دې، او ما زادهم الا نفورا جواب شرط دې، دلته لما ظرفيه منل صحيح نه دى، ځكه چې د (ما) نافيه مابعد په ماقبل كښې عمل نه كوى، او د نفرت د زياتوالى اسناد نذير طرف ته يا د مجيئت طرف ته اسناد مجازى دې، ځكه چې نذير د نفرت سبب دې، ګنى د نذير كار د نفرت پيدا كول يا په نفرت كښې زياتوالې نه دې.

قوله: استكبارا: دا د نفورا مفعول له دې، يعنى د مشركينو د ايمان په مقابله كښې تكبر او لوئ د وجې نه ددوى په نفرت كښې اضافه اوشوه، دا رنګ د نفورا نه بدل واقع كيدل هم صحيح دى، او د زادهم د ضمير نه حال هم كيدې شى، اى ما زادهم الا نفورا حال كونهم مستكبرين:

قوله: ومكر العمل السيئ: ددې عطف په استكبارا يا په نفورا دې، يعنى د مشركينو په نفرت كښې د اضافې سبب د ايمان نه اعراض او د خراب عملونو تدبيرونه دى، يا په نفرت كښې اضافه د تكبر او د خراب تدبير په وجه وه، په مكر السيئ كښې اصل استعمال المكر السيئ يعنى په تركيب توصيفى سره دې او په ماقبل جمله كښې چه په تركيب اضافى سره كوم استعمال شوې دې هغه خلاف اصل دې ځكه چه په هغې كښې د موصوف اضافت صفت طرف ته كيږى كوم چې اضافت الشئ الى نفسه د قبيلې نه دې، او ممنوع دې، ددې نه د بچ كيدو د پاره مفسر علام "العمل" مضاف اليه محذوف ګڼلې دې كوم چې د السئ موصوف دې، په دې طريقې سره اضافت الموصوف الى الصفت اعتراض ختم شو، ځكه چې په دې صورت كښې د (مكر) اضافت (العمل) طرف ته دې، نه چې د السيئ طرف ته، او د بعضې حضراتو په نيز د مكر السيئ اصل أن مكروا مكر السيئ دې، موصوف

یعنی المکر ئې د صفت یعنی د السيئ د وجې نه د مستغنی کیدو د وجې نه حذف کړو، بیا فعل سره د ان مصدریه یعنی د مکرنه ئې بدل کړو، بیا اتساعاد مصدر اضافت، د صفت یعنی د السيئ طرف ته اوکړې شو، نو مکرالسيئ ترې جوړ شو

قوله: وصف المکر بالسيئ اصل واضافته الیه قبل استعمال آخر قدر فیه مضاف الیه حذرا من االاضافة الی الصفة: د شارح ددې عبارت نه مقصد دا دی چې د مکر السيئ اصل او د قاعدې مطابق استعمال خو په ترکیب توصیفی لازمیږی څنګه چې ولا یحیق المکر السيئ الا باهله کښې دې، او اضافت سره استعمال خلاف اصل دې، څنګه چې مکر السيئ کښې دې، ځکه چه په دې صورت کښې د اضافت الشيئ الی نفسه قباحت لازمیږی، چونکه څیز او وصف د څیز هم یو وی ځکه مفسر علام (العمل) مضاف الیه محذوف منلې دې چې د اضافت الی الصفت اعتراض لازم نشی، العمل محذوف ګنړولو نه پس د مکر اضافت صفت یعنی السيئ طرف ته نه دې بلکه د السيئ موصوف یعنی العمل طرف ته دې، او په دې کښې هیڅ قباحت نشته.

قوله: الا سنت الاولین: د دې تفسیرئې په سنة الله فیهم سره کولو کښې اشاره اوکړه چې مصدر مفعول طرف ته مضاف دې،

قوله. اولم یسیروا فی الارض: کښې واؤ عاطفه دې، او همزه محذوف باندې داخله ده تقدیری عبارت دادې اترکوا السفر ولم یسیروا فی الارض: دا جمله په دې خبره باندې دلالت کوی چې د الله په دستور کښې تبدیلی نه رازی، کومه معامله چې مخکښې منکرینو او مشرکینو سره الله کړه وه هغه به دوی سره هم اوکړی، همزه استفهام انکاری ده، چې د هغې د وجې نفی النفی د اثبات فائده ورکړه، مطلب دادې چې دا خلق سفر کوی او دقوم صالح، لوط او شعیب وغیره نبیانو کوری خو هغې نه عبرت نه حاصلوی.

قوله: بما کسبوا: کښې باء سببیه ده او (ما) مصدریه یا موصوله ده، ای بسبب کسبهم او بسبب الذی کسبوه.

قوله: نسمة: ساه والا متنفس ته وئیلې شی، جمع ئې نَسَمٌ ده

قوله: فیجازیهم: مفسر علام په دې عبارت سره اشاره اوکړه چې اذاجاء اجلهم شرط دې، او ددې جزاء محذوف ده، او هغه فیجازیهم ده

[۳۶] سورة يس

سورة يس مكية الا قوله: واذا قيل لهم انفقوا الاية، او مدنية و هي ثلث و ثمانون اية

سوره يٰس مكى دې سوا د "واذا قيل لهم انفقوا" آيت نه، دا مدنى دې او په دې كښې ۸۳ آيتونه دى

[اياتونه: ۱ ـ ۱۲]

بسم الله الرحمن الرحيم (يس) الله أعلم بمُرَادِهِ بِهِ (وَالْقرآن الْحَكِيمِ) الْمُحْكَم بِعَجِيبِ النَّظْم وَبَدِيع الْمَعَانِي (إِنَّكَ) يا محمد (لَمِن الْمرسلين) (عَلَى) مُتَعَلِّق بِمَا قَبْله (صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ) أَيْ طَرِيق الْأَنْبِيَاء قَبْلك التَّوْحِيد وَالْهُدَى وَالتَّأْكِيد بِالْقَسَمِ وَغَيْره رَدّ لِقَوْلِ الْكُفَّار لَهُ لَسْت مُرْسَلًا (تَنْزِيلَ الْعَزِيزِ) فِي مُلْكه (الرَّحِيمِ) بِخَلْقِهِ خَبَر مبتدأ مُقَدَّر أَيْ الْقرآن (لِتُنْذِرَ) بِهِ (قَوْمًا) مُتَعَلِّق بِتَنْزِيلِ (مَا أُنْذِرَ آبَاؤُهُمْ) أَيْ لَمْ يُنْذَرُوا فِي زَمَن الْفَتْرَة (فَهُمْ) أَيْ الْقَوْم (غَافِلُونَ) عَنْ الْإِيمَان وَالرُّشْد (لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ) وَجَبَ (عَلَى أَكْثَرِهِمْ) بِالْعَذَابِ (فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ) أَيْ الْأَكْثَر (إِنَّا جَعَلْنَا فِي أَعْنَاقِهِمْ أَغْلَالًا) بِأَنْ تُضَمّ إِلَيْهَا الْأَيْدِي لِأَنَّ الْغُلّ يَجْمَع الْيَد إِلَى الْعُنُق (فَهِيَ) أَيْ الْأَيْدِي مَجْمُوعَة (إِلَى الْأَذْقَانِ) جَمْع ذَقَن وَهِيَ مُجْتَمَع اللَّحْيَيْنِ (فَهُمْ مُقْمَحُونَ) رافعون رؤوسهم لَا يَسْتَطِيعُونَ خَفْضهَا وَهَذَا تَمْثِيل وَالْمُرَاد أَنَّهُمْ لا يذعنون للإيمان ولا يخفضون رؤوسهم له (وَجَعَلْنَا مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا) بِفَتْحِ السِّين وَضَمّهَا فِي الْمَوْضِعَيْنِ (فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ) تَمْثِيل أَيْضًا لِسَدِّ طُرُق الإيمان عليهم (وَسَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ) بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَإِبْدَال الثَّانِيَة أَلِفًا وَتَسْهِيلهَا وَإِدْخَال أَلِف بَيْن الْمُسَهَّلَة وَالْأُخْرَى وَتَرْكه (أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ) (إِنَّمَا تُنْذِرُ) يَنْفَع إِنْذَارك (مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ) الْقرآن (وَخَشِيَ الرَّحْمَنَ بِالْغَيْبِ) خَافَهُ وَلَمْ يَرَهُ (فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ) هُوَ الْجَنَّة (إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي الْمَوْتَى) لِلْبَعْثِ (وَنَكْتُبُ) فِي اللَّوْح الْمَحْفُوظ (مَا قَدَّمُوا) فِي حَيَاتهمْ مِنْ خَيْر وَشَرّ لِيُجَازُوا عَلَيْهِ (وَآثَارَهُمْ) مَا اسْتَنَّ بِهِ بَعْدهمْ (وَكُلَّ شَيْءٍ) نَصَبَهُ بِفِعْلٍ يُفَسِّرهُ (أَحْصَيْنَاهُ) ضَبَطْنَاهُ (فِي إِمَامٍ مُبِينٍ) كِتَاب بَيِّن هُوَ اللَّوْح الْمَحْفُوظ

ترجمه: شروع كوم د الله په نوم سره چې ډير مهربانه او ډير رحم والا دې، ددې نه د الله څه مراد دې، هم هغه ترې زيات خبر دې، قسم دې په دې محكم قرآن باندې كوم چې په عجيبه نظم او ناآشنا معانو سره محكم دې، بې شكه اې محمد ﷺ ته د پيغمبرانو نه يې، او په ينغه لاره باندې يې، (على) د خپل ماقبل (مرسلين) متعلق دې، او د طريق مستقيم نه مراد د مخكښې پيغمبرانو طريقه ده، كومه چې د توحيد او د هدايت لاره ده، او د قسم وغيره په ذريعه تاكيد د كافرانو خبرې (لست مرسلا) د رد د پاره دې، دا قرآن د هغه الله نازل كړه دې چې په خپله بادشاهئ كښې غالب او په خپل مخلوق باندې مهربان دې، تنزيل العزيز، د مبتدأ محذوف يعنى د القرآن خبر دې، دې د پاره چې ته داسې قوم لره خبر كړې چې د هغوى

پلار نیکه خبر کړي شوي نه وو یعنی هغوی د فترت یعني د وقفې په زمانه کښې خبر کړي شوي نه وو ، لتنذرد تنزیل متعلق دې، د دغې وجې نه د ایمان او هدایت نه بې خبر دی په دوی کښې په اکثر خلقو باندې په تقدیری توګه خبره ثابته شوې ده نو دوی اکثر خلق به ایمان نه راوړی، مونږ د دوی په ستونو کښې طوق اچولی دی په داسې طریقې سره چې هغه طوق (مزي، رسې) د دوی لاسونو لره سټ سره تړلې دی، چنانچه هغه تړلې شوي زنې پورې انختې دی، اذقان د ذقن جمع ده، او ذقن د دواړو جامو د میلاویدو ځایې ته وائی. چې د هغې د وجې دوی سرونه اوچت کړې دی، هغه خکته کولې نشی، او دا یو مثال دې، اومراد دادې چې دا خلق دا ایمان اقرار نه کوی، او نه خپل سرونه د ایمان د پاره خکته کوی، او مونږ یو بند (ارهم) د دوی مخکښې او یو ارهم د دوی شاته جوړ کړې دې، په دواړه ځایونو کښې د سین په فتحې او ضمې سره دې، چې د هغې د وجې نه مونږ په دوی پرده اچولې ده، نو دوی کتلې نشی، دا هم یو مثال دې، په دوی باندې د ایمان لارې بندولو د پاره او ستاسو د دوی ویرول او نه ویرول برابر دی، د دواړو همزو تحقیق، او دویمه همزه الف باندې بدلولو سره، او د دویمې تسهیل یعنی نرمئی سره، او د مسهله او غیر مسهله په مینځ کښې الف داخلولو سره، او نه داخلولو سره، هغوی ایمان راوړونکې نه دی، ته خو صرف هغه کس ته نصیحت کولې شې، کوم چې د نصیحت یعنی د قرآن تابعداری کوی، او غائبانه توګه باندې یعنی د رحمن د لیدلو نه بغیر د رحمن نه ویرېږی، یعنی ستاسو ویرول دوی ته فائده ورکوی، نو ته دوی ته د بښه عوض چې هغه جنت دې خوشخبری ورکړه، او بې شکه مونږ به مړی د پاسولو د پاره ژوندی کوو، او دوی چې په خپل ژوند کښې کوم خراب اعمال مخکښې لیږلې دی او کوم اعمال ئې چې روستو پریښودی دی چې د هغې په نقش قدم باندې روستو تلل اوشو مونږ هغه په لوح محفوظ کښې لیکلې دی، دې د پاره چې دوی ته د دوی د اعمالو بدله ورکړې شی او مونږ هر څیز لره په روښانه کتاب یعنی په لوح محفوظ کښې لیکلې دې، روښانه کتاب لوح محفوظ دې، کل شئ د هغه فعل مقدر د وجې نه منصوب دې، د کوم چې ددې نه پس فعل (احصیناه) تفسیر کوی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: یس: قراء سبعهٔ د نون په سکون سره وئیلې دې، ددې نه علاوه د نون ضمه، فتحه، او کسره درې واړو قراءتونو سره هم دې، خو شاذ دې

قوله: الله اعلم بمراده: د حروف مقطعات په باره کښې دا قول د ټولو نه زیات منلې شوې او هم دا محتاط قول دې، د ابن عباس ﷺ نه روایت دې چې (یس) په لغت د بنی طی کښې د (یا انسان) په معنی کښې دې، او د ابن الحنفیه نه روایت دې، چې یس د یا محمد په معنی کښې دې.

قوله: والقرآن الحكيم: واؤ قسميه دي او القرآن مقسم به دې، انك لمن المرسلين جواب قسم دې.

قوله: مقمحون: دا د اقماح نه مقمح اسم مفعول، جمع مذكر دې، قمح ماده ده، د څټ انختيدو د وجې نه څټونه بره طرف ته اوچت شي، بعير قامح، هغه اوښ چې اوبه څکلو نه پس سترګې پټې کړي سر اوچت کړي او اودريږي، چونکه د دوزخيانو په څټونو كښې په تيزندئ (طوقونه) وي چې د هغې د وجه نه به زنې بره کړې شوي وي، چې د هغې د وجې نه به څټونه هم بره وي،

قوله: تنزيل العزيز: دا د هذا مبتدأ محذوف خبر دې، يا د امدح فعل محذوف د وجې نه منصوب دې، اى امدح تنزيل العزيز، يا د نزل محذوف د مفعول مطلق كيدو د وجې نه منصوب دې، نزل تنزيلا

قوله: في لوح محفوظ: دا د نكتب ظرف دې، بهتره به وه چې مفسر علام د (لوح محفوظ) په ځاى (في صحف الملائكة) وئيلي وې، ځكه چې په دنيا كښې د اعمالو ليكل د ملائكو په صحيفو كښې وى نه چې په لوح محفوظ كښې.

قوله: كل شيئ: د خپل مابعد فعل د وجې نه منصوب دې، او دا د بابِ اشتعال نه دې، اى احصيناه كل شيئ احصيناه

قوله: اثار: دا اثر جمع ده، نښې ته وائي، دلته عملى نمونې مراد دى، كه هغه ښې وى او كه بدې.

پاره نمبر ۲۳ [ومالى]

[ايا تونه: ۱۳ - ۳۲]

{وَاضْرِبْ} اجعل {لَهُمْ مَثَلًا} مفعول اول {أَصْحٰبَ} مفعول ثان {الْقَرْيَةِ} انطاكية {إِذْ جَاءَهَا} إلى آخره بدل اشتمال من أصحاب القرية {الْمُرْسَلُونَ} اي رسل عيسى {إِذْ أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوهُمَا} إلى آخره بدل من إذ الأولى الخ {فَعَزَّزْنَا} بالتخفيف والتشديد قوينا الاثنين {بِثَالِثٍ فَقَالُوا إِنَّا إِلَيْكُمْ مُرْسَلُونَ} {قَالُوا مَا أَنْتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا وَمَا أَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ مِنْ شَيْءٍ إِنْ} ما {أَنْتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ} {قَالُوا رَبُّنَا يَعْلَمُ} جار مجرى القسم وزيد التأكيد به وباللام على ما قبله لزيادة الإنكار في {إِنَّا إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ} {وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ} التبليغ المبين الظاهر بالأدلة الواضحة وهي إبراء الأكمه والأبرص والمريض وإحياء الميت {قَالُوا إِنَّا تَطَيَّرْنَا} تشاءمنا {بِكُمْ} لانقطاع المطر عنا بسببكم {لَئِنْ} لام قسم {لَمْ تَنْتَهُوا لَنَرْجُمَنَّكُمْ} بالحجارة {وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ} مؤلم {قَالُوا طَائِرُكُمْ} شؤمكم {مَعَكُمْ} بكفركم {أَئِنْ} همزة استفهام دخلت على إن الشرطية وفي همزتها التحقيق والتسهيل وإدخال ألف بينها بوجهيها وبين الأخرى {ذُكِّرْتُمْ} وعظتم وخوفتم وجواب الشرط محذوف أي تطيرتم وكفرتم وهو محل الاستفهام والمراد به التوبيخ {بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ

مُسْرِفُونَ﴾ متجاوزون الحد بشرككم ﴿وجاء من أقصا المدينة رجل﴾ هُوَ حَبِيبُ النَّجَّارِ كَانَ قَدْ آمَنَ بِالرُّسُلِ وَمَنْزِلُه بِأَقْصَى الْبَلَد ﴿يَسْعَى﴾ يَشْتَدُّ عدوا لما سمع بتكذيب القوم الرسل ﴿قَالَ يَا قومِ اتبعوا المرسلين﴾ ﴿اتَّبِعُوا﴾ تَأْكِيد لِلْأَوَّلِ ﴿مَنْ لَا يَسْأَلُكُمْ أَجْرًا﴾ عَلَى رِسَالَته ﴿وَهُمْ مُهْتَدُونَ﴾ فَقِيلَ لَهُ أَنْتَ عَلَى دِينهم فقال ﴿وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي﴾ خلقني أَيْ لَا مَانِع لِي مِنْ عِبَادَته الْمَوْجُود مُقْتَضِيهَا وَأَنْتُمْ كَذَلِكَ ﴿وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ بَعْد الْمَوْت فيجازيكم بكفركم ﴿أَأَتَّخِذُ﴾ فِي الْهَمْزَتَيْنِ مِنْهُ مَا تَقَدَّمَ فِي أَأَنْذَرْتَهُمْ وَهُوَ اسْتِفْهَام بِمَعْنَى النَّفْي ﴿مِنْ دُونِهِ﴾ أَيْ غَيْره ﴿آلِهَةً﴾ أَصْنَامًا ﴿إِنْ يُرِدْنِ الرَّحْمَنُ بِضُرٍّ لَا تُغْنِ عَنِّي شَفَاعَتُهُمْ﴾ الَّتِي زَعَمْتُمُوهَا ﴿شَيْئًا وَلَا يُنْقِذُونَ﴾ صِفَة آلِهَة ﴿إِنِّي إِذًا﴾ أَيْ إِنْ عَبَدْت غَيْر اللَّه ﴿لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ﴾ بَيِّن ﴿إِنِّي آمَنْتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُونِ﴾ أَيْ اسْمَعُوا قَوْلِي فرجموه فمات ﴿قِيلَ﴾ لَهُ عِنْد مَوْته ﴿ادْخُلِ الْجَنَّةَ﴾ وَقِيلَ دخلها حيا ﴿قَالَ يَا﴾ حرف تنبيه ﴿ليت قومي يعلمون﴾ ﴿بما غفر لي ربي﴾ بغفرانه ﴿وجعلني من المكرمين﴾ ﴿وَمَا﴾ نَافِيَة ﴿أَنْزَلْنَا عَلَى قَوْمِهِ﴾ أَيْ حَبِيب ﴿مِنْ بَعْدِهِ﴾ بَعْد مَوْته ﴿مِنْ جُنْدٍ مِنَ السَّمَاءِ﴾ أَيْ مَلَائِكَة لِإِهْلَاكِهِمْ ﴿وَمَا كُنَّا مُنْزِلِينَ﴾ مَلَائِكَة لِإِهْلَاكِ أحد ﴿إِنْ﴾ مَا ﴿كَانَتْ﴾ عُقُوبَتهمْ ﴿إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً﴾ صَاحَ بِهِمْ جِبْرِيل ﴿فَإِذَا هُمْ خَامِدُونَ﴾ سَاكِنُونَ ميتون ﴿يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ﴾ هَؤُلَاءِ وَنَحْوهمْ مِمَّنْ كَذَّبُوا الرُّسُل فَأُهْلِكُوا وَهِيَ شِدَّة التَّأَلُّم وَنِدَاؤُهَا مَجَاز أَيْ هَذَا أَوَانك فاحضري ﴿مَا يَأْتِيهِمْ من رسول إلا كانوا به يستهزءون﴾ مَسُوق لِبَيَانِ سَبَبهَا لِاشْتِمَالِهِ عَلَى اسْتِهْزَائِهِمْ الْمُؤَدِّي إِلَى إِهْلَاكهمْ الْمُسَبَّب عَنْهُ الْحَسْرَة ﴿أَلَمْ يَرَوْا﴾ أَيْ أَهْل مَكَّة الْقَائِلُونَ لِلنَّبِيِّ لَسْت مُرْسَلًا وَالِاسْتِفْهَام لِلتَّقْرِيرِ أَيْ عَلِمُوا ﴿كَمْ﴾ خبرية بمعنى كثيرا معمولة لما بَعْدهَا مُعَلِّقَة لِمَا قَبْلهَا عَنْ الْعَمَل وَالْمَعْنَى إنَّا ﴿أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ﴾ كَثِيرًا ﴿مِنَ الْقُرُونِ﴾ الْأُمَم ﴿أَنَّهُمْ﴾ أَيْ الْمُهْلَكِينَ ﴿إِلَيْهِمْ﴾ أَيْ الْمُكَذِّبِينَ ﴿لَا يَرْجِعُونَ﴾ أَفَلَا يَعْتَبِرُونَ بِهِمْ وَأَنَّهُ إلَخْ بَدَل مِمَّا قَبْله بِرِعَايَةِ الْمَعْنَى الْمَذْكُور ﴿وَإِنْ﴾ نَافِيَة أَوْ مُخَفَّفَة ﴿كُلٌّ﴾ أَيْ كُلّ الْخَلَائِق مبتدأ ﴿لَمَّا﴾ بِالتَّشْدِيدِ بِمَعْنَى إلَّا أَوْ بِالتَّخْفِيفِ فَاللَّام فَارِقَة وَمَا مَزِيدَة ﴿جَمِيعٌ﴾ خَبَر الْمُبْتَدَأ أَيْ مَجْمُوعُونَ ﴿لَدَيْنَا﴾ عِنْدنَا فِي الْمَوْقِف بَعْد بَعْثهمْ ﴿مُحْضَرُونَ﴾ لِلْحِسَابِ خَبَر ثَانٍ

ترجمه: ته دوی ته یو مثال یعنی د یو کلی انطاکیه مثال د هغه وخت بیان کړه چې کله په دې کلی کښې دیر رسولان راغلل، (مثلا) مفعول اول دې، او (اصحب القریة) مفعول ثانی دې، چې کله هغوی دوی ته اذجاءها الخ، داصحاب قریة نه بدل الاشتمال دې، او د مرسلون نه د عیسی علیه السلام قاصدان مراد دي، یعنی کله چې مونږ دوی ته اول ځل کښې دوه کسان راولیږل نو دوی د دواړو تکذیب اوکړو، اذ ارسلنا د اولنی اذ نه بدل دې، بیا مونږ ورته په دریم سره طاقت ورکړو فعززنا کښې تخفیف او تشدید دواړه قراءتونه دی، یعنی ددوو مو په دریم سره مرسته اوکړه، نو دې دریواړو اوویل چې مونږ تاسو ته رالیږلې شوې یو، نو هغه خلقو جواب ورکړو چې تاسو خو مونږ په شان انسانان یئ او الله تعالی څه څیز نازل کړې نه دې، تاسو تش دروغ وائی، لیږلې شوو اوویل چې زمونږ رب ته ښه پته ده، چې مونږ تاسو ته رالیږلې شوې یو، ربنا قائم مقام د

قسم دي، او د دي قسم او د لام د وجې نه د ماقبل په نسبت سره د انکار د زیاتوالی د وجې نه په انا الیکم لمرسلون کښې تاکید زیات راوړې شو. او زمونږ په ذمه خو په ښکاره پیغام رسول دی، او بس، کوم چې په واضحه معجزو باندې ورته مرسته حاصله ده. او هغه معجزې رندو لره بینا کول، جزام والا او مریض لره روغول. او مړی ژوند کول وو. هغوی اووئیل چې ستاسو د وجې نه د باران د نه کیدو د وجې نه په مونږ باندې سپیره والې راغلې دې، که تاسو منع نه شئ نو مونږ به تاسو لره سنګسار کړو، او تاسو ته به زمونږ: طرف نه سخت تکلیف اورسی، هغه لیږلې شوو اووئیل ستاسو نحوست ستاسو د کفر د وجې نه تاسو سره دې، آیا تاسو دا نحوست ګنړئی چې تاسو ته نصیحت اوکړې شو، بلکه خپله تاسو داسې خلق یئ چې د خپل شرک د وجې نه مو د حد نه تجاوز کړې دې، همزه استفهام په ان شرطیه باندې داخله ده. او ددې په همزه کښې تحقیق وتسهیل او په دواړه صورتونو کښې، ددې او دویم یعنی د همزه استفهام په مینځ کښې الف داخلول دی او نه داخلول دی. او ذکرتم په معنی د وعظتم او خوفتم دې، او جوابِ شرط محذوف دې، یعنی تطیرتم وکفرتم او هم دا محل د استفهام دې، او مراد ددې نه توبیخ دې، او د ښار د هغه ژائې یو کس چې د هغه نوم حبیب نجار وو. هغه په رسولانو باندې ایمان راوړې وو او د هغه کور د ښار په لرې غاړې باندې وو چې کله ده د خپل قوم د رسولانو په تکذیب کولو باندې اولیدو نو په منډه منډه راغلو، او وئ وئیل چې اې څما قومه، د داسې رسولانو تابعداری اوکړئ ثانی اتبعوا، د اول اتبعوا تاکید لفظی دې، چې ستاسو نه د رسالت په تبلیغ باندې څه صله نه غواړی، او دوی په نیغه لاره باندې دی، نو هغه ته اووئیلې شول چې ته هم ددوی په دین باندې یې، هغه جواب ورکړو ماته څه عذر دې؟ چې څه د هغه ذات بندګی اونکړم چاچې زه پیدا کړې یم، یعنی د هغه د بندګئ نه ماته څه رکاوټ نشته، او د هغه د عبادت مقتضی او باعث موجود دې، او ستاسو حال هم داسې دې څنګه چې څما دې، او د مرګ نه پس، تاسو به هغه ته واپس کیږئ، دلتخذ په دواړو همزو کښې هم هغه قراءتونه دی کوم چې په انذرتهم کښې تیر شوې دی، او دا استفهام په معنی د نفی دې، آیا څه د هغه پریښودلو سره د هغه غیر یعنی بتانو لره خدائی جوړ کړم.؟ که الله څما په حق کښې د نقصان اراده کړې وی نو ددوی شفاعت به ماته څه فائده رانکړی، د کوم چې تاسو ددوی نه توقع ساتئ.او نه دوی ما خلاصولې شی، لا ینقذون د الهة صفت دې، که ما داسې اوکړل یعنی که ما د غیر الله بندګی اوکړه، نو بې شکه څه به په ښکاره ګمراهئ کښې اخته شم، ما خو ستاسو په پروردګار باندې ایمان راوړې دې، نو څما طرف ته توجه اوکړئ، یعنی څما خبره واورئی نو هغه خلقو ده لره سنګسار کړو نو هغه مړ شو. د مرګ په وخت هغه ته حکم ورکړې شو چې جنت ته داخل شه، او یو قول دا هم دې چې هغه په ژوندونی

جنت ته داخل شو، کاش چې زما قوم ته زما د پروردګار د طرف نه زما د بخښنې او زما په معززو خلقو کښې د شامليدو علم وي، او مونږ د هغه حبيب په قوم باندې د اسمان نه د هغه د مرګ نه پس، ددوی د هلاک کولو د پاره د فرشتو لښکر راونه ليږلو او نه مونږ ته د چا د هلاک کولو د پاره د فرشتو د راليږلو ضرورت وو، ما نافيه ده، ددوی سزا خو صرف يو چغه وه کومه چې جبرئيل عليه السلام په دوی باندې اووهله، نو دوی ناګهانه مړه شول، يعنی په خاموشی پاتې شول، په دې کافرانو بندګانو باندې او ددوی په شان نورو باندې چا چې د پيغمبرانو تکذيب اوکړو افسوس چې هغوی هلاک کړې شول، او افسوس ته دا نداء د زيادت درد د وجې دې، او دې ته نداء وئيل مجازا دې، يعنی اې افسوسه دا ستا د حاضرئ وخت دې، ته حاضر شه، دوی ته څوک داسې رسول نه وو راغلې چې دوی په هغه پسې ټوقې نه وی کړې، کلام د حسرت سبب بيانولو د پاره راوړې شو، دهغه کلام د استهزا باندې د دلالت کولو د وجې نه کوم چې ددوی هلاکت طرف ته بوتلونکې وو، کوم چې د حسرت مسبب عنه (يعنی سبب) دې،

فائده: د حسرت سبب هلاکت او د هلاکت سبب استهزا، ګويا چې استهزاء په واسطې د هلاکت د افسوس وجه جوړه شوه

آيا دې اهل مکې ته کوم چې د نبی ﷺ په باره کښې "لست مرسلا" وائی ددې خبرې علم نشته چې مونږ ددوی نه مخکښې ډير امتونه هلاک کړې دی، او هلاک شوې دوی ته يعنی مکې والا ته واپس دنيا ته راتلونکې نه دی، او استفهام تقريری دې، يعنی غور دې اوکړی، کم خبريه دې، او دکثيرا په معنی دې، او د خپل مابعد معمول دې، او خپل ماقبل لره په خان کښې د عمل نه منع کونکې دې، آيا دا خلق ددې نه عبرت نه حاصلوی، اوانهم الخ د معنی مذکور رعايت سره د ماقبل نه بدل دې، او په معنی د الا نا اهلکنا قبلهم کثيرا دې، او ټول په ټول به په محشر کښې د ژوندی کيدو نه پس زمونږ مخکښې د حساب د پاره حاضريږی، ان نافيه ده يا مخففه دې، کل يعنی ټول مخلوق، کل مبتدأ ده لما په تشديد سره د الا په معنی دې، يا په تخفيف سره ده، او لام فارقه دې، او ما زائده ده، جميع د مبتدأ خبر اول دې، او په معنی د مجموعون دې، محضرون للحساب خبر ثانی دې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: واضرب لهم مثلا: دا کلام مستانف دې، او مخاطب حضور ﷺ دې، مثلا ئې د (اضرب بمعنى اجعل) مفعول اول، او اصحاب القرية ئې مفعول ثانی ګرځولې دې، خو واضح او ښه دا ده چې (اصحاب القرية) مفعول اول او (مثلا) مفعول ثانی شی، وړاندې چونکه د اصحاب القرية تشريح راروانه ده، ځکه مفعول اول مقدم کړې شو چې اجمال او تفصيل متصل شی،

قوله: واضرب لهم: الخ ددې عطف په ماقبل باندې هم كيدې شي، خو دا عطف به د قصې على القصه په طور وي، او دا هم كيدې شي چې په مقدر باندې عطف وي، اى فانذرهم واضرب لهم، او ضرب مثل بعضې وخت يوې عجيبه قصې لره د بلې عجيبې قصې سره د مطابقت او مماثلت بيانولو ته وئيلې شي، څنگه چې د الله تعالى قول ضرب الله مثلا للذين كفروا امراة نوح، او بعضې وخت د تطبيق او د مماثلت د ارادې نه بغير حالت غريبه بيانولو ته وئيلى شي، څنگه چې د الله تعالى قول وضربنا لكم الامثال، په اول صورت كښې بهٔ دآيت معنى دا شى اجعل اصحاب القرية مثلا لهولاء فى الغلو فى الكفر والاصرار فى التكذيب اى طبق حالهم بحالهم، د اصحاب القرية نه مخكښې مثل مضاف محذوف دې، اضرب لهم مثلا مثل اصحاب القرية او دا مضاف د مثلا نه بدل الكل عن الكل دې، او بعضې حضراتو عطف بيان هم وئيلې دې، خو د هغه چا په نيز څوک چې د تعريف او تنكير د اختلاف باوجود بدل صحيح گڼرى.

قوله: القرية: د قاف په فتحې اوكسرې سره، الضيعة والمصر الجامع، كلې، آبادى، جمع قرىٰ وقرى، په ضمې د قاف او په كسرې د قاف، (اعراب القرآن) دلته د قريه نه د روم مشهور ښار انطاكيه مراد دې،

قوله: المرسلون: حضرت عيسى عليه السلام اول اهل انطاكيه ته د خپلو حواريانو نه دوه قاصدان چې د هغوى نومونه يحيى او بولس وو، راليږلې وو، او وهب وائى چې ددوى نومونه يوحنا او بولس وو، او صادق مصدوق هم وئيلې شوى دى، ددې نه پس ئې دريم قاصد اوليږلو چې د هغه نوم شمعون وو،

قوله: الى آخره، اى آخر القصه،

قوله: اذارسلنا: اذجاءها المرسلون نه بدل المفصل من المجمل دې،

قوله: المرسلون: د دريم قاصد په اعتبار سره د جمع صيغه راوړې شوې ده،

قوله: رسل عيسى: د عيسى عليه السلام قاصدان مشهور همّ دادې او يو قول دا هم دې چې هغه بلا واسطه د الله رسولان وو، او دعيسى عليه السلام رسولانو ته هم د الله رسول وئيلې شى څكه چه عيسى عليه السلام د الله په حكم سره دوى ليږلې وو،

قوله: تطيرنا: په اصل كښې د مرغو په ذريعې سره نيک يا بد فال معلومول، دلته مطلقا د بد فال په معنى كښې استعمال شوې دې، د عربو عادت وو چې هغوى به د مرغو په ذريعې سره فال معلومولو، كه مرغئ به د گس نه ښى طرف ته مخكښې والوته نو عربو به دا نيک فال گڼرلو او دې ته به ئې الطائر السانح وئيلو، او ددې ضد يعنى د ښى طرف

نه كس طرف ته الوتلو والا مرغئ نه به ئ بد فال نيولو، او دې ته به ئې الطائر البارح وئيلو، ددې نه پس د هر بد فال د پاره استعمال شو،

قوله: ربنا يعلم انا اليكم لمرسلون: په انا اليكم مرسلون كښې دوه تاكيدونه استعمال شوې دى، يو جمله اسميه او دويم (ان) ځكه چې هلته په تكذيب او نفى كښې هم تاكيد نه وو، دلته چونكه ډير تاكيدونو سره انكار او تكذيب مؤكد دې ځكه په اثبات كښې هم تاكيدات راوړې شوې دى، اول قسم كوم چې د تاكيد قائم مقام دې، دويم (ان) دريم جمله اسميه، او څلورم لام تاكيد.

قوله: بكفركم باء سببيه، اى بسبب كفركم

قوله: ائن ذكرتم: همزه استفهام انكارى توبيخى په ان شرطيه باندې داخل دې، دواړو ته د جواب ضرورت دې كه همزه استفهام او شرط جمع شى نو سيبويه ئ همزه د استفهام جواب گرځوى، او جواب شرط محذوف گنړى او يونس ئ د شرط جواب گنړى، او جواب استفهام محذوف گنړى، مفسر علام محلى جواب الشرط محذوف وئيلو سره اشاره اوكړه چې دده په نيز د سيبويه مذهب راجح دې، د سيبويه په نيز تقديرى عبارت داسې دې ائن ذكرتم تتطيرون، او د يونس په نيز ائن ذكرتم تطيروا په جزم سره، مفسر علام د بما غفرلى ربى تفسير په بغفرانه كولو كښې دې ته اشاره اوكړه چې (ما) مصدريه ده، او دا هم صحيح دى چې ما موصوله وى، په د ې صورت كښې به عائد محذوف وى، او تقديرى عبارت به داسې وى، بالذى غفره لى ربى من الذنوب او استفهاميه هم صحيح ده، اى بأى شئ غفرلى اى بأمر عظيم وهو توحيدى وصدق بالحق، (صاوى) حسرت ته ندا كول مجازا دې، ځكه چې حسرت كښې د منادى جوړيد و صلاحيت نشته،

قوله: يا حسرة على العباد: په دې كښې درې احتماله دى، ① دا د الله كلام وى، ② د ملائيكه كلام وى، ③ د مومنين كلام وى،

او العباد نه مراد ټول كافران دى، په دې صورت كښې به الف لام د جنس وى، او وئيلې شوې دى چې د العباد نه مراد رسل وى، او (على) په معنى د (من) دې، او قائل كفار وى، تقديرى عبارت به دا وى، يا حسرة علينا من مخالفة العباد، خو اولنې صورت اولى دې، كوم چې مفسر علام بيان كړې دې.

قوله: الا كانوا به يستهزءون: دا جمله د ياتيهم د مفعول نه حال دې،

قوله: مسوق لبيان سببها: دا جمله مستانفه ده، او سبب د حسرت د بيانولو د پاره راوړې شوې ده، گويا چې دا ديو سوال جواب دې، سوال اوكړې شو ما وجه التحسر عليهم؟ جواب وركړې شو ما يأتيهم من رسول الا كانوا به يستهزءون، دا جمله بالواسطه د حسرت د سبب

بیانولو د پاره ده، چې استهزا سبب د هلاکت دې، او هلاکت سبب د حسرت دې، نو گویا چې استهزا د حسرت سبب دې.

قوله: لاشتماله: ای لدلالة هذا الکلام علی الاستهزاء

قوله: المریروا: دلته د رویت نه مراد رویت علمیه دې، یعنی آیا مکې والو ته علم نشته، (کم) خبریه دې، او د اهلکنا مفعول مقدم دې، او قبلهم د اهلکنا ظرف دې، او من القرون د (کم) بیان دې، اولم یروا کښې استفهام تقریری یعنی د مابعد د نفی د اقرار کولو د پاره دې، یعنی علم دې، (کم) خبریه د مابعد یعنی د (اهلکنا) معمول دې، ماقبل یعنی د (لم یروا) معمول نه دې، ځکه چې (کم) خبریه د کلام صدارت غواړی، لهذا ددې ماقبل په دې کښې عامل نشی کیدې، گنی د دې صدارت به باطل شی.

قوله: معلقة ما قبلها عن العمل: یعنی کم خبریه خپل ماقبل یعنی لم یروا د لفظی عمل نه منع کړې دې، اگرچې په معنی کښې عمل جاری دې

سوال: د عمل نه مانع (کم) استفهامیه وی نه چې خبریه، او دا (کم) خبریه دې ؟

جواب: چونکه په (کم) کښې استفهامیه کیدل اصل دی، لهذا په تعلیق یعنی مانع کیدو کښې (کم) خبریه د (کم) استفهامیه قائم مقام کړې شو.

[ایاتونه: ۳۳ ـ ٥٠]

(وَآيَةٌ لَّهُمُ) عَلَى الْبَعْثِ خَبَر مُقَدَّم (الْأَرْضُ الْمَيْتَةُ) بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد (أَحْيَيْنَاهَا) بِالْمَاءِ مبتدأ (وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا) كالحنطة (فمنه يأكلون) (وَجَعَلْنَا فِيهَا جَنَّاتٍ) بَسَاتِين (مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ وَفَجَّرْنَا فِيهَا مِنَ الْعُيُونِ) أَيْ بَعْضهَا (لِيَأْكُلُوا مِن ثَمَرِهِ) بِفَتْحَتَيْنِ وَضَمَّتَيْنِ أَيْ ثَمَر الْمَذْكُور مِنَ النَّخِيل وَغَيْره (وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ) أَيْ لَمْ تَعْمَل الثَّمَر (أَفَلَا يَشْكُرُونَ) أَنْعُمه تعالى عليهم (سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ) الْأَصْنَاف (كُلَّهَا مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ) مِنَ الْحُبُوب وَغَيْرهَا (وَمِنْ أَنفُسِهِمْ) مِنَ الذُّكُور وَالْإِنَاث (وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ) مِنَ الْمَخْلُوقَات الْعَجِيبَة الْغَرِيبَة (وَآيَةٌ لَّهُمُ) عَلَى الْقُدْرَة الْعَظِيمَة (اللَّيْلُ نَسْلَخُ) نَفْصِل (مِنْهُ النَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظْلِمُونَ) دَاخِلُونَ فِي الظَّلام (وَالشَّمْسُ تَجْرِي) إِلَى آخِره مِنْ جُمْلَة الْآيَة لَهُمْ أَوْ آيَة أُخْرَى وَالْقَمَر كَذَلِكَ (لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا) أَيْ إِلَيْهِ لَا تَتَجَاوَزهُ (ذَٰلِكَ) أَيْ جَرْيهَا (تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ) فِي مُلْكه (الْعَلِيمِ) بِخَلْقِهِ (وَالْقَمَرَ) بِالرَّفْعِ وَالنَّصْب وَهُوَ مَنْصُوب بِفِعْلٍ يُفَسِّرهُ مَا بَعْده (قَدَّرْنَاهُ) مِنْ حَيْثُ سَيْره (مَنَازِلَ) ثَمَانِيَة وَعِشْرِينَ مَنْزِلًا فِي ثَمَان وَعِشْرِينَ لَيْلَة مِنْ كُلّ شَهْر وَيَسْتَتِر لَيْلَتَيْنِ إِنْ كَانَ الشَّهْر ثَلَاثِينَ يَوْمًا وَلَيْلَة إِنْ كَانَ تِسْعَة وَعِشْرِينَ يَوْمًا (حَتَّىٰ عَادَ) فِي آخِر مَنَازِله فِي رَأْي الْعَيْن (كَالْعُرْجُونِ الْقَدِيمِ) أَيْ كَعُودِ الشَّمَارِيخ إِذَا عَتَقَ فَإِنَّهُ يَرِقّ وَيَتَقَوَّس وَيَصْفَرّ (لَا الشَّمْسُ يَنبَغِي) يَسْهُل وَيَصِحّ (لَهَا أَن تُدْرِكَ الْقَمَرَ) فَتَجْتَمِع مَعَهُ فِي اللَّيْل (وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ) فَلَا يَأْتِي قَبْل انْقِضَائِهِ (وَكُلٌّ) تَنْوِينه عِوَض عَنِ الْمُضَاف إِلَيْهِ مِنَ الشَّمْس وَالْقَمَر

وَالنُّجوم (فِي فَلَكٍ) مُستَدِير (يَسْبَحُونَ) يَسِيرُونَ نَزَلُوا مَنزِلَةَ العُقَلاء (وَآيَةٌ لَّهُمْ) عَلَى قُدرتنَا (أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ) وفِي قِراءة ذُرِّيَّاتهم أيْ آبَاءَهُمُ الأصُول (فِي الْفُلْكِ) أيْ سَفِينَة نُوح (الْمَشْحُونِ) المَمْلُوء (وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِ) أيْ مِثل فُلك نُوح وَهُوَ مَا عَمِلُوهُ عَلَى شَكْله مِنَ السُّفُن الصِّغَار وَالكِبَار بِتَعْلِيمِ اللّٰه تَعَالى (مَا يَرْكَبُونَ) فيه (وَإِن نَّشَأْ نُغْرِقْهُمْ) مَعَ إيجَاد السُّفُن (فَلَا صَرِيخَ) مُغِيث (لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنقَذُونَ) يُنجَونَ (إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ) أيْ لا يُنجِيهِمْ إلّا رَحمَتنَا لَهُمْ وَتَمْتِيعنَا إيَّاهُمْ بِلَذَّاتِهِمْ إلَى انقِضَاء آجَالهِمْ (وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ) مِنْ عَذَاب الدُّنيَا كَغَيرِهِمْ (وَمَا خَلْفَكُمْ) مِنْ عذاب الآخرة (لعلكم ترحمون) اعرضوا (وما تأتيهم من آية من آيات ربهم إلا كانوا عنها معرضين) (وَإِذَا قِيلَ) أيْ قَالَ فُقَرَاء الصَّحَابَة (لَهُمْ أَنفِقُوا) عَلَينَا (مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ) مِنَ الأموَال (قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا) استِهزَاء بِهِمْ (أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ) فِي مُعتَقِدكُمْ هَذَا (إِنْ) مَا (أَنتُمْ) فِي قَولكُمْ لَنَا ذَلِكَ مَعَ مُعتَقِدكُمْ هَذَا (إِلَّا فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ) بَيِّن وَلِلتَّصرِيحِ بِكُفرِهِمْ مَوقِع عَظِيم (وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ) بِالبَعْثِ (إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ) فيه قال تعالى (مَا يَنظُرُونَ) أيْ يَنتَظِرُونَ (إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً) وَهِيَ نَفخَة إسرَافِيل الأولَى (تَأْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُونَ) بِالتَّشدِيدِ أصْله يَختَصِمُونَ نُقِلَتْ حَرَكَة التَّاء إلَى الخَاء وَأُدغِمَتْ فِي الصَّاد أيْ وَهُمْ فِي غَفلَة عَنهَا بِتَخَاصُم وَتَبَايُع وَأكل وَشُرب وَغَير ذَلِكَ وَفِي قِرَاءَة يَخْصِمُونَ كَيَضرِبُونَ أيْ يَخصِم بعضهم بعضا (فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً) أيْ أنْ يُوصُوا (وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ) مِنْ أسوَاقِهِمْ وَأشغَالهِمْ بَلْ يموتون فيها

ترجمه: او يوه نښه ددوی د پاره د مرګ نه پس ژوندی کيدو باندې مړه زمکه ده، اية لهم خبر مقدم دې، او الميتة په تخفيف او تشديد سره دې، چې مونږ دې لره د اوبو په ذريعې بسره ژوندۍ کړه، والارض الخ مبتدأ مؤخر دې، او مونږ ددې زمکې نه غله مثلا غنم پيدا کړل، نو دا خلق ددې نه خوراک کوی، او دغه شان مونږ په زمکه کښې د کهجورو او د انارو باغونه پيدا کړل، او په دې کښې مو چينې جاری کړې چې خلق ددې نه ميوې اوخوری، ثمره کښې (ث، م) دواړه په فتحې او ضمې سره دی، چې ددې ذکر شوې کهجورو او ميوو وغيره نه خوراک اوکړی، او دې ميوو لره ددوی لاسونو نه دی پيدا کړې، نو بيا دا خلق په خپل ځان باندې د الله تعالی د انعاماتو شکر ولې نه ادا کوی، ؟ هغه پاک ذات دې، چا چې ټول د زمکې نباتات مثلا غله وغيره او په خپله د دوی نفسونه د نر او د مادې جوړې او د هغه کښې عجيب او غريب مخلوقاتو نه کوم چې هغوی پيژنی هم نه، جوړې پيدا کړې، او د الله په اوچت قدرت باندې يو نښه شپه هم ده، چې د هغې نه مونږ ورځ راوباسو، نو سمدستی دوی په تياره کښې داخل شی، او د قدرتونو نه يا د نورو نښو نه نمر هم دې، کوم چې په خپل مدار کښې روان دې چې د هغې نه د سر د ويختو هومره هم تجاوز نه کوی، او د نمر دا ګردش د هغه په بادشاهۍ کښې غالب خبردار الله طرف نه مقرر شوې دې، او د سپوږمۍ هم د هغې د رفتار په اعتبار سره مونږ په هر يو مياشت کښې اته ويشت منزلونه په اته ويشت شپو کښې مقرر کړې دی که مياشت د

دیرشو ورځو وی نو سپوږمۍ په آخری دوه شپو کښې پټه وی، او که میاشت د یوکم دیرش وی، نو سپوږمۍ یو شپه پټه وی، تر دې چې سپوږمۍ په آخری منزل کښې کتونکی ته د کهجورې د زړې ځانګې پشان په نظر راځی، او په قمر باندې نصب او رفع دواړه جائز دی. دا د فعل محذوف د وجې نه منصوب دې، چې د هغې روستو فعل (قدرنا) تفسیر کوی، یعنی سپوږمۍ په آخری شپو کښې د کهجورې د ځانګې په شان شیٰ. کله چې دا زړه کیدو سره نرئی او کږه او زیړه شی، او نه د نمر مجال شته چې سپوږمۍ رالاندې کړی، چنانچه شپه د ورځې د ختمیدو نه مخکښې نشی راتلې، او هریو په خپل خپل مدار کښې ګرځی، د کل تنوین د مضاف الیه په عوض کښې دې چې هغه نمر، سپوږمۍ او ستورې دی. شمس او قمر وغیره یې ذوی العقول کښې شمار کړې دی. او ددوی دپاره زمونږ په قدرت کښې یوه نښه داده چې مونږ ددوی ذریت یعنی د دوی پلار نیکه په ډکې کشتۍ کښې یعنی دنوح علیه السلام په کشتۍ کښې سواره کړل، او په یو قراءت کښې د ذریة په ځاۓ ذریات دې. او مونږ ددوی دپاره ددې په شان یعنی د نوح د کشتۍ په شان څیزونه پیدا کړل، او هغه وړې غټې کشتۍ دی کومې چې خلقو د الله په خودنې سره د نوح علیه السلام د کشتۍ په شان جوړې کړې. چې په هغې کښې دا خلق سورلی کوئ او که مونږ اوغواړو، نو ددې کشتو باوجود به مونږ دوی غرق کړو، بیا به نه ددوی څوک فریاد اوریدونکې وی او نه به دوی ته خلاصی میلاویږی، خو دا زمونږمهربانی ده، او دوی ته د یو وخت پورې فائده ورکول منظور دی، یعنی په دوی باندې زمونږ مهربانی او ددوی د مرګ پورې زمونږ د طرف نه دوی ته د لذت اخستلو موقع ورکول خلاصی ورکولې شی، او چې کله دې خلقو ته اووئیلې شی چې تاسو د هغه عذاب نه ویریږئ، کوم چې د نورو پشان د دنیا عذاب ستاسو مخکښې دې او کوم چه ستاسو نه روستو دې، یعنی دآخرت عذاب، چې په تاسو باندې رحم اوکړې شی، نو دوی اعراض اوکړو او دوی ته ددوی د رب د طرف نه څه نښه نه راځی، خو دا چې دوی ترې مخ اړوی، او چې کله دوی ته اووئیلې شی چې الله تاسو ته څهٔ درکړې دی د هغې نه خرچ کوئ، یعنی فقیرانو صحابه کرامو دوی ته وئیلې وو چې د الله تعالی د ورکړې شوی مال نه په مونږ باندې خرچ کړئ، نو دې کافرانو مومنانو ته د توقو په توګه اووئیل چې آیا مونږ داسې خلقو باندې خوراک اوکړو، چه که چرې الله غوښتله نوخپله په دوی باندې به ئې خوراک کړې وو، څنګه چې اې مومنانو ستاسو عقیده ده، او اې مومنانو ددې عقیدې باوجود ستاسو زمونږ نه خوراک طلب کول ښکاره غلطی ده، او ددې کافرانو د کفر د ښکاره کیدو دا لویا موقع ده، او دا خلق وائی که چرې تاسو د بعث په وعده کښې رشتونې یئ نو اووایئ چه دا وعده د بعث به کله پورا کیږی؟ الله تعالی اوفرمائیل دوی د یو چغې په انتظار کښې دی، او هغه د اسرافیل علیه السلام اوله شپیلۍ ده، هغه به دوی داسې حالت کښې اونیسی چې دوی به یو بل سره په جنګ وی، یخصمون په تشدید

سره دي، ددې اصل يختصمون دې، د تاء حرکت د خاء طرف ته منتقل شو، او تاء په صاد کښې مدغم شوه، او دوی به د دې چغې نه غافله وی، يو بل سره د جهګړو او په اخستلو خرخولو او خوراک څښاک وغيره کښې د مشغوليدو د وجې نه، او په يو قرامت کښې يخصمون په وزن د يضربون دې، نو دوی ته به نه د وصيت کولو موقع ملاو شي او نه به دوی د خپل اهل طرف ته د بازارونو او مشغلونه واپس شي، بلکه په بازارونو او لوبو کښې به مړه شي.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: وآية لهم الارض احيينـاهـا: اية خبر مقدم دې، او دا تقديم د اهتمام د پاره دې، تنوين د تعظيم د پاره دې، اى علامة عظيمة ودلالة واضحة على احياء بعد الموت.

قوله: لهم اي اهل مكه: لهم د آية متعلق هم کيدې شي، ځکه آيت په معنى د علامة دې، ياد كائنة متعلق کيدو سره د اية صفت دې، الارض الميتة په ترکيب توصيفى سره مبتدأ مؤخر ده.

قوله: احيينـاهـا: بعضې حضراتو وئيلې دى، چې احيناها د قدرت د علامت د کيفيت د بيانولو د پاره جمله مستانفه ده، او دا هم کيدې شي چې احييناها جمله د الارض الميتة صفت وى، د مفسر علام د عبارت نه هم ددې تائيد کيږى، ځکه چې مبتدأ ئې د احييناها نه پس ذکر کړې ده، که د مفسر علام په نيز احيناها جمله مستانفه وى، نو مبتدأ به ئې د احيناها نه مقدم ذکر کړې وه.

قوله: وجعلنا: ددې عطف په احيناها باندې دې،

قوله: من نخيل: نخل او نخيل دواړه په يو معنى باندې دى خو النخل اسم جمع ده، او ددې واحد نخلة رازى، لفظ د نخلة د اهل حجاز په نيز مؤنث دې، او د تميم او نجد په نيز مذکر دې، او نخل په اتفاق سره مؤنث دې، (صاوى) ددې نه معلوميږى چې د مفسر روستو راتلونکې قول من النخل وغيره مناسب نه دې، بلکه منه وغيرها دې، ځکه چې د (ه) ضمير مرجع ماقبل ذکر شوې نخيل دې، کوم چې په اتفاق سره مؤنث دې،

قوله: ثمر المذكور من النخيل وغيره: د مفسر علام مقصد ددې عبارت د اضافې نه د يو اعتراض دفع کول دى، اعتراض دادې چې د ثمره ضمير نخل او اعناب ته راجع دې، اول خو اعناب او نخيل جمع دى، کوم چې د واحد مؤنث په حکم کښې دى، په دې لحاظ سره من ثمرها پکار وو، او که اعناب او نخيل دوه نوعه تسليم کړې شى نو بيا هما ضمير د تثنيې پکار دې، حالانکه مفسر علام نه خو واحد مؤنث ضمير راوړو او نه ئې د تثنيې، بلکه واحد مذکر ضمير ئې راوړې دې، کوم چې په ظاهره صحيح نه معلوميږى؟

په مذکوره عبارت سره ئې د دې اعتراض جواب ورکړې دې د جواب خلاصه داده چې

نخيل او اعناب د مذكور په معنى كښې اخستلو د وجې واحد مذكر ضمير راوړل صحيح دى، يا د ثمره ضمير ماء طرف ته راجع دې، كوم چې د من العيون نه فهميږى، ځكه چې د ثمر وجود د اوبو د وجې وى، (فتح القدير شوكانى)

سوال: الارض الميتة دواړه معرف بالام د وجه معرفه دى، او احييناها د جمله كيدو د وجې نه نكره ده، په دې صورت كښې كه احييناها د الارض صفت اوګرځولې شى نو د معرفې صفت به نكره راشى كوم چې د مطابقت د قاعدې خلاف دې؟

جواب: په الارض الميتة باندې الف لام د جنس د پاره دى، ځكه چې څه خاص زمكه مراد نه ده، لهذا مذكوره الف لام فائده نه وركوى، چې د هغې دوجې نه د نكرې صفت جوړيدل صحيح دى، ددې نظير د شاعر دا قول:

ولقد امر على اللئيم يسبني　　　　فمضيت ثمة قلت لا يعنيني

په دې شعر كښې اللئيم معرف باللام دې او يسبني جمله ئې صفت واقع شوى دى.

قوله: اخرجنا منها حبا فمنه ياكلون: حب د حبة جمع ده، هغه غلې ته وائى كوم چې اوړه كولې شى، لكه غنم اوربشې وغيره، او بِذّر هغه غلې ته وايى د كوم نه چې تيل اوزى لكه اورئ، شړشم، وغيره.

قوله: فمنه: اى من الحب

سوال: د تقديم دصلې نه حصر فهميږى، په اصل كښې اخرجنا حبا ياكلون منه دې، د منه د تقديم نه حصر مستفاد كيږى، چې اكلِ مذكور په دواړه قسمه غَلو كښې منحصر دې، حالانكه ددې باطليدل ښكاره دى، ځكه چې د مذكوره دواړه قسمو غَلو نه علاوه نورې هم ډير غلې دى چه خوړلې كيږى؟

جواب: تقديم د صلې جنس ماكول لره په حبوب كښې منحصر كولو دپاره نه دې، بلكه اكثر ماكول په حبوب كښې د منحصر كولو دپاره دې، ځكه چې حبوب په اكثريت سره د خوړلو غذا ده.

قوله: من العيون: تفسير ئې په بعضها سره كولو كښې اشاره اوكړه چې من تبعيضيه دې، بيانيه هم ګرځول صحيح دى،

قوله: وما عملته ايديهم: ددې عطف په ثمره باندې دې، اى ليا كلوا من ثمره وياكلوا مما علمت ايديهم كالعصير والدبس ونحوهما: يعنى د كهجورو او د انګورو ميوې اوخورئى او هغه خيزونه اوخورئى كوم چې ددې نه جوړوى، مثلاً عرق، (جوس) شيره وغيره، دا ترجمه به په هغه صورت كښې وى چې كله (ما) موصوله شى، او بعضې حضراتو (ما) نافيه ګرځولې ده، يعنى چې تاسو مذكوره څيزونو نه خوارک اوخورئ، كوم چې تاسو پيدا

کړې نه دی بلکه ددې پیدا کولو والا الله تعالی دې، یعنی په مذکوره څیزونو په پیدا کولو کښې ستاسو څه دخل نشته، بلکه تاسو خو په ظاهره موجوده څیز هم په خاورو کښې ضائع کړئ، دا صرف د الله فضل او کرم دې، او دهغه د ګاریګرئی او قدرتونه دی چې کومه دانه تاسو د څخا کولو د پاره په زمکه کښې دفن کړئ، الله تعالی نه صرف د هغې په خپل فضل او کرم سره حفاظت اوکړی بلکه هغه ئې څو چنده دوه چنده درې چنده تاسو ته حواله کړه، (ما) مصدریه هم کیدې شی، ای لمـاکلوامن عمل ایدیهم

قوله: افلایشکرون: همزه په محذوف باندې داخله ده، تقدیری عبارت دادې اینتفعون بهذه النعم فلایشکرونها

قوله: سبحان الذي: سبحان مصدر په معنی د تسبیح دې، په دې باندې نصب، او د مفرد طرف ته اضافت لازم دې، مفرد که اسم ظاهر وی لکه سبحان الله، اوسبحان الذی، او که اسم ضمیر وی، لکه سبحانه ان یکون له ولد، سبحان الذی خلق الازواج کلها جمله مستانفه ده، په شکر پرینبودو باندې تنزیه بیانولو د پاره راوړې شوې ده، (روح المعانی) بعضې حضراتو وئیلې دی چې دواړه آیتونه یعنی اٰیة لهم الارض المیتة، الأیة، او آیة لهم اللیل نسلخ، په مینځ کښې جمله معترضه ده.

قوله: اٰیة لهم الیل نسلخ منه النهار: اٰیة خبر مقدم دې، اواللیل خبر مؤخر دې، کما سبق، اونسلخ د (لیل) په د قدرت د نخښو نه د کیدو کیفیت بیانولو د پاره دې،

قوله: نسلخ: مضارع جمع متکلم (ن ف) سلخا، څرمن ویستل، مطلقا یو څیز ویستل، ختمول، یعنی مونږ ورځ لره د شپې نه اوباسو، فاذاهم مظلمون نو هغوی په تیاره کښې پاتې شی، ددې نه معلومیږی چې په کائنات کښې تیاره اصل ده، او رنړا (ورځ) پرې طاری ده، څنګه چې د ځناور نه څرمن ویستلو نه پس غوښه ظاهره شی، دغه شان ورځ د شپې نه د ویستو نه پس شپه باقی پاتې شی، مفسر علام د نسلخ تفسیر په نفصل سره کولو کښې اشاره اوکړه چې نسلخ د نکشف په معنی کښې دې، ګنی فاذاهم مظلمون په ځائې فاذا هم مصبحون پکار وو، څکه چې دآیت معنی به دا وی وایته اللیل نکشف ونظهر منه النهار نفصل (منه) کښې (من) په معنی د (عن) دې، ددې نه دا خبره هم معلومه شوه چې لیل د نهار نه مقدم دې، څکه چې مسلوخ منه د مسلوخ نه مقدم وی،

قوله: مظلمون: داظلم القوم نه ماخوذ دې، ای دخلوا فی الظلام

قوله: من جملة الأیة: ددې عطف (الارض) مبتدا باندې دې، یعنی عطف د مفرد علی المفرد دې.

قوله: اوایة اخری:دا دویم ترکیب ته اشاره ده، یعنی الشمس مبتدأ ده، او تجری ددې خبر دې، په دې صورت کښې به عطف د جملې علی الجمله وی،

قوله: والقمر کذلك:یعنی قمر د ایتونو نه یو آیت دې، یا ځان له مستقل آیت دې، دا ترکیب به په هغه صورت کښې وی چې کله القمر مرفوع اوونیلې شی، او که القمر منصوب اوونیلې شی، نو دفعل مقدر د وجې به منصوب وی، او په دې صورت کښې به د ما اضمر عامله د قبیلې نه وی، تقدیری عبارت به دا وی قدرنا القمر قدرناه او که مرفوع اوونیلې شی، نومخکښې مبتدأ یعنی الارض میتة باندې به عطف وی، او تقدیری عبارت ایة لهم القمر وی، یا القمر په خپله مبتدأ او قدرناه خبر شو.

قوله: المنازل:په دې کښې درې ترکیبونه کیدې شی ① دقدرنا مفعول ثانی کیدو د وجه نه منصوب وی، په دې صورت کښې به قدرنا په معنی د صیرنا شی.

②د قدرناه د ضمیر نه حال وی، په دې صورت کښې بهٔ د منازل اولنې مضاف محذوف ګنړل لازم شی، ځکه چې خپله قمر منازل نه دې، بلکه ذومنازل دې، تقدیری عبارت به دا وی، قدرناه ذومنازل،

③دا چې منازل ظرف وی، ای قدرناسیره فی منازل،علامه جلال الدین محلی په خپل قول، من حیث سیره سره دې ترکیب ته اشاره کړې ده،

قوله: العرجون: بروزن فعلون،د کهجورې ځانګه، کومه ځانګه چې په ونه کښې د اوچیدو نه پس زیړه شوې وی، نرئ او کږه په شان د هلال وی.

قوله: شماریخ:دا د شمروخ جمع ده، دا د عرجون تشریح ده، په دې کښې تشبیه مرکب ده، ځکه د هلال د عرجون سره په درې اوصافو کښې تشبیه ورکړې شوې ده ، دقت، تقوس او اصفرار.

قوله: نزلوامنزلة العقلا:په دې عبارت سره مقصد د یو سوال مقدر جواب ورکول دی.

سوال: کل یا په عموم باندې دلالت کولو د وجې نه، یا تنوین د مضاف الیه په عوض کښې د راتلو د وجې نه مبتدأ دې، ای کل احد من الشمس والقمر والنجوم فی فلك یسبحون،یسبحون د مبتدأ خبر دې، مبتدأ غیر ذوی العقول ده، او ددې خبر یسبحون واؤ نون سره راوړې شوې دې، کوم چې د ذوی العقول سره خاص دې، لهذا یسبحون واؤنون سره صحیح نه معلومیږی؟

جواب: یسبحون د سبح نه مشتق دې، چې د هغې معنی د لامبو وهل دی، او دا د ذوی العقول صفت دې، چونکه غیر ذوی العقول طرف ته د ذوی العقول د فعل نسبت شوې

دي، ځکه غير ذوی العقول د ذوی العقول په درجه کښې شو، چې د هغې د وجې نه يسبحون خبر راوړل صحيح شو.

قوله: ایة لهم انا حملنا ذریتهم: ایة لهم خبر مقدم دې، او انا حملنا د حملنا مصدر په تاويل سره مبتدا مؤخر ده، ای حملنا ذریتهم فی الفلك ایة دالة علی باهر قدرتنا.

قوله: ای اباءهم الاصول: په دې عبارت سره ئې اشاره اوکړه چې د ذرية اطلاق څنګه په فروعو باندې کيږي دغه شان په اصولو باندې هم کيږي، ځکه چې دا د ذرية نه ماخوذ دې، چې د هغې معنی د خلق د ده، او فروع د اصول نه مخلوق دې، لهذا اوس هغه اعتراض ختم شو، چې د نوح علیه السلام په کشتئ کښې ناست خلق اصول د اهل مکه وو، نه چې فروع، او بعضې حضراتو د مذکوره اعتراض دا جواب ورکړې دې، چې په فی الفلک کښې الف لام د جنس دې، چې دهغې نه جنس کشتی مراد ده، نه چې يو خاص کشتئ د نوح، ځکه چه ددې آيت مقصد په اهل مکه باندې احسان کول دی، او ښکاره خبره ده چې مطلق کشتئ مراد اخستو کښې احسان کول بالواسطه او بلاواسطه دواړه شامل دی. (لغات القرآن للدرويش)

قوله: کغیرکم: ای کالمؤمنین:

(**قوله:** اعرضوا. ددې اضافې سره ئې اشاره اوکړه چې د اذاقیل لهم جواب اعرضوا محذوف دې.

قوله: خلقنا لهم من مثله: دا دويم احسان ذکر کول دی کوم چې په مخکښنی امتنان باندې مرتب دې، د آيت معنی ده (جعلنا سفینة نوح ایة عظیمة علی قدرتنا ونعمة للخلق وعلمناهم صنعة السفینة فعملوا سفنا کبارا وصغارا لینتفعوا بها:

قوله: وخلقنا لهم من مثله ما یرکبون: من مثله د مفعول مؤخر نه حال دې، او د مثله ضمير د فلک طرف ته راجع دې.

قوله: فی معتقدکم هذا: اې مومنانو ستاسو د دې عقيدې باوجود چې هم الله رزاق دې هغه تولو باندې خواراک او څښاک کوی بيا زمونږ نه ولې خوراک طلب کوئی، ؟ په دې صورت کښې په الذین کفروا کښې د کافرو نه مراد د الله د وجود نه منکر خلق دهريان دې، او که مطلب دا وی چې د چا روزی الله تعالی بنده کړی او الله هغه باندې خوړل نه غواړی نو مونږ د هغه د مرضئ او مشيت نه خلاف په هغه باندې خوراک کونکې څوک کيدې شو؟ په دې صورت کښې په الذين کفروا کښې د کافر نه مراد مشرک وی، کوم چې د الله د وجود قائل دی خو هغه سره شرک کوی، ددې دويم مطلب تائيد ددې روايت نه هم کيږی چې ابوبکر رضی الله عنه به مسلمانانو مسکينانو باندې ډير خوراکونه کول، يو ورځ د ابوجهل د ابوبکر رضی الله عنه سره ملاقات اوشو نو وې وئيل اې ابوبکر! آيا ستا دا عقيده ده

چې الله تعالى دې خلقو باندې خوراک کولو باندې قادر دې؟ صديق اکبر رضي الله عنه اوفرمائيل چې آو، نو هغه ورته اووئيل چه بيا څه وجه ده چې دوی باندې خوراک نه کوی؟ ابوبکر رضي الله عنه اوفرمائيل چې الله تعالى څوک په غريبئ او څوک په غنا سره په امتحان کښې اچوی، او فقيرانو ته ئې د روزګار او مالدارو ته ئې د سخاوت حکم ورکړې دې، نو ابوجهل اووئيل (والله يا ابابكر ان انت الا في ضلال) اې ابوبکر ته په غلط فهمئ کښې مبتلا ئې، آيا ته دا ګڼړې، چې هغه دوی ته د خوراک په ورکولو باندې د قادر کيدو باوجود خوراک نه ورکوی، خو ته پرې خوراک کوې؟

قوله: موقع عظيم: د قائلينو د کفر په ښکاره کولو، د کفارو تبکيت او تقبيح نه علاوه اهم خبره دا ده، چې د کافرانو دوه قسمونو طرف ته اشاره اوشوه، يو هغه چې د سر نه د الله د وجود نه انکاری وی، دلته د کافر نه هم هغه کافر مراد دې، او دويم هغه چې د الله د وجود نه منکر خو نه وی، خو هغه سره شريک جوړوی، ماقبل کښې د الله تعالى قول الم يرواكم اهلكنا قبلهم من القرون (الآية) کښې دويم قسم کافران مراد دی. (صاوی وجمل)

قوله: ويقولون متى هذا الوعد: دا قول د دويم قسم يعنی د مشرکينو طرف ته راجع دې.

قوله: وادغمت في الصاد: يعنی تاء په صاد سره د بدلولو نه پس، په صاد کښې ادغام کړې شوه، (والله اعلم بالصواب)

[اياتونه: ۵۱ - ۶۷]

﴿وَنُفِخَ فِي الصُّورِ﴾ هُوَ قَرْنُ النَّفْخَةِ الثَّانِيَةِ لِلْبَعْثِ وَبَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ سَنَةً ﴿فَإِذَا هُمْ﴾ أَيِ الْمَقْبُورُونَ ﴿مِنَ الْأَجْدَاثِ﴾ الْقُبُورِ ﴿إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ﴾ يَخْرُجُونَ بِسُرْعَةٍ ﴿قَالُوا﴾ أَيِ الْكُفَّارُ مِنْهُمْ ﴿يَا﴾ لِلتَّنْبِيهِ ﴿وَيْلَنَا﴾ هَلَاكَنَا وَهُوَ مَصْدَرٌ لَا فِعْلَ لَهُ مِنْ لَفْظِهِ ﴿مَنْ بَعَثَنَا مِنْ مَرْقَدِنَا﴾ لِأَنَّهُمْ كَانُوا بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ نَائِمِينَ لَمْ يُعَذَّبُوا ﴿هَٰذَا﴾ أَيِ الْبَعْثُ ﴿مَا﴾ أَيِ الَّذِي ﴿وَعَدَ﴾ بِهِ ﴿الرَّحْمَٰنُ وَصَدَقَ﴾ فِيهِ ﴿الْمُرْسَلُونَ﴾ أَقَرُّوا حِينَ لَا يَنْفَعُهُمُ الْإِقْرَارُ وَقِيلَ يُقَالُ لَهُمْ ذَلِكَ ﴿إِنْ﴾ مَا ﴿كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَدَيْنَا﴾ عِنْدَنَا ﴿مُحْضَرُونَ﴾ ﴿فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا﴾ جَزَاءَ ﴿مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ ﴿إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ﴾ بِسُكُونِ الْغَيْنِ وَضَمِّهَا عَمَّا فِيهِ أَهْلُ النَّارِ مِمَّا يَتَلَذَّذُونَ بِهِ كَافْتِضَاضِ الْأَبْكَارِ لَا شُغُلَ يَتْعَبُونَ فِيهِ لِأَنَّ الْجَنَّةَ لَا نَصَبَ فِيهَا ﴿فَاكِهُونَ﴾ نَاعِمُونَ خَبَرٌ ثَانٍ لِإِنَّ وَالْأَوَّلُ فِي شُغُلٍ ﴿هُمْ﴾ مُبْتَدَأٌ ﴿وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلَالٍ﴾ جَمْعُ ظُلَّةٍ أَوْ ظِلٍّ خَبَرٌ أَيْ لَا تُصِيبُهُمُ الشَّمْسُ ﴿عَلَى الْأَرَائِكِ﴾ جَمْعُ أَرِيكَةٍ وَهُوَ السَّرِيرُ فِي الْحَجَلَةِ أَوِ الْفُرُشُ فِيهَا ﴿مُتَّكِئُونَ﴾ خَبَرٌ ثَانٍ مُتَعَلِّقٌ عَلَى ﴿لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَلَهُمْ﴾ فِيهَا ﴿مَا يَدَّعُونَ﴾ يَتَمَنَّوْنَ ﴿سَلَامٌ﴾ مُبْتَدَأٌ ﴿قَوْلًا﴾ أَيْ بِالْقَوْلِ خَبَرُهُ ﴿مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ﴾ بِهِمْ أَيْ يَقُولُ لَهُمْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ ﴿وَ﴾ يَقُولُ ﴿امْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ﴾ أَيِ انْفَرِدُوا عَنِ الْمُؤْمِنِينَ عِنْدَ اخْتِلَاطِهِمْ بِهِمْ ﴿أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ﴾ آمُرْكُمْ ﴿يَا بَنِي آدَمَ﴾ عَلَى لِسَانِ رُسُلِي ﴿أَنْ لَا تَعْبُدُوا

الشَّيْطَان﴾ لَا تُطِيعُوهُ ﴿إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ﴾ بَيِّنُ العداوة ﴿وَأَنِ اعْبُدُونِي﴾ وَحِّدُونِي وَأَطِيعُونِي ﴿هَٰذَا صِرَاطٌ﴾ طَرِيقٌ ﴿مُّسْتَقِيمٌ ﴿وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنكُمْ جِبِلًّا﴾ خَلْقًا جَمْعُ جِبِيلٍ كَقَدِيمٍ وَفِي قِرَاءَةٍ بِضَمِّ الْبَاءِ ﴿كَثِيرًا أَفَلَمْ تَكُونُوا تَعْقِلُونَ﴾ عَدَاوَتَهُ وَإِضْلَالَهُ أَوْ مَا حَلَّ بِهِمْ مِنَ الْعَذَابِ فَتُؤْمِنُونَ وَيُقَالُ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ ﴿هَٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ﴾ بِهَا ﴿اصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ﴾ ﴿الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰ أَفْوَاهِهِمْ﴾ أَيِ الْكُفَّارِ لِقَوْلِهِمْ وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴿وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم﴾ وَغَيْرُهَا ﴿بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾ فَكُلُّ عُضْوٍ يَنْطِقُ بِمَا صَدَرَ مِنْهُ ﴿وَلَوْ نَشَاءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰ أَعْيُنِهِمْ﴾ لَأَعْمَيْنَاهَا طَمْسًا ﴿فَاسْتَبَقُوا﴾ ابْتَدَرُوا ﴿الصِّرَاطَ﴾ الطَّرِيقَ ذَاهِبِينَ كَعَادَتِهِمْ ﴿فَأَنَّىٰ﴾ فَكَيْفَ ﴿يُبْصِرُونَ﴾ حِينَئِذٍ أَيْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿وَلَوْ نَشَاءُ لَمَسَخْنَاهُمْ﴾ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ أَوْ حِجَارَةً ﴿عَلَىٰ مَكَانَتِهِمْ﴾ وَفِي قِرَاءَةٍ مَكَانَاتِهِمْ جَمْعُ مَكَانَةٍ بِمَعْنَى مَكَانٍ أَيْ فِي مَنَازِلِهِمْ ﴿فَمَا اسْتَطَاعُوا مُضِيًّا وَلَا يَرْجِعُونَ﴾ أَيْ لَمْ يَقْدِرُوا عَلَىٰ ذَهَابٍ وَلَا مَجِيءٍ

ترجمه: او شپیلۍ به اووهلې شي، او هغه يو خکر دې، او دويمه شپيلۍ به د ژوندی کولو د پاره وی، او په دوارو نفخو کښې به وقفه څلویښت کاله وی. بیا چې کله یعنی هغه مری د قبرونو نه راوتلو سره په تیزۍ د خپل پروردگار طرف ته ځی، په دوی کښې به کافران وائی، هائې زمونږ کمبختۍ، یاء د تنبیه د پاره ده هائې زمونږ هلاکته، ویل داسې مصدر دې چې ددې لفظی فعل نه وی، چا مونږ د قبرونو نه پاسولو، ؟ ځکه چه د دواړه نفخو په مینځ کښې به دوی اوده وی، او دوی ته به عذاب ورکولې نشی، دا هم هغه بعث دې، د کوم چې رحمن وعده کړې وه، او رسولانو ددې باره کښې رشتیا وئیلی وو، په داسې وخت به اقرار اوکړی چه ددوی اقرار به څه فائده ورنکړی، او يو قول دا هم دې، چې دا خبره به کافرانو ته اووئیلې شی، نو دا به یو زوردار اواز وی، چې هغې سره به سمدسی ټول زمونږ مخکښې حاضر کړې شی، بیا به هغه ورځ به په هیڅ یو کس باندې ذره برابر هم ظلم نه کیږی، او تاسو ته به د هغه کارونو بدله ملاویږی کوم چې تاسو کول، جنتیان به په هغه ورځ د ددې دوزخیانو د عذاب نه بې خبر په عیش او عشرت کښې به وی، د هغه څیزونو د وجې نه د کوم نه چې دوی مزې اخلی، لکه خوانانو جینکو سره صحبت، نه چې داسې یو کار چې په هغې کښې څه ستړې والې او تکلیف وی، ځکه چې جنت د تکلیفونو او د ستړې ځائې نه دې، شغل د عین په سکون او ضمې سره دې، فاکهون په معنی د ناعمون یعنی خوشحاله، دا د إن دويم خبر دې، او اول خبر ئې شغل دې، دوی او ددوی ښځې به په سورو کښې په بالختونو باندې ددې وهلې ناست وی، هم مبتدأ ده، ظلال د ظلة جمع ده، (فی ظلال) اول خبر دې، یعنی په دوی باندې به دهوپ (د نمر تپش) نه وی، ارائك د اريكة جمع ده هغه بالخت ته وائی کوم چې په خيمه کښې وی، يا هغه فرش ته وائی چې په خيمه کښې وی، متکؤن دويم خبر دې، او دا د (علی) متعلق دې، هلته به د هغوی د پاره میوې او څه چې غواړی هغه به موجود وی، دوی ته

به د پروردګار مهربان د طرف نه سلام پیش کړې شی، سلام مبتدأ ده او قولا خبر دې، یعني دوی ته به سلام علیکم وئیلې شی، او الله تعالی به د دوی د اختلاط په وخت کښې وائی اې مجرمانو نن (د مومنانو نه) جدا شئې، او اې د آدم اولاده آیا ما تاسو ته د رسولانو په ژبه تاکیدی حکم کړې نه وو، چې د شیطان تابعداری یعني د هغه اطاعت مه کوئی، هغه ستاسو ښکاره دښمن دې، یعني د هغه دښمنی ښکاره ده، او صرف ځما بندګی کوئی، یعني ځما د توحید اقرار کوئی، او ځما اطاعت کوئ هم دا نیغه لاره ده، هغه شیطان په تاسو کښې یو لویه ډله ګمراه کړې ده، جبلا جبل جمع ده ځنګه چې قدما قدیم جمع ده، او په یو قراءت کښې د باء په ضمې سره دې، ځملا نو آیا تاسو د هغه په ګمراه کولو، یا د هغه په دښمنۍ او یا په هغه عذاب کوم چې په هغوی باندې نازل شو، نه پوهیږئ، چې ایمان مو راوړې وو، او دوی ته به اوئیلې شی چه دغه دې هغه جهنم! د کوم چې به تاسو سره وعده کیدې شوه نن په دې کښې د خپل کفر د وجې نه داخل شئ، نن به مونږ د کافرانو په خلو باندې مهرونه اولګوو، ددوی دا وئیلو د وجې چې اې ځمونږ پروردګاره مونږ د مشرکانو نه نه وو، کوم څه چې دوی په دنیا کښې کول، ددوی لاسونه به ئې مونږ ته بیان کړی، او ددوی خپې وغیره به ګواهی ورکوی، او که مونږ اوغواړو نو ددوی سترګو لره به ختمې کړو یعني ختمولو سره به ئې رندې کړو، بیا به دوی لارې طرف ته د خپل عادت مطابق منډې وهی نو هغه وخت به دوی څنګه کتل کوی؟ یعني کتلې به نشی، او که مونږ اوغواړو نو دوی چې په کوم ځای دی هلته به ئې په بیزوګانو او خنزیرانو یا په کاڼرو کښې به ئې بدل کړو، او په یو قراءت کښې مکاناتهم دې، کوم چې د مکانة جمع ده، په معنی د مکان دې، یعني ددوی په کورونو کښې بیا به دا خلق مخکښې تلې نشی، او نه به واپس کیدې شی، یعني دا خلق به نه په تلو قادر وی او نه په راتلو باندې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: الصور ای القرن: چې هغې ته نن صبا خلق بوق (بګل) وائی، (ج) ابواق وبيقان وبيقات

قوله: الاجداث: جمع جدث، بمعنی قبر

قوله: ينسلون: (ن ض) نسلامنډې وهل، مجبوراً تیز تلل

قوله: ياللتنبيه: تنبیه اضافې سره ددې سوال جواب دې، چې ندا عُقَلاؤ سره خاص ده او (ويل) د ذوی العقول نه نه دې، لهذا دې ته اواز کول صحیح نه دی؟

د جواب خلاصه داده چې یاء د نداد پاره نه ده، بلکه د تنبیه د پاره ده لهذا هیڅ اعتراض نشته، یا مجازا ویل ته ندا شوې ده، ای یا ویلنا احضر فهذا اوان حضورك د جمهورو په نیز یا ویلنا دې، او ابن ابی لیلی یا ویلتنا وئیلې دې.

قوله: من بعثنا: د جهورو په نیز (من) استفهامیه مبتدأ ده، او بعثنا ددې خبر دې، او

(س) په كسرې د ميم سره بطور شاذ ونيلې شوې دى، په دې صورت كښې به جار مجرور د ويلنا متعلق وى، او بعث به مصدر وى.

قوله: ويلنا: ويل داسې مصدر دې چې ددې لفظا فعل مستعمل نه دې، لهذا معنى ددې فعل (هلک) استعماليدې شى،

قوله: من مرقدنا: دا د بعثنا متعلق دې، مرقدنا مصدر ميمى دې، اوده كيدل، او اسم مكان هم كيدې شى، يعنى د خوب ځاې (قبر) مفرد د مصدر كيدو د وجې د جمع قائم مقام كړې شو.

قوله: هذا ما وعد الرحمن وصدق المرسلون: دوعد او صدق مفعول محذوف دې، اى وعدنا به وصدقونا فيه، مفسر علام د أقرواحين لا ينفعهم الاقرار په اضافې سره اشاره اوكړه چې هذا ما وعد الرحمن الخ د كفارو قول دې، هذا مبتدأ ده، او ما وعد الرحمن جمله خبر.

قوله: وعد الرحمن: د قالوا محذوف مقوله كيدو د وجې نه په محل د نصب كښې دې،

قوله: قيل يقال لهم ذلك: مفسر علام په دې عبارت سره دې خبرې ته اشاره كړې ده چې بعضې حضراتو ما وعد الرحمن د الله تعالى يا د مومنانو يا د ملائكه قول ګرځولې دې.

قوله: فاكهون اي ناعمون: اسم فاعل جمع مذكر (س) فُكَاهة، آرام موندل، مزې اخستل، توقو كولو والا، صاحب معجم القرآن ليكلى دى د فكهين او فاكهين معنى ده مسلمانانو پسې توقې كولو سره مزې اخستل، (لغات القرآن)

قوله: على الارائك: دا د متكئون متعلق مقدم دې، او متكون د خپل متعلق سره د (هم) مبتدأ خبر ثاني دې.

قوله: ما يدعون: يدعون په اصل كښې يدتعيون وو، بروزن يفتعلون، په ياء باندې ضمه ثقيله وه ماقبل ع ته ئې وركړه، د التقاء ساكنين د وجې نه ياء اوغورزيدله، بيا تاء په دال سره بدله كړې شوه، او دال په دال كښې مدغم شو.

قوله: سلام قولا من رب رحيم: ددې جملې په تركيب كښې مختلف اقوال دى، جمهورو سلام په رفع سره وئيلې دې، او أبيّ او ابن مسعود او عيسى سلاما په نصب سره وئيلې دې، نصب يا خو د مصدريت د وجې نه دې، يا د حال كيدو د وجې نه، اى خالصا، علامه محلى منصوب بنزع الخافض ګرځولې دې، او اى بالقول وئيلو سره ئې دې طرف ته اشاره اوكړه، او د رفع خو وجوهات دى ① د ما يدعون خبر دې، ② د (ما) نه بدل دې، دا د زمخشرى قول دې، شيخ وئيلې دى كه چرې سلام بدل وى، نو د مايدعون نه به مخصوص تمنا مراد وى، چې بدل واقع كيدل صحيح شى، او ښكاره دا ده چې مايدعون

كل مايتمناه لره عام دي، په دې صورت كښې بدل واقع كيدل صحيح نه دى.
③د (ما) صفت دې، خو دا به په هغه صورت كښې وى چې كله (ما) نكره موصوفه اوګنړلې شى، او كه د الذى په معنى كښې واخستلې شى يا مصدريه واخستلې شى، نو صفت واقع كيدل به ګران وى، په نكره او معرفه كښې د مخالفت د وجې.④ دمبتدأ محذوف د خبر د وجې نه مرفوع دې، اى هوسلام: ⑤سلام مبتدأ او ددې د خبر (د قولا) ناصب محذوف دى اى سلام يقال لهم قولا،بعضې حضراتو سلام عليكم تقدير منلې دې ⑥سلام مبتدأ او من رب العلمين ددې خبر، او قولاد د تاكيد د پاره دې، او د خپل عامل سره د مبتدأ او د خبر په مينځ كښې جمله معترضه ده.(لغات القرآن للدرويش)
قوله: الم اعهد اليكم:دا استفهام توبيخى دې.
قوله: لاتطيعوه:دا د ان لاتعبدوا الشيطان تفسير دې، مقصد ددې شبهې ازاله كول دى چې د شيطان بندګى څوک هم نه كوى، بيا د شيطان د بندګئ نه څه مراد؟
د جواب حاصل دادې چه عبادت په معنى د اطاعت دې، يعنى د شيطان د اطاعت د وجه نه خلق د غير الله بندګى شروع كړى، نو دا ګويا چې د شيطان بندګى شوه، ان لاتعبدوا كښې (ان) تفسيريه دې، څكه چې په ماقبل كښې لفظ آمركم موجود دې، كوم چې په معنى د قول دې، لهذا د (ان) تفسيريه كيدل صحيح دى.
قوله: انه لكم عدو مبين:دا د وجوب ممانعت علت دې،
قوله: ولقد اضل منكم:دا د تعليل تاكيد دې
قوله: جبلا:د باء او د جيم په كسره او د لام په تخفيف سره، دې نه علاوه دوه نور قراءتونه هم دى ①د جيم او باء دواړو په ضمې سره ②د جيم په ضمې سره د باء د سكون سره، او د لام تخفيف سره، مذكوره درې واړه قراءتونه سبعيه دى.
قوله: توعدون بها:د بها اضافه كولو سره ئې اشاره اوكړه چې توعدون جمله صله ده، او د دې عائد بها محذوف دې.
قوله: بما كنتم:اى بسبب ماكنتم تكفرون: په بما كښې (ما) مصدريه ده، بسبب كفركم
قوله: ولونشاء لطمسنا على اعينهم:لو شرطيه دې، نشاء فعل بافاعل دې، او د نشاء مفعول به محذوف دې، اى لونشاء طمسها لطمسناها،لطمسنا جواب شرط دې،
قوله: فانى يبصرون:يعنى استفهام انكارى دې، يعنى كتلې به نشى.
قوله: ولونشاء لمسخناهم:اى لونشاء مسخهم لمسخناهم:
قوله: على مكانتهم:على په معنى د فى ده، څكه چې شارح فى منازلهم وئيلو سره اشاره اوكړه.

[ایاتونه: ٦٨ ـ ٧٣]

{وَمَنْ نُعَمِّرْهُ} بِإِطَالَةِ أجله {نُنَكِّسْهُ} وَفِي قِرَاءَة بِالتَّشْدِيدِ مِنَ التَّنْكِيس {فِي الْخَلْقِ} فَيَكُون بَعْد قُوَّته وَشَبَابه ضَعِيفًا وَهَرِمًا {أَفَلَا يَعْقِلُونَ} انَّ الْقَادِر عَلَى ذَلِكَ الْمَعْلُوم عِنْدهمْ قَادِر عَلَى الْبَعْث فَيُؤْمِنُونَ وَفِي قِرَاءَة بِالتَّاءِ {وَمَا عَلَّمْنَاهُ} أيْ النَّبِيّ {الشِّعْر} رَدّ لِقَوْلِهِمْ إنَّ مَا أتَى بِهِ مِنَ الْقُرْآن شِعْر {وَمَا يَنْبَغِي} يَسْهُل {لَهُ} الشِّعْر {إنْ هُوَ} لَيْسَ الَّذِي أتَى بِهِ {إلَّا ذِكْر} عِظَة {وَقُرْآن مُبِين} مُظْهِر لِلْأَحْكَامِ وَغَيْرهَا {لِيُنْذِر} بِالْيَاءِ وَالتَّاء بِهِ {مَنْ كَانَ حَيًّا} يَعْقِل مَا يُخَاطَب بِهِ وَهُمْ الْمُؤْمِنُونَ {وَيَحِقّ الْقَوْل} بِالْعَذَابِ {عَلَى الْكَافِرِينَ} وَهُمْ كَالْمَيِّتِينَ لا يعقلون ما يخاطبون به {أولم يروا} يَعْلَمُوا وَالِاسْتِفْهَام لِلتَّقْرِيرِ وَالْوَاو الدَّاخِلَة عَلَيْهَا للعطف {أنا خلقنا لهم} في جملة الناس {مِمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا} عَمِلْنَاهُ بِلَا شَرِيك وَلَا مُعِين {أَنْعَامًا} هِيَ الْإِبِل وَالْبَقَر وَالْغَنَم {فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ} ضَابِطُونَ {وذللناها} سخرناها {لهم فمنها ركوبهم} مركوبهم {ومنها يأكلون} {وَلَهُمْ فِيهَا مَنَافِع} كَأَصْوَافِهَا وَأَوْبَارهَا وَأَشْعَارهَا {وَمَشَارِب} مِنْ لَبَنهَا جَمْع مَشْرَب بِمَعْنَى شُرْب أوْ مَوْضِعه {أَفَلَا يَشْكُرُونَ} الْمُنْعِم عَلَيْهِمْ بِهَا فَيُؤْمِنُونَ أيْ مَا فَعَلُوا ذَلِكَ {وَاتَّخَذُوا مِنْ دُون اللَّه} أيْ غَيْره {آلِهَة} أصْنَامًا يَعْبُدُونَهَا {لَعَلَّهُمْ يُنْصَرُونَ} يُمْنَعُونَ مِنْ عَذَاب اللَّه تَعَالَى بِشَفَاعَةِ آلِهَتهمْ بِزَعْمِهِمْ {لَا يَسْتَطِيعُونَ} أيْ آلِهَتهمْ نُزِّلُوا مَنْزِلَة الْعُقَلَاء {نَصْرهمْ وَهُمْ} أيْ آلِهَتهمْ مِنَ الْأَصْنَام {لَهُمْ جُنْد} بِزَعْمِهِمْ نَصْرهمْ {مُحْضَرُونَ} فِي النَّار مَعَهُمْ {فَلَا يَحْزُنك قَوْلهمْ} لَك لَسْت مُرْسَلًا وَغَيْر ذَلِكَ {إنَّا نَعْلَم مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ} مِنْ ذَلِكَ وَغَيْره فَنُجَازِيهِمْ عَلَيْهِ {أَوَلَمْ يَرَ الْإِنْسَان} يَعْلَم وَهُوَ الْعَاصِي بْن وَائِل {أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِنْ نُطْفَة} مَنِيّ إلَى أنْ صَيَّرْنَاهُ شَدِيدًا قَوِيًّا {فَإِذَا هُوَ خَصِيم} شَدِيد الْخُصُومَة لَنَا {مُبِين} بَيِّنهَا فِي نفي البعث {وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا} فِي ذَلِكَ {وَنَسِيَ خَلْقه} مِنَ الْمَنِيّ وَهُوَ أغْرَب مِنْ مِثْله {قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَام وَهِيَ رَمِيم} أيْ بَالِيَة وَلَمْ يَقُلْ رَمِيمَة بِالتَّاءِ لِأَنَّهُ اسْم لَا صِفَة وَرُوِيَ أنَّهُ أخَذَ عَظْمًا رَمِيمًا فَفَتَّتَهُ وَقَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أتَرَى يُحْيِي اللَّه هَذَا بَعْد مَا بَلِيَ وَرَمَّ فَقَالَ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ وَيُدْخِلك النار {قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنْشَأَهَا أَوَّل مَرَّة وَهُوَ بِكُلِّ خَلْق} مَخْلُوق {عَلِيم} مُجْمَلًا وَمُفَصَّلًا قَبْل خَلْقه وَبَعْد خَلْقه {الَّذِي جَعَلَ لَكُمْ} فِي جُمْلَة النَّاس {مِنَ الشَّجَر الْأَخْضَر} الْمَرْخ وَالْعَفَار أوْ كُلّ شَجَر إلَّا الْعُنَّاب {نَارًا فَإِذَا أَنْتُمْ مِنْهُ تُوقِدُونَ} تَقْدَحُونَ وَهَذَا دَالّ عَلَى الْقُدْرَة عَلَى الْبَعْث فَإِنَّهُ جَمَعَ فِيهِ بَيْن الْمَاء وَالنَّار وَالْخَشَب فلا الماء يطفيء النار ولا النار تحرق الخشب {أوليس الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَات وَالْأَرْض} مَعَ عِظَمهمَا {بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يَخْلُق مِثْلهمْ} أيْ الْأَنَاسِيّ فِي الصِّغَر {بَلَى} أيْ هُوَ قَادِر عَلَى ذَلِكَ أجَابَ نَفْسه {وَهُوَ الْخَلَّاق} الكثير الخلق {الْعَلِيم} بكل شيء {إنَّمَا أَمْره} شَأنه {إذَا أَرَادَ شَيْئًا} أيْ خَلْق شَيْء {أَنْ يَقُول لَهُ كُنْ فَيَكُون} أيْ فَهُوَ يَكُون وَفِي قِرَاءَة بِالنَّصْبِ عَطْفًا على يقول {فَسُبْحَان الَّذِي بِيَدِهِ مَلَكُوت} مُلْك زِيدَتْ الْوَاو وَالتَّاء لِلْمُبَالَغَةِ أيْ الْقُدْرَة عَلَى {كُلّ شَيْء وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ} تُرَدُّونَ فِي الْآخِرَة

ترجمه: او چا لره چې مونږ د عمر په اوږدولو سره معمر (پوخ عمر والا) جوړ کړو نو د هغه

تخلیق واړوو، او په یو قراءت کښې تنکیس په تشدید سره دې، نو هغه د ځوانئ او د قوت نه پس کمزورې او بوډاها شي، نو آیا دوی نه پوهیږي، چې کوم ذات په دې خبره باندې چې کوم دوی ته معلوم ده قادر دې، هغه په بعث بعد الموت باندې هم قادر دې، چې هغوی ایمان راوړي، او په یو قراءت کښې حخ تاء سره دې، او مونږ دې نبي ﷺ ته شعرونه وئیل خودلي نه دي، دا د کافرانو د هغه خبرې جواب دې چې محمد ﷺ څه هم د قرآن نه پیش کوي هغه شعرونه دي، او نه شعر وئیل د هغه د شان سره مناسب دي، چې کوم دوی پیش کوي، هغه خو صرف یو نصیحت دې، او احکام وغیره ښکاره کولو والا قرآن دې، چې هغه کس د قرآن په ذریعه سره کوم چې ژوندې دې خبردار کړي، یعني څه چې هغه ته اووئیلې شي په هغې پوهیږي او هغه اهلِ ایمان دي، او په کافرانو باندې د عذاب وعده ثابته شي، او کافران د مرو پشان دي ځکه چې کومه خبره دوی ته کولې شي په هغې نه پوهیږي، آیا دا خلق په دې باندې نه پوهیږي چې مونږ په خپل لاس باندې بغیر د شریک او د مددګار نه پیدا کړې شوې څیزونو کښې سره د ټولو خلقو ددوی د پاره څناور، چې هغه اوښان، غواګانې او چیلۍ پیدا کړي دي چې دوی ئې مالکان جوړ شوې دي، په قابو کښې کړې ئې دي، په (أولم یروا) کښې استفهام تقریري دې، او کوم واؤ چې په دې باندې داخل دې عاطفه دې هغه او مونږ دا څناور ددوی په قابو کښې ورکړې دي، په دې کښې بعضې ددوی سورلې دي، او بعضې ددې نه خوري، او ددوی د پاره په دې کښې نورې هم ډیرې فائدې دي، لکه وړئی، ویخته وغیره او د څکلو څیزونه دي، مثلا پې، یا ددې محل، (غلانزه) مشارب دمشرب جمع ده، په معنی د شُرب، آیا دا خلق په خپل ځان باندې د څناورو په ذریعې سره د احسان کونکي ذات شکریه نه ادا کوي، چې ایمان راوړي، یعني دوی داسې اونه کړه، او دوی غیر الله یعني بتانو لره معبود نیولې دي، چې د هغوی بندګي کوي، چې کیدې شي چې ددوی د طرف نه دوی ته څه مدد اورسي، چې د الله د عذاب نه ددوی د اعتقاد مطابق ددې بتانو په سفارش سره د (عذاب) نه محفوظ شي، خو ددوی معبودان به ددوی هیڅ مدد نشي کولې، دې معبودانو لره ئې د ذوي العقول په درجه کښې اچولې دي به هغوی یعني د دوی بتان د چا نه چې د دوی د مدد امید ساتلو د وجې نه ددوی په لښکر کښې دې عبادت کونکو سره په جهنم کښې حاضرولې شي، نو ستا په باره کښې ددوی قول لَسْتَ مُرْسَلًا وغیره دې تالره خفه نه کړي بې شکه مونږ دې خبرې لره او دې نه علاوه په نورو خبرو ښه پوهیږو، کوم چې دوی پټوي، او چې کوم ښکاره کوي، مونږ د هغې بدله ورکړو، آیا انسان ته معلومه نه ده او هغه عاص بن وائل دې چې مونږ هغه لره د مني د نطفې نه پیدا کړو، تر دې چې هغه مونږ مضبوط او طاقتور جوړ کړو، بیا هغه د بعث نه انکار کولو سره خصومت ښکاره کړو او په ښکاره ئې اعتراض اوکړو یعني مونږ سره ئې مخالفت شروع کړو او ده په دې باره کښې زمونږ په شان کښې یوه

عجيبه خبره اوکړه، او خپل اصل حقيقت ئې هير کړو، چې هغه د منې د نطفې نه پيدا شوې دې، او دا د هغې د عجيبه خبرې نه زياته عجيبه خبره ده، وائي چې هغه هډوکي کوم چې وراسته شوې وي، څوک ژوندی کولې شي؟ رميم په (بمعنی بالية) (وراسته) په رميمة تاء سره ئې اونه وئيل (خنګه چې د قياس تقاضه ده) ځکه چه رميم اسم دې، نه چې صفت دې. روايت کړې شوې دې چې عاص بن وائل، يو روست هډوکې راوخستلو او هغه ئې ريزه ريزه کړو، او حضور ﷺ ته يې اووئيل چې ستا دا خيال دې چې الله به دې هډوکی لره د وچيدو او روست کيدو نه پس بيا دوباره ژوندې کوی؟ نو حضور ﷺ ورته جواباً ارشاد اوکړو، چې او ولې نه؛ او تا به دوزخ ته داخل کړی، تاسو جواب ورکړئ چې دې لره به هغه ذات ژوندې کوی کوم چې په اول ځل پيدا کړې وو، او هغه د خپل مخلوق په باره کښې د پيدا کولو نه وړاندې او پس مجملاً او مفصلاً خبردار دې، او هغه داسې ذات دې چا چې ستاسو د پاره سره د تولو خلقو نه د مَرَخ او د عفَا يا د هر شنې اونې نه سوا د انګورو نه اور پيدا کړو يا تاسو دې نه اور لګوئې، او دا په بعث بعدالموت باندې د قادر کيدو دليل دې، ځکه چې په دې کښې هغه اوبه، لرګې او اور (مختلف څيزونه) جمع کړې دی، اوبه اور لره نه مړه کوی، او نه اور اونې لره سوزوی، چا چې د آسمان او زمکې غوندې څيزونه پيدا کړې دی، آيا هغه په دې باندې قادر نه دې چې ددې پشان واړه انسانان پيدا کړی؟ خامخا پيدا کولې شي. يعنی هغه په دې خبره باندې قادر دې په خپله يې جواب ورکړو هغه لوئې پيدا کونکې دې، او په هر څيز باندې علم لرونکې دې، د هغه شان خو دا دې چې کله هغه د څه څيز د پيدا کولو اراده اوکړی، نو هغې ته اووائی چې شه، نو هغه شي، او په يو قراءت کښې يکون په نصب سره دې، په يقول باندې د عطف د وجې نه، هغه پاک ذات دې، د هغه په لاس و قدرت کښې د هر څيز اختيار دې، په ملکوت کښې واؤ او تاء زائد دی، او تاسو ټول به هغه ته واپس کيږئ، په آخرت کښې

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: نعمره: ای نطل اجله مونږ د هغه عمر زيات کړو، جمع متکلم مضارع مجزوم

قوله: وننکسه ای نقلبه ای نجعله علی عکس ما خلقناه مونږ د هغه تخليق بدل کړو، (اعراب القرآن) يعنی درجه په درجه د هغه حالت لره بدلوو، تر دې چه په بوداوالی کښې د هغه حالت د ماشومانو پشان شي.

قوله: ومن نعمره: (الآية) دا جمله مستانفه ده، د قوت نه د کمزورئ طرف ته د انسان د حالت د بدليدلو کيفيت بيانولو د پاره راوړې شوې ده، (من) اسم شرط دې، او (نعمر) فعلِ شرط دې، ننکسه، جواب شرط دې.

قوله: افلا تعقلون: فا عاطفه ده، تقديری عبارت دا دې اتركوا التفكر فلا يعقلون.

قوله: وما علمنه الشعر: دا په حضور ﷺ باندې د كافرانو د طرف نه د شاعر كيدو د الزام جواب دې، ددې عطف په سورة كښې انك لمن المرسلين (جمله قسميه) باندې دې.

قوله: الشعر: معروف دې، (ج) اشعار، شعر، په لغت كښې علم دقيق او احساس لطيف ته وئيلې شی، او موزون او مُقَفّٰی كلام ته وئيلې شی، بعضې خلقو وئيلی دی چې شعر يا خو منطقی وی، يا هغه چې په مقدمات كاذبه باندې مشتمل وی، څكه هغه دلالتونه كوم چې په مقدمات كاذبه باندې مشتمل وی ادله شعريه ورته وئيلې شی، او په اصطلاح كښې كلام مقفی وموزون علی القصد ته وئيلې شی، په آخری قيد سره هغه شعر بهر دې كوم چې بغير د ارادې نه اتفاقی طور سره جاری شوې وی، لكه آيات شريفه او بعضې كلمات نبويه، څكه چې په هغې كښې بغير د قصد نه اتفاقی طور باندې كلام د علم عروض د وزن مطابق شوې دې. (حاشية جلالين ملخصاً)

قوله: اولم ير الانسان: (الأية) همزه استفهام انكاری تعجبیۍ ده، په محذوف باندې داخل ده، واؤ عاطفه دې، تقديری عبارت دا دې اولم يتفكروا، د رؤيت نه مراد رؤيتِ علميه دې، انا خلقناه من نطفة قائم مقام د دوو مفعولو دې.

قوله: خصيم: المخاصم المجادل

قوله: خلقنا لهم: لام حكمت د پاره دې، ای حكمة خلقنا ذلك انتفاعهم.

قوله: في جملة الناس: په دې سره ئې اشاره اوكړه چې دا نعمتونه د هغوی د پاره خاص نه دی، بلكه د ټولو د پاره دی،

قوله: ما فعلوا ذلك: دې سره اشاره اوكړه چې په افلا يشكرون كښې همزه د استفهام انكاری ده.

قوله: نزلوا منزلة العقلاء: په دې سره د شبهې جواب دې:

شبهه: چې د لا يستطيعون نه مراد د مشركينو بتان معبودان دی، كوم چې غير ذوی العقول دی، ددې جمع په واؤ او نون سره راوړل صحيح نه دی. د جواب خلاصه داده چې په عابدين او معبودين كښې د مشاكلت په طور باندې د ذوی العقول درجې ته د راكوزولو د وجې واؤ او نون سره جمع راوړې شوې ده.

قوله: وهم لهم جند محضرون: هم مبتدأ، جند خبر اول. محضرون خبر ثانی، او لهم د جند متعلق دې او محضرون د جند صفت هم كيدې شی.

قوله: ای الهتهم من الاصنام: د دې عبارت د اضافې سره د شارح مقصد (هم) ضمير مرجع خودل دی، يعنی هغه بتان ددوی د لښكرو په شان دی، محضرون ای معدون لحفظهم يعنی

د خپل حفاظت د پاره تیار کړې شوې لښکرې دې، چې په دنیا کښې به ددوی د خیال مطابق ددوی حفاظت کوی، (روح المعانی) دویم قول دادې چې د [هم] مرجع کفار دی، یعنی کافران عابدین دهغوی دپاره دحاضر تابعدار لښکر په شان دی چه دهغوی حفاظت کوی. (جمل)

قوله: من ذلك: أي قولهم لست مرسلاً.

قوله: ألذي جعل لكم: دا د ألذي ألهاها نه بدل دې.

قوله: إلا العذاب: د عناب باره کښې مشهور دې چه ددې په مرلوسره اور نه اوخی، او همدا وجه ده چه قصاریان (دهوبیان) د عناب لرګی نه مطارق (سوباړی) جوړوی چه په وهلو سره ئې د کپړو نه اور اونه لګی. (صاوی)

[۳۷] سورة الصافات

سورة الصافات مكية و هي مائة و اثنان و ثمانون اية

سوره صافات مکی دې، په دې کښې ۱۸۲ آیتونه دی.

[ایاتونه: ۱ - ۲۱]

بسم الله الرحمن الرحيم (وَالصَّافَّاتِ صَفًّا) الْمَلَائِكَة تَصُفّ نُفُوسهَا فِي الْعِبَادَة أَوْ أَجْنِحَتهَا فِي الْهَوَاء تَنْتَظِر مَا تُؤْمَر بِهِ (فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا) الْمَلَائِكَة تَزْجُر السَّحَاب أَيْ تَسُوقهُ (فَالتَّالِيَاتِ) أَيْ قُرَّاء الْقُرْآن يَتْلُونَهُ (ذِكْرًا) مَصْدَر مِنْ مَعْنَى التَّالِيَات (إِنَّ إِلٰهَكُمْ) يا اهل مكة (لَوَاحِدٌ) (رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ) أي والمغارب للشمس ولها كُلّ يَوْم مَشْرِق وَمَغْرِب (إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ) أَيْ بِضَوْئِهَا أَوْ بِهَا وَالْإِضَافَة لِلْبَيَانِ كَقِرَاءَةِ تَنْوِين زِينَة الْمُبَيَّنَة بِالْكَوَاكِبِ (وَحِفْظًا) مَنْصُوب بِفِعْلٍ مُقَدَّر أَيْ حَفِظْنَاهَا بِالشُّهُبِ (مِنْ كُلِّ) مُتَعَلِّق بِالْمُقَدَّرِ (شَيْطَانٍ مَارِدٍ) عَاتٍ خَارِج عَنْ الطَّاعَة (لَا يَسَّمَّعُونَ) أَيْ الشَّيَاطِين مُسْتَأْنَف وَسَمَاعهمْ هُوَ فِي الْمَعْنَى الْمَحْفُوظ عَنْهُ (إِلَى الْمَلَإِ الْأَعْلَى) الْمَلَائِكَة فِي السَّمَاء وَعُدِّيَ السَّمَاع بِإِلَى لِتَضَمُّنِهِ مَعْنَى الْإِصْغَاء وَفِي قِرَاءَة بِتَشْدِيدِ الْمِيم وَالسِّين أَصْله يَتَسَمَّعُونَ أُدْغِمَتْ التَّاء فِي السِّين (وَيُقْذَفُونَ) أَيْ الشَّيَاطِين بِالشُّهُبِ (مِنْ كُلِّ جَانِبٍ) مِنْ آفاق السماء (دُحُورًا) مَصْدَر دَحَرَهُ أَيْ طَرَدَهُ وَأَبْعَدَهُ وَهُوَ مَفْعُول لَهُ (وَلَهُمْ) فِي الْآخِرَة (عَذَابٌ وَاصِبٌ) دائم (إِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ) مَصْدَر أَيْ الْمَرَّة وَالِاسْتِثْنَاء مِنْ ضَمِير يَسْمَعُونَ أَيْ لَا يَسْمَع إِلَّا الشَّيْطَان الَّذِي سَمِعَ الْكَلِمَة مِنْ الْمَلَائِكَة فَأَخَذَهَا بِسُرْعَةٍ (فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ) كَوْكَب مُضِيء (ثَاقِبٌ) يَثْقُبهُ أَوْ يُحْرِقهُ أَوْ يُخَبِّلهُ (فَاسْتَفْتِهِمْ) اسْتَخْبِرْ كُفَّار مَكَّة تَقْرِيرًا أَوْ تَوْبِيخًا (أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمْ مَنْ خَلَقْنَا) مِنْ الْمَلَائِكَة وَالسَّمَاوَات وَالْأَرْضِينَ وَمَا فِيهِمَا وَفِي الْإِتْيَان بِمَنْ تَغْلِيب الْعُقَلَاء (إِنَّا خَلَقْنَاهُمْ) أَيْ أَصْلهمْ آدَم (مِنْ طِينٍ لَازِبٍ) لَازِم يَلْصَق بِالْيَدِ الْمَعْنَى أَنَّ خَلْقهمْ ضَعِيف فَلَا يَتَكَبَّرُوا بِإِنْكَارِ النَّبِيّ وَالْقُرْآن الْمُؤَدِّي إِلَى هَلَاكهمْ الْيَسِير (بَلْ) لِلِانْتِقَالِ مِنْ غَرَض إِلَى آخَر وَهُوَ الْإِخْبَار بِحَالِهِ وَحَالهمْ (عَجِبْتَ) بِفَتْحِ التَّاء خِطَابًا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْ مِنْ تَكْذِيبهمْ إِيَّاكَ

(و) هم (يسخرون) من تعجبك (وَإِذَا ذُكِّرُوا) وُعِظُوا بالقرآن (لَا يَذْكُرُونَ) لا يتعظون (وَإِذَا رَأَوْا آيَةً) كانشقاق القمر (يَسْتَسْخِرُونَ) يَسْتَهْزِءُونَ بها (وَقَالُوا) فِيهَا (إِنْ) ما (هَذَا إِلَّا سِحْرٌ مبين) بين وقالوا منكرين للبعث (أئذا متنا وكنا ترابا وعظاما أئنا لَمَبْعُوثُونَ) فِي الْهَمْزَتَيْنِ فِي الْمَوْضِعَيْنِ التَّحْقِيق وَتَسْهِيل الثَّانِيَة وَإِدْخَال أَلِف بَيْنَهُمَا عَلَى الْوَجْهَيْنِ (أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ) بِسُكُونِ الْوَاو عَطْفًا بِأَوْ وَبِفَتْحِهَا وَالْهَمْزَة لِلِاسْتِفْهَامِ وَالْعَطْف بِالْوَاوِ وَالْمَعْطُوف عَلَيْهِ مَحَلّ إِنَّ وَاسْمهَا أَوْ الضَّمِير فِي لَمَبْعُوثُونَ وَالْفَاصِل هَمْزَة الِاسْتِفْهَام (قُلْ نَعَمْ) تُبْعَثُونَ (وَأَنْتُمْ دَاخِرُونَ) أَيْ صَاغِرُونَ (فَإِنَّمَا هِيَ) ضَمِير مُبْهَم يُفَسِّرهُ (زَجْرَةٌ) اي صيحة (وَاحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ) أَيْ الْخَلَائِق أَحْيَاء (يَنْظُرُونَ) مَا يُفْعَل بِهِمْ (وقالوا) اي الكفار (يَا) لِلتَّنْبِيهِ (وَيْلَنَا) هَلَاكنَا وَهُوَ مَصْدَر لَا فِعْل لَهُ مِنْ لَفْظه وَتَقُول لَهُمْ الْمَلَائِكَة (هَذَا يَوْمُ الدِّينِ) يَوْم الْحِسَاب وَالْجَزَاء (هذا يوم الفصل) بين الخلائق (الذي كنتم به تكذبون)

ترجمه: شروع کوم د الله په نوم سره چې ډير مهربانه او ډير رحم والا دي، قسم دې په صف جوړونکو فرشتو باندې، کومې چې د عبادت د پاره په صفونو کښې اودرېږي، بيا قسم په هغه فرشتو باندې کومې چې اوريځې رټي، يعنې هغه شړي، بيا د هغه فرشتو د جماعت کومې چې د قرآن تلاوت کوي، او ذکرا د معنى په اعتبار سره د تاليات مصدر دې، اې اهل مکه. بې شکه ستاسو معبود يو دې، کوم چې د اسمانونو او د زمکې او څه چې په دې کښې دي د ټولو رب دې، او د مشرقونو رب دې، يعنې د مشارقو او د مغاربو رب دې، د نور د پاره روزانه په دنيا کښې ځائې د راښتو او ډوبيدو دې، بې شکه مونږ د دنيا اسمان په ستورو ښکلې کړې دې، يعنې د هغې په رڼړا يا په خپله په ستورو، او په بزينة الكواكب) کښې اضافت بيانيه دې، څنګه چې د زينة د تنوين والا قراءت په صورت کښې به الكواكب د زينة بيان وي، مونږ د اسمان د هر سرکش شيطان نه حفاظت کړې دې، حفظاً د فعل مقدر د وجې نه منصوب دې، اى حفظناها حفظا بالشهب، من كل د محذوف متعلق دې، مارد په معنى د عاتٍ دې. د طاعت د حد نه وتونکې، هغه شيطانان عالم بالا ته غوږ هم لګولې نشي، يعنې په اسمان کښې د فرشتو مجلس اعلى ته غوږ هم نزدې کولې نشي، (وسماعهم هو فى المعنى المحفوظ عنه) يعنې آسمان ئې د هغوى د غوږ لګولو نه محفوظ کړې دې، مطلب دادې چې اسمان محفوظ دې او سماع محفوظ عنه ده نه چه د دې عکس، لايسمعون جمله مستانفه، او د سماع د اصغاء معنى لره د متضمن کيدو د وجې نه د الى په ذريعې سره متعدي کړې شوې دې. او په يو قراءت کښې د سين او ميم په تشديد سره دې، يسمعون، په اصل کښې يتسمعون وو، تاء ئې په سين کښې مدغم کړه، او په دې شيطانانو باندې د اسمان د طرف نه د ويشتلو د پاره د هر طرف نه ګذارونه ويشتلې شي، دُحُوراً د دَحَرَ مصدر دې، دحره د طرده په معنى کښې

دي، او دوی ته به په آخرت کښې همیشګیر عذاب وی، خو که يو شيطان يو خبر اوتختوی نو ير شغله وهونکی څکروټه ده پسې شي، چې هغه سوری کړی يا سوزوی، يا ئې هوش او حواس ختم کړی، نو تاسو دې يعنې کفار مکه نه د اقرار په طور يا د توبيخ په طور تپوس اوکړئ چې آيا ددوی پيدا کول زيات ګران دی يا زمونږ پيدا کړې شوی څيزونه، يعنې فرشتې اسمان او زمکه او هغه څيزونه کوم چې ددې په مينځ کښې دی، او د من استعمال ذوی العقول ته د غلبې ورکولو د وجه دې مونږ دوی يعنې ددوی اصل ادم عليه السلام د سليخناکې خټې نه پيدا کړو، کومه چې لاسونو سره انخلی، د آيت مطلب دادې چې ددوی تخليق د کمزورې مادې نه شوې دې، لهذا دوی له د نبی ﷺ او د قرآن نه انکار کولو سره تکبر کول پکار نه دی. کوم چې په اسانئ سره ددوی هلاکت طرف ته بوتلل کوی، بلکه ته خو ددوی په ناپوهئ باندې حيرانيږې، او دا خلق ستا حيرانيدو پسې توقې کوی، بَلْ د يو غرض نه بل غرض ته د انتقال د پاره راغلې دې، او هغه غرض ددوی او ستا د حالت خبر ورکول دی، (عجبت) د تاء په فتحې سره نبی کريم ﷺ ته خطاب دې، يعنې ددوی ستاسو په تکذيب باندې تاسو حيرانيږئ، او چې کله دوی ته د قرآن په ذريعې سره نصيحت کيږی نو دا خلق نصيحت نه قبلوی، او چې کله د شقِ قمر په شان څه معجزه اوګوری نو هغې پسې توقې کوی، او ددې معجزې په باره کښې وائی، چې دا خو صفا جادو دې، دا څنګه کيدې شی چې کله مونږ مړه شو او خاورې او هډوکی شو، نو آيا مونږ به دوباره ژوندې کيږو؟ په دواړو ځايونو کښې د همزهٔ اول محقق او د دويمې تسهيل يعنې نرمی ده، او د دواړو په مينځ کښې الف داخلول دې، په دواړو صورتونو کښې او آيا زمونږ مخکښنی پلار نيکه هم (او) د واؤ په سکون سره د (او) په ذريعې سره عطف دې، او (او) د واؤ په فتحې سره او د همزه د استفهام د پاره ده، او عطف د واؤ په ذريعې سره دې، او معطوف عليه (ان) او د هغې د اسم محل دې، يا په لمبعوثون کښې ضمير دې، او فاصل همزه استفهام ده، ته ورته اووايه چې تاسو به خامخا ژوندی کولې شئ، او تاسو به ذليله کيږئ، نو هغه قيامت به يو جرق وی، هی ضمير مبهم، مابعد ددې تفسير کوی، اچانک دا يعنې مخلوق به ژوندی کيدو سره اوګوری چې دوی سره څه څه کيږی، او کفار به وائی، هايې زمونږ کم بختی، ياء د تنبيه د پاره ده. ويلنا په معنی د هلاکنا، ويل داسې مصدر دې چې ددې لفظې فعل نشته، او فرشتې به دوی ته وائی دا د بدلې ورځ ده، يعنې د حساب او د جزاء دا د مخلوق په مينځ کښې د فيصلې ورځ ده د کومې چې تاسو تکذيب کولو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: والصافات صفا: واؤ حرفِ قسم او جر دې. او والصافات مجرور مقسم به، او د مابعد

معطوف عليه دي،

قوله: ان الهكم: جواب قسم دي، تقديری عبارت دا دي وحق الصافات وحق الزاجرات وحق التاليات،جار مجرور د أقسم فعل محذوف متعلق دي،

سوال: په مذكوره درې وارو صفاتو كښې كوم چې د ملائكو دی، تاء د تانيث ده، او دا د مغوی په انوثيت باندې دلالت كوی، حالانكه ملاينک صفت د ذكوريت او انوثيت نه پاک دی؟

جواب: ملائكه د لفظ په اعتبار سره مؤنث دی، لهذا په دې اعتبار سره ذكر شوې درې واړه صفات په تانيث سره راوړې شوې دی، د انوثت نه د ملاينكو د تنزيه سوال نوهغه تانيث معنوی دې نه چې لفظی.

قوله: تصف نفوسها: په دې كښې اشاره ده چې د صافات مفعول به محذوف دې، او هغه نفوسها دې، يا اجنحتها دې، او بعضې حضراتو وئيلې دی چې صافات د صافة جمع ده، په معنی د طائفة يا جماعة.

قوله: مصدر من معنی التاليات: په دې كښې دې طرف ته اشاره ده چې ذكرا د تاليات مفعول مطلق من غير لفظه دې، ځكه چې ذِكرًا د تلاوت په معنی كښې دې. ای تالیات تلاوة،او بعضې حضراتو ذكراً د قرآن په معنی كښې اخستلې دې، په دې صورت كښې به ذكرًا د التاليات مفعول به وی.

قوله: رب السموات والارض: دا د لَواحد نه بدل دې، يا د «ان» خبر ثانی دې، يا د مبتدأ محذوف خبر دې، ای هورب السموات والارض.

قوله: ورب المشارق: سوال: دلته يواځې په مشارق باندې اكتفا ولې شوې ده؟ يعنی رب المشارق والمغارب ئې اونه وئيلو؟

جواب: دا د سرابيل تقيكم الحر،د قبيلې نه دې، يعنی چې څنګه دلته په «حر» باندې اكتفا كړې شوې ده، حالانكه سرابيل د «حَرّ» او د «بَرْدُ» دواړو نه حفاظت كوی. اوس دا سوال چې په مشارق باندې ولې اكتفا اوشوه او په مغارب باندې ولې اونه شوه. نو ددې څه وجه ده؟

جواب: د جواب خلاصه داده چې مشارق د مغارب په نسبت باندې ډير منفعت والا دې ځكه په مشارق باندې اكتفا اوشوه.

سوال: دلته مشارق ئې د جمع صيغې سره راوړې دې او ددې مقابل يعنی مغارب ئې حذف كړې دې، او په سورة سأل كښې دواړه د جمع په صيغې سره راغلې دی، او په سورة رحمن كښې دواړه په صيغې د تثنيه راغلې دی، او په سورة مزمل كښې دواړه د مفرد په

صیغه راوړلې شوې دی، په دې تولو صورتونو کښې د تطبیق به څه صورت وی؟

جواب: د دواړو د جمع راوړلو وجه داده چې روزانه نوې مشرق او نوې مغرب وی، لهذا په کال کښې ۳۲۵ مشرق او ۳۲۵ مغرب دی، مفسر علام لها کل یوم مشرق ومغرب سره دې جواب ته اشاره کړې ده، او پاتې شو په سورة رحمن کښې د تثنیه صورت، نو دا د مشرق شتائی او صیفی د (ګرمئ او یخنئ) په اعتبار سره دې، د یخنئ او د ګرمئ د موسم په اعتبار سره پورا کال کښې دوه مشرقونه او مغربونه وی، او د مفرد راوړلو وجه داده چې د تول کال یو مشرق او یو مغرب وی.

قوله: بضوئها: په دې کښې د مضاف حذف طرف ته اشاره ده مطلب دا چې د دنیا د اسمان زینت د ستورو په رڼا سره یا خپله د ستورو په وجه دې، او اضافت بیانیه دې، څنګه چې بلا اضافت یعنی (د زینة د تنوین په صورت کښې هم، زینة مبین اوالکواکب د دې بیان دې.

قوله: من کل: د حفظنا مقدر متعلق دې.

قوله: لا یسمعون: په اصل کښې لایتسمعون وو، تاء په سین کښې مدغم شوه، او سین ته شد ورکړې شو، یعنی هغوی غوږ نه ږدی، په فارسئ کښې (گوش ندازند) په یو قراءت کښې لایسمعون هم دې، هغوی نه اوری، او په فارسئ کښې (نشنوند) یسمعون چونکه د اصغاء معنې ته شامل دې څکه د دې صله (الی) راوړل صحیح دی.

قوله: هوفی المعنی المحفوظ عنه: یعنی اسمان محفوظ او سماع محفوظ عنه ده، نه چې په عکس سره، دا جمله مستانفه ده، د حفظ کیفیت بیانولو د پاره د نمونې په طور سره راوړلې شوې ده.

قوله: بالشهب: جمع شهاب، څنګه چې د کتب جمع کتاب ده، د اور شعله.

قوله: مارد: جمع مَرَدَةٌ، سرکش کوم چې د خیر نه خالی وی، غُصْنٌ اَمْرَدُ، هغه څانګه چې د پاڼرو نه خالی وی، رجلٌ اَمرَدُ هغه سړې د چا چې ګیره او بریت نه وی، (ن ک) مُرُدًا، مُرَادَةً سرکش کیدل.

قوله: دحورا مصدر: د دحورا نه پس ئې د مصدر لفظ اضافه کولو سره اشاره اوکړه چې دُحُورًا د یقذفون مفعول مطلق من غیر لفظه دې، څکه چې قذف په معنی د دَحَر دې، ای دَحَرَه دَحْرًا او مفسر علام په خپل قول (هو مفعول له) سره اشاره اوکړه چې دحورا د یقذفون مفعول له هم کیدې شی، یعنی دحورا د قذف علت دې، یعنی په شعئتې سره د ویشتلو علت د دوی دفع کول دی. او دحورا د یقذفون د ضمیر نه حال هم کیدې شی، ای یقذفون مدحورین، دحورا چونکه مصدر دې، څکه په واحد جمع تولو باندې اطلاق کیدې شی.

قوله: الا من خطف الخطفة: الخطفة دا مفعول د مَرّة د پاره دې، لکه ضربت ضربة کښې چه دې، ما

هغه اوهلو يو خل وهل، يعنى يو خل تختول، په فارسئ كښې «مكرربايد يک ربودن» والخطف، الاختلاس بسرعة، تختول.

قوله:والاستثناء من ضمير يسمعون: يعنى «من» د استثناء د وجې نه د نصب په محل كښې دې، او د بدل كيدو په صورت كښې محلا مرفوع هم كيدې شي، او دا هم كيدې شي چې «من» شرطيه وي، او ددې جواب «فَاتبعه» وي، يا «من» موصوله مبتدأ وي، او ددې خبر «فاتبعه» وي، په دې صورت كښې به مستثنى منقطع وي، كقوله تعالى لست عليهم بمصيطر الامن تولى وكفر.

قوله.ثاقب: (ن) ثقبا،سورې كول، سيرول.

قوله:اويحرقه اويخبله: «او» د تنويع د پاره دې، نه چې د ترديد د پاره، «خَبَل» «ن» خَبْلا «عقل تباه كول، خرابول.

قوله.هوالاخبار بحاله اوحالهم: دا د يو غرض نه بل غرض ته د انتقال د وضاحت د پاره دې، مطلب دادې چې په مخكښينئ آيت كښې د مشركينو د حالت بيان وو. او د «بل عجبت» نه د حضور ﷺ د حالت بيان دې.

قوله:ءاذامتنا وكنا ترابا: (الأية) همزه د استفام انكارى ده، كومه چې په فعل محذوف باندې داخله ده، اى انبعث اذامتنا، دا اذا ظرفيه عامل محذوف دې، يعنى نبعث چې په هغې باندې لمبعوثون دلالت كوى، خپله لمبعوثون په اذا كښې عامل نه دې، ځكه چې د عامل او معمول په مينځ كښې همزه استفهام كوم چې صدارت غوارى، مانع موجود دې.

قوله:اوآباؤنا الاولون: اوكښې دوه قراءتونه دى، د جمهورو په نيز واؤ په فتحې سره دې، يعنى «أوَ» او ابن عامر او قالون واؤ په سكون سره وئيلې دې، يعنى «أوْ» په دې صورت كښې به «او» حرف عطف وى، په دې باندې بهٔ همزه د استفهام نه وى، په اوآباؤنا الاولون كښې يو تركيب دا هم دې، چې اوآباؤنا الاولون مبتدأ وى، مبعوثون ددې خبر محذوف، او بعض حضراتو وئيلې دى چه د ان د اسم په محل باندې عطف دې، او بعضو وئيلې دى چې د لبعوثون په ضمير مستتر باندې عطف دې، خو په دې صورت كښې به دا اعتراض وى چې كله په ضمير مرفوع باندې عطف وى نو د هغې تاكيد په ضمير منفصل سره راوړل ضرورى وى، او هغه دلته نشته؟

جواب فصل هم قائم مقام د ضمير كيدې شي، او دلته د همزه استفهام فصل موجود دې، خو په دې صورت كښې به دا اعتراض وى چې د همزه استفهام صدارت به باطل شي؟ نو ددې جواب دادې چې دويمه همزه د اولې همزې د تاكيد د پاره ده، نو گويا چې دويمه همزه بعينه اولنئ همزه ده، لهذا دويمه همزه په معنوى طور سره مقدم وى، چې د هغې د وجې نه ددې صدارت نه باطليږى

[ایاتونه: ۲۲ - ۵۰]

ويقال للملائكة(اُحۡشُرُوا الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا) انفسهم بالشرك (وَاَزۡوَاجَهُمۡ) قرناءهم من الشياطين (وماكانوا يعبدون)(مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ) اي غيره من الاوثان (فَاهۡدُوۡهُمۡ) دلوهم وسوقوهم (اِلٰى صِرَاطِ الۡجَحِيۡمِ) طريق النار (وَقِفُوۡهُمۡ) احبسوهم عند الصراط (اِنَّهُمۡ مَّسۡـُٔوۡلُوۡنَ) عن جميع اقوالهم وافعالهم ويقال لهم توبيخا (مَا لَـكُمۡ لَا تَنَاصَرُوۡنَ) لا ينصر بعضكم بعضا كحالكم في الدنيا ويقال لهم (بَلۡ هُمُ الۡيَوۡمَ مُسۡتَسۡلِمُوۡنَ) منقادون اذلاء (وَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ يَّتَسَآءَلُوۡنَ) يتلاومون ويتخاصمون (قَالُوۡا) اي الاتباع منهم للمتبوعين (اِنَّكُمۡ كُنۡتُمۡ تَاۡتُوۡنَنَا عَنِ الۡيَمِيۡنِ) عن الجهة التي كنا نامنكم منها لحلفكم انكم على الحق فصدقناكم واتبعناكم المعنى انكم اضللتمونا (قَالُوۡا) اي المتبوعون لهم (بَلۡ لَّمۡ تَكُوۡنُوۡا مُؤۡمِنِيۡنَ) وانما يصدق الاضلال منا ان لو كنتم مؤمنين فرجعتم عن الايمان الينا (وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيۡكُمۡ مِّنۡ سُلۡطٰنٍ) قوة وقدرة تقهركم على متابعتنا (بَلۡ كُنۡتُمۡ قَوۡمًا طٰغِيۡنَ) ضالين مثلنا (فَحَقَّ) وجب (عَلَيۡنَا) جميعا (قَوۡلُ رَبِّنَآ) بالعذاب اي قوله (لَاَمۡلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الۡجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجۡمَعِيۡنَ) (اِنَّا) جميعا (لَذَآئِقُوۡنَ) العذاب بذلك القول ونشا عنه قولهم (فَاَغۡوَيۡنٰكُمۡ) المعلل بقولهم (اِنَّا كُنَّا غٰوِيۡنَ) قال تعالى (فَاِنَّهُمۡ يَوۡمَئِذٍ) يوم القيامة (فِى الۡعَذَابِ مُشۡتَرِكُوۡنَ) اي لاشتراكهم في الغواية (اِنَّا كَذٰلِكَ) كما نفعل بهؤلاء (نَفۡعَلُ بِالۡمُجۡرِمِيۡنَ) غير هؤلاء اي نعذبهم التابع منهم والمتبوع (اِنَّهُمۡ) اي هؤلاء بقرينة ما بعده (كَانُوۡۤا اِذَا قِيۡلَ لَهُمۡ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يَسۡتَكۡبِرُوۡنَ) (وَيَقُوۡلُوۡنَ اَئِنَّا) في همزتيه ما تقدم (لَتَارِكُوۡۤا اٰلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجۡنُوۡنٍ) اي لاجل محمد قال تعالى (بَلۡ جَآءَ بِالۡحَـقِّ وَصَدَّقَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ) الجائين به وهو ان لا اله الا الله (اِنَّكُمۡ) فيه التفات (لَذَآئِقُوا الۡعَذَابِ الۡاَلِيۡمِ) (وَمَا تُجۡزَوۡنَ اِلَّا) جزاء (مَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ) (اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الۡمُخۡلَصِيۡنَ) اي المؤمنين استثناء منقطع اي ذكر جزاؤهم في قوله (اُولٰٓـئِكَ لَهُمۡ) في الجنة (رِزۡقٌ مَّعۡلُوۡمٌ) بكرة وعشيا (فَوَاكِهُ) بدل او بيان للرزق وهو ما يؤكل تلذذا لا لحفظ صحة لان اهل الجنة مستغنون عن حفظها بخلق اجسامهم للابد (وَهُمۡ مُّكۡرَمُوۡنَ) بثواب الله سبحانه وتعالى (فِىۡ جَنّٰتِ النَّعِيۡمِ) (عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيۡنَ) لا يرى بعضهم قفا بعض (يُطَافُ عَلَيۡهِمۡ) على كل منهم (بِكَاۡسٍ) هو الاناء بشرابه (مِّنۡ مَّعِيۡنٍ) من خمر يجري على وجه الارض كانهار الماء (بَيۡضَآءَ) اشد بياضا من اللبن (لَذَّةٍ) لذيذة (لِّلشّٰرِبِيۡنَ) بخلاف خمر الدنيا فانها كريهة عند الشرب (لَا فِيۡهَا غَوۡلٌ) ما يغتال عقولهم (وَّلَا هُمۡ عَنۡهَا يُنۡزَفُوۡنَ) بفتح الزاي وكسرها من نزف الشارب وانزف اي يسكرون بخلاف خمر الدنيا (وَعِنۡدَهُمۡ قٰصِرٰتُ الطَّرۡفِ) حابسات الاعين على ازواجهن لا ينظرن الى غيرهم لحسنهم عندهن (عِيۡنٌ) ضخام الاعين حسانها (كَاَنَّهُنَّ) في اللون (بَيۡضٌ) للنعام (مَّكۡنُوۡنٌ) مستور بريشه لا يصل اليه غبار ولونه وهو البياض في صفرة احسن الوان النساء (فَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ) بعض اهل الجنة (عَلٰى بَعۡضٍ يَّتَسَآءَلُوۡنَ) عما مر بهم في الدنيا

ترجمه: او فرشتو ته به اوویلی شی، چې هغه خلق راجمع کړي چا چې شرک کولو سره په خپل

ځان باندې ظلم کړې دې او ددوی هغه شیطانی ملګری او هغه معبودان د چا چې دوی بغیر د الله نه عبادت کولو. چې هغه بتان دی، او هغوی ته د جهنم لاره اوښائې، او په راځکو ئې بوځئ، او دوی صراط (پل) سره اودروئ، ددوی نه ددوی د ټولو قولونو او فعلونو باره کښې سوال کولې شی، او دوی به د زورنې د پاره وئیلې شی په تاسو څه شوې دی چې تاسو د یو بل مدد نه کوئ، ځکه چې په دنیا کښې ستاسو طریقه وه، او ددوی د حالت په باره کښې به اووئیلې شی بلکه دوی به نن ورځ سرکوزی، ذلیله وی، او دوی به یو بل طرف ته متوجه شی او یو بل به ملامته او الزام تراشی کوی، په دوی کښې تابعین به متبوعینو ته وائی تاسو به مونږ ته په قسمونو سره راتلل کول، مونږ ستاسو د هغه قسم دوجې نه چې تاسو په حق باندې ئې، ستاسو یقین به اوکړو، مطلب دادې چې تاسو مونږ ګمراه کړې یوو، متبوعین به دوی ته وائی چې نا، بلکه حقیقت دادې چې تاسو خپله مومنان نه وئې، زمونږ د طرف نه ګمراه کول به هغه وخت رشتیا وو چې تاسو مومنان وئی او بیا د ایمان نه راوړیدلې وئی، او زمونږ په تاسو باندې څه زور او قدرت خو نه وو، چې تاسو به مونږ په اتباع باندې مجبور کولئ. خو تاسو په خپله باندې زمونږ په شان ګمراه خلق وئې، نو په مونږ ټولو باندې زمونږ د رب د عذاب وعید یعنی لَأَملَأَنَّ جهنم من الجنة والناس اجمعین رشتیا ثابت شو، اوس مونږ ټولو له د دې وعید مطابق د عذاب مزه څکل دی، او د رب قول یعنی مذکوره وعید سره ددوی قول فَأَغوَینکم ثابت شو. یعنی زمونږ تاسو لره د قضاء او قدر د وجې ګمراه کول ثابت شو، لهذا زمونږ تاسو لره د ګمراه کولو په وجه تاسو په مونږ باندې غصه مه کوئی، فاغوینکم دا معلول دې، ددوی د قول (انا کنا غاوین) الله تعالی به اوفرمائی، چې هغه ټول تابعین او متبوعین د قیامت په ورځ به په عذاب کښې شریک وی، د دوی په ګمراهئ کښې د شریک کیدو د وجې نه مونږ چې دوی سره څه کوو، ددوی نه علاوه د هر مجرم سره مونږ داسې کوو، یعنی تابع او متبوع ته عذاب ورکوو، دوی ته یعنی د مابعد د قرینې نه هم دغه خلق مراد دی، چه کله اووئیلې شی چې لا اله الا الله اووایئ، نو دوی تکبر کوی، او وائی چې آیا مونږ د یو شاعر لیونی په وینا خپل معبودان پریږدو، ؟ یعنی د محمد ﷺ په وینا، خبره داسې نه ده، بلکه رشتیا خو دادی چې هغه حق راوړې دې، او حق راوړلو والا د رسولانو تصدیق کوی، او حق لا اله الا الله دې، یقینا تاسو به دردناک عذاب څکلو والا یئ، په دې کښې د غیبت نه د خطاب طرف ته التفات دې، تاسو ته به هغه څه بدله ملاویږی، څه چې تاسو کول، خو د الله مخلص بندګان یعنی مومنین، دا مستثنی منقطع ده، د دوی جزا د الله قول اولئك لهم رزق معلوم (الأیة) کښې ذکر شوی ده دا هغه خلق دی چې ددوی رزق چه هغه میوې دی به جنت کښې به مقرر وخت په بانديې سره سحر او ماښام ملاویږی فواکه د رزق نه بدل دې یا عطف بیان دې فواکه هغه میوو وئیلې شی کوم چې د خوند د پاره خوړلې شی، نه د صحت د بقا د پاره، ځکه چې جنتیان به د صحت د بقاء نه

مستغنی وی، ځکه چې ددوی د جسمونو تخلیق د همیشه د پاره دې، او د الله په فضل سره، د نعمتونو والا جنت کښې به ددوی عزت او خیال ساتلې شی، حال دادې چې په تختونو باندې به یو بل ته مخامخ ناست وی ځوک به د چا شا نه وینی، او په دوی کښې به هر یو باندې د بهیدونکی صفا شرابو د جام دور ګرځولې شی، (کاس) هغه جام ته وائی چې په هغې کښې شراب وی، (قدح ورته هم وئیلې شی) معین هغه شراب چې د زمکې په سطح باندې د اوبو پشان جاری وی، د پیوو نه به هم زیات سپین وی، د ځکلو والو د پاره به ډیر خوندور وی، په خلاف د دنیا د شرابو چې هغه په ځکلو کښې بې مزې وی، نه به په هغې کښې د سر درد وی، چې په دوی کښې دعقل فتور راولی، او نه به ددې د وجې نه بدحواسه کیږی، ینزفون د زاء په فتحې او کسرې سره، دا د نزف الشارب ازف نه ماخوذ دې، یعنی بدمست به نه وی، په خلاف د دنیا د شرابو چې په هغې کښې بدمستی وی، او دوی سره به لاندې نظرونه والا شرمناکې، یعنی خپل نظرونه خپل خاوندانو پورې محدود کولو والا، نورو طرف ته به نظر نه اوچتوی، ځکه چې ددوی خاوندان به ددوی په نظر کښې د ټولو نه زیات ښکلې وی، غټې غټې سترګو والا به وی، ګویا چې هغه په رنګ کښې د شترمرغ هګئ دی، کوم چې د هغوی په وزرو کښې پټې دی، هغې ته دورې نه رسیږی، او ددې رنګ به سپین زیربښن وی، کوم چې د ښځو ښکلې رنګ ګڼړلې شی، جنتیان به یو بل ته متوجه شی او د دنیا د حالاتو په باره کښې خبرې به کوی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: احشروا: تاسو راجمع کړئ، د حشر نه جمع مذکر حاضر دې، (ن ض)

قوله: انفسهم بالشرك: انفسهم محذوف ګڼړلو سره ئې اشاره اوکړه چې د ظلموا مفعول محذوف دې، او په بالشرك کښې باء سببیه ده، یعنی هغوی د شرك په وجه په خپلو ځانونو ظلم کړې وو،

قوله: قفوهم: امر جمع مذکر معروف (ن ض) وقفا وقوفا، لازم او متعدی دواړه قسم مستعمل دی، اودرول ، اودریدل، دلته متعدی دې، یعنی هغوی اودروئ.

قوله: تاتوننا عن الیمین: عن الیمین د تاتوننا د ضمیر نه حال دې، ای تاتوننا اقویاء،

① د یمین یوه معنی ده، ښې لاس، مقصد ترې د قوت اظهار دی، ② دویمه معنی ئې قسم ده، ځکه چې متعاقدین د بیع پوره کولو پاره او پخولو د پاره په خپلو لاسونو سره مصافحه کوی، ځنګه چې په قسم سره خبره پخیږی، دغه شان د عربو په عرف کښې لاس په لاس کښې ورکولو سره به بیع مکمل او پخیدله، د فقه په اصطلاح کښې دې ته صفقه وائی، ددې معنی ده لاسونه پرقول، ددې معنې په اعتبار سره به تقدیری عبارت داسې

وی، تاتوننا حالفین

قوله: يتساءلون: تفسير ئې په يتلاومون اويتخاصمون سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه، چې دلته د تساول نه مراد خير خيريت معلومول نه دی بلکه لعنت او الزام تراشی مراد ده، د مشرکينو په باره کښې بل ځائې کښې وئيلې شوې دی کلما دخلت امة لعنت اختها، د دې په خلاف په جنت کښې د مومنانو، تساول چې هغه به دشکر اودنعمت دبيان په طور سره وی.

قوله: قالوبل لم تكونوا مؤمنين: الأية د مشرکينو سردارانو د کمزورې طبقې مشرکينو د الزامونو پنځه جوابونه ورکړې دی، په هغې کښې اول او اخری فاغوينٰكم اناكنا غاوين، دی مطلب دادې چې تاسو کله هم مومنان نه وئ، لهذا زمونږ د گمراه کولو بالکل سوال نه پيدا کيږی، په مونږ باندې به د گمراه کولو الزام هغه وخت راتللو چې تاسو اول ايمان راوړې وی، او زمونږ د گمراه کولودوجه نه تاسو ايمان پريښودوسره کفراختيار کړې وې.

قوله: انكم فيه التفات: يعنى د غيبت نه خطاب ته التفات دې، كانوا اذا قيل لهم کښې د غائب صيغه استعمال شوې ده، او د قباحت د زياتوالی د پاره د غائب نه خطاب طرف ته التفات کړې دې.

قوله: وما تجزون الاما كنتم تعملون: واؤ عاطفه دې، (ما) نافيه ده، تجزون مبنى للمفعول دې، په دې کښې ضمير نائب فاعل دې، الا حرف استثنا ده او (ما) مفعول به ثانى دې، او د دې نه مخکښې مضاف محذوف دې، اى ما تجزون الاجزاء ما كنتم تعملون.

قوله: الا عباد الله المخلصين: : الا حرف استثناء ده، په معنى د لکن ځکه چې دا استثناء منقطع ده، عباد الله د تجزون د ضمير نه مستثنى ده.

قوله: اولئك لهم رزق معلوم: کلام مستانف دې.

قوله: بكاس: کاس پياله، چې کله په کښې شراب وی، او چې خالی وی نو قدح ورته وائی، د دې جمع اکواس او کؤس راځی.

قوله: بيضاء: دا د کاس صفت هم کيدې شی، او د خمر هم، ځکه چې دا دواړه مؤنث سماعی دی.

قوله: لذة: يا خو د صفت مشبه صيغه ده، لکه صعب، سهل، په دې صورت کښې به مشتق وی، او د دې صفت جوړول ښکاره دی، او که مصدر وی نو صفت په مبالغة وی، يا به مضاف محذوف وی، اى ذات لذة

قوله: غول: اسم فعل دې او مصدر هم مستعمل دې، نشه، درد، مستی، فساد، اچانک هلاک کول، يعنى د جنت په شرابو کښې به نه بدمستی وی او د عقل خرابيدل، او نه د



سر درد په خلاف د دنیا د شرابو.

قوله: ینزفون: دنزف نه مضارع مجهول، جمع مذکر غائب، (ض) یعنی د دوی په عقل کښې به کمې نه راځی.

قوله: عین: دا د عیناء جمع ده، غټو سترګو والا.

قوله: بیض مکنونٌ: بیض د بیضةٌ جمع ده، لهذا د جمع په اعتبار سره مکنونة کیدل پکار دی.

جواب: چې د کومې جمع په واحد او په جمع کښې په (ة) سره فرق وی په هغې کښې تذکیر او تانیث برابر وی.

[ایاتونه: ۵۱ ـ ۷۴]

﴿قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ﴾ صاحب ينكر البعث ﴿يقول﴾ لي تبكيتا ﴿أئنك لمن المصدقين﴾ بالبعث ﴿ء إذا متنا وكنا ترابا وعظاما أ إنا﴾ في الهمزتين في الثلاثة مواضع ما تقدم ﴿لَمَدِينُونَ﴾ مَجزيُّونَ وَمُحَاسَبُونَ أنكر ذلك ايضا ﴿قَالَ﴾ ذَلِكَ القَائِلُ لإخوانِهِ ﴿هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ﴾ مَعِي إلَى النَّار لِنَنظُر حَاله فَيَقُولُونَ لَا ﴿فَاطَّلَعَ﴾ ذَلِكَ القَائِلُ مِنْ بَعْضِ كُوَى الجَنَّة ﴿فَرَآهُ﴾ أي رأى قرينه ﴿فِي سَوَاءِ الْجَحِيمِ﴾ في وَسَط النَّار ﴿قَالَ﴾ لَهُ تَشْمِيتًا ﴿تَاللَّهِ إِن﴾ مُخَفَّفَة مِنَ الثَقِيلَة ﴿كدت﴾ قاربت ﴿لتردين﴾ لتهلكني باغوائك ﴿وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّي﴾ عَلَيَّ بِالإِيمَانِ ﴿لَكُنتُ مِنَ الْمُحْضَرِينَ﴾ مَعَكَ فِي النَّار وَتَقُولُ أَهلُ الجَنَّة ﴿أفما نحن بميتين﴾ ﴿إِلَّا مَوْتَتَنَا الْأُولَىٰ﴾ أي التي في الدُّنيَا ﴿وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ﴾ هُوَ اسْتِفْهَام تَلَذُّذ وَتَحَدُّث بِنِعْمَةِ اللهِ تَعَالَى مِن تأبيد الحَيَاة وَعَدَم التعذيب ﴿إن هذا﴾ الذي ذكرت لأهل الجنة ﴿لهو الفوز العظيم﴾ ﴿لمثل هذا فليعمل العاملون﴾ قيل يقال لَهُمْ ذَلِكَ وَقِيلَ هُمْ يَقُولُونَهُ ﴿أَذَٰلِكَ﴾ المَذكُور لَهُم ﴿خَيْرٌ نُّزُلًا﴾ وَهُوَ مَا يُعَدّ لِلنَّازِلِ مِنْ ضَيْف وَغَيْره ﴿أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ﴾ المُعَدَّة لِأَهلِ النَّار وَهِيَ مِنْ أَخبَث الشَّجَر المُرّ بِتِهَامَة يُنْبِتهَا اللهُ فِي الجَحِيم كما سيأتي ﴿إِنَّا جَعَلْنَاهَا﴾ بِذَلِكَ ﴿فِتْنَةً لِّلظَّالِمِينَ﴾ أي الكَافِرِينَ مِنْ أَهل مَكَّة إِذ قَالُوا النَّار تُحرِق الشَّجَر فَكَيْفَ تُنبِتهُ ﴿إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ﴾ أي قَعر جَهَنَّم وَأَغصَانهَا تَرتَفِع إِلَى دَرَكَاتهَا ﴿طلعها﴾ المشبه بطلع النخل ﴿كأنه رءوس الشياطين﴾ الحَيَّات القَبِيحَة المَنظَر ﴿فَإِنَّهُمْ﴾ أي الكُفَّار ﴿لَآكِلُونَ مِنْهَا﴾ مَعَ قُبحهَا لشدة جوعهم ﴿فمالئون منها البطون﴾ ﴿ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ﴾ أي مَاء حَار يَشرَبُونَهُ فَيَختَلِط بِالمَأكُول مِنهَا فَيَصِير شَوبًا لَهُ ﴿ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ﴾ يُفِيد أَنَّهُم يَخرُجُونَ مِنهَا لِشُرب الحَمِيم وَأَنَّهُ خارجها ﴿إنهم ألفوا﴾ وجدوا ﴿آباءهم ضالين﴾ ﴿فَهُمْ عَلَىٰ آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ﴾ يُزعَجُونَ إِلَى اتِّبَاعهِم فيسرعون إليه ﴿وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ﴾ مِنَ الأُمَم الماضية ﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ﴾ مِنَ الرُّسُل مُخَوِّفِينَ ﴿فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ﴾ الكَافِرِينَ أي عاقبتهم العذاب ﴿إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ﴾ أي المُؤمِنِينَ فَإِنَّهُم نَجَوا مِنَ العَذَاب لِإِخلَاصِهِم فِي العِبَادَة أَو لِأَنَّ اللهَ أَخلَصَهُم لَهَا عَلَى قِرَاءَة فَتح اللام

ترجمه: په دوی کښې به يو ويونکې اووايي چې ځما يو دوست وو کوم چې د بعث بعد الموت نه انکار کولو هغه به ماته ځما د لاجواب کولو د پاره وئيل چې آيا ته هم د بعث بعد الموت عقيده لرونکې ئې؟ چې کله مونږ مړه شو، او خاورې او هډوکې شو، نو آيا مونږ ته به بدله ملاويږي؟ او زمونږ حساب به کيږي؟ او هغه د دې جزاء او سزا نه هم منکر وو دا ويونکې به خپلو رونړو دوستانو ته اووايي چې آيا تاسو ماسره په دوزخ کښې هغه کتل غواړئ؟ چې تاسو د هغه حالت اوګورئ، نو هغوی به جواب اوکړي چې نا، نو دا ويونکې به د جنت بعضې روشندانو نه په ورښکاره کيدو سره اوګوري نو خپل دوست لره به د دوزخ په مينځ کښې پروت اوګوري، دا مومن به خپل ملاقاتي ته د خوشحالۍ ښکاره کولو د پاره اووايي په الله قسم تا خو ځه تباه کولم، چې ته ما د خپلې ګمراهۍ په ذريعه هلاک کړې، (ان) د مشدده نه مخففه ده، که په ما باندې د خپل رب فضل نه وو، يعنی په ما باندې که د هغه فضل نه وو نو ځه به هم سره د حاضر کړې شوو نه ووم يعنی تاسره به په اور کښې د دزخيانو نه ووم، جنتيان به خپلو کښې اووايي اوس مونږ د دنيا د مرګ نه علاوه مړه کيدو والا نه يوو، او نه به مونږ ته عذاب وی، دا استفهام دلذت حاصلولو دپاره دې، په هميشه ژوند او د عذاب په نه ورکولو باندې، د الله په نعمتونو باندې د شکريه په طور بې شکه د اهل جنت د پاره چې کوم انعامات ذکر کړې شوې دی دغه لويه کاميابي ده، داسې کاميابۍ د پاره د عمل کولو والا د پاره عمل کول پکار دی، وئيلې شوې دی چې دا خبره به جنتيانو ته اووئيلې شی، او دا هم وئيلې شوې دی چې جنتيان به په خپلو کښې دا خبره کوی، آيا دا نعمتونه کوم چې ذکر شوې دی د جنتيانو د پاره د ميلمستيا په اعتبار سره ډير ښه دی، نزل هغه څيز ته وائی کوم چې راتلونکی ميلمنو وغيره د پاره تياريږي، يا د زقوم توهږ اونه؟ کومه چې د جهنميانو د پاره تياره کړې شوې ده، هغه خبيثه اونه ده کومه چې الله تعالی په دوزخ کښې پيدا کړې ده، لکه زر به د دې ذکر راشی، مونږ هغه اونه د اهل مکه نه د کافرانو د پاره موجب د امتحان جوړه کړې ده، او کافرانو اووئيل چې اور خو اونو لره سوزوی، نو بيا به هغه دا اونه څنګه رازرغونوی، هغه يو اونه ده چې د دوزخ په مينځ کښې راوزی، او ددې څانګې به د دوزخ هرې طبقې ته رسيدلې وی، او د هغې غونچې کومې چې د کهجورو د غونچو سره يو شان دی ګويا چه هغه د شيطانانو يعنی د بدشکله مارانو سرونه دی نو هغوی يعنی کافران به دهغې د بدشکلۍ باوجود د سختې لوګې په وجه د هغې نه به خوراک کوی او هم ددې نه به خيټې ډکوی، بيا دوی ته به د روټۍ نه پس يشيدلې اوبه ملاوهلو سره ورڅکولې شی، يعنی ګرمې اوبه کومې چې به هغوی څکی، نو ددې اوبو به د خوړلې شوې د زقوم اونې سره مخلوطه جوړه شی، بيا به ددوی اخيری ځايې جهنم وی، ددې نه دا معلوميږي چې هغوی ته به ګرمې اوبه د جهنم د مينځ نه راويستلې شی، او هغه ګرمې اوبه به د جهنم نه

بهر وي، دوى خپل مشران په گمراهئ کښې موندلي وو، بيا دوى هم د هغوى په نقش قدم باندې په تيزئى سره تلل، د هغوى د اتباع د پاره به ئې مخکښې والې کولو. او ددوى نه مخکښې خلق هم يعنى په امتونو کښې ډير گمراه شوي دى، او مونږ په هغوى کښې هم يرولو والا رسولان ليږلي وو، نو اوگوره د هغه خلقو کوم چې يرولې شوي وو، څنگه خراب انجام شو، يعنى د هغوى انجام هم عذاب دې، خو هغه چه دالله مخلص يعنى خوبن کړې شوي يعنى مومنا نو هغوى به په عبادت کښې د اخلاص د وجې يا ددې د پاره چې الله دوى د عبادت د پاره خوبن کړې وو، د عذاب نه خلاصې اومندلو، دا ترجمه به د لام د فتحې والا قرامت په صورت کښې وى.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: قال قائل: دا ويونکى به څوک جنتى وى جنتيان چې نورې ډيرې خبرې به هم کوى په دې تولو کښې به يو کس د خپل منکر د بعث دوست قصې واوروى، دې خبرو لره قرآن کريم قال قائل منهم انى کان لى قرين سره دپيش کوئى په طور سره بيان کړى دى، اود تبکيت معنى ده، شرم ورکول، رټل، په مصباح کښې دى بکت زيد عمرا زيد عمر ته پيغور ورکړو.

قوله: کوى: جمع کوة. کوة د کاف په ضمې او فتحې سره، د ديوار سورې، روشندان، په جمع کښې د کاف ضمه او فتحه دواړه صحيح دى، البته د فتحې په صورت کښې مد او قصر، دواړه صحيح دى، او د ضمې په صورت کښې قصر متعين دې.

قوله: تالله: تاء قسميه جاره ده، اقسم د فعل محذوف متعلق دې، (ان) مخففه عن المشدده ده، که دا عامل اوگرځولې شى، نو ددې اسم به محذوف وى، او جملة کِدتَ ددې خبر، تقديرى عبارت به دا وى، انك كدت، او که غير عامل اوگرځولې شى نو جملة كدت لتردين به جوابِ قسم وى، ان مخففه عام طور سره په کاد يا کان باندې داخليږى، لتردين کښې به لام فارقه وى، د مخففه او نافيه په مينځ کښې.

قوله: لتردين: لام فارقه دې، تردين د ارداءً نه مضارع واحد مذکر حاضر، نون وقايه، (ى) مفعول به ضمير واحد متکلم محذوف، معنى ده (ته به ما هلاک کړى) ياء ئې د مصحف د سنت په اتباع کښې حذف کړه. (اعراب القرآن للدرويش)

قوله: افما نحن بميتين: همزه د استفهام په محذوف باندې داخله ده او فاء عاطفه ده، عطف په محذوف باندې دې، تقديرى عبارت داسې دې، انحن مخلدون منعمون فما نحن بميتين

قوله: اذلك خير نزلا: دا جمله دقول محذوف مقوله ده تقديرى عبارت داسې دې، قل لهم يا محمد اذلك خير ام شجرة الزقوم، د ذلک مشار اليه مخکښې ذکر شوي رزق معلوم دې، . نزل د

دوارو (ن، زاء) په ضمو سره او د نون ضمې او د زاء په سکون سره، هغه څیز چې د میلمه د پاره تیار کړې شی، جمع انزال، نزلا د خیر نه تمیز راتلو د وجې نه منصوب دې.
قوله: تهامة: د عربو هغه حصه کوم ځائې چې مکه مکرمه واقع ده.
قوله: ام شجرة الزقوم: ام حرف عطف دې، او د شجرة الزقوم عطف په ذلک اسم اشاره باندې دې، ام شجرة الزقوم مبتدأ ددې خبر د ماقبل د دلالت د وجې نه محذوف دې، تقدیری عبارت داسې دې ام شجرة الزقوم خیر نزلا
قوله: لشوبا: د شین په فتحې سره د جمهورو قرامت دې، او په ضمې سره شاذ دې، دا د (ن) نه شوبا مصدر دې، ملاوول، ملاوټ کول، لشوبا، د ان اسم مؤخر، او لهم ئې خبر مقدم دې، علیها محذوف سره متعلق حال دې.
قوله: لالی الجحیم: لام د تاکید د پاره دې، خو د مصحفِ امام د رسم الخط په اتباع کښې (لا) لیکل ضروری دی، خو دا الف وئیلې نشی.
قوله: انهم الفوا آباءهم ضالین: دا جمله مخکښې ذکر شوې قسما قسم عذابونو کښې د مبتلا کیدو علت دې، یعنی د بت پرستئ د حق کیدو او د توحید د ناحق کیدو دلیل دوی سره بغیر د سوچ او پوهې نه، د پلار نیکه د تقلید نه علاوه بل څه نشته، او هم دا د هغوی د گمراهئ وجه ده، چې د هغې د وجې نه دوی مخکښې ذکر شوې قسما قسم عذابونو کښې مبتلا وی.
قوله: یهرعون: د اهراع نه مضارع جمع مذکر غائب مجهول، په تیزه منډه وهل.

[ایاتونه: ۷۵ ـ ۱۱۳]

(وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ) بِقَوْلِهِ رَبِّ إِنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ (فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ) لَهُ نَحْنُ أَيْ دَعَانَا عَلَى قَوْمِهِ فَأَهْلَكْنَاهُمْ بِالْغَرَقِ (وَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ) أَيِ الْغَرَقِ (وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ) فَالنَّاسُ كُلُّهُمْ مِنْ نَسْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَكَانَ لَهُ ثَلَاثَةُ أَوْلَادٍ سَامٌ وَهُوَ أَبُو الْعَرَبِ وَالْفُرْسِ وَالرُّومِ وَحَامٌ وَهُوَ أَبُو السُّودَانِ وَيَافِثُ وَهُوَ أَبُو التُّرْكِ وَالْخَزَرِ وَيَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ وَمَا هُنَالِكَ (وَتَرَكْنَا) أَبْقَيْنَا (عَلَيْهِ) ثَنَاءً حَسَنًا (فِي الْآخِرِينَ) مِنَ الْأَنْبِيَاءِ وَالْأُمَمِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ (سَلَامٌ) مِنَّا (عَلَى نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ) (إِنَّا كَذَلِكَ) كَمَا جَزَيْنَاهُمْ (نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ) (إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ) (ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ) كُفَّارَ قَوْمِهِ (وَإِنَّ مِنْ شِيعَتِهِ) أَيْ مِمَّنْ تَابَعَهُ فِي أَصْلِ الدِّينِ (لَإِبْرَاهِيمَ) وَإِنْ طَالَ الزَّمَانُ بَيْنَهُمَا وَهُوَ أَلْفَانِ وَسِتُّمِائَةٍ وَأَرْبَعُونَ سَنَةً وَكَانَ بَيْنَهُمَا هُودٌ وَصَالِحٌ (إِذْ جَاءَ رَبَّهُ) أَيْ تَابَعَهُ وَقْتَ مَجِيئِهِ (بِقَلْبٍ سَلِيمٍ) مِنَ الشَّكِّ وَغَيْرِهِ (إِذْ قَالَ) فِي هَذِهِ الْحَالَةِ الْمُسْتَمِرَّةِ لَهُ (لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ) مُوَبِّخًا (مَاذَا) مَا الَّذِي (تَعْبُدُونَ) (أَئِفْكًا) فِي هَمْزَتَيْهِ مَا تَقَدَّمَ (آلِهَةً دُونَ اللَّهِ تُرِيدُونَ) وَإِفْكًا مَفْعُولٌ لَهُ وَآلِهَةً مَفْعُولٌ بِهِ لِتُرِيدُونَ وَالْإِفْكُ أَسْوَأُ الْكَذِبِ أَيْ أَتَعْبُدُونَ غَيْرَ اللَّهِ (فَمَا ظَنُّكُمْ

بِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ إِذْ عَبَدْتُمْ غَيْرَهُ أَنَّهُ يَتْرُكُكُمْ بِلَا عِقَابٍ لَا وَكَانُوا نَجَّامِينَ فَخَرَجُوا إِلَى عِيدٍ لَهُمْ وَتَرَكُوا طَعَامَهُمْ عِنْدَ أَصْنَامِهِمْ زَعَمُوا التَّبَرُّكَ عَلَيْهِ فَإِذَا رَجَعُوا أَكَلُوهُ وَقَالُوا لِلسَّيِّدِ إِبْرَاهِيمَ أُخْرُجْ مَعَنَا ﴿فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ﴾ إِيهَامًا لَهُمْ أَنَّهُ يَعْتَمِدُ عَلَيْهَا لِيَتْبَعُوهُ ﴿فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ﴾ عَلِيلٌ أَيْ سَأَسْقَمُ ﴿فَتَوَلَّوْا عَنْهُ﴾ إِلَى عِيدِهِمْ ﴿مُدْبِرِينَ﴾ ﴿فَرَاغَ﴾ مَالَ فِي خُفْيَةٍ ﴿إِلَى آلِهَتِهِمْ﴾ وَهِيَ الْأَصْنَامُ وَعِنْدَهَا الطَّعَامُ ﴿فَقَالَ﴾ اسْتِهْزَاءً ﴿أَلَا تَأْكُلُونَ﴾ فلم ينطقوا فقال ﴿مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُونَ﴾ فَلَمْ يُجِبْ ﴿فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ﴾ بِالْقُوَّةِ فَكَسَرَهَا فَبَلَغَ قَوْمَهُ مِمَّنْ رَآهُ ﴿فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ﴾ أَيْ يُسْرِعُونَ الْمَشْيَ فَقَالُوا لَهُ نَحْنُ نَعْبُدُهَا وَأَنْتَ تَكْسِرُهَا ﴿قَالَ﴾ لَهُمْ مُوَبِّخًا ﴿أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ﴾ مِنَ الْحِجَارَةِ وَغَيْرِهَا أَصْنَامًا ﴿وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ﴾ مِنْ نَحْتِكُمْ وَمَنْحُوتِكُمْ فَاعْبُدُوهُ وَحْدَهُ وَمَا مَصْدَرِيَّةٌ وَقِيلَ مَوْصُولَةٌ وَقِيلَ موصوفة ﴿قَالُوا﴾ بينهم ﴿ابنوا له بنيانا﴾ فاملاؤه حطبًا وَاضْرِبُوهُ بِالنَّارِ فَإِذَا الْتَهَبَ ﴿فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ﴾ النَّارِ الشَّدِيدَةِ ﴿فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا﴾ بِإِلْقَائِهِ فِي النَّارِ لِتُهْلِكَهُ ﴿فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ﴾ الْمَقْهُورِينَ فَخَرَجَ مِنَ النَّارِ سَالِمًا ﴿وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَى رَبِّي﴾ مُهَاجِرٌ إِلَيْهِ من دار الكفر ﴿سيهدين﴾ إِلَى حَيْثُ أَمَرَنِي رَبِّي بِالْمَصِيرِ إِلَيْهِ وَهُوَ الشَّامُ فَلَمَّا وَصَلَ إِلَى الْأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ قَالَ ﴿رَبِّ هَبْ لِي﴾ وَلَدًا ﴿مِنَ الصَّالِحِينَ﴾ ﴿فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ﴾ أَيْ ذِي حِلْمٍ كَثِيرٍ ﴿فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ﴾ أَيْ أَنْ يَسْعَى مَعَهُ وَيُعِينَهُ قِيلَ بَلَغَ سَبْعَ سِنِينَ وَقِيلَ ثلاث عَشْرَةَ سَنَةً ﴿قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى﴾ أَيْ رَأَيْتُ ﴿فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ﴾ وَرُؤْيَا الْأَنْبِيَاءِ حَقٌّ وَأَفْعَالُهُمْ بِأَمْرِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿فَانْظُرْ مَاذَا تَرَى﴾ مِنَ الرَّأْيِ شَاوَرَهُ لِيَأْنَسَ بِالذَّبْحِ وَيَنْقَادَ لِلْأَمْرِ بِهِ ﴿قَالَ يَا أَبَتِ﴾ التَّاءُ عِوَضٌ عَنْ يَاءِ الْإِضَافَةِ ﴿افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ﴾ بِهِ ﴿سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ﴾ عَلَى ذَلِكَ ﴿فَلَمَّا أَسْلَمَا﴾ خضعا وانقادا لِأَمْرِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ﴾ صَرَعَهُ عَلَيْهِ وَلِكُلِّ إِنْسَانٍ جَبِينَانِ بَيْنَهُمَا الْجَبْهَةُ وَكَانَ ذَلِكَ بِمِنًى وَأَمَرَّ السِّكِّينَ عَلَى حَلْقِهِ فَلَمْ تَعْمَلْ شَيْئًا بِمَانِعٍ مِنَ القدرة الإلهية ﴿وناديناه أن يا إبراهيم﴾ ﴿قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا﴾ بِمَا أَتَيْتَ بِهِ مِمَّا أَمْكَنَكَ مِنْ أَمْرِ الذَّبْحِ أَيْ يَكْفِيكَ ذَلِكَ فَجُمْلَةُ نَادَيْنَاهُ جَوَابُ لَمَّا بِزِيَادَةِ الْوَاوِ ﴿إِنَّا كَذَلِكَ﴾ كَمَا جَزَيْنَاكَ ﴿نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ﴾ لِأَنْفُسِهِمْ بِامْتِثَالِ الْأَمْرِ بِإِفْرَاجِ الشِّدَّةِ عَنْهُمْ ﴿إِنَّ هَذَا﴾ الذَّبْحَ الْمَأْمُورَ بِهِ ﴿لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ﴾ أَيِ الِاخْتِبَارُ الظَّاهِرُ ﴿وَفَدَيْنَاهُ﴾ أَيِ الْمَأْمُورَ بِذَبْحِهِ وَهُوَ إِسْمَاعِيلُ أَوْ إِسْحَاقُ قَوْلَانِ ﴿بِذِبْحٍ﴾ بِكَبْشٍ ﴿عَظِيمٍ﴾ مِنَ الْجَنَّةِ وَهُوَ الَّذِي قَرَّبَهُ هَابِيلُ جَاءَ بِهِ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَذَبَحَهُ السَّيِّدُ إِبْرَاهِيمُ مُكَبِّرًا ﴿وَتَرَكْنَا﴾ أَبْقَيْنَا ﴿عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ﴾ ثَنَاءً حَسَنًا ﴿سلام﴾ منا ﴿على إبراهيم﴾ ﴿كذلك﴾ كما جزيناه ﴿نجزي المحسنين﴾ لانفسهم ﴿إنه من عبادنا المؤمنين﴾ ﴿وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ﴾ اُسْتُدِلَّ بِذَلِكَ عَلَى أَنَّ الذَّبِيحَ غَيْرُهُ ﴿نَبِيًّا﴾ حَالٌ مُقَدَّرَةٌ أَيْ يُوجَدُ مُقَدَّرًا نُبُوَّتُهُ ﴿من الصالحين﴾ ﴿وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ﴾ بِتَكْثِيرِ ذُرِّيَّتِهِ ﴿وَعَلَى إِسْحَاقَ﴾ وَلَدِهِ بِجَعْلِنَا أَكْثَرَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ نَسْلِهِ ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ﴾ مُؤْمِنٌ ﴿وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ﴾ كَافِرٌ ﴿مُبِينٌ﴾ بَيِّنُ الْكُفْرِ

ترجمه: او مونږ ته نوح ﷺ رب الی مغلوب فانتصر وئيلو سره اواز اوکړو، نو اوګوره مونږ څنګه ښه فرياد اوريدونکی يو، يعنی هغه خما نه د خپل قوم د پاره بد دعاء اوغوستله، نو مونږ

هغوی غرق کولو سره هلاک کړل، او مونږ هغه ته او د هغه کوروالو ته د ډیر لوئې غم یعنی د غرقیدو نه خلاصې ورکړو، او مونږ هم د هغه اولاد باقی پاتې کړل، نو ټول خلق د نوح ﷺ د نسل نه دی، د هغوی درې ځامن وو، سام، دا د عرب او د فارس او د روم نیکه وو، حام، دا د سوډان والو نیکه وو، او یافث دا د ترک، خزرج او د یاجوج وماجوج او څوک چې د دوی خواشاه دی، د هغوی مشر نیکه وو، او مونږ په روستنو یعنی په پیغمبرانو او دقیامت پورې راتلونکی خلقو کښې، ددوی ښه ذکر باقی اوساتلو، او زمونږ دطرف نه په نوح باندې دې په ټولو جهانو کښې سلام وی، چې څنګه مونږ هغه ته صله ورکړه، نو مونږ نیکانو ته هم داسې بدله ورکوو، بې شکه هغه زمونږ د مومنانو بندګانو نه وو، بیا مونږ نورو خلقو لره یعنی دهغه قوم د کافرانو لره غرق کړل، او بې شکه هم د هغه د ډلې نه یعنی هغه خلق چا چې د هغه د اصول دین تابعداری اوکړه ابراهیم هم وو، اګرچې د دې دواړو په مینځ کښې اوږده زمانه ده، او هغه دوه زره شپږ سوه څلویښت کاله زمانه وه، او دې دواړو په مینځ کښې هود او صالح (علیهما) هم وو، چې کله هغوی د خپل رب طرف ته د شک وغیره (د عیب) نه خالی زړه سره متوجه شول، یعنی دتوجه په وخت کښې ئې د نوح ﷺ تابعداری اوکړه، کله چې ابراهیم ﷺ په دې دائمی حالت کښې خپل پلار او خپل قوم ته په زورنې سره اوونیل دا څه بې کاره څیز دی چې د هغې تاسو عبادت کوئی، آیا تاسو الله پریښودلو سره د دروغو فرضی معبود لره حقیقی معبود جوړول غواړئ، په دواړو همزو کښې هم هغه قراءت دې کوم چې مخکښې تیر شوې دې، افکاً مفعول له دې، او الهة دلتریدون مفعول به دې، او افک بدترین دروغو ته وائی، یعنی ایا تاسو د غیر الله بندګی کوئی، چې کله تاسو دغیر الله بندګی کوئی، نو د رب العالمین په باره کښې ستاسو څه خیال دې، آیا هغه به بغیر دعذاب نه تاسو پرېږدی، هرګز نا، او دا خلق نجومیان وو، چنانچه داخلق خپل عیدګاه ته اووتل، او خپل خوراکونه ئې خپلو بتانو ته په دې عقیده کیخودل چې دا به برکتی شی، چې کله به واپس راغلل نو دا به ئې برکتی ګڼړلو سره خوړل، او ددې قوم خلقو ابراهیم ﷺ ته هم اوونیل چې ته مونږ سره لاړ شه، ابراهیم ﷺ ستورو طرف ته اوکتل یو نظر، دوی لره په دې وهم کښې اچولو د پاره چې هغه هم په دې ستورو باندې اعتماد کوی، دې د پاره چې دوی د هغه خبره اومنی، بیا هغه اوفرمائیل چې زه بیمار یم یعنی مستقبل قریب کښې به بیماریږم، غرضدا چې هغه خلقو دې پریښودو او خپلې عیدګاه یعنی د میلې ځائې ته لاړل، نو دې په پټه باندې د هغوی معبودانو ته متوجه شو، او هغه بتان وو، او هغوی سره خوراک پروت وو، ابراهیم ﷺ توقو په طور سره بتانو ته اوونیل تاسو خوراک ولې نه کوئې، ؟ چې کله بتانو څه جواب ورنکړو نو بیا ابراهیم ﷺ اوفرمائیل په تاسو څه شوې دی چې تاسو خبرې نه کوئی؟ بیا هم هغوی څه جواب ورنکړو، نو بیا ئې هغوی لره په پوره طاقت سره وهل

شروع کړل، او هغه ئې تکړې تکړې کړل، د هغې نه پس یو کتونکي د هغه قوم ته اطلاع ورکړه نو هغه خلقو ډیر په تیزئ سره د ده طرف ته متوجه شول، او وئیل ئې شروع کړل چې مونږ ددې عبادت کوو او ته دوی لره ماتوې، نو آبراهیم علیه السلام دوی ته د زورنې په توګه اوفرمائیل چې تاسو ددې بتانو عبادت کوئی، چې هغه تاسو خپله کانړی تراشلو سره جوړوئی، حالانکه تاسو لره او ستاسو جوړشوې څیزونو لره یعنی ستاسو تراشل. او ستاسو تراشلی شوی څیزونه الله پیدا کړې دی، لهذا د هغه بندګی اوکړئ، او دهغه د یو والی عقیده اوساتئ. او (ما) مصدریه ده، او وئیلې شوې دی چې موصوله ده، او دا هم وئیلې شوې دی چې موصوفه ده، دې خلقو په خپل مینځ کښې مشوره کولو سره اووئیل چې دده د پاره د اوریو ځائې جوړکړئ، او هغه د لرګو نه ډک کړئ، او په هغې اور اولګولئ، چې کله اور شعلې وهل شروع کړی، نو دې په دې سخت اور کښې واچوئ، غرض دا چې دې خلقو ابراهیم علیه السلام لره په اور کښې د غورزولو د پاره تدبیر کولو اراده اوکړه، چې اور دې هلاک کړی. مګر مونږ هغوی لره لاندې یعنی مغلوب کړل، چنانچه ابراهیم علیه السلام د اور نه بالکل صحیح سلامت راوتلو. او ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل څه د کفر د کور نه هجرت کولو سره د خپل رب طرف ته تلونکې یم، هغه به د دې ځائې طرف ته خامخا ماته لار خودنه اوکړی، کوم ځائې ته ئې چې ماته د تلو حکم کړې دې، او هغه ملک د شام دې، چنانچه هغه پاکې زمکې ته اورسیدو. نو دعائې اوکړه چې اې پروردګار ماته نیک هلک راکړه، نو مونږ هغه ته د دیر نیک هلک خوشخبری ورکړه، بیا چې کله هغه ماشوم د دې قابل شو چې هغه تل راتلل شروع کړل یعنی د هغه سره ئې په لوبو کښې منډې وهل شروع کړې، او په کار کښې دمدد کولو قابل شو. یو قول دادې چې د اوو کالو شو او دویم قول دادې چې د دیارلس کالو شو. نو ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل چې اې ځما خوږه بچیه، ما خوب کښې لیدلې دی چې څه تالره ذبح کوم، او د پیغمبرانو خوبونه رښتیا وی، او ددوی کارونه د الله په حکم سره وی. اوس ته اووایه ستا څه رائې ده؟ ابراهیم علیه السلام د خوی نه څکه مشوره واخستله چې هغه ذبح سره مانوس شی یعنی ذهنی طور سره تیار شی، او د ذبح حکم ته سر بنکته کړی، (خوی اسماعیل) اووئیل اې ځما پلاره د کوم کار چې تاسو ته حکم درکړې شوې دې هغه کار اوکړئ، تاسو به ان شاءالله مالره په دې کار کښې صبر کونکې اوګورئ، نو چې کله دواړو د الله حکم ته سربنکته کړو، او هغه ئې په تندی یعنی په دده باندې سملولو، د هر انسان د مخ دوه اړخونه وی. ددې په مینځ کښې تندې وی. او دا واقعه په مِنی کښې راغلې وه، او ابراهیم علیه السلام چاړه د خوی په څټ باندې رابنکله. خو چاړې د الله د قدرت مخکښې هیڅ اثر اونکړو، نو مونږ هغه ته اواز اوکړو چې اې ابراهیم علیه السلام یقیناً تا خپل خوب په دې عمل سره چې کوم ستا دپاره د ذبح په معامله کښې ممکن وو رښتیا کړو :یعنی ستادا کار د حکم پورا کولو د پاره کافی دې، جمله وناديناه الخ واؤ زیاتوالی

سره د لما جواب دی، موږ دغه شان چې خنګه مو تاسو ته صله ورکړه، په حکم پوره کولو سره په خپل ځان باندې احسان کونکو ته د دوی تکلیف لرې کولو سره بدله ورکوو، په حقیقت کښې دا ذبح د کومې چې حکم شوې وو ښکاره امتحان وو، او موږ دهغه یعنی د چا د ذبح چې حکم شوې وو، او هغه اسماعیل یا اسحق (علیهما) وو، دا دواړه قولونه دی، په بدل کښې ګډ ورکړو، دا هغه ګډ وو کوم چې هابیل قربانی کړې وو، او هغه جبرائیل ﷺ راوستلې وو، او ابراهیم ﷺ هغه په الله اکبر ونیلو سره ذبح کړو، او موږ د هغه نیک ذکر راتلونکی خلقو کښې باقی اوساتلو، او په ابرهیم ﷺ باندې دې زموږ دطرف نه سلام وی، چې څنګه موږ هغه ته صله ورکړه په خپل ځان باندې احسان کونکو ته هم دغه شان صله ورکوو، بې شکه هغه زموږ دمومنانو بندګانو نه وو، او موږ هغه ته د اسحق نبی زیرې ورکړو، ددې نه استدلال کړې شوې دې چې ذبیح د اسحق نه علاوه اسماعیل ﷺ وو، نبیاً حال مقدره دې، یعنی دهغې وجود به وی، حال دا چې دهغه د پاره پیغمبری مقرر شوې ده، کوم چې دنیکانو خلقو نه وی، او موږ په ابراهیم ﷺ باندې دیر اولاد ورکولو سره برکت نازل کړو، او دهغه څوی اسحق باندې هم، دیر پیغمبران دهغه د نسل نه د پیدا کیدو د وجې نه، او د دې دواړو په اولاد کښې مومنان هم وو او په خپل ځان باندې ظلم کونکی هم وو، چې د هغوی کفر بالکل ښکاره وو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ولقد نادانا نوح: کلام مستانف دې، مخکښې ولقد ارسلنا فیهم منذرین چې دهغې اجمالی ذکر وو، دلته د هغې تفصیل دې، په دې سورت کښې د اوو پیغمبرانو ذکر دې په هغې کښې دا اولنې دې.

قوله: لقد: لام قسمیه دې، تقدیر داسې دې بالله لقد دعانا نوح، دلته نادانا د دعانا په معنی کښې دې، قرینه ئې فلنعم المجیبون ده، په دې کښې هم لام قسمیه دې، تقدیری عبارت داسې دې فوالله لنعم المجیبون نحن، نحن مخصوص بالمدح دې، المجیبون کښې واؤ د جمع دلیل دعظمت او د کبریائی په توګه دې، (روح البیان) د دواړو قسمونو جواب محذوف دې، تقدیری عبارت داسې دې، والله لقد نادانا نوح لما یئس من ایمان قومه فاجبناه احسن اجابة فوالله لنعم المجیبون نحن.

قوله: واهله: دا د نجیناه مفعول به دې، ددې عطف په (ه) ضمیر باندې دې، او ه دلته دا منعول معه هم کیدې شی

قوله: هم الباقین: د (هم) په اضافې سره د حصر او دتخصیص فائده مقصود ده، یعنی د طوفان نه پس صرف د نوح ﷺ د درې ځامنو اولاد باقی پاتې شول، په دې وخت کښې

ټول انسانان ددې درې ځامنو اولاد دی، حام یافث او سام د عجمې او علمیت د وجې نه غیر منصرف دی.

قوله: ثناءحسنا: مفسر علام اشاره اوکړه چې دترکنا مفعول محذوف دې،

قوله: فی العالمین: دا د فی الآخرین نه بدل دې،

قوله: اذجاءربه بقلب سلیم: رب ته د قلب سلیم راوړلو نه مراد د شک او شبهې نه پاک زړه دې، یعنی خپل رب ته په اخلاص سره متوجه شو،

قوله: شیعته: شیعة الرجل، اتباعه وانصاره، یعنی طرفتداری، حمایتان، اوس د یو خاص فرقې نوم جوړ شوې دې، جمع ئې شیع راځی.

قوله: ءافکا: همزه د استفهام انکاری توبیخ په توګه ده، افکا د مفعول له کیدو د وجې نه منصوب دې، ای اتریدون الهة دون الله افکا، د تریدون مفعول به هم کیدې شی، او دفعل معمولات ئې د اهمیت د وجې نه په فعل باندې مقدم کړل، افکا د تریدون د فاعل نه حال هم کیدې شی.

قوله: وکانوانجامین: یعنی د ابرهیم علیه السلام قوم نجومیان وو، او د کائناتو په تبدیلئ کښې ئې دستوررو داثر عقیده لرله،

قوله: ساسقم: دا د انی سقیم تفسیر دې، مقصد ددې تفسیر دادې چې هغه وخت ابراهیم علیه السلام بیمار نه وو، چې د هغې د وجې نه د دروغو شبه راتله، ځکه ئې ساسقم وئیلو سره تاویل اوکړو چې انسان کله نه کله خو بیماریږی.

قوله: یزفون: (ض) زفا، زفیفا، من دې وهل، جمع مذکر غائب، منډه وهل.

قوله: والله خلقکم وما تعملون: واؤ حالیه دې، د تعبدون د فاعل نه حال دې، والله مبتدا، خلقکم خبر، په (ما) کښې ځلور صورتونه کیدې شی

①مصدریه ای خلقکم وخلق اعمالکم ②موصوله، ای وخلق الذی تصنعونه علی العموم ویدخل فیها الاصنام التی تنحتونها په دې صورت کښې به دعمل نه مراد بت تراشل وی.

③استفهامیه توبیخیه، ای، ای شیء تعملون، ④نافیه ای ان العمل فی الحقیقة لیس لکم فانتم لاتعملون شیئا، یعنی په ظاهر چې تاسو څه کویئ دا په حقیقت کښې د الله عمل دې.

قوله: فبشرناه: دا په محذوف باندې مرتب دې، تقدیر داسې دې فاستجبناله فبشرناه

قوله: یابنی: دا د (فلما) جواب دې.

قوله: فدیناه: (ض) فداء، په بدله کښې ورکول، ددې عطف په نادیناه باندې دې.

....

[اياتونه: ۱۱٤ ـ ۱۲۸]

﴿وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَى مُوسَى وَهَارُونَ﴾ بِالنُّبُوَّةِ ﴿وَنَجَّيْنَاهُمَا وَقَوْمَهُمَا﴾ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ﴾ أَيْ اسْتِعْبَادِ فِرْعَوْنَ إِيَّاهُمْ ﴿وَنَصَرْنَاهُمْ﴾ عَلَى الْقِبْطِ ﴿فَكَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ﴾ ﴿وَآتَيْنَاهُمَا الْكِتَابَ الْمُسْتَبِينَ﴾ الْبَلِيغَ الْبَيَانِ فِيمَا أَتَى بِهِ مِنَ الْحُدُودِ وَالْأَحْكَامِ وَغَيْرِهَا وَهُوَ التَّوْرَاةُ ﴿وَهَدَيْنَاهُمَا الصِّرَاطَ﴾ الطَّرِيقَ ﴿الْمُسْتَقِيمَ﴾ ﴿وَتَرَكْنَا﴾ أَبْقَيْنَا ﴿عَلَيْهِمَا فِي الْآخِرِينَ﴾ ثَنَاءً حَسَنًا ﴿سَلَامٌ﴾ مِنَّا ﴿عَلَى مُوسَى﴾ وَهَارُونَ ﴿إِنَّا كَذَٰلِكَ﴾ كَمَا جَزَيْنَاهُمَا ﴿نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ﴾ ﴿إِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ﴾ ﴿وَإِنَّ إِلْيَاسَ﴾ بِالْهَمْزَةِ أَوَّلَهُ وَتَرْكِهِ ﴿لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ قِيلَ هُوَ ابْنُ أَخِي هَارُونَ أَخِي مُوسَى وَقِيلَ غَيْرُهُ أُرْسِلَ إِلَى قَوْمٍ بِبَعْلَبَكَّ وَنَوَاحِيهَا ﴿إِذْ﴾ مَنْصُوبٌ بِاذْكُرْ مُقَدَّرًا ﴿قَالَ لِقَوْمِهِ أَلَا تَتَّقُونَ﴾ اللّٰهَ ﴿أَتَدْعُونَ بَعْلًا﴾ اسْمُ صَنَمٍ لَهُمْ مِنْ ذَهَبٍ وَبِهِ سُمِّيَ الْبَلَدُ أَيْضًا مُضَافًا إِلَى بَكّ أَيْ أَتَعْبُدُونَهُ ﴿وَتَذَرُونَ﴾ تَتْرُكُونَ ﴿أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ﴾ فَلَا تَعْبُدُونَهُ ﴿اللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ﴾ بِرَفْعِ الثَّلَاثَةِ عَلَى إِضْمَارِ هُوَ وَبِنَصْبِهَا عَلَى الْبَدَلِ مِنْ أَحْسَنَ ﴿فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ﴾ فِي النَّارِ ﴿إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ﴾ أَيِ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُمْ فَإِنَّهُمْ نَجَوْا مِنْهَا ﴿وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ﴾ ثَنَاءً حَسَنًا ﴿سَلَامٌ﴾ مِنَّا ﴿عَلَى إِلْ يَاسِينَ﴾ قِيلَ هُوَ إِلْيَاسُ الْمُتَقَدِّمُ ذِكْرُهُ وَقِيلَ هُوَ وَمَنْ آمَنَ مَعَهُ فَجُمِعُوا مَعَهُ تَغْلِيبًا كَقَوْلِهِمْ لِلْمُهَلَّبِ وَقَوْمِهِ الْمُهَلَّبُونَ وَعَلَى قِرَاءَةِ آلِ يَاسِينَ بِالْمَدِّ أَيْ أَهْلِهِ الْمُرَادُ بِهِ إِلْيَاسُ أَيْضًا ﴿إِنَّا كَذَٰلِكَ﴾ كَمَا جَزَيْنَاهُ ﴿نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ﴾ ﴿إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ﴾ ﴿وَإِنَّ لُوطًا لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ اذْكُرْ ﴿إِذْ نَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ﴾ ﴿إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ﴾ أَيِ الْبَاقِينَ فِي الْعَذَابِ ﴿ثُمَّ دَمَّرْنَا﴾ أَهْلَكْنَا ﴿الْآخَرِينَ﴾ كُفَّارَ قَوْمِهِ ﴿وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِمْ﴾ عَلَى آثَارِهِمْ وَمَنَازِلِهِمْ فِي أَسْفَارِكُمْ ﴿مُصْبِحِينَ﴾ أَيْ وَقْتَ الصَّبَاحِ يَعْنِي بِالنَّهَارِ ﴿وَبِاللَّيْلِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ﴾ يَا أَهْلَ مَكَّةَ مَا حَلَّ بِهِمْ فَتَعْتَبِرُونَ بِهِ

ترجمه: او یقینا مونږ په موسی او هارون (علیهما السلام) باندې نبوت ورکولو سره احسان اوکړو، او دې دواړو ته او ددوی قوم بنی اسرائیل ته مو د یو غټ غم (مصیبت) نه خلاصې ورکړو، یعنی د فرعون دوی لره غلامان جوړولو نه، او مونږ د قبطیانو په مقابله کښې ددوی مدد اوکړو نو دوی غالب وو، او مونږه دوی ته د احکامو او حدودو وغیره نه کوم چې په دې کښې بیان شوې دی واضح بیان والا کتاب ورکړو او هغه تورات دې، او مونږ دې دواړو ته د نیغې لارې هدایت ورکړو، او مونږ ددوی د پاره په راتلونکی خلقو کښې ذکر خیر باقی اوساتلو، او مونږ دغه شان ښکه چې مو دوی ته بدله ورکړه، نیک کار کونکو ته صله ورکوو، بې شکه هغوی زمونږ د مومنانو بندګانو نه وو، او بې شکه الیاس علیه السلام هم د پیغمبرانو نه وو، ددې په شروع کښې همزې سره او بغیر د همزې نه، دواړه صورتونه دی. او وئیلې شوې دی چې الیاس د موسی ﷺ یعنی د هارون وراره وو بعلبک او ددې خاوشاه علاقو ته لیږلې شوې وو، هغه وخت یاد کړه چې کله الیاس ﷺ خپل قوم ته اووئیل چې آیا تاسو د الله نه نه ویریږئ؟ آیا تاسو بعل نومې بت ته اوازونه کوئی، ؟ بعل ددوی د سرو زرو د یو بت نوم دې، او هم ددې په نوم سره د بعلبک ښار نوم ایخودې شوې دې، او د بعل اضافت بک

ته شوي دي، يعني تاسو دهغوی بندګی کوئی، او د ټولو نه ښه خالق پریږدئ ؟ چې دهغه عبادت نه کوئی، او هغه الله دي، چې کوم ستاسو او ستاسو نه مخکښې د پلار نیکه رب دې، هو محذوف ګنړلو په صورت کښې د دریواړو په رفع سره، او په نصب سره د احسن نه د بدل په صورت کښې، خو قوم د هغوی تکذیب اوکړو، او هغه خلق به اور کښې حاضر کړې شی، سوا دالله مخلصو یعنی په دوی کښې د مومنانو بندګانو نه، هغوی به د اور نه خلاصې بیا اومومی، او مونږ د الیاس ﷺ په روستنو خلقو کښې ذکر خیر باقی پاتې کړو، په الیاسین باندې دې زمونږ د طرف نه سلام وی، دا هغه الیاس دې د کوم چې مخکښې ذکر شوې دې، او وئیلې شوې دی، چې الیاس ﷺ او چا چې په دوی باندې ایمان راوړې دې هغه ترې مراد دی، لهذا دوی سره تغلیباً جمع راوړې شوې ده، لکه څنګه چې مهلب او د هغه قوم ته په جمع سره مهلبون وئیلې شی، او په یو قراءت کښې آل یسین په مد سره دې، یعنی د دوی اهل، ددې نه الیاس ﷺ مراد دې، مونږ دغه شان څنګه چې مودوی ته بدله ورکړه نیکانو خلقو ته بدله ورکوو، او بې شکه لوط ﷺ هم د پیغمبرانو نه وو، هغه وخت یاد کړه، چې مونږ دوی ته او دده کور والو ته خلاصې ورکړو، سوا د یوې بوډهئ نه، چې په عذاب کښې مبتلا خلقو سره باقی پاتې شوه، بیا مونږ نورو لره یعنی ددې قوم کافرانو لره هلاک کړل، او تاسو خو په هغوی باندې یعنی د اسفار په وخت کښې ددوی په نښو او خراب شوې مکانونو باندې د سحر په وخت یعنی په ورځ کښې او د شپې تیریږئ، بیا هم تاسو اې اهل مکه نه پوهیږئ، چې په هغوی باندې څه قیامت تیر شو؟ چې تاسو د هغوی نه عبرت حاصل کړئ.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ولقد مننا: دا جمله مستانفه ده، مقصد دلته د دریمې قصئ بیان دې، په دې صورت کښې به واؤ استنافیه وی، او دا هم کیدې شی چه عطف القصه علی القصه وی، په دې صورت کښې به واؤ عاطفه وی، لام جواب قسم دپاره دې، قسم محذوف دې. تقدیر د عبارت دا دې وعزتنا وجلالنا لقد مننا.

قوله: ونصرناهم: د (هم) ضمیر مرجع موسی او هارون(علیهما السلام) اوددوی قوم دې.

قوله: فكانوا هم الغالبين: (هم) ضمیر فصل دې، ددې څه محل د اعراب نشته. او الغالبین د کانوا خبر دې، او بعضې (هم) د کانوا د (واؤ) تاکید یا بدل ګرځولې دې

قوله: سلام على موسى وهارون: سلام مبتدأ، تنوین تعظیم د پاره، لهذا د نکرې مبتدأ راتلل صحیح دی، خبر محذوف دې، او هغه (منا) دې، او علی موسی وهارون د سلام متعلق دې، او دا هم کیدې شی، چې علی موسی وهارون د کائن متعلق وی او د مبتدأ خبر وی.

قوله: وان الياس: واؤ استنافیه دې، او عاطفه هم کیدې شی، په دې صورت کښې به عطف القصه علی القصه وی.

قوله: بالهمز اوله وتركه: يعني همزه د وصل او د قطع دواړه صحيح دي، د دواړو صورتونو د جواز وجه دا ده چې الياس عجمي كلمه ده، په عربي كښې استعماليږي، ځكه د همزې وصلي كيدل يا قطعي كيدل متعين نه دي، په دې وجه دواړه جائز دي

قوله: الا عباد الله المخلصين: فانهم نجوا منها سره ئې اشاره اوكړه چې الاعباد الله، العد محضرون د واؤ نه مستثنى ده، يعني كومو خلقو چې دالياس عليه السلام تكذيب اوكړو هغوى به جهنم ته حاضرولې شي، البته چا چې د تكذيب نه توبه اوكړه هغوى به نشي حاضرولې، صاحب لغات القرآن وئيلې دي چه د **كذبوا** ضمير نه مستثنى متصل ده، او **المخلصين** د **عباد الله** صفت دې، دجلالين محشي ليكلي دي چه الاعباد الله المخلصين په ظاهره د مخضرون نه استثناء ده، خو دا صحيح نه ده، بلكه صحيح دا ده چې د كذبوا د واؤ نه استثناء ده، ددې مطلب به دا وي چې د حضرت الياس عليه السلام په قوم كښې داسې خلق هم وو چا چې تكذيب اونكړو، ددې وجې نه ئې الاعباد الله سره استثناء اوكړه، او د محضرون نه استثناء ځكه صحيح نه ده چې ددې نه دا خبره لازميږي چې په مكذبينو كښې به بعضې د مخلص بندګانو كيدو د وجې حاضرولې نشي، او دا ښكاره فساد دې، او مستثنى منقطع صحيح نه ده ځكه چې په دې صورت كښې به مطلب داوي چې څوك به حاضرولې نه شي هغه به د الياس عليه السلام د قوم نه نه وي، په دې كښې د كلام د نظم فساد ښكاره دې.

[اياتونه: ۱۴۰ ـ ۱۸۲]

(وان يونس لمن المرسلين) (اذ ابق) هَرَبَ (الى الفلك المشحون) السَّفِينَة الْمَمْلُوءَة حِين غَاضَبَ قَوْمه لَمَّا لَمْ يَنْزِل بِهِمْ الْعَذَاب الَّذِي وَعَدَهُمْ بِهِ فَرَكِبَ السَّفِينَة فَوَقَفَتْ فِي لُجَّة الْبَحْر فَقَالَ الْمَلَّاحُونَ هُنَا عَبْد أَبَقَ مِنْ سَيِّده تُظْهِرهُ الْقُرْعَة (فساهم) قَارَعَ أَهْل السَّفِينَة (فكان من المدحضين) الْمَغْلُوبِينَ بِالْقُرْعَةِ فَأَلْقَوْهُ فِي الْبَحْر (فالتقمه الحوت) ابْتَلَعَهُ (وهو مليم) أَيْ آتٍ بِمَا يُلَام عَلَيْهِ مِنْ ذَهَابه إِلَى الْبَحْر وَرُكُوبه السَّفِينَة بِلَا إِذْن مِنْ رَبّه (فلولا انه كان من المسبحين) الذَّاكِرِينَ بِقَوْلِهِ كَثِيرًا فِي بَطْن الْحُوت لَا إِلَه إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانك إِنِّي كُنْت مِنْ الظَّالِمِينَ (للبث في بطنه الى يوم يبعثون) لَصَارَ بَطْن الْحُوت قَبْرًا لَهُ إِلَى يَوْم الْقِيَامَة (فنبذناه) أَيْ أَلْقَيْنَاهُ مِنْ بَطْن الْحُوت (بالعراء) بِوَجْهِ الْأَرْض أَيْ بِالسَّاحِلِ مِنْ يَوْمه أَوْ بَعْد ثَلَاثَة أَوْ سَبْعَة أَيَّام أَوْ عِشْرِينَ أَوْ أَرْبَعِينَ يَوْمًا (وهو سقيم) عَلِيل كَالْفَرْخِ الممعط (وانبتنا عليه شجرة من يقطين) وَهِيَ الْقَرْع تُظِلّهُ بِسَاقٍ عَلَى خِلَاف الْعَادَة فِي الْقَرْع مُعْجِزَة لَهُ وَكَانَتْ تَأْتِيه وَعِلَة صَبَاحًا وَمَسَاء يَشْرَب مِنْ لَبَنهَا حَتَّى قَوِيَ (وارسلناه) بَعْد ذَلِكَ كَقَبْلِهِ إِلَى قَوْم بِنِينَوَى مِنْ أَرْض الْمَوْصِل (الى مائة الف او) بَلْ (يزيدون) عِشْرِينَ أَوْ ثَلَاثِينَ أَوْ سَبْعِينَ الفا (فآمنوا) عِنْد مُعَايَنَة الْعَذَاب الْمَوْعُودِينَ بِهِ (فمتعناهم) ابقيناهم متمتعين بما لهم (الى حين) تَنْقَضِي آجَالهمْ فِيهِ (فاستفتهم) اسْتَخْبِرْ كُفَّار مَكَّة تَوْبِيخًا لَهُمْ (الربك البنات) بِزَعْمِهِمْ أَنَّ الْمَلَائِكَة بَنَات اللَّه (ولهم البنون) فَيَخْتَصُّونَ بِالْأَبْنَاءِ (ام خلقنا الملائكة اناثا

وهم شاهدون} خلقنا فيقولون ذلك {ألا إنهم من أفكهم} كذبهم {ليقولون} {وَلَدَ اللّٰه} بقولهم الملائكة بنات الله {وَإِنَّهُمْ لكاذبون} فيه {أَصْطَفَى} بفتح الهمزة للاستفهام واستغني بها عن همزة الوصل فحذفت أي اختار {الْبَنَاتِ عَلَى البنين} {مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ} هذا الحكم الفاسد {أَفَلَا تَذَكَّرُونَ} بإدغام التاء في الذال أنه سبحانه وتعالى منزه عن الولد {أَمْ لَكُمْ سُلْطَانٌ مُبِينٌ} حجة واضحة أن لله ولدا {فَأْتُوا بِكِتَابِكُمْ} التوراة فأروني ذلك فيه {إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} في قولكم ذلك {وَجَعَلُوا} أي المشركون {بَيْنَهُ} تعالى {وَبَيْنَ الْجِنَّةِ} أي الملائكة لاجتنابهم عن الأبصار {نَسَبًا} بقولهم إنها بنات الله {وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ} أي قائلي ذلك {لَمُحْضَرُونَ} للنار يعذبون فيها {سُبْحَانَ اللّٰهِ} تنزيها له {عَمَّا يَصِفُونَ} بأن لله ولدا {إِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِينَ} أي المؤمنين استثناء منقطع أي فإنهم ينزهون الله تعالى عما يصفه هؤلاء {فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ} من الأصنام {مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ} أي على معبودكم وعليه متعلق بقوله {بِفَاتِنِينَ} أي أحدا {إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ} في علم الله تعالى قال جبريل للنبي صلى الله عليه وسلم {وَمَا مِنَّا} معشر الملائكة أحد {إِلَّا لَهُ مَقَامٌ مَعْلُومٌ} في السماوات يعبد الله فيه لا يتجاوزه {وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّونَ} أقدامنا في الصلاة {وَإِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُونَ} المنزهون الله عما لا يليق به {وَإِنْ} مخففة من الثقيلة {كَانُوا} أي كفار مكة {ليقولون} {لَوْ أَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا} كتابا {مِنَ الْأَوَّلِينَ} أي من كتب الأمم الماضية {لكنا عباد الله المخلصين} العبادة له قال تعالى {فَكَفَرُوا بِهِ} بالكتاب الذي جاءهم وهو القرآن الأشرف من تلك الكتب {فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ} عاقبة كفرهم {وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا} بالنصر {لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ} وهي لأغلبن أنا ورسلي أو هي قوله {إنهم لهم المنصورون} {وَإِنَّ جُنْدَنَا} أي المؤمنين {لَهُمُ الْغَالِبُونَ} الكفار بالحجة والنصرة عليهم في الدنيا وإن لم ينتصر بعض منهم في الدنيا ففي الآخرة {فَتَوَلَّ عَنْهُمْ} أي أعرض عن كفار مكة {حَتَّى حِينٍ} تؤمر فيه بقتالهم {وَأَبْصِرْهُمْ} إذ نزل بهم العذاب {فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ} عاقبة كفرهم {فقالوا} استهزاء متى نزول هذا العذاب قال تعالى تهديدا لهم {أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ} {فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ} بفنائهم قال الفراء العرب تكتفي بذكر الساحة عن القوم {فَسَاءَ} بئس صباحا {صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ} فيه إقامة الظاهر مقام المضمر {وتول عنهم حتى حين} {وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ} كرر تأكيدا لتهديدهم وتسلية له صلى الله عليه وسلم {سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ} الغلبة {عَمَّا يَصِفُونَ} بأن له ولدا {وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ} المبلغين عن الله التوحيد والشرائع {وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} على نصرهم وهلاك الكافرين

ترجمه: بې شکه یونس علیه السلام هم د پیغمبرانو نه وو، هغه وخت یاد کړه چې کله یونس علیه السلام اوتښتیدوا و ډکې کشتۍ ته اورسیدلو، چې کله هغه د خپل قوم نه خفا شو چې کله په دوی باندې هغه عذاب نازل نه شو د کوم چې دوی سره وعده کړې شوې وه، نو په کشتۍ کښې سور شو، کشتۍ د سیند په مینځ کښې اونختله، نو ملاحانو اووئیل چې په کشتۍ کښې څوک داسې کس دې چې د خپل آقا نه تختیدلې دې، خښتري به هغه ښکاره کړي، نو

کشتئ والا خخنړې واچولو نو دې د خخنړې په ذریعې سره مغلوب شو، نو دې ئې سیند ته اوغورځولو نو یو مهی دې تیر کړلو، په داسې حال کښې چې هغه د ملامتیا قابل کار کړې وو، یعنی د خپل رب د اجازت نه بغیر سیند ته تلل او په کشتئ کښې د سوریدلو داسې کار ئې اوکړو کوم چې د ملامتیا قابل وو، که هغه د مهی په ګیډه کښې د لا اله الا انت سبحانك انی کنت من الظالمین دیر ذکر نه وې کړې نو د مهی په ګیډه کښې به د قیامت پورې وو، یعنی دمهی ګیډه به د قیامت پورې دده قبر جوړ شوې وو، نو مونږ ده لره د مهی د ګیډې نه په زمکه یعنی د سیند په غاړه هم، په هغه ورخ یا درې یا اووه یا شل یا څلویښت ورځې پس واچولو او هغه بیمار (کمزورې) وو، څنګه چې د څانګو او وزرو نه بغیر د چرګې بچې وی، او مونږ په دوی باندې د سوری د پاره میوه داره اونه هم زرغون کړه او هغه د کدو اونه وه کومې چې په دوی باندې سورې کړې وو، او هغه اونه د هغوی د معجزې په توګه د نورو اونو نه په خلاف تنې والا وو، او هغه ته به سحر مابنام یو غریزه چیلئ راتلله، یونس علیه السلام به د هغې پئ څکلئ، تر دې چې طاقت ور شو او مونږ دوی ته دا واقعې نه پس د مخکښې په شان په موصل کښې د نینوا خلقو طرف ته رسول جوړولو سره یو لاک شل زره یا دیرش زره یا اوویا زره خلقو طرف ته اولیږلو، بیا هغه خلقو د هغه عذاب لیدلو سره د کوم چې دوی سره وعده کړې شوې وه ایمان راوړې وو، نو مونږ دوی ددوی د راحت د اسبابو نه کوم چې دوی ته حاصل وو، د هغې نه د نفع حاصلولو د پاره د یو مودې یعنی د عمر ختمیدو پورې ژوندې اوساتل، تاسو دې کفار مکه نه توبیخاً پوښتنه اوکړئ چې ایا ستاسو د رب د پاره لوریانې دی، ؟ دا خبره ددوی د دې قول په وجه لازم راځی چې فرشتې د الله لوریانې دی، او خپله ددوی د پاره ځامن دی؟ یعنی د دوی د پاره ځامن خاص کړې شوې دی، یا چې کله مونږ فرشتو لره پیدا کړې وې نو دوی زمونږ تخلیق ته کتل؟ چې د هغې د وجې نه دوی داسې خبره کوی ښه واورئ دوی د خپلو دروغو نه وائی چې دالله اولاد دې، دا خبره ددوی دې قول نه چې فرشتې د الله لوریانې دی، (لازمیږی) او دوی یې شکه په دې کښې دروغژن دی، آیا الله د لوریانو په مقابله کښې ځامنو لره خوښ کړې دی؟ اصطفی، د همزې په فتحې سره استفهام د پاره، ددې همز ې د استفهام د وجې نه همزه وصل نه استغنا اوشوه، چې د هغې د وجې نه همزه د استفهام حذف کړې شوه، او اصطفی په معنی د اختیار دې، تاسو باندې څه شوې دی چې تاسو دومره فاسد حکم لګوئی، آیا تاسو دې خبرې باندې نه پوهیږئ چې الله تعالی د اولاد نه پاک دې، (تذکرون کښې تاء په ذال کښې ادغام کولو سره آیا تاسو سره په دې خبره باندې څه ښکاره دلیل شته؟ چې دالله اولاد دې، نو خئ خپل کتاب تورات راوړئ، او په هغې کښې مونږ ته دا خبره اوښایئ چې د الله د پاره اولاد دی، که تاسو په دې دعوی کښې رشتونې یئ، او مشرکینو د الله او د جناتو یعنی دملائکو په مینځ

کښې دې ونيلو سره رشته داری قائم کړه چې فرښتې دالله لوريانې دی، فرشتو ته نې جنات ځکه اووئيل چې هغوی هم د پيريانو په شان د نظر نه پناه دی، حالانکه د جناتو خپله دا عقيده ده يعنی هغوی دا عقيده لری چې هغوی به د جهنم اورته حاضرولې شی، او په هغې کښې به عذاب ورکولې شی، الله تعالی د هغه ټولو صفاتو د نقصان نه پاک دې، کوم چې دوی بيانوی، چې د الله اولاد دې خو دالله مخلص بندګان يعنی مومنان، المؤمنين مستثنی منقطع ده، يعنی مومنين ددې ناقص صفاتو نه د هغه پاکی بيانوی، کوم چې دوی د هغه د پاره ثابتوی، يقين اوساتئ تاسو ټول سره د هغه بتانو د چا چې تاسو عبادت کوئی، د الله نه څوک ګمراه کولې نشئ، او عليه، د الله قول فاتنين سره متعلق مقدم دې، سوا د هغه خلقو نه چې د الله په علم کښې جهنم ته تلونکی دی، حضرت جبرائيل عليه السلام حضور ﷺ ته اوفرمائيل مونږ يعنی د فرشتو د جماعت نه د هر يو په اسمانونو کښې خاص ځاې دې، هلته کښې د الله بندګی کوی، د هغې نه تجاوز نه کوی، او مونږ قدم د قدم ملاوولو سره په مونځ کښې صف جوړ کړې ولاړ يو، او مونږ خو د هغه د هغه صفاتو نه پاکی بيانوو، کوم چې د هغه دشان سره مناسب نه دی، او دې خلقو يعنی کافرانو به وئيل که مونږ سره د مخکښې امتونو د کتابونو نه يو کتاب وو، نو مونږ به هم په عبادت کښې د الله د مخلصو بندګانو نه وو، الله تعالی اوفرمائيل، بيا دوی د هغه کتاب يعنی قرآن د هغه کوم چې په اسمانی کتابونو کښې فضيلت والا دې، دوی له راغلو نو دوی ترې انکار اوکړو، دوی ته به ډير زر د خپل کفر انجام معلوم شی، او البته زمونږ رسولانو سره وعده د مدد ډير مخکښې شوې ده، او هغه وعده داده چې ځه او ځما رسولان به خامخا غالب وی، يا هغه د مدد وعده د الله تعالی قول انهم لهم المنصورون (الأية) ده چې يقينا هم ددوی به مدد کولې شی، او يقينا زمونږ لښکر يعنی مومنان به په کفارو باندې په حجت او نصرت سره په دنيا کښې غالبيږی، او که دوی کښې بعضو سره په دنيا کښې مدد اونشی، نو په آخرت کښې به خامخا کيږی، تاسو د کافرانو نه لږ وخت د پاره چې په هغې کښې تاسو ته د جهاد اجازت درکړې شی توجه لرې کړئ، او دوی ته ګوره، چې په دوی باندې عذاب کله نازليږی؟ دوی به هم د خپل کفر انجام ډير زر اوګوری، نو دوی په ټوقو سره اووئيل، دا عذاب به کله نازليږی؟ الله تعالی ددوی د ويرولو د پاره اوفرمائيل، آيا دوی زمونږ عذاب ته جلدی کوی، نو واورئی چې کله عذاب ددوی په ميدان کښې يعنی په دوی باندې نازل شی، فراء وئيلې دی چې عرب د قوم په ځائې د ساحة ذکر باندې اکتفاء کوی، يعنی ساحة وئيلو سره قوم مراد اخلی، نو هغه وخت به د هغه خلقو کوم چې ويرولې شوې دی ډير خراب سحر وی، په دې کښې د اسم ضمير په ځائې اسم ظاهر استعمال شوې دې، تاسو لږ وخت د پاره ددوی خيال پريږدئ، او ګوره دوی به هم ډير زر اوګوری د کافرانو د ويرولو او د حضور ﷺ د تسلئ د پاره دا جمله دوه پيرې راوړې

شوې ده، ستا رب ډير زيات عزت والا او غلبې والا دې، دهغه خبرو نه کومې چې دوی کوی، مثلا دا چې د هغه اولاد نشته، پاک دې، د الله توحيد او احکام رسونکو رسولانو باندې دې سلام وی، د رسولانو په نصرت او د کافرانو په هلاکت د ټولو تعريفونو مستحق الله رب العالمين دې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: ان يونس لمن المرسلين: يونس ابن متّی د تاء په تشديد سره، بتثليث النون، متّی د يونس ﷺ د پلار نوم دې، او وئيلې شوی دی چې د هغوی دمور نوم دې، او په کشف الاسرار کښې دی، چې ددوی د پلار نوم متی وو، او د مور نوم ئې تنجيس وو، يونس ﷺ د هود (عليه السلام) د اولاد نه دې (ذوالنون) او صاحب الحوت ددوی لقب دې.

قوله: اذابق: ماضی واحد مذکر غائب، د خپل آقا نه اوتختيدو، (س ض ن) د غلام د خپل آقا نه تختيدل، يونس ﷺ د حقيقی مولی چې الله تعالی دې، د اجازت نه بغير خپل قوم پريښودلو او لاړو، ځکه دوی ته مجازا آبق اووئيلې شو، اذ ابق د اذکر فعل محذوف ظرف دې.

قوله: حين غاضب قومه: ای غضب قومه، غضب په خپله معنی کښې نه دې ځکه چې د مفاعلې خاصيت د طرفينو نه د فعل تقاضه کوی، او دا هم ممکن ده چې غاضب د خپل باب نه وی، په دې صورت کښې به مطلب دا وی، چې حضرت يونس ﷺ او د هغه قوم دواړه په خپل مينځ کښې يو بل ته غصه شو.

قوله: ساهم: مساهمة، ځڅنړې اچول، قرعه اندازی.

قوله: المدحضين: ادحاض (افعال) نه اسم مفعول، مغلوب کيدونکې، په قرعه اندازئی کښې بيلولو والا.

قوله: مليم: دا د التقمه د ضمير مفعول نه حال دې.

قوله: : مليم: اسم فاعل واحد مذکر غائب (الامة) (افعال) د ملامتيا مستحق، داسې کار کولو والا چې په هغې باندې ملامت کړې شی، وهو مليم نفسه.

قوله: کثيرا: د دې تعلق د (کان سره دې، او لا اله الا انت، الآية) دا د قول مقوله ده، او د کثرت معنی د باب تفعيل نه مستفاد ده.

قوله: بالعراء: ای فی العراء، العراء المکان الخالی عن البناء والنبات والاشجار، (هوار ميدان)

قوله: کالفرخ المُمَعَّط: بضم الميم الاولی وتشديد الثانية وزری وتلې چرګوټې، ممعط په اصل کښې منمعط وو، (انفعال) نون په ميم کښې مدغم شو، معط وامتعط ای سقط شعره من الداء ونحوه. (جمل)

قوله: وعلة: غرزنې چيلئ، (ج) وَعِلات

قوله: التوراة: صحيح خبره داده چې دلته د تورات وئيلو ضرورت نشته، ځکه چې مخاطب مشركين دى اهل كتاب نه دى.

قوله: ان كنتم صادقين: دا جمله شرطيه ده د ماقبل دلالت د وجې جواب شرط محذوف دې، اى قالوا.

قوله: لقد علمت الجنة انهم لمحضرون: واؤ حاليه دې، قد حرف تحقيق لام د جواب قسم دې، انهم لمحضرون، (ان) دخپل اسم او خبر سره د دوو مفعولو په ځائې دې، د ان په خبر باندې د لام داخليدو د وجې نه د ان همزې ته كسره وركړې شوې ده، ګنې دلته خو ان كيد ل پكار وو،

قوله: الا عباد الله المخلصين: دا د محضرون نه مستثنى منقطع ده، يعنى نيك بندګان به د ګرفتارشوو نه نه وى، مستثنى منه، يا خو د جعلوا فاعل دې، يا د تصعنون فاعل دې يا د محضرون ضمير دې، الا عباد الله المخلصين، مستثنى متصل هم كيدې شى، چې كله د محضرون نه مستثنى وى، اى انهم يحضرون النار الا من اخلص، په دې صورت كښې به جمله تسبيح جمله معترضه وى.

قوله: بفاتنين: اسم فاعل جمع مذكر، باء زائده ده، مصدر فتنة دې، ددې مفعول احدا محذوف دې، ځنكه چې مفسر علام اشاره اوكړه تاسو څوک د الله نه اړولې نشئ، يعنى ګمراه كولې نشئ.

قوله: صال: اسم فاعل داخليدونكې، په اصل كښې صالى وو، د آخر نه ياء حذف كړې شوه،

قوله: العبادة له: مفسر علام د مخلصين مفعول العبادة ښكاره كړو، خو د مفعول تقدير به په هغه صورت كښې صحيح وى، چې كله مخلصين د لام په كسرې سره اووئيلې شى، ځنكه چې د مدنى او كوفى نه علاوه قرات دې.

قوله: وفيه اقامة الظاهر مقام المضمر: د قباحت د زياتوالى د وجې نه ئې د ضمير په ځائې اسم ظاهر راورو، په اصل كښې فساء صباحهم وو، او د صباح نه مراد ورځ يا وخت دې.

......ختم شده....